مکمل و مدلل

پنتو بہشتی زیور

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

ناشر
امدادیہ کتب خانہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ

مُکمّل او مُدلّل

بهشتی زیور

په قندهاری پښتو

حکیم الامّت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

امیر حمزہ کتب خانہ
کانسی روڈ کوئٹہ
0300-3828124

د کتاب ټوله حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم :-	پښتو بهشتی زیور
مؤلف :-	حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب
ترجمه (ژباړه) :-	اردو بهشتی زیور امدادیه ملتان والا څخه
	۵۲ ډنه زیاته دنورو نسخو څخه بهشتی زیور
ملتجم (ژباړونکی) :-	مولوی عبدالرحمٰن صاحب پوپلزائی ارغستانی
تصحیح کونکی :-	مولوی عبدالمالک صاحب برادر زاده بلوغ مولوی صاحب رح
د کتابت مطالعه کونکی :-	مولوی عبدالصمد ترکستانی
کاتب (لیکونکی) :-	عنایت الله طالب پوپلزائی ارغستانی
د ترجمی باعث او چاپونکی :-	الحاج سیف الله
د کتاب ګڼه :-	۲۳×۳۶ / ۸
د کتاب ټول مخونه (صفحات) :-	۱۵۹۶+۹
څو ټوکه :-	دوه ټوکه (جلده) دی
اول ټوک :-	د صـ څخه تر صـ۷۸۸ پورې شیرازه حمی دی
دوهم ټوک :-	د صـ۷۸۹ څخه تر صـ۱۵۹۶ پورې پنځه حمی دی
دوهم واړه چاپ لوشمیر :-	یولس سوه
د چاپ نیټه :-	۲۵ شوال سنه ۱۴۲۰ھ ق ۱۱ دلوه سنه ۱۳۷۸ هـ ش

حنفی شافعی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانه

کفایت الله ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت الله ابن صدیق

easypaisa

+923052488551

+923247442395

حنبلی مالکی

د اسلامي بهشتي زيور د اووم حصي د مضامينو فهرست

نمبر	مضمون	مخ
۱	داود اسه او پاکي بيان	۴
۲	د لمانځه بيان	۵
۳	د مرګ او غم بيان	۵
۴	د زکوٰة او خيرات بيان	۵
۵	د روژې مبارکي بيان	۶
۶	د قرآن مجيد د تلاوت او ويلو بيان	۶
۷	د دعا او ذکر بيان	۶
۸	د قسم او نذر بيان	۹
۹	د معاملاتو په صحيح طريقه سره کولو بيان	۹
۹	د اختلو او ورکولو بيان	۹
۱۰	د نکاح بيان	۱۰
۱۱	چاته د تکليف ورکولو بيان	۱۱
۱۲	د عاداتو او اخلاقو برابرول	۱۲
۱۳	د خوړلو او چښلو بيان	۱۲
۱۴	د اغوستلو بيان	۱۴
۱۵	د هريفي او علاج بيان	۱۴
۱۶	د خوب ليدلو بيان	۱۵
۱۷	د سلام کولو بيان	۱۵
۱۸	د کښينستلو، پريوتلو او د ګرزيدلو بيان	۱۶
۱۹	په ګډه د کښينستو بيان	۱۶
۲۰	د ژبې د ساتلو بيان	۱۷
۰	د متفرقو اوجلا جلا خبرو بيان	۱۸
۲۱	د زړه د صفا کولو او برابرول	۱۵
۲۲	د ډير خورک بد والي او علاج	۱۹
۲۳	د زيات خوب بد والي او علاج	۲۰
۲۴	د بغض بد والي او د ده علاج	۲۱
۲۵	د دنيا او مال د محبت بد والي او د ده علاج	۲۱
۲۶	د کنجوسي بد والي او د د ي علاج	۲۲
۲۷	د نامه او تعريف خوښتي بد والي او د ده علاج	۲۳
۲۸	د غرور او لوی والي بد والي او علاج	۲۴
۲۹	د عجب او ځان ښه ښکلو بد والي او د د ي علاج	۲۵
۳۰	د ريا د پاره د ښه کار کولو بد والي او د د ه علاج	۲۶
۳۱	يو قابل ذکر ضروري خبره	۲۷
۳۲	يوه بله ضروري د کار خبره	۲۷
۳۳	توبه او د توبې طريقه	۲۸
۳۴	د خداى تعالىٰ څخه ويره او طريقه ئې	۲۸
۳۵	د خداى پاک څخه اميد د زړه د ل او د اميد طريقه	۲۹
۳۶	صبر او د صبر کولو طريقه	۲۹
۳۷	شکر او د شکر طريقه	۲۹
۳۸	پر خداى تعالىٰ توکل او بروسه کول او طريقه ئې	۳۰
۳۹	د خداى پاک سره محبت کول او طريقه ئې	۳۱
۴۰	د خداى تعالىٰ په حکم راضي کيدل او طريقه ئې	۳۱
۴۱	صدق يعنې صحيح نيت او د هغه طريقه	۳۲
۴۲	مراقبه يعنې په زړه کښې د الله پاک خيال د زړه د ل او طريقه ئې	۳۲
۴۳	د قرآن شريف په ويلو کښې د زړه لګول او طريقه	۳۲
۴۴	په لمانځه کښې د زړه لګول بيان	۳۳

نمبر	مضمون	صفحہ
۴۵	د پیری او مریدی بیان	۳۴
۴۶	د پیری او مریدی په باره کښی د بعضو خبرو تعلیم او بنوونه کیږی.	۳۶
۴۷	د مرید د پاره بلکه د هر مسلمان د پاره د رنگه په شپه او ورځ کښی او سیدل په کار دی	۳۸
.	د رسول الله صلی الله علیه والہ وسلم د	
.	حدیثونو څخه د بعضو بنو کارونو د ثواب او	
.	د بعضو بد وکارونو د عذاب بیان د دی د پاره	۴۰
.	سویدی چه و نیکیو ته رغبت اوزړه غوښتنه	
.	حاصله سی او د بدیو څخه نفرت حاصل سی.	
۴۸	خالص او صحیح نیت د زړه د دل	
۴۹	د زیاد پاره یو کار کول	۴۰
۵۰	د قرآن او حدیث پر حکم رفتار کول	۴۰
۵۱	د نیک کارونو ایښودل یا د بد کار بنیاد او اساس ایښودل	۴۱
۵۲	د دین علم حاصلول	۴۱
۵۳	د دین مسئله پښتول	۴۲
۵۴	مسئله زده کول او عمل نه په کول	۴۲
۵۵	د وړو بولو څخه احتیاط نه کول	۴۲
۵۶	په اوداسه اوغسل کښی په ډیر غور سره او به هرځای ته رسول.	۴۲
۵۷	مسواک وهل	۴۳
۵۸	په اوداسه کښی په ښه طریقه انډامونه پریولل	۴۳
۵۹	د بښځو پاندی وښل د کوم څخه د لمانځه د پاره	۴۳
۶۰	د لمانځه پابندی	۴۴
۶۱	په اول وخت کښی لمونځ کول.	۴۴

نمبر	مضمون	صفحہ
۶۲	په خرابه طریقه سره لمونځ کول	۴۴
۶۳	په لمانځه کښی پورته یا د وړی د وړی کتل	۴۴
۶۴	د لمونځ کونکی په مخ کښی تیریدل	۴۵
۶۵	قصداً لمونځ قضا کول	۴۵
۶۶	قرض د سر کول	۴۵
۶۷	مسکین پوروړی ته مهلت ورکول	۴۵
۶۸	قرآن شریف ویل	۴۶
۶۹	خپل ځان او اولاد ته بنه راوی کول	۴۶
۷۰	حرام مال ګټل او د د غه مال څخه خوړل او چښل	۴۶
۷۱	یو چا ته فریب او دوکه ورکول	۴۶
۷۲	قرض اخستل	۴۷
۷۳	سره د طاقته د چا حق ځنډول	۴۷
۷۴	سود اخستل	۴۷
۷۵	د چا محکه لاندی کول	۴۷
۷۶	مزد وړی فوراً ورکول	۴۷
۷۷	د اولاد مرګ او وفات	۴۸
۷۸	د پردیو خلګو په مخکښی د بنځو د پاره عطر لګول.	۴۸
۷۹	د بنځی د پاره نزی او باریکی جامی اغوستل	۴۸
۸۰	د شان او شوکت بنکاره کولو د پاره د کالو اغوستل	۴۹
۸۱	بنځی چه د نارینه په شان شکلونه جوړوی	۴۹
۸۲	پر یو چا ظلم کول.	۴۹
۸۳	رحم او شفقت کول.	۵۰
۸۴	بنه خبره وخلګو ته ورښول او د بدو څخه ډاګره زول	۵۰
۸۵	د مسلمان عیب پښتول	۵۰
۸۶	د چا په ذلت یا تاوان سره خوشحالی کول	۵۰
۸۷	یو چا ته پر بوګناه طعنه (تانه) ورکول	۵۱
۸۸	وړی وړی ګناوی کول	۵۱

نمبر	مضمون	صفحہ
۸۹	مورا و پلار خوشحاله ساتل۔	۵۱
۹۰	د خپلو قریبانو سره د بد رفتار او بد ه گذار ه کول۔	۵۱
۹۱	د بی پلار ۍ کوچنیانو پرورش او ساتنه کول۔	۵۱
۹۲	همسایه ته تکلیف ورکول	۵۲
۹۲/۱	د یو مسلمان کار کول ـ شوم او بی شرمی	۵۲
۹۵	خوش اخلاقی او بد اخلاقی (۹۶) نرمی او سختی	۵۳
۹۷	د چا کور ته پت پت تر د روانړی یا نور و چا کو کل	۵۳
۹۸	د چا خبرو ته غوږ نیول او پت پت ور ته د ریدل	۵۳
۹۹	غصه او قهر کول (۱۰۰) د چا سره سلام او خبری بند ول	۵۴
۱۰۱	یو چا ته په بی ایمانه سره ویل یا لعنت کول	۵۴
۱۰۲	یو مسلمان ورور بیرول۔	۵۵
۱۰۳	د مسلمان عذر قبلول (۱۰۴) غیبت کول	۵۵
۱۰۵	چغلی کول (۱۰۶) پریو چا بهتان ویل	۵۵
۱۰۷	لږ خبری کول	۵۶
۱۰۸	خپل ځان تر هر چا خوار او کم بلل۔	۵۶
۱۰۹	خپل ځان تر نورو خلګو لوی بلل۔	۵۶
۱۱۰	د شتیا ویل او د رواغ ویل۔	۵۶
۱۱۱	د هر وړه په مخکښی د هغه خبره کول	۵۷
۱۱۲	د خدای پاک د نامه څخه ماسیوی په بل شی قسم کول	۵۷
۱۱۳	د اسی قسم کول کمچیری زړه د رواغ وایم ایمان دی ی نصیب نه سی۔	۵۷
۱۱۴	د لاری څخه د اسی شی لیری کول چه د لار ویانو ته تکلیف څنډی پیښیږی۔	۵۷
۱۱۵	وعده او امانت پوره کول۔	۵۸
۱۱۶	د مسلمان یا کافر ها لکه تونکی اولاس کتونکی نه ورتلل	۵۸
۱۱۷	سپی ساتل یا تصویر بت او عکس ایښودل	۵۸
۱۱۸	بیله مجبوری پر مخی پریوتل۔	۵۸
۱۱۹	یوڅه پر یوڅه په سایه کښی کښینستل او پریوتل	۵۹
۱۲۰	بد فالی او کړکه۔	۵۹
۱۲۱	د د نیا حرص نه کول	۵۹
۱۲۲	مرګ یاد ول او بد ه او بد ه کا امید ونه د خپلا ایستل او د بنه کار د پاره وخت غنیمت بلل	۵۹
۱۲۳	په بلا او غم کښی صبر کول (۱۲۴) پر مریض او بښته کول	۶۰
۱۲۵	مړی ته غسل او کفن ورکول او کور والاوو ته تسلی ورکول	۶۰
۱۲۶	په چغار و او خبرو سره شهرل	۶۰
۱۲۷	د یتیم مال خوړل	۶۱
۱۲۸	د قیامت د ورځی حساب او کتاب	۶۱
۱۲۹	جنت او د وزخ یاد ول	۶۲
۱۳۰	لږ قدری د قیامت حال او د ده د علامو بیان	۶۲
۱۳۱	خاص د قیامت د ورځی ذکر	۷۰
۱۳۲	د جنت د نعمتونو او د د وزخ د تکلیفونو بیان	۷۲
۱۳۳	د هغو خبرو بیان چه بیله د وی ایمان نیمګړی دی	۷۴
۱۳۴	د خپل نفس او عامو خلګو خرابی	۷۷
۱۳۵	د نفس سره د کردار او رفتار بیان	۷۸
۱۳۶	د عامو خلګو سره د رفتار او ګذاری بیان	۸۱
۰	اوله ضمیمه د اوږی حصی	۸۵
۱۳۷	د نهه د صفایی او د باطن د د روستی او برابرتیا بیان او ضرورت	۸۵
۰	د وهمه ضمیمه د اوو می حصی	۹۱
۱۳۸	عامو بنځوته نصیحت	۹۱
۱۳۹	د خاص ذکر کونکو او شغل کونکو د پاره نصیحت	۹۳
۱۴۰	د د ی اوو می حصی اجمالی حالت او د د ی د لوست او تد ریس طریقه	۹۵

داصلی بهشتی زیور اووم حصه

بسم الله الرحمن الرحیم

دادبونو، اخلاقو، ثوابونو او عذابونو په بیان کښی

دعبادا توکول په صحیح طریقه

سره

مینکه اوښه بسم الله وه

اول

داوداسه او پاکی بیان!

باب

(۱) عمل:- اودس په بنه طریقه سره کړه که څه هم یو دخت پر نفس مشکل اوګران وی. (مجمع البحار - نجات المسلمین -) (۲) عمل:- د تازه اونوی اوداسه ډیر ثواب دی. (۳) عمل:- د غوا اوور و بولو په دخت کښی د قبلی شریفی وطرف ته مه مخامخ کیږه او شاهم مه ور گرزوه. (۴) عمل:- د بولو د څاڅکو څخه ځان ساته په بولو کښی د بی احتیاطی په وجه انسان په عذاب قبر مبتلا کیږی. (زواجر ص۱۰۳) (۵) عمل:- په یوسوراخ او غار کښی بۅلی مه کوه کیدای سی چه یو مار، لړم یا داسی بل شی څندی راووزی (۶) عمل:- د غسل په ځای کښی بۅلی مه کوه (۷) عمل:- د وړو بولو او غټو بولو په وخت کښی خبری مه کوه. (۸) عمل:- تر بیدیدو وروسته چه راپورته سی تر څو چه دی لاس پر یمنځلی نه وی په او بو کښی لاس مه غوټه کوه (۹) عمل:- هر هغه اوبه چه د لمر په حرارت اوګرمی سره اتو دی سوی وی هغه مه استعمالوه ځکه چه بیره څندی پیدا کیږی.

---

۱ اووم حصه بسم الله الرحمن الرحیم ۲ دعبادا توکول بنه طریقه سره ۳ مینکه اوښه بسم الله وه ۴ اول باب ۵ داوداسه او پاکی بیان ۶ د بولو نه مخنی ۷ د اخلاقو مجمع البحار نجات المسلمین ۸ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساته ۹ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۰ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۱ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۲ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۳ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۴ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۵ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۶ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۷ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۸ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۱۹ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۰ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۱ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۲ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۳ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۴ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۵ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۶ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۷ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۸ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۲۹ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید ۳۰ د بولو د څاڅکو څخه ځان ساتلو تاکید

دوهم	دلمانځه بیان	باب

① عمل:- لمونځ پرخپل وخت کوی - رکوع او سجده په ښه طریقه سره کوی - لمونځ په ډیره توجه سره کوی. ② عمل:- چه هلک او کوچنی د (۷) کالو سی ده ته د لمانځه دکولو امر درکوی او چه د لسو کالو سی نو بیائی پرلمانځه (نه کولو) باندی وهه ③ عمل په دامی کالیو کښی یا په دامی ځای کښی لمونځ کول ښه نه دی چه د هغه په ګلانو یا نوکښی دی زړه او فکر بند سی ④ عمل:- د لمونځ کونکی په مخ کښی یو حائل اوپرده به کار ده که هیڅ هم نه وی یو لرګی و درده یا یو څه شی کښیږده او دغه شی د راسته یا چپه وځی په برابر او مقابل کښی کښیږده ⑤ عمل:- چه فرض دکړی ښه اوغوږه داد ه چه د سنتو او نفلونو د پاره خای بدل کړی. ⑥ عمل:- په لمانځه کښی یوی اوبلی خواته مه ګورهٔ مه نورګورهٔ تر څو چه کیدای سی ارپی مه کاږه خوله بنده وساته ⑦ عمل:- چه اودس دی درونده وی نو څان ښه فارغه کړه بیرته نوی اودس وکړه - وروسته خپل لمونځ وکړه ⑧ عمل:- نفلونه او وظیفی دوندی شروع کړه چه بیائی د همیش د پاره کولای سی او نه د رباندی تکلیف ډیږی.

نهیم	دمرګ اوغم بیان	باب

① عمل:- که زړه غم دی یاد سی نو إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ووایه - ځکه اول چه ثواب درکول سوی دو نو اوس بیا هغه رنګه ثواب درکول کیږی ② عمل:- د تکلیف چه هر څوندی وړه خبره وی إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ - پروایه خدای پاک ثواب درکوی.

څلورم	دزکوة اوخیرات بیان	باب

① عمل:- کوشش کوه چه زکوة و داسی خلګو ته ورکړی چه سوال نه کوی د خپل عزت په وجه په خپلو کورونو کښی ناست وی. ② عمل:- په خیرات کښی د لږ شی په وړکولو مه شرمیږه چه هر څوندی دی توفیق او طاقت وی هغوندی ورکوه. له موږ (رسول خدای تعالی ملک یو او موږ (رسول (دنیا ځنی) د الله تعالی وطرف ته رجوع کوو ۱۲

(۳) عمل:- داسی خیال مه کوه چه زکوٰة ورکړم نود خیرات ورکولو څه ضرورت دی د ضرورت پرځایولو نود خپل همت سره برابر خیرات هم ورکوه (۴) عمل:- خپلو قریبانو ته په خیرات ورکولو کښی دوچنده ثواب دی یو د خیرا و خیرات ثواب دی دوهم د خپلو قریبانو سره د احسان کولو ثواب دی. (۵) عمل:- د مسکینانو همسایه گانو خیال ساتة (۶) عمل د خاوند د مال څخه دومره خیرات مه کوه چه دده ناخوښه وی.

(۵) | دروژی مبارکی بیان | باب

(۱) عمل:- په روژه کښی بی فایده خبری کول جگړی مگړی کول د پیر بدکار دی او دیو چا غیبت کول لوړه زیاته گناه ده (۲) عمل:- نفلی روژه د خاوند په اجازه سره دنیسه چه خاوند دی پرکوروی. (۳) عمل:- چه د روژی لس ورځی پاته سی عبادت یو څه ډیرکوه.

(۶) | د قرآن مجید د تلاوت او ویلو بیان | باب

(۱) عمل:- که دی قرآن شریف ښه زده نه وی نو وار خطا یی او بیره مه کوه - چه د رڅخه پاته سی بلکه د ویلو سلسله ئی جاری وساته داسی چا ته دوچنده ثواب ورکول کیږی. (۲) عمل:- که دی قرآن شریف ویلی وی نو مه ئی هیروه بلکه همیشه ئی تلاوت کوه (وایه) که ئی تلاوت نه کوی (نه ئی وایی) ډیره گناه لری- (۳) عمل:- د قرآن شریف په ښه توجه او اخلاص سره په داسی حال کښی چه د پاک خلای څخه ښه بیدونکی ئی تلاوت او وظیفه ئی کوه.

(۷) | د دعا او ذکر بیان | باب

(۱) عمل:- په دعا کولو کښی د دی خبرو خیال وساته په ډیر شوق او زړه سره دعا د غواړه او د گناه څخه مه غواړه که په دعا قبلیدو کښی څنډ راسی نود وندی مه تنگیږه چه پری یه بدی د قبلیدو یقین ئی لره چه یو وخت خامخا قبلیږی.

فضیلت بیان کښی ... روژه ... بیان ... قرآن مجید ... تلاوت ... پیغمبری روایتونه ... ذکر ... فضیلت ... اللہ تعالیٰ ... بیان ... شکل

(۲) عمل- چه په غصه او غضب کښې راسی خپل مال اولاد او ځان ته بدی ښه کوه شاید چه دغه به د قبلیدلو گړی او ساعت وی. (۳) عمل:- چه هر څه غځای کښینستی اودد دنیا په خبرو او کارونو کښې اخته سوی نو هلته د الله جل مجده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر هم ښه او ډیر کوه که ئې نه کوی نو هغه خبری به تولی ستاد خپل ځان د پاره وبال جوړیږی. (۴) عمل:- استغفار ډیر وایه چه مشکل په اسانه کیږی او په رزق کښې برکت پیدا کیږی. (۵) عمل:- که د نفس د بدی په وجه گناه درځخه وسی نو په توبه کښې ئې ځنډ مه کوه او که بیاد رځخه وسی بیاړ ر توبه وکاږه داسی نکر مه کوه چه توبه د زوار ماتیږی نو د داسی نو بی څه فایده ده. (۶) عمل:- بعضی دعاګانی خاص خاص وخت کیږی د بیدیدو په وخت کښې دغه دعا وایه- اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيٰى- او د راپورته کیدو په وخت کښې دغه دعا وایه- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ- ما بنام دغه دعا وایه- اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيٰى وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ.. ترډوډی خوړلو ورسته دغه دعا وایه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَكَفَانَا وَاٰوَانَا- او ورسته تر لمانځه د سهار او ما بنام اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ او وه واړه ووایه- او بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ دری (۳) واړه ووایه چه پریوشی سپرږی یا پکښې سپرږی د دعا وایه سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝ د یو جا په کور کښې چه ډوډی وخوری نو ترډوډی خوړلو ورسته دا دعا وایه اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ- چه ښه شت ودینې نو دغه دعا وایه- اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ

وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّیْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ۔ چه یو مصیبت زده او غمجن وویني دا دعا وایه نو خدای تعالیٰ به دی د دامی غم یا مصیبت څخه وساتی۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیْ عَلٰی كَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلًا ط او چه خوک ستا څخه رخصت اخلی ددې ته دامی وایه اَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِیْنَكُمْ وَاَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِیْمَ اَعْمَالِكُمْ ۝ زدم یا نادی ته چه د نکاح مبارکی درکوی نو دا رنګه وایه بَارَكَ اللّٰهُ لَكُمَا وَبَارَكَ عَلَیْكُمَا وَجَمَعَ بَیْنَكُمَا فِیْ خَیْرٍ ط چه یو غم دربانديږ راسی نو دا دعا وایه یَا حَیُّ یَا قَیُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِیْثُ۔ تر یوې مخې وروسته او د بیا یو په وخت کښې دغه شیان وایه۔ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ دَیْرش واره او۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝ یو وار سُبْحَانَ اللّٰهِ درود یرش وار۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ درود یرش وار او اَللّٰهُ اَكْبَرُ څلور یرش وار۔ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ یو یو وار۔ او آیة الکرسی یو وار او د سهار په وخت کښې یٰسٓ یو وار او تر ما پسې دروسته سورت واقعه یو وار او د ماخستن تر ماښځه دروسته سورة ملک یو وار او د جمعې په ورځ سورت کهف یو وار وایه او د بیا یو په وخت کښې اٰمَنَ الرَّسُوْلُ هم د سورة تر ختمیدو پورې یو وار وایه۔ او د قرآن شریف وظیفه روزانه کوه هر څوندی چه کیدای سی۔ او داخبره یاد وساته چه د دغو شیانو ویل د ثواب کار دی او کله نی نه وایی نو ګناه هم نه لری۔

۳ تلاوت کونکی کمیږی کښې ۱۲

(۸) | د قسم او نذر بیان | باب

(۱) عمل د خدای پاک څخه ماسیوی په بل شی یعنی د بل شی په نامه سره قسم مه اخله - مثلاً په خپل اولاد سره په خپل صحت سره - په خپلو ستر گو سره د داسی قسم په اخستو کښی گناه سته او چه په هیره سره دی داسی قسم ترخوله وروزی نو نوګناهه وایه (۲) عمل:- دا رنگه قسم هیڅکله مه اخله که چیری زه درواغ وایم بی ایمانه دی سم که څه هم ستا خبره رشتیا وی. (۳) عمل:- که دی د تهر او غصی په حال کښی داسی قسم وکړی چه پوره کول ئی گناه وی نو دغه قسم مات کړه او کفاره[1] ئی ادا کړه - مثلاً داسی قسم دی وکړی چه د هوره سره به خبری نه کوم یا د پلار سره به خبری نه کوم یا دی دا رنگه یو بل قسم واخستی.

د معاملاتو په صحیح طریقه سره کولو بیان

(۹) | د اخستلو او ورکولو بیان | باب

(۱) معامله:- د روپیو او پیسو داسی حرص مه کوه چه د حلال او حرام فرق درپاتی نه وی او چه خدای پاک تاته حلاله پیسه درکړی نو ئی مه برباد وه او په اندازه سره ئی مصرف وه بس هرځای چه واقعی ضرورت دی په هغه ځای کښی ئی استعمالوه. (۲) معامله:- که یو مصیبت زده څوک د مجبوری په وجه خپل څه خرڅوی نو د ته د مجبوری په ستر گه مه گوره زور مه پرلگوه اود دغه شی قیمت کم مه ورته وایه یا دده سره کومک وکړه یا په مناسب قیمت دغه شی واخله. (۳) معامله:- که ستا قرض دار مسکین وی نو تنگه وه ئی مه. بلکه ورته مهلت ورکړه یو څه یا ټول ورمعاف کړه. (۴) معامله:- که پرتا د یو چا قرض وی او ستا سره پیسی وی نو څنډول ئی ظلم دی. (۵) معامله:- ترڅو چه ممکنه وی د چا څخه قرض مه اخله او که دی د مجبوری د سببه قرض واخستی نو د اداکولو خیال ئی ساته بی پروایی مه پکښی کوه اود هر چا چه پرتا باندی قرض دی که ځاته یو څه وایی نو سر چپه جواب مه ورکوه ناراضه کیږه مه. (۶) معامله:- په خندا او مسخرو کښی د چا څخه پټول چه

[1] د قسم د کفارې بیان د اصلی بهشتی زیور په دریمه حصه کښی راغلی دی ۱۲

هغه په پریشانه کیږی د پیر بد کاږدی. (۷) معامله:- چه په مزدور دی د مزدوری کار وکړی نو دده په مزدوری ورکولو کښی کوتاهی او سستی مه کوه. (۸) معامله:- د تحطی (کاختر) په ورځو کښی بعضی خلګ خپل کوچنیان یا پردی کوچنیان خرڅوی نو هغه مینځ او مریان کول حرام دی. (۹) معامله:- که د دوډی پخولو د پاره چاته د درکړی یا دوډی یا کتغ د پاره مالګه ورکړی دوندی ثواب لری لکه دغه لوله دوډی یا کتغ چه ورکړی (۱۰) معامله:- چاته او به ورکول ډیر ثواب لری کوم ځای چه او به وی هلته د او بو ورکولو دوندی ثواب دی لکه مربی چه آزاد کړی او کوم ځای چه او به لږ وی هلته ئی دوندی ثواب دی لکه مړی چه ژوندی کړی. (۱۱) معامله:- که ستا پردنه مه دیو چا شی وی ورکول غواړی یا دیو چا امانت ستا سره پروت وی نو دده (۳) خلوړ وکسانو په مخ کښی ئی ذکر وکړه یا ئی ولیکه. شاید چه مرګ دسلږ د راسی چه پردنه مه دی د چا شی پاته نه سی.

(۲۰) **دنکاح بیان** باب

(۱) معامله:- د خپل اولاد په نکاح کولو کښی نزیات ددی خبری خیال ساته چه د دیندار سړی سره وی دد دولت او د بدبخت پیر خیال مه ساته خصوصاً د نن سبا نزیات دولتمند خلګ د انګریزی ویلو څخه ډډ اسی د هغه ته رسیږی چه د کفر خبری کوی د اسی سړی سره د مړه نکاح نه صحیح کیږی او ټول عمر د بدکاری ګناه کیږی لیکن که یو چا انګریزی ویلی وی او تینګ مسلمان وی بیا نکاح د سړه صحیح ده پروا نه لری.

(۲) معامله:- د اکثرو په ښځو عادت دی چه د پردیو په ښځو د شکل او صورت بیان د خپل خاوند ته کوی د اپیرو بدو خبرو او بدکارو دی که چیری د دی خاوند پر هغه ښځه عاشق سی نو بیا به د اپخپله په ژړا گرزی.

(۳) معامله:- که یو ځای ته چا د نکاح پیغام لیږلی وی چه لور ئی ماوز وی نه د اګړه یا زمالور د خپل زوی د پاره د غواړه او د دوی په مابین کښی د خوښی او رضا علامات موجود وی. نو د اسی ځای ته د خپل اولاد د پاره د نکاح پیغام مه لیږه تر څو پوری چه دوی یو بل ته جواب ورنه کړی.

(۴) معامله:- که ښځه د خاوند د مخصوصو حالاتو چه په وخت د تنهائی او خلوت کښی پیښیږی د خپلو اندوالانو او مجلسیانو ښځوته بیانوی یا خاوند د ښځی

د خاصو حالاتو چه په وخت د شهادي کښې پيښيږي د خپلوانه بيوالانو او د دوستانو خو ته بيانوی نو دا ر نکه بيان د خدای تعالیٰ په نزد د پيرنا خوښه او بد دی اکثره خاوندان او ښځې د دغه پروانه سائی.

(۵) معامله:- که د نکاح په باره کښې څوک ستاسره صلاح او مشوره کوی نو که د دغه خای يو خرابی او بد والی وغيره معلوم وی نو بنکاره ئې کړه د دغه عيبت حرام نه دی هو ناحق د رواغ مه پوری تړه صحيح مشوره ورکړه.

(۶) معامله:- که خاوند قدرت والا وی هو په وی او ښځې ته د ضرورت مناسب خرڅ هم نه ورکوی نو ښځه د د ه د مال څخه پټ شی اخستلای سی مگر د عبث مصرفونو ياد د بنادر واجو نو د پوره کولو د پاره ئې اخستل روانه دی.

(۱۱) چاته د تکليف ورکولو بيان باب

(۱) معامله:- هر څوک چه پوره طبيب او ډاکټر نه وی د د ه د پاره د چا علاج کول د واد اره ورکول روانه دی چه په هغه کښې د تاوان بيره وی که ئې د غسی وکړه نو ګنهګاره دی.

(۲) معامله:- په تيره شی لکه خنجر- چاړه، چاقو، توره، يا په نوپک او نيزه پنجه، کلاشنکوف څوک بيرول که څه هم په مسخره کښې وی منعه دی- ځکه چه کينای سی چه تاوان څنډی پيښ سی.

(۳) معامله:- خلاص چاقو د چا په لاس کښې مه ورکوه يا ئې بند کړه ورئې کړه يا ئې پرچهار پائی يا بل شی ئې کښيږده چه هغه هيڅ ئې پخپله راپورته کړی.

(۴) معامله سپی، پشی يا بل روح لرونکی شی دا سی بندول چه په د غه بند کښې وښی- تږی وی توره کوږ نه چا ئې وی ډيره لويه ګناه د ه.

(۵) معامله:- يو ګنهګاره چاته طعنی (تانی) ورکول ډيره بده خبره د ه هو د نصيحت پر طريقه ورته ويل هيڅ پروانه لری.

(۶) معامله:- بيله يو سببه چاته بد بد کتل چه هغه د بيرينی روانه دی فکر وکړه چه صرف بد بد کتل روانه دی نو په خندا کښې يو سړی نا ببره بيرول څونده بده خبره ده. (۷) معامله:- که يو حيوان حلالوی نو چاړه ښه تيره کړه بيله ضرورته تکليف مه ورکوه. (۸) معامله:- چه سفر ئوی نو حيوان ته تکليف مه ورکوه مه ډير

شی پر باندی وه مه ئی ډیر خفلوه چه منزل او خای ته ورسیږی اول د حیوان د وینو ، دانی او شپیشتو بند وبست وکړه .

د عاداتو او اخلاقو برابرول

د خوړلو او چښلو بیان

(۱۲)

باب

(۱) ادب :- اول بسم الله وویه بیا د وډی خوړل شروع کړه او په راسته لاس ئی خوړه خپله خوا خوړه البته که په دغه لوښی کښی ډیر قسمونه شیان وه مثلاً ډیر قسمونه میږی وی یا ډیر قسمونه متهایانی او خوږی وی نو دغه وخت چه دی هرشی ته هواکیږی او په هرطرف کښی چه پرت وی راپورته ئی کړه او په خوړه .

(۲) ادب :- گوتی څټه او که په لوښی کښی خورک ختم سی نو لوښی هم صفا کړه .

(۳) ادب :- که دی گوله دلاسه ولویدله نو بیرته ئی راپورته کړه صفا ئی کړه او دی خوړه نکبړاو لوبی مه کوه لیکن که داسی خای ولویدله چه وخوړلونه دی زړه نه غوښتی د خواگرزید و بیړه وه بیا یو بل خای چه ښه صفاوی دغه گوله کښیږده چه بی عزتی ئی ونه سی .

(۴) ادب :- که د خټکی یا هندوانی د مړی وی یا د خورما او انگورو دانی یا د میتا یا نوارو خوړو دانی یا ټکړی وی نو یوه یوه پورته کوه دوی دوی په یوه وار مه اخله .

(۵) ادب :- که دی یو بد بویه شی وخواړی لکه اوم پیاز لهسن (اوبزه) نو که چیری په محفل او مجلس کی دی د ناستی ارادې وه نو اول خوله صفا کړه چه بد بوئی ئی ختمه سی .

(۶) ادب :- د وړځنی خرخ د پاره او د وړجی په پیمانه یا تول سره د اظهار بیا ئی پخوه بی حسابه کار مه کوه او په اټکل سره ئی مه را اخله څکه چه دا تو د وړځو شی به په خلورو د وړځو کښی ختم سی .

(۷) ادب :- چه خوړل او چښل وکړی نو د خدای شکر ادا کړه . (علاج المخطوب ص ۳۶)

(۸) ادب :- د خوړلو مخکی او وروسته لاس او خوله مینځه .

(۹) ادب :- ډیر گرم شی مه خوړه البته که د سوړوالی په صورت کښی بیخوند وه کیدی بیا ئی گرم خوړل پروا نه لری

(۱۰) ادب:- د میلمه خاطر او مدارات کوی که ته میلمه سی نو په خوړک کښی دوندی خان مه پاته کوی چه پر خلکو تکلیف سی.

(۱۱) ادب:- په یو خائی او گډ خوړک کښی برکت دی.

(۱۲) ادب:- چه خوړک اوډوډی وخوړی اول باید سترخوان پورته سی او بیا نه ولاړ سی. د سترخوان تر پورته کیدو مخکی خپله پورته کیدل بی ادبی دی. که د خپلی ملگری یا خپل ملگری مخکی موړ سی بیا هم ملگرتیا ورسره وکړی لږ لږ وړسره خوړی. چه دشوم د سببه هغه وبزی پاته نه سی که دیو عذر د سببه دولاړ یدو اوډوډی پریښولو ضرورت در پیښ سی نو خپل عذر ورته بیان کړی.

(۱۳) ادب:- میلمه تر دروازی پوری بیول، سنت دی.

(۱۴) ادب:- او به په یو ه ساه مه چښه په دری ساوی سره ئی وچښه اودساه کښلو په وخت کښی لوښی د خولی څخه ایسته اولیری کوی او او بنه په بسم الله سره چښه او تر چښلو وروسته الحمدلله وایه.

(۱۵) ادب:- د هرلوښی څخه چه د ډیرو او بود راتلو بیره وی چه د وندې ډیری وی چه پرگریوان دی لتوی سی یا پټ لوښی وی چه او به ئی نه معلومیږی او دا گمان وی چه شاید یو چنجی یا اغزی یا بل داسی شی به پکښی وی نو پرداسی لوښی خوله مه ایږدی چه او به څندی وچښی.

(۱۶) ادب:- بی ضرورته په ولاړی او به مه چښه.

(۱۷) ادب:- چه او به وچښی او نور وته هم او به ورکوی نو هرځوک چه سره پر راسته طرف وی هغه ته ئی اول ورکړه او هغه دی خپل راسته طرف والا ته ورکړی. او که چیرې یو شی ویشی لکه پان، عطر، میټا یا نی او خوږی د تولو دغه طریقه ده.

(۱۸) ادب:- دکوم طرف څخه چه لوښی مات وی د هغه طرف او به مه چښه.

(۱۹) ادب:- د ماښام د شروع کیدو په وخت کښی کوچنیان د باندی وتلو ته مه پریږده اود شپی بسم الله وایه دروازی بنده کړه چه لوښی لخ وی هغه هم پټوه. چه پټوی ئی نو بسم الله وایه او د بیدیدو په وخت کښی څراغ مړکړه او د نغری او مړکړه یا ئی پټ کړه.

(۲۰) ادب:- د خوړلو او چښلو شئی کمپخانه ورلیږی نو باید سره ئی پټ وی ورویلیږی.

(۱۳) | باب | داغوستلو بیان

(۱) ادب:- په یوه خپلی کښی مه خه.. څه ی او داسی نور شیان پرځان دامی مه پیچه چه په رفتار او تگ کښی یا په لاس د باندی خندی را ایستلو کښی و تاته تکلیف پلیس کړی.

(۲) ادب:- کالی د راسته طرف څخه واغوندی مثلاً راسته لستوڼی، راسته پایڅه او راسته چوټه او چه کاږی یه. اول ئی د چپه طرف څخه کاږه.

(۳) ادب:- چه کالی دی واغوسته نو داد عاوایه چه گناه دی معافیږی. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَ رَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ.

(۴) ادب:- دامی جامه مه اغوندی چه په هغه کښی بی ستری وی.

(۵) ادب:- کوی د ولتمندی او مالداری بنځی چه ډیر قیمتی کالی او زیورات اغوندی د هغوی سره ډیره ناسته ولاړه مه کوه خامخا دی د دنیا هوس او مینه زیاتیږی.

(۶) ادب:- په گنډل سوو او پینه دار ه کالو مه شرمیږه ذلت ئی مه بوله.

(۷) ادب:- مه ډیری د تکلیف جاړی اغوندی او مه ډیری خیرنی پیرنی جاړی اغوندی بلکه میانه حاله جاړی اغوندی او د خپل ځان صفایی کوه.

(۸) ادب:- وریښتان په تیلو سره غوړه وه او ږمونځ کوه یه. مگر هر وخت په دغه شغل کښی مه اوسه او لاسونه سره کوه لیکن د خلگو د پاره منعه دی.

(۹) ادب:- را نجه دڑی(۲) دڑی(۳) سلایی په دواړو ستړگو پوری کوه.

(۱۰) ادب:- کور پاک او صاف ساته.

(۱۴) | باب | د مریضی او علاج بیان

(۱) ادب:- مریض پرخوړلو او چښلو ډیر مه مجبوره کوه نه زیات زور مه پرلگوه.

(۲) ادب:- په مریضی کښی بد پرهیزی مه کوه.

(۳) ادب:- د شریعت خلاف تعویذ و نه یا هغه تار چه هغوټه ورکوی بیا پرچوکړی یا کرکه او بد فالی د دغو ټولو څخه یو هم مه کوه.

---

۱ شکر دی وی هغه خدای لره چه ده ومانه د غه کالی راواغوستل او په رزق ئی راکړه. د غه کالی بیله کوم محنت او مشقت څخه ؤ

④ ادب:- که یو څوک نظر می پر هر چا چه ئی شک[۱] وی چه دغه نظر کړیدی نو هغه دی مخ د واړه لاسونه تر څنګلو پورې او د واړې پښې او د واړه څنګونه او د استنجا ځای پرې منئ او دغه او به دی جمعه کړی د هغه سړي پر سر دې د رواچوی کوم چه نظر سویدی انشاء الله تعالیٰ خدای پاک به شفاء او صحت ورکړی.

⑤ ادب:- د کومو مریضانو څخه چه د نورو خلګو نفرت او بدکیږی لکه د خارش مریض یا د پیس مریض یا د اسی نورو مریضانو نو د اسی مریض ته په کار ده. چه خپله د نورو څخه جلا و اوسیږی چه څوک ځندی په تکلیف نه سی.

(۱۵)

د خوب لیدلو بیان

باب

① ادب:- که بیرونکی او خطرناکه خوب وویني نو د رُی[۳] واړه چپه طرف ته تو کړه او د رُی[۳] واړه اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ووایه او پر بل اړخ واوړه. او هیڅ سړی ته دغه خوب مه وایه انشاء الله تعالیٰ هیڅ نقصان نه درسیږی.

② ادب:- که چیرې خوب یو چا ته وایي نو د اسی سړی ته ئی ووایه چه هوښیار وی او ستا خیر خواوی د دی د پاره چه بد تعبیر او معنیٰ ئی ونه کړی

③ ادب:- چه خوب دی نه وی لیدلی او هسی وایي چه ما دا رنګه خوب ولیدی دروغ په خوب کښی وایي نو چیره ګناه لری.

(۱۶)

د سلام کولو بیان

باب

① ادب:- په خپلو منځونو کښی سلام سړه اچوی دا رنګه اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ او جواب دا رنګه ورکوه وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ د دغه څخه ما سیوی نوری ټولی طریقی چتیات دی.

② ادب:- هر څوک چه اول سلام وکړی هغه ته دیر ثواب رسیږی.

③ ادب:- هر څوک چه دبل چاسلام راوړی دا رنګه جواب ورکړه عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ.

④ ادب:- که د ډیرو خلګو څخه یوه سلام واچاوی نو د ډیرو لو د طرف څخه اداسو دغه رنګه که په ډیرول مجلس کښی یوه جواب ورکړی د غه هم د ډیرو لو د طرف څخه اداسو دلاس په اشاره سره د سلام په وخت کښی تبدیل منعه دی که یو سړی لیږی وی اوته د ده ته سلام وکړی نو بیا په لاس سره اشاره کول روا ده لیکن پرژبه هم باید سلام الفاظ وویل سی. د مسلمانانو چه کوم کوچنیان په سړکاری اسکولونو اومکتبونو کښی شبستان وائی تعلیم کوی د دوی د پاره هم په انګریزی یا هندوانی طرز سلام کول نه دی په کار بلکه په شرعی طریقه سره باید استاذ انو او نورو ته سلام ورواچوی که استاذ کافر وی نو د ده د پاره صرف سلام یا السَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ویل په کار دی دکافرانو د پاره د السلام علیکم الفاظ باید استعمال نه کړی د ډیرو لو مسلمانانو د پاره د غه حکم دی.

(۱۷) دکښیستلو، پریوتلو او دګرځیدلو بیان

باب

① ادب:- په شان و شوکت غرور او تکبر سره مه څه. ② ادب:- چیرته مه بیدیږه. ③ ادب:- پرداسی بام مه بیدیږه چه د هغه پرسر دیوال یا بل داسی مانع او حجاب نه وی کیدای سی چه ورغړی (ګیل سی) او ایله سی.

④ ادب:- یو څمیه سایه کښی یو څه په لمر کښی مه کښینه. ⑤ ادب:- که ته د مجبوری په وجه دکوره څخه د باندی وو زی نو د سړک پر غاړه غاړه څه- د سړک پر مابین تګ د بنځې د پاره بې شرمی ده.

(۱۸) په ګډه دکښینستو بیان

باب

① ادب:- په مجلس کښی داسی مه کوه چه څوک ولاړ کړی پرځای ټ ته کښینی.

② ادب:- که یو بنځه د مجلس څخه ولاړه سوه دیو کار د پاره او د عقل څخه دا معلومیده چه بیرته راځی په داسی حالت کښی د دی پرځای د بل چا د پاره ناسته نه ده په کار د غه ځای د دی حق دی.

له او فقط وعلیکم السلام ویل په حدیث شریف کښی هم راغلی دی غرض دوا ره صحیح دی ۱۲

(۳) ادب :- که دوی بنځی په مجلس کښی څنګ پرځنګ ناستی وی ته د دوی په منځ کښی مه کښینه البته که دی دوی په خوشحالی سره په خپل منځ کښی کښینوی نو بیا خو هیڅ پروا نه لری.

(۴) ادب :- هره بنځه چه ستاد ملاقات د پاره راځی چه هغه وزینی نو لږ څه د خپله ځایه څخه وښورۀ چه دا پوره سی چه زما عزت ئی وکړی.

(۵) ادب :- په مجلس کښی د سړو دا رانو په شان مه کښینه هر ځای چه ځای وی هلته د غریبانو په شان کښینه.

(۶) ادب :- چه ترچل (پرچل - نرنبل) درته راسی پر خوله لاس یا یو پوکړ - دسمال کښیږده او په کښته آواز سره و ترچه.

(۷) ادب :- ژرځوچه کیدای سی اړین مه کاږه که دی ترطاقت تبره سوه نو خوله پټه کړه.

(۸) ادب :- په ډیر لوړ آواز سره مه خاندۀ.

(۹) ادب :- په محفل (مجلس) کښی په تړیو تندی - پرسینه لی مخ او چه پزی تندی باد ورکړی وی مه کښینه بلکه په عاجزی سره د غریبانو په شان کښینه که یو خبره دکولو لایقه وی نو هم ئی دوا یه البته د گناه خبره مه کوه.

(۱۰) ادب :- په مجلس کښی هیڅ خواته پښی مه غزوه.

(۱۹)

د ژبې د ساتلو بیان

باب

(۱) ادب :- بی فکره هیڅ خبره مه کوه چه فکر دی وکړی بنه دی یقین سی چه دغه خبره هیڅ قسم بده نه ده بیائی وکړه.

(۲) ادب :- یو چاته بی ایمانه ویل یا داسی ویل چه پر فلانی دی د خدای غضب وی یا لعنت وی یا دی فلانی خدای روهی یا دی خدای دوبنځ ځای کړی برابره خبره ده که انسان وی که حیوان وی هر شی ته چه ووایی گناه لری. هر چا ته چه ئی ویلی دی که هغه دغسی نه وی نو دغه خبری او لعنتونه بیرته پرد غه ویونکی راګرزی

(۳) ادب :- که یو څوک بی ځایه خبره درته وکړی نو ته هم دغوندی اندازه بی ځایه خبره ورته کولای سی که دی زیادت وکړی نو ګنهګاره کیږی.

(۴) ادب :- مخامخ دو رنګه خبره مه کوه چه یوه ته یو شان بنکاره سی او بل ته بل شان بنکاره سی.

(۵) ادب چغلخوری هیخکله مه کوه مه د چاچغلی اوره.
(۶) ادب:- د رواغ هیخکله مه وایه.
(۷) ادب:- د چا د خوشحالی د پاره د ده پر مخامخ د ده تعریف مه کوه او په غیاب (پټه) کښی هم تر حده او اندازه زیات د ده تعریف مه کوه.
(۸) ادب:- د چا غیبت هیخکله مه کوه او غیبت دادی چه د ده په غیاب او نه حضور کښی د ده په باره کښی یو داسی خبره وکړی که ئې چیری هغه واوری نو په تکلیف به سی که څه هم د هغه خبره رشتیا وی اوکه د هغه خبره غلطه او د رواغ وی نو بیا خو بهتان دی چه په د هغه کښی نوره زیاته گناه سته.
(۹) ادب:- د چا سره بحث مه کوه او مه خپله خبره پرچالوره وه چه بس زما خبره دی وی دبل دادی نه منل کیږی
(۱۰) ادب:- د یرمه خاندره څکه چه په د یره خندا سره د زړه رونق او ښایست ختمیږی.
(۱۱) ادب:- چه د یو چا غیبت دی کړی وی که د هغه څخه معافی نه سی غوښتلای نو د د هغه سړی د پاره د بخښنې دعاوی کوه امید سته چه په قیامت کښی دی معاف کړی.
(۱۲) ادب:- د د رواغو وعده او قول مه کوه.
(۱۳) ادب:- داسی خندا مه کوه چه بل څوک په ذلیله او شرمنده سی.
(۱۴) ادب:- پرخپل یو شی یا یو هنر او کمال لویی او غټوالی مه بنکاره کوه مه فخریه کوه
(۱۵) ادب:- د شعرا و اشعارو شغل او دنده مه کوه البته که یو مضمون د شریعت څخه مخالف نه وی او په لږ غوندی اوازسره یو وخت وخت د یو دعا او نصیحت شعر ونه وایی نو پروا نه لری.
(۱۶) ادب:- اوریدلی خبری مه کوه چه چا ویل دوی ویل څکه چه اکثره د غسی خبری د رواغ او د خانه جوړی سوی خبری وی.

(۲۰) دمتفرقو جلاجلا خبرو بیان باب

(۱) ادب:- چه خط دی ویکی نو خاوری پر واچوه د د غه څخه په هغه کار کښی اسانی راځی کوم چه تا د هغه د پاره خط لیکلی وو یعنی د خط څخه چه دی هر مطلب او مقصد وی هغه به حاصل سی.

(۲) ادب:- زمانی ته به مه وایه.
(۳) ادب:- په پُس پُسی خبری مه کوه او مه خبره سره ژوبه خبره چسپه کوه. او خبره چیره مه اوږدوه او مه په خبره کښی مبالغه کوه ضرورت په اندازه خبره کوه.
(۴) ادب:- دچا وخبرو او غزلو ته غوږ مه نیسه.
(۵) ادب:- دچا د بیکاره شکل یا د بیکاره خبری پیښی مه کوه.
(۶) ادب:- دچا عیب چه وویني نو شُکندری مه پسی وایه بلکه عیب ئی پټ کړه (البته که ددې په دغه عیب کښی خلګو ته نقصان رسیدی نو بیا ئی بنکاره کول بنه کار دی)
(۷) ادب:- هر کار چه کوی بنه فکر پکښی وکړه اخر کار ته ئی ډګوره په چیر اطمنان او ارام والی سره ئی وکړه په تعجیل او تلوار کښی اکثره کار ونه خرابیږی.
(۸) ادب:- که یو څوک ستا سره صلاح او مشوره کوی نو دې ته هغه صلاح ورکړه چه ته ئی په خپل فکر کښی بهتره بولی.
(۹) ادب:- ترڅو چه کیدای سی غصه او غضب مه کوه.
(۱۰) ادب:- د خلګو څخه د خپلو خبرو معافی وغواړه او که د خلګو څخه معافی ونه غواړی نو په قیامت کښی به چیر مصیبت او غم وی درباندی.
(۱۱) ادب:- لوړوته هم بنه کار ونه بنی خبری وربښیه د بد وخته ئی منعه کوه البته که بالکل د قبلولو امید نه وی یا دا سی بیره وی چه ضرر به راورسوی. نو بیا خاموشی او پټه خوله روا ده مګر په زړه کښی بد کار بد بوله او بیله مجبوری د داسی خلګو سره ملاقات مه کوه.

د زړه صفا کول او برابرول

(۲۱) **د چیر خورک بد والی او علاج** باب

چیری ګناوی د نړیانی لس پرستی د وجهی څخه کیږی. (بخاری شریف. ترمذی شریف) په دغه کښی د چیر و خبرو خیال وساته. د مزه دار خورک پابند مه اوسه د حرامی

چیر څخه ضرور ته ضرور ته ضرور ته

چه لمه وی او وبزی ئې ډوډۍ پریږدلا په دغه کښې ډیرې فایدې دی. یو خوزم
صاف وی چه د خدای تعالی نعمتونه په پیژندلای سی. او په داسی صفا زړه سره
د خدای تعالی سره مینه او محبت پیدا کیږی. دوهم په زړه کښې رقت او نرمی پیدا
کیږی چه د دی څخه په دعا او ذکر کښې خوند پیدا کیږی دریم په نفس کښې
لویې او سرکښې نه پیدا کیږی. څلرم نفس ته لږ څه تکلیف رسیږی چه تکلیف وینې
د خدای تعالی عذاب وړ پیدا کیږی او د دغه سببه څخه نفس دګناوو څخه سائل
کیږی. پنځم دګناه رغبت او مینه کمیږی. شپږم طبیعت سپک وی خوب لږ ور
ځې په تهجد او نورو عبادتونو کښې سستی او لتې نه پاته کیږی. (رواه حاکم)
(۲۲) دوم پر عاجزانو او وبزو ئې رحم راځی بلکه د هر یو سره ئې رحم دلی پیدا کیږی.

باب — د زړه تو خبرو بدوالی او علاج

نفس په ډیرو خبرو هم خوشحاله کیږی او د دغو ډیرو خبرو څخه په سوو نو
اړه اخته کیږی. غیبت دروغ، چاته بنکنځل کول، چاته تانی ورکول لویې
کار ګڼل کول. د چا سره په بحثونو غوټه کیدل او نګیدل او د امیرانو او مړو
ګو خوشامد کول، داسی خندا کول چه د خلګو زړه په زهیر او خوږ سی. د
چا تو لوآنتونو څخه خلاصیدل هلته ممکن دی چه خپله ژبه وساتی او د
نورو د ساتنې طریقه دا ده چه هره خبره کول غواړی نو چه پرزړه دی دا سی
ګرانې مه کوه بلکه اول بنه فکر او غور پکښې وکړه چه په دغه خبره کښې
ثواب یا ګناه سته که ثواب یا داسی ده چه نه ثواب نه ګناه سته نو که دغه خبره
کول وی چه لږ یا ډیره ګناه پکښې وی نو بالکل خپله ژبه بنده کړه او که
د خواهش د ځخه وکړی چه دغه خبره وکړه نو بیا ئې پوه کړه چه داوخت
خوندی زړه مغلوبول اسانه دی او د دوزخ عذاب ډیر سخت دی او که هغه
کښې د ثواب وی نو بیا ئې دوایه او که نه ګناه وی نه ثواب نو دغه خبره هم
پرېږده که دی ډیر زړه غواړی نو لږ څه خبرې وکړه. بس چپ سه په هره خبره
کښې د غسی فکر کوه په لږو ورځو کښې دی د بد و خبرو د ویلو څخه په خپله
ځان کیږی او د ژبې د ساتنې او حفاظت تدبیر دا هم دی چه ساه نه

سره مه کښینه مه ملاقات ورسره کوه چه یواړی ناست یه نو پخپله ژبه خاموشه وی.

(۲۳) | د قهر او غصی بدوالی او علاج | باب

په غصه او غضب کښی عقل پرځای نه وی او د انجام او اخر کار فکر نه وی. د دی سببه د ژبی څخه هم بی ځایه خبری وزی او تړلاس ئی هم څه وزی. دد غه سببه د غصی او قهر په پیر په قابو کښی راوستل او کنټرولول پدکار دی او طریقه ئی دا ده چه تر تولو مخکی دا وکړی چه په هر چا ئی غصه راغلی وی هغه د خپله مخه څخه بالکل لیری کړی که هغه نه لیری کیږی نو خپله دی دد غه ځایه څخه لیری سی بیا دی فکر وکړی چه هر څوندی د غه سړی زما قصور وارګه او په ما ملامت دی. د غوندی زه خپل رب ته بلکه تر د غه زیات زه قصور وارګه او ملامت یم او لکه چه زه غواړم خدای تعالی زما خطاوی رامعاف کړی د غه رنګه مالره هم په کار ده چه زه دد ه خطاوی رامعاف کړم او په ژبه سره ـ اعوذ بالله چیړواړه ونه وایه او او به وچینبه یا اوس تازه کړه دی عمل په کولو سره غصه ارامیږی بیا چه عقل پرځای سی نو د غه وخت که هم پر د غه قصور او گناه سزا ورکول مناسبه معلومه سوه مثلاً په سزا ورکولو کښی د د غه قصور والا خیروی مثلاً خپل اولاد ئی وی چه برابر ول ئی ضروری دی. یا په سزا ورکولو کښی د بل یو ه خیروی مثلاً هغه سړی پریو چا ظلم کړی وی. اوس د مظلوم کومک کول د مظلوم د پاره د ظالم څخه بدله اخستل ضروری وی نو د دی سببه د سزا ضرورت وی نو اول بنه فکر وکړه چه د دوندی گناه د پاره څوندی سزا په کار ده. چه په بنه طریقه سره دی د شرعی موافق په خبره کښی اطمنان و سی نو د غه رنګه سزا ورکړه خو ورځی چه دی غصه راګرزه ولسه په داغسی طریقه سره نو غصه خو د بخود ه په قابو یعنی قبضه کښی راځی تیزی نه پکښی پاته بغض هم د زړه څخه وزی.

(۲۴) | د بغض بدوالی او د ه علاج | باب

یو څوک پت موړ، خوش، تازه او په عزت او ترقی کښی لیدل بیا نو په پته په

زړه کښی په سوځیدل او غم کول او د دغو نعمتونو په لیږی کیدل خوشحاله کیدل
او دغه ته حسد وایی حسد ډیر بدشی دی په دغه کښی گناه هم ده - د دغه سړی
ټوله زندگی په تکلیف او تلخی کښی تیریږی - غرض داچه د دغه په دنیا او دین دواړو
کښی بی خوندی ده - د دغه سبب د دی آفت څخه د ځان د خلاصولو دپاره
ډیر کوشش کول په کار دی او د دغه علاج دادی چه اول د افکر وکړه چه زما
د عناد او بغض کولو څخه صرف ما ته نقصان او تکلیف دی د ده څه نقصان او
تاوان دی او زما تاوان دادی چه زما نیکیانی او بنه عملونه برباد یږی - ځکه
چه په حدیث شریف کښی راغلی دی - چه حسد نیکی داسی خوری لکه اور چه لرگی
سوځی - او د دی وجه داده چه عناد او حسد کوونکی گویا پرخدای پاک باندی اعتراض
کوونکی دی چه فلانی سړی د دغه لایق نه وو ده ته دی دغه نعمت ولی ورکړی - نو
داسی وبوله چه (توبه توبه) د خدای مقابله کوی نو څوندی غټه گناه سوه - او
تکلیف خو بنکاره دی چه همیشه په رنځ او غم کښی اوسیږی او پرهرچا چه ئی
حسد کړی دی د هغه هیڅ تاوان نه کیږی ځکه چه د ده د حسد د وجهی څخه د
هغه نعمت نه خنمیږی بلکه د هغه نفعه داده چه د دغه کین په سبب نیکی د ده ته
ورځی هر وخت چه دی د اړنگه د بغض او عناد خبری په زړه کښی راوگرزی نو
بیا داسی کوه چه پرزړه زور تیر وه پرهرچا چه دی حسد پیدا سوی دی په ژبه
سره د نورو په مخکی د هغه تعریف او بنه والی بیانه وه او داسی وایه چه د الله
شکر دی چه د ده سره داسی داسی نعمتونه دی خدای تعالی دی ده ته دوچند
نعمتونه ورکړی - او که دی د ده سره ملاقات وسو نو تعظیم او عزت ئی وکړه - او
په خاکساری او عاجزی سره ورپیش سه - اول اول د داسی کردار او کار سره د نفس
ته ډیر تکلیف پیښیږی مگر کرار کرار اسانه کیږی او حسد ختمیږی -

(۲۵)

د دنیا او مال د محبت بدوالی او د ده علاج

باب

د مال محبت داسی بدشی دی چه هر وخت د دغه وزړه کښی ته داسی نو - د
خدای تعالی یاد او محبت بیا په زړه کښی نه ځایږی ځکه چه د داسی چا سره هیڅ

دا فکر وی چه روپی به څرنګه پیدا کړم څرنګه به ئې جمعه کړم زیورات اوکالی دا سی په کار دی دده وی برابرول څرنګه په کار دی اودونده لوښی وی او دوند ه شیان وی دا سی کور اوسرای جوړول په کار دی باغ اینبول په کار دی جائیداد راښول په کار دی نو هر وخت چه شپه او ورځ زړه په دا سی خیالاتو کښی بند وی نو بیاد خدای تعالیٰ د یاد ولو وخت او فرصت چیری پیدا کیږی.

یوه بدی په دغه کښی داده چه هر وخت په زړه کښی د دنیا محبت قرار ونیسی نو مرګ او خدای پاک ته تلل بد ورته معلومیږی ځکه چه دا خیال کوی چه د مرګ سره سم دغه عیش وعشرت ختمیږی او یو وخت خاص د مرګ په وخت کښی د دنیا پریښول بد ورته معلومیږی او هر وخت چه ورته معلومه سی چه خدای تعالیٰ د دنیا څخه پورته کړم او دنیا زما څخه پاتیږی نو به توبه د خدای پاک دښمن کیږی او اخری خاتمه ئې پرکفر باندی کیږی.

یوه بدی په دغه کښی داده چه هر وخت انسان د دنیا په جمعه کولو پسی روان دوان (څلی) وی بیاده ته د حلال او حرام فکر او هیڅ خیال نه وی نه دده واغوده کی خیال کوی بس دغه خیال ئې وی چه هسی دیو خواځخه پیدا سی. اوزه ئې واخلم څان په مور کړم. د دغه سببه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د دنیا محبت د ټولو ګناهونو بیخ دی هر وخت چه دغه داسی بد شی دی نو د مسلمان د پاره په کار ده چه کوشش وکړی او د دغی بلا څخه څان خلاص کړی او د خپل زړه څخه د دغی دنیا محبت وباسی.

پس نو یو علاج د دی دادی چه مرګ د پیر د پیر یاد وی او هر وخت ذکر کوی چه دغه ټول ساز وسامان یوه ورځ را څخه پاته کیږی بیا نو مینه او محبت د سره کول څه معنیٰ لری بلکه هر څونده ی چه مینه او محبت د پیر د سره کوی دغوندی اندازه د پریښولو په وخت کښی حسرت او افسوس ورته دریږی. دوهم دا چه د پیر و خلګو سره د دی شناخت او تعلق نه پیدا کوی او تر ضرورت نه زیات سامان مکان او جایداد دی نه جمعه کوی کار وبار او تجارت دی د پیر نه پراخوی. دغه شیان دی د خپل ضرورت او اړام په اندازه جمعه کړی غرض د څومره ټول سامانونه دی محدوده کړی. د سریم اسراف او فضول خرچی دی نه کوی ځکه چه د بی ځایه مصرفولو څخه دا مدنی حرص زیاتیږی او د دغه حرص څخه خرابیانی پیدا

کیږی - څلرم د سادہ جامو او سادہ پوډی حرص دی په ځان کښی پیدا کړی - پنځم د مسکینانو سره دی ډیر کښینی - د امیرانو او مالدارانو سره دی ډیر کم ملاقات کوی ځکه چه د امیرانو او سیمټانو د ناستی او ولاړی څخه د هر شی هوس پیدا کیږی - شپږم هغو بزرګانو چه د نیا پرایښی ده د هغوی قصی او حکایتونه دی اوری - اووم - د هر شی سره چه دی د زړه ډیره محبت وی هغه شی خیرات کړه یا ئی خرڅ کړه انشاء الله د دی تدبیر ونو په سبب د دنیا محبت د زړه څخه وزی او په زړه کښی چه کوم اوږده اوږده امیدونه پیدا کیږی چه داسی به ئی جمعه کوم داسی به سامانونه راغیسم داسی به د اولاد د پاره مکان بنګله (کوټه) پوره کلی ترڅیل مرګ وروسته پریږدم چه هغه ګذاره په وکړی د غه اوږده اودراز امیدونه او ارمانونه پخپله ختمیږی - (د غه ټول په اربعین للغزالی کې په حواله د حدیثو ثابت دی)

(۲۶) باب — دکنجوسی بدوالی اودی علاج

ډیر حقونه چه ادا کول ئی فرض او واجب دی لکه زکوٰة، اختری کول - د یو محتاج کومک او امداد کول، د مسکینانو قریبانو سره احسان کول په کنجوسی او بخل کښی د غه حقوق نه ادا کیږی نو بیا ډیر ه ګناه لری د اخود دین تاوان دی - او کنجوس سړی د ټولو خلګو په نظر کښی ذلیل او بی قدره وی د دنیا تاوان دی تر د غه نورو بیات بدوالی نه جوړیږی د دی علاج دادی چه هر شی ترڅیل ضرورت زیات وی پرڅیل طبیعت او زړه زور وکړه د غه یو چاته ورکړه که څه هم پر نفس تکلیف وی مګر همت او غیرت کوه د غه تکلیف برداشت کړه ترڅو چه د کنجوسی اثر بالکل د زړه څخه نه وی وتلی د غسی کولو ته ادامه اود وام ورکړه د دوهم علاج ئی دادی چه د مال او دنیا محبت د زړه څخه وباسی هروخت چه د دنیا محبت د زړه څخه ختم سی نو بیا د کنجوسی هیڅ قسم امکان نسته. (د کنجوسی د بدوالی بیان په (تبلیغ الدین) کښی چه د قرآن ایتونه او حدیثونه ئی پرې انقل کړیدی پوره بیان سویدی).

(۲۷) باب — د نامه او تعریف غوښتنی بدوالی او د ده علاج

هر څوک چه د انسان په زړه کښی د نامه او تعریف خواهش وی نو د د وهم سړی په نامه او تعریف سره سوځل کیږی او حسد کوی - د حسد بدوالی خو دی مخکی واوریدی

اووبل چا خرابتیا او زلت چه واوری زړه ئې خوشحاله کیږی دا هم دغتی ګناه خبره ده چه یو څوک دبل چا په کمه پیسی وی او بدئ غواړی او په نام او تعریف غوښتلو کښی دغه بدی هم سته چه یو وخت په ناجائزه طریقو سره نوم پیدا کوی مثلاً د نامه د پاره په واده یا بل شی کښی ډیر مال مصرف کړی بی فایده مصرفونه وکړی او دغه مال ئې یو وخت په رشوت سره جمعه کړی وی یا ئې په سود سره پور او قرض کړی وی۔ او دغه پتول د دغه نامه په برکت سره کیږی او د دنیا تاوان په دغه کښی دادی چه د داسی سړی د بښمنان او حاسدین ډیروی او هیشه د د ذلیله کونو، بند نامه کولو، وده ته د نقصان او تکلیف رسولو په فکر کښی وی۔

د دی د پاره یو علاج دادی چه داسی فکر وکړه چه دکومو خلګو په نظر کښی نامورې او تعریف غواړم نه به د دوی پاته سی نه به زړه پاته سم تر لږ ورځو ورو سته به بیا څوک پوښتنه هم نه کوی بیا نو پر داسی بی بنیاده شی باندی خوشحاله کیدل دنا پوهی خبره ده۔ دوهم علاج ئې دادی چه دغه سړی دی یو داسی کار وکړی چه د شرعی خلاف نه وی لیکن د خلګو په نظر کښی ذلیل او بدنام سی مثلاً د کوم پانی سړي چه وډې پرغږ بیا نو په ارزانه قیمت سره خرڅ کړی نو په دغه سره بنه رسوائی راځی۔ (د نامه او تعریف غوښتنی بد والی په الاربعین للغزالی کښی چه آیت او حدیث ئې پر را نقل کړی دی پوره بیان سوید ی)

(۲۸) باب — د غرور اولوی والی بد والی او علاج

غرور اولوی والی ودی ته وایی چه انسان خپل ځان په علم یا عبادت یا دینداری یا حسب ونسب یا مال وسامان یا عزت وابرو یا عقل یا په یو بله خبره کښی تر نورو لوړ او لوی وبولی او نور خلګ تر خپل ځان کمزوری او خوار وبولی دا لویه ګناه ده۔ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د هر هغه چا په زړه کښی چه د سپلنی دانی برابر تکبر اولوي وی هغه جنت ته نه سی تلای او په دنیا کښی هم خلګ د داسی سړی څخه نفرت کوی او په زړه کښی د د ده د بښمنان وی که څه هم د بیړی د وجهی په رنګه سړی د هیڅ نصیحت نه اوری۔

چه حق خبره ورسته وکړل سی نه ئی قبلوی بلکه بده ئی بولی اودغه نصیحت کونکی نه تکلیف ورکړ رسول غواړی ددغه علاج دادی چه پرخپل حقیقت او ذات غور وکړی چه زه د خاورو او ناپاکه اوبو یعنی نطفی (منیو) څخه پیدا سوی یم پټول عزت او نعمتونه الله پاک راکړی دی که الله جل جلاله وغواړی اوس اوس پټول راڅخه اخستلای سی نو تکبر او لوی والی ولی وکړم او پر څه خبره ئی وکړم او د خدای تعالی لویی دی یاده کړی نو په دغه وخت کښی خپله لویی او تکبر په خیال او فکر کښی هم نه راځی اوهر څوک چه ده خوار بللی وی هغه ته دی په عاجزی سره ورپیش سی اود هغه تعظیم اوعزت دی وکړی نو تکبر او لویی ئی د زړه څخه وزړی اوکه ئی ذیات همت نه وی نو پرخپله ذمه دی دوندی پابندی وکړی چه هر وخت دینو کښته درجی سړی ورسره ملاقی سی سلام دی ورواچوی مخکی تردی چه هغه سلام وراچوی - انشاءالله په دغه سره هم په نفس کښی ډیره عاجزی پیدا کیږی (ډیر نفل هم د تکبر یو غوره علاج دی) - په تبلیغ الدین کښی په حواله دایاتو نو او حدیثونو د غرور او لویوالی د بدوالی پوره بیان سویدی.

(۲۹) دعجب اوځان بنه بللو بد والی اوددی علاج باب

که څوک خپل ځان بنه وبولی یا کالی اوزیور واغوندی خپل ځان بنه وبولی - که څه هم نور کم او بد هم نه وبولی داخبره هم بده ده په حدیث شریف کښی راغلی دی چه دغه خصلت او خوی دین برباد وی اوداخبره هم ده چه دغسی انسان د خپل ځان د اصلاح فکر نه کوی ځکه چه هروخت هغه خپل ځان بنه بولی نو ده ته خپلی خرابی او خامیانی نه ورمعلومیږی.

ددی علاج دادی چه په خپلو عیبونو او خامیو کښی فکر وکړی او پکښی وگوری اوداسی دی گنهی چه کوی خبری اوکارونه چه زما بنه دی داد خدای تعالی نعمت دی زما هیڅ کمال نه دی اود الله پاک شکر دی کوی اود عادی کوی چه یا الله دغه نعمت مه راڅخه اخله همیشه ئی راباندی لره.

له پرستو خوان چه دډوډی کوی ریزی او اتامونه پاتیږی دد غو خورل هم دکبر بهترین علاج دی ۱۲

(۳۰) | دریاد پاره د بنه کار کولو بد والی او د دی علاج | باب

د غه ریا په ډیرو طریقو سره وی یو وخت صاف په ژبه سره وی چه ماد وندی قرآن شریف د والی - یره د شپی راپورته سوی وی - او کله د نورو خبرو په منځ کښی وی مثلاً د هربو د بدۍ(۱) وانو خبری کیږی نو دی د والی چه نه دا ټولی خبری غلطی دی مونږ خو دا می نه دی لیدلی نو خبره خو د بد دا نو د سوه لیکن په د غه کښی ټول په د غه هم پوه سوه چه د ه حج کړیدی او کله په کار کولو کښی ریا کاری کیږی. مثلاً ریا کاری په نیت د ټولو په منځ کښی تسبیح اړوی ناست وی او کله کله د یو کار د بنه برابر ولو څخه کیږی مثلاً د یو چا عادت وی چه همیشه د اد قرآن شریف تلاوت کوی مګر د څلورو بنځو په محفل کی ئ په ډیره بنه طریقه او خوش آوازی سره قرآن شریف شروع کړی چه خپل عادت ئ د اغسی نه وو یو وخت وخت په طاسی صورت او شکل سره کیږی مثلاً ستړګی پټی کړی سر وخړوی کښینی چه کتونکی د اخیال وکړی چه ډیره بزرګه بنځه د ه هر وخت په د غه فکر کښی ډوبه وی د شپی ډیره ناسته کوی د خو به څخه ئ ستړګی پټیږی د غه رنګه د غه ریا په نورو ډیرو طریقو سره هم کیږی او چه په هره طریقه سره وی ډیره بد ه د ه د قیامت په درځ یرد غسی بنو او نیکو کارونو چه د ریاد پاره سوی وی د ثواب پرځای سرچپه د دوزخ عذاب ورکول کیږی.

د دی علاج هغه دی کوم چه د نامه او تعریف غوښتلو علاج دی چه هغه مونږ مخکی بیان کړی دی ځکه چه ریا د غه د پاره کیږی چه زما نوم اوزما تعریف وی - (نیک کار چه د ریا په نیت وسی بد والی ئ الله پاک په قرآن شریف کښی او احمد او بیهقی په حدیثونو کښی بیان کړیدی)

(۳۱) | یو قابل ذکر ضروری خبره | باب

د د غو بد و عادتونو اوخویونو چه کوم علاجونه بیان سول د د غو علاجونو د دری(۳) خلورو وارو د کولو څخه کار نه کیږی او د غه بدی نه ختمیږی - مثلاً غصه ئ د دو(۲) دری(۳) وارو استعمال نه کړه پرځان ئ زور تبر کړی نو په د غه سره د دغی مریضی بیخ نه خیژی یا یو یا دو ه وارو غصه نه وسته راغله نو دا دوکه او فریب د نه کوم خلګ چه د غربو په ځنګلونو او کلو کښی اوسیږی هغوی ته بدوان وایی ۱۲

دی نه خوری چه زیاد نفس اصلاح وسوه بلکه تر چیرو ورځو پوری دی دغه علاج چونه کوی او کله چه غفلت څنډی وسی دغه خطا ئی بیا تر لاس وخیژی نو افسوس - او پښیمانی دی وکړی او آینده دی فکر کوی تر چیری زمانی وروسته انشاء الله تعالی دغو عادتو نو بیخ خیژی.

(۳۲) یوه بله ضروری دکار خبره — باب

په نفس کښی چه څه بدی او خرابیانی دی او په لاسونو او پښو چه هر څوندی گناوی نیږی ددی دعلاج د پاره یوه آسانه طریقه دا هم ده چه هروخت د نفس څخه د یو عبارت بدی او گناه کار وسی ده ته یوځه سزا ورکوه او دی سزا وی آسانه دی چه هرسهری ئی ورکولای سی یوه داچه پرخپله ذمه پنځه یا لس روپی هرقسم چه ستا حیثیت وی دجرمانی په طور مقرری کړه نو چه هروخت یو بدکار وکړی هغه جرمانه پرمسکینانو باندی تقسیم کړه که بیا گناه د رڅخه وسی بیا دغسی وکړه - دوهمه سزا دا ده چه یو وخت یا دوه وخته ډوډی مه خوړه - دخدای تعالی څخه امید دی که څوک دغسی سزاوی لازمی کړی انشاء الله تعالی ټولی بدی او بیکاری ئی ختمیږی مخکی دښو خبرو ذکر دی چه زړه په اصلاح او برابریږی.

(۳۳) توبه اودتوبی طریقه — باب

توبه داسی بنه شی ده چه ټولی گناوی په معافیږی او هرسهری چه په خپل حان کښی غور او فکر کوی دا رنگه چه هر وخت څه ناڅه خبره د گناه کیږی نو توبه به خامخا هر وخت ضروری گڼی.

ددی د حاصلولو طریقه دا ده - چه په قران او حدیث کښی پر گناوو کوم کوم عذابونه راغلی دی هغه را یاد کړی فکر کی وکړی نو دد غو عذابونو د را یاد ولو څخه ئی پرگناه کولو زړه درد یږی په دغه وخت کښی په کار ده چه په ژبه سره هم توبه وکاږی او کوم ملنځونه دروڼی او داسی نور چه تناسبی دی هغه دی هم

راوگرزوی که ئی د بندګانو حقوق منایع او تلف کړی وی په هغوی دی معاف کړی یا دی ادا کړی اوکوم چه نور داسی ګناهونه وی چه نه د قضا لاندې راتلو قابل وی او نه ئی تر بندګانو تعلق وی یوازی د عذر دی بنه وتړاړی او د شرمۍ دی جوړ کړی د خدای تعالی څخه دی پیره پیره معافی وغواړی۔ (دتوبی بنه والی په قران شریف او مسلم شریف، ابوداؤد شریف او نسائی شریف په حدیثونو ثابت سویدی.

(۳۴)	د خدای تعالی څخه بیره او طریقه ئی	باب

الله تعالی جل شانه فرمائیلی دی چه زما څخه وبیریږه او بیره او خوف داسی بنه شی دی چه انسان د ده په برکت د ګناهونو څخه خلاصیږی. طریقه ئی هغه ده کومه چه د توبی طریقه وه چه د خدای تعالی په عذابونو کښی فکر وکړی او یاد ئی کړی.

(۳۵)	د خدای پاک څخه امید درلودل او د امید طریقه	باب

الله تعالی فرمائیلی دی چه[1] ناسی د حق تعالی د رحمت څخه مه نا امیده کیږی او امید داسی بنه شی دی چه د ده د سببه د نیکو کارونو ته د انسان زړه غواړی او په نیک کار خوشحاله کیږی او د توبی کولو غیرت او همت پکښی پیدا کیږی طریقه ئی داده چه د خدای تعالی رحمتونه یاد وی نکر پکښی کوی. (په حدیثونو کښی هم د خوف او رجا یعنی بیری او امید د بنه والی ذکر راغلی دی

(۳۶)	صبر او د صبر کولو طریقه	باب

نفس د دین پر کار او خبرو پابند ه ول او د دین د خلاف کار څخه ئی سړا ګرزول و د غه ته صبر وایی او د صبر درې ځایونه او موقع ګانی دی یو ه موقع ئی دا ده چه انسان د امن او ارامۍ په حال کښی وی خدای تعالی صحت ورکړی وی مال او دولت، عزت او ابرو، نوکر او خادم، ال او اولاد، کور او کهول، ساز و سامان ئی ورکړی وی۔ د داسی وخت صبر دادی چه دماغ ئی خراب نه وی نو خدای تعالی هیر نه کړی غریبان خوار او حقیر و نه بولی د دوی سره نرمی او احسان کوی د دوهمه موقع د صبر

[1] لاتقنطوا من رحمة الله ۱۲

د عبادت وخت دی چه د غه وخت نفس سستی کوی مثلاً لمانځه ته د پورته کیدو د پاره یا نفس کنجوسی او بخل کوی لکه په زکوٰة خیرات ورکولو کښی پرد غسی موقع باندی دریمه قسمه صبر کول په کار دی یو تر عبادت مخکی چه نیت صحیح او برابر کړی - صرف د خدای د رضا د پاره هغه کار وکړی د نفس هیڅ غرض او حصه نه وی پکښی -

دوهم د عبادت په وخت کښی چوکم همتی نه وی لکه چه د د غه عبادت هر قسم حق دی د غه رنګه ئی ادا کول په کار دی - دریم تر عبادت ورو سته دی د چا په مخامخ کښی د خپل کړی عبادت ذکر نه کوی .

دریمه موقع د صبر د ګناه وخت دی د د غه وخت صبر دا دی چه نفس د ګناه څخه را بند کړی - څلرمه موقع هغه وخت د ه چه د غه سړی ته یو څوک تکلیف ورورسوی بد او بیکاره ورته ووایی د د غه وخت صبر دا دی چه بد له وا نه خلی خاموشه سی - پنځمه موقع د غم مریضی او د مال د تاوان یا د خپل عزیز او قریب د مرګ د ه د د غه وخت صبر دا دی چه په ژبه سره د شرعی مخالف خبره و نه کړی او په خبرو خبرو کښی و نه ژاړی .

طریقه د صبر د ټولو اقسامو دا ده چه د دی ټولو څایونو او مواقعو ثواب ونه وکړی چه په بی صبری سره تقدیر او ازلی نوشته نه بدلیږی نو ناحقه ځان ولی د ثواب څخه بی برخی کړم - (خدای تعالیٰ په قرآن شریف کښی تر اوویا څایه زیات د صبر ذکر کړیدی او د صبر کونکو ئی د وندی صفتونه ذکر کړیدی چه د نورو د پاره ئی نه دی جمعه کړی - او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه صبر نیم ایمان دی - د غه حدیث شریف ابو نعیم او نور روایت کړیدی)

(۳۷) شکر او طریقه د شکر باب

د خدای تعالیٰ په نعمتونو خوشحاله کیدل د خدای تعالیٰ مینه او محبت په زړه کښی پیدا کیدل او د د غه محبت څخه د اشوق پیدا کیدل چه هر وخت د ه و ما ته د اسی د اسی نعمتونه را کړی دی او را کوی ئی نو باید د د ه ښه عبادت وکړم - او د

لـه پر مریضی باندی صبر کول تر هغه صبر کولو ډیر مشکل او ګران دی کوم چه پر مسکینی او لوږه وی نو د دی سببه پر مریضی صبر کول هم ډیر زیات ثواب لری ۱۲

۸۱

دغسی نعمت درکوی ناڅرمانی ورته دشرم خبره ده باید نافرمانی ئی ونه کړم بس دغه د شکر خلاصه اومطلب دی. بنکاره خبره ده چه پر بنده هر وخت د الله تعالی په هزارها اونږدونو نعمتونه کیږی که یو غم هم وی په دغه کښی دبنده فاید ده نو دغه غم هم نعمت دی (حکه چه په صبر کولو کښی پر دغه غم ثواب هم ستنه اود نفس اصلاح هم په کیږی حکه چه نفس ذلیله کیږی اویو وخت بنه عوض په دنیا کښی هم خدای پاک درکوی) نو چه هر وخت نعمت دی نو هر وخت په زړه کښی دا خوشحالی او محبت راوستل په کار دی چه هیڅ وخت هم د خدای تعالی په حکم پوره کولو کښی کمی کول په کار نه ده - طریقه ئی داده چه د خدای تعالی نعمتونه یاد وی او فکر پکښی کوی - (د شکر د فضیلت په بابره کښی - تبلیغ الدین - کیمیای سعادت - مذاق العارفین - کتابونه وگورئه)

(۳۸) پر خدای تعالی توکل او بروسه کول اوطریقه ئی باب

دا هر مسلمان ته معلومه ده چه بیله د خدای دارادی نه یو نفعه حصیلدای سی نه یو تاوان رسیدای سی نو د دی سبب ضروری سوه چه هر کار کوی پر خپل تدبیر او پوهنه توکل مه کوه پر خدای تعالی توکل کوه او هیڅ مخلوق ته ځیات امید مه کوه اومه دچا څخه بیریږه اود اسی فکر به کوی چه بیله د خدای دارادی څخه بل هیڅوک هیڅ نه سی کولای ودغه ته بروسه او توکل وایی - د دی طریقه داده چه د خدای تعالی په حکمت او قدرت کښی اود مخلوق په ناڅیزوالی کښی بنه فکروکړه او هر وخت ئی یاد وه - (د توکل او بروسی فضیلت په قران او حدیث دواړو کښی ثابت سویدی)

(۳۹) د خدای پاک سره محبت کول اوطریقه ئی باب

د خدای پاک وطرف ته زړه متوجه کول د خدای پاک خبری (یعنی حکمونه) اوریدل اود ده وکارونو ته کتل او انسان ته خوند اومزه ورکول بس دغه محبت دی طریقه ددی داده چه د خدای تعالی نوم په ډیرکثرت سره وایی او د خدای تعالی خوبی او

صفتونه دا راوا ريه زړه کښې راګرزوی، او د خدای پاک سره چه کوم لګيدړه محبت دی هغه دی بار بار ياد وی.

(۴۰) باب دخدای تعالیٰ په حکم راضی کيدل او طريقه يئ

هر وخت چه مسلمان ته دا معلومه ده چه د خدای تعالیٰ طرفنه څخه هر څه کيږی په ټولو کښې د بنده فايده ده او ثواب ئې دی نو د خدای تعالیٰ پر هره خبره او کار رضا ښکاره کول په کار ده نه دی بيريزی نه دی ګيلی کوی نه دی قصه کوی د دغه طريقه دی خبری فکر کول دی چه هر څه کيږی ټول بنه دی.

(۴۱) باب صدق يعنی صحيح نيت او دهغه طريقه

د دين هر کار چه کوی په دغه کښې به دی د دنيا هيڅ مطلب نه وی نه به ريا کاری وی نه به يو بل داسی مطلب وی مثلاً ديو چا هاضمه خرابه ده نو وايی چه را سه روڼه دينسه روڼه به دی روڼه سی او هاضمه به دی هم برابره سی يا د ماڼځه په وخت کښې مخکی او دس وی مګر ګرمی هم وی نو د دی سبب ئې نوی او دس تازه کړی او داسی ئې وويل چه او دس به مې اودس سی او لاسونه او پښې به مې هم يخ سی يا ئې يو فقير سائل ته يوشی ورکاوی او دا نيت ئې وو چه د ده د سوال کولو څخه به هم خلاص سم او دا آفت او بلا به هم دفعه سی دا ټولی خبری د صادق او رښتونی نيت خلاف دی. د دی طريقه داده چه تر کار کولو مخکی بنه فکر وکړی که ديو کوی د هغسی خبری ګډوالی پکښې وی د هغی څخه زړه صاف کړی.

(۴۲) باب مراقبه يعنی په زړه کښې د الله پاک خيال د لرلو د اوطريقې ئ

په زړه کښې هر وخت خيال ساته چه خدای تعالیٰ زما په ټولو حالاتو خبر دی د ظاهر هم د باطن هم او دا اعتقاد لره که بد کار کوم يا بد خيال او فکر کوم نو خدای تعالیٰ په دنيا يا آخرت کښې سزا راکوی. د دهم د عبادت په وخت کښې د څه خيال په زړه کښې محکم کړه چه هغه زما عبادت وينی بايد په بنه طريقه ئې وکړم د دی طريقه داده چه په کثرت سره هر وخت د غه فکر کوی نو په دی لږ و ډير کښې دی توجه او خيال د خدای پاک وطرف ته برابر يږی او د نور و

طرفونو څخه دی خیالات رابندیږی بیا به انشآء الله هیڅ خبره د الله د رضا خلاف د ر څخه ونه سی۔

(۴۳) دقرآن شریف په ویلو کښی د زړه لگولو طریقه باب

قانون دی که یو څوک وچاته ووایی چه ته یو څه قرآن شریف راته ووایه چه زه ئی واورم نو د رته گوره چه څرنگه ئی ووایی نو د غه وخت هر څوندی چه کیدای سی په ډیر غور فکر او صحیح طریقه ئی ووایی نو ته هم اوس داسی کوه چه هر وخت دی د قرآن شریف د ویلو اراده وکړه نو اول په ذهن کښی د غه فکر کوه چه گویا خدای تعالی وما ته ویلی دی چه قرآن شریف ووایه چه ته ئی څرنگه ووایی اوداسی فکر وکړه چه خدای پاک ئی ښه اوری او داخیال وکړه چه هر وخت ئی د بل چا په امر او فرمایش په ډیر غور فکر او صحیح طریقه سره وایم نو خدای تعالی په امر سره ئی باید تر د غه هم په ښه طریقه سره ووایم د غه ډول خبری په فکر کښی راوگرزوه بیا نو قرآن شریف شروع کړه او ترڅو چه قرآن شریف وائی د غه خبری په خیال کښی ساته او هر وخت چه دی په ویلو کښی گډ والی راسی یادی زړه یوی اوبلی خواته سی نو د لږ وخت د پاره قرأت بند کړه او د د غو خبرو په یاد ولو سره بیا خپل فکر تازه کړه انشاء الله تعالی په د غه طریقه سره صحیح اوصاف هم ویل کیږی او د زړه توجه هم د قران شریف تلاوت کولو نه ئی تر یو زمانی پوری په د غه طریقه ووایی نو بیا دی په اسانی سره د قران شریف په ویلو کښی زړه لگیږی.

(۴۴) په لمانځه کښی د زړه لگولو طریقه باب

د دنده ی خبره یاد وساته چه په لمانځه کښی به هیڅ کار هیڅ ویل بی ارادی نه وی بلکه هره خبره او کار به په فکر سره وی مثلاً الله اکبر دی ووایی او د سربیدی نو پر هر لفظ باندی داسی فکر وکړه چه زه اوس سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وایم بیا فکر وکړه چه اوس وَبِحَمْدِكَ وایم بیا ښه غور او فکر وکړه چه اوس می وَتَبَارَكَ اسْمُكَ ترڅوله وزی داغه رنگه پر هر لفظ جلا جلا توجه او فکر کوه او په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او سورة کښی هم داغسی کوه بیا په رکوع کښی د غه رنگه هر وار

په سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ کښی د غه غور او فکر کوه غرض د خولی څخه چه هر کلمه
ژباسی د زړه تو جه هم ور سره راګرزوه په ټول لمانځه کښی د غه طریقه کوه
ان شاء الله تعالیٰ د د غسی رقم کولو څخه په لمانځه کښی هیڅ خواته فکر نه ځی
بیا نو په لږ د ور څوکښی په اسانی سره ستاشوق پر لمانځه راځی او پر لمانځه دی
زړه کښینی او لمونځ کول خوند در کوی که دی د لمانځه د الفاظو معنیٰ یاده وی
نو پر معنیٰ ئی هم نظر شاته

(۴۵)	د پیری او مریدی بیان	باب

په مریدی کښی د پیری فایدی دی۔ ⊙ اوله:- فایده داده چه د زړه په صفا کولو کښی چه کومی طریقی مخکی بیان سوی دی د غو طریقو په استعمالولو کښی یو وخت وخت د ناپوهی په وجه غلطی واقع کیږی۔ پیر صاحب د د غه صحیح او برابره لار ور بنسیی۔

⊙ دوهمه:- فایده داده چه د کتاب د ویلو څخه بعضی وختونه دوندی اثر او تاثیر نه کیږی لکه څوندی چه د پیر د ښو ونی څخه کیږی یو خو دده۔ برکت وی بیا دا بیره هم وی چه که می په یو نیک کار کښی کمی وکړه یا می یو بد کار وکړی نو د پیر صاحب په مخ کښی به شرمنده سم۔

⊙ دریمه:- فایده داده چه د پیر سره ئی ښه اعتقاد او محبت پیدا کیږی او دا می ئی زړه غواړی چه پر کومه طریقه باندی پیر صاحب رفتار کوی باید زه هم پر هغه طریقه رفتار وکړم۔

⊙ څلرمه:- فایده داده چه که پیر صاحب په نصیحت کولو کښی غصه یا سختی کوی نو ناخوښه ئی نه وی بیا نو پر د غه نصیحت د عمل کولو زیات کوشش کوی نو ری هم بعضی فایدی پکښی سته پر هر چا چه د خدای تعالیٰ فضل کیږی نو هغوی ته د غه فایدی حاصلیږی او د حاصلید و څخه هغه معلومیږی که دی د مرید والی اراده او قصد وی نو اول په پیر کښی د غه خبری وګوره که چیری د غه خبری نه وی پکښی موجودی نو د ده مریدی مه کوه۔

⊙ اوله داچه دغه پیر ته به د دین د مسئلو معلومات وی د شریعت څخه به ناخبره نه وی

⊙ دوهمه:- داچه په دې کښی به هیڅ کار د شرعی څخه مخالف نه وی کومی عقیدی چه تا د کتاب په اوله حصه کښی ویلی دی دهغی به د دې عقیدې وی کومی مسئلی اود نورې صاف لوطریقی چه تا په دغه کتاب کښی ویلی دی هیڅ خبره به یې د دغه خلاف نه وی

⊙ دریمه:- د دنیا د جمعه کولو اوخوړلو د پاره به پیری او مریدی نه کوی.

⊙ څلرمه:- دیو داسی بزرګ به مرید وی چه اکثره ښه خلګ یې ښه اوبزرګ بولی.

⊙ پنځم:- دغه پیر ته به هم ښه خلګ په ښه والی.

⊙ شپږم:- د دې په تعلیم کښی به دا اثر وی چه د دین مینه او شوق پیدا سی دغه خبره د دې دنورو مریدانو د حال لیدلو څخه معلومیږی که په لسګو مریدانو کښی پنځه شپږ مریدان هم ښه وی نو پوه سه چه دغه پیر تاثیر والا دی اودیو نیم مرید دبند والی څخه شک مه کوه او تا چه اوریدلی دی چه په بزرګانو کښی تاثیر دی هغه تاثیر دغه دی او نورو تاثیراتو ته مه ګوره مثلاً چه دی هر قسم والی هغسی به کیږی هغه به چواو دم کوی نو مریضی به حتماً ختمیږی دی چه دهر کار د پاره تعویذ ورکوی هغه کار به د مرضی او خوښی سره برابر کیږی - هغه پیر به داسی نظر او توجه کوی چه انسان به بې تابه کیږی پر دغو تاثیراتو باندی هیڅکله دوکه مه خوره.

⊙ اووم:- په دغه پیر کښی به دا خبره وی چه د دین په نصیحت کولو کښی به د مریدانو لحاظ نه کوی - د بې ځایه اوناوړه کار وخته به یې راګرزوی چه هر وخت د غسی پیر پیدا سی که چیری ته پیغله وی یعنی خاوند نه لری نو د مور او پلار څخه پوښتنه وکړه او که چیری ته واده سوی وی نو د خپل خاوند څخه پوښتنه وکړه په ښه نیت سره خالص د دین او ایمان د برابرولو په نیت مرید کا سه او که دغه خلګ دیو مصلحت په وجه اجازت درنه کړی نو مرید والی خو فرض نه دی مه مرید یږه - البته د دین پرلار تګ فرض دی بیله مرید والی هم د دین پرلار رفتار کوه.

۳ تصحیح الاغلاط ۱۲

د پیری او مریدی په باره کښی د بعضو خبرو تعلیم او ښوونه کیږی

(۴۶)

باب

(۱) تعلیم:- د پیر ښه ادب او احترام کوه د الله تعالیٰ د نامه د اخستلو طریقه چه هغه هر قسم درود ښی په هغه طریقه سره د خدای تعالیٰ د نامه ذکر کوه اوده په باره کښی دا اعتقاد ساته چه ماته هر څوندی فاید د زړه د صحیح کولو او برابرولو د پاره پیر څخه زر سیږی د عوندی فاید ده د دنیا د زمانی د پیر بزرګ څخه نه سی زر سید لای. (لیکن د هیڅ بزرګ توهین او بی عزتی دی هیڅکله نه کوی.

(۲) تعلیم:- د مرید زړه تر اوسه پورې په ښه طریقه برابر سوی نه وی چه پیر وفات سو نو د بل پیر کامل چه په ده کښی پورته ذکر سوی خوی ونه او خبری وی مرید دی سی.

(۳) تعلیم:- په یو کتاب کښی ئ وظیفه یاد یو پیری خبره ولیده په خپل عقل دی هیڅ نه کوی د پیر څخه دی پوښتنه وکړی او چه کومه نوی خبره ښه یا بده ئ په زړه کښی راسی یا د یو کار او خبری اراده ئ پیدا سی نو د خپل پیر څخه دی پوښتنه وکړی.

(۴) تعلیم:- د پیر سره دی بی ستری نه کوی او د مرید والی په وخت کښی دی خپل لاس د پیر په لاس کښی نه ورکوی په دسمال یا بل توکر یا خالی په څنګ سره مریدی صحیح کیږی.

(۵) تعلیم:- که په غلطی سره د یو مخالف د شریعت پیر مرید سی یا اول هغه پیر ښه وُو ورو سته خراب سو نو مریدی دی ماته کړی د یو بل ښه بزرګ پیر دی مرید سی لیکن که یو سړکه عوندی خبره کله کله د پیر څخه وسی نو د اسی خیال وکړه چه آخر خو دا هم انسان دی فرشته او ملایکه خو نه ده. د ده څخه غلطی وسوه چه په توبه سره به ئ خدای ورمعاف کړی پر وهړو وړو خبرو باندی اعتقاد مه ځندی خرابوه البته که پیر صاحب پردغه بی ځایه خبره باندی قرار ونیسی نو بیا د ده مریدی پریږده.

(۶) تعلیم:- پیر د اسی بلل ګناه ده چه د ده ته هر وخت نه ماتوال حال معلوم دی.

(۷) تعلیم:- د فقیری چه د غنی لتابونه وی چه د هغوی ظاهری مطلب مخالف د شریعت څخه وی د غنی کتابونه هیڅکله مه گورئ د هغه رنگه گوم شعر او اشعار چه د شریعت خلاف وی هغه هم هیڅکله په ژبه مه وایه.

(۸) تعلیم:- بعضی فقیران او ملنگیان والی چه د شریعت لاس جلا دی او د فقیری او ملنگۍ لاس جلا دی هغه فقیران او ملنگیان گمراهان دی. دوی د واجب الحق بلل فرض دی

(۹) تعلیم:- که پیر یو خبره د شریعت څخه خلاف وکړی نو پرده هغه عمل گول روانه دی نو که هغه پرده هغه خبره ښه ښکاره وکړی نو دده مریدی پریږده.

(۱۰) تعلیم:- که د خدای تعالی د نامه د اخستو او ذکر په برکت یه زړه کښی یو ښه حال پیدا سی یا یو ښه خوب وویني یا په ویښه یو آواز او رونبایی معلومه سی نو بیله خپله پیره د هیڅاته ئی ذکر مه کوئ مه هیڅ وخت د خپلو وظیفو او عبادت وڅاته اظهار او ښکاره والی کوئ حکمه چه د ښکاره کولو په وجه د هغه دولت ختمیږی.

(۱۱) تعلیم:- که پیر یو وظیفه یا یو ذکر در ښوولی او تریو څه مدی پوری د د هغه مزه یا اثر پرزړه هیڅ معلوم نه سو نو د هغه څخه تنگ زړه یا د پیره څخه مه بدا عتقاده کیږه بلکه داسی خیال کوئ چه لوی اثر د هغه دی چه زما په زړه کښی د پروردگار عالم د ذکر اراده پیدا سو یده او د د هغه ذکر توفیق راکړه سوی دی د داسی اثر خواهش دی هیڅکله په زړه کښی نه کوی چه زړه دی په خوب کښی د بزرگانو څخه زیادت وکړم ماته دی کید ونکی او اینده خبری معلومی سی ماته دی ښه ژړا راځی ماته دی په عبادت کښی داسی بیهوښی راځی چه په نورو شیانو خبر نه یم یو وخت وخت د مریدی سره د هغه خبری هم پیدا کیږی او یو وخت وخت نه پیدا کیږی که چیری د هغی خبری او حالات پیدا سی نو د خدای تعالی شکر ادا کړه او که نه وی یا وی لیکن بیا کمی او ورکی سی نو غم مه کوئ البته خدای دی نه کوی که د شرعی په پابندی کښی کمی در څخه سوی وی یا گناه در څخه سوی وی د اخبره البته د غم ده. ژړهمت کوئ خپل حالات برابر کړه او خپل پیر ته خبر ورکړه هغه چه هر څه هدایت در ته وکړی په هغه عمل وکړه.

(۱۲) تعلیم:- د نورو بزرگانو یاد نور و طریقو په شان کښی گستاخی او سپین سترگی مه کوئ او مه د بل څای مریدانو ته داسی وایه چه زمونږ پیر ستاسی تر پیر ښه دی

یا زهوب طریقه ستاسی ترطریقه بنه دی - (د پیرانو د پیری طریقی دی مثلاً - چشتیه قادریه، نقشبندیه اودامی نور) - د دغو عبث خبرو څخه په ژړه کښی تاریکی پیدا کیږی.

(۱۳) تعلیم:- که د پیر پریو بله مرید ته زنانه تر تا زیاته وسیله اوشفقت وی نو دهغی سره حسد اوعناد مه کوه - یا هغی نه د وظیفی اوذکر څخه زیاته فایده حاصلیږی نو پرهغی دی حسد نه کوی.

دمرید دپاره بلکه دهر مسلمان دپاره دارنګه په شپه اوورځ کښی اوسیدل په کار دی

(۴۷) باب

(۱) دضرورت موافق د دین علم حاصل کړه برابره خبره ده که کتاب وایي یاد عالمانو څخه پوښتنه کوی (۲) د بتو لوګناهونو څخه ځان وساته (۳) که یوګناه درڅخه وسی نو سمدستی توبه وکاږه (۴) د چا حق پر ځان مه پریږده چاته په لاس یاژبه تکلیف مه ورکوه د چا بد مه وایه یاد چا سره بد مه کوه (۵) د مال محبت اودنیا مه خواهش مه کوه مه د پیرو بښو خوړاکونو اوجامو په فکر کښی اوسه (۶) که ستا پرخطا یو څوک گرفت اونیوکه وکړی نو د خپله ځانه خبره مه جوړوه نو ړا اقرار اوتوبه وکړه. (۷) بیله سخته ضرورته سفر مه کوه په سفر کښی د پیری خبری دبی احتیاطی کیږی د پیر نیک کارونه پاتیږی په وظیفو کښی خلل واقع کیږی پروخت باندی هیڅ کار نه کیږی. (۸) د پیر مه خانده د پیری خبری مه کوه خصوصاً دنامحرم سره بی تکلیفه او بی قیده خبری مه کوه (۹) د چا سره جګړه جنګ اوبحث مه کوه (۱۰) د شرعی هر دخت خیال ساته (۱۱) په عبادت کښی سستی مه کوه (۱۲) زیات وخت په تنهائی کښی اوسه (۱۳) کمدی د نورو خلګو سره ملاقات واقع سی نو تر بتو لو عاجزه اوسه د بتو لو خدمت کوه خپله لویی مه بنکاره کوه (۱۴) د امیرانو اومشرو خلګو سره د پیر لږ ملاقات کوه (۱۵) د بی دینه سړی څخه لیری اوسه (۱۶) د نورو خلګو د عیب تفتیش او تلاش مه کوه اوپرچا بد ګمانی مه کوه خپلو عیبونو ته نظر کوه او د دوی اصلاح کوه (۱۷) لمونځ په بنه طریقه پرخیل وخت په بنه اخلاص سره کوه اوپه پابندی

سره د لمانځه د ادا کولو ډیر خیال ساته (۱۸) په زړه یا په ژبه سره هر وخت د الله پاک په یاد کښی اوسه هیڅ وخت غافل مه اوسه (۱۹) که د خدای تعالی د نامه د اخستلو څخه خوند اومزه د زړه راسی زړه دی خوشحاله سی نو د خدای تعالی شکر ادا کړه (۲۰) خبره په نرمی سره کوه (۲۱) د هر کار د پاره وخت مقرر کړه او په پابندی سره ئی کوه (۲۲) هر څه رنځ، غم او تاوان چه د زړه راسی د خدای تعالی د طرفه ئی بوله مه پریشانه کیږه او دا رنګه ئی بوله چه په دغه کښی ما ته ثواب راکول کیږی (۲۳) هر وخت په زړه کښی د دنیا حساب کتاب او د دنیا د کار ذکر شغل مه ساته بلکه خاص د الله ج فکر او خیال ساته (۲۴) هر څوندی چه کیدای سی ونوره ته ګته ورسوه برابره خبره ده که د دنیا وی اوکه د دین وی (۲۵) په خوښلو او چښلو کښی مه د وندی کمی کوه چه کمزوری او ناجوړه سی او مه د وندی زیادت پکښی کوه چه په عبادت کښی سست سی (۲۶) د خدای تعالی څخه ماسیوی وبل هیڅ ته طمعه مه کوه مه یو طرف ته خپل خیال څغلوه چه د فلانی ځای څخه به ما ته دغه فایده حاصله سی (۲۷) د خدای تعالی په تلاش کښی بی قراره اوسه (۲۸) که نعمت لږ وی یا ډیر وی شکر یې کاږه او د فقرا و لوږی څخه مه دل تنګه کیږه (۲۹) هر څوک چه ستا ماتحت او محکوم وی د هغه نر خطا او قصور درګذر کوه (۳۰) که د یو چا عیب درمعلوم سی نو ئی پټ کړه البته که یو څوک چا ته نقصان رسول غواړی او تا ته معلوم سی نو هغه سړی ته ووایه (۳۱) د میلمنو، مسافرینو، غریبانو، عالمانو او د درویشانو خدمت کوه (۳۲) د نیکانو خلګو مجلس غوره کوه (۳۳) هر وخت د خدایه بیریږه (۳۴) مرګ په یاد لره (۳۵) هره ورځ یو وخت کښینه د تولی ورځی په کارونو کښی فکر کوه چه نیک کار دی په یاد سی شکر پرې کوه او پر ګناه توبه ګاره سه (۳۶) د رواغ هیڅکله مه وایه (۳۷) هر مجلس چه مخالف د شرعی دی هلته هیڅکله مه ورځه (۳۸) په شوم او حیا او بردباری (یعنی صبر) سره اوسه (۳۹) په دغو خبرو سره مه مغروره کیږه چه په ما کښی دا رنګه خوبیانی او بنه کارونه دی (۴۰) د خدای تعالی څخه دعا کوه چه پرنیکه لاره دی ثابت و لری.

د رسول[1] الله صلی الله علیه وسلم د حدیثونو څخه د بعضو نیکو کارونو د ثواب او د بدو کارونو د عذاب بیان د دی د پاره سوی دی چه د نیکیو ته رغبت او د بدیو څخه نفرت حاصل سی

(۴۸)	خالص او صحیح نیت د زړه دل	باب

(۱) یو ه سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه ای د خدای رسوله ایمان څه شی دی د ده مبارک و فرمایل چه ایمان خالص نیت د زړه دی - فائده - مطلب دا دی چه انسان هر کار کوی د خدای د پاره دی وکړی.

(۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د ټولو کارونو دار او مدار پر نیت دی - فائده - مطلب دا دی که بنه نیت وی نو پر بنه کار باندی ثواب حاصلیږی او که بنه نیت نه وی بیا ثواب نه[2] حاصلیږی.

(۴۹)	د ریا د پاره یو کار کول	باب

(۳) رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه یو څوک د دی د پاره یو کار وکړی چه په خلګو ئی واوری و خلګو ته ځان ورو بنیی خدای تعالی په ورځ د قیامت د ده عیبونه و خلګو ته وراوروی او د ریا بنیی ئی او هر سړی چه د ریا کاری د پاره یو کار وکړی خدای تعالی په قیامت کښی د ده عیب و خلګو ته د ریا بنکاره کوی. (۴) او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه لږ غوندی ریاکاری هم یو قسم شرک دی. په یو بل اوښه د ده حدیث شریف کښی راغلی دی چه د قیامت په ورځ د احکم الحاکمین د شهنشاهی په عدالت کښی د غازی[1]، عالم[2]، اوسخی[3] پیشی کیږی - او د ری سره د خپل جهاد فی سبیل الله - تعلیم، تعلم شغل د دین - او د خپلو خیراتونو او صدقاتو اظهار کوی - نو د خدای تعالی د طرفه حکم کیږی چه د غه ټول عملونه تاسو چونکه د خاص نامه اوریا فلانی سړی لوی سخی دی نو د غه خبری خو حاصلی سوی چه په دنیا کښی تاسو ته هغه

[1] از ترغیب و ترهیب منذری ۱۲ [2] بلکه بر عکس عذاب د رسته حاصلیږی ۱۲

شهرت حاصل سو او خلگو تاسو ته غازی، عالم او سخی وویل نو چه د هر مقصد دپاره تاسو عملونه کړی وه هغه خو حاصل سوه نور حق نه لری او ډیر ته څه غواړی لهذا ولاړ سی دوزخ ته نعوذ بالله خدای دی موږ وښندی وساتی دغه حدیث امام مسلم روایت کړیدی)

(۵۰)	دقران او حدیث پرحکم رفتار کول	باب

(۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه هر وخت زما په امت کښی د دین خرابوالی راسی په دغه وخت کښی چه هرچا زما طریقه تینګه کړی وی ده ته دسلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی (۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زه په تاسو کښی داسی شی پریږدم که تاسو دغه شی مضبوط او تینګ کړی نو هیڅکله به ګمراهان نه سی یو د خدای کتاب یعنی قران شریف او بل دوهم د نبی صلی الله علیه وسلم سنت یعنی حدیث.

۵۱	دنیک کارلار اینبوول یا بد کار بنیاد او اساس اینبودل	باب

(۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه هرسړی بنه طریقه اولاړ راو باسی بیانور خلګ پردغه لار رفتار وکړی نو دغه چا ته پخپله د دغه کار ثواب هم ورسیږی او څوندی انسانانو چه د دغه پیروی کړیده د دغو ټولو د ثواب برابر ثواب هم ورته رسیږی او د دوی په ثواب کښی هم کمی او کمبوت نه کیږی او هرسړی چه بد کار طریقه اولاړ راو باسی او خلګ پردغه لار ولاړ سی نو دغه سړی ته به خپله د دغه کار ګناه هم رسیږی او هرڅوندی انسانانو چه د ده پیروی کړی وی د هغوی ټولو ګناهونه برابر ګناه ورته رسیږی. او د دوی په ګناه کښی هم کمبوت نه کیږی (ف) مثلاً یو چا د خپل اولاد په واده کښی دغه عبث رواجونه پرینبودل یا یو کونړی بنځی نکاح کړه او چه دائی ولیدله نو نور هم همت وکړی داعشی کار ونه ئی وکړه نو شروع کونکی ته همیشه دپاره ثواب ورکول کیږی.

(۵۲)	د دین علم حاصلول	باب

(۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دهرچا سره چه خدای تعالی بنه

کول غواړی نو د ده ته پوهنه په دین کښی ورکړی (ف) یعنی د مسئلی او مسائلو تلاش اوشوق په دې کښی پیدا سی.

(۵۳)	ددین مسئله پټول	باب

(۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی هرچا څخه چه د دین دیو مسئلی پوښتنه وسی او دی هغه پټه کړی نو د قیامت په ورځ د ده ته د اور کیزه ورااچول کیږی. (ف) که ستا څخه یو څوک د یو مسئلی پوښتنه وکړی او ستا ښه یاد وی نو مستی او انکار مه کوه او په ښه طریقه سره ئی ورد ښیه په پوه ئی کړه او که دی ازده نه وی د ځانه خرافاتی مه درته وایه چه هم ځان گمراه کړی هم دی گمراه کړی

(۵۴)	مسئله ایزده کول او عمل نه په کول	باب

(۱۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرځوندی چه علم وی هغه د دغه علم والا د پاره وبال او عذاب وی ما سیوی د هغه چا څخه چه د دغه علم موافق عمل وکړی. (ف) گوره یو وخت د قومیت په خاطر یا د نفسی تقاضا په خاطر د مسئلی خلاف ونه کړی یا مسئله پټه نه کړی.

(۵۵)	دوه ډوبولو څخه احتیاط نه کول	باب

(۱۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په درد (دردنو) ډوبولو کښی ښه احتیاط کوه ځکه چه اکثره د قبر عذاب د ډوبولو د بی احتیاطی څخه پیښیږی.

(۵۶)	په اوداسه او غسل کښی په دیر غور سره کار اوبه هر ځای ته رسول	باب

(۱۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په کومو حالاتو کښی چه اودس تازه کول د نفس خوښه نه وی نو په د غسی حالاتو کښی په ښه طریقه سره د اودس کولو څخه ګناوی معافیږی



او خمیږی (ف) ناخوښی یو وخت د سستی څخه کیږی یو وخت د یخ څخه کیږی.

(۵۷)	مسواک وهل	باب

(۱۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه مسواک وهل بیا ورسته د (۲) ۷۰ رکعاته لمونځ کول تر هغو اویا رکعتونو افضل دی چه بیله مسواک وهلو ادا سی په مشکوة المصابیح ص۳۶ کښی د مسواک د فضیلت بیان سویدی.

(۵۸)	په اوداسه کښی په بنه طریقه اندامونه پریولل	باب

(۱۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم بعضی خلګ ولیدل چه اودسونه ئی کړی وه مګر پوندی ئی یوخه وچی پاته سوی وی نو ده مبارک فرمایل لوی عذاب دی پوندو لره دد وبرخ - (ف) ګوتکی، وښی، بنګړیان او د پښو کړی بنه سره وښوی وه او په ودغو ځایونو ته ورورسوه او دیخ په موسم کښی اکثره وخت پښی سختی وی نو بنه ئی وکړه او بنه ئی په اوبو سره لندی کړه او بعضی بنځی د مخ مخامخ حصه مینځی تر غوږو پورې ئی نه مینځی[۱] ددی پټلو خبرو خیال او فکر کوه.

(۵۹)	د بنځو د باندی وتل د کور څخه د لمانځه د پاره	باب

(۱۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د بنځو د پاره تر پټلو بنه مسجد د دوی کور دی نو د دننه د مسجد څخه د یعنی د دوی کور دننه د دوی د پاره د مسجد نو په درجه کښی دی (ف) معلومه سوه چه د مسجد نو ته د بنځو تلل بنه نه دی. د دی څخه په دغه هم ځان پوه کړه چه د لمانځه په مثل بل هیڅ شی نسته هر وخت چه د د ه د پاره د کور څخه وتل بنه نه دی نو د فضول او عبث ملاقاتو نو یاد ر واجونو د پوره کولو د پاره د کور څخه وتل به څوندی ګناه وی. په بخاری شریف او مسلم شریف کی د بنځی د پاره کور دننه لمونځ کول په حواله د حدیثو بیان سویدی - (مستدرک ص۲۰۹ اول ټوک)

[۱] داغه رنګه تر زنه لاندی چه د بدن کومه برخه ده د دغه هم بنه پری مینځه ۱۲

(۶۰) دلمانځه پابندی باب

(۱۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د پنځو لمنځونو مثال داسی دی لکه د یو چا د دروازی پسخکی چه یو ژوره والا بهیږی او هغه په د غه والا کښی پنځه ځله لمبیږی (ف) مطلب دا دی لکه څرنګه چه د د غه سړی پر بدن زړه خیره نه پاتیږی د غه رنګه چه هر انسان پنځه وخته لمونځ په پابندی سره وکړی نو د ده تولی ګناوی ورځ په ورځ کمیږی (۱۷) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د قیامت په ورځ د بنده لخوا تر تولو مخکی د لمانځه حساب کیږی

(۶۱) په اول وخت کښی لمونځ کول باب

(۱۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د اول وخت په لمانځه کولو کښی د الله تعالی رضا او خوښی حاصلیږی۔ (ف) ای بی بی ګانو تاسو خو د مسجد او جماعت ته نه ځئ خدای پاک څنډی فارغه کړی یاست نو بیا ولی په لمانځه کښی څنډه کړی

(۶۲) په خرابه طریقه سره لمونځ کول باب

(۱۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر څوک چه بی وخته لمونځ کوی او ودس به بنه طریقه نه کوی او لمونځ به بنه توجه سره نه کوی رکوع او سجده به بنه طریقه سره نه کوی نو د غه لمونځ تور او بی نوره کیږی او داسی وایی چه خدای دی تا برباد کړی لکه تا چه زه برباد کړم تر داسی حده چه خپل خاص ځای ته ورسیږی هغه ځای چه خدای ته منظور دی نو د هغه ځای به شان سره و نغښتل یعنی و پیچل سی د د غه لمونځ کوونکی پرمخ باندی وهل کیږی (ف) بنځو تاسو خو لمونځ د د غه د پاره کوی چه خدای تعالی ثواب درکړی بیا دا رنګه لمونځ ولی کوی چه ثواب خو چیری دی بلکه ګناه وی.

(۶۳) په لمانځه کښی پورته یا دوری کتل باب

(۲۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه تاسی په لمانځه کښی لوی منه ګوری داسی نه وی چه یو وخت ستاسی دید او نظر خدای پاک د څنډه واخلی (۲۱) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر سړی چه په لمانځه کښی ولاړ وی

دوسره دوری گوری نو خدای تعالی د دعا لمونځ پرده باندی سر چپه راګرزوی (ف) یعنی لمونځ ئی نه قبلوی (مطلب پوره ثواب نه ورکوی۔ (هرقاة)

(۶۴)	دلمونځ کونکی په مخ کښی تیریدل	باب

(۲۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی که د لمونځ کونکی په مخ کښی تیریدونکی اوږه وانیدونکی خبر وای چه دغه تیریدل څومره ډیر گناه لری نو تر څلویښتو کلو تر پورې ډیر دل به دده په نزدیک ښه وای تردی چه د لمونځ کونکی تر مخ تیریدی (ف) لیکن که د لمونځ کونکی په مخ کښی دیوه لاس سره برابر یا زیات پوشی ولاړ یا دروول سوی وی نو دغه شی په مخ کښی تیریدل روادی.

(۶۵)	قصداً لمونځ قضا کول	باب

(۲۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرهغه څوک چه لمونځ کول پریږدی نو دی چه هر وخت د خدای تعالیٰ د حضور ته ورسی نو الله تعالیٰ پر ده غضبناک وی.

(۶۶)	قرض ورکول	باب

(۲۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ما د معراج په شپه جنت پردروازه لیکلی ولیدل چه د خیرات ثواب لس حسنی ورکول کیږی (یعنی لس چنده ورکول کیږی) اود قرض ورکولو ثواب اتلس حسنی ورکول کیږی (یعنی اتلس چنده ورکول کیږی.

(۶۷)	مسکین پورې ورځ ته مهلت وخت ورکول	

(۲۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ترڅو چه د قرض دار اکو نو د وعدی وخت نه وی راغلی ترهغه وخته پورې که یو غریب ته مهلت ورکړی نو بیا هره ورځ د غسی ثواب هم رسیږی لکه هره ورځ چه د دغه پور په اندازه روپی خیراتوی او هر وخت چه ئی وعده پوره سی او بیا مهلت ورکړی نو بیا هره ورځ د غسی ثواب ورسیږی لکه روزانه چه د دغو روپیو

دو چنده روپی خیراتوی.

(۶۸)	قرآن شریف ویل	باب

(۲۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرسړی د قرآن شریف یو حرف ووایی د نه پریوه حرف یوه نیکی ورکول کیږی او د نیکی قاعده داده چه دیوی نیکی په بدله کښی لس[۱۰] چنده نیکی انسان ته رسیږی اوزه الٓمٓ ته یو حرف نه وایم بلکه الف یو حرف دی (ل) بل حرف دی او (م) بل حرف دی نو په دغه حساب سره پردرې[۳۰] حرفونو دیرش نیکیانی انسان ته رسیږی

(۶۹)	خپل ځان اواولاد ته بنړاوی کول	باب

(۲۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه مه خپل ځان ته بنړاوی کوه اومه خپل اولاد ته بنړاوی کوه اومه خپل خدمتګار او مزدور ته بنړاوی کوه اومه خپل مال او دنیا ته بنړاوی کوه یو وخت داسی پیښه نه سی چه ستاد بنړاور دخت د قبلیدو ګړی اوساعت وی چه په دغه کښی د خدای تعالی څخه هرڅه وغواړی هغه خدای پاک قبلوی.

(۷۰)	حرام مال ګټل اود غه مال څخه خوړل اوچښل	باب

(۲۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کومی غوښی او وینی چه په حرام مال سره غټی سی هغه جنت ته نه سی خالص دوزخ ددوی لایق دی. (۲۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک یوجامه دلسو[۱۰] درهمو دا رانیسی او په دغه کښی یو درهم حرام وی نو څو چه هغه جامه ددې پربدن وی خدای تعالی ددې لمونځ نه قبلوی. (ف) یودرهم تر پاکستانی څلورانو یو څه زیات دی

(۷۱)	یوچاته فریب اودوکه ورکول	باب

(۳۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک زمونږ سره دوکه بازی کوی هغه زمونږ څخه وتلی دی (ف) برابره خبره ده که دیوشی په خرڅولو کښی دوکه دی یا په یوبله معامله کښی هرقسم ناروا ده.

(۷۲)	قرض اخستل	باب

(۳۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه مړسی اوددهٔ پرده مه دیو چا دینار یادرهم پاته سو نودد ه دنیکیو ځخه پورهٔ کیږی چه مهلت نه دینار سنه نه درهم سته (ف دسرو زرو یود ینار په قیمت کی دلسو(۱۰) درهمو سره برابردی) (۳۲) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه قرض دوه(۲) قسمه دی چه هر سړی مړسی اوددهٔ نیت دادا کولو وی نو خدای تعالی فرمایی چه زه ددهٔ مددګار یم اوهر سړی چه مړسی اوددهٔ دادا کولو نیت نه وی دهغه سړی دنیکیو ځخه اخستل کیږی او په هغه ورځ به نه دینار وی نه درهم. هیڅ به هم نه وی. (ف) دمددګار مطلب دادی چه زه به ئی بدله ورکړم.

(۷۳)	سرهٔ دطاقته دچاحق ځنډول	باب

(۳۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه سرهٔ دطاقته دچاحق ځنډول ظلم دی (ف) لکه دبعضو خلګو چه عادت دی چه قرض والا یا مزدوری غوښتونکی څوک خامخا ځغلوی راځغلوی درواغجنی وعدی ورکوی چه سبا راسه بل سبا راسه خپل ټول دکور یا نور خرڅونه به ئی کیږی اودغه خرڅونه به برداشتوی مګر دبل چا په حق ورکولو کښی به بی پروایی اوځنډ کوی.

(۷۴)	سوداخستل	باب

(۳۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستونکی اوپرسود ورکونکی باندی لعنت فرمایلی دی (داغه رنګه ئی دسود پرکاغذ لیکونکی اوشاهدی ورکونکی باندی هم لعنت فرمایلی دی)

(۷۵)	دچامحکه لاندی کول	باب

(۳۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه یوهٔ لویشت محکمه هم په ناحقه سرهٔ لاندی کړی نو تراوونی(۷) محکمی پوری به دغه محکمه ددهٔ په غاړه کښی طوق کښی.

(۷۶)	مزدوری فوراً ورکول	باب

(۳۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه مزدورته ددهٔ ترخولی دچیدلو

مخکی مزدوری ورکوی (۳۷) پروردگار عالم فرمائی چه پردی(۳) وکسانو زه پخپله دعوه کوم دده وی خخه یو هغه سړی هم دی چه یو مزدور پرکار ولګوی او پوره کار وکړی واخلی او مزد دری ورنه کړی۔

(۷۷)	داولاد مرګ اووفات	باب

(۳۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه خاوند او بنځه دواړه مسلمانان وی او ددوی درې(۳) کوچنیان مړه سی خدای تعالی په خپل فضل او رحمت سره ددوی دواړه وجنت ته داخلوی بعضو پوښتنه وکړه چه یارسول الله صلی الله علیه وسلم که چیری دوه(۲) مړه وی ده مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل په دوو(۲) کښی هم داغه ثواب دی بیا دوی دیو(۱) پوښتنه وکړه بیا ده مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل زه قسم کوم په هغه ذات سره چه دده په قبضه (قدرت) کښی زما روح دی چه کوم حمل نقصانی سوی او لویدلی وی هغه به هم خپله مور تر آنول نال ونیسی د جنت وخواته به ئی یوسی۔ (آنول نال هغه کولمه ده چه د مور په نس کښی په کوچنی پوری مبنتی وی او تر پیدا کیدو ورسته ئی ورپری کړی چه مور وایونوئی ورپری کړی) داهر هغه وخت چه مور نیت د ثواب کړی دی (ف) یعنی د ثواب په نیت سره ئی صبر کړی وی ژړا او فریاد نه کوی۔

(۷۸)	دپردیو خلګو په مخ کښی د بنځو دپاره عطر لګول	باب

(۳۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بنځه که چیری عطر ولګوی او دپردیو خلګو په مخکښی تیره سی نو داسی داسی ده یعنی بدکاره ده۔ (ف) هر هغه ځای چه دلیونړو نو که ددی ترخاوند کشر وی یا مشر وی د خوږ خاوند دا کا د زامنو یا د ماما د زامنو یا د عم د زامنو یا د خاله د زامنو رفت او آمد۔ تګ اوراتګ وی نو هلته دی عطر نه لګوی (ځکه چه دغه شرعًا ټول غیر محرم دی نو شرعًا ددوی ټولو څخه ستر کول ضروری دی)

(۷۹)	د بنځې دپاره نرمی او باریکی جامی اغوستل	باب

(۴۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه بعضی بنځی صرف په نامه کالی

اغوندی او په واقع کښی لټی لغړی دی دغسی بنځی وجنت ته نه ځی او نه به دجنت خوشبوئي د دوی تر سږ هو سی۔ (ترغیب ص۳۱۷)

(۸۰)	دشان او شوکت بنکاره کولو د پاره د کالو اغوستل	باب

(۴۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک په دنیا کښی دنام نمود او فخر کولو د پاره کالی واغوندی نو خدای تعالیٰ و دې ته په قیامت کښی ذلت جامی در اغوندی او په دغه کښی د دوزخ اور بگول کیږی (ف) مطلب دا دی چه هرڅوک په دغه نیت جامی واغوندی چه زما ښه شان او شوکت زیات سی د ټولو نگاه او نظر پرما وی په بنځو کښی دغه مرض ډیر دی۔

(۸۱)	بنځی چه دنارینه په شان خپل شکلونه جوړوی	باب

(۴۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی پرهغو بنځو دی لعنت وی چه د خلگو په مثل او شان جامی اغوندی۔ (ف) زموږ په ملک کښی جگه څپلی یا بوټ۔ صدری د نارینه وضعه ده د بنځو د پاره د دغو شیانو اغوستل منع دی

۸۲	پریوچا ظلم کول	باب

(۴۳) کوم څوک چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست و ه د ه مبارک صلی الله علیه وسلم پوښته ځندی وکړه چه تاسی پوهیږی چه مفلس څرنگه وی او څوک دی هغوی عرض وکړی په موږ کښی مفلس هغه ته وایی چه د ده سره مال او سامان نه وی۔ د ه مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه زما په امت کښی لوی مفلس هغه څوک دی چه د قیامت په ورځ د لمانځه، روژی، زکوٰة د ټولو سره راسی لیکن د د ه سره داهم وی چه چاته ئی سړه او بد ویلی وی او پریو چا ئی تهمت لگولی وی او د یو چا ئی مال خوړلی وی او یو څوک ئی وهلی وی او یو څوک ئی وژلی وی نو د د ه یو څه نیکیانی یو ه ته ورکړه سی یو څه بل ته ورکړه پس لوکیږی هغوی د حقوقو په بدله کښی تر اد اکولو مخکی د ده نیکیانی ختم سی۔ نو بیا د دی حقدارانو گناه ونه اخستل کیږی پرد ه اچول کیږی او دی په دوزخ کښی غورزول کیږی۔

(۸۳)	رحم او شفقت کول	باب

(۴۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرهغه سړی چه پر انسانانو باندی رحم نه کوی خدای تعالیٰ پرده رحم نه کوی.

(۸۴)	بنه خبره وخلګوته ورسول او بدی خبری څخه راګرزول	باب

(۴۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر سړی چه په تاسوکښی بوره خبره د شریعت څخه مخالفه وویني نو دغه دی په لاس سره منعه کړی او که ئې دوندی طاقت نه وی نو دی په ژبه سره منعه کړی او که ئې دغه هم طاقت نه وی نو په زړه کښی دی بده بولی او په زړه کښی بد بلل د ایمان کمزوری درجه ده. (ف) بې بې ګانو تاسود خپلو زامنو او مزدورانو پوره اختیار لری په دی سره په زور لمونځ کوئ که داسی کاغذ یا خټې یا چینی یا لوګر څندی وویني چه دیو روح لرونکی پر شکل او صورت وی یا یو بې فایده کتاب څندی وویني نو فوراً او سمدستی ئې ورڅکوی دوی ته د داسی شیانو د پاره یاد آتشبازی اوګوډی (کاغذباد) د پاره یا هغه شیان چه د میتا یا نواو د خوښو څخه جوړ سوی وی د هندوانو د خوشحالی پر موقع استعمالیږی د دغو د پاره پیسی مه ورکوئ.

(۸۵)	د مسلمان عیب پټول	باب

(۴۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه د خپل مسلمان ورور عیب پټ کړی خدای تعالیٰ په قیامت کښی د ده عیب پټوی او هرڅوک چه د مسلمان عیب بنکاره کړی خدای تعالیٰ د ده عیب بنکاره کوی تر داسی حده چه یو رخت به په کور کښی ناست وی شرمنده او رسوا به سی - (جمع الفوائد) صـ۱۶ ج۲)

(۸۶)	د چا په ذلت پاتاوان سره خوشحالی کول	باب

(۴۷) رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم فرمایلی دی د خپل مسلمان ورور پر مصیبت او غم خوشحالی مه بنکاره کوه خدای تعالیٰ به پرهغه رحم وکړی - او تا به په دغه غم اخته کړی.

(۸۷)	یو چا ته پریو گناه طعنه (تانه) ورکول	باب

(۴۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر هغه څوک چه خپل مسلمان ورور ته پریو گناه عار او پیغور ورکړی تر څو چه دغه پیغور ورکونکی دغه گناه نه وی کړی تر هغو پوری نه مړکیږی. (ف) یعنی چه دگناه څخه هغه توبه کړی دی بیا هغه ته ورنه یاد ول شرمنده کول بده خبره ده اوکه ئی توبه نه وی کړی نو بیا د نصیحت پر طریقه سره ورته ویل صحیح دی لیکن خپل ځان پاک بلل یا ده ته درسوا کولو د پاره ویل بیا هم بد کار دی.

(۸۸)	وړی وړی گناوی کول	باب

(۴۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ای عائشی (رضی الله تعالی عنها) د وړو وړو گناوو څخه هم ځان ډیر ساته ځکه چه د الله تعالی د طرف څخه پرد غوښتو اخذه کونکی اوگرفت کونکی هم موجود دی (ف) یعنی ملکه فرشته داهم لیکی بیا په قیامت کښی حسابل کیږی او د عذاب بیړه سته.

(۸۹)	مور او پلار خوشحاله ساتل	باب

(۵۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د خدای تعالی رضا او خوشحالی د مور او پلار په رضا او خوشحالی کښی ده او د خدای تعالی ناراضه کیدل د مور او پلار په ناراضه کیدو کښی دی.

(۹۰)	دخپلو قریبانو سره بد رفتار او بده گذاره کول	باب

(۵۱) رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه د هر جمعی په شپه د ټولو انسانانو عملونه او عبادتونه د خدای په دربار کښی پیشیږی هر څوک چه د خپلو قریبانو سره بده وضعه او رفتار کوی د هغه عمل نه قبلیږی.

(۹۱)	د بی پلاره کوچنیانو پرورش او ساتنه کول	باب

(۵۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه زه او هغه څوک چه د یتیم خرڅ پر

له د مور او پلار د حقوقو پوره بیان د بهشتی گوهر په ضمیمه او ازالة الرین کی سویدی ۱۲

خپله ذمه کښیږ دی په جنت کښی به دغه رنګه یوځای سره اوسیږ و اودشهادت په ګوته اود مابین په ګوته ئی اشاره وکړه اود دواړو ګوتو په مابین کښی ئی یو څه فاصله پریښنو وله (رواه ابوداؤد و بخاری و الترمذی) (۵۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر هغه سړی چه دیتیم پر سر لاس تیر کړی اوصرف د خدای د پاره لاس پر تیر کړی پر هر څوندی وریښتانو چه د د ه لاس تیرسوی دی دغوندی نیکیانی د ه ته ورکول کیږی او هر څوک چه دیو یتیم هلک یا انجیلی سره احسان وکړی چه د د ه سره اوسیږی ز ه اودی به په جنت کښی دا رنګه اوسیږ و لکه د شهادت ګوته اود مابین ګوته چه سره یوځای دی.

(۹۲)	همسایه ته تکلیف ورکول	باب

(۵۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر سړی چه خپل همسایه ته تکلیف ورکړی نو د ه ما ته تکلیف راکړی او هر چا چه ما ته تکلیف راکړی نو د ه د خدای پاک ته تکلیف ورکړی او هر هغه څوک چه د خپل همسایه سره جنګ وکړی نو زما سره ئی جنګ وکړی او هر څوک چه زما سره جنګ وکړی نو د خدای تعالی سره ئی جنګ وکړی (ف) مطلب دادی چه بیله کومه دلیله اوحجتی یا پرو پرو د پرو خبرو د د ه سره جنجال اوخبره پیچل بدکار دی.

(۹۳)	دیومسلمان کارکول	باب

(۵۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر سړی چه د خپل مسلمان ورور په حاجت اوکار کښی وی خدای تعالی د د ه په حاجت اوکار کولو کښی وی۔ (رواه ابو احمد ناصح عن ابن عباس فی فوائده)

(۹۴)	شرم اوبی شرمی	باب

(۵۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی شرم د ایمان خبره ده او ایمان د و بخ ته رسوی اوبی شرمی د بد اخلاقی خبره ده او بد اخلاقی انسان د په ورځو کښی یا په سفر کښی اکثره بنځی لمونځ نه کوی دامی شرم تر بی شرمی هم بد دی.

(۹۵)	خوش اخلاقی او بد اخلاقی	باب

(۵۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه خوش اخلاق ګناهونه دا رنګه ویلوی لکه اوبه چه د مالګی خړپ ویلوی او بد اخلاقی عبادت دا رنګه خرابوی لکه څرنګه چه سرکه شهد خرابوی (۵۸) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په تاسوکښی تر ټولو د مانه زیات محبوب او خوښ او په اخرت کښی نژدی د مانه هغه څوک دی چه ددې اخلاق ښه وی او په تاسوکښی زیات مانه بد معلومیدونکی او په آخرت کښی تر ټولو زیات زمانخه لیری او سیدونکی هغه څوک دی چه ددې اخلاق بد وی.

(۹۶)	نرمی او سختی	باب

(۵۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بیشکه الله تعالی مهربان دی او خوښوی نرمی او پر نرمی دا سی نعمتونه ورکوی چه پر سختی ئې نه ورکوی (۶۰) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر سړی د نرمی څخه محروم او بې برخې وی نو هغه د ټولو نیکیو څخه محروم سو.

(۹۷)	دچاکورته پټ پټ تر دروازی یا نور دچاکوکتل	باب

(۶۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی تر څوچه اجازه وانه خلی دچا کورته دی بغلکی او پټ پټ نه ګوری او که ئې دا سی وکړه نو دا سی ئې بوله چه د ننه ورغلی. (ف) پر بعضو بدبخته د غسی بد بختی او شامت سپورې وی چه نا وی او زوم ته پټ پټ ګوری دا پیره د بې ځایه خبره ده په حقیقت کښی د پټ پټ کتلو او د دروازی خلاصولو د ننه ورتللو څخه فرق دی د دې ډیری غټې ګناه کار دی.

(۹۸)	دچاخبرو ته غوږ نیول او پټ پټ ورته دریدل	باب

(۶۲) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر هغه څوک چه د چا د خبرو ته غوږ ونیسی او هغه خلګ ددې غوږ نیول ناخوښه وبولی. نو د قیامت په ورځ ددې په دواړو غوږونو کښی ویلی کړل سوی سرب ورا چول کیږی.

(۹۹) غصه او قهر کول باب

(۶۳) یوه چا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه و مانه یو داسی عمل او کار راوښیه چه ما و جنت نه داخل کړی ده مبارک صلی الله علیه وسلم و فرمایل چه غصه مه کوه بس ستاد پاره جنت دی.

(۱۰۰) د چا سره سلام او خبری بندول باب

(۶۴) د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هیڅ مسلمان ته روانه ده چه د خپل مسلمان ورور سره تر دریو (۳) ورځی زیات خبری پریږدی او هر هغه څوک چه تر دریو (۳) ورځی بالا خبری پریږدی او په داغه حال کښی مړ سی نو دی ودوزخ ته ځی (لیکن د غه حکم په دنیوی امورو کښی دی او د دین په امور و کښی بیا خبری پریښودل پروانه لری

(۱۰۱) یو چاته په بی ایمانه سره ویل یا لعنت پرکول باب

(۶۵) د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر هغه څوک چه و خپل مسلمان ورور ته په کافر والی نو د اسی گناه ده لکه دی چه ئی قتل او مړ کړی

(۶۶) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه پر مسلمان لعنت کول د اسی دی لکه د ده وژل. (۶۷) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر څوک پر یو شی لعنت کوی نو اول هغه لعنت د اسمان و خواته خیژی نو د اسمان دروازی ورته بندیږی بیا د محکی و خواته راکښته کیږی هغه هم ورته بندیږی بیا هغه و راسته او چپه طرف ته گرزی چه هر څه هیڅ د قرار او واقع کیدو ځای پیدا نه کړی بیا نو هغه چاته راځی چه پر هغه لعنت کول سوی وی که هغه چیری د د غه لعنت لایق وو نو خیر دی یعنی د غه لعنت پرلویږی او که نه وو لایق نو پر هغه لعنت کونکی د غه لعنت ورگرزی او پرلویږی (ف) دبعضو بنځو دیر عادت دی چه هر چاته وایی خدای دی وو دهه، خدای دی لعنت در باندی وکړی یو چاته په بی ایمانه وایی دا دیره لویه گناه ده برابره خبره ده

که انسان ته وایي یا حیوان ته وایي یا بل شی ته وایي.

(۱۰۲)	یومسلمان ورور بیرول	باب

(۶۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی حلال اوروانه دی هیڅ مسلمان لره چه بل مسلمان وبیروی. (۶۹) اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه کوم یو خوک یو مسلمان ته ناحقه په دامی نظر وگوری چه هغه وبیریزی. نو الله پاک په قیامت کښی دی بیروی (ف) که پریو خطا قصور او تاوان باندی وی نو بیا ضرورت سره موافق سزا دی.

(۱۰۳)	دمسلمان عذر قبلول	باب

(۷۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرخوک چه دخپل مسلمان ورور په مخ کی عذر خواهی وکړی اوهغه دده عذر قبول نه کړی نو دارنګه سړی زما سره پرحوض کوثر نسی جمعه کیدای (ف) یعنی که یو خوک په تا یوګرمه اوملامتیا وکړی او بیا هغه معافی درڅخه وغواړی نو معافول ئی په کار دی.

(۱۰۴)	غیبت کول	باب

(۷۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرخوک په دنیا کښی دخپل مسلمان ورور غوښی خوړی یعنی غیبت ئی کوی خدای تعالیٰ د قیامت په ورځ مرداری وی اوس نو د مړه غوښی وخوړه. بس نو دغه څوک به هغه غوښی خوړلی اوپزه به ئی تړوه نیولی وی چغی اوناړی به وهی.

(۱۰۵)	چغلی کول	باب

(۷۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه چغلخور جنت ته نه ځی.

(۱۰۶)	پریوچا بهتان لګول	باب

(۷۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرخوک په یو مسلمان پسی دامی

خبره وکړی چه په دې کښې نه وی نو خدای تعالیٰ دده وبښخیانو دوینو ـ نوو نو اوزوو ب
د جمعه کید وخای ودې ته داوسیدو د پاره ورکوی ترهغه وخته پورې چه د
خپلی خبری څخه بیرته راوګرزی اوتوبه وکړی.

(۱۰۷)	لږ خبری کول	باب

(۷۴) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هرسړی چه چپ اوپټه
خوله اوسیږی د هیرو الټو نو څخه ساتل کیږی (۷۵) اورسول الله صلی الله علیه
وسلم فرمایلی دی د خدای تعالیٰ جل جلاله د ذکر څخه ماسیوا نورې خبری
زیاتی مه کوه ځکه چه ماسیوی د خدای د ذکر څخه لیږی خبری کول زړه سختوی
اوپه خلګو کښې تر تولو لیږی د خدای تعالیٰ جل شانه څخه هغه څوک دی
چه د ده زړه سخت وی.

(۱۰۸)	خپل ځان تر هرچا خوار اوکم بلل	باب

(۷۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه د خدای تعالیٰ د
پاره خاکساری اختیار وی نو خدای تعالیٰ د ده مرتبه ورزیاتوی اوهرسړی چه
تکبر کوی خدای تعالیٰ د ده غاړه ورماتوی یعنی ذلیله کوی ئی.

(۱۰۹)	خپل ځان تر نورو خلګو لوی بلل	باب

(۷۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د هغی سړی وجنت ته نه ځی.
چه د ده په زړه کښې د سپلنی د دانی برابر کبر اولوی وی.

(۱۱۰)	رشتیا ویل اودرواغ ویل	باب

(۷۸) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه تاسی د رشتیا
ویلو پابند ده اوسی ځکه چه رشتیا ویل انسان ته دنیکی لاره ورښیی رشتیا او
نیکی دواړه انسان وجنت ته وړی اود درواغ ویلو څخه ځان وساتئ ځکه چه
درواغ ویل د بدی لاره سړی ته ورښیی درواغ او
بدی دواړه دوزخ ته انسان وړی.

(۱۱۱) دهر یوه په مخکښی دهغه خبره کول | باب

(۷۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی دهرهغه چا چه دوی (۲) خولی وی نو په قیامت کښی به دده دوی ژبی وی هم داور ژبی - (ف) دده دوه خولو مطلب دادی چه دهغه پرمخ دهغه د طبیعت برابره خبره کوی اوددی پرمخ دده د طبیعت برابره خبره کوی

(۱۱۲) د خدای پاک دنامه څخه ماسیوای په بل شی سره قسم کول | باب

(۸۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه د خدای تعالی څخه ماسیوای دیو بل شی په نامه سره قسم واخلی نو ده کفر وکړی یا نبی علیه السلام داسی وفرمایل چه ده شرک وکړی (ف) لکه چه د بعضو خلګو عادت دی چه د غه رقم قسم اخلی - ستا په روح می دی قسم وی په خپلو ستړګو می دی قسم وی په خپل اولاد می دی قسم وی د غه ټوله منعه دی او په یوه حدیث شریف کښی راغلی دی چه که چیری یو وخت یو د غسی قسم ترخوله وونړی نو فوراً دی کلمه ووایی.

۱۱۳ داسی قسم اخستل که چیری زړه درواغ وایی ایمان دی می نصیب نه سی | باب

(۸۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک چه په قسم کښی دارنګه ووایی چه ایمان دی می نصیب نه سی که چیری دروغجن وی بیا نو چه هر قسم ده ویلی دی هغسی کیږی اوکه رښتیا ویونکی اوصادق وی بیائی هم پوره ایمان نه پاته کیږی - (ف) دا غه رنګه داسی ویل چه کلمه دی می نصیب نه سی یادی می دوزخ نصیب سی د غه ټول قسمونه منعه دی د د غه عادت پریښوول په کار دی.

۱۱۴ دلاری څخه دداسی شی لیږی کول چه لار ویانوته تکلیف ځندی پیښیږی | باب

(۸۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه یو سړی روان وو چه په لار کښی یو اغزی دار ه بناخ پروت وو ده دلاری څخه لیږی کړی خدای تعالی د د غه عمل دیر قدر وکړی او دی ئی وبخښی (ف) د د غه څخه معلومه سوه چه داسی شی په لار کښی اچول بد کار دی - د بعضو ناپوهانو بنځو عادت وی چه په غولی کښی

د لرگو کوچنی چوکی کښیږدی پرکښینی او بیا ولاړی سی د لرگی چوکه هلته پریږدی بعضی وخت تیریږدونکی پکښی غوڑاږی مخ اولاسونه ئی ماتیږی داغه رنگه په لاړ کښی یولوبنی، چارپایی، شاړه، غرگی پریښوول بدعت خبره ده یعنی دکور اوسرای پرغولی پریښوول چه دکور د انسانانو لاړ ده.

(۱۱۵)	وعده اوامانت پوره کول	باب

(۸۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په هرچا کښی چه امانت نه وی په هغه کښی ایمان نه وی اوهرڅوک چه د وعدی خیال نه ساتی په هغه کښی دین نسته.

(۱۱۶)	ومسلمان یا کافر فال کتونکی اولاس کتونکی نه ورتلل	باب

(۸۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هرڅوک چه د غیبو خبرو و ښوونکی ته ولاړ سی او یو څه خبری وڅندی وپوښتی او دغه رشتیا وبولی د دغه سړی د څلویښتو ورځو لمونځ نه قبلیږی (ف) داغه رنگه که پریوچا د پیریانو شک وی نو بهغی ښځی د دغه پیری څخه داسی خبری پوښتی چه زما خاوند به کله د حکومت په کور کښی وظیفه پیدا کړی، زما زوی کله راځی دا ټولی دگناه خبری دی

(۱۱۷)	سپی ساتل یا تصویر (عکس، بت) ایښوول	باب

(۸۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په هرکور کښی چه سپی یا تصویر وی ودغه کور ته فرشتی ملایکی نه راځی (ف) یعنی د رحمت ملایکی نه راځی دکوچنیانو دهاز پوښتیان که د روح لرونکو شیانو بتان یا عکسونه وی نو دغه هم منعه دی.

(۱۱۸)	بیله مجبوری پرمخی پریوتل	باب

(۸۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم دیوچا سره نژدی تیرسو چه پرمخی پروت وو نو فرمایل چه دا رنگه پریوتل الله پاک نه خوښوی.

له یعنی د داسی خلگو ایمان او دین ناقص دی

(۱۱۹)	یوخه په لمرکښی یوخه په سایه کښی کښینستل اوپریوتل	باب

(۸۷) رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم دغه رنګه ناسته منعه کړیده چه یو خه په لمرکښی او یوخه په سایه کښی وی.

(۱۲۰)	بدفالی اوکرکه	باب

(۸۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بدفالی شرک دی (۸۹) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه کرکه شرک دی.

۱۲۱	ددنیا حرص نه کول	باب

(۹۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ددنیا حرص نه کولو څخه زړه ته بې غمی او آرامی، هم حاصلیږی او بدن ته هم ارامی حاصلیږی (۹۱) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی که په چا ډبر ډیر سوکښی دوه خونی (خون خوار) لیوان پریښوول سی چه دوی ښه سیره خیږی کړی - پرې ئی کړی - وئی خوری نو ویرانی او بربادی ددغو لیوانو څخه هم درندی نه پیښیږی لکه کومه بربادی چه دانسان ودین ته ددغی حرص څخه پیښیږی چه دمال او دنیا حرص وکړی اودنامه دیږی وی.

مرګ یادول اوبنده اومیدونه دخیاله ایستل اود بنه کارد پاره وخت غنیمت بلل

(۱۲۲)		باب

(۹۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه شی ډیر یادوه چه دتولو خوندونو بیخ کنی کوی یعنی مرګ (۹۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هروخت دسهار وخت درباندی راسی نو دمابنام دپاره غم مه کوه اوچه د مابنام وخت درباندی راسی نو دسهار دپاره غم مه کوه اوتر مریضی راتلو مخکی دخپلی تندروستی اوصحت څخه یوخه فایده واخله اوتر مرګ مخکی دخپل ژوند میوه واخله (ف) مطلب دا چه تندروستی اوژوند غنیمت وبوله په نیک کار کښی ئی ډنګوه ورنه په مریضی اومرګ کښی بیا هیڅ نه سی کیدلای.

(۱۲۳) | باب | په بلا اوغم کښی صبر کول

(۹۴) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی مسلمان ته چه کم درد، غم، مریضی او رنځ رسیږی تر دې حده چه په یو فکر کښی یو لږ څه پریشانی پرورځی - په دغو ټولو کښی خدای تعالیٰ دده ګناه معافوی.

(۱۲۴) | باب | پر مریض پوښتنه کول

(۹۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی یو مسلمان چه دبل مسلمان بیمار پرسی یعنی پوښتنه دسهار په وخت کښی وکړی نو تر مابنامه پورې دده دپاره اویا زره (۷۰۰۰۰) فرشتی (ملایکی) دعا وی کوی او که مابنام پوښتنه پرو کړی نو تر سهاره پورې اویا زره (۷۰۰۰۰) فرشتی دده دپاره دعا وی کوی.

(۱۲۵) | باب | مړی ته غسل اوکفن ورکول اوکورواله اوته تسلی ورکول

(۹۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر مړی چه مړی ته غسل ورکړی نو دګناهونو څخه داسی پاکیږی لکه دمور دنسه څخه چه اوس پیدا سوی وی (یعنی دوړو ګناهونو څخه) او چه یو مړی ته کفن ورکړی - کفن پرواچوی نو خدای تعالیٰ ودده ته دجنت جوړه ورا غوندی اوچه دیو غمزده (غمجن) تسلی وکړی د صبر خبری ورته وکړی نو خدای تعالیٰ ودده ته دپرهیزګاری لباس او جامه ورا غوندی اوددده وروح ته رحمتونه ورلیږی او هر څوک چه دبیو مصیبت زده تسلی وکړی خدای تعالیٰ دجنت دجوړو څخه داسی قیمتی دوی (۲) جوړی ورا غوندی چه ټوله دنیا هم په قیمت کښی ددغوسړه برابره نه ده.

(۱۲۶) | باب | په چغارو اوخبرو سره ژړل

(۹۷) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه لعنت دی پرهغو بښځو چه په بیان کولو اوخبرو خبرو کښی ژاړی اولعنت دی پرهغو بښځو چه دغه ژړا اوسری (یعنی خبری کوی چه فلانی خو داسی بنه سړی وو - داسی وُو په دغو خبرو کښی ژاړی) ای بی بی ګانو دخدای جل جلاله دپاره دغه پریږدی.

(۱۲۷)	دیتیم مال خوړل	باب

(۹۸) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په قیامت کښی بعضی انسانان داسی رنگه دقبرونو څخه راپورته کیږی چه د دوی د خولی څخه د اور لمبی پورته کیږی یو چا دده مبارک صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه یارسول الله (صلی الله علیه وسلم دا څوک دی ده مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه ایا و تاسوته معلوم نه دی الله تعالیٰ په قران مجید کښی ذکر کړیدی چه کوم کسان چه دیتیمانو مال ناحقه خوړی د غه کسان په خپل ښکل کښی داور سکروټی اچوی (ف) د ناحقه مطلب دادی چه د دوی ته د هغه مال د خوړلو او د هغه څخه د فایدی د پورته کولو په شرعه کښی هیڅ حق نه وی.

بی بی گانو د بیږیږی په هندوستان کښی بلکه په افغانستان کښی هم داسی بد رواج دی چه خاوند مړسی وارثه واړه کوچنیان پریږدی پرټوله مال باندی د غه کونډه قبضه وکړی بیا نو د غه مال څخه د میلمنو خرڅ او د مسجد تیل او د ملوڅ کونکو د پاره د چوڑی مطلب هر څه مصرف د د غه مال څخه کوی. او حال دادی چه په د غه مال کښی د یتیمانو حق دی لیکن ټول خرڅ په گډه سره کوی او داغه رنگه په ورځنی خرڅ کښی او بیا د غوکوچنیانو په واکه او بنادی کښی هر قسم کښی خپل زړه د غواړی هغسی خرڅ کوی د دین سره ئی هیڅ کار نسته. داغه رنگه د مشترک او شریکی مال څخه خرڅ کول سخته ګناه ده د دوی حصه جلا کښیږده او د د غی حصی څخه خاص د دوی په خرڅ او مصرف کښی چه هم د پیری ناچاری او مجبوری وی څه واخله د دوی خرڅ کړه او که میلمستیا وی خیر وخیرات کوی نو د خپلی خاص حصی څخه ئی وکړه او د غه به هم د شرعی خلاف نه وی او که د شرعی خلاف وی د خپل مال څخه هم روانه دی بنه ئی یاد وساته او که د دی خلاف رفتار وکړی نو د مرګ څخه وروسته د دستی سترګی خلاصیږی یعنی عذاب دی.

۱۲۸	د قیامت د ورځ حساب او کتاب	باب

(۹۹) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د قیامت په ورځ به یو څوک د خپله ځایه ونه ښوړی تر څو پوری چه څلور خبری د ده څخه ونه پوښتل سی (لیکن د پرهیزګارانو د د غه څخه مستثنیٰ کیږی هم لکه په حدیث شریف کښی چه

(راغلی دی) یوه خبره داچه عمر دی په بخه شی کښی ختم کړی دوهم داچه پر زده سوو مسئلو دی څه عمل کړی دی۔ دریمه داچه مال دی دکومه ځایه څخه جمعه کړیدی او چیری دی مصرف کړیدی۔ څلرمه داچه بدن دی په څه شی کښی ستړی کړی او ختم کړیدی۔ (ف) مطلب دادی چه د انټول کارونه دی په دنیا کښی د شرعی موافق کړی وه یادی د خپل نفس پر تقاضا کړی وه۔

(۱۰۰) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په قیامت کښی به ټول حقوق ادا کیږی تر داسی حده پورې چه د بنکړوړی بزی څخه به د کلی بزی د پاره بدله اخستل کیږی۔ (ف) یعنی که بنکړوړی بزی کلی بزه ناحقه په بنکر وهلی وه (که څه هم حیوانات غیر مکلف دی مګر د عدل د اظهار د پاره الله تعالیٰ داسی کوی نه په اعتبار د مکلف والی)

۱۲۹	جنت اود وبرخ یادول	باب

(۱۰۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطبه کښی وفرمایل چه دوه شیان ډیر لوی دی د غه مه هیروی یعنی جنت اود وبرخ بیائی داوفرمایل اوده مبارک صلی الله علیه وسلم ډیر وژړل تر داسی حده چه داو بنکو څخه ئی ږیره مبارکه لنده سوه بیائی وفرمایل چه قسم دی زما په هغه ذات چه دده په قبضه کښی زما روح دی د اخرت خبری چه هر څه ماته معلومی دی که چیری تاسی ته معلومی سی نو به تاسی ځنګلونو ته ولاړ سی اوپر سر ونو به خاوری اچوی او ګرزی به۔ بی بی ګانو دا یوسل او یو حدیثونه دی اوډیر ځایونه په د غه کتاب کښی نور حدیثونه هم راغلی دی۔ زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه هر څوک څلوښت حدیثونه یاد کړی او زما امت ته ئی درسوی نو هغه د قیامت په ورځ د عالمانو سره راپورته کیږی نو تاسی همت وکړی د غه حدیثونه نور وته هم اوروی بیانوی ئی انشاء الله تعالیٰ تاسی به هم په قیامت کښی د عالمانو سره راپورته سی خوندی لوی نعمت په خوندی آسانی سره پیدا کیږی۔

۱۳۰	د قیامت د ورځی د علامو بیان	باب

د قیامت د ورځی علامی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فرمایل سوو

حدیثو نوکښی دا رنګه راغلی دی خلګ به د خدای مال خپل ملکیت وګڼی او زکوٰة به په شان د تاوان بولی او امانت به خپل مال وبولی او مړی به دښځی (په خلاف شرعه کار دنوکښی) تابعدارسی دهور نافرمانی به کوی او پلار به بیګانه او پردی وبولی او دوست به خپل وبولی او د دین علم به د دنیا د ګټلو د پاره حاصلوی سرداری او حکومت به دا سی خلګو ته درد رسیږی چه په ټولو کښی به کم اصله یعنی بد ذاته وی. طامع او بد اخلاقه به وی او کوم خلګ چه دیو کار لایق نه وی هغه کار به د دوی ته درسیږی او خلګ به د ظالمانو عزت به دی خاطر سره کوی چه څنډی بیریږی به چه ماته یو تکلیف رانکړی - او شراب به برملا - او بنکاره چښل کیږی او د رقص کونکو او غزل ویونکو بنځو به رواج پیدا سی - او ډولک، سارنګۍ، طبله او دا سی نور شیان به په کثرت سره پیدا سی او د وستی خلګ به دامت د اولو بزرګانو ته بد ویل شروع کړی - - -

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی چه په دا سی وخت کښی د دا سی دا سی عذابونو منتظره اوسی چه سره سیلۍ (سړی دوړی) راسی او بعضی خلګ په مخکه ښوږی او د اسمانه څخه ډبری را اوریږی او شکلونه بدل سی یعنی انسانان به خنزیران او سپی سی او چیرآنتونه به وراندی وروسته ژر ژر دا سی راتلل شروع کړی لکه د ډیرو پیلی سوو دانو تار چه وشکیږی او ټولی دانی یو دبله په وروسته پسی ژر ژر راتوی سی.

او د اعلائی هم په حدیثو کښی راغلی دی چه د دین لمنځ به کم سی او دروغ ویل به هنر و بلل سی او د امانت خیال به د زړه ونو څخه ولاړ سی او حیا او شرم به ولاړ سی او هر طرف ته به دکافرانو زور سی او دروغ دروغ طریقی به راپیدا سی - هر وخت چه د غه ټولی نښانی بنکاره سی په د غه وخت کښی به په ټولو ملکو نوکښی د نصارٰی (عیسایانو) خلګو قبضه راسی او په د غه زمانه کښی به د شام په ملک کښی یو سړی د ابوسفیان د اولاد څخه د اسی پیدا سی چه د یرسیدلان به مړه کړی په شام او محاصره کښی به د ده احکام چلیدل شروع سی په د غه زمانه کښی به د روم د مسلمانانو سره د نصارٰی دیو جماعت سره جنګ وسی او د نصارٰی دیو جماعت سره به ئی صلح او جوړه وسی.

د بنمن جماعت او پتولی به د قسطنطنیه پر بنار حمله وکړی قبضه
به ئې کړی د غه بادشاه به خپل ملک پریږدی د شام ملک ته به ولاړ سی اود نصارې
د کوم جماعت سره چه صلحه او جوړه سوی وه هغه به د خپله سره یو حای کړی
د د غه د بنمن جماعت او پتولی سره به ئې پر غټ جنګ وسی او فتحه به د اسلام
د لښکر نصیب سی

یوه ورځ به سره ناست وی کوم نصارې چه موافق او ملګری وه د دوی څخه به یو
سړی د یو مسلمان سړی په مخکښی ووایی چه زمونږ د صلیب (د نصارې یو خاص نشان
دی چه د پیر تعظیم ئې کوی) په برکت سره فتحه وسوه مسلمان به د د غه سړی په
جواب کښی ووایی چه د اسلام په برکت سره فتحه وسوه په د غه کښی به خبره
اوږده سی تر دامی حده چه د واړه به خپلو خپلو مذهبیانو ته ورنارې
کړی سره جمعه به ئې کړی او په منځ کښی به ئې جنګ شروع سی او په د غه جنګ
کښی به د اسلام بادشاه شهید سی او د شام پر مملکت به هم نصارې قبضه
وکړی او د غه نصارې به د هغه د بنمن جماعت سره صلحه وکړی پاته سوی
مسلمانان به مدینی شریفی ته ولاړ سی او تر خیبره (مدینی منورې ته نژدی
یو حای دی) پورې به نصارې قبضه وکړی. په د غه وخت کښی به مسلمانانو
ته فکر پیدا سی چه د حضرت امام مهدی علیه السلام تلاش کول په کار دی
چه د دی غمونو څخه خلاص سو.

په د غه وخت کښی به امام مهدی علیه السلام په مدینه منوره کښی وی
او د دی بیږی څخه چه حکومت زمادغارې نه سی د مدینی منورې څخه
مکی معظمی ته ځی د دی زمانی اولیاء چه د ابدال درجی به لری پتول به د امام
مهدی علیه السلام په تلاش کښی وی او بعضی خلګ به د مهدیتوب د رواغجنی
دعوی هم شروع کړی. غرض چه امام مهدی علیه السلام به د بیت الله طواف کوی
او د حجر اسود او مقام ابراهیم په منځ کښی به وی چه بعضی نیک خلګ به ئې
وپیژنی په زور به ئې تینګ کړی او خپل حاکم به ئې مقرر کړی او د د ه پر لاس به

۸۵۲

بیعت وکړی او په دغه بیعت کښی یو آواز د اسمان څخه راځی چه ټول کسان چه د الته موجود وی دغه آواز اوری او دغه آواز به داوی چه دغه د خدای تعالی خلیفه یعنی حاکم مقرر سوی امام مهدی علیه السلام دی او د امام مهدی علیه السلام د ظهور څخه لوی علامی د قیامت شروع کیږی غرض هر وخت چه دده د بیعت قصه مشهوره سی نو په مدینه منوره کښی کوم فوجونه د مسلمانانو چه وی هغه مکی ته راځی د شام عراق او یمن د ملکونو ابدال او اولیاء ټول دده په خدمت کښی راحاضریږی نور هم د عربو فوجونه سره یو ځای کیږی

هر وخت چه دغه خبره په مسلمانانو کښی مشهوره سی یو سړی به د خراسان څخه د حضرت امام مهدی علیه السلام د کومک د پاره یو غټ فوج ورسره راروان کړی چه دده د لښکر د مخکښ حصی د سردار نوم به منصور وی او په لار کښی به د دې پیرو بی دینانو خاتمه او صفایی کوی راروان به وی او د کوم سړی چه مخکی ذکر وسوچه د ابوسفیان د اولاد څخه به وی د سید انو د بسمن به وی. چونکه حضرت امام به هم سید وی نو دغه سړی به د امام علیه السلام د مقابلی د پاره یو فوج ور واسطه وی نو هر وخت چه دغه فوج د مدینی منوری او مکی معظمی ترمنځ یو دښت ته ورسیږی او د یو غره په ملن کښی قیام کوی لیکن ټول د الته په محکه کښی خسف کیږی او نښانی صرف دوه انسانان د مخکی د خسف کیدو څخه خلاصیږی چه دد وی څخه یو امام مهدی علیه السلام ته خبر ورکوی او دهم د دغه سفیانی ته خبر راړسوی او د نصارای د ټولو طرفونو څخه فوجونه راجمعه کوی او د مسلمانانو سره د جنګ تیاری کوی په دغه لښکر کښی به په دغه وخ اتیا (۸۰) بیرغونه وی او هر بیرغ لاندی به په دغه وخ دوولس (۱۲۰۰۰) زره لښکریان وی نو ټول نه یکه شپیته (۹۶۰۰۰۰) زره لښکرسو. حضرت امام د مکی معظمی څخه د مدینی شریفی ته تشریف وړی او هلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مزار شریف زیارت کوی. بیا د شام و ملک ته روانیږی او د دمشق تر څنګ پوری رسیږی چه د دو هم طرفه څخه د نصارای فوج د جنګ د پاره راځی. د حضرت امام مهدی فوج دری حصی کیږی یوه حصه تښتی او فرار کوی او یوه حصه شهیدان کیږی او دیو حصی پرلاس فتحه کیږی او د دغه شهادت او فتحی واقعه دا سی پیښیږی چه حضرت امام د نصارای د مقابلی د پاره لښکری

تیار ړی او د پرمسلمانان په خپلو منځو نو کښی قسمونه اخلی چه بیله فتحی نه
راځو جنګ نه پریږدو پس نو پټول شهیدان کیږی صرف لږ غوندی خلګ پاته
کیږی، چه د دغو لږ کسانو سره به حضرت امام وخپل لښکر ته راسی په آینده
ورځ کښی به بیا د اغسی قصه وی قسمونه به سره کړی ولاړ به سی او بیولږ
خله به پاته سی د شهادت څخه د نو ړ پاته لښکر ته به راسی او د ریمه ورځ
به هم د اغسی قصه وی آخر کار څلرمه ورځ به د غه لږ غوندی خلګ جنګ
کوی او خدای تعالی فتحه ورکوی. بیا نو د کافرانو د حکومت کولو امید د دغو کافرانو
د زړه د نو څخه وزی.

اوس نو حضرت امام د ملک اد بادشاهی بند وبست شروع کوی او پټولو طرفونو
ته لښکری تیار ړی او ړوانه وی ئی او پخپله چه د دغو پټولو کار ونو څخه فارغه
سی نو د قسطنطنیه د بنار د فتحه کولو د پاره به روان سی. هر وخت چه د دریای
روم وغاړی ته ورسیږی نو د بنو اسحق او (۷۰۰۰) نور نفر به په کښتیو کښی سپاره
کړی د دی بنار د فتحه کولو د پاره به ئی مقرر کړی چه د اخلګ د بنار دیوال
ته ورسی نو الله اکبر الله اکبر به په لوړ آواز سره دوایی د دی نامه په
برکت سره به د بنار د دیوال مخکنی حصه راونړیږی او مسلمانان به حمله وکړی او
بنار ته به ورننوزی کفار به قتل کړی او په بنه انسان او قانون سره به د ملک
واګی چاری چلول شروع کړی.

د حضرت امام د بیعت څخه بیا تر دغی فتحی پورې به شپږ یا اوه کاله زمانه
تیره سی حضرت امام به د دی ځای په بند بست کښی وی چه یو د رواغ خبر
به مشهور سی چه د لته ولی ناست ئی هلته د شام ته د جال راغلی دی ستاسو په
خاندان کښی فتنه او فساد کوی. د دغه خبر د اوریدو سره سم امام د شام ته سفر
کوی او د تحقیق حال د معلومولو د پاره نهه (۹) یا پنځه (۵) سپاریان مخکی لیږی. لږ د
د وی څخه به یو سړی بیرته راسی چه هغه خبر خالص د رواغ وو تر اوسه لا
د جال نه دی راوتلی حضرت امام به بی غمه سی او په سفر کښی به بیا تلوار نه
کوی په لار کښی به د ملکونو د نظم او کنترول حالات گوری شام ته به ورسیږی
او هلته چه ورسیږی لږ ورځی چه تیری سی نو د جال هم راوزی ر اپیدا
کیږی او د جال به د یهودیانو د قوم څخه وی اول به د شام او عراق په منځ کښی

بنکاره سی اود نبوت دعوه به وکړی بیا اصفهان ته ځی دد غه ځای اویا (۷۰۰۰۰) زره یهود به د دده ملګری سی د خدایی دعوه شروع کوی. د اغه رنګه پرېږد ملکو نو تیریږی د یمن ترسرحده پوری رسیږی اود هر ځای څخه ډیر بی دینان ورسره ملګری کیږی تر داسی حده چه مکی معظمی ته به ې نژدی سی لیکن د فرشتو د حفاظت په وجه وبنار ته د ننه نه سی ورتلای بیاد غه ځای څخه د مدینی شریفی اراده کوی او هلته به هم د فرشتو "ملکو" پیره وی چه د ننه به نه سی ځندی ورتلای مګر په مدینه شریفه کښی به دری واړه زلزله وسی او څوندی کسان چه په دین کښی سست او کمزوری وی پټول به د زلزلی څخه وبیریږی او د مدینی شریفی دبنار څخه به د باندی راوزی یو ځای به و دریږی او د دجال په دام کښی به بندیان سی په د غه وخت کښی به په مدینه شریفه کښی یو بزرګ وی چه د دجال سره به زور ور بحث وکړی لیکن دجال ورته قهریږی دی وژنی اوبیا بیرته دده د بدن د واړی حصی سره یو ځای کوی ورته وایی چه ژوندی سه هغه ژوندی کیږی بیا ورته قهریږی او پوښتنه ځندی کوی چه ته اوس مامنی چه زه خدای یم - هغه فرمایی چه اوس می نور هم ښه یقین سو چه ته دجال ئ او بیائ د دجال وژنی لیکن وژلای به ئ نه سی هیڅ شی به تاتیر نه پرکوی

د د غه ځای څخه بیاد جال د شام وملک ته روانیږی هر وخت چه ودمشق ته ورنژدی سی او امام مهدی صاحب به هلته مخکی رسیدلی وی اود جنګ په تیاری او سامان به اخته وی چه د مازیګر وخت سی او مؤذن اذان کوی اوخلګ د لمانځه تیاری کوی - نابیره به حضرت عیسی علیه السلام دد وو فرشتو (ملکو) پراوږو ولاس نیولی وی په داسی حال کښی چه د اسمانه څخه راکښته کیږی وبه لیدل سی اود جامع مسجد د مشرقی طرف ومناری ته به راسی وبه دریږی اوخلګ به زینه (څینه) ورته کښیږدی لاندی به تشریف راوړی.

حضرت امام مهدی علیه السلام به پټول د جنګ سامان د ده په حواله کول غواړی لیکن عیسی علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام فرمایی چه د جنګ نظم ته پرغاړه واخله زه خاص د دجال د وژلو د پاره راغلی یم.

فرض چه شپه تیره سی سهار سی امام مهدی لښکر برابروی اوحضرت عیسی علیه السلام یوآس یوه نیزه غواړی د دجال وخواته حرکت کوی او اهل اسلام

د دجال پر لښکر حمله کوی اوپیر سخت جنګ پیښیږی. او د غه وخت د حضرت عیسیٰ علیه السلام په ساه کښی د غه تاثیر وی چه تر هر کا فر چه د ده ډیره ډیره ډیره

دد غه څخه مسلمانانو ته زکام او کافرانو ته بیهوښی پیښیږی تر څلویښتو ورځو
وروسته اسمان صافیږی او دغې زمانې ته نژدی به دلوی اختر میاشت وی تر لسم
تاریخ وروسته به دفعتًا یوه شپه دوندی اوږدکاسی چه مسافرین به وبیریږی
اوکوچنیان به یه خوب ستړی سی او حیوانات به وځنګلوته دتللو د پاره راهبوړی
اونارې جوړی کړی لیکن په هیڅ رقم به نه سهار کیږی تر دامی حده چه تولـه
انسانان د هیبت او بیری څخه بې قراره کیږی چه د دروشپو سره برابره دا دغه
شپه چه تیره سی نو به لمر د لږ سره ناسره لکه تندر ی چه نیولی وی د مغرب د خوا
څخه راخیژی په دغه وخت کښی د هیچا ایمان یا توبه نه قبلیږی هر وخت چه
لمر د وندی راالوړسی لکه چه د مغرب مخکی وی بیا نو د خدای تعالی په امر سره
بیرته د مغرب د خوا ته گرځی او په پخوانی طریقه سره بیا لویږی او راخیژی به
او د پخوا په شان به روښانه وی تر دغه یو څو ورځې وروسته د صفا غر چه
په مکه معظمه کښی دی سره وبه چوی د زلزلې په سبب او د دغه ځایه څخه به
یو حیوان دیو ډیر عجیبه صورت او شکل والا راووزی او د خلګو سره به خبری
کوی او په ډیره چلبکی سره پر تولـه محکمه گرځی او د ایمانداره خلګو پرتندی باندی
د حضرت موسی علیه السلام په لکړه سره نورانی خط او لیکه کشوی چه د دغه څخه
د هغه تولـه مخ روښانه کیږی او د بې ایمانانو پر پرده یا غاړه د حضرت سلیمان علیه
السلام په انګوشتری سره توره مهر لګوی چه په دغه سره د هغه مخ توریږی چه
د دغه کار وکړی بیرته به ورک سی تر دغه وروسته د جنوب د خوا څخه یوه ډیره
خوشحاله کونکی هوا راالوړی د دی هوا په سبب به د تولـو ایمان والا وو په بغل
کښی یو څه شی راوخیژی چه د دغه څخه به د دوی مړه سی هر وخت چه مسلمانان
مړه سی نو په دغه وخت کښی به په تولـه دنیا کښی د کفارو حبشیانو حکومت او
قبضه وی او دغه خلګ بیت الله شهید وی او حج بندیږی او قرآن شریف د زړه نه
کاغذانو څخه پورته کیږی او د خدای څخه بیره او د مخلوق څخه شرم تول پورته
کیږی او هیڅ الله الله ویونکی نه پاته کیږی په دغه وخت کښی به د شام په ملک
کښی ډیره ارزانی وی خلګ به پراوښانو او د سپرتیا پرتوره وشیانو او په پښو د شام
وخواته متوجه اوروان سی. او کوم خلګ چه پاتیږی یو اور پیدا کیږی تول به شړی
د شام ته لاړسوی او حکمت په دغه کښی دادی چه د قیامت په ورځ تول په دغه

ملک یعنی شام کښی جمع کیږی بیا دغه اور غاښیږی او په دغه وخت کښی به د دنیا
ډیره ترڼی وی دری څلور کاله په دغه وخت کښی تیریږی چه دفعةً د جمعی په
ورځ د محرم پرلسم تاریخ د سهار په وخت کښی پټول خلګ به په خپلو خپلو کارونو
اخته وی چه دصور شپیلی پوه کیږی اول سپک سپک آواز وی بیا وندی غږیږی
چه دهیبت او بیری څخه ئی ټول مری محکه او اسمان به څیری او ټکری ټکری سی او
دنیا به فناه سی (بعضی وایی چه دغه اته (۸) شیان د فناڅخه مستثنیٰ او وتلی دی
- عرش، (۱) کرسی، (۲) لوح، (۳) قلم، (۴) جنت، (۵) شپیلی، (۶) دوزخ (۷) او روحان (۸) - او بعضی وایی چه
دلږ وخت د پاره به داهم فناه سی) او کله چه لمرد مغرب څخه راختلی وو دهغه
وخت څخه بیا د شپیلی تر پوه کلو پورې به دیوسل (۱۰۰) اوشلو کالو زمانه وی اوس
نو دغه وخت څخه د قیامت د ورځ شروع کیږی یعنی دصور د شپیلی د پوه
کلو څخه.

(۱۳۱)	خاص د قیامت د ورځ ذکر	باب

چه دصور یعنی د شپیلی په پوه کلو سره ټوله دنیا فناسی څلویښت کاله
د خاموشی په حالت کښی تیریږی بیا د خدای تعالیٰ په حکم سره په شپیلی کښی
پوه کرل کیږی او بیا محکه او اسمان د غسی قائمیږی او جوړیږی او مړی به د قبرونو
څخه ژوندی راپورته سی او د محشر پر میدان به سره راټولیږی کرل سی او لمر
ډیر راټرڼ کیږی چه دګرمی څخه به ئی د انسانانو په سر کښی ماغزه ایشیږی
او څوندی څوندی چه د خلګو ګناوی وی په هغه اندازه به ئی خولی زیاتی وی
او خلګ به په دی میدان کښی د لوږی او تندی څخه پریشانه وی او کوم خلګ
چه نیکان وی د دوی د پاره د دغه میدان خاوره به مثل د هیدی ګرزی.
(یعنی د سپینو اور و یاد غنمو د مغز) دغه به خوری د لوږی علاج به پرې کوی او چه څه
وخت تږی کیږی حوض کوثر ته به ځی او هر دخت چه د محشر په میدان کښی په
ولاړه ولاړه سره ستړی او د لتنګه سی نو ټول به په ګډه سره د حضرت آدم
علیه السلام ته او بیا د نورو انبیاء علیهم السلام د حضور ته د دی خبری د سفارش
کولو د پاره ځی چه زمونږ حساب وکتاب او نورې فیصلی دی ژر وسی. ټول
پیغمبران به څه ناڅه عذر وکړی او د شفاعت وعده نه کوی. تر ټولو ورسته

به زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښی حاضر سی هغه درخواست به کوی کوم چه مخکی ئی د نورو انبیاؤ علیهم السلام نه کړی وو ـ نو مبارک صلی الله علیه وسلم به دخدائ په حکم سره دغه درخواست قبول کړی و مقام محمود ته (چه دیو ځای نوم دی) به تشریف یوسی شفاعت به وکړی د خدای ج د طرفه څخه ارشاد کیږی چه مونږ شفاعت قبول کړی اوس نه پر محکمه خپله تجلی کوم حساب او کتاب کوم او اسمان څخه فرشتی (ملائکی) په ډیر کثرت سره راکښته کیږی او د انسانان به دهره طرفه څخه په خپله ګډه او محاصره کښی ونیسی بیا به د حق تعالی عرش راکښته سی چه پرهغه به د حق تعالی تجلا وی حساب او کتاب به شروع سی او اعمال نامی به راوالوزول سی چه خو د بخوده به دنیکانو په لاس او د بدانو په چپه لاس کښی ولویږی او د اعمالو تللو ترانږدی رول کیږی چه په دغه سره د نولی نیکی او بدی معلومیږی او پر پل صراط باندی به تیږی او د جنت ته به ځی او د هر چا چه گناه زیاته وی نو که ئی خدای تعالی معاف نه کړی د غه څوک نو هغه په دوزخ کښی غورزول کیږی او د چا چه نیکیانی او گناوی سره برابری سی یو ځای دی ـ اعراف. د جنت او د دوزخ په مابین کښی نو د غه څوک په دغه ځای کښی پاتیږی نزدی دروسته زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم او نور حضرات انبیاء علیهم السلام عالمان ـ ولیان، شهیدان، حافظان او نیکان خلګ د گنهګار و خلګو شفاعت کوی چه الله پاک ئی و بخښی او د دوی شفاعت قبلیږی او د هر چا په زړه کښی چه یوه زره ایمان وی هغه د دوزخ څخه را ایستل کیږی و جنت ته داخلیږی.

داغه رنګه کوم کسان چه پراعراف وی هغه هم اخر و جنت ته داخلیږی او په دوزخ کښی خالی هغه خلګ پاته کیږی چه بالکل کفار او مشرکین وی او د دامی خلګو د پاره هیڅکله د دوزخ څخه وتل نشته ـ چه ټول دوزخیان او جنتیان پر خپلو خپلو ځایونو سی په دغه وخت کښی الله تعالی د جنت او د دوزخ په منځ کښی مرګ دیو پسه په صورت کښی حاضر کړی ټولو جنتیانو او د دوزخیانو ته ئی وښکاره کړی او بیائی حلال کړی او الله جل جلاله فرمائی چه اوس نو نه جنتیانو ته مرګ راځی او نه د دوزخیانو ته مرګ راځی. ټول به پر خپلو خپلو ځایونو د همیشه د پاره اوسیږی. د غه وخت به نه د جنتیانو د خوشحالی یو حد او اندازه وی او نه به د دوزخیانو د صدمی او غم یو انتهاء او پای وی.

۱۳۲ | دجنت د نعمتونو او د دوزخ د تکلیفونو ذکر | ۱۰ باب

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه خدای تعالی فرمایی چه ما
خپلو نیکو بندګانو د پاره د اسی نعمتونه تیار کړی دی چه نه هیڅ سترګو لیدلی دی
اونه هیڅ غوږ واوریدلی دی اونه دیو انسان په زړه کښی د دوی خیال راغلی
دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د جنت په عمارت کښی
یوه خښته د سپینو زرو ده او بله خښته د سرو زرو ده او د خښتو د لګولو ملغلرو
خټه به ئی خالص د مشکو وی او د جنت وړی وړی شګی او ډبری د ملغلرو او یاقوتو
دی او خاوره ئی زعفران دی هر سړی چه د جنت ته ولاړ سی په ارام او استراحت به
اوسیږی غم او رنځ به نه وینی او همیشه همیشه به پکښی اوسیږی هیڅکله نه مری
نه به د دوی جامی خیرنیږی نه به د دوی څوانی ختمیږی او رسول الله صلی الله علیه
وسلم فرمایلی دی چه په جنت کښی دوه باغونه داسی دی چه د هغه ځای لوښی
او ټول سامانونه به د سپینو زرو وی او دوه باغونه داسی دی چه د هغه ځای لوښی
لوښی او سامانونه به د سرو زرو وی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دی چه په جنت کښی سل درجی لاندی باندی دی او د یوی درجی څخه تر بلی درجی
پورې د وندی فاصله ده لکه څونډی چه د مځکی او اسمان تر منځ فاصله ده. یعنی
پنځه سوه کاله اوپه ټولو درجو کښی لوړه او لویه درجه د جنت فردوس ده او د
هغه څخه د جنت څلور ولی راوزی یعنی د شیدو، شهدو (عسلو)، شرابو طهور
او اوبو ولی. او تر هغه لوړ عرش دی. ته چه ئی هر څه د خدای تعالی څخه غواړی
جنت فردوس غواړه. او دائی هم فرمایلی دی چه په دی کښی هره هره درجه
د وندی لویه ده چه که د ټولی دنیا مخلوق په هغه یوه درجه کښی کښینول سی
نو پکښی ځای به سی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په جنت کښی هر څونډی
د رخ دی د ټولو ټنی د سرو زرو دی او فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه
وسلم چه تر ټولو مخکی کوم خلګ چه جنت ته ځی د دوی مخ به داسی روښانه
دی لکه د څوارلسم سپوږمی بیا چه د دوی څخه ورسته ځی د دوی مخونه به
د تیزی روښنایی والا ستوری په شان وی نه په جنت کښی د هر ډول ګوفی روسټ

پیښیږی، او نه د غټو بولو ضرورت پیښیږی نه د نارو تو کلو نه د یزی . سونګ کولو څه ضرورت پیښیږی - زمونږ نبی به د سرو زرو د وی او خوله د مشکو په شان خوشبویه وی یو چا پوښتنه وکړه چه بیا نو د وډی او غذا چیږی څه؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم و فرمایل چه یو اربی به کا بزی چه په د غه کښی به د مشکو خوشبوي وی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په جنتیانو کښی چه تر تولو د کمی د رجی خاوند وی د د ه څخه خدای تعالیٰ پوښتنه کوی چه که چیږی تاته د نیاد یو بادشاه د ملک سره برابر ه حصه په جنت کښی درکړم نو ته راضی کیږی - هغوایی ای پرو ردګار ه زه راضی یم د بیا ارشاد کیږی چه ولاړ سه تاته دی د هغه پنځه چنده د رکړه هغه وایي ای خدایه زه راضی سوم بیا ارشاد کیږی چه څه تاته د وندی درکړه سوه - او د د وی لس(۱۰) چنده نور ه - او د دی څخه علاوه چه هر شی ته ستا زړه غواړی هر هغه شی چه ستا ستړګی په خوښکی کیږی هغه تاته درکول کیږی .

او په یو ه روایت کښی راغلی دی چه په مثل د دنیا او لس چند د دنیا درکول کیږی او په یو ه روایت کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی الله تعالیٰ د جنتیانو څخه پوښتنه کوی چه تاسی خوشحاله هم یاست هغوی عرض کوی چه خوشحاله به ولی نه یو تاسو موږ ته هغه شیان راکړی دی چه ترنه نه دی وهیڅ مخلوق ته نه دی ورکړی . دالله پاک د جانبه ارشاد کیږی چه زه به تاسو ته داسی شی درکړم چه تر دغو تولو زیات وی - هغوی عرض کوی چه تر دی تولو به زیات کوم شی وی - ارشاد او شوونه کیږی چه هغه شی دادی چه زه به ستاسو څخه همیشه خوشحاله یم هیڅکله ناراضه نه کیږم .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر وخت جنتیان ته ولاړ سی خدای تعالیٰ ووی ته فرمایي چه تاسو نور زیات شی غواړی زه ئی درکړم دوی به عرض وکړی چه زمونږ مخان تاروښانه کړی دی او بیا دی جنت ته داخل کړی یو موږ دوزخ څخه خلاص کړی یو نو نور لا موږ غواړو . د غه وخت به الله تعالیٰ پرده پورته کړی د وندی خوږ او خوندور بل نعمت نه وی لکه څوندی چه د الله تعالیٰ دیدار دی - او رسول الله صلی

الله علیه وسلم فرمایلی دی چه دوزخ تر زرو (۱۰۰۰) کلونو پوری بل کړل سو تر دامی حده چه دده رنگ سور سو او بیا زر کاله نور بل کړل سو تر داسی حده چه سپین سو بیا تر زرو کلونو پوری نور بل کړل سو تر داسی حده چه توره سو اوس دوزخ بالکل توره او تاریک دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ستاسو دغه اور چه تاسو ئی بلوی دد دوزخ تر اور په گرمی او حرارت کښی اویا (۷۰) درجی کم دی او هغه اویا درجی تر دغه نړیات گرم دی. او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی که چیرته دا سرنه چیرته دد دوزخ د غاړی څخه دد دوزخ ته ورغورځولی سی او تر اویا (۷۰) کلونو پوری مسلسله ولاړه سی نو پس د اویا (۷۰) کلونو څخه به دد دوزخ وبیخ ته ورسیږی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی د دوزخ زاوپل کیږی په دامی حال کښی چه دده به اویا (۷۰) زره کیږی وی او هره کیږه به اویا زره ملکو (ملایکو) بیولی وی او تر دغو کیږو به ئی راکشوی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په ټولو کښی سپک عذاب په دوزخ کښی به دهغه چا وی چه دهغه په پښو کښی به فقط داور دوی چپلی وی لیکن ددغه څخه به ددده ماغزه دگډوی په شان ایشیږی اوددده به دا خیال وی چه په ټولو کښی زما عذاب چیر نړیات دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په دوزخ کښی داسی داسی غټ غټ مارانو دی لکه اوښان که یو وار سړی وخوری نو تر څلویښتو کلونو پوری به ئی زهر په په بدن کښی څپی وهی او لرمان ئی داسی داسی لوی دی لکه پالل سوی. او کتل سوی غاښ دی که دوی سړی وخوری نو تر څلویښتو کلونو پوری به زهر ددده په بدن کښی څپی وهی او یو وار نبی صلی الله علیه وسلم لمونځ وکړی او منبر ته ئی تشریف راوړی او دی فرمایل چه ما نن د جنت او دوزخ نقشه هو بهو او بعینه ولیدله نه تر نننه پوری ما تر جنت نړیات یو ښه شی لیدلی دی او نه ئی تر دوزخ نړیات یو شی د تکلیف لیدلی دی.

۱۳۳

باب ۵۰ دهغو خبرو بیان چه بیله دوی ایمان نیمگړی وی

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په یو څه بالا اویا (۳) خبری د ایمان په باره کښی دی. تر ټولو

لویه خبره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ[1] دَه او تر ټولو کوچنی خبره دا ده چه په لاره کښی یو اغزی، لرگی یا ډبره پرته وی چه د دغه څخه لاره ویانو نه نکلیف رسیږی دی ئی لیری کړی - ثرم او حیا هم د ایمان ددی خبرو څخه یو لوی شی دی د دغه ارشاد څخه معلومه سوه چه هر وخت د وندی خبری تر ایمانه پورې تعلق لری نو پوره مسلمان هغه دی چه په ده کښی ټولی خبری وی او په یو چا کښی چه یوه خبره وی یوه خبره نه وی هغه نیمگړی او ناقص مسلمان او مؤمن دی. دا خبره هرچا ته ور معلومه ده چه پوره مسلمانی ضروری ده - نو ددی سببه د ټولو دپاره لازمه ده چه دا ټولی خبری په خپل ځان کښی پیدا کړی او کوشش دی وکړی چه دهیڅ خبری نیمگړتیا پاته نه سی - ددی دپاره موږ د غه ټولی خبری لیکو او درته بیانوو ئی هغه ټولی او[2] یا[3] په یو څه بالادی د[4] یرش خو ترتره پورې تعلق لری.

(۱) پر خدای تعالیٰ ایمان راوړل (۲) دا اعتقاد در لودل چه د خدای تعالیٰ څخه ماسیوای ټول شیان اول ناپید او ه بیا د خدای پاک د پیدا کولو څخه پیدا سوه - (۳) دا یقین کول چه فرشتی (ملایکی) سته (۴) دا یقین کول چه خدای تعالیٰ هرڅوندی کتابونه پر پیغمبرانو نازل کړی دی ټول رشتیا دی البته د قرآن شریف څخه ماسیوای اوس د نورو کتابونو حکم نه دی پاته سوی (۵) دا یقین کول چه ټول پیغمبران حق او رشتیا گویه دی البته اوس فقط د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه باندی د تللو حکم دی (۶) دا یقین کول چه الله تعالیٰ ته د ټولو خبرو او کارونو څخه مخکی خبر سته او هرڅه چه خدای پاک ته منظور وی هغه کیږی - (۷) دا یقین کول چه قیامت راتلونکی دی (۸) د جنت منل (۹) د دوزخ منل (۱۰) د خدای تعالیٰ سره مینه او محبت در لودل (۱۱) د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه در لودل (۱۲) او د بل چا سره که هم مینه یا د بسمنی کوی نو د خدای تعالیٰ د پاره کول (۱۳) په هر کار کښی صرف ددین نیت کول (۱۴) پرګناهونو پښیمانی کول (۱۵) د خدای تعالیٰ څخه بیریدل (۱۶) د خدای تعالیٰ د رحمت امید در لودل (۱۷) شرم کول (۱۸) د نعمت شکر ادا کول (۱۹) وعده پوره کول (۲۰) صبر کول (۲۱) خپل ځان ترنورو کم بلل (۲۲) پر مخلوق رحم کول (۲۳) هرڅه چه د خدای د جانبه وی په هغه سره راضی کیدل (۲۴) پر خدای پاک توکل کول (۲۵) په خپله خوښی او کمال ځان نه ښکاره

[1] یعنی کلمه طیبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) ۱۲

کول او فخر نه کول (۲۶) د چا سره کینه او بغض نه ساتل (۲۷) پر چا حسد نه کول
(۲۸) غصه او قهر نه کول (۲۹) د چا بد نه غوښتل (۳۰) د دنیا سره مینه او محبت نه
کول - او اوه خبری د ژبی سره تعلق لری (۳۱) په ژبه سره کلمه ویل (۳۲) د قرآن
شریف تلاوت کول (۳۳) د علم زده کول (۳۴) علم وبل ته ورزده کول (۳۵) دعا کول (۳۶) د الله
تعالی ذکر کول (۳۷) د بی فایده او گناه د خبری څخه لکه درواغ، غیبت، بنکنځل، بنراوی
کول: خلاف شرعه سندری اوغزلی ویل د دی ټولو څخه ځان ساتل - اوشلو یښت
خبری زمونږ د بدن او صورت سره تعلق لری (۳۸) اودس اوغسل کول جامی اوکالی
پاک ساتل (۳۹) د لمانځه پابند ه اوسیدل (۴۰) زکوٰة اوسر سایه ورکول (۴۱) روژه نیول
(۴۲) حج کول (۴۳) اعتکاف کول (۴۴) د هرځای په اوسید وکښی چه د دین خرابی وی د هغه
ځایه څخه تل (۴۵) د خدای نذر پوره کول (۴۶) کوم قسم (لوړه) چه دگناه پرخبره
اوکار نه وی د هغه پوره کول (۴۷) د مات سوی اوپرچاد اوښتی قسم کفاره ورکول -
(۴۸) د هرځوندی بدن پټول چه فرض دی د هغه پټول (۴۹) اختری کول (۵۰) د مړی
کفن اود فن کول (۵۱) که د چا قرض پرباندی وی د هغه قرض ادا کول (۵۲) په خړلو
اوراښیو لوکښی د خلاف شرعه کارونو څخه ځان ساتل (۵۳) حق شاهدی نه پټول
(۵۴) که د نفس خواهش وی نکاح کول (۵۵) د خپلو ماتحتانو اود ده ترحکم لاندی چا
حق ادا کول (۵۶) مور او پلار ته استراحت رسول (۵۷) د اولاد پرورش او پالنه کول،
(۵۸) درشته دارانو او تعلق دارانو سره بدرفتار نه کول (۵۹) د مالک او بادار تابعداری
کول (۶۰) انصاف کول (۶۱) د مسلمانانو د ټولی څخه جلا بله لاره پیدا کول (۶۲) د حاکم
تابعداری کول مگر په خلاف شرعه کارونو کښی ئی نه کول (۶۳) د جنگید ونکو په منځ
کښی صلحه کول (۶۴) په نیک کار کښی کومک کول (۶۵) نیکه لاره بنوول د بدکار اوبدی
خبری څخه منعه کول (۶۶) که حکومت وی نو د شرعی موافق سزا ورکول (۶۷) چه
وخت اوموقع راسی د دین د بښمنانو سره جهاد کول (۶۸) امانت ادا کول (۶۹) ضرورت
مندو خلگو ته روپی وغیره قرض ورکول (۷۰) د همسایه خاطرداری اولحاظ ساتل (۷۱)
حلاله د نیا پیدا کول (۷۲) مصرف د شرعی موافق کول (۷۳) د سلام جواب ورکول (۷۴)
که یو څوک ونرښی (وپرچی) نو د ه ته یَرْحَمُکَ اللّٰهُ ویل (۷۵) یو چاته ناحقه تکلیف
منه ورکول (۷۶) د خلاف شرعه بازیو او تماشو څخه ځان ساتل (۷۷) د لاری څخه
لوټه، ډبره، اخری او داسی نور شیان لیری کول - که جلا جلا د هری خبری اوکار

ثواب معلومول غواړی نو "فروع ایمان" یو کتاب دی په هغه کښی وګورئ

باب	د خپل نفس او عامو خلګو خرابی	۱۳۴

- مخکې چه څه هر څوند ی بنو او بد و خبرو او کارونو بیان را غلی وو او د ثواب او عذاب د شیانو بیان را غلی وو په دغو کښی دوه شیان خپل دام د روی یو خپله خپل نفس چه هر د خت په خپله غیږ کښی ناست دی چه قسم قسم خبری را استه کوی به بنو کارونو کښی بهانی (بانی) پیدا کوی او په بیکاره کارونو کښی خپل ضرورتونه مخ ته راوړی او د عذاب څخه د بیړی په مقابل کښی د الله تعالی د غفور رحیم والی وعدان ته ور یاد وی او د پاسه شیطان بنسه زړه ورکوی

اوو هم دام د رونکی او لګونکی هغه سړی او انسان دی چه د هغه سره بل څوک یو قسم تعلق لری یا عزیز او قریب وی یا شناخته وی یا د قوم قبیلی وی یا د دوکلی وی بعضی ګناوی د دغه سببه کیږی چه د دوی سره کښینی د دوی پای ځای په دوه کښی اثر کوی او بعضی ګناوی د دوی په خاطر او مراعت کیږی او د دغه سببه کیږی چه د دوی په نظر کښی د دوه سپک والی بنکاره ته سی او بعضی ګناوی د دغه سببه کیږی چه دغه خلګ د دوه سره بد کوی نو یو څه وخت د دوی د بدی په غم کښی یو څه وخت د دوی په غیبت کښی او یو څه وخت د دوی څخه د بدلی او غچ اخستلو په فکر کښی مصروفیږی او بیا د دی څخه قسم قسم ګناهونه پیدا کیږی.

غرض پوټلی خرابی د دغه نفس د تابعداری او د خلګو څخه د نیکی د امید لرلو په سبب پیدا کیږی د دی د پاره چه د دغو خرابیو څخه نجات او خلاصون حاصل سی نو د دی خبری ضرورت سوی - یو خپل نفس په قابو او کنترول کښی راوستل د دوه ذلیله ول - زجر او ملامتیاد دوه کول او د دی د زیات تعلق او رابطه نه ساتل او د دی خبری پروا نه کول چه خلګ بنه را ته وایی یا بد را ته وایی د دغه سببه دغه خبری دواړی جلا جلا لیکل کیږی.



(۱۳۵) **دنفس سره د کردار او رفتار بیان** باب

په پابندی سره لږ څه وخت سهار او ماښام یاد ببیدو په وخت کښی مقرر کړه په
دغه وخت کښی یوازی کښینه او خپل زړه هرځوندی چه کیدای سی د تولو خیالانو
څخه ئی پاک کړه د خپل زړه سره داسی خبری کوه وخپل نفس ته داسی وایه چه ای
نفسه بنه پوه سه ستا مثال په دنیا کښی دیو سوداگر غوندی دی پانګه او سرمایه ستا
عمر دی او نفعه د دغه داد ه چه د همیشه خیر یعنی د اخرت نجات حاصل کړی که دی
دغه عمر د غفلت تباه او برباد کړی خیر او نجات دی حاصل نه کړی نو په دغه سوداگری
او تجارت کښی دی تاوان وکړی چه سرمایه دی هم ولاړه او گټه دی هم نصیب نه
سوه او دغه سرمایه او عمر داسی قیمتی دی چه د د ه یو یو گړئ بلکه یوه یوه ساه
بی انتها قیمت لری او هرځوندی غټه خزانه چه وی د د غنی خزانی د عمر سره نه سی
برابر یدلای څکه خزانه که ختم او برباد سی نو په کوشش سره د د ی پرځای بله خزانه
پیدا کیدای سی او د غه عمر چه هرځوندی تیریږی د د ه یوه ثانیه بیا نه سی
راګرځیدلای نه بل عمر او ژوند پیدا کیدای سی. دوهم داچه د د غه عمر څخه
څوندی غټ دولت پیدا کولای سی یعنی د همیشه د پاره جنت او د خدای تعالی رضا
او دیدار د غوندی لوی دولت په هیڅ خزانه سره څوک نه سی پیدا کولای. د د غه
سببه دا پانګه او سرمایه ډیره قدر منه او قیمتی سوه۔

اوای نفسه د خدای تعالی احسان دمنه چه تر اوسه وتانته مرګ نه دی
راغلی چه د د ه څخه ستا عمر ختمیږی خدای تعالی دانن ورځ د څرونډ بله ده
کړه که دی مرګ راغلی نو بیا که په هزارها ؤ کراتو او مرانو سره په ډیر افسوس
او ارمان زاری کوی چه یوه ورځ بله لا عمر راکړه سی اوزه به په رشتیا سره
توبه په دغه ورځ کښی وکاږم او تینګه وعده به د خدای پاک سره وکړم چه
بیا ګناوی نه کوم او دغه توله ورځ د خدای پاک په یاد او تابعداری کښی تیروم
هر وخت چه د مرګ په وخت کښی ستا دغه خیال او حال وی نو په خپل
زړه کښی داسی خیال وفکر وکړه چه ګویا زما د مرګ وخت راغلی دی۔ زما په
سوال او غوښتنه سره خدای تعالی یوه بله ورځ راکړه چه هغه دغه ورځ د ه۔ اوتر
دغی ورځی وروسته معلومه نه د ه چه بله ورځ به ئی نصیب سی که به ئی نصیب
نه سی۔ پس نو دغه ورځ په داسی طریقه سره تیروله په کار د ه۔ لکه د عمر چه

اخیره ورځ معلومیږی اودغه ورځ په دغسی طریقه سره تیره کړه یعنی د ټولوګناهو څخه سخته اوتینګه توبه وکاږه اوپه دغه ورځ کښی هیڅ یوغټه اووړه ګناه مه کوه ټوله ورځ د خدای تعالی په فکر کښی اوخوف الٰهی کښی تیره کړه اودرب الجلیل هیڅ حکم مه پریږده هروخت چه دی ټوله ورځ په دغسی افسوس اوارمان سره تیره سی بیادغه آینده ورځ همدغسی فکروکړه چه شاید دعمر به صرف دغه یوه ورځ پاته وی.

اوای نفسه دغه فریب اودوکه مه خورہ چه خدای تعالیٰ به می معاف کړی ځکه چه اول تاته څرنګه معلومه سوه چه خدای تعالیٰ دی معافوی او سزانه درکوی - نوکه ئی سزا درکړه بیابه هغه وخت څه کوی اوپه هغه وخت کښی به څوندی پښیمانی کوی - اوکه ئی موږ ومنو چه بس بله خبره نسته معافوی دی نوهروخت چه نیکانوته دښو کارونو انعامونه اومرتبی ورکول کیږی هغه ستا نه نصیب کیږی بیانوهروخت چه په خپلو سترګو سره نورو ته دانعامونو او مرتبو ورکول وینی اوپخپله خالی لاس بی برخی پاته سی نوبه څوندی افسوس اوارمان کوی - اوکه پردغه باندی نفس سوال وکړی چه راته وایه چه اوس نوزه څه وکړم اوخرنګه کوشش وکړم نوته ووایه ته جواب ورکړه چه ته دا کارونه وکړه چه کوم شیان چه ستا څخه په مرګ سره پاتیږی یعنی دنیا اوبدعادتونه نودغه بس اوس اوس پریږده اودکومو شیانوسره چه ستا سابقه واقع کیږی اوبیله دوی ستاګذاره نه سی کیدای یعنی خدای تعالیٰ اودده درضاکید وکارونه په دغوسره اوس اوس شروع وکړه اوعمل په وکړه د خدای تعالیٰ په ذکر اوتابعدارۍ کښی مشغول سه اودبدوعادتونوبیان اوددوی دپریښولو علاج اودخدای تعالیٰ درضی کیدو دکارونو تفصیل اوبیان اوددغود حاصلولو بیان اوتدبیرونی په بنه آسانه طریقه سره درته بیان کړی اوددی سره دموافق کوشش کولو اورفتارکولو په وجه د زړه څخه بدی اوخرابی وزی اونیکی قرارپکښی نیسی اوخپل نفس ته ووایه ای نفسه ستامثال دمریض په شان دی دمریض دپاره پرهیزکول ضرورد دی اودګناه کول بدپرهیزی دی - ددی سببه دګناه څخه پرهیزکول ضرورسو او دغه پرهیز خدای تعالیٰ دټول عمر دپاره مقررکړیدی - بیانویولږ څه فکرخو وکړه که دد نیایو بیکاره غوندی طبیب یادډاکټر په یوسخته مریضی کښی تاته

داسی دوایی چه د فلانی مزه دار ډاډه اوخوندور شی دخورک څخه چه هر وخت ئی
وخوری و د غه مریضی ته سخت تاوان رسیږی او ته په سخت تکلیف کښی مبتلا
کیږی او فلانی تریخ او بد خوندہ شی چه هر ډوډۍ خوری نو به بنه ئی اوستا
تکلیف به کم وی. نو یقینی خبره ده چه خپل ځان چه ډیر گران دی د د غه
بیکاره طبیب په خبره د د غه خوند ور او مزه دار ډاډه شی د خورلو څخه دتول
عمر د پاره نا امیده اوبی برخی پریږدی او د واکه هر څوندی تر خه او ناخوښه
وی نو ستړگی به پټی کړی او د غه د وا به هر ډوډۍ تیروی۔

موږ مسلمانان ده چه گناه ډیره خوندور ډاډه ده او بنه کار ډیر تریخ اوناخوښه
دی لیکن هروخت چه خدای تعالیٰ د دی خوندور وشیانو تاوان او نقصان بیان
کړیدی او د غه تر خه او ناخوښه کارونه ئی فایده مند بللی دی بیا نو څرنگه
تاوانونه اوفایدی دی چه همیشه همیشه دی چه نومونه ئی دوږخ او جنت
دی۔ ای نفسه د تعجب او افسوس خبره ده چه د ځان اوروح په محبت کښی
دیو کمزوری او بیکاره حکیم او ډاکټر پرخبره باندی یقین کوی او د ده پابند
کیږی او د خپل ایمان په محبت کښی د الله پاک پرخبره زړه نه لگوی۔ او د
گناوو د پریښودلو همت نه کوی او د نیکو کارونو څخه دی بیا هم زړه پوره ته دی
ته څرنگه مسلمان ئی۔ توبه توبه۔ د الله تعالیٰ حکم دیو کوچنی حکیم د خبری
سره برابره هم نه بولی او څرنگه بی عقل ئی چه د جنت د همیشه همیشه آرام د
دنیا د لږ وړ ځود آرام سره برابر هم نه بولی او د دوږخ د دوندی سخت عذاب
او اوږده تکلیفه څخه د دی دنیا په یولږ څه تکلیف سره چه عبادت دی ځان
نه خلاسوی. او نفس ته داسی دوایه چه ای نفسه دنیا د سفر مقام دی او په
سفر کښی پوره استراحت هیڅکله نه پیدا کیږی۔ قسم قسم تکلیفونه پکښی راځی
او ورلکیږی مگر مسافر د دی سببه د تکلیفونه پرځان باندی تیروی چه کور
ته ورسیږم نو به بنه استراحت وکړم۔

بلکه که د دی تکلیفونو څخه وبیریږی په لار کښی د سفر په یوسرای کی
او سیدل غوره کړی او د غه خپل کور وگنډی او د استراحت پتول سامان د الته
جمعه کړی نو په پتول عمر به ئی کور ته رسیدل نصیب نه سی۔
داغه رنگه چه په دنیا کښی هر څوندی زمانه اوسیږی په محنت او مشقت

سره ژوند تیرول په کار دی په عبادت کښی هم تکلیف دی او دگناهونو په پریښودلو کښی هم تکلیف دی نور هم قسم قسم مصیبتونه دی لیکن آخرت زموږ کور دی هلته چه ورسیږو بیا نو هیڅ مصیبتونه او غمونه نه خکیږی.

د دی ځای د پټولو محنتونو، مشقتونو او غمونو برداشتیدل او پرځان تیرول په کار دی - که مودلته د ارام او استراحت تلاش وکړی نو کور ته چه ورسیږو بیا نو د استراحت اسباب پیدا کیدل مشکل او گران کار دی - بس په دغه ځان پوه کړه چه هیڅکله د دنیا د راحت او لذت هوس کول نه دی په کار او د آخرت د برابرولی د پاره هر قسم تکلیف په خوښی سره پرځان تیرول په کار دی.

غرض داسی داسی خبری و نفس ته کوه او نفس باید و سمی لاری ته راوړی او هره ورځ ئی باید داغسی پوه کړی د اخبره یاد وساته که نه پخپله دغه رنگه د خپلی بښیگنې او برابرولی کوشش نه کوی نو بل به څوک راځی چه ستا خیر خواهی به کوی نو اوس ته پوه سه خپل دی کار پوه سه.

۱۳۶	دعام خلگو سره د رفتار او گذاری بیان	باب

عام خلگ دری قسمه دی یو هغه څوک دی چه د دوی سره د دوستی خوږولی او ملگرتیا علاقه ده دوهم هغه چه د دوی سره صرف د پیژندگلوی او شناخت علاقه ده - دریم هغه چه د دوی سره شناخت هم نسته او د هر یو سره د رفتار او گذاری طریقه جلا ده - پس هغه څوک چه د دوی سره شناخت او پیژندگلوی هم نسته که دی د دا وی سره ملاقات ناسته ولاړه سی نو د دی خبرو خیال ساته - چه د دوی دیوی خوا اوبلی خوا څخه خبری اتری بیان کړی نو غوږ مه ورته نیسه او څه عبث خبری چه کوی بالکل خان کو نه پرواچوه - د دوی سره د پیرشستن ناسته او ولاړه مه کوه د دوی څخه یو طمعه او امید مه کوه - او که په دوی کښی یو خلاف شرعه کار وویلی که دی دا امید دی چه نصیحت مئی نو په هیره نرمی سره ئی پوه کړه او د کومو سره چه دی دوستی او نزدیات راځه ورسم دی نو په دغه کښی د دی خیال ساته چه اول خو د هر چا سره دوستی او راځه ورسم مه پیدا کوه ځکه چه هر سړی د دوستی قابل نه وی - البته په چا کښی چه دغه پنځه خبری وی بیا د هغه سره دوستی کول پروا نه لری.

⊙ اولمه خبره داده:- چه دی به هوښیار وی څکه چه د بی عقل انسان سره خواول په دوستی کښی گذاره او چلاوونه سی کیدای

بل داچه یو وخت دا سی کیږی چه وتاته فایده رسول غواړی مگر د بی عقلی دوجهی څخه برعکس نقصان او تاوان در رسوی لکه چه یو سړی هیر سانلی وو نو یو وخت دئ بیده وو او یو میچ بار بار دده پرمخ کښینستی نو دغه هیر ته قهر او غصه ورغله نو دمیچ دوژلو دپاره لئ یو ه غټه ډبره راوړه او پرمیچ لئ ورغورزوله میچ والوتی اودده غریب سر زړی زړی سو۔

⊙ دوهمه خبره داده:- چه د ده اخلاق، عادات او طبیعت ټول به برابر وی د خپل مطلب دپاره به دوستی نه کوی اود غصی په وخت کښی به د خپله اختیاره نه وزی پروړو وړو خبرو باندی به دطوطی په شان ستړگی چپه اوراسته نه اړوی.

⊙ دریمه خبره داده:- چه دیندار به وی څکه چه هر څوک دیندار نه وی نو چه هروخت دی دخدای تعالی حق نه ادا کوی نو ته د ده څخه هیڅ امید لری چه زما سره به وفا وکړی دوهمه خرابی داده چه وارواړه ته ودغه گناه ته گورې اود دوستۍ دسببه نرمی ورسره کوی نو آخیر ته هم عادت ورسره سی دده گناه څخه دی نفرت نه کیږی۔ دریمه خرابی داده چه د ده بیکاره مجلس او نژدیکت اثر وتاته هم راسیږی چه اخیر به په دغه گناه ته هم مبتلا سی.

⊙ څلرمه خبره داده:- چه دئ به حریص د دنیا نه وی څکه چه د حریص چا سره دناستی ولاړی څخه غرور حرص او حب د دنیا نه پاتیږی چه هروخت دی په دغه شغل او ولوله کښی وینی چه کله د نړیور ذکر دی کله د پوښاک او جامو ذکر دی۔ کله د کور د سامان د ده کوبه تاته څرنگه فکر د دنیا نه پیدا کیږی بلکه خامخا پیدا کیږی اودهر چا سره چه خپله حرص نه وی او ساده او پندی جاهل ئ وی ساده خوراک ئ وی هروخت د دنیا د ناپایداری او بی وفایی ذکر وی دهغه سره چه کښینستی کوم لږ څه حرص چه وی هغه خپله د زړه څخه وزی.

⊙ پنځمه خبره داده:- چه د ده عادت به د دروغ ویلو نه وی څکه چه د دروغ ویونکی انسان له هیڅ اعتبار نه سته څکه چه کیدای سی چه د ده یوه خبره رښتیا

د بولی لیکن پکښی دوکه سی تاوان د سړی وکړی.

ددی پښځو خبرو خیال ترد وستی کولو مخکی په کار دی اوچه په یو چاکښی دغه پښځه خبری وویني د دستی ورسره وکړی اوس نو دد ه حق په بنه طریقه سره ادا کوه. او هغه حق دادی چه د د ه د ضرورت په وخت کښی ځان ورسره زهیر کړه که خدای تعالی مال و دولت درکړی وو نو امداد ورسره وکړه. د د ه راز وهیچاته مه وایه اوددغه عیب هیچاته مه وایه هرځوک چه ئی بدوایی نو ته دغه خپل دوست په هغه باندی مه خبروه اوچه دوست دی خبری کوی ته بنه غوږ ورته نیسه په غور سره ئی اوره که په د ه کښی یو عیب و د یښما نو په ډیر نرمی او خیرخواهی سره ئی یوازی پټ پوه کړه که د د ه څخه یو خطا وسی نو معاف ورته کوه. د د ه د خیرخواهی د پاره د خدای تعالی څخه د عا غواړه.

اوس پاته سو هغه څوک چه د د ه سره دی صرف شناخت ناسته ولاړه وی د د اسی چاسره ډیر احتیاط کول په کار دی ځکه هرځوک چه دی دوست وی هغه ستا په خیرکښی تمام دی اودکوم چاسره چه دی شناخت نسته هغه دی نه په خیرکښی نه په شرکښی دی او دغه د مابین د اچه پاته سو چه د د ه سره دی نه دوستی د ه نه بالکل لا تعلقی د ه بلکه شناخته دی ډیر تکلیف او خرابی د د اسی کسانو څخه رسیږی چه په ژبه سره د د دوستی او خیرخواهی خبری کوی. او په باطن کښی دی دیښمنی وهی او حسد کوی اوهر وخت دی عیبونه تلاشوی اود بدنامه ولو په فکر کښی دی کوشش کوی.

ددی سببه چه کیدای سی د چاسره شناخت او ملاقات مه کوه اوددوی د مال اودولت چه وگوری حریص مه جوړیږه اوددوی د پاره خپل دین مه خراب کوه. که یو څوک د بنمنی د رسره کوی ته د بنمنی مه ورسره کوه ځکه چه د هغه طرف څخه ستاسره بیانور ه زیاته بدی کیږی چه ته ئی بیا نه سی زغملای اوپه دغه بغض کښی بیا اخته کیږی نو د دنیا او دین د واړه تاوان کیږی. ددی سببه د رگډ ر بهتر دی. اوکه څوک ستا عزت، ابرو او خاطرداری وکړی یا ستا تعریف وکړی او خپل محبت او مینه بنکاره کړی نو ته په دغه فریب کښی مه راځه اوپر دغه امید مه اوسیږه ځکه چه ډیر کم خلگ دی چه د د وی دغه کردار د صاف زړه څخه وی.

دد ی امید هیڅ وخت د چا څخه مه کوه او هر څوک چه ستا غیبت وکړی او
واوری مه په خبنم کیږه او مه دغه تعجب کوه چه دا زما سره دغه معام
کړه او زما د حق یا زما د احسان یا زما د مشرتوب یاد وطن داری ئ هیڅ خیال
ړی حکه که انسان وکړی وگوری نو ته هم پخپله د ټولو سره همیش یو شا
ی کیدای مخامخ دی یو قسم گڼه وی ورسره او پشالادی بل قسم حال
یا نو په هره بلا کښی چه خپله مبتلا ئ نو پر نور د ولی تعجب کوی خلاصه دا
ه د چا څخه د هیڅ قسم د خیر امید مه کوه او مه د هیڅ قسم د فایدی رس
یدکوه او مه د هیچا په نظر کښی د خپل عزت زیاتولو او مه د هیچا په ز
ی د خپل محبت پیدا کولو امید کوه۔

هر وخت چه و هیچاته هیڅ امید نه کوی نو بیا یو څوک چه ستاسره هر ق
تار کوی نو هیڅکله یو ه ذره هم نه غمجن کیږی او خپله هر څوندی چه کولا
، تو لوته فایده رسوه او که دی چیری د یو چا د خیر خواهی خبره په فکر کښ
ی او دادی یقین وی چه هغه ئ منی نو ده ته ئ وکړه که ئ نه منی بیا پ
له اوسه ـ که د یو چا څخه یو فایده در ورسیږی نو د خدای تعالی شکر وکړ
هغه سړی د پاره د عا کوه.

او که د چا څخه یو تکلیف او تاوان در ورسیږی نو د اسی ئ بوله چه زما د یو گنا
اده ـ د خدای تعالی په حضور کښی توبه وکړه او د هغه سړی څخه مه غمجن
ه ـ غرض مه د مخلوق و بنو ته گورې مه د مخلوق و بد و ته گوره بلکه

هر وخت نظر پر الله جل جلاله لره او د ده سره وکار
لره او د ده تابعدارۍ کوه او د ده په
یاد او ذکر کښی مشغول
اوسه الله تعالی
دی د نیکو اعمالو
توفیق راکړی
او د بد و اعمالو څخه
دی مو الله تعالی وساتی۔ امین

تمت

د اصلی بهشتی زیور اوومی حصی اوله ضمیمه
چه په بهشتی جوهر سره نامداره ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب ۱۳۷ دزړه د صفایی او د باطن د درستۍ او برابرتیا ضرورت

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی اَجْسَامِکُمْ وَلَا اِلٰی صُوَرِکُمْ وَلٰکِنْ یَّنْظُرُ اِلٰی قُلُوْبِکُمْ ۔ (رواه مسلم)

ترجمه :- د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بیشکه الله تعالی نه گوری ستاسو اجسامو او نه ستاسو صورتونو ته لیکن گوری ستاسو زړونو ته - او داخیال مه کوی چه ظاهری اعمال چه یوازی په ظاهری اندامو سره ادا کیږی او په هغوی کښی د زړه توجه نه وی چه هغه دی قبول نه وی بلکه هغه د زړه عملونه هم نه قبلیږی - او همدارنگه د ظاهری عملونو د قبلید لو هیڅ صورت اولاړ نسته ددی وجهی او سببه څخه چه نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایی چه خدای پاک سهاسی د زړونو وطرف ته گوری .

مطلب دادی چه پروردگار عالم داسی عملونه نه قبلوی چه فقط په ظاهره سره بنه معلومیږی د اخلاص او د زړه د توجه څخه خالی وی مثلاً یو څوک عبادت کوی نو په ظاهر خو په عبادت کښی اخته وی لیکن زړه ئی غافله وی او د انتیزئ په زړه کښی نه وی چه زه عبادت کوم او یا په یو بل کار اخته یم نو دارنگه اعمال او عبادت نه قبلیږی .

او دا مطلب نه دی چه ظاهری اعمال د سره معتبر نه دی بلکه معتبر دی لیکن په دی شرط چه توجه او اخلاص د زړه هم ورسره وی لکه چه په قرآن او حدیث سره دا خبره ثابته ده څکه چه زړه محل او ځای د نظر الٰهی دی او لکه څرنگه چه د ظاهری طبی تشریح کښی د بدن د بادشاه شرف حاصل دی د اغه رنگه په روحانی او باطنی تشریح کی د اندامونو د بادشاه شرف او فخر ورته حاصل دی ترڅو چه د

حالت درست او برابر نه وی د فلاح او نجات هیڅ صورت ممکن نه دی.
مثلاً یو څوک په ظاهره مسلمان وی او په زړه کښی مسلمان نه وی نو د پروردګار عالم په نزد د ده د اسلام هیڅ اعتبار نسته او علی هذا القیاس یو څوک فقط د ریا کاری یا د غه رنګه د یو بل فاسد غرض د پاره لوڼځ خیرات یا بل عبادت وکړی نو د غه عبادت په هیڅ کی شمار نه دی. پس نو معلومه سوه چه د د وارو جهانو خلاصون او مقبولیت د خدای پاک په نزد د زړه پر اصلاح او سموالی موقوف دی - انسانانو نن سبا د زړه د صفایی او اصلاح په باره کښی د ډیری کمزوری او کوتاهیانی کړی دی فقط ظاهری اعمال خو ښ یادیږی او د ظاهری اعمالو علم هم حاصلوی. مګر د باطنی اصلاح او د زړه د درستی او صفا کید و هیڅ فکر و رسره نسته - بلکه داسی ګڼی چه د باطن د اصلاح ریا، حسد بغض او داسی نور ود علاج هیڅ ضرورت نسته او د دوی څخه ځان سائل هیڅ ضروری نه دی فقط ضروری اعمال واجب بولی او د غه ظاهری اعمال د نجات او خلاصون د پاره کافی بولی حالانکه اصلی مقصد د زړه اصلاح د ه لکه چه د دی حدیث شریف څخه صاف معلومیږی او ظاهری اعمال د زړه د برابروالی ذریعه ده - د ظاهر او باطن په منځ کښی یو داسی قدرتی علاقه موجوده ده چه د ظاهری حالت بیله برابروالی باطنی حالت نه برابریږی او ترڅو پوری چه پر ظاهری اعمالو همیشه توب او پابندی نه وی نو د باطن اصلاح همیشه نه سی پاته کیدای. او هر وخت چه د باطن اصلاح ومی نو ظاهری اعمال په ډیره ښه طریقه سره ادا کیدای سی. او د دی څخه دی یو بی عقل دا معنی نه را باسی چه د ظاهری اعمالو نه فقط ترهغه وخته پوری ضرورت دی چه زړه نه وی صفا سوی هر وخت چه زړه صفا سی نو بیا د ظاهری اعمالو هیڅ ضرورت نسته که ظاهری اعمال کوی او که ئ نه کوی - د دی سببه دی دا معنی نه را باسی چه دا رنګه عقیده کول کفر دی او د داسی عقیدی د باطلوالی وجه داده چه هر وخت زړه د درست او برابر وی نو دی حتی المقدور هر وخت په طاعت الٰهی کښی مصروف او مشغول وی او د غه د زړه د برابروالی علامه ده. ځکه چه مقصود د زړه د اصلاح څخه خو دا دی وښه سی.
د لمانځه، روژی او داسی نورو داخل والی په اطاعت الٰهی کښی تر لمړ هم ښکاره

دی. نو هر وخت چه دغه طاعتونه او عبادتونه پریښوول سی نو بیا زړه خرنګه
درست اومنا پاته کیدای سی که چیری زړه صاف او درست پاته وای نو شپه
او ورځ به په شان دانبیاؤ علیهم السلام اود اولیاء رحمهم الله علیهم په عبادت
دخدای کښی مشغوله وای. نو ولی نعوذ بالله یو احمق او بی عقل ته داوسوسه
درپیښیدلای سی چه دیو چا زړه د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
ترزړه مبارک هم زیات صاف اوصالح وی دا رنګه صاف او صالح چه وظاهری
عبادت ته ضرورت ونه لری. او حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره ددی
چه اکمل الکاملین او افضل المرسلین وو. لیکن په دوندی اندازه کی په
ظاهری اعمالو کی مصروف وو چه دکتونکو به هم رحم پرراتلی اوددې ترو فات
پورې دغه حال وو. اوددې مبارک دغه کیفیت او حال د حدیثو په کتابو کی
په بنه طریقه سره ذکر سوی او مشهور سره دی بنه ئی واوریدلی.

نو دکوم سبب مسلمانانو بنه فکر وکړی او بنه څان پوه کړی لکه څرنګه چه
د ظاهری اعمالو اداکول اوددوی طریقه زده کول واجب دی. مثلاً لکه روژه، لمونځ
اوداسی نور. داغه رنګه باطنی اعمال لکه روژه لمونځ اوداسی نور عبادتونه
دریاو نمایش څخه ساتل یادکینی حسد او بغض اوداسی نور وخځه زړه صفا
کول اوددغو اعمالو داداکولو طریقه زده کول هم واجب دی.

چه په دوی کښی بعضی عملونه خاص د زړه سره کار لری لکه دګناه قصد
اوارادې کول، کینه یا حسد کول، اواخلاص پیدا کول. او په بعضی کی زړه او نور
اندامونه هم شریک دی لکه لمونځ روژه، حج، صدقه اوداسی نور. (صرح به
الامام الغزالی رحمة الله علیه واقره علیه ابن الهمام رحمة الله علیه)

او په حدیث شریف کښی راغلی دی. رکعتان من رجل ورع (ای متوقی الشبهات)
افضل من الف رکعة من مخلط (ای لایتقی الشبهات) والظاهر ان المراد بالالف
التکثیر لا التحدید. فروی عن انس رضی الله تعالی عنه (قال الشیخ حدیث
حسن لغیره) کذا فی العزیزی شرح الجامع الصغیر.

یعنی دوه رکعاته دداسی سړی چه پرهیزګاره وی چه د شکمنو شیانو څخه
هم څان ساتی دهغه چا تر زر رکعاته لمانځه افضل دی چه دی د شکمنو شیانو
څخه څان نه ساتی. بنکاره خبره ده چه د غه فضیلت بیله صفاوالی د زړه اوبیله

اصلاح د باطن حاصلیدای نه سی۔ کوم څوک چه د باطنی مریضیو څخه جوړ نه وی. نفعه واجبات هم په بنه طریقه سره ادا کولای نه سی او هر څوک چه پردی هم قادر نه وی چه د حرامو شیانو څخه پوره ځان وساتی نو دغسی څوک به د شکمنو شیانو څخه څرنگه ځان وژغوری او څرنگه به دی د غه ذکر سوی فضیلت حاصل کړی.

هر هغه عبادت چه په داسی طریقه سره وسی چه د باطن تقوی او د زړه اصلاح ورسره وی نو هغه عبادت باقاعده هم وی او مقبول هم وی که څه هم ډیرلږ وی. د دی سببه پر مسلمانانو لازمه ده چه د ظاهر او باطن په پوره طریقه سره اصلاح وکړی چه داسی اصلاح ذریعه د نجات ده او فقط ظاهری اعمال بیله برابروالی د باطن د نجات د پاره باید کافی و نه بلل سی.

گوره که یو څوک ډیر لمونځونه کوی نیت ئی ډاوی چه ما خلګ بزرګ وبولی اوزما تعریف وکړی نو ایاد عذاب څخه خلاصیدای سی. حالانکه لمونځ خو داسی شی دی که ئی یو څوک باقاعده او په اخلاص سره صرف د خدای پاک د رضا د پاره وکړی نو د هغه عذاب څخه هم خلاصیږی کوم چه د لمانځه پرپریښودلو مرتب دی اوثواب هم ورکول کیږی مګر افسوس خبره ده چه د غه سړی د ریا او تعریف په وجه د غه لمونځ برباد کړی.

پس نو د ده د پاره په کار ده چه خپله د د غو مریضیو علاج وکړی ورنه شر تر څو ره به د سخت هلاکت سره مخامخ سی ځکه چه هر وخت مرض مخ پر زیاتیدو وی او علاج ورسره نه وی نو بنکاره خبره ده چه انجام د د غه مرض هلاکت دی۔ مسلمانانو ورونو هروخت چه تاسی مریضان سی او بد نو نه مو مریضان سی نو ایا تاسو داخو بنوی چه په مرض کښی مبتلا او اخته پاته سی او سره د قدرته علاج نه کوی تر داسی حده چه د غه مرض تاسی هلاک کړی.

هیڅکله ئی نه خو بنوی حالانکه په د غه مرض کی چه کوم تکلیف دی هغه جسمانی تکلیف دی او بیاد غه تکلیف فقط یو څو ورځی په دنیا کښی دی. پس نو چه د غه د دنیا لږ تکلیف نه خو بنوی نو په روحانی امراضو کی مبتلا کیدل چه په سبب ئی د اخرت تکلیف موجودیږی داسی تکلیف چه هغه دوامی او همیشه دی باید بیخی موخوښ نه سی۔ ځکه چه داسی تکلیف خو بنول د عقل سلیم بالکل

خلاق دی. نو ددی سببه پر هر مسلمان لازمه دی چه د جسم، زړه، ظاهر او باطن د ټولو بنه اصلاح وکړی او د عقل سلیم څخه کار واخلی د دنیا او اخرت نجات خپل مقصود وبولی.

بنه ئ ویلی دی هغه دنیا څه ثی د چه د دین کوشش پکښی نه وی ټول شیان د دنیا د پاره کوی نه د دین د پاره - آهـ

په حدیث شریف کښی را غلی دی - عن النعمان بن بشیر مرفوعاً فی حدیث طویل الا وان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله الا وهی القلب (متفق علیه) یعنی جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی خبر اوسی په دی خبره چه په بدن کی یو جزدی (چه هغه یو غوښه ده) هر وخت چه هغه روغه (او سالمه) وی نو ټول بدن روغ (او سالم) وی او هر وخت چه دغه جزا و غوښه خرابه سی نو ټول بدن خرابیږی او خبر دار اوسی چه هغه جز زړه دی. د دی حدیث روایت بخاری او مسلم کړیدی.

مطلب د دی حدیث دادی چه دانداموده رڼستی او د خدای پاک اطاعت کول د واړه د زړه پر صحت او درڼستی موقوف دی ځکه چه زړه بادشاه د بدن دی او د رعیت اصلاح موقوف نه ده د بادشاه پر صالح والی پس نو اندامونه هغه وخت نیک کار ونه کوی چه زړه صالح وی. نو ددی سببه د زړه په اصلاح کښی کوشش کول په کار دی او واجب وبلل سو. ځکه چه د خدای پاک طاعت کول واجب دی او هغه د زړه پر اصلاح موقوف دی نو نتیجه ئ دا راوو تله چه د زړه اصلاح واجب ده بنه ځان په پوه کړه.

لږ څه فکر او غور وکړی چه شریعت په داسی حال کی چه انسان وبږی وی په لمانځه کولو کی په تکلیف بږی فکر ئ په دوډی کښی وی د احکم کړیدی. چه لمونځ کول مکروه دی بلکه اول دوډی وخوړه بیا لمونځ وکړه - په دی شرط چه د لمانځه وخت نه تیږیږی نو په دی کی حکمت دادی چه مقصود د عبادت څخه د پروردګار عالم په حضور کی حاضری او اظهار د عبدیت دی دا رنګه چه ظاهر او باطن د واړه په دغه کار کی مصروف اولګیا دی او د غیر الله طرف ته حتی الامکان توجه پاته نه سی او هر وخت چه لږ زړه وی - نو که څه هم ظاهر بدن په دی کار مشغول وی لیکن زړه پریشانه وی او هدغه

زړه غواړی چه ژړه لمانځه څخه فارغ سی چه ژړه وډی وخوری.
پس نو د پروردګار عالم په مخ کی چه کوم قسم حاضری په کار وه. په هغی کی ډیر خلل او فطور واقع کیږی نو ددی سببه په داسی حال کښی لمونځ مکروه بلل سویدی چه ددی څخه معلومیږی چه اصل حای د نظر خداوندی زړه دی او شریعت مقدسه ددی د اصلاح د پاره ډیر غټ انتظام کړیدی.
ددین بزرګانو د زړه د اصلاح د پاره په کلو کلو مجاهدی اوریاضتونه کړیدی په دی مختصره رساله کی په وجه د اوږدوالی نور زیات مضمون ونه لیکل سو ورته په دی څو کتابونه ددی فن یعنی د زړه د اصلاح موجود دی که ددغه کتابو خلاصه ولیکل سی نو هم یو غټ پنډ کتاب څندی جوړیږی.
ددی حدیث څخه د زړه د اصلاح د پاره ډیر غټ کوشش او تکلیف کول ثابتیږی ځکه چه مدار د اصلاح د طاعت زړه مقرره هوی دی په حدیث شریف کی راغلی دی - عن ابن عباس رض مرفوعاً قال رکعتان مقتصدتان خیر من قیام لیلة والقلب ساه (رواه ابن ابی دنیا فی التفکر کذا فی کنز العمال) یعنی جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه دوه رکعاته لمونځ په درمیانه حالت کی کول ښه دی د ټولی شپی تر لمونځ کولو په داسی حال کی چه زړه غافله وی. (داحدیث ابن ابی دنیا په تفکر کښی روایت کړیدی) نو مطلب دادی که یو څوک دوه (۲) رکعاته لمونځ وکړی په درمیانه طریقه سره ئی اداکړی - دا رنګه چه فرائض واجبات او سنتونه ئی د زړه په حضور سره اداکړی. که څه هم اوږد قرائت او داسی نور پکښی نه وی نو د اغسی دوه (۲) رکعاته نهایت عمده او مقبول دی تر هغه لمانځه چه ټوله شپه وی لیکن د زړه په غفلت سره وی.
ددی حدیث شریف څخه د زړه د اصلاح ډیرلوی اهتمام او تینګار معلومیږی وجه داده چه په حقیقت کښی د فعل کیفیت او طرز نه کتل کیږی چه څرنګه کار ئی وکړی او د فعل کمیت او مقدار مطلوب نه دی چه څومره کار ئی وکړی که څه هم ډیر لږ کار وی لیکن چه باقاعده او عمده وی نو د پروردګار په نزد محبوب او مقبول دی او که ډیر کار وی مګر په بی قاعدګی، بی ضابطی او غفلت سره وی نو هغه د خدای پاک خوښ نه دی - ښه ځان پوه کړه - سه

مانعیمت بجای خود کردیم ؛ روزگاری دریں بسر بردیم
گر نیاید بگوشش رغبت کس
بر رسولان بلاغ باشد و بس

داصلی بهشتی زیور اووی حصی دوهم ضمیمه

از تسهیل قصد السبیل

وعامو بحوته نصیحت !

۱۳۸ باب

د شرک و کارونو او خبرو ته مه نژدی کیږی د اولاد د کید و یا پاییدو د پارهٔ داسی کارونه مه کوی چه د صغو په شریعت کښی هیڅ ثبوت نه وی او نارواوی لکه بنځی چه زیارتونو ته ورځی او د زیارتو په لکړو اوشغلتو کښی میخونه تکوهی یا پر زیارتونو کوچنی کوچنی ځانګوی جوړوی - چه د دوی په خیال کښی د دی د امعنی ده چه خدای پاک به اولاد راکړی او یا به ئی اولاد و پاییږی (یعنی ژوندی به پاته سی)

فالونه مه ګوری د بزرګانو او د خدای د دوستانو پر نامه شی مه نذر کوی - په شب برات، محرمه، عرفه، یوولسمه، دوولسمه، اوداسی نورو د رڅو کښی چه کوم رواجونه خلګو د ځانه راپیدا کړیدی د غه مه کوی. چه دا ناجائز کار دی.

دکوم چا څخه چه په شریعت کښی ستر کول واجب دی برابره ده که پیرودی او یا که بل هرڅوندی نژدی قریب وی - لکه لیور، د خاله یا عمه یا ماما زوی یا د خاوند د خور زوی یا د اندرو زوی یا هغه څوک چه ودانه تمسی په خوله سره په وروسته یا پلار و ویل سی. د دوی ټولو څخه ټینګ او پوره ستر کوی. د شریعت خلاف جامه مه اغوندی لکه لنګ یا داسی قمیص چه نس، شا، څنګلی او داسی نور اندامونه څنډی معلومیږی - د دا رنګه نرمو جامو څخه ټینګ پرهیز کوی او یا داسی نرم ټوکر وی چه بدن یا د سر

وریښتان ترمعلومیږی د دغسی قسم جامو څخه تینګ پرهیزکول په کار دی.
باید قمیص د داسی پنډ ټوکر څخه جوړ سی چه بدن نه ترمعلومیږی
بنه اوږده لستونی ئی وی اود داغسی پنډ ټوکر څخه پورونی اوپای جا
جوړ دی او همیشه پورونی پرسر کوی - لیکن که په کور کښی خالص بنځی و
یادخپلی موړ پلار، وروړ او داسی نورو څخه ماسیوړی په کور کښی بل څوک
نه وی نو بیا که پورونی د سر څخه لیری سی پروا نه لری.
وچاته پټ پټ تر پورونی یا د دروازی تر چولو مه گوری اود اغه رنگ
په بله د غسی طریقه سره وچاته پټ پټ مه گوری.
چه یو ځای کوږ د ه، وا د ه، بنا د ی، سنتید ه (ختنه) څلویښی، عقیق
او داسی نور شیان ترسره کیږی نو تاسی هیڅکله مه ورځئ حکه چه په دغو
کښی د بعضو شیانو بالکل په شریعت کښی ثبوت نسته او کوم شیان چه ثبوت
ئی سته هغه د شریعت سره برابر نن سبانه ترسره کیږی او مه خپلو کورونو
ته د د ی شیانو د پاره چاته د راتگ بلنه ورکوی.
د نامه اوریا کاری د پاره هیڅ کار مه کوی - د بنځو او د، پیغورونو او د
غیبت کولو څخه خپلی ژبی وساتی - پنځه وخته لمونځونه په اول وخت کښی
کوی ناوخته ئی مه کوی. او د زړه په ډیر ه پوره توجه او اطمنان سره لمونځ
کوی، رکوع او سجده په بنه طریقه سره کوی.
هروخت چه د حیض څخه پاکی حاصله سی نو بنه خیال کوی چه د حیض
ترختمید و وروسته یولمونځ در څخه قضا نه سی.
که ستاسو سره زیورات یا نور د لیس او چوړی وی نو باید په بنه
غور سره حساب ورته وکړی او زکوة ئی ورباسی - بهشتی زیور همیشه
گوری یا ئی د بل چا څخه اوری - او د ده موافق رفتار کوی. او همیشه د
خپل خاوند خبره منی - د د ه مال د ه په پته مه مصرفوی غزل هیڅکله
مه اوری - او که موقرآن شریف ویلی وی نو همیشه د قرآن شریف وظیفه
وی - چه یو کتاب مود مطالعی کولو یا ویلو د پاره رانیولی وی نو اول ئی باید
او که نه وی بیا ئی مه اخلئ. په کوم ځای کښی چه رواجونه اوږد سمونه کیږی

هلته مه ځ او مه هغه خوبزی خوری کوم چه په دغو رسمونو اوږو اجونو کښی ویشل کیږی او مه دغه رواجونه تاسی په خپل کور کښی کوی.

۱۳۹	دخاص ذکر کونکو اوشغل کونکو دپاره نصیحت	باب

دغه مخکی ذکر سوی نصیحتونه گورو په هر کار کی د نبی صلی الله علیه وسلم د طریقی سره موافق او برابر رفتار او شروند کوه حکه چه پرسنت طریقه تللو په وجه په زړه کښی ډیر نور او صفایی پیدا کیږی که چیری یو څوک یو کار یا خبره ستاد طبیعت څخه مخالفه وکړی نو صبر پرکوه.

په شر او تلوار سره په هره خبره کی مه شروع کیږه خصوصًا د غصی او غضب په حال کی د ځان سره ډیر احتیاط کوه.

هیڅکله ځان صاحب کمال مه بولـه

هره خبره چه کوی نو اول بنه فکر پکښی وکړه چه بنه اطمینان دی وی چه په دی خبره کښی هیڅ تاوان نسته او داهم د معلومه سی چه په دی خبره کښی د دین یا دنیا ضرورت دی یا فایده ده نو بیا دغه خبره ترخوله راوباسه.

د غټ سړی هم نو یی مه بیانوه او مه ئی اوره.

یو داسی فقیر چه پرده د درویشی حال غلبه کړی وی او دی یو خبره ستا په خیال کښی د دین خلاف کوی و ده ته طعنه مه ورکوه

یو مسلمان که څه هم دی گنهکار یاد کښتی درجی وی حقیر او سپک مه بوله د مال او دولت او عزت طمعه او حرص مه کوه.

د تعویذ نو کول او لیکل د خپل ځان دپاره شغل مه گرزوه چه تولـه مورخ



تعویذان لیکی چه په دی سره عام خلګ ګیږی (یعنی په قبضه کښی راځی
په تابع کیږی.

ترڅو چه کیدای سی د ذکر کونکو سره اوسه چه د دوی د ناستی څ
په زړه کښی نور، همت او شوق زیاتیږی.

د دنیا کار و بار د پیر مه پراخوه بی ضرورته سامان مه سره جمعه کوه.

ترڅو چه کیدای سی تنها اوګوښه اوسه.

د بی فایدی او بی ضرورته خلګو سره د پیر مه کښینه او هر وخت چه وړه
مخامخ کیږی نو په پیر ه خوش اخلاقی سره وړسره مخامخ کیږه. او هر
وخت چه دی خبره او کار وړسره خلاص کړی نو فوراً څنډی جلا کیږه.
خصوصاً د شناخته نه خیلو څخه د پیر څخه ساته یاد خدای د دوستانو مجلس
ګوره وړسره کښینه. یا چه ئ نه پیژنی او معمولی خلګ وی د دوی سره کښینه
خکه چه د داسی خلګو څخه کم تاوان پیښیږی

که ستا په زړه کښی یو کیفیت یا یو عجیب قسم علم پیدا سی نو د خپل پیر
ته خبر ورکړه د خپل پیر څخه دیو خاص شغل درخواست مه کوه.

د ذکر څخه چه یو کوم اثر پیدا سی د خپل پیر څخه ماسیوی و بل چاته
ئ بیان مه کوه.

د خپلی خبری پیروی مه کوه چه خپله خبره دی تر سره نیولی وی د بل هیڅ
خبره نه منی - بلکه هر وخت چه تاته د خپلی خبری غلطی معلومه سی نو فوراً
او سمدسی اقرار وکړه او قانع سه.

په هر حال کښی پر خدای یقین او باور کوه و ده نه ته خپل حاجتونه - او
غوښتنی وړاندی کوه او د خدای جل جلاله څخه پر دین باندی د ثابته
پاته کید و خواست کوه - والسلام

د اصلی مکمل بهشتی زیور او مه حصه سره
د قدیمو او جدید و (یعنی پخوانیو او
اوسنیو نور ضمیمو ختمه سوه
سنه ۱۳۶۶ هـ ق

ددی اووم حصی اجمالی حالت او ددی دلوست اوتدریس

طریقه

(۱) نمبر ۱- په دی حصه کښی یو څه مضامین د عملونو داد بونو په بارہ کښی لیکل سویدی.

(۲) نمبر ۲- زیات مضامین کذره د صفایی په بارہ کښی را غلی دی چه تصوف او درویشی ته ویل کیږی او د اتول شرعی د نورو حکمونو په شان ضروری دی او د دوی سره بی باکی کول په کار نه دی.

(۳) نمبر ۳- که په څلرمه یا پنځمه حصه شاګرانی نه پوهیږی نو بیاتر دریمی حصی ورسته دی دغه اووم حصه ورته وویل سی او په شپږمه حصه کښی هم دا اختیار دی که ئی تر دغی اووم حصی ورسته اوکه ئی مخکی ورته وایی.

(۴) نمبر ۴- ویونکی چه یو کار یا خبره د دی حصی د مضمون څخه خلاف وکړی نو فوراً ئی ټوکنګروه چه تا په کتاب کښی دا رنګه لوستلی دی اوکوی بیا دا رنګه چه د کتاب خلاف دی د دغه ټوکنګرولو په وجه ئی عملی طاقت او قوت زیاتیږی او بیا د لوستلی مضمون خلاف کار نه کوی.

(۵) نمبر ۵- او خپله دی استاذ (ښوونکی) هم عمل په وکړی چه ډیر غټ ثواب لری.

(۶) نمبر ۶- که د دغه حصه هم د شروع څخه اینجلی پرتخته یا کاغذ باندی روزمره لیکی نو خط ئی هم صفا کیږی او د کتاب مضامین ئی هم ښه په ذهن کی کښینی - لیکن که د اینجلی د پاره لیکل په اعتبار د یوموقع خلاف د مصلحت وی نو بیادی په اینجلی خط نه اړد ه کوی حکه چه آبرو او عزت تر لیکلو مهم اوضروری دی.

(۷) نمبر ۱- کـه نا خوانده بنځو ته دا حصه زبانی وویل سی یعنی وو وی ته داو رول سی نو د دوی زړه او ویاد نو نه هم برابر یږی بلکه پرویونکو دی هم ډیر ګټور وی چه همیشه زده سوی کتاب ګوری - او مطالعه ئی کوی چه په دی سره نصیحت تازه کیږی

(۸) نمبر ۱- مناسبه داده چه یو وخت مقرر کړل سی او په دغه مقرر سوی وخت کښی د کور ټول خلګ سره راجمعه کیږی اود کور یو ځوک وو دوی نه دغه رساله اوروی د دی ذپاره چه کوم ځوک ناخوانده وی هغه محرومه پاته نه سی اوګټه ځندی واخلی.

اَشْرَفْ عَلِیْ عُفِیَ عَنْهُ

داصلی بهشتی زیور دا تمی حصی د مضامینو فهرست

نمبر	مضمون	صفحه
۱	د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د پیدایش، وفات او داسی نورو شیانو بیان	۴
۲	د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د مزاج او عاداتو بیان	۷
۳	د حضرت حوا علیها السلام ذکر	۱۱
۴	د حضرت نوح علیه السلام دمور ذکر	۱۲
۵	د حضرت سارة علیها السلام ذکر	۱۲
۶	د حضرت هاجره علیها السلام ذکر	۱۴
۷	د حضرت اسماعیل السلام د دوهمی بی بی ذکر	۱۶
۸	د نمرود کافر پادشاه دلور ذکر	۱۷
۹	د حضرت لوط علیه السلام دلورو ذکر	۱۸
۱۰	د حضرت ایوب علیه السلام د بی بی ذکر	۱۹
۱۱	د حضرت لیا یعنی د حضرت یوسف علیه السلام د خاله ذکر	۱۹
۱۲	د حضرت موسیٰ علیه السلام دمور ذکر	۲۰
۱۳	د حضرت موسیٰ علیه السلام د خور ذکر	۲۱
۱۴	د حضرت موسیٰ علیه السلام د بی بی ذکر	۲۱
۱۵	د حضرت موسیٰ علیه السلام د خوښینی ذکر	۲۲
۱۶	د حضرت آسیه (رض) ذکر	۲۳
۱۷	د فرعون دلور د خدمتګاری ذکر	۲۴
۱۸	د حضرت موسیٰ علیه السلام د لښکر دیوی بوډی ذکر	۲۵
۱۹	د حیسور د خور ذکر	۲۶
۲۰	د حیسور د مور ذکر	۲۷
۲۱	د حضرت سلیمان علیه السلام د مور ذکر	۲۷
۲۲	د حضرت بلقیس ذکر	۲۷
۲۳	د بنی اسرائیلو دیوی مینځی ذکر	۲۹
۲۴	د بنی اسرائیلو دیوی هوښیاری او دیندارۍ بیانوی ذکر	۳۰
۲۵	د حضرت مریم علیها السلام دمور ذکر	۳۱
۲۶	د حضرت مریمی علیها السلام ذکر	۳۲
۲۷	د حضرت زکریا علیه السلام د بی بی ذکر	۳۳
۲۸	د حضرت خدیجی رضی الله عنها ذکر	۳۴
۲۹	د حضرت سودة رضی الله عنها ذکر	۳۵
۳۰	د حضرت عائشی صدیقی (رض) ذکر	۳۵
۳۱	د حضرت حفصی (رض) ذکر	۳۶
۳۲	د حضرت زینبی (رض) ذکر چه د خزیمه لورګه	۳۷
۳۳	د حضرت ام سلمی (رض) ذکر	۳۷
۳۴	د حضرت زینبی (رض) ذکر چه د جحش لورده	۳۷
۳۵	د حضرت ام حبیبی (رض) ذکر	۴۰
۳۶	د حضرت جویریه (رض) ذکر	۴۰
۳۷	د حضرت میمونی (رض) ذکر	۴۱
۳۸	د حضرت صفیی (رض) ذکر	۴۲
۳۹	د حضرت زینبی (رض) ذکر	۴۳
۴۰	د حضرت رقیی (رض) ذکر	۴۴
۴۱	د حضرت ام کلثوم (رض) ذکر	۴۵
۴۲	د حضرت فاطمة الزهرا (رض) ذکر	۴۶
۴۳	د حضرت حلیمی سعدیی (رض) ذکر	۴۸

نمبر	مضمون	صفحہ
۴۴	د حضرت ام ایمن (رض) ذکر	۴۹
۴۵	د حضرت ام سلیم (رض) ذکر	۴۹
۴۶	د حضرت ام حرام (رض) ذکر	۵۱
۴۷	د حضرت ام عبد (رض) ذکر	۵۲
۴۸	د حضرت ابو ذر غفاری د مور (رض) ذکر	۵۲
۴۹	د حضرت ابو هریرہ د مور (رض) ذکر	۵۳
۵۰	د حضرت اسماء بنت عمیس (رض) ذکر	۵۳
۵۱	د حضرت حذیفہ د مور (رض) ذکر	۵۴
۵۲	د حضرت فاطمی (رض) ذکر چہ د خطاب لور دہ۔	۵۴
۵۳	دیوی انصاری بنځی ذکر	۵۵
۵۴	د حضرت ام فضل لبابہ بنت حارث ذکر	۵۶
۵۵	د حضرت ام سلیط ذکر	۵۶
۵۶	د حضرت هالہ بنت خویلد ذکر	۵۷
۵۷	د حضرت هند (رض) بنت عتبہ ذکر	۵۷
۵۸	د حضرت ام خالد ذکر	۵۸
۵۸	د حضرت صفیی (رض) ذکر	۵۸
۵۹	د حضرت ابوالهیثم (رض) دبی بی ذکر	۵۹
۶۰	د حضرت اسماء بنت ابی بکر (رض) ذکر	۶۰
۶۱	د حضرت ام رومان (رض) ذکر	۶۰
۶۲	د حضرت ام عطیہ (رض) ذکر	۶۱
۶۳	د حضرت بریرۃ (رض) ذکر	۶۲
۶۴	د حضرت فاطمی بنت ابی جیش او حمنی بنت الی جحش او د حضرت عبد اللہ ابن مسعود (رض) دبی بی (رض) ذکر	۶۲
۶۵	د امام حافظ ابن عساکر استاذانی بیبیانی	۶۳

نمبر	مضمون	صفحہ
۶۶	د حفید بن زهرا طبیب خور او خورزه	۶۳
۶۷	د امام یزید بن هارون مینځه	۶۴
۶۸	د ابن سماک کوفی مینځه	۶۴
۶۹	د ابن جوزی رحمۃ اللہ علیہ عمدہ	۶۴
۷۰	د امام ربیعۃ الرای رحمۃ اللہ علیہ مور	۶۵
۷۱	د امام بخاری رح مور او خور	۶۶
۷۲	د قاضی زادۂ رومی خور	۶۶
۷۳	د حضرت معاذی عدویی رح ذکر	۶۷
۷۴	د حضرت رابعی عدویی رح ذکر	۶۷
۷۵	د حضرت مساجدی قرشیی ذکر	۶۸
۷۶	د حضرت عائشی بنت جعفر صادق ذکر	۶۸
۷۷	د رباح قیسی د بی بی ذکر	۶۹
۷۸	د حضرت فاطمی نیسابوری ذکر	۶۹
۷۹	د حضرت رابعی یا د حضرت رابعی شامیی بنت اسماعیل ذکر	۷۰
۸۰	د حضرت ام هارون رح ذکر	۷۱
۸۱	د حبیب عجمی رح د بی بی چہ حضرت عمر رہ دہ د دی ذکر	۷۱
۸۲	د حضرت امۃ الجلیل رح ذکر	۷۲
۸۳	د حضرت عبیدی بنت کلاب ذکر	۷۲
۸۴	د حضرت عفیرہ عابدی رح ذکر	۷۲
۸۵	د حضرت شعوانی رح ذکر	۷۳
۸۶	د حضرت آمنی رملیی رح ذکر	۷۳
۸۷	د حضرت منفوسی رح بنت زید بن ابی الفوارس ذکر	۷۴
۸۸	د حضرت سیدی بنت حسن بن زید بن حسن ابن علی رضی اللہ عنہم ذکر	۷۵

نمبر	مضمون	صفحہ
۸۹	د حضرت میمونہ سودا رض ذکر	۷۵
۹۰	د حضرت ریحانہ لجنونہ رض ذکر	۷۶
۹۱	د حضرت سری سقطی دیوی مریدی ذکر	۷۶
۹۲	د حضرت تمفی رض ذکر	۷۷
۹۳	د حضرت جویریی رض ذکر	۷۹
۹۴	د حضرت شاہ شجاع کرمانی دلور ذکر	۸۰
۹۵	د حضرت حاتم اصم رح د کوچنی لور ذکر	۸۰
۹۶	د حضرت ست الملوک ذکر	۸۱
۹۷	د ابو عامر واعظ د مینځی ذکر	۸۱
۹۸	رسالۃ کسوۃ النسوۃ	۸۳
۹۹	فصل اول د اصلی بهشتی زیور په ترغیبی مضمون کښی دی	۸۴
۱۰۰	د نیکو بیبیانو خوی، تعریف او درجی د قرآن او حدیث څخه	۸۴
۱۰۱	د آیتونو مضمون	۸۵
۱۰۲	د حدیثونو مضمون	۸۶
۱۰۳	د دهم فصل د کنز العمال په ترغیبی مضمون	۸۹
۱۰۲	اضافات د مشکوٰۃ شریف څخه	۹۵
۱۰۶	د یم فصل د بهشتی زیور په ترهیبی مضمون	۹۶
۱۰۱	د بنځو پر بعضو عیبونو نصیحت د قرآن او حدیث	۹۶
۱۰۱	د آیتونو مضمون	۹۶
۱۰۱	د حدیثونو مضمون	۹۷
۱۰۱	اوله ضمیمه بهشتی جوهر د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب راوپاکو خویونو اوعادتونو بیان.	۱۰۱
۱۱	دوهمه ضمیمه - ماخوذ د اصلاح النساء څخه	۱۱۹
۱۱	د عشق ذکر	۱۲۰

نمبر	مضمون	صفحہ
۱۱۲	د واعله ذکر	۱۲۱
۱۱۳	د حضرت لوط علیه السلام د بنځی ذکر	۱۲۲
۱۱۴	د صدوف ذکر	۱۲۳
۱۱۵	د ام بیل ذکر	۱۲۴
۱۱۶	د نائله ذکر	۱۲۶
۱۱۷	د بلعم باعور د بنځی ذکر	۱۲۷
۱۱۸	د هغی بنځی ذکر چه یحیٰی ع ئی وژلی دی	۱۲۷
۱۱۹	د شمسون د بنځی ذکر	۱۲۹
۱۲۰	د هغی بنځی ذکر چه پر جریج ئی تهمت لگولی دی.	۱۳۰
۱۲۱	د بنی اسرائیلو دیوی بی رحمه بنځی قصه	۱۳۱
۱۲۲	د بخوانیو امتونو دیو بد ذاتی بنځی قصه	۱۳۲
۱۲۳	د بنی اسرائیلو دیوی مکاری بنځی قصه	۱۳۳
۱۲۴	د ام جمیل ذکر	۱۲۴
۱۲۵	کومی بنځی چه د فتح مکه په ورځ وژل سویدی	۱۲۵
۱۳۰،۱۲۵	د زینب بنت حارث ذکر - دیهودی لبید لونو قصه	۱۳۶
۱۲۶	د سلمی قصه چه د حارث لور وه.	۱۳۲
۱۲۸	د قطامه قصه	۱۳۷
۱۲۹	د جعدۃ قصه چه د اشعب لور وه	۱۳۹
۱۳۰	د بی بی زلیخا ذکر او قصه	۱۳۹
۱۳۱	د هغی بنځی قصه چه قارون تحریک کړی وه	۱۴۰
۱۳۲	د هغی بنځی قصه چه د خپلی گناه اقرار ئی کړیدی	۱۴۱
۱۳۳	د هغی بنځی قصه چه د غلا څخه ئی توبه کښلی ده	۱۴۳
۱۲۴	د سجاح ذکر	۱۴۳
	تنبیه - یاد داشت	۱۴۴

د اصلی بهشتی زیور اتمه حصه

بسم الله الرحمن الرحیم ط

دنیکو بی بی گانو د حال په بیان کښی دے

(۱) دلوستونکو د دین د همت او غیرت زیاتولو د پاره باب

د نیکو بی بی گانو د بیان څخه مخکی د برکت د پاره د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم لږ څوندی بیان کیږی د پاره د دی چه ویونکی او لوستونکی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د ده مبارک صلی الله علیه وسلم عادات او اخلاق هم وپیژنی او ورسره معلوم سی چه محبت ئی ورسره پیدا سی او پیروی ئی وکړی او د اخبره هم ده چه دوی ټولو ته د نیکی دولت د مبارک علیه السلام په برکت ورپه برخه سوید ی د یخوا نیو امتونو بی بی گانو خو د نورو[۱] څخه اوده دی امت و بی بی گانو ته د ده شرعی څخه ورپه برخه سوید ی نو په دی وجه اول د ده صلی الله علیه وسلم ذکر لیکل کیږی او بیا د بی بی گانو حال شروع کیږی.

(۲) د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د پیدایش، وفات او د اسی نورو شیانو بیان[۲] باب

د ده مشهور نوم - محمد (صلی الله علیه وسلم) دی - د ده د پلار نوم عبدالله چه زوی د عبدالمطلب زوی د هاشم زوی د عبدمناف دی د ده صلی الله علیه وسلم د مور نوم آمنه ده او د دی د پلار نوم وهب دی د وهب د پلار نوم عبدمناف دی د عبدمناف د پلار نوم زهره او د اعبدمناف بل دی - او د دوشنبی په ورځ سوه د کعبی د خرابولو د پاره پرکعبه شریفه باندی د حملی کولو د پاره[۵] راغلی ؤ. مبارک صلی الله علیه وسلم پیدا سو. او رسول الله صلی الله علیه د پنځو کلونو

اودۀ(۲) وو وخو وو چه دده رضاعی مور یعنی شیدی اوتی ورکونکی مور (چه نوم ئی حلیمه سعدیه وو) مبارک صلی الله علیه وسلم دخپلی مور په حواله کړی هر وخت چه مبارک علیه الصلوٰة والسلام دشپږو(۶) کالو وعمر ته ورسیدی نو خپلی مور د خان سره د خپل پلار کور ته بوتلی یعنی بنی نجار قبیلی ته او یوه میاشت ورو سته چه بیرته دهغی خوا راروانه وه د - ابواء(۷) - پر مقام ئی وفات وکړی. ام ایمن هم ورسره وه - نو مبارک صلی الله علیه وسلم و مکی شریفی ته ام ایمن راورساوی او د نبی صلی الله علیه وسلم تربیه کید و مخکی ددۀ پلار وفات سوی وو - چه ام ایمن مبارک صلی الله علیه واله وسلم و مکی شریفی ته راورساوی نو ددۀ نیکه عبد المطلب ئی پالنه شروع کړه بیا ئی نیکه وفات سو نو بیا ددۀ اکا ابو طالب ئی پرورش او پالنه کوله اودی ئی د خان سره د شام وخواته د تجارت د پاره بوتلی چه په لار(۸) کښی بحیرا نامی راهب چه د نصاریٰ عالم وو او یود رویش وُو - مبارک صلی الله علیه واله وسلم ئی ولیدی. نو ددۀ صلی الله علیه وسلم پرا کائی تاکید وکړی چه ددۀ صلی الله علیه واله وسلم حفاظت اوساتنه کوه دا نبی دی نو مبارک صلی الله علیه وسلم ئی بیرته و مکی شریفی ته راواستاوی.

بیا ددۀ صلی الله علیه واله وسلم خپله د حضرت خدیجة(۹) الکبری مال د تجارت د پاره د شام ته یووړی بیا په لار کښی نسطورا نامی راهب چه عالم او د رویش د نصاریٰ وو - ددۀ صلی الله علیه وسلم د نبوت شاهدی ادا کړه او چه هر وخت بیا دی صلی الله علیه واله وسلم د شام څخه بیرته راغلی. نو د حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالیٰ عنها سره ئی نکاح وسوه. په دغه وخت کښی ددۀ مبارک صلی الله علیه واله وسلم عمر پنځه ویشت(۲۵) کاله وو او حضرت خدیجة الکبریٰ رضی الله تعالیٰ عنها د څلویښتو کلونو وه. بیا نو مبارک صلی الله علیه وسلم د څلویښتو کالو په عمر کښی نبی سو - او مبارک صلی الله علیه وسلم د دو پنځوس یا درو پنځوس کالونو په عمر کښی په معراج(۹) سره مشرف سو - تر نبوت وروسته دیارلس کاله په مکه شریفه کښی پاته سو بیا کفارو د پیر تنګ کړی نو د خدای تعالیٰ په حکم سره مدینی

(۲) اودۀ = اوښه (۶) شپږو = شپږ (۷) ابواء = مکی معظمی او مدینی منورې ترمنځ کښی یو ځای (۸) لار = ځمکه (۹) خدیجة = د خویلد لور (۹) معراج = د ۲۷ رجب شپه

شریفی ته ولاړی او د هجرت په دوهم کال د بدر[۱] غزا پیښه سوه بیا نوری غزاوی پیښی سوی چه پتولی لوی او وړی غزاوی و پنځه دیرش ته رسیږی.

او د ده مبارک مشهوری نکاحی د یوولسو بی بی گانو سره سویدی چه په دوی کښی دوه[۲] بی بی گانو د ده مبارک صلی الله علیه وسلم په ژوند کښی وفات کړیدی چه یوه حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها اوبله حضرت زینب رضی الله تعالی عنها ده چه د خزیمه لور ده اوبنی صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کښی نه[۹] ژوندی وی. حضرت سوده[۱] رضی الله تعالی عنها حضرت عائشه[۲] رضی الله تعالی عنها، حضرت حفصه[۳] رضی الله تعالی عنها، حضرت ام سلمه[۴] رضی الله تعالی عنها، حضرت زینب[۵] رضی الله تعالی عنها د جحش لور، حضرت ام حبیبه[۶] رضی الله تعالی عنها حضرت جویریه[۷] رضی الله تعالی عنها، حضرت میمونه[۸] رضی الله تعالی عنها اوحضرت صفیه[۹] رضی الله تعالی عنها. او د مبارک صلی الله علیه وسلم څلور لونی وی په پتولو کښی مشره حضرت زینب[۱۱] رضی الله تعالی عنها ده او تردی کشره رقیه[۱۲] رضی الله تعالی عنها ده تردی بیا کشره ام کلثوم[۱۳] رضی الله تعالی عنها ده او تر پتولو کشره فاطمه رضی الله تعالی عنها ده. د غه پتولی د حضرت خدیجی رضی الله تعالی عنها داولادی څخه دی. او دری یا څلور یا پنځه دده مبارک صلی الله علیه و آله وسلم زامن وه اول حضرت قاسم رضی الله تعالی عنه، دوهم حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه دریم حضرت طیب رضی الله تعالی عنه او څلرم حضرت طاهر رضی الله تعالی عنه دا د حضرت خدیجی رضی الله تعالی عنها څخه دی. اویو حضرت ابراهیم رضی الله تعالی عنه د حضرت ماریه رضی الله تعالی عنها څخه دی چه د مبارک علیه السلام مینځه وه. او ابراهیم رضی الله تعالی عنه په مدینه شریفه کښی دتږد لو په وخت کښی وفات سویدی. په دی طریقه سره څو پنځه سوه. او بعضو ویلی دی چه د عبدالله نوم طیب هم دی نو دا رنګه څلور سوه او بعضو ویلی دی چه طیب هم د عبدالله نوم دی او طاهر هم د عبدالله نوم دی دا رنګه دری[۳] سوه. او حضرت عبدالله تر نبوت وروسته پیدا سوی دی او په مکه کښی وفات سویدی او نور تر نبوت مخکی پیدا سویدی.

او تر نبوت محکی وفات سویدی۔ او مبارک علیه السلام تر لسو کالو پورې په مدینه منوره کښې واوسیدی۔ بیاد چهارشنبې په ورځ د صفر د میاشتې دوی ویشتمې پاته وی چه دی مریض سو او د لومړۍ خور د میاشتې په دوولسمه د دوشنبې په ورځ د غابنت په وخت کښې د شپیتو کالو په عمر کښې وفات وکړی او د سه شنبې په ورځ تر غرمې وروسته دفن کړل سو۔ او بعضو ویلی دی چه د سه شنبې ورځ تیره سوی وه شپه راغلی وه او د غه غونډ د د غه سبب وسو چه صحابه رضوان الله علیهم د پیرغم او صدمې د سبب د اسې پریشانه وه چه د یوه هوش او فکر د روست او برابر نه وو۔ او د حضرت صلی الله علیه واله وسلم په لوپوکښې د حضرت زینبې رضی الله تعالیٰ عنها یو هلک پیدا سویدی په نامه د علی رضی الله تعالیٰ عنه او یوه ځوی پیدا سویده په نامه د امامه رضی الله تعالیٰ عنها د غو دواړو هیڅ نسل نه دی پاته سوی۔ د حضرت رقیه رضی تعالیٰ عنها یو هلک پیدا سوی دی په نامه د عبد الله رضی الله تعالیٰ عنه چه پر شپږ کاله ځی وفات وکړی او د حضرت ام کلثوم رضی الله تعالیٰ عنها هیڅ اولاد نه دی پیدا سوی او د حضرت فاطمې رضی الله تعالیٰ عنها څخه حسن او حسین رضی الله تعالیٰ عنهما پیدا سویدی چه د دوی دوو اولاد دو نه اوښلی۔ په ډیر کثرت سره غوښیدلی دی

۳ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم د مزاج اوعاداتو بیان

مبارک صلی الله علیه وسلم ډیر په زړه سخی وُو هیڅ سوال نګرته ځی۔ نه۔ نه ده کړی که به چیرې څه شی ورسره وو نو سائل ته ځی ورکاوی او که به نه وو ورسره به ډیره نرمی سره ځی پوره کاوی چه اوس زما سره شی نسته چه بیا ځی پیدا کړم درکوم ځی او مبارک علیه السلام به خبروکښې ډیر ښتیا ګویه وو۔ د ده طبیعت ډیر نرم وو په ټولو کارونوکښې ځی د سهولت او اسانی څخه کار اخستی کوم څوک چه به وز هیڅ قسم تکلیف ورونه رسیږی۔ تر داسې حده چه د شپې چه یو وخت د تلو ضرورت به پیښیدی نو په ډیره کراره سره به ځی څپلی مبارکې په پښو کولی او په ډیر احتیاط به ځی درواځه خلاصوله ډیر اهسته اوارام به د باندې تلی او چه کور ته به ځی تشریف راوړی هغه وخت چه کور والا به بیده وه نو به ځی خپل ټول کارونه په ارام او کراره سره کول۔

د پاره د دی چه دیو بیده خوب خراب نه سی۔ همیشه ئی کښته و محکه ته کتل چه
په ډیرو خلگو کښی به روان وو نو د نورو څخه به ورو سته پاته کیدی چه څوک
به د سړه مخامخ سو نو په سلام اچولو کښی به تر مخکی کیدی او په ډیره عاجزی
سره به کښینستی چه ډوډی به ئی خوړله نو ډیر به د غریبانو په شکل سره کښینستی
ډوډی به ئی خوړله۔

هیڅکله ئی د وندی ډوډی نه خوړله چه په موږ سوی وای هر څخه به د
خدای تعالیٰ د خوف څخه غمگین او سیدی۔ بیله ضرورته ئی خبری نه کولی هر
څخه چه به ئی خبری کولی د اسی صافی خبری ئی کولی چه هر څوک به د ده په خبره
پوهیدی د ده مبارک خبره نه د وندی او بزده وه چه تر ضرورت زیاته وای۔
او نه د وندی قدر کمه وه چه څوک په پوره نه سی په خبره کښی ئی زړه سختی
نه وه نه ئی د خلگو سره په گډاره کښی کومه سختی وه چه کوم څوک به ورته
راتلل د هغوی بی عزتی او بی قدری ئی نه کوله د چا خبره ئی پرې نیمی نه وریږیکوله
البته چه د شرعی خلاف به یو خبره کیده نو د ده مبارک صلی الله علیه واله و
سلم به منعه کوله یا به د هغه ځایه څخه ولاړیدی د خدای نعمت چه
هر څوندی به لږ او کم وو د ده مبارک به ډیر غټ او لوی بالی هیڅکله به ئی په
د غه کښی عیب نه پیدا کاوی چه خوند ئی منه نه دی یا به بویه دی۔ البته
چه هر شی ته به ئی زړه نه غوښتی هغه به ئی خپله نه خوړی او نه ئی
د د غه شی تعریف کاوی او نه ئی عیب پکښی پیدا کاوی د د نیا چه هر قسم خبره
وای د د غی د وجهی ئی غصه او قهر نه کاوی۔ مثلاً چه دیو چا د لاسه به یو تاوان
پیښ سو یا به یو چا کار خراب کړی۔ تر داسی حده چه حضرت انس رضی الله تعالیٰ
عنه فرمایلی چه ما تر لسو کالو پوری د نبی علیه السلام خدمت وکړی په د غه لسو[10]
کالو کښی چه ما هر څه وکړه د ده مبارک صلی الله علیه واله وسلم دا نه دی
د غه دی ولی داسی وکړه او هر کار چه ئی نه دی کړی د ده صلی الله علیه واله وسلم دا سی
پوښتنه نه د ده کړی چه د غه کار دی ولی و نه کړی۔ البته که یو خبره خلاف د دین

[10] لسو

وه نو دغه وخت د ده د غصی تاب هیڅانه سو او هر لای پخپله ذاتی معامله کښی د ده
د چا سره خفګان او ناراضګی نه ده کړی چه د یو چا څخه به ناراضه سو نو صرف مخ
به ئی څنډی واړوی یعنی په ژبه سره ئی هیڅ سخت او بیکاره نه ویل او چه د یو چا
څخه به خوشحاله سو نو نظر او ونګاه به ئی د مخکی وخوا نه کوله یعنی شوم ئی په
دوندی اندازه کښی وُ لکه د پیغلی شوم او حیا چه ده ـ

چه د پیره خندا به ور غله نو تبسم به ئی کاوی یعنی په زوره سره ئی نه خندل
په مجلس کښی به د عامو خلګو په شان کښینستی په داسی طریقه سره نه کښینستی چه په
ټولو کښی معلوم وای او یو غټ حیثیت ئی ځان ته پیدا کړی وای. نه دده دناستی
څخه کوم شان او شوکت معلومیدی بلکه یو وخت وخت به ئی د یو چا دزړه ـ د
خوشحاله کولو د پاره خندا مسخری هم فرمایلی لیکن په دغو مسخرو کښی هم هغه
خبری فرمایلی چه رشتیا او صادق ئی به وی نفلونه ئی د غوندی اندازه فرمایل
چه په د پیره ولاړه سره به ئی پښی و پرسیدی هر وخت چه به ئی قرآن شریف وایه
یا به ئی اوریدی نو د خدای د خوف او بیری محبت او مینی څخه به ئی زړه عاجزی
ئی د دوندی اندازه په طبیعت کښی پرته وه چه خپل امت ته ئی ویل چه مانه د پیره
لوړه د سر جه مه ثابتوی چه زما ترشان بالاوی او چه یو عزیب یا خدمتګار به ورته
ودریدی ورته و به ئی ویل چه زه ستاسره پته خبره لرم نو ده به فرمایل
چه ښه دی یو ځای کښینه نو هغه چه به هر ځای کښینستی دی مبارک به هم
هلته ورسره کښینستی کومه خبره چه به وه هغه به ورته وکړه. چه یو
څوک به مریض سوکه به امیر و وا او که به غریب و و پوښتنه به ئی پر کوله چه د
یو چا به جنازه وه ده به تشریف وړوړی ـ که یو غریب یا غلام نوکر به د میلمستیا
دعوت ورکړی دی مبارک صلی الله علیه وسلم ورته لی شرکت ئی کاوی که به یو
چاد اوربشنی د دوډی یا بلی خوندوره شوروا دعوت او میلمستیا ورته کوله ـ ده د
نه تلو عذر نه ورته کاوی. بلکه میلمستیا ئی قبلوله ـ د خولی مبارکی څخه ئی یوه
بیکاره خبره نه وتله د هر چاد لجونی ئی کوله کوم یو د اسی حرکت او رفتار ئی نه
کاوی چه د هغه څخه څوک د بیریږی د ظالمانو او ضرر ناکه خلګو څخه ئی په ښه
خوش اخلاقی او ورین تندی سره ځان خلاصاوی او په د یر ښه اخلاق او خندړو یم
مخ به ورسره مخامخ کیدی. د ده مبارک د مجلسیانو څخه چه به یو وخت یو څوک

دده مبارک علیه السلام په مجلس کښی حاضر نه سو نو ده مبارک به دهغه پوښتنه
کوله چه فلانی چیری دی ولی نن نه دی راغلی. هر کار ئی پر قاعده برابر کاوی۔ داسی نه
وچه یو وخت به ئی یو څه کوله بیا به ئی بل څه کوله

چه پورته کیدی به نو به ئی خدای پاک یاد اوی هر وخت چه به
کښینستی هم به ئی خدای پاک یاد اوی۔

څه وخت چه به ئی یو مجلس ته تشریف وړو پری داسی به ئی نه کول چه
د خلګو پرسره واوبړو به ئی پښی اړولی یو ښه نمایشی اوغوړه ځای ته به ئی
ځان رساوی او هلته به کښینستی نه داخبره نه وه چه د خبرو په وخت کښی
به د پیر خلګ وه نو واړه به ئی هریوه ته مخ وړاړاوی خپلی خبری اوخطاب
ئی کاوی داسی خبره نه وه چه یوه طرف ته به ئی توجه وه او نور وته به ئی
کتل هم نه۔ د ټولو سره ئی دامی ګډاره وه او داسی چلن ئی کاوی. چه د هریوه
به داخیال وو چه زه تر ټولو پرګران یم چه یو څوک به د یو کار یا خبری د
پاره د ورته راغلی وړته کښی به نسته خبری به ئی ورته شروع کړی نو مبارک
علیه السلام دده په خاطر نه خندی ولاړیدی ورسره ناست به وو چه هر
وخت به اول هغه ولاړ سو بیا به دی مبارک صلی الله علیه وسلم ولاړیدی
دده مبارک اخلاق د هرچا سره عام وه د هرچا سره ئی یو قسم چلن اورفتار
کاوی او چه کورته به ئی تشریف یووړی نو پر بالښت به ئی څنګ واچاوی دپاره
دارام او استراحت.

دکور د پیر کار و نه به ئی په خپل لاس کول، یو وخت به ئی بزه لوشله یووړه
به ئی خپل کالی پاکول خپل کار ئی اکثره وخت په خپل لاس کاوی۔ هرڅوندی
بد سړی چه به ورسره مخامخ سو نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
به په ډیر ښه اخلاق سره ورسره پیش سو او ترڅان به ئی تیر کړی او د دغه
بد اخلاقه سړی دل شکنی ئی نه کوله. غرض دا چه مبارک علیه السلام تر هر
چا او ټولو خلګو خوش اخلاقه وو. که به د چا څخه یو بیکاره خبره یا بد
صوف شی مند ه او ذلیله کړی نه ئی په طبیعت کښی سختی وه او نه ئی یو وخت ځان
قهرمن او سخت ښکاره کاوی۔ لکه د بعضو کبر جنو خلګو چه عادت دی چه دچا

د بیرولو او پیشرو ورکولو د پاره خپل ځان غضبناک او یوهغه فیل زمری ښکاره کړی او چې او راست بې غیرتی خرابوي فیل والي نه ددې عادت دی شو ورکولو او چغوناړو وهلو وو۔ چه یو چا به ددې مبارک سره بدکول د مبارک هیڅ وخت ددې سره بدنه کول بلکه معافي او درګذرئ کاوی۔

هیڅ وخت ئې یو مرلي یا خدمتګار یا یو بنځه بلکه یو حیوان ئې لاهم نه دی وهلی په خپل لاس سره او د شریعت په حکم سره خو یو چا ته سزا ورکول بله خبره ده که یو چا زیادتی ورسره کوله نو ددې مبارک ئې بدله نه اخسته۔

هروخت به خندې رویه او سیدی ترش به نه کښینستی چه ورځې او تندی ئې سره اچولی وای لیکن دا مطلب ئې نه دی چه بې غمه به او سیدی ځکه چه مخکې تیر سو دا بیان چه هروخت به په فکر او غم کښې او سیدی۔ مزاج مبارک ئې ډیر نرم درنه ئې په خبره کښې سختی او نه ئې په ګذاره او چلن کښې سختی او بې باکی وه۔ چه نه داسی وو چه هرڅه به ئې زړه وغوښته بس هغه به ئې نو ګل ویل بیله دی چه دا به یو بد اثر وښندی نه ئې دیو چا د عیب بیانوی نه ئې د یوشی په ورکولو کښې منعه کوله د دی خصلتو نو بوی هم نه وپکښې مثلاً ځان غټ بلل خپله لوبي بې غوله د چا سره بحث کول په کومه خبره کښې چه هیڅ فایده نه وی په هغه خبره کښې ورغوړیدل. نه ئې د چا سره بدکول نه ئې د هغه بدبیانول نه ئې د چا د عیب د پیدا کولو کوشش کاوی هغه خبره ئې د خولې مبارکې څخه را ایستل چه د ثواب خبره به وه چه دیو صحرا او بیابانه څخه به یو څوک راغلی یعنی یو صحرایي به وو نو چه په خبرو، پوښتنه یا وینا کښې به ئې بدتمیزی او بې ډرکی کوله مبارک صلی الله علیه وسلم به برداشت کاوی او د صبر څخه ئې کار اخستی او یو چا ته ئې دا موقع نه ورکوله چه د ددې مبارک صفت او تعریف وکړی او په حدیثونو کښې ډیری ښې ښې خبرې د آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم د اخلاقو لیکل سوی دی څوندی چه موږ دلته بیان کړی که عمل په وکړی دا هم ډیری دی. اوس نو د نیکو او ښو ښځو او بې بې ګانو حال واوره۔

(۱)	د حضرت حوا علیها السلام ذکر	(۱)

دا د حضرت آدم علیه السلام بې بې (ښځه) او د تمامی دنیا د انسانانو مور ده۔ الله

تعالیٰ دا په خپل کامل قدرت سره د حضرت ادم علی نبینا و علیه الصلوٰة والسلام
د چپه پښتی څخه پیدا کړه او بیائی ددی سره نکاح وکړه او په جنت کښی ئی داوسیدلو
د پاره ځای ورکړی او هلته یو درخته وه د هغی د خوړک څخه ئی منعه کړی
وه د دی په غلطی سره د شیطان په لغزش کښی راغلل او د هغی د رختی څخه
ئی خوړک وکړی نو ددی خوړک په وجه د خدای تعالیٰ حکم وسو چه د جنت څخه
ولاړ سی دنیاته ـ هرکله چه دنیاته راغله پرخپلو خطاؤ ئی د پیروشرمیل خدای
تعالیٰ دوی معاف کړل او اول د حضرت آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام څخه
جلاسوی وه خدای تعالیٰ بیرته ورسره یو ځای کړه بیا نو د دواړو څخه بی
حسابه اولاد ونه پیدا سول.

فائده ۱ـ بی بی گانو وگورئ حضرت حوا د خپلی خطا اقرار وکړی او توبه
ئی وکړه بعضی بښځی غلطی کوی او بیا هم خبری جوړوی هیڅکله غلطی نه منی
پرخپل ځان خبره نه راولی او داسی ډیری بښځی دی چه ډیر عمر گناوی کوی ـ او
پریږدی به ئی نه خصوصًا غیبت او درواجونو پابندی نو داسی کارونه خامخا
پریښول په کار دی او توبه کول په کار ده.

(۲) د حضرت نوح علیه السلام د مور ذکر (۲)

په قرآن شریف کښی راغلی دی چه نوح علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام دخپلی
ځانه سره دخپلی مور د پاره هم دعا کړیده که په تفسیرونو کښی لیکل سویدی چه
د ده مور او پلار مسلمانان وه. فائده ۱ـ وگورئ د ایمان څونده برکت دی چه
ایمانداره د پاره پیغمبر هم دعا کوی. بی بی گانو خپل ایمانونه محکم او مضبوط کړی

(۳) د حضرت سارة علیها السلام ذکر (۳)

د د حضرت ابراهیم علیه السلام بی بی او د حضرت اسحٰق علیه السلام مورده
د دی د فرشتو (ملائکو) سره خبری او د ملائکو د دی ته دا دیل چه پرتاسو ټولو
کور والاو د خدای رحمت او برکت دی په قرآن شریف کښی د دی پرهیز گاری ذکر سوی
ده او د دی د عاد قبلید و یو قصه په حدیث شریف کښی راغلی ده ـ (بخاری شریف)
چه هرکله حضرت ابراهیم علیه السلام هجرت وکړی و شام ته ولاړ نو د اهم په سفر

کښی د سارې وه په لار کښی د یو ظالم بادشاه لی راغلی د غه بد بخته یو چا خبر کړی
چه ستا و بادشاهی ته یو ډیره ښایسته او خو بصورته بی بی راغلی ده د غه ظالم
بادشاه حضرت ابراهیم علیه السلام راو غوښتی او پو ښتنه ئی وکړه چه ستا
سره ملګری ښځه ستا څه ده وه مبارک ورته وفرمایل چه زما د دین خور ده
ښځه ئی د دی سبب نه ویله چه ده به د ښایسته ښځی خاوند مړ کاوی. نو
چه دهغه څای څخه راغلی نو حضرت سارې رضی الله تعالیٰ عنها ته ئی وفرمایل
چه زما خبره مه د رواغ کوه داغسی لکه چه ما وویل ته په دین کښی زما خور
ئی ـ نو چه هر کله د غه ظالم با چا حضرت سارې رضی الله تعالیٰ عنها بوتله نو هر
وخت چه دی ته معلومه سوه چه د ده نیت خراب دی نو دی مبارکی او دس
وکړی لمونځ ئی وکړی او دعا ئی وکړه چه ای الله که زه چیری ستا پر پیغمبر ایمان
راوړونکی او د رسولونکی او همیشه د خپل عزت ساتونکی یم نو د غه کافر ته پر ما
قدرت مه ورکوی. (مطلب ئی دا دی چه زه ضرور مسلمانه یم پس نو د اسلام او ایمان
په برکت سره ما د دی بلا څخه خلاصه کړی دا شرط د پاره د تاکید د مضمون دی. د
شک د کید و د پاره نه دی) پس د ده دا حال سو چه ډیر بی تابه او بی قراره سو
لاسونه او پښی به ئی سره غوړول د تکلیف د وجهی څخه بیا ئی خوشامد او
زاری شروع کړی او وئی ویل چه ای بی بی خدای ته دعا وکړه چه زه بنه سم زه پخه
وعده د سارې کوم چه هیڅ نه د رته وایم دی مبارکی ته هم دا فکر پیدا سو چه
که چیری مړ سی نو خلګ به وایي چه د غی ښځی به وژلی وی ـ غرض د ده د
بنه والی دعا ئی وکړه قبولا بنه سو.

د ه ظالم بیا د شرارت او فساد اراده وکړه د دی مبارکی بیا بنراو ونه وکړه
چه د ه بیا زاری او خواستی ورته شروع کړی د ی بیا دعا ورته وکړه ـ غرض
درېمی (۳) واړه داغسی قصه پیښه سوه آخیر ئی چیغی او زاری کړلی چه تاسی څه بلا
وماته راوستلی ده دا رخصت کړی او حضرت هاجره رضی الله تعالیٰ عنها چه د قبطیانو
د قومه څخه وه او د غه ظالم با چا په ظلم سره راوستلی وه مینځه ئی وکنده جوړه
کړی وه او داغه رنګه خدای تعالیٰ د دی عزت هم ساتلی وو د خدمت د پاره ئی د
حضرت سارې رضی الله تعالیٰ عنها په حواله کړه ـ ماشاء الله په عزت او اپرو سره
و حضرت ابراهیم علیه السلام ته ورغله.

فائدہ ۱۔ بی بی گانو وگوری پارسائی او پرهیزگاری څنګه د برکت شی دہ د دغسی انسان الله څنګه نګهبانی او ساتنه کوی او داهم معلومه سوه چه په لمانځه سره مصیبت او غم لیری کیږی او دعا قبلیږی چه هر څوک پریشانه سی بس نفلونه او دعاوی دی کوی۔

(۴) دحضرت هاجره علیها السلام ذکر (۴)

اوس په مخکنی قصه کښی دا بیانیږی سو چه حضرت سارہ رضی الله تعالی عنها ته حضرت هاجره رضی الله تعالی عنها د غه ظالم بادشاه د خدمت د پاره ورکړه کومه چه ده په زور د ځان د پاره مینځه گرزولی وه نو دې چه را وسته نو خپل خاوند حضرت ابراهیم علیه السلام ته ئی ورکړه او د د ی څخه حضرت اسماعیل علیه السلام پیدا سو۔ تر اوسه لا حضرت اسماعیل علیه السلام شیدی رودلی د ت څخه نه وو پری سوی چه خدای پاک ته منظور سوه چه مکه شریفه د حضرت اسماعیل علیه السلام په اولاد سره اباد ه کړی په د غه وخت کښی د غه ځای څنګل وو او کعبه شریفه هم نه وه جوړه سوی الله پاک د حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم وکړی چه حضرت اسماعیل علیه السلام او د ده مور هاجره رضی الله تعالی عنها په د غه میدان کښی پریږده زه د دوی نګهبان یم د خدای د حکم موافق۔ حضرت ابراهیم علیه السلام مور او کوچنی د واړه یوو ړه په هغه څنګل او بیابان کښی چه اوس هلته مکه اباده ده پری ئی بنوولـه او د د وی سره ئی یوکوچنی ژی (چاګله) د اوبو او یوه کڅوړه د خورما کښیښوولـه هروخت چه ابراهیم علیه السلام د د غه د بنت ته ورسیدی نو بیرته راروان سو۔ نو حضرت هاجره علیها السلام د د ه په دروسته پسی ورروانه سوه او پوښتنه ئی وکړه چه موږ اوس دلته یوازی پریږدی۔ حضرت ابراهیم علیه السلام هیڅ جواب ورنه کړی بیا دی مبارکی پوښتنه وکړه چه خدای تعالی تاته د د غه حکم درکړیدی۔ نو حضرت ابراهیم علیه السلام جواب ورکړی چه هوکی۔ نو دی مبارکی وفرمایل بس هیڅ غم نسته بس صرف الله پاک زموږ د حال خبر اخلی نو په حال هو خبر دی او په آینده حال موهم خبر یږی او خپل لمای ته ولاړه کښینسته او خورما وی ئی

وخوږلی او به ئې پسی وچښلی او حضرت اسماعیل علیه السلام ته ئې تی ورکاوی هر وخت چه دشړی او به ختمی سوی پرموږ اوزوی تنده غالبه سوه او د حضرت اسماعیل علیه السلام خو داسی حال خراب سو چه د ډیری تندی څخه لټ پر لټ او بنتی موږ په داسی حال کښی پرزوی ستړگی نه سوی رو ښولای او ورته کتلای ئې نه سوه او د او بو د پیدا کولو د پاره د صفا پرغره وخته او چار طرفه ئې وکتل چه شاید یو څای به او به وینم چه هر وخت ئې هیڅ څای او به نه ولیدلی نو د دغه غره څخه راکښته سوه بل غره ته چه مروه ئې نوم دی روانه سوه چه پرهغه وخیژی شاوخوا وگوری د دی دواړو غرو او غونډیانو په منځ کښی یو لږ څه ژور څای وو نو چه دا به پر هوار ه محکه تله خپل زوی به ئې لیدی نو چه د دغه ژور څای ته به ور غله پکښی روانه به وه خپل زوی به ئې نه لیدی نو په دغه څای کښی به دا په ځغاسته تله - غرض چه دغه بل غره او غونډی ته به وخته شاوخوا ئې وکتل هلته ئې هم او به په نظر نه ور غلی او بیا د دغه مروه غونډی څخه راکښته سوه - صفا ته روانه سوه -

غرض دا چه او وه (۷) واړه د صفا او مروه وغونډیو ته وختله او راکښته سوه او دغه مابین "ژور څای" ئې په ځغاسته پریکاوی دغه عمل او کاړ دالله پاک د وندی خوښ سو چه حاجیانو ته ئې د همیشه همیشه د پاره د غسی حکم ورکړی چه د د واړو غونډیو په منځ کښی به او وه (۷) پیړی لګوی او دغه تګره محکه به چه ژور ه وه او اوس هغه هم برابره محکه سویده په ځغاسته او چابکتیا سره پری کوی غرض په اخیره پیړه کښی حضرت هاجره علیها السلام د مروه پرغره وه چه د دی وغوږ وته یو آواز غونډی شی راغلی د دغه آواز وطرف ته ئې غوږ ونیوی و د سیده هغه آواز ئې بیا وغوږ ته راغلی لیکن آواز کونکی هیڅوک نه وینی حضرت هاجری نارې وکړه وی ویل چه ما آواز واوریدی که یو څوک کومک کولای سی نو کومک دی وکړی.

هغه وخت کوم چه اوس د زمزم د او بو څاه دی یوه فرشته (ملکه) بنکاره سوه او خپل بازو ئې پرمحکه وواهی او د دغه ځایه څخه او به راوغورځیدی دی دخلورو طرفونو څخه د خاورو موپی ورته جوړی کړی او به ئې بندی کړی او شړی مشکیزه ئې ځندی چه کړه خپله ئې هم وچښلی او خپل زوی ته ئې هم ورکړی فرشتی (ملکی)

وویل ورته چه هیڅ فکر او غم مه کوه پرد غه ځای د خدای کور یعنی کعبه
د غه هلک به د خپل پلار سره ملګری سی او کعبه به جوړوی او د لته آب
جوړیږی لکه چه په لږو ورځو کښی د پټو شیانو ظهور وسو نو یو څو و
پس یو قافله پرد غه طرف راغله هغوی چه او به ولیدی نو پاته سوه او په
ځای آباد سوه او د حضرت اسماعیل علیه السلام واده وسو او بیا حضرت
علیه السلام د خدای په امر او حکم سره تشریف راوړی پلار اوزوی په ګ
سره خانه کعبه جوړه کړه او د زمزم او به په هغه وخت کښی لاندی
ته شوه سوی وی نو د د غه سببه یو څه مده وروسته پرد غه
ځای جوړ سو - فائدې کار - وګورې د حضرت هاجری رضی الله تعالیٰ ع
پرالله پاک څونده او څرنګه زوروړ توکل وو . هروخت چه دی ته مع
سوه د اخبره چه په دښت کښی او سیدل د خدای تعالیٰ په حکم سره دی بیا
بی فکره سوه او بیا د د غه توکل کولو څرنګه څرنګه برکتونه بنکاره س
بی بی ګانو ستاسی د پاره هم داغسی توکل کول پرالله پاک باندی پ
دی انشاء الله بیا ستاسی پټول کار ونه پخپله برابریږی او وګورې د هغه
بزرګی او شرافت ته چه څغاستی خو د او بو د پیدا کولو د پاره وی او د خدا
پاک په درباره کښی د غه څغاستی څونده ی محبوبی سوی او څوندی ی
خوښی سوی چه د حاجیانو د پاره ئی د غه څغاستی عبادت مقرری کړ
بل قسم کیږی.

بی بی ګانو کوشش وکړی د خدای تعالیٰ حکم منی د پاره د دی چه تاسی
مقبولی سی او بیا ستاسی د دنیا کار هم په دین کښی شامل سی لکه د د ی رضی
الله تعالیٰ عنها د دنیا کار چه په دین کښی شامل سو .

(۵) د حضرت اسماعیل علیه السلام د د و همی بی بی ذکر (۵)

د بخاری شریف او نورو کتابو څخه

د خانه کعبی ترجوړولو مخکی د وه واړه حضرت ابراهیم علیه السلام نورهم
کی شریفی ته راغلی دی مګر اسماعیل علیه السلام به د واړه واړه په کور کښی نه وو او

د ډیر اوسیدلو او خندې کولو حکم او اجازه د خدای پاک د طرفه څخه نه وه نو هر
وخت چه ئې اول واړه تشریف راوړی په دغه وخت کښې د حضرت اسماعیل علیه
السلام په کور کښې یو بې بې (دده بنځه) وه د دی څخه ئې پوښتنه وکړه چه څه
حال دی دی څرنګه ګذاره دی کیږی دې ورته وویل چه ډیر تکلیف دی.

حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل چه هر وخت ستا خاوند راسی پرده
زما نه سلام ووایه چه دغه دخپلی دروازی چوکاټ دی بدل کړه لکه چه حضرت
اسماعیل علیه السلام وکورته راغلی نو ټول حال ورته معلوم سو.

اسماعیل علیه السلام وفرمایل چه هغه زما پلار وو او چوکاټ ته ئې هغه
داسی فرمایلی دی چه تا پریږدم نو دی ته ئې طلاق ورکړی بیائې دبلی بې بې سره
نکاح وکړه.

هرکله چه ابراهیم علیه السلام راغلی نو دغه بې بې په کور کښې وه - دی مبارکی
ئې ډیر عزت وکړی - حضرت ابراهیم علیه السلام د دی څخه هم دګذران پوښتنه وکړه
دې په جواب کښې ورته وفرمایل د خدای تعالی جل جلاله شکر دی په ډیر استراحت
کښې یم.

حضرت ابراهیم علیه السلام د دی دپاره دعا وکړه ورته وویه فرمایل چه هر
وخت دی خاوند راسی نو زما سلام پروایه او ورته ووایه چه دخپلی دروازی
چوکاټ برقرار ساته - چنانچه د حضرت اسماعیل علیه السلام ترڅو تلو وروسته
دغه حال هم معلوم سو - دده مبارک وخپلی بې بې ته وفرمایل چه دغه زما پلار
وو دامی ئې فرمایلی دی چه تا دخپله ځانه سره کړم او طلاق درنه کړم.

فایده:- وګورئ د ناشکری ثمره او میوه اولی بنځې ته څه شی ورکړه سوه
چه یو نبی ناراضه سو او بل نبی طلاق ته کړه د صبر او شکر میوه د دوهمی بنځې او بې بې
ته څه شی ورکړه سو چه یوه نبی دعا ورته وکړه او دبل نبی په خدمت کښې
ئې اوسیدل نصیب سوه - بې بې ګانو هیڅکله ناشکری مه کوی په هر حال کښې چه یاست
په صبر او شکر سره وخت تیروی.

(۶)	د نمرود کافر بادشاه دلور ذکر	(۶)

نمرود دهغه ظالم بادشاه دی چه ابراهیم علیه السلام ئی په اور کښی واچاوی
دده دغه ذکر سوی لور چه دد ی نوم (رعضه) وه لوړه او بالاوه دریده اوکتل ئی
نو وئی لیدل چه اور پر حضرت ابراهیم علیه السلام هیڅ اثر نه کوی نارې ئی کړه
پوښتنه ئی وکړه چه دد ی څه وجه او سبب دی ابراهیم علیه السلام وفرمایل
چه زه خدای پاک دایمان په برکت سره خلاص کړم نو دی وفرمایل که اجازه وی
زه به هم اور ته درشم.

ابراهیم علیه السلام وفرمایل لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ اِبْرَاهِیْمُ خَلِیْلُ اللّٰهِ وایه
بیا راسه هغی هم کلمه وویله او بی اختیاره په اور کښی ورګډه او ننوتله پردې
هم اور هیڅ اثر ونه کړی او دد غه اور څخه ووته او پلار ته ئی ډیری بدی او
بیکاره خبری وکړی نو نمرود کافر ددی سره ډیره سختی کوله مګر دایرخیل ایمان
ثابته او برقراره وه۔

فایده:۔ سبحان الله د څوندی غټ همت او غیرت بی بی وه چه په تکلیف کښی
ئی هم ایمان نه پریښووی بی بی ګانو تاسی هم د مصیبت او غم په وخت نو کښی ایمان
مضبوط کړی او دیوه ورپښته په قدر هم د دین خلاف کار مه کوی

(۷) د حضرت لوط علیه السلام د لونو ذکر (۷)

هروخت چه الله تعالیٰ د حضرت لوط علیه السلام ته فرشتی (ملکی) راواستولی
او دوی راغلی خبرئی ورکړی چه اوس ستاپر قوم یعنی پر هغه چاچه تا او ستا خبره
نه منی عذاب راتلونکی دی. خدای تعالیٰ د فرشتو (ملکو) ته داهم ویلی وه چه ولوط
علیه السلام ته ووایاست چه ته خپله ټوله مسلمانه قبیله په شپه شپه کښی
د دغه کلی څخه وباسه درسره بوئی نه۔ په دغه مسلمانه قبیله کښی د دده
لونې هم وی دغه مبارکانی هم د عذابه څخه خلاصی سوی وی.

فایده:۔ دګوری ایمان د څرنګه برکت شی دی چه په دنیا کښی کوم د خدای
قهر نازلیږی ایمان د دغه قهره څخه هم انسان ساتی. بی بی ګانو ایمان بنه مضبوط

کړی۔ او ایمان دا رنګه مضبوطه کیږی چه ټول حکمونه د خدای پاک پرځای کړی اود ټولو ګناهونو څخه ځان وساتی۔

(۸) د حضرت ایوب علیه السلام د بی بی ذکر (۸)

د دی نوم رحمت دی هر وخت چه د حضرت ایوب علیه السلام ټول بدن زخمی سو او ټولو خلګو ددې مبارک ته تګ اوراتګ پریښوی نو د غه بی بی په دغه حال کښی ددې مبارک په خدمت کولو سره مشغوله وه او هر قسم تکلیفونه ئی تیرول یو وخت دا مبارکه وتلی وه نو وځنډیده نو حضرت ایوب علیه السلام د قهر او د غصی په حال کښی قسم وکړی چه زه جوړ سم نو دا بی بی به سل لښتی یا لرګیان وهم۔ نو هر وخت چه دی مبارک ښه او جوړ سو نو د خپل قسم پوره کولو اراده ئی وکړه خدای تعالی په خپل رحمت او مهربانی سره دا اسانه حکم ورکړی چه ته یو جارو ور واخله چه په هغه کښی سل لښتی دی او یو واری ئی ووهه۔

فائده ۱- وګورئ څرنګه صابره بنځه وه چه په داسی حالت کښی ئی برابر ددې خدمت کاوی یعنی د خپل خاوند او په مریضی کښی ددې د قسم څخه معلومیږی چه طبیعت ئی هم نازک او باریک سوی وو۔ دې بی بی د غه هم برداشتول د د غه خدمت او صبر برکت وو چه الله پاک د لرګیانو څخه خلاصه کړه چه د دې څخه معلومیږی چه الله تعالی ته ډیره محبوبه او قدرمنه وه ځکه چه خدای تعالی حکم څرنګه باندی اسانه کړی۔ لیکن او س پردغی مسئلی عمل نه کیږی۔ مثلاً که یو څوک دا رنګه قسم واخلی نو د جارو د وهلو څخه قسم نه پوره کیږی بلکه دا رنګه قسم به ماتوی او قسم کفاره به ورکوی۔ بی بی ګانو خاوند تابعداری اود ده د نازک طبیعتی ښه برداشت او رحم کوی نو تاسی به هم والله پاک ته داسی محبوبی او قدرمنی سی۔

(۹) حضرت لیا یعنی د حضرت یوسف علیه السلام د خاله ذکر (۹)

د دی ذکر په قرآن مجید کښی راغلی دی چه هر وخت حضرت یوسف علیه السلام د مصر بادشاه سو او ډیره کاختی (قحطی) وه او ټول ورونه په ګډه سره د غلی دسل نیولو د پاره د د ده ته راغلی وه او یوسف علیه السلام خپل ځان ورو ښوی په دغه وخت کښی ئی خپل قمیص د خپل پلار یعقوب علیه السلام د پاره ورکړی وو چه پرستر ګو ئی واچوی او دا ئی

هم ویلی وه چه ټول دلته را ولئ. لکه چه د حضرت یعقوب علیه السلام بینائی او دید
بیرته ځای ته راغلی او د خپل وطن څخه ولاړی په مصر کښی د حضرت یوسف علیه
السلام دیدار وکړی نو حضرت یوسف علیه السلام خپل پلار او خپله خاله د تعظیم
او عزت د پاره په شاهانه تخت کښینوله او د غه دواړه او ټول ورونه د یوسف
علیه السلام په مخ کښی پر سجده پریوته په هغه زمانه کښی سجده د سلام پر
ځای صحیح وه اوس جواز او روایښت نه لری

خدای تعالیٰ ددې وخاله ته په هر ویلی دی ددې خپله مور وفات سوی وه او
یعقوب علیه السلام ددی سره نکاح کړی وه۔ او بعضو ویلی دی چه داقصه ئی د مور
د حضرت راحیل ددی نوم وو۔ حضرت یوسف علیه السلام وفرمایل چه زما کوچنیوالی
د خوب دا تعبیر او معنیٰ ده۔ حضرت یوسف علیه السلام خوب لیدلی وو چه سپوږمی
لمر او یوولس ستوری ما ته سجده کوی۔ فائده:۔ وګورئ څرنګه بزرګی اوشرافت
ئی دی چه عزت ئی ښی وکړی۔

(۱۰) د حضرت موسیٰ علیه السلام دمور ذکر (۱۰)

ددی نوم یوخانذ۔ دی په هغه زمانه کښی چه فرعون نجومګرانو بیرولی وو
چه د بنی اسرائیلو په قوم کښی یو داسی هلک پیدا کیږی چه ستا بادشاهی به ختمه
کړی او فرعون حکم وکړی چه هر هلک په بنی اسرائیلو کښی پیدا کیږی هغه وژنئ
لکه چه په نږدګونو هلکان ووژل سول په دغسی نازک وخت کښی حضرت موسیٰ
علیه السلام پیدا سو په دغه وخت کښی خدای تعالیٰ د دغې بی بی په زړه کښی دا
خبره ور واچوله چه د د غه ته الهام ویل کیږی چه ته بی غمه ووده ته ئی
او شیدی ورکوه۔ او هرکله چه د دغه بیره وی چه یوڅوک خبر یږی نو په دغه
وخت کښی دی په یوصندوق کښی بند کړه په دریاب کښی ئی واچوه۔ بیا چه
هر رنګه ما ته منظور وه وی زه ستا زوی تا ته بیرته درسوم۔ چنا چه دې د
زړه بی د په داسی وکړه او خدای تعالیٰ خپلی ټولی وعدی پوره کړلی۔

فایده:۔ بی بی ګانو وګورئ ددی پر خدای تعالیٰ څرنګه اطمنان او توکل وو او د دغه
توکل برکتونه هم څرنګه بنکاره سوه

۹۰۴

لـه که دیره بزرګه وی نو دومره عزت قابله ده او که بزرګه نه وی بیا هم ددی عزت واجب دی ۱۲ محشی

(۱۱) د حضرت موسیٰ علیه السلام دخور ذکر (۱۱)

د حضرت موسیٰ علیه السلام دخور نوم بعضو ویلی دی چه "مریمه" دی، بعضو ویلی دی چه "کلثومه" ده - هر کله چه د حضرت موسیٰ علیه السلام مور مبارکی حضرت موسیٰ علیه السلام و درباب ته ور واچاوی نو وخپلی لور ته چه د حضرت موسیٰ علیه السلام خور وه وفرمایل چه ته پسی روانه سه چه څه قصه او واقعه پیښیږی غرض هغه صندوق په یو والـه کښی ولاړی د فرعون وکور ته ورسیدی چه هغوی صندوق راوکښی خلاص ئی کړی نو یو ډیر ښایسته هلک پکښی وو - نو فرعون غوښته چه مړئی کړی - مگر د فرعون بی بی (آسیه) چه یو نیکبخته او خدا ترسه زنانه وه خوښه ئی نه وه چه دی مړکړی او فرعون ته ئی وویل چه دا به موږ ته فایده ورسوی نو خاوند او ښځی د واړه وخپل زوی کړی او د ده پالنه ئی شروع کړه - مگر موسیٰ علیه السلام د هیچا ټی اوشیدی نه رودلی - ټول حیران وه چه څه چم اوته بیړه وکړو.

نو دغه وخت چه د حضرت موسیٰ علیه السلام خور چه د تفتیش او معلومات د پاره ده پسی وه د فرعون کور ته راورسیدله وه دې مبارکی وفرمایل چه زه یوتی ورکونکی ښځه درښیم چه ډیره خیرخواه او مهربانه ده او دهغی شیدی هم ډیری صافی دی - آخردی د حضرت موسیٰ علیه السلام د مور پته او درک ورو ښوی او هغه راوبلل سوه او موسیٰ علیه السلام ودی ته وسپارل سو - او د خدای تعالیٰ چه کومه وعده وه چه موږ حضرت موسیٰ علیه السلام بیرته وتا ته درسپارو هغه په داغسی طریقه سره پوره سوه.

فایده:- وگورئی عقل څونډی ښه شی دی څرنگه ئی پوره معلومات ورکړی او په څرنگه سختو حالاتو او شرائطو کښی ئی د خپلی مور خیرخواهی او تابعداری پرځای راوړه او د دښمنانو ته هیڅ معلومات نه دی سوی - بی بی گانو د موسیٰ علیه السلام تابعداری او عقل او تمیز ډیر لوی نعمت دی.

(۱۲) د حضرت موسیٰ علیه السلام د بی بی ذکر



د دی نوم (صفورا) دی او د حضرت شعیب علیه الصلوٰة والسلام مشره

لور وه څه وخت چه د حضرت موسیٰ علیه السلام د لاس څخه د مصر په بنار کښی
یو کافر بی ارادی مړ سو او فرعون ته خبر ور سیدی نو فرعون د خپلو سردارانو سره
صلاح او مشوره وکړه چه موسیٰ علیه السلام باید ووژل سی.

موسیٰ علیه السلام چه دا خبر واوریدی نو پهٔ د مدین د بنار وخوا ته ولاړی
هرکله چه هلته ورسیدی نو دکلی څخه د باندی د پیر خلګ او شپینیان سره جمع
وه چه دیو ځاځخه ئی او به راکښلی خپل مالونه ئی په او بول او دوی (۲) انجونی هلته
وی چه هغوی خپل پسونه د او بو څښلو څخه منعه کوله یعنی نه ئی پریښوولی چه
دغه بزی او پسونه او بو ته ور سی او او به وچښی په دی دوو (۲) انجونو نوکښی یوه د
حضرت موسیٰ علیه السلام بی بی وه او یوه ئی خو بښینه وه۔ موسیٰ علیه السلام د
دوی څخه پوښتنه وکړه چه تاسی دغه خپل مال ولی واو بو ته نه ور پریږدی
دوی ورته وویل چه زمونږ په کور کښی کار کونکی نارینه هیڅوک هم نسته
نو د دی سببه مونږ پخپله کار کوو لیکن څرنګه چه مونږ بښځی یو۔ د دی سبب
د نارینه حلګو د تلو انتظار کوو۔ د هغو لود تلو څخه ورو سته مونږ خپل
مال او به وو۔ دا مبارک ته د دوی پر حال رحم راغلی زړه ئی پر وسو۔ او او به
ئی خپله راوکښلی مال ئی په او به کړی۔ د دوی د واړی ولاړی دغه قصه ئی خپل
پلار شعیب علیه السلام ته بیان کړه۔

حضرت شعیب علیه السلام خپله مشره لور پسی راولیږله چه ورسه پیدا
ئی کړه رائی وله دغه بزرګ چه ستاسی پر حال ئی رحم کړیدی۔ نو د اپه شرم
او ډیره حیا سره راغله او موسی علیه السلام ته ئی د خپل پلار محترم پیغام
ور ورساوی۔ موسیٰ علیه السلام د دی سره راغلی د شعیب علیه السلام سره
ئی ولیدله۔ حضرت شعیب علیه السلام هرڅسم تسلی ورکړه ورکړه او بیا ئی وفرمایل
چه زه غواړم چه په دغو دوو (۲) انجونو کښی یوه تاته په نکاح درکړم مګر شرط دادی
چه اته (۸) یا لس (۱۰) کاله به زما مالداری ګوری پیاپی به ئی۔ موسی علیه السلام منظور
کړه او د مشری لور سره ئی نکاح وسوه۔ د وعدی پوره کولو ورسته د خپله بی بی
د پلار د کور ته وایسته او د وطن وخواته روان سو چه پر لاری دیخ د وجهی څخه
د او ربلو لو ضرورت پیښ سو نو د مبارک دکوه طور پر غره باندی اور ولیدی هر
څخه چه هلته ور غلی نو د خدای نور وو په دغه ځای کښی د الله پاک د جانبه

پیغمبر وتا کل سو.

فائده ۱ـ وگوری د خپل کور کار ئې په خوندی محنت او تکلیف سره کاوی او د پردی سړی سره چه ئې د مجبوریت په سبب خبری کولی خوندی شرم او حیا ئې وه ـ بی بی گانو تاسو د کور په کار کښی آرام طلبی او سستی مه کوی او شرم او حیا هر وخت لازم وبولی.

(۱۳)	دحضرت موسیٰ علیه السلام دخوښینی ذکر	(۱۳)

ددی ذکر اوس مخکی وسو ددی نوم ـ صفیرا ـ دی. دی هم د خپلی خوښی سره د خپل کور کار وبار په ډیر محنت سره کاوی او د پلار تابعداری او خدمت ئې پرځای کاوی. فائده ۱ـ بی بی گانو داغه رنگه تاسو هم د هغو او پلار خدمت او د کور په کار کښی محنت او مشقت کوی نکه څرنگه چه غریبان او مسکینان خلگ کار کوی تاسی هم داغسی کار کوئ کار کول ذلت او ذلالت مه بولی وگوری د پیغمبر نژلوړو خوښانو سی مرتبه زیاته او لوړه نه ده

(۱۴)	دحضرت آسیی (رض) ذکر !	(۱۴)

فرعون د مصر بادشاه چه ده د خدایی دعوه کړی وه او آسیه د ده بی بی ده ـ دا د خدای قدرت دی خاوند داسی شیطان او بی بی داسی نیکدله چه د دی تعریف په قرآن شریف کښی راغلی دی او چه د دی بزرگی زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسی بیان کړی ده چه په نارینه خلگو کښی ډیر کمال ته رسیدلی دی لیکن په ښځو کښی یوه کمال ته نه ده رسیدلی ماسیوی د مریمی رضی الله تعالیٰ عنها او آسیی رضی الله تعالیٰ عنها څخه. چه د عنی آسیی رض د حضرت موسی علیه السلام روح په کوچنیوالی د فرعون ظالمه څخه خلاص کړی وو نکه چه د موسیٰ علیه السلام د خور په قصه کښی چه ئې بیان وسو ـ د دی په قسمت کښی پر موسیٰ علیه السلام ایمان راوړل لیکل سوی وه نو په کوچنیوالی کښی ئې محبت ورسره پیدا سوی وو. هروخت چه حضرت موسی علیه السلام ته پیغمبری ورکړل سوه ـ فرعون خو د ایمان راوړلو څخه انکار وکړی مگر دی مبارکی په ایمان راوړلو اقرار وکړی

فرعون ته چه څه وخت د دې د ایمان راوړلو حال ور معلوم سو - نو پردې مبارکې ټې دیره سختۍ وکړه قسم قسم تکلیفونه ټې ورسوله مګر دا مبارکه پرخپل ایمان ټینګه وه - خپل ایمان ټې نه پریښوده په دا ډول حال کښې د دنیا څخه رخصت سوه .

فایده :- وګورې د دې بنځې خوندې ټینګ ایمان وو چه خاوند ټې کافر وو سره د کفره بادشاه لاهم وو او هرڅه کوشش ټې وکړې لیکن دا ټې وځان ته نه راوګرزوله اسلام ټې نه په پریښوده وې اوس د دې سبا بنځې په لږ غوندې تکلیف کښې د کفر کلمې ترځوله باسې . بې بې ګانو ایمان یو ډیر غټ دولت دې چه هرڅوندې سخت تکلیف درورسیږې د دین خلاف هیڅ کار مه کوې که دیو بنځې خاوند د دین خلاف یو کار کوې نو خپله بنځه دې ورسره هیڅکله ملګرتیا نه کوې او په هغه زمانه کښې د کافر سړې سره نکاح کیدای سوه مګر زموږ په دین کښې اوس دا حکم دې که چیرې خاوند کافر وې نکاح نه صحیح کیږې او که د کفر محکې نکاح ور سره سوې وې بیا کافر سې نو نکاح ماتیږې .

(۱۵) د فرعون د لور د خدمتګارۍ ذکر (۱۵)

روضة الصفا یو کتاب دې په دې کتاب کښې لیکلې دې چه د فرعون د لور یو خاص نوکره وه چه د دې ډیره خدمتګاره وه د فرعون د لور د سر بنځول د سر او د ډل غوږ ول هم دې ورکوله او پر موسیٰ علیه السلام ټې ایمان راوړې وو - مګر د فرعون د بیرې څخه ټې خپل ایمان نه سو بنکاره کولای - یو وار د ډې خاصې خدمتګارې د فرعون د لور سر ورښنځاوې چه د دې د لاس څخه ښوونځ ولوید له - دې مبارکې بسم الله وویل او ښوونځ ټې راپورته کړه د ډې بلې انجلۍ چه د فرعون لور ده پوښتنه وکړه چه تا څه وویل د ډې چا نوم دې - د ډې خادمې (خدمتګارې) ورته وویل دا د هغه چا نوم دې چه د هغه ستا پلار پیدا کړې دې او ده ته ټې بادشاهي ورکړیده انجلۍ ډیره په تعجب سوه چه زما تر پلار بل لوی سته - په څه استه سره د پلار ته ورغله او ټوله قصه ټې ورته بیان کړه - فرعون په ډیر قهر او غضب سو او د ډې خدمتګاره ټې را وبلله وې ویل چه هرڅه دې په طاقت پوره دې پیشرو ټې ورته وواهي - مګر دې صاف وویل چه هرڅه دې په طاقت پوره دې ما ټې مګر زه ایمان نه پریږدم اول ټې د دې په لاسو نو کښې میخونه ورټکول

بیائی د اور سکرونی او گرمی ایری پرواچولی چه دغه هم هیڅ تاثیر پرونه کړی هغه
مسلمانه وکه داسلام څخه نه او بنته نو بیاددی په غیږکښی یو هلک دوهغه ئی په اور
کښی واچاوی هلک د خدای په قدرت سره په اور کښی وویل چه موری صبر کوه
خبردار چه ایمان پری نه بندی - غرض دا پر ایمان ټینګه وه تر دا سی حده چه دا
بیچاره او دا عاجزه ئی ټینګه کړه په بل تنور کښی ئی (چه اور پکښی بل وو) واچوله په
دیرشمه سپاره کښی په سورة البروج کښی چه کومه قصه د اصحاب الاخدود د خندقانو
د خاوندانو راغلی ده په هغه کښی هم دغه شان دیوی بنځی او دهغی د زوی قصه سویده
فائده:- وگورئ د دغی مسلمانی ایمان څوندی مضبوط او محکم وو بی بی گانو ایمان
د یرلوی نعمت دی د خپل نفس د خوشحالی د پاره یا دیو طمعی په سبب یا دیو تکلیف
د غم د وجهی څخه هیڅکله په خپل ایمان او دین کښی خلل او تاوان مه اچوی
د خدای جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف هیڅ کار مه کوی.

(۱۶) د حضرت موسیٰ علیه السلام د لښکر د یوی بودی ذکر (۱۶)

هر هغه وخت چه فرعون په مصر کښی د بنی اسرائیلو تنګول شروع کړه د دوی څخه
قسم قسم بیګار ونه اخستل - دوی به ئی وهل، درد ونه او تکلیفونه ئی ورکول
د حضرت موسیٰ علیه السلام ته د خدای تعالیٰ طرفه څخه حکم وشو چه ټول بنی اسرائیل
د شپه کښی د مصر څخه وباسه چه د فرعون د ظلم څخه خلاص شی - موسی علیه
السلام ټوله بوتله هر وخت چه د دریای نیل (رود نیل) ته ورسیدل لاره ځندی ورکه
کړه او هیڅ چاته د لاری درک نه معلومیدی. نو موسیٰ علیه السلام په لښکر کښی
اعلان وکړی چه چاته د اراز معلوم وی هغه دی راسی او دغه راز دی بیان کړی
یوه بودی حاضره کړه سو په عرض ئی وکړی چه کله د حضرت یوسف علیه السلام د
تابوت کیدو وخت سو نو د وخپلو وروڼو او وریرونو ته وصیت کړی وو چه هر
وخت کله تاسو مصر پریښودی نو زما تابوت چه زما لاښ پکښی دی د ځانه سره
بوځی که زما تابوت د سره نه وی نو به لاره د رشخه ورکه سی نو موسی علیه
السلام د تابوت پوښتنه وکړه چه چیری د فن دی د دغه حال هم د دغی بودی
څخه علاوه بل چاته معلوم نه وو چه د هغی څخه ئی پوښتنه وکړه - هغی عرض
وکړه چه زما سره اول د یوی خبری اقرار وکړه نو بیا به د رته ووایم نو موسیٰ

علیه السلام پوښتنه ځندی وکړه چه څه خبره ده - دی عرض وکړی چه هغه اقرار دادی چه زما خاتمه پر ایمان سی او په جنت کښی چه کومه درجه داوسئ شید و و تاته ورسیږی ماته هم ورسیږی - موسیٰ علیه السلام د خدای تعالیٰ څخه عرض وکړی چه یا الله دغه خبره خو زما په اختیار کښی نه ده حکم وسو چه ته اقرار وکړه زه ئی پوره کوم ده اقرار وکړی - هغی بوډی د تابوت معلومات ورکړی چه د دریاب په منځ کښی دفن دی نو د دغه تابوت درا ایستلو سره فوراً لاړ پیدا سوه .

فائده :- وګورئ چه دغه مشره او بوډی بی بی څرنګه بزرګه وه چه هیڅ دولت د دنیا ئی د نه غوښتی او خپل آخرت ئی برابر کړی بی بی ګانو تاسی هم د دنیا هوس پریږدی هغه چه خوندی په قسمت کښی وی رسیږی خپل دین برابر او بنا بسته کړی .

(۱۷) **دحیسو رد خور ذکر** (۱۷)

په قرآن شریف کښی د حضرت موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام په قصه کښی ذکر دی چه حضرت خضر علیه السلام چه یو کوچنی هلک د خدای پاک په امر سره مړ کړی او حضرت موسیٰ علیه السلام وپوښتل ی پوښتنه ئی څنډی وکړه چه دغه کوچنی هلک څه خطا کړی وه چه مړ دی کړی حضرت خضر علیه السلام و فرمایل که دغه هلک ځوان سوی نو کافر کیدی او د ده مور او پلار ایماندار وه د اولاد په محبت کښی د دوی د خرابی بیږه وه د دغه وجهی یو وه انجیلی ورکوی چه د بد یو اوګنا و څخه به پاکه وی او مور او پلار ته به ډیره خیر رسونکی وی لکه چه په نور و کتابو کښی لیکل سویدی چه یو وه دغسی انجیلی پیدا سوه او دیو پیغمبر سره ئی نکاح وسوه او (۱۷) پیغمبران د دی په

اولاد کښی پیدا سوه او دد ی هلک نوم حیسور دو دغه انجیلی دد ه خوږ وه.
فایده:- د چا صفت چه الله پاک وکړی چه نیکه به وی او مور و پلار ته به فایده رسونکی وی هغه به څوندی بنه او غوږه وی بی بی گانو وگوری دگناه څخه پاک او سیدل او مور او پلار ته فایده رسول څوندی بنه کار دی. چه داسی مرتبه په حاصلیږی چه الله پاک ئی صفت کوی بی بی گانو په دی خبرو کښی ډیر کوشش وکړی فائده ئی تاسی ته رسیږی.

(۱۸)	دحیسور دمور ذکر	(۱۸)

حیسور هغه هلک دی چه دد ه ذکر اوس اوس مخکی بیان سو او داهم معلومه سوید ه چه په قرآن شریف کښی دد ه مور او پلار ته په ایمان دارانو ویل سوی دی هر هغه چا ته چه الله پاک په ایماندار ه ووایی هغه نوهسی په نامه ایماندار ه نه وی بلکه مکمل او پوره ایماندار ه وی د دی څخه معلومه سوه چه د حیسور مور هم ډیره بزرگه وه.
فایده:- وگوری په ایمان کښی پینگوالی داسی دولت دی چه الله تعالی ئی صفت کوی - بی بی گانو ایمان مضبوط او محکم کړی او ایمان داسی مضبوطیږی چه د شریعت احکام پرځای کړی او د ټولو گناهونو څخه ځان وژغوری.

(۱۹)	دحضرت سلیمان علیه السلام دمور ذکر	(۱۹)

په قرآن شریف کښی راغلی دی چه سلیمان علیه السلام په دعا کښی دا رنگه ویلی دی چه یا الله تا زما پر مور او پلار انعام کړیدی معلومه سوه چه د د ه مور هم بزرگه وه حکمه چه لوی انعام ایمان او دین دی.
فایده:- وگوری ایمان داسی شی دی چه دایماندارانو ذکر د پیغمبرانو پر ژبه هم په بنه خوبی سره راځی. بی بی گانو ایمان په بنو کارونو بنه بنایسته کړی.

(۲۰)	دحضرت بلقیس ذکر	(۲۰)

داد سبا د ملک (وطن) بادشاه وه حضرت سلیمان علیه السلام ته هدهد (ملاچرک) خبر ورکړی چه مایو ه بنځه چه بادشاه وه لیدلی می د ه او هغه د لمر عبادت کوی نو

ده یو خط ولیکی ملاچرگ ته ئی ورکړی چه هغی ته ئی ورکړه ورونی غوره خوره.
په دغه خط کښی ئی لیکلی وه چه تاسو مسلمانان سی او ماته حاضر سی هغی دغه خط
ولوستی د وزیرانو او صاحب منصبانو سره ئی مشوره وکړه او د ډیرو خبرو اترو پس
ئی پخپله د اصلاح وکړه چه زه یوځه شیان د سوغات په طریقه سره ورلیږم که
ئی واخسته معلومیږی او پوهیږم چه د نیا دار که بادشاه دی که ئی نه واخسته نو
پوهیږم چه پیغمبر دی. هرکله چه دغه شیان حضرت سلیمان علیه السلام ته
ورسیدل نو ده بیرته پتول ورولیږل او داسی ئی ورته وویل که تاسی مسلمانان
نه سواست نو د جنګ د پاره فوج درلیږم د غه پیغام ئی واوریدی یقین ئی سو چه
پیغمبر دی او د مسلمانید و په اراده د خیل بنار څخه راوونه دده ی درواینده وځخه
وروسته سلیمان علیه السلام په خپله معجزه سره د دی لوی درونه قیمتی بادشاهی
تخت هم وخپل دربار ته را وغوښتی د پاره د دی چه لقیسه معجزه هم وویني او
د تخت ملغلری او جواهر ئی دیوه طرف څخه راوکښل په بل طرف کښی ئی ونګول.
مطلب په تخت کښی ئی لږ قدری تغیرا و تبدیل وکړی. هرکله چه بلقیسه دلته
راورسیده نو د حضرت سلیمان علیه السلام په حکم سره د دی د عقل د معلومولو
د پاره یو بښتنه څنډی وسوه چه وګوره د غه خو ستا تخت نه دی هغی په غور
سره وډته وکتل بیا ئی وویل چه هو دا تخت هغسی دی په دی پټ لکه دا هغسی
تخت دی وویل داسی ئی نه وویل چه هغه تخت دی ځکه چه د تخت څه صورت
او شکل بدل سوی وو د دغه جواب څخه معلومه سوه چه ډیره هوښیاره ده
بیا حضرت سلیمان علیه السلام بلقیسی ته دا ښکاره کول و غوښته چه ماته
د خدای راکړه سوی بادشاهی ستاد نیاد بادشاهی څخه دغسی هم زیاته ده
د دغی خبری د ښوولو د پاره حضرت سلیمان علیه السلام حکم وکړی چه یو
حوض داو بو څخه ډک کړی او بیا دی پرد غه حوض باندی د شیښی یعنی اینګړی
یو داسی صفا او پاک فرش جوړ کړل سی چه او به معلومیږی او سیښه نه معلومیږی
چه هرکله دغسی ځای د ده په امر سره تیار سو. بیا نو حضرت سلیمان علیه السلام یو
داسی ځای کښینستی چه څوک به ده ته ورتلی د غه حوض به په لاړ کښی راتلی
ترهغو څوک نه سو ورتلای چه په د غه حوض څوک نه وای ګډ سوی او بلقیس
ته ئی د حاضریدو حکم وکړی چه کوم ځای نږه ناست یم ته راسه بلقیسه ورروانه

سوه چه دحوض ته راوړسیده سینبه ئې نه ولیدله داسی خیال ئې سو چه اوس به په اوبوګډیږم نو پای ځې راپورته کړی فوړا ودی ته حکم وسو ورته وویل سوه چه پرده غه د سینبو فرش دی د غسی پرار وانه سه هر دخت چه بلقیسی دتخت دراوړلو معجزه ولیدله او ودغه کار یګړی ته ئې هم وکتله چه ددغه څخه ئې دا معلومه کړه چه ددې سړه د غسی هم د بادشاهی سازوسامان زما د بادشاهی ترساز وسامان زیات دی فوړا ئې کلمه وویل مسلمانه سوه. بیانو بعضو علماؤ خو دا ویلی دی چه حضرت سلیمان علیه السلام پخپله ددی سړه نکاح وکړه او بعضو ویلی دی چه د یمن د بادشاه سړه ئې نکاح وکړه خدای پاک ته معلومه ده چه واقعی قصه څرنګه ده.

فایده:- وګورئ څرنګه بی نفسه وه چه سړه دامارت او بادشاهی چه د دین رشتیا خبره ورته معلومه سوه فوړا ئې ومنله په قبلولو د دین کښی غرور او کبر ونه کړی نه د پلار اونیکه پرروا ج ټینګه سوه. بی بی ګانو تاسی هم د غسی لارغوره کړی چه هر دخت د دین خبره واورئ هیڅکله عار شرم یا د خاندان د رواج پیروی مه کوئ د دغو څخه هیڅ شی په ښه نه درځی فقط دین په ښه درځی.

(۲۱) دبنی اسرائیلو دیوی مینځئ ذکر (۲۱)

په حدیث شریف کښی یو قصه ده چه د بنی اسرائیلو یوی بنځی و خپل کوچنی ته ئې ورکاوی چه یو سپور سړی په ډیر شان او شوکت د دی په مخ کی تیرسو مور ئې دعاوکړه چه ای خدایه زما زوی همد غسی کړی نو هلک د ئې څخه خوله هسته کړه وه ئې ویل چه ای خدایه ما داسی مه کوی او بیرته ئې پرتی باندی خوله کښیښوو له بیانور خلګ د بنځی په مخکی پرلاړ تیرسوه چه یوه مینځه ئې ټینګه کړی وه په ډیر ذلت او خواری سړه ئې روانه کړی وه مور ئې دعاوکړه چه یا الله زما زوی داسی مه کوه د غه هلک بیا وویل چه ای خدایه ما د غسی کړی مور ئې پوښتنه وکړی وکړه چه داڅه خبره ده هلک ورته وویل چه هغه سپور یو ډیر ظالم سړی وو. او پرد غه مینځه خلګ تهمت لګوی چه داغله ده. او

بد چلاوه دی ۔ او دا غریبه دی تهمت څخه پاکه دی ۔

فایده:۔ مطلب دا چه دغه سپور خود خلګو په نظر کښی قدر لری او د خدای پاک په نزد ئی هیڅ قدر نسته او دا مینځه د خدای په نزد ډیره قدر منه دی او ډیره پرګرانه دی که څه هم د مخلوق په نظر کښی بیقدره او بی عزته دی نو قدر د خدای په نزد په کار دی هسته که ئی مخلوق هرقسم وبولی که چیری د خدای په نزد قدر نه وی نود مخلوق قدر څه په کار دی څه کار ور کولای سی ۔

وګورئ دا د هغی مینځی کرامت وو چه د دی د پاکوالی د بنکار ه کولو د پاره هغه شیرخوار هلک خبری وکړی بی بی ګانود بعضو بنځو عادت دی چه مسکینان ډیرخوار بولی او په یولږ غوندی شک سره پرده وی عیبونه نګوی او غلا پورې تړی دا ډیره بده خبره ده شاید چه هغه به د خدای پاک په دربار کښی نرتا بنه وی ۔ (د بخاری شریف څخه)

(۲۲) د بنی اسرائیلو دیوی هوښیاری او دینداری بی بی ذکر (از تیسیر) (۲۲)

د محمد بن کعب بیان دی چه په بنی اسرائیلو کښی یوه سړی ډیر عالم او ډیر عابد وو د ده د خپلی بی بی (بنځی) سره ډیر محبت وو اتفاقاً هغه بی بی مړه سوه پردی عالم دا غم داسی زور وکړی چه د دوا نه ئی بنده کړه بس کښینستی او د ټولو خلګو سره ئی ناسته ولاړه پریښوده په بنی اسرائیلو کښی یوه بنځه وه دی دا قصه واوریده د دی عالم وخواته ور غله او د عالم چه کوم ملاقات کونکی خلګ وه هغو ته ئی وویل چه زه دیو مسئلی پوښتنه کوم او هغه هم صرف زبانی پوښتنه د ه په دروازه کښی کښینسته آخر عالم په خبر سو او د ننه ور تلو اجازت ئی ورکړی نو دا ر غله و عالم ته ئی وویل چه زه دیو مسئلی پوښتنه کوم عالم ور ته وویل چه پوښتنه دی وکړه دی ور ته وویل چه ما دیو همسایه څخه یو څه زیور د خواست په طریقه سره اخستی وو او ډیره زمانه می واغوستی، استعمال می کړی. بیا دی سړی راولیږی چه زما زیور راکړه ۔ نو ایا د دی زیور ور کول په کار دی عالم ور ته وویل ۔ بیشکه ور کول ئی په کار دی ۔ بنځی ور ته وویل چه دغه زیور خو تر ډیره وخته پورې زما سره وو او اوس ئی څرنګه ور کړم ۔ عالم ور ته وویل چه صاحب ئی باید په بنه خوښی سره ور کړی حکه چه تر ډیره وخته پورې ئی تاته

درپری اینبی وو او داد هغی ستاسره احسان دی.

بنځی ورته وویل خدای دی خیر درکړی بیا نو ته ولی دوندی زیات غمگین ئی خدای تعالیٰ دخواست یو شی درکړی وو چه اراده ئی وسوه بیرته ئی درخځه واخستی حکمه دده خپل شی وو. دغه خبره چه عالم واوریده ستړگی ئی خلاصی سوی اسمان پورته سو محکه کښته سوه او ددغی خبری څخه وده ته پیره نایده ورسیده.

فائده کاښ وگورئ څرنگه بنځه وه چه دی وعالم سړی ته عقل ورو بنووی او سړی هم څرنگه غټ عالم او پرهیزگاره وو. بیاهم دی عقل ورو بنووی. نو ای بی بی گانو تاسی لره په کار ده چه مصیبت زده گانو ته داغسی خبری وکړی یوه ئی کړی صبرورلره ورکړی خدا غواسته که پرتاسی باندی غم راسی نو خپلو ځانونو ته هم داغسی خبری کوی.

(۲۳) دحضرت مریم علیها السلام دمور ذکر (۲۳)

ددې بی بی نوم حنه وه عمران ددی دخاوند نوم ووچه د حضرت مریمی پلار دی. حنه حمله داره سوه نو د خدای پاک دپاره ئی نذر ومانی چه کوم کوچنی چه زما په لس کښی دی داد مسجد دپاره وقف کوم یعنی د دنیا کار ددې څخه نه اخلم ددی داگمان ووچه هلک به وی حکه چه د مسجد خدمت خوصرف هلک کولای سی په هغه زمانه کښی دغسی نذر کول روا اوصحیح وو هرکله چه د کوچنی دپیدا کیدو وخت راغلی هغه انجیلی پیدا سوه. مور ئی په افسوس سره وویل چه ای خدایه دا خو انجیلی سوه نو حکم ورته وسو چه د څه انجیلی به نر هلکانو هم بنه وی او خدای دا قبوله کړه. غرض ددی نوم ئی حضرت مریمه (ع) کښیښو وله دغی مور ددی دپاره دا دعا وکړه چه دا او ددی اولاد د شیطان څخه ای خدایه په امان کړی. نکه چه زمونږ حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه شیطان ټول کوچنیان دپیدا کیدو په وخت کښی ټوکبی (یعنی مسحه کوی به) مگر په

بشرپیدا کیدو ته وغنی موقع دپیدا کیدو چه نفیحت تاثیر کوی کوچنی څخه نفیحت کونکی پیدا کیږی ورکمی مریم معنی د عبادت ده دا د گلزار کښی ځنگله خبره چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د څه حکمه څخه دا وی ټوکبی دی یعنی پیدا کیدو په وخت کښی شیطان دپیدا کیدو ورلپاره دی نه

حضرت مریم (ع) اوددی په زوی حضرت عیسیٰ علیه السلام ئ کار نه دی درلودلی.
فایده:- وګورئ ددی پاک نیت څرنګه بنه نتیجه ورکړه چه الله تعالیٰ څرنګه بنه پاک اولاد ورکړی اوخدای تعالیٰ ئ دعاهم قبوله کړه معلومه سوه چه د خدای تعالیٰ په دربارکښی ددی پیر قدر وو بی ګانو د پاک نیت دا رنګه برکتونه وی نو همیشه خپل نیتونه پاک صاف خالص ولری هرنیک کار چه کوی خاص د خدای پاک د پاره ئ کوی نوبه ستاسی هم د خدای تعالیٰ په دربارکښی قدر وی.

(۲۴) د حضرت مریمی علیها السلام ذکر (۲۴)

ددی د پیدایښت قصه اوس تیره سوه څه وخت چه دا پیدا سوه نو ددی مورد خپل نذر منلو موافق راواخسته و بیت المقدس ته راورسیده او دهغه ځای اوسیدونکو بزرګانو ته ئ د بیت المقدس د خدمت د پاره وردسپارله او ورته وئ ویل چه دا نذرانجیلی واخلی - څرنګه چه دا د پیرغټ بزرګ خاندان وه هر یوه غوښته چه زه ئ وپالم - په دوی کښی حضرت زکریا علیه السلام هم وو د حضرت مریمی علیها السلام د خاله خاوند وو - د عمی هم دده حق زیات وو مګر بیا هم خلګو ددده سره جګړه کول شروع کړه په کومه فیصله چه پتول راضی وه په هغه فیصله کښی هم ده وګټله. اخر حضرت زکریا علیه السلام دا یووړه پخپله ئ ددی پرورش او پالنه کول ددی دلوی والی دا حال وو چه تر نورو کوچنیانو دا پیره ډیر ډیر غټید له تر داسی حده چه په لږو ورځو کښی غټه او هوښیاره معلومیدله او داعمی هم د کوچنی والی څخه مور زاده بزرګه اوولی وه او الله تعالیٰ ددی ته په قرآن شریف کښی د ولی په نامه ویلی دی او ددی کرامت ئ بیان کړی دی چه بی موسمه او بی فصله میوی به د غیبو څخه ودی ته راتلی مثلاً په ژمی کښی به داسی میوه ورته راتله چه هغه به د دوبی وه حضرت زکریا علیه السلام پوښتنه څنډی وکړه چه دا د کومی خواڅخه درته راځی نو دا مبارکه جواب ورکوی چه د خدای پاک د جانبه څخه راځی.
غرض ددی پتول کار ونه اجنبی او نابلده وه تر داسی حده هر وخت چه دا حجره سوه نو خالص د خدای تعالیٰ په قدرت سره بیله کوم نادینه دا حمل لرله سوه او حضرت عیسیٰ علیه السلام پیغمبر څنډی پیدا سو.

یهودیانو دبی پلار[۱] هلک پر پیدا کید و باندی ډیری خرافاتی او چتیاتی خبری شروع کړی - خدای تعالی حضرت عیسی علیه السلام ته د پیدا کید و او کوچنیوالی په وخت کښی د خبرو طاقت ورکړی وو - ده د کوچنیوالی په وخت کښی د اسی ښی ښی خبری کولی چه انصاف والا و ته معلومه سوه چه د ده پیدایش د خدای تعالی د قدرت نمونه ده بیشکه بی پلاره پیدا سوی دی او د ده مور پاکه ده.

زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دی بزرگی فرمایلی ده چه په ښځو کښی هیڅوک کامله سوی نه ده ماسیوای د دوو[۲] ښځو یوه مریمه (ع) او بله حضرت آسیه (ع) د امضمون د حضرت آسیې په ذکر کښی هم راغلی دی.

فائده:- وګورئ د دی مور دا د خدای پرنامرد بیت المقدس د مسجد د پاره مقرره کړه نو څرنګه بزرګه سوه او خپله دا الله تعالی په عبادت او طاعت کښی مشغوله او ښکلا چه په دغه سره انسان ولی کیږی د دغه په برکت سره الله تعالی د څرنګه تهمت څخه وساتله. بی بی ګانو د خدای تعالی تابعداری کوی نو به د ټولو آفتونو څخه خلاصی سی او خپل اولاد و نه په دین کښی زیات لګوی. د دنیا بندګان مه ځندی جوړوی.

(۲۵) د حضرت زکریا علیه السلام د بی بی ذکر (۲۵)

د دی نوم ایشاع دی دا د حضرت حنّه (ع) خور او د حضرت مریمی (ع) خاله ده د دی په شان کښی حق تعالی داسی فرمایلی دی چه مونږ د حضرت زکریا علیه السلام بی بی صالح کړیده - د دغه مطلب بعضی علماؤ داسی لیکلی دی چه مونږ د دی عادتونه د پیر ښه ښایسته او برابر کړیدی.

حضرت یحیی علیه السلام د دی څخه په سپین سر توب او زړه والی کښی پیدا سویدی. نو حضرت عیسی علیه السلام په رشته او قرابت کښی د حضرت یحیی علیه السلام د خاله لمسی دی لمسی هم د زوی پرځای وی. د دی سببه زمونږ پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام یوه ته دبل د خاله په زوی فرمایلی دی.

فایده:- وګورئ ښه عادت د غسی ښه شی دی چه خدای تعالی هم د دی

تعریف په قرآن شریف کښی فرمایلی دی. بی بی گانو خپل عادتونه دهری نگاه څخه بنه برابر کړی چه طریقه ئی هوبن په اوومه حصه کښی په بنه طریقه سره لیکلی (۲۵) ده - دغه پنځه ویشت قصی داولنیو امتونو د بنو بی بی گانو وی اوس لږ څه قصی د دی امت د نیکو بی بی گانو دا هم واوره

(۲۶) د حضرت خدیجی رضی الله تعالی عنها ذکر (۱)

د اد حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم تر پتولو بی بی گانو مخکی بی بی ده - د دی پیرلوی لوی کرامتونه او بزرگی دی یو وار پیغمبر صلی الله علیه وسلم ودی ته وفرمایل چه حضرت جبرائیل علیه السلام د خدای تعالی سلام پرتاوایی او ده مبارک صلی الله تعالی علیه واله وسلم دا هم فرمایلی دی چه د ټولی دنیا په بی بی گانو کښی تر ټولو بنی څلور بی بی گانی دی اوله حضرت مریمه (ع) د وهمه حضرت آسیه (رض) د فرعون بی بی د ریمه حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها اوخلرمه حضرت فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها ده. او پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ته چه به څه وخت هرڅه پریشانی د کفارو د چلن او گذارې څخه ورپیښیده نو مبارک علیه السلام به راتلی ودی ته به ئی دغه حال بیانا وی دې مبارکی به یو داسی د تسلی خبرې ورته کولی چه د حضرت صلی الله تعالی علیه واله وسلم پریشانی به ختمه سوه او د رسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره د دی د وندی خیال او فکر ووچه د دې مبارکی تر انتقال او وفات وروسته چه به مبارک علیه السلام بزه بابل شی حلال کړی نو د دی ملگرو او مجلسیانو ته به ئی هم ضرور غوښی ورلیږلی د حضرت رسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره د نکاح مخکی د دې یوه نکاح بله هم سوی ده د دې د اول خاوند نوم ابو هاله تمیمی وو.

فایده:- د الله تعالی جل جلاله او رسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم په نزدیک د دی قدر د ایمان او تابعداری په وجه وو. بی بی گانو تاسی هم په دغه کښی بنه کوشش وکړی او د اهم معلومه سوه چه د خاوند پریشانی

او غم کښی دده دلجوئی - تسلی - صبر ورکول نیک او بنه خوی دی لیکن نن سبا بعضی بښځی د خاوند خوشحاله او تازه زړه پریشانه کوی کله فرمایشونه کوی چه داشی راوړه فلانی کار وکړه یو وخت خبری ورسره پیچی جنجال ورسره کوی - بی بی گانو دغه بدعادت پریږدی د خپل ځان د اصلاح کید وکوشش وکړی.

(۲۷) د حضرت سودة رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۲)

دا هم زمونږ د گران پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم بی بی ده دی مبارکی د خپل واړه ورځ د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ته ورکړی وه د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها قول دی چه هرځه بښځی مالیدلی دی د بوی پر حال ماته داحرص نه دی راپیښ سوی چه کشکی زه هم داغسی وای ما سوی د حضرت سَوْدَة رضی الله تعالیٰ عنها ځخه - چه دې ته به ئی وکتله ماته به داحرص درسیدی چه کشکی زه هم داغسی وای لکه داچه ده - د دې داول خاوند نوم سکران بن عمرو و.

فایده:- وگورئ د حضرت سودة رضی الله تعالیٰ عنها وهمت ته چه خپل واړی لږ وخپلی بنی ته ورکړی نن سبا خامخاهم د خپلی بنی سره جنگ اوحسد کوی نن سبا قصدًا او تهمتًا پرخپله بَنْ باندی عیبونه نگوی - بی بی گانو تاسی هم باید داغسی همت او انصاف اختیار کړی او بیا وگورئ اخلاق د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها چه دی دا تمنا او خواهش ښکاره کړی دی چه کشکی زه په شان د حضرت سَوْدَة رضی الله تعالیٰ عنها وای.

(۲۸) د حضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها ذکر (۳)

دا زمونږ د پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم د ډیری مینی او محبت بی بی ده - د محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم په ازواجو مطهراتو یعنی بی بی گانو کښی یوازی حضرت عائشة رضی الله تعالیٰ عنها وه چه پیغله وه یعنی هغه نوری - بی بی گانی ټولی کنه یانی وی چه نبی صلی الله علیه وآله وسلم په نکاح کړی وی غرض یوازی حضرت عائشه رضی الله تعالیٰ عنها پیغله وه چه نکاح یه په - کوچنیوالی کښی د نبی صلی الله علیه وسلم سره سوی وه بیائ دلویوالی په حالت

کښی راوادۀ کړه ـ دوښدی لويه عالمه وه او خبردارۀ وه چه زموږ د حضرت رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم پيرولويو اصحابانو مبارکانو ددی څخه مسئلی پوښتلی يو وار زموږ د حضرت رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم څخه يو صحابی (رض) پوښتنه وکړه چه نر پټولو نزيات ستاد چاسره محبت دی ده مبارک وفرمايل د حضرت عائشی سره هغه صحابی (رض) پوښتنه وکړه چه په نارينه خلګو کښی د چاسره ستا پير محبت دی ده مبارک وفرمايل چه د دی د پلار سره دی يعنی د حضرت ابوبکر صديق رضی الله تعالیٰ عنه سره دی نوری هم ددې پيری خو بيانی راغلی دی.

فايده:ـ وګورئ يوه دغه ښځه وه چه ددې څخه لويو لويو عالمانو ه ننيت مسئلی پوښتلی او بل دا اوس ښځی دی چه پخپله هم د عالمانو څخه د پوښتنی يا د دين د کتابونو د ويلو شوق نه لری ـ بی بی گانو د دين علم په ښه محنت او شوق سره زده کړی.

(۲۹)	د حضرت حفصی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر	(۴)

داهم زموږ د حضرت پيغمبر صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم بی بی او د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه لور ده دی ته نبی صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم پريو خبره يو طلاق ورکړی وُو بيا د حضرت جبرائيل علیه السلام په وينا سره ده صلی الله علیه وسلم رجوع ورته وکړه حضرت جبرائيل علیه السلام دا سی وفرمايل چه ته د حضرت حفصه رضی الله تعالیٰ عنها ته رجوع وکړه حُکه چه هغه اکثره وروځ روژی نيسی او د شپی راپورته کيږی عبادت ډيرکوی او دا به په جنت کښی ستا بی بی وی ـ دې خپل ورور عبد الله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته وصيت کړی وو چه زما دوندۀ مال خيرات کړه او يوځه محُکه ئی هم وقف کړی ده او د هغی د بند وبست د پاره ئی هم وصيت کړی وو ـ د دی د اول خاوند نوم خنيس بن حذافه وو.

فايده:ـ د دينداری برکت وويني چه د الله پاک د جانبه څخه ئی طرفداری کيږی ـ د فرشتی (ملکی) پرلاس د طرفداری حکم کيږی چه خپل طلاق واپس واخله او د دی سخاوت ته وګورئ چه د خدای په لار کښی ئی څرنګه انتظام او د خيرات بند وبست کړی وو او محُکه ئی هم وقف کړی وه ـ بی بی گانو دينداری اختيار کړی او

د مال حرص او محبت د زړه څخه و باسی

۳۰ | ۵ | د حضرت زینبی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر چه دخرپه لورده

داهم زموږ د حضرت پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم بی بی ده او دامبارکه دامی سخی وه چه د مسکینانو او غریبانو د موږ په نامه مشهوره وه د دی د اول خاوند نوم عبد الله ابن جحش وو

فایده:- وګورئ د غریبانو خدمت څرنګه د بزرګی شی دی.

(۳۱) | (۶) | د حضرت ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر

داهم زموږ د آنحضرت صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم بی بی ده یوه بله بی بی قصه کوی چه زه یو وخت د حضرت ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها سره ناسته وم که ګورم چه غریبان او مسکینان را غله چه په دی غریبانو او مسکینانو کښی نارینه هم وه اوښځی هم وی او د دیده یو هم نه تلی - ماورته وویل چه څئ ددی ځای څخه ولاړ سی - حضرت ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها را ته وویل چه ای انجیلی موږ ته داحکم نسته چه تولو ته یو څه څه ورکول په کار دی که څه هم یوه یو ه خورما وی ددی د اول خاوند نوم حضرت ابو سلمه (رض) وو

فایده:- وګورئ د مسکینانو د نه تلو په وجه دا نه غمګینه کیده - لیکن نن سبا که سوالګر و د ریږی په سوال غوښتو کښی لږ څه تینګار وکړی نو بی بی دستی بنکټ ل او بنډاوی ورته کوی. بی بی ګانو دا رنګه هیڅکله مه کوی څکه چه سوالګر ستاسو په هیله و د ریږی ورته ولاړ وی څه ناڅه ورکوی او که څه نه ورکوی نو بنکټ ل او بنډاوی مه ورته کوی.

(۳۲) | (۷) | د حضرت زینبی رضی الله عنها ذکر چه د جحش لورده

داهم زموږ د پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم بی بی ده حضرت زید رضی الله تعالیٰ عنه یو صحابی دی چه حضرت صلی الله علیه وآله وسلم په خپل زوی والی سره نیولی وو اول په شریعت کښی زوی نیول روا وو چه څوان سو نو د نبی علیه السلام سره به

د واده غم او فکر پیدا سو نو ده مبارک د دغی زینبی رضی الله تعالی عنها د پاره د
د ورور نه پیغام ور ولیږی - دوی د واړه (ورور او خور) په نسب کښی د غه
رضی الله تعالی عنه د ځان برابر او مثل نه بالی نو د دی سببه ئی اول اول انکار و
مگر خدای تعالی د غه ایت شریف نازل کړی چه د پیغمبر تر فیصلی او خبری وروس
مسلمان ته هیڅ عذر کول مناسب نه دی. نو د واړه منظور کړی او نکاح وسوه
د خاوند او د ښځی په منځ کښی موافقت نه راغلی تر داسی حده قصه ور سر
چه حضرت زید رضی الله تعالی عنه د طلاق ورکولو اراده وکړه او نبی علیه ا
ته راغلی صلاح ئی ورسره وکړه نبی علیه السلام منعه کړی او پوه ئی کړی مگر نبی
السلام ته د اندازی څخه داور معلومه سوه چه د دوی یو ځای او سیدل گر
و مشکل دی په دغه وخت کښی مبارک علیه السلام ډیر فکرمند سو چه اول
د غو ورور او خور د زید رضی الله تعالی عنه سره نکاح کول خوښه نه وه
ما په وینائی قبوله کړه او س که چیری طلاق ورکړه سی نو د اخو بیا ډیر د
ورور او خور سپکاوی دی او د دوی به ډیر زړه ماته سی نو د دوی د دلج
د لاسایی کولو هم یو تدبیر په کار دی. تر ډیر فکر کولو وروسته ئی د اخبر
ه خیال کښی راغله چه که چیری زه پخپله نکاح ورسره وکړم نو بیشکه د دو
سلی او د لاسایی به وسی ور نه بله خبره په خیال کښی نه راځی - لیکن د د غه سم
ره د د نیا د خلگو د ژبی او خبرو هم خیال او فکر ورسره وو - چه بی ایمانه خلگ
نی (تانی) ضرور راکوی چه گورئ د زوی بنځه ئی وکړه په کور کی ئی ور ت
سینوله که څه هم په شریعت کښی پردی زوی په زوی ویلو سره حقیقی او
شتیا زوی نه جوړیږی مگر د خلگو ژبه به خوک بند ه کړی - بیا نو په دو
ی هم هغه بی ایمانه خلگ چه دوی ته د طعنی (تانی) د پاره هسی یو کبر
آزانگه هم ډیره ده. نو مبارک صلی الله علیه وسلم په دغه فکر کښی وو د دلت
نبوت زید رضی الله تعالی عنه هم طلاق ورکړی. د هدې تر تبریدو وروسته
ده مبارک زیات خیال داوو چه پیغام ور ولیږم نکه چه پیغام ئی ور ولیږی
فی وویل زړه خپل ربته وایم په خپل عقل سره هیڅ نه کوم و د ه ته چه هر
ه منظور وی نو خپله به ئی دی یعنی الله پاک انتظام وکړی دا ئی وویل او دس
وکړی پر مُصَلّٰهُ (مصلی) و د ریده لمونځ ئی شروع کړی او تر لمانځه وروسته

ئی دعا وکړه الله تعالیٰ پرخپل پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم دا آیت شریف نازل کړی چه موږ ددی نکاح ستاسره وکړه نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ددی وکړه ته تشریف راوړی دغه آیا تونه ئی ورته وویل.

دې مبارکی پرنور وبی بی گانو فخر[1] کاوی چه ستاسی نکاح ستاسی مور اوپلار کړیده اوزما نکاح خدای تعالیٰ کړیده نو اول اول چه د پردې او ستر حکم راغلی هغه ددې په واده کښی راغلی او دا بی بی ډیره سخی وه - دستکار ه یعنی دلاس کار کوونکی او کسب کار ه هم وه. دخپلی دستکاری درآمد نی څخه ئی خیرات هم کاوی - یو وخت ټولی بی بی گانی جمعه سوی زموږ د پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم څخه ئی پوښتنه وکړه چه ستاورو سته کومه بی بی تر ټولو مخکی ددنیا څخه حئ ستاسره ملگری کیږی د ه مبارک وفرمایل د هری یوی چه لاس تر تر ټولو اوږد وی په عربی محاوره کښی اوږد لاس والا وسخی ته ویل کیږی مگر بی بی گانی په دې خبره سره یوه نه سوی ددوی خیال سو دگچی اوانداز ی داوږد والی ټولو په یوه یوه لرگی سره خپل لاسونه گچه کول شروع کړه. نو تر ټولو د حضرت سودة رضی الله تعالیٰ عنها لاسونه اوږد ه وختل - مگر تر ټولو مخکی حضرت زینبی رضی الله عنها وفات وکړی په دغه وخت کښی پوه سوی چه اوهو دغه مطلب ئی وو غرض ددی سخاوت د الله جل شانه اورسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم په نزدیک هم منل سوی وو.

د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها قول دی چه ما تر حضرت زینبی رضی الله عنها ښه ښځه بله هیڅ نه ده لیدلی په دین کښی ډیره کامله، د خدای څخه یږیدونکی، په خبرو کښی ډیره صادقه، د خپلو قریبانو سره ډیره ښه رفتار کونکی، ډیره خیرات کونکی، د خیرات کولو ډیره دلاس په مزدوری کښی ډیره محنت کشه زموږ پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم ددی په حق کښی فرمایلی دی چه په زړه کښی ډیره عاجزی لرونکی او خدای ته ډیره ژړیدونکی وه.

فایده:- بی بی گانو تاسی واوریده د سخاوت بزرگی اوشرافت او دلاس د کار ښه والی اوپه هر کار کښی خدای تعالیٰ ته رجوع کول - گورئ هیڅکله په خپل

[1] دا فخر په طریقه د تکبر نه وو بلکه د خدای تعالیٰ د نعمت اظهار وو او د اعبادت دی ۱۲ محشی

لاس کارکول ذلت او عیب مه بولی هنر او پیشه هیڅکله پیغور مه بولی.

(۳۳) دحضرت ام حبیبی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۸)

داهم زموږ د حضرت پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم بی بی ده - په مکه شریفه کښی چه هر وخت کفار و مسلمانان ډیر زهیر او تنگ کړه او مدینی ته تر دغه وخته پوری د هجرت کولو هیڅ حکم نه وو سوی دغه وخت ډیر مسلمانان د حبشی و ملک ته تللی وه د هغه ځای بادشاه چه په نجاشی سره ورته وایی (یعنی هلته چه څوک بادشاه سی نو د نجاشی په نامه سره ورته وایی) نو دغه بادشاه نصرانی مذهبه وو مګر د مسلمانانو د ورتګ وردسته دی مسلمان سو. غرض کوم مسلمانان چه (حبشی) ته تللی وه په دغو کښی حضرت ام حبیبه هم وه د اکونډه سوه نو نجاشی بادشاه یو مخادمه (خدمتګاره) چه د دی نوم ابرهه وو وحضرت ام حبیبی ته راولیږله چه زه د ناته د رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم پیغام د رکوم یعنی د نبی علیه السلام سره نکاح وکړه نو ام حبیبی رضی الله تعالیٰ عنها هغه پیغام قبول کړی او په انعام کښی ابرهه ته دوه (۲) ده سپینو زرو بنګړیان یوځه ګوتکی او وښیان د رکړه - د دی د اول خاوند نوم عبد الله بن جحش وو.

فایده:- څرنګه دیندار ښځه وه چه د دین د حفاظت او ساتنی د پاره د کور څخه بی کوره سوه الله تعالیٰ د دی د تکلیف او مشقت په عوض کښی څرنګه راحت او عزت ورکړی چه د حضرت صلی الله تعالیٰ علیه وسلم سره ئی نکاح وسوه او بادشاه د د غه انتظام او بندوبست وکړی. بی بی ګانو د دین په هر وخت وقوع او ځای راسی هیڅکله د دنیا استراحت یاد نامه یاد مال او دنیا یاد کور وغیره طمعه او حرص مه کوی بلکه شیان پردین قربان کړی.

۳۴ دحضرت جویریه رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۹)

داهم زموږ د پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم بی بی ده دا په یو جنګ کښی چه د بنی مصطلق په جنګ سره مشهور دی د کافرانو د بنار څخه په قید کښی وه او د یو صحابی رضی الله تعالیٰ عنه ثابت بن قیس یا د ده د اکا د زوی په حصه

کښی د غلی وه نو دی د خپل مالک ته وفرمایل چه زه به تاته دوندی ره پیدا کړم ته ما د غلامی څخه آزاده کړه. هغه داخبره منظوره کړه - نو د نبی صلی الله علیه والـه وسلم ته راغله چه د رو پیو څه کومک راسره وکړه - نو نبی صلی الله علیه والـه وسلم د دی پر دیندارۍ او غریبی رحم وکړی او وې فرمایل چه که ته وایی نو ورڈپی به پتولی زه ورکړم او ستاسره به نکاح وکړم نو دې پیره په مینه او خوشحالی سره داخبره قبوله کړه غرض نکاح وسوه ښه روښت چه خلګو ته د نکاح حال معلوم سو نو د دی د خاندان او قبیلی نور ټول قیدیان د نورو مسلمانانو په قبضه کښی وه د دی پتولو خپل قیدیان د غلامی څخه آزاد کړه - چه د اقبیله خواوس زموږ د رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم خسرګنی سوه او اوس د دی څخه مریان جوړول بی ادبی ده.

حضرت عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمایی چه داسی یوه بښځه موږ نه ده لیدلی چه د هغی خاندان او قبیلی ته د دې د سببه د وندی فایده رسیدلی وی کومه د دې د اول خاوند نوم مسافع بن صفوان وو.

فایده ۱ - وګورئ د دیندارۍ عجیب نعمت دی چه د دیندارۍ په برکت سره باوجود د دی چه مینځه وه د رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم بی بی ګانو تر حضرت صلی الله علیه والـه وسلم زیات هیڅوک بل عزت والا نه وو چه هر وخت د ده مبارک مینځه خپله بی بی کړه او عیب ئی نه وبالی نو که څوک یو بیکاره ځای دیو مصلحت په غرض نکاح وکړی یا دیو مسافر ی جلاوطنی سره نکاح وکړی نو هم تاسی د غه حقیر او خوار مه بولی د اډیر بد مرض دی او ګناه هم ده وګورئ د صحابه رضوان الله علیهم اجمعین و ادب ته چه د د غی بی بی ئی خوندی د ډیر عزت وکړی چه د دی د خاندان او قبیلی ذلت ئی هم خوښ نه کړی تاسو څرنګه جهالت دی چه پخپله د د غسی بی بی هم عزت نه کوی هسته که هر څوند نیکه او دیندار ه وی نو به د دی د خاندان څه خاوری عزت وکړی.

(۲۵) د حضرت میمونی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۱۰)

د اهم زموږ د پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم بی بی ده د حدیثو یو غټ اولوتی

عالم داسی وایی چه ددی نکاح د حضرت صلی الله تعالیٰ علیه واله وسلم سره
داسی سوید ه چه دې مبارکی داسی عرض کړی وو چه یا رسول الله زه خپل
خان تاته درښښم یعنی بیله مهر او ولور څخه ستا سره نکاح کول قبلوم
او ده صلی الله علیه واله وسلم قبوله کړی وه - دا رنګه نکاح زمورد پاک
نبی صلی الله علیه واله وسلم د پاره صحیح وه . او یو بل عنت عالم د علم تفسیر
داسی فرمایی چه په کوم ایت کښی د داسی نکاح حکم دی د غه اول د دغی بی بی
د پاره راغلی دی - د دې د اول خاوند نوم حویطب وو -

فایده :- وګورئ څرنګه او څوندی د دین عاشقانی بی بیانی وی چه د نبی
علیه الصلوٰة والسلام خدمت کول ئی عبادت وبالی د مهر (ولور) ئی هیڅ پروا
ونه کړه او حال داچه په هغه زمانه کښی مهر لاس په لاس دستی ورکول
کیدی زمونږ د زمانی په شان د قیامت یاد مرګ پورا وقرض نه وو .

بی بی ګانو صرف دین د همیشه د پاره اصلی دولت وګڼه د دنیا سره داسی
محبت مه کوی چه خپل وخت او خپل فکر پکښی مصروف کړی او شپه او ورځ د غه
دنده وی چه د دنیا او مال پیدا سی نو باغ باغ او خوشحاله سئ برابره خبره ده
که ثواب وی که ګناه وی او که د دنیا او مال پیدا نه سی نو غم در باندی نازل سی
شکایتونه کوی در پرده ګرزی پر هستی لرونکو او مالدارانو خلګو حسد کوی
او خپل نیټونه مضطرب او پریشانه کوی .

(۳۶) د حضرت صفیی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۱۱)

داهم زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم بی بی وه خیبر د مدینی منورې
ته نژدی یو کلی دی دالته د یهودو سره د مسلمانانو جنګ سوی وو د ابی بی په
د غه جنګ کښی په قید او بند سره راوړل سوی وه او د یو صحابی (رضی الله تعالیٰ
عنه) په حصه کښی راغلی وه حضرت پیغمبر صلی الله تعالیٰ علیه واله وسلم دا
د غه صحابی څخه رانیوله او آزاده ئی کړه بیا ئی د دې سره نکاح وکړه .

دا بی بی د حضرت هارون علیه السلام د اولادی څخه ده او چیره بردبار
عقلمنده او په ښو اخلاقو پته وه - د دی بردباری د دی یوی قصی د بیان څخه
معلومیږی چه د دې یوی مینځی حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه ته په درواغو

(۲) سره دد دو خبرو چغلی کړی وه. بوه خبره داچه ددی تراوسه پوری د شنبی دورځی سره محبت دی. دغه ورځ په یهود یانو کښی د پیر عزت وه مطلب ئی داوو چه داسلمانانه سویده لیکن د مسلمانی سره د یهودی مذهب اثر پکښی کی دی نو داسی ئی بولله چه پوره مسلمانه نه ده.

(۲) دوهمه خبره ئی داکړی وه چه دیهود و سره ئی ښه راکړه ورکړه سته - نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د حضرت صفیی رضی الله تعالیٰ عنها څخه پوښتنه وکړه - دی مبارکی جواب ورکړی چه اوله خبره خو بالکل درواغ ده دهر وخت څخه چه زه مسلمانه سوی یم او د جمعی ورځ خدای تعالیٰ راکړی ده نو د شنبی دورځی سره می محبت نه دی پاته سوی - دوهمه (۲) خبره هغه البته صحیح ده. اوددی وجه داده چه د غه خلګ زما قریبان دی او د قریبانو سره سلوک او احسان کول د شریعت خلاف نه دی. بیادی د دغی مینځی څخه پوښتنه وکړه چه تاته ددی درواغو د چغلی کولو لار چادر وښوولله دی ورته وویل چه شیطان راوښوولله - دی مبارکی ورته وویل چه څه ته می د غلامی او مینځیتوب څخه ازاد ه کړی او خلاصه کړی یی. ددی داول میره نوم کنانه ابن ابی الحقیق وو.

فایده:- بی بی ګانو وګوری بردباری و د غه ته وایی تاسی لره هم په کار ده چه د خپلی خدمتګاری، خدمتګار اومزدور خطا او قصور همیشه ورمعاف اووبخښی په هره ورځ او ورځ او کوچنی خبره کښی بلکه له اخستل کم حوصلګی او بی بردباری ده او وګوری څرنګه رشتیا گوییه وه هره خبره چه وه هغه ئی صاف وویل د ځانه ئی خبره جوړه نه کړه نن سباد بعضو عادت دی چه هیڅکله پرخپل ځان خبره نه پریږدی خبره سره دوری دوری کړی خپل ځان خلاصوی د خبری جوړول هم بده خبره ده.

(۳۷) د حضرت زینبی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۱۲)

دابی بی زمونږ د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم لوړده او د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم ددی سره پیره مینه وه ددې نکاح د حضرت ابوالعاص بن الربیع رض

سره سوی وه. نو هر وخت چه دا مسلمانه سوه خاوند ئی د اسلام څخه انکار وکړی نو دې مبارکی علاقه ورسره قطعه کړه او مدینی منوری ته ئی هجرت وکړی لږ ورځی وروسته ئی خاوند هم مسلمان سو مدینی شریفی ته راغلی. نو حضرت صلی الله علیه والـه وسلم بیرته ددی نکاح ددوه سره وکړه او ده هم حضرت زینبه رضی الله تعالی عنها په پیره مینه سره غوښته چه زما په نکاح سی.

هر وخت چه دی مبارکی هجرت کاوی مدینی منوری ته روانه وه نو په لاره کښی یوو بلې قصه پیښه سوه چه یو څای دوه کافران ملعونان سره ملګری سوه ددوی دوؤ (۲) څخه یوه کافر دا مبارکه پری وهله دا مبارکه پرلوړه برده نو زاره سوه او دا مبارکه حامله وه دغه حمل ئی هم نقصان سو دوندی اندازه صدمه اوهر دوړ سیدی چه دوړئی تر وفات او مرګ پورې بنه نه سوه آخر کار ئی په دغه رنځ کښی وفات وکړی. انا لله وانا الیه راجعون

فایده: وګورې څوندی د همت او دینداری خبره ده چه د دین د پاره ئی خپل وطن پریښووی خاوند ئی پریښووی د کافرانو د لاس څخه څرنګه تکلیف ورورسیدی چه سر ئی پکښی ولاړی مګر پر دین ثابته او پینګه وه. بی بی ګانو ددین په مقابل کښی ټول شیان باید پریږدی که تکلیف درورسیږی نو پرځان ئی تیروی صبر کوی که خاوند بی دینه وی هیڅکله ملګرتیا مه ورسره کوی.

(۳۸) د حضرت رقیې رضی الله تعالی عنها ذکر (۱۳)

داهم زموږ د پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم لوړه ددی اوله نکاح د عتبه سره وسوه چه دابولهب کافر زوی دی چه ددې بدوالی په سوره تبت یدا اکښلی راغلی دی هر وخت چه دغه دواړه پلار اوزوی مسلمانان نه سوه او دپلار په وینا سره ده وخپلی بی بی ته طلاق ورکړی چه حضرت رقیه رضی الله تعالی عنها وه. نو حضرت صلی الله علیه والـه وسلم ددې مبارکی نکاح د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه سره وکړه.. هر وخت چه نبی صلی الله علیه والـه وسلم د بدر جنګ ته تلی نو دا مبارکه ناجوړه وه. نو حضور صلی الله علیه

اول دغسی نکاح یعنی د مسلمانی بنځی نکاح د کافر سړی سره روا وه لیکن اوس دغه حکم نسته ۱۲ محشی

والـه وسلم حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ددی د خبرا و حال معلوم ولـ[illegible]
په مدینه شریفه کښی پری ایښی وو او ویـ[illegible]ته ویلی ئی وه چه تاته الله پاک ـ د
مجاهدینو اوغاړیانو برابر ثواب درکوی اود جهاد والاوو سره ئی ددده حصه هم
مقرره کړی ده په کومه ورځ چه د بدر جنگ مسلمانانو وګاټه او مدینی شریفی
ته راورسیدل په دغه ورځ دی مبارکی وفات وکړی. انا لله وانا الیه راجعون

فایده:- وګورئ ددی مبارکی څرنگه بزرګی ده چه ددی د خدمت کولو ثواب
د جهاد سره برابر مقرر سو ددې بزرګی د دینداری په وجه وه بی بی ګانو د خپل دین
د مضبو طولو د پاره خیال هروخت ساتی هیڅ ګناه باید ونه کړی ځکه چه په ګناه
سره مو په دین کښی د پیره کمزوری پیدا کیږی.

(۳۹) د حضرت ام کلثوم رضی الله تعالی عنها ذکر (۱۴)

دا هم زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لور ده ددی اوله نکاح د عتیبه
سره وسوه چه ددغه کافر ابولهب بل زوی دی تراوسه ئی لاواده نه ووسوی
چه زمونږ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته پیغمبرۍ ورکړه سوه اود غه
د واړه پلار اوزوی مسلمانان نه سوه اوده هم د خپل پلار په ویناسره دغه
بی بی پریښوولـه ـ هروخت چه ددی د خور حضرت رقیه رضی الله تعالی عنها
وفات وسو نود دې مبارکی نکاح د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه سره وسوه
او هروخت چه د حضرت رقیی رضی الله تعالی عنها وفات سوی وو اتفاقاً په دغه
زمانه کښی حضرت حفصه رضی الله تعالی عنها هم کونده سوی وه. ددې پلار
حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ددی نکاح د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه
سره کول غوښته ـ لیکن ددوی نکاح نه وسوه. پیغمبر صلی الله علیه وسلم
ته خبر ورسیدی ـ نو مبارک علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل چه حفصی رضی
الله تعالی عنهاته تر عثمان ښه خاوند ورښیم او عثمان ته تر حفصی ښه بی بی
ورښیمه ـ څرنگه چه ده مبارک د حضرت حفصی رضی الله تعالی عنها سره
نکاح وکړه او د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه نکاح ئی دام کلثوم رضی الله عنها
سره وکړه

فایده:- پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام ودی ته په ښه وویل او پیغمبر

چه هرچاته په سنه ووایي نو داد ایمان په برکت سره دی - بی بی گانو ایمان اودین صاف او برابر وساتی.

(۴۰) دحضرت فاطمة الزهرا رضی الله تعالی عنها ذکر (۱۵)

دا په عمرکښی تر ټولو خوند وکښره او په رتبه کښی تر ټولو خوند وزیاته اوتر ټولو محبوبه اوگرانه لور زموږ د حضرت پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم ده حضرت پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم دا دخپل روح ټکره بللی ده او دا ئی د ټول جهان اود دنیاد سنځو سردار ه بللی ده او داسی ئی هم فرمایلی دی چه په کومه خبره سره فاطمی ته خفگان رسیږی په هغه خبره سره مات ته هم خفگان رسیږی او په کومه مریضی کښی چه زموږ پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم وفات کړی وو په دغه مریضی کښی مبارک علیه السلام د ټولو څخه پټ صرف او یوازی ودی ته دخپل ځان د وفات د نژدیوالی خبر ورکړی وو چه پرد غه باندی د امبارکه په ژړا سوه بیاده مبارک ددې په غوږ کښی پټ ورته وفرمایل چه ته غم مه کوه یو خو تر ټولو مخکی بیرته زما سره یو ځای کیږی بل به په جنت کښی د ټولو بی بی گانو سردار ه ئی د اخبری ئی وا ورسیدی نو بیرته ئی وخندل.

د حضرت صلی الله علیه والـه وسلم بی بی گانو چه هرڅوندی چیرځندی ویوښتل چه داڅه خبره وه دی مبارکی هیڅ جواب ورنه کړی او د رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم تر وفات وروسته ئی د غه راز[۱] ورته بیان کړی او د حضرت علی رضی الله تعالی عنه سره د دی نکاح سویده په نور و چیرو حدیثونو کښی هم د دی چیر فضائل او بزرگی بیان سویدی.

فایده:- د حضرت رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم د غه ټول محبت او خصوصیت ځکه د سره وو چه دا مبارکه تر ټولو زیاته دیندار ه[۲]، شکرگذار ه او صابره[۳] وه بی بی گانو دین، صبر او شکر اختیار کړی تاسی به هم د خدای پاک او رسول علیه الصلوة والسلام په نزدیک محبوبی او قدر منی وگرځی.

---

۱ ورته بیان کړی او د رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم د غه ټول محبت او خصوصیت ځکه د سره وو چه دا مبارکه تر ټولو زیاته دیندار ه

۲ او شکر اختیار کړی تاسی به هم د خدای پاک او رسول علیه الصلوة والسلام په نزدیک محبوبی او قدر منی وگرځی.

۳ صابره وه بی بی گانو دین، صبر

فایده:- تر ټولو مخکی د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم کوم حال چه بیان سویدی هلته هم ددی ټولو بی بی گانو د حضرت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم اود ټولو لوړو ددې مبارک نومونه ذکر سویدی.

فایده:- بی بی گانو یوه بله د فکر او غور خبره ده تاسی ته خو د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د یو(۱) ولسو بی بی گانو اوخلور دلوړو حال در معلوم سو د دغه څخه به تاسی ته داهم در معلومه سوی دی چه په بی بی گانو کښی د حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه ماسیوای د ټولو بیبیانو د نبی صلی الله علیه وسلم سره د دهمه نکاح سویده یعنی اول واړی نکاح د بل چا سره سوی وه او په لوړو کښی ماسیوی د حضرت زینب او حضرت فاطمی څخه دهغه نور ود(۲) و د حضرت عثمان غ سره دوهم نکاح سویده. دغه دوولس بی بی گانی هغه څوک دی چه په دنیا کښی هیڅ بنځه په عزت او رتبه کښی د دوی سره برابره نه ده - که دوهمه نکاح دیوعیب خبره وای نو دغه دوولس(۱۲) بی بی گانو توبه توبه د عیب کار کاوی - افسوس دی چه بعضی کم عقله او ناپوهه انسانان دغه عیب بولی نو چه هر وخت ئی د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم د کوم کار او خبره عیب و بالی او بی عزتی ئی و بلله نو ایمان چیرې په دغسی انسانانو کښی پاتیږی دغه څرنگه مسلمانان دی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم طریقی عیب او د کفار و طریقی د عزت کار بولی حُکه چه دغه طریقه د کونډی کښینولو چه نکاح به دوهم واړه نه کوی خاص د هندوستان د کافرانو ده. او بل داچه په پخوانو کونډو کښی ایمان او غیرت د دی زمانی ترکونډو و زیات وو.

پخوا شرم او حیاوه اوس شرم او حیا نسته پخوانیو کونډیانو د خپل غیرت - د سبیه د خپل عزت او ابرو د پیره ساتنه کوله که څه هم جهالت پکښی د پیرو و لیکن داسی یوخبره د بی عزتی نه پکښی پیښیده چه خپل ځانونه ئی په اختیار کښی وه لیکن داوس زمانی کونډیانی چه نکاح هم نه کوی او ځانونه ترنا ویانو هم زیات سینګار وی د دی سبیه داسی د پیړی نازکی خبری پیښیږی چه د ویلو قابلی نه دی.

اوس بالکل د کونډی د کښینولو زمانه نه ده حُکه چه نه په بنځو کښی د اول غوندی غیرت پاته دی او نه داول په شان پرکونډه د نډه شفقت پاتې دی

او نه د دوی د حاله څان خبرول سته بلکه دا قصی پټولی ختم سوې دی نو اوس بالکل باید کوند په دمیږه ترې وفات او د عدی تیریدلو وروسته بل خاوند وکړی چه عزت ابرو به ئې هم پرځای وی او د دنیا ګذاره به ئې هم کیږی.

د اولو امتونو د بی بی ګانو وروسته تر اوسه پورې د حضرت صلی الله علیه واله وسلم دیوولسو بی بی ګانو او څلورو لونو چه پټولی پنځلس کیږی ذکر وسو په مخکی دنو رود غسی بی بی ګانو ذکر راځی چه د حضرت صلی الله علیه وسلم په وخت کښی وی په دی کښی د بعضو د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره خاص خاص علاقی هم سته.

(د استعاب او نورو کتابو څخه رانقل سوی دی)

(۴۱) د حضرت حلیمی سعدیی ذکر (۱)

دغی بی بی زموږ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ته ئې او شیدی ورکړیدی او هر هغه وخت چه حضور صلی الله علیه واله وسلم د طائف پربناړ باندی جهاد اوغزا وکړه په هغه وخت کښی دغه بی بی سره د خپل خاوند او زوی د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښی حاضره سوه۔ مبارک صلی الله علیه واله وسلم ئې د پیر تعظیم وکړی او خپل چادر او پټه ئې وغوړوله او دا مبارکه ئې پرکښینوله او دوی پټول مسلمانان سوه.

فایده:۔ وګورئ سره د دی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره د دی خورا پیره غټه علاقه وه مګر په دغه پوه وه چه بیله دین او ایمانه فقط په دغه علاقه سره کار نه کیږی بخښش نه کیږی۔ د دی سببه را غله او دین ئې قبول کړی. بی بی ګانو په دغه امید مه اوسی چه موږ د فلانی پیر اولاده یو یا زموږ فلانی زوی یا لمسی عالم یا حافظ دی نو دغه موږ بخښی۔ دا خبره یاد وساتئ که ستاسی سره خپله دین وی نو دغه خلګ هم د خدای پاک په حضور کښی ستاسی د پاره شفاعت کولای سی او که ستاسی سره دین نه وی نو دغسی علاقی هیڅ کار نه سی ورکولای.

(د عجائب القصص کتاب څخه)

(۴۲)	دحضرت ام ایمن رضی الله تعالی عنها ذکر	(۲)

۰ محمد صلی الله علیه وآله وسلم یو وخت وخت ددی د ملاقات د پاره ورتلی یو وار حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ددې وخوا ته تشریف راوړی ددې په یو پیاله کښی د چښلو یوشی درکړی خدای خبر چه د نبی صلی الله علیه وآله وسلم زړه نه غوښتی د غه وخت یا د مبارک صلی الله علیه وآله وسلم روژه وه نو مبارک علیه السلام عذر وکړی چه نه ئې چښم چونکه د ده ې پرنبی علیه السلام د پاللو نا زړو - نو صندئ وکړی و د سیده بیله کوم باک اوسامه ئې و ویله چه نه خامخابه ئې چښی - او حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم داهم فرمایل چه زما ترحقیقی مور وروسته ام ایمن زما مور ده - د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم تر وفات وروسته حضرت ابو بکر رضی الله تعالیٰ عنه او حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه یو وخت وخت د ده ی وزیارت ته راتلل د وی ته به ئې وکتل رسول الله صلی الله علیه وسلم به ور په پادسو ژړل به ئې - او دوی دواړه وحضرا تو به هم ور سره ژړل .

فایده :- وګورې څونډی د بزرګی خبره ده چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تشریف وړوړی او ابو بکر او عمر رضی الله تعالیٰ عنهما غوندی صحابه ئې خاطر کوی او دا بزرګی او شرافت ئې د دعیٰ وجهی څخه ووچه دې مبارکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کړی وو او په دین کښی کامل وه - بی بی ګانو اوس د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خدمت دادی چه د ده دین خدمت وکړی نو روته بنه کار ور وښیاست ، وښځوته دین ور زده کړی ، خپل اولاد ته د نیکی تعلیم ورکړی ، او خپله هم په دین کښی محکمه اوسی نو انشاء الله تعالیٰ تاسی ته به هم د بزرګی او شرافت برخه ورسیږی او د زیارت کولو څخه د دی د صحابوسره د اخیال مه کوی چه دا به د لټولو په محنکی بی پردی او بی ستره کیدله ویوچاته د ور تلوارادی او بیا ور تلل ورسره کښینستل که څه هم په منځ کښی پرده وی او بنی بنی خبری کول او ویدل بس د غه زیارت دی .

(د مسلم شریف او نووی څخه)

(۴۳)	دحضرت ام سلیم رضی الله عنها ذکر	(۳)

دا د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم صحابیه ده (یعنی نبی علیه السلام ئې

یدلی دی مجلس ئی ورسره کړیدی) او یو صحابی دی ابو طلحه رضی الله تعالی
د غه بی بی ده او یو صحابی دی حضرت انس رضی الله تعالی عنه چه د نبی ع
سلام خاص خدمتگار دی د ده هورده او د نبی علیه السلام یو قسم خاله
ه او یو صحابی د دې مبارکی ورور وو هغه په یو جنګ کښی شهید سو یدی
حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د دی ډیر خاطر او لحاظ
یو وخت وخت به ئی د دی وکور ته تشریف ورو ړی او حضرت رسول الله
له علیه وآله وسلم دا په جنت کښی هم لیدلی وه او د دې مبارکی یوه عج
سه راغلی ده چه د دی یو نړوی وو هغه ناجوړه سو او مړ سو د شپی وخت
ن د دې صبر وګورکه د افکر ئی وکړی که چیری خاوند خبر کړم نو ټوله شپه
قرار نه وی او ډوډی وخیره به نه خوړی پس نو چپه پټه خوله کښینستا
وند ئی راغلی او پوښتنه ئی وکړه چه کوچنی څرنګه دی دې مبارکی ورته و
ه آرام دی او درواغ ئی هم نه وویل. د مسلمان دپاره تر دغه زیات بل آر
ومی خوادی چه خپل اصلی ځای ته ورسیږی هغه پوه نه سو.
مرض د ده و مخ ته ئی ډوډی کښیښو وله او هغه وخوړه بیا د ده و دی ن
واهش وسو نو دې نیکی بی بی د نړدیکت څخه هم منعه و نه کړه چه دی هم
ټولو کار و څخه فارغه سو. نو دا د ده څخه پوښتنه کوی یعنی د خپل
وند څخه پوښتنه کوی چه که یو څوک وچا ته په خواست شی ورکړ
یا هغه خپل شی ځنډی غواړی نو دا انکار کولو حق ستا خاوند ورته و
ستا نو دې مبارکی ورته وویل چه د کوچنی څخه زړه صبر کړه. نو دی چ
نه سو چه زه دی اول ولی نه خبر ولم او ولاړی د غه ټوله قصه ئی نبی ع
سلام ته بیان کړه. نبی علیه السلام دعا ورته وکړه. د خدای قدرت و
ه د دغی شپی څخه حمل قرار نیولی وو چه په نتیجه کښی هلک ځنډی
لا سو. او عبدالله نوم ئی پرکښیښو دی او د غه عبدالله عالم سو او د ده پ
لا د کښی ډیر عنت عالمان پیدا سول.
فایده کار بی بی گانو صبر د د دی څخه زده کړی او خاوند ته د استراحت رسو
ق د د دی څخه واخلی او چه د غه د سوالی او خواستی شی مثال ئی ورکړی
گه بنده او رشتیا خبره ده که انسان په د غه قدر خبره څان پوه کړی. نو

هیڅکله به بی صبری و نه کړی - وګوری د دغه صبر و برکت نه چه خدای تعالیٰ
د دغه کوچنی عوض څونډی ژړا ورکړی او څرنګه برکتناکه عوض یې ورکړی
چه د دې په نسل او اولاد کښی عالمان او فاضلان پیدا سول .
(داحادیثو د کتابونو او د دوی د شرح څخه رانقل سویدی)

(۴۴)	دحضرت ام حرام رضی الله تعالیٰ عنها ذکر	(۴)

دا هم صحابیه ده د حضرت ام سلیم رضی الله تعالیٰ عنها چه اوس یې ذکر وسو
خو ښه ده دا هم د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د یو طرفنه څخه خاله
کیږی د دی وخواته به هم رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورتلی یو
واړه مبارک د دې په کور کښی پروت وخوړله بیده سو بیا د خوبه راویښ
سو خندله یې دې مبارکی د خندا وجه څنډی و پوښتله ده مبارک وفرمایل چه
ما په دغه وخت کښی په خوب کی د خپل امت خلګ ولیدل چه د جهاد د پاره
په کښتی کښی سپاره وی اوروان وی په سامان او لباس سره امیران او بادشا-
هان معلومیږی - دې مبارکی عرض وکړی یا رسول الله دعا وکړه چه الله تعالیٰ
ما هم په دوی کښی حساب کړی - رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دعا و
فرمایل بیرته ده مبارک علیه الصلوٰة والسلام ته خوب ورغلی بیده سو - بیا
داغه رنګه د خوبه په خندا سره راپورته سو اوهغه اول قسم خوب یې بیا بیان
کړی او د دغه قسمه څخه یې نور خلګ په خوب کښی لیدلی وه دې مبارکی بیا
عرض وکړی چه یا رسول الله دعا وکړه چه ما الله تعالیٰ د دوی سره ملګری
کړی د دوی د جملی څخه می کړی - رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وویل
چه ته د دوی د هغه اولو څخه یې - چنانچه د دی خاوند چه نوم یې عباده
وو د دریاب په سفر جهاد ته تلی او دا مبارکه هم ورسره وه چه د دریاب
څخه پریوتل دا هم پریو حیوان باندی سپره سوه د دغه حیوان شوخی وکړه
لغتی مغتی یې وغورځولی نو دا څنډی ایله سوه - بس د دغه ایله کیدو څخه
وفات سوه .

فایده :- د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم دعا قبوله سوه ځکه تر څوچه
څوک کورته نه وی رارسیدلی نو تر دغه وخته پوری د دغه سفر جهاد دی

او د جهاد په سفر کښی چه هرځوک په هره طریقه سره مړ سی په دغه سفر کښی د شهید درجه لری خدای پاک د شهید ثواب ورکوی۔ وګورئ څرنګه دیندار ده وه چه د ثواب حاصلولو په شوق کښی د خپل ځان پروا هم نه وساتل په خپله ئ دعا وکړه۔ چه دغه دولت ی نصیب سی۔ بی بی ګانو تاسی خپله د دغه دعا کوی او خیال او فکر ئ ساتی چه جهاد مو په برخه سی او د دین په کار کولو کښی که څه هم لږ څه تکلیف وی نو وارمه خطا کوی اخر خو ثواب هم بیا تاسی ته درکول کیږی۔

(د مسلم شریف او شرحی څخه رانقل سویدی)

(۴۵) د حضرت ام عبد رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۵)

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه چه یو جلیل القدر اوغټ صحابی دی دغه بی بی د ده هوسره او پخپله هم صحابیه ده د دی د نبی علیه السلام دکور په کار و نو کښی د وندی د خل و وچه کتو نکو به دا فکر کاوی چه دا مبارکه هم د دغه کور ده۔

فایده:۔ د وندی اندازه حضوصیت د نبی صلی الله علیه وآله وسلم په کور کښی د اصرف د دین په برکت سره وو۔ بی بی ګانو که دین برابر وی نو تاسی ته به هم په قیامت کښی د نبی علیه السلام سره نژدیکت نصیب سی۔

(۴۶) د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه دمور ذکر (۶)

حضرت ابوذر غفاری رضی الله تعالیٰ عنه یو صحابی دی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د نبی والی او رسالت خبر مشهور سو او کافرانو دغه خبر د رواغ و بالی نوندی مبارک د خپل وطن څخه مکی شریفی ته د دغه خبر د تحقیق او معلومولو د پاره راغلی د دې خالی حال او احوال چه ئ معلوم کړی نو مسلمان سو هر وخت چه بیرته خپل کور ته ولاړ ی او خپلی مور ته ئ ټوله قصه بیان کړه نو مور ئ هم مسلمانه سوه او ایمان ئ قبول کړی۔

فایده:۔ وګورئ پاکی دغه ده چه هر وخت رښتیا خبره وه معلومه سوه د دغه په منلو کښی ئ د پلار نیکه د رواج هیڅ خیال و نه ساتی۔ بی بی ګانو تاسی

هم هروخت چه د شریعت یو کار، مسئله د معلومه می نود دغه په مقابله کښی د رواج نوم مه اخلی بس په خوشحالی خوشحالی سره د دین خبره او مسئله ومنی او عملی یی کړی.

(۴۷) د حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه د مور ذکر (۷)

حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه یو صحابی دی خپلی مور ته به یی د دین د قبلولو پاره دعوت ورکاوی یو وار یی مور ودین او ایمان ته یو داسی خبره کړی وه چه حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه ته د دغی خبری څخه ډیره صدمه اودرد ورسیدی او په ژړا سره رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته راغلی چه یا رسول الله زما مور د پاره د هدایت دعا وکړه ده مبارک دعا وکړه چه یا الله د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه ومور ته هدایت وکړی. نو حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه په خوشحالی سره کور ته راورسیدی. لیکن دروازه بنده وه داوبود تویید و شور هار یی واوریدی دارنګه لکه یوڅوک چه لمبیږی دده د راتلو کښهار چه یی مور واوریدی نو نارې یی کړه چه ځای پرځای ودریږه نو هروخت چه داو لمبیده دروازه یی خلاصه کړه او ویه ویل اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ دده د خوشحالی داحال سو چه بی اختیاره یی ژړا شروع کړه او په دغه حال کښی ولاړی ټوله قصه یی نبی علیه السلام ته بیان کړه. ده مبارک د خدای جل شانه شکر وکړی حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه وویل یا رسول الله دعا وکړه چه زمونږ یعنی مور او اولاد محبت او مینه د مسلمانانو سره پیدا سی او د مسلمانانو زمونږ دواړو سره مینه او محبت پیدا سی. ده مبارک دعا وکړه.

فایده:- وګورئ د نیک اولاد څومندی غټه فایده ده بی بی ګانو خپلو کوچنیانو ته هم د دین علم ورزده کړی ځکه چه ستاسو دین په محکمه کیږی.

(۴۸) د حضرت اسماء بنت عمیس رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۸۱)

دا هم صحابیه ده هروخت چه په مکه مکرمه کښی کفارو مسلمانان ډیر تنګ کړل نو په دغه وخت کښی ډیر مسلمانان د حبشی ملک ته تالی وه په دوی کښی

دا مبارکه هم وه - بیا چه هر وخت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم و مدینی منوری ته تشریف راوړی نو هغه ټول مسلمانان و مدینی شریفی ته راغلل دا هم د دوی سره راغله - نبی علیه السلام پر دی مبارکی زیږی کړی وو چه تا دوه (۲) هجرتونه کړیدی ستا پر ثواب دی -

فایده :- وګوری د دین او ایمان په خاطر څرنګه دکور څخه دوه واړه بچی کوره سوه نو خدای پاک ثواب هم ورکړی بی بی ګانو که د دین د پاره دیوځه تکلیف تیروی خو ورته راسی نو باید د غه پرځان تیرکړی وار خطا نه سی -

(۴۹) دحضرت حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه د مور ذکر (۹)

حضرت حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه صحابی دی - دی مبارک فرمایی چه زما مور یو وار زما څخه پوښتنه وکړه چه څوندی ورځ دی کیږی چه ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښی حاضر سوی یی ما ورته وویل چه دوندی ورځ ی سویدی ماته خپلی مور ډیر بد او بیکاره وویل او ما ورته وویل چه اوس حکم د ما بنام لمونځ د دوه مبارک سره کوم او د نبی علیه السلام ته عرض کوم چه وما او تاته د بخښش دعا وکړی چنانچه زه ولاړم د ما بنام لمونځ ی ورسره وکړی د ماخستن لمونځ ی ورسره وکړی چه د ماخستن د طائف کولو ورسته دی مبارک روان سو زه په پښی سوم چه زما آواز ی واوریدی وی فرمایل چه حذیفه ی ما ورته وویل - هوکی - حذیفه یم نو دوه مبارک و فرمایل څه کار دی دی خدای ج دی تا او ستاموری وبخښی -

فایده :- وګوری څنګه بنه بی بی وه د خپل اولاد د پاره ی د دغو خبرو هم خیال ساتی چه د نبی علیه السلام په خدمت کښی حاضر سوی یی که نه ی - بی بی ګانو تاسی هم پر خپل اولاد تاکید کوی چه د بزرګانو او علماؤ و مجلس ته ورحاضر یږی او ناسته ولاړه ورسره کوی چه د دوی څخه د دین خبری زده کړی او د بنه مجلس برکت حاصل کړی (د بخاری شریف څخه رانقل سویدی)

(۵۰) دحضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر چه د څه تاو ورده (۱۰)

داد حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه خورده نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه مخکی

مسلمانه سوی وه - د دې خاوند سعید بن زید رضی الله تعالیٰ عنه هم مسلمان سوی
ود - حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه نزد عنه وخته پوری نه وو مسلمان سوی
دوی مبارکانو د واړه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د بیری څخه خپل اسلام
نه بنکاره کاوی - یو واړه د دوی د قرآن شریف ویلو آواز حضرت عمر رضی الله تعالیٰ
عنه واوریدی نو د دوی د واړه د سره ئې پیژره سختی وکړه لیکن اخښی خو بیا هم
نارینه ود - همت او غیرت ته د دغې بې بې وګوره چه صاف ئې وویل چه بیشکه
زه مسلمانه یم سره د خپل خاوند ه - مور قرآن وایی نور نو ستا خوښه ده که
مور وژنی او که مور پریږدی نو ده ورته وویل چه وما ته قرآن مجید راښکاره
کړی - بس د قرآن مجید د لیدلو او اوریدلو سره فوراً مسلمان سو د ایمان نور ئې په زړه
کښی داخل سو - د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښی حاضر سو کلمه ئې وویله
فایده:- بې بې گانو ستاسی د پاره هم د دین په خبرو کښی د غښی مضبوطی
او تینګوالی په کار دی د اسی نه چه د دنیا د گټې په خاطر د شریعت خلاف کارونه
کوی د کلی قبیلی په خاطر د شریعت خلاف رواجونه کوی او هر کار چه د شرعی
خلاف وی د دغه کار وخواته بالکل مه ورنږدی کیږی

(د استعاب او نور وکتابو څخه رانقل سویدی)

(۵۱) دیوی انصاری بنځې ذکر (۱۱)

د ابن اسحاق څخه روایت دی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
سره د احد په جنګ کښی دیوی انصاری بنځې خاوند، پلار او ورور ټول شهیدان
سوه - هر وخت چه دې د غه خبر واوریدی نو اول ئې پوښتنه وکړه چه د ا
راته ووایاست چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څرنګه دی
خلګو ورته وویل چه په خیریت سره دی نو دې مبارکی وفرمایل چه رسول
الله صلی الله علیه وآله وسلم مبارک صحیح او سالم دی نو هیڅ غم نسته.
فایده:- سبحان الله د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره ئې
څونډی زیاته مینه او محبت وو. بې بې گانو که چیرې تاسی د رسول الله صلی
الله علیه وآله وسلم سره مینه او محبت کول غواړی نو د ده مبارک د دین او شریعت
پوره پوره پابندی وکړی او پیروی ئې وکړی چه د پیروی او محبت په سبب سره

په جنت کښی د نبی علیه السلام سره یوځای درجی د ثواب درکول کیږی.
(د سیرت دکتابوخخه را نقل سویدی)

(۵۲) دحضرت امّ فضل لبابه بنت حارث ذکر (۱۲)

دغه بیان تراخره پوری د صحاح سته دکتابوخخه را نقل سویدی
دا زموږ د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د اکا بنځه ده د حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه بی بی اود عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه مورده په قرآن مجید کښی چه راغلی دی چه کوم مسلمانان چه دکافرانو په ملک کښی اوسیږی لیکن د خدای تعالیٰ عبادت کولای شی دد وی دپاره په کار ده چه دغه ملک پریږدی یو بل ځای اباد یعنی ولاړ سی اوکه د عشی نه کوی نو سخت گنهگار ده البته کوچنیان اوښځی چه دوی ته د نورو ځایونو لاری هم نه وی ور معلومی اونه دوندی زړور او همت ناکه وی هغه قابل د معافی دی۔ نو حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایی چه په دغه کم همتو کښی یوزه اویوه زما مور وه د اښځه وه زه کوچنی وم.

فایده:۔ وگورئ داد دې د نیت صفایی اوښوالی وو چه په زړه کښی د کافرانو سره اوسیدل خوښ نه وو لیکن مجبور وه وه د دغه سببه د خدای پاک پردی رحمت وسوچه دگناه څخه ئی خلاصه کړه بی بی گانو تاسی هم په زړه کښی همیشه د دین سره موافق د عمل کولو نیت کوی بیا نو ستاسی د مجبورتیا د معافید و امید سته اوکه هو چیری دسره په زړه کښی د دین دکار اراده نه وی نو بیا د گناه څخه نه سی خلاصیدای.

(۵۳) دحضرت امّ سلیط ذکر (۱۳)

یو واړ حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه د مدینی منوری پربی بی گانو یوخه چادران اوپورونی تقسیمول یو چادر اوپورونی پاته سو ده مبارک د خلگو سره صلاح اومشوره وکړه چه تاسی فیصله وکړی دغه پورونی و چاته ورکړم خلگو ورته وویل چه د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ولور چه نوم ئی ام کلثومه ده اوستا په نکاح کښی ده وهغی ته ئی ورکړه۔ د ده مبارک

وفرمایل نه بلکه دادام سلیط حق دی۔ دابی بی دانصار و څخه دی او د حضور صلی الله علیه والـه وسلم سره ئی بیعت کړیدی او حضرت عمر رضی الله تعالی عنه و فرمایل چه د اُحُدُ په جنگ کښی د دی داحال دو چه داوبو څریان به ئی داوبو ډکول او پرمسلمانانو باندی ئی گرزول تر دی مجاهدین ئی اوبول او د مسلمانانو د خورک او چښلو بند وبست ئی کاوی د غه رنگه یوه بی بی وه په نامه د خوله رضی الله تعالی عنها چه دی غزا کوله نو سره ئی چلوله۔

فایده:- وگورې چه د خدای په کار کښی ئی څوندی غیرت کاوی نو په دغه سبب ئی حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د وندی قدر وکړی داوس زمانی دبی همتانو داحال دی چه پنځه وخته لمونځ هم پرصحیح وخت نه سی کولای۔

(۵۴)	حضرت هالة رضی الله عنها بنت خویلد ذکر	(۱۴)

دازموږ د پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم خوښینه او د حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها خور ده دایو وار د حضرت صلی الله علیه والـه وسلم په خدمت کښی حاضره سوه دار نگه چه د د ر وازی د باندی و د ریده د اجازت ئی وغوښتی۔ څرنگه چه آواز ئی د خپلی خور په شان وو نو د غه سبب رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم ته خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها ورپیاد سوه نو دی مبارک حیران سو وئی فرمایل چه ای خدایه وگړی چه داهاله وی (یعنی زه خواهش اوار زوددی لرم چه داهاله وی)

فایده:- د دی دعا څخه معلومه سوه چه د د ه مبارک د دی سره محبت وو د غسی خو د خوښینتوب محبت هم و رسره وو لیکن لویه وجه د دی سره د حضرت صلی الله علیه والـه وسلم د مینی او محبت صرف دینداری وه بی بی گانـو کانو نه دینداران لږ وی گړی نو به ستاسو سره هم نبی علیه الصلوٰة والسلام په قیامت کښی مینه او محبت وکړی۔

(۵۵)	حضرت هند رضی الله عنها بنت عتبه ذکر	(۱۵)

حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه چه زموږ د نبی علیه الصلوٰة والسلام اخښی دی داد ده مور ده چه یو وار ئی زموږ پیغمبر صلی الله علیه والـه وسلم ته عرض

وکړی چه تر مسلمانید و مخکی زما دا حال وو چه تر تا ئی زیات د هیچا پیر ذلت نه غوښتی او اوس ئی د احال دی چه تر تا زیات د بل هیچا عزت نه غواړم - ده مبارک وفرمایل چه زما هم د غه حال دی.

فایده:- د د غه څخه خو یو د دی صداقت او رشتیا والی معلوم سو - دوهم (۲) معلومه سوه چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د دی محبت او مینه وه او د نبی علیه الصلوٰة والسلام د دی سره محبت وو - بی بی گانو تاسی هم رشتیا وایاست، او د نبی علیه الصلوٰة والسلام سره محبت کوی او د اسی کار کوی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ستاسو سره محبت پیدا سی.

(۵۶) د حضرت ام خالد رض ذکر (۱۶)

هر وخت چه خلګو وحبشی ته هجرت کړی وو په هغوی کښی د اهم وه په هغه وخت کښی د اکوچنی وه. هر وخت چه د حبشی څخه مدینی شریفی ته راغلل نو د دې پلار د نبی علیه السلام په خدمت کښی حاضر سوی وو د اهم ورسره وه او یو شړ قمیص ئی اغوستی وو د نبی علیه السلام سره یو کوچنی پوروني ووچه گلدار ه وو - د ر پر سر ئی کړی او ورئ فرمایل چه پیر بنه دی پیر بنه دی. او بیا ئی دعا ورته وکړه چه خدای دی د رباندی ژوند کړی د دی دعا مطلب دا دی چه خدای پاک دی پیر عمر د رکړی د خلګو دا بیان دی چه څوند کاعمر د دی وو د بلی بنځی موږ د وندی عمر ند دی اوږد لی خلګو به ئی خبری کولی چه د فلانی بی بی د وندی عمر وسو اکوچنی وه چه د نبی علیه السلام په مهر نبوت سره به ئی باز ی کولی پلار به ورته په قهر سو لیکن رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به ورته وفرمایل پری یه ږده څه پروا لری.

فایده:- د یره خوش قسمته وه - بی بی گانو وتاسو ته نبی علیه الصلوٰة و السلام د دین پوهونی د رکړیدی - لکه په قرآن شریف کښی چه و پر هیزګاری ته په بهترین لباس او جامه ویل سویدی که د غه دولت اختیار غواړی دین او پر هیزګاری غوره کړی

(۵۷) د حضرت صفی رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۱۷)

د د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د پلار خو ر د ه هر هغه وخت چه د حضرت

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اکا حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه د جهاد په جنګ کښی شهید سو ده مبارک داو فرمایل چه زما سره د صفی رضی الله تعالی عنها د درد او صدمی خیال دی ورنه حمزه رضی الله تعالی عنه به می نه وای د. فن کړی درندګانو به خوښی وای او په قیامت کښی به د درندګانو د نسه څخه راوتلی وای (یعنی د مظلومیت د سبکسارۍ کولو د پاره).

فایده ۱- د دی څخه معلومه سوه چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د دی زیات خیال او فکر وو چه خپله اراده ئی د دی په خاطر پریښوولـه. بی بی ګانو نبی علیه الصلوٰة والسلام چه د دی د دومره خیال ساتلو داد دی د دینداری او پرهیزګاری په وجه وو تاسی هم دینداران خوښ ئی سئ چه تاسی هم د دغه لایقانی سی چه د خدای پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ستاسی څخه هم راضی سی.

(۵۸) د حضرت ابوالهیثم رضی الله عنه د بی بی ذکر (۱۸)

دا یو صحابی دی زموږ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ده پر حال دوند ده مهربانی وکه چه یو وار نبی علیه الصلوٰة والسلام وښی سو چه نوښی د پرشدت اختیار کړی ده مبارک د دغه صحابی وکور ته بیله کومه تکلیفه تشریف وړوړی نو دی مبارک په کور کښی نه وو د خوښ و او بوراو د پلو د پاره تللی وو - نو دده بی بی مبارکی د نبی علیه الصلوٰة والسلام د پر خاطر او عزت وکړی - بیا دغه صحابی رضی الله تعالی عنه هم راغلی هغه هم د پر خوشحاله سو او د میلمستیا سامان او شیان ئی برابر کړه.

فایده ۱- که د دغی بی بی پر اخلاص د ده مبارک اطمنان او باور نه وای نو بیا دد دی په کور کښی نه کښینستی بیرته راګرزیدی ځکه چه خاوند نه وو لیکن چه د دی مبارک کښینستی نو معلومه سوه چه د نبی علیه السلام یقین وو چه داهم د پره بنه بنځه ده زما په راتګ خوشحاله ده یو څوک چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ورتګ سره خوشحاله کیږی او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هم د غه څوک بنه بولی نو دا وړه او کوچنی بزرګی او شرافت نه دی - بی بی ګانو نبی علیه الصلوٰة والسلام د غه وخت میلمه وو

نو تاسی هم د میلمنو په رانګ سره خوشحاله کیږی د میلمه په رانګ سره مه خفه کیږی چه تندی ته مو غوټی ورکړی وی.

(۵۹) د حضرت اسماء رضی الله تعالیٰ عنها بنت ابی بکر ذکر (۱۹)

دا زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم خوښینه او د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها خور ده هر هغه وخت چه نبی علیه الصلوٰة والسلام د مدینی منورې ته هجرت کاوی نو په کومه میاشت کی او کومه ورځ کښی چه د خورک شی وو د دغی کخوړی او تیلی د تړلو شی نه وو نو دی فوراً خپل کمربند څیرې کړی په نیم ئی تیلی او کخوړه د تړله او نیم ئی کمربند کړی.

فائده:- د پیرۍ غټې دینداری سره د غسی محبت وی چه د خپل کار شی ئی دده مبارک دپاره ناقص کړی بی بی گانو د دین محبت د غسی په کار دی چه د دین په برابر ولو او درست کولو کښی که د دنیا کار یا یو شی خراب سی نو هیڅ پروانه لری.

(۶۰) د حضرت امّ رومان رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۲۰)

دا زموږ د مبارک صلی الله علیه وآله وسلم خوابنی او د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها مورده پر حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها یو منافق توبه توبه تهمت لګولی وو چه په دغه کښی بعضی ساده ګان مسلمانان هم شامل سوی وه او حضرت صلی الله علیه وآله وسلم هم د دی څخه خفه خوندی وو. خبری ئی نه ورسره کولی بیا الله تعالیٰ د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها پاکی د آیتونو په ذریعه سره بیان کړه او حضور صلی الله علیه وآله وسلم. هغه آیتونه په کور کښی ورته واورول د دغه وخت حضرت رومان رضی الله تعالیٰ عنها د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ته وویل چه پورته سه د نبی علیه السلام شکر ادا کړه. حالانکه د دغه څخه مخکی هم دا په لور پیره خفه وه لیکن یوه کوچنی اوږه خبره ئی هم ترخوله نه ده وتلی په داسی شان چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د شکایت بوی پکښی وی بلکه د دا می خبری دیو بوی سخته غصجنه وه.

فائده:- د بنځو څخه د غسی تحمل او ضبط ډیره د تعجب خبره ده ورنه په د غسی وخت کښی څه ناڅه ترخوله خامخاوزی مثلاً چه دا سی ویلی وای چه افسوس زما د لور سره بیله کومی وجهی خفه او ناراضه شان گرزیدی - خصوصًا چه پاکی ئی ثابته سوه نو په د غه وخت کښی ضرور څه ناڅه غصه او غم څندی کیدی چه وگورله پرد غسی پاکه بنځه ئی شبه اوشک وومگر دی برعکس خپله لور کښینوله او د حضرت صلی الله علیه وآله وسلم طرفداری ئی وکړه. بی بی گانو تاسی هم د د غسی غم او د خبرو د اوږد والی په وخت کښی - خپلی لونی مظلومانی مه بولی چه دا ورته ووایاست چه په تاسی کښی هیڅ ملامتیانسته یا مور وخپلی لورته وایی چه د خسر په کور کښی بد د سره کوی او د لور سره ملگری سی د خسر گنی سره ئی جنگوی که ورسره وجنگیږی هم فاید ه نه سی ورپای بلکه خپل کار نور هم خرابوی.

په د غه قصه کښی دیوی بلی بی بی هم ذکر راغلی دی چه د دی زوی په د غو تهمت لگونکو خلگو کښی د سادگی په وجه ورشامل (گډ) سوی وو د غی بی بی پریږدو موقع خپل زوی ته بنه راوی کړیدی او د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها طرفداری ئی کړیده د د ې بی بی نوم ام مسطح دی وگورئ حق پرستی دا رنگه وی چه د زوی خبره ئی نه کړه ټینگه بلکه د رشتیا خبری طرفداری ئی وکړه او زوی ته ئی په بد سره وویل.

(۶۱) د حضرت امّ عطیه رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۲۱)

دا هم صحابیه ده او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د - اووو(۷) جنگونو ته تللی ده او هلته ئی د مریضانو او زخمیانو علاج او مرهم (ملهم) پټی کولی. او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره ئی د وندی اندازه مینه او محبت وو چه هر وخت به ئی د د ه مبارک نوم اخستی نو به ئی ځکه وی چه زما مور او پلار دی تر تا قربان سی.

فائده:- بی بی گانو د دین په کار و نو کښی همت او غیرت وکړی او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د غه شان محبت وساتی لکه گوم چه ام عطیی رضی الله تعالیٰ عنها ورسره ساتلی وو.

(۶۲) دحضرت بریرة رضی الله تعالیٰ عنها ذکر (۲۲)

دا دیوچا مینځه وه بیا حضرت عائشې رضی الله تعالیٰ عنها دا راپیرله او آزاده ئې کړه نو دا دحضرت عائشې رضی الله تعالیٰ عنها په کور کښې اوسیده دحضرت عائشې رضی الله تعالیٰ عنها او د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خدمت به ئې کاوی یو وار د دې دیارلس دیوځایه څخه غوښې راغلې وی زمونږ حضرت صلی الله علیه وآله وسلم پخیله څندی وغوښتی او وئې خوړلی.

فایده:- د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خدمت کول څوندی خوښ قسمتی ده او دی پر محبت د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پوره باور وو- نو ځکه ئې د دې شی وخواړې او دائ خیال ووچه دا به خوشحاله سی- او داهم یقیناً خوشحاله کیده- بی بی گانو د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خدمت بس دغه دی چه د دین خدمت وکړی او دغه محبت هم دی د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره.

(۶۳) دحضرت فاطمی رض بنت ابی حُبَیش او (۶۴) حسنه رض بنت جحش او (۶۵) دحضرت عبد الله بن مسعود رض دبی بی زینبی رض ذکر (۲۳) (۲۴) (۲۵)

د دغو درو سره بی بی گانو د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څخه د مسئلو د پوښتلو د پاره دکور څخه راتلل په حدیثو کښې راغلی دی نو د دی سبب مونږ د دغو (۳) درو سره نو مونه یو ځای ولیکل چه د دوی مبارکا نو حال یو شان ته دی.

اولی (۱) بی بی د استحاض مسئلې پوښتلی ده- دوهمه (۲) بی بی زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خوښینه او د حضرت زینبی رضی الله تعالیٰ عنها خور ده هغې هم د استحاض مسئله پوښتلی ده او دریمی بی بی د صدقې ورکولو د مسئلې پوښتنه کړیده- حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما یو ډیر غټ صحابی دی دا د ده بی بی ده.

فایده:- بی بی گانو د دین شوق دا رنګه وی تاسی هم چه هره مسئله نه وی د معلومه نو ضرور ئې د پرهیزګارو علماؤ څخه پوښتنه کړی او کله د پوښتنې

خبره وی نو دد غو علماؤ و بنځوته و وایاست چه هغه د خپلو خاوندانو څخه چه علماء دی پوښتنه وکړی او بنه ئی څندی زده کړی وروسته به ئی بیا تاسی ته بیان وکړی. د حضرت رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم د بی بی گانو اولوښو وروسته تر دی څایه پورې د هغو پنځه[۲۵] ویشتو بی بی گانو ذکر وسو چه د نبی علیه الصلوٰة و السلام په زمانه کښی وی، د نورو داسی بی بی گانو حالات هم په کتابونو کښی لیکل سوی دی مگر موږ د هغوندی ولیکل چه کتاب عنت نه سی مخکی د هغو بی بی گانو ذکر راځی چه د نبی صلی الله علیه وآله وسلم وروسته راغلی دی.

(۶۶) د امام حافظ ابن عساکر استاذانی بیبیانی (۱)

د غه امام د حدیثو ډیر لوی عالم دی دکومو استاذانو څخه چه ده مبارک علم حاصل کړیدی په هغو استاذانو کښی تر اتیا[۸۰] زیاتی بنځی دی.

فایده:- افسوس یوه دا زمانه ده چه بنځوته د دین د علم په حاصلو کښی د شاګردی درجه هم نه ده حاصله.

(۶۷-۶۸) د حفید بن زهر اطبیب خور او خور زه (۲-۳)

دا یو مشهور طبیب دئ د ده خور او خور زه په علم حکمت (علم طب) کښی بنی پوره ماهرانی وی او د خلیفه منصور د محلاتو او کلو علاج معالجه د دوی پر ذمه وه.

فایده:- د علم د بنځو څخه اوس بالکل تللی دی (یعنی علم طب) په دی علم کښی که هم په بنه نیت سره وی طمعه او دوکه نه کوی حرامه دوایی نه ورکوی د دین په کار دنو کښی غفلت نه کوی نو ډیر ثواب دی او د مخلوق فایده ده اوس د غه جاهلانی دایانی (لکه د نن سبا بعضی سپین سری بنځی مثلاً) د بنځو کور خرابوی څکه په وخت د پیدا کیدو کښی د کوچنی دوی د غسی فاسد او ناکاره هلاکونکی تدبیرونه او تجاویز چلوی که چیری د غه علم طب وای نو د غه خرابی نه پیدا کیده

د کومو بنځو چه پلار، ورور یا خاوند طبیب وی نو دوی که همت وکړی - نو د دوی د پاره د د غه علم حاصلول اونږده کړه ډیر اسانه کار دئ.

(۶۹)	دامام یزید بن هارون مینځه	(۴)

دا د علم حدیث پیرلوی امام دی په آخر عمر کښی ئی نظر پیرکمزوری سوی وو کتاب ئی نه سولید لای د دغی مبارک د غنی مینځی د دغه سره کومک کاوی پخپله به ئی کتابونه کتل حدیثونه به ئی یاد ول بیا به ئی وغه ته بیانول.

فایده:- سبحان الله په هغه زمانه کښی مینځی اوخدمتگارانی عالمانی وی اوس بیبیانی او باد ارانی هم اکثره جاهلانی دی د خدای جل جلاله دپاره دغه داغ او پیکه حراب کړی.

(۷۰)	دابن سماک کوفی مینځه	(۵)

دغه بزرگ دخپلی زمانی غټ عالم دی د دغه یو وار دخپلی مینځی څخه پوښتنه وکړه چه زما تقریر څرنگه دی. دې ورته وویل چه تقریر خودی پیر ښه دی مگر دوندی عیب یکښی سته چه یوه خبره وار وار تکراروی د دغه مبارک ورته وویل ددی وجهی څخه ئی وار وار تکرار وم چه هغه کم فهمه خلگ هم په پوره سی دې ورته وویل ترڅو پوری چه کم فهمه خلگ په پوهیږی نو پوهان خلگ به بیریدلی وی.

فایده:- دیو عالم په تقریر کښی په دغسی باریکه اوشوره خبره پوهیدل دعالم کار دی نو ددی څخه معلومه سوه چه دغه مینځه عالمه وه. بی بی گانو ترمینځیانو خومه کمیږی ښه کوښښ وکړی علم حاصل کړی که په کور کښی یوسړی عالم وی نو همت وکړی عربی هم وواياست پوره خوند د علم په عربی کښی دئ اوتاسی ته خوعلم حاصلول تر نرانو هم آسانه دی حکه پیسی گټل مټل اونور دابی دکور دباندی کار ونه خوستاسو پرذمه نه دی په پیر اطمنان سره په علم کښی مشغولی اواخته اوسی پاته سود کالوگنډل اورغول داپه یوځو جمعو کښی نرده کولای سی پټول عمر ولی برباد وی.

(۷۱)	دابن جوزی رحمة الله علیه عمه	(۶)

دابزرگ یوغټ عالم دی د دغه عمه به دی په کوچنی والی د علماؤ د درس او

له په دلطاکی د دغه ته پیر غټ کمال حاصل وو او شل زره کافران د دغه پر لاس مسلمانان سویدی ۱۲ محشی

تدریس ځای ته د ځان سره بیوئ نو دَئ ډیر پوه وو په کوچنیوالی کښی د علم ټولی خبری تقریباً زده کړی او په غوږ کښی ونیولی ماشاء الله د لسو کالو په عمر کښی د دوندی غټ عالم سو چه د هغلونه او نمیعتونه به ئی کول.

فاید ۱۰- وگورئ د خپل اولاد د پاره د علم دین د زده کولو څوندی ډیر فکر ورسره وو چه د ې په سپین ږیرتوب او بوډی والی کښی پخپله وړی تاسی خو د دوندی کولای سی چه نژدی څو پوړی اولاد د نومو د دین علم حاصل کړی نه وی. نو دانگریزی علم مه په کوی اول د دین علم ورزده کړی د خرابو مجلسونو څخه ئی را ګرځوی د دی ته ګړی په ګړی پرښه کار تنبیه ورکوی د مدرسی د تللو تاکید پر کوی اوس خو دا حال دی چه اول خو د لیک او لوست شوق نسته او که چیری هم دی نو بیا د انګریزی د ویلو شوق دی چه زمازوی به تحصیلدارسی ډپټی کمشنر به سی، والی به سی، فرقه مشر به سی او داسی نور.

که په قیامت کښی د وبخ ته ځئ مور او پلار هم ورسره بیائی لیکن بیا هم پروا نه لری یاد وسائی چه تر څو لومخکی د دین علم دی چه د دین علم ورسره نه وی نو د غسی انسان په هیڅ نه ارزی.

(۷۲)	د امام ربیعة الرای رحمة الله علیه مور	(۷)

داهم ډیر غټ عالم سو ید ی امام مالک او حسن بصری چه تر لمړ ډیر مشهور ه دی د او د واړه د د ه شاګردان سو ید ی د د ه د پلار نوم فروخ دی د بنی امیه د د بادشاهی په وخت کښی دَی په فوج کښی نوکر وو په حکم شاهی سره - دی ډیرو جنګونو ته لیږل سوی وو په دغه وخت کښی دَئ یعنی امام ربیعة الرای رحمة الله علیه د مور په نس وو د پلار ئی اوږه ویشت کاله په دغه سفر کښی تیر سوی وه او دی د پلار تر سفر وروسته پیدا سو ید ی او د پلار د سفر په دوران کښی د غوندی غټ عالم څنډی جوړ سوی وو - د سفر او تلو په وخت کښی د د ه خپل پلار وخپلی بی بی ته د ډیرش (۳۰۰۰) زره اشرفی ورکړی وی - د ې عالی او لوړ همتی بی بی دغه ډیرش زره اشرفی د د ه د علم پر حاصلولو او خط لیکلو مصرف کړی وی.

هر وخت چه د د ه پلار تر او وه (۲۷) ویشتو کلونو وروسته راغلی نو د بی بی څخه ئی د اشرفیو پوښتنه وکړه نو بی بی ورته وویل چه ټولی سلامتی پرتی دی په دغه

وخت کښی حضرت ربیعه په مسجد شریف کښی د حدیثو په تدریس مشغول وو۔ نروخ چه د غه نظاره یه خپلو سترګو ولیده له چه زمازوی د جهان پیشوا او مقتدا دی نو دډیری خوشحالی څخه په جامو کښی نه ځاییدی چه بیرته کورته راغلی نو بی بی پوښتنه وکړه چه ماته داوواید چه دیرش زره اشرفی بنی دی که د غه نعمت؟ دا وویل داشرفیو څه حقیقت او اهمیت دی چه د ا مبارک داوویل نو بیائ بی بی ورته وویل چه ما هغه اشرفی د د غه نعمت پر حاصلولو مصرف کړیدی نو دی مبارک دیرخوشحاله سو۔ دیٔ ویل چه زمادی په خدای قسم وی چه تا د غه اشرفی نه دی ضائع کړی۔

فایده:۔ څرنګه بی بی گانی وی د دینی علم څوندی قدر او خوند ور معلوم وو چه دیرش زره اشرفی ئ د خپل زوی د علم د حاصلولو د پاره خرڅ او مصرف کړی بی بی گانو تاسی هم د پیسو د مصرفید و او خرڅید پروا او خیال مه کوی۔ په هره طریقه سره چه وی خپل اولاد ته دینی علم ورزده کړی۔

(۷۳-۷۴)	دامام بخاری رحمة الله علیه مور او خور	(۸-۹)

دامام بخاری په شان بل د غسی د حدیثو عالم نه دی راغلی د د ه عمر څورلس(۱۴) کاله وو چه د ه مبارک د علم حاصلولو د پاره سفر وکړی د د ه مور او خور د د ه د خرڅ ذمه واری وی

فایده:۔ مور خو د غسی خرڅ هم اولاد ته ورکوی لیکن خو ر خو هیڅ وخت ذمه واره نه د ه نو د دې څه غرض وو په خرڅ ورکولو کښی نو معلومه سو ه چه په هغه زمانه کښی به په بی بی گانو کښی هسی د علم دین نوم ذکر سو نو د وی به د ټول مال متاع او سامان و قربانولو ته تیاری سوی بی بی گانو تاسی هم باید د د وی په شان سی۔

(۷۵)	دقاضی زاده رومی خور رحمهما الله	(۱۰)

دا یو فقیه مشهور عالم او فاضل د ی هر د خت چه د ه د روم د استاذ انو څخه علم حاصل کړی نو د ه سره د خارج د علماؤ څخه د دین او علم د حاصلولو شوق پیدا سو نو پته پته ئ د سفر د سامان په تیارولو سره شروع وکړه۔ د د ه وخور

ته معلومه سوه چه وروړ ئی د دینی علم حاصلولو د پاره روان دی نو ئی خپل
د پیرنیو ورات د دده په سامان سفر کښی پټ کښینوولو له او ورته ویلی ئی هم ندی.
فایده:- څرنگه بنی بی بی گانی وی د نامه سره ئی هیڅ غرض نه وو - دائی هوښته
چه هسی په یوطریقه سره علم حاصل سی او قائم سی. بی بی گانو د علم په حاصلولو
او قائمولو کښی کومک کول د پیرلوی ثواب لری - کوم چه د دین مدرسی دی
څوندی انداز ه کومک چه و تاسی ته اسانه وی ضرور کومک او امداد و
کړی. د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د زمانی د بی بی گانو څخه
وروسته داد هغو بنځو قصی بیان سوی چه د د وی سره د علم د حاصلولو
شوق وو - اوس د هغو بی بی گانو حال لیدل کیږی چه د د وی زړه د فقیری
مدنگی او درویشی وخواته وو.

(۷۶)	د حضرت معاذی عدویی رح ذکر	(۱)

د دی ځای څخه بیاد نفیسه بنت حسن تر ذکره او قصی پوری د طبقات
شعرانی کتاب څخه رانقل سویدی

د دی عجیب حال وو چه هر وخت به وړځ را ته نو ویل به ئی شاید دا به هغه
ورځ وی چه زه به پکښی مړه سم نو ترما بنامه به نه بیدیده چه چیری د مرگ
په وخت کښی د خدای پاک د یاد څخه غافله مړه نه سم داغه رنگه. چه هر وخت
به شپه را ته نو تر سهاره به نه بیدیده او د غه خبره به ئی کوله که به د خوب
غلبه پر را غله نو په کور کښی به په څغاسته سره گرزیده او نفس ته به
ئی ویل چه د خوب وخت را روان دی مطلب ئی دا وو چه تر مرگ وروسته بیا تر
قیامته پوری خوب دی په شپه او ورځ کښی به ئی شپږ سوه نفلونه کول او
هیڅکله به ئی اسمان ته نه کتل د گومه وخته څخه چه د د ی خاوند وفات
کړی وو بیا پر بستره نه د ده بیده سوی - د ې مبارکی د حضرت عائشی رضی الله تعالی
عنها سره ملاقات کړی وو - او د د ې څخه ئی حدیثونه اوریدلی دی.
فایده:- بی بی گانو د خدای محبت او یاد دا رنگه وی یوځه خو ستر گی خلاصی کړی

(۷۷)	د حضرت رابعی عدویی رحمة الله علیها ذکر	(۲)

د ې پیره ژمی کول که به ئی د د و بزخ ذکر وا وریدی نو بی هوښی به پر را ته چه یو

چا به څه شي ورکړي بيرته ئې ورکاوي نه ئې اخستې ويل به ئې چه دنيا په کار نه لرم دا شيا (۸۰) کلونو په عمر کښې وداسې حال ته رسيدلې وه چه په ننګ اورفار کښې داسې معلوميده چه او ښکاريده چه اوس به غوزاره سې کفن به هميشه ورسره وو د سجدې ځای به ئې په او ښکو لوندسو او د دې عجيبې او غريبې قصې مشهورې دي او د دې مبارکې ته رابعه بصريه هم وايي.

فايده:- بي بي ګانو يو څه د خدای جل شانه خوف او د مرګ ياد تاسې هم په خپل زړه کښې پيدا کړی وګورې داخو هم آخر ښځه وه.

(۷۸)	دحضرت ماجدی قرشيې رح ذکر	(۳)

دې به ويل چه هر قدم زه بدم بس داسې ئې بولم او داسې ئې ګڼم چه تر دغه وروسته مرګ دئ او فرمايل به ئې تعجب دی د دې دنيا او سيدونکو د پاره چه د رحلت او کوچ خبر ورکړه سويدی او بيا هم دغسې غافل دی لکه د کوچ خبر چه ئې دسره اوريدلی نه وی او بس دلی اوسی د هميشه د پاره او فرمايل به ئې چه هيڅ نعمت د جنت او د خدای تعالیٰ د رضامندی بيله محنته او تکليفه نه پيدا کيږی.

فايده:- بي بي ګانو څرنګه د کار نصيحتونه دی په ياد ئې وساتی او عمل په وکړی

(۷۹)	دحضرت عائشې رح بنت جعفر صادق ذکر	(۴)

د دې مرتبه د نازوه داسې به ئې ويل که زه خدای پاک په دوزخ کښې واچولم نو زه دتولوته وايم چه ما خدای واحد لاشريک منلی وو ليکن بيا ئې هم ماته عذاب راکړی په سل ۱۴۵ کښې وفات کړيدی زيارت او مزار ئې په باب قرانه معمر کښې دی.

فايده:- بي بي ګانو (۸۱) دغه مرتبه يو چا چاته نصيب کيږی او هر چاته چه حاصله سويده د پوره تابعداری په برکت سره ورته حاصله سويده دغه

یار کړی او یاد وساتی داخبره چه الله پاک واحد او لاشریک پوره پوره
ل دا رنګه دی چه نه به د چا عبادت کوی نه به چاته امید کوی نه به
اخځه بیریږی نه به ئې د چا د خوشحاله کولو خیال وی نه به د چا د -
ابدید و پروا لری چه یو څوک په ښه ورته وایی خوشحاله کیږی نه که
ک په بد ورته وایی غم نه کوی که ئې یو څوک زهیر او آزار کړی پرهغه
ه نه کوی دامی ئې ګڼی چه الله تعالیٰ ته دا سی منظوره وه زه بنده یم په هر
ل کښی راضی یم او باید راضی واوسیږم هرڅوک چه خدای تعالیٰ په دغسی طریقه
ه ومنی لکه چه اوس ذکر سوه نو بیا دده د دوزخ سره څه کار دی دغه مطلب
ددې بی بی - نوګو یادائی یو قسم د الله پاک د واحد او لاشریک منلو برکت اولوی
انو لـه .

(۸۰) در باح قیسی دبی بی رح ذکر (۵)

دی ټوله شپه عبادت کاوی هروخت چه به د شپی یوه حصه تیره سوه
خپل خاوند ته به ئې ویل چه پورته سه که به هغه نه پورته کیدی
یا به ئې یو څه وخت ورو سته پورته کاوی بیا به ئې د شپی په آخر کښی ویل
رباحه پورته سه شپه تیریږی او ته بیده ئې یو رخت به ئې د محکی څخه
کانی یا خاشه راپورته کړه او داسی به ئې ویل چه قسم په خدای چه دنیا
ا په نزد تر دغه هم ډیره زیاته بی قدره ده . د ماخستن لمونځ چه به ئې
ی نو د زینت او ښایست کالی به ئې اغوسته د خپل خاوند څخه به ئې پوښتنه
له چه ستا څه حاجت او خواهش سته که به هغه انکار کاوی نو به ئې
نه کالی بیرته بدل کړه یو ځای به ئې ایښو ولـه او ترسهاره پورې به په نفلو
ی مشغوله وه ۱۲ فایده ۱۲ - بی بی ګانو تاسو ته خو معلومه سوه چه د خدای
الی ئې څرنګه عبادت کاوی او ورسره ورسره ئې د خاوند څوندی حق ادا کاوی
خاوند ته ئې د دین رغبت هم ورکاوی دغه ټوله کارونه دکولو لایق دی .

(۸۱) دحضرت فاطمی رح نیسابوری ذکر (۶)

یو بزرګ دئ ډیر کامل چه ذوالنون مصری (رح) ئې نوم دی هغه فرمایی چه

دغی بی بی څخه د ما ته فیض حاصل سو۔ دې فرمایل چه هرڅوک هر وخت د خدای تعالیٰ خیال نه لری نو دَی دگناه په هر میدان اوکنده کښی لویږی هرڅه چه ئې پر خوله راسی هغه بیله کومه خیاله وایی اوکوم څوک چه هر وخت د الله پاک خیال د سره وی خدای پاک ئې په یاد وی نو هغه د عبث خبرو کولو څخه گونگ وی اود خدای تعالیٰ څخه شرم اوحیا کوی او حضرت ابو نزید رحمة الله علیه فرمایی چه ما د فاطمی (۲) په مثل بله بنځه نه ده لیدلی چه دیوځای څخه به خبرو کړه سو هغه به دې ته د مخکی څخه معلوم سوی وو۔ مکی معظمی ته د عمرې[1] ادا کولو د پاره تله چه په لار کښی ئې په ۱۲۲۳ سن کښی وفات وسو۔

فایده:۔ وگورې د خدای جل جلاله د یاد ولو او فکر کولو ئې څونډی بنه خبره دانسانانو د پاره بنه ولی ده که د غه تاسی عملی کړی نو به د ټولو گناهو څخه خلاصی سی او داهم معلومه سوه چه دغی بی بی ته کشف کیدی صاحب کرامت وه که څه هم دا یو داسی غټه او لویه رتبه نه ده لیکن که یو بنه انسان ته حاصله سی نو بنه خبره ده۔

(۸۲) دحضرت رابعی یا دحضرت رابعی شامیی بنت اسماعیل ذکر (۷)

دې ټوله شپه عبادت کادی او همیشه ئې روژه نیوله او فرمایل ئې چه هر وخت آذان اورم نو د قیامت د ورځې د آوازکونکی فرشتی (ملکی) آواز را پیادیږی او هر وخت چه گرمی وو یم نو د قیامت د ورځې گرمی را پیادیږی او د دی خاوند هم ډیر غټ بزرگ دی چه ابن ابی الحواری رحمة الله علیه ئې نوم دی۔ دې به وده ته ویل چه زما ستاسره د ورور غوندی محبت دی مطلب ئې دا دی چه زما د نفس خواهش نسته او فرمایل به ئې چه هرڅوک په عبادت کښی مشغول سی نو خدای تعالیٰ د ده د عیبونو خبر ورکوی او هر وخت چه وده ته د خپلو عیبونو معلومات وسی بیا دی د بل چا عیبونو ته نه گوری او فرمایل به ئې چه زه پیرانان ویم چه تلونکی را تلونکی دی او زه د جنت حوری ویم۔

فایده:۔ بی بی گانو عبادت د غه ته وایی اوگورئ چه تاسی هر وخت د نورد عیبونه لټوی د غه ئې څرنگه بنه علاج درو بنوی چه خپلو عیبونو ته وگورئ

[1] عمره د دوسره کیږی بیله حجه هم کیږی حج فرض دی او عمره سنت ده ۱۲ محشی

بیانود هیچا عیب تاسی نه سی لیدلای او معلومیږی چه دی ته کشف هم کیدی - د کشف حال په مخکنی قصه کښی بیان سو.

(۸۳)	دحضرت امّ هارون رح ذکر	(۸)

پردی د خدای خوف چیر غالبه وو او چیر عبادت ئی کاوی او سره د دی چه به ئی خوړله او فرمایل ئی چه د شپی په راتلو سره زما زړه خوشحاله کیږی او چه ورځ سی نو غمګینه کیږم نو له شپه به بیدار وم او د اوږدش کاله ئی سر نه په تیلو یا بل شی غوړ کړی وُ مګر هر وخت چه به ئی سر خلاص کړی او وبه ئی غوړاوی نو بینستان به ئی صفا او غوړ وه - یو وار د باندی وتلی وه یو چا خدای خبر دی چه چاته ئی ویلی وه چه تینګه ئی کړه وئی نیسه نو دی ته د قیامت ورځ ور په یاد سوه او بی هوښه سوه غوږ ته سوه - یو وخت په ځنګله کښی زمری په لخه ورغلی نو دی وفرمایل که چیری زه ستا رزق یم نو ما وخوره - زمری شاور وګرزوله نو ځنډی روان سو.

فایده:- سبحان الله د خدای تعالیٰ په یاد کښی څونډی مشغوله او اخته وه او د خدایه څخه څونډی بیریده له او زمری خبره د دی کرامت دی نکه څرنګه چه موږ د کشف حال لیکلی دی دغه قسم د کرامت حال هم وبوله. بی بی ګانو تاسی هم د خدای یاد او د خدای خوف په زړه کښی پیدا کړی اخر خو قیامت هم راتلونکی دی یوڅه سامان او ذخیره خو برابره کړی

(۸۴)	دحبیب عجمی[1] رح دبی بی چه حضرت عمر ره دده ذکر	۹

دې تولې شپې عبادت کاوی چه هر وخت به اخیره شپه سوه نو خاوند ته به ئی ویل چه قافله پرمخ درڅخه ولاړه ته وروسته بیده پاته سوی یو وار د دې سترګی خوب یدلی چا پوښتنه څنډی وکړه د سترګو په باره کښی - دې ورته وویل زما د زړه درد تر دغه هم زیات دی.

فایده:- بی بی ګانو د خدای تعالیٰ د محبت داسی درد پیدا کړی چه نور د درد ونه د دغه په مخ کښی سپک او هیڅ وی.

[1] دا د پیر طبقه ولی الله دی د حضرت حسن بصری رحمة الله علیه شاګرد دی ۱۲ محشی

(۸۵) **دحضرت امة الجليل رحمة الله عليها ذكر** (۱۰)

داډیره غټه عابده اوزاهده وه یو واړه ډیرو بزرګانو په منځ کښې بحث اوخبرې راغلې چه بزرګ څرنګه وی ټولو وویل چه راځئ امة الجليل رحمة الله عليها نه ولاړسو پوښتنه ځنډی وکړو غرض ددی څخه ئې پوښتنه وکړه دی ورته وویل پر ولی الله یوګړی اویوساعت داسی نه تیریږی چه په هغه کښې دی د خدای جل جلاله دیاد ماسیوی ددې بله دنده اوشغل وی اوکه څوک په بل شغل کښې وی نو هغه ولی الله نه دی درواغجن دی.

فایده:- د څرنګه لوړ شان بی بی وه چه بزرګانو خلګو ددې مبارکی څخه داسی خبرې پوښتلی او دې څرنګه ښه علامه د ولی الله ورته بیان کړه. نو بی بی ګانو تاسی هم دغه فکر ساتئ تر خپلو پورې لوکار ونو اودنده د خدای تعالی دیاد دنده ډیره کوی.

(۸۶) **دحضرت عبیدی رح بنت کلاب ذکر** (۱۱)

مالک بن دینار یو غټ بزرګ دی دغه بی بی دده وخدمت ته ډیره راتله بعضی بزرګان ددی رتبه د رابعه بصریه رحمة الله عليها څخه زیاته بیانوی دیوسړی څخه ئې دا خبره واوریده چه هغه ویل چه انسان پوره پرهیزګار هغه وخت کیږی اوجوړیږی چه ددده په نزد د خدای پاک وحضورته ورتګ تر ټولو شیانو خوښ او محبوب وی دغه خبره چه ئې واوریده نو بی هوښه سوه او پر مځکه راغورځیده سوه.

فائده:- د خدای پاک وحضورته د تګ څرنګه شوق ورسره وو چه دغه ذکر ئې واوریدی بیهوښه سوه پسی غورځیده سوه اوس دا حال دی چه د مرګ د نامه اوریدل هم د چا نه خوښیږی ددغه وجه صرف د دنیا مینه او محبت دی چه د خدای پاک ته تلل ئې نه خوښیږی. دغه د دنیا مینه او محبت د زړه څخه وباسی بیا نو د خدای پاک وحضورته تلل ستاسی زړه غواړی.

(۸۷) **دحضرت عفیری عابدی رح ذکر** (۱۲)

یوه وړځ ډیر عابدان ودې ته راغله اوورته ولی ویل زموږ دپاره دعا وکړه

دې مبارکی و فرمایل چه زه دوندی گنهگار یم که چیری دگناه کولو په سزا کښی انسان گونگی کیدای نو مابه اوس خبری نه سوای کولای یعنی گونگی سوی به وای لیکن دعا کول سنت کاردی دد غه سببه دعا کوم نو بیائی د تولود پاره دعا وکړه.

فایده:- وگورې داسی عابده او زاهده وه لیکن بیائی هم خپل ځان دغسی عاجزه او گنهگاره بالی نن سبا دا حال دی چه دوی د(۳) تسبیحاتو والي بس خپل ځان یو بزرگ بولی- د خدای تعالیٰ لویی نه ده خوښه په هرحال کښی خپل ځان تر تولو حقیر او خوار بوله او داسی خبره رشتیا هم ده ځکه انسان په هرحال کښی د سوو عیبونو چک وی که د عبادت سره ود غو عیبونو ته هم وگورې بیائی د تکبر اولویی خیال د دماغه څخه وزی.

(۸۸)	دحضرت شعوانی رح ذکر	(۱۳)

د غی بی بی په ژړل اوداسی ویل چه زه غواړم چه دوندی وژارم چه اوښکی می بالکل ختمی سی شی پاته نه سی بیا داوښکو پرځای په وینو سره وژارم په دوندی اندازه سره چه په تول بدن کښی می وینه پاته نسی د دې د خادمی او خدمتگاری بیان دی چه د هروخت څخه ماد الیدلی ده د هغه وخته څخه و ماته داسی فیض حاصل سو یدی چه هیڅ وخت بیا ماد دنیا رغبت نه دی کړی او یو مسلمان می خوار او حقیر نه دی بللی حضرت فضل بن عباس رحمة الله علیه یوغټ بزرگ دی دی مبارک به ودې نه راتلی اود ځان دپاره به ئې د عا ځندی غوښته.

فایده:- د خدای د خوف یا محبت څخه ژړل په لوی دولت دی که ژړا نه درځی نو د ژړا صورت جوړ کړه ژړغونی کیږه الله پاک ته پر عاجزی او خاکساری رحم راځی اود بزرگانو د ناستی څخه په فیض حاصلیږی لکه چه د دی خادمی یعنی (خدمتگاری) بیان کړی تاسی هم نیک صحبت او مجلس تلاش کړی اود بی کاره انسان څخه ځان وساتی.

(۸۹)	دحضرت آمنی رملیی رح ذکر	(۱۴)

یو بزرگ دی بشر رح بن حارث نودی به د دی زیارت ته ورتلی یو وار حضرت

شو رحمة الله علیه مریض سو نو دا مبارکه ئی پوښتنی ته راغله - احمد بن حنبل رحمة الله علیه چه یولوی امام دی نو دی مبارک ئی هم پوښتنی ته راغلی وو . د ته معلومه سوه چه دا آمینه ده د ملیه څخه راغلی ده - امام احمد رحمة الله علیه و بشر رحمة الله علیه ته وویل چه دی ته ووایه چه زما د پاره دعا وکړی نو بشر رحمة الله علیه د دعا د پاره ورته وویل دې دعا وکړه چه یا الله بشر او احمد رحمهما الله دوو نړۍ څخه پناه غواړی دوی دواړو ته پناه ورکړی امام احمد رحمة الله علیه فرمایی چه دشپی یوه پرچی اوږه دلوړی خوا څخه راولویده چه تر بسم الله وروسته پکښی لیکلی وه چه موږ منظور کړله او زموږ سره نور نعمتونه هم سته .

فایده :- سبحان الله څرنګه ئی دعا قبوله سوه بی بی ګانو دغه ټول برکت د تابعدارۍ دی هر څوک چه د خدای تعالیٰ حکم پوره کوی خدای تعالیٰ د ده سوال پوره کوی نو د خدای تعالیٰ د حکم په منلو کښی کوشش وکړی

(۹۰) د حضرت منفوسیؓ بنت زید بن ابی الفوارس ذکر (۱۵)

هر وخت چه به د دی کوچنی وفات کیدی نو د دغه کوچنی سر به ئی په غیږ کښی کښیښوی ویل به ئی چه زما بچیه ستا تلل زما مخکی بنه دی تر دغه چه زما څخه ورډسته پاته سوی وای مطلب ئی دادی چه ته مخکی ولاړ سی نو زما د پاره د خدای پاک څخه بخښنه غواړی چه ما خدای و بخښی او پخپله هم کوچنی ئی بخښل کیږی او که زما ورډسته ژوندی پاته سوی وای نو په سو ډګنا وی دی کولی او خدای خبر چه زما د پاره د خدای څخه د بخښنی قابل به وای که به نه وای او فرمایل ئی چه زما صبر بهتر او بنه دی تر بی قراری او فرمایل ئی چه که څه هم د جدائی افسوس او غم سته لیکن د ثواب تر دغه زیاته خوشحالی ده .

فایده :- بی بی ګانو د چا د مرګ په وخت کښی که دغه خبری وکړی او خپل زړه پوه کړی نو انشاء الله کافی دی .

(۹۱) د حضرت سیّدی نفیسی بنت حسن بن زید بن حسن بن علی رضی الله تعالیٰ عنهم ذکر (۱۶)

دا زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د خاندان څخه ده۔ حُکمه د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه چه کوم لمسی دی زید رحمة الله علیه داد ده لمسی ده په ۱۴۵ سنه هـ کښی ئی په مکه شریفه کښی پیدا ییښت سویدئ او دا پیره عبادت گذاره وه او د عبادت کولو په وخت کښی وفات سویده۔ امام شافعی رحمة الله علیه یو غټ امام دی هر وخت چه دا مبارکه د مصر ته راغله نو د دې وخدمت ته به همیشه تلی راتلی یعنی امام شافعی صاحب رحمة الله علیه به وړته راتلی۔

فایده:۔ بی بی گانو علم او بزرگی هغه شی ده چه د وندی غټ امام به د دی وخدمت ته راتلی تاسی هم د دین علم حاصل کړی او پرد غه عمل وکړی چه بزرگی درته حاصله سی۔

(۹۲) د حضرت میمونه سوداء رح ذکر (۱۷)

★ د غه قصی نر آخره پوری د روض الریاحین کتاب څخه را اخستل سویدي ★

یو بزرگ دی عبد الواحدؒ بن زید۔ د ده بیان دی هغه وایي چه ما د الله پاک څخه دعا وکړه چه یا الله په جنت کښی چه هر څوک زما ملگری وی په ما هغه ورښی حکم وسو۔ چه ستا رفیق په جنت کښی میمونه سوداء رح ده ما پوښتنه وکړه چه هغه چیری ده جواب راکړه سوچه هغه په کوفه کښی ده په فلانی قبیله کښی۔ نو زه هلته ولاړم او پوښتنه می وکړه۔ خلگو وویل هغه یوه لیونۍ ده۔ بزی او پسونه گوری۔ څنگله ته ورسیدم چه وی کتل د اولاړه ده لمونځ کوی لیوان او پسونه یو ځای سره گرزی چه هر وخت ئی سلام وگرزاوی نو ئی وویل ای عبد الواحده اوس ولاړ سه د ملاقات وعده په جنت کښی ده۔ زه پیر په تعجب سوم چه زما نوم څرنگه ورمعلوم سویدی۔ دې مبارکی وویل تاته معلومه نه ده د کوم مور روحونو چه هلته پیژندگلوی سره سویده د دوی په منځ کښی الفت وی ما ورته وویل چه زه پسونه اولیوان یو ځای سره وینم داځه قصه ده۔ دې وویل څه خپل کار کوه۔

ما خپله معامله او کار د خدای تعالی سره درست او برابر کړه یدی خدای تعالی زما د پسونو معامله دلیوانو سره درسته او برابره کړه

فایده:- د دغی بی بی کشف او کرامت د واړه د دغه څخه معلومیږی دغه ټوله برکتونه د پوره تابعداری نتیجه ده۔ بی بی گانو د خدای تعالی د تابعداری د پاره څانونه اماده او برابر کړی.

(۹۳) د حضرت ریحانه مجنونه رحمة الله علیها ذکر (۱۸)

ابوالربیع یو بزرگ دی هغه وایی چه زه او محمد بن منکدر رح او ثابت بنانی رحمة الله علیه چه دغه د واړه هم لوی بزرگان دی یواړ ټول د ریحانی میلمانه سو۔ هغه ترنیمی شپی مخکی پورته سوه او داسی ټ وویل چه محبت کونکی د خپل محبوب وطرف ته ځی او د زړه د خوشحالی څخه داحال دی چه د سینی څخه وزی هر وخت چه نیمه شپه سوه نو ټ وویل چه د داسی شی سره زړه لگول نه دی په کار چه د دغه د لیدو څخه د خدای جل جلاله په یاد او ذکر کښی څه فرق راسی او په شپه کښی په عبادت کښی د پیر تکلیف کول په کار دی بیانوانسان د خدای پاک دوست کیږی. هر وخت چه شپه تیره سوه نو چغی او بغاړی ټ کړی۔ ماورته وویل څه پیښه سوه دی وویل شپه تیره سوه چه په دغه کښی د الله تعالی جل جلاله سره سنه زړه لگول کیږی.

فایده:- وگوری دی ته شپه څوندی قدر منه وه او د هرچا چه د عبادت څوند مقصود وی د هغه سره د شپی قدر وی بی بی گانو تاسی هم پولږ غوندی حصه د خپلی شپی د خپل عبادت د پاره مقرره کړی او وگوری د خدای څخه ماسیوا د بل چا سره د زړه د لگولو ټ څرنگه بد والی بیان کړی تاسی هم د خپل مال او متاع، پوښاک، زیور، اولاد، جایداد، لوښو او خپل کور او مکان سره د پیر زړه مه لگوی (مینه او محبت منه ورسره کوی)

(۹۴) د حضرت سری سقطی رح د یوی مریدی ذکر (۱۹)

د دې بزرگ یو مرید بیان کوی چه زموږ د پیر صاحب یوه مریده وه د دې

زوی په مدرسه کښی طالب وو استاذ په یوکار پسی ولیږی او دی په اوبو کښی ډوب سو او مړ سو - استاذ چه خبر سو نو حضرت سری رحمة الله تعالی علیه ته راغلی او هغه ئی خبر کړی نو حضرت سری رحمة الله علیه راروان سو د مریدی کور ته ور غلی د صبر نصیحت ئی ور ته شروع کړی نو دې مریدی ورته وویل چه پیر صاحبه تاسی د صبر نصیحت او بیان ولی کوی - ده مبارک وفرمایل چه ستا زوی په اوبو کښی ډوب سویدی او مړ دی - دې (مریدی) په تعجب سره وویل چه زما زوی - ده مبارک وفرمایل - هُو - ستا زوی - دې مبارکی وفرمایل چه زما زوی هیڅکله په اوبو کښی نه دی غرق سوی دا راروانه سوه وهغه ځای ته ور سیده کا د زوی نوم ئی واخیستی چه ای ظاهره - هغه جواب ور کړی چه ولی ادې - بس دا اوبو څخه ژوندی راوولی راړهی سو.

حضرت سری رحمة الله علیه د حضرت جنید رحمة الله علیه څخه پوښتنه وکړه چه داخرنګه قصه او خبره ده هغه وفرمایل چه ددې ښځی یو خاص داسی مقام او درجه ده چه پردی هر غم را تلونکی وی په هغه سره دا مبارکه مخکی خبر یږی د خدای په امر سره لیکن د دغه مصیبت او غم خبر او معلومات ودې ته نه وو ور کړل سوی نو ددې سبب دی وویل چه داسی قصه نه ده پلینه سوی.

فایده:- د هر ولی جلا جلا درجه وی څوک دی دا خیال نه کوی چه دغه درجه خو تر داسی ولی زیاته ده چه ده ته داول څخه معلومه نه وی چه پرما څه حال را تلونکی دی - د خدای تعالی اختیار دی د چا سره چه هر قسم سلوک او رفتار کوی کولای ئی سی مګر بیا هم لوی کرامت دی او دا ټول برکت د دغه دی چه د خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تابعداری وکړی په دغه کښی کوشش کول په کار دی بیا نو دا الله پاک خوښه ده که دغه درجه ور کوی او که تر دغه زیاته درجه ورکوی.

(۹۵)	**د حضرت تحفی رحمة الله علیها ذکر**	(۲۰)

د حضرت سری سقطی رحمة الله تعالی علیه بیان دی چه زه یو وار شفاخانو (هسپتال) ته ور غلم چه گورم یو ځوانه ښځه په ځینځیرانو کښی تړلی ده

ژاړی اود محبت اشعار او شعرونه وایی ماددغه هسپتال (روغتون) دچوکیدار څخه پوښتنه وکړه هغه راته وویل چه دالیونی ده۔ دغه خبره چه دی واوریده نو ئی زیات وژړل اووی ویل چه زه لیونی نه یم عاشقه یم ما پوښتنه وکړه چه څوک عاشقه یی۔ دې وویل چه پرهغه چاعاشقه یم چه موږ ته ئی نعمتونه راکړی دی اوزموږ سره هروخت راسره دی یعنی الله تعالیٰ۔

بس په دغو خبرو کښی ددی مالک راغلی دچوکیدار څخه ئی پوښتنه وکړه چه څه چیری ده۔ هغه ورته وویل چه دننه ده او حضرت سری سقطی رحمة الله تعالیٰ علیه وسره دی۔ ده زما تعظیم وکړی ما ورته وویل چه ترما زیاته دغه بنځه د تعظیم وړ اولایقه ده او تاد اولی داسی کړی ده۔ ده وویل زما ټول دولت اود نیا پردې مصرف سوه په شل زره روپی ما رانیولی ده زما امید دوچه په بنه گټه سره به ئی څرخه کړم مگردانه څه خوری اونه څه۔ چیښی شپه او ورځ ژاړی ما ورته وویل چه پرما ئی څرخه کړه ده راته وویل چه ته فقیر سړی ئی دوندی روپی دکومی خوا راکوی۔ زه کورته ولاړم الله پاک ته ئی بنه په زاریو سره وژړل دعا می وکړه یو چادر واړه راوتکوله وسرغلم چه گورم یو سړی په دروازه کښی ولاړ دی ما ورته وویل ته څوک ئی ده وویل زه احمد بن المثنیٰ یم پرما په خوب کښی حکم وسو چه وتاته روپی راوړم نو زه خوشحاله سوم او سهار وشفاخانی (هسپتال یا روغتون) ته راغلم۔ بس دغوند وخت وو چه دد غی بنځی مالک هم په ژړا سره راغلی ما ورته وویل غم مه کوه ما پیسی راوړی دی دوچند ه گټه لاهم درکولای سم که ئی غواړی۔ ده وویل که ټوله دنیا راکړه سی لانی هم نه۔ خرځوم زه داد خدای دیدار ه آزاد وم ما ورته وویل داڅه قصه ده۔ نو ده وویل په خوب کښی پرما خفگان راغلی او ته شاهد اوسه ما ټول مال دخدای په لار کښی خیرات کړی۔

ما چه کتل نو احمد بن المثنیٰ هم ژاړی ما ورته وویل تاته بیاڅه قصه درپیښه ده۔ ده وویل زه هم ټول مال دخدای پاک په لار کښی خیرا تو م۔ ما وویل سبحان الله ربی بی تحفی رحمة الله تعالیٰ علیها برکت دی چه دوندی انسانانو ته

هدایت وسو - تحفه رحمة الله تعالیٰ علیها دغه ځای څخه ولاړه سوه او په ژړا سره ولاړه موبز هم ورسره ملګری سو یوځه لیږی ولاړه خدای پاک خبر دی چه څه سوه چیږی ولاړه او موبز ټول مکی ته ولاړو.

احمد بن المشنیٰ خو په لار کښی وفات سو - زه او هغه مالک مکی شریفی ته ورسیدو - موبز طواف کاوی چه یو درد ناکه آواز مو واوریدی نو موبز ورغلو پوښتنه مو وکړه چه څوک یی - هغه وویل سبحان الله هیره دی سوم تحفه (رحمة الله علیها) یم ماورته وویل ووایه څه څه شیان دی پیدا کړه - دې مبارکی وویل د خپل ځان سره ئې نمازونه او لګاوی د نورو څخه ئې لیږی کړی ماورته وویل چه احمد بن المشنیٰ خو وفات سو - دې وویل هغه نه ډیری لوی لوی درجی ورکول سویدی - ماورته وویل ستا مالک هم راغلی دی. نو دې مبارکی یوځه پټ د ځانه سره وویل چه ګورم دا مړه ده.

مالک چه ئې دغه حال ولیدی بیتابه سو - نو غوږ ډاسو ماوښورا وی چه وی کتل هغه هم مړدی ماد واړه ورته کفن ورکړی دفن ئې کړل.

فایده:- سبحان الله څرنګه د الله تعالیٰ عاشقه وه - بی بی ګانو تاسی هم د داسی درجو حرص او خواهش کوی - دغه قصه زموبز پیر حاجی امداد الله صاحب مهاجر مکی قدس سره په خپل کتاب تحفة العشاق کښی په ډیر تفصل سره لیکلی او بیان کړی ده.

(۹۶)	دحضرت جویریی رح ذکر	(۲۱)

دا دیو بادشاه مینځه وه هغه آزاده کړی وه - تر دغه وروسته ابو عبد الله ترابی یو بزرګ دی هغه د دی عبادت لیدلی وو نو نکاح ئې ورسره کړی وه او دې به عبادت کاوی یو وار ئې په خوب کښی ډیری بنی بنی خیمی ولیدلی چه ولاړی وی - نو دی پوښتنه وکړه چه دا چاد پاره دی - نو دې ته وویل سوه چه دا دهغو خلګو د پاره دی چه د تهجد په لمانځه کښی قرآن شریف وایی تر دغه وروسته ئې دشپی خوب پریښو وی او خاوند به ئې د خوبه راویښاوی ورته وویل به ئې چه قافلی درځخه ولاړی.

فایده:- بی بی ګانو خپله هم عبادت کوی او خاوندان هم پوه کوی.

(۹۷) **د حضرت شاه بن شجاع کرمانی دلور ذکر** (۲۲)

د غه بزرګ بادشاهی پری ایښی وه خان ئی فقیر او ملنګ کړی وو د د ده یوه لور وه - یو بادشاه د نکاح کولو د پاره پیغام ورته رالیږلی وو مګر د ده منظور کړی نه وو یو نیک بخته هلک ئی ولیدی چه په ډیره ښه طریقه سره ئی لمونځ کاوی. و د غه هلک ته ئی خپله لور ورکړه - هر وخت چه دا واده سوه - د خاوند وکورته راغله نو یوه ځله وچه ډوډی ئی پرمنګی سر بیره پرته ولیدله پوښتنه ئی وکړه چه دا څه شی دی هلک وویل دا شپی پاته سوید ه نو می د روژی ماتولو د پاره کښیښوولی. د غه خبره ئی واوریده نو بس پرشاو گرزیده هلک وویل چه ماته مخکی معلومه وه چه د بادشاه لور زما پر غریبی کله راسره کښینی - هغی په جواب کښی ورته وویل چه د بادشاه لور ستا پر غریبی ناخوښه او ناراضه نه ده بلکه پردې غه ناراضه ده چه ستا پر خدای پاک باندی توکل نسته او زه و پلار ته په تعجب کښی یم چه ماته ئی داسی ویلی وه چه یو پرهیزګار ه ځوان دی. نو د هغه چا چه پر خدای پاک توکل نه وی هغه پارسا او پرهیزګار ه دکومی خوادی.

ځوان عذر ونه شروع کړه دی ورته وویل زه عذر ونه نه پیژنم یا به په کور کښی زه یم یا به د غه ډوډی وی - د غه ځوان سمدستی د غه ډوډی خیرات کړه نو بیادا په کور کښی کښینسته.

فایده:- بی بی گانو د اخو هم ښځه وه تاسی خو هم یوځه صبر زده کړی او د مال او متاع هوس او خواهش کم کړی.

(۹۸) **د حضرت حاتم اصم رح د یوکوچنی لور ذکر** (۲۳)

دا یو غټ بزرګ دی یو بادشاه روان وو پرلار باندی چه تږی سو د حضرت حاتم اصم رحمة الله علیه کور په لار کښی وو نو د غه بادشاه ورغی او به ئی وځښلی وغوښتی هر وخت چه ئی او به وچښلی نو یوه ځله نقدی روپی ئی ورکړی وغوښتی حولی روان سو - د ټولو پر توکل ګذاره وه ټول خوشحاله سوه او په کور کښی د د ه یوه کوچنی انجیلی وه هغی وژړل د کور والا وو پوښتنه وځندی

وکړه چه ولی ژاړی۔ دې وویل چه یو ناخیزه بنده زموږ حال ولیدی نو موږ ماړه اوغنیان سو اوخدای تعالی خو موږ هر وخت وینی افسوس چه زموږ زړه ونه غنیان نه دی اونه موږ زړه ونه غنیان ساتلی دی۔

فایده:۔ خوندی پیوړه اوهوښیارړه انجیلی وړه افسوس دی چه اوس ـ د سپین سرو بنځو سره هم دوندی عقل نسته چه پرخدای پاک نظرنه لری د خلکو وخواته ئې ستړګی کړی وی چه فلانی به یو فایده راورسوی او فلانی به کومک راسره وکړی دخدای دپاره زړه ونه پټینګ او برابرکړی۔

(۹۹) دحضرت ست الملوک ذکر (۲۴)

داد عربو د ملک اوسید ونکی دا ددی په زمانه کښی ټولو اولیاء الله او علماؤ ددې مبارکی عزت اوتعظیم کاوی یو وار د بیت المقدس وزیارت ته راغلی وه۔ په دغه زمانه کښی دالته یو بزرګ وو چه نوم ئې علی بن علبس یمانی وو ددا بیان دی چه زه په دغه مسجد کښی وم ما وکتل چه د مسجد څخه تر اسمانه پورې یاد اسمانه څخه تر مسجد پورې د نور یو تار راغلی وو۔ زه وړ غلم وما وکتل چه تر دغی ګنبدی لاندی دغی بی بی لمونځ کاوی او دغه تار ددی سره لګیدلی دی۔

فایده:۔ دغه نور د پرهیزګارې وو په زړه کښی خو ټولو پرهیزګارانو پیدا کیږی یو وخت وخت ئې الله پاک په ظاهر کښی هم بنکاره کوی لیکن ځای د دغه نور زړه دی۔ بی بی ګانو پرهیزګاری اختیار کړی د بنو کارونو پابندی کوی کوم شیان چه منعه دی د هغو شیانو څخه ځان ساتی۔

(۱۰۰) دابو عامر واعظ د مینځ ذکر (۲۵)

دده بیان دی چه ما یوه مینځه په ډیر لږ قیمت خرڅیده ونکی ولیده چه رنګ ئې ژیړ سوی وو اونس او شائی یو سوی وه او د ریښتان ئې د خیر وڅخه سره مبنتی وه نو ماته پردی ترس راغلی رامی نیوله ما ورته وویل ولاړه سه بازار ته د روژی مبارکی دپاره سودا او شیان را نیسه او رائی وړه دی وویل خدای جل جلاله لره دی شکر وی زما دپاره دکال دوولس میاشتی برابری دی دغه

میبنځی به د ورځی همیشه روژه نیوله او د شپی به ئی عبادت کاوی بیا چه اختر راغی
نو ماد دی د پاره د اختر په مناسبت د شپانو د رانیولو اراده وکړه - دې
راته وویل ستا په مزاج کښی د دنیا خو راپیر جنجالونه دی بیائی
په خپل لمانځه شروع وکړه یوایت ئی وویایه چه د دوزخ
ذکر پکښی سوی وو بس یوه چغه ئی وکښله او
غوزاره سوه پسی مړه سوه . فایده
وګوری د خدای جل جلاله
خوف د غسی وی
خیر د غه حال خو د
انسان په طاقت نه
دی مګر دوندی خو ضرور
کولای سی چه د ګناه څخه ځانونه
منعه کړی هسته هر قسم ګناه چه وی که د
لاسو پښو وی یا د زړه وی او یا د ژبی وی
فایده ۱- په دغه حصه کښی ټولی مسئل[۱] قصی د نیکو بی بی ګانو
بیان سویدی په داسی طریقه سره چه د اولو امتونو د بی بی ګانو پنځه ویشت
او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د بی بی ګانو او لور پنو
پنځلس[۱۵] او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د زمانی
د نورو بی بی ګانو پنځه ویشت او د حضرت صلی الله علیه
وآله وسلم د زمانی څخه د ورسته بی بی ګانو
کوم چه عالمانی وی مسئل[۱] او کومی چه د
درویشی او فقیری حال ورسره وو د دوی پنځه
ویشت[۲۵] قصی دی چه
ټولی سره یو ځای سی نو ټولی

[۱] مسئل سوی په کتابونو کښی نوری هم پیری قصی دی مګر د نصیحت منونکو د پاره دغه هم پیری دی.

تمت

رساله کسوة النسوة

يولسم څه د بهشتي زيور د اتمي حصي

يعني دغه د ورستو بيان چه شروع کيږي بيا ترضميمي پوري د اتمي حصي جزدي

بسم الله الرحمن الرحيم

بعد الحمد و الصلوة - دا يو مختصره رساله ده چه د دغه اکثره حصه د بښځو د ترغيباتو (يعني د بښځو د تشويقولو و ښوا و نيکو کارونو ته) او پر دغو ترغيباتو د عمل کونکو والاوو پر فضائلو مشتمله ده سبب د دغو ترغيباتو د جمعه کيدو چه د دغه سبب څخه ئې غايه او غرض هم معلوميږي - دا دی چه په اولو درځو کښې د رمضان شريف ۱۳۳۵ سنه هـ کښې بنده (يعني حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوی رحمه الله) د بعضو دوستانو په خواهش په مقام ډيک رياست بهرتهپور کښې ميلمه سو - د ميلمستيا په کور کښې اتفاقًا يو ورځ بښځو ته دوعظ او نصيحت کولو موقع راغله (يعني حکيم الامت مولانا اشرف علي صاحب تهانوی د بښځو ته نصيحت کړيدی) نو په دغه نصيحت کښې حسب ضرورت زياتره د بښځو د کوتاهی او تقصير تو بيان وسو - د ورستو ترفراغت د نصيحت څخه ډيوی نيکی بی بی پيغام راغلی چه د بښځو خرابی او بدی خو پيری موږ واوريدی ليکن که په دوی کښې څه خوبيانی يا دوی څه حقونه هم وی نو دد غه علم هم ضرور دی نو زما (حکيم الامت اشرف علي تهانوی رحمه الله) په زړه کښې فورًا خيال راغی چه واقعی لکه څرنګه چه ترهيبات (يعني د بيرولو خبری) په يو خاص طريقه سره نافع او فايده رسونکی دی - ترغيبات هم چه دد وی د ملحقاتو څخه حقوق هم دی بعضی وختونه ترترهيباتو زيات نفعه رسوونکی وی حکه چه په دوی سره زړه خوشحاله کيږی - د ښوا و نيکو کارو کولو ته مينه په دوی سره زياتيږی او په خالص ترهيب او بيرولو سره بعضی اوقات زړه کمزوری کيږی - اميد په ضعيفه کيږی نو فورًا ما قصد وکړی چه انشاء الله خاص په دغو مضامينو کښې به يو مستقله او عليحده رساله او مجموعه ليکم - د دغی قصی دوی مياشتی تيری سوی وی حکه چه اوس اولی ورځ د ميانی د مياشتی دی په کنز العمال کښې زما پر

یو مستقله سرخی او عنوان باندی نظر و لګیدی او هغه خیال می په تازه سو او مناسبه معلومه سوه چه د دغی سرخی او عنوان د مضمون ترجمه وکړم او د لیکلو په وخت کی که نور حدیثونه را یاد سی د دغو هم اضافه ورسره وکړم۔ بیا می په یاد سو چه په بهشتی زیور اتمه حصه کښی همدغسی آیاتونه او حدیثونه جمعه سویدی چنانچه دکتلو څخه دغه یاد صحیح وخانی.

ورو سته نو مناسبه معلومه سوه چه اول د بهشتی زیور مضمون په یو فصل کښی بعینه پوره ولیکل سی بیا په دوهم فصل کښی د کنز العمال روایات سره د اضافو او زیاد تونو جمعه کړل سی۔ او څرنګه چه د بهشتی زیور په اتمه (۸) حصه کښی د ذکر سوی ترغیبی مضمون ورو سته یو څه اندازه د ترهیب او بیرولو مضمون هم دی او د ترغیب سره چه یو اندازه ترهیب وی۔ نو د مضمون رجا یعنی امید تعدیل په کیږی۔ نو د دې سببه مناسبه معلومه سوه چه په دریم فصل کښی هغه ترهیبی مضمون بعینه ولیکل سی.

پس په دې رساله کښی اصل مضمون ترغیب او فضائل دی مګر د ترهیب عن الرزائل (یعنی بیرول د بد و کارو څخه) سره ګډ دی او د دې رسالې نوم کسوة النسوة دی۔ یعنی دښځو د تقوی او پرهیزګاری جامه.

واللہ الموفق

فصل اول د اصلی بهشتی زیور په ترغیبی مضمون کښی دی

د نیکو بی بی ګانو خوی، تعریف او درجی د قرآن او حدیث څخه

تر دغه ځایه پوری د ښو او نیکو بی بی ګانو سل قصی ولیکل سوی۔ څرنګه چه صلی مقصد د دغو قصو څخه د ښو اخلاقو او خویونو ښودل او بیانول دی نو د دی سببه مناسبه معلومه سوه چه د لږ څه د غسی آیاتو نو او حدیثو نو ترجمه او خلاصه ولیکل سی چه په دغو کښی اللہ جل جلاله او رسول اللہ صلی

الله علیه واله وسلم خاص دنیکو بیبیانو خویونه، تعریفونه او درجی بیان کړی وی حکه چه هر دخت بی بی گانو ته دا خبره معلومه ده چه په دغو آیاتو او حدیثو کښی الله جل شانه اور سول الله صلی الله علیه واله وسلم خاص زموږ د بیان اراده او قصد کړیدی نوئی زړه نور خوشحاله کیږی. او د ښو اخلاقو او خویونو زیات شوق ورسره پیدا کیږی گرانه او سخته خبره پراسانه کیږی.

د آیتونو مضمون

الله تعالی جل جلاله فرمایلی دی کومی بنځی چه داسی وی چه د اسلام کار کوی یعنی د روژی او لمانځه پابندی کوی دگناه او ثواب د کارونو خیال ساتی او کومی بنځی چه خپل ایمان درست او صحیح ساتی یعنی د قران او حدیث څخه خلاف چه کار وی په هغه کښی خپل زړه نه مشغولوی۔ او کومی بنځی چه په تابعداری سره اوسی یعنی کبراو لوبی نه کوی او کومی بنځی چه خیرات او زکوٰة ورکوی او کومی بنځی چه روژه نیسی خپل عزت او ابرو ساتی۔ یعنی د پردی سره د مخامخ کیدو څخه وبل ته د خپل آواز د اورولو څخه د خلاف شرعی دکالو د اغوستلو څخه او بی ضرورته دیوچا سره د خندا کولو خبرو کولو څخه او د هرقسم بی شرمی او بی حیایی څخه پرهیز کوی خان ساتی۔ او کومی بنځی چه خدای پاک ډیر یاد وی یعنی په زړه کښی هم د خدای پاک یاد او فکر ورسره وی۔ او په ژبه هم د ده ذکر کوی۔ د داسی بنځو د پاره الله تعالی خپل بخشش او ډیر غټ ثواب مقرر کړیدی او تیار کړی دی.

او الله تعالی جل جلاله فرمایلی دی کومی بنځی چه نیکبخته وی نو په دوی کښی دغه کارونه وی چه تابعداری به وی او چه خاوند په کور کښی هم نه وی بیا هم د خپل ابرو او عزت خیال ساتی.

او الله تعالی جل شانه فرمایلی دی دغسی بی بی گانی بنی دی چه د شریعت د کارونو پابندی وی او د دوی عقیدی برابری وی او دوی تابعداری کوی او کله چه یو خلاف شرعه کار وکړی وسی فوراً توبه کا بزی د خدای تعالی په عبادت کښی مشغوله وی او روژی نیسی.

دحدیثونو مضمون

دا د مشکوٰة شریف څخه رانقل سوی دی

(۱) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی پر داسی بنځه د الله پاک رحمت نازلیږی چه د شپی راپورته کیږی د تهجد لمونځ کوی. او خپل خاوند هم راپورته کړی چه هغه هم د تهجد لمونځ وکړی.

(۲) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر هغه بنځه چه د پیغلتوب په حالت کښی یا په حمل کښی یا د کوچنی د پیدا کیدو په وخت کښی یا په خلویښتی کښی مړه سی دی ته د شهید درجه او ثواب ورکول کیږی.

(۳) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی د کومی بنځی چه د (۳) ځوی اولاد و نه مړه سی او داد ثواب په نیت صبر وکړی نو جنت ته داخلیږی بوی بنځی وویل د کومی بنځی چه دوه (۲) اولاده مړه وی ده مبارک وفرمایل چه دوو (۲) هم د هغه ثواب دی. په یوه روایت کښی راغلی دی چه یوه صحابی دیوه کوچنی د مرګ پو بستنه خندی وکړه ده مبارک د دغه په باره کښی هم ډیر غټ ثواب ذکر کړی.

(۴) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر حمل چه نقصان سی هغه به هم خپله مور وجنت ته کشوی دا هغه وخت چه د ثواب په نیت سره ئی صبر کړی وی.

(۵) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی تر ټولو بنه خزانه نیکبخته بنځه ده چه خاوند د دی په لید لو سره خوشحاله کیږی او هر وخت چه خاوند و دې ته دیو کار وایی دا هغه کار وکړی او هر وخت چه خاوند پرکور نه وی. دې خپل ابرو او عزت ساتلی وی ناسته وی.

(۶) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی د عربو په بنځو کښی د قریشو نیکی بنځی په دوو (۲) کارونو کښی تر ټولو بنی دی یو پر خپل کوچنی بنه شفقت او مهربانی کوی. دوهم د خاوند د مال حفاظت او ساتنه کوی.

فایده:- معلومه سوه چه په بنځه کښی د غه خویونه او خصلتونه باید وی. دنن سبا بنځی د خپل خاوند مال په ډیره بی غوری او بیباکی سره برباد وی او

پر اولاد چه ئې څرنګه د خوړلو، چښلو او کالو د اغوستلو شفقت وی تر دغه زیات شفقت د دوی د اخلاق او خویونو په برابرولو کښی پر دوی باندی په کار دی - که د عمل نه وی نو دا نیمګړی شفقت او مهربانی ده.

(۷) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د پیغلو بښځو سره یعنی چه کونډی نه وی نکاح کوی حکم چه د دوی خبری اتری د خاوند سره نرمی وی د شرم او حیا د وجهی څخه بی لحاظه او بدمخی نه وی او چه دوی ته لږ څه څرګ ورکړی خوشحاله کیږی.

فایده:- معلومه سوه چه په بښځو کښی شرم، لحاظ او قناعت بنه خویونه دی او د دی مطلب دا نه دی چه د کونډی سره نکاح مه کوه. بلکه د پیغلی یو تعریف دی او په بعضو حدیثونو کښی ز موږ حضرت صلی الله علیه وآله وسلم د کونډی بښځی سره پر نکاح کولو یو صحابی ته دعا کړیده.

(۸) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر وخت چه بښځه پښځه وخته لمونځ کوی او د روژی د میاشتی روژی نیسی او د خپل ابرو او عزت حفاظت او ساتنه کوی او د خپل خاوند تابعداری کوی نو داسی بښځه وجنت نه دهری دروازی څخه چه ئې زړه غواړی داخله دی سی.

فایده:- مطلب دادی چه د دین ضروری خبرو او کارونو پابندی کوی نور نو د دی د پاره د پیرو لویو لویو محنتونو او د عبادتونو کولو ضرورت نسته کومه درجه چه په غټو محنتونو او عبادتونو کښی پیدا کیږی. دغه درجه بښځی ته د خاوند په تابعداری د اولاد په خدمت او د کور په بندوبست او انتظام کښی خدای پاک ورکوی.

(۹) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی کومی بښځی ته چه مرګ په داسی حال کښی راسی چه خاوند ځنډی خوشحاله وی نو دغه بښځه وجنت ته ځی.

(۱۰) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هرچاته چه څلور شیان نصیب سوه نو هغه ته د دنیا او آخرت دولت ورکړه سو یو داسی زړه چه د نعمت شکر ادا کوی دوهم داسی ژبه چه د خدای نوم په اخلی د خدای ذکر په کوی. دریم

داسی بدن چه پر بلا او مصیبت صبر کوی۔ څلرم داسی بنځه چه په خپل عزت
ږو او د خاوند په مال کښی د وکه او چم نه کوی.

فایده ۱:- یعنی نه خپل عزت برباد وی او نه د خاوند بی خوښی مال مصرفوی
(۱۱) او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی کومه بنځه چه
کونډه کا سی د لوړ خاندان څخه هم وی مالداره هم وی لیکن داد خپل اولاد
په ساتنه کښی اخته سی خپل رنګ زوړ او خیرن کړی تر داسی حده چه هغه
ولاد ئی لوی سی د دی څخه جلا سی د کور وخاوندان سی یا مړه سی نو داسی
نځه به په جنت کښی د ماته دا رنګه را نژدی وی لکه د شهادت ګوته اود
ابین ګوته چه سره نژدې دی.

فایده ۲:- د دغه دا مطلب نه دی چه د کونډی کښینستل زیات ثواب لری
که مطلب ئی دا دی چه کومه کونډه دا خیال وکړی چه د نکاح په وجه زما
لاد برباد یږی او د دغی بنځی د سنګار او د نفس د خواهش سره هیڅ غرض
مقصد نه وی نو د داسی بنځی دغه درجه ده.

(۲) او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته یو چا عرض وکړی چه یا
سول الله صلی الله علیه واله وسلم فلانۍ بنځه په ډیر کثرت سره نفلونه
ی، روژی نیسی او خیرات نه کوی لیکن په ژبه سره همسایه ګانو ته
لیف رسوی ده مبارک وفرمایل دا بنځه دوزخی ده بیا دغه سړی عرض
ی چه فلانۍ بنځه نفلی لمونځونه، روژی او خیرات دونده زیات نه کوی
څه پنیر تقسیموی لیکن په ژبه سره همسایه ګانو ته تکلیف نه ورکوی۔ ده
ک وفرمایل چه دا به جنت ته ځی.

او د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښی یوه بنځه حاضره
د دی سره د دوه (۲) کوچنیان وه یوځی په غیږ کښی را اخیستی وو د دوهم (۲) ئی ټز ګوته
ا ډوو۔ د سره را روان وو۔ ده مبارک ولیدله ارشاد ئی وفرمایئ چه دغه
ن اول په لس کښی اولاد ګرزوی بیا ئی زیږوی بیا د دی سره څرنګه محبت
مهربانی کوی که چیری د دوی چلن او ګذاره د خاوند انو سره بد نه
وی۔ نو په دوی کښی چه کومی بنځی د لمانځه
پابندی کوی هغه خاص جنت ته ځی.

دوهم فصل دکنز العمال په ترغیبی مضمون کښی دئ

(۱) حدیث:- حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد فرمایلی دی (دښځو ته) ایا تاسی په دغه خبره سره خوشحاله نه یاست (یعنی تاسی ته خوشحاله کیدل په کار دی) چه هروخت په تاسی کښی یوه د خپل خاوند څخه حامله سی او دغه خاوند ددی څخه راضی وی نو دغسی ثواب دی ته ورکول کیږی لکه د خدای په لار کښی چه د روژی نیوونکی او د شپی د بیدارۍ کونکی ثواب دی او هروخت چه دی ته داولاد د پیدا کیدو د درد ورولاړسی نو د محکی او اسمان او سید ونکو ته ددی د ستر گو د خنکوالی (یعنی د راحت) سامان چه کوم پټ مقرر سوی دوی ته هیڅ خبر نسته (یعنی د پروردګار عالم د جانب څخه ددغسی ښځی د پاره داسی نعمتونه مقرر سوید ی چه د محکی او اسمان او سید ونکی بالکل په خبر نه دی) بیا چه هروخت دا کوچنی وزیږوی نو د دی د شید ویو غوړ پ هم نه وزی او د دی د تیو څخه کوچنی یو وار شیدی هم نه ښیښی مګر په داسی حال کښی چه پر هر غوړ پ او هر وار څښیښلو یوه نیکی ورکول کیږی او که د کوچنی د سببه د شپی راپوټه سی نو دی ته د خدای په لار کښی د اویا (۷۰) مریانو د آزاد ولو ثواب ورکول کیږی ای سلامتی (داد حضرت ابراهیم د دایې نوم دی او حضرت ابراهیم د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم زوی دی) دا یعنی دغه سلامته ددی حدیث روایت کونکی دی - دغه حدیث دا بیانوی نبی علیه السلام ودی ته فرمایي چه وتاته معلومه ده چه د دغه څخه زما مراد کوم ښځی دی هغه (چه سره ددی) چه نیکی دی ناز پرورده دی (مګر) د خاوندانو فرمانبرداری دی د خاوند بې قدرته نه کوی (الحسن بن سفیان طس وابن عساکر عن سلامة حاضنة السید ابراهیم (رضی الله تعالیٰ عنه).

(۲) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هروخت چه ښځه د خپل خاوند دکور څخه (د خدای په لار کښی) خرڅ او مصرف وکړی مګر کور برباد نه کړی (یعنی د اجازی ترقدر او ترمناسب مقدار زیات خرڅ ونه کړی) نو د ښځی ته هم ثواب ورکول کیږی په سبب د دی د خرڅ کولو او د دی خاوند

ته ئی هم ثواب ورکړسیږی په سبب د دغه دگټلو او تحویلدار او ساتونکی ته هم د دغه برابر ثواب ورکړسیږی دیوه چا په وجه دبل یوه د ثواب څخه شی نه کمیږی (ق عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها) فایده :- پس نو دې بنځه دا خیال نه کوی چه هر څخه گټلو سړی دې نوره د ثواب څه حق لرم .

(۳) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی ای بنځو ! استاسی جهاد حج دی . (خ) عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها) فایده :- وگورئ د دوی پر مراعت سویدی چه په حج کولو سره د جهاد ثواب ورکول کیږی حالانکه جهاد تر ټولو سخت او مشکل دی لیکن په حج کولو سره چه تر جهاد اسانه هم دی خدای پاک د جهاد ثواب ورکوی .

(۴) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه پر بنځو نه جهاد سته (تر څو چه علی الکفایه وی) نه جُمعه او نه د جنازی سره تگ سته . (طس عن ابی قتادة) بیا وگورئ چه دوی پرکور ناستی وی څومره ثواب ورکول کیږی .

(۵) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چه هر وخت بی بی گانی ته ورسره بوتلی حج ئی په وکړی نو ارشاد وفرمایل سو چه بس حج خو تاسی وکړی تر دغه وروسته په خپلو کورونو کښی کښینئ . (حم عن ابی هریرة) فایده :- مطلب ئی دادی چه بیله سخت ضرورته سفر مه کوی .

(۶) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی . الله پاک خوښه بولی هغه بنځه چه د خپل خاوند سره مینه او محبت کوی او د پردی سړی څخه د خپل ځان حفاظت کوی . (قر عن علی) فایده :- مطلب دا چه د خاوند سره محبت کول او هغه ته عذر او زاری کول د خپل شان خلاف و نه بولی لکه د معذوره بنځو چه دا خاصه (خوی او عادت) دی .

(۷) حدیث :- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی بنځی هم د نارینه خلگو اجزا دی . (حم عن عائشة رض - فایده لکه چه د حضرت آدم علیه السلام څخه چه د حوا علیها السلام پیدا کیدل مشهور دی . مطلب دادی چه د بنځو احکام هم خاص په مثل د نارینه خلگو دی (ماسیوئ دیو څو خاص احکامو نه) بیا که چیرې د دوی فضائل او نور د اسی ثوابونه بالکل سره جلا نه وای نو

هم د ناراضی او خفګان خبره نه ده پرکومو عملونو چه د نارینه ؤ سره د نفلونو
وعده سویده خاص پر هغو اعمالو باندی د بښځو سره هم هغه وعده سوی
ده یعنی لکه څرنګه چه نارینه ته خدای پاک پر یو عمل څوندی ثواب ور
کوی بښځی ته هم هغوندی ثواب ورکوی.

(۸) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه په تحقیق
سره الله پاک د بښځو په حصه کښی پر رشک یعنی غبطه او غیرت باندی ثواب
لیکلی دی او د خلګو په حصه کښی د جهاد ثواب لیکلی دی - پس کومه بښځه
چه د ایمان او د ثواب د طلب کولو په وجه د رشک یعنی غبطی او غیرت
پرکار مثلاً خاوند ئی بله بښځه وکړی صبر وکړی خدای ته کښینی نو دی ته
د شهید غوندی ثواب ورکول کیږی (طب عن ابن مسعود) وګورئ پر یو
لږ غوندی ضبط او صبر څوندی په څومره ثواب ورکول کیږی چه نارینه خلګو
ته د دغه ثواب په څوندی تکلیفونو کښی ورکول کیږی.

(۹) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی د خپلی
بښځی د پاره د کار کولو په سبب هم تاسی ته د خیرات کولو ثواب خدای
پاک درکوی (فر عن ابن عمر) فایده:- وګورئ بښځو ته د راحت رسولو
او نفقی برابرولو د پاره شریعت څرنګه انتظام کړیدی چه د ثواب وعده
ئی پکښی فرمایلی ده چه په دغه طمعه د ثواب به هر مسلمان د خپلی بی بی
ته راحت ورسوی.

(۱۰) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی په ټولو بښځو کښی ښه
هغه بښځه ده چه هر وخت خاوند ددی وخواته وګوری نو داد غه
خپل خاوند خوشحاله کړی او چه دیو کار ورته ووایی د اهغه کار وکړی
او په خپل ځان و مال کښی د ده مخالفت و نه کړی ناراضه او خوابدی ئی
نه کړی (حم ن ک عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه)

(۱۱) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی. الله پاک
دی رحمت وکړی پر پرتوګ اغوستونکو بښځو باندی (قط فی الافراد - ک فی
تاریخه هب عن ابی هریرة) فائده:- وګورئ حالانکه پرتوګ اغوستل
د ځان د پټولو د پاره یو طبعی کار دی لکه څودی خو پل لیکن نبی علیه السلام

د دغه پر توګ په اغوستلو کښې هم دعا ورته کړیده نو د اپر بنځو باندې څوندې زیاته مهربانی ده.

(۱۲) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی د بدکارې بنځې بدکارې د نږدې (۱۰۰۰) بدکارو نارینه وُ خلګو د بدکارې سړه برابره ده اود نیک کارې بنځې نیک کارې د اویا (۷۰) وړو لیانو د عبادت سړه برابره ده (ابو شیخ عن ابن عمر) وګورې پر څوندې لږ عمل باندې څوندې لوی ثواب ورکول کیږي نو داد بنځو دپاره یوغټ مراعت دی که مراعت نه دی نو څه شی دی.

(۱۳) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی دیو ښې پنځل کور کښې کارکول د جهاد کوونکو مرتبې ته رسیږي انشاء الله تعالیٰ (ع عن انس)

فایده:- دغه مهربانی هیڅ پای نه لري.

(۱۴) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی ستاسې په بې بې ګانو کښې تر ټولو ښه هغه بې بې ده چه د خپل عزت په باره کښې پرهیزګاره وي پر خپل خاوند عاشقه وي (فزعن انس رض) فایده:- وګورې د خاوند سړه مینه او محبت کول د نفس یو خوشحالی ده لیکن په دغه کښې هم ثواب او فضیلت دئ

(۱۵) حدیث:- یوه سړي عرض وکړي چه یارسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) زما یو بنځه ده هر وخت چه ددی وخوا ته ورځم نو دا وایي مرحبا دی وي زما سردار لره او زما د کور والا وو سردار لره اوهر وخت چه ما د ازهیر وو یني نو دا وایي د دنیا څه غم کوی ستا د آخرت کار خوکیږي. مبارک علیه السلام دغه واوریده وئ فرمایل چه دغه بنځه خبره کړه چه داد خدای تعالیٰ د کارکوونکو څخه یو کارکونکی ده اودی ته د جهاد کونکو نیم ثواب ورکول کیږي. (الخرائطی عن عبدالله الوصابی) فایده:- وګورې د خاوند په لږ خوشامد کښې ودی ته څوندی ثواب ورکول سو.

(۱۶) حدیث:- د اسماء بنت یزید انصاریه څخه روایت دی چه دی عرض وکړي چه یارسول الله صلی الله علیه واله وسلم زه د بنځو د خواڅخه وتاته رالیږل سوی یم دغه بنځې عرض کوی چه نارینه خلګو د جُمعې او د جماعت د لمانځه د مریض سا تلو په برکت سړه پرمونږ باندې سبقت او وړاندې والی کړیدی - ده مبارک و

فرمایل چه ته بیر ته ولاړه سه او ښځې خبری کړه چه ستاسی د خپل خاوند د پاره زیب او زینت او سنګار کول یا د مړو ښځې حق ادا کول او د خاوند رضا او خوشحالی طلبول او د خاوند د رضا مطابق د ده تابعداری او متابعت کول دغه ټول د هغو کارونو سره برابر دی کوم چه اسلام تنها او د وی ته ورکړی دی. لکه جماعت، جهاد وغیره چه اوس ذکر سوه (کرعن اسماء)

(۱۷) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی ښځه د حمل د وخت څخه واخله د کوچنی تر پیدا کیدو او بیا د تی اوشیدو څخه د پریکولو تر وخته پورې په فضیلت او ثواب کښی داسی ده لکه د اسلام په لار کښی د اسلامی سرحد حفاظت کونکی سړی چه په دغه کښی هر وخت د جهاد د پاره تیار ولاړ وی او که په دغه مابین کښی مړه سی نو دی ته د شهید غوندی ثواب ورکول کیږی.

(۱۸) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هغه مضمون دی کوم چه د دی فصل د ټولو مخکی حدیث مضمون وو - پس دوندی فرق ئی دی چه پرتی اوشیدو ورکولو ئی دغه فرمایلی دی - هر وخت چه خپل کوچنی ته شیدی ورکوی نو د هر غوږ په پرورکولو داسی ثواب او جزا ورکول کیږی لکه یو روح لرونکی شی ته چه ئی ژوندی او ژوند ورکړئ او هر وخت چه ئی بیا د تی څخه پریکوی نو فرشته (ملکه) د دې پر اوږه د شاباسی لاس ورتیروی او ورته وایی چه مخکنی ګناوی دی ټولی معاف سوی اوس چه آینده د هر څه کوی د سره ئی کوه - کوم چه اوس د ګناه کار کوی نو د سره به لیکل کیږی او د دی څخه مراد وړی ګناوی دی خو وړی ګناوی معافیدل هم کوچنی خبره نه ده.

(۱۹) حدیث:- رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی ای بیبیانو یاد وساتی داخبره چه په تاسو کښی کومه ښځه نیکه وی هغه به د نیکو خلګو څخه اول جنت ته ځی بیا چه ئی خاوند ان جنت ته راسی نو د غو ښځو ته به غسل ورکړل سی خوشبوئي به پرولګول سی بیا به د خپلو خاوندانو ته ورو سپارل سی په داسی حال کښی چه پرسر واوڅو مرکبانو یعنی د سپرتیا پرشیانو باندی به سپری وی او د د وی سره به داسی کوچنیان وی لکه پاشل سوی

مرغلری (ابوالشیخ عن ابی امامة) فایده:- بی بی گانو نور لاخو بنه والی غواړی جنت ته دنارینه خدګو څخه مخکی دا خلیږی. مګر هو څان نیک جوړول شرط دی. اودا هیڅ مشکل او سخت کار نه دی.

(۲۰) حدیث:- د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی دې مبارکی وفرمایل د هرهغی بنځی خاوند چه د باندی وی مسافر وی او د اخپل څان په دی حالت کښی ساتنه کوی د څان بنایسته کول او سنګار پریږدی خپلی پښی بندی کړی د کور نه نه وزی د زینت سامان معطله کړی او د لمانځه پابندی کوی نو دا به د قیامت په ورځ پیغله راو پاڅول سی پس نو که د دی خاوند مومن وو نو د غه بی بی به په جنت کښی د ده بنځه وی او که د دی خاوند مؤمن نه وو (یعنی خدای دی نه کوی د دنیا څخه بی ایمانه تیر سوی وو) نو خدای تعالیٰ د دی نکاح د یو شهید سره کوی (ابن نجویه وسنده حسن)

(۲۱) حدیث:- د ابو درداء رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی هغه وفرمایل چه ما ته وصیت کړیدی زما د دوست ابوالقاسم صلی الله علیه وآله وسلم چه وئ فرمایل چه خرڅ کوه د خپل طاقت سره برابر پر خپل اهل خاندان باندی یعنی پر بنځه او اولاد باندی الخ (ابن جریر) فایده:- کوم کسان چه سره د فراخی د خپلی بنځی په خرڅ کښی تنګی کوی هغه دی یو وارد غه حدیث ته وګوری.

(۲۲) حدیث:- د مدائنی څخه روایت دی چه حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی دی چه انسان د خپل کور سړی براه او مشر نه سی جوړیدای تر څوچه دی دامی نه سی چه ده ته د دی پروا نه وی چه ده څرنګه لباس او جامه (کالی) واغوسته او نه د دغه فکر وړ سړه وی چه د لوبی او ړې څه شی مړ کړی. (الدینوری) فایده:- کوم کسان چه د خپل څان د ساتلو او بنایسته کولو په غم او فکر کښی وی او د خپل کور څخه بی پروا وی د کور غم وړ سړه نه وی. بس خپله ګیده لنګړ او چوپته ئ ترمخه کړی وی هغه دی د سعدی رحمة الله تعالیٰ د دوو شعرونو څخه عبرت او پند واخلی.

ببین این بی حمیت را که هرگز ... نخواهد دید روی نیک بختی را
زن آسانی گزیند خویشتن را ... زن و فرزند بگذارد به سختی

اضافات د مشکوٰة څخه

(۲۳) حدیث:- د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د بنځو په حق کښی زما دغه نصیحت قبول کړی چه بنه ورسره کوی حکه چه داد پښتی څخه پیدا سویده الخ (متفق علیه) فایده یعنی د دی څخه دکاملی درستی او راستی توقع مه کوی دد ی پرکج فهمی او ناپوهی صبر کوی۔ وگورې د بنځو څوندی مراعت سویدی

(۲۴) حدیث:- د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه د مومن سړی دپاره د مومنی بنځی سره بغض کول نه دی په کار (یعنی د خپلی بی بی سره حکه چه که ددی یو عادت ستا ناخوښه سی نو بل عادت به دی ضرور خوښ سی۔ ددی حدیث روایت مسلم کړیدی. فایده:- یعنی دا فکر دی وکړی۔ صبر دی وکړی.

(۲۵) حدیث:- د عبدالله بن زمعه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه خپله بی بی د غلام او مریې پر رڼم باید و نه وهل سی په بی د ردی سره چه بیانو د ورځی پرځمید و باندی جماع او هم بستری ورسره کوی۔ الخ متفق علیه) فایده:- یعنی بیانو ستاسی مرانه او غیرت څرنگه خوښوی

(۲۶) حدیث:- حکیم بن معاویه د خپله پلار څخه روایت کوی چه ما عرض وکړی چه یارسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم پرما باندی زما د بی بی څه حق دی؟ ده مبارک و فرمایل چه هغه حق دادی چه هر وخت ته دډی خوړی نو دی ته ئی هم ورکړه او هر وخت چه ته کالی اغوندی کالی کوی نو دی د پاره ئی هم وکړه او پرمخ ئی مه وهه او دد ی سره چه کومی خبری سوی وی هغه خبری دی په کور کښی د ننه پاته سی نو ترکور دی نه راایستل کیږی۔ (د دغه حدیث روایت احمد، ابن ماجه او ابوداؤ کړیدی. فایده یعنی که د دی څخه مرور سی نو د کور د باندی دی نه ځنډی راوړی.

(۲۷) حدیث:- د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی ټول مومنان دی مگر کامل مومن هغه دی چه د ده اخلاق بنه وی او په تاسو ټولو کښی بنه هغه خلگ دی چه د خپلو بی بی گانو سره بنه وی۔ (د دی حدیث روایت ترمذی کړیدی)

اوده ته ئی په حسن صحیح ویلی دی - فایده:- د دغه دوهم فصل اووه ویشت حدیثونه دی او په اول فصل کښی دیارلس(۱۳) حدیثه وه چه ټول سره یوځای کړل سی - نو څلویښت حدیثونه کیږی او دغه دواړه فصلونه چه په صورت مجموعی سره معتبر سی نو د فضائلِ نساء د پاره چهل حدیث ځندی جوړ یږی.

دریم فصل د بهشتی زیور په ترهیبی مضمون کښی دی

د بنځو پر بعضو عیبونو نصیحت د قرآن او حدیث څخه

هر وخت چه موږ د نیکو او ښو بی ګانو خبرونه بیان کړه نو مناسبه معلومه سوه چه بعضی عیبونه کوم چه په بنځو کښی موجود دی او د دغو څخه په نیکی کښی کمبوت راځی او پر دغو عیبونو باندی چه الله جل شانه او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خصوصًا بنځو ته تاکید یا نصیحت فرمایلی دی د دغو خلاصه هم ولیکو د پاره د دی چه د دغو عیبونو څخه ئی نفرت وسی ځان ځندی وساتی چه په ځان ساتلو سره نو بانیکی پرخپل حال پاتیږی کمبوت نه پکښی راځی

دایتونو مضمون

الله تعالیٰ جل شانه فرمایلی دی په کومو بنځو کښی چه د علامو څخه و تاسی ته معلومه سی چه خبره نه منی نو اول وو دوی ته نصیحت وکړی که په نصیحت سره خبره نه ومنی نو دوی سره بیدیدل او کښینستل بند کړی که په دغه سره هم خبره نه ومنی نو دوی وُوهئ[۱] تر دغه وروسته که چیری تابع سی نو دوی ته د تکلیف ورکولو د پاره بانه او پلمه مه تلاشوی.

فایده:- د دی څخه معلومه سوه چه د خاوند خبره نه منل بدکار دی او الله تعالیٰ جل جلاله فرمایلی دی چه په تګ کښی پښه په زور سره پر

[۱] د وهلو څخه لږ وهل مراد دی ۱۲ محشی

مخکه مه ښځی چه تر پرديو خلګو پورې ستاسی د زيور او داسی نورو آوازونو سيږی فايده ده د آوازکوونکی زيور استعمال بالکل روانه دی او هغه زيور چه آواز پکښی نه وی ليکن يو زيور د بل سره لګيږی آوازکوی په دغه کښی دغه ذکر سوی احتياط دی او پوه سه چه په پښو کښی چه يو شی وی د هغه په آواز کښی د وندی احتياط دی نو پخپله د ښځی په آواز او د دی د بدن په ښکاره کيدو کښی به خوندی تاکيد وی.

د حديثونو مضمون

(۱) د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلی دی - ای ښځو ما تاسی په دوه شيانو کښی ډيری ليدلی ياست - ښځو پو ښتنه وکړه - د دغه وجه او سبب څه دی - مبارک عليه السلام وفرمايل تاسی لعنت کول، خدای دی وو هه پر تولو شيانو ډيرکوی او د خاوند ناشکری ډيره کوی او چه يو شی د رکړی تاسی ټی په تريو ستندی اخلی.

(۲) د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په حضور (مخکی) يوی ښځی وبخار او تبی ته بد ووېل د ده مبارک (عليه الصلوٰة والسلام وفرمايل چه تبی ته بد مه وايه په دی سره گناوی معافيږی.

(۳) او رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلی دی چه په خبر وکښی ژړيدونکی ښځه که چيری توبه و نه کاږی نو د قيامت په ورځ کښی به په داسی حال کښی راپورته کړل سی چه پر بدن به ټی د تيلو قميص وی چه او ربه د پيرشر راغلی او د قميص په وجه به ټی په بدن کښی خارش هم وی يعنی دا به په دوه تکليفونو مبتلا وی د خارش د سببه به ټول بدن په نوکانو شکوی او د دوزخ او ربه پربل وی داجلا دی.

(۴) او رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلی دی ای مسلمانانو ښځو هيڅ يوه همسايه ښځه دی د بلی همسايه ښځی را استول سوی شی خوار او سپک نه بولی که څه هم ديسه او بزی ښوونګری وی.

فایده:- په بعضو بنځو کښی دا عادت دی چه د بل چا د کور څخه د اړلیږل سوی شی د پرحقارت او سپکاوی کوی چه د غه شی و د یښی نو سږ ی په هوا و نیسی پرې وهی او طعنی تانی و رکوی.

(۵) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی یوی بنځی ته د یو پشی د سببه عذاب و رکړه سویدی - دې د غه پشی تر پینګولو و روسته ترلی وه نه ئی خورک و رکاوی او نه ئی ایله کوله د اغسی په تکلیف او خواری کښی مړه سوه.

فایده:- د اغه رنګه یو حیوان تش په نامه سا تل او د د ه په خورک اوچناک څان نه خبرول د عذاب خبره او کار دی.

(۶) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی بعضی خلګ او بنځی ترشپیتو کلونو پورې د خدای عبادت کوی بیا چه د مرګ وخت راسی یو نا روا وصیت وکړی نو لایق دا و ر اود و بزخ سی.

فایده: لکه چه د بعضو بنځو عادت دی چه د مرګ په وخت کښی دا می وصیت کوی چه گور ه زما فلانی شی زما مسجد ته و رکړه زما و ر و رته ئی مه ورکوه یا فلانی لور ته ئی ترد غی بلی لو ر ز یات شی و رکړه دا ټول حرام دی. د وصیت او د میراث د مسئلو پوښتنه د یو عالم څخه وکړی بیا د د غه سره برابر عمل په وکړی مخالفت د د غو مسئلو څخه مه کوی.

(۷) رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی یوه بنځه د ی د بلی بنځی سره دامی نه خلطیږی چه بیا د خپل خاوند په مخکی د د ی حال دامی بیانوی لکه دی چه ئی وینی.

(۸) او د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره یو واړ د وی[۲] خپلی بیبیانی ناستی وی چه یو نابینا (ړوند) صحابی راغلی نو د ه مبارک د وی د واړه ته د سته او پرد ی حکم و رکړی - د واړه و په تعجب سره عرض وکړی چه دا خو ړوند د ی - د ه مبارک و فرمایل چه تاسو خو ړوند ی نه یاست او تاسی خو د ه ته گورې.

(۹) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر وخت چه یو بنځه په دنیا کښی خپل خاوند ته یو څه تکلیف و رکوی نو هره حوره چه په جنت کی

[۲] یعنی شریعت چه کوم څوک وارث بللی وی هغه مخرومول او غیر مستحقینو ته شی ورکول حرام دی ۱۲

د دغه خاوند په برخه کښی کیږی هغه وایی خدای دی تالوټ اوچور کړی دغه ستاسره میلمه دی په ژر ژر ستاخخه وماته راځی.

(۱۰) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه ما داسی دوزخیانی ښځی نه دی لیدلی یعنی زما د زمانی خخه به وروسته پیدا سی چه کالی به ئی اغوستی وی لیکن لغړی به وی یعنی پربدن به ئی برای نام کالی وی لیکن په دوندی اندازه به نری وی چه ټول بدن به ئی تر معلومیږی لوړاوکښته به کیږی فخرانه طور به روانی وی رفتار به کوی او په وریښتانو کښی به. موباف یا یوټوکر بڼدی وریښتان به سره راپیچی دا رنګه به ئی ترې چه پرې معلوم سی او داسی به وی دغه وریښتان لکه داوښ بوک د غسی ښځی د جنت نه نه ئی بلکه د جنت خوشبوي هم د دوی نه په برخه کیږی.

فایده:- یعنی هر وخت چه پرهیزګارانی ښځی د جنت ته ځی د دغو نارکو جامو والاوو ښځو د دوی سره یوځای تګ نه په برخه کیږی ترڅو اوروسته کیدای سی او بنایی چه د جنت ته ولاړی سی.

(۱۱) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هر هغه وخت چه د سړو زړه زیور د ښکاره کولو د پاره د خلګو ته یا د ریا کاری د پاره اغوندی نو پر دغه به دی ته عذاب ورکول سی.

(۱۲) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په یو سفر کښی وو چه یو آواز ئی واوریدی لکه یو څوک چه پریو چا لعنت کوی نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پوښتنه وکړه چه دا څه قصه ده. خلګو عرض وکړی چه دا فلانی ښځه ده کومه اوښه چه دا پرسپره ده پرهغی لعنت کوی. دې اوښی به په تلوکښی سستی یا شوخی کړی وی دې ښځی به په چغه داسی ورته ویلی وی چه در باندی لعنت دی سی یا خدای دی وو هه لکه چه د ښځو عادت دئ

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د خلګو ته حکم ورکړی چه دغه ښځه او د دی سامان د دغی اوښی خخه شوه کړی دا اوښه خو د دی ښځی په نزد د لعنت قابله ده نو کار ولی پرکوی. (ابو داؤد) فایده:- بنه سزا ئی ورکړه

رساله کسوة النسوة وپای ته ورسیده

مخکی د اصلی بهشتی زیور د اتمی حصی د مضمون بقیه ده

په دغود وارد مضمونونو کښی یعنی په تعریف او نصیحت کښی د لته پنځه آیتونه او پنځه ویشت حدیثونه ولیکل سوی (یعنی په اصل حصه کښی وَرُنَهُ د رسالهٔ کسوة النسوة روایات چه وړسره یو ځای سی بیا خو په پرحدیثونه یعنی (۵۲) دوه پنځوس کیږی۔ منه) او د دی حصی په شروع کښی موږ د خپل پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم مبارک اخلاق او نیک عادتونه په لیکلی دی چه هر وخت پرد وی د عمل کولو ضرورت پیښیږی او تر دغی حصی مخکښی په مخکنیو اولوارو (۷) حصو کښی موهر قسم نصیحت په ډیر تفصیل سره لیکلی دی نو بنه ده چه په خیال اوذهن کښی وساته او عمل په کوه انشاالله خدای جل شانه به په قیامت کښی لوی لوی درجی درکړی او که عمل نه په کوی خدای پاک دی موږ او تاسی وساتی د بدو سخو چه عمل نه په کوی په قیامت کښی به د دوی بد حال وی که د قران او حدیث د پوهنی یو وخت قابلیت په تاسی کښی موجود سی نو ډیری قسمی د دامی بدذاته، بی دینه، بد عقیده او بد عمله سخو وتاته معلومیږی پروردگار عالم دی موږ او تاسو ته په روا او نیکو کښی ژوند او په نیکو کښی خاتمه او په نیکو کښی حشر راکړی۔ امین

اتمه حصه

پای ته ورسیده

بسم الله الرحمن الرحیم

د بهشتی زیور د اتمی حصی اوله ضمیمه
چه په بهشتی جوهر سره نامدارہ دہ

د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د خوب واو پاکو خویونو او عاداتو بیان

(۱) بیهقی د حضرت براء بن عاذب څخه روایت کړیدی چه مبارک علیه الصلوة والسلام تر تولو زیات حسین (ښایسته) او تر تولو زیات خوش اخلاقه وو نه ډیر جگ وو او نه ډیر پیت وو (بلکه میانه قدوالا وو)

(۲) ابن سعد د اسماعیل بن عیاش څخه په صحیح مرسله طریقه سره روایت کړیدی چه دی مبارک تر تولو زیات د خلگو پرایښا او ضرر رسولو صبر کونکی وو.

(۳) ترمذی د هند بن ابی هاله څخه یو لوی حدیث په غوړه او ښه سند سره د دغه مبارک په شمائلو کښی روایت کړیدی چه په دغه حدیث کښی دا هم راغلی دی چه دغه مبارک به هر وخت د تلو د پاره قدم پورته کاوی نو په قوت سره به ئی قدم پورته کاوی او قدم به ئی داسی ایښووی چه مخته به کښته کیدی او په تواضع سره به ئی مخکی قدم ایښووی په تگ او تلو کښی به داسی وو چه گویا دیو لوړ ځای څخه راکښته کیږی. چه د اړخ دخوا ویوشی ته به ئی کتل نو تول به راگرځیدی او ورته کتل به ئی (یعنی د سترگو ترکنجیانو به ئی نه کتل) نظر به ئی کښته ساتی دغه مبارک نظر نسبت د اسمان ته د مخکی وخواته ډیر وو او تر اصحابو رضوان الله علیهم به وروسته تلی عموماً عادت ئی په کښته سترگو سره د کتلو وو (مطلب دادی چه د ډیری حیا څخه ئی پورته سر د کتو په وخت کی نه پورته کاوی) هر څوک چه به ورسره

---

۱ حضور صلی الله علیه واله وسلم ۲ مفصل کتاب په نامه د فضائل نبوی د اغښتو او کوچنیانو د پاره ۳ مشارع صوبدی ۴ شمائل ۵ جامع صغیر ۶ تعریبی مشی ۷ تر انتقل صوبدی ۸ اوتر جمه بالخاصل ۹ ق صوبدی کا مگر ۱۰ کتلی سهایت ۱۱ هم صوبدی ۱۲ منه

مخامخ سوا ول به ده مبارک سلام ورې اچاوی.

(۴) ابوداؤد د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړی دی چه د
مبارک په خبرو کښی ترتیل (ارامتیا) وو (یعنی خبری یې ژر ژر نه کولی بلکه
به ساه ساه ئې کولی د دی د پاره چه اوریدونکی ښه په پوه سی) لیکن دوند
به ساه ساه ئې نه کولی چه اوریدونکی څنډی و بیږی او په یو حدیث شریف کې
راغلی دی چه ده مبارک یوه خبره دری واړه فرمایله. غرض دا دی چه د
مبارک خبری په ډیره عمده او ښه طریقه سره کولی هر قسم چه به موقع وه
یعنی موقع لحاظ به ئې ساتی بعضی اوریدونکی تیز فکره او په خبرو څرد پوهیږی
او په دغسی حای کښی یوه خبره خو واړه واړه راګرزول نامناسبه ده او بعضی
اوریدونکی په ډیر وخت سره وخبره ته ورلویږی نو دوی د پاره خبره واړه واړه
راګرزول مناسب ده اوکوم حای چه هرقسم خلګ وی هلته دری واړه خبره راګرزول
مناسب ده. حکه چه بعضی خلګ د اعلی درجی پوهیدونکی وی دوی په اول
واړه سره په خبره پوهیږی او بعضی د میانه درجی پوهیدونکی وی هغه په
دوهم واړه سره په خبره پوهیږی او بعضی غبیان او ناپوهه وی هغه د خبری
دری واړه کولو ورځسته ښه په پوهیږی مخکی دا سی ښه نه په پوهیږی
وکه چیری تر دری واړه مکرر ولو ورځسته هم څوک په پوه نه سی نو د
نوش اخلاقی خبره داده چه څلرم او پنځم واړ خبره ورته مکرره سی ښه څان
به پوه کړه.

اصل خو دا دی چه د خوش اخلاقی او قواعدو د پابندی اعلی مرتبه جناب
رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته عطا سوی وه نه چا ته مخکی دا
رنګه مرتبه ورکړه سوی وه او نه به اینده ورکړه سی او سره د پابندی
د اسلامی قواعدو او خوش اخلاقی د څیل څان عادت ګرزول ډیر لوی کمال دی
او د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د اعادت مبارک وو چه کوم کار به
ئې پخپله کاوی نو ښه د قواعدو په پابندی سره به ئې کاوی. او د نورو څخه
چه به ئې په دغه کار کښی غلطی اوکوتاهی ولیده نو زجر او تربیه به ئې نه ورکوله
مګر د دوی د اصلاح په خاطر به ئې باقاعده او په ډیره نرمی سره نصیحت ورته
کاوی باید دغسی طریقه د سنت طریقی متابعت کونکی خلګ عمر کا اختیار کړی

چه د انتظامی قواعدو پابندی اود خوش اخلاقی عادت اختیار کړی او نورهم باید
ددغی طریقی نه راد عوت کړی. مگر صرف د خپل نفس او غضب د شفا د پاره دی
د نورو پر کوتاهیو باندی گرفت نه کوی لیکن که د د دی د اصلاح په وجه ضرورت
وی نو سختی هم سنه ده سنه خان په پوه کړه.

(۵) ابوداؤد رحمة الله علیه د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه په
صحیح سند سره روایت کړیدی چه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم
خبری به جلا جلا وی چه چا به اوریدی په پوهیدی به.

(۶) بیهقی د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه په حسن سند سره
روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته په ټولو
بدوعادتونو کښی تر ټولو د ر واغ ناخوښه وه.

(۷) بیهقی، ابوداؤد او نسائی د حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت
کړی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په ټولو کالوا وجامو
کښی یمنی چادر ډیرخوښ وو چه په هغه کښی به ډیر رنگونه وه.

اوعزیزی دابن ارسلان څخه د دغه چادر په خوښولو کی داوجه اوحکمت
نقل کړیدی چه داډیره د زینت او ښایست جامه نه ده یعنی ساده ده اودغه
رنگه ژر نه خیرنیږی. سبحان الله څونډی مبارک شان وو د آنحضرت رسول الله
صلی الله علیه واله وسلم چه د ه خپل مقدس ذات په دی د نیا کښی مسافر بالی
نه ئی د د نیاد ښایست سره تعلق وو او نه ئی د د نیاد خزافاتو او چټیانو سره تعلق وو

مسلمانانو ستاسی د پاره هم داغسی طریقه اختیارول په کار د ه چه په
قدر د ضرورت د اسی کالی واغوندی چه ستر په پټ سی او ساده وی او ژر ژر
نه خیرنیږی د اد دی د پاره چه د کالو ښایست تاسی د پروردگار عالم وخوانه
د توجه څخه منعه نه کړی او د ژر پاکولو ضرورت ئی نه وی چه په پاکولو کښی دیر
وخت مصروفیږی او په بعضو روایتونو کښی د سپینو کالو هم تعریف راغلی دی

(۸) بخاری او ابن ماجه د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت کړی
دی چه د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغه عبادت تر ټولو خوښ
وو چه همیشه ادا کیدای سی یعنی نفلونه او د اسی نور د وندی قدر کول په کار
دی چه همیشه کیدای سی د اسی نه چه یوه وخ هرځه وکړی او بله وخ بیا

شی نه وی لږ عبادت چه همیشه کیدای سی تر هغه عبادت ښه دی چه
پیږدی مګر یوه وړځ ئی کوی بله وړځ ئی بیا نه کوی. لکه چه په صحیح سند
سره دا خبره د حضور صلی الله علیه واله وسلم څخه راانقل سویده.
(۹) ابن السنی رحمة الله علیه او نورو مرسلاً په سند حسن لغیره سره د مجاهد
څخه روایت کړیدی چه دده مبارک دبڼی په غوښه کښی ددی مخکنی حصه
پیره خوښه وه.
(۱۰) حاکم او نورو په سند حسن لغیره سره د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ
عنها څخه روایت کړیدی چه د چښلو په شیانو کی ددده مبارک تر ټولو
یخی او خوږی او به خوښی وی ابو نعیم د حضرت ابن عباس رضی الله
تعالیٰ عنه څخه په سند حسن لغیره سره روایت کړیدی چه ددده مبارک
د چښلو په شیانو کی تر ټولو شیدی زیاتی خوښی وی.
(۱۱) ابن السنی او ابو نعیم د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړی
دی چه ددده مبارک د شهد و (عسلو) شربت د چښلو په شیانو کی تر ټولو زیات خوښ وه
(۱۲) ابو نعیم د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه په سند حسن لغیره
سره روایت کړیدی چه د حضور صلی الله علیه واله وسلم په ټولو کتغونو کی
سره کدو تر ټولو زیاته خوښه وه.
(۱۳) مسلم د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړی دی چه پر مبارک
علیه السلام به خوله پیره راتله او په عزیزی کتاب کښی لیکلی دی چه حضرت
امام سلیم رضی الله تعالیٰ عنه به ددده مبارک خوله جمعه کوله او بیا به ئی
د نورو خوشبویی سره ګډوله ځکه چه ددده مبارک خوله پیره زیاته خوشبویه
وه او دا روایت په مسلم شریف کښی راغلی دی.
(۱۴) د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه څخه مسلم روایت کړیدی چه ددده صلی
الله علیه واله وسلم د بڼیری مبارکی وریښتان پیره وه.
(۱۵) ابن عدی او نورو د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها او د حضرت ابو هریره
رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه په میوه جاتو کښی د مبارک صلی الله
علیه واله وسلم خوږ مادیره خوښه وه.
(۱۶) ابو نعیم د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه ددده

مبارک د بزی غوښه چیرته خوښه وه

(۱۷) امام احمد رحمة الله علیه او نسائی رحمة الله علیه په صحیح سند سره د ابو واقد څخه روایت کړیدی چه هر وخت به دی مبارک امام وو یعنی د ده مبارک به لمونځ ورکاوی نو به ئی لمونځ ډیر مختصر کاوی او هر وخت چه به ئی یوازی لمونځ کاوی نو به ئی لمونځ ډیر اوږد اوی - د ده مبارک د مقتدیانو سره په دی وجه لمونځ مختصر کاوی چه مقتدیان په تکلیف نه سی او یوازی ئی د دی وجهی لمونځ اوږد اوی چه لمونځ د ده مبارک د ستر گو یخوالی وو په لمانځه کښی و ده مبارک ته اطمنان حاصلیدی او تر دغه به نړیات اطمنان او ارامو الی چیری وی چه د محبوب حقیقی په محکمی په عاجزی سره ولاړ وی او التجاء څندی کوی د دغه اختصار او تطویل مقدار په نور و حدیثونو کښی په تفصیل سره راغلی دی.

(۱۸) امام احمد او ابو داؤد په سند حسن سره د حضرت عبد الله ابن بسر څخه روایت کړیدی چه جناب رسول مقبول صلی الله علیه وآله وسلم چه به هر وخت دیو چا دروازی ته تشریف وړ وړی نو د روازی ته به مخامخ نه درید ی بلکه د د روازی چپه اړخ ته به درید ی یا به د د روازی ورا سته اړخ ته درید ی او فرمایل به ئی السلام علیکم - دا طریقه سنت ده چه هر څای څوک ولاړ سی نو د د روازی مخامخ دی نه درید ی بلکه راسته یا چپه طرف ته دی و درید ی ځکه چه په دغسی درید و کښی د چا د بی ستری پیره نسته لیکن که د روازه بنده وی نو د د روازی ته مخامخ درید ل هم پروا نه لری او د کور و خلگو ته دی د خپل راتگ اطلاع او خبر په السلام علیکم سره ور کړی که ئی نه واوری نو د و هم وار دی بیا سلام ور واچوی بنه ځان په پوه کړه.

(۱۹) ابن سعد په طبقات کښی د حضرت عکرمه څخه مرسلاً روایت کړی دی چه د آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم داعادت وو چه هر وخت به د ده مبارک وحضور ته یو څوک راغلی او ده مبارک به د هغه پر مخ بحالی او خوشحالی ولیده نو به ئی د هغه لاس په خپل مبارک لاس کښی نیوی (په دی غرض داوو چه د د غه سړی د د ده مبارک سره انسیت او الفت حاصل سی.

(۲۰) ابن مندہ رحمة الله علیه د عتبه څخه روایت کړیدی چه هر وخت به د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وحضور ته یو څوک راغلی او د هغه به

داسی نوم وو چه دده مبارک به خوښ نه سو نو به ئې نوم ور بدلاوی.

(۲۱) امام احمد او داسی نور روایت کړیدی چه هروخت به دده مبارک (حضور ته یو چا د زکوٰة مال راوړی (چه دی مبارک دغه مال پرخپل ځای مصرف کړی) نو ده مبارک به فرمایل ای الله پر فلانی سړی رحمت وکړی (زموږ د پاره هم دغسی طریقه کول په کار ده چه څوک صدقه او داسی نور د تقسیم یا مصرفولو د پاره راکړی نو موږ هم باید هغه ته دغه دعا وکړو).

(۲۲) حاکم د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه په حسن سند سره روایت کړیدی چه هروخت به پرآنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم یو خوشحالی راغله نو به ده مبارک دغه الفاظ ویل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تُتِمُّ الصّٰلِحٰتُ او هروخت چه به یو خفګان پرراغلی بیا به ئې دغه الفاظ ویل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ.

(۲۳) امام احمد او ابن ماجه د حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه په صحیح سند سره روایت کړیدی چه هروخت به مینځه، مریی د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په حصه کی (په جهاد کی) راغله نو پر ټولو کور والاوو به ئې ویشل د پاره ددی چه د کور والاوو په مابین کښی خفګان پیدا نه سی (یعنی که یو چاته ور سیږی او یو چاته نه ور سیږی نو بیره ده چه د دوی په مابین کښی خفګان پیدا سی د دغه طریقه زموږ د پاره اختیار ول په کار ده چه هر وخت یوشی تقسیمو نو پرهره موقع ددی خیال باید وساتو چه داسی تقسیم ونه کړو چه د خلګو په مابین کی خفګان پیدا سی یا یو بل فساد پیدا سی برابره خبره ده که ئې پر قوم او قبیله تقسیمو و یا ئې پر اهل او عیال یا شاګردانو او یا هریدانو تقسیمو و.

(۲۴) خطیب رحمة الله علیه د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه په ضعیف سند سره روایت کړیدی چه هروخت به د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د حضور مبارک ته د وډی راوړل سوه (او نور د خلګو به هم د ده مبارک سره د وډی خوړل) نو به ده مبارک د خپلی خواڅخه خوړل او هروخت چه به ده مبارک د حضور ته خوړلو ی راوړل سوی نو د هغی خواڅخه به ئې خوړلی.

(۲۵) ابن السنی او نور و په صحیح سند سره د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څه

روایت کړیدی چه هروخت به وده مبارک ته میوه راوړل سوه به دامی وخت کښی چه اول واړه به رسیدلی وه نو به ئی اول واړه پرده واړه وستړګو او بیا پر دواړه شونډو نو ایښو ولـه او فرمایل به ئی - اَللّٰهُمَّ کَمَا اَرَیْتَنَا اَوَّلَهٗ فَاَرِنَا اٰخِرَهٗ او بیا ئی دغه میوه وکوچنیانو ته ورکوله هغه کـوچنیان چه په دغه وخت کښی به دده مبارک سره ناست وه.

(۲۶) ابن عساکر د حضرت سالم بن عبد الله بن عمر او حضرت قاسم بن محمد څخه په مرسله طریقه سره صحیح روایت کړیدی چه کوم وخت به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته هغه لوښی راوړل سو چه په هغه کښی به خوشبو یه تیل او دامی نورو نو ده به خپلی مبارکی ګوتی په دغو تیلو لندولی بیا چه به ئی هر ځای زړه غوښتی چه دغه تیل وغیره استعمال کړی نو دګوتو په ذریعه سره ئی پر هغه ځای استعمالول.

(۲۷) طبرانی د حضرت ام المؤمنین حضرت حفصی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړیدی چه هروخت به حضور صلی الله علیه وآله وسلم د خوب د پاره بیدیدی نو خپل راسته لاس به ئی تر راسته بار خولاندی ایښو وی.

(۲۸) شیرازی په القاب کی د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه په حسن لغیره سند سره روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت (په سر کی) د تیلو لګولو قصد او اراده کوله نو د چپه لاس پر ورغوی اچوله او بیا به ئی د ورځو څخه لګول شروع کول (یعنی اول به ئی پر ورځو لګول) بیا به ئی پر دواړو ستړګو لګول بیا به ئی پر سر لګول او په عزیزی کتاب کښی راغلی دی چه مناوی رحمة الله علیه فرمایلی دی چه په یوه روایت کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هروخت پر ږیره مبارکه د تیلو لګولو قصد کاوی نو اول ئی پر دواړو ستړګو تیل لګول (او بیا ئی پر ږیره لګول) احقر وایی چه دا روایت زما تر نظر نه دی تیر سوی.

(۲۹) ابوداؤد، ترمذی او طیالیسی د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څخه او حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه څخه په صحیح سند روایت کوی چه دی مبارک به هروخت د وړه یا غټو بولو د پاره کښینستی نو خپل کالی ئی تر هغه وخته نه راپورته کول تر چو چه وبحکی ته ورنژدی سوی نه وای ددی د پاره چه بیله ضرورته

ستر بنکاره نه سی حکه چه د ستر لخولو هغه وخت ضرورت پیښیږی چه انسان د قضای حاجت د پاره کښینی نو ترکښینستو مخکی د ستر لخولو څه ضرورت دی ددی سبب د ده مبارک د عین ضرورت په وخت کښی ستر لخاوی.

(۳۰) ابو داؤد، نسائی او ابن ماجه د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه په صحیح سند سره روایت کړیدی چه هر وخت به ده مبارک د جنابت په حال کښی (بیله غسله) د خوب قصد کاوی نو اودس به ئی کاوی (یا به بیدیدی) او هر وخت چه به ئی په دغه حالت (مذکوره) کښی د خوړلو یا چښلو قصد کاوی نو فقط د واړه لاسونه به ئی (تر بند و پورې) پری مینځله بیا به ئی خورک او چښل کول حائضه او نفاسه ښځه چه کله پاکه سی نو د دی د پاره هم داسنت دی (یعنی پورې پریمنځی)

(۳۱) حاکم او ابو داؤد په صحیح سند سره د حضرت عبد الله بن یزید څخه روایت کړیدی چه هر وخت به جناب رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم لښکر رخصتاوی نو دغه دعا به ئی کوله۔ (اَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِیْنَکُمْ وَ اَمَانَتَکُمْ وَ خَوَاتِمَ اَعْمَالِکُمْ۔ (مناسبه داده چه هر وخت یوځوک رخصتوی نو دغه دعا وایه۔ دغه د هغه چا دین او ایمان او د نیا د پاره د نجات دعا ده ته رخصت ورکول کیږی)

(۳۲) خطیب د حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه په ضعیفه سند سره روایت کړی دی چه هر وخت به د ده مبارک نوی کالی او یو جامه اغوسته نو د جمعی په ورځ به ئی اغوسته.

(۳۳) حکیم ترمذی د حضرت عبد الله بن کعب څخه په نوادر الاصول کښی په حسن سند سره روایت کړیدی چه د ده مبارک به هر وخت مسواک و راهی نو بیا به ئی وځشرته ورکاوی (یعنی د چا شخصیت چه به لوی دو هغه نه به ئی ورکاوی) او چه او به وغیره به ئی وچښلی نو پاته سوی او به به ئی هغه چا ته ورکولی چه د د ده مبارک ورا سته طرف ته به وو (د دا د واړه کارونه به وجه د سخاوت او خلگو ته د برکت رسولو په غرض سره د ده مبارک کوله)

(۳۴) ابن السنی او طبرانی په حسن سند سره د حضرت عثمان بن ابی العاص څخه روایت

کړیدی چه هروخت به شمالی باد چلیدی نو جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به دا دعا کوله - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَآ اُرْسِلَتْ فِيهَا - وجه ددی دعا کولو داوه چه د غه رنګه هوا کله پریو قوم پرطریقه د عذاب راليږل کيږی کذا فی العزیزی - نو به دا مبارک دعا کوله چه یا الله زه په تا سره پناه غواړم د هغه شی د شر څخه چه هغه تا په د غه هوا کښی راليږلی دی او د غه ترجمه ده د دغی دعا.

(۳۵) امام احمد او حاکم په صحیح سند سره د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت کړیدی چه هروخت به جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته د اهل بیت په باره کښی اطلاع ورسیده چه د اهل بیت څخه یو چا یو وارد رواغ ویلی دی نو دی مبارک به ترهغه وخته څنډی خفه او ناراضه دو چه هغه به توبه کښه او هروخت چه به هغه توبه وکښه بیا به څنډی خوشحاله سو - وجه داده چه درواغ چونکه په اسلام کښی یوغټه ګناه ده او دګنهګار سره بغض کول لازم دی نو ددی سببه ده مبارک د داسی چا څخه اعراض کاوی او د ټولو ګنهګارانو سره ددا ده مبارک دغه رفتار وو.

(۳۶) شیرازی په القاب کښی په سند حسن لغیره سره د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت غمګین سو نو بزیره مبارکه به ئی په لاس کښی نیوله او ورته کتل به ئی - (او داده د مبارک طبعی فعل وو په طریقه د عبادت نه وو)

(۳۷) ابن السنی او ابو نعیم د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها او داغه رنګه ابو نعیم د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه هم په حسن سند سره د غه مضمون نقل کړیدی چه هروخت به مبارک علیه السلام غمګین سو نو به ئی بزیره مبارکه ډیره مسحه کوله (یعنی په لاس کښی به ئی نیوله)

(۳۸) امام احمد په صحیح سند سره د حضرت عقبه بن عامر څخه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت سترګی نو رولی نو په طاق عدد سره به ئی د رنجونی لرګی په سترګو پوری لګاوی. په بل حدیث شریف کښی چه ترمذی او نور روایت کړیدی دا مضمون راغلی دی چه په

هره سترګه پورې ده مبارک درې درې واره د رنجونې لرګی (سلایې) ـ پورې کاوی.

(۳۹) مسلم، امام احمد او داسې نورو د حضرت انس بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه هر وخت به ده مبارک خورک او ډوډی وخوړله نو خپلې دخورک درې سره ګوتې به ئې څټلې (کمافی روایة الحاکم) چه د پروردګار عالم رزق ضائع نه سی)

(۴۰) ترمذی د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه هروخت به و ده مبارک ته یو سخی وړ پیښه سوه نو سر مبارک به ئې اسمان وخواته پورته کړی او سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ به ئې ویله.

(۴۱) ابو داؤد او ابن ماجه په صحیح سند سره د ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم به هر وخت د خپل طرف څخه یو څوک دیوکار د پاره استاوی نو به ئې ورته وفرمایل چه خوشخبری اوروه خلګو ته یعنی ودوی ته دخوشحالی خبری کوه په دینی اود نیوی امورو کی اود دوی مه متنفرکوه ددی د پاره چه ستا څخه نفرت و نه کړی مګر د شرعی حد په هر ځای کښی ساتل په کار دی دامی زیری اود خوشحالی خبری مه ورته کوه چه د دین خلاف وی او اسانی کوه پرخلګو سختی مه کوه پردوی باندی.

(۴۲) ابوداؤد او ترمذی د حضرت صخر بن وداعه رضی الله تعالیٰ عنه څخه په حسن سند سره روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه وآله و سلم به هروخت لښکر لیږی نو دورځې په اول وخت کښی به ئې لیږی (ځکه چه داد برکت وخت دی د حاجت د پوره کیدو د پاره د دغه وخت په تلو کښی زیات امید ستر)

(۴۳) ابوداؤد د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه په صحیح سند سره روایت کړی دی چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دا عادت ووچه هروخت به وده مبارک ته دیو چاپیو بد کار او خبره وړ معلومه سوه نو ده مبارک به د نصیحت په وخت کښی داسی نه فرمایل چه د فلانی چا څه حال دی چه دی داسی کار کوی یا داسی خبره کوی - لیکن

دا به ئې فرمایل چه د خلګو څه حال دی چه دا سی خبری (یعنی بد ی خبری) کوی او دا سی کار ونه (یعنی بد کار ونه) کوی سبحان الله څوند ی بنه اخلاق وه۔ د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او څوند ی بنه پوهنه ئې وه چه دا سی نصیحت ئې کاوی چه مقصود هم په حاصلیدی او مجرم هم نه په رسوا کیدی او مجرم به شرمنده هم نه سو بلکه د نصیحت قدر به ئې وکړی او عمل به ئې پیوکړی

(۴۴) ابو نعیم په حلیة الاولیاء کښی د حضرت ابو سعید خدری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی او د دغه روایت تصحیح امام سیوطی په جامع الصغیر کښی کړیده چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت د سهار د خواړو وړی د خورې نو بیا به ئې د مابنام د خوانه خورې او هر وخت چه به ئې د مابنام د خوا د خورې نو بیا به ئې د سهار د خوانه خورې۔

فایده:۔ مقصود دادی چه د ه مبارک په شوا رونو کښی یو وار د وړی خورې یو وخت به ئې یا سهار خورله یا یو وخت به ئې مابنام خورله۔

(۴۵) ابن ماجه د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت او دس وکړی نو د وه رکعاته نفل لمونځ به ئې کاوی (چه خلګ ئې تحیة الوضوء بولی) په شرط د دی چه مکروه وخت به نه وو۔ بیا به ئې د فرض لمانځه د پاره مسجد ته تشریف وړ وړی۔

(۴۶) خطیب او ابن عساکر د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کوی په حسن لغیره سند سره چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم عادت وو چه هر وخت به د یخ موسم راغلی نو ده مبارک به د جمعی د شپی څخه د نه په خونه کښی بید یدل شروع کول او هر وخت چه به د گرمی موسم راغلی نو هم به ئې د جمعی د شپی څخه د باندی بید یدل شروع کول او هر وخت چه به ئې نوی کالی اغوستل نو د الله پاک حمد به ئې وایه (یعنی الحمد لله یا په مثل د الحمد لله به ئې یو بل لفظ په طریقه د شکر سره فرمایی) او د وه رکعاته (نفل) لمونځ به ئې په شکریه کښی کاوی او زاړه کالی به ئې یو مسکین ته ورکول

(۴۷) بیهقی او خطیب په حسن سند سره د حضرت حسن بن محمد بن علی څخه مرسلاً روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته به هر وخت

مال راغلی نوکه به چیری د سهار په وخت کښی راغلی نو ترعزمی پوری ئی نه سائی او که به د ماښام په وخت کښی راغلی نو ترشپی پوری به ئی نه سائی (یعنی سمدستی به ئی مصرف اوی) عزیزی ص۱۱۲ دریم توک)

(۴۸) محدث بغوی د خپل پلار یعنی مره څخه په ضعیف سند سره روایت کړی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته به هر وخت چیره خندا وه غله نو پر خوله مبارکه به ئی لاس ایښووی۔

فائده:۔ اود اتفاقی پیښیده چه نبی علیه السلام ته به یوزور خندا وه غله ورنه اکثره وخت به ددغه مبارک خندا کراره او سوکه وه۔ کما ورد بسند صحیح۔

(۴۹) ابن السنی د حضرت ابو امامه رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی۔ چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به هر وخت په یو مجلس کښی کښینستی او خبری به ئی کولی او بیا به ئی د هغه څای څخه د ولاړیدو قصد کاوی نو به ئی استغفار وایه دلسو څخه تر پنځلسو واړو پوری۔

فایده:۔ په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه هغه استغفار داوو۔ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ۔ (کذا فی العزیزی لکن لم اقف علی سنده۔

(۵۰) ابو داؤد د حضرت عبد الله بن سلام څخه په حسن سند سره روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به هر وخت کښینستی او خبری به ئی کولی نو په کثرت سره به ئی اسمان وطرف ته کتل (په وجه د محبت د عالم بالا سره داغه رنګه ددی سببه چه په اسمانونو کی عجائبی او عزائبی د قدرت معلومیږی چه د عبرت سبب دی)

(۵۱) امام احمد او ابو داؤد د حضرت حذیفه رضی الله تعالی عنه څخه په صحیح سند سره روایت کړیدی چه هر وخت به پر جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم باندی یو تکلیف راغلی نو به ئی نقل لمونځ کاوی په داسی طریقه کولو سره ظاهری او باطنی، دنیوی او اخروی نفعه حاصلیږی او پریشانی او تکلیف لیری کیږی۔

(۵۲) ابن السنی د حضرت سعید بن حکیم څخه په حسن لغیره سند سره روایت کړیدی چه هروخت به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته یوشی بنه بنکاره سو او دخپل نظر د لګید و بیره به ئی پیدا سوه نو داد عا به ئی کوله - اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِيْهِ وَلَا تَضُرُّهُ .

فایده :- د ده مبارک د نظر څخه ما سیوی د خیر څخه بدی او ضرر و هیڅ نه رسیدی مګر سره د د غه د ه مبارک د غه کار د امت د تعلیم د پاره کاوی د دی د پاره چه امت دا سی وکړی - (کذا فی العزیزی)

(۵۳) ابن سعد د مجاهد رحمة الله علیه څخه په حسنه او مرسله طریقه سره روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت یو بنځی ته د خپلی نکاح پیغام ورکاوی او هغه پیغام به منظور نه سو نو د وهم وار به ئی د د غه پیغام ذکر ته کاوی (یعنی تینګار ئی نه کاوی که به پیغام منظور سو نو نکاح به ئی کوله او که به منظور نه سو نو به ئی خاموشی اختیار کړه او تینګار ئی نه کاوی چه ذلت ئی نتیجه راوتلی وای او پر هیڅ ئی زور نه کاوی) او د ده مبارک ویو بنځی ته د نکاح پیغام ورلیږلی وو هغی بنځی انکار وکړی بیا خپله هغی بنځی د د ده مبارک سره نکاح کول غوښته د ده مبارک د فرمایل چه هاد بلی بنځی سره نکاح وکړه (اوس زما ضرورت نشته)

(۵۴) ابن سعد او ابن عساکر د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه په حسن لغیره سند سره روایت کړی دی چه هروخت به د ده مبارک د خپلو بی بی ګانو سره خلوت کاوی نو به په ډیره نرمی ، ډیره خاطرداری په ډیره بنه خندا او خبرو سره ورسره پیښیدی .

(۵۵) ابن سعد د حبیب بن صالح څخه مرسلاً روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت بیت الخلا ته تشریف وړی نو به ئی څپلی په پښو کړی او سر به ئی پټ کړی بیا به ئی بیت الخلاء ته تشریف یووړی .

(۵۶) بخاری د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هروخت د یو مریض پوښتنی ته تشریف وړ وړی نو د مریض ته به د ده مبارک د اویل - لَا بَاْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تعالیٰ - (ترجمه :- هیڅ پروا نه لری انشاء الله تعالیٰ د غه مرض د ګناو و کفاره کاوی)

(۵۷) طبرانی په حسن سند سره د حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه

څخه روایت کړی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت دعا کوله نو اول به ئې د خپل ځان د پاره دعا کوله (او بیا به ئې د نورو د پاره دعا کوله)

(۵۸) نسائی په حسن سند سره د حضرت ثوبان رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه هر وخت به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته یو خوف او بیره ورپیښه سوه نو به ئې دغه دعا کوله۔ اَللّٰهُ اللّٰهُ رَبِّیْ لَا شَرِیْکَ لَهٗ

(۵۹) ابن منده د حضرت سهیل رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه هر وخت به جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په یو خبره یا کار راضی او خوښ وو نو به ئې سکوت او خاموشی اختیار وله.

(۶۰) ابو نعیم د حضرت ام سلمه رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړیدی چه هر وخت به د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د بی بی گانو څخه دیوی سترګی خوب یدی نو ده مبارک به د هغی سره همبستری او نژدیکت پریښودی د سترګو ترجوړیدو پورې.

(۶۱) ابن المبارک او ابن سعد مرسلاً روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت یو جنازې ته تشریف یو وړی نو پیره خاموشی به ئې کوله او په خپل زړه کی د مرګ په باره کی خبری کولی (ځکه چه جنازه د عبرت ځای دی د جنازې په لیدلو سره باید هر څوک خپل مرګ یاد کړی او د هغسی بی کسی فکر باید وکړی چه ترمرګ وروسته راتلونکی ده او د پروردګار عالم د عذاب څخه باید وبیریږی)

(۶۲) حاکم، ابو داؤد او ترمذی د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ څخه روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت نوښ نو خپل لاس یا یو توکر به ئې پرځوله ایښودی او د ترچلو یعنی نوښ وکو آواز به ئې کښته کاوی.

(۶۳) مسلم او ابو داؤد د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړیدی چه هر وخت به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو نیک کار شروع کاوی نو به ئې بیا دغه (نیک) کار همیشه کاوی.

(۶۴) ابن ابی الدنیا د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی

چه هر وخت به رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته غصه او قهر ورغلی په داسی حال کښی چه دی مبارک به ولاړ وو نو به کښینستئ او هر وخت چه به په داسی حال کښی غصه ور غله چه دی مبارک به ناست وو نو به پریوتی (حالت بدلول علاج دی د غصی او قهر کمولو)

(۶۵) ابو داؤد د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه هر وخت به جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د مړی د دفن یعنی پټولو څخه فارغ سو نو به تر یولږ ګړیه (وخته) پورې د قبر سره دریدی او د دې مبارک ملګری به هم ورسره دریدل (او دې مبارک به ورته فرمایل) چه د خپل مړه ورور دپاره دپروردګار څخه مغفرت وغواړی او د دې د پاره د ثابت قدمی دعا وکړی څکه چه په دی وخت کښی د دې څخه سوال او پوښتنه کیږی (یعنی د مُنکر او نکیر د سوال وخت دی نو د دی سبب داد عا وکړی چه پروردګار عالم د غه مړی د دوی د سوال په جواب کښی ثابت قدمه ولری او باقاعده او برابر جواب ورکړی او د دې یعنی د مړی پریشانی او خفګان لیری سی.

(۶۶) ترمذی د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه په صحیح سند سره روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به هر وخت قمیص اغوستی نو د ښی طرف څخه به ئې شروع کا وی (یعنی اول به ئې ښی لاس په لستوني کښی داخلا وی) کذا فی العزیزی)

(۶۷) ابن سعد د حضرت انس بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دا مبارک عادت درلودی چه هر وخت به دی مبارک د (خپلو) اصحابو څخه د یو صحابی سره ملاقی سو او هغه صحابی به د دې مبارک سره ودریدی نو به دی مبارک هم ورسره دریدی ترڅو پورې چه د غه شخص یعنی صحابی تللی نه وای نو دی مبارک به پیوست او مسلسل ولاړ وو او هر وخت چه به د اصحابو (رضوان الله علیهم) څخه یو چا د دې مبارک سره ملاقات کا وی او غوښته به ئې چه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم لاس په لاس کښی ونیسی نو دې مبارک به د صحابی په لاس کښی خپل لاس مبارک ورکا وی او خپل لاس به ئې د صحابی د لاس څخه نه لیری کا وی ترڅو چه هغه صحابی خپله نه وای پری ایښی (او د ابن مبارک په

روایت ئی داهم دی چه) دده مبارک خپل مخ دده یعنی صحابی څخه نه گرزاوی
ترڅو چه هغه خپل مخ دده مبارک څخه نه وای گرزولی او ده مبارک چه
هروخت د اصحابو څخه دیو چاسره ملاقات کاوی او هغه صحابی دده مبارک
غوږ ته نژدی کیدل غوښتلای (دیو پټی خبری د پاره) نو به ده مبارک
هغه ته خپل غوږ ورنژدی کاوی ترڅو چه هغه فارغه سوی نه وای اوخپله
لیری سوی نه وای خپل غوږ مبارک ئی نه څنډی لیری کاوی.

(۶) نسائی د حضرت حذیفه رضی الله تعالی عنه څخه په حسن سند سره روایت
کړیدی چه د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د اصحابو رضی الله
تعالی عنهم څخه به یو صحابی دده مبارک سره ملاقی سو نو به ده مبارک مصافحه
ورسره کوله او دعا به ئی ورته کوله.

(۶) طبرانی د حضرت جندب رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی چه هر
څوک به مبارک علیه السلام د اصحابو سره ملاقی کیدی نو به ئی مصافحه
(یعنی ستړی مسی) نه ورسره کوله ترڅو چه ده مبارک سلام ورنه اچولی نه
وای (یعنی ده مبارک به اول سلام ورنه اچاوی بیا به ئی ستړی مسی ورسره کوله)

(۷) ابن السنی روایت کړیدی دیو انصاری دمینځی څخه چه رسول الله
صلی الله علیه واله وسلم به هروخت دیو چاته ناره او آواز ورکاوی او
هغه چاکوم چه آواز به ئی ورکاوی نوم به ئی په یاد نه ورته لی نو به
ویه یا ابن عبد الله سره ناره ورکوله (یعنی ای د خدای دبنده زویه).

(۷) حاکم د حضرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی چه هروخت
چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم روان وو نو یوی اوبلی خواته به ئی نه کتل

(۷) ابوداؤد بعض آل سلمه څخه په حسن سند سره روایت کړیدی چه
هغه شی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به هوارا وی او باندی
کښینستی به هغه په شان دکفن وو (یعنی څه قسم چه دکفن توکر وی
همغسی قسم به دده مبارک د ناستی او کښینستو فرش وو قیمتی او تکلفی
نه وو او مسجد ئی سر نه وو (یعنی هروخت چه به دی مبارک بیدیدی
نو به ئی سر مبارک د مسجد وخواته وو). (کذا فی العزیزی)

(۷) او په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه دده مبارک د هوار والو

شی تاپ وو - دغه حدیث ترمذی په حسن سند سره د حضرت حفصی رضی الله تعالی عنها څخه روایت کړیدی.

(۷۴) حاکم په صحیح سند سره د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی چه د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم قمیص مبارک تر ټخلکو پورته وو (یعنی د پنډیو تر نیمیه پوری وو لکه په بل روایت کښی چه راغلی دی کذا فی العزیزی بغیر ذکر سند الروایة)

اودده مبارک د قمیص لستوڼی د ده مبارک تر ګوتو پوری وه او په بل حدیث شریف کښی چه ابوداؤد او ترمذی په حسن سند سره روایت کړیدی داسی راغلی دی چه د ده مبارک د لستوڼو اوږد والی د ده مبارک د لاسونو تر بندو پوری وو (غرض د ده مبارک د دواړه قسمه لستوڼی ثابت سوی دی پس نو به کله د ده مبارک لستوڼی تر بندو پوری وه او کله به تر ګوتو پوری وه.

(۷۵) امام احمد، ترمذی او ابن ماجه په حسن سند سره د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت کړیدی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بالښت د پوست اوچمړی وو او دغه پوست د خورما د درختی د پوستکو اوخورکو څخه ډک وو.

(۷۶) طبرانی د نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنه څخه په صحیح سند سره روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم ته معمولی قسم وچی خورمای هم دوندی نه رسیدی چه په موږ سوی وای حالانکه د ټولی دنیا خزانی ئی تر پښو لاندی وی مګر ده مبارک زهد اختیار کړی وو اودده نیالذتونه او خوندونه ئی سپک او ذلیل بللی وه. او کومه آمدنی چه به ودده مبارک ته راتله هغه به ئی په کثرت سره خیراتول او وچی خورمای د عربو یو بیکاره اومعمولی غذا ده ځکه چه په عربو کښی خورمای ډیری کیږی.

(۷۷) ترمذی په صحیح سند سره د حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم د راتلونکی ورځ د پاره د خپل ځان په باره کی هیڅ شی نه دی زخیره کړی.

(۷۸) طبرانی د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه په حسن سند سره روایت کړیدی چه هروخت به رسول الله صلی الله علیه واله و سلم (ویوخواته) تلی نو به خلګ دده مبارک دمخ څخه (په ذریعه د نوکرانو وغیره) نه شړل کیده او نه به وهل کیده (چه دده مبارک د پاره لاره خالی اوصفا کړی) (لکه چه نن سبا د متکبرینو عادت دی۔ چه خادمان ئی خلګ دلاری او سړک څخه لیری کوی اوپریوهی ئی چه ددوی دپاره سړک خالی سی.

(۷۹) ابن سعد په حسن سند سره د حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت کړیدی چه ده مبارک نزدی وړاټی محکی قران شریف نه ختم کاوی.

(۸۰) ابن سعد د محمد بن الحنفیه څخه مرسلا روایت کړیدی چه ددده مبارک داعادت وو چه ده مبارک دیوکار (دکولو څخه چه په شریعت کښی به جائز وو) منعه نه کول۔ پس هروخت چه به ددده مبارک څخه یو سوال وسواودده مبارک به ددغه سوال دپوره کولو قصد وو نو فرمایل به ئی هو اوکه به ئی اراده (په وجه دیو مجبوری) ددغه سوال دپوره کولو نه وه نو به پته خوله سو.

داتمی حصی اوله ضمیمه پای ته ورسیده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

داصلی بهشتی زیور داتمی حصی دوهمه ضمیمه

ماخوذ داصلاح النساء څخه

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم - ورو سته ترحمد او درود عرض دادی چه هر وخت د بهشتی زیور اتمه حصه لیکل کیده نو د دغی حصی د پاره د جز گرزولو په غرض یکه څرنگه چه د بنو او نیکو بنځو یو څه حکایتونه جمعه سوی وه نو داغه رنگه په نظر د عبرت او مصلحت د تُعْرَفُ الْاَشْيَاءُ بِاَضْدَادِهَا د بعضو غیر صالح او بعضو تو به کو نکو بنځو یو څه قصی هم جمعه سوی وی مگر د مجموعی داوږدوالی په سبب صرف اول قسم حکایتونه داتمی حصی جز وگرزیدل - او د دوهم قسم حکایتو پرځای بالکل د دی حصی په آخیر کښی یو جامع مضمون دآیتونو او حدیثونو څخه و لیکل سو او اکتفاء پروسوه چه د دغه مضمون عنوان دی (د بنځو پر بعضو عیبونو نصیحت) او د دغو حکایتونو مضمون د مسودی په حال کښی پریښو ول سو . یو وخت وخت به زما نظر پر دغی مسودی ولویدی نو به می ددی داشاعت د پاره د موقع او ځای انتظار کاوی لیکن اتفاقاً په دغه مابین کی زما یو محله دار تجربه کار صاحب یو یاداشت داصلاح په غرض د بنځو پر بعضو عیبونو د خپلی تجربی څخه لیکلی وو او ومانه ئی راکړی نو ما دغه یاد داشت مطالعه کړی نو دا یاد داشت می د دغو حکایتونو سره مناسب وبالی نو دا فکر او خیال می سو چه که دغه ټول ترجمعه کیده و ورو سته د بهشتی زیور داتمی حصی ضمیمه وگرزول سی او شائع سی نو امید دی چه د داسی بنځو د پاره عبرت وگرزی او عبرت به سبب د توفیق د توبی وگرزی . او څرنگه چه دغه ذکر سوی یاد داشت په وجه د دی چه د غصی او غضب په حال کښی لیکل سوی وو یو اندازه تیزاوپه عنوان کښی مطلق وو د دی سبب د دغی تیزی او اطلاق د تلافی د پاره د دی یاد داشت په شروع کښی په عنوان د تنبیه یو منصفانه فیصله ما اضافه کړه او د دغی مجموعی نه می دا رنگه ترتیب ور کړی چه اول د شریرو اوبدو بنځو حکایتونه بیاد توبه کونکو بنځو حکایتونه

بیا هغه تنبیه چه ما اضافه کړیده او بیا د غه ذکر سوی یاد داشت لیکل سوی دی - پس نو گو یا د امجموعه د بهشتی زیور د اتمی حصی اخیر اوو د غه ذکر سوی جامع مضمون شرحه د ه او د دی مجموعی نوم اصلاح النساء اینبول سویدی. فقط

اشرف علی د تحریر نیټه ۱۵ محرم سنه ۱۳۳۰ هـ

(۱)

د غنق ذکر

د غه ښځه د حضرت ادم علیه السلام په زمانه کی وه نژدې لومخکی دې بد کاری کړی وه او خپل مخ ئې تور کړی وو نو پروردګار عالم په دنیا کی د دی ته داسزا ورکړه چه لوی لوی ماران په شان د پیلانو لوی لوی لیوان په شان د اوښانو او لوی لوی گرگتی او ټپوسان په شان دخرو پروردګار عالم په خپل لوی قدرت سره د غیب څخه پیدا کړل او د د غی بد کاری ښځی پرشا وخوا راوگرزیدل او په گډه سره ئې د اوخوړله.

فایده:- تاسی وگورئ چه د دی بد کار څرنگه بد ه نتیجه راوو ته خوک دی د اخیال نه کوی چه اوس خو هیڅ ته د غسی سزا نه ورکول کیږی - د اخبره یاد ولری چه د ا فقط زموږ د آنحضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم برکت دی چه په دنیا کښی د غسی سخته سزا هیڅ ته نه ورکول کیږی مگر په آخرت کښی ټوله پریږه ځای ورکوله کیږی او هر څوک دی د اسی فکر هم نه کوی چه فقط بد کاری او زنا کاری ژنا بلل کیږی بلکه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم صاف فرمایلی دی چه د سترگو، غوږ و، لاسو، پښو او زړه ټولو څخه زنا کاری کیدای سی - پس نو که چا وپردی سړی یا زوم یا ورور باندې ښه پټ پټ وکتل لکه ننسبا چه د غسی په پیښیږی نو د اد سترگو زنا ده - که ئې بیله ضرورته د پردی سړی سره لطف امیزه خبری شروع کړی نو د اد شربی زنا کاری ده که ئې د زړه خوشحاله کولو د پاره د پردی سړی وخبرو ته غوږ ونیوی یا ئې د ده د شربی څخه یو غزل یا مناجات واوریدی نو د اد غوږ و زنا ده. د اغه رنگه

هر هغه څوک چه دد ه څخه په شریعت کښی ستر او یرد ه کول لازم دی نو که چیری د غسی سړی ته لاس په لاس کښی ورکړی یا د ه پرملا یا پرسر لاس کښیږدی نو دا د لاس زنا د ه او د د اسی سړی د ملاقات د پاره د کور څخه ور تلل یا د د ه په مخکی د پښو په د رب تلل دا د پښو زنا د ه او په زړه سره د اسی سړی یا د ول د د ه په فکر کی او سیدل دا د زړه زنا د ه .

نو کوم وبال او گناه چه د بدکاری (زنا) څخه حاصلیږی هغه په د غو شیانو سره هم حاصلیږی یعنی د غو ښو ، سترگو ، پښو او د اسی نورو د بی ځایه استعمال په وجه د حقیقی زنا په شان انسان گنهگار ه کیږی د پروردگار عالم د قهر او غضب څخه بیریدل په کار دی او د د غو ټولو ذکر سو و شیانو څخه ځان ساتل په کار دی .

(۲) **دواعله ذکر**

د اد حضرت نوح علیه السلام بنځه و ه مگر ایمان ئی نه دی راوړی هر د خت چه طوفان شروع سو او د مخکی څخه او بو په راپورته کید و شروع د کړه او حضرت نوح علیه السلام مسلمانان په کښتی کښی سپرول نو خپل زوی او د غی بنځی ته ئی پیر نصیحت وکړی چه ایمان قبول کړی او په کښتی کی سپاره سی . مگر د وی نه ایمان راوړی او نه په کښتی کی سپاره سول بلکه پطوفان ئی هم یقین نه و د د ي سبب ئی پرحضرت نوح علیه السلام باندی خندل .

غرض هر د خت چه طوفان زیات سو نو د وا ړه په طوفان کښی غرق او هلاک سوه

فائده - د د غی بنځی ذکر په قرآن شریف کښی هم راغلی دی چه سره د د ی چه د یو مقبول بند ه یعنی حضرت نوح علیه السلام بنځه و ه لیکن څرنگه چه د اد دین پرلاړ برابر ه نه و ه نو د د ی سبب د ی خبری و د غی بنځی ته هیڅ کار ور نه کړی چه د اد نبی بنځه و ه بلکه سره د د ی چه د نبی بنځه و ه و د وزخ ته واستول سوه - بی بی گانو ! بنه ځان پوه کړی او د خپل خاوند یا پلار ، ورور ، زوی - د بزرگوالی په امید بی غمه مه کښینئ تر څو چه ستاسو دین ، ایمان برابر او صحیح نه وی نو ستاسو د هیڅ قریب بزرگوالی په بنه نه د رځی د هغه بزرگی د ځان د پاره د ه ستاسی د پاره نه د ه حکه چه هر څوک په خپل نامه بنځ کوی د بل

په نامه هیڅ باز غ نه دی کړی

(۳) د حضرت لوط علیه السلام د بنځې ذکر

دا هم کافره ده چه په ناروا او بد وکار وکی د کافرانو سره کومک کاوی هر وخت چه د حضرت لوط علیه السلام پر قوم د خدای عذاب راتلونکی وو نو پروردګار عالم د حضرت لوط علیه السلام ته د ملائکو په ذریعه خبر ورکړی یعنی ملائکی ئی ورته راولیږلی ورته وئی ویل چه ته مؤمنان د ځان سره یو ځای کړه او سره د خپلو مؤمنانو په شپه شپه کی د ښه د دی کلی څخه ووزه ځکه چه سهار پر دغه قوم زما عذاب راتلونکی دی او چه وزی نو هیڅوک دی په تاسو کښی ترشا نه ګوری.

غرض حضرت لوط علیه السلام سره د خپلو مؤمنانو موافق د پروردګار عالم د حکم سره د کلی څخه ووتی د غه بنځه د خپل ځان د ساتلو د پاره هم ور سره وه نو هر وخت چه پر کلی د ډبرو باران شروع سو او په کلی کښی شور او غوغا راپورته سوه نو ټولو مؤمنانو د بیری د وجهی څخه خپل سر و نه تیټ کړی وه پر خپلو لاړ تلل یوی او بلی خواته ئی نه کتل - لیکن د دی بد بختی بنځی د کفارو سره قرابت هم وو او طریقه ئی هم د کفارو وه نو د دی سبب ئی ترشا وکتل چه د کفارو څه حال دی مګر د دی د کتلو سره سم دم یوه ډبره راغله او پر دی و ښته پر دغه ځای ئی مړه کړه.

فایده :- په قرآن کریم کښی چه په کوم ځای کښی د حضرت نوح علیه السلام د بنځی ذکر او بیان په هر ډول راغلی دی نو خاص په هغه ځای کښی بعینه په هغه ډول او طریقه سره د د غی بنځی ذکر او بیان هم راغلی دی چه د دی د پیغمبرانو بنځی وی هیڅ فایده ئی نه ورته وکړه ځکه چه د وی پخپله د دین پرلاړ نه وی روانی - بی بی ګانو دا خبره بیا په ښه غور سره واوری چه خپل دین او ایمان انسان نه په ښه ورځی د بل دین، ایمان او ښه عمل هیڅ کار ته نه ورکوی. بعضی بنځی د خپلو قریبانو په خاطر او مراعت خپل دین برباد وی او د داسی بی دینه قریبانو سره علاقه اړ د وستی سائی نو داسی بنځی د خپلو قریبانو په محبت کی برباد یږی د ځان او ایمان څخه لاسونه پری مینځی

لکه د حضرت لوط علیه السلام بنځه چه دی د خپلو قریبانو یعنی کفارو لحاظ او خاطر وساتی یعنی پردوی د عذاب الهی راغلی نو دی د وسیلی په وجه ځرشا ورته وکتل او د دی کتلو په وجه ئی د خان او دین د واړه وخځه لاس پریمینځی که ئی چیری ترشا ورته کتلی نه وای نو به ئی د ټولو بلاوو وخځه نجات پیدا کړی وای - داخبره یاد وساتی چه هرځوک د خدای او رسول نه وی نو تاسی د داسی چاسره هیڅ علاقه او تعلق مه ساتی.

(۴)	د صدوف ذکر	

د حضرت صالح علیه السلام په زمانه کښی د غه صدوف یوه کافره بنځه وه او د دی حرکت اوړفتار برابر نه وو او د دی په شان یوه بله کافره بنځه هم وه او د دوی په کور کښی بزی او داسی نور د شید وحیوانات پیرزیات وه د حضرت صالح علیه السلام په معجزه سره الله پاک د ډبری څخه اوښه پیدا کړه او په د غه کلی کښی د اوبو یو څاوو او د دې څاڅخه ټولو حیواناتو ته اوبه راکښل کیدی او په او به کیدل هر وخت چه د غه اوښه پیدا سوه نو د پروردګار عالم په حکم سره د اسی وار مقرر سو چه یوه ورځ دی پردې څاټول حیوانات اوبیزی خپله ګذاره دی پرکوی او بله ورځ دی فقط د غه اوښه پراو بیزی خپله ګذاره دی پرکوی. څرنګه چه د غه اوښه ډیره قوی وه چه پرخپل وار ئی دوندی او به چښلی چه د نور وحیوناتو د پاره نه پاته کیدی په دی خبره ټول کفار خفه او خوابدی وه په دوی کی یوه ناکاره قصه داهم پیښه سوه چه د دې دوو بنځو حرکات او اقوال خو د سره خراب وه (یعنی د غه دوی ذکر سوی بنځی چه اوس د دوی قصه بیانیږی نو د غو دوو بنځو د اسی د بد بختو خلګو ته چه په د غه قوم او کلی کښی وه شکایت وکړی چه زموږ په کور کښی تر ټولو زیات حیوانات دی او یوه ورځ ټول تږی ولاړ وی د د غه یو چاره وکړی نو به موږ ستاسو څخه ډیری خوشحاله سو او ستاسو هرخدمت به موږ کوو.

نو د غه د واړه ذلیلان او بد بختان راولاړ سوه نور ذلیلان ئی هم د خان ملګری کړه او د اوښی په لاړ کښی پټ کښینستل او بنه د اوبو چښلو د پاره روانه

وه هر وخت چه او بنه دد وی پر برابری را غله نود غه ټول ذلیلان پر راوتل او
په توره سره ئې حمله پر وکړه د اوبنی پښی ئې ور پری کړی بیا دوی په توره سره
اوبنه یو مخ ټوکر کړه نو دد ې کار په کولو سره د پروردګار عالم غضب
نازل سو - اوله ورځ د دوی مخان څلور سوه او دوهمه ورځ د دوی مخان سره
سوه او دریمه ورځ د ټولو مخان توره وا وبنته او څلرمه ورځ اول وار په
دیرزور سره جنبش راغلی او د اسمان څخه داور باران شروع سو بیا حضرت
جبرائیل علیه السلام په داسی زور سره یوه چغه وکښه چه د ټولو اینی و
چاودلی او پسی مړه سوه او ټول په اور سره داسهنګه وسو څل سوه چه ایره
سوه - وګورئ د دوو بنځو د بد ذاتۍ وبال پر ټولو ولویدی او د دوی داټول
شرارت د دنیا او مال سره د محبت په وجه وو .

بی بی ګانو ! د مال او سامان محبت دزړه څخه د باسی خدای پاک دی مور
او تاسو وسائی چه د مال مینه او محبت د وندی ضرری دی چه تر اوو غړو نو
ئې تاوان رسیږی او د داسی بد ذاتو بنځو سره ترڅو چه کیدای سی نفرت کول
په کار دی په ملاقات او خبرو کی د داسی چاسره هیڅکله نرمی کول په کار نه
دی د داسی چاسره د نرمی کولو په وجه دا ډیره ده چه که پرده عنسی چاعذاب
راسی نو کیدای سی چه پرتاهم راسی که چیری د داسی چاسره ناراضی نفرت
وساتل سی نو د ګناه او د خدای د قهر څخه خلاصون او حفاظت راځی .

(۵) | دارالبیل ذکر | له از عجائب ۲

د حضرت الیاس علیه السلام په زمانه کښی د غه بنځه دیوبت پرست بادشاه
زوجه یعنی بنځه وه او دا خپله هم ډیره ظالمه او بی رحمه وه او دی د پر پیغمبران
علیهم السلام وژلی وه او د دی په څنګ کښی یو نیکبخت سړی اوسیدی د غه سړی
یو باغ درلود ی چه په د غه باغ ئې خپله ګذاره کوله څرنګه چه د اباغ ډیر
بنه باغ وو او ټولو خلګو د دی باغ تعریف او صفت کاوی نو د دی سبب ه د غه بنځه
د دی سړی څخه غصب کړم نو ئې آخر دا فکر پوخ کړی چه د اسړی (چه د باغ مالک
دی) به وژنم - اتفاقاً د دی بنځ

به دی په سفر تلی نو خپل پټول د بادشاهی تصرفات او کارونه به ئې د دی بنځې په لاس ورکول نو دا وار ئې هم د عادت سره برابر پټول د بادشاهی تصرفات او کارونه و دې بنځې ته ورو سپارل نو دې بنځې د شیطانت او فساد جوړ کړی چه د خلګو ته ئې وویل چه تاسی په دربار کښی د غه د درواغو شاهدی ادا کړی چه د غه سړی د بادشاه ته بنکنځل کړی دی او د د غه بادشاه دا قانون وو چه په هرچا د غه خبره ثابته سوی وای چه د ده بادشاه ته بنکنځل کړیدی نو هغه سړی به وژل کیدی دی بنځې د غه نیکبخته سړی ګرفتاره کړی او ورته ئې ویل چه ما او ریدلی دی چه تا بادشاه ته بنکنځل کړی دی ده انکار وکړی.

نو دغې بنځې هغه خلګ کوم چه دی پوه کړی وه د شاهدی د پاره راوبلل او په دوی ئې ناحقه شاهدی ادا کړه او د غو خلګو وویل چه موږ شاهدی ادا کوو چه د غه "نیک" سړی د بادشاه ته بنکنځل وکړه نو پر د غه خبره دی بنځې د غه نیک سړی قتل کړی او هغه د د ه بنه باغ ئې ضبط کړی هر وخت چه بادشاه د سفر څخه را غلی - الله تعالیٰ پر حضرت الیاس علیه السلام وحی نازلی کړی چه و د غه بادشاه ته ووایه چه پریوبی ګناه مسلمان باندی دوند ی ظلم وسو چه دی ووژل سو او باغ ئې ضبط کړل سو - که چیری د واړه یعنی خاوند او بنځه توبه وکاږی او د د غه نیک سړی وارثانو نه د غه باغ بیرته ورکړی خو بنه خبره ده او که چیری داسی نه کوی نو بیا ټول دوی هلاکوم - هر وخت چه حضرت الیاس علیه السلام و د غه بادشاه ته ورغلی او دا خبره ئې ورته وکړه نو بادشاه ډیر په قهر سو توبه د کومه وه بلکه حضرت الیاس علیه السلام ئې د بنمن وګڼلی د آخر حضرت الیاس علیه السلام د د غه ځای څخه د خدای پاک په حکم سره یو بل ځای ته ولاړی. او په یو څولږ ورځو کښی د ننه د غه بادشاه یو زوی ناجوړ سو په د غه رنځ کښی پسی مړ سو د غه غم لانه ووخت سوی چه پرد ه باندی یو بل بادشاه حمله وکړه او ټول ملک ئې ځنډی و نیوی او د اغه ظالم بادشاه او د ده کافر قوم ئې ټول تر توره او تیغ وکښل.

فایده:- وګورې د ظلم څرنګه خطرناکه نتیجه راوړی ن ما مند واو

خوسندو - دیو چا شی ته نیت کول یو چا ته ناحقه څه ویل یا یو څوک په ناحقه
سره وژل یا یو چا ته تکلیف رسول په بد و او بیکاره خبرو سره دیو چا زړه
ز هیر ول یا دیو چا غیبت کول ټول په ظلم کښی داخل دی - او د ظلم وبال او عذاب
خو اوس تاسو واوریدی نو همیشه د دغو ټولو کارونو څخه ډیر احتیاط کوی

(۶) | د نائلهؓ ذکر | له از روضه ۴

جرهم یو قوم وو چه تر ټولو مخکی د حضرت اسماعیل علیه السلام د کوچنیوالی په
وخت کښی راغلی وو او په مکه شریفه کښی آباد سوی وو په دوی کښی یوه بنځه
وه چه نوم ئی نائله وو دی بد بختی په خانه کعبه کښی دننه بدکاری یعنی
زنا وکړه نو د خدای تعالی غضب پرنزاو بنځه د واړو نازل سو او د واړه ډبری
وګرزیدل او د دغه سړی نوم کوم چه د دې بنځې (نائلی) سره ئی زنا کړیوه اساف
وو خلګو د واړه ګړاوا خسته پر صفا او مروه چه په مکه مکرمه کښی دوه غرونه
دی کښیښوول دا رنګه چه یوئی پر یوه غره او بل ئی پر بل غره کښیښووی د دی
دیارلسه چه خلګ د قهار خدای د قهر او غضب څخه وبیریږی - تر ډیره وخته
پورې د واړه پرد غو غرو پرانته وه چه بنه ډیر وخت تیر سو نو جاهلانو او
ناپوهانو خلګو د دوی عبادت شروع کړی نو د دی سببه د رسول الله صلی الله
علیه واله وسلم په زمانه کښی دوی د دغه ځای څخه لیږی کړل سوه =
اوترلیږی کولو ورو سته مات کړل سوه.

فایده: د پروردګار عالم دی موږ او تاسو ټول د خپل غضب څخه وساتی
د پروردګار عالم د نافرمانی دغه انجام دی. او که په دی دنیا یو څوک خلاص
سی نو په آخرت کښی به څرنګه خلاص سی او داهم معلومه سوه چه په پاک
ځای کی ګناه کول بیا بیخی زیاته ګناه لری.

داغه رنګه په پاک وخت کی ګناه کول نسبت وبل وخت ته زیاته ګناه لری
بعضی انسانان دروژی مبارکی په میاشت کی هم ګناوی نه پریږدی نو د دی
ډیر سخت وبال دی برابره خبره ده که هره ګناه وی مثلاً غیبت وی یا ظلم کول
وی یا ناحقه پیسه هصر ول وی یا د دوی په شان نوری ګناوی وی.

(۷) **د بلعم باعور دښځې ذکر**

دغه شیخ ډیر عابد اوزاهد وو د شام په ملک کښې اوسیدی هرکله چه د حضرت موسیٰ علیه السلام دامت مسلمانان د خدای تعالی په حکم سره د حضرت یوشع علیه السلام سره د شام ته ولاړه ددی د پاره چه بیت المقدس دکفارو د لاس څخه آزاد کړی نو د شام خلګ د دغه شیخ یعنی بلعم باعور نه راغله او ورنه وئ ویل چه ته د دغو مسلمانانو نه بنډار وکړه چه دوی شکست اوماته وخوړی نو ده انکار وکړی او وئ ویل چه و پیغمبر ته بنډار کول او هغه کسان چه د پیغمبر سره دی د هغوی نه بنډار کول ډیره سخته خبره ده زه دا رنګه هیڅکله نه کوم چه هرکله د غه خلګ د ده څخه ناامیده سوه نو بیائ د ده د وښځې نه ډیر زر او روپۍ ورکړلی چه ته خپل خاوند په یوطریقه سره ودی نه تیار کړه چه و مسلمانانو نه بنډار وکړی. نو د غې نجسې اوناپاکې وښځې خپل خاوند ګمراه کړی د بنډار کولو نه ئ تیار کړی او ده چه څه وخت د بنډار کولو اراده وکړه نو په دغه وخت کښې فوراً ایمان څندی ولاړی اوژبه ئ هم پرسینه راوځړیده بیا چه هر وخت مسلمانانو بیت المقدس فتحه کړی نو بلعم باعور ئ هم قتل کړی

فایده:- وګورئ طمعه څرنګه بدشی ده چه د مال اوزرو په طمعه کښې د غې وښځې خپل دین هم برباد کړی او خاوند ئ هم برباد کړی چه ایمان ئ هم ولاړی اوژوند ئ هم ولاړی

بی بی ګانو! اوس هم ډیری وښځې د دنیا په طمعه اوحرص ګرفتاری دی خپل خاوندان د رشوت واخستو نه تیار وی اوخوشحاله وی چه زموږ سره د وندی زیورات اودولت دی اوداسی روپۍ دی. لیکن دا فکر نه کوی چه هوږ به سره د خپلو خاوندانو د دوزخ نه څو. (د تفاسیرو د کتابو څخه)

(۸) **دهغې وښځې ذکر چه حضرت یحییٰ علیه السلام ئ وژلی دئ**

از عجائب

د حضرت یحییٰ علیه السلام په زمانه کښې یو بادشاه وو د ده د وښځې یوه لور وه د اول خاوند څخه. هروخت چه د ده دغه بنځه سپین سری سوه نو د دی سره دا فکر پیدا سو چه کیدای سی چه بادشاه بله بنځه وکړی نو د دی د پاره چه

ادشاه د بلی خواخخه راوگرزی بایدزه داکوشش وکړم چه دغه زمالور ددی
سخه او ماینه وگرزی نو دغی بد ذاتی ښځی خپله لور هم په دی کار سره رضا کړه
دغه بی حیالور ئی هم په دی فکر کښی سوه چه څان د بادشاه ماینه وگرزوی
داسی تدبیرونه اوچلونه ئی شروع کړه چه د بادشاه زړه ددی ته مائل سی
د بادشاه بد بخته زړه هم ددی وخواته مائل سو - چه حضرت یحیٰی علیه
سلام خبرسو هغه دوی منعه کړه نو دوی منعه نه سوه بلکه دغه خبیثان تول
حضرت یحیٰی علیه السلام دښمنان وگرزیده تر دامی حده چه حضرت یحیٰی
یه السلام ئی راطلب کړی او بندی ئی کړی او وروسته ئی سر د تن څخه ور جلا
ی یعنی په شهادت ئی ورسادی.

تر دغه وروسته بادشاه د گناه یعنی زناکولو ارادهاو قصد وکړی د یحیٰی علیه
سلام پریکړی سرآوازکاوی چه ای بد بخته داستاد پاره حلاله نه ده مگر
ه ذلیل بادشاه یوه خبره هم نه اوریده.

د حضرت یحیٰی علیه السلام د سر مبارک څخه وینی جوش شروع کړی او
هیڅ قسم سره نه ارامیدی نو دهغی زمانی عالمانو ویل چه تر څوپوری
ضرت یحیٰی علیه السلام د قتل کونکو دینه ونه بهول سی دد غو وینو جوش
کمیږی - په هغه زمانه کښی یو بل نیک بادشاه وو هغه ته چه داخبرور
سیدی نو خپل لښکرئی راروان کړی او حمله ئی پرو کړه هرڅوندی کسان چه
ضرت یحیٰی علیه السلام په قتل کښی شریکان وه د غه ټول او نور (۲۰۰۰) اویا زره
ن ئی په قتل ورسول بیا نو د دغو وینو جوش قرار سو نور جوش ئی نه کاوی
فایده ده - پروردگار عالم دی موږ او تاسی ټول د شیطانی کار څخه
ساتی وگوری د نفس د پیروی کولو په وجه دکوم څای څخه وکوم څای
خبره ورسیده. یو خو پیغمبر قتل کړل سو بیا دوهم دگناه کار وسو او
ی سره نفس ته خوشحالی نصیب نه سوه ژر تر ژره د ظلم ثمره ورکړه
ه او هرڅوندی انسانانو چه دغه نارواقصه لیدل لیکن خاموشه وه
د بادشاه په دغه ظلم او حرکت سره ناراضه نه وه هغه هم ټول په
نه وبال کښی گرفتاره او اخته سوه.

نو د دی قصی څخه معلومه سوه چه د نفس پرصلاح او تقاضا عمل

کول، د عنی ظلم کول، او څوک چه د شریعت څخه خلاف کار کوی د هغه څخه نفرت نه کول د اټول کارونه دا سی سخت او خطرناکه دی چه د دی څخه د پرځان ساتل په کار دی نفس چه دا سی صلاح او مشوره ورکړی چه د شرعی خلاف وی نو هیڅکله ئی خبره منل په کار نه ده او نه د شرعی پریښودل دده د پاره په کار دی.

داغه رنګه پر هیڅ ظلم او تجاوز کول په کار نه دی نه ناحقه بوخوک زهیرول په کار دی امنه باید د یو چا ابرو ریزی وسی او نه باید د چا حق په زور ولاندی سی حکه چه د اټول ظلم دی او هر څوک چه د شرعی څخه خلاف کار کوی نو د هغه څخه په زړه کښی نفرت کول ضروری دی او که د د غه چا څخه دا بیره نه وی چه زما به یو کار را خراب کړی نو په ښکاره هم د ده څخه نفرت کول په کار دی او تعلقات ورسره ساتل په کار نه دی حکه چه د دا سی چا سره د تعلقاتو او محبت کولو په صورت کی دا بیره سته چه د غه تعلقات سا تونکی او محبت کونکی به هم د ده په وبال کی ورسره اخته سی

(۹)	دشمسون دښځی ذکر[1]	[1] از روضه ۱۲

هروخت چه حضرت عیسیٰ علیه السلام د اسمان ته پورته سو په د غه زمانه کښی د غه شمسون یو عابد او زاهد سړی وو د خدای تعالیٰ ودانه تړ ورسره ورکړی وو په د غه وخت کښی یو کافر بادشاه وو چه د ده دښمن وو نو د غه بادشاه د ده د ښځی ته وویل چه که چیری ته شمسون په یو طریقه سره گرفتار کړی نو به زه تا پخپله نکاح کښی واخلم نو دغی بد بختی ښځی د خوب په حال کښی د ده لاسونه او پښی د واړه وتړل او د کافرانو په لاس ئی ورکړی نو د غو کافرانو لاسونه او پښی تړلی و بادشاه ته راوړی. بادشاه چا ووا هی چه شمسون غرغړی ته پورته کوو هر څوک چه ئی سیل کوی را حاضر دی سی نو د دی سیل کولو د پاره په زرها و خلگ راجمع سول په د غه وخت کښی شمسون د پروردگار عالم څخه دعا وغوښتله نو د د غه بادشاه کور و نړیدی او بادشاه تر لاندی سو او مړ سو او خلگ د ده په راکښلو اخته سوه او شمسون صحیح سلامت خپل کورته ورسیدی

او دغی ذلیلی بنځی ته ئی طلاق ورکړی.

فایده:- پردغی کمبختی بنځی د دنیا حرص غلبه وکړه د څرنګه بنه نیک خاوند سره ئی څوندی بی وفایی وکړه لیکن مراد ئی هم پوره نه سو خاوند هم طلاق ورکړی دبد عملی داسی بیکاره نتیجه ده.

ای مندو او خوندو! باید تاسو د دنیا حرص څخه ډیر ځانونه وساتی حکه چه هلاکت ئی نتیجه ده.

(۱۰) دهغی بنځی ذکر او قصه چه پرجریج ئی تهمت لګولی دی

دعجائبو او احادیثو د کتابونو څخه

د حضرت عیسی علیه السلام او نهو نورو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مابین کښی یو بزرګ سړی وو چه نوم ئی جریج وو لږ وخت ئی کیدی چه د خلګو څخه جلا سوی وو او په یو ځنګل کی ئی عبادت خانه جوړه کړی وه او د خدای پاک عبادت ئی کاوی یو واړه دی په نفلی لمانځه مشغوله وو چه په دغه وخت کښی د ده مور پردروازه راغله او آواز ئی وکړی د لمانځه په وجه ده جواب ورنه کړی د ده مور په دی نه وه خبره چه دی لمونځ کوی نو د جواب نه ورکولو په وجه ناراضه سوه نو دا بنسرائی ورته وکړه چه خدای دی بده او بیکاره بنځه درباندی واړوی. څرنګه چه مور او پلار د پیر حق لری نو د دې سببه دا مسئله ده چه که چیری د نفلی لمانځه کولو په حال کښی مور یا پلار سره وکړی او دوی په دی نه وی خبر چه زما زوی نفلی لمونځ کوی نو لمونځ پریښودل او د مور او پلار سره خبری کول په کار دی مګر جریج عالم نه وو نو د دی سببه ئی د مور سره خبری و نه کړی او د مور په حق کی ئی کوتاهی وکړه او مور بنراوورته وکړه او پرجریج بیچاره دا مصیبت نازل سو چه حسد کونکو یو بدنامی او زنا کاری بنځی ته ووېل چه جریج په یو طریقه سره بدنامه کړه نو د یو خواخځه حامله ده سوی وه چه هر وخت ئی کوچنی پیدا سو نو پرجریج غریب ئی لاس ونیوی چه ما ته جریج راغلی دی. خلګ د جریج پر عبادتخانه راوګرځیدل ټوله ئی ورونړول او جریج ئی ډیر سخت وواهئ چه وګورئ د ابنځه څه وایی.

جریج د دغه شیرخواره کوچنی وخواته مخ کړی ورته وئی ویل وو ایه

ستاپلار څوک دی کوچنی دیو شپانه نوم یادکړی پس نو ټول خلګ د جریج
پیر معتقدین وګرځیدل لاسونه اوپښی ئې ورمچول او ورته وی ویل چه
ستاعبادتخانه به په سرو زرو درجوړه کړو لیکن جریج ورته وویل چه
نه بیرته ئې په خاورو راجوړه کړی لکه مخکی چه وه نو دی هم هغه
رنګه وراجوړه کړه.

فایده ۱- وګورئ د غسی بنځې پریو نیک سړی تهمت ولګوی څرنګه
ذلیله اوشرمنده سوه او الله تعالی داڅرنګه رسوا کړه وګورئ هیکله پر بی ګناه
چا تهمت مه لګوی - د بعضو بنځو عادت وی چه په لږ څه شک او شبهه
کښی پرچادنها کاری تهمت لګوی اوپر بل چا هم په لږ شک کی د غلا تهمت لګوی
دا ټول کارونه چیره ګناه لری او دا هم معلومه سوه چه اولاد ته هرڅت
ښراوی کول چیره بده خبره ده ځکه چه معلومه نه ده چه کوم ساعت
د قبلیدو دی نوکیدای سی چه قبوله سی بیا به ئې اولاد هم پریشانه وی
اوچه داولاد وپریشانی ته وګورئ خپله به هم پریشانه سی اوددی څخه
دا هم معلومه سوه چه مور او پلار چیرحق لری او من سبا خلګ ددوی
د حق هیڅ خیال نه ساتی - بی بی ګانو! د مور او پلار په حق کښی هیڅکله
غفلت اوکوتاهی مه کوی.

(۱۱) د بنی اسرائیلو دیوی بی رحمه بنځی قصه

لړ د بخاری شریف څخه ۱۲

په بخاری شریف کښی یو حدیث دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله
وسلم د بنی اسرائیلو دیوی بنځی قصه بیان کړه چه په بنی اسرائیلو کښی یوه بنځه
وه دی یو پشی تړلی وه نه ئې د خورک اوچښلو د پاره شی ورکاوی او نه ئې ایله
کوله چه په مزکانو او د اسی نورو شیانو ئې ګذاره کړی وای نو دغه خواره پشی
د تړلو په حال کښی په تږید و تږید و سره مړه سوه نو خدای تعالی دغه بنځه
د دوزخ ته واچوله.

او په بل روایت کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
وفرمایلی چه په دوزخ کښی دغه پشی د دغی بنځی پر سینه سپره ده په نوکانو
او پنجو سره ئې نوکاری کوی.

فایده:- تاسو د بی رحمی سزا چه هم وا وریده پر هیچا بی رحمی او سختی مه
لوی که انسان وی یا حیوان وی مگر که سپی یا پشی ډیر خړوبی وی او خلگو ته
تکلیف ورکوی نو بیائی وژل روا دی. لیکن دیوشی تو سول ډیره گناه ده بعضی سنگدله
انسانان طوطی، مینا یا یو بل مرغه دا رنگه پالی چه په قفس او پنجره کښی ئی واچوی
نه د د وی د خوړلو او چښلو خیال ساتی نه د د وی د لمر او سایی خیال ساتی او نه ئی
آزاد وی د د اسی تو سولو انجام په د ی د نیا کښی هم ډیر بد د ی اکثره داسی انسانان
په د نیا کښی هم په قسم قسم تکلیفونو اخته کیږی آرام او ژوند ئی نه په برخه
کیږی او د آخرت سزا خو تاسی خپله وا وریده چه د پشی تر ونکی بنځه و د وزخ
ته داخله سوه - بی بی گانو! د بی رحمی او سنگدلی څخه ډیر ځانونه وساتئ.

(۱۲)	د چا خوا نیو امتو نو د یو بد ذاتی بنځی قصه د ه	له د نیا ئی څخه ۱۲

حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه په مخکنیو امتو نو کښی یو
عابد او زاهد سړی وُ یو بد ذاته بنځه په پسی وه او خپله مینځه ئی و
د غه عابد ته ور ولیږله چه زما د یو چا سړه معامله او کار د ی او د غه معامله
او کار ډیر غټ د ی بیله شاهدانو د غه معامله او کار سر ته نه رسیږی حُکه
غټ او د راز کار د ی بیله شاهدانو چه وسی نو سباد انکار په صورت کی - د
مشکلاتو سړه مخامخ کیږم نو د خدای د پاره ته راسه پرد غه معامله
شاهد سه د ثواب کار د ی. نو د غه بیچاره عابد یو صادق سړی و و د د غی
مینځی سړه د د غی بد ذاتی بنځی کور ته ور غلی هر وخت چه وکور ته ور
داخل سو نو د غی مینځی ټولی د روازی بندی کړلی عابد چه وکتل د غه بد
ذاته بنځه ناسته ده - شراب ئی و مخ ته پراته د ی او یو هلک هم ورسره
ناست د ی په د غه وخت کښی د غی بد ذاتی بنځی د اخبره بنکاره کړه
چه مادشاهدی د پاره نه ئی را بللی بلکه ستاد پرهیزگاری د مانولو د
پاره ئی رابللی ئی - نو ته به یا زما سره زنا کوی یا به د غه شراب چښی
یا به د غه هلک وژنی.

د غه بیچاره د خپل ځان د بیری په وجه ډیر پریشانه سو او په خپل
سر ه کښی ئی د د غو د روخبرو څخه شراب تر نورو خبرو سپک و بلل او شراب

ئې د چینل - د شرابود چښلو سره سم ئې عقل د مابینه ولاړی او په دغه حال کښې هغه نوری د دی ګناه وی هم خُندی وسوی یعنی زناکول او هلک وژل.

فایده:- ګناه وی په خپل منځ کښې داسی علاقه سره لری چه یوه ګناه وسی بیانو بله ګناه هم کیږی داغه رنګه بس د ګناهونو سلسله شروع سی. د دی سببه ګناه که وړه وی او که غټه وی د پټو لو څخه خان ساتل په کار دی که خان خُندی و نه ساتل سی نو د نورو ګناهونو دروازه هم خلاصیږی لکه چه اکثره په ستر ګو لیدل سویدی. مثلاً یو څوک د خپل اولاد د واده نړاره د رسم اورواج موافق ارادې وکړی او داسی خیال وکړی چه د شریعت خلاف خو دغه کار دی مګر بیا هم یو پیره غټه ګناه خو نه ده اود هرڅونده خرڅ اندازه چه ده نګولی وی هغه هم ورسره وی. او د اپټولی خبری بنی لحاظ کړی خپل کار شروع کړی او س نو په مابین کښې داسی کارونه او قصی پیښیږی چه هغه غټه ګناه وی ذی او هم داسی ګناه وی چه لوی لوی وی. کله دده ترا پټکل او اندازی زیات خرڅ لګیږی نو د سود واخیستو ته مجبوره سی کله د نا بالغه یتیمانو حق په خپلو پیسو ګډ وی ګډ وډ ئې سره ممزنوی چه ممزغول ئې حرام دی او دغه ډوډی د خپلو پټو لو مبلمنو ته هم درکوی وګورې د کوم ځای څخه بیا ترکوم ځای پورې د ګناه تاثیر ورسیدی داغه رنګه د پټو لو ګناهونو قاعده ده.

(۱۳) د بنی اسرائیلو د یوې مکاری بنځې قصه

له دعجائب څخه ۱۲

حضرت موسی علیه السلام یو حوض د اوبو څخه چک کړی وو او د اسی دعا ئې ورته کړی وه چه په دی اوبو کښې داسی تاثیر پیدا سوی وو چه یو بدکاری اونهاکاری بنځې به دغه اوبه و چښلی نو به ئې فوراً مخ تور سیدی او د مخ تر تورسید و وروسته به دستی هره کیده. د حضرت موسیٰ علیه السلام تر وفات وروسته هم په دغه حوض کښې دا تاثیر پاته وو. یو وخت د یوسړی پر خپله بنځه شک راغلی او دغه شک رشتیا وو چه هره وخت خاوند د دغه شک آوازه ګډه کړه او دغه زمانی د حاکمانو ته ئې فریاد اوعرض وکړی نو دغه وخت حاکمانو د دی اوبو په چښلو سره حکم وکړی چه دغه بنځه به ئې چښلی او دا شکمنه بنځه ئې راطلب کړه.

ددې بنځې یوه خوږوله دغه دواړې خوندې په دوندې اندازه کښې سړی
یوشی وی چه په هیڅ مشکله سره ددوی (دۀ) فرق کیدی. لوړې بنځې په چالاکی
اودوکه سره خپله خوږولیږلے حه ولاړه سه زمایرځای نه اوبه وچینه نو
دغه خوږې ولاړه دتولو په مخامخ کښې ئې اوبه وچینلی څرنګه چه داخو
پاکه وه نو هیڅ نه په وسوه نو خلګو ډیر تعجب وکړی چه دی اوبه وچینلی
اوخپل کورته راغله اوهر وخت چه ئې ددغې ناپاکی اوزنا کاری خورسره و
لیدل اوددی ساه پر دغې ناپاکی اوزنا کاری خورو مبتلا نو ددغې زنا کاری
خورمخ پتول توږسو او سمدستی مړه سوه په دی وخت کښې دتولو ته ددې
دچالاکی اودوکی حال معلوم سو.

فایده:- دوکه او چال هیڅکله پتیدای نه سی پروردګار عالم ئې خامخا
رسوا کوی. بی بی ګانو! په خبرو اوګډاړه کښې زړه کا اوښه به صاف ساتل په کار
دی باید په زړه کښې منافقت اودوکه نه وی او په ژبه کښې درواغ
اوچالاکی نه وی.

(۱۴)	دائم جمیل ذکر	له دعجائب څخه ۱۲

داد ابولهب کافر بنځه وه په قرآن شریف کښې هم ددی بدوالی په صورت
تبت یدا کښې راغلی دی زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم سره ئې
نزدا سی حده دښمنی درلوده چه اغزی لرونکی خاشی اولرګی به ئې
دځنګله څخه راوړل او دشپې به ئې درسول الله صلی الله علیه واله
وسلم په لار کښې ایښول ددی پاره چه دنګ اوراتګ په وخت کښې
درسول الله صلی الله علیه واله وسلم په پښو مبارکو جګ سی.
یوه ورځ ئې دلرګیو اوخاشو غځې پرسر راخیستی وو اوروانه وه اودغځې
رسی ئې ترزنه لاندې راوستلی وه بنه ئې ټینګه ترلی وه ددی د پاره چه
غځې بنه محکم اومضبوط سی نابېره غځې دشاوخوا ته ولویدی او دغه
رسی ئې په غاړه کښې ټینګه ولګیده ساه ئې بنده سوه اومړه سوه.

فایده خدای تعالی دی موږ او تاسی ټول وساتی - د دین اودیندارانو سره
ددښمنی کولو انجام په دی دنیا کښې هم بد دی اوپه اخرت کښې هم بد دی

بعضی بنځی د علماؤ مسئلی درواغ بولی او هرڅوک چه د علماؤ پر مسئلو وان ری هغوته پیغور نه او تانی ورکوی۔ خصوصًا د بنادی او غمونو په مواقعو او خایونو کښی چه هرڅوک ئی د شریعت موافق کوی یا و د غو بنځو ته وائی چه د غه بنادی او غمونه د شریعت سره موافق سرته رسوی نو د غه بنځی د دی د واړو څخه بد وړی نو دا هم د دین سره د بسمنی ده او د دی د بسمنی وبال چه په د واړو جهانو کښی هرڅه دی اوس مو واورئ د دې ټولو کارونو څخه توبه وکاږی خانونه خندی وساتی۔

کومی بنځی چه د مکی شریفی د فتحه کیدو په وخ وژل سویدی د هغوی قصه (۱۵)

مکه شریفه اول د کافرانو په قبضه کښی وه زمونږ پیغمبر صلی الله علیه و اله وسلم د دی څخه کافران وایستل و د غه ته د مکی شریفی فتحه کیدل وائی۔ په کفار و کښی ډیری بنځی داسی وی چه د اسلامی دین هجوا او بد والی ئی په غزلو او سندرو کښی بیانا وی او زمونږ پیغمبر صلی الله علیه واله و سلم حکم کړی وو چه د غه بنځی هرځای پیدا کړی په قتل ئی رسوی یعنی وژنی ئی د دوی څخه د غه څلور و وژل سوی۔ (۱) قریبه (۲) فرتنه (۳) ارنیت (۴) ام سعد۔

فایده:۔ زمونږ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم خو د اصلی سره څخه ډیر رحیم او کریم وو او بیا حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د بنځو د وژلو څخه په جنګو کښی هم منعه فرمایلی ده مګر د غو بنځو په دوندی اندازه سخت اولوی جرم کړی وو چه د دی جرم په وجه خدای پاک و رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته امر او حکم وکړی چه د غه بنځی په قتل و رسوه ځکه چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د الله جل شانه بیله اجازی هیڅ کار نه کاوی او د دې بنځو بدی او جرم دا وو چه اسلامی دین ته ئی بد ویل او د دین په بد والی او مذمت کښی ئی غزلی او شعرونه جوړول۔ اوس هم د بعضو بنځو داشغل دی چه هرڅه ئی زړه غواړی

په دین پسی بیکاره او بدی خبری کوی او بعضی بنځی په علماؤ او ملایانو پسی بدی سندری او غزلی جوړوی د دوی د پاره په کار ده چه د خدای پاک څخه وبیریږی.

(۱۶) د زینب بنت حارث ذکر

له از روضه

خیبر یو کلی و وچه په دی کلی کښی کفار یعنی یهود او سید ل رسول الله صلی الله علیه واله وسلم جنګ ورسره وکړی او مسلمانانو دغه ځای فتحه کړی او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هم په دغه ځای کښی وو چه یو یهودی بنځی چه نوم ئی زینب وو ز هوښ د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښی ئی په طور د تحفی یوځه د خوړک شی پیش کړی په دغه شی کښی د ځنی کمبختی بنځی زهر اچولی وه.

د ه مبارک او د د ه مبارک بعضو اصحابو د غه شی وخوړه ی بیانو د پروردګار عالم په قدرت سره د مبارک علیه الصلوٰة والسلام نه معلومه سوه او د ه مبارک لاس څنډی و نیوی او نورو رسول اصحاب ئی هم د د غه شی د خورک څخه منعه کړل - لیکن یو صحابی د د غه شی د خوړلو په وجه په شهادت ورسیدی پرسول الله صلی الله علیه واله وسلم ئی هم یو څو زمانه وروسته تاثیر معلوم سو او د وفات ناجوړی ئی هم د دی زهرو د تاثیر ه څخه وه په بعضو کتابونو کښی راغلی دی چه هرو څت د غه صحابی په شهادت ورسیدی نو د د ځنی بنځی څخه پوښتنه وسوه د دی اقرار وکړی پس نو په سزا کښی دا هم په قتل ورسیده.

فایده :- د اکمل بخته هم دا اسلام د دین د بسمنی ختمه کړه یعنی دا اسلام سره د دښمنی په خاطر قتل سوه - بی بی گانو! دا اسلام او د شرعی د کار او خبری څخه هیڅکله په زړه کی بد مه وړی په ډیره خوشحالی سره دا اسلام هری خبری ته غاړه ایږدی او هره خبره ئی پرمړاو ستر گو منی.

(۱۷) دیهودی لبید د لونو قصه

دوی پتو لو مصلاح سره وکړه ز هوښ د آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم د

مرګ د پاره ئې جادو وکړی لیکن مبارک علیه الصلوٰة والسلام الله تعالیٰ دهلاکت او مرګ د هدف څخه وساتی - لیکن جادو دومره ئې تاثیر پروکړی چه دده مبارک په طبیعت کښی هیره غوندی پیدا سوه د غه هیره ئې د دین په کار و نو کښی نه وه بلکه د خوړلو، څښلو، ناستی او ولاړی په عادتونو کښی وه - بیا الله تعالیٰ - قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ تر اخره پوری او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ تر آخره پوری دادوه (۲) سورتونه نازل کړه. د دی دوو (۲) سورتونو په برکت سره د دې جادو اثر بالکل ختم سو.

فایده :- د غه بنځې هم د دین دښمنی خرابی او بربادی کړی چه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د هلاکت اراده ئې وکړه - بی بی گانو د دین او دینداران سره هیڅکله بغض او حسد په زړه کښی مه ساتی چه د دنیا او اخرت د بربادی سبب گرځی.

(۱۸)	دسلمی قصه چه د مالک لور وه	

دا اول زمور د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په زمانه کښی مسلمانه سوی وه او حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی وه چه دا تر آخیره پوری پر اسلام نسی پاته کیدای او داغسی هم پلیښه سوه هر وخت چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفات سو نو دا بنځه د دین څخه واوښته او د پیر گمراهان د دی سره ملګری سوه اخر کار د مسلمانانو لښکر پرور غلی دا بنځه او د د ې بنځې ټول ملګری ئې د اسلام په تور سره سره دا رهنګه د مابینه یو وهر چه یو هم پاته نه سو.

فایده :- لکه د مال او پیسو محبت چه بد شی دی داغه رنګه د سړی او خانی هوس هم انسان د هلاکت او بربادی وکندی ته ور سپاری وګورئ د دی بنځې دین او د نیا دواړه خراب سوه. بی بی گانو! خپل ځانونه تر تولو کمتر او بیکاره شمیری او عاجزی اختیار کړئ په داسی کولو سره پروردګار عالم و تاسو ته په دواړو جهانو کښی عزت په برخه کوی

(۱۹)	د قطامه قصه	

یو ټولی د چه خارجیان ورته وایی د غسی خو د وی خپلو ځانونه مسلمانان

وایي مگرددوی نړیږعقاید د دین خلاف دی او د غه خارجیان د حضرت علی
الله وجهه په وخت کښی پیدا سویدی او د حضرت علی کرم الله وجهه
ددوی لوی لوی جنګونه هم سویدی نو ددی سبب نه د حضرت علی کرم
وجهه ډیرعنټ د بنمنان دی - د دغی ټولی د[۲]ی خلګ یو واړی په مکه ش
کښی سره یوځای سوه حضرت علی کرم الله وجهه په هغه زمانه کښی
کوفی په بنار کښی اوسیدی نو ددوی د[۳]و سره د اصلاح سره وسوه چه
علی کرم الله وجهه او د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یو د
نورا صحاب وه د غه د[۳]ی سره وځل په کار دی.

د حضرت علی کرم الله وجهه د وځلو د پاره یو سړی تیار سو چه نو
ئ عبد الرحمٰن ابن ملجم وو د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه د وځلو
ار ه وکو فی ته ولاړی په کوفه کښی ده د غه بنځه یعنی قطامه بدبخ
لیده نو ده چه د دی شکل او صورت و لیدی د نکاح پیغام ئی ورکړ
ئی ورته وی ویل چه زما سره نکاح وکړه. نو د غی بنځی ورته وویل
چیری زما ولور ادا کولای سی نو بیا نکاح در سره کوم ده د ولور
بښتنه وکړه دی ورته وویل چه زما ولور دادی چه
ضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه قتل کړه او د غه بنځه هم خارجی وه او د
ضرت علی کرم الله وجهه د لاسه د دی پلار، ورور، اکا او خاوند په
نګو نو کښی وځل سوی وه چه د غه ټول هم خارجیان وه نو ددی سبب
ئی بنځی دا فرمایش وکړی.

غرض دا چه د غه جاهل د دی د غه خبره قبوله کړه او سهارد لمانځه
خه مخکی د مسجد په دروازه کښی پټ ودریدی هروخت چه حضرت
ی کرم الله وجهه د لمانځه د اداکولو د پاره د مسجد ته ورننوتی نو
عنه خارجی د حضرت علی کرم الله وجهه پر سر د توری واړی وکړی - او
او تښتیدی د توری د زخمو د سبب حضرت علی کرم الله وجهه په
هادت ورسیدی وروسته د غه نالایقه ونیول سو تر نیولو وروسته
وځل سو.

نایده ۱- وګوری که د دغی بنځی د دین او اسلام سره محبت وای نو د

خپلو بی دینه قریبانو په سبب به ئی د حضرت علی کرم الله وجهه سره د بدمنی نه وای کړی مگر خپله هم کافره او بی دینه وه نو د دی سببه ئی د دوزخ سزا لوی گناه نه لاس واچاوی.

بی بی گانو! د دین مینه او محبت په زړه وکښی پیدا کړی ورنه نوی لوی گناوی د بی دینی څخه پیدا کیږی چه آخیر کار د انسان د هلاکت سبب گرزی.

(۲۰) دجعده قصه چه داشعب لوروه

داد حضرت امام حسن رضی الله تعالی عنه بنځه وه د اداسی چه وبه اوغږه سوه چه یزید کوم چه د امام حسن رضی الله تعالی عنه د بدمنی وو دا وغولوله چه زه به نکاح درسره وکړم او یو لک (۱۰۰۰۰۰) درهمه به درکړم خونه امام حسن رضی الله تعالی عنه هرکړه نو دې حضرت امام حسن رضی الله تعالی عنه نه زهر ورکړه د دغو زهرو د تیزی په وجه د حضرت امام حسن رض کولمی غوټې غوټې پرې سوی د عملونو او د ستونو سره و بهیدی پرامام حسن رضی الله تعالی عنه څلویښت ورځی د غه سخت تکلیف وو تر څلویښتو ورځو وروسته وفات سو.. نو دی بنځی ویزید نه حال ورواستاوی چه اوس نو وعده پوره کړه یزید صاف جواب ورکړی چه زه تاما مینه کولای نه سم.

غرض دا بد بخته سخته گنهگاره هم سوه او د دنیا مراد ئی هم پوره نه سو او داډولی قصی د دنیا د طمعی او حرص په سبب سره ورپیښی سوی. بی بی گانو! د دنیا طمعه او حرص مه کوی چه په دی سره دین او دنیا دواړه برباد یږی.

داشل قصی دیدو او نا کاره بنځو وی اوس یوځو قصی د هغو بنځو لیکو چه اول پرځای به او بی کاره لاس روانی وی بیا پروردگار عالم و د وی ته نیک ځو بنه هدایت وکړی او بنه لاره ئی په نصیب سوه.

(۲۱) د بی بی زلیخا ذکر او قصه (۱)

اول واړه د دی نکاح او واده د مصر د وزیر سره سوی وو د مصر وزیر حضرت یوسف علیه السلام راوینوی او د دی یعنی زلیخا په سپارنه کښی ئی ورکړی چه د اولاد په شان د ده روزنه کوه و دی ته د حضرت یوسف علیه السلام په باب

کی بیکاره بیکاره خیالات ور پیدا سوه مگر حضرت یوسف علیه السلام خدای پاک په خپل لوی فضل او کرم سره خُندی وساتی۔ بیا دغه وزیر د مصلحت په طور سره حضرت یوسف علیه السلام بندی کړی بیا تر ډیری زمانی ورڅخه چه حضرت یوسف علیه السلام د مصر بادشاه د بندی خانی څخه را ایله کړی یوسف علیه السلام و بادشاه ته وویل چه اول زما د حال په باره کښی د بنځو څخه پوښتنه وکړه۔ د پوښتنی کولو په وخت کښی زلیخا وویل چه دَ یعنی یوسف علیه السلام پاک دی تاوان او خطا په ما کښی وه۔

آخر چه یوسف علیه السلام د مصر بادشاه سو او دهغه وزیر مړ سو۔ نو حضرت یوسف علیه السلام د دی سره نکاح وکړه او د دی څخه ئی دوه هلکان هم پیدا سوه چه د یوه نوم افرائیم او د بل نوم میشائیم وو

فایده:۔ وګورئ رشتیا ویل څونډی بنه شی دی په کوم وخت کښی چه دی پر حضرت یوسف علیه السلام ناحقه تهمت لګولی وو نو د دی غم او پریشانی ورځ په ورځ زیاتیده او هر وخت چه دی رشتیا و ویل پروردګار عالم د دی ټول غمونه ختم کړل او د دی مراد حاصلید و او په وره کید و اسباب د ژوند نګه برابر او تیار سوه چه د دی خاوند مړ سو او د یوسف علیه السلام ته الله پاک بادشاهی ورکړه او د دی سره ئی نکاح وکړه۔

بی بی ګانو! همیشه رشتیا وایاست او که چیری یو خطا ور څخه پیښه سی نو اړ توبه کاږئ پر خپله خطا او غلطی مه ټینګیږئ او د خپلی غلطی او خطا په منلو کښی لوی مه کوی چه په څو به خپله غلطی او خطا مه څکه چه دا ډیر شرم خبره او کار دی۔

(۲۲) دهغی بنځی ذکر چه قارون تحریک ورکړی وُو (۲)

د حضرت موسیٰ علیه السلام په زمانه کښی قارون یو ډیر غټ مالدار او بخیل سړی وو هر کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام د دنیا او مال زکوٰة و باسه نو د دغه دا خبره ډیره د خوا ناچپه سوه او د حضرت موسیٰ علیه السلام د دښمن وګرزیدی او د کمبخت او بدبخته تر دا سی حده ورسره زیاته سوه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام د بدنامه کولو فکر ورسره پیدا

سو۔ او دیو بدکاری بنځی ته ئې ډیری پیسی، جواهرات او زیورات ورکړه او وې
ته وې ویل چه پرحضرت موسیٰ علیه السلام باندی داسی تهمت ولګوه نَعُوذُ
بِاللّٰهِ چه ده ز ما سره زنا وکړه دغه بنځه راضی سوه چه ښه دی یووخت
حضرت موسیٰ علیه السلام نصیحت کاوی د امسئله ئې هم بیان کړه چه هرڅوک
بدکار یعنی زنا کاری وکړی ودې ته د اسی داسی سزا ورکول کیږی بدبخته
اونالائق قارون د خپل ځای څخه ولاړسو په لوړ آواز سره ئې وویل چه که
چیری ته دغسی کار وکړی نو به څرنګه عمل کیږی حضرت موسی علیه
السلام وویل چه زما به هم دغه سزا وی پردې خبره دغه د خدای دښمن
وویل چه فلانۍ بنځه ستا نوم اخلی چه ماته راغلی دی اوداسی کار ئې
راسره کړی دی هغه بنځه هم په دغه ځای کښی موجوده وه حضرت موسیٰ
علیه السلام ودغې بنځې ته قسم ورکړی چه رشتیا وایه۔ دغه بنځه د
خدای څخه وبیریده او داسی وینا ئې وکړه چه ای د خدای نبی ته پاک
ئې ده وماته دوندی زیورات او پیسی راکړلی او دا ئې راوښوول چه ستا
نوم واخلم اوس زه توبه کاږم او مسلمانیږم۔

نو په دغه وخت کښی حضرت موسی علیه السلام ته ډیر قهر ورغلی
اودخدای پاک څخه ئې دده دپاره بښنه وکړه قارون سره د خپل مال اودولته
په محکه ننوتی او دوبرخ ئې ځای سو۔ پروردګار عالم چه هروخت وچاته
هدایت کوی نو د تو بې کولو اونیکی لاری د اختیارولو دپاره اسباب ورته برابر
کړی او د هدایت اوتوبې سبب د خدای پاک څخه پیره ده۔ بې بې ګانو! د خدای
پیره په زړه و نوکښی پیدا کړی چه ټول کار و نه خپله په برابریږی۔

(۲۳) دهغې بنځې قصه چه د خپلی ګناه اقرار ئې کړیدی (۳)

زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په خدمت کښی یوه بنځه حاضره
سوه چه د شیطان په لمسون او تحریک یو ځای بدکاری یعنی زنا کاری ځنډی
سوی وه په شریعت کښی دامسئله ده چه که دمیړه یا مایني څخه داکار و
سی نو سنګسارږی یعنی په ډبروسره وژل کیږی۔ دغه بنځه په دې مسئله
خبره وه او پوهیده چه د اقرار کولو په صورت کښی زما او د ژوند وار سره

تیردی لیکن د آخرت د عذاب بیړی دوندی غلبه پیدا وکړه چه را غله د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مخ کښی ئی ټوله قصه بیان کړه چه سزا ورکړه سی اود ګناه څخه پاکه سی.

د شریعت هم دغه حکم دی چه هرڅوک په خپله ژبه سره اقرار وکړی دهغه څنه دل په کار دی (څنه دل دا رنګه دی چه واقرارکونکی ته ووایی چه داسی به دی نه وی کړی او ته پرسدئ عقل دی پرځای دی او مع څنه دی وا په وی) او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هم وځنه دله لیکن دوندی غیرتناکه بی بی وه چه بار بار به ئی اقرار کاوی او غوښته ئی چه سزا راکړل سی. په دغه وخت کښی ئی کوچنی په لس کښی وو دی سببه دکوچنی تر پیدا کید و پوری مهلت ورکړه سو چه کوچنی ئی پیدا سو - نو بیا بیله کومه طلبه پخپله حاضره سوه اوونی غوښته چه په سزا ورسیږی آخیر دغه سزا د شریعت سره موافقه ودی ته ورکړه سوه. بیانو یو چا دی په حق کښی بیکاره خبره وکړه زمور حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چه ودی ته هیڅ مه وایه ددی توبه د خدای پاک په نزد دوندی غټه ده که چیری پر اویا (۷۰) ګنهګارانو باندی تقسیم سی نو ټول به و بخښل سی تر دغه نو نورزیات څه جوړیږی. چه د خدای تعالی د پاره ځان قربان کړی.

فایده:- په حقیقت کښی د الله پاک بیړه عجیبه لوی نعمت دی چه د هرچا نصیب سی نوکه غږ غوندی تکلیف وی هم ئی پرځان تیروی لکه دعی بی بی چه و دوندی غټ تکلیف ته اوښه ورکړه - پروردګار عالم دی وموښ اوتاسی ټولوته هم دګناهونو د پریښودلو توفیق راکړی او د توبی د کښلو توفیق دی هم ورسره راکړی په اوس زمانه کښی شریعت نافذ نه دی هرڅوک چه داسی ګناه وکړی چه تر خدای پاک پوری ئی تعلق وی د خدای پاک مسؤل وی نود خدای پاک په مخکی د ده د پاره توبه کول په کار ده او داهم معلومه سوه چه هروخت یوڅوک توبه وکاږی بیانوهغه چاته پیغور اوقانی ورکول پیره دبی همتی خبره ده چه پریږدی او تیره سوې خبره پیغور نه اوتانی ورکوی او سپک اوخوارئ ئی ورلی پیغور نه اوتانی ورکول پیره ګناه هم لری.

(۲۴)	دهغی بنځئ قصه چه دغلا ځخه ئ توبه کښلی ده	(۴)

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دیو بنځئ لاس د غلا په سزا کی ورپریکړی وو بیا نو دغه بنځه زهوبن وکوړته راتله او چه یو خبره به ئ د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره کول نو به ئ زما په واسطه سره ورته کول یعنی ما به ددی دطرف ځخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددی خبره کول غرض دی ډیره ښه توبه کښلی وه.

فایده:- وګورئ څومره ښه زړه ئ وو چه دومره تکلیف ئ پرځان تیر کړی د شریعت او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ځخه خوا ما ئ نه سوه او نه ئ ددوی ځخه بد سوه- پس نو ایمان او توبه دغه رنګه په کار دی چه د شرعی د حکم ځخه پرته خیره پیدا نه سی او که دګناه و په سزا کی یو وبال پر بنده راسی نو باید د خدای ځخه شکایت و نه کړی او خپله خطا بار بار یاده کړی او شرم ورته ودریږی.

(۲۵)	دسبحاح ذکر	(۵)

دی د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ترفات وروسته د نبوت دعوه وکړه او ډیرجاهلان ورسره ملګری سوه او ډیری لوی لوی قصی ئ پیښی کړی اخر مسلمانانو دلښکر د مقابلی ځخه عاجزه سوه بیرته مسلمانه سوه او ددی جنایت ځخه توبه ګاره سوه

فایده:- سبحان الله توبه څوندی لوی شی ده چه په درواغو سره د نبوت د دعوی کولو ځخه به بله کومه غټه ګناه وی مګر هر وخت چه ئ توبه وکښه او بیرته مسلمانه سوه نو هم معاف سوه.

بی بی ګانو! په توبه کښلو کی ځنډ مه کوی او دا هم معلومه سوه چه خپل ځان لوی بلل ډیر خطرناکه شی دی ځکه چه دغه د لویوالی خیال په دغه بنځه د پیغمبری دعوه وکړه چه پردې پروخلګو به زما سرداری وی خدای تعالی دی مو وساتی بس خپل ځان تر ټولو کم بلل ډیره ښه خبره ده-
او به دغه کښی خیر دی فقط.

دغه پنځه قصې د توبه کونکو بنځو سوی اوشل قصې د بیکاره بنځو سوی چه اوولی پنځه ویشت کیږی - اوس مخکی تنبیه سره د یاد داشته چه ذکر ئی په دیباچه کښی وسو لیکل کیږی.

تنبیه

بسم الله الرحمن الرحیم

داحال کوم چه په دی یاد داشت کښی لیکل سویدی د تولو بنځو نه دی بلکه د شریرو او مفتینو بنځو دی د دوی په مقابله کښی د خدای په فضل سره د اسی بنځی هم سته چه د دی آیت مصداق دی. (مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ الایة) داغه رنگه بعضی نارینه په ظلم، سنگدلی، د حقو تو په تلفید و په لچگی او بیهودگی کی طاق یعنی اول نمبر دی او د دوی بنځی په ډیر عفت سره صبر کوی. او خاموش محض اوسیږی غرض دادی چه

نه هر زن زنست و نه هر مرد مرد خدا پنج انگشت یکسان نه کرد

ترجمه:- نه هره بنځه بنځه ده نه هر سړی سړی دی ؛ خدای تعالی پنځه گوتی برابری نه دی پیدا کړی.

د دی تجربه کار د تحریر د نقل کولو څخه مقصد دادی چه که چیری په یو بنځه کښی د غه عیبونه وی نو هغه دی یوه سی او خپله اصلاح دی وکړی یا دی ئی سړی په بنه طریقه سره اصلاح وکړی څکه چه د اصلاح د پاره د مرض اطلاع ضروری ده. والله اعلم - اوس د تجربه کار هغه تحریر را نقل کوو.

یاد داشت

د بنځو د بی عقلی په باره کښی چه تر حده زیاته سویده او ما ته ئی بنه تجربه سویده په طور د نصیحت د هغوی و غوږ ونه در سولو د پاره لیکم اوزه نه غواړم چه د دوی زیاته پرده دری وکړم بلکه صرف د نمونی په طور یوڅو خبری لیکم چه د دوی و غوږ ونه ورسیږی.

(۱) د اسی بنځو عموماً په شریکه سره د اطریقه اختیار کړیده چه تر څو پورې کیدای سی د خپلو مړونو عزت او ابرو په خپله مقابله کښی کموی او

پرسړی دوندی زړور او فشار راولی چه ته به وایې چه ګویا د سړی یعنی د میړه څخه ښځه او د ښځې څخه میړه جوړ سویدی.

(۲) داسی ښځې د واده د ورځې څخه بیا د غه سودا او ارزوګانو سره محکموی چه موږ به علیحده او سیږو هرڅه به موجلا وی نو د میړه وکورته د رانګ سره سم د خوابنی، خوسړی، اندرور او داسی نورو سره جګړی او فساد و نه شروع کوی او شپه او ورځ داسی داسی فکرونه وهی چه په کورکښی فساد او جګړی ځندی پیدا سی.

(۳) بیچاره خوابنی او خوسړی په زړو (۱۰۰۰) تمنا او ارزوګانو سره موږ ورته وده وی په خوشحالی سره ټ کورته راوړی لیکن موږ د د وی آرزوګانی او امید و نه په اوله ورځ بیاد خاورو سره ورولړی د دی د رانګ سره پرده وی بانه، ی د ارامی او خوشحالی ګوله و د ریږی.

(۴) دا نیک بخته موږ ورد وندی صبر نه سی کولای چه موقع او وخت ته وګورې ځکه چه د وخت په تیریدو سره خپله جلا والی او بیلتون راځې که په دنیا کښی جلا والی نه راتلای نو د غه ښارونه او کلی به دکومه جوړ پیدلای. مګر د دی سره د وندی عقل او تمیز د سره نیستی دی چه د جلاکید و تر وخته انتظار وکړی بس دانن په نښه د ستی غواړی چه جلا سی هرڅه که پیښیږی که نه پیښیږی که ټ وخت وی که نه وی لیکن د دی به خپل لوبنی او لرګی نړول د اولی ورځ څخه جلا وی که څه هم د دی د پلار په کورکښی دیوه شی درک نه وو.

(۵) خپل خاوند ته په داسی داسی طریقو سره سپل او ق ورا چوی چه د چا به ورته فکر هم نه وی او قسم قسم خبری او لغارونه به ورته وایې چه پرسړی به نو تر کومه وخته پورې تاثیرونه کړی هرګړی د خوابنی، خوسړ، اندرور او هرڅوک چه په کورکښی وی د دوی بدوالی په قسم قسم طریقو سره وخپل خاوند ته بیانوی او خامخا جنګ جوړوی. چه په یو طریقه سره د دی د مرضی موافق جلا والی راسی چنانچه د مرضی موافق جلا والی هم شړ راځی ځکه چه د فساد خمول او رفعه کول هرسړی مناسب بولی، ځکه چه هره ورځ جګړی د چا په طاقت پورې دی.

(۶) و خاوند ته بنځه هرګړی داسی داسی ناکجاوایې چه په اوریدو سره

ئې پرخاوند خولې راځې مګر ما سیوئ د خاموشۍ نور څه وکړې که خاوند په ژبه ستر ګو، لاسو سره د بنځې په شان کښې یو اقدام او حرکت وکې نو به په دې یو ناري او بغاړې ګډې سې ټول دکور او کلي خلګ به پرو خندوي او ټوله جهان به راځغلي دخاوند سیل به کوي چه څه ئې پیښه کړي ده.

(۷) بنځې که دواړه دورځې څخه د خپل خاوند او دکور د خلګو په رضامندي دخوابنې او خوسړې په اطاعت او فرمان برداري کې حاضري واوسي نو داډیره ښه خبره ده د هیڅ عیب خبره نه ده بلکه داد غیرت کار دي لیکن د وي دامې نه کوي بلکه خپل خاوند ته په قسم قسم چلونو او فریبونو سره سِل او دق ور اچوي او که ئې چیرې خاوند پرې یو خبره تله تیره کړي دباندې وونې نو بنځې جاهلانې داخیال کوي چه زهوږ څخه وبیریدي ګرسره ئې کور راپریښووي او په آینده کې بیا بنې پښې پسې ور اخلي.

(۸) خاوند او میړه پرور دګار عالم مرد میدان پیدا کړي دي یعنې د توپ، تانګ توړي، توپک او جنګ دپاره ئې پیدا کړي دي نو دي د بنځو څخه چیرې او څرنګه بیریږي مګر د مصلحت په خاطر پرې یو خبره تله تیروي یعنې په دې تله تیروي چه خلګ را باندې ونه خاندي مګر د بنځو سره خو دي پروا نسته چه مخلوق به را باندې وخاندي دا دوي هغه جوش او خروش فساد او جګړه کوم چه دواړه د ورځې څخه شروع سوي دئ ورځ په ورځ مخ پر ترقي او زیاتوب روان دي.

(۹) بې رحمه بنځې هیڅکله دا خیال نه کوي چه معلومه نه ده چه خاوند به ئې په څه مشکلاتو او سختیو اوسه قسم نکلینو او مصیبتو پیسې ګټي او زهوږ ومغ ته ئې تیاري ایږدي نو موږ باید د خاوند قدر وکړو د دغو پیسو قدر وکړو دا خو پریږده بلکه هیڅکله ئې یو وخت په هیڅ سره دغه فکر پر دماغ نه راګرزي - د دغو او فکرځای دي.

(۱۰) نارینه چه د بنځو د بې عقلۍ او بې حایه ناکجاتو څخه تر پزې پورې سي او د بنځې سره د بنه څوند تیرولو هیڅ علاج او چاره ور پاته نه سي سِل او دق سي نو مجبوراً د مسافرۍ لار اختیار کړي او د اسې بیزار سي چه په کلو کلو دکور نوم هم پرخوله نه راوړي د بنځې د خواخڅه ئې زړه نه ورسوي

وی پدیره گرزیدلی وی نو په مسافری کښی چه هسی هرځای یو شپه سباکیږی یوه وچه گوله ورسیږی بس صبر پرکوی دکور نوم نه اخلی او بنځه نواوس څه کوی بس په کور کښی جگړی اوجنجالونه کوی د خوابنځی، خوسړ وغیره سړه اودا جگړی ددی د پاره کوی چه مابوزی خپل میړه لره چه داتاسی د کور ځخه پسی اخستی دی اوداکم عقله دعقل دخواددونه ټپه ولاړه وی چه داهم ځان ته نه معلوموی چه داخو ما پسی اخستی دی اوس لاهلته پسی ورځی د مسافری ژوند هم پرسور اورکوی اوپرخپله کم عقلی هم هیڅکله نه پښیمانه کیږی ددا سی بنځو د پاره لږ څه شرم اوحیا په کارده

(۱۱) که چیری بنځی د واده دورځی څخه د خاوند زړه خپل زړه وگرزوی دخوابنځی اوخوسړ اطاعت اختیارکړی اودخوابنځی اوخوسړ دا گمان نه کیږی چه یو وخت به مږ ورڅخه جلاسی. نو ټول کور به دغه مږ ور د ځان غلامان جوړ کړی اوددی به ډیر قدرکوی اوفرض ئی کړه که چیری په خاوند یا خوابنځی یا خوسړ کی ددی د طبیعت خلاف یو عیب وی نو په اسانی، سهولت اهستگی او خوشامدسره دی په داسی طریقه اصلاح کړی چه ددوی ته معلوم هم نه سی نو په داسی کولوسره دغه عیب ضرور د مابینه ځی په زور اوضد کولوسره هیڅکله دمابینه نه ځی بلکه خاوند نور ضد کوی پرتینګیږی ودغو بنځو نه گرسره د میړه اوخوسړ گنی دزړه د راښولو طریقه نه ورځی یعنی نه ور معلومیږی اوس نو ووایاست چه تاوان په چا کښی دی.

(۱۲) بعضی کمبختی بنځی داد ماغ هم لری چه موږ د خوښ ماړه اولوی کور یو او پلار په کور کی داسی داسی شیان راکړی دی ستاسی په کور کی خوخاوری نه وه ستاسی کور خومونږ د سرآباد کړی. د خاوند، خوسړ، خوابنځی اونورو په خوشامد اوخدمت ځرمیږی په ځوبه ددوی خدمت کوی تردا سی حده چه بعضی بنځی د خپل خاوندسره هم په سم اوورین ټندی خبری نه کوی بلکه په ترڅ ټندی اوکاږه مغزی ورسره برغیږی خدمت خو پریږده بلکه ټوله ورځ ئی بالښت ته څنګ وهلی وی. یابی بیده وی یا آرامه ناسته وی د دغو ځخه ماسیونی بل هیڅ کار نه لری اومغزی ئی په متکبرانه طریقه سره کوږ نیولی وی او آرامه ناسته وی.

(۱۳) دښ زمانی بنځو بو طریقه د نزاکت او امیری د اهم را ایستلی ده چه د مریضی په بانه سړه ئی بالښت ترسړ لاندی کړی وی د بالښت څخه سړنه راپورته کوی او وایی چه سړی پرله گرزی۔ خاوند، خوابنی، خوسړ او نورو ته سِل او دق ورواچوی۔ په زړهاوو روپی ددی پرد وایانو، ټیسټونو، پیسانو، کشته جانتو، مربا گانو اوتوی اطاقتی شیانو ولاړی سی لیکن د سړ درد نه بنه کیږی کله کله ویل کیږی چه بی بی نظرسوید ده کله کله ویل کیږی چه پر بی بی پیرانان بنکاړه سویدی.

(۱۴) دغه بنځه په میړه باندی او اتن کوی عقل او حواس ئی ورختموی یعنی یولیونی او پاگل څندی جوړوی چه د هیڅ کار نه وی ماسیوی ددی چه بی بی هرڅه فرمایش کوی دئی به لاس پرنامه ورته ولاړوی په بلی صاحب بلی صاحب یاد بولوکټوری څندی جوړوی چه هرقسم ئی استعمالوی هغه رنگه به ئی استعمالوی یا چه هرڅه د بی بی خوښه وی دئی به فوګراهغسی کوی اود ی په خدمت کښی به ملا تړلی ولاړوی نو بیا خیردی.

(۱۵) دغه کم عقلی بنځی د خپل طبیعت د تیزی او قسم قسم جګړو په وجه د کور ټول خیر او برکت ټولوی د خپل خاوند سړه داسی د د بنهی ګذاړه کوی چه توبه ـ ددی زمانی د بعضو بنځو څخه چه خاوند ولاړسی مسافرسی د مسافرنه په حال کښی هم دارامی ګوله نه سی څندی په خوله کولای۔ څکه چه ګوری خاوند ته خط راغلی وی او په خط کښی ماسیوی د کور نیوجګړو او قصواود خوابنی، خوسړ او د کور د نور وانسانانو د شکایتو څخه بل هیڅ شی نه وی لیکلی یا دا لیکلی وی چه پیسی راواستوه بی خرڅه یم داسی داسی د ږواغجنی او تکلیفی خبری ئی ورته لیکلی وی چه میړه تړپیږه وخته پوری ډوډی نسی خوړلای څکه خوابدی او خفه سی او خط پرداغه ځای باندی څیری کړی چه بل څوک ئی ونه وینی د کور حالات به مو وبل چا ته ورمعلوم سی بدنامه به سو.

(۱۶) په زړهاوو روپی به سړی گټی او راليږی به ئی لیکن بی بی به همیشه وایی چه زه قرضدار ه یم پتول شیان په پور اخلم تانو ترادسه پوری څه شی راوړی دی او د ږواغو حساب اوکتاب به په خط کښی لیکی ورليږی به ئی چه نوری پیسی راوليږه۔ نیک بخته دوندی فکر نه کوی چه دا پیسی

په خوندی تکلیف گټل کیږی چه بیائی ماته راليږی او دکور د خرڅ غم خو د ده یعنی د میړه سره دی نو ئی خامخا ولی په هغه مسافری کښی لانه پسی پریږدم او خفه کوم ئی او که ده په مسافری کښی خپل عیش او عشرت کولای نو به ئی ماته هره ورځ داوونده روپی دکومی خوا راليږلای.

(۱۷) د غه ښځی یو وخت په میړه سره هم د خپل خاوند شکر پرشربه نه راوړی نه د خپل میړه د عزیزانو، دوستانو او دښمنانو په مخکی هیڅکله د خپل خاوند تعریف او صفت کوی لیکن په دی بیاغښتلی ده چه په زرګونو تهمتونه الزامونه، درواغ به دکور د نیستی او مفلسی بیانوی خپل خاوند او خوسرګنی به په پټول قوم او بیګانه وکی شرموی غرض د خپل خاوند آبرو او عزت په هیڅ حال کښی قائم او ثابت نه پریږدی هیڅ یوداسی ښځه نسته چه خاوند پیری روپی ګټلی وی وکورته ئی راليږلی وی او دئی یعنی خاوند بیا خپل کورته راغلی وی او ښځی د دغو روپو څخه څه بچت (سپما) کړی وی او کومی روپی چه معروف سوی وی هغه ئی بابت وارځه لیکلی وی د خاوند و مخ ته ئی اینبی وی چه دوندی روپی د ضروری شیانو په وجه معروف سویدی کوم چه ما لیکلی دی او ستا و مخ ته می لیکلی اینبی دی او دوندی روپی بچت پاته سویدی هغه می هم دغه دی ستا و مخ ته اینبی دی او ستا امانت دی.

(۱۸) خو ددی برعکس د خاوند د راتلو سره به سم دم بیا ورته وایی چه دوندی پورونه می د رپسی کړی دی او سهار وختی به بیا پورو ړی د دښمن په شان د خاوند و مخ ته و د روی چه هله زما پور راکړه نو به سړی وخپل کورته پرږ تګ پښیمانه کړی چه دکومی خوا راغلم چه د دی غم سره مخامخ سوم.

(۱۹) بلکه د پیری ښځی داسی هم سته چه د خاوند څخه د پوره په بانه روپی اخلی لیکن د دوی په حقیقت کښی خپله پانګه او زخیره غرض وی نو د دی سببه ئی خاوند ټول عمر په مسافری کښی تیروی.

(۲۰) اوس د غو ښځو عموماً دا طریقه اختیار کړیده چه هرڅه پیښیږی که نه خو ضرور پیسی اوروپی سره جمعه کوی او هر وخت چه خپلی پلار ګنی او وروڼو ته ولاړه سی نو په پټه طریقه سره په د غو پیسو سره د دوی امداد

وکړه چه بالکل خوابنی، خوسړ اونور په خبر نه سی غرض چه د خاوند د
او عزت، هست او نیست هیڅ فکر ور سره نسته او خاوند د بیګار د غوایی
شان همیشه په مسافری کښی وی او په دغه مسافری کی پسی مړسی د
بنځو دماغ پرد غه جوړ سویدی چه خاوند بس مسافر مسافر وی ا
په کور کښی د آرامی ګوله راځخه په خوله نه کړی.

(۲۱) خاوند ته د مسافری په وجه سړه دا معلومه نه وی چه زما په کور کښ
کوم کوم قسم کالی، زیورات او نقدی پیسی موجودی دی ځکه چه دی غر
مسافر وی یو وخت په شان د میلمه وکور ته راځی او بنځه د خپل کور سام
کالی، زیورات او داسی نور د خپلو ورونو او قریبانو ته ورکوی مطلب چ
زړه ئ غواړی هغه چا ته ئ ورکوی لیکن هیڅوک کولای نه سی چه سا
کا بنډی چه دا ولی ورکوی.

(۲۲) خاوند چه د مسافری څخه درا تګ په وخت کښی کالی، زیورات او داسی
نور سامان ور سره را د ډی نو دا بی بی ګانی چه ئ وګوری په تریو تندی او
نشه پزه سړه د وه سوه عیبونه کی پیدا کوی. او که ئ فرضاً خوښ هم سی نو
داسی بیا قطعاً نه کوی چه د غه شیان را داخلی د خپل خاوند ته د وایی چه
ستا د پیره مهربانۍ یاد خاوند د قربیانو په مخکی پرد غو شیانو خپله خوښی
او رضا بنکاره کړی. بلکه فوراً ئ په صندوق کښی اچوی قلفوی ئ بیا چه
هر قسم د د ی خوښه وی په هغه طریقه سړه د اشیان استعمالوی.

(۲۳) د غه بنځی د خاوند او خوسړ ګنی د شرمنده کولو د پاره خپله موقع او ځای
لټوی د اموقع او ځای نو هغه وخت د وی بولی چه هر وخت د پلار ګنی د خوا
بنځی یا نارینه راسی نو د وی یعنی د غه من ندی خامخا په یوځه ناځه
بهانه جګړه او فساد جوړ وی د خپلو او پردیو په مخکی خپل
خاوند، خوابنی، خوسړ او داسی نور ښه شرمنده کوی او په د غه وخت
کی د غه بنځی د بسمنانی وګرزوی خپله د بسمی په د غه وخت کښی بنکاره کوی
(۲۴) فرضاً که خاوند د مسافری څخه یوشی د خپل ورور، د وست، پیر
نقید او داسی نور د پاره را وړی وی نو بنځه ئ هیڅکله نه ورکوی.
او وایی چه زما بی خوښی ولی یوچاته شی ورکړه سی او که خاوند د دی د

خبری ته نه وگوری هغه شی وړکړی نو بیائ سیل کوه چه پردی خبره خ
څه قصی پیښیږی چه کله اواولس به ئ تماشی کوی او دغه بنځی تر ډیر و
ډیر و دړ څو پوری دکور خلګو او خاوندانو ته سزا وی ورکوی.
(۲۵) دسفرد خواخځه چه د خاوندانو دطرفه کوی پیسی راستول کیږی نو دغه
بی قدره بنځی د پیسو د راړسید و سره سم دم په دغه ورځ بنه بنه زیورات
غاړګی او داسی نور شیان ترخپل حیثیت او قدرت ډیر ډیر یات چه د امیرانو
اونوابانو سره مناسب وی رانیسی او په دوهمه ورځ دستی وخپل خاوند
ته داخط لیکی چه ستاراليږل سوی روپی می تولی وپوره وته وړکړی
اوس زموږ سره د خورک د پاره هیڅ شی نسته بالکل بی خرڅه یو ژړ تر
ژړه نوری پیسی راولیږه بیرته خپل خاوند پریشانه او خفه کړی.
(۲۶) د دی زمانی په بنځو کښی داعیب هم پیدا سوید ی چه د واده کید و
سره سم دم ډیری وډ ډی خبری اوړ شتیا او دړ واغ د خوسړګنی دخوا
څخه وخپلی هور، پلار او داسی نور و قریبانو ته رسوی او مورئ د
یوی خبری څخه لس خبری جوړوی په ټول کلی او قوم کښی ئ نشر کوی.
که د میړه او بنځی د قوم په مابین کښی یو جګړه او جنګ پیښ سی نو دا
خامخا د خپلی لور پرخواد ریږی او جګړه بنه پسی تازه کوی دا رنګه چه
د دغه جګړی په وجه په قوم کښی بنه مشهور ه سی یو وخت وخت
ترطلاق پوری هم خبره ورسیږی.
(۲۷) که د دې بنځو څخه پو بنسټه وسی چه ستاسی پر ذمه د خپل خاوند
خدمت، دلداری او د د ه سره خوشامدکول سته که نسته نو دوی په
جواب وړکړی چه هیڅکله هیڅکله نسته - بلکه دوی د
خاوندانو د سر تاجونه او حکمرانان دی هیڅ امکان نه لری چه د بنځو
حکم وشاته وغورځول سی یاد دوی د خواهش او مرضی سره یوکار برابر
دنه سی که چیری خاوند د دی بی خوښی یوکار وکړی نو به بیاته خپله
دوینی چه څه تماشی او قصی جوړ یږی.
(۲۸) بنځی د سړو او مړونو څخه د دوی د ژړا وحال خامخا معلوموی او
میړه هم خپله بنځه د ځان راز دار ه وبولی بیله کوم سنجشه او فکره خپل

سنکاره او پټ حالات ټول ورته بیان کړی بیانود غه بنځی پرمیړه باندی ښه زور کوی
او د میړه عزت او ابرو یو مخ دمابینه وړی او دغو بنځونن سبا داخبره د پیړه ضروری
او فرض بللی د ه چه د هره بابنه څخه میړه ځیر او ماتحت (تابع) وګرځوی بلکه دا
غواړی چه د همیشه د پاره خپل میړه د خپلیو په شان استعمال کړی.

(۲۹) د غه بنځی د میړه د ورور، خور او ټولو قریبانو څخه طبعًا او ذاتًا بد وړی
او رشتیا او درواغ سره جوړوی د دوی شکایت نه کوی او اصل مطلب ئی داوی
چه د دوی هیڅ قسم تعلق سره پاته نه سی او یو مخ د دندی سره لیږی سی لکه
بیګانګان او پردي.

(۳۰) د غسی بنځود خاوند څخه پوره بې عقل او پاګل جوړکړی وی په پزه
کښی ئی پیزوان وراچولی وی پر هره خواچه د دوی زړه غواړی کشوی ئی تر داسی
حده چه خاوند په مزدوری پسی سفر کوی نو د غه بنځی د نکی په شان په خانه
سمی دمی پسی وی د ملکونو سیلونه کوی د هرځای پر آب او هوا ګرزی د موټرانو
ریل ګاډیو سفرونه په ډیرو تماشو او مزو سره کوی. او دوی داوایی چه مونږ
د دی وجی د خاوند سره سفر کوو چه خاوند هر څه ګټی نو دی هغه ټولی ګټلی
پیسی په د غه سفر کښی په خپل عیش او عشرت کی خرڅوی او مونږ غواړو چه
د غه روپی ټولی زمونږ لاس ته راسی. غرض داچه دوی خپل میړه د هیڅ شی
قابل نه دی بللی د خاوند د پاره بیله بنځی مزدوری او سفر کول مشکل سوی
دی ګویا بنځی نوکری او سفر کوی - یو داسی جادو او تعویذ بنځو په مړو
باندی کړیدی چه ټول مړونه د دوی په جال کښی ګرفتاره سوی دی او
د دوی مریدان ګرځیدلی دی.

(۳۱) هر وخت چه د بنادی او غم په وخ بنځی سره یو ځای سی نو په خپل مابین
کی د خپلو خپلوخاوندانو د درواغ او رشتیا عیبونه سره بیانوی بیانوچه و
خپلو کورونو ته ولاړی سی هره یوه د خپل خاوند ته د نورو بنځود خاوندانو
حالات او عیبونه بیانوی - خاوند بیاد غه حالات او خبری د خپلو اشنایانو
او مجلسیانو ته کوی او سره پرخاندی غرض چه د غه بنځی د ځانه هم د (۲۰۰) سوه
خبری سره جوړه دی.

(۳۲) د غه بنځی په خپلو خاوندانو کوډی او تعویذ دنه کوی او وکورته چه کومی

کاخه گښته اوجتانی بښځی راځی دهغوی ته خواستونه کوی چه دیو خواځخه یو تعویذ اوکړی زما دمیړه د پاره راوړه و د غو بښځو ته په اوږو، غنمو اوږ بشو او داسی نورو شیانو سره ددوی توبری ورکوی. او داهم د خوښو اوخوابنی او داسی نورو څخه پټ ورکوی (خرهن دا چه دوی په هره طریقه سره د میړه د تابع کولو د پاره د پرکوشش کوی او د روا اوناروا باک او خیال نۍ د دماغ څخه وتلی وی)

(۳۳) خلگو چه خپل عزت بر باد کړی دی او بښځی نۍ پر ځانو سپری کړی دی د دی املی سبب دا دی چه دوی په سفرکی د خپلو خاوند انو سره وزی یوځای و سره اوسیږی نو دوی بنی د لاوره سی او د خاوند پرطبیعت په پوره طریقه سره قابو پیدا کړی هر وخت چه ئې زړه غواړی په ورځ کښی دوه درې واړه خپل خاوند ته پیښ وونه وهی لیکن خاوند د بښځی د داسی بی شرمی باوجود لاس پرنامه ورته دلاړوی بلی صاحب بلی صاحب ورته وایي بلکه ورسره خاندی خوشامد ورسره کوی.

(۳۴) د لور و لیکل سوو شیانو شکایت د غریبو خلگو په بښځو او په کلو کښی کم اولږ دی حکه چه نه په دوی کښی دوندی عقل سته اونه دوی دکور دکار او بار څخه دوندی فرصت او وخت لری چه دوی عبث او بیکاره جگړی اوشخړی راپورته کړی بلکه دوی ټولی په بنه طریقه سره خپل ژوند تیروی کوی بښځی چه په دوی کښی د خودرایي، ځان خوښئ، خوش خوراکی - بنه او آرام ژوند کولو مادې پرته وی او هر قسم د ژوند تیرولو سامان او اسباب ورته حاصل وی نو دوی قسم قسم جگړی او جنجالونه راپورته کوی حکه چه دوی بل کار نه لری چه په اخته سی که جگړی او فسادونه نه وکړی نو نور څه وکړی بل کار خو خدای پاک پردوی درولی دی.

(۳۵) که د فسی بښځی خوانده وی لوستل او لیکل کولای سی نو بعضی وختونه د دوی چال او چلن هم خرابیږی د نن سبا د نوی دور او زمانی تعلیم یافته طبقه په پوره آواز سره نارې وهی او پیږی رلگوی چه د بښځو ته دی د نارینه ګو په شان تعلیم ورکړه سی نو د داسی تعلیم څخه دا ټول فسادونه پیدا سویدی کوم چه نن سبا ئې موږ په ستر گو وینو او د هر فساد ضرر په تجربه رسیدلی دی.

(۳۶) هیڅ بنځه داسی نسته - اِلّا مَا شَآءَ اللّٰهُ - چه خپل خاوند ته نصیحت کوی چه
په خپل اهل وعیال حلاله روزی خوړه په حرامه کښی هیڅ خیر نسته که چیری
داسی وای نو خاوند به هیڅکله رشوت او حرامه دنیا کور ته نه وای راوړی
بلکه بنځی خپله د حرامی دنیا په نه راوړلو سره د خاوند ته تعنی او پیغور ورکوی
د دی ته ئی تشویقوی چه رشوت واخله د حرامو لارو څخه دنیا برابره کړه. بلکه دا
خبره هم ورته کوی چه ته ماینه نه سی ساتلای په تا کی د دنیا د گټلو لیاقت نسته
دغسی خو خلگ هم دی پلانی هم دغوندی تنخواه اخلی لکه ته لیکن سنا سره هیڅ
نسته د هغه سره چپ دموړ او پلار ته بل هر څه سته د دی څخه ماسیوای نوری نوری
خبری ورته کوی چه خاوند وچ کلک و دی ته وتړی چه دنیا او پیسی برابری کړی
دهری خواچه وی که حلالی وی که حرامی وی د داسی بنځو د خواهشاتو په وجه
ډیر خاوندان ذلیل او خوار سویدی تر جیلخانو پوری رسیدلی دی.

(۳۷) داکثره بنځو سره د وندی د نړدو بنگړی، غوږ والی او داسی نور شیان وی چه زکوٰة
یکښی فرض وی لیکن دوی زکوٰة نه باسی او داخیال نه کوی چه خدای ج به سخت حساب
راسره وکړی نو باید موږ د خدای د غه فرض د غاړی څخه واړوو که ئی خاوند د
اداکولو اراده وکړی نو دا ئی نه ورکوی او په جواب کښی وایی چه زما پانگه کمیږی
هرځوندی پیسی او شیان چه و د غو بنځو ته ورکړه سی لیکن دوی وایی
چه د غه لږ دی

(۳۸) خاوند خو همیشه په سفر کښی وی کوی بنځی چه په کور کښی وی -
هغه د وندی آزادی او آرام طلبه اموخته سوی وی چه خاوند یو وخت
د سفر څخه راسی نو دده خدمت هم نه سی کولای او پر وخت د تو دی
او گرمی ډوډی په ورکولو سره شکمیږی -
بلکه د الاهم وایی چه ناپرینه خو د بیبان شی دی څه شی کوی چه کور
ئی پښی غزولی دی.

(۳۹) افسوس صد افسوس چه د دی زمانی بعضو نارینو د غیرت او نروالی
جذبه د دی زمانی د بنځو په مخکی بایللی ده او څوندی کمزوری سویدی،

(۴۰) که د غسی بنځه خوانده وی لیک اولوست کولای سی او د دی ته یو
څوک په خفیه او پټه طریقه سره خط ورولیږی - نو آیا دا ئی جواب نه

درکوی؟ اوکجواب هم ورنه کړی نو دغه خط خوپه غور سره گوری اوکیدای
می چه په آینده کښی د خط اوکتابت سلسله جاری وساتی نو بیا خبری بیرته
راپیدا کیږی.

(۴۱) دغن سباد دی نوی زمانی بنځی چه خوانده دی د بازار څخه دافسانو
اوعشقی قصوکتابونه راغواړی شپه اوورځ ئی گوری اوپه دغه شوق
کښی شپه اوورځ مبتلا وی چه دیو عشقی قصوکتاب ولاس ته راسی.

(فقط)

التماس

د دی یادداشت په شروع کښی یوځو خبری په عنوان اولفظ د
"تنبیه" سره اضافه سویدی دغه په آخرکی مکرری ملاحظه
کړی چه خلاصه ئی دادی.

نه هرزن زنست نه هر مرد مرد
خدا پنج انگشت یکسان نه کرد

ترجمه:- نه هره بنځه بنځه ده اونه هر سړی سړی دی
خدای تعالی پنځه گوتی برابری نه دی پیدا کړی

د بهشتی زیور اتمه حصه سره د ضمیمو ختم سوه

د املی بهشتی زیور د نهمی حصی د مضامینو فهرست

نمبر	مضمون	مخ
۱	دیباچه او سریزه	۳
۲	د هوا بیان	۴
۳	د خوړلو بیان	۶
۴	عمده او بنه خوراکونه او خراب خوراکونه	۷
۵	فایده	۱۱
۶	د اوبو بیان	۱۱
۷	د آرام او لحنت بیان	۱۲
۸	په علاج کولو کښې د دې خبرو خیال ساتل ضرور دی	۱۴
۹	د بعضو طبی اصطلاحاتو بیان کیږی	۱۹
۱۰	د بعضی مریضو سپک سپک علاجونه	۲۱
۱۱	د سر مرضونه	۲۴
۱۲	د سترګو مرضونه	۲۴
۱۳	د غوږ مرضونه	۲۹
۱۴	د پزی مرضونه	۳۱
۱۵	د شونډی مرضونه	۳۳
۱۶	د غاښونو مرضونه	۳۳
۱۷	د ستونی مرضونه	۳۴
۱۸	د سینی مرضونه	۳۵
۱۹	د زړه مرضونه	۳۸
۲۰	د معدی یعنی د تش مرضونه	۳۸
۲۱	د نمک سلیمانی نسخه	۴۳
۲۲	د مسهل یعنی عملی شی بیان	۴۵
۲۳	د جگر یعنی د اینی مرضونه	۴۶
۲۴	د استسقا مرض - د توری مرضونه	۴۶
۲۵	د کولمو مرضونه	۴۷
۲۶	د بوډکو (پښتو رګو) مرضونه	۵۱
۲۷	د مثانی مرضونه	۵۲
۲۸	د رحم مرضونه	۵۳
۲۹	د ملا لاسو پښو او بند ونو درد	۶۰
۳۰	د تبی بیان	۶۳
۳۱	د پارسوب، مرغړو، دانو، زخمو بیان	۷۱
۳۲	د پارسوب د یوځای والا نو بیان	۷۲
۳۳	پاور یا بل شی سره د سوځلو بیان	۷۸
۳۴	د وریښتانو د نسخو بیان	۷۸
۳۵	د یوځای زخمی کید و بیان	۸۰
۳۶	د زهر خوړلو - د مردار سنګ خوړلو بیان	۸۱
۳۷	هغه حیوانات او خزندګان چه زهرلرونکی وی او انسان وخوړی	۸۳
۳۸	د مارانو، لړمانو، میږو یا نوا و داسی نورو خزندګانو د شړلو بیان	۸۶
۳۹	د سفر پاره ضروری تدبیرونو بیان	۸۸
۴۰	د حمل د تدبیرونو او احتیاطونو بیان	۸۹
۴۱	د حمل ترنقصانید و روسته تدبیرونه	۹۳
۴۲	د لنګی پښتی د تدبیرونو بیان	۹۴
۴۳	د کوچنیانو د تدبیرونو او احتیاط بیان	۱۰۱
۴۴	د کوچنیانو د مریضیو او علاج بیان	۱۰۴
۴۵	د دانی زخمونه او داسی نور	۱۱۹
۴۶	طاعون	۱۲۰
۴۷	متفرق ضروریات او نهمی خبری	۱۲۴
۴۸	د خوبښوا وهګی اینبولو او ساتلو طریقه	۱۲۴

نمبر	مضمون	صفحہ
۴۹	د ماهی د ځهرکو ویلولو او پخولو طریقه	۱۲۴
۵۰	د شیدو او اوبو سره جلا کولو طریقه	۱۲۵
۵۱	د اوبو او خوراک دګرم ساتلو طریقه	۱۲۵
۵۲	خاتمه - د نسخو د جوړولو بیان	۱۲۶
۵۳	آش جو	۱۲۶
۵۴	آب کاسنی مقطر - آب کاسنی مروق	۱۲۷
۵۵	اچار پیپیته - اطریفل کشنیزی او اطریفل صغیر -	۱۲۷
۵۶	اطریفل زمانی	۱۲۸
۵۷	شقمونیا مشوی کول - (کهاپول)	۱۲۸
۵۸	جوارش کمونی	۱۲۹
۵۹	جوارش مصطګی	۱۲۹
۶۰	خمیره بادام	۱۳۰
۶۱	شربت بنفشه	۱۳۰
۶۲	خمیره ګاوزبان	۱۳۰
۶۳	خمیرهٔ مرواریید	۱۳۱
۶۴	د واء المسک بارد	۱۳۱
۶۵	د واء المسک معتدل	۱۳۲
۶۶	د بهروزه تیل	۱۳۳
۶۷	موم روغن	۱۳۳
۶۸	سکنجبین ساده	۱۳۳
۶۹	شربت انجبار	۱۳۴
۷۰	شربت بزوری حار	۱۳۴
۷۱	شربت بزوری معتدل	۱۳۴
۷۲	شربت بزوری بارد	۱۳۵
۷۳	شربت دینار	۱۳۵

نمبر	مضمون	صفحہ
۷۴	شربت ورد مکرر	۱۳۶
۷۵	د شربتو جوړولو طریقه	۱۳۷
۷۶	د عرق دایستلو طریقه	۱۳۷
۷۷	عرق کافور	۱۳۸
۷۸	قرص کهربا	۱۳۸
۷۹	کشتهٔ قلعی	۱۳۸
۸۰	کشتهٔ مرجان	۱۳۹
۸۱	لعوق سپستان اوله نسخه	۱۴۰
۸۲	لعوق سپستان دوهمه نسخه	۱۴۰
۸۳	ماء اللحم	۱۴۰
۸۴	د مربای آملهٔ د جوړولو طریقه	۱۴۰
۸۵	مرهم رسل	۱۴۱
۸۶	د هګۍ د نیم خامه پخولو طریقه	۱۴۱
۸۷	د بید الورد معجون	۱۴۱
۸۸	مفرح بارد	۱۴۱
۸۹	مومیائی	۱۴۲
۹۰	د نوشدارو نسخه	
۹۱	د حکیم مولوی محمد مصطفی صاحب تصدیق	۱۴۳
۹۲	د دم اوچو او تعویذ بیان	۱۴۴
۹۳	اضافه جدیده (نوی زیاتوب)	۱۵۲
۹۴	طبی جوړه	

د اصلی بهشتی زیور نهمه حصه

بسم الله الرحمن الرحیم

ورډسته ترحمد او صلوٰة ناچیز ه بنده کمترین د غلامانو - اشرفی محمد مصطفی بجنوری او سید ونکی د میرټ محله دکرم علی عرض کونکی دی چه احقر برابر دهدایت سره د سیدی او مولائی حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره په دغه نهمه حصه کی د بهشتی زیور د بنځو او کوچنیانو د پاره صحت په باره کښی ضروری خبری او د ډیرو پیښیدونکو امراضو علاجونو درج کړیدی او په دغه کښی د څو خبرو لحاظ سویدی (۱) د هغو مریضیو علاج لیکل سویدی چه د هغوی په تشخیص او علاج کښی د ډیری پوهنی ضرورت نسته د میانه درجی لوستونکی او لیکونکی بنځی هم په پوهیږی او د کومو مریضیو په علاج کښی چه علمی قابلیت په کار دی هغه پریښول سویدی بلکه ډیر ځایونه صراحت لیکل سویدی چه د دغسی مریضیو په علاج کښی جرأت او دلاوری مه کوی بلکه دیو طبیب حاذق علاج وکړی. (۲) مجربی او آسانه نسخی لیکل سوی دی او د سره د سره ددی هم مراعت سویدی چه داسی دوایانی وی که ډاکټر په تجویز کښی غلطی وی یا یو بله وجه وی نو نقصان نه کوی (۳) عبارت ئی داسی آسانه لیکل سویدی چه یو ډیر معمولی لیاقت والا لاهم په پوهیږی (۴) هرڅوک چه په امداد المطابع کښی د دغه کتاب چاپ سو نو په نظر ثانی کښی یو څه نسخی زیاتی سوی او د دوی پر خپلو خپلو ځایونو په طریقه د حاشو ولیکل سوی او داوار په نظر ثالث کی هم یو څه نسخی او مضامین اضافه کړل سوه چه دوی په خپلو ځایونو کښی ترصفحی لاندی د حاشو په طریقه سره جلا لیکل سوی دی د پاره ددی چه دکومو خلکو سره د اول وار چاپ سوی د دغه حصه موجوده وی هغه هم د دغه نسخی ور نقل کړی او کومی نسخی او مضامین چه په نظر ثالث کی اضافه سویدی د هر یوه ورډسته دغه لفظ (نظر ثالث) لیکل سویدی د دی د پاره چه دکومو کسانو سره د نظر ثانی کتاب موجود وی هغه هم دغه مضامین او نسخی د خپل کتاب ته ور نقل کړی.

مُقدّمه

په دی حصه کښی د تندرُستی اوجوړوالی د حاصلولو او د تندرُستی د برقرارۍ ساتلو یوځه ضروری تدبیر ونه دی چه د دوی په پیژندنه سره بنځی د خپل ځان او د خپل اولاد ساتنه او احتیاط کولای سی تندرُستی اوجوړوالی داسی شی دی چه د دۀ په وجه د انسان زړه همیشه خوشحاله اوسی نو په عبادت او نیک کارکښی ئی بنه زړه لګیږی د خوړلو او چښلو په خوندبنه پوهیږی نو په زړه سره د خدای تعالیٰ شکر کوی چه په بدن کښی ئی طاقت وی نو بنه کار او د نورو خلګو خدمت بنه کولای سی د حقدارانو حق په بنه طریقه سره ادا کولای سی د دی د پاره د تندرُستی تدبیر په دغسی نیت کول. عبادت او د دین کار دی خصوصًا د بنځو د پاره د د اسی خبرو پیژندل د پرضروری دی حکه چه د دوی په لاسونو سره د کوچنیانو پالنه کیږی او هغه په خپله ګټه او تاوان هیڅ نه پوهیږی نو کومی بنځی چه په دې خبرو او شیانو نه پوهیږی د د دوی د بی احتیاطی په سبب کوچنیان مریضان کیږی نو بیا چه دغه کوچنیان د سبق د ویلو قابل سی نو بیا د دوی د علم په حاصلولو کښی هم حرج او تکلیف پیښیږی بیا نو د کوچنیانو په مریضیو کښی یا خپله د بنځو په مریضیو کښی نارینه وُته جلا تکلیف و پریشانی رسیږی حُکه چه په دارو او درمل کښی فقط د نرانو روپی خرڅیږی غرض هر قسم تاوانونه ور سره ترلی دی او زمونږ ګران پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم هم دوا او پرهیز خوښ کړیدی د دی سبب نو لږ بیان د دغسی ضروری شیانو لیکل سوید ی.

دهوا بیان

① پاسنی باد چه د لمر راختو د خواخځه راوالوزی نو خم او کوټل سوی ځای ته تاوان رسوی، وکمزوری انسان ته هم سستی ور پیښوی هغه انسانان چه



د خپیان وی یا کوتل سوی وی یا ئی عملی دواخوړلی وی عملونه ئی کمیږی د دغه باد اوهوا څخه دی ځان وساتی غبرګ او پند کالی دی واغوندی.

(۲) جنوبی هوا او باد یعنی کومه هوا اوباد چه د دکن د خوا څخه راوالوزی ګرم وی مسامات! هغه سوری چه د وریښتانو په بیخونو کښی دی، سسته وی کوم انسانان چه د مریضی څخه نوی راپورته سوی وی دوی دی د دغه باد او هوا څخه ځان ګوری ورنه د مریضی د بیرته راګرزیدو بیره سته.

(۳) په کور کښی هر ځای خټې او یلی مه جوړوی په دی سره هم هوا خرابیږی اود اخیال هم وساتی چه بیت الخلاء، غسل خانه د لوښو د پریولو ځای ټول د خپل د ناستی او ولاړی د ځای څخه ترڅو پورې چه کیدای سی جلا او لیری جوړ کړی. د بعضو بنځو عادت وی چه کوچنیان پربولو یا چکر کښینوی اوتر بولو او چکر ورو سته ئی غټ احتیاط دا وی چه د دغه ځای په خټو سره لکړ کړی دا بالکل د ناپوهئ او تاوان خبره ده اول خو دی جلا ځای ورلره معلوم کړی که هغسی نه کوی نو لږ تر لږه خو دی د وندی وکړی چه کوچنیان دی په یو جلا لوښی کښی کښینوی او بیا دی د دغه لوښی سمدستی پاکوی.

(۴) یو دخت وخت په کور کی خوشبویه شیان دود وی لکه لوبان[۱]، اګر[۲]، کافور[۳] او داسی نور اود و با په موسم کی ګندک[۴] یا لوبان دکور په هره خونه کی دود وئ او بیا دروازه بند وی د دی د پاره چه دغه شیان ښه تاثیر[۵] وکړی

(۵) د بید ید و په وخت کښی خراغ وژنی خصوصاً د خاورو د تیلو (ګاسلیټ) د خراغ په بل پریښو ولو کښی د پر تاوان دی په هوا کښی خشکی (وچوالی) پیدا کوی د ماغ او سترګو ته تاوان رسیږی بعضی وخت نه مرګ او هلاکت هم ځندی پیښ[۶] سویدی.

(۶) په بند ځای او خونه کی چه دود وی هیڅکله مه کښینئ ځکه چه د دا سی ګرمی حاصلونکو انسانانو یو دم ساه بند ه سویده د وندی وخت ئی نه دی پیدا کړی چه دروازه خلاصه کړی د باندی راووزی بلکه هلته مړه پاته سویدی.

---

۱ په موشک کی وی یا داسی بل شی کی وی چه سبز و نه سخت تاوان رسوی ۱۲ منظر ثالث

⑦ دیخ او ژمی په وړځو کښی د یخه څخه ځانونه ساتی که چیری د لمبید و او غسل ضرورت پیښ سی نو تر لمبیدو وروسته دستی وریښتان وچوی که چیری دیو چا طبیعت ډیر خُنک وی نو بیا دی چای وچینی یا دوی تولی شهد (عسل) او پخه تولی دانه سیاه (کلونجی - یو قسم تور تخم دی چه په اچار وکښی لویږی) وخوری دیخ په موسم کی د لمبید و یوه طریقه دا هم ده چه یو واړه سړی پریولی وچ ټی کړی اونور بدن بیا بل وخت پریولی غسل په دا سی طریقه سره هم ادا کیږی.

⑧ لکه څرنګه چه د یخی او سړې هوا څخه ځان ساتل ضروری دی داسی رنګه دګرمی هوا یعنی د باد گرم څخه هم ځانونه وساتی پنډه او غبرګ کالی اغوندی په ګرمی کښی په آمله (آملج) سره سرونه پریمنځی

دخوړلو بیان

① خوړک همیشه تر لوږه کم کوه دا داسی ند بیږدی چه د دی ته بیر په خیال ساتلو سره انسان د سود نو مریضیو څخه ساتلی پاته کیږی.

② د پسرلی په موسم کښی غذا کمه خوره وخت ناوخته روژه نیسه - د پسرلی موسم هغه دی چه یخ پرختمیدو وی او ګرمی شروع کیدونکی وی.

③ دګرمی په موسم کښی خنکی غذاوی استعمالوه لکه بادرنګ، چمبرخیال، تربۍ (شاه توری) او داسی نور او که مناسبه درته معلومه سوه نو یو خنکه د واهم تیاره دسره وساته کوچنیانو او لویانو ته ټی د ضرورت موافق ورکوه لکه شربت نیلوفر، شربت عناب او داسی نور - فالوده هم بنه شی ده دی د خوړلو په وجه د موسمی غلو او میوو څخه ګرمی هم نه پیدا کیږی او یوازی تخم ریحان هم د غه ګټه لری چه د خوړلو سی په د غه موسم کښی ګرمی او خشکی غذاوی لږ خوره لکه د. ارهر (شقاقل) دال پټاټی او داسی نور.



(۴) د مني او خزان په موسم کې د اسې شیان کم خوړه چه د هغو څخه سودا پیدا کیږي لکه تیل بانجن، د غوا غوښې، مسور (نشک) او د اسې نور.

(۵) دیخ اوژمی په ورځو کښې هرڅوک چه قدرت او طاقت لري قوي غذاوي او دوایانې د استعمالوي د دې د پاره چه ټول کال د پیرو انتو نو او مرضونو څخه محفوظه پاته سي لکه نیم پخته هګۍ د نمک سلیمانۍ سره او د زرد کې حلوا، (نیم پخته هګۍ دې ته وایي چه د ننه پوره پخه او کلکه سوې نه وي طریقه یې دا ده چه هګۍ په یو نري پتو کرکښې واچوي په ښو اېشیدلو اوبو کښې یې ۱۰ منټه واړه غوټه کړي یا هګۍ په اېشیدلو اوبو کښې فقط ۳ دقیقې واچوي او بیا یې ۴ دقیقې په یخو اوبو کښې واچوي او د دغه هګۍ فقط ژیړ خوړل په کار دي سپین یې ښه شي نه دي

(۶) تر څو چه زیات ضرورت نه وي د د وا څخه مه عادت کوه په ورو ورو مړینږ کښې د غذا په کمولو سره یاد غذا په بدلولو سره ګذاره کوه.

(۷) د ننۍ سبا په غذا وو کښې د پیره بې ترکیبي راغلې ده چه قسم قسم تاوانونه ځنډي پیدا کیږي نو د دې سبب عُمده (ښې) او خرابې غذاوي ګڼل کیږي.

عمده اوښه خوراکونه دادي

نیم پخته هګۍ، د کوترۍ د چیچیانو غوښې، د سخوندرانو غوښې د بزو غوښې، د پسو غوښې، لوا[۱]، کرک تیتر، چرګان، اکثر ځنګلي او صحرائي مرغان هوسي، د حشي غواګانو او د نورو هغه شیانو غوښې چه بنکار یې کیږي، د ماهۍ غوښې، د غنمو ډوډۍ، انګور، انځیر، انار، سیب، شلغم، پالک، خلفه، شیدي جلبۍ، سره اوپښې، لیکن د سره اوپښو د خوړلو څخه خټه وینه پیدا کیږي.

خرابې غذاوي اوخوراکونه دادي

بانجن، مولی، د لاهی یعنی د سرشف د شنو پانو سبزي او ترکاري، سینګري (چه د مولۍ پر درخته باندې پیدا کیږي)

[۱] یا غوړي ګرم کړه او هګۍ ورواچوه هر وخت چه یې ژیړ سره تکیه سي نو بیا یې وخوره چه دغه نیم پخته هګۍ ده یاد هګۍ ژیړ په شکر کښې واخښه تر اخښلو وروسته یې په جوش شیدو ګډ کړه بس په دې طریقه سره

[۲] لوا د تیتر د قسمه څخه یو مرغه دی ۱۲ | هم هګۍ نیم پخته ګرځي ۲

د زړی غوا غوښی د بطنی غوښی زړدکی، وچی سوی
غوښی، لوبیا، مسور (نشک)، تیل، گوړه، تروشکی، ددی غذاوو د خرابوالی مطلب
دانه دی چه بالکل دی څوک نه خوړی بلکه د مریضی په حال کښی خو دی
بالکل نه خوړی، او د جوړوالی په حال کی دی هم وخیل مزاج او طبیعت ته گوری
لږ څه دی کمی خوړی لیکن د هغوا انسانانو چه مزاج او طبیعت قوی وی او وړه
عادت وی د هغوته هیڅ تاوان نه رسوی. بعضی ځایونه رواج دی چه ولنگی
بنځی ته مختلف قسم غذاوی کله د ماشودان کله د غوا غوښی او ثقیلی ثقیلی
ترکاریانی په زور سره ورکوی دا ډیر بیکاره او بد رواج دی پردغسی
ځایونو باندی د احتیاط کولو دپاره خرابی غذاوی ولیکل سوی.
اوس لږ څه بیان د دغو غذاوو د خاصیت دا هم لیکل کیږی ددی دپاره
چه ښه معلوم سی.

بانجن ګرم او خشک دی غذائیت ډیر پکښی کم دی خرابه وینه پیدا کوی
د مواسیری او سودا وی مزاجه انسانانو دپاره ډیر نقصان رسوی اوکه په
دی کښی غوړی ډیر واچول سی او د سوکې سره وخوړل سی نو لږ څه اصلاح
کیږی. **هولی** ګرمی او خوشکی دی د دوی په پاڼو کښی نوره زیاته گرمی ده۔
سر، حلق او غاښونه ته زیات تاوان رسوی په ډیر وخت سره هضمیږی لیکن د دوی
په وجه سره نوری غذاوی هضم کیږی مواسیری انسانانو ته یوه اندازه گټه
او فایده رسوی مگر گرمی دی لیکن که د دوی سره هغه زیره چه په سوکه کی
خیشته سوی وی گډه سی نو بیائی نقصان کیږی او د توری دپاره مفیدی دی
خصوصا هغه وخت چه د غنه مولی په سوکه کښی واچول سی۔

دلاهی یعنی سرشف سبزی او ترکاری گرم دی د پښتو ګو مریض ته ډیر
تاوان رسوی او د حمل په وخت کښی ئی د خوړلو څخه دکوچنی د مرګید و بیره
ده۔ **سینګری** هم گرم دی **د غوا غوښی**۔ گرمی او خشکی دی۔ کلکه او سخته

وینه حندی پیدا[1] کیږی چه ډیره بده او بیکاره وینه ده او سودا حندی پیدا کیږی د خارش والا وو - مواسیرو والا وو - سودا والا و - د تورې د مریضانو دپاره ډیره ښه ده او سودایي مزاجه والا وو د پاره تاوان رسوی - که د غواړو غوښو د پخیدو په وخت کښې د څټکی خوړ یعنی پوستوکی او تورې مرچ وړسره واچول سی نو نقصان نې کمیږی لیکن د کار بیګړو انسانانو د پاره زیات تاوان نه کوی بلکه د بزی تر غوښو انسان تاره[2] کوی او پښوی لیکن په مریضی کښې پرهیز حندی کول ضرور دی. د بطای غوښې ګرمی او خشکی دی په ډیر وخت سره هضمیږی مګر که پودینه (نانا) ورواچول سی بیائ ضرر او نقصان کمیږی او د دریابی بطای غوښې دوندی تاوان نه لری لکه څوندی چه د کورنۍ بطای غوښې ضرر او تاوان لری.

زړدک که ګرمه ده او تره ده په ډیر وخت سره هضمیږی مګر تبخیر[3] خنوی او فرحت او خوشحالی انسان ته ورکوی د دی سبب خلګ و دې ته خنګه وایي که چیرې په غوښو کې پخه سی نو بیائ ضرر کمیږی مربته (مربا) ئ عمده اوښه شی دی رحم ته طاقت ورکوی او حملدار ی بنځې دی د زړدکو د خورلو څخه ډیر احتیاط وکړی حکه چه په خوړلو سره ئ وینه جاری کیږی.

لوبیا ګرمه او تره ده په ډیر وخت سره هضمیږی په خوړلو سره ئ بیکاره اوبی ربطه خو بو نه لیدل کیږی سړکه او دار چینی (اد وه) که ورسره ګډ سی نو بیائ ضرر کمیږی لیکن حملدار ه بنځې دی هیڅکله نه خوری. مسور (نشک) خشک دی دا د مواسیرو انسانانو د پاره تاوان او ضرر رسوی د چا چه د معدی کمزورې وی یا سودائ مزاجه وی هغه ته ضرر رسوی که چیرې ډیر غوړی ورواچول سی یا سړکه په ګډه سی نو بیائ ضرر یوخه کمیږی. تیل ګرم دی سودا پیدا کوی او سودائ مریضیو ته تاوان رسوی که خونکی ترکاریانی ورسره ګډې سی یوخه اصلاح کیږی. گوره[4] ګرمه ده سودا ډیره پیدا کوی - ترڅو[5] شکی زیاته خورل

---

[1] دلوی غوایه غوښو [2] بکنی دی او د مسخو نه تر [3] معدی، عقل او ذهن [4] څخه [5] مینده ده او مزه دار ده [6] معدی یو قسم ناجوړی ده [7] حندی پیدا کیږی [8] ضرر دنانو [9] ده [10] تاوان رسوی او ساتنه [11] ده [12] معدی

اعصابو (پلو) ته ضرر رسوی انسان ژر سپین ږیری کوی ښځې دې تر وشکی څخه پیر احتیاط کوی د حمل، څلویښتی او نر کام په حال کې ډیر احتیاط ځنډی کول لازم دی که د تر وشکی ماړه خوږ شی ګډ کړل سی نو ضرر ئې کمیږی.

(۸) بعضی غذاوی داسی دی که ئې جلا جلا وخوړی نو هیڅ تاوان نه لری لیکن که یو ځای ماړه وخوړل سی بیا ضرر رسوی یعنی تر خو پوری چه د دوی څخه یو شی په معده کښی وی بل شی مه خوره په اکثره طبیعتو نو کښی د درو ساعتو دخت درکول کافی وی حکیمانو ویلی دی چه د شید و سره تر وشکی مه خوره دغه رنګه تر شید و چښلو وروسته پان مه خوره ځکه چه په دغه سره د شید و او به په معده کښی جلا کیږی ماهی او شیدی یو ځای مه خوره ځکه چه په یو ځای خوړلو سره ئې د ابلیج او جذام د پیدا کید و بیره ده. د شید و او ورجو سره شتو مه خوره. په غوړو پسی ژړا و به مه چښه تیل یا غوړی په بې قلعې لوښی کښی مه ایږده. داسی غذا چه سره سوی وی. او رنګ ئې بدل سوی وی مه خوره چه د خاورو په لوښی کښی شی پوخ سوی وی دغه ښه خورک دی په امرود (امرتو) بادرنګو، چمبرخیالو، هندوانو مه خوره.

(۹) غذا ډیره ګرمه مه خوره دګرمی غذا تر خوړلو وروسته د یخو اوبو په چښلو سره وغاښونه دیر ضرر رسیږی.

(۱۰) زیږه او غټ اوهلکه ترمیده اوړه ښه دی ګوله باید ښه وژړول سی او وروسته ژر ژر خوړل په کار ده دکرار خوړلو څخه په هاضمه کی خرابی پیدا کیږی.

(۱۱) د ډیری لوږی په حال کښی مه بیدیږه او مه تر ډوډی خوړلو وروسته دستی بیدیږه لږ تر لږه چه دوه ساعته تیرسی او طبیعت دی سپکوالی راوړی نو بیا بیدیږه.

---

۴ طریقه سره نه سی اجرا کولای بیا نو خامخا د هضم پر نظام کی خرابی راځی او د معدی لمحه خپله وظیفه پاتیږی ۱۲

(۱۲) تر څو پورې چه د وډې هضمه سوی نه وی نو ورته مه پسې خوړه هروخت چه لږ تر لږه دوه ساعته تیر سی او طبیعت دی سپک سی نو بیا د وډی خوړل پروا نه لري.

(۱) که یو وخت قبض در پیښ سی نو تدبیر ئې ضرور وکړه تر هغو اسانه تدبیر دا دی چه د وډی مه خوړه یو یا دوه وخته فقط یو څه غوړه ښوروا وچیښه که په دی سره د نفعه نه سی نو د بازار څخه نه ماشی حب القرطم، دوه نیمۍ تولی ولایتی نمر راوغواړه په نیم پاؤ اوبو کښې جوش ورکړه او دوۍ تولی شهد ورسره گډ کړه وڅښه په دی دواکښې هذا بیٹ هم سته.

(۲) که غټې بولی تر عادت زیاتی نرمی وی نو د بندیدو تدبیر ئې وکړه غوړه کم خوړه کباب سوی غوښه خوړه او که دی عملونه شروع سی یا دی قبض تر اندازه زیات سی نو بیا حکیم او طبیب (ډاکټر) ته ورسه.

(۳) تر وډی خوړلو وروسته دستی غټو بولوته مه ځه لیکن که چیری چاره نه وی بیا پروا نه لري.

(۴) دوهی یا غټې بولی چه درسی نو بیا هیڅکله ځنډ مه پکښې کوه حکه چه په ځنډ ولو سره ئې قسم قسم مریضی پیدا کیږی.

داوبو بیان

(۱) د خوب څخه چه راپورته سی فوراً اوبه مه چیښه او مه سمدستی وهوا ته راوزه که چیری ډیره تنده وی نو بنه تدبیر دادی چه پزه بنده کړی په یوه یوه غوړپ سره اوبه وچیښی او تر اوبو چښلو وروسته پزه تر یوگړی پورې بنده وساتی او ساه تر پزه نه کاږی بلکه ساه دخولی دلارې اخلی - داغه رنگه په گړی کښې تر مزل کولو وروسته دستی اوبه مه چیښه خصوصًا چه څوک گرمی وهلی وی هغه که سمدستی ډیری اوبه وچیښی نو بس داغه وخت مری داغه رنگه سهار په نهاره اوبه چښل نه دی په کار او نه تر غټو بولو کولو وروسته سم دستی اوبه چښل په کار دی.

(۲) تر څو پورې چه کیدای سی اوبه د اسی څاڅخه چیښه چه ډیر شور وی اود اوبود راکښلو سلسله ئې جاری وی تر وی او گرمی اوبه مه چیښه د باران اوبه

تربتولو بنی دی مگرد چا چه توخ یا سابندی وی هغه دی د باران او به نه چیبنی په بعضو بعضو او بوکنی تیل غوندی معلومیږی نو د غه او به پیری بدی او به دی که د خرابو او بو څخه بنی او به جوړ وی نو د غه خرابی او به دوندی جوش کړه چه یو سیرلۍ پر دری پاو ه و د سیږی بیائی سړی او یخی کړه او تر چپلو وروسته ئی وچیبنه.

(۳) منګیان هروخت داسی ساته چه سرونه ئی پټ وی بلکه د چپلو د لوبنی پر خوله باندی یو باریک پتوکر تړه د پاره د دی چه چپل سوی او به وچښی.

(۴) داوږه و پښتورګوته ضرر سوی خصوصًا بنځی دی په دغه ځان نه عادت کوی چه داوږه خوړل د ځان عادت وګرزوی د دی څخه بهتر اوښه د شوری او به دی.

(۵) د خوړلو او چپلو په وخت کښی هیڅکله مه خانده چه د دی څخه کله کاه مرګ پیښیږی.

د آرام او محنت بیان

(۱) مه دوندی آرام او استراحت کوه چه بدن دی و پرسیږی او سستی در باندی و غوړیږی هروخت پر پلنګ او چارپایی پروت ئی د کور کار او کسب ونورو ته ور سپاری ځکه چه د ډیر استراحت څخه د خپل کور په کار کی هم نقصان راځی او بعضی مریضی هم پیدا کیږی او مه دوندی محنت او کار کوه چه مریض سی بلکه د خپلو لاسو او پښو او د ټول بدن څخه د میانه کار اخیستل ضروری دی. د دی طریقی دا دی چه هر یو کار په داسی طریقه سره کوه چه د لاسو او پښو حرکت کی وی د سستی عادت پریږده په کور کښی لږ ګړی ضرور حرکت او تګ اوراتګ کوه د سړی څلور واړه کله چیری بی ستری نه وی بام ته خیژه اوراکښته کیږه په څرخی او میچن لږ ډیر ضرور ځان مشغوله کوه موږ دانه د رته وایو چه ته په دغه کار سره پیسی وګټه اول خو پیسی ګټل

برقرارہ سائل خو ضروری ئی دی

او په دغه کار کولو سره صحت
برقرارہ پاته کیږی وگورہ کومی بنځی چه کار کوی کوټل او میدیدل کوی څرنگه
قوی اوتازه وی اوکومی بنځی چه استراحت طلبه دی نو ټول عمرئ دد وا پیاله
وخولی ته نیولی وی و د غسی محنت او کار نه ریاضت وایی د ډوډی خوړلو وروسته
تر څو چه دری ساعته نه وی تیر سوی ریاضت او کار کول مناسب نه دی اوهر
وخت چه لږ لږ خوله پر بدن راسی یا ساه لنډه لنډه کیږی نو دریاضت
او کار پریښودل په کار دی.

(۲) دکوچنیانو د پاره ټالول اوپه ځانگو کی ځنگول ښه ریاضت (ورزش) دی.

(۳) سهار وختی دراپورته کیدو سره عادت و نیسه بلکه همت او غیرت وکړه چه
د تهجد لمانځه ته راپورته سی ځکه چه په دی عمل سره صحت ښه ثابته پاته
کیږی.

(۴) غرمه بیله ضرورته مه بیدیږه اوکه یوځه ستړیا یادخوب غلبه وی نو بیا بیله خبره ده

(۵) د دماغ څخه هم څه کار اخستل ضروری دی که چیری بالکل کار نه کوندی
واخستل سی نو په دماغ کښی رطوبت زیاتیږی انسان بی عقل کیږی او چه تر
اندازی زیات زور پر دماغ واچول سی هروخت په فکر او چوړت کښی او سیږی بیا
نو خشکی او کمزوری پکښی پیدا کیږی د دی د پاره د دماغ څخه په اندازه سره
محنت اخیستل مناسب دی د سبق ویلو او بلته د ویلو مشغله کوه قرآن مجید وایه
اوکتاب مطالعه کوه په باریکو خبرو کښی فکر کوه مه د وندی غضب او غصه کوه
چه د خپله حاله وورځی او مه د وندی برد باری کوه چه هیڅ ته هم څه نه
وایی مه د وندی خوشحالی کوه چه د الله جل شانه بی نیازی او قدرت دی هیر
سی ځکه چه الله پاک یکدم که وغواړی ستا خوشحالی به په خاورو درولړی

مه دوندی خفگان او غم کوه چه د خدای رحمت دی بالکل هیر سی او دغه غم دی غم
وگرزی که یو زیاته صدمه در ورسیږی نو خپل فکر وبلی[۱] خوانته اړوه په یوکار
خان اخته کوه د دغو پتولو خبرو څخه د مریضی بلکه د هلاکت بیره ده که یو
چاته د پیری خو شحالی خبره کوی او هغه د زړه کمزوری وی نو یکدم ئی مه
ورته کوه اول پوښتنه کندی وکړه چه که چیری ستاد هغه کار وسی نو به څرنگه
وی بیا ورته ووایه چه گوره زه کوشش کوم شاید وسی او امید سته چه وسی
بیا په داغه وخت کښی د[۲] ځلور[۳] ساعته وروسته ورته ووایه چه ستاد غه
کار وسو داغه رنگه د غم خبره یکدم مه ورته کوه که یو چاته دیو چاد مرگ
خبره کوی نو داسی ورته ووایه چه فلانی سړی مریض و و حال ئی بدل وو او مرگ
د پتولو د پاره دی یو وخت خامخا راتلونکی دی په حکم الهی سره هغه وفات وکړی
فائده:- د مریض په حال کښی او بل چه په نس کی کوچنی[۴] ژوند وکړی نو
د خاوند سره یو ځای بید بدل تاوان کوی

په علاج کښی د دی خبرو خیال ساتل ضروری دی

① په دوه اوکوچنی مریضی کښی دوا کول باید و نه سی په خوړلو، چیښلو او
گرزیدلو او هوا بدلولو سره ئی تدبیر کول په کار دی مثلاً د گرمی هوا څخه پرمخ
در د سی نو سړی هوا ته کښینه یا د پدی خوړلو څخه نس پیر در وند سی
نو یو یا دوه وخته د پدی مه خوره یا د خوب د لږ والی د وجهی څخه پرسر در د
سی نو بیده سه یا د پیر خوب څخه سستی پیدا سی نو لږ بیده سه یا د دماغ
څخه پیر کار واخستل سی د ماغ ته خشکی ورورسیږی نو د ماغی محنت کم کړه
د ماغ ته آرام او فرصت ورکړه که په دی تدبیرونو سره کار و نه سو نو بیا دوا وکړه.

۱۵

(۲) مرض که هرڅوندی سخت وی بیریزه مه حکه چه دبیری په صورت کښی د علاج انتظام خرابیږی په ښه اطمنان او استقلال سره علاج وکړه.

(۳) د عملی دوا، قی وهونکی دوا اورگ خلاصولو ځان مه عادتی کوه یعنی بیله سخت ضرورته هرکال جلاپ مه کوه اوکه د جلاپی او عملی دوا عادتی سی نو دپرینبودلو چاره ئی داده چه هروخت د جلاپو موسم را نژدی سی نو غذا کمه کړه ریاضت ډیر کوه یو داسی دوا خوړه چه قبض پاته نه سی د حاجت کولو په وخت کی په آسانی سره حاجت ترسره کیږی لکه د هریړی مربا یا گلقند یا جوارش مصطگی او داسی نور بیا که د جلاپو په ورځو کی په طبیعت کښی یو څه درد والی هم پاته سی نو هیڅ پروائی مه کوه او جلاپو ته ځنډ ورکړه په دغسی طریقه سره عادت پاته کیږی.

(۴) بیله سخته ضرورته ډیری تیزی او زوروری دوایانی مه خوړه په دغسی دوایانو کی داتاوان دی که چیری د مرض سره برابری نه سی نو پوره تاوان کوی خصوصاً د کشته[۵] جاتو څخه ډیر ځان ساته حکه چه دا هروخت ضرر رسوی. نو ضرر ئی ټول عمر نه ورکیږی لیکن د[۶] رنگ او مرجان کشته ډیره سپکه وی په دی کښی چندانی بیره نسته. همرتال، سم الفار او د زهرلرونکو دوایانو کشتی مه استعمالوه حرامی او نجسی دواوی مه خوړه او[۷] مه لگوه.

(۵) هروخت چه یو دوا ډیره زمانه خوړی نو کله کله ئی بیوه یا دوی ورځی ناغه کوه یا دی پرځای بله دوا خوړه حکه چه دهری دواسره عادت وینبول سی د هغی دوا اثر خمیږی.

(۶) ترڅو چه په غذا سره کار کیږی دوا مه اختیاروه مثلاً ترمسهل (جلاپی شی) وروسته د طاقت د پاره د ځوانانو د پاره[۸] یخنی کافی ده او ښه کار کوی دوی د پاره د مشک او عنبر ضرورت نسته مگر زور انسان یخنی قبض کوی او د هضم لود پاره ئی هم طاقت په کار دی د داسی چاد پاره یو معجون یا بل شی جوړول ډیر مناسب دی.

(۷) دوا په ډیر احتیاط سره په صحیح طریقه سره تول کړه او د نسخی موافق ئی جوړه کړه

۱۰۵۵

د خپلې طرفې څخه ئې په خپل اټکل مه جوړوه.

(۸) دوا اول حکیم ته وربښکاره کړه که چیرې خرابه وي نو بدله ئې کړه.

(۹) زړه، اینه، دماغ، سږی، سترګې او داسې نور چې نازک شیان دي د دوي د پاره داسې دوا وي مه استعمالوه چې په پیري تیزي وي یا په پیري خنکي وي یا په پیري تحلیل کونکي وي یا په پیري زهرناکه وي مګر هر هغه وخت چې سخت ضرورت وي ناچاري وي مثلاً پر اینه اکاس بیل مه ایږده په ټوخ کښې د سنکهیا کشته مه خوړه په سترګو کې خالص کافور مه لګوه بلکه ترڅو پورې چې په سترګو کښې د د باندې د د دوا څخه کار اخیستل کیږي د ننه دوا مه لګوه.

(۱۰) علاج همیشه د دا سې طبیب څخه کوه چې د حکمت علم وربرې وي تجربه کار هم وي علاج په غور او تحقیق سره کوي بې فکره او بې چوره نسخې نه لیکي په عملي شي ور کولو کښې تلوار نه کوي د طبیب د مشهورتیا په وجه د وکه مه خوړه.

(۱۱) په مریضي کښې پرهیز تر دوا ضروري بولې په جوړوالي کښې هیڅکله پرهیز مه کوه د فصل د شیانو څخه چې دي هر شي ته زړه غواړي په شوق سره ئې خوړه. مګر دا خیال ساته چې ډیر مه خوړه او که په لس کښې درونده والي محصوس کړي نو پرځان لوږه راوله.

(۱۲) د عسې خو د هري مریضي ي علاج کول ضروري دي لیکن خصوصاً د د غو مریضیو په علاج کښې هیڅ کله غفلت مه کوه او د کوچنیانو د پاره خو بیا نور زیات خیال کوه زکام، ټوخ، سترګې خوږیدل، د پښتې درد، بد هضمي، بار بار چکر کول، پیچش وروسته تبه کیدل، دحیض کمي یا ډیر والي، تبه چې هر وخت وي، یا تر دوړې دوا خوړل، زړه غوړیدل، پر سر چکر راتلل، بدن ځای پر ځای ریږدیدل، او

مور حیدل، د ټول بدن بید یدل، ډیر وبزی کیدل، اشتها ختمیدل، خوب تر اندازه زیات ډیریدل یا ډیر کمیدل، خوله ډیره را تللی یا بالکل خوله نه را تللی یا یوشی دخپل عادت مخالفه پیدا سی نو پوه سه چه مریضی راځی ژر تر ژره حکیم خبر کړه د خپلی مریضی چاره ګوره په غذا او بل شی کی بی ترکیبی مه کوه.

(۱۳) د طبیب ته د نبض ښکاره کولو په وخت کښی د دې خبرو خیال وساته چه د نبض د ښکاره کولو په وخت کښی به لس نه ډکوی نه به ډیر خالی وی چه بی تابه ئ پر طبیعت به ډیر غم نه وی او نه به ډیره خوشحالی وی د خوب څخه تر را پورته کیدو ورو سته دستی به هم نه وی نه به تر ډیری ناستی ورو سته وی. نه به د یو محنت او تکلیف دکار کولو ورو سته وی نه به تر ډیر مزل کولو ورو سته وی.

د نبض ښکاره کولو په وخت کښی چار زانو کښینه یا پر چارپائی کښینه پښی لاندی وځړوه پریږده اړخ ډیر زور کول او کښینستل مه کوه مه داسی کښینه چه پرلاس دی تکیه کړی وی څنګ هم مه اچوه دکوم لاس نبض چه وړ ښکاره کیږی په هغه لاس کښی شی مه نیسه مه لاس ډیر سپیده کوه او مه ئ ډیر پیچه. بلکه بازو د پښتیو سره د مښلوه سست او ډیله ئ پریږده د ساه مه بندوه د خپل طبیب څخه مه بیریږه په دی سره په نبض کښی ډیر فرق راځی که په پروتی سره نبض ورښکاره کوی نو پر اړخ مه پریږده د شاپو تخته (ستونی ستخ) پریږده.

(۱۴) د قارورې ئ په اینبو ولوکښی د دې خبرو خیال وساته چه قارورې ته په داسی وخت کښی واخستل سی چه انسان د عادت موافق د خوب څخه را پورته سوی وی هیڅ شی ئ خوړلی چیښلی نه وی د شنو ترکاریو د خوړلو په وجه په قارورې کښی شین والی راځی د زعفران او املتاس (پولوس) په وجه ژړه والی پکښی راځی.

او د نکرځو ګولو په سبب سره سور والی پکښی راځی د روژی نیولو، د خوب نه راتللو، د ډیری ستړیا، د ډیری لوبی او تر ډیره پورې د بولو نه کولو او منعه کولو په سبب په قارورې کښی ژړه والی یا سور والی راځی. او کله تر ډیره وخته پورې د وینو والی څخه د قارورې رنګ سپینیږی د ډیرو اوبو چښلو څخه ئ رنګ.

سپکیږی تر عملونو وروسته قاروړه قابل د اعتبار نه پاته کیږی.
د غذا خوړلو څخه دوولس ساعته وروسته چه کومه قاروړه وی هغه
دپورې اعتبار قابله ده هر وخت چه سهار وطبیب ته قاروړه وړ بنکاره کوی
نو ما بنام ډیره ډوډی مه خوړه.
چه بنځه په خلویښتی کښی وی ډډی قاروړه قابل د اعتبار نه ده. که
قاروړه شپږ ساعته ایښو ولی پاته سی بیا د بنکاره کولو قابله نه ده او بعضی
قاروړی تر شپږ ساعته هم مخکی خرابیږی غرض چه هر وخت ئې وبینی
چه په رنګ او بوی کښی ئې فرق راغلی دی نو بیا وطبیب ته د وړ بنکاره کولو
قابله نه ده.
(۱۵) څرګ ژړ طبیب مه بدلوه حکیم او طبیب خوشحاله ساته دده خلاف مه
کوه که دی چیرې د ده د دواسره فایده نه وی سوی الزام او ملامتیا مه
پروایه کوه پیسی چه دی ورکړی دی د هغه احسان مه پرا چوه.
(۱۶) پر مریض سختی مه کوه د مریض پر سخت طبیعت صبر کوه د ده
په مخکی یو داسی سخته او بیکاره خبره مه کوه
چه د ده ته ناامیدی ودریږی
که هر څوند ی د ده حال
خراب وی مګر
د ده ته تسلی ور
کوه.

۴ د قاروړی
لوښی وی په بالکل صاف وی او مریض به یا بالکل
وی اوکمه ئې پیم سینښه کښی وینکلی
کوی نو ښه ښکاره به بالکل صاف وی
نقل ثالثی۔

۱۲ چیرې د
مریض ز ده
څوک وی نو بیا

۱۳ خپله مریضی شکوه
خود مریضی بر داشتا
ی اود مریضی موجود دی اوکیږی
پکښی مریض زړه کمزوری وی نو
د مریض ژړا ورځ ډیره
وړځ ډیره کولو سره ښت دادی چه د ده
د څوی کولو سره

۱۴ معمولی اوسیکه
مریضی
وړ نه ښکاره کوی
وړ نه بیا نو ده اوډا
ی اود مریضی څخه قسمی وړ نه ښکاره
وی داهم لوی
علاج دی

د بعضو طبی اصطلاحاتو بیان کیږی

په نسخو کی بعضی اصطلاحی الفاظ لیکل کیږی د بعضو علاجونو خاص خاص نومونه دی۔ دغه د لته مختصرا لیکل کیږی۔ داد نظر ثالث اضافه ده ۱۲

مدرالبول ۔ بولی جاری کونکی دوا
مدرحیض ۔ حیض جاری کونکی دوا
مدرلبن ۔ شیدی جاری کونکی دوا
مفتت حصاة ۔ د مثانی د ډبری ماتونکی دوا
مقیء ۔ قی راوستونکی دوا
ملین ۔ لږ عمل کونکی دوا
آبزن ۔ په خالص اوبو کی یا په اوبو کښی یوشی اودوا پخول بیا پکښی کښینستل۔
منفج ۔ هغه دوا ده چه د مادی د خارجولو د پاره ئی جوړه کړی۔ مسهل ۔ عمل کونکی دوا۔
انکباب ۔ بهیر راکول یعنی تویښ نه ځان پټول چه بیان به ئی ورسته راسی انشاء الله۔
بخور ۔ دوا دود دول دود ئی ځان ته کشول یو وخت د سر ته د نښه دیود وا دود د سر مقصد وی نو طریقه ئی داده چه دوا پر اور واچول سی او یو سوراخ دار کاغذ خورین پردغه اور کښینو ول سی او بنځه پردغه سوراخ کښینی۔
پاشویه ۔ مدد وا او به پر پښو دار کول او تویول د دی پوره بیان د تبی په بیان کی ذکر سوید ی۔
تبرید ۔ خونکه دوا ورکول تر عملی شی ورو سته چه کومه دوا ورکول کیږی هغه ته د دی سبب ته تبرید وایی چه دا دوا اکثره خنکه وی او د عملی د واد نقصانونو د لیری کولو د پاره ورکول کیږی حکه چه د عملی د واځنځه کولو او دامی نور و شیانو ته څه ناڅه تاوان ضرور رسیږی په ابلیج اودامی نور و امراضو کښی چه خنک امراض وی کله کله تبرید معتدل بلکه گرم هم ورکول کیږی۔
حقنه، احتقان ۔ د خټو بولو د ځای ځنځ په ذریعه د پیچکاری د واد ننه رسول۔
حمول ۔ په رحم کښی د وا اینبوول۔
فرزجه ۔ د دی هم د غه معنی ده۔
قطور ۔ په غوږ یا بل ځای کښی د واڅاڅکی کول
لخلخه، تر شی سون کول د دی طریقه هم د تبی په بیان کښی ذکر سویده۔
نطول ۔ تویول د دی طریقه داده چه په کومو وایانو سره دی پر بدن تویول غرض وی د وی په اوبو کښی پخی کړه هر وخت چه نیم گرمی سی نو د یوی لویشتی په اندازه د لوړی ځنځه د غه اوبه پر بدن تویی کړه
هدمل ۔ زخم ډکونکی دوا۔

دتول اوتللو اندازی اومقدارونه

اته[۸] درجی:	یوه رتی	درهم ۱	دری نیمی ۳½ ماشی
اته[۸] رتی:	یوه ماشه	دانگ ۱	پاوکم څلور رتی
دوولس[۱۲] ماشې:	یوه تولـه	رطل:	څلور[۳۴] دیرش تولی اوځلو نیمی ۴½ ماشې
پنځه[۵] تولې:	یوچټانگ	مثقال:	څلور نیمی ۴½ ماشې.
شپاړس[۱۶] چټانگه:	یوسیر	دام پخته	شل (۲۰) ماشې.
پنځه[۵] سیره:	یوه دسری		
څلویښت سیره:	یومن.		

انگریزی اندازی اومقدارونه

گرین =	نیمه رتی	اونس =	اته[۸] درامه یا دوه نیمی تولی	پونډ =	۱۶ اونسه یا نیم سیر
ډرام =	دیرش رتی				

اوزان شرعیه

اوزان فقهیه	اوزان مروجه پاکستان وهندوستان	اوزان فقهیه	اوزان مروجه پاکستان وهندوستان
طسوج	تقریبًا پاوکم رتی	استار	په حساب د درهم یوه توله
قیراط	تقریبًا پاوکمی دوی رتی		اته[۸] ماشې او ½ ۳ رتی
دانق یا دانگ	تقریبًا اووه رتی		په حساب د مثقال یوه توله
درهم	دری ماشی یوه رتی اودیوی رتی پنځمه حصه		اته ماشی اودوی رتی
مثقال	څلور ماشی څلور رتی	اوقیه	لس نیمی تولی.
رطل	څلور دیرش تولی او یوه نیمه ماشه	صاع	په حساب د درهم دوه سوه (۲۷۰) اویا تولی. اوپه حساب د مثقال (۲۷۳) تولی
مُد	اته شپیته تولی اودری ماشې	نصف صاع	په حساب د درهم یوسل اوپنځه دیرش تولی.
مَن	اته شپیته تولی او دری ماشې.		په حساب د مثقال یوسل شپږ دیرش تولی اوشپږ ماشی.

اوزان فقهیه	اوزان مروجه پاکستان وهندوستان
وسق	په حساب د درهم پنځه منه اوده نیم سیره په حساب د مثقال پنځه منه اویا وکم پنځه سیره دا تیا نو لو دسیر په حساب

دبعضو مریضیو سپک سپک علاجونه

ددی علاجونو دلیکلو څخه دا مقصد نه دی چه هرسړی دی طبیب جوړ سی بلکه دوندی موځندی غرض دی چه سپک سپک معمولی شکایتونه کهپله مورا و پلار یا د دوی اولاد وته ورپیښ سی او طبیب لیږی وی نو په داسی وخت کښی لکه چه دا کثرو بنځو عادت دی چه د سستی د وجهی څخه نه حکیم خبروی اود ناخبر تیاد وجهی څخه کهپله هم یو تدبیر نسی کولای اخیر دغه مرض د غسی پسی ډیریږی او مشکلات زیاتیږی نو د غسی موقع د پاره به وښځوته څه خبرتیا حاصله سی چه د غه خبرتیا به ودوی ته کار ورکړی. دډ(۲)هم داچه دبعضو مریضیو پرهیز اود بعضو مریضیو څخه د ځان ساتلو طریقی ورمعلومیږی - نو د خپل ځان او د خپلو کو چنیانو حفاظت کولای سی. دډ(۳)یم داچه د بعضو دوایانو جوړول اود طبیب د ورښودل سوی علاج داستعمال طریقه او د مریض خدمت کول او د مریض ته داسټراحت رسولو طریقه ئې زده کیږی. ددی سببه لږ لږ علاجونه لیکل سویدی او په دی علاجونو او حکمت کښی د دی خبرو خیال ساتل سویدی چه څوندی کیدی سوه آسانه تدبیرونه لیکل سویدی او دارنګه لیکل سویدی چه که بنځی ډیره لږ پوهنه ولری هم په پوهیږی او هغه مریضی لیکل سویدی چه اکثره پیښیږی اود اسی دوایانی لیکل سویدی چه په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی او که یو ځای ګرانه او قیمتی نسخه لیکل سوی وی نو ورسره ورسره ارزانه نسخه هم لیکل سوی ده چه په فایده کښی د قیمتی نسخی ته ورنږدی ده. لیکن که په یو خبره ته پوهیږی یا یو مرض بنه نه پیژنی یا دروند او لوی مرض وی نو هیڅ کله دوا کهپله مه ورکوه طبیب خبرکړه که طبیب لیږی وی یا طبیب ندرانه او یوشی غواړی یا دوا قیمتی وی او خدای تعالی تاته قدرت درکړی وی نو د پیسو مصرف وهیڅ پروامه کوه ترڅو ځان او روح مال او پیسه ډیره نه ده او که بالکل قدرت نه لری

نو خدای ته وزاړه دعا وکړه. د خدای جل جلاله لوی قدرت دی پر هیڅ دوا او دارو مخصر نه دی په دوا مړه فقط نفس ته یوځه اطمنان حاصل یږی.

دوا او دوا کول

دوا پیدا کوونکی خو یوازی الله دی لیکن هغه عالم دی چه دوا ته تاثیر کولای نه وی یا دوا ته تاثیر کولای وی خو پاک الله منظور نه وی نو دوا تاثیر نه کوی یا دوا کښی تاثیر پیدا کوونکی الله جل جلاله وی خو

مشغاوړ کونکی او خپله په دواکښی تاثیر ایښو ونکی داغه لوی ذات دی که چیری دغه ذات و نه غواړی نو په دواسره هم نه جوړیږی او که چیری وغواړی نو بیله دوا هم جوړیږی لکه چه دغه دواړی خبری شپه او ورځ موږ وینو.

اوس د مریضیو نو مونه او د دوی دوایانی لیکل کیږی او د اخبره یاد وساته



چه ته کومه دوا د بازار څخه راغواړی نو لکه څرنګه چه په کتاب کښی ددی نوم لیکل سویدی داغه قسم ئی په ښه صاف خط خپله یا په بل چا ولیکه بازار ته ئی ولیږه پس نو پنسار ی ئی دغه موافق درکوی.

دسر مرضونه

فی سارې ری ۱ د امریضی د سر قسمونه دی او د هر یوی علاج جلا دی مګر دلته دامی دوایانی لیکل کیږی چه د سر درد په هر قسم نوکښی فایده ورکوی او هیڅ قسم تاوان او ضرر نه کوی **دوا** د ری ماشې بنفشه د ری ماشې ګل چکن د ری ماشی ګل نیلوفر په اوبو کښی میده کړه (وزدویه) وروسته تر دغه بیا دغنی دواته پرتندی ضماد ورکړه ضماد وکړو لوته وایی یعنی په دغه دواسره تندی ککړ کړه **دوهمه نسخه** د شفتالو د مندکی مغز په اوبو کښی ومښه او د (۳) ری ماشې د کاهو تخم جلا ومښه او میده ئی کړه په دامی حال کښی چه د چ وی بیا دواړه سره ګډ کړه پرتندی او کونکانو په دغی دواسره ضماد وکړه او د پرښه تاثیر کوی او که یخ وی نو د ری ماشی کباب چینی (کباب سینی) میده کړه ورسره ګډ ئی کړه. **دریمه نسخه** چه د سر درد هر قسم درد د پاره فایده لری که نوی درد وی یا زوړ وی. د مادی څخه وی یا بیله مادی وی رسوت (حضض) د خطمی ګل، ګل بابونه، بنفشه، صندل سرخ، صندل سفید، ټول د ری د ری ماشی، ګل بابونه یوه ماشه، پوست یوه ماشه، املتاس (پولوس) یوه تولـه، د هرمکو (شنی انګور توری) په اوبو کښی میده کړه بیا نو تندی لره ضماد په ورکړه.

د دماغ کمزوری او ضعف ۱ که مزاج گرم وی نو خمیرهٔ گاوزبان دی وخوری او که مزاج خنک وی نو خمیرهٔ بادام دی وخوری دی د واړه خمیرونو جوړیدو طریقه د ټولو مریضیو تر څنګ لیکل سویده هلته وګورهٔ نوری اوږدی او بږدی نسخی ټولی هلته ورسره لیکل سویدی چه د دغی نسخو نومونه راځی دوندی قدر ورسره لیکل کیږی چه په خاتمه کښی وګورهٔ نوته د خاتمی څخه دغه مطلب داخله.

دستر گو مرضونه

ابتدارهٔ (هندارهٔ) یا بریښید ونکی شی د لمر و مخ ته نیول بیائی عکس پر ستر گو برابر ول

ستر گو ته ډیر تاوان رسوی دا رنګه هیڅکله مه کوه حُکه چه په دغه عمل سره
کله کله یکدم د ستر گو دید خټیږی **اولدوا** ډاسی دوا چه په دی سره ستر گی ډیرو
مرمنو څخه ساتل کیږی او دید ئی قوی کیږی دا نار شیرین او انار ترش دا نی
اود دانو په مابین کی پردی اونرم پوستونه او دانار په مابین کی نور پنډ
پوستونه اوشیان پتول سره هیده کړی او تر داسی پتوکر ئی وچنی چه څو وار غبرګ
سوی دی نو کوم عرق چه وزی تر دغه پتوکر و دغه ته آب انار والي دغه عرق
یو نیم چټانګ اویو چټانګ شهد ورسره ګډ کړه د خاوری یاد ډبری په لوښی
کی ئی پرسپک اور پاخه کړه او څګ ئی څنډی غورځوه تر داسی حده چه نرموالی
ئی ولاړ سی د سخټید و د حال ته نژدی سی بیا ئی په سیښه کی په احتیاط سره
واچوه او یو یو سلایي په خپلو ستر گو اود کو چنیانو په ستر گو پوری لګوه
انشاءالله د ستر گو د اکثره مریضیو څخه به حفاظت راسی او په دید کښی
به ئی هم کمزوری نه راځی. **دوهمه دوا**:- چه داهم ستر گی د اکثره مرضونو
څخه سالم ساتی تازه آملې راواخله دئی کوټه اوبه ئی و باسه او وئی چوپه بیائی د اوسپنی
په لوښی کښي پخی کړه تر داسی حده چه سختی او کلکی سی بیا ئی په یو سیښه کی
په احتیاط سره کښیږده او یو یو سلایي لګوه. **مرګرا**:- یعنی هغه دوا چه په ډیرو
مښوولو سره تیاریږی او د زائدالشعر او داغه سرنګه د جږ مواو بانو ګانو د دانو
خارش، پندوالی (پارسوپ) او د ستر ګو د سور والی د پاره فایده لری. سفیده جست
د دی پتولی، سمندر جهاګ، د نیم تازه پاڼی، پهټکری کچی یعنی (خامه خوری) او اقلیمیا
ذهب ۲ نه ۹ نه ماشی لونګ شیږ ماشي افیون (تاریاک) او د څراغ د و د پنځه پنځه
ماشی. اصلاح ۳ سوی نیل توتیا دوی ماشي، سرسوت (حفض) یوه تولـه او کوچنی

۱۰۶۵

هریره یوه تولـه دراغـو پـه شـان میـده کـړه او د سړشـف پـه خالصـو تیلـو ئـې ګـډ کـړ
چـه دغـه د سړشـف تیـل شـپږ تولـی وی د کانسـی پـه کټـوړی کـی یعنـی هغـه کټـوړی چـه
د څړپـو او قلمـی دوا ړو څخـه جـوړ سـوی وی) د نیـم پـه لـرګـی مـړه ئـې تړاتـو وړځـو پـورې
مښـه اومیـده وه ئـې بیـا ئـې یـو سـل اویـو واړ پـه یـخـو او بـو پریـولـه او پـه یـو صـاف لـوښـی
کـی ئـې د ګـړځ او دوړو څخـه سـاتلی کښـیږ ده بیـا نـو زائـد الشعـر وکـاږه پرکښـل سـوی
ځـای دغـه دوا ولګـوه چـه د سړی څلـور واړه د غـه دوا پـورې ولګـول سـی نـو بیـا
زائـد الشعـر نـه راشـنه کـیږ ی او چـه د جـبر مـو پـر دا نـو تـر څلـویښـتـو ورځـو پـورې
ولګـول سـی نـو بیـا تـول عمـر دا نـی نـه پـرا خیـژ ی ـ او د سـتـرګـو د نـورو د ډیـرو مـرضـونـو
د پـاره هـم فایـده لـری ـ

د څراغ دود دا دی چـه پنبـه پـه تیلـو کښـی خیشـتـه کـړی بیـا ئـې د سـوځ ئـې هـروخـت
چـه ودی تـه نـږدی سـی چـه اور ئـې نـواوس مـړی بیـا ئـې تـر وښـدی وخـتـه پـورې پښـه
کـړی چـه مـړه سـی ـ

سـتـرګـی خـوږیـدل :ـ دا چـه مشـهـور ه د ه چـه هـروخـت سـتـرګـی خـوږ سـی ـ نـو
تـر دې وړځـو پـورې د وا مـه پـه کـوه دا بالکـل غلطـه خبـره د ه دا د وا لـی د ړځ ئـې څخـه
پـه غـور سـره دوا او علاج شـروع کـړه لیکـن پـه اولـه کـی تیـزه د وا مـه لګـوه بلکـه پـه اخیـر
کـی ئـې هـم مـه لګـوه تـر څـوچـه یـو عنـت هوښـیار تجربـه کـار حکیـم درتـه ویلـی نـه وی ـ

دوا :ـ کـه د سـتـرګـو د خـوږیـدو پـه اولـه وړځ ولګـول سـی نـو فایـده لـری پـه
هیـڅ حال کـی ضـرر او تـاوان نـه لـری لږ څـه رسـوت (حفـض) پـه ګـلابـو یـا د مکـو یعـنـی
انګـور تـوړی پـه اوبـو کښـی و مښـه پـر سـتـرګـو ئـې اسـتعمـال کـړه ـ

دوهـه دوا د تاکـور د پـاره :ـ د ډ(۲)ری د ډ(۲)ری مـاشـی پښـتـکـری سـفیـد یعنـی
سـپیـنـه خـوړی او سـپیـنـه زیـره او د کـوکنـار پـوسـت او یـوه مـاشـه افیـون او څلـور
مـاشـی پښـتـانی لـودهـ شـپږ مـاشـی دامـلی (تمرهنـدی) او دوه نیمـی پـانـی د نیـم د درخـتـی
تـولـی میـده کـړه د دوی د ډ(۲)ری پـوتـلـه (کـټـوړی) حـنـدی جـوړی کـړه او نـوی خـاورینـه
پیـالـه دا وبـودکـه کـړه د غـه د د وا کـټـوړی پکښـی واچـوه پسـی پـری پـه ښـه ده او
بیـا سـتـرګـو تـه تـاکـور پـه ورکـړه کـه چیـری دیـخ مـوسـم وی بیـا ئـې یـوځـه ګـرمـی کـړه ـ

دریمـه دوا :ـ د سـتـرګـو د خـوږیـدو دا ولـی وړځـی څخـه بیـا تـر اخیـره پـورې د غـه دوا
لګـولای سـی د سـتـرګـو دوړو دا نـو دوړو نـه خـمـو او د سـتـرګـو د ډیـرو هـم

دہ۔ د چاکسو گری یعنی د چاکسو مغز شیبر ماشی، مدبرسوی مصری یعنی اصلاح سوی مصوی، انزروت، او نشاسته (آبکون) د رڑی (۳) د رڑی ماشی د راغجو په شان میده کړه او وئ ساته یو یو سلایی یا د رڑی سلایی د بید بدو په وخت کښی یا سهار او ماښام لگوه که د غه دلگوی او سر بیره دوی توتی د پنبه په روغن گل یا غوړو کی خیشتی کړی یو لږ گړی ئی پریخ منگی کښیږدی هر وخت چه د پنبه د غه دوی توتی بدلی یعنی سی بیا نو د غه دوا ړی توتی پرستر گو کښیږدہ او پردوی سر بیره د خاورو دوی تکی کښیږدہ داسی تکه چه په اوبو کښی اخښل سوی وی او تر دی وروسته پتهی پروتړه۔

(انزروت دا رنگه مدبر کیږی چه انزروت بنسه میده کړی د بزی یا غوا یا گامیښی په شید وکښی واخښی د جهاو (یعنی طرفاء) پرلرگی ئی واچوی پر پیر سپک اور ئی وچ کړی بیا ئی دلرگی څخه راجلا کړی څیل کاږه خندی واخلی او چه انزروت مدبر سوی نه وی په ستر گو پوری ئی مه لگوه ورنه نقصان کوی. فائده ۱۔ هر هغه څای چه د کوچنیانو د ستر گو د خوږید و بیان راځی په هغه څای کښی یو څه ضروری شیان د خورلو او چیښلو په باره کی لیکل سویدی نو لوی انسانان دی هم د د غو شیانو خیال وساتی او په هغه څای کښی موبو څه نوری نسخی هم لیکلی دی.

د ستر گی د باندی راوتل ۱ر دی ته په عربی کښی حجو ۃ العین ویل کیږی

دوا ۱۔ دوی ماشی گل خطمی (۳) ماشی گل سرخ، د رڑی ماشی صندل سرخ، دوی ماشی تورکه هر بیره یوه ماشه نرسبی د غه ټول د شنه مکو او شنه کاسنی په اوبو کښی میده کړه بیا د غه اوبه نیم گړی کړه او په ستر گو پوری ئی ولگوه یعنی ستر گو ته ضماد په وسر کړه۔ **دوا** ۲۔ که چیری د غه دوا په تندروستی کښی استعمال کړی نو د پیرو امراضو مخنیوی کوی او چه ستر گه ترخوږ والی وروسته بنه سی بیا د غه دوا ولگوی نو تریوه میاشتو پوری بیا نه خوږیږی د ستر گو معمولی غوندی پردی هم ختمیږی د اغه رنگه د ستر گو دید هم تیزوی۔

بو پاؤ وچه آمله په نیم سیر اوبو کښی وایشوه هر وخت چه یو پاو اوبه پاته سی بیا نو آمله بنه پکښی ومښه او بیا ئی وچونه د غه چونل سوی او په وساته بیا د وولس دانی گوچنی هریړی د وولس دانی پیپل (مرچ دراز) او د وه نیمی دانی نوشادر

مرچ په آونګ (اوکلی) یا شاذه بلندی میده کړه د میده کولو په وخت کښی هغه سائل سوی اوبه د آملی ورواچوه او نرداسی حده کی میده کړه چه ټولی اوبه جذب کړی بیا د دغی دوائی څخه ګولۍ جوړی کړه د سر کړه وئ ساته اود ضرورت په وخت کښی لږ څه په اوبو کښی دوهه او هسلائی په ذریعه ئی استعمال کړه

موتیابند:- د دی مرض نوم په عربی کښی مرسزول المآء) دی۔ ددی سبا دغه مرض ډیر سویدی او په دغه مریض کښی دسترګی په تل یعنی نوری کښی اوبه راشوه کیږی اوکرار کرار دسترګو دید خمیږی که څه هم د دی مرض پیژندل گران کار دی مګر داسی تدبیر ونه لیکل کیږی چه کوم چیری په تشخیص کی غلطی رامبی نو هم ضرر نه رسوی۔ شروع علامت۔ یعنی د دی مرض علامه داده چه ترستر ګو ګرځله غبار راوخوپ خوندی معلومیږی د څراغ رڼا بنه صافه نه ورمعلومیږی بلکه داسی معلومیږی لکه د څراغ د رڼا پر شاوخوا چه یو غټه غوندی حلقه وی۔ نو په دغه وخت کښی دغه رانجه باید جوړ کړی او په سترګو ئی پوری کړی که چیری موتیابند[1] مریض نه وی نو د سترګو نور مریض نیوټه هم فایده رسوی۔

پاؤ باندی یوه تولسفیده کاشغری (اسفیداج) اته ماشی د ببول[2] کوند وری اته ماشی اقلیمای[3] نقره، څلور ماشی سنګ راسخ، څلور ماشی سچا سیپ یعنی اصلی گوجی، او شپږ ماشی شادنج عدسی چه په اوبو سره مغسول سوی یعنی په یو خاص طریقه سره پرتول سوی وی چه د پریږلو طریقه ئی هم اوس درته بیانوو۔ او دوی ماشی رانجه، دوی ماشی د سپینو زرو ورقی، درې ماشی سپین سوی چاکسو، دده د سپینید و ترکیب اوطریقه هم اوس درته بیانوو۔ او یوه ماشه نشاسته دا ټول د رانجو په شان میده کړه وئ ساته او یو یو سلائی سهار او مانښام په سترګو پوری کوه د غه رانجه د سترګو څخه د اوبود بهید لو د پاره اود دید د کمزورۍ د پاره هم فایده لری۔

د شادنج د مغسول کولو طریقه او ترکیب دادی چه شادنج د رانجو په شان میده کړه په یو غټ لوښی کی ئی په اوبو کښی واچوه تر یوی دقیقی وروسته د سر اوبه څندی جلا کړه او په دغو جلا سو اوبو کښی چه کوم شادنج لاندی د اوبو پای

[1] ببول یعنی اغیلان چه کیکر هم درته ویل کیږی ۱۲ [2] اقلیمای نقره د سپینو زرو هغه خیرات دی چه پوکان کی وی که دکان دا لاس ته نه درځی نو بیائی د زرګرڅخه واخله ۱۲

ته ولاړه سی هغه را دکاږه د غه مغسول دی او په هغه لوی لوښی کښی چه کوم شدنج پاته سوی دی بیائی میده کړه په داغه طریقه سره ئی پریوله کوم چه اوس بیان سوه اود چاکسو د سپینو لو ترکیب او طریقه داده چه دی په یو پراخه او لوبه کڅوړه کښی د تړی د نیم د پاڼو سره جوش ورکړی چه هر وخت بنه وپرسیږی بیا ئی سره وښنی خورکی او پوستوکی ځندی لیری کړی او هغه د ننه مغزئی را واخلی.

د موتیا بند مریض ته د غه (گل) لګول هم په کار دی ترکیب د دی - گل - (مرهم) دادی چه څلور ماشی سفید صندل، دوی ماشی انزروت، څلور رتی د ببول (کیکر یا اهنیلان) کنډوری، څلور رتی افیون، او څلور رتی زعفران پتول باریک میده کړی اود ښکګه د سپینو سره ئی گډ کړی د روپی په قدر به دکاغذ دوی ټکی جوړی کړی او په د غو ټکیو کښی په ستن سره د پرسوری وکړی او دکاغذ پرد غو ټکیو به د غه د واونګوی او پر د واړه کولکانو (ټیکو) د غه ټکی ولګوه او سهار او ماښام ئی بدلوه - د غه ملهم لګول هم په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی اوهره شپه یوه ټوله اطریفل کشنیږی خوړه او کله کله ئی شیر مه یا او وړمه وړځ ناغه کوه - د پاره کړی چه ورسره عادت نه سی.

که چیری موتیا بند وی نو د غه تدبیر و نه نفعه ورسوی او که موتیا بند نه وی بیا هم په د غو تدبیرونو کښی هیڅ قسم تاوان نسته چه هر وخت دستر گو په دیده کښی لږ څه گرځله محسوسه کړی دا تدبیر ضرور وکړه او کم از کم ئی لږ د رڼیا شتوپوری وکړه ورنه بیا چه او به پرستر گو د پیری راشروع سی نو د ستر گو دیده خټیږی بیا نو د اپریشن څخه ماسیوی بل هیڅ علاج نه لری بلکه تر اپریشن ورسته د ستر گو دیده هم کمزوری وی.

د غوښو مرضونه

فایده ۱- پرد ک نس د شد بید لو څخه غوښو نه ژر کښیږی تر پوچی خوړلو ورسته تر څو چه دوه ساعته تیر سوی نه وی مه بیدیږه.

فایده ۱- که په غوښ کښی د واچوی برابره خبره ده که په تاثیر کښی گرمه وی

که خنکه وی هیشه ئی نیمگرمه پکښی اچوه.

نایده که د کوچنیوالی څخه عادت ونیسی دا رنګه چه کله کله د بادام تلخ روغن پنځه پنځه څاڅکی نیم ګرمه په غوږونو کښی څاڅکی کوی نو امید سته چه تر آخیره عمره پوری به ئی په اوریدلو کښی څه فرق رانه سی.

دوا: په دی دواسره د غوږ د خیره وزی اصلاح سوی سهاګه یعنی بریان شده سهاګه بنه باریکه میده کړه لږ غوندی په غوږ کښی واچوه او بیا دکاغذی لیمو نو عرق نیمګرم پنځه څاڅکی یا شیږ څاڅکی پکښی واچوه او په هر غوږ کښی چه دغه دوا واچوی د هغه طرف پراسخ بیده کړه په دوو دری ورځو کښی خیره بالکل صفا کیږی د سلایی یا بل شی په ذریعه د خیری را ایستلو هیڅ ضرورت نه پاته کیږی.

روا: په دی دواسره غوږ ماشه یا بل شی چه په غوږ کښی ننوتلی وی راوزی. د ری ماشی د شفتالو پانې، د اپه با غونو کښی د ډیری پیدا کیږی د ری ماشی د شنی نانا پانې، د ری ماشی سقمونیا ټول باریک میده کړه وئی چونه په غوږ کښی ئی نیمګرم وڅڅوه په دی سره د غه شی چه په غوږ ننوتلی دی مری او هر څه چه په غوږ کښی د د غه شی تلل او ګرزیدل نه معلومیږی نو په دی وخت کښی په روغن بادام نیمګرم بنه غوږ پک کړه او د غوږ په شپیلی کښی پنبه کښیږده او غوږ ته یې او کښته ونیسه لږ وخت وروسته پنبه د غوږ څخه راایستی کړه او د غه شی به هم د تیلو سره راووزی او چه فقط په تیلو سره غوږ بنه پک سی نو هم د غه شی چه په غوږ ننوتلی دی مړ کیږی.

د غوږ درد: هر قسم درد چه وی د غه روغن فایده ورسوی او په هیڅ وخت کښی تاوانی نه دی که په کور کښی همیشه تیار پراته وی نو به بنه وی. شیږ ماشی بنفشه، شیږ ماشی افسنتین رومی یعنی ترخه رومی، د ری ماشی اسطوخودوس او شیږ ماشی ګل بابونه د شپی په یوه پاو اوبو کښی خیښته کړه سهار ئی دوندی

وایشوه چه نیمی پاته سی بیائی سره وسینه وئی چوپه دوی تولی روغن گل اوشیږ ماشی سرکه درسره گډه کړه دوندی ئی وایشوه چه اوبه اوسرکه وسوځل سی فقط تیل پاته سی بیا څلور رتی کافور، یوه ماشه مصطگی رومی (کندر رومی - دوئی کندوری) اویوه ماشه انزروت باریک میده کړه اوبه دغو تیلوئی گډ کړه وئی ساتئ هروخت چه ئی ضرورت پیدا سی بنمگرم ئی پیه غوږ کښی څاڅکی کړه.

دپزی مرضونه

فایده:- که پیه سرسام مرض کښی تر پزه دینی جاری سی نومه ئی بندوه مگر که دپیری زیاتی سی بیائی بندبدل پیه کاردی. که دپزی څخه دینی جاری سی دارنگه چه پیه پیرشدت سره نه وی بلکه اهسته وی نودامرت دپاپوا اوبه وباسه پیه پزه ئی سوچ کړه امیدسته چه دینه بندیږی سی. **دوهمه دوا:-** چه ددی پیر قوی تاثیردی اول یعنی اوبه پرسر واچوه بیادری ماشی مازو، دری ماشی پوست انار، دری ماشی گل سرخ، شپږ ماشی سپین سوی مسور (نشک) اوپنځلس ماشی رسوت (حضض) دغه ټول باریک میده کړه دگلاب اوخرفی دپاپوا اوبوسره ئی گډ کړه پرتندی اوسر باندی ئی دلگوه مگرداددی پیرشاره اوکمزوری انسانان نه استعمالوی. **دریمه دوا:-** چه دهر قسم دپزی دوینو دپاره فایده لری اودهر عمر انسانان ئی استعمالولای سی. دری ماشی صندل سفید، دری ماشی رسوت (حضض) دری ماشی گلنار اوخلور رتی کافور دغه ټول پیه شپږ تولو گلابو کښی میده کړه اوبیا پیه دوی کښی یوټوکر خیشت کړه پرتندی ئی کښیږده. **نزله اوزکام من سبا** دغه مرض بیخی پیرسویدی دغه مرض باید سپک ونه بلل سی بلکه ددی مرض د شروع سره سم فکروکړه علاج اوپرهیزوکړه دامشهوره ده چه تردسرودرځوپوری دوامه خورکه داد پخوانرمانی خبره ده چه طبیعتونه اوبدنونه قوی وه - او طبیعتونو مریضی خپله دفعه کوله اوس طبیعتونه کمزوری سویدی نواوس ددی خبری امیدمه کوه چه طبیعت به خپله مریضی دفعه کړی بلکه دستی علاج کوه زکام که همیشه دی نودماغ کمزوری کیږی اوکه زکام شروع سی بیرته شر تر ژره بندسی نوددی څخه قسم قسم مریضی پیداکیږی تردا سی حده چه یو دخت دخت لیونتوب هم څنډی پیداکیږی هرقسم زکام چه وی نو نرا طبیب ته

ورسه علاج خندی شروع کړه او د زکام په وخت کښی د څان د پاره د مونګ دال (ماش) غذا مقرر کړه، د غورو، شیدو مستو او تروشکی څخه پرهیز لازم وبولی
د زکام په شروع کښی پر سر تیل (روغن) مه لګوه په اخیر کښی د زکام بیا پروا نه لری
د زکام په شروع کښی د ترنج و هلو د پاره هیڅ دوا مه سوچ کړه۔ ځکه چه په دی
سره کاه کاه د سترګو ته او به راشوده کیږی او د سترګو د ید ختموی او هر وخت
چه زکام بالکل بنه سی نو د دماغ د طاقت د پاره خامخا یو دوا او خوړه دا۔ حریره
د پیرا بنه ده نزله ختموی ترکیب د دی حریری دادی چه (۱) نه دانی د بادام شیرین مغز
شیلږ ماشی مغز تخم کدو د شیرین، او پنځه ماشی تخم خاشخاش سفید په اوبو
کښی بنه باریک میده کړه څلور ماشی نشاسته ورسره ګډه کړه او په څلورو
تولی غورو کښی د غه حریره پخه کړه څلور تولی مصری ورواچوه چه خوږه
سی بیائی وچینه۔ یا په نه ماشی خمیره ګاونږان په اندازه د دوو ورجو مرجان
شته ګډه کړه او وئی خوړه د خمیری او کشتی ترکیب په (۱) خاتمه کښی راځی۔

د ژبې مرضونه

قلاع ۱ یعنی پرڑبه او خوله دانی راختل۔ که سپین رنگه وی نو دا دوا وکړه یوه بوه ماشه کباب چینی (کبابه سینی) او دلوی الائیچی یعنی دلوی ییل دانی او سفید کتها، باریک میده کړه او په خوله کښی دننه وپاشه او پرخوله پریږده دی دپاره چه لعاب یعنی ناړی دی ترخوله وبهیږی او که سور رنگه وی نو بیا دا دوا وکړه یوه بوه ماشه گلاب زیره، تخم خرفه، طباشیر (بنسلوچن) او زهرمهره (حجرالسم) خطائی ښه باریک میده کړه او په خوله کښی لګوه پاشه او که پیری سور رنگه نه وی بلکه سور والی ئې د ژبې والی شه مایل وی نو دا دوا استعمال کړه دری ماشی مصری او یوه ماشه کافور میده کړه په خوله پوری لګوه ښه اکثره وخت په سر سام او تیزه تبه کښی داسی قلاع پیدا کیږی او که نور رنگه وی نو دی تدبیر دیو طبیب څخه وپوښته۔ **دوا**ء چه د قلاع اکثر قسمونه فایده کا رسوی یوه یوه ماشه گاو زبان سوخته یعنی سوځل شوی گاو زبان، سفید کتها، طباشیر (بنسلوچن) گلنار (قشرالرمان) گل ارمنی (طین ارمنی)، دلوی الائیچی یعنی لوی ییل دانی، او کباب چینی (کبابه سینی) باریک میده کړه بیا ئې په خوله کښی وپاشه او پرخوله پریږده۔

د غابنو مرضونه

فایده کا۱ چه گرم شی لکه پیره گرمه چوډی، گرم کتغ او داسی بل شی وخوری نو پردوی سر بیړه دستی یعنی اوبه مه چیښه په دی سره وغابنونه تاوان رسیږی او په غابنو سره سخت او کلک شی مه ماتوه په دی سره وغابنو او ستر گوته مندمه رسیږی واوره او یعنی په کثرت سره ژوړل هم تاوانی دی۔

منجن یعنی صفه شی چه په غابنو پوری مښوول کیږی غابنونه پاک صفا کیږی او درمنه خلاصیږی دغه اول منجن دښځود پاره پیره فایده لری دوی تولی دباد اموسوځل سوی خورونه، شپږ ماشی د زرد کوړی ابری او شپږ ماشی مصطګی ردی نوی تول باریک میده کړه د سره وئې ساته او هره وخت ئې په غابنو پوری مښه (مورده)

---

۱ ددی دپاره بهدانه یعنی حب السقرجل په یو توکر کینی تړل او پرڅه گرم زول پیر مفید او گټور دی ۱۲ منظر ثالث

دوهم منجن:- چه پیر تجربه سویدی - اووه (۷) ماشی د بارهٔ سنگهی حیوان سوځل سوی بنکر، اووه (۷) ماشی مائیں خورد (عذبه) اووه (۷) ماشی ناگرموتها، اووه (۷) ماشی بالچهړ (سنبل الطیب) اوپاوکم دوی ماشی نمک لاهوری (ملح هندی) باریک میده کړه درې ورځې وئ ساته اوهره ورځ ئې په غابنو پوری مږه.

دریم منجن:- که غابنو نه هرځوندی کمزوری وی او بنوریږی په دغه منجن سره ټینګیږی که د غابنود اوریو څخه وینی بهیږی هم دغه منجن فایده ورته کوی - روغی مصطګی، پهټکری خام یعنی خامه خوړی، لوبان، سنګ جراحت (حجرالاعرابی) طباشیر (بنسلوچن) د اوسپنی براده، تورمرچ، سپین گردی مرچ، گټیش، اتیس، چهالیه (سپاری)، مازو، سلکهړی، دجهړ بیری پوست، د ببول (ام غیلان - کیکر) پوست دجامن پوست، دگوندنی (سپستان خورد) پوست، د غه شیان ټول یو ځای یو ځای ماشه راواخله باریک ئې میده کړه اودرې سره وئ ساته اود شپی ئې په غابنو پوری مږه - او بیا نه پسی خوړه بیا پر بیدیږه سهار د خوړ ماد درختی یو بنا خله په اوبو کښی ایشوه او او به ئې په خوله ورغړه تر یو څو وخته پوری که د غه اوبه ونه لغړول می هم پروا نه لری.

څلرم منجن:- چه د غابنو د صفاکید و اود غابنود راتلو د پاره فایده لری - دری (۳) دری ماشی مصطګی رومی، عاقرقرحا، نمک لاهوری (ملح هندی) او تنباکو (۴) ټول راواخله باریک ئې میده کړه په غابنو پوری ومینه او پرخوله پریږده.

دشتوني مرضونه

ستوني خوږيدل، د شهتوت شربت دری څلور واړه وخښته ډیره فایده

لری د ستونی په نوم د مریضیو کی د طبیب څخه پوښتنه کوه

د سینی مرضونه

آوازد ریدل:- که د زکام او ټوخ د وجهی څخه وی نو د زکام او ټوخ علاج کول په کار دی او که بیله زکام او ټوخ څخه آواز د ریدلی وی نو دا دوا وکړه د نیمی ماشی ابریشم خام مقرض، پنځه ماشی بیخ سوسن، څلور ماشی اصل السوس مقشر یعنی سپینه سوی خوږ ولی، نه دانی سپستان یعنی لهسوړه، او دوی تولی مصری دغه ټول سره وایشوه د چای په شان ئی گرم گرم وچیښه. ورا ورداسی دواده چه څښه او سخت بالغم راباسی - څلور ماشی گاوزبان څلور ماشی اصل السوس مقشر، یوه دانه ولایتی انجیر پنځه ماشی گل بنفشه و ر سره گډ کړه، نه دانی سپستان، او دوی تولی مصری دغه ټول په اوبو کښی وایشوه وئی چوپه - د اوو دانو د بادام شیرین شیره و باسه د دغی چونل سوی دواسره ئی گډ کړه نیمگړم ئی وچیښه او دغه چټنی وخټه چه د دغه چټنی په څټلو سره هم بلغم راوزی په ډیره آسانی سره - سرب السوس کتیرا (صمغ الفتاد) صمغ عربی، کاکړاسینگی او نشاسته ټول یوه یوه ماشه او یوه دانه مغز د بادام شیرین دغه ټول باریک میده کړه دوی تولی شربت بنفشه و ر سره گډ کړه بس د سره وئی ساته او لږ لږ څندی وخټه.

او که د ټوخ په وخت کښی بلغم نرم راوزی نو دغه د واوړکړه څلور ماشی

اصل السوس مقشر، پنځه دانې عناب، پنځه ماشی تخم خطمی په اوبو کښی خیشته کړه او پنځه ماشی گل بنفشه، اونه دانې مویز منقی (اوجوشی) هم ورسره خشته کړه اوونې چوپه بیا مصری ورسره گډ کړه وئې چیبنه. **گولی** ۴ ـ د هرقسم توخ د پاره فایده ـ رسوی اوپه هیڅ حال کښی ضرر نه رسوی ـ سکړاسینگی بنه باریک میده کړه په اوبو کښی ئې واخیسته دتورو مرچو په اندازه گولی څندی جوړی کړه اویوه یوه گولی په خوله کیسی نیسه که په توخ کښی چیږی وینه راغله نو ژر تر ژره یو طبیب ته ولاړ سه داسی نه وی چه په سبز وکښی زخم پیدا سوی وی چه سل اودق ورته ویل کیږی اوکه ئې په شروع کښی تدبیر نه وسی نو دغه مرض بیا بی علاجه کیږی او په شروع کی دغه دوا پیره فایده لری دری ماشی دنونکها بلگ (چه لونیا هم ورته وایی دادخرنی یو قسم دی چه په اکثره باغو او تفریحی ځایو نوکښی کرل کیږی او داغه رنگه په گلدانیو کښی هم اینبول کیږی. یوه ماشه تخم خشخاش سفید او یوه توله مغز کدو ی شیرین کتیرا (صمغ الفتاد)، صمغ عربی، تول یوه یوه ماشه راواخله باریک ئې میده کړه او پر دغه دوائې د پاشه بیا ئې وچیبنه او هم ئې تر یوی هفتی پوری مسلسل وچیبنه. د تروشکی، شیدو او مستو څخه اوداسی نور د شیانو څخه بالکل پرهیز وکړه نو انشاءالله تول عمر به د سل مرض در پیښ نه سی د توخ یو لعوق د سابندی په بیان کښی راځی. دوچ توخ د تر توخ څخه ډیر به دی د طبیب څخه ئې علاج وکړه.

گولی چه د سړو اوگرم توخ د پاره فائده مندی او گهټوری دی او بلغم په اسانی سره راباسی، دری ماشی رب السوس او دری ماشی مویز منقی (اوجوشی)، نشاسته، صمغ عربی، کتیرا (صمغ الفتاد) او مغز تخم کدو ی شیرین څلور سره شیان یوه یوه ماشه او په پنځه ماشی قند سفید کښی ئې میده کړه د بهدانه (حب السفرجل) په لعاب اوبو کښی ئې خیشته کړه اودتورو مرچو په اندازه گولی څندی جوړی کړه او یوه یوه گولی په خوله کښی نیسه **د پښتیو درد** ـ هروخت چه د پښتیو درد وی نو دغه دوا پوری مبنول ډیره فایده لری ـ تخم کتان، شپږ ماشی تخم حلبه (یعنی خشته کړه وئې ایشوه سره وئې مبنه او وئې چوپه څلور تولی روغن گل او دوی تولی

نه لعوق وهغی سره پښتنی د رانه ویل کیږی چه د څټلو په شکل سره خورل کیږی ۱۲

موم زرد ورسره گډ کړه بیا جوش ورکړه هر وخت چه اوبه وسوځل سی تیل اوموم
پاته سی نو دۀ دۀ ماشې مصطګی رودی اودری ماشی لوبان، ښه میده کړه او ورسره گډ کړه کله تبه تیزه وی نو په دغه نسخه کښی لوبان مه ورسره گډ کوه
اوکه درد پیرزیات وی نو یوه ماشه افیون یعنی تاریاک او یوه ماشه زعفران
هم ورسره گډ کړه او نیمګړم ټ په پوښتی پوری مالش کړه **دمه یعنی ساه بندی**:- ددی مریضی بیخکنی خو کمه کیږی لیکن په دوا کولو سره ټ دوری سپکیږی هر وخت چه ددوی علاجی معلومی سی نو یو وخت دوه ډوی مه خورکه اوهر وخت چه دوره راسی نو کومه دوا اوچتنی یعنی دځهلو دواچه موږ دنوخ په بیان کښی لیکلی وه هغه دوا استعمال کړه کشته یا یو بل شی چه پیرخشک اوګرم وی مه خورکه اوغوړ مه خورکه لیکن کوچی اومعمری څهل ددوری په وخت کښی پیره فایده لری که یو خاص دوا یا غذا د تجربی په ډجهه فایده درسته رسوی نو همیشه ټ خورکه.

لعوق:- دادنوخ دپاره پیر مفید اوګټور دی اوددی په وجه دساه بندی دوری هم کمیږی او قبض هم دفعه کیږی څلور تولی اوددوی ماشی مغز املتاس یعنی پولوس په اوبو کښی خیشت کړه بیا ټ په اوبو کښی سره ومینه اوورسته تردغه ټ وچو نه بیا په دغو اوبو کښی لس لس ماشی د خوږ وبادامو مغز میده کړه بیا شل تولی قند سفید ورسره گډ کړه او تر شربتو ټ یو څه ختۀ تیار کړه بیا کتیرا (صمغ الفتاد) صمغ عربی، آرد باقله دری سره شیان اوګوه اوګوه ماشی میده کړه ورسره گډ ټ کړه او دوی تولی روغن بادام په دوی گډ کړه اودهره

دمه یعنی ساه بندی
خوږ ول اکثره وخت فایده کوی
رسوی دساه بندی دپاره گټی
بادام وخوږه پیازی چه هر وخت موسم پیرګرم منډی
مګر پیرزیات دی
اوبو کښی خیشت
میده پیرورنه براسی طریقه سره چه پیرګرم منډی
بادام مومیره براسی وخته دوهمه ورځ دوه بادامه اودری
دری بادامه اودری
پیرګرم منډی
پیرګرم منډی
پیرګرم منډی

وئی ساته درئی (۳) درئی توئی هره وړځ څښه.

دزړه مرضونه

دزړه ریږدیدل او غځی یعنی بیهوښی: هر څخه چه په زړه کښی دیو وجهی څخه ضعف پیدا کیږی دزړه ریږدیدل پیدا کیږی او چه ضعف ښه پیدا کیږی نو بیهوښی پیدا کیږی او هر څخه چه بی هوښی شر شر راځی نو انسان یو وخت نا پوه مری (مړ کیږی) ددی مرض پوره علاج دطبیب څخه کول په کار دی لیکن دغه دوا په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی او په اکثره حالاتو کښی فایده کوی - یوه دانه مربائی آمله په اوبو کښی پریوله او دسپینو سترګو په یوه وړقه کښی ټوپیچه اول ئی وخوړه پنځه ماشی گل سیوتی (گل نسرین، پنځه ماشی تخم کاسنی، څلور ماشی گل گاوزبان او دری ماشی برگ بادرنجبویه په گرمو اوبو کښی خیشته کړه او وئی چوښه دوی توئی شربت سیب وسره گډ کړه وئی چیښه اوکه ترډیره وخته پوری یوازی دآملی مربا خوری خفگان اودزړه ریږدیدل ختمیږی او هر څخه چه څوک بی هوښه سی نو یخی اوبه ئی پرمخ وسر څاڅکی کړه زړه تر چپه ئی لاندی دی

دمعدی یعنی دلش مرضونه

فایده: دمعدی دصحت دپاره خیال ساته چه وبړی نه ئی هیڅکله دوډی مه خوړه اوچه تروبړی کیدو وروسته دوډی خوړی نو دوډی خوړلو څخه هغه وخت لاس نیسه چه څه لاوبړی ئی دا خیال مه کوه چه دلږ خوړک څخه بدن ته

څه طاقت ر سیږی ـ بلکه خبره داده چه د پیر خورک څخه په هضم کښی تاوان پیښیږی د پیر خورک پر بدن نه لګیږی لږ خورک ښه هضمیږی د لږ خورک څخه زیاته وینه پیدا کیږی په خورک کښی زیات تکلیف مه کوه همیشه د عمده اونرۍ غذا د خوړلو څان مه عادتی کوه بلکه د هر قسم غذا سره څان عادت کړه که د یو خاص شی سره عادت و نیول سی بیا نو بل قسم غذا نقصان کوی او کله کله نفلی روژه هم نیسه په دی کښی ثواب هم ستا او د نس کثافت هم تحلیلیږی او د پیر و مریضو څخه حفاظت ر څی .

فایده :- هندوانه ، بادرنګ ، چمبر خیال او داسی نور سپک سپک شیان پرېږدک نس مه خوړه او مه ئی په نهار ه خوړه بلکه داسی وخت ئی خوړه چه نه پیره لوږه وی او نه بالکل نس ډک وی په پیره لوږه کښی د دغو شیانو د خوړلو څخه کله کله د دغه شیان بالکل صفراء جوړیږی او د هیضی یعنی و با شکل پیدا کیږی او چه پرېږدک نس وخوړل سی نو بیا هغه نوری غذاوی په ښه طریقه سره نه هضمیږی

فایده :- د پیر و غوړو خوړلو څخه معده ضعیفه کیږی ـ فایده :- ترخو څه ممکنه وی د جلاپو څان مه عادتی کوه ځکه چه په دی سره د معدی قوت بالکل ختمیږی ـ فایده :- معده بالکل په نس کښی د ه که پر معده یو د وا لګوی نو د نس په مابین کښی ئی تر نو پوری پرې لګوه .



قصداً دیوشی قی کولو بیان

۱- یو وخت د پیر خورک یا د بوبل ضرورت د سببه خخه قی وهل غرض وی نو د دی دوا په ذریعه سره قی ووهه یوه نیمه تولې تخم، یو نیمه توله د سویه تخم په یو نیم سیر اوبو کښی وایشوه خلور تولی د سرکی سکنجبین ورسره گډ کړه نیمگړم لې وچیښه اوگوته په ستولی کښی واچوه قی ووهه - دغه دوا پیر ه تیز ه نه ده. (مگر د حمل په حالت کښی د حکیم اوطبیب له مشورې قی مه وهه) او په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی او د قی وهلو په حال کښی پرستر گولاس ونیسه ورنه وستر گوته پیره صدمه رسیږی او ترقی وهلو وروسته تر څو پورې چه طبیعت وخیل حای ته نه وی راغلی او به هیڅکله مه چیښه اوکه د دی مخالف کار وکړی نو د بای گوله د د ر د پیر ه سته بلکه ترقی وهلو وروسته په یخوا او بو سره مخ پر یوله - اوکه د دی مزاج خنک وی نو بیا نیمگړی اوبه په خوله سره ورغړه اوکه د دی مزاج گرم وی نو یخی اوبه په خوله ورغړه.

د قی بند ولو بیان

۱- بعضی وخت د مسهل او عملی شی د چښلو خخه زړه پک سی د دی د فعه دا د ه چه باز وگان او مټان بنه محکم وتړه ویو بل چاته ووایه چه تر تخر گانو دی ونیسی یوخه هرکت او بنوریدل درکړی د الایچی یعنی ییل - او پودینې (نانا) پانې وژوبه که دی په د غه سره طبیعت برابر نه سو نو پر فم معده یعنی د معدی پر خوله د غه دوایی ولگوه - د ری ماشی گلاب زیره، یوه ماشه صندل سفید اویوه ماشه طباشیر (بنسلوچن) د غه ټول په دوی تولی گلابو اودری ماشی سوکه کښی میده کړه - د معدی پر خوله لې ولگوه د دی د وا تر لگید و لږ وروسته هره دواچه زړه دی غواړی ولې چیښه او د قی وهلو خخه بې غمه سه.

د هیضې یعنی وبا بیان

۱- د اسخته مریضی د ه د دی علاج دیو پوه او ماهر طبیب خخه ژر په کار دی - دلته دوی (۲) د اسی نسخی لیکل کیږی چه په هیڅ حال کی تاوان نه کوی برابره خبره ده که عملونه بند وی یا نې جاړی سا تی یوه نسخه خو داده - شیږ ماشی گل سرخ، په د ری (۳) چټانگه گلابو کښی جوش کړه هر وخت چه نیمی پاته سی نو دوی تولی انار شیرین ورسره گډ کړه، شیږ تولی نارجیل (کوپړه) د ریا نې او یوه ماشه زهرمهره (حجرالسم) خطا نې په عرق بید مشک کی حل او ویلی کړه او بیا نې

بیله چونلو په دغو ذکرسوو دوایانوګډکړه - اودړۍ واړه ئې په مریض وچیښه ددی دچښلو څخه که چیری په ښکنی څه ماده وی نو یو یادوه واړه عمل کیږی اوکه هیڅ ماده نه وی نو په دغه دواړه عمل بندیږی.

دوهم نسخه:- عرق کافور نهایت مفید شی دی - ددی دوهمی نسخی عرق کافور ترکیب اوطریقه داده چه یوه توله کافور سپید ه کړه اودړۍ نولی سرکه وړسره ګډه کړه په سیښه کښی ئې واچوه د سیښی سرپسی بسته کړه دیرش ورځی ئې دلمر ته کښیږده اوهره ورځ ئې ښورولا وروسته تردیرشو ورځو ئې وچونه بیرته ئې په سیښه کښی واچوه. سرپرېندکړه شین کاغذ یاشین پوکړپرسیښه دپیچه اوپه احتیاط سره ئې کښیږده هروخت چه په وباکښی تنده زیاته وی نولس لس څاڅکی په دوی دوی نولی ګلابوکی ورګډوه اوپه مریض ئې چیښه دپیرزیات ګټور دی که دوباپه موسم کښی جوړاسان دغه عرق هره ورځ پنځه پنځه څاڅکی په اوبوکښی اچوی یائې پرپتاسه اچوی بیاپتاسه خوری نوانشاءالله خدای پاک به ئې دوباڅخه وساتی داداسی شی دی چه باید په کورونوکښی تیار پروت وی لیکن خنک طبیعته خلګ اوکوچنیان دی ئې دجوړوالی په حالت کښی نه چیښی اوکه ئې دوباپه حالت کښی وچیښی بیاپروانه لری اودغه عرق کافور که پرهغه ځای ولګول سی چه هغه ځای سپی داړلی وی زخمی کړی ئې وی ډیره فایده کا لری.

دوباپه بعضو قسمونوکښی په وباکښی خالی اوبه ورکول ډیرتاوان کوی. د دی سببه بنه داده چه نیم سیراوبه یاعرق سونف یعنی دخوږوولنو عرق په نیم پاوعرق ګلابوکښی ګډکړی درسره وئې ساتی اودتندی په حال کښی هم دغه ومریض ته ورکړه ددی څخه په هیڅ حال کښی تاوان نه پیښیږی. اودوبامریض خامخاد تندی څخه مه توسوه دوبامریض ته ترڅو پوری چه دلوږی څخه بی قراره سوی نه وی ترهغه وخته پوری غذامه ورکوه اوهروخت چه دوندی وږی سی چه بی قراره سی نوبیادړۍ دړۍ نولی بنورولا

ځکه ئې دوه ورځی ساتی ۱۲

یاد غوندی قدر آش جوبعنی داور بشوا وبه په شرط دی چه دکاغذی لیمونو عرق ورواچوی ورکړه چه وئ چیبنی اوکړاړ کړاړ غذاور پیروه یکدم دوندی غذامه ورکوه چه دی په موډسی وړنه بیائ دمرگ څخه پاته کیدل مشکل دی اوکه د وبامریض ته خوب ورسی وخوب ته ئ پریږده حکه چه داد بنه والی اوصحت علامه ده اوکه ئ نبه سی راهم بنه علامه ده اوکه ئ بولی بندی سی دا بیکاره علامه ده او نبضونه چه بیدل او بندیدل چندانی بیکاره علامه نه ده علاج ئ جاری وساته.

په هاضمه کښی فتور پیښیدل یا قبض کیدل

او کولموته طاقت ورکوی انسان وبزی کوی بنه هاضمه راولی که چیری عملونه او دستونه وی هم ئ بند وی اوکه چیری قبض وی بیا عملونه راولی. څلور توکی اته ماشی انار دانه ترش کهنه اووه (۷) ماشی زنجبیل (شونډ)، اووه (۷) ماشی سپینه زیره، شل ماشی تربد سفید، یعنی لنسوت، شل ماشی توره زیره، شل ماشی تنترنیک یعنی سماق، شل ماشی پوست هلیله زرد، شل ماشی پوست بلیاه (بلیلج) څلور توکی اووه (۷) ماشی نمک لاهوری (ملح هندی) دغه توکی سره گډ کړه. نیمائ بنه باریک میده کړه او نیمی داسی غټ میده کړه چه داوړو تر غلیل وچوپل سی بیائ نو درسره وساته. نوکه چیری قبض لیری کول غواړی نو هغه چه غټ دی میده کړیدی اووه (۷) ماشی هره ورځ په نهارکه خوړه اوکه دی باربار دستونه کیږی او بند ول دی غرض وی نو هغه بنه باریک میده کړه سوی اووه (۷) یا نه (۹) ماشی په نهارکه سره یا تر ډوډی خوړلو وروسته خوړه.

نمک سلیمانی

چه نهایت هاضم دی او پیری لمایدی لری دلس درد خقوی که چیری اووه (۷) رتی هره ورځ په نهارکه خوری نو دستر گودیدتیز وی اوکه ئ د غالبوزی، مچمچی پرخوړل سوی څای بنه ومښی برابره خبره ده که د غه نمک سلیمانی خشکه وی اوکه د گلابو سره گډه سوی وی نو د غه څای دپاره

چه غالبوزی یا بل شی چیچلی وی هم فایده لری حکه چه په تجربه رسیدلی دی.
پرلاس او پښو چه هر ځای درد وی که چیری په دغه درد ناکه ځای پوری شهد وهښی او مار بیره دغه نمک سلیمانی پرو پاشی نو هم فایده ورسوی که د نیم پخته هګی سره دغه نمک سلیمانی وخوری نو ډیر طاقت لری او په دی سره حافظه قوی کیږی او رنګ او بښه ئی صافیږی هر څوندی چه زړه وی په هغه اندازه تاثیر کوی.

د نمک سُلیمانی نسخه

نمبر	د دوا نوم.	وزن په عبارت کی.	وزن په هندسه کی.
۱	نمک لاهوری بریان	پنځه اویا تولی او شپږ ماشی	۷۵ تولی - ۶ ماشی
۲	نمک سانبهر	اته تولی او پاوکم څلور ماشی	۸ - تولی - ۳. ماشی
۳	نوشادر	اته تولی او پاوکم څلور ماشی	۸ - تولی - ۳. ماشی
۴	تخم کرفس	دوی تولی او یو ولس ماشی	۲ - تولی - ۱۱ ماشی
۵	تور مرچ	یو ویشت ماشی	۲۱ - ماشی
۶	مرچ سفید یعنی دکهنی مرچ	یو ویشت ماشی	۲۱ - ماشی
۷	ازخر یعنی مرچیا گند	پاو بالا نولس ماشی	۱۹ - ماشی - ۲ رتی
۸	انتیمون ولایتی	لس نیمی ماشی	۱۰ - ماشی - ۴ رتی
۹	هینگ (هینجه)	لس نیمی ماشی	۱۰ - ماشی - ۴ رتی
۱۰	تور زیره په سرکه کی خیشته سوی	لس نیمی ماشی	۱۰ - ماشی - ۴ رتی
۱۱	دار چینی قلمی	اووه ماشی	۷ - ماشی.
۱۲	حب القرطم	اووه ماشی	۷ - ماشی
۱۳	سونټه (شونډ)	اووه ماشی	۷ - ماشی
۱۴	انیسون رومی	اووه ماشی	۷ - ماشی
۱۵	ملهٹی (خوږ ولی)	اووه ماشی	۷ - ماشی
۱۶	زیره سفید	لس نیمی ماشی	۱۰ - ماشی - ۴ رتی
۱۷	سودا بای کاربونیټ	پنځنیمی تولی	۵ - تولی او شپږ (۶) ماشی
۱۸	ایسډ تاتری	پنځنیمی تولی	۵ - تولی او ۶ ماشی

ترکیب او طریقه :- نمک لاهوری توتی توتی کړه دیو خاوری په لوښی کښی په یو
گرم تنور کی کښیږده هر وخت چه دتنور او سوپر سی نو بیائی راوکاږه او وئی کوټه او
هره دواجلا جلا وکوټه دوزن موافق ئی تول کړه او سره گډی کړه او په شین رنگه
بوتل کی ئی کښیږده اویو خوورځی ئی په اور بشو کښی پټ کړه اوکه دغه بوتل په اور بشو
کښی پټ نه کړی دغه د بوتل دوا استعمال کړی هم هیڅ پروانه لری۔ خورک یوه یوه ماشه.
بادرنگ، چمبر خیال او داسی نور که دد غه نمک سلیمان سره وخوړی نو تاوان نه لری
دهاضمی گولی :- نمک سیاه، مرچ سیاه د آکهی سربند گل یعنی د عشر غوټه
چه گل سوی نه وی او وچه پودینه یعنی نانا د غه تول یوه یوه توله راواخله بنه
ئی وکوټه وئی چوپه او د عناب په اندازه گولی جوړی کړه او تر څو ورځی وروسته
یوه یوه گولی خوړه او د وبا په ورځو کښی یوه گولی هره ورځ په نهاره خوړه چه
ډیره فایده لری **دوا** :- چه په دی سره قبض دفعه کیږی دوی ماشی گل
سرخ او دوی ماشی سنامکی چه په غوړو سره غوړه سوی وی وکوټه او وئی چوپه
په یوه توله اطریفل کشنیزی ئی گډ کړه او د بیدیدو په وخت کښی ئی خوړه. او د
اطریفل کشنیزی ترکیب په خاتمه کښی ذکر سویدی
ضماد یعنی هغه دواچه د بدن د ککړولو د پاره وی :- د غه ضماد دنس
د سختی د پاره ډیره فایده لری او په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی د ری ماشی مصطگی
میده کړه په دوی تولی روغن گل ئی گډ کړه او بیائی گرم کړه پرلنس ئی ولگوه او یو ضماد
د رحم په امراضو کښی لیکل سویدی چه اول جزئی گل بابونه دی.
دنس درد :- په د غه پوتلی سره ئی تاکور کړه (پوتلی هغه کڅوړی ته وایی
چه په دی کښی دوایا یو گرم شنی واچول سی او بدن په تاکور کوی) سبوس گندم
باجره، او نمک سا نبهر تول دری دوی تولی راواخله میده ئی کړه په دوو پوتلیو
کښی ئی وتړه شیږه تولی گلاب په یو لوښی کښی پراور کښیږده او هغه دوی پوتلی
ور واچوه او بیا په هره یوه تاکور وکړه او که گلاب دستی پیدا نه سی نو وچی
پوتلی گرمی کړه او تاکور په وکړه او داد هر ځای د درد د پاره فایده لری. او

هيڅ قسم ضرر او تاوان نه لري که په دې سره د لښ درد بنه نه سې نو د طبيب څخه معلومات او پوښتنه وکړه.

دمسهل يعنې عملي شي بيان

فايده ۱:- بيله مشورې د طبيب هيڅکله عملي شي مه خوړه.

فايده ۲:- په عملي شي کښې املتاس يعنې پولوس ته جوش مه ورکوه.

فايده ۳:- د پولوس سره بادام يا بل خوړه شي ګډ کړه د پاره د دې چه په کولمو کښې پيچ پيدا نه کړي.

فايده ۴:- که په عملي شي کښې سنا وې نو ئې په غوړو سره غوړه کړه - او خيشته ئې کړه که غوړه نه وې نو په لښ کښې پيچ راولي.

فايده ۵:- چه عملي شي وکړي مه بيديږه حکمه چه بيا عمل نه کوي او تاوان کوي

فايده ۶:- د عملي شي په وخت کښې او تر عملي شي کولو وروسته تر پنځلسو شلو ورځو پورې نرمه غذا او تر اندازې کمه خوړه.

فايده ۷:- عملي دوايانې ډيرې مه مښه بلکه سپکې اولږ ئې ومښه او وئې چونه ډيره خټه دوا عمل نه کم کوي د عملي شي په وخت کښې ضماد يعنې بدن يا لښ په يو دوا سره مه ککړه وه مګر که عمل نه وي او پر لښ يې ضماد د عمل کولو د پاره وي بيا هيڅ پروا نه لري د عملي شي په دوهمه ورځ ضرور يوخنک شي وچيبنه پي درې پيه عملي شي مه کوه د خنک شي د پاره کومه مقرره نسخه نسته د حکيم (طبيب) د مشورې ته سپارل سويده.

د جگر یعنی دایئ مرضونه

جگر وایئ ته وایی دا په لس کښی تر ټولو راسته پښتیو لاندی ده هر وخت چه پرانیته یو دوالگوی نوتر راسته پښتیو لاندی ئ وی نو گوه هر وخت چه د مریض پرمخ یا لاس او پښو پاڼو سوب عوندی معلوم سی نو پوه سه چه د ده په اینه یا دایئ خو پوری چه یو بنه طبیب دی پیدا کړی نه وی نو د بید الورد معجون پنځه ماشی خوره او سر بیره نیم پاؤ د مکو هرق او د وی نو لی شربت بزوری بارد ورسره او شربت بزوری بارد نسخی په خاتمه کښی لیکل سویدی.

د استسقاء مرض

د دی مرض علاج د طبیب څخه وکړه او د مکو د پاڼو سالن او کتخ خوړه او دغی مریضی ته ډیره فایده رسوی که د نورو غذاوو پرځای دغه وخورل سی نو ډیر به بنه وی.

د توری مرضونه

توری په لس کښی تر چپه پښتیو لاندی دی که چیری پر توری یو دوالگوی نوتر

چپه پښتیولاندی ئی ولګوه.

دتوری لویدل :- اهاک په ابوکښی واچوه هروخت چه اهاک په اوبوکښی ولاړ سی نود غه دسر بالا پاکی اوبه ئی راواخله په دغواوبوکښی شل دانی انجیر ولاینی ته جوش ورکړه چه هروخت انجیر ښه وپرسیږی نو بیائی راوکاږه پریوپاک ټوکر ئی هوارکړه هروخت چه ئی اوبه دچې سی نو په یوه پاړ ښه سرکه کښی واچوه مالګه اومرچ ددندی قدرو سره ګډکړه چه خوند ئی په ښه سی او پنځلس شل ورځی ورروسته یویو انځر هره ورځ خوړل شروع کړه **ګولی** دلوی سوی توری دپاره ډیره فایده لری خوړلس ماشی بیخ سوسن او اوه ماشی دکهنی مرچ سره وکوټه اودئی چوپه اوه ماشی اشق په یوه تولسرکه ګډکړه بیا په دغه ښی ټولی دوایانی ګډی کړه د غوده په قدرګولی ځندی جوړی کړه - اواوه ماشی هره ورځ د سکنجبین ساده سره خوړه دغه ګولی تجربه سویدی د سکنجبین ساده ترکیب په خاتمه کښی دی.

لیپ یعنی ضماد :- دلوی سوی توری دپاره نهایت مفیددی د ببول یعنی ام غیلان، کیکر - کوندوری، کتیرا (صمغ الفتاد)، نرا وند مدحرج ټول شیان دوه نیمی دوه نیمی ماشی اواشق یوه نیمه توله دا ټول په نیم پاو سرکه کی ښه میده کړه مرهم (ملهم) خوندی شی ځندی جوړ کړه او دتوری په اندازه سره یوټوکر جوړ کړه دغه مرهم پرولګوه او تردغه وروسته ئی پرتوری ولګوه هرځوندی چه دتوری لویوالی کمیږی په هغه اندازه ټوکر دتوری دځای ځخه جلاکیږی اوکوم ټوکر چه جلاکیږی هغه په غټی سره ځندی پریکوه که چیری توری غټ سوی وی او زوروره تبه هم ورسره وی نو دطبیب ځخه علاج وکړه.

دکولمومرضونه

عملونه کیدل :- که دپیرخورک ځخه نابره عملونه شروع سی نودلس دمریضیو په بیان کښی ئی علاج وګورئ اوکه عملونه تراندازه زیات وی یاډیره زمانه عملونو وسی یاعملونه ددوری په طریقه سره راځی نو په علاج کولو کښی غفلت مه کوه ویوپوه طبیب ته ورسه.

قولنج:- دیوی کولمی نوم قولون دی د دی ودرد ته قولنج وائی او بام خلگ ودغه ته دلس درد وائی دغه درد نامه پر برابر راسته طرف ته یوخه لاندی دی په دغه درد کښی دارنډی تیل خلور تولی چښل ډیره فایده لری دارنگه چه یواو دوه وار ه عمل وکړی او بیا درد بنه کیږی

د قولنج بله دوا:- گوړه، بچهه (عود الوج)، شونډ، السی (بزر الکتان) تخم میتهی یعنی د ملخونړی تخم، هینگ (هینجه)، تخم سویا (بزر التبت) تول شپږ شپږ ماشی راواخله وئ کوټه او وئ چوپه د ماشو دیوه پاو اوړو سره ئ گډ کړه ترگډ ولو وروسته ئ په عرق سونف یعنی د خوږ ولنو په عرق کی واخښه او بیا دوی تکی حُندی پخی کړه دارنگه چه یوه یوه خوا ئ اومه وی بیا پردغه اومه خوا شپږ ماشی دارنډی تیل یا شپږ ماشی روغن گل ونگوه یوه د دغو دوو تکیو څخه نیمگړمه پرلس وتړه هروخت چه دغه سړه سی بیا هغه بله پرلس کښیږده دغه رنگه خوواړه وکړه دغه ډوډی اوتکی د پښتورگو درد ته هم فایده رسوی.

فایده:- د قولنج د درد مریض ته ترخو پوړی چه بنه وږی سوی نه وی خورک مه ورکوه او د شیدو څخه پرهیز ورکړه لیکن که مریض د شیدو د خوړلو سره عادتی وی تاوان نه ورته کوی نو گرمی گرمی ئ ورکړه لیکن د حکیم څخه پوښتنه کول په کار ده.

پیچش یعنی پیچ:- **فایده**- د پیچ د مرض په وخت کښی تیز تیز مه څه پرلوړو او کښتو څایونو هم مه ځه بلکه د پیچ د مریضی په حال کښی په سیر رفتار[1] مه کوه. که لږ غونډی پیچ وی نو دغه دوا وکړه.

- ریشهٔ خطمی، تخم کنوچه یعنی د گنپی تخم، مکو خشک، گل بنفشه، تول شیان پنځه پنځه ماشی په گرموا و بوکښی خیشته کړه سړه وئ مښه او بیائ وچوپه او د دوی تولی شربت بنفشه ورسره گډ کړه او وئ څښه.

دوهمه دوا:- شپږ ماشی چهار تخم د نیم پاو عرق مکو یا او بوسره کیپه کړه که د مونگ (ماشو) کهچړی یا ساگودانه یعنی سابه دانه په او بوکښی پاخه کړه د خان د پاره

[1] د پیچ په وخت کی د رفتار او تگ راتگ څخه بعضی وخت ملامات ږی نو باید د پیچ په وخت کښی د رفتار څخه احتیاط وسی ۱۲ منه

ئ غذا وگرزوه سخت شی مه خوړه اوکه په پیچ کښی وینه وی نو دغه دوا وکړه
ریشهٔ خطمی، تخم کنوچه، مکو خشک، بیلگری - گل بنفشه لوی پنځه پنځه ماشی
په گرمو اوبو کښی خیشته کړه او دوی تولی شربت انجبار ورسره گډ کړه وئی چښنه
که په دی سره وینه بنده نه سوه نو پردغه دوا تخم دبار تنگ مسلم وپاشه
که په دغه سوه هم وینه بنده نه سوه نو دبار تنگ تخم یوه اندازه نبنی کړه
پروئ پاشه - د شربت انجبار د جوړولو طریقه په خاتمه کښی راځی که ددی دوایانو
څخه کومه فاید ه حاصله نه سوه - یابښځی ته په څلویښتی کښی پیچ ورپیښ سوه
یاپرلاسوا وپښو پارسوب یاتبه هم وه نو بیادیو طبیب څخه دوا وکړه او داخیال ساته
چه ډیری لعاب لرونکی دوایانی مه ورکوه اوکه د حمل په حال کښی پیچ وی نو لعاب
لرونکی دوایانی مه ورکوه بلکه هغه دوایانی ورکوه چه د حمل په تدبیر وی نو کښی وئی

دنس چینجیان یعنی کډو زوئی او اوښ ده چینجیان ۱- ددی علامه دا
ده چه دخولی څخه ناړی زیاتی راځی شونډان دشپی تراولانده وی او ورځی
خشک وی - دخوب په حال کښی غاښونه چیچی او ترخورک وروسته ئی زړه پکړک
کیږی په نس کښی درونده والی اوبی قراری وی. **ضماد** یعنی هغه دوا چه بربدن
لگول کیږی او په دی سره دنس چینجیان مری - شپږ ماشی حب السود (یعنی دانه سیاه
دوی ماشی دحنظل (مرغونی) تخم او شپږ ماشی ایلوا (صبر) دکریلی په اوبو کښی میده
کړه په نس کښی ترنامه لاندی چه کومه حصه ده دغه دوا باندی ولگوه. **دوا**
چه هرچینجیان خارجوی دنیم پانې، باؤ برنگ (ابرنج کابلی، کمیله (گمبیله) دری سره شیان
دری (۳) دری (۳) ماشی باریک میده کړه دد (۲) و نولو شهدو (عسلو) سره ئی گډ کړه اووئی
خوړه دایو خورک دئی **دوا**: چه په دی سره واړه چینجیان مری - دوی تولی کمیله
(گمبیله) په یوه چتانگ خوږو تیلو گډه کړه د غټو بولو پرځای (مقعده) ئی ولگوه
برهین: د ماشو دال او بلغم پیدا کونکی شیان مه خوړه د کریلی، په ډیر
خوړلو سره چینجیان مړه کیږی.

فایده د چینجیانو مریض ته ددوا د چښلو په وخت کښی دامه وایه چه د
چینجیانو دوا ده که دی ورته وویل بیا دوا اثر نه کوی **بواسیر**: په وینو
کښی چه هروخت سودا زیاته سی نو دغټو بولو پرځای (مقعده) ئی خارش اوسوزش
پیدا سی که وینه هم ورسره راځی نو خونی بواسیر (مواسیر) دی اوچه وینه نه

ورسره راځی نو بادی مواسیر دی په دغو مواسیرو کښی دامی تیزی دوایانی نګول
په کار نه دی چه بالکل وینه بنده سی نو بیا د نور و پیر هر یضیو د پیدا کید و بیره
سته - لکه سِل، لیونتوب او داسی نور او په مواسیرو کښی اکثره وخت قبض
هم وی ددی قبض د پاره همیشه عملی شی کول بد دی بلکه مناسب دادی
چه هروخت قبض سی نو د بیدید و په حال کښی یوه دانه مربا هریره خوری
یا یو وخت وخت دغه اطریفل خوری په دی سره د مواسیرو ته هم فایده
رسیږی او د مواسیرو څخه چه کوم قبض پیدا سوی وی هغه ته هم فایده کوی.

د اطریفل د جوړولو طریقه دا ده: املتاس سبز یعنی د شنه پولوس مغز، د گندنی په اوبرکښی ولړه اوکه گندنه نه
وی نو د مولی په اوبو یا خوږو وولنو په مرق کښی ئی ولړه او وئی چونه د پنځو تولو د عواد غوړو سره
خالص شهد (عسل) ورسره گډ کړه ترگډ ولو وروسته قوام څنډی جوړ کړه -
قوام دا معنی چه جوش ورکړه تر دا سی حده چه تار وکړی - پوست هلیله کابلی
د ڑی هریړی پوست، تور هریړه، پوست بلیله (بلیلج) آمله، انتیمون، اسطوخودوس
تول دوه نیمی دوه نیمی تولی وکوټه او وئی چونه د پنځو تولو د عواد غوړو سره
ئی گډ کړه او تر دغه وروسته ئی په قوام گډ کړه او بیا ئی لس یا پنځلس ورځی په
غنمو یا اورزشو کښی پټ کړه او د بیدید و په وخت کښی یوه یوه توله خوړه
اود هرچا په طبیعت کښی چه گرمی پیړه وی نو پرځای د گوگل دی رسوت (حضض)
ورواچوی. **دوا:** چه په دی سره د مواسیرو د ینه بندیږی شیږ ماشی د
گیندی (صدبرگ) پانی (بلگونه) او شیږ ماشی د هار سنگهار گل، په اوبو کښی
میده کړه دوی تولی شربت انجبار ورسره گډ کړه یوه ماشه ملتانی مټی یعنی
ملتانی خاوره - بار یکه میده کړه پروئی پاشه اووئی چیښه **غذا:** د مسور
دال خوړه که په مواسیرو کښی د مقعدی سوزش او سوخت نه یات وی نو بیا
دغه د واولگوه کتها سفید، سفیدکاشغری (اسفیداج)، رسوت (حضض) اومردار
سنگ د غه تول د ری د ری ماشی او کافور یوه ماشه د غه تول باریک میده
کړه دوی تولی روغن گل ورسره گډ کړه او پر مقعده ئی ولگوه او کله کله په مواسیرو
کښی د غو بولو پرځای پارسوب پیدا کیږی او داسی سوزش وی چه غټی بولی نه
کیږی نو که دا رنگه حال او کیفیت وی نو دوه ئی تولی د بنگو پانی په پاؤ بالا پاؤ نیم

شید وکښی جوش کړه اول بهپاړه یعنی د غټو بولو وځای ته د بنګو د پاڼو توښ چه په شید وکی ایښی ورکړه او بیا د غه پانی ګرمی ګرمی پرو تړه۔ که د دانو د پریکولو او ماتولو قصد وکړی نو بیا توښ دانی مه پریکوه بیا پریږده د دی د پاړه چه نرد غه دانه خراب مواد بهیږی یو مخ بند نه سی

د بوډکو (پښتورګو مرض)

دهرانسان دوه پښتورګی (بوډکی) دی د توشی په مقابل کښی په ملا کښی د دوی ځای دی نو هر وخت چه یو دواړه پښتورګو لګوی نو د توشی څخه ئی ترملا پورې ولګوه او کله کله د باد توليځ او د پښتورګو درد فرق نه کیږی د دی دواړو فرق دادی چه د توليځ درد اول د ښی د خوا شروع کیږی او د پښتورګو درد په ملا کښی یو ځای معلومیږی۔ دوهم فرق ئی دادی چه د پښتورګو په درد کښی د ساه اخستلو سره یو بریښ او درد عوندی تر پښتورګو پورې پیدا کیږی ساه بنده کیږی پوره نه اخستل کیږی **دوا**۔ چه د پښتورګو د درد د پاړه فایده لری۔ شپږ ماشی تخم خربزه یعنی د ختکی تخم شپږ ماشی خارخسک نه ماشی حب القرطم او پنځه ماشی بیخ کاسنی، زیره سیاه (توره زیره) او حب کاکنج په اوبو کښی جوش کړه او وئی چوپه د وی تولی شربت بزوری بار د ورسره ګډ کړه او یوه یوه ماشه حجرالیهود، سنګ سرماهی (حجرالسمک) بنه باریک میده کړه او د ورسره ګډ ئی کړه سهار او ماښام ئی د واړه چیښه او که تبه هم د ورسره وی نو په دغه د واکښی او د وه دانی آلو بخارا هم ګډی که او که دغه د رد په معمولی اودرمیانه د واوو نه بنه کیدی نو څلور تولی کستراییل یعنی د ارنډی تیل د خوږو دلنو په د ری چټانګه عرق کی ګډ کړه یعنی چه خوابنه دلنی د ری چټانګه وی عرق چه هر څونډی څنډی وونی او وئی چیښه اود دی د واپه چښلو سره

بنګی ناپاکی نه — دوی چښل دپاړه هیڅ پروا نه لری د خارجی استعمال د — اود دی پوره پیاوړی نه — بنګی لغلغی دی ۱۲ منه — ماسیږو دپاړه معجربه دواده هضم — هغه د ورسره څوخه د ورسره وی څنډی لرونکی کوپړه یعنی او هغه کوپړه — بوه پوه ماشه د بری د پوره — ۱۲ ۱۲ ۱۲

عملونه هم کیږی بولی هم خلاصیږی او بی تکلیفه کیږی او د پښتورګو څخه فاسده مادې هم وزی دا دواړه یوه ګټوره دی.

تکی یعنی ډوډی او ویشلی د پښتورګو د پاره فایده لری: چه د قولنج د درد په بیان کښی تیره سوید چه په هغه کښی د سویا (ثبت) او میتهی (ملغوږی تخم دی. **لیپ یعنی ضماد** چه په دی سره د پښتورګو درد او د پښتورګو د شا وخوا درد ته فایده رسیږی د (۳) ماشی دار چینی قلمی او د ری ماشی مصطګی دوی باریک میده کړه په خلور د تولو روغن ګل ئی ګډه کړه او ګرم ګرم ئی د پښتورګو پرځای ولګوه او بیا سر بیره ګرمه سوی پنبه باندی وتړه.

سینک: یعنی تاکور د پښتورګو د درد د پاره فایده لری د تیزو ګرمو او بو څخه بوتل ډک کړه سر ئی ور بند کړه د درد پرځای باندی بوتل وګرزوه او که د بوتل ګرمی د باندی تکلیف وه نو یو نرم ټوکر د وه د ری واړه سره کت کړه پر بوتل ئی د پیچه بیا نو بوتل د درد پرځای باندی وګرزوه.

غذا: د پښتورګو د مریض د پاره تر ټولو ښه خوراک ښورواد که ئی کمزوری ډیره وی بیاد چرک او چرګی ښوروا وړکړه او که نه وی نو د بزی ښوروا کافی ده ورځی د پښتورګو د مریض د پاره ډیری ضرر ناکه دی.

د مثانی مرضونه

هغه ځای چه په هغه کښی بولی (شاشی) جمعه کیږی هغه ته مثانه وایی د مثانی ځای په پیړو یعنی اوګا کښی دی که چیری بولی بندی سی یا د یو بلی وجهی څخه دوا پر مثانه لګول غواړی نو پر پیړو یعنی اوګا ئی ولګوه.

په بولو کښی سوزش: د بهرونه تیل (د قنه تیل) پر پتاسه یا د وډی باندی تر کیب لیکل سویدی. **دوهمه دوا:** شیره تخم خرفه سیاه پنځه ماشی، شیره تخم خیارین یعنی د چمبر خیال او بادرنګ د تخم شیره شپږ ماشی، د اوبو سره ګډه کړه ولئ چوپه دوی تولی شربت بنفشه د سره ګډ کړه یوه یوه ماشه طباشیر (بنسلوچن) کتیرا (صمغ الفتاد) باریک میده کړه پر ولئ پاشه بیا ئی وچینه د بولو بند یدل: د تیسو ګل دوی تولی په یوه سیر اوبو کښی پوخ کړه او په ګرمو

اوبو سره تر نامه (نو) لاندی حصه پریوله یعنی گرمی او به پرتوی کړه او دگرمواوبو تر توبید وروسته دغه گلان تر نامه لاندی گرم گرم وتړه

دمثانی کمزوری او وار وار بولی را تلل او بیله ارادی بولی کیدل او دخوب په وخت کی دکوچنیانو څخه بولی کیدل ددی شیانو دپاره دغه معجون گټور دی چه ترکیب یی دادی فلفل سیاه (تور مرچ) پیپل (مرچ دراز) شونډ، حزفه (خلفه) دارچینی (اد وه) خولنجان دغه پتولی دوایانی دوی دوی ماشی، تودری سرخ، تودری سفید بهمن سرخ، بهمن سفید، بوزیدن، اندرجو شیرین (لسان العصافیر شیرین) ناگرموتھ (مشک زیرزمین) بالچهړ (سنبل الطیب) دغه پتول شیان شپږ شپږ ماشی پتول وکوټه او وی چوښه د پنځلسو تولو شهدو (شاتو - عسلو) سره یی گډ کړه درسره وی ساته ولوی انسان ته دوړی یوه توله خورک ورکوه او د کوچنیانو ته شپږ ماشی خورک ورکوه.

په بولوکښی وینه راتلل ددی پاره دغه دواړه تجربه سوید ه شپږ ماشی دصندل سفید برادره د شپی په اوبوکښی خیشته کړه او سهار یی وچوښه اودوی تولی شربت بزوری معتدل ورسره گډ کړه اول دری ماشی سپین سوی چاکسو باریک میده کړه اوکفه یی کړه او سربیره دغه دواړه د چیښه اوکه وینه دیوبلی وجهی څخه راځی نو د حکیم اوطبیب څخه علاج وکړه دشربت بزوری دجوړولو طریقه په خاتمه کښی ده.

درحم مرضونه

دښځو په بدن کښی تر نامه (نو) لاندی درې (۳) شیان دی تر ټولو لوړه مثانه تر مثانی لاندی رحم دی چه په دی کښی کوچنی اوسیږی تر رحم لاندی کولمی دی هر وخت چه پرحم یو دوالگول غواړی نو تر (نامه) لاندی یی ولگوه - که د رحم د مریضی څخه حفاظت اوخلاصون غواړی نو هیښه د دی خبرو خیال ساته

(۱) په حیض کښی که لږ کموالی او زیادت وویني نو سمدستی علاج وکړه.

(۲) دایانی یعنی هغه ښځی چه دلنگو ښځو د پرهیز انتظام او خدمت کوی نن سبا پوښتنه کوه.

بالکل ناپوه دی د دی دپاره فقط د دوی پرړایه علاج مه کوه بلکه د طبیب څخه

(۳) په معمولی اوکو چینو مرضو کښی په رحم کښی د د واد اینبوولو څخه ځان ساته د چښلو او مښو ولو د د واخځه کار واخله.

(۴) په خلویښتی کښی که څه هم بنځه جوړه وی لیکن د د ی د وا او غذا د طبیب د مشورې سره مطابق ورکوه ورنه د همیشه د پاره ئی صحت خرابیږی.

(۵) که پاره سوبه وی نو نړ ئی بیله اجازی د طبیب هیڅ کله مه ورمالش کوه چه په مالش او مښو ولو سره بعضی وخت سخت تاوان پیدا کیږی.

(۶) د کوچنی د نقصاند و تدبیر هیڅکله مه کوه.

حیض کم راتلل ار داد وا نه په ډیره گرمه د ه نه په ډیره خنکه د ه هیڅ اته تاوان نه رسوی. تخم حربوزه یعنی د خټکی تخم، تخم خیارین یعنی تخم د چمبر خیال او بادرنگ، خارخسک، پوست بیخ کاسنی ټول شپږ شپږ ماشی او پر سیاوشان (شعر الارض) پنځه ماشی په گرمو اوبو کښی خیشته کړه او بیا ئی وچوه او دری (۳) توکی شربت بزوری بارد ورسره گډ کړه او چښه ئی

د د ودید و د واچه حیض جاری کوی ار د زرد کی تخم پراور واچوه. او سږیره پراور یو سور اخلاره کاسه او خورین (کاشین) کښیږده او پر سوراخ شوری د د غه خاورین کښینه په دا سی طریقه سره چه د د د ننه ورسیږی

فایده ار د مسورو دال او مسور او د اغه رنگه پټاټ، ستهلی[1] ورجی او خشکی غذاوی حیض بندوی **استحاضه** ار مرضمنه بنځه یعنی تر عادت مخکی وینه راتلل که د گرم شی په خوړلو سره ضرر پیښیدی یادگرمی په ورځو کښی د غه مریضی پیدا او د مخ رنگ شړ واوبستی نو پوه سه چه په مزاج کښی گرمی زیاته سوید ه اووینه نرمه سوید ه او په هرگونو کښو وینه قرار نه نیسی **اوله دواداد ه** ار د یخو اوبو څخه یو لوبنی اونگن (تشت) ډک کړه اوپکښی کښینه ترملا او نامه (نو) لاندی چه کوم بدن د ی یعنی اوبه پرتوی کړه. **دوهمه دوا** ار د انار پوستکی، د انار کلی یعنی د انار خوټی اوماز د ټول د وی د وی تولی سره ومښه په شلو سیرو اوبو کښی جوش ورکړه او بیائی په لوبنی اونگن کښی واچوه اوپکښی کښینه دا رنگه چه د ناستی په وخت کښی اوبه نیم گرمی وی اوتر دوندی وخته پکښی کښینه چه اوبه سړی سی.

دریمه دوا ار صندل سفید، گل سرخ، سماق، د انار پوستکی ټول شپږ شپږ

[1] دا یو قسم پټاټی شړ رنگه ورجی دی

ماشی په گلابو کښی میده کړه نیمگړم ئی تر نامه لاندی په بدن پوری ونیسه او شربت انجبار هم ددی مریضی د پاره فایده لری ـ د مسور دال په سرکه گډه کړه او خوړه ئی د غه غذا خوړل فایده لری د استحاض یو قسم دادی چه په بدن کښی دننه یو رګ دی د دې رګ د پریکید و څخه وینه جاری سی ـ علامه ئی داده چه یکدم ډیره وینه راسی. **علاج** ـ اول یوه دانه قرص کهربا وخوړه پنځه پنځه ماشی تخم خرفه، حب الآس او د بار تنګ تخم په او بو کښی میده کړه او د دی تولی شربت انجبار ور سره ګډ کړه بیا ئی وچیښه ـ د شربت انجبار او قرص کهربا ترکیب په خاتمه کښی (پر صفحه ۱۳۸/۱۳۴ د دې حصی) راځی او دا د دوا د داسی استحاضی د اسهال د پاره فایده لری د دی تولی مازو او د دی تولی دانار پوستکی سره میده کړه په نیم سیر او بو کښی جوش ورکړه هر وخت چه او به پرچتانګ و د ریږی بیا په دغو او بو کښی پنبه خیشته کړه ـ د ږی د ږی ماشی سرمه یعنی رانجه، سنګ جراحت او ګل ارمنی باریک میده کړه او پرد غه لاندی سو و پنبه وړئی پنبه واچوه د اتو ګوتو په اندازه فلیته څنډی جوړه کړه او په بدن کښی ئی د ننه کښیږده یعنی په رحم کښی ئی کښیږده او ترشپږو ساعتونو وروسته ئی بدله کړه ـ او اوس چه کومه دوا ولیکل سوه چه په هغه کښی دانار کلی یعنی دانار غوټه وه د داسی استحاضی د پاره هم فایده لری او د غسی مریض ترڅو چه کیدای سی د تنګ راتنګ او هر قسم حرکت څخه منعه کوه د بغلو څخه بیا دلاسو تر ګوتو پوری ئی د واړه لاسونه پنبه محکمه ور وتړه او هر وخت چه ئی تکلیف زیات سی نو لاسونه ئی ور خلاص کړه او بیا ئی بیرته لاسونه ور وتړه او د د غسی استحاضی آسانه او د مسکینی علاج دادی چه هر وخت وینه په شدت سره جاری سی نو د دی تولی پندول متی (سپینه خاورې) راواخله د ساتهی (پندو ڼړو) ور جو په نرمو او نرږو او بو کښی ئی ویلی کړه او بیا لږ لږ په چیښه او د ملتانی متهی (ملتانی خاوری) ټکری په او بو کښی خیشتی کړه او د چنلو د پاره د غه او به ور کوه او په ګلابو کښی د تو کر پلیته په سرحم کښی د ننه کښیږده دی اوکه د ګرمی څخه ماسیوی دیوبلی وجهی څخه وینه جاری وی نو بیا ئی د طبیب څخه علاج کول په کار دی.

د رحم څخه هروخت د رطوبت جاریوالی

د دا مرض د رحم د کمزورۍ څخه پیښیږي دغه دوا ډیره فایده ورته کوي - معدي، دماغ اوزړه ته هم طاقت ورکوي لوبږه (اشتها) هم بنه پیدا کوي او قابضه هم نه ده خفگان او مواسیر ته ډیره فایده ورکوي دوي تولي د هریږي مربا، شپږ ماشي دانه الایچي خورد یعنی د کوچنی هیل (ییل) دانې او شپږ ماشي وچه دهنیه (وچ گشنیز) دغه ټول په شپږ تولي عرق کیوړه کښي میده کړه شپږ تولي قند سفید وسره گډ کړه لږ څه اوبه هم ورسره گډې کړه قوام د معجون څندې جوړ کړه هروخت چه تیار سي - پنځه دانې د سپینو زرو پانې یوه ماشه د مونگي (مرجان) کشته او څلور قته د قلعي (رانگ) کشته ورسره گډ کړه او د څان سره ګاڼې وساته د شپږ وماشو څخه بیا تر یوې تولې پورې ګاڼې روزانه خوړه د دې دواړو کشتو د جوړولو طریقه په خاتمې (ص ۱۳۸ ص ۱۳۹ کښې د دې حصې) راغلې ده. اودیخ په موسم کښې دغه لهړ وخوړل هم مفید دي (لهړ وهغه شي نه وایي چه یو گردي شي په اندازه او قدر د میتایي جوړ سي) د لهړ د جوړولو طریقه داده چه دوه سیره میده په یوه سیر غوړو کښې سره کړه او بیا ئې څندې راوباسه او غوړې جلا کښیږده بیا میده په نیم سیر قند کې قوام کړه یعنی په قند وکښې تر داسې حده جوش ورکړه چه تار وکړي بیا نو قوام د دغو غوړو سره گډ کړه بیا یوه نیمه تولې گل پسته، دوه نیمي تولي گل دهاوا، یوه تولې کتیرا (صمغ الفتاد) یوه نیمه تولې د ببول (ام خیلان یا کیکر) کونډوري، شپږ ماشي گل چهالیه، یوه نیمه تولې شونډ نه تولي بسباسه (جاوتری) یوه تولې جونتری، یوه تولې مجیټهه، یوه تولې د ډک کونډوري دوي تولي سمندر سوکهه، یوه تولې کمرکس، یوه تولې جوز الطیب، یوه تولې لونگ، یوه تولې گل نارنج، یوه تولې مالکنگي، یوه تولې مازو، یوه تولې آمله خشک، یوه تولې گوکهرو خورد - او کومه دوا چه پیدا نه سي مه ئې وراچوه - دوي تولي تال مکهانه، څلور نیمي ماشي چهوټې مایئں (وړې مایئں) (عذبه) او څلور نیمي ماشي لوی مایئں (ثمر الطرفاء) دغه ټول میده کړه او وئ چونه په هغو جلا ایښودل سوو غوړو کښې ئې سره کړه او بنه ئې پکښې حل او گډ کړه بیا ئې په قوام گډ کړه بیا نیم پاو د بادام مغز یو چهتانگ د پستې مغز، یو چهتانگ د جوز مغز، دوه نیمي تولي چورنبې او نیم سیر وچې خورما وي بنه سره میده کړه او سره گډ ئې کړه او د یوه یوه چهتانگ په اندازه

لږ وګان ځندی جوړ کړه او یو یو لږ وهړه وړځ خوړه.
که ئې چیږی دګرمی په موسم کښی خوری او یادی مزاج ډیر ګرم وی نو بیا شونډه مه وړاچوه که دی لږ وخځه قبض درپیښ سی نو دوه ئی تولی منقی یو وخت یادمربایو ه دانه هریړه خوړه د بید بدو په وخت کښی.
او کله کله دغه مریضی یعنی درحم رطوبت دکوچنی د نقصانید وخځه یادکوچنیانو د ژړ ژړ پیدا کید و خځه پیدا کیږی. د داسی ښځو د پاره په کار ده چه د کوچنی ترنقصانید و ورسته یادکوچنی ترپیدا کید و ورسته چه کومه دوا یا غذا خوری هغه دی د طبیب په مشوره سره وخوری د دایانو پر خبره عمل ونکړی دایانی هری دخلوینځی ښځی ته کونډو ری او شونډو رکوی او په نور هیڅ هم نه پوهیږی چه داخو پرهر طبیعت ښه نه لګیږی.

درحم خارش او سوزش: دیو خرابی مادی په وجه یادیوګرم شی دخوړلو د وجهی وخځه کله کله په رحم کښی خارش پیدا کیږی او یو وخت وخت دانی هم پکښی پیدا کیږی چه په نتیجه کښی ئې بیقراری او بی تابی منځ ته راځی نو په دغه وخت کښی دغه دوا وخوره. **اوله دوا:** رسوت (حضض) مردار سنګ، صندل سرخ، صندل سفید، سفیده کاشغری (اسفیداج) ګیرو (ګل سرخ) چهالیه (شغاری) دغه ټول درې درې ماشی ـ کاڼو ریو ه ماشه، شنه دهنیا (شنه ګشنیز) په اوبو کښی میده کړه او دنه ئې ولګوه. **دوهمه دوا:** شیر ماشی رسوت (حضض) په دوی تولی ګلابو کښی او په دوی تولی اوبو کښی چه د شنو نکړځوی ولړه او دنه ئې ولګوه. **خبرتیا:** په دغه مریضی کښی د ناپوهه دایانو په وینا سره دستنبهالو (اثلق) پانې پونډ کی لګول او ګرمی د دایانی مه استعمالوی ځکه چه بیا بعضی وخت دغه دانی پخیږی او مریضی ډیریږی او کومی دوا یانی چه موږ دلته لیکلی دی که په دغو سره کومه فایده حاصله نه سی نو بیا طبیب ته رجوع وکړه.

درحم ورم او پارسوب: ورم او پارسوب ډیر قسمونه دی نو د دی سبب طبیب ته تلل په کار دی دلته یو سپکه غوندی د وایی لیکل کیږی چه هر قسم ورم ته ګته رسوی پنځه ماشی معجون بید الورد اول وخوره او سر بیړه عرق مکو یعنی دانګور توری عرق نیم پاو، شربت بزوری یا ورد دوی تولی

اود مکوه یعنی انګور توری

د شنو یا پنو پهاړه او به خلور تولی سره ګډ کړه و ئی چیبنه د معجون د بید الورد نسخه په خاتمه کښی راځی لیکن که توخ وی نو د بید الورد معجون مه خوړه.

لیپ یعنی ضماد:- په دی سره د رحم ورم، د معدی ورم او د نالویو ورم ته فایده رسیږی. ګل بابونه، اکلیل الملک، تخم خطمی، ناګرموتھ (مشک زیر زمین) مکوه خشک یعنی وچه انګور توره، صندل سرخ، بالچهړ (سنبل الطیب)- چهړیله (اشنه) ایلوا (صبر) افسنتین رومی، بنفشه، مصطګی رومی، اذخر دغه تول دری دری ماشی وکوټه او وئی چوپه او د دوی تولی املتاس یعنی پولوس، او د هر مکوه یعنی د شنی انګور توری په اوبو کښی ولړه او په دغو اوبو کښی دغه تولی دوایانی واچوه او بیا په دوی کښی روغن ګل، روغن بابونه دا رنډی تیل شپږ شپږ ماشی ګډ کړه نیم ګرم ئی د رحم په ځای پوری ولګوه او د سهار لګول سوی د وا مابنام مینځه او بیا مابنام نوی دوا پر لګوه سهار ئی مینځه دا دواکه دایني یا توری پر ځای ولګول سی هم پروا نه لری بلکه یو څه فایده لری.

اختناق الرحم:- په دی مریضی کښی یو دم بیړه، وهم او وارخطائی راځی او دماغ پریشانه کیږی لاسونه مړه کیږی رنګ ژهیږی د ستر ګو څخه اوښکی بهیږی او بیکاره خیالات په ذهن کښی راځی بیا لږ ګړی وروسته معلومیږی چه تر نامه (نی) لاندی یوشی را پورته کیږی زړه او دماغ ته رسیږی- زړه او دماغ پریشانه کوی تر دامی حده چه حواس ئی ختمیږی او اکثره مریضیانی چغی اونارې وهی بیابی هوښی پر راځی او دا مرض د مرګی اوبی هوښی سره ډیر مشابهت لری لیکن په مرګی کښی په خوله کښی ځګ راځی او په دغسی مرض کښی ځګ نه راځی او د غشی (بی هوښی) په مرض کښی د خوشبوئي د سونګو لو څخه نفعه حاصلیږی او په دغسی مریضی کښی د خوشبوئي سونګول نقصان لری- البته د بدبوئي بویول نفعه او فایده لری.

نو په دغه علاماتو سره معلومیږی چه مرګی دی یا اختناق الرحم دی یا غشی ده او د امرض د حیض د بند ید و څخه اکثره پیښیږی. هر وخت چه پر مریضه دامی د ډیره راسی نو شړ د مریضی پښی د وتلی قدر پټینګی ورو ورو ته چه په تکلیف سی او پر مخ ئی یعنی او به ورځانګی کړه مالګه او دارچینی (خردل) دانی

میده کړه په تلو پوړی ورومبنه او یو بد بویه شی لکه هینجه یاد خاورو تیل په پزه ورسوې کړه او خوشبویه شی مه په پزه ورسوې کوه مه ئې په چیبنه او مه ئې پرېښوده کوه او پوره علاج کول ئې د طبیب څخه په کار دی مګر کومو انجونو یا کونډو یا نوته چه د غه مریضی د واده نه کولو د سببه څخه ورپیښه سوی وی نو تر تولو بهتر او ښه تدبیر ئې واده کول دی.

فایده: د حیض نړ څمید و وروسته د مشک د استعمالولو څخه یعنی په دغه ځای کښی د مشکو دیو کوچنی پارچې دایښولو په وجه اختناق نه پیښیږی.

د رحم کمزوری: په دی کښی باد هوا چیره زیاتیږی او تر نولاندی کله کله یو پارسوب غوندی را پورته کیږی او کله کله داوبو د جوړهاری آوازراوړی کله د باد او هواد وجهی څخه د گورهار آوازراوړی د دی د پاره جوارش کمونی شیږه ماشی یا یوه توله هره ورځ خوړه چه فایده لری او د جوارش کمونی ترکیب په خاتمه کښی پرمخ ۱۲۹ باندی راغلی دی او د رحم څخه د رطوبت د جاری کیدو د مریضی په بیان کښی چه د لړ و د ترکیب بیان په مخ ۵۶ کښی لیکل سوی وو د غه لړ وخوړل د رحم د کمزوری په وخت کښی هم فایده لری

د دننه بدن څیریدل: کله د بالغید و (لویوالی) څخه مخکی د واده کولو په وجه او کله دیو بلی صدمی په وجه داسی کیږی و د غی مریضی ته په عربی کښی شقاق الرحم وایی وطبیب ته د غه لفظ ویل کافی دی چه زما د شقاق الرحم مرض دی دنیا نی بی شرمی ضرورت نسته د دی مرض د پاره د غه مرهم هم فایده لری - موم سفید، د بزی د پښتورگو چربی او د غواد هډو د ماغزه تول د وی د وی تولی راواخله او د یلی ئې کړه څلور څلور ماشی سنگ جراحت او مردارسنگ باریک میده کړه او په د غو شیانو ئې گډ کړه د وی د رې ورځې ئې ولگوه د پیره مجرب ده واده:

دملا، لاسوپښو او بندونو درد

دملا درد ۱- یو وخت دیخ څخه پیښیږی په دا ډول حال کښی دوی تولی شهد دنیم پاؤ سونف یعنی خوږ ډولنو، په عرق کښی ګډ کړه او ئی چیښه اوشیږی ماشی حب السودا، یعنی دانه سیاه په دوه تولو شهدو (شانتو- عسلو) کښی ګډ کړه او څټه ئی اود کوکهد درد د پاره یعنی د توشی د درد د پاره هم دغه علاج ګټه مند دی. او کله کله په ملا کښی درد دی سبب پیدا کیږی چه د یخ په موسم کښی د بنځی کوچنی پیدا سوی وی او غذا په بنه طریقه سره نه وی ورسیدلی په دغه صورت کښی دغو بنو ویخنی ته ګرمه مصالحه ورواچوه او بیائی وچیښه او هګی خوړل هم ډیره ګټه لری او که هګی دنمک سلیمانی سره خوړی نو بیا ډیره ګټه لری. او کله کله د پښتورګو د مریضی په وجه په ملا کښی درد پیدا کیږی د دی د پاره د دغه معجون او شربت ګټه لری

د معجون نسخه داده:- د کرفس تخم څلور نیمی ماشی، د حلبی (ملخونړی) تخم دوی تولی او اوه نیمی ماشی، مغز تخم خیارین یعنی د چمبر خیال او بادرنګ یوه نیمه توله، بادیان نه ماشی، انیسون روی نه ماشی، تخم شبت (تخم سویا) نه ماشی او مجیټه نه ماشی ټول په اوبو کښی وایشوه او وئی چوپه اود کړئ نیمی

نو لی قند سفید و سره گډ کړه او قوام ئی کړه معجون خندی جوړ کړه یوه توله خوړه او سر بیره دوی نو لی شربت بزوری، د عرق مکوه یعنی د انګور نو ری د عرق په یوه چټانګ ګډوه او چښه ئی د غه د واد حیض د راتلو څخه د (۲) ی د (۳) ی ورځ مخکی شروع کړه او هر د خت چه د رد و رک سی بیا ئی جوړ ل پریږده او که ئی د حیض په ورځو کښی خوری هم فایده لری.

خلور نیمی ماشی

د شربتو نسخه داده: د کرفس تخم/ د حلبی یعنی ملخونی تخم یو یشت نیمی ماشی، د چمبر خیال او باد رنګ تخم یوه نیمه تو له، سونف یعنی خواږه ولنی نه ماشی انیسون رد ئی نه ماشی او تخم شبت یعنی د سویا تخم نه ماشی. د غه د وایانی سره وښنه میده کړه ئی کړه د شپی ئی په نیم سیر اوبو کښی خیشتی کړه او بیا ئی سهار وایشوه او وئی چوپه ورد سته دوه ویشت نو لی قند سفید و سره گډ کړه او قوام ئی کړه او بیا د غه شربت او وه (۷) خوراکه کړه په نیمګړ مواوبو کښی یاد سونف یعنی خوږ ولنو په عرق کښی ولړه د حیض څخه مخکی چه هر د خت د ملا د رد شروع سی نو د غی د واچینل شروع کړه. د ملا د رد او د نوشی د د رد او د نورو پیرو د رد و نو د پاره فائده لری- شپږ ماشی د میتهی (ملخونی) تخم او شپږ ماشی دالسی (بزر الکتان) په اوبو کښی خیشته کړه او لعاب ئی را واخله، ګوګل، ګل بابونه او اشق د ری د ری ماشی میده کړه او و سره گډ ئی کړه او د دی نو لی دا سنه ی نیل په ګډ کړه نیم ګرم ئی په ملا او نورد خایو پوری وښنه.

لډو: چه د د ه د جوړ ید و طریقه د رحم څخه د رطوبت د جاری کید و په بیان کښی په صه ۵۶ کښی لیکل سوید ه د غه لډو خورل هم د غه د رد ته فایده رسوی چه د غه د رد د کمزوری څخه وی.

د لاسو، پندو، څینګلو او نورو بندونو د رد: د د غو د رد و نو او نورو ډیرو د رد و نو د پاره د غه د وا فایده لری- د ری ماشی سور نجان شیرین بارنیک میده کړه او شپږ ماشی شکر سرخ و رسره گډ کړه د بید ید و په وخت کښی ئی وخوړه

او سر بیر بیاد سونف (جوزه ولنو) عرق نیم پاو او دوی تولی خمیرهٔ بنفشه سره گډ
کړه او وئ خوړه د غه دواد هرځای ودرد ته فایده رسوی د خمیرهٔ بنفشه ترکیب
په خاتمه کښی په صفحه ۱۳۰ کښی راځی او خمیرهٔ بنفشه په بازار کښی هم پیدا کیږی.

بله دوا: چه د بندو د هر قسم درد او داغه رنگه د هرځای د درد دپاره
فایده لری او په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی دری دری ماشی سوړ نجان تلخ
او قسط تلخ سره میده کړه په دوی تولی روغن گل او شیږ ماشی موم زردئ گډ
کړه او په درد ناکه خایونو پوری ئی ومینه.

کم خرڅه تیل: چه د بدن د پاره فایده لری او په دوی کښی هیڅ
قسم تاوان نشته پاو باندی یوه تولـه گهونگچی سرخ (دایو قسم کوچنی سری
دانی دی) ریزه کړه او دال څندی جوړ کړه او بیا د غه ریزه او جوړ سوی دال میده
کړه یوه شپه او ورځ ئی په اوبو کښی وساته بیا پاو بالایو پاو تیل دکنجټو په د غو
اوبو گډ کړه او جوش ورکړه چه اوبه وسوځل سی او گهونگچی هم وسوځل سی
او سکاره سی بیا ئی وچونه او په د غو چونل سو وشیانو څلور نیمی ماشی نمک
سانبهر (نمک آب گیر) او نیم پاؤ د څاقانره او به ورسره گډ کړه او دا وسپنی په
لوښی کښی بیا جوش ورکړه چه اوبه او نمک وسوځل سی دا دی خیال وساته
چه تیل ونه سوځل سی بیا ئی په احتیاط سره په بوتل کښی کښیږده او وړه بنه
فایده لری تجربه سویده ی.

فائده: د بندو او کوڼه د درد په علاج کښی وډیر و قسمونه تکلیفونه ضرورت
دی دا دی سبه د د غه علاج دیوهوښیار طبیب څخه کول په کار دی.

فائده: د ختکی او داغه رنگه کتاء البر (د ختکی یو قسم دی) په قدر د هضم
گټور او فائده مند دئ.

فایده: د بندو او کوڼه د درد په صورت کښی بنور وا او سپتې بنه غذا ده.

فائده: مشهوره ده چه په وجع المفاصل یعنی د بندو په درد کښی خنکه دوا
هیڅکله استعمالول نه ده په کار لیکن دا غلطه خبره ده بعضی وخت کافور لاهم
نقرس دلاسو د بندو او د پښو د گوتو و درد ته وائی.

وجع الورک او عرق النساء: یو درد په ورک (کوناټی) کښی پیدا کیږی دی

ته وجع الورک وایی او هر وخت چه درد د پیرسی د پښی ولاندی حصی ته وغوړیږی ودی ته عرق النساء وایی۔

فایده:۔ کریله د غوړو سره و و درد ونو د پاره فایده لری او دا فایده ئی هم اکثره وخت وی لیکن د دی درد ونو علاج د طبیب څخه وکړه

فائده:۔ په دی درد سره درد ونو کښی د پیرخنکو شیانو د لیپ اوضماد څخه ځان ساته۔

د تبی بیان

د تبی په سوو قسمونه دی اود علاج د پاره ئی د هر یو علم اوپوهی ضرورت دی دلته فقط بعضی واړه واړه تدبیرونه د تبی لیکل کیږی۔

(۱) د تبی علاج همیشه دیونانی حکیم څخه کول په کار دی او په علاج کښی ئی ځنډ او غفلت کول نه دی په کار۔

(۲) دیخی تبی د وار په وخت کښی مریض پرگرم ځای مه پریږده لیکن د هوا اوباد څخه ئی گوره د لرزی اوریږ دیدو او تپیدو په وخت کښی یو کالی پر واچوه او بدن ئی ورکښیکاږه تر ریږ دیدو او تپیدو ورو وسته که خوله پرې غلی نه وی نو بیا هوا او باد پروا نه لری۔

(۳) د لاس او پښو مالشول او مښوول په هر قسم تبه کښی فایده لری برابره خبره ده که دغه مالشول د مالگی په ذریعه وی یا د یوبل شی په ذریعه وی یا د یو توکر او کالی په ذریعه وی لیکن توکرا و کالی یو څه نرم اوپتلا په کار دی۔ د پښو مالش او مښوول د پوندو د خواڅخه دگوتو وخواته کیږی د لاسو مالش د ورغوی د خواڅخه دگوتو وخواته کیږی او په هرشی سره چه مالش کوی هر وخت چه هغه گرم سی نو دستی ئی بدل کړه۔

(۴) تر مالش ضیات گهټور بنکر لگول دی او تر دی ضیات فائده مند شی پاشویه ده یعنی د تبی والا پښی ورپه یول دی چه بیان د دغه پاشویه اوس راروان دی بعضی خلگ چه وایی چه په مریض پوری د بنکر لگولو یاد پاشویه توان نسته د اچتی خبره ده په دی سره مریض ته نور طاقت ورکی هر وخت چه بنکر ورولگول سی بیا نو پښی د ورنو څخه واخله تر مجلکو پوری بنه محکم او تینگی ورو تړه او نر

یوه ساعت ورو سته ئې ور خلاصې کړه لیکن کراري کراري ئې ور خلاصې کړه یکدم ئې نه
ور خلاصوه دورنو دطرف څخه ئې تړل شروع کړه اود خلاصولو په وخت کښې دبجلکو دطرف څخه
خلاصول شروع کړه تر پاشویه وروسته ئې هم دغه رنګه پښې ورو تړه

⑤ پاشویه ودې وایي چه یو څه دوا په اوبو کښې وایشوی او دغه اوبه ګړی ګړی
د مریض پرپښو ور واچوی او په لاسونو سره ئې پښې د قدمو خواته ټینګې کښیکاږی

دپاشویه نسخه:- چه د بخار (تبې) په اکثره قسمونو کښې کار ورکوی
د بیرې د درختې پانې یو چټانګ، سبوس ګندم یو چټانګ، ترخه مالګه دوې
تولی، خوب کلان (خاکشیر) یوه توله، بنفشه دوې تولی، خطمي یوه توله اوګل نیلوفر
یوه توله دغه ټول په یوه کڅوړه کښې واچوه په شلو سیرو اوبو کښې جوش
ورکړه هر وخت چه جوش مې بیا کڅوړه ځندې راوباسه اوپه دغو اوبو سره
مریض ته دارنګه پاشویه ورکړه چه مریض پر چارپائې یا چوکۍ دارنګه کښینوه
چه پښې ئې لاندې ځړیږي او ترپښو لاندې ئې یو لګن یا یو غټ خالي دیګ کښیږدئ
اود مریض پرمخ پټه یا بل شی ورواچوه دپاړه ددې چه داوبو توښې ئې پرمخ
ونه لګیږي اوددماغ ته ئې ګرمي ونه رسیږي بیادې دوه خلګ د مریض پردواړو
پښو د ځنګنو څخه ددغو دوا یا تولږ څه بنې ګرمې اوبه کراره کراره اچول شروع کړي
اوددوه خلګ دې د ځنګنو څخه تر بجلکو پورې پښې دارنګه ورکښیکاږي چه
مریض ته لږ څه ناګواره اوناخوښه ونګیږي هروخت چه دغه اوبه ختې سې
په دغه خالي لګن اودیګ کښې جمعه سې بیادې په لوټه کښې راواخلي داغه رنګه
دې پراچوي لکه مخکې چه ئې پراچولي اوپښې دې ورکښیکاږي تر یوه ساعته پورې
یا تر څو چه مناسبه وې داغه رنګه دې پاشویه جاري وساتي بیادې پښې ور
وچې کړي په دوو اوبرد وتوکرانو دې ئې ورو ورو تړي لکه چه د بنکر لګولو په بیان
کښې چه لیکل سوې دي.

دپاشویه بله نسخه:- نخاله (سبوس ګندم) یو چټانګ، تریخ نمک اوخوب کلان

(خاکشیر) دوی دوی تولی داغه رنګه په شلو سیرو اوبو کښی جوش کړه اود مریض پاشویه یعنی پښی په ور پریوله.

فایده:- په تبه کښی د سر دطرف څخه دګرمی د بند و لو د پاره لخلخه هم ښه شی ده لخلخه دوی ته وایی چه یو خوشبوئي تسکین ورکوونکی ومرض ته ورسوونکرل می **نسخه** ادری ماشی صندل سفید په شیر تولی ګلاب کښی و مینه او دری ماشی دهنیه (ګشنیز) ریزه کړه د غه هم پکښی واچوه اوخس کوم چه دد ه څخه خلګ خوشبوئي حاصلوی دری ماشی اګر و یعنی داوښ ده کړه وتکری یادبا ورنګ تکری دوی دوی تولی ګل ارمنی (طین ارمنی) دری ماشی، روغن ګل یوه توله اوسرکه دری ماشی سره ګډ کړه بیائ په دوولو ښو کښی واچوه دهریوه څخه د واسوښو داغه رنګه پرخس او به پناه کول یا پرپندول او به پاشل یا بادرنګ یا چمبر خیال سوښول اوبویول هم فایده لری که ګرمی ډیره زیاته وی نو په لخلخه یعنی د سوښولو په شی کښی کافور هم ګډ کړه.

د غفلت لیری کولو یو تدبیر ادی:- چه دمونګ یعنی ماشو څخه تکی پخه اوجوړه کړه چه یوه خوائ اومه وی او پرد غه او مه خوائ روغن ګل ور واچوه او پرسرئ ور وتړه هروخت چه ګرمه سی بیا بله پرسر ورکښیږده د غه رنګه د شید و ماوا (د شید وکهویه) په روغن ګل سره غوړول او بیا پرسر نړل د بیهوښی د لیری کولو د پاره فایده لری اوکه مریض په هیڅ طریقه سره په هوښ کښی نه راتلی نو یو چرګه حلاله کړه د دی د نس کولمی او شیان لیری کړه او دستی ئ دا رنګه پرسر ورکښیږده چه دمریض سر د چرګی په نس کښی راسی. غفلت اوبی هوښی که د هره سببه وی یوازی خامخا مریض په هوښ اوسد کښی راځی ⑥ د تبی دوا:- او بحران په ورځ و مریض ته غذا مه ورکوه اوکه ئ چیری ورکوی نو د تبی دوا:- څخه ئ د ری څلور ساعته مخکی ورکړه په ګرمو تیو کښی داوربشو آش ډیره ښه غذا ده او د جوړولو طریقه ئ په خاتمه کی پر صفحه ۱۲۶ باندی راغلی ده

(۷) چه هر وخت دیو چا تبه وی نو فکر کوه چه د متبی د راتلو وخت او ورځ ستا یاد وی د دی ضرورت په دی وجهه دی چه په هر یضی کښی بعضی ورځی داسې وی چه په دغو ورځو کښی طبیعت غواړی چه ناجوړی لیږی کړی او ناجوړی غواړی چه طبیعت کمزوری کړی نو په دغو ورځو کښی تکلیف زیات وی ودغه نه بحران والی پس نو په علاج کولو کښی طبیبان د بحران دورځو خیال ساتی نو که تاته د مریضی د شروع کیدو ورځ او وخت یاد وی نو حکیم او طبیب ته خدمت کونکو د پاره هم د بعضو خبرو او شیانو انتظام کول ضروری دی نو که ورځ او وخت یاد وی نو پتول انتظام اسانه کیږی پس نو په دی کښی دغه یو څو خبری و پیژنه اول که د عزرئی څخه مخکی تبه راغلی وی نو د تبی او له ورځی څخه شمیره اوکه تر عزرئی ورسته تبه راغلی وی نو که دغه تبه هره د ریمه ورځ وی بیا نو دغه ورځ پوره ورځ د تبی وبولـه د هر وخت په تبه کښی او په هغه تبه کښی چه هره ورځ ئی دار وی برابره خبره د ده که یخه وی او که گرمه وی دغه ورځ ئی او له ورځ مه بولـه بلکه راتلونکی ورځ ئی او له ورځ وشمیره.

د دهمه خبره داو پیژنه چه تر شلو ورځو پوری د یاد ساتلو په ضرورت دی په دغو ورځو کښی لسمه[۱۰] دوولسمه[۱۱]، شپاړسمه[۱۶] او نوسمه[۱۹] ورځ بالکل د بحران څخه خالی وی او وڅمه[۷]، یوولسمه[۱۱]، څوارلسمه[۱۴] او اوسمه[۱۷] او شلمه[۲۰] ورځ د تیز بحران ورځی دی اتلسمه[۱۸] ورځ د سپک بحران ورځ ده اتمه[۸] او دیارلسمه[۱۳] ورځ اکثره خالی وی او یو وخت وخت بحران پکښی پیښیږی د دریمه[۳] او نهمه[۹] ورځ دی چه په دوی کښی یو وخت بحران وی او یو وخت نه وی کومی تبی چه هره دریمه ورځ کیږی په دغو کښی او وڅمه[۷] او یوولسمه[۱۱] ورځ د دیر سخت بحران دی اکثره وخت تر یولسمی ورځی پوری بحران ختیږی که په دغه یوولسمه[۱۱] ورځ بحران نه وی نو بیا هیڅ غم نسته دریم د اخبره و پیژنه که چیری د شپی بحران راتلونکی وی نو د ورځی د بحران علامی بنکاره کیږی او که چیری بحران د ورځی راتلونکی وی نو په شپه کښی ئی علامی بنکاره کیږی او هغه علامی دا دی بی قراری زیاتیدل، اړخ پراړخ کیدل، یو وخت په سد کښی راتلل او بیا یعنی بی سده کیدل، پرته گډیدل، پرگردن او غاړه درد کیدل، پرسر چکر راتلل، تر

ستړګو مختلف شکلونه او شیان معلومیدل، پرملا زیات درد را تلل، تر نورو ورځو زیاته ستړیا را تلل، بدن کوتل کیدل، په غوږ وکښی بوږ هاری کیدل، یو وخت دغه ټولی نښانی او علامی وی او یو وخت دا غوخته بعضی علامی وی بیا چه هر وخت غفلت ډیریږی په خوب کښی ډوب سی یا یکدم را وغورزی او وځغلی دخپل ځان وهل او تړتل شروع کړی نو پوه سه چه دغه بحران دی او بیا چه دسدا او هوښ خبری شروع کړی یا خوله پر راسی او بدن ئی سپک غوندی معلوم سی نو پوه سه چه بحران ختم سو.

څلرم په دی خبره ځان پوه کړه چه د بحران په وخ د مریض د خدمت کونکو د پاره دکومو شیانو انتظام کول ضروری دی هغه شیان دا دی چه د بحران په وخ مریض ته استراحت ورکول په کار دی یوه تیږه دواهیشکله مه ورکوه نه د عملونو، نه د تبی دوا ورد بندید وینه د خولې - بعضی وختونه دد غسی دوایانو د ورکولو څخه مرګونه پیښ سوی دی لیکن د هوښ او حواس د پرځای ساتلو د پاره یا زړه ته د طاقت ورکولو د پاره که یو څه سپک سپک تد بیرونه وکړی نو بیا پروانه لری لکه بنکر لګول. یا صندل په ګلاب کښی مښول او بیا یو پتوکر په خیشته ول ورډسته ئی پر زړه ایښول تر دغه زیات چه نور هرڅه کوی وطبیب ته پوره حال ووایه هرڅه چه هغه درته وفرمایی هغسی وکړه پنځم په دی خبره ځان پوه کړه که چیری په تبه کښی وینه جاری سی یا عملونه شروع سی یا ئی شروع نه سی یا بولی یکدم شروع سی یا خوله راسی نو مه بیریږه د بندید وکوشش ئی مه کوه دا ټولی علامی دی لیکن که په دغو شیانو کښی ډیر والی راسی نو د طبیب په مشوره سمدلاسه ئی د بندید وکوشش وکړه.

(۸) که لرزه او ریږدیدل د وندی قدر سخت وی چه توان ئی نه لری نو د بازوګانو څخه بیا تر لاسونو پورې د واړه لاسونه اود ورنو څخه تر بغلکو پورې د واړې پښې درد تړه یا اویه نه پخی کړه تر چارپایئ لاندی ئی کښیږده د دغی تبی د مریض ته انکباب یعنی داو بو توښ ورکړه پر چهار پایی باندی هیڅ شی مه غوړوه د پاره د دغو اوبو کښی پنځه شپږ توله د سویا تخم (تخم شبت) وایشوه.

(۹) که په تبه کښی تنده ډیره وی یا ژبه وچه وی یا خوب نه وی نو د مریض په سر پورې روغن کدو یا روغن کاهو یا یو نور خنک تیل د وندی قدر ورومبنه چه

جذب نه سی او په غوږ و کښی ئی هم ورځاځکی کړه او که پوخ نه وی نو بیادی مریض
په خوله کښی (آلو بخارا) کښیږدی او که چیری پوخ وی بیادی بهدانه (حب السفرجل)
یاست عناب (جوهر عناب) په خوله کښی و نیسی او که په تبه کښی د سر درد زیات
وی یالاس او پښی سارې وی نو د پښو مالش او مښوول د مالګی په ذریعه ورو کړه
او ورو وسته نرم مالش په یو پوکړکی پښی ورو پیچه.

(۱۰) که په تبه کښی بیړه او بی قراری زیاته وی نو صندل په ګلابو کښی ومښه
پوکړ په لوند کړه پر زړه ئی ورکښیږده زړه ترچپه ئی لاندی دی.

(۱۱) د تبی مادې یو وخت په رګونو کښی د ننه وی یو وخت د رګونو ځغه
دباندی په معده یا اینه یا یو بل اندام کښی وی هر وخت چه مادې د رګونو
ځغه دباندی وی نو د تبی دوارې سړه یخ ملګری وی او چه د تبی مادې په رګونو
کښی د ننه وی بیا د تبی دوارې سړه یخ ملګری نه وی بلکه یوازی د تبی دورې
اووارې وی د دی ځغه به معلومه سوی وی چه د کومی تبی سړه یخ ملګری وی
د غه دوا ونه د ی خطرناکه نه ده لکه کومه تبه چه گرمه وی یخ ورسره ملګری
نه وی ځکه چه په رګونو کښی د ننه کوم درد وی د هغه ایستل مشکل دی.

(۱۲) د د ریمی ورځی دورې اکثره صفراوی تبی وی او د هری ورځی دورې دبلغمی
تبی وی او د څلرمی ورځی دورې د سوداوی تبی وی. صفراوی تبه تر ډیرو ورځو
پورې دوام نه کوی مګر دری ورځی تیږه او اندیښه ناکه ډیره وی د څلرمی ورځی
تبه که څه هم تر کلونو پورې دوام وکړی مګر اندیښه ناکه نه وی.

(۱۳) د غه د وا وی د تبی د پاره ګټوره ده.

منعه کوی ئی: ست ګلو (جوهر ګلو) یوه توله، طباشیر (بنسلوچن) یوه توله،
دانه الایچی خورد یعنی د وارې هیل دانی یوه توله، زهر مهره خطایی (حجر السم)
یوه توله، کافور یوه ماشه او کنین دری ماشی د غه ټول سړه وکوټه وئی چونه
او په لعاب اسپغول ئی ګډ کړه د نخود دانی په قدر ګولی ځندی جوړی کړه بیا نو
یوه یوه ګولی د تبی دوارې د راتلو څخه دری ساعته مخکی وخورې او یوه دوه
ساعته مخکی او یوه یو ساعت مخکی وخورې. ډیری تجربه سوی ګولی دی او په
هیڅ حال کښی ضرر نه رسوی کوچنی ته یوه یادوی ګولی ورکړه او د طاعون
په موسم کښی یوه یادوی ګولی هره ورځ خورې نو انشاء الله د طاعون ځغه به

خلاص سی اوکه ئی تزجوړوالی ورو سته څوورځی وخوړی نو بیا به دی انشاء الله تر
ډیری زمانی پوری تبه نه وسی

دتبی ترعلاج وروسته دوا ۱ـ که په بدن کښی یو څه حرارت اوگرمی پاته
سوی وی نو دری تولی مقطری اوبه دکاسنی، د دوو تولو شربت بزوری سره گډی
کړه او دغه چه دوا ړه سره گډ سی چښل ئی ډیره فایده لری او ترکیب ئی په خاتمه
کښی پرصـ۱۳۴ باندی راغلی دی. اوآب مروق یعنی هغه اوبه چه انغلاق ئی کړی
وی بل شی دی اود دوی د جوړولو طریقه هم په خاتمه کښی پرصـ۱۲۷ راغلی ده.

دکمزوری دوخت دتدبیرعـ بیان

بعضی وخت تر ډیری زمانی پوری د تبو د سببه څخه یا په یو بله مریضی
کښی داخته کیدو د سببه څخه انسان کمزوری کیږی نو په دغه وخت کښی
بعضی خلگ و مریض ته د ژر طاقت ور وستلو د پاره ډیری غذاوی یا میوی او
داسی نور شیان ورکوی لیکن داصحیح خبره نه ده دلته د د غسی وخت د
کمزوری د پاره مناسب تدبیرونه لیکل کیږی.

① دا خبره یاد وساته چه په کمزوری کښی یکدم د ډیر خورک څخه. یا د
ډیری طاقتی دوا څخه فایده د انسان وبدن ته نه رسیږی بلکه بعضی
وخت تاوان رسیږی فایده د هغی غذا څخه او د دوندی مقدار څخه رسیږی
چه په اسانی سره هضم سی که ئی غذا تر اندازه زیاته وخوړه یا ئی ډیره قوی
اوطاقتور غذا وخوړل نو بیا په مریض پوری د دغی غذا توان نسته اود دغی
غذا برداشت نه سی کولای او په هاضمه کښی ئی قصور راځی نو امکان سته چه
مرض بیرته راوگرزی او په نس کښی سدی پیدا سی یا پارسوب پیدا سی نو د دی
سببه دکمزوری په حال کښی مریض ته په آهسته آهسته سره غذا ورزیاتوه
که یوه یاد وی کاچوغی بنورواوا فقط یوه دانه هگی هضم کیدای سی فقط د غه
ورکوه زیاته مه ورکوه که څه هم مریض د لوږی څخه چغی اوناری وهی د لوږی
سی چه د دی دوی کاچوغی بنورواو د ری څلورواړه په ورځ کښی ورکړی لیکن دا کیدای
خیال کوه چه د هرد دوو وارونو ترمنځ فاصله تر د ری څلورساعته کمه نه وی د

پاره ددی چه اوله غذا هضمه می وروسته د دهمه غذا وخوړل می ورته
د تداخل او بد هضمی بیره سته غرض په هرکار کښی کراره کرار ه زیاد ی کوه
په غذا ورکولو په غوړو ورکولو ، په گرزیدلو راگرزیدلو ، په خبرو اترو کښی ،
په لیکلو اولوستلو کښی ، او مریض خوښ خوشحاله ساته ، د د ه په مخکی یو
داسی خبره مه کوه چه د د ه زړه په زهیریږی یادی په غمجنیږی مه دی
بالکل یوازی پریږده مه د د ه خلاف خپل طبیعت استعمالوه مه د د ه د طبیعت
مخالف مجلس ورته جوړوه ، مه ئی په ډیره رڼا کښی ساته مه ئی په ډیره
تاریکی کښی ساته . بنه دادی چه د وا غذا او ټول تدبیرونه د مریض د
علاج کونکی طبیب په راپه سره وکړی او دا خیال مه کوه چه اوس مرض ختم
سویدی نو بیا د طبیب څخه د پوښتنی څه ضرورت دی .

(۲) کمزوری انسان که بنه وږی کیږی او ډوډی او خورک په بنه اشتها سره
خوری لیکن طبیعت ئی خوشحالی نه کوی د ډی او غتې بولی ئی ته صافیږی او
بدن ته ئی طاقت نه ورځی نو پوه سه چه مرض تر اوسه پاته دی او دغه د روا نجنه
لوږه د ه .

(۳) د کمزوری انسان د پاره د غرمی بیدیدل اکثره وخت تاوان اوضرر رسوی .

(۴) کمزوری انسان که نه وږی کیږی نو پوه سه چه د مرض مادې تر اوسه پوری
د د ه په بدن کښی پاته د ه .

(۵) کمزوری انسان دی تر ډیر زیات وخت پوری تنده اولوږه هم پرځان نه تیروی
ځکه چه په دغسی کولو سره کمزوری زیاتیږی هروخت چه ئی تنده اولوږ کمه
سی نو یوځه د خوړلو او چښلو شی دی ورکړه سی .

(۶) نرمه او سیاله غذا ژر هضمیږی که څه هم تاثیر ئی دوا می نه دی . لکه آش جو
یعنی داورېشو آش یا دچرگی د چیچی شوروا یا د بزی د غوښو شوروا خشکی او
سختی غذاوی په ډیر وخت سره هضمیږی که څه هم د د وی تاثیر دوا ئی دی . لکه
کوفته ، کباب ، شیر برنج او داسی نور .

(۷) په کمزوری کښی ډیری یخی اوبه چښل په کار نه دی او نه یکدم ډیری اوبه
چښل بنی دی د ی څخه بعضی وخت مرگ پیښ سویدی .

(۸) د کمزوری انسان د پاره یو دوا د طبیب په رایه جوړول چه د غه دوا د طاقت

د پاره وی هم مناسبه ده د پاره ددی چه ژر پر پښو ودریږی لکه ماء اللحم نوشدارو، خمیرهٔ گاوزبان، خمیرهٔ مرواریدو، دواء المسک او داسی نور ددغو ټولو د جوړولو طریقه په خاتمه کښی راځی.

(۹) د آملی مربا، د سیب مربا، د پیټهلی مربا یعنی کدوی روی مربا، د سپینو یاسمنو زرد وړقو سره خوړل هم د مریض ته طاقت ورکوی ددی ټولو د جوړیدو طریقه په خاتمه کښی راځی

تنبیه: ددی بیان څخه به دلنگی بنځی په باره کښی دا معلومه سوی وی چه دکومو غذاوو او داسی نورو پر بی ترتیبه او نقصانی شیانو ورکول چه ډ سبا رواج دی او دغی لنگی بنځی ته ورکول کیږی نو دا هر قسم غذاوی او داډ ډ سبا رواج چه راغلی دی د لنگی بنځی په باره کښی بالکل غلط دی ځکه چه د لنگی بنځی طبیعت د تبی د مریض ترطبیعت هم کمزوری کیږی معده او داسی نور شیان ټ د هغه چا ترمعدی او داسی نورو شیانو کمزوری کیږی چه هغه عملی شی خوړلی وی. او د دغی لنگی بنځی ته داسی سلو کجن خواړه او داسی نور شیان ورکول کیږی چه جوړه اورو هغه بنځه ټ هم نه سی هضم کولای اخیر ټ نتیجه دا راووزی چه په معده او کولمو کښی ټ سړی پیدا سی او د ټول بدن رگونه د مواد و څخه پاکیږی په نلوا ورحم کښی اکثره وخت پارسوب پیدا کیږی نو په دغه حال کښی که ټ تبه سی نو هغه په هډوکی پانه کیږی او قرار نسی نو بیا نا آرامه کیږی موږ د لنگی بنځی په باره کښی تدبیر و نه لیکلی دی د هغه سره موافق عمل کوه انشاء الله تعالیٰ صحت او جوړوالی به برقراره وی.

د پارسوب، مرغړو، دانو، زخمو او نورو بیان

د درو ځایونو پارسوب هیڅکله مه بندوه یود غوښه د شا و خوا پارسوب دوهم د بغل پارسوب دریم د جنگاسې یعنی د هغه ځای پارسوب چه ځایو او ورنو ته نژدی دی د دغو ځایونو پر پارسوب یو خنکه دوا لکه اسپغول او داسی نور هیڅکله مه لگوه بلکه هر وخت چه په بغل کښی مرغړی او دانی راپورته ددی چه د غه مرغړی بنه پاخه سی بیا ټ د بهیدلو طریقه او تدبیر وکړه

بندول ئی هیڅکله په کار نه دی خصوصاً هغه وخت چې د طاعون آوازه وی ځکه چې په طاعون کښی پرد غو درو ځایونو اکثره وخت مرغۍ او دانی را خیژی نو داسی طریقه کول چې بیرته د غه دانی و مرغۍ وچ کړی بالکل مرګ دی.

دپارسوب دیوځود وایانو بیان

دوا چې سخت ورم (پارسوب) نرم کړی سهار او ماښام مرهم داخلیون لګوه او که د غه مرهم پریو ټوکر باندی ولګوی پرد نبل یعنی دانه ئی کښیږدی او مړ پیژه دمیدی پلټس او پنډ کی یادالسی (بزرالکتان) پلټس او پنډ کی په شید وکښی پخه کړی پرونئ ټرې نو ئی ډیر ژر پخوی. د مرهم نسخه داده دالسی (بزرالکتان) او تخم میتهی (ملخونړی)، اسپغول، تخم خطمی، او تخم کنوچه (ګنچه) ټول شپږ ماشی راواخله په او بوکښی خیښته کړه او بیائی په او بوکښی وایشوه بنه ئی سړه و مښه او لعاب ئی وچوڼه بیا دوی تولی مردار سنګ چه وچ وی میده ئی کړه او بیا د غه مردار سنګ په پنځه تولی روغن زیتون کښی پاخه کړه تر دامی حده ئی پاخه کړه او سړه ئی کړه چه ټوراوی وه اندازه خټه سی بیائی دنغری خټه راشوه کړه او د غه لعاب لږ لږ پکښی اچوه او مښه ئی چه مرهم سی ودیږ مرهم داخلیون وایی که روغن زیتون پیدا نه سی یا پیر مصرف نه کوی نو دوی پر ځای دکنجټو تیل ورواچوه د غه مرهم دبدن هر سخت ځای نرموی په رحم کی دننه هم استعمالیدای سی.

هغه دواچه دنبل یعنی دانه پخه کړی:- دالسی (بزرالکتان) او میتهی (ملخونړی) تخم، دآملی تخم او دکوترۍ ګندګی ټولی دوایانی لس لس ماشی وکوټه او وئی چوڼه په دوه نیمی تولی اوبو او په دوه نیمی تولی شید وکښی ئی پخی کړه تر دامی حده چه خټه سی بیائی نیمګړمه وتړه دپیپل (فلفل دراز) تازه پانی د غه رنګه دګل عباسی پانی او پان ګرمول او بیا پر تړل هم دانه پخوی.

فائده:- بعضی وختونه پرورانه یا بل ځای پلټس او پنډ کی یا یو بله دوا د دانئ د پخولو د پاره اینبول کیږی لیکن نه پر تړل کیږی ځکه چه د تړلو ځای نه وی لکه ورون مثلاً نو پتې او پنډ کی نه پر تکیه کیږی دد ی د پاره عمده او بنه تدبیر دادی چه شپږ ماشی موم، دوی تولی بهروزه (قنه) اودوی تولی رال (راتیج)

راواخله او دغه درې(۳) سره شیان ویلی کړه مرهم غوندی شی څنډی جوړ کړه بیا نو دپنبه دیوی غټی ټوټی او پنکری پرځنډی باندی دغه ولګوه او کومه دوا یا پونډ که چه پردانه سر بیړه ایږدی هغه پرکښیږدی بیا دغه ټوټه دپنبه پرکښیږده او څنډی ئې پربدن بنه چسپیده او ومبلوه نو داسی مبلول کیږی چه نه په خپله لیږی کیږی او نه پونډ که پریږدی چه ولویږی او دغه مرهم خپله هم دانه پخوی او هروخت چه ئې لیږی کوی. نو لږ څه تیل یا غوړی ئې پرځنډو وړ ولګوه او کرار کرار ئې څنډی جلا کړه هروخت چه دانه پخه سوه نو دماتیدلو ند بیر ئې وکړه اودپخیدو دشروع علامه ئې دا ده چه درداور وښوالی یکښی پیدا سی او څای سور اوګرم وی اودپوره پخیدو علامه ئې دا ده چه روښوالی ئې پرځای ودریږی اودرد هم کم سی اودرنګ سور والی ئې ختم سی اوکه خالص نوونه نه راوو تل اودانی اوتپ پرځنډو سور والی وی نو پوه سه چه دانه پوره نه ده پخه سوی بیرته پونډ که پروتړه.

دوا:- داسی دوا چه په هغی سره بیله نشتره دانه ماته اوسوری سی:- درې(۳) ماشی ژوندی اهک اویوه توله دبزی دپښتورګو چربی (وازګه) دوا ره سره ګډ کړه پردانه او نوَنۍ څای ئې کښیږده چه هروخت دانه ماته سی نو بیا ئې دصافولو او بهیدلو تدبیر وکړه- دد غه بهیدلو اوصافولو دپاره دغه دوا مفیده ده. پیاز دنیم ددرختو په پانو کښی کښیږده او په یو ټوکر کښی ئې وپیچه پرنغری ئې سور کړه بیا دوا ره سره ومښه اولږ څه هلدی (کورکومن) پروپاشه وروسته ئې پردغه څای وتړه- سهار اوماښام ئې تبدیلوه اودوا ره وخته ئې دنیم په اویو سره پریوله. **بله دوا:-** چه نه پوخ سوی نوَنۍ څای او دانه پخه کړی- او صاف ئې هم کړی- بنوله، تخم السی (بزرالکتان) او دکنجتی کهلی (فضله) دری سره دوی دوی تولی راواخله بنه ئې وکوټه په شیدو کښی ئې پاخه کړه نیمګړم ئې پرنوَنۍ څای وتړه دغه دوا پیره ګرمه نه ده اودهرقسم دانی او نوَنۍ څای دپاره ګټوره ده اومجربه هم ده هرکله چه نوَنۍ څای اودانه بنه صافه سی- او غولمرګ ئې بنه وخیژی سور والی ئې بالکل ختم سی نو بیا ئې دپوکولو او جوړولو تدبیر وکړه ددی دپاره مرهم رسل لګول ډیره فایده لری- او نسخه ئې دا ده. چه پاوکم لس ماشی خالص دیسی موم، پاوکم لس ماشی راتیج، یوه ماشه

جاؤ شیر، یوه ماشه گنده بهروزه، پاو بالا پنځه ماشی اشق او دری ماشی گوگل
د غه ټول په پنځه تولی روغن زیتون کښی واچوه او پرا ورئ کښیږده هر وخت چه
د غه ټولی ویلی سی یوشی څندی جوړسی نو بیائی داور څخه راکښته کړه یوه یوه
ماشه زنگار (زنجار) او مرمکی او یوه نیمه یوه نیمه ماشه زرا وند طویل او کندر
او دری ماشی مردار سنگ بنه باریک میده کړه او ورسره گډ ئی کړه او دوندی
قدر د غه شیان سره حل کړه چه دکوچو پر رقم سی بیا د غه شیان پر پنډ کی ولگوه
او پوند کی پر زخم کښیږده ډیره گټوره دواده تعریف ئی دادی. که په زخم کښی
یو څه فاسده ماده پاته سوی وی هغه د بینه وړی بنه او نوی غوښه پیدا
کوی د طاعون د مریضی د پاره هم ډیره زیاته گټوره ده - د استعمال ترکیب ئی
انشاء الله لیکل کیږی اوکه چیری را تیج نه پیدا کیږی نو بیا د بهروزه وزن
زیات کړه یعنی یو ولس[۱۱] ماشی ئی کړه اوکه د دی دوا د قیمت کمول غواړی نو پر
ځای د روغن زیتون، روغن گل یا د کنجتو تیل ور واچوه. **بل قسم مرهم**
غریبی ار (یعنی هغه ملهم (مرهم) چه د غریبانو په طاقت او وس هم پوره
وی) او د غه مرهم زخمونه جوړوی او وه نیمی تولی د کنجتو تیل په خالص
گړانئ ولوښی کی پراور کښیږده او سپک اور تر لاندی بل کړه چه هروخت د تیلو
څخه دود پورته سی نو پنځه تولی سفیده کاشغری (اسفیداج) چه چوټل
سوی وی د سره کښیږده او په دُ[۱۲] گوتو سره ئی راواخله لږ لږ ور اچوه او په
لرگی ئی لړه نواول په تیلو کښی کوبله راپورته کیږی هروخت چه کوبی مانی او ختمی
سی نو بیا وگورئ چه په تیلو کښی خاموشی راغلی ده که نه ده هروخت چه
خاموشی پکښی راسی او رنگ ئی نور واوړی لیکن سوځل سوی نه وی نو د اور
څخه ئی راکښته کړه او گړانی په یخوا وبوکښی کښیږده بیا زخم د نیم د پاپو په
او بوسره پریوله تر پریولو وروسته په د غه دوا او تیلو پونډ کی ککړه کړه او
پر زخم ئی کښیږده د ناسور په مرض کښی د غه دوا پر پلیته لگول او بیا پلیته په
تپ کښی ایښول ډیره مجربه او فایده منده ده. **د هرهمو یو ډله**
نسخه ار د هر قسم زخم د پاره تر دامی حده چه د ډهیټ (سرطان) اوناسور
د پاره هم دواده - د غواړو غوړی پنځه تولی اوموم زرد یوه توله سره ویلی کړه
کمیله (گمبیله) پنځه ماشی، سیندور (اسرنج) نه ماشی، رال سفید (راتنج سفید)

پښه ماشی، مردار سنګ یوه توله او توتیا بریان څلور ماشی وچی دوایانی په شان درنجو بنی باریکی میده کړه بیائی دغوړو اوموم سره ګډی کړه اودنیم په لرګی سره ئی بنه سره ولړه حل ئی کړه اوپه زخمونو باندی پونډکه کښیږده.

که په زخم او تپ کښی چینجان پیدا سی: نود دوی دوژنی تدبیر وکړه هغه تدبیر دادی چه بچه (عود الوج) باریک میده کړه یادتارپین تیل یادواړه سره ګډ کړه اوپه زخم کښی ئی واچوه اوسربیره په اوپه دسره دزخم خوله بنده کړه نوپه زخم کښی دننه چینجان مړه کیږی اوچینجان اکثره وخت په زخم کښی دننه دزخم دنه پاکوالی اودمچانو څخه دنه حفاظت په وجه پیدا کیږی دصفایی دپیر خیال ساته.

فائده: پرچا چه هرکال دنبل یعنی دانی راخیژی نو تردوو(۲) درو کلونوپوری دی پرموسم عملی اوداسی بل شی وکړی د فاسدی مادی دی بنه صفایی وکړی ورنه دډهیت (سرطان) بیره سته.

که دګرځی په وجه پر بدن چهالی یا دانی راوخیژی: نود غه مرهم پرولګوه سنګ جراحت، مردارسنګ، سفیده کاشغری (اسفیداج) وچی نکرځی، رسوت (حضض) کمیله (ګمبیله) کتها پاپړیه دغه توله دوایانی شیږه شیږه ماشی رادواخله او توله سره وکوټه ولئ چونه نه توله دغواغوړی یوسئل اویو واړه پریوله دد غو غوړوسره دغه دوایانی ګډی کړه بنه ئی سره حل کړه بنه ئی سره ولړه اودسره ولئ ساته په بدن پوری ئی لګوه دباران اوسی په موسم کښی دکوچنیانو دپاره عمده دواده ددی چه هرځوندی ګډول اوسره لړل زیات وی فایده ئی پیره ده که په دغه دوایوه ماشه توتیا ګډه سی نو بیامچان نه پرکښینی. **بله دوا:** رسوت (حضض یوه توله، دګلاب اونکرځو پانی دری دری توله داوبوسره ګډ کړه اوپر بدن ئی استعمال کړه په دی دواکښی غوړوالی نسته چه کالی په غوړسی. **دخشک اوترخارش دپاره:** داد واړه فایده لری دنیم پوست اوخور، رسوت (حضض) دشاتری بلګ توله یوه یوه ماشه باریک میده کړه اوپه روغن ګل ئی ګډ کړه دخارش پرځای ئی ولګوه اوکوچی په کثرت سره لګول هم دهرقسم خارش دپاره نهایت مجرب دی دتر خارش دپاره دغه دواپیره فایده لری - باب بچی اجوائن خراسانی (بزرالبنج) صندل سرخ گندهک آمله سار، اوچوکها (بقلة الحامض)

بتول یوه یوه توله، نیل تو تیا شیږ ماشی او تور مرچ پنځه دانی ښه باریک میده کړه
او په ترخو تیلو ئ گډ کړه سر او مخ پرې ږده او په شپه کښی ئ په نورو بتول بدن
پوری وښه او په دغه شپه کښی مالیده کړه بیا سهار په گرمو اوبو سره
غسل وکړه که چیری دغه دوا یو څه پاته سی بیا دوهم درېیم وار هم دغسی
وکړه. **خنازیر**:- یعنی د غاړی د مرغړو مرض د امرض خو یو مخ نه ختمیږی
لیکن د دی دوا په لګولو سره تر یو وخته پورې زخم و چیږی د مردار سنګ شیږ
تولی را واخله چه دانی ئ وی او د سهار په وخت کښی درې تولی د بزی شیدی پر
داسی شاړه وا چوه چه په مرچو سره تر څه نه وی او په دغه شیدو کښی د
مردار سنګ دانی دوندی قدر وښه چه دانی شیږ ماشی قدر پکښی ډیلی او ورکړی
او دغه شاړه به هم داسی وی چه غاړه لری د پاره د دی چه دغه شیدی
قرار پکښی ونیسی بیا نو په دغو شیدو کښی پنبه لاندې کړه او په مرغړو پورې
ئ ښه وښه تر څلویښتو ورځو پورې دغسی وکړه په بعضو ځایو کښی په دی
دوا سره بالکل د مرغړو جوړوالی راغلی دی او د دغو مرغړو د پاره مرهم رسل
هم فایده لری چه ترکیب ئ په هغه ځای کښی راغلی وو کوم ځای چه د زخم جوړ لو
او د دوکو لو بیان وو۔ د طبیب په مشوره سره عملی شی کول هم ښه دی.

سرطان:- چه د هیڅ ورته وایي دا یو بیکاره قسم دانه ده او اکثره وخت پر
ملا باندی راخیژی او ډیر سوریان پکښی پیدا کیږی ډیر سخت درد او تکلیف
لری دیو یوه طبیب څخه ئ علاج کول په کار دی د بعضو خلګو د پاره پرته دغه
دانه باندی د دوب ګهاس (عشب) د بیخو لګول او استعمال ډیره فایده کړیده.

اسرمکی:- افتیمون په یوه کڅوړه کښی وتړه د شاهتری بلګ، د کاسنی بیخ
بتول پنځه پنځه ماشی، الوبخارا اوه دانی، مویز منقی نه دانی په ګرمو اوبو کښی
خیشته کړه او وئ چوپه او دوی تولی ګلقند آفتابی ورسره ګډ کړه وئ چیښه او که
چیری پنځه حمله ره وی نو بیادی دغه دوا و چیښی پنځه دانی عناب نه دانی
مویز منقی (اوجوشی)، منډی (کمادریوس) او چرایته (قصب الزریرة) پنځه پنځه
ماشی په ګرمو اوبو کښی خیشته کړه او وئ چوپه بیا تر چوپه ډیر وسته دوی
تولی ګلقند آفتابی ورسره ګډ کړه وئ چیښه. **پرشاړئ دلګولو دوا**:- دغه
دوا دی پر مبنی د څنګی سپین سوی زولنی، داورو وه سوګل، ګیرو (ګل سرخ) بتول

۱۱۱۶ عه شرل نو مرض دی چه پر بدن باندی وړی وړی دانی راپورته سی او خارښ کوی دغه دانی ګډه ګډه پستی او ګډه ګډه کیږی چه وډی نه ږیږی هم ویل کیږی ۳

دری دی توله میده کړه اوچ ئې پوری ومینه او شړی پرځان اچول هم دغه مرض ته فایده لری.

داد (مرسپوی) یوه توله رس کیږ درانجو په رنم سره میده کړه بیا ئې په پنځه توله سرکه گډ کړه اودرسره وئې ساته سهار او ماښام ئې لگوه نهایت فائده مند دی تکلیف بالکل ختمیږی که د لهسن یعنی هوبۍ عرق پرې لگوی سوخت بیا پرکوی څکه چه ډیر تیزدی مگر په دوه درې واړه لگولو سره انسان جوړیږی نود هوبۍ د عرق د لگولو عمده اوښه طریقه داده چه هر وخت پرداد (مرسپوی) دغه عرق ولگوی تیزی اوسوئې ئې ډیرسی نولږ څه غوړ تیل یا غوړی پوری ومینه

داد مرسپوی د پاره مجربه دوا ده:- گندک آمله سار - شیږ ماشی، سهاگه تیلیه بریان درې ماشی، کتهسفید څلور ماشی او نیل توتیا بریان شده پنځه ماشی، دغه لټولی دوا یانی بنی میده کړه د یاسمین تیل یوه توله او اته ماشی ورسره گډ کړه اوښه ئې سره ومینه چه مرهم غوندی سی بیا ئې پرداد (مرسپوی) ولگوه داد دا تیزی اوسوخت بالکل نه کوی او مجربه ده. **چهاجن:-** دا یو بیکاره قسم داد (مرسپوی) دی چه اکثره په پښو کښی پیدا کیږی دوایی داده بچهیعنی عودالوج - راواخله دکنجتو په تیلو کښی وسوځه هر وخت چه بالکل سکار ه سی نو بیائې په دغو تیلو کښی ومینه اوپرچهاجن ئې استعمال کړه **چهلوړی:-** دا یو قسم دگوتی مریضی ده چه دگوتی پرسر یادنوک او اوږی ترمنځ پیدا کیږی هر وخت چه پهدی پوله سوی چه دغه مرض پربدن بنکاره سو او شروع ئې ده نولږ څه تخم ریحان په اوبو کښی خیشت کړه پروئې تړه اوکه چیری دغه مرض پربدن بنکاره سوی وو وخت پر تیرسوی وو نو بیا دغه دواډیره گټوره ده اومجربه ده. سیندور (اسرنج) دبزی په تریخی کښی واچوه اودبزی د تریخی اوبه دی هم ورسره وی اوپرگوته ئې وپیچه اکثره وخت په دغه یو واړ پیچلو سره ښه کیږی اوکه چیری ښه نه سو بیادریمه وړځ بل نوی پر وپیچه لیکن دهی سره لمونځ نه صحیح کیږی د لمانځه په وخت کښی ئې خلاص کړه اوگوته پریوله اوکه په هیڅ طریقه سره نه ښه کیدی نو بیایوه تازه تینگه سوی ژوړه اوبله پخوا نیول سوی ژوړه چه وینی هم وی ودغه زخم ته ورواچوه چه فاسد مواد ئې وزبینی

مهاسله:- دا یو قسم دانی دی چه دځوانی په وخت کښی پرمخ باندی راخیژی کنکی

سفید دوی تولی او بیخ سوسن یوه توله باریک میده کړه او په سرکه ئی گډ کړه او بیا
ئی پرولگوه د مرض د سببه د پیری پروتی څخه د پوست نان کیدل ۱۰ په
گلابو کښی مردار سنگ حل کړه بیا ئی پر پوست ولگوه بیا مار ببره سفیده کاشغری
(اسفیداج) پر و پاشه او تر دغه وروسته مریض بیا پر نرمه او پسته بستره باندی
پریباسه.

په اور یا بل شی سره د سوځیدلو بیان

په اور سره سوځیدل ۱۰ که په اور سره د سوځل سی نو سمدستی د خط د
نیکلو رنگ پر واچوه یا د اهاکو او به پر واچوه یا د بهرو زه تیل پر ولگوه یا شکر
په منسل، پتاس (ماده اتش گیر) بارولو، گرموتیلو، گرمو اوبو، اهاکو او داسی
نورو سره د سوځیدلو بیان ۱۰ د کنجتو تیل او د اهاکو صافی او به سره گډ کړه پرهغه ځای ئی
ولگوه د یو بنځی پر ستر گه که د گرمو تیلو څاڅکی دیو کړاپی یا دیگ څخه ورغورځیدلی
وی او په ستر گه کښی ئی زخم څندی پیدا سوی وی نو یوه ماشه کافور، او دری
ماشی نشاسته سره میده کړل سوه د اسپغول په لعاب یعنی سریښناکه او بو کښی
گډ کړل سوه او بیا د دغی بنځی په ستر گو کښی ور وځغول سوه او په دغه د واسره
بنه سوه. **هرهم** چه د هر قسم سوځل سوی ځای د پاره اکسیر دی. روغن گل
دوی تولی او موم شپږ ماشی گرم کړه چه هر وخت د واړه سره گډ سی بیا نو سفیده
کاشغری (اسفیداج) دری ماشی، کافور یوه ماشه باریک میده کړه بیا ئی د یوی
هگی د سپینو سره گډ کړه او پر سوځل سوی ځای ئی ولگوه.

د وریښتانو د نسخو بیان

وریښتان شنه کوونکی دوا ۱۰ یوه ژوره راوړه او څلور تولی د کنجتو تیل
پرا ور باندی کړه چه هر وخت بنه جوش سی په دغه وخت کښی ژوره مړه کړه
او دستی ئی و تیلو ته ور واچوه او تیل د دندی جوش کړه چه ژوره و سوځل سی بیا

دغه سو څل سوی ژوړه په دغو تیلو کښی بنه ومښه او دکوم ځای وړ ښتان چه
د زخم یا بل شی د وجهی څخه رڼ شوی دلی وی تو ی سوی وی دغه تیل پر ویگوه پیر
ژړ وړ ښتان راشنه کیږی د ماش په دال او آنو له - سره سر پریوول هم د سر وړ ښتانو
پیره فایده لری د سر وړ ښتان د غسی تو ړوی نه سپینیږی او د ماغ ته طاقت هم ورکوی
هغه دوا دا ده چه په دی سره وړ ښتان خیژی: - شپږ ماشی ژوندۍ اسمان
او شپږ ماشی هړتال میده کړه بیا دهگی سپین ور سره گډ کړه د هر ځای وړ ښتان
چه نیری کول غواړی پر هغه ځای ئی ویگوه نوبه وړ ښتان پخیله وخیژی
هغه دوا چه وړ ښتان په لویږی او اوږدیږی: - هنسراج (پرسیاوشان)
طباشیر (بنسلوچن) سماق (تنزیک) گلاب زیره، گلنار (قشرالرمان) مصطگی، دانار
پوستوکی ټول شپږ شپږ ماشی، چهالیه (سپاری) او دکابلی هریړی پوست یوه یوه
توله، پوست بلیله (بلیلج) اومازو یوه نیمه یوه نیمه توله، آمله دوه نیمی تولی
او د شاه توت پانی شپږ تولی. راواخله ټول سره وکوټه بیا په پاو باندی سیر.
او بو کښی ئی یوه ورځ اوشپه خیشته کړه وروسته جوش ورکړه هر وخت چه
او به نیمی پاته سی بیا نو دغه شیان او او به سره ومښه وئی چوپه. بیا نو پنځه[۲۵]
ویشت - پنځه[۲۵] ویشت تولی روغن گل او د کنجتو تیل ورسره گډ کړه بیا ئی پراو ورباندی
کښیږده هر وخت چه او به بالکل وسوځل سی تیل پاته سی نو د او ورځخه ئی راکښته
کړه د سر سره وئی ساته هره ورځ ئی په وړ ښتانو پوری ومښه چه د دغی دوا په مښولو
سره خراب وړ ښتان رژیږی بنه او تو ړوړ ښتان راشنه کیږی او د ماغ ته هم
طاقت ورکوی او که چاته د دغو تیلو په وجه خنکتیا ورپیښیږی نو شپږ شپږ ماشی
بالچهړ (سنبل طیب) گل بابونه او لونگ دی نو ړهم ورواچوی.
په وړ ښتانو کښی سپږی ریچی پیدا کیدل: - چهړیلا (اشنه) او د کنیر
سفید پانی، میحه سایله، دکهنی مرچ او دانار پوست ټول یوه یوه توله راواخله
په او بو کښی جوش ورکړه په دغو او بو سره وړ ښتان پریوله چه په دغه سره سپږی
او ریچی مری. ریچی هغه دی چه د وړ ښتانو په بیخو پوری مښتی او په پیره -
گرانه سره معلومیږی یو وخت وخت د دوی د څمولو د پاره د عملی شی دکولو
هم ضرورت پیښیږی.

ل که دهگی شړ ورسره گډه نه سی بیا پیر شړ راشرکوی ۲ نظر ثالث

دیوځای د زخمی کیدو بیان

د سر زخم ۱- د غوښو یوه ټوټه راواخله - هلدی (کورکومن) چه بنه میده کړه سوی وی پروئ پاشه او د غه د غوښو ټوټه نیمګړمه کړه پر سر ئی وتړه چه ډیره بنه فایده لری اوکه څوک د سر د زخم او تپ د سببه بیهوښه سی نو سمدستی یو چرګ یا چرګه حلاله کړه او د ننس کولمی او نور شیان ئی وځندی لیری کړه سر ئی د پوسته ئی ګرم ګرم پر سر ووتړه نو به د غه بی هوښه ژر تر ژره په هوښ کښی راسی

د ستر ګی زخم ۱- یوه یوه توله میده او پټهانی لودهه میده کړه او په یوه توله غوړو ئی ګډ کړه او بیا ئی ګرم کړه تر ګرمید و وروسته ستر ګی ته پاکوړ په ورکړه بیا ئی بیرته ګرم کړه پر ستر ګو ئی وتړه که په د غه سره هم بنه نه سو نو د غوښو پر ټوټه لږ څه هلدی (کورکومن) او پټهانی لودهه وپاشه بیا ئی پر ستر ګو باندی وتړه. **لیپ (ضماد)** چه د سر څخه ماسیوی دبل ځای د زخم د پاره فایده لری او د سر و زخم ته هم ضرر نه رسوی مګر داد وایانی تیزی دی - دکنجتی کهلی (فضله) او هالون (حب الرشاد) کنجتی، مالکنګنی، میده لکړی (مغاس) بوټه سچی اوهلدی کورکومن) توله دوی دوی توله راواخله وئی کوټه وئی چوښه او د سر کړه وئی ساته بیا د د غی د واخځه لږ څه د وا راواخله دوی پوټلی یعنی دوی کڅوړی د د وا حندی جوړی کړه او د وا په د غو کڅوړو کښی واچوه. بیا شیدی، دکنجتو تیل او او به د ری ری سره برابر سره ګډ کړه او پر اور ئی باندی کړه او پوټلی په د غه کښی واچوه او زخمی ځای ګرم ګرم په پاکوړ کړه هر وخت چه یوه ساعته پوری پاکوړ کوه - تر یوه ساعته پوری پاکوړ کوه او بیا د پوټلی څخه د وا هغه بله ئی پاکوړ کوه - تر یوه ساعته پوری پاکوړ کوه او بیا د پوټلی څخه د وا راوباسه پر ستر ګو ئی ولګوه او سر بیره ژاړه پنبه پر وتړه. **هوچ - د وړکو اورګونو آوښتل** ۱- د پښو څوګیو شړه، غوړی یا خوابزه تیل یو چټانګ اوهلدی (کورکومن) دوی توله سره ګډ کړه او پر موچ (هغه ځای چه وهړکی ئی اوښتی وی) مالش کړه بیا نو د بنسی پنډی د وډی مغز او مابین ګرم ګرم باندی کښیږده او په وئی وتړه او د ورځی ئی خلاص کړه د خوږ و تیلو مالش ورکوه او ورګ سیده او برابرو نیسه

فایده ۱۲- د زخم د پاره مومیائی عمده او بنه دواده د هغه وتړ پاینه ئی اثر

رسیږی نن سبا اصلی نه پیدا کیږی مگر جوړه سوی هم په فائده کښی تر اصلی کمه نه ده اودی نسخه به په خاتمه کښی پر مخ ۱۴۲ باندی وګورې.

د زهرخوړلو بیان

سنکهیا (سم الفار) یا یو بل زهرناکه شی خوړل:- نو هر وخت چه زهرناکه شی یو څوک وخوری په دغه دواړه دی بیرته ئی کړی دوی تولی دسویه (شبت) تخم دی په نیم سیر اوبو کښی وایشوی او بیا دی وچوپی یو پاؤ د کنجتو تیل یا غوړی او یوه توله نمک دی ورسره ګډ کړی نیمګړم دی وچینبی هر وخت چه بنه ئی وهی نو ورروسته دی بنی ډیری شیدی وچینبی او که ئی ترشید و ـ وروسته هم فیان وهلّ خو بیا بیخی بنه خبره ده شیدی دی پیوسته چینبی که چیری ترشید وورروسته ئی فیان نه وه بیا هم شیدی دغه زهر وژنی او مریض هیڅکله خوب ته نه پریږده برابره خبره ده که ئی یو زهرناکه شی خوړلی وی. یا یو زهرناکه حیوان دی خوړلی وی. مثلاً لیونی سپی دا پلی وی اودغه دواړه هر قسم زهرود پاره فایده لری نسخه ئی داده. ګل مختوم، حب الفار او بیخ سوسن (ایرسا) پتول دوی دوی تولی وکوټه او بیا ئی وچونه د غوا به غوړو ئی غوړکړه په اتلس (۱۸) تولی شهد (شاتو ـ عسلو) ئی ګډ کړه او درسره ورئی ساته نو هر وخت چه یو څوک زهر وخوری یا دی شک پر راسی نو دغه دواشپږ ماشی ورکړه که ئی چیری زهرنه وه خوړلی بیا ئی نه وهی او که ئی زهرخوړلی وی نو تر څو پورې چه زهرنه وی راوتلی ئی نه بندیږی که بیخ سوسن پیدا نه سو بیا ئی ضرورت نه ستا او شهد بیا دوولس تولی کړه ودغی دواته تریاق ګل مختوم وایئ که چیری ګل مختوم پیدا نه سو نو بیا دا ئی اوکهی درجی ګل ارمنی (طین ارمنی) هم صحیح دی.

د مردارسنګ خوړل

دری دانی انجیر او یوه توله دسویه (شبت) تخم په یوه پوره سیر اوبو کښی پاخه کړه یوه توله بوره ارمنی یا نمک ورسره ګډ کړه او نیم ګرم ئی وچینبه دی دواړه چښلو سره ئی راځی تر څو وهلو وروسته دغه دواخلور خورکه کړه

او بیائی وخوره. لس نیمی ماشی مرمکی، اووه ماشی بالچهړ (سنبل طیب) وکوټه او
وئی چوپه څلور تولی شهد ورسره گډ کړه او دغه دوا په څلور خوراکه وخوره.

غذا ا- د غوښو بنورواخوره **خوری خوړل** ا- د خوړی د زهریاتو د
نیری کولو دپاره شیدی گهټوری دی بعضی خلگ په اوړسره - سره سوی خوری
دی دپاره خوري چه نن ورځ خودتبی وارډی نوبه
دغه دتبی وار په منعه سی لیکن په خوړلو کښی ئی تر نفعه تاوان اوالقصان زیات
دی. **افیون** ا- یعنی تریاق خوړل - دسویه تخم (تخم شبت) یوه توله، دمولهٔ
تخم یوه توله او شهد (عسل) څلور تولی په یوه پوړه سیراوبوکښی وایشوه - او
نمک ورسره گډ کړه نیمگړم ئی په مریض وچیښه چه مریض ئی ووهی اوترقی
وهلو وروسته دلوی انسان دپاره دوی ماشی هینجه په دوی تولی شهد سره
گډه کړه اودکوچنی دپاره څلور رتی هینگ (هینجه) یاترد غه هم لږ په شپږ
ماشی شهدو گډه کړه او بیائی په اوبو سره ولړه په مریض ئی وچیښه دنالی
د ساگ یو چټانگ اوبه دافیون خوړونکی دپاره اکسیر دی دنالی ساگ مشهور شی دی
اوپه اوبوکښی مشین کیږی. **دهتوره (تاتوره) خوړل** ا- ددی زهریات هم
په هغه شی سره ختم کیږی کوم چه دتریاقو زهریات په ختمیدل **اسپغول**
کوټل یادغسی څول اوبیاخوړل ا- د افیون (تریاکو) په بیان کښی چه کومه
دوا دئی دوهلو دپاره بیان سوی ده دغه دوا دمریض ته ورکړه چه ئی ووهی
بیا پنځه ماشی تخم حنظله په اوبوکښی میده کړه پنځه ماشی چهار تخم پروپاشه
بیا مصری ورسره گډ کړه وئی چیښه که خپله مریض وی یائی په مریض وچیښه
که چیری بل څوک مریض وی.

فائده ا- که ئی په ناخبر تیاکښی یوزهرناکه شی خوړلی وی او معلوم نه وی
چه کوم زهر دی او مریض خپله دبیهوښی په وجه ویلای نه سی نوپه دغو
علامواو نښانو سره پیژندل کیدای سی د سنکهیا (سم الفار) دخوړلو په وجه په
نس کښی درد پیداکیږی ساه بندیږی او انسان ته ډیره خشکی ورپیښیږی او د
مردارسنگ په خوړلو سره په بدن پاڼه سوب پیداکیږی او په ژبه کښی ښندوالی
پیداکیږی اوپه نس کښی درد وی یائی دوندی عملونه کیږی چه په کولمو کښی

ا- خکه خوری دسبزو دپاره ډیر سخت تاوان او نقصان لری ۲

زخمونه پیدا کیږی۔ اود خوړی په خوړلو سره بې اندازه توخ پیدا کیږی تردې حده چه په سړ وکښی زخمونه پیدا کیږی او مریض ته دسل مریضی ورلویږی اود تریاقو په خوړلو سره ژبه بندیږی سترګی کښینی وکولکانو ته لویږی یخه خوله پرمریض راځی اود مریض سناه بندیږی د خولی څخه ئې د تریاقو بوی راځی اود دهتورې (تاتورې) په خوړلو سره اول پر انسان چکر راځی وروسته بالکل بیهوښه کیږی۔ د اسپغول په خوړلو سره بې قراری پیدا کیږی او ساه بندیږی نبضونه درږی بیهوښی او د بدن سوړوالی د مړسی شیان پیدا کیږی۔

هغه حیوانات اوخزندګان چه زهرلرونکی وی اوانسان وخوړی

که یو زهرلرونکی حیوان اوخزنده انسان چیچلی وی یا چیچلو شک وی نو د ټولو دپاره د اقانون یادوسانه چه د چیچلو ترځای یوځه لوړ د بدن حصه وترهٔ دارنګه ئې وترهٔ چه بنه محکمه وی او پرچیچل سوی ځای د تریاقو لیپ اوضماد وکړه چه د غه ځای بیده سی او زهر په ټول بدن کښی ونه غوړیږی بیا پرد غه ځای باندی داسی دوایانی ولګوه چه زهر راوځینی او مریض ته داسی دوایانی ورکړه چه زهر ختم کړی او مریض وخوب ته مه پریږده۔

هغه دوا چه زهر راز بیښی:۔ پیاز پرنغړئ سوړ کړه او مالګه پرواچوه پرچیچل سوی ځای ئې وتړه۔ **دوهمه دوا:۔** ژوندی اهک شپږ ماشی او شهد دوی تولی، روغن زیتون دوی تولی ټول سره ګډ کړه او په چیچل سوی ځای پوری ئې ولګوه اوهر ګړی نور نوی نوی پرلګوه دادمار اود لوی لوی زهرناکو شیانو د زهرود راز بیښلو دپاره دی۔ **دریمه دوا:۔** پرد غه چیچل سوی ځای دی ستنی ووهی یادی ژوړی دکاسنګ یادګندک تیزاب ولګوی۔ **څلرمه دوا:۔** پرد غه چیچل سوی ځای دی دپاره بنه دی۔

فائده:۔ که چیچل سوی ځای په دواسره یا پخپله زخم سی نو ترڅو پوری چه یقین مه کوه د زهرود ختمیدو نه وی ترهغه وخته پوری د زخم د جوړیدو او ډکیدو کوشش وی هغه هم ختموی او شوه کوی که په کور ونو کښی بیماره پرته وی نو بنه به وی

زهرختمونکی اوشوه کونکی دوا:۔ بلکه که دی یو زهرناکه دواخوړلی

دانه سیاه، اسپند، زیره سفید دری مړه دوایانی اووه (۷) اووه (۷) ماشی، پکهان بید اوزړاوند
مدحرج دواړه دری نیمی ماشی، دکهنی مرچ او مرمکی دواړه پاؤ کم دوی دوی ماشی
دغه ټول وکوټه اوولئ چونه بیاشیږ تولی شهد (عسل) ورسره گډ کړه اودرسره
ولئ ساته هر وخت چه ضرورت پیښ سی نو پاؤ کمی دوه (۲) دوی ماشی سهار او
ماښام ومریض ته ورکوه او سوبیړه بیا په اوبوکښی دوی تولی شهد پخوه ومریض
ته ئې ورکوه او وکوچنیانو ته یوه یوه ماشه ورکوه اوس بعضی خاص دوایانی
د خاص حیونانو اوخزندګانو د چیچلو دپاره لیکل کیږی. **د مار چیچل** ۱- تدبیر ونه ئې اوس تیر سوه او داد واهم فایده ورته کوی د حقه کیټ (دود)
کوم چه د چلم په لاندینی مل کښی جمعه کیږی ځلوړ ئې ومریض ته ورکړه
اوتر دوه (۲) درو ورځو پوری ئې ورکړه او بچهد (عود الوج) وژویه پرولئ لګوه ۱۲
د لړم چیچل ۱- تړهه ځایه پوری چه درد وی د بهروړه (قنه) تیل تړهغه
ځایه پوری په بدن پوری و مښه اوکه چیږی د لړم د خوړلو سړه دستی اوفورا
پردغه چیچل سوی ځای دغه تیل ولګوی نو زهر بالکل د دغه ځای څخه وبل
ځای ته نه خپریږی یا پردغه ځای سنکهیا سم الفار ولګوه یعنی لیپ اوضماد ورکړه
د غالبوزی او مچی چیچل ۱- کافور په اوبوکښی ولړه یاسړکه پرولګوه یاپه
یخو اوبوکښی ټوکر خیشت کړه اوپرچیچل سوی ځای ئې وینسه یا نمک سلیمانی یاپوازی
نمک سانبهر (نمک آب گیر) پوری ومښه.

فائده ۱- د مار، لړم، غالبوزی اوداسی نورو شیانو د پاره ښه علاج دادی
چه ښه تیزه خالص سړکه په دغه ځای پوری ښه ومښی تر داسی حده چه درد
پارسوب اوسوخت ئې ختم سی دپیړه مجربه ده. **د مکړی (غینې - جولاګی) چیچل**
پردغه ځای تروشکی ومښه اوکه غینې دپیړه زهرناکه وی نو په دغه دواسړه ئې زهر
ختمیږی - بیخ کرفس (بیخ اجمود) دری ماشی راواخله په ځلوړ تولی سړکه کی جوش

۱۱ ۳ څه اوبوکی ئې ولړه اوبیا ئې سون کړه نو بدستی انشاء الله تعالی جوړ سی.

ورکړه هر وخت چه نیمه سړکه پاته سی نو بیا ئې وچوپه دوی تولی روغن گل اوږه سوت (حضض) دری ماشی ورسره گډ کړه پرده غه ځای ئې ډبنه اوکه په دی سره هم زهر ختم نه سوه نو د زهرو د ختمولو د پاره هغه دوا ورکړه چه اوس ولیکل سوه چه په هغې کښی اول جز دانه سیاه (حب السودا) وه **چهپکلی** ۱- یعنی کربوړی کم اولږ انسان خوری. مگر هر وخت چه انسان وخوری نو دده غابنونه د انسان په غوښه کښی پاتیږی نو بیا د انسان تبه وی او بی قراره وی او د زخم څخه ئې او به بهیږی - علاج ئې دادی چه په ستن یابل شی دده غابنونه راوکښل سی او اوس چه کومه دوا تیره سوه چه اول جز ئې کلونجی یعنی دانه سیاه دی مریض ته دی دغه دوا ورکړی لیونۍ سپی، یا گیدړه یا چغال ۱- د دوی د چیچل سوی ځای زخم باید پک نه کړی او د جوړید و کوشش ئې مه کوه بلکه دغه دوا پرو ولگوه - رال (راتیج) یوه توله او جاونزی (بسیاسه) یوه توله راواخله په سړکه کښی ئې پاخه کړه هر وخت چه تول سره گډ سی یوشی څنډی جوړسی نو دوی تولی نمک سانبهر (نمک آبگیر) او دوی تولی نوشادر باریک میده کړه او ورسره گډ ئې کړه ما بنام ئې ولگوه او سهار د غواغوړی په زخم پورې و ډبنه دپاره دی چه خرابی غوښی ئې ولویږی هر وخت چه دی پوره یقین سو چه تول زهر وتلی دی بیا نو د زخم اوتپ د جوړید و تدبیر وکړه. بله دوا ۱- سیاه بانات یعنی د توراوُن د توری کپړی دوی ټکری د روپی په قدر وتراشه او د دوی دواړو په مابین کښی د ری ماشی زړه گوړه کښیږده په اونگ کښی ئې دوندی قدر وکوټه چه د تولو څخه یوذات شی جوړسی نو بیا دغه دوا په دوه واړه سره په مریض وخوره ډیره مجربه ده - که دی سم سړی وخوری بیا هم د احتیاط د پاره دغه علاج وکړه تر تولو ښه سیاه بانات د توراُون توراتوکردی که چیری سیاه بانات یعنی د اُون توراتوکر نه وی بیا نو توراُون راواخله که چیری توراُون نه وی نو د هر رنگ چه وی گاڼی - دی. پشی ۱- په پشی کښی هم زهر سته او کوچنیان د پشی د مخالطت څخه

سائی اومنعه کوی اوکوشش کوی چه دکوچنیانو کالی په شید وکړنه سی حکه چه بیا پشی پرا ځی - علاج ئی دادی چه ناناورکړی د خوږلود پاړه اوپیاز په اور کښی سورکړی او پودینه یعنی ناناور سره گډه کړی نیمگړمه ئی د زخم پرځای وتړی هروخت چه دی خیال سوچه زهرئی راکش کړل نوکنجتی په اوبوکښی میده شیانو څخه صاف اوپاک کړه په اوبوکښی جوش ورکړه چه پوخ اوویلی سی. بیا اغزیان اوهډوکی څندی لیری کړه اولږ څه دانسان بولی ورسره گډه کړه اوپر زخم ئی وتړه په ورځ کی ئی دوه (۲) درې (۳) واړه بدل کړه د زخم ترجوړ والی پورې د غسی کوه مگر د لمانځه په وخت کښی ئی مینځه. **بیزو**:- پیاز پر اور گرم کړه او نمک ورسره گډ کړه اوپر هغه ځای ئی وتړه چه بیزو چیچلی وی اوهروخت چه زهر راکش کړی نو بیا پردغه زخم مرهم رسل کښیږده د مرهم رسل نسخه د زخم د جوړولو څخه لوړه بیان کښی تیره سویده. **کنکهجوړا**:- یعنی **زنځه**:- ددی په خوږلوسره دانسان ساه بندیږی اودانسان ومیتهایی اوخوږوته هوا کیږی. نو ددی علاج دادی چه داخپله میده کړی اوپردغه زخمی ځای ئی وتړی کچیری دا پیدا نه سی نو نمک میده کړه د سرکی سره ئی گډ کړه اوپردغه زخم ئی ولگوه اودغه دوا وخورکه زړآوند طویل، پکهان بید، پوست بیخ کبر اود متړد دانو اوړه تولې یوه نیمه یوه نیمه ماشه راواخله دوی تولی شهد ورسره گډ کړه وئی خورکه دایو خوراک دی اودی د پاړه دواء المسک معتدل هم فایده لری اوکه زنځه د چا په بدن پوری پتینگه ومښلی یا په خوږ ښوزی نو لږ څه شکر سفید پردی سر پاړه واچوله نو دستی ئی پښی اونوکان د انسان د بدن څخه راوزی که د پیاز وعرقو پرته زنځه و نښتیځل سی نو ځای هم پریږدی او دستی مری هم او د نوکانو پرځایونو ئی سور اونود (گرم) پیاز کافی دوا ده. او اکسیر دی.

د مارانو، لرمانو، مین یانو او داسی نورو خزندو گانو د شړلو بیان

مار:- یو پاونوشادر په پنځه سیره اوبوکښی ولړه دکور په سوریانو او غارونوکښی و پاشه اود اغه رنگه ئی په پټولکور کښی و پاشه نو مار دکور څخه تښتی اوکله کله دغه دوا په کور کښی پاشه بیا وکور ته مار نه راځی.

دوهم تدبیر دبارہ سنگی حیوان بنکر، دبری بنو نگری، بیخ سوسن، عاقرقرحا۔ او گند هک پتول برابر سره راواخله پراوړئ واچوه بیاد خونی دروازی او کړکیانی بندی کړه او لږ گړی وروسته ئ خلاصی کړه نو که چیری په دغه ځای کښی مار وو نو ړ تښتی او خفی **دریم تدبیر**۔ دمار غار دړ ئ خرد ل" د دانو ډک کړه مار خپل مری که شاوخوا د خرد ل دانی واچوی او بیده سی نو مار وتاته نه سی راتلای **څلرم تدبیر**۔ بچه (عود الوج) وړ ئ په دمار وخواته ئ نښیږده نو مار نه سی پرراتلای او که ئ په یو طریقه سره دمار په حوله کښی ورواچوی نو مار دستی مری او که ئ چیری دمار پرچیچل سوی ځای ولگوی ببیحده فائده مند دی او خوړل ئ هم فایده لری لکه چه دمار په بیان کښی دا خبره تیره سوه۔ **لړم**۱۔ مولی وکوټه او عرق (ادبه) ئ پرلړم واچوه دستی مری او که د مولی پوټی دلړم د غار دخولې ته واچوی نو بیا لړم راوتلای نه سی په دغه غار کښی مری **پسو**۱۔ (کیکه) د اندرائن (حنظل) بیخ یا میوه په اوبو کښی خیشته کړه بیا ئ په پتول کوړ کښی وپاشه نو د کوړ په هر ځای کښی چه کیکی وی نو کوړ پریږدی تښتی **مونک**۱۔ په سنکهیا (سم الفار) سره مری لیکن هغه کوړ چه کوچنیان لری په هغه کوړ کښی د سنکهیا (سم الفار) اینبول خطرناک دی نو ښه دادی چه مردار سنگ اوسیا کټکی میده کړی وموږ کانوته ئ کښیږدی یا سیاه کټکی اوبزر البنج (اجوائن خراسانی) سره گډ کړی وموږ کانوته ئ کښیږدی **هیږیان**۱۔ د هینجی څخه تښتی **غالبوزی، کمچنی**۱۔ که چیری د دوی گربینی وی نو د گندهک او د هوږی د دود ولو څخه مری چه سرکه یا د خاورو تیل پرو پاشی هم مری. **دیمک**۱۔ یعنی وینه د هلاچرگ (هُدهُد) د بونکو او غوښو په دود ولو سره مری که کتابونه یا کالی وینه وکړی نو هم دغه تدبیر وکړه. **دکالو چینجان**۱۔ افسنتین یا پودینه یعنی نانا یا د لیمبو پوست یا د نیم پانی یا کافور په کالو او کتابو کښی کښیږده. **کټهمل**۱۔ د ایو خزنده چه قریږه غټ دی انسان خوری په کراچی او پنجاب کښی د پیردی پرچارپایی او بستره سره مرچ واچوه۔ او د لمرته ئ وغورځوه د دوی (۲) دړی ورځ دغه رنگه وکړه نو کټهمل مری او که سره مرچ درته د دودول سی هم دغه تاثیر کوی. **د عسلو د گربینی مچمچی**۱۔ زور

بی هوښه سی.

د سفر د پاره ضروری تدبیرونو بیان

(۱) د سفر کولو څخه مخکی دوړو او غټو بولو څخه ځان فارغ کړه او وړې لږ وخوړه د پاره ددی چه طبیعت دی دروند نه وی.

(۲) په سفر کښی وړې د اسی خوړه چه غذا زیاته ځندی جوړیږی لکه قیمه (کوفته) کباب او هغه کوفته چه بنه غوړی پکښی وی او د شلو تر کاریو څخه غذا کمه جوړیږی نو د د غه سببه ئی مه خوړه.

(۳) په بعضو سفرونو کښی او به لږ پیدا کیږی په د غسی سفرونو کښی د خرڅ تخم نیم سیر او لږ څه سرکه د سره وساته بیا نو نه ماشی د خرڅ تخم کپه کوه او سر بیره لږ څه سرکه په او بو کښی گډه کړه او چینبه ئی ـ د د اسی شیانو په استعمالولو سره بیا تنده لږ پیښیږی او که د غه تخم نه وی نو سرکه او او به سره گډول ادبیا چینبل هم کفایت کوی او که د حج په سفر کښی د غه د سرکه وسائی نو پیره مناسبه به وی.

(۴) که په سفر کښی عرق کافور هم د سره وی نو به پیر مناسب وی چه د د ه په استعمالولو سره د وبا څخه هم حفاظت راځی او تنده هم کمیږی د د ه ترکیب د هیفی یعنی وبا، په بیان کښی پر مخ ۴۱ باندی تیر سوی دی.

(۵) که په گرمی او بادگرم کښی سفر کوی نو بالکل په خالی لنس سره سفر او تگ کول بد دی په دی سره د گرمی او بادگرم اثر ډیریږی ـ بنه دا دی چه پیاز بنه باریک او تراشی په مستو یا بل تره شی کښی ئی واچوی او تر روانید و مخکی ئی وخوړی که پیاز په غوړو کښی سور کړی نو بد بوئی به ئی هم ختمه سی او چه پیاز د چا سره هسی د سره وی هم ئی گرمی او بادگرم نه وهی او که څوک گرمی او بادگرم ووهی نو په یخو اوبو گډ کړه پر مخ ئی ورکښیږ د ه او په یخو او بو ئی خوله د مینځه او او به هیڅکله د چینلو د پاره مه ورکوه هر وخت چه ئی طبیعت یو څه برابر سی نو د ځکلو په طریقه سره یو څه لږ لږ او به د چینلو د پاره ورکوه چه یخی وی او د غه د واپه چینبه

له مگر د چا چه نزله او ریزش وی هغه دی سرکه نه خوړی ۱۲ نظر ثالث

هغه هم یکسدم مه په چیښه بلکه لږ لږ په چیښه - یوه ماشه زهر مهره (نجرالسم) او طباشیر (بنسلوچن) او شپږ رتی نارجیل (کوپره) په شپږ تولی گلابو کښی ومښه او شربت انار ورسره گډ کړه او بیا ئ په مریض وچیښه - دا دمه آم پرخپه شربتو مالگه اچول او بیا ئ په مریض چښل هم دگرمی او بادگرم دپاره فایده لری.

ترکیب ئ دا دی چه کچه او دمه آم په گرمو اویو وکښی پټ کړه هرو خت چه سره سی راوئ کاږه سره وئ ښمنه او به ورسره گډی کړه او بیا ئ وچوپه او نمک ورسره گډ کړه وروسته ئ په مریض باندی وچیښه **بله دوا** - دگرمی او بادگرم وهلی دپاره پیره فایده لری شپږ ماشی دنخود و پانی چه وچی وی راواخله په پوره پاو او بوکښی ئ خیشتی کړه او لوپی صافی او به ئ راواخله په مریض ئ وچیښه او دغه په لاسو او دپښو په تلو پوری ورولگوه.

دحمل دتدبیر ولو او احتیاطونو بیان

(۱) دحمل په وخت او زمانه کښی باید قبض نه وی هروخت چه پهلس کی درونده والی در معلوم سی نو یو یاد وه وخته فقط غوړه ښورو او وچیښه که په دی سره قبض ختم نه سی نو د(۲)ی د(۳)ی تولی منقی یاد مربا هریره وخوړه او که په دغه سره هم قبض ختم نه سی نو بیا دغه نسخه استعمال کړه د دی نسخی په استعمالولو سره وحمل ته هیڅ قسم ضرر نه رسیږی معده قوی کوی او کوچنی دنقصانید و څخه ساتی - لس نیمی ماشی دگلابو گل پانی کړه که تازه وی خو بنی دی او که تازه نه وی وچی هم صحیح دی دشپی ئ په نیم پاو گلابو کښی خیشتی کړه سهار ئ دوندی میده کړه چه دچونلو ضرورت پاته نه سی بیا لږ څه مصری ورسره گډ کړه پیزه بنده کړه او وئ چیښه د دی دوا په خوړلو سره دوه درې واړه شنه عملونه کیږی او دغه دوا سپکه عملی کونکی ده او د هرچا چه تحریک نزله مرض په ډیر زور کښی وی هغه دی دغه دوا نه چیښی دی دطبیب څخه علاج وکړی.

(۲) په حمل کښی هیڅکله دغه دوا مه خوړه - خوابزولنی، تخم کشوث، حب القرطم، بالچهړ (سنبل طیب، دختکی تخم، گوکهرو (خسک) هنسراج (پرسیاؤشان)

د سفر د پاره د ضروری تدبیرونو بیان

(۱) د سفر کولو څخه مخکی د وړو او غټو بولو څخه ځان فارغ کړه او وړوړی لږ وخوړه
پاره ددی چه طبیعت دی درونه نه وی.

(۲) په سفر کښی ډوډی د اسی خوړه چه غذا ز یاته ځندی جوړیږی لکه قیمه
(کوفته) کباب او هغه کوفته چه بنه غوړی پکښی وی او د شلو ترکاریو څخه غ
کمه جوړیږی نو د د غه سببه ئی مه خوړه.

(۳) په بعضو سفرونو کښی او به لږ پیدا کیږی په د غسی سفرونو کښی دخرو
تخم نیم سیر او لږ څه سرکه د سره وساته بیا نو نه ماشی د خرفی تخم کپه کو
او سر بیره لږ څه سرکه په او بو کښی گډه کړه او چیښه ئی ـ د د اسی شیانو په
استعمالولو سره بیا تنده لږ پیښیږی او که د غه تخم نه وی نو سرکه او او به سره
گډول او بیا چښل هم کفایت کوی او که د حج په سفر کښی د غه د سره وسائی نو ډیره
مناسبه به وی.[1]

(۴) که په سفر کښی عرق کافور هم د سره وی نو به ډیر مناسب وی چه د د ه
په استعمالولو سره د وباځخه هم حفاظت راځی او تنده هم کمو ی د د ه ترکیب دهیفی
یعنی وبا، په بیان کښی پر مخ ۴۱ باندی تیر سوی دی.

(۵) که په گرمی او بادگرم کښی سفر کوی نو بالکل په خالی لس سره سفرا وتگ کول
بد دی په دی سره د گرمی او بادگرم اثر ډیریږی ـ بنه دا دی چه پیاز بنه باریک
و نزاشی په مستو یا بل تروه شی کښی ئی واچوی او نمک واچوی او نرم واچوی او مخکی ئی وخوړی که پیاز
په غوړو کښی سور کړی نو بد بویی به ئی هم ختمه سی او چه پیاز د چا سره هسی د ر
سره وی هم ئی گرمی او بادگرم نه وهی او که څوک گرمی او بادگرم و وهی نو په یخو او بو
سره د د ه مخ د ر پر یوله کړه و یا چمبر خیال یا حزفه میده کړه روغن گل د ر سره
گډ کړه پر مخ ئی ور کښیږ د ه او په یخو او بو ئی حوله د ر مینځه او او به هیڅکله د
چښلو د پاره مه ورکوه هر وخت چه ئی طبیعت یو څه برابر سی نو د څکلو په طریقه
سره یو څه لږ لږ او به د چښلو د پاره د ر کوه چه یخی وی او د غه د واپه چیښه

[1] مگر د چا چه نزله او ریښ وی هغه دی سرکه نه خوری ۱۲ نظر ثالث

هغه هم یکسدم مه په چینبه بلکه لږ لږ په چینبه - یوه ماشه زهر مهره (جزالسم) او ملباشیر (بنسلوچن) او شپږ ماشې نارجیل (کوپره) په شپږ تولی گلابو کښی ومښه او شربت انار وسره گډ کړه او بیا ئې په مریض وچینبه - دا دمه آم پرخته شربتو مالگه اچول او بیا ئې په مریض چښل هم دگرمی او بادگرم دپاره فایده لری.

ترکیب ئې دا دی چه کچه او دمه آم په گرمو اویرو کښی پټ کړه هر وخت چه سره سی راوئې کاږه سره وئې مښه او به وسره گډی کړه او بیا ئې وچوپه او نمک وسره گډ کړه وروسته ئې په مریض باندی وچینبه **بله دوا** - دگرمی او بادگرم وهلی دپاره ډیره فایده لری شپږ ماشی دنخود و پانی چه وچی وی راواخله په پوره پاو اوبوکښی ئې خیشتی کړه او لوپری صافی او به ئې راواخله په مریض ئې وچینبه او دغه په لاسو او دپښو په تلو پوری ورولگوه.

دحمل دتدبیر ولو او احتیاطونو بیان

(۱) دحمل په وخت او زمانه کښی باید قبض نه وی هروخت چه په نس کی درونده والی درمعلوم سی نو یو یاد وه وخته فقط غوړه ښورو او وچینبه که په دی سره قبض ختم نه سی نو د وئی درئی تولی منقی یاد مربا هریره وخوره او که په دغه سره هم قبض ختم نه سی نو بیا دغه نسخه استعمال کړه د دی نسخی په استعمالولو سره وحمل ته هیڅ قسم ضرر نه رسیږی معده قوی کوی او کوچنی دنقصانید و څخه ساتی - لس نیمی ماشی دگلابو گل پانی کړه که تازه وی خو ښه دی او که تازه نه وی وچی هم صحیح دی دشپی ئې په نیم پاو گلابو کښی خیشتی کړه سهار ئې دوندی میده کړه چه دچونلو ضرورت پاته نه سی بیا لږ څه مصری ورسره گډ کړه پزه بنده کړه او وئې چینبه د دی دوا په خورلو سره دوه درې واړه ښه عملونه کیږی او دغه دواسپکه عملی کونکی ده او د هرچا چه تحریک نزله مرض په ډیره زور کښی وی هغه دی دغه دوا نه چینبی بلکه دهریړی مربا دی وخوړی او که په دغه دواسره فایده نه وی نو بیا دی دطبیب څخه علاج وکړی.

(۲) په حمل کښی هیڅکله دغه دوا مه خورکه - خوابزولنی، تخم کشوث، حب القرطم، بالچهړ (سنبل طیب، دختکی تخم، گوکهړو (خسک) هنسراج (پرسیاوشان)

سداب، زیره، خطمی، دچمبر خیال اوباد رنگ تخم، دکاسنی تخم، د املتاس یعنی دپولوس پوستکی، او هره بنځه چه د حمل په نقصانید و سره اخته وی هغه دی د دغو دوایانو څخه هم پرهیز وکړی۔ گل بنفشه، خمیره بنفشه، الوبخارا، سپستان، ریشه خطمی اوکه په حمل کښی د عملونو ضرورت وی نو دغه دوایانی مه استعمالوه دا رنډی تیل، جلاپا، ریوند چینی، ترنجبین، سنا عاریقون، شربت دینار۔ وحمدلری بنځی ته د غه غذاوی نقصان کوی۔ لوبیا، نخود، کنجتی، زردکی، مولی، چقندر دهوسی غوښه، زیات مرچ، زیاته تروشکی، خټکۍ، هندوانه او د ماشودال دیر خوړل لیکن یو وخت وخت پروانه لری او دغه شیان تاوان نه ورته کوی انگور امرت، ناشپتی (کمټرۍ) سیب، انار، جامن، کدوی روی، آم، کرک، تیتر، اودوهو مرغانو غوښی۔

(۳) په رفتار کښی پر محکه پښی په زور نه مه وهه د لوړ ځای څخه وکښته ځای ته یکدم او په تلوار سره مه راکښته کیږه غرض چه لس دیر حرکت څخه وساته د غه رنگه یوسخت اوتکلیفی کار مه کوه د روندشی مه پورته کوه دیر خبنم او قهر مه کوه دیر غم مه کوه د رگ خلاصولو او عملی شی کولو څخه ځان وساته خصوصًا د څلرمی میاشتی مخکی او تر اووم(۷) میاشتی وروسته دیر احتیاط کوه خوشبویی کمه سوښوه او په نهمه میاشت کښی د خوشبویی څخه دیر احتیاط کوه حکه چه بیا کوچنی په سختی سره پیدا کیږی داغه رنگه د حمل په وخت کښی د تللورا تللو عادت مه پریږده حکه چه د ناستی څخه په بدن کښی باد او پاره سوب او سستی پیدا کیږی او دیریږی داغه رنگه د خاوند سره نژدیکت او هبستری مه کوه خصوصًا ترڅلرمه میاشت مخکی او تر اووم(۷) مه میاشت وروسته دیر تاوان کوی او د هرچا مزاج او طبیعت چه دیر بلغمی وی هغه دی دیر غوړ هم نه خوری۔ قیمه او د مونگ دال (د ماشو دال) چه سور سوی وی او نور داسی شیان دی خوری قصدًا دی قی نه وهی اوکه قی خپله ورته راسی نو بیا دی ځان نه بندوی دکومو شیانو څخه چه نزله او بلغم پیدا کیږی دهغه شی څخه ځان ساتل په کار دی اود غه رنگه خپل لس دیخی هوا څخه ساتل په کار دی۔

(۴) اوکه د حاملی بنځی ته قی دیر دیر راځی نو د(۲) دری(۳) ماشی انارد انه اوپودینه دی سره میده کړی په شوبت غوړ یعنی داو موانگورو په شربتو دی قی گډ کړی اوڅه

دی خوری. او که ئې په معده کښې یو خرابی وی او د دغه سبب څخه ئې ورته
نو په ئې وهونکو دوایانو سره دی نس صفا کړی د معدی د مریضانو په بیان
د دغه ئې راوستو نکی دوایانی لیکل سوی دی. په هغه ځای کښې ئې وګورئ
ه ئې وخاورئ یا بل شی ته هوا کیږی نو د دغه خپله ختمیږی او که ئې چیری
هوا ورته کیږی نو په هغه ګلاب والا دوا سره دی نس صاف کړی چه په
ل کښې تیره سوه نوم وخت چه ئې د سړی څلور واړه عملونه وسی نو شربت
یا کاغذی لیمبو دی د بورې یا ګوړې سره ګډ کړی او بیا دی څه څه خوری۔
خورئ شیان دی خوری لکه د نانا یا د ګشنیز چټنی چه په دوی کښې مرچ او
ر یاته نه وی د دې دواړو خورک سره دی لږ لږ څکی او که نور مرچ ورواچوی
ه دی او که ئې وخاورئ ته بیخی پریږه هوا کیږی نو د نشاسته پکې او ګولۍ یا
یر (بنسلوچن) دی وخوری د دی دوا په خوړلو سره د خاورو خوړلو عادت
لیږی.

ه لوږه بنده سی نو غوړې او خوابزه د دی کم او لږ خوری او په هغه ګلاب والا
ه دی نس صفا کړی کوم چه په اول نمبر کښې ذکر سوید ه او تر غذا وروسته
ه توله مصطګی جوارش خوری یا دی د غه چورن (سفوف - کفه) جوړ
غذا څخه مخکې یا وروسته د شیږو ماشو څخه بیا تر یوی تولی پورې
ری، شیږو شیږو ماشی مصطګی، نمک سیاه او د هنیه خشک (وچ ګشنیز) او
ه توله د الایچی خورد یعنی کوچنی هیل دانی او انار دانی وکوټه تر واړه
ئې وچوپه درسره وئې ساته.
خت چه د حاملی بنځی زړه ریږی دیدل او غوړی زیدل شروع کړی نو د (ر) ی
ړپه ګړی او به یا دی د غه او به د ګرمو ګلابو سره وچیښی او لږ څه دی
یه سی تګ دی پرو کړی که په دی سره ختم نه سی نو د واء المسک معتدل
نوری.

ه چیری په نس کښې درد او باد و نه وی نو د غه جوارش پریږه مفید دی یوه
یره سیاه یوه وړه اوشپه په سره کښې خیشته کړه او بیا ئې پرا ورسره کړه
یوه توله کندر او صعتر پودینه کوهی) راواخله د غه درې سره دوایانی وکوټه
ل ئې کړه او بیا ئې په قند سفید کښې قوام کړه قوام مطلب دادی چه پرا ورئ

جوش کړه تر دا سی حده چه تار وکړی ـ د خوراک اندازه ئی د پاؤ بالاد وی ماشی څخه بیا تر څلور نیمو ماشو پوری یا بوه یوه ماشه مصطگی او نږ کچور میده کړه او په دوی تولی قندو ئی گډ کړه بیا ئی وخوره.

(۵) د حمل په وخت کښی که پیچ او پیچش د حاملی ښځی ته ور پیښ سی نو اکثره وخت دغه دوا کفایت کوی شیر ماشی تخم ریحان په یوه پوره چټانگ گلاب کښی پاخه کړه لږ مصری او نه دانی بادام میده کړه او په دغه تخم ریحان او گلاب ئی گډ کړه د حاملی ښځی ته ئی ور کړه او د حمل او پیچش په وخت کښی د پیر لعاب لرونکی یعنی سړیښناکه او به لرونکی دوایانی دی ښځه نه استعمالوی لکه ریشه خطمی او داسی نور خصوصًا بیاد هغی ښځی د پاره چه د اولاد د نقصانید و مرض لری بالکل د لعاب لرونکو دوایانو استعمال بند دی.

(۱۰) که ئی د حمل په وخت کښی پښی و پرسیږی نو هیڅ پروا نه لری لیکن بنه دا ده چه د (۲) ډرځی ماشی ایلوا (صبر) چهالیه (سپاری) او صندل دشنه مکوئ په اوبو کښی میده کړی او په پښو پوری ئی مالش کړی.

(۱۱) که د حاملی ته په دنده بدن کښی کله درد او سوزش معلوم سی نو د ډری ماشی ږسوت (حضض) دی په یوه بوه توله او بو کښی د گلابو او نکر حوگډ کړی یا دی ملتانی مټی (ملتانی خاوره) د مستو په اوبو کښی ولړی او بیا دی ولگوی.

(۱۲) که د حمل په وخت کښی وینه جاری سی نو قرص کهربا[1] دی وخوری او هغه دوا وی دی استعمال کړی چه د استحاضی په بیان کښی لیکل سوی دی.

(۱۳) کومه ښځه چه د اولاد د نقصانید و په مرض اخته وی نو دا دی تر څلور و میاشتو پوری او بیا تر اوو میاشتی ورسته د پیر احتیاط کوی هیڅ گرم شی دی نه خوری یو درو ند شی دی نه پورته کوی بلکه همیشه دی لنگوټ (نکر خوندی شی) تړی او هر وخت چه د نقصانید و علامی او نښانی ور معلومی سی چه اوس ئی کوچنی نقصانیږی نو سم دستی باید و طبیب ته رجوع وکړی او که چیری کوچنی نقصان سی نو تر نقصانید و ورسته د پیر احتیاط ضرورت دی هیڅ شی د خپله عقله څخه د طبیب بیله مشوری و نه کړی لیکن د پیری ضروری خبری هوښ لږ څه لیکلی دی چه اوس راوانی دی او چونکه دیوار نقصانید و څخه د اتاوان پیښیږی چه بیا بل

[1] د قرص کهربا د جوړولو طریقه په خاتمه کښی راځی ۱۲

وار چه بنځه حمل لږ سی نو بیا ئې کوچنی نقصانیږی او که چیری نقصان نه سی کوچنی
پیدا سی خو بیا کمزوری او ضعیف وی ژوندی نه سی پاته کیدای که چیری ژوندی
پاته سی نو بیا په ام الصبیان یعنی مرګی او داسی نور مرضونو اخته کیږی. د
دغسی افتونو د بندولو د پاره باید دغه معجون جوړ کړی د حمل اخیستو څخه
وروسته تر څلرمی میاشتی مخکی تر څلویښتو ورځو پوری څلور نیمی ماشی روزانه
وخوری او د حمل د اخستو مخکی د طبیب سره باید مشوره وکړی که چیری د عملی شی
ضرورت وی نو عملی شی دی هم وکړی او که دغه معجون بیله حمل څخه وخوری
نو هم ورځ ته طاقت ورکوی.

معجون محافظ حمل ۱۰ برادهٔ صندل سفید، برادهٔ صندل سرخ، مازو سبز،
درونج عقربی، عود خام، عود صلیب، عنبر اشهب، بسد محرق، ابریشم خام مقرض،
بیخ انجبار، گل ارمنی (طین ارمنی) تول پاو بالا یوولس یوولس رتی، د خربق تخم،
او د ختکی د تخم مغز دوه ۲۲ ویشت نیمی دوه ویشت نیمی رتی. تول وکوټه
اوولئ چونه شربت غوره د څلویښت ماشی، قند سفید اوو (۷) ټوله تولی او خالص شهد
اووه ویشت ماشی دغه دری سره سره وایشوه تر داسی حده چه تار وکړی یعنی
قوام ئې کړه بیا دغه ذکر سوی دوایانی په ګډه کړه تر دغه وروسته بیا سپی موتی
کهربایی شمعی او طباشیر (بنسلوچن) پاؤ بالا یوولس (۱۱) یوولس رتی د سپینو اوسرو
زرو ورقی دوه نیمی دانی، دغه تول په څلور تولی عرق بید مشک کښی میده کړه او
بیا ئې د دغو نورو دوایانو سره ګډ کړه په دی دوایانو سره شیدی هم ډیر ږی
اووکوچنی ته دام الصبیان یعنی د مرګی مریضی هم نه ورپیښیږی انشاء الله تعالی

د حمل تر نقصانید و وروسته د تدبیرونو بیان

چه بنځه کوچنی نقصان کړی نو د کوچنی تر نقصانید و وروسته بالکل غذا پر
بنده کړه هر دخت چه ئې لوبن ۱۲ دیره سی نو د څخکی سپین سوی زوړ پی دوی دری
تولی لږ څه پراوړ ورسره کړه او د ذائقی سره برابر لاهوری نمک (ملح هندی) او تور
مرچ ورسره ګډ کړه او بیا ئې د دغې بنځې ته ورکړه یا منقی ګرمی کړه د خوړلو د پاره ئې

۱۱۳۳

وکړه تر درد وروسته پوری بله هیڅ غذا مه ورکوه اودنس د صفایی د پاره دغه نسخه
په وچینه - تخم د خټکی اوګوکهرو شپږ شپږ ماشی، بیخ کاسنی، پرسیاوشان (شعر
الارض) سداب او مشک طرا مشیع یعنی د غزه پودینه چه د غزه نانادة پنځه پنځه
ماشی اود املتاس یعنی د پولوس پوست یوه تولـه پـه اوبوکښی وایشوه اووئ چوپه
دری تولی شربت بزوری باردورسره ګډکړه او بیمګرم ئ پـه وچینه اودغه پنځه
دی تر ملا اونامه لاندی بدن د نیم پـه پاڼو سره پټاکورکوی او څلرمه ورځ دی
لږ څه موټه (ماش هندی) وایشوی اوبه دی پـه دغه نسخه وچینی بیادی
پنځمه ورځ پـه بشو راکښی سپتې بنه حل کړی دخوړلو د پاره دی ئ ورکړی
اودنس پـه صفاوالی کښی دی سستی اوکوتاهی نه کوی اونور تدبیرونه ئ پـه
شاند دلنګی بنځئ دی. چه بیان ئ مخ کی راروان دی او بعضو بنځو ته د حمل
د نقصانید وځځه د رحم اوایني کمزوری ورپیښیږی چه د دی سببه د
دوری پـه شان ئ عملونه کیږی او یخه خوله پرانځی اوبیو وخت ئ پټول بدن
پرسیږی د دی مرض ته پرشوت وایی پر صـ۵۹ باندی ئ وګورئ

دلنګی بنځئ د پاره د تدبیرونو بیان

(۱) هروخت چه د بنځئ د حمل نهمه میاشت شروع سوه نو هره ورځ دی یوه یوه
ماشه مصطګی باریک میده وی نه ماشی روغن بادام اویوځه مصری دی ورسره
ګډوی هره ورځ دی خوری اوکه بنه روغن بادام نه پیدا کیږی نو یوولس دانی
بادام دی سپین کړی بنه دی میده کړی بیادی یوځه مصری ورسره ګډ
کړی اوخوری دی اود چا چه معده قوی وی دهغه د پاره د مصطګی دګډولو
ضرورت نشته د غواشیدی چه هرځوندی هضم کولای سی هغوندی دی چینی
یادغواکوچی که هضم کولای سی خوری دی یادی دوی تولی ناریل یعنی کوپره او
مصری سره وکوټه هروخت چه بنه سره ګډ سی یوذات ځندی جوړ سی نو بیا
دی دغه هره ورځ خوری ددی تولو دوا یانو پـه استعمالولو سره کوچنی پـه
اسانی سره پیدا کیږی او هروخت چه د کوچنی وپیدا کیدو ته نږدی لږ ورځئ

پاته سی بیادی گرځی او به د بدن پر هغه حصه چه ترنامه لاندی ده تویوی او بنه غوړه ښوروادی چښنی او هر وخت چه بالکل وخت د اولاد د پیدا کیدو راسی او درد د نه شروع سی نو د غه د واړه پرده فایده لری د املتاس یعنی پولوس پوستکی یوه نیمه توله میده کړه په اوبو کښی جوش ورکړه او دری تولی شربت بنفشه ورسره گډ کړه بیائی ورکړه چه وئی چښنی او په چپه لاس کښی د متناطس د اینوولو څخه یا پرچپه ورانه د بُستَدُ (بیخ مرجان) د تولو څخه هم دکوچنی په پیدا کیدو کښی سهولت او اسانی راځی او د غه تیل بی حده فایده مند دی گل بابونه، بنفشه تخم خطمی، اکلیل الملک او د الـ ی تخم (بزرالکتان) ټول شپږ شپږ ماشی او د تپسو گل دوی تولی د غه ټول په یوه سیر اوبو کښی وایشوه هر وخت چه نیمی اوبه پاته سی نو بیائی مړه وښنه وئی چوپه او بیا په د غه کښی نیم پاؤ د اړنډی تیل او دوی تولی د غواد هډو مغزاو د بزې د پښتورګو چربی او غوړګډ کړه بیائی جوش کړه هر وخت چه او به وسوځل سی تیل پاته سی بیائی نو د اوږ څخه راښوره کړه او د ر مړه وئی سامته هر وخت چه ضرورت سی نو بیا د غه تیل ګرم کړه ترنامه لاندی حصه (بدن او ملا) په مالش کړه او د دایی په ذریعه ئی د ننه په رحم کښی استعمال کړه او د کوچنی بنځی په رحم کښی چه پاڼه سوب وی نو د کوچنی د پیدا کیدو په وخت کښی د د غو تیلو مینوول په بدن پوری او د ننه استعمالول په ضروری دی ورنه د بنځی د مرګ خطره ده او د تیل د دی لایو ۰ ی چه په کورونو کښی تیار موجود وی که چیری د اولاد د پیدا کیدو په وخت کښی زیات تکلیف وی یا کوچنی په نس کی مړ سی یا یو بله نوی خبره د خطری پیښه سی نو سم دلاسه طبیب خبر کړه.

اودی جهلی پردې څخه یوه نلکی دکولمی په شکل راښکته ده اودکوچنی په نوم (نامه) پوری مښتی ده اودغه وینه دکوچنی وبدن نه دغې نلی اونورنکی دلاړی څخه ور رسیږی اودغه ته دنوکولمه وایی حکیم مطلق اولوی خدای دکوچنی خوله او ژبه دغې خرابې او مرداری غذا څخه چه وینه ده ساتلی ده. اوددغې کولمی د لاړی غذا ورمقرره کړیده حکمه چه ژبه دذکر دپاره پیدا سوی ده چه دالله جل جلاله ذکر په وسی. نودکولمی دپریکولو طریقه داده چه اول دغه کولمه دنو سره نژدی په دوو گوتو تینګه کړی اودباندی وخواته ئی کراړ راکش کړه اودواړې گوتی پرې راتیری کړه دی دپاره چه هوا، وینه اوهرڅه شیان چه هلته جمعه سوی دی هغه دورې اوبیادی دوون سپینی (تار) اوابښتی غوړه کړی بیادی په دغه ابښتی سره یوه غوټه دنوسره نژدی ورکړی اوبله غوټه دی دنو (نامه څخه یوه لویشت لیږی ورکړی نو هروخت چه دواړی غوټی ورکړی نو په تیزه غچی سره دی ددواړو غوټو په منځ کښی دغه کولمه پرې کړی که په دغه پرې سوی کولمه کښی دوی ورجی قدر مشک واچول سی یعنی دپرې سوی نو په سرکی واچول سی نو بیا هیڅکله دډبه (څوړی) مریضی نه پیښیږی دنوترپریکولو وروسته په روغن زیتون کی یوصاف توکر باید خیښت سی اوپرنوکښیښول سی یادغه دواړو پاشل سی (هلدی) (کورکومن) دم الاخوین، انزروت، زیره سفید، چهریله (آشنه) مرمکی توله دری دری ماشی ښه باریک میده کړه اوونی چونه بیائی پرپریکړه سوی نو وپاشه که پردغه نو اوکولمی دپریکولو څخه مخکی اودغه رنګه دغوټو ورکولو څخه مخکی گوتی راکش نه کړل سی نو په مثانه یارحم یامعده کښی دټول عمر دپاره دتولید ریاح مرض پیدا کیږی. کوچنی ته یوه شپه اورځ شیدی مه ورکوه پرځای دشیدو گهټی (گهونټی) ورکړه اودغه بله آینده ورځ شیدی ورکړه دډی دپاره چه نس ئی ښه صفا سی دکوچنی موردی په دغه زمانه کښی خپل ئی کښیکاږی نژدوو دره واړو پورې چه شیدی ئی وونی بلکه گرځی اوبه دی پرخپلو تیو باندی توی کړی چه هغه څښه شیدی وونی تردیوی هفتی پورې دی په یوه ورځ اوشپه کی

تردې واړه زیات ئی او شیدی نه ورکوی

نظر ثالث

(۲) رواج دی چه د خاورو یاد نخودو د اوړو په اوبوسره کوچنی ته غسل ورکوی پرځای د دی کچیری دمالگی په اوبوسره غسل ورکړه سی اولږ وخت وروسته ئی په خالص اوبو وملبوی نود ډیرو ناجوړیانو څخه به خلاص سی لکه دانی زخمونه اوداسی نورد ټولو مرضونو څخه به په امان سی لیکن د مالگی او به باید وستړگی یا پزی یا خوږ وته ونه رسیږی که دکوچنی پر بدن خیره ډیره معلومیږه نو تر ډیرو ورځو پورې دی د مالگی په اوبوسره غسل ورکړی او که ئی پر بدن خیره نه وی بیادی هم تر بوی پورې څلویښتی پورې هره درېمه یا څلرمه ورځ په خالص اوبوسره غسل ورکړه سی او تر غسل وروسته دی تیل پورې مښی که تر څلورو پنځو میاشتو پورې د تیلو مالش اومښوول ورکړه سی نو ډیره فایده لری.

(۳) کوچنی دی داسی ځای کښیږدی چه هلته ډیره رونا نه وی د ډیری رونا څخه دده نظر کمیږی اوکمزوری کیږی.

(۴) په گهټی (دادش دصفا کیدو دوا دی) کښی چه کوم ام التاس یعنی پولوسر دی دغه دی د نورو دوایانوسره نه پخوی ځکه چه په دی سره ئی اثر خمیږی یادی دغه پولوس جلا خیشت کړی اوبیادی وچوپنی یادی په پخوسوو دوایانوگډ کړی تر گډیدو وروسته دی سره ومښی اوودی چوپنی.

(۵) کوچنی ته دی تر شیدو ورکولو مخکی یو خوږ شی لکه شهد (عسل) یا خورما چه ژوول سوی وی یا بل داسی شی دگوتی په زریعه سره دده پر تالو وروملبوول سی.

(۶) رواج راغلی دی چه ولنگی ښځی ته کارها یعنی جوشانده ورکوی چه وئی چیښی اودده دپاره یوه نسخه مقرره ده وټولوته دغه یوه نسخه ورکول کیږی برابره خبره ده که د دغی ښځی مزاج گرم وی که خنک وی که جوړه وی که ناجوړه وی دا بیکاره اوغلط رواج دی بلکه د مزاج اوطبیعت سره برابره دوا باید ورکړه سی. که د ښځی مزاج اوطبیعت خنک وی نو یوه یوه توله مجیټهـ - سونف (خوانږه ولنی) نرکچور اوخشک مکوئ ټول په څلورسیره اوبوکښی جوش کړه هر وخت چه دری سیره اوبه پاته سی نو بیادی دغه ښځه استعمال کړی اوکه د دغی ښځی مزاج گرم وی

نو دوی دوی تولی خشک مکو ، د خټکی زدې او گوکهرو دغه ټول په خلور سیره اوبو کښی جوش کړه هر وخت چه د لنگی بنځی تبه وی نو یوازی د خشک مکو اوبه ورکړه. داغه رنگه داهم رواج دی چه لنگی بنځی ته اچهوانی (دایو قسم حریره ده) کوندوری اوشونډ خامخاورکوی داهم پیربیکاره رواج دی حکه چه دغه شیان بعضو ته فایده کوی بعضو نه تاوان کوی خصوصًا په تبه کښی اچهوانی (حریره) پیرتاوان کوی که لنگه بنځه مریضه وی یائ په هاضمه کښی خرابی وی نو دی د پاره تر ټولو بنه غذا بنوروا یا یخنی ده مگر وچی که نه ورکړل سی هیڅ پروا نه لری که تبه یا مریضی پیره وی بیا د طبیب څخه پوښتنه وکړه هرشی چه طبیب در وفرمایی هغه شی ورلره ورکړه د هری بنځی د طبیعت سره چه کوندوری موافق نه وی نو دی د پاره هغه لږ و جوړکړه چه د هغه ترکیب د" رحم څخه هروخت د رطوبت د جاری کیدو په بیان کښی لیکل سوی وو .

(۷) کوچنی پریوه اړخ تړپره پوری داسی مه پریږده چه تړپره پوری ئ پریوه شی ننګاه اونظر مرکوز وی د دی څخه د ستړ گوکبوالی پیدا کیږی نو په دی وجه اړخ ور بدلوه.

(۸) د لنگی بنځی په بدن پوری تیل ورمښول هم پیره فایده لری مگر د بعضو بنځو ته تیل لگول گرمی ور اچوی زخمونه اودانی پرا خیژی د دوی د پاره د غه تیل مناسب دی . د جهاو (طرفاء) پانی نیم پاؤ د نکرځو پانی یو چټانگ ، نمکولی یعنی د نیم د درختی میوه یو چټانگ ، او مجیټهه د وی تولی د غه ټول د شپی په اوبو کی خیشته کړه اوسهار جوش ورکړه سره میده ئ کړه او ولئ چونه د سرسون یعنی سرشف یا د کنجدو تیل یو میږ ورسره گډ کړه بیائ پاخه کړه چه اوبه ټولی وسوځل سی او تیل پاته سی بیا په د غه کښی د وی تولی مصطگی او یوه توله قسط تلخ بنه باریک میده کړه اوبنه ئ ورسره گډ کړه او بیا د غه تیل د لنگی بنځی ته د پاره د بدن د مالش کولو (غوړولو) ورکړه او دا دی د غه تیل نیمگړم په بدن پوری ومښئ.

(۹) د کوئی بنځی چه شیدی کمی وی که چیری شیدی بنی پر لگیږی نو شیدی ور کړه دپسه یا بل شی د سر ماغزه زیات ورکوه او د چرگ بنوروا په چیښه او غه دوایانی هم پیره فایده ورته کوی پنځه نه شی حب السوداء یعنی دانه سیاه

یا پنځه ماشی تودری سرخ هره درځ د شیدو سره په کپه کوه یا دوی تولی توره زیره په نیم سیر غوړو کښی یو اندازه سره کړه بیا پوره سیر شکر سفید او نیم سیر سوجی ورسره گډ کړه او توام خندی جوړ کړه یعنی نرداسی اندازی ئی جوش کړه چه تار وکړی. خټه سی - بیا بادام، وچه خورما، ناریل یعنی کوپره او چلغوزه په مناسبه اندازه سره ورسره گډ کړه خورک ئی د دوه تو لو څخه تر څلورو تولو پوری دی یا د زرد کی حلوا ورکوه او عمده اوښی غذا وی ورکوه.

(۱۰) شیدی اوبۍ ورکونکی بنځه دی تاوانی اوضری شی نه خوری د غه رنگه د تر تیز کو سبزی، خرد ل (رایی) او نانادی نه خوری د دی شیانو په خوړلو سره شیدی خرابیږی.

(۱۱) که شیدی په تیو کښی کلکی او خټه سی وبنځئ ته تکلیف ورکوی او یا پتیو کښی کچه معلومی سی نو دی دستی او فورًا د طبیب څخه علاج وکړی - او یو علاج ئی دادی چه یوه توله بنفشه او خطمی او گل بابونه او دوی تولی د پیسو گل را واخله په دوه سیره اوبو کښی ئی جوش کړه او تر جوش ورکولو وروسته چه اوبه نیمگړی سی نو پرتیو ئی توی کړه او د غه جوش سوی د وایانی هم پرتیو وتړه هروخت چه د غه د وایانی سړی سی بیا ئی لیږی کړه.

(۱۲) د کومی بنځئ چه شیدی خرابی وی نو وکوچنی ته دی ئی نه ورکوی یو څاڅکی د شیدو پر نوک باندی واچوه بیا نو ورته وگوره که فورًا د بهیدی یا تر بنه پرې نه د بهیدی نو خرابی دی او که یو څه د بهیدی او یو څه پر نوک پاته سوی نو بیا بنی شیدی دی او پر کومو شیدو چه مچان نه کښینی هغه خرابی دی.

د مسان (ام الصبیان) علاج: د مسان (ام الصبیان) یو مرض دی چه دا مرض په مختلفو شکلونو بنکاره کیږی دیو کوچنی بدن وچ سی او بیا مړسی او پر بل کوچنی بیا د ام الصبیان دوری راځئ او بل یوه ته عملونه ورشروع سی او د دغو عملونو څخه او خوب کښی مری، دیو چا کوچنیان بیا تر دوو او کلونو یا تر درو کلونو په زیات یا لږ

زمانه کښی بنه وی بیا یکدم مری د غه ټول ډمسان یعنی میرګی او ام الصبیان بناخونه دی د غه مرض وکوچنی ته د هومره دلس څخه وړ پینبیږی نود غه وجه د کا چه هر وخت ئی سلسله شروع سی نو کوچنیان مسلسل او پرله پسی مری ترڅو پوری چه د مور علاج ئی د حمل اخستو څخه مخکی ونه سی نو کوچنی ته فاید کا نه رسیږی چونکه د غه مرض نن سبا بیخی ډیر سویدی نود دی سببه ئی دلته علاج لیکل کیږی لیکن تفصیلی بیان ئی دلته ډیر طول اوښه دوالی خواړی دلته یوځو نسخی د د غه مرض څخه د حفاظت د پاره لیکل کیږی او د غه رنګه یوځو ضروری خبری هم لیکل کیږی.

(۱) د بنځی علاج تر حمل مخکی په یو پوره طبیب وکړه او که د عملی شی ضرورت وی نو په رعایت د وینی د صفایی او د زهرو د لیږی کولو او د تقویی د زړه د ی عملی شی ورکول سی.

(۲) بیا د ی د حمل په حال کښی مخکی تر څلرمی میاشتی هغه معجون وړ کړی چه د حمل د تدبیرونو په بیان کښی تیر سوی دی چه د د ه اول جز براد ګ صندل سفید دی چه نوم ئی معجون محافظ حمل دی او تر څلویښتو ورځو پوری د ی ئی وخوری او د غه معجون د هر مزاج سړه موافق دی.

(۳) دا معجون چه څلویښت ورځی وخوری بیا د ی ئی پریږدی او د غه ګولی د ی پیوسته د کوچنی تر پیدا کیدو پوری خوری او هر وخت چه کوچنی پیدا سی نو د کوچنی ته د ی هم پیوسته تر دوه کالو پوری ورکوی او پخپله د ی هم خوری

د ګولی نسخه داده ۱- د تلسی (ریحان دشتی) پانی، د جلنیم پانی، د چرچټه (خارداژګونه) بیخ، ۱ کاس بیل (الکښوث) چه د ببول (ام غیلان) د د رختی نه وی، د کرنجوی پانی، دارسنده پانی، تولی دوه نیمی دوه نیمی ماشی را واخله په سایه کښی ئی وچی کړه بیا عود صلیب، بنفسلوچن (طباشیر) او دانه الایچی کلان یعنی دلوی هیل دانی څلور څلور ماشی، دانه الایچی خورد یعنی د کوچنی هیل دانی د وی ماشی زرنب یعنی تالیس پتړ دوه نیمی ماشی ټول وکوټه او وئ چونه بیا زهرمهره خطائی (حجرالسم) اصلی نارجیل د ریائی (کوپړه) جدوار خطائی او پینټه په ګلابو کښی کړل کړه (کړدامعنی چه ګلاب په اوکلی (آونګ) کښی واچوه او بیا د غه څلور اجزاء پسی ورواچوه او بنه ئی مړه حل کړه او تر حلولو اوکړلولو وروسته مشک په قدر

ددوو (۲) درجو او اصلی زعفران درې رتی سره ګډ کړه وروسته ئې بنه په اونګ کښی ومښه او بیا ټولی دوایانی سره ګډ ی کړه او د دوندی عسلو سره ئې ګډ ی کړه چه د دوی سره په وزن کښی برابر وی او د نخود په برابر ګولی ځندی جوړ ی کړه او هره درځ یوه یوه ګولی خوره او هر وخت چه کوچنی پیدا سی ودره ته دګولی څلرمه حصه ورکوه او بیا تر څو ورځو ورسته نیمه ګولی ورکوه او بیا تر یوه کال ورسته یوه ګولی هره ورځ ورکوه دغه ګولی د کوچنی د پیرو مریضیو د پاره فایده لری او په هیڅ حال کښی تاوان نه کوی.

(۴) د مسان د مرض د پاره تر ټولو لوی ضروری تدبیر دا دی چه د مور شیدی بالکل ورنه کړل سی یوه بله جوړه بنځه د ی شیدی ورکړی یا د بزی، عوا یا د اسی بل څی شیدی د ی ورکړه سی یا د ی د ولایتی د بی شیدی ورکړه سی غرض دا چه د مور په شید وکښی ئې زهرسته نو یا د ی د مور شیدی بالکل نه ورکول کیږی او که ممکن وی نو د ی د مور د شید و د صفایی تدبیرونه د یو قابل او تجربه کاره حکیم په رایه سره وسی لیکن دا خبره مشکله ده د د ی سببه دا مناسب د ی چه د مور شیدی ورنه کړل سی.

(۵) عود صلیب نر اوماده داوښ د والی په خوا کښی سوری کړه بیا تر دغه سوری تار د باسه د کوچنی په غاړه ئې ورځړوه.

(۶) که د کوچنی مسان وی نو د ده په تدبیرونو او علاج کښی چه کوم صورتونه مخ ته راسی د هغوی موافق حکیم او طبیب خبر کړه او د د پیرو صورتونو علاج په دغه کتاب کښی هم لیکل سوید ی.

(۷) د مسان په مریضی کښی د د مونو او تعویذونو څخه هم د پیره فاید ه حاصلیږی یوښه دیندار ه مسلمان عالم ته ورسه او بی دینه هوښیارانو، چالاکانو او کوډګرانو ته هیڅکله مه ورځه او یو عمل د د ی حمی په آخر کښی د تعویذ او دم په بیان کښی لیکل سوید ی چه د پیرو ریاتو مجرب د ی

د کوچنیانو د تدبیرونو او احتیاط بیان

(۱) تر ټولو بنی د مور شیدی د ی په شرط د د ی چه د مور ئې د مسان مریضی نه وی او که ئې د مسان مریضی وی نو تر ټولو ضرر مندی د مور شیدی د ی - د مسان بیان

تیر سویدی تندرستہ اوجوړه مور که خالی ئی ورکړی نو هم وکوچنی ته فایده رسوی اوکه مور کوچنی ته داور عادت کړی چه هر وار د شیدو ورکولو څخه مخکی یوه گوته په شانو ککړه کړی اودکوچنی په خوله کښی ئی ورکړی هغه ئی وختی نو ډیره فایده لری۔(از قانون شیخ نظر ثالث ۳)

(۲) هر وخت چه کوچنی داوڑو۔ ورځوسی نو بیائی په ځانگو کښی څنگول او په آهسته آواز سره خوش آواز ه غزلی او یو پهاړ ورته در لودل ډیره فایده لری که کوچنی په غیږ کښی اخلی یا ئی په ځانگو کښی پریباسی نو سر به ئی تر نور بدن لوړ او بالاوی۔(نظر ثالث)

(۳) کوچنی چه هر وخت پیدا سی نو د ده دماغ د عکس (فوټو) غوندی خاصیت لری نو هر څه چه د ده دماغ ته د ستر گو یا غوږ د لاری رسیږی هغه منقش کیږی او بټول عمر بیاد ده په دماغ کښی محفوظ وی که وکوچنی ته ښه تعلیم ورکول غواړی نو د کوچنی په مخ کښی د تمیز او سلیقی خبری کوه هیڅ یو حرکت خلاف تهذیب د ده په مخ کښی مه کوه او یو بده خبره تر خوله مه راباسه کلمه او قران شریف وایه۔

(۴) هر وخت چه دئی د پری کولو ورځ رانژدی سی اوکوچنی په خورک شروع وکړی نو دا خیال کوه چه یو سخت شی هیڅکله در څخه ونه ځوڼی څکه چه د سخت شی په ژولو سره د دی بیره ستہ چه غاښونه به ئی په ډیره گرانه راسی اود همیشه د پاره به ئی غاښونه کمزوری وی۔

(۵) په داسی حالت کښی مه ډیره غذا ورکوه او مه ډیری اوبه ورکوه څکه چه بیائی معده د همیشه د پاره کمزوری کیږی اوکه ئی نس لږ څه ډک وو ینی نو غذا پرېنده کړه او هر رنگه چه ممکنه وی کوچنی بیده کړه چه په بیدیدو اوخوب سره غذا ژر هضمیږی۔

(۶) که دگرمی په موسم کښی کوچنی د تی څخه پریکړل سی نو تندی او تهراو غصی ته ئی مه پرېږده د دی تدبیر دادی چه هره ورځ زهر مهره (حجرالسم) په گلابو یا اوبو کښی وښنی او بیاد غه اوبه ورکړی او زیات غوړمه ورکوه او همیشه در یمه ورځ پر تالو باندی د نکر زوتکی ورښنده یا فشاسته په گلابو گډه کړه په تالو پوری ئی ور وښنه په دی سره د توسن (عطاش۔ تندی) د مرض

څخه هم ساتل کیږی او که په ډیر یخ کښی د ئ څخه پری سی نو ئ د یخه څخه ساته او ثقیل او د روند شی د خورک د پاره مه ورکوه او د بد هضمی ئ خیال ساته ⑦ هر وخت چه ئ اُوری سختی سی او غابنونه راتلل ئ معلوم سی نو د چرگی چربی په اوریو پوری ورمبنه پرسر او غاړه تیل ورمبنه او په غوږونو کښی تیل هم مبنه ډیر ورو اچوه کله کله دوه څاڅکی شهد نیمگړم کوه او په غوږ وکښی ئ وراچوه چه خیره پکښی سخته نه سی او دغه دوا د د ه د پاره استعمال کړه چه غابنونه ئ اسانه راسی ـ د اَلسِی (بزر الکتان) او میتهی (ملخوږی) تخم، خطمی او گل بابونه دغه ټول شپږ شپږ ماشی د شپی په اوبو کښی خیشته کړه سهار جوش ورکړه او سړه وئ مبنه او میده ئ کړه او وئ چوپه دسری تولی روغن گل دوه ئ تولی خالص شهد او یوه توله د بزی د پښتورگو چربی ورسره گډ کړه او بیا جوش ورکړه چه او به وسوځل سی او مرهم غوندی شی پاته سی بیا په دغه کښی شپږ ماشی نمک باریک میده کړه او سړه گډ ئ کړه بیا ئ د سړه وساته ـ او نیمگړم کوه ئ هره ورځ ئ په اوریو پوری ورمبنه او که د چرگی چربی نه وی نو دغواد هډو ماغزه ورواچوه او کله کله د کوچنی غابنونه په داسی مشکله سړه راځی چه لاسونه او پښی ئ کږیږی په دغه وخت کښی پرسر او غاړه تیل ورمبنه.

⑧ هر وخت چه غابنونه یوځه راسی او کوچنی یوځه ژوول شروع کړی نو یو لرگی اوبنا خله د ملهی (خوږ ولی) د لوړی خواځخه سپینه کړه په اوبو کښی ئ خیشته کړه چه نرمه سی او د کوچنی په لاس کښی ئ ورکړه چه په دغه سړه باندی وکړی او دغه ژوبی په دی سړه خویو خپلی گوتی نه ژوبی بل د غابنو په راتلو کښی اوری نه پرسیږی او درد نه کوی او یو وخت وخت نمک او شهد سړه گډ وه او په اوریو پوری ئ ورمبنه د دغه په مبنو ولو سړه د خولی د پخید و (قلاع) عرض نه ورپښیږی او غابنونه ئ په ډیره اسانی سره راځی.

⑨ هر وخت چه د کوچنی ژبه په خبرو شروع وکړی نو کله کله ئ د ژبی بیخ په گوته سړه ورمبنه چه په دی سړه ډیر ښه صافی خبری شروع کوی.

⑩ د حکمت په کتابونو کښی راغلی دی چه د بد و عادتونو په وجه تندرستی او صحت خرابیږی د دی سببه د کوچنیانو د عادتونو د سمولو او برابرولو په خیال ساته بل څوک دی هم د کوچنیانو په مخکی بیکاره حرکت او بیکاره کارونه نه کوی.

(۱۱) کوچنیان دیو خاص غذا مه عادتیان کړه بلکه موسمی او فصلی شیان ټول ورکوه ددی دپاره چه هر شی خوړل ئې عادت سی مګر وار وار ئې مه ورکوه تر څو چه یو شی هضم سوی نه وی بل شی مه ورکوه او هیڅ شی دوندی مه ورکوه چه هضم کولای ئې نه سی او پر شلو میوو سر بیړه او به مه ورکوه او تر وشکی پیړه مه ورکوه. خصوصًا انجونو ته او پر کوچنیانو تاکید کوه چه په دوډی خوړلو او او بو چښلو کښی ونه خاندی او نه یو د اسی حرکت وکړی چه د دغه حرکت په وجه سړه ګوله یا او به دپزی وخوانه ولاړ سی. هر څوندی چه ستا توان او طاقت وی نو د خپل توان او طاقت سړه سم وخپلو کوچنیانو ته بنه غذا ورکوه په دغه عمر کښی چه هر څه طاقت په بدن کښی راسی نو ټول عمر کار ورکوی. خصوصًا دیخ په موسم کښی میوه یا د کنجتی لړو ورکوه د ناریل یعنی کوپری او مغزی خوړلو څخه هم طاقت پیدا کیږی او د نس وارې وارې چینجیان هم نه پیدا کیږی او په خوب کښی بولی هم زیاتی نه ورته راځی. داغه رنګه په نورو میوو کښی نورې فایدی دی.

(۱۲) خپل کوچنیان خامخا محنت کښه امو خته کړه بلکه د هغوی په قدر د ضرورت د ورزش او سپورټ موقع برابره کړه او که مقدور وی د آس په سپرتیا او ځغلولو ئې امو خته او عادتیان کړه او اینجونی اول په کوچنی میچن بیا په لوی میچن سړه او بیا ورو سته د څرخ په وریشلو امو خته او عادتیانی کړه.

(۱۳) ختنه او سنت کیدل چه هر څوندی په کوچنی والی وسی بهتر او غوره دی ځکه چه په دغه وخت کښی تکلیف کم وی او زخم ژر جوړیږی.

(۱۴) په ډیر کم عمر کښی په واده کولو کښی ډیر تاوان دی بنه خو داده چه هلک هر څخه د پیسی اور وپیژند ګټلو قابل سی او انجلی د کور د چلولو د بار او تکلیف د پورته کولو قابله سی نو په دغه وخت کښی بیا واده کول په کار دی.

د کوچنیانو د مریضیو او علاج بیان

فائده ۱- کوچنیانو ته د ډیری تیزی او زور وری د وایانی مه ورکوه برابره خبره

ده که گرمی دوایانی وی لکه اکثره کشتی یا خنکی وی لکه کافور دداسی دوایانو څخه احتیاط کول دی څخه دپریکولو نزوخته خوبیخی ضروری دی او بیاهم تر څوارلسو پنځلسو کلونو پوری هم دداسی دوایانو په استعمالولوکی احتیاط کوه او دشیر خوار کوچنی په علاج کښی دی ورکونکی بښځی پرهیز کول دپیر ضروری دی تر څوپوری چه کوچنی ددوولسو کلونو نه وی سوی نو هیڅکله ئی رګ مه ورخلاصوه - او که دپیره مجبوری وی نو بیا ستنی وروهه. داخبره په خیال کښی وساته چه هر کله یونوی دوا یا غذا وکوچنی ته ورکول سی نوبیا به نزدوو ساعتونو پوری ئی نه ورکول کیږی او دغه دوه ساعته فاصله ضروری ده دپاره ددی چه شیدی د نوی شکی سره په معده کښی جمعه نه سی خکه چه بعضی وختونه ددی څخه دپیر تاوان پیښیږی - اوس یو څو قسمه مرضونه لیکل کیږی.

ام الصبیان - ددی مرض ته کمیره او عثمان هم وایی په دی مرض کښی کوچنی یکدم بی هوښه کیږی پښی اولاسونه ئی کږیږی او په خوله کښی ئی څګونه راځی نو پوره علاج ئی باید د حکیم او طبیب څخه وسی لیکن دلته په یو څو ضروری خبرو خان پوه کړه هر وخت چه دوره پرراسی نو دستی ئی بازوګان اوورنونه یو اندازه محکمه او ټینګ ورونړه او په رانی (خزدل) سره ئی ورغوی او تلی ورمالش کړه - او خوله ئی د څګه څخه پاکه کړه - دغسی مریض دپیرو تیزو او بریښندوکو شیانو دکتلو څخه دلسه اوغواد غوښو څخه ضرور وساته - جند بید ستر (آشن سګ ابی) سوښول او دکوچنی دبستری پرځلورطرفه ئی لږ لږ اینبول فایده لری خصوصًا دمیاشتی په شروع کښی ځکه چه دغه ورځی د دوری د نه یادت او دپیروالی دی او اکثره کوچنیان چه غټ سی نو دغه مرض ئی څپله هم ختمیږی (عود صلیب نر دماده داوبزد والی په خوا کی سوری کړه بیا تارتروباسه تر تارایستلو وروسته ئی د کوچنی په غاړه کړه).

چونکه دغه مرض اکثره د رحم د خرابی څخه پیدا کیږی نو دی سببه دکوی بښځی کوچنیانو ته چه دغه مرض ورپیښیږی ددی دپاره دهغه معجون خوړل

مرض دی ضروری کوچنی قبض دی او بیاهم ستر ورکول دی او ئی د کوچنی ورکوه او کوچنی د رحم د دغه ورکی ورکوی ورکول سی قبض د الله اکبر رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم آمین ثم آمین

د پیر مفید او ضروری دی کوم چه د حمل د تدبیرونو په بیان کښی بالکل په اخیر کښی لیکل سویدی چه د دې په اول کښی دواړه صندل ذکر سویدی.

سوکھا:- یعنی عطاش په دی مرض کښی د کوچنی تندې د پیرې وی د تالو حرکت نې بندیږی او گړی په گړی نې عطاشیت زیاتیږی په اخر کښی ټوخ هم ورپیښیږی علونه نې کیږی۔ علاج نې دادی چه کهرو یعنی اوښ دکهرو یا خرفه دوی تولی میده کړه روغن گل ورسره گډ کړه او پتکی خندی جوړی کړه پرسر نې ورکښیږده هروخت چه دغه پتکی گرمه سی نو نې بدله کړه او دوی دوی ماشی تخم خرفه، او تخم کاسنی دگاونږبان په عرق کښی میده کړه او وی نې چوپه یوه توله ثمربت انارشیرین ورسره گډ کړه۔ څلورمه تې طباشیر (بنسلوچن) اونږهرمهړه (حجرالسم) په دوی تولی عرق بید مشک کښی ومښه او بیا نې دهغو نورو دوایانو سره گډ کړه په کوچنی نې وچینه که نې عملونه نه کیږی اوکه نې عملونه کیږی نو خرفه او تخم کاسنی پراورلږ څه سره کړه او بیا نې میده کړه اوکه نې ټوخ وی نو دوی ماشی ملهټی (خوږ ولی هم میده کړه د دواسره نې گډ کړه که نې پرپښوا ولاسو هره ورځ نکرئ ورونگول سی او په یخوا وبوئ لاسونه او پښی ورپریول هم فایده ری اوکه د دغسی مرض کوچنی شیدی اوتې روی نو تې ورکونکی منځې ته خنکی غذاوی ورکوه۔ لکه کهرو متره (شاه توره) پالک باد رنگ، آش جو یعنی داورښود اودم واړه اوبه او داسی نورو اووکوچنی ته هم خنکی دواوی ورکوه اوکه چیری کوچنی شیدی اوتې نه روی د تې څخه پری سوی وی نو د د پاره نرم ټولو بنه غذا آش جودی اوهروخت چه نې عملونه کیږی نو کهچړی (چه دال او ورجی سره گډ کړی او بیا نې پاخه کړی و دی ته کهچړی وایی) او ساگودانه یعنی سابه دانه ورکړه.

د په:- دا یو قسم مریضی د چه د پښتیو سره نې تعلق د نې د دې مرض په شروع کی گرمه خشکه دوامه ورکوه لکه ککرونده (کهانیطوس) مشک یا هلدی (کورکومن) یا پان او داسی نور بلکه کومه ورځ چه د په مریضی وی د خنه گهټی (نس صفا کونکی دوا) ورکړه۔ دوی دانی عناب، څلور دانی مویز منقیٰ، دوی دوی دانی مکوه خشک گل بنفشه، ملهټی (خوږ ولی) اوگاونږبان اویوه ماشه ابریشم خام مقرض په گرمو اوبوکښی خیشته کړه دوی دوی تولی املتاس یعنی پولوس او ترنجبین اویوه توله

دوی مرض نه تونس هم وایی او په عربی کښی عطاش ورته وایی ۱۲ منه

خمیره بنفشه جلاسره خیشته کړه او بیائی سره د مښنه میده ئی کړه وئی چونه په هغه نورو دوایانو ئی گډ کړه او څلور دانی د بادام مغز میده کړه په گډ ئی کړه او یوه یوه ورځ په مابین کښی پریږده دری واړه د غه گټهی (نس صفا کونکی دوا) ورکړه او د اولی ورځی څخه ئی پر سینه باندی د دغو لاندی تیلو مالش ورکړه - شپږ شپږ ماشی السی (بزر الکتان) تخم خطمی گل بنفشه، د میتهی (ملخوږی) تخم او خشک مکو په او بو کښی خیشته کړه بیائی وایشوه بنه ئی سره د مښنه او وئی چونه څلور تولی روغن گل او د وی تولی موم زرد د سر سره گډ کړه او بیائی جوش کړه تر دامی حده چه او به د سو څل سی صرف تیل پاته سی بیا په د غو تیلو کښی د ری ماشی معقی میده کړه بنه ئی ورسره گډ کړه او د سره وئی ساته او د ضرورت په وخت کی ئی نیمگړم کوه پر سینه او کوم ځای چه ئی ژور والی معلومیږی استعمالوه او په ورځ کښی ئی دوه د ری واړه په د غو تیلو سره د مالشوه بیا پنبه گرمو ه پر د غو ځایو نو ئی ور تړه او د سر ایږد ه کله کله د د غو تیلو د مالش کولو او په بدن پوری د مښو ولو څخه هم کوچنی اړمیږی د گټهی ضرورت نه پیښیږی د لو یانو د پښتی د درد د پاره هم گټور او فائده مند دی - تر گټهی وروسته که ککرونده (کهافیطوس) یا مشک یا بل څه د رکول سی هیڅ پروا نه لری د کوچنی اوتی ورکو نکی بنځی د پاره د پرهیز ضرورت دی یوازی د مونگ (ماشو) دال یا سپتی یا کهچړی (د دال او ورجو څخه پوخ سوی خوړک) ورکوه.

د کوچنی د پیدایښت اونه بیدیدل: که ئی پریږدو ځای درد او تکلیف دی - نو د د غه درد او تکلیف علاج ئی وکړه او که نه وی بیا د غه دوا ورکړه - چرونجی (حب السمنه) خشخاش سفید، خشخاش سیاه، السی (بزر الکتان) تخم خرفه تخم بارتنگ، تخم کاهو، انیسون، سونف (خواږه ولنی) زیره سیاه - ټول شپږ شپږ ماشی راوا خلئ او وئی کوټه وئی چونه او قند سفید پنځه تولی وایشوه چه تار و کړی یعنی قوام څندی جوړ سی بیا په د غه قوام د غه ذکر سوی د وایانی گډ ی کړه د دوو (۲) ماشو څخه بیا تر اووو (۷) ماشو پوری ئی خوړک دی د د ی د وا په خوړلو سره لو یانو ته هم بنه خوب ورځی مگر پرکوم کوچنی چه دام الصبیان دوره راځی نو هغه ته د غه دوا مه ورکوه او هیڅ کوچنی ته افیون (تریاق) مه ورکوه څکه چه په اخیر کښی پیر تاوان کوی د تریاقو پرځای د غه دوا ورکړه.

په خوب کښی سړه غوږ ډیدل ۱- کوچنی که دیوشی څخه ببریدلی وی نو دده د زړه څخه بیره لیږی کړه او که ئی ښی پرسیدلی وی هوا او بادلری نو دګهړی په وړکو نو سوه ئی صفا بی وکړه. **غوږ درد** ۱- د دی علامه او پیژندنه داده چه کوچنی ډیر ژاړی او بیوظاهری سبب ئی نه معلومیږی او هر ګړی خپل لاس و غوږ ونوته وړوړی او چه یو څوک د ده پر غوږ په نرمی او کراره سوه لاس وربټیر کړی نو دی آرام سی د دی درد د یاره دغه دوایانی فایده لری. **اوله نسخه** ۱- د سکهدړ شن (ګل حمس) یا ګیندی (صدبرګ) د پاڼو اوبه نیمګړی دوه دوه څاڅکی په غوږ وکښی وروڅوه **دوهمه نسخه** ۱- رسوت (حضض) صعتر (د غره نانا) مسور (نشک) دری دری ماشی راواخله په یوه پوره چټانګ اوبو کښی جوش ورکړه هروخت چه نیمی اوبه پاته سی نو سړه ولی ښنه او وئی چوپه، روغن ګل یا روغن بادام یا دکونجو تیل دوی تولی ورسره ګډ کړه بیائی پاخه کړه هروخت چه اوبه وسوځل سی تیل پاته سی نو بیا یوه یوه ماشه نمک اندرانی او مرمکی باریک میده کړه او ورسره ګډ ئی کړه نو بیائی درسره وساته اودوه دوه څاڅکی نیمګړم په غوږ کښی وراچوه **دریمه نسخه** ۱- شپږ ماشی ګل بابونه په یوه پوره پاو اوبو کښی میده کړه او بیا جوش ورکړه او ترایشید لو وروسته د دغو اوبو انکباب او توښ وکوچنی ته ورکړه. **فایده** ۱- په غوږ کښی همیشه دوا نیمګړمه اچوه دکوچنیانو په غوږ کښی ډیره تیزه دوا مه وراچوه چه دکنید و بیره ورسره سته. **د غوږ بهیدل** ۱- د د باندی د دوا څخه ئی بند دل بنه نه دی مګر د خورلو په دوا سره د دماغ ته طاقت ورکول او رطوبت او لندوالی وچول به کار دی یوه ورچه د مونګے (مرجان) کشته په شپږ ماشی اطریفل کشنیزی یا اطریفل زمانی ګډه کړه د بیدیدو په وخت کښی ئی تریوه کاله پوری وخوره او په هفته کښی ئی یوه د دی ورځی ناغه کوه اود باندی د خواڅخه په دغه دوا سره غوږ ورصفا کړه د نیم په اوبو سره غوږ ورصفا کړه بیا د نیم پاڼی میده کړه او اوبه ئی ولښتیخه او دغه اوبه په شهدو وی چه مچان نه پرکښینی او اکثره کوچنیان چه لږ یان سی نو د غوږ د بهیدل لپاره اکثره وخت د مرجان دکوشتی ضرورت هم نه پیښیږی یوازی اطریفل هم کفایت کوی ۲ محشی

دستر گو خوږیدل ۱- زیره او د جوړ مغز دواړه برابر سره راواخله باریک ئې میده کړه یو لږ څه د خولی ناری ور سره ګډې کړه بیا ئې سره ومینه چه مرهم غوندی شی خندی جوړ سی بیا یو لږ څه دبزی یا غواشیدی ور سره ګډې کړه. ترګډولو ورسته دغې دواته پرستر گو سر بیره لیپ (ضماد) ورکړه یو ساعت یا دوه ساعته ورسته ئې بدله کړه او کوم علاجونه چه د لویانو دستر گو په بیا کښې تیر سوی دی هغه هم وکو چنیانو ته فایده لری که د ستر گو تر خوږیدو ورسته تر خلویښتو ورځو پورې دغه دوا په وخوړلې نو امید دی چه آینده به بالکل د ستر گو د خوږ څخه بیغمه سی. تور مرچ پنځه دانی، مصری یوه توله بادام پنځه دانی میده کړه او د غوا په دوی تولی کوچنۍ ګډې کړه او هره ورځ ئې په خوره. **د ستر گو د خوږیدو دپاره یوه بله نسخه** ۱- بریان شده سهاګه - دوی رتی ټوا واخله په پنځه تولی ګلابو یا اوبو کښې ئې ولړه او بیا ئې وچوپه او د سره ئې سائه سهار، ماښام او غرمه د بیدیدو په وخت کښې ئې په ستر گو کښې ور واچوه د دواړه ستر گو بالکل سوی او سوزش نه کوی د ستر گو د درد په اکثره قسمونو کښې فایده کوی سه کورونو کښې د تیارۍ ایښو ولو لیاقت لری باید دغه دواړه کورونو کښې تیاره پرته دی **فایده** ۱- د اخبره چه مشهوره ده چه د ستر گو د خوږیدو په دوران کښې فقط خوږ شی باید مریض ته ورکړل سی دا بالکل غلطه خبره ده بلکه خوږه غذا او شی تاوان کوی غذا نمکینه ورکوه او خورز یات پکښې اچوه لیکن نمک او مرچ به زیات نه وی- د ترو شکی، شیدو، مستو، تیلو، د غواد غوښتو او بادی شیانو څخه پرهیز وکړه لیکن که د دماغ د طاقت د پاره یو خریزه یا خلوا ورکړی نو په دغو شیانو کښې د ضرورت موافق خوږه پروا نه لری. **د ستر گو شینوالی** ۱- د کوچنی د پیدا کیدو سره سم د ستی وګوره که چیری ستر گی شفی وی نو داد واړه ستر گو پورې ورولګوه، مشک او زعفران برابر سره راواخله د راغوږه په شان ئې میده کړه د خالص مومیو سلایی جوړ کړه په دغه سلایی سره دغه دواړه هفته کښې دوه واړه ورولګوه یعنی دوه ځلی ورځ ئې ورولګوه او که چیری د موم څخه سلایی جوړ یدل ډیر مشکل او سخت وی نو پر سیخ موم شاوخوا راګرزوه. چه د موم سلایی په دغسی

طریقه سره جوړه سی او په پاته نورو ورځو کښی د غه د واد معمولی اوړو اچ
سلایی په ذریعه سره ورنګو ګه تر څلویښتو ورځو ورو سته په ستر ګو کښی سیا
او تور والی راځی که چیری رانه سی نو ئی پریږد ه په لږو ورځو کښی سیاهی او تورو
د د واد اثر د و جهی څخه پخپله راځی. **شعر الزائد او د باڼو ګانو د انی او خارش**
یو کو چنی غوندی ژوره دی پرپزه ور ونګول سی یوه تازه نیول سوی ژوره او ب
پخوا نیول سوی ژوره چه وښی هم وی باید ونګول سی چه په دی سره د هغ
د پاره امن حاصلیږی او بوه رګړا یعنی هغه د واچه په پیرومښو ولو سره تیار ب
مخکی د ستر ګو په مریضیو کښی تیره سویده چه په هغه کښی د سرسون (سرشف
تیل هم دی هغه د د ئی مریضی د پاره اکسیر ده او هغه دی تر څلویښتو ورځو پور
ونګوی. **ناړی بهیدل**۱ـ که چیری پیری وی نو جوارش مصطګی د د ره ماشو څخه ب
تر شپږو ماشو پوری ورکوه. مطلب دادی که تر خوله زیاتی او به نه تلی نو د بندید
کوشش ئی مه کوه په دی سره د کو چنی معده صفا کیږی. **قلاع یعنی په خوله کی**
د انی راختل د کو چنی د پیدا کیدو د وخت څخه خیال کوه د ا رنګه چه په شاتو ل
څه ښک ګډه د او کله کله ئی په ژبه پوری ورښه نو بیا ئی خوله نه پخیږی ـ ا
نوری د واوی د د ه د ژبی د مرضو په بیان کښی لیکل سویدی. **حلقی ژبه او**
هډی لویدل۱ـ هر وخت چه د غه پورته کوی نو ښه د ادی چه خپله ګوت
په شاتو کښی د ډبه کړی او بیا یو څه میده سوی لاهوری مالګه او نمک پرو پاشو
او بیا ئی پورته کړی. **توخ** د د ببول (ام غیلان کونډوری، کتیرا (صمغ الفتاد
مغز بهدانه (مغز حب السفرجل) د ملهټی (خوږ ولی) جوهر، ټول یوه یوه ماش
باریک میده کړه په شاتو کښی ئی د اخښه د غوږ د انی په مثل ګولی ځندی
جوړی کړه او د سره ورئی ساته او یوه ګولی په لږ څه اوبو کښی ولړه او بیا
ئی په وخوره په وړځ کښی د ری څلور واره ګولی ورکړه غوږمه ورکوه په
تورې غاړه ۱ کی کوچی او معدی څټل هم فایده لری. **د خوبه څخه راغورځیدل**
او بیریدل۱ـ وراسی کوچنیانو ته کوچی او معدی یا بادام او معدی ورکوه **شیدی**
وار وار ئی کول۱ـ شیدی څه لږ ورکوه که کوچنی فقط شیدی یا سپین مواد
ئی کړی نو د وی ماشی پوده پنه او یوه ماشه دانه الاپټی خورد یعنی د کوچنی هیل

۱ د تورې غاړې د ملاج د سینې د مریضیو په بیان کښی تیر سویدی او نورې د پیری د نسخې تیری سویدی ص ۳۵ ۱۲

دانی په او بوکښی میده کړه یوه توله شربت انار شیرین وسره ګډ کړه او بیا ئې په کوچنی وچینه اوکه چیری د بل رنګ ئی وی یعنی رنګ ئی بدل وی بیاد حکیم او طبیب څخه پوښتنه وکړه۔ **هیضه او وبا**:۔ پوره علاج ئی د حکیم څخه وکړه ۔ فقط د وندی پوره سه **چه هر** رنګه کیدای سی د مریض ته آرام ورکړه اود بیدید وکوشش ئی وکړه په دی مریضی کښی نبضونه ډوبیدل لاسونه او پښی سړیدل ډیری بدی علامی نه دی مه پریږده۔ **د معدی ضعیفه کیدل**:۔ د معدی د ضعف د وجهی څخه کله عملونه وی کله اشتها اولوږه څښیږی د دی علاج دادی چه یو بوتل د ګلابو څخه ډک کړه او یو پوره چټا نګ لونګ ورواچوه بیائی سر ور بند کړه او تر څلویښتو ورځو پورې ئی ولمر ته کښیږده او هره ورځ ئی ښورو ه تر څلویښت ورځی ورو سته دیوی ماشی څخه تر دری ماشو پورې هره ورځ په نهارۍ سره چینه دا ډیره مجربه دوا ده **بله دواچه معده قوی کوی**:۔ جوارش مصطګی د دری ماشو څخه تر شپږو ماشو پورې هره ورځ ورکوه د جوارش مصطګی نسخه په خاتمه کښی راغلی ده۔ **سوګلی**:۔ د کوچنیانو سوګلی ډیری کیږی نو جوارش مصطګی د دوی د دری ماشی ورکوه۔ **بله دوا**:۔ د کوچنی هیل څلور پنځه دانی راوا خله سونف (خوابږه ولنی) دوی ماشی میده کړه او ورسره ګډ ئی کړه بیائی په اوبو یا ګلابو کښی پاخه کړه او ئی چوپه بیا شکر سفید وسره ګډ کړه او د کاچوغی په ذریعه ئی ورکړه او یو څو ځله وایانی د هیچکی یعنی د سوګلی د معدی په مریضیو کښی تیری سویدی۔ **عملونه کیدل**:۔ که چیری د غابنو د راوتلو په وخت کښی عملونه شروع سی نو یوه توله بیلګر، شپږ ماشی تخم خرفه او دری ماشی مصطګی روبی وکوټه او ئی چوپه او مصری وسره ګډ کړه او دسره ئی ساته او د پاؤ کم دوه ماشو څخه بیا تر دری ماشو پورې ئی کوچنی ته په کفه ورکوه یا ئی په شربت انار ګډ کړه وروسته ترګډولو ئی د خورلو د پاره ورکړه او د خورک د پاره نرم پلاو یعنی هغه وربجی چه په غوړو، مساله او غوښو پخی سوی وی ورکوه او غوښی ئی مه ورکوه که کوچنی چیری شیدی روی نو شیدی ورکونکی ته ئی د غه غذا ورکړه **د عملونو بند ولو د پاره بله دوا**:۔ چه د غابنو د راوتلو په زمانه کښی ډیره ګټوره ده یوه ماشه کوکنار وکوټه په لابوکښی ئی خیشته کړه بیائی بنه مړه ومښه او بیائی وچوپه۔ سونف (خوابږه ولنی)

چه سره سوی دی او سپینه زیره چه سره سوی دی دوی دوی ماشی په د
او بوکښی میده کړه او بیائی وچوپه او بیا شکر سفید یوه توله ورسره گډه کړه ا
وکوچنی ته ئی ورکړه د چښلو د پاره **بله دوا**:- د گولر (انجیر احمق) یو خاخکی
بتاشه (پتاسه) کښی واچوه او وکوچنی ته ئی ورکړه ۱۲ (نظر ثالث)

د کوچنیانو د تدبیر دنو په اووم نمبر کښی چه کومه دوا د غاښو د آسانه شه
کیدو اوراوتلو د پاره لیکل سوی وه هغه دی استعمال کړی او که دئی د پریکولو
په وخت کښی عملونه شروع سی نو د ئی څخه ئی په کرار کرار ه پریکړه تر لسو
پنځلسو ورځو پورې ئی هره ورځ د ورکوه او د شپی دوی ماشی خشخاش ورکو
او غذا (خوراک) داسی پلاو ورکوه چه د غوایی پښی پکښی پخی سوی وی. بیکر
غوښی ئی مه ورکوه او که ئی دیو بلی وجهی څخه عملونه کیږی نو بیا د حکیم
څخه پوښتنه وکړه. **قبض**:- غذا دیره کمه او نرمه ورکوه. د ری ماشی
(ایلوا صبر) او شیږ ماشی املتاس یعنی پولوس دشنه مکو په او بوکښی یا د
گلاب په او بوکښی میده کړه او نیمگړم ئی په نس پورې ورولگوه او که په دی سره
هم قبض ختم نه سی بیا گهټی ورکړه او که په د غه سره هم ختم نه سی. نو
بیا د حکیم څخه پوښتنه وکړه **دنس درد**:- جوارش مصطگی دوی د ری
ماشی ورکړه. **بله دوا**:- نمک یوه توله میده کړه او په یوه تولې گلقند سره
ئی گډه کړه او په وئی خوره. **دنس د پاره د تاکو ردوا**:- سبوس گندم، نمک
د ب جوره تول یوه یوه توله راواخله وئی کوټه دوی غوټی او کشوړی خندی جوړی کړه
بیائی په گلابوکښی واچوه او پرا ورئی کښیږده تر د غه ورو سته د کوچنی نس په
ورتاکو ورکړه او نوری ډیری د وایانی د معدی په بیان کښی تیری سویدی. **شیدی**
ئی کول:- که چیری سپین رنگه ئی وی نو یو لونگ په گلابوکښی میده کړه ساده
سکنجبین شیږ ماشی ورسره گډ کړه او وکوچنی ته ئی ورکړه په دی شرط چه
توخ ورسره نه وی او که توخ هم ورسره وی نو سونف (خواږه ولنی) وچه نانا
(پودینه خشک) دوی دوی ماشی او کوچنی هیل د ری دانی دا تول وایفوه ولئ
چوښه وکوچنی ته ئی ورکړه او که ئی ژړ رنگه وی نو نارجیل د ریائی (کوپړه) دوی
رتی په دوی تولی گلابوکښی وښنه او یوه توله سکنجبین ورسره گډ کړه په کوچنی
ږد چښنه. **تنبیه** د هیضی او د با علاج د معدی په مریضو کښی تیر سوی دی.

پیچش:- په نیم پوخته سونف (خوږو ولنو) کښی د دوی په قند سره شکره گډ ول
ولی ورکونکی ښځی اوکوچنی ته دغه دواورکول بی حده ډیره فایده لری که پیچش
تر ډیرو ورځو پوری جاری وی یا په بلغمو کښی ډیره وینه راځی نو څرنګه ترې
د حکیم څخه پوښتنه وکړه او علاج ئی وکړه اوکه د پیچش سره سره پرلاسو،
پښو باندی پارسوب وی او پوخ او تبه هم وی نو دغه دوا ورکړه۔ مکو خشک
ملهٹی (خوږه ولی) تخم کاسنی، د خټکی تخم، گل گاوزبان، مرور پلی (گشت برگشت)
او ریشهٔ خطمی ټول دوی دوی ماشی راواخله په اوبو کښی ئی خیشته کړه او ولی چونه
بیا یوه توله شربت بزوری باردو رسره گډ کړه اووکوچنی ته ئی ورکړه۔ **دوا**:-
چه د خراب سوی پیچ، پوخ، تبی، پارسوب، ضعف او غفلت د پاره فایده
لری د دواء المسک معتدل دوی ماشی اول ورکړه بیا بیلگری، تخم کاسنی، ملهٹی
(خوږ ولی) گوکهرو، د خټکی تخم، د چمبر خیال او بادرنگ هر یو ټول دوی دوی
ماشی میده کړه شربت بزوری باردیوه توله ورسره گډ کړه وکوچنی ته
ئی ورکړه۔ **چنوڼی**:- یعنی کوچنی او واړه چینجیان چه د غټو بولو په ځای
کښی پیدا کیږی د دی یوه دوا د کولمو د مریضیو په بیان کښی لیکل سویده اوډا
دوا د خوړلو ده یوه یوه توله بیخ سوسن او هلدی (کورکومن) وکوټه اوبیا
ئی وچونه دوی توله قند سفید ورسره گډ کړه اودرسره ولی ساته اوددو
ماشو څخه بیا تر شپږو ماشو پورې ئی هره ورځ وکوچنی ته دا وبوسره دکپی
په شکل کی ورکوه ناریل یعنی کوپره او مصری ورکوه۔ **اودادوا دننه په**
مقعده کښی دایښودلو ده:- موم ویلی کړه او میده سوی نکرځی ورسره گډی
کړه او بیا د غو مومو څخه د کوچنی د څلورو گوتو په اندازه پلیته جوړ کړه د غټو
بولو په ځای کښی ئی ورکښیږده لږ وخت ورو سته کړاړ کړاړ دغه پلیته راکش
کړه چینجیان پرد غه پلیته راجمعه کیږی د بادی شیانو څخه وکوچنی اوتی ورکونکی
ښځی ته پرهیز ورکړه **خروج مقعد یعنی کولمه راوتل**:- د زاړه غلبیل
چمړه او پوست وسوځه او پرد غه ئی وپاشه او بیا ئی په لاس سره دننه خواته
ورکښیکاږه۔ ناسپال (پوست میوه انار) اود شهتوت پانی اود کاغذ ایری، سفید
پهٹکری (سپینه خوری) او مازو ټول شپږ شپږ ماشی په یوکټوره کښی واچوه
او په لښتی سیره اوبو کښی ئی پاخه کړه هر وخت چه بنه پاخه سی کټوره داوبو

څخه راوباسه او په دغه نیمګړمه اوبوکښی کوچنی دارنګه کښینوه چه اوبه
د نامه ته راورسیږی هر وخت چه اوبه یخی سی نو کوچنی داوبو څخه
وباسه او چه کوچنی غټ سی نو بیا دغه مرض خپله هم ځی **په خوب کښه**
بولی کیدل ۱ـ یو یاد وه وارونه ئی په شپه کښی راپورته کوه او بولی په کوه او
خورلو دوائی د مثانی د کمزوری په بیان کښی تیره سویده **چنک** ۱ـ (سونزک
یعنی بولی په څاڅکی څاڅکی او سونزش سره راوتل د بهروزه (قنه) تیل یو څاڅکی
پر بتاشه (پتاسه) واچوه په کوچنی ئی وخورئ د دی روغنو جوړولو طریقه
په خاتمه کښی . یعنی د بهروزه د تیلو د جوړولو طریقه په خاتمکی په صـ۱۳۳ کښه
راځی. اود تیسو د ګلانو ګرځی گرځی او به پرتوی کړه اوکه په دی سره
دغه سونزک بنه نه سی نو بیا د طبیب څخه علاج وکړه **تبه** ۱ـ د دی پورې
علاج د طبیب څخه کول په کار دی فقط موږ یو څو مهمی اود کار خبری
لیکو یو دا که کوچنی ته روی نو د ټ ورکونکی بنځئ د پاره د واخورل او پرهیز
ورکول د ضروری دی د دوهم داچه بنکر ګول پاشویه ورکول اود غفلت او
بی هوښی په وخت کښی پرمړ د واورا ینبوول لکه چه دغه تدبیرونه
د لویانو د پاره دی د کوچنیانو د پاره هم دی د دې ټولو تدبیرو ذکر د
تبې په بیان کښی تیر سویدی. دریم داچه اکثره کوچنیانو ته د نسرد
خرابتیاد وجهی څخه تبه پیښیږی که د غسی وی نو د قبض علاج ئی وکړه
چه د قبض بیان مخکښی تیر سویدی. **چیچک** ۱ـ (کوئ) د دی مرض مکمل
علاج کول د طبیب څخه په کار دی دلته یو څو ضروری خبری لیکل کیږی.
(۱) لکه څرنګه چه د نورو مریضیو علاج سته داغه رنګه د چیچک (کوئ)
علاج هم سته دا فکر کول غلط دی چه په دی مرض کښی علاج اود واکول په
کار نه دی
(۲) د دغه مرض د هویض په مخکښی څراغ مه وژنه څراغ د دی د مخ څخه
لیری یوسه بیائی مړکړه ځکه چه د څراغ بوی تاوان ورته رسوی داغه رنګه
غوښی اوداسی نور شیان د وتدی لیری ځندی پاخه کړه چه د دوی د

۱ـ د کوی د علاج قاعده کلیه په یوولسم نمبر کښی لیکل سویده نیچه یر صـ۱۱۸ پاندی
ئی وګورئ ۱۲

نو بن خوشبوئي د ده تر پزي پورې وڅ سيږي چه په دې سره هم نقصان ور سيږي
په دهوبي (کالي پرې منځونکي) چه کالي پريولي او بيا دغه کالي واغوندي نو تراغوستلو
ورسته متصل او دستي ودغه مريض ته مه راځه د دغو کالو خوشبوئي
هم تاوان ورسوي او دغه مريض دګرلي او يخي هوا څخه ګوره.

(۳) چيچک (کوی) اکثره وخت د يخ په موسم کښې بښکاره کيږي په دغو
درځو کښې احتياط ګاډ دغه دواړو کوه يوه رتې يا دوې رتې سپچي موتي په عرق
بيد مشک او عرق کيوړه کې په اوکلي (آونګ) کښې بنه ومښه او د سره ولې
ساته په يوه ورځه قدر خميره ګاونړبان يا شربت عناب کښې ئې ګډ کړه
هره ورځ ئې وکو چنې ته ورکوه او په هره هفته کښې دوې درځې ورکول کافي
دي د چيچک (کوی) په موسم کښې بلکه د پټلو و باؤ په موسم کښې په اوبو کښې
کيوړه اچول او بيا چښل ډيره ښه فايده لري مګر د نزلې په حال کښې ئې استعمال
په کار نه دي داغه رنګه د اسپې شيدې کې يو واړه ياد وه واړه په دغه موسم
کښې که چيرې په وچښل سې نو په دغه کال کښې چيچک (کوی) نه ورپيښيږي
او په دغه موسم کښې دې لويان او کوچنيان پټول دګرمو غذاووڅخه پرهيز
وکړي لکه بانجن، تيل، د غوا غوښې، خورما، اينځر، شهد، انګور او داسې
خورې او په يخو او بو دې لمبيږي.

(۴) د دغه مرض او دانو د راوتلو چه شروع او ابتدا وي نو په دغه وخت کښې
يخي او به په غوړپ غوړپ په چښل او صندل او کافور سوپنول ډير مفيد
دي په دې سره د مرض پټوله ماده د باندې راوزي.

(۵) د نازکو اندامو او اعضاؤ په داسې طريقه ضرور حفاظت وکړه چه راڅه
د ګلابو سره ګډ کړه او په ستړګو کښې ئې ور څاڅکې کړه او که ستړګې بندې وي نو
دغه دواړه بيره پرو لګوه رسوت (حفض) ايلوا (صبر) ګل نيلوفر، اقاقيا (دام غيلان
کنډوري) پټول درې نيمې درې نيمې ماشې اونرغفران دوې رتې دغه پټول شيان
باريک ميده کړه د شنې د هنيا (ګشنيز) په اوبو کښې ئې واخښه او تر اخښلو پس
ګولۍ ځندې جوړې کړه او بيا دغه ګولۍ په ګلابو کښې ومښه او پر ستړګو ئې ورو
لګوه او که چيرې ستړګې وي د باندې خوانه راوتلې وي نو د ستړګو په قدر او

اندازه تهیلی او کڅوني جوړی کړه او هره کڅوړه د درو ماشو رنجو څخه ډکه کړه او بیا اول وار په ستر گو کښی د غه اوله دوا د څڅوړه یا په د غی دوهمی دوا سره ستر گی ککړی کړه او سر بیره د غه کڅوړه پر وتړه چه د درونه والی د سبب څخه ستر گی راپورته نه سی په د غو طریقو سره د ستر گو حفاظت کیږی او شربت شاه توت ورکوه او انار سره د خپل مغزه په ژویه اوپه خوړه ئی په دی سره ستونی ساتلی پاته کیږی د د غه مرض د تاثیر څخه او بیا مغرد تخم کدو څلور ماشی، د بادام مغز چه د مغز څخه ئی نری خور (پوست) لیری سوی وی، گوند کتیرا دوی دوی ماشی او قند سفید شپږ ماشی باریک میده کړه او په لعاب اسپغول ئی گډ کړه لږ لږ ورکوه چه څټی ئی په دی سره د سینی او سږو حفاظت بر قرار ه پاته کیږی او براده صندل سرخ، گل ارمنی (طین ارمنی) گل نیلوفلر، او گل سرخ، ټول دری دری ماشی په گلابو کښی میده کړه او پر هر هر بند ئی ورو لگوه په دی سره د بند و نو حفاظت بر قرار ه پاته کیږی لاسونه او پښی نه کیږی او د غه قرص او گولی د مرض د شروع څخه بیاد مرض تر کمبوتید و پوری ورکوه - گل سرخ، تخم حماض یعنی د چوکی تخم دری نیمی دری نیمی ماشی، د ببول (ام غیلان) کنډوری، نشاسته طباشیر (بنسلوچن) اوکتیرا (صمغ الفتاد) اووه او وه ماشی وکوټه او وئی چوڼه په لعاب اسپغول ئی گډ کړه او تر گډولو وروسته څلور نیمی څلور نیمی ماشی گولی څندی جوړی کړه یوه یا نیمه گولی هره ورځ ورکوه په دی سره د کولمو د زخم څخه حفاظت راځی او د پیچش مریضی نه ورپیښیږی خصوصاً د مرض د کمبوت په وخت کښی د غه گولی ضرور ورکوه.

(۶) د چیچک (کوی) څخه د بنه کیدو وروسته یو څو ورځی شربت عناب او د منډی (کماد یورس) عرق ورکړه په دی سره د بدن د ننه گرمی وزی په بدن کښی نه پاته کیږی.



(۷) که تر چیچک (کوی) ورو سته پیچش یا تپوخ وی نو د غدو او ورکړه د وی دری دانی عناب په او بو کښی میده کړه او وئ چوپه او یوه نیمه ماشه بهدانه یعنی حب سفرجل په او بو کښی خیشت کړه او د دی لعاب او سر یښناکه او به را واخله د عناب په چوپل سره او بو ئ گډی کړه او بیا یوه توله شربت نیلوفر ورسره گډ کړه او بیا ئ په کوچنی د چیښه.

(۸) که ئ د دغه مرض څخه تر بنه کیدو ورو سته پر بدن داغونه وی نو پوره یو چټانگ مردار سنگ او پوره یو چټانگ نمک سانبهر (نمک آب گیر) سره میده کړه او په دوندی او یو کښی ئ و اچوه چه او به څلور گونی پرزیاتی اولوپری وی او تر یوی هفتی پوری ئ و لمر ته کښیږده او هره ورځ ئ دری واړه سره بنورده او په هفته کښی او به ور بدلوه تر څلویښتو ورځو پس او به خندی لیری کړه او وچ ئ کړه. د نخود واوړه، د نرکل بیخ، ز و ر هډوکی، قسط تلخ، د ورجواوړه، د ختکی د تخم مغز او د بکائین تخم تپوله شیان د مردار سنگ په قدر را واخله وئ کوټه وئ چوپه او د سره وئ ساته بیا د غه د والږ څه را واخله د میتهی یعنی ملخوڼی په لعاب ئ گډه کړه او په بدن پوری ئ ور ولگوه او تر یوه ساعت ورو سته ئ ور پریوله یوه یا د وی ماشی د غسی ورکړه.

(۹) یو قسم چیچک (کوی) هغه دی چه و د ه ته موتیا چیچک (موتیاکوی) وائی او کهنتهی هم ورته وائی کله فقط پر غاړه راخیژی کله پر تول بدن راخیژی د د ه دانی د مرغلرو په شان وړی وړی او سپینی وی دا خبره چه مشهوره ده چه د دی علاج کول په کار نه دی دا خالص غلطه خبره ده لیکن د دی مرض د کښینولو علاج دی نه کوی بلکه داسی علاج دی وکړی چه د غه مرض د باندی را وزی پر بدن بنکاره سی د دغه قسم چیچک (کوی) علاج هم هغه دی کوم چه د مخکنی قسم چیچک (کوی) علاج وو.

(۱۰) او یو قسم هغه دی چه د د ه دانی روڼی وی د لمر په شان وی چه و د ه ته خسره یعنی شری وائی په د غه مرض کښی تر کمبو تیدو ورو سته بی غمه مه اوسه شربت عناب، یا شربت نیلوفر، یا د منډی (کمادیورس) عرق خانخا اوظ ورو ورکوه او هغه قرص چه په هغه کښی طباشیر (بنسلوچن) او په پنځم

نمبر کښی لیکل سوی وه هغه قرص او گولی ورکوه.

(۱۱) د چیچک (کوی) د تمام قسمونو د علاج قانون او قاعده داده چه د کښینو لو کوشش ئی هیڅکله مه کوه ځکه چه په کښینولو کښی د هلاکت بیره او خوف دی بلکه دا کوشش وکړه چه پتوله ماده د چیچک (کوی) د دننه بدن څخه دباندی راوړی نو د هغه وخت چه پرکمبوت سی نو د گرمی لیږی کید و کوشش وکړه **دوا چه د چیچک (کوی) ماده دباندی راوباسی** ۱ یوه ورقه د سدوزړو اوشپږ ماشی شهد سره گډ کړه او بیائی په مریض وخورکه او سر بیره ولایتی اینځر یوه دانه، مویز منقیٰ نه دانی، زعفران یوه ماشه او مصری دوی تولی جوش کړه او بیائی وچوپړه ترچو پلو وروسته ئی په وچینه اوکه چیری تبه زیاته وی نو د زعفران پر ځای پنځه ماشی خوب کلان (خاکشیر) درواچوه اوکه تبه بیخی پیره زیاته وه نو د چمبر خیال او بادرنگ تخم هم شپږ شپږ ماشی نورو زیات کړه. د دی پتولو د وایانو وزن د لویانو د پاره دی د کوچنیانو د پاره ئی نیمی یا درېمه یا څلرمه حصه کړه.

فایده ۱ د چیچک (کوی) د مریض پر بستره خوب کلان (خاکشیر) غوړه وه او بزده او هره ورځ ئی بدلوه.

فایده ۱ د چیچک (کوی) په پتولو قسمونو کښی تر پتولو زیات گرم حسره یعنی شری دی. مگر ژر ختمیږی د مرگ خطره په ده کښی لږ وی او په لوی چیچک (کوی) کښی گرمی تر حسوه یعنی شری کمه وی مگر په دیر وخت سره ختمیږی او د بی احتیاطی په سبب د مرگ خطره هم ورسره ترلی ده او په موتی جهره چیچک (موتی جهره کوی) کښی چه شروع سی نو گرمی کمه وی مگر وروسته گرمی دیر پیدا کیږی تر پتولو زیاته تکلیفی او په دیر وخت تلونکی مریضی ده. او تر دوه (۲۲) ویشت ورځی په کمه هیڅکله نه ختمیږی.

د دی مریضی په علاج کښی د دیر غور او فکر ضرورت دی و حکیم ته رجوع کول په کار ده کوم تدبیر و نه چه د لته لیکل سوی دی د چیچک (کوی) په هیڅ قسم کښی تاوان نه ځندی پیښیږی په موتی جهره چیچک (موتی جهره کوی) کښی تکلیف نه دیر وی مگر د مرگ خطره پکښی لږ ده

دانی زخمونه اوداسی نور

کله کله کوچنیان د نیم په اوبو لمبوله د غنه رنگه کچنال یعنی د کچناری پوست په اوبو کښی ایشول او بیا کوچنی پکښی لمبول هم مفید دی او د هغو دانو د پاره چه د باران د اثر څخه پیدا سوی وی د آدم د مند کی مغز په اوبو کښی میده کړه او هره ورځ ئی لگوه د کوچنی پر بدن باندی. او د غنه دوا د هر قسم دانو د پاره فایده کوی یوه توله عناب د غوا په څلور تولی غوړو کښی وسوځه او بنه ئی سره و مبنه چه ټول په غوړو کښی حل سی او یو ذات څندی جوړ سی بیا د وی ماشی پریول سوی توتیا (نیل توتیا) ور سره گډه کړه او د سره و ئی سا ته او پردا نو ئی لگوه په د ی سره دانی او زخمونه ژر بنه کیږی او بیا د انو را وتل بندیږی او مچان نه پرکښینی او توتیا (نیل توتیا) دا رنگه پریول کیږی چه دا باریکه میده کړه او په اوبو کښی ئی واچوه هر دخت چه دا و بو پای ته ولاړه سی نو او به بدلی کړه د غنه رنگه د ری څلور واړه وکړه او بیا د غنه توتیا (نیل توتیا) و چه کړه او کار څندی

واخله گنج (یعنی چه پرسرئی وریښتان نه وی) د ری د ری ماشی کمیله (گمبیله) مردار سنگ، مازو، دانار پوستونه او هلدی (کور کومن) وکوټه او ئی چونه د وی تولی زرد موم په څلور تولی روغن گل کښی ویلی کړه او په د غنه کښی ټولی دوا یانی گډی کړه او بنه ئی سره و مبنه په آونگ کښی ئی بنه سره ولړه چه مرهم غوندی څندی جوړ سی بیا یوه توله خالص سرکه و ر سره گډه کړه او بیا ئی بنه سره و مبنه او بنه ئی سره ولړه او پرسر ئی و ر ولگوه.

بله دوا چه د یره اړ ژانته تمامیږی د وی تولی د نخود و اوړه او د ری ماشی توتیا (نیل توتیا) بنه سره میده کړه ترمیدید و و روسته ئی پر تروو مستو واچوه او تر د یره پوری ئی ولړه چه مرهم غوندی شی څندی جوړ سی بیا ئی د کوچنی په سر پوری و ر و مبنه او تر یوه ساعت و روسته ئی د نیم د د رختی د پانو په اوبو سره پریوله اکثره وخت په یوه هفته کښی بنه کیږی.

داد یعنی مرسپوی:- پردی مریضی د نهاری خولی نارې لگول د یره فایده لری که په دی سره ختم نه سی نو مخکی چه د داد (مرسپوی) د پاره کومی د وایانی

لیکل سویدی هغه استعمال کړه۔ (سوځیدل) اچه کوم مخکی بیان دسوځیدلو دلویانو دپاره راغلی وو په هغه کښی وګړه یعنی دکوچنیانو او لویانو دسوځل کیدو دوایانی یوشی او برابری دی۔

طاعون

دطاعون په موسم کښی ددی خبرو خیال ساتنه۔

① کور او خونه بنه پاک ساته نمناکه او نوټه نه باید نه وی په هفته کښی یو واړ یاد وه واړه په هره خونه اوکوټه کښی د غنه شیان دود وه د جهاد (طرفاء) پانی برابره خبره ده که لنډی وی که دچی وی او د نیم (نیب) پانی دواړی نیم نیم سیر، درونج عقربی او گوگل دوی دوی تولی، ټول پراور واچوه نو بیادروازی اوکړکیانی بندی کړه ددی دپاره چه خونه بنه ددود څخه ډکه سی او بیادروازی اوکړکیانی خلاصی کړه او خونه صافه کړه په مکان اوخونه کښی په د غنه موسم کښی گلاب یا سرکه یو څه څه پاشه داغنه رنگه گندک دودول یا هینگ یعنی هینجه په گلابو کښی گډول او لړل او بیا په مکان اوخونه کښی پاشل فایده لری په دروځلو رودا سی لوښو کښی چه خولی ئی ایله او خلاصی وی سرکه او ریزه سوی پیاز واچوه هغه مکان اوځای چه د بیدیدو دپاره مقرر وی د هغه مکان په څلور طرفه کښی ئی راوګرځوه۔

② او به ډیری صافی چیښه یلکه پخی او ایشیدلی او به بنی دی۔ کیوړه (کدو) در اچول بیاد او بو چیښل بی حده ډیره فایده لری او که طبیعت او مزاج ډیرخنک وی نو بیا په او بو کښی لږ څه سرکه اچول در وسته تردغه او به چیښل ډیره فایده لری او دا تجربه سویده او او به بنی یعنی چیښه۔

③ سرکه پیاز او لیمبو ډیر خوړه او دا شیان ډیر لږ خوړه۔ ډیر غوړ غوښی متهایی او خوږی، ماهی، شیدی، مستی، شنه ترکاری، میوی لکه انګور بادرنګ، چمبر خیال، هندوانه، خټکی او داسی نور۔

④ ځان ډیر مه ویږی کوه کوشش کوه چه لږ څه قبض هم در پیښ نه سی لږ څه لس درونده درته معلوم سی نو څرتر څرره غذا کمه کړه۔ گلقند

او داسی بل شی و خوړه.

(۵) په ډیر وګرمو اوبو مه لمبیږه کله کولای سی نو په یخو اوبو لمبیږه او که په یخو اوبو نسی لمبیدلای نو بیا تاړه او به هم صحیح دی.

(۶) خاوند او خپله بنځه دی کم بیدیدل او ناسته سړه کوی.

(۷) د خوشبویی او عطرو ډیر استعمال کوه خصوصًا د ګلاب او د خس عطر په کور کښی د خوشبوداړه ګلانو درختی و لګوه لکه بیلا، چنبیلی او ګلاب. کافور د کور په کونجانو کښی واچوه او پر بارو ئی و تړه.

(۸) د کونجتی تیل مه لګوه او مه ئی سوځه او مه ئی خوړه.

(۹) د غه دوایانی د ځان او د کوچنیانو د پاړه استعمالوه **دوا:** هغه ګولی چه د لویانو د تبی په بیان کښی لیکل سویدی چه په هغه کښی زهرمهره خطائی (حجرالسم) د ه یا خو د غه ذکر سوی ګولی وړ کوه **دوهمه دوا:** سپچی موتی یوه نیمه ماشه، زهرمهره خطائی (حجرالسم) شیږماشی، صندل سفید درې ماشی، جدوار یعنی نرښی پاؤ بالایوه ماشه، خالص مشک او کافور یوه یوه رتی او ورق نقره یعنی د سپینو زرو پانې یوه رتی د رانجو په شان میده کړه بیا ئی په لعاب اسپغول ګډ کړه د نخود په اندازه ګولی ځندی جوړی کړه یوه یوه ګولی سهار او ماښام مریض ته ورکوه. **دریمه دوا** زعفرانی ګولی چه ډیری برکتناکه اوښی ګولی دی: د نیم (نیب) شنی پانې یا شین ګل، چرائته (قصب الزریره) او شاه ترې د درې مړه هموزنه راوا خله جلا جلا ئی ماښام په اوبو کښی خیشته کړه سهار د چرائتی (قصب الزریری) او شاهترې زلال یعنی خالص اوصافی او به راوا خله د نیم پانې او ګلان په د غه اوبو کښی میده کړه بیا ئی په هغه زلال ګډ کړه او پر اوړی ئی کښیږه د ه بنه ئی مړه کړه هروخت چه ئی بالکل رطوبت ختم سی نود وا و تله هرځوندی تولی چه سی په هره توله کښی خلور رتی یعنی نیمه ماشه زعفران ګډ کړه او د درو د درو ماشو ګولی ځندی جوړی کړه تر درد ورځو پورې لږ څه شکره په ګډوه کړه یوه ګولی هره ورځ خوړه د طاعون څخه به انشاء الله تعالی و ساتل سی. **غذا** د طاعون د مریض د پاړه تر ټولو بنه غذا آش جو یعنی داوړ بشو اوبه دی په دی اوبو کښی لږ څه د لیمبو عرق او د کیوړې (کدړ) عرق هم ګډ کړه کچیری

یعنی پیدا کیدی نو یه یعنی مړه ئی یعنی کړه او نور هم د غسی خنک شیان د طاعون مریض ته ورکول په کار دی. **څلورمه د واچه د پیړه زیاته ګټوره ده**:- هروخت چه څوک به طاعون سره مبتلا سی او دده تبه هم وی نو دی دغه د وا استعمال کړی د اجوائن (سپیرکه) ست یعنی جوهر شپږ ماشی، کافور یوه تولـه، د پودینی (نانا) ست یعنی جوهر پودینه یوه ماشه دغه درې سره ګډ کړه په یو سیښه کی ئی کښیږ. ده دا ترګډیدو وروسته متصل او سمدستی د نزم عرق په شان ګرزی هروخت چه ضرورت وی نو درې بتاشی (پتاسی) را واخله په هره بتاشه (پتاسه) کښی د دغه عرق درې درې څاڅکی واچوه تر اتو اتو ساعتونو وروسته یوه یوه پتاسه د مریض ته ورکوه او شیدی په بنه کثرت سره ورکوه که څه هم مریض انکار کوی مګر بیا هم شیدی ورکوه تر څو چه تبه بالکل ختم سوی نه وی او دکم عمر کـه د پاره پر هره پتاسه دوه دوه څاڅکی او د پیر واړه کوچنی د پاره یو یو څاڅکی کافی دی او که چیری مرغړی او دانی هم بسکاره سی نو شهد او شکر سفید د واړه هموار نه سره را واخله په دوی کښی یوه ماشه جدوار میده کړه او بنه ئی سره ولړه بیا مرغړی او دانی په ګډ کړه او سر بیړه د ورجوا شیدو پوندکی ګرځی ګرځی پروتړه او پوندکی ګرځی ګرځی بدلوه. **د طاعون بل علاج**:- هروخت چه د طاعون د مریض مرغړی او دانی را پورته سی نود خوړلو یا چښلو یوه ګرمه دوائی بالکل مه ورکوه بلکه د زړه د طاقت ورکولو د هوښ او حواس پرځای پاته کیدلو د مرغړو او دانو څخه د خرابو مواد و د خارجولو ته بیرونه ئی وکړه د دانو او مرغړو د کښینولو او وچولو ته بیرئی هیڅکله مه کوه مریض په خنک ځای کښی ورونه صندل او کافور په او بو کښی د ګلابو و مښه تر مښلو وروسته ټوکر په خیشت کړه پرزړه او د ماغ ئی ورکښیږ. ده په تبه کښی چه کوم تدبیرونه کیږی لکه پاشویه کول په لاسو او پښو کښی بنکر ګول. لخلخه یعنی دیو ترشی او لانده شی ورهولنډ هغه ټول تدبیرونه دلته هم وکړه او د دی ټولو بیان د تبی په بحث کښی ګیر سویدی او کوشش کوه چه د دانو او مرغړیو ته د طاعون یخ و نه رسیږی هروخت چه دیخ بیړه وی نو نوره را بونه په او بو کښی پخه کړه بیا دغه او به ګرځی ګرځی پر مرغړیو ورواچوه عزیزه چه د مرغړ

دخارجید لو تد بیرونه کوه۔ ژوره لگول هم بنه تد بیر دی۔ کم ازکم دوولس تازه
او دوولس نا تازه ژوری لگول په کار دی۔ او بو خوگتور تد بیرونه دادی۔
پهایه:۔ یعنی دپنبه پتی چه ډیره مجربه ده۔ سنکهیا سفید (اسم الفار سفید)
او تریاق یوه یوه تولهمیده کړه دهوبزی په او بوکښی ئ بنه سره گډ کړه شپږ
دپنبه پاڼی یعنی پتی حنډی جوړی کړه یوه پتی پرمرغو او دانو کښیږده او
پردغه سر بیره سور کړی پیاز وتړه هر وخت چه پیاز سوړ سی نو بیائ بدل کړه
او دوه دوه ساعته وروسته پتی یعنی پوندکی بدلوه په دی کار سره په
یوه ورځ کښی دننه دمرغو مواد دباندی راوزی مرغی پخیږی
یاخو خپله ماتیږی یا دسوری کولو او چولو قابل گرزی یا دپوندکی دسببه څخه
ماتیږی او بهول مواد ئ دباندی راوزی بهیږی **دچنبلو دوا**:۔ اووه دانی
آلو بخارا په اوبوکښی خیښتی کړه بیا دوی زلال یعنی لوړی صافی اوبه را واخله
او په دغو اوبوکښی پنځه پنځه ماشی زرشک او تخم خرفه میده کړه او بیا
ئ دچونه او بیا دری ماشی صندل سفید، یوه ماشه جدوار یعنی زرښی
زهرمهره (حجرالسم) دریائ نارجیل (کوپره) او کافور را واخله بهول په عرق
بید مشک کښی سره ومښنه میده ئ کړه او بیا ئ ددی چونل سوی دوا سره گډ
کړه او دوی تولی شربت انار ورسره گډ کړه او بیائ مریض ته ورکړه **دچنبلو**
دوهمه دوا:۔ یوه یوه ماشه زهرمهره خطائ (حجرالسم) او نارجیل دریائ
(کوپره) او څلور رتی کافور په شپږ تولو گلابوکښی دمښنه بیا دوی تولی شربت
انار ورسره گډ کړه ومریض ته ئ ورکړه **دچنبلو دریمه دوا**:۔ داعمل کوونکی
او خنکه دوا ده او ډیره فائده منه دوا ده شپږ شپږ ماشی توره هریره، جدوار
او سنامکی چه په غوړو غوړه سوی وی او یوه توله گل سرخ دشپی په گرمو
اوبوکښی خیښته کړه سهار دوی تولی گلقند افتابی، څلور تولی شکر سرخ په دغه
گډ کړه او بیائ وچونه څلور تولی شربت ورد او دنوه دانو خوږ وبادامو شیره
ورسره گډ کړه او بیائ بنه ساره کړه ومریض ته ئ ورکړه او تر هر وار
عمل کولو وروسته بنی یخی اوبه ورکړه برابره خبره ده که هغه یخی سوی
اوبه ورکوی چه په شپه کښی یخی سویوی او یا دیخی اوبه وی یوه یوه ورځ
په مابین کښی پریږده دری وار ده دغه عملی دوا ورکړه دناغی په ورځ پنځه

ماشی تخم ریحان ورکړه اودوی توله شربت بنفشه په اوبوکړه ورکړه مریض ته
ئی ورکړه **دطاعون دپاره یو فائده مند علاج** ما دا تجربه ده صحیح ثابته
شوید ه مریض ته ترانتو ورځو پوری دشیدو څخه ماسیوی دخوږلواو چنلود
پاره بل هیڅ شی مه ورکوه هر وخت چه وبه ی یا تبه سی فقط شیدی ورکوه
اوکه دغه شیدی په یخی سره یعنی سی نو ډیر ښه دی برابره خبره ده که دبزی
شیدی وی یاد غواشیدی وی ـ میتها تیلیه د اکاس بیل (اکثوث) په اوبوکښی
میده کړه اودغه دطاعون مرغی په ککړکړه اوسر بیره دنیم دد رختی پانی
په یو ټوکر کښی وپیچه تردغه وروسته ئی پر اوړکړه وه ترکړه ولوورو سته
ئی د طاعون پر مرغړو وټړه ـ

متفرق ضروریات او مهمي خبري

تردیرې وخته پوری دغوښو ساتلو ترتیب ۱ـ دکاغذی لیمبو په عرق کښی زړه
گوړه ولړه اوبیادغه عرق دغوښو په هرطرف اوهرځای پوری ښه ومښه بیاشوړه
قلمی باریکه میده کړه اوپروئی پاشه اوښه ئی پوری ومښه وروسته تردغه نمک
لاهوری یانمک سانبهر (نمک اب گیر) میده کړه اوپروئی پاشه اوترپاشلوروسته
ئی ښه پوری ومښه بیادغه غوښی وچی کړه په داسی طریقه سره غوښی تردیرو
میاشتو پوری ثابته پاته کیږی اونه خرابیږی. **دهګی دساتلو طریقه او**
ترتیب ۱ـ هګی پریوله بیائی په تیلو یاداهاکو په اوبوکی واچوه نو بیاتردیرې وخته
اوزمانی پوری نه خرابیږی. **دغوښی دویلولو طریقه** ۱ـ اینځر، سهاګه
نوشادر اوکچری میده کړه اودسره وئی ساته اوبیاددغو میده سووشیانو
څخه لږ څه راواخله په مستو یادهګی په سپین ئی ګډ کړه اوغوښی وچی
کړه تروچید وورو سته ئی په دیګ کښی واچوه او ترانتو دقیقو پوری ددیګ
سر پټ کړه اونرم اورتر لاندی بل کړه نوغوښی به ویلی سی یعنی حلوا به څندی
دهډوکو دویلولواو پخولوطریقه ماهی یوسیر، ادرک (اوم شونډ)

۱ـ اکاس بیل یوڅړه قسم نبات دی چه پر درخته سر بیره غوړیږی او د درختی پر هرځای چه و
غوړیږی صفه وچیږی ۱۲

نیم پاؤ ، شلو مبی نیم سیر که چیری تروی وی اوکه چیری تروی نه وی نو بیا پوره یو سیر ، د ماهی څخه پوستوکی اود لس شیان وغورزوه او پاته ماهی پټې پټې کړه د غه د ماهی پټې په پتوس یا بل د غسی لوښی کښی هواری کړه دا رنګه د غه پټې هواری کړه او کښیږ. د ۵ چه د د غو پټو په مابین کښی یو څه خالی ځای پاته سی په د غه خالی ځای کښی یو څه اوږ کښیږ. د ۵ او لږ څه موم پرد غه اوږ واچوه او د پتوس یا بل د غسی شی خوله په یو بل لوښی سره بند ۵ کړه د پاره د دی چه د موم دود د ماهی وپټو پټو او ټکروته وږ وږ سیږ ی او د پنځو د قیقو وروسته د غه بل لوښی څنډی لیږی کړه په دی سره په ماهی کښی بالکل بوی نه پاته کیږ ی بیا د ماهی مصالحه یعنی مساله په تیلو یا غورڅ کښی سره کړه او د غه د ماهی پټې په دیګ کښی واچوه . او ادرک (اوم شونډ) باریک وتراشه په شلمبو ئی ګډ کړه او به هم په مناسبه اندازه سره وږ سره ګډ ی کړه او بیائی په دیګ کښی واچوه خوله ئی په اوړو وږ بند ۵ کړه او تر د غه دیګ لاندی سپک اوږ بل کړه نو د ماهی اغزیان او هډوکی ویلیږ ی اوکه ماهی په تیلو کښی پخوی نو د تیلو د صفا کولو طریقه دا د ۵ چه د سرسون تیل یعنی سرشف تیل پراوږ کښیږ. د ۵ د لوښی سر په خپل سر پوښ پټ کړه بیا د سر پوښ یو ۵ څنډه لږ څه پورته کړه د مستو او به یعنی چه مستی مانی سی هغه او به وږ واچوه او د ستی د سر پوښ څنډه کښته کړه ځکه چه تیل اوږ وانه خلی یو لږ ګړی وروسته بیا د مستو یو څه او به وږ واچوه د غه رنګه په دری وارې سره بالکل صفا کیږ ی او بوی ئی مطلقًا نه پاته کیږ ی که د ماهی اغزی او هډوکی په حلق کښی بند سی نو د د غه علاج د حلق او ستونی په مریضو کښی لیکل سوی دی . **د اسی طریقه چه شیدی او او به سره جلا سی** :- اول شیدو ته جوش ورکړه بیا د یوی هګی ژیړ او سپین جلا جلا په لږ څه اوبو یا شیدو کښی ولړه او بیائی په د غو شیدو کښی واچوه نو شیدی د ستی سره پریکیږ ی او به ئی څنډی جلا کیږ ی شیدی خټه پاته کیږ ی اوکه چیری ژیړ د غسی نه سوی نو بیائی په کاچوغه لږ ولړه . **د اوبو او خوراک د ګرم پاته کولو طریقه** :- صندوق یا بوری د ډوی پنبه څخه ډک کړه نو بیا د ګړی غذا یا اوبو د لوښی سر بنه پټ کړه او بیائی په د غه پنبه کښی د ننه کښیږ. د ۵ په د اسی طریقه سره چه د غه لوښی په زور او طاقت سره و د غه

پښه ته د ښه ډډه ولی د صندوق یا بورۍ خوله ښه ټینګه وټړه بیا نو چه هر وخت صندوق یا بورۍ خلاصه کړی د غه غذا یا اوبه به ګرمی وی او که نوی پښه نه وی نو ړوند پروړ یا بل د غسی شی لکه زهری شالی مثلاً هم د غه کار درکوی او که صندوق یا بورۍ نه وی نو بیاد نالۍ پوښ د پښه یا زاړه پراړه یا بل د غسی شی څخه ډک کړه او بیائ پرد غه لوښی د غذا یا اوبو را وپیچه او بیائ په رسی سره محکمه او ټینګ پرو وټړه نو نو ر هم ښه دی په یخو ملکو نوکی د غسی ترکیب او طریقه کول پ ر ښه کار درکوی.

خاتمه

په دی خاتمه کښی د بعضو نسخو د جوړولو طریقی لیکل سو یدی کوم چه د دی نو مو په دی حصه د طب کښی راغلی دی که چیری د غه نسخی ترڅیرو درځو پورۍ خوری یا په بازار کښی قابل د اعتبار نه پیدا کیږی نو بیائ په کور کښی جوړول ښه کار دی.

① آش جو ا- درو تولو اوربشو ته لږ څه نۇ ورکړه تر نو ورکو لو روسته ئ وکوټه تر دامی حده چه پخ خول او پوسته نه ئ خندی جلاسی بیا و د غسو کوتل سوو اوربشو ته په دری پاوه او بو کښی جوش ورکړه هر وخت چه یو نیم پاو اوبه پاته سی بیاد غه اوبه توی کړه او نوی اوبه دری پاوه ورواچوه بیا جوش ورکړه چه یو نیم پاو اوبه پاته سی بیاد غه اوبه توی کړه داغه رنګه د شپږو وارو نو اوبه وغورزوه بیاد اووم وار اوبه بیله دی چه اوربشی په او بو کښی ومښی وچوپه اوراوائ خله قند سفید یا شربت نیلوفر ورسره ګډ کړه بیائ وچینه که دی زړه غوښته نو عرق کیوړه (عرق کدر) هم ورسره ګډ کړه که چیری د دق په مریضه کښی عملونه هم وی نو اوربشی یو اندازه سری او نیمی کړه بیا آش جو خندی جوړ کړه چه دارنګه کول پ ر ه فایده لری دا خیال مه کوه چه په دامی سپکو او بو کښی به څه غذا وی دا سو ترپایه غذا جوړیږی د زړ ر هضمیږی په لس کښی درونده والی نه پیدا کوی او ښه وینه پیدا کوی. د سل او وچ لوخ دپاره فایده لری د پیچ دپاره هم بنی دی په تبه کښی غذا هم ده او دوا هم ده او د رګونو څخه فاسده مادې خارجوی او د غه

آش جو سړد تردی د هرچا په معده کښی چه سړدی زیاته وی یا ئی پیه. نس کښی د سړد یا تبض وی وده ته ئی د طبیب د مشورې بغیر مه ورکوه.

② **آب کاسنی مقطر** :- دری تولی تخم کاسنی ریزه کړه د شپی ئی په اوبو کښی خیشته کړه سهار یو توکر په یو خای راوخړوه او څلور سړه خاکونه ئی په دغه خای پورې غوټه کړه اوبه دغه توکر کښی د کرسوی تخم کاسنی واچوه. د دی د پاره چه د تخم کاسنی تراچولو ورو سته دده اوبه د توکر څخه و څخیږی بیا بیرته دغه اوبه په دغه راخړول سوی توکر کښی واچوه - چه رڅخیږی دغه رنګه ئی اووه واړه د کسم د کځورې په شان وڅځوه.

③ **آب کاسنی مروق** :- د کاسنی تازه پانی بیله پریمنځلو سړه ومینه. اوو ئی چونه اووی نښتیحه اوبه خندی وباسه پراور ئی کښیږده چه سبزی خندی جلاسی دا رنګه سبزی جلاکیږی چه دغه اوبه خوشنی دی نورونی اوبه به خندی راووزی بیا دغه اوبه وچونه دغه اوبه دا ینی د پارسوب دپاره ډیره زیاته فایده لری.

④ **اچار پپیته** :- پپیته سپینه کړه او توکری توکری ئی کړه. په لږ څه اوبو کښی وایشوه بیا ئی وچه کړه په سرکه کښی ئی واچوه مالګه، مرچ او دا سی نور په اندازه د ذائقی او خوند ورسره گډ کړه او کم از کم ئی تر شلو ورځو پورې کښیږده تر دغه ورو سته ئی دیوی تولی څخه بیا تر دوو تولو پورې خوړه دفن معدی د درد د پاره چه ود غه ته درد بائی سول وایی ډیره فایده لری

⑤ **اطریفل کشنیزی او اطریفل صغیر** :- د ډرې هریړې پوست، د کابلی هریړې پوست، بهیړه (بلیلج) آمله، کوچنی هریړه د غه ټول وکوټه وئی چونه تر چونلو ورو سته ئی په رو غن بادام یاد غوا په غوړو غوړ کړه او دوی تولی د هنیه (گشنیز) وکوټه اووئی چونه اود غه ټول د سړه وساته. بیا د شپږ دیرش ټولو د شکر سفید قوام جوړ کړه یعنی شکر سفید وایشوه تر داسی حده چه تار وکړی ورو سته تر قوام دغه نوری د وایانی ورسره گډ ی کړه او تر څلویښتو ورځو پورې ئی په اوربشو یا غنمو کښی پټ کړه او بیا ئی وخوړه خورک ئی یوه توله دبیدیدو په وخت کښی دی. بعضی خلګ د شکر سفید پرځای شهد ورا چوی او بعضی د هریړی د مربا شیره

د سر اچوی دا اطریفل کشنیز ی دی که په د غه کښی د هنیه (گشنیز) واچول سی بیا اطریفل صغیر دی.

⑥ **اطریفل زمانی**[1] ۱- د غه اطریفل د ټولو مزاجونو سره موافق دی د تحریک نزله، مالیخولیا یعنی لیونتوب، او د تبی د پاره فایده مند دی او نور ی، پیری فایدی لری پوست بلیله (بلیلج) پاو بالایوولس ماشی، آمله خشک پاو بالایوولس ماشی او هلیله سیاه دوه ویشت نیمی ماشی، پوست هلیله کابلی دوه ویشت نیمی ماشی، پوست هلیله زرد دوه ویشت نیمی ماشی، د غه ټول سره وکوټه ټر کو ټولو دروسته ئی وچوپه او په پنځه نیمی تولی خالص روغن ئی غوړ کړه براره صندل سفید پاو کم او وه ماشی، کټیرا (صمغ القتاد) پاو کم او وه ماشی، گل سرخ پاؤ بالایوولس ماشی، طباشیر (بنسلوچن) پاو بالایوولس ماشی بنفشه دوه ویشت نیمی ماشی، سقمونیا مشوی دوه ویشت نیمی ماشی، تربد سفید مجون پنځه څلویښت ماشی، او د هنیه (گشنیز) پنځه څلویښت ماشی وکوټه وئی چوپه تیار ئی کړه بیا دوه ویشت نیمی ماشی گل بنفشه، پنځوس دانی عناب او پنځوس دانی سپستان په او بو کښی جوش کړه او وئی چوپه وروسته بیا شیر نیم چټانگه خالص شهد او لس نیم چټانگه د هریږی د مر باشیره ورسره گډه کړه قوام حنډی جوړ کړه تر قوام جوړیدو وروسته د غه پورته ذکر سوی دوایانی ورسره گډی کړه او بیائی تر څلویښتو ورځو پوری په غله کښی پټه کړه او که د ی تلوار وی نو د غه دوا لس ورځی خامخا پکښی پټه کړه د دغی دوا خوراک د بیدیدو په وخت کښی د اووو[2] ماشو څخه تر یوی تولی پوری دی. او که د دغی د واسره د غه مغزیات هم زیات کړی نو بیا بی اندازی طاقت دماغ ته ورکوی۔ مغزکدو دوی تولی د هندوانی د زونی مغز دوی تولی، تخم خاشخاش سفید دوی تولی تخم کاهو دوی تولی او مغز بادام دوی تولی بنه وکوټه ورسره گډ ئی کړه او که ئی په نزول الماء مرض کښی په دغسی ترکیب سره وخوری نو ډیره فایده لری

⑦ **دسقمونیا مشوی کول** ۱- (یعنی نینی کول) سقمونیا هیده کړه په یو

[1] د قادری څخه ۲ [2] ۱۱

په اوړو کښی وپیچه په اوړکښی ئی کښیږده هر وخت چه دغه گردی شی سوړ سی نو سقمونیا څندی راو باسه دغه طریقه ئی د سړه کیدو ده او چه سقمونیا سړه سوی نه وی نو بیا وکولوته تاوان ړسوی.

(۸) **جوارش کمونی**:- دادړک (اوم شونډ) مربا دړی تولی، گلقند آفتابی او وړه تولی، او مربا هلیله چه مندکی څندی لیږی کړی څلور تولی په یو نیم پاو گلابو کښی ئی بنه میده کړه او هم ئی په داسی آونگ یا غاردار ه شاړه کی سړه میده کړه چه د مرچو نه وی قند سفید څلور تولی او شهد (عسل) خالص څلور تولی او څلور نیمی ماشی ور سړه گډ کړه قوام څندی جوړ کړه یعنی تر داسی حده جوش ورکړه چه او به سی او او به ئی تاروکړی دری تولی توړه زیره چه په سړ کښی خیشته سوی وی او بیا وچه سوی وی او څلور څلور ماشی د غه څلور دوایانی وکوټه ترکوچنی غلبیل څو چونه او ور سړه گډی ئی کړه هغه څلور دوایانی دادی فلفل سفید یعنی سپین مرچ، د سداب بلگ، دارچینی قلمی، بوړه سرخ د جوارش کمونی خوراک د شیږو ماشو څخه بیا تریوی تولی پوړی دی د ړیاحی او بادی درد د پاړه د غه رنگه د غټو بولو د شړشړ ړ پینبید و د پاړه ډیړه فائده لرلی.

(۹) **جوارش مصطگی**:- طباشیر (بنسلوچن) یوه توله مصطگی روی یوه توله او دکوچنی هیل دانی شیږو ماشی میده کړه دیوه پوړه پاو گلابو او نیم پاؤ قند و قوام تیار کړه بیا په دغه قوام د غه دوایانی گډی کړه. خوراک ئی د شیږو ماشو څخه بیا تریوی تولی پوړی دی چه د چا اشتها او لوړه کمه وی یا هرگړی غټو بولو ته ئی د هغه د پاړه د غه جوارش مصطگی مفید او گټور دی او که ئی تر غذا او څو دی وروسته وخوړی نو هاضم دی که په د غه جوارش مصطگی دړی ماشی سنگ دانه مرغ گډ کړل سی نو بیا د معدی د ضعف او کمزوړی د پاړه ډیړ ړیات گټور دی

(۱۰) **خمیرهٔ بادام** :- د خمیرهٔ د خنگ مزاجه خلگو د پاره ډیره مفیده ده
مغز بادام شیرین مقشر خلور تولی، تخم کاهو شپږ ماشی او تخم کدو ی شیرین
دوی تولی په اوبوکښی بنه میده کړه بیا په دُوی کښی یو پاؤ مصری او نیم
پاو شهد گډ کړه ترګډ ید ورو سته توام حُنده ی جوړ کړه بیا د دغه توام
سړه دانه الایچی خورد یعنی دوا ړه هیل دانی شپږ ماشی، بهمن سرخ شپږ
ماشی، بهمن سفید شپږ ماشی، ملهتی یعنی خوږ ولی شپږ ماشی، گاوزبان
او گل گاوزبان شپږ شپږ ماشی ترکوټه او چونډلو ورو سته ورسره گډ کړه
د دې خمیری خورک دا و ماشو څخه بیا تر یوی تولی پورې دی کچیری
ممکنه دی نو یه دغه خمیره یوه ماشه مشک او دوی تولی ورق نقره
یعنی د سپینو زرو پانې هم گډې کړه.

(۱۱) **شربت بنفشه** :- دوی تولی گل بنفشه د شپې په اوبوکښی خیشت کړه
او سهار ئی بیا پوخ کړه تر چخولو ورو سته ئی سړه ومنه او بیا ئی وچونډه
تر چونډلو ورو سته یو پاؤ شکر سفید ورسره گډ کړه او توام حُنده ی جوړ
کړه بس دغه شربت بنفشه دی اوکه دوی تولی گل بنفشه نور راواخلی تر کوټه لو
او چونډلو ورو سته ئی په دغه شربت بنفشه گډ کړی نو بیا خمیره بنفشه
حُنده ی جوړیږی که د شکر سفید پر ځای شکر سرخ ورسره گډ کړی نو بیا د عمل
کولو د پاره بنه کار کوی.

(۱۲) **خمیرهٔ گاوزبان** :- د خمیرهٔ د دماغ اوزړه ته طاقت ورکوی - گاوزبان
دری تولی، گل گاوزبان یوه توله، دهنیه (گشنیز) یوه توله ابریشم خام مقرض یوه
توله، بهمن سرخ یوه توله، بهمن سفید یوه توله براده صندل یوه توله او تخم
نرنجشک یوازی په بتوکرکښی عوټه کړه یوه توله او تخم بالنگو یوه توله په
بل بتوکرکښی عوټه کړه د شپې بتول په یوه سیر اوبوکښی خیشته کړه او بیا سهار
جوش ورکړه هر وخت چه اوبه د ریمه خصه پاته سی نو ئی وچونډه، قند
سفید نیم سیر ورسره گډ کړه او خالص شهد پوره یو پاو ورسره گډ کړه تر
گډولو ورو سته ئی توام کړه بیا زهر مهره (حجرالسم) شپږ ماشی، کهربای
شمعی شپږ ماشی، بسد یعنی بیخ مرجان او یشب شپږ شپږ ماشی په عرق

کيوړه (عرق کدر) يا عرق بيد مشک کښې کړل کړه (کړل دا مطلب دی چه په آونګ کښې ئې ميده کړه) او بيا ئې په قوام ګډ کړه ورق نقره لس دانی يعنی دسپينو زرو ورقی لس دانی او ورق طلا پنځه دانی، په لږ شاتو (عسلو) کښې حل کړه ترځلولو وروسته ئې ورسره ګډ کړه - طباشير (بنسلوچن) مصطګی روبی، دکوچنی هيل دانی، عود غرقی ټول نه نه ماشی ترکو ټلوا وچو ټلو وروسته ورسره ګډ کړه د دی خميری خورک د شپږو ماشو څخه بيا تر نهو (۹) ماشو پورې دی اوکه په دغه خورک هر اوړ دوی ورځی قدر د مونګ (مرجان) کشته ګډ وی اوخوړی ئې نو ډير ښه تاثير کوی د غه نسخه د ګرم مزاجه انسانانو د پاره ډيره مفيده ده که د دی سره يو ه ماشه موتی هم ګډ ی کړی نو د اعلیٰ درجی شی دی.

(۱۳) خميره مرواريد: اسره اوړ نيسه اعظاؤ ته طاقت ورکوی - شپږ ماشی سپی موتی، کهربايی شمعی او سنګ يشب درې درې ماشی په خلور تولی عرق بيد مشک کښې کړل کړه يعنی په آونګ کښې ئې په آونګ دسته سره ښه وښنه او سره ميده ئې کړه بيا درې ماشی صندل سفيد په دغه کښې وښنه تر داسی حده چه سره يکښې ولاړسی وروسته تر دغه درې ماشی طباشير باريک ميده کړه او په ګډ ئې کړه بيا قند سفيد نيم پاؤ او خالص شهد (عسل) دوه نيمی تولی په يوه چټانګ ګلاب خالص او په يوه چټانګ عرق بيد مشک کښې ګډ کړه او قوام جوړ کړه تر قوام جوړ ولو ورسته دغه نوری ذکر سوی دوايانی په ګډ ی کړه خورک ئې درې ماشی دی اوکه غواړی چه دغه خميره ښه تيزه اوزوړه کړی نو دسرو زرو پانې شل دانی هم ورسره ګډ ی کړه.

دواء المسک: داد يو معجون نوم دی چه په دغه معجون کښې مشک ضرور اوخامخاوی دغه معجون زړه ته ډير زيات طاقت ورکوی د دی معجون ډيری نسخی دی چه ډير استعمال ئې په دغو نسخو کښې د معتدل او باارد دی هغه دواړی نسخی دادی.

(۱۴) **دواء المسک بارد:** ګاؤزبان نه ماشی، نرکچوړ شپږ ماشی، ګل ګاؤزبان

له که غواړی چه پيسی کمی پرولګيږی نو ورق طلا مه ورځوه ۱۲

شپږ ماشی، ابریشم خام مقرض شپږ ماشی، براده صندل سفید شپږ ماشی
برگ فرنجمشک شپږ ماشی، دروند عقربی شپږ ماشی، تخم کاهو شپږ
ماشی، وچه دهنیه (گشنیز) شپږ ماشی، تخم خرفه سیاه شپږ ماشی
مغز تخم کدوی شیرین شپږ ماشی، بهمن سفید شپږ ماشی، بهمن سرخ
شپږ ماشی، گل سرخ شپږ ماشی او مصطگی روغی دری ماشی دغه ټول وکوټه
وئ چونه بیا نیم پاؤ شربت سیب شیرین، نیم پاو شربت بهی شیرین او نیم سیر
قند سفید سره گډ کړه بیا قوام جوړ کړه ترقوام جوړ ولو وروسته
ئ په دغو ذکر سوو دوایانو گډ کړه بیا خلور ماشی سچی موتی شپږ ماشی
کهربائ شمعی، شپږ ماشی طباشیر (بنسلوچن) شپږ ماشی بسد (بیخ مرجان)
او شپږ ماشی یاقوت سرخ دغه ټوله شیان په خلور ټولی عرق کیوړه (عرق
کدر) کښی کړل کړه او ترکرلولو وروسته ئ ورسره گډ کړه بیا دوی
ماشی خالص مشک، دری ماشی زعفران او شپږ ماشی ورق نقره یعنی
د سپینو زرو ورقی په عرق کیوړه کښی هیده کړه ترهیده ولو وروسته
ئ د دغو نورو ذکر سوو دوایانو سره گډ کړه بیانو دغه دوا په احتیاط
سره کښیږده او خورک ئ د شپږ ماشی څخه بیا تر یوی ټولی پورې دئ.

⑮ **دواء المسک معتدل**:- دماغ او زړه ته طاقت ورکوی تبه - او
اسد خیالات لیری کوی و بدن ته ئ نه راپریږدی دغه شیان ټول دوی
وی ماشی دی گل سرخ، ابریشم خام مقرض، دارچینی قلمی، بهمن سرخ، بهمن
سفید، دروند عقربی او دغه شیان بیا یوه یوه ماشه دی چهرپله (آشنه)
مصطگی روغی، دانه هیل خورد - او دری دری ماشی بیا دغه شیان دی
اده صندل سفید، براده صندل سرخ، دهنیه (گشنیز) وچه آمله او تخم
رفنه - بیا گل گاوزبان خلور ماشی او پنځه ماشی زرشک دی او یوه
مه یوه نیمه ماشه عود هندی او بادرنجبویه دی دغه ټول راواخله
ئ کوټه او وئ چونه ربت بهی شیرین پنځه ټولی، قند سفید پنځه ټولی
خالص شهد پنځه ټولی سره گډ کړه او قوام جوړ کړه ترقوام -
ړه ولو وروسته ئ په دغو ذکر سوو دوایانو گډ کړه - بیا سچی موتی دوی
ی، کهربائی شمعی دوی ماشی، بسد احمر (مرجان سرخ) دری ماشی او

طباشیر (بنسلوچن) دری ماشی، په څلور تولی عرق کیږه (عرق کدر) کښی کړل کړه. او بیائی په تیر وسود دوایانو گډی کړه او بیا مشک یوه ماشه او زعفران یوه ماشه علیحده په عرق کیوړه (عرق کدر) کښی میده کړه د ذکر سوو دوایانو سره ئی گډ کړه تر دغه ورو سته دری نیمی ماشی د سپینو زرو پانی په لږ څه شاتو کښی حل کړه بیائی د ذکر سوو دوایانو سره گډ کړه او خورک ئی د پنځو ماشو څخه تر نو ماشو پوری دی او زیاتره استعمال د دغه ترکیب او نسخی کیږی او په بازار کښی هم دغه حر څیږی.

(۱۶) **د بهروزه تیل**:- دچه بهروزه تو کری تو کری کړه او لږ څه ریگ ور سره گډ کړه تر دغه ورو سته آتشی سینبه څندی ډکه کړه بیا د سینبی په خوله کښی د اوسپنی سیخان کښیږده دا رنگه چه بنه ور ننوزی بیا یو مات منگی راواخله چه په ده کښی سوری وی دغه سینبه په دی منگی کښی دا رنگه کښیږده چه د سینبی غاړه د منگی د سوری څخه د باندی راوتلی وی او دیوی خواته مائله اوکږه وی بیا منگی د سبوس څخه ډک کړه او اور ورکړه تر اور ورکولو ورو سته د سینبی د خولی د مخ ته پیاله کښیږده تر څو چه تیل راوان وی او پسی تازه کوه او هر وخت چه تیل بند سی نو بیا پیاله څندی لیری کړه او ریگ د دی سینبه ور سره گډ کیږی چه بهروزه (قنه) اور وانه خلی او د سبوس اور د دی سینبه ورکول کیږی چه دغه د سبوس اور سپک او پر تولو څایو نو برابر دی او د تیلو د را ایستلو څخه مخکی ملتانی مټی یعنی ملتانی خاوره خیشته کړه د تو کر تو تی بنی پکښی خیشتی کړه بیا د تو کر یوه تو ته پر سینبه و پیچه هر وخت چه دغه تو ته و چه سی بیا بله تو ته پر و پیچه دغه رنگه یو څو واړه وکړه و دی ته د طبو په اصطلاح کښی گل حکمت کول وایی هر وخت چه دغه تو کری د تو کر بالکل و چی سی بیا نو تیل څندی را و باسه.

(۱۷) **موم روغن**:- دغه رنگه جوړیږی کوم چه د بهروزه تیل جوړیږی. د بهروزه (قنه) تیل د بولو د سوزش د پاره د یوه څاڅکی څخه بیا تر څلورو څاڅکو پوری پر پتاسه اچول او بیا پتاسه خوړل ډیره فایده لری د اورد سو څل سوی څای د پاره یا د هغه څای د پاره چه لږم یا غالبوزی چیچلی

وی دغه تیل فایده لری چه پرهغه چیچل سوی خای ئی ولگوی چه پرغوبزوورد وی نو دی تیلو په خټولو سره د غوبز درد رامیږی.

(۱۸) **سکنجبین ساده:** قند سفید دیرش (۳۰) تولی، خالص سرکه لس تولی او به شل تولی سره گډ کړه بیائی پرډیر سپک اور باندی کړه او څګونه خندی غورزوه هروخت چه قوام برابر سی یعنی تار وکړی نو بیائی راشوه کړه ترسپیدو پوری سره لړه بیابوتل خندی پک کړه د غه سکنجبین صفراډیره ژر لیری کوی او په تیزو تبو کښی ډیر ژر تاثیرکوی که د څټکی او سپکومیو و ترخوړلو وروسته یو چه سکنجبین وخوړل سی نو ډیره فایده لری د غه خوړل سوی شیان نه پریږدی چه صفراء خندی جوړه سی - په توخ، ضعف معده، پیچش او په عملی شی کښی سکنجبین باید مریض ته ورنه کړل سی که سکنجبین ته د قند پرځای شهد ورواچول سی نو خنکتیائی کمیږی نو وداسی سکنجبین ته عسلی وایی او یو وخت وخت د سرکی پرځای عرق نعناع وراچوی بیانو ودغسی سکنجبین ته نعنائی وایی - د لیمبو[۱] او قند شربتو ته د لیمبو سکنجبین وایی.

(۱۹) **شربت انجبار:** پنځه تولی بیخ انجبار د شپی په اوبو کښی خیشت کړه سهار جوش ورکړه ترجوش وروسته ئی سره وهنه او وئی چونه اویو پوره پاؤ قند سفید ورسره گډ کړه وروسته قوام خندی جوړ کړه خوراک ئی دوی تولی دی - دیزی وینی، حیض او عملونه بندوی په تاثیرکښی د غه شربت گرم دی که غواړی چه د غه شربت خنک سی نو دوه نیمی دوه نیمی تولی براده صندل سرخ او براده صندل سفید هم په دغو اوبو کښی خیشته کړه د شکر یا قند وزن نیم سیر کړه.

(۲۰) **شربت بزوری حار:** بولی او حیض جاری کوی د پښتورگو او مثانی ریگ باسی د ژړی او ډیر وخت د تبو د پاره فایده کوی - تخم کاسنی سونف (خوابزګولی) د څټکی زولنی، مغز تخم کدو ی شیرین او حب القرطم د غه تولی د وایانی دوه نیمی دوه نیمی تولی، بیخ کاسنی، گل غافث، تخم خطمی

---

[۱] یعنی د کاغذی لیمبو عرق لس تولی د سرکی پرځای ورواچوه او دیرش تولی قند سفید، شل تولی اوبه د غه تول سره گډ کړه او د غه ته د لیمبو سکنجبین وایی ۱۲ نظر ثالث

ملهتی (خوږ ولی) بالچهړ (سنبل الطیب) گل بنفشه، گاوزبان دغه ټول یوه نیمه یوه نیمه تولـه ریزه کړه اودشپی ئې په اوبوکښی خیشته کړه سهار اته تولی مویز منقی ورسره گډ کړه دوندی وایشوه چه نیمی اوبه پاته سی بیائ وچوپړه تر چوپلو وروسته دوشپیته تولی قند سفید ورسره گډ کړه او قوام ځندی جوړ کړه خورک ئې ددو تولو څخه بیا تر(۳) و تولو پوری دی.

(۲۱) **شربت بزوری معتدل**:- پوست بیخ کاسنی، دختکی تخم گوکهړو تخم خیارین یعنی تخم دچمبرخیال او بادرنگ، اصل السوس مقشر ټول دوی دوی تولی میده کړه دشپی ئې په اوبوکښی خیشته کړه او سهار جوش ورکړه ولئ چوپړه تر چوپلو وروسته شل تولی شکرسفید ورسره گډ کړه بیا قوام ځندی جوړ کړه خورک ئې ددو(۲) تولو څخه بیا تر درو تولو پوری دئ

(۲۲) **شربت بزوری بارد**:- تخم خیارین یعنی دچمبرخیال او بادرنگ تخم، مغز تخم کدوی شیرین، مغز تخم پیټهه (مغز تخم کدوی روغی) گوکهړو تخم خطمی، خبازی (دکارگه ټکی) دهندوانی درونی مغز، تخم کاسنی او بیخ کاسنی ټول دوی دوی تولی میده کړه او دشپی ئې په اوبوکښی خیشته کړه سهار جوش ورکړه اوولئ چوپړه څلور پنځوس تولی یاشپږ دیرش تولی شکرسفید ورسره گډ کړه بیا قوام ځندی جوړ کړه خورک ئې ددو تولو څخه بیا تر درو تولو پوری دی که چیری تخم پیټهه (تخم کدوی روغی) نه وی نو بیا پروانه لری اونورنیات استعمال دد غه بزوری بارد کیږی اوپه بازار کښی هم دغه خرڅیږی.

(۲۳) **شربت دینار**:- تخم کاسنی اوگل سرخ هریواوه لس اوولس ماشی او

---

۱ عمده اومل ترکیب دادی چه کله چیری دیوشی دعرق څخه ۲ مثقال جوړ وی نو دا سی مثی نو دد وی لکه لمبو انار انگور یا ۳ ورو سته قوام ځندی جوړ کړه په دی حساب سره په نیم پاو عناب کی لس چټانگه شکر لویږی ۱۲ انظر ثالث

خلور رتهٔ او پوست بیخ کاسنی دوه نیمی تولی، گل نیلو فر او گاوزبان هریو
کم نه ماشی، او تخم کشوټ پاؤ بالا شیر ویشت ماشی چه د غه تخم کش
به په یوپتو کړا و کخوړه کښی تړلی وی د غه پتولی د وایانی په او بو کښی خیش
کړه بیائی وایشوه د ایشولو په وخت کی ریوند چینی نه ماشی ریزه کړه او
یو کخوړه کښی ئی وتړه بیائی ور واچوه او په کنګیر یعنی کوکیر سره د غ
کخوړه کښیکاږه د د وایانو د ایشولو په وخت کښی هر وخت چه جوش وخور
نو بیاد غه کخوړه بیله مښو ولو حُندی راو باسه او نوری د وایانی سره ومښ
تر مښلو وروسته ئی وچوپه یو پاو قند د د غو چوپل سوو او بو سره گډ کړه ا
قوام حُندی جوړ کړه د د غو شربتو خورک د وی تولی دی د غه شربت د اینه
په مریضیو کښی ورکول کیږی د سنا او د اسی نور وشیانو سره چه استعمال سم
نو بنه عمل نه کوی.

(۳۵) **شربت عناب**: عناب یو پوره پاو ریزه کړه او د شپی ئی خیشت کړه تر
خیشتو لو وروسته سها ربنه جوش ورکړه بیائی سره ومښه او وئی چوپه
د چوپلو وروسته نیم سیر قند سفید ورسره گډ کړه او قوام حُندی جوړ کړه
عسل وزن او مقدار ئی د شکرو قند د غه نیم سیر دی اوکه غواړی تر یوه
سیر کړه پوری ئی ورسره گډ ولای سی.

(۳۶) **شربت ورد مکرر**: د وی تولی گل سرخ په پاو بالا سیر او بو کښی وایشوه تر
سی حده چه نیم گلاب پاته سی بیائی وچوپه د د غو او بو ته نیم پاو گلاب نور ورسره
ه کړه د غه رنګه د وی تولی گل سرخ نور ورواچوه بیائی وایشوه چه نیم گلاب
ه سی او بیائی وچوپه د غه رنګه په د غه طریقه سره کوم چه اوس ذکر
ه گلاب او گل سرخ ور واچوه تر اچولو وروسته جوش ورکوه تر او وو- وار و
ی د غسی وکړه بیائی نو او وم وار وچوپه تر چوپلو وروسته نیم پاؤ
سفید ورسره گډ کړه قوام حُندی جوړ کړه په اخیر قوام کښی شیر ماشی
شیر (بنسلوچن) باریک سپید ه کړه. ترسپید ولو وروسته ئی سره گډ کړه
یری غواړی چه د غه شربت عمل وکړی نو د د غو شربتو څخه څلور تولی
بو گډ کړه په یوغی سره ئی یخ کړه او بیائی وچینه او تر هر وار عمل کولو
سته هم دیغی او به چینه هر څوندی وار ه چه د غه او به چینی

هغوندی وارونه عمل کوی. دنورو عملی شیانو خلاف په دی کښی دایو شی
سته چه داخنک دی ومعدی ته طاقت ورکوی که دیو وجهی څخه عمل
نه وکړی نو تاوان نه کوی په گرمو امراضو کښی نهایت مفید دی او خفیف
او سپک عمل کونکی دی.

(۲۶) **دشربتو دجوړولو طریقه**:- نولی دوایانی دشپی په شپږ چنده
اوبو کښی خیشتی کړه سهار بیا جوش ورکړه هروخت چه دریمه حصه اوبه
پاته سی نو بیاد غه دوایانی سړه ومینه او ولی چونه بیاد غو دوایانو
سړه دوه چنده یادری چنده نزیات شکر یا قند گډ کړه او قوام څندی
جوړ کړه تر قوام جوړولو وروسته چه قوام سوړسی نو بیابوتلان په
پک کړه.

(۲۷) **دعرق دایستلو طریقه**:- دکوی دوا عرق چه باسی هغه دوا په
یو غټ دیگ کښی واچوه او دیگ داوبو پک کړه وروسته ئی پرنغری کښیږده
اوړپسی بل کړه په دغه دیگ کښی دننه په عین مابین کښی یو کوچنی
دیگ کښیږده دا رنگه چه ودیگ ته اوبه ورداخلی نه سی اوکه د
پیروا وبود سببه دغه کوچنی دیگ قرار نه نیسی نو بیا په غټ دیگ
کښی یو خښته یا اوسپنه کښیږده بیا پردغه خښته یا اوسپنه کوچنی
دیگ تکیه کړه تر دغه وروسته یو منگی داوبو څخه پک کړه دکوچنی دیگ
پرخوله ئی کښیږده دد دیگ اوبه چه هروخت گرمی سی نو توبن ئی دمنگی و
بیخ ته پورته کیږی او په څاڅکو بدلیږی وروسته دغه څاڅکی و
کوچنی دیگ ته راڅڅیږی لږ گړی وروسته منگی دکوچنی دیگ څخه لیږی
کوه او ورته گوره چه هروخت دغه کوچنی دیگ پک سی بیا ئی خالی کړه
تر خالی کولو وروسته ئی بیرته پردغه ځای کښیږده او دمنگی اوبو
ته هم گوره هروخت چه گرمی سی نو دغه منگی لیږی کړه بل دیخواوبو
منگی ئی پرځای کښیږده او دیوه سیر دواڅخه او (۷) وه اته (۸) سیره عرق را ایستل
بهتره اوغوره دی دارنگه چه دوولس سیره اوبه ورواچوی اته سیره
عرق څندی راوباسی باقی اوبه پریږدی.

فایده:- دسپینو یاسوزرو ورقی که چیری په یو معجون یا شربتو

گډ دی نو بنه تدبیر ئې دادی چه ورئی په یوخه شانتو (عسلو) کښی واچوی تر اچولو ورسته ئې بنه سره گډ کړی بیا دغه شهد (عسل) په دغه معجون گډ کړی دسوداد سپینو زرو ورقی لکه څرنگه چه په شهدو (عسلو) کښی حلیږی په بل شی کښی نه حلیږی.

(۲۸) عرق کافور:- دهیضی، لمبی اوداسی نورو شیانو دپاره اکسیر دی دجوړولو طریقه ئې دهیضی او وبا په بیان کښی تیره سویه د چاکسو د سپینولو طریقه او ترکیب دستر گو په بیان کښی تیر سوی دی.

(۲۹) قرص کهربا:- کتیرا، نشاسته، دام غیلان (ببول، کیکر) گوند وری، مپین سوی زوبی د چمبر خیال او بادرنگ د دغه ټول لس نیمی لس نیمی ماشی، گلنار اوڅه ماشی، اقاقیه، کهربائی شمعی او تخم بارتنگ د دری نیمی دری نیمی ماشی وکوټه اووئی چوپه ترچوپلو وردسته ئې په اوبوکښی واخښه بیا څلورنیمو څلورنیمو ماشو گولی خندی جوړی کړه او په سایه کښی ئې وچی کړه.

(۳۰) کشته قلعی:- یوه توله عمده اوصاف قلعی راواخله په شان د پاڼو وورقو ئې باریک باریک وتراشه بیائی په غچی سره دورجو په اندازه او ندر پریکړه یو پوره پاؤ دآنولی یعنی آملی د درختی پوست راواخله وئی وټه بیا دغه ټوکری چه دورجو دانو په قدر سره غچی سویدی په یده سوی د آملی په پوست کښی کښیږدی تر دغه ورسته د دغه آملی میده سوی پوست یو ټوکر یا تاپ راو پیچه او په اینځی ئې ټینگ پروتړه لس سیره سره وکښی ئې کښیږده اوړپر بل کړه هر وخت چه اور سوړ اویخ سی احتیاط سره د سره وایری لیری کړه دایرو تر لیری کولو وروسته قلعی وباسه دغه قلعی چه په قد د ورجو پری سوی دی هره هره ټوټه به په شان د خرمهری پرسیدلی وی اود وی په لاس سره ومینه ترمینلو وروسته تر ټوکرو چوپه هرځوندی قلعی چه سوځل سوی وی د سپینواهاکو په شان رسیدلی وی او تر ټوکر چوپل سوی وی د دغه عمده او بهتر بینه کشته ده. او ئی دانی چه د دغه قلعی سختی پاته سوی دی هغه جلاکړه د دغه کشته دی ته ډیر زیات طاقت ورکوی هر څوندی چه زړه وی هغوندی ه وی که د دغه کشته په یولږ څه بالایی (پیروی) کښی وخوړی نو بیا

سړی په ښه وزی کوی.

(۳۱) **کشته مرجان**:- دوی تولی مرجان سرخ را واخله د نیم سیر میدې سوو معمرو په مابین کی ئی کښیږد ه بیا ئی په یو کاغذ یا پتو کر کښی و پیچه وروسته ئی په یو ه اینځی وتړه بیا ئی په لس سیره ځنګلی او بیبانی سرو کښی کښیږد ه اوږ وړکړه او که بیبانی سړی پیدا نه سی نو بیاد کور نیو سرو اوږ وړکړه هر وخت چه اوږ بالکل سوړ سی مرجان د سرو د ایرو څخه په احتیاط سره را و باسه د مرجان بنا خونه به سپین سوی وی کوم چه سپین سوی وی او په یر سخت نه وی هغه باریک میده کړه د سره ئی سائته. د غه کشته مرجان د ه او کوم بنا خونه چه و توړ والی ته مائل وی هغه بیا په لږ څه (میده سوو) معمرو کښی کښیږد ه د لسو سیرو سرو اوږ وړکړه د پاره د د ی چه د غه بنا خونه سپین سی تر سپینید و وروسته ئی بیا میده کړه د سره ئی سائته لس یا پنځلس ورځی وروسته ئی استعمال کړه ځکه چه د غه یو اندازه ګرمی کوی هر څوند ی چه زهر ه وی هغوندی ښه د ه. د غه کشته د تر پتوخ، د زهر ه د ریږد ید و او د ضعف د ماغ د پاره بی حده ګټور ه د ه انسان هم وزی کوی د د غسی عوارضو او تکلیفو د پاره د غه کشته دوی وړ جی قدر د نه ماشی خمیره ګاونډ ی سره باید ګډ ه سی ترګډ ولو وروسته باید وخوړل سی. یوی ښځی د غه کشته د پیټه (کدوی روغی) په مربا کښی خوړلی وه چه د د ی د زهر ه ریږد تبخیر او استحاضه مرضونه وه نو د غی کشتی پیره فایده ورته وکړه.

(۳۲) **گلقند**:- یو پوره سیر پانی د فصلی او موسمی ګلاب چه ښه او خوشرنګه وی او د ړی سیره قند سفید را واخله د وی د واړه د لرګی په اونګ کښی ښه وکوټه یا ئی پرسل او غاړ دار ه شاړه ښه وکوټه چه یو ذات ځندی جوړ سی بیا ئی یوځوورځی ولمرته کښیږد ه چه طبیعت و نیسی د غه تردوو کلونو پوری نه خرابیږی او که پرځای د قند و شات وړ واچوی نو تر څلور و کلونو پوری نه خرابیږی او تاثیر ئی پاته کیږی. قبض ماتونکی دی او معدی ته قوت ورکوی که لږ څه توړه زیره میده کړی بیا ئی ورسره ګډه کړی ترګډ ولو وروسته ئی وخوری نو د نس او ملاد کمزوری د پاره فایده لری

دا خبره یاد وساته چه هر وخت گلقند په یو بله د داګډ وی او ورسره لږی ئ
نو تر لږلو وروسته ئ وچوپه ورنه د ګلاب پانی بیا په سړی تی وهی.

(۳۳) **لعوق سپستان**:- سپستان یعنی لهسوړی ښی غټی غټی (۱۰) مثل دانی
ریزه کړه بتوله شپه ئ په اوبو کښی خیشتی کړه سهار ئ وایشوه تر ایشولو وروسته
ئ سړه وهښنه او وئ چوپه شکر سفید یو نیم پاو ورسره ګډ کړه تر شربتو خته
قوام ځندی جوړ کړه چه د څټلو قابل سی خورک دیوی تولی څخه تر دوو تولو
پورې لږ لږ څه څه د بوخ د پاره مفید دی بلغم په اسانی سره راباسی.

(۳۴) **د لعوق سپستان بله نسخه**:- چه د بوخ د پاره د ډیره مفید ده.
او قبض ماتوی سپستان دوه ویشت دانی، مویز منقیٰ یو ولس تولی او اته ماشی
د واړه په درې سیره اوبو کښی بتوله شپه خیشته پریږده سهار جوش ورکړه
تر دا سی حده چه یو سیر اوبه پاته سی بیا ئ سړه وهښنه او وئ چوپه بیا په
د غو چونل سوو اوبو کښی املتاس یعنی پولوس څلور تولی او څلور نیمی ماشی
وهښنه تر هښو ولو وروسته ئ بیا وچوپه بیا شکر سفید نیم سیر ورسره ګډ
کړه د لعوق څخه قوام جوړ کړه خورک ئ ددی تولی دی.

(۳۵) **ماء اللحم**:- ماء اللحم د غوښو د عرق ته وایی دا عرق ته یو وخت -
دوایانی ورا چول کیږی بیا نو جوړیږی او نسخی ئ په سو و نودی هر عرق که
ګرم وی که سوړ وی چه غوښی ورا چول سی ودغه ته ماء اللحم ویل کیږی
سی او یو وخت وخت فقط او یوازی د غوښو څخه جوړیږی دا و کمزورو ری
مریض ته پرځای د ښورا و رکوی ترکیب ئ دادی چه د بزی د غاړی یا د
سینی غوښی را واخله چربی ئ وځندی جلا کړه بیا ئ قیمه او کوفته کړه تر
قیمه کولو ورو سته ئ په دیګ کښی واچوه- دا نه الائچی خورد یعنی د
کوچنی هیل دانی، زیره سفید، پودینه یعنی نانا، ګل نیلوفر، عرق ګاوزبان
آب انار او داسی نور مناسب مزاجه شیان ورسره ګډ کړه او په داسی طریقه
سړه عرق وځندی را وباسه کوم چه د عرق په بیان کښی ئ طریقه تیره سوه
یو وخت وخت طبیبان یوازی یخنی جوړوی په مریض ئ چیښی (۱۰) نظر ثالث

(۳۶) **د مربای آمله د جوړولو طریقه**:- تازه او بنه آمله را واخله په پنډه
ستن ئ بنه وو هه دا رنګه چه د اغونه باندی پیدا سی بیا په او بو کښی جوش

ورکړه هر دخت چه یواندازه نرمه سی نو بیائ را وکاږه د پلټکری (خوړی) په اوبو کښی یا په چاچه یعنی شلوم بوکښی ئ یوه ورځ اوشپه خیشته کړه د یوی ورځ اوشپی ترخشتولو وروسته ئ را وباسه او به ځندی وچی کړه قند سفید چه ترآملې دری چنده یا څلور چنده زیات وی را واخله قوام ئ کړه لږ څه سپک جوش ورکړه بیائ درسره وساته بیا دربمه څلرمه ورځ بل جوش ورکړه اوکم از کم ترډوميا شتو وروسته دغه مربا څان سموی او برابر وی.

(۳۷) **مرهم رسل** :- د زخمونو د پاره مفید دی خراب مواد راز بینبی او زخم جوړوی د دی ترکیب د د نبل او مرغړیو په بیان کښی تیر سویدی.

○ **د هګی د نیم خامی پخولو طریقه** :- د دی طریقه د خوړک په بیان کښی تیره سوی ده.

(۳۸) **د بید الورد معجون** :- بالچهړ (سنبل الطیب) مصطګی رومی (کندر رومی) زعفران، طباشیر (بنسلوچن) دارچینی قلمی، اذخر، اسارون، قسط شیرین ګل غافث، تخم کشوث، مجیټهه، لک مغسول، تخم کرفس، بیخ کرفس، زراوند طویل، حب بلسان، اوعود غرقی دغه ټولی دوایانی دری دری ماشی اوګل سرخ پاو بالا څلور ټولی وکوټه ترکوټلو وروسته ئ وچوپه بیا اوړه لس ټولی خالص شهد (عسل) قوام کړه بیا په دغه قوام دغه دوایانی ګډی کړه او درسره وئ ساته خوړک ئ د درو ماشو څخه ترڅلورو ماشو یا پنځو ماشو پورې دی دا معجون دا ینی، معدی، رحم او دا سی نور وشیانو د پارسوب د پاره مفید دی لیکن دغه معجون یواندازه ګرم دی که په تبه کښی د مریض ته ورکړل سی نو پردوی سر بیره څلور ټولی عرق بید مشک چینبل بنه اوغوړه دی.

(۳۹) **مفرح بارد** :- زړه او معدی ته نفعه رسوی قوت او طاقت ورکوی تبه ګرزوی او پرګرم مزاجه انسانانو بنه لګیږی آلو بخارا لس دانی، ابریشم مقرض شپږ ماشی په اوبو کښی خیشته کړه ترخیشتولو وروسته ئ وچوپه قند سفید یو پوره پاو او آب انار شیرین نیم پاؤ، ورسره ګډ کړه او قوام ځندی جوړ کړه بیا ګاوزبان او برادره صندل سفید شپږ شپږ ماشی. مغز تخم

خیارین، یعنی دبادرنگ او چمبر خیال سپین سوی زوني، تخم خرفه او گل سرخ یوه یوه توله، وچه دهنیه (وچ گشنیز) نه ماشی، وچه آمله یوه توله، زرشک گل سیوتی (گل نسرین) او تخم کاهو نه نه ماشی سره وکوټه اووتی چوټه او ترکیو تلو او چوټلو وروسته ټی د قوام سره گډ کړه بیا زهرمهره خطائی یعنی حجرالسم، طباشیر (بنسلوچن) نه نه ماشی، یشب سبز او بسد احمر (مرجان سرخ) شیږه شیږه ماشی په عرق بید مشک کښی کرل کړه او ترکرلو وروسته ټی د غو ذکر سوود وایانو سره گډ کړه او خورک ټی نه ماشی دی دمفرح د واچه هرخوندی کیدای سی باید باریکه وی. (از کتاب یاقوتی - نظر ثالث ۱۲

فایده:- یاقوتی هغه معجون ته وایی چه خالص وزهره ته طاقت ورکوی په دغه مفرح باردکه چیری دری ماشی سچی موتی اود سرو او سپینو زرو ورقی گډ ی کړی نو بیا یاقوتی ورته ویلای سی.

(۴۰) **هومیائی**:- داگ ژهدری دانی، بهلاوان اوو دانی، رال سفید (راتینج سفید) لس تولی، او غوړی لس تولی راواخله اول بهلاوان په غوړو کښی واچوه پراورټی کښیږده هروخت چه بهلاوان وسوځل سی نوټی وغورزوه او بیاود غو غوړو ته دغه نوری دوایانی ورواچوه اورښه پسی تیزکړه په پیره هوښیاری او احتیاط سره ټی لړه هروخت چه تولی دوایانی اورواخلی نو سمدستی دلوښی پرسر سر پوښ (برغولی) کښیږده چه سرټی پټ سی او داورځخه ټی راکښته کړه هروخت چه وسپیدو ته نژدی سی نو بیادغه دواړه کاږه او درسره وټی ساته خورک ټی ددوی رتی څخه تریوی ماشی پوری دی وبندونوته په یوطاقت ورکوی اوپه یوخوږوړو کښی هغه بند چه مات سوی وی هم جوړوی.

(۴۱) **دنوشدارو نسخه**:- د آملی مربالش تولی راواخله دانی څنډی وکاږه بیادغه دانی اومندکی په یوه پاؤ عرق بادیان اویوه پاؤ عرق مکو کښی پخی کړه هروخت چه ښی پخی سی نو بیاټی مبده کړه ترټوکرټی وچوټه بیاشکر سفید یوپوړه پاؤ او خالص شات نیم پاؤ ورسره گډ کړه قوام څنډی جوړ

ل مومیائی په تیلو گډ کړه بیاټی پرزخم ولگوه نودستی وبینه بندیږی داغدنگچه یوتپی سوی څای په ککړسی نو بی حده فایده ورسوی ۱۲ نظر ثالث

کړه بیا اذخر شپږ ماشی دار چینی قلمی، مصطگی، عود غرقی (عود هندی) دانه الایچی خورد یعنی دکوچنی هیل دانی، دانه الایچی کلان یعنی دلوی هیل دانی. اسارون، بالچهړ (سنبل الطیب) نرکچور، او زراوند طویل، پتول خلور، خلور ماشی او گل سرخ، حب بلسان، پوست ترنج او وچه نانا شپږ شپږ ماشی، خولنجان دری ماشی او براده صندل سفید نهه ماشی دغه پتول نرکه پتلو او چونډلو ور وسته د قوام سره گډ کړه خورک ئی یوه تولـه دی او دغه نوشدار د نړه او معدی ته طاقت ور کوی زاړه اندازه گرم دی وډی ته نوشدار و ساده وایی که چیری دوی ماشی موتی یوه ماشه زعفران اویوه ماشه مشک په خلور تولی عرق کیوړه (عرق کدر) کښی میده کړی ترمیدولو ور وسته ئی ور سره گډ کړی نو بیا و دوی ته نوشدارو یې لوی لوی وایی بیانو د پیرنړیات طاقت نړه ته ور کوی.

د حکیم مولوی محمد مصطفیٰ صاحب تصدیق

هر وخت چه اول وار بهشتی زیور جوړیدی نو احقر (حکیم محمد مصطفی) موافق دارشاد سره د حضرت مولانا (اشرف علی نور الله مرقده) د بنځو د هر یضیو په باره کښی یو کتاب و لیکی چه په دی کتاب کښی د هر مرض د پاره یوه عزیبانه بله امیرانه او بله درمیانه درجی نسخه لیکل سوی وه چه د دی کتاب پنډ والی یو اندازه نړیات سو. نو حضرت (اشرف علی رحمة الله علیه) وفرمایل چه بهشتی زیور خو یو طبی کتاب نه دی نو دغه (ستا لیکل سوی کتاب) باید مختصر سی لهذا دغه کتاب څخه عمده عمده او مجربی مجربی نسخی او دغه رنگه نور نړیات ضروری مضامین راټول کړل سوه او دغه نهمه حصه ځندی تیاره سوه بیا دی حصی سره دد وهم چاپ په وخت کی بعضی مضامین نړیات سوه او دغه دوهم چاپ په امداد المطابع کښی تر سره سو او دغه نړیات سوی مضامین په خپلو خپلو ځایونو کښی تر هری صفحی لاندی ولیکل سوه.

بیا په صفر ۱۳۴۳ هـ کښی د دریم چاپ په وخت کښی یو څه نور مضامین هم نړیات سوه نو دغه مضامین هم تر هری صفحی لاندی ولیکل سوه او هر

څای لفظ د (نظر ثالث) وړ سره ولیکل سود دی د پاره چه دکوم چا سره د دغه مخکی چاپ سوی بهشتی زیور دی هغه دی د غه مضامین په خپل کتاب کښی نقل کړی.

خادم الاطباء محمد مصطفیٰ بجنوری حال وارد میرټهه محله کرم علی

ددم وچو اوتعویذ بیان

لکه څرنګه چه د مریضی علاج په دوا او سره کیږی د غه رنګه په بعضو مواقعو کښی په دم اوچو سره هم فایده کا رسیږی ددی سببه د دوا او د دا رو د بیان تر لیکلو وروسته لږ څه بیان د دم اوچو هم مناسب وبلل سو چه ولیکل سی د وهم داچه بعضی جاهلانی بښځی د خپلو کوچنیانو په مریضیو کښی یا د اولاد پیدا کید و په خواهش اوارزو کښی داسی پریشان حالی اوبی صبری وی چه د شریعت څخه مخالف کارونه کوی کله د کوډګر په ذریعه په شین ملوطی یا بل د غسی شی خپل فالونه گوری کله پیرزیارتو غوایی او پسونه حلالوی دیگونه پرپخوی کله پرځان باندی داسی نذرونه لازموی چه هغه بنکاره د شریعت خلاف کار وی کله یوچاته لاس وړ بنکاره کوی چه هغه ورته وایی چه ستا به اولاد ونه وسی دوندی به نارینه وی - او دوندی به بښځی وی یا به دی هیڅ اولاد ونه سی.

د بی دینه او تګانو څخه دمونه او تعویذ ونه کوی بلکه بعضی جاهلانی بښځی په د غسی وخت کښی باباګانو او قبرونو ته سجدی کوی چه په دی سره دین هم خرابیږی اوګناه هم لازمیږی بلکه په بعضو خبرو اوکارونو سره انسان کافر او مشرک جوړیږی او بعضی وخت د غسی خلګ یعنی د غه بیدینانو او تګان یو څه پیسی، روپی، کالی، غله، چرګه، بزه، غوایی هم او داسی نور شیان هم اخلی - کله کله د د غسی بی دینانو او تګانو خلګو نیتونه هم خرابیږی ځکه چه بښځی د د وی سره رفت آمد خبری او اتری کوی چه اکثره په دوی کښی حوانانی وی او د غه بی دینان کوډګران د د غو بښځو ابرو ریزی او بی عزتی کوی. غرض چه په د غسی قصو کښی هر قسم تاوانونه دی او د د غو تګانو - او موصوفو د دی فانی دنیا څخه ستړګی پټی کړی دی ۱۲ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ط

کوګرانو د هر څوندی کوشش سړه سړه فقط هغه کیږی چه و خدای پاک نه منظور وی د دی سببه د اخیال او فکر راولویدی چه یو اندازه د دم او چو د اسی طریقی بیان او ښوول سی چه زمونږ د شرعی خلاف نه وی چه د خدای تعالیٰ د نامه په برکت سړه شفا هم حاصله سی او دین هم وساتل سی د مال او عزت هم تاوان نه وی.

○ **د سړ او غاښو درد او باد** :- پریو پاکه تخته پاک ریګ وغوړوه پر د غه ریګ چه پر تخته غوړیدلی دی د غه توری په یو میخ سړه ولیکه اَبْجَدُ هَوَّزٌ - حُطِیُ او بیا میخ په ښه زور سړه پرالف کښیږده او درد والا دی خپله ګوته په ښه زور سړه د درد پر ځای کښیږدی او ته یو وار اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ تر پایه پوری ووایه بیا د ده څخه د درد د حال پوښتنه وکړه که چیری درد وی نو د غه رنګه په ښه زور سړه میخ پر (ب) ولګوه غرض چه په د غسی طریقه سړه پریوه یوه حرف باندی د غسی عمل وکړه انشاء الله حروف به لاختم سوی نه وی چه درد به وشکیږی.

○ **د هر قسم درد** :- چه د بدن په هر ځای کښی وی دا ایت شریف سړه د بِسْمِ اللّٰه د ری وارې ووایه پردم ئی کړه یا ئی پر تیلو یا بل د غسی شی ووایه هغه تیل دی مریض بیا په بدن پوری ومښی یا د غه ایت په اوداسه سړه ولیکه چه مریض ئی تعویذ کړی هغه آیت مبارک دادی. وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝

○ **د دماغ کمزوری** :- د پنځو لمونځونو وروسته پرسر لاس ایږده او دیوولس وارې یَا قَوِیُّ ووایه.

○ **د نظر او دید کمزوری** :- وروسته تر پنځو لمونځونو یا نُوْرُ یوولس وارې ووایه د د واړه لاسو د ګوتو پرسرونو ئی پوه کړه او پرستر ګوئی راتیروه.

○ **چه په شر به کښی بند والی وی یا ذهن او دماغ کم وی په شی نه پوهیږی** د سهار د لمانځه د کولو وروسته یوه پاکه شګه (کوچنی ډبره) په خوله کښی د نیسه د غه آیت شریف یو ویشت وارې ووایه - رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ وَیَسِّرْ لِیْ اَمْرِیْ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ ؕ او هره ورځ پریوه دانه بسکوټ باندی الحمد لِلّٰه تر اخره پوری لیکه او د غه بسکوټ خوره خلویښت

درځ چه ئې وخوری نو هم به دی ذهن تیزسی په هرشی به پوهیږی (دغه
ایت مبارک چه ولیکل سودا دژبې او ذهن دواړه د پاره دی).

○ **د زړه راښودیدل:** - دغه ایت شریف د بسم الله سره ولیکه په غاړه
ئې وځړوه او سپینسی (تار) به ئې دوندی اوبه دوی چه تعویذ د زړه پرځد
راځړیږی او زړه وچپه طرف ته دی هغه آیت شریف دادی. اَلَّذِیْنَ
اٰمَنُوْا وَ تَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ط

○ **دلس درد:** - دغه ایت شریف پراوبو یا بل شی دری واړه و وایه
بیا ئې په مریض وچیبنه یا ئې ولیکه پرلس ئې ورد وتړه - لَا فِیْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ
عَنْهَا یُنْزَفُوْنَ ط

○ **د هیضی او هرقسم وبا، طاعون او داسی نورو شیانو د پاره:** - په
موسم کښی د داسی مرضونو چه هرشی خوری یا چیبنی نو اول دری واړه پر
دغه شی سورة اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ وایه او پرده موه ئې انشاء الله تعالیٰ د دغو
مرضونو څخه به په امان سی و هرچاته چه دغه مریضی ورپیښه سی
نو د هغه د پاره هم پریوشی دم وکړه په ولې خوړه که تاد خوړلو پرشی
دم کړی وی یا ئې په وچیبنه که تاد چیبنلو پرشی دم کړی وی انشاء الله تعالیٰ
خدای پاک به شفا ورکړی.

○ **توری غټیدل:** - دا ایت شریف د بسم الله سره ولیکه د توری پرځای
ئې وتړه انشاء الله تعالیٰ ښه به سی هغه آیت شریف دادی - ذٰلِكَ تَخْفِیْفٌ
مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ط

○ **نو وتل:** - دا آیت شریف سره د بسم الله ولیکه د نو پرځای ئې وتړه
انشاء الله تعالیٰ نو د خپل ځای نه راځی او که دغه تعویذ د غسی ترلی پر
نامه پرینږدی نو بیا نو نه وزی هغه آیت شریف دادی - اَللّٰهُ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ اِنَّهٗ كَانَ
حَلِیْمًا غَفُوْرًا ۝

○ **تبه:** - که یخه تبه نه وی بلکه گرمه تبه وی دغه ایت ولیکه بیا
ئې ورپغاړه کړه او دغه ایت پرده موه - قُلْنَا یٰنَارُ كُوْنِیْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰۤی
اِبْرٰهِیْمَ - او که چیری یخه تبه وی نو دغه آیت شریف ولیکه چه مریض

ئی په غاړه کړی یا ئی پر مټه د تړی ـ بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰهَا اِنَّ رَبِّیْ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝

○ **دانه مانه یا پارسوب** :- پاکه خاوره را واخله برابره خبره ده که د غنه خاوره په صورت کښی د لوټی وی یا میده خاوره وی د غنه دعا دری واړه پړ دوایه بِسْمِ اللّٰهِ بِتُرْبَةِ اَرْضِنَا بِرِیْقَةِ بَعْضِنَا لِیُشْفٰی سَقِیْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا او پر د غنه لوټه یا خاوره یوځه او به پناکړه او بیائی د تکلیف پرځای یا د تکلیف د ځای پرشا وخواد وړی دری څلور واړه مننه.

○ **د مار لړم یا غالبوړی او بل شی چیچل** :- په لږ څه او بو کښی مالګه ولړه د غنه نمکینی او به په چیچل سوی ځای پوری ومنه او بیا قُلْ یٰٓاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ پوره سورة وایه پرد مړه ئی تر ډیره پوری دغسی وکړه

○ **په کور کښی د مار پیدا کیدل یا د اسیب او افت موجود والی** :- نو د او سپنی څلور میخونه را واخله پر هر میخ جلا جلا د غنه آیت شریف پنځویشت پنځویشت واړه دم کړه د کور په څلور سره کو نجیانو کښی ئی پټ کړه انشاء الله بیا مار په د غنه کور کښی نه پاته کیږی هغه آیت شریف دا دی ـ اِنَّهُمْ یَکِیْدُوْنَ کَیْدًا وَّاَکِیْدُ کَیْدًا ۝ فَمَهِّلِ الْکٰفِرِیْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَیْدًا ۝ انشاء الله په د غنه کور کښی به د آسیب اثر هم پاته نه سی.

○ **د لیونی سپی خوړل او دارل** :- د غنه آیت شریف چه پوره ته لیکل سوی دی دا اِنَّهُمْ یَکِیْدُوْنَ څخه تر رُوَیْدًا پوری دیو ډوډی یا بسکوټ پر څلویښتو ټکرو ولیکه یوه یوه ټکره ورځانه د غنه سړی ته چه لیونی سپی دارلی وی ورکړه چه وئی خوړی انشاء الله تعالیٰ لیونی به نه سی.

○ **وچوالی** :- یعنی اولاد نه کیدل ـ څلویښت د لونګ دانی را واخله او پر هر یوه اوڅه اوڅه واړه د غنه آیت شریف و وایه او کومه وړځ چه سنځه د حیض څخه پاکه سی غسل وکړی تر غسل کولو وروسته دی د د غنی وړځی چه ټول لونګ څخه پاک سی او تر لونګ خوړلو وروسته دی او به نه پسی چیښی او کله کله دی د خپل خاوند سره نږدیکت او ناسته ولاړه کوی هغه آیت شریف دا دی ـ اَوْ کَظُلُمٰتٍ فِیْ بَحْرٍ لُّجِّیٍّ یَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ

ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ؕ انشاء الله تعالی خدای پاک به اولاد ورکړی.

○ حمل نقصانیدل: یو تار چه دکسم په رنګ رنګیدلی وی دښځی د قد سره برابر وی د غه تار راواخله نه غوټ ورکړه پرهره غوټه د غه ایت شریف وایه او پر پوره کړه ئ انشاء الله تعالی حمل بیانه نقصانیږی اوکه یو وخت تار پیدا نه سی نو پریو کاغذ باندی د غه آیت شریف دلیکه چه بنځه ئ پرښی وتړی هغه آیت شریف دادی - وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ۝

○ دکوچنی د پیدا کیدو په وخت کښی درد: د غه آیت شریف پر یو کاغذ ولیکه بیا د غه کاغذ په یو پاک توکر کښی وپیچه بیا ئ د بنځی پرچپه وړانه وتړه یا د غه ایت شریف پرخوب وو وایه بیا د غه خوبی په وخورکه انشاء الله تعالی کوچنی به په اسانی سره پیدا سی - هغه آیت شریف دادی - اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ۝ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ۝ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝

○ اولاد ونه ژوندی نه پاته کیدل: اجوائن یعنی سپیرکه او مرچ نیم نیم پاو راواخله دد وشنبی په روځ د غرمی په وخت کښی څلو ینبت وارکه د وَالشَّمْسِ سورت دا رنګه ووایه چه دهر وار سره درود شریف هم ووایی چه هر وخت څلو ینبت وارکه پوره سی بیا یو وار درود شریف ووایه پر اجوائن یعنی سپیرکه او توره مرچونه ئ دم کړه د حمل د شروع څخه یا د هغه دنی او شید وخخه پریکوی د دی د وارو شیانو څخه دی هره روځ لږ لږ څه خوری انشاء الله تعالی اولاد ونه به ئ وپایی.

○ همیشه اوپرله پسی انجونی زیږیدل: د دغی بنځی خاوند یا یوه بله بنځه دی د دغی بنځی پرښی په گوته سره یو قوس یا دایره اوکړی (۷۰) یا وارکه جوړه کړی اوپر هر وار دی یا مَتِيْنُ وایی انشاء الله خدای تعالی به زوی ورکړی.

○ **دکوچنی نظر کیدل یا څرل یا په خوب کښی بیریدل یا میرګی او داسی بل شی** ورپیښیدل :- قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ دری دری واړه ووایه او پردم ئی کړه او دغه دعا ولیکه ترلیکلو وروسته ئی ورپه غاړه کړه - اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْطَانٍ وَّهَامَّةٍ وَّعَيْنٍ لَّامَّةٍ انشاءالله تعالیٰ د ټولو افاتو څخه به په امان سی.

○ **دکوی د پاره** :- داوۀ تارو یوه دسته راواخله سورة رحمٰن چه د اووه ویشتمی سپاری په نیمی کښی دی پروایه اوهر څخت چه دغه ایت وَاَيِّ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ باندی نوپرده ئی دستی دم وچوکه اویوه غوټه ورکوه د سورت ترختمید وپوری یودیرش غوټی جوړیږی بیا دغه دتارو دسته دکوچنی ورپه غاړه کړه که ئی دکوی څخه مخکی ورپغاړه کړی نو دکوچنی څخه به په امان سی اوکه ئی په کوی کښی ورپغاړه کړی نو ډیر تکلیف به نه وی.

○ **دهرقسم مریضی د پاره** :- پرچینی تشتری یعنی چینی لوښی دالحمدلله سورت او دغه ایتونه ولیکه په مریض ئی هره ورځ چیښه چه ډیر ښه تاثیر لری ایتونه دادی - وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ○ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ○ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ○ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ.

○ **دمسکینی او محتاجی د پاره** :- دماخستن دلمانځه څخه وروسته یوولس واړه یَا مُعِزُّ وایه او ۱۱ یَا مُعِزُّ مخکی هم یوولس واړه درود شریف وایه وروسته هم یوولس واړه درود شریف وایه وروسته تردغه دعا وکړه اوکه دغه بله لاندی وظیفه وایی هم صحیح دی هغه وظیفه دادۀ چه دماخستن دلمانځه وروسته څورلس سوه اوخورلس واړه یَا وَهَّابُ وایه او دیا وَهَّابُ څخه مخکی هم اووۀ واړه درود شریف وایه وروسته هم اووه واړه درود شریف وایه او وروسته دعا کوه انشاءالله تعالیٰ دنیا دار به سی او په رزق کښی به خدای پاک برکت درواچوی.

○ **چه پرچا پیرانان بنکاره سوی وی دهغه دپاره:-** دا ایتونه دمریض په غوږ کښی وایه او پردم ئی کړه داغه رنگه دغه ایتونه پراو بو وایه بیادغه اوبه په مریض وچیښه هغه ایتونه دادی - اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ط فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ط وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ط وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ط او داغه رنگه وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ سورة دمریض او پیریانی په غوږ کښی اووه واره ویل او دهول او بیا په راسته غوږ کښی اذان ورکول او په چپه غوږ کښی اقامت ورکول هم پیرانان پسی اخلی.

○ **چه یوکار بند وی دهغه کار دخلاصیدو دپاره:-** تردوولسو ورځو پوری هره ورځ دغه دعا (۱۲۰۰) دوولس زره واره وایه او تردغه وروسته هره ورځ دعا کوه انشاء الله تعالیٰ هر رنگه مشکل کار چه وی حل به سی هغه دعا داده - یَا بَدِيْعَ الْعَجَائِبِ بِالْخَيْرِ يَا بَدِيْعُ ط

○ **چه پرچا دیب او پیری داثر شک وی:-** قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ دری دری واره پراو بو دم کړه او په مریض ئی وچیښه او پر ډیر واوبو ئی دم کړه بیا په دغو ډیرو اوبو کښی مریض ولمبوه او دغه دعا تر خلویښتو ورځو پوری هره ورځ پرچینی تشتری یعنی چینی لوښی لیکه او بیا په دغه لوښی کښی او به اچوه او په مریض ئی چیښه هغه دعا داده - یَا حَيُّ حِيْنَ لَا حَيَّ فِيْ دَيْمُوْمَةِ مُلْكِهٖ وَبَقَائِهٖ يَا حَيُّ انشاء الله تعالیٰ دجادو اثر به ختم سی او دغه دعا دهری هغی مریضی دپاره هم فایده لری چه دهغی مریضی په باره کښی طبیبانو ومریض ته جواب ورکړی وی.

○ **دښځی خاوند ناراضه یا بی پروا وی دهغی دپاره:-** دماخستن ترلمانځه وروسته یوولس دانی توره مرچ راواخله مخکی او وروسته یوولس واره درود شریف وایه او په ما بین کښی یوولس واره یَا لَطِيْفُ یَا وَدُوْدُ وایه چه دغه وخت کښی دخاوند د مهربانه کیدو خیال په زړه کښی ساته هروخت

چه دی ټول ورځ ویل نو پردغو توره ومرچونې دم کړه تر دمولو وروسته مرچ په تیزاوږ کښی واچوه بیا د خدای تعالیٰ څخه د خاوند د مهربانی دعاوغواړه انشاء الله تعالیٰ خاوند به د ږیرې باندی مهربانه سی او لږ تر لږه ترخلو ورځو پورې دغسی وکړه.

○ **د شیدو د ډیروالی دپاره هغه وخت چه شیدی کمی وی:** دغه دواړه ایتونه پرمانګه اوده واړه روایه د ماشو په دال کښی ټې په ورځ کې اول آیت دادی - وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ - دوهم ایت دادی - وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُونِهِ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ دغه دوهم آیت شریف که داوږ د پرپیږې دم کړی بیا دغه پیږې په غوا یا ګامیښه وخوړی نو بیا به انشاء الله ډیری شیدی کوی د هرچا چه داشوق وی چه زیادی دم اوچوا او تعویذ او نور شیان هم زده سی نو داغسی څوک دی زموږ د کتاب اعمال قرآنی دری سره حصی او شفاء العلیل او ظفر الجلیل وګوری او دغه خبری همیشه یادی وساته چه د قرآن شریف ایتونه په بی اودسی سره مه لیکه وغسل ته ضرورت په وخت کښی ټې هم مه وایه پرکوم کاغذ چه د قرآن شریف ایت ولیکی بیا تعویذ څندی جوړ وی نو پردغه کاغذ یو بل ساده کاغذ راوپیچه د پاره ددی که تعویذ اخستونکی بی اودسه وی نو دهغه د پاره به ټې اخیستل صحیح سی

اوچه پرچینی تشتری یعنی چینی لوښی ایت شریف ولیکی نو دغه لوښی د بی اودسه چا په لاس مه ورکوه بلکه ته په خپله اوبه په وګرزوه او هر وخت چه د تعویذ کار خلاص سی نو بیا دسنه تعویذ په اوبو پاک پریوله بیا ټې په رود یا والې یا خاکښی واچوه.

تمت بالخیر

اضافه جدیده (نوی زیاتوب)

تر اوسه پورې چه کوی طریقې د دم او چولیکل سوی وی د غه چونکه ډیری مختصری وی. د دی سبب مکرمی محترم مولانا مولوی شبیر علی صاحب چه مالک د اشرف المطابع تهانه بهون دی. د مخدوم او معظم حضرت حکیم الامت مجدد الملة مولانا مولوی اشرف علی صاحب نور الله مرقده څخه خواهش وکړی چه کوم عملیات چه د جناب (تهانوی رحمة الله علیه) معمول دی که ولیکل سی او په بهشتی زیور کښی اضافه کړل سی نو به ښه وی.

پس د غه خواهش حضرت تهانوی رحمة الله علیه په ډیره خوشحالی سره قبول کړی او خاص هغه عملیات چه د تهانوی رحمة الله علیه معمول او د روزمره (ورځنی) ضرورت دی ولیکل سوه نو دی سبب د عامی فایدی د پاره د غه عملیات په دی ځای کښی راوړل کیږی.

د حکیم الامت مجدد الملت اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه خاص عملیات

(۱) **د حمل حفاظت:** - که دیو ښځی حمل اکثره وخت نقصانیږی یا دیو صدمی او غم د وجهی څخه یو وخت داسی خطره وی نو د غه لاندی آیاتونه ولیکه او د حاملی ښځی ورپغاړه ئی کړه په داسی شکل سره چه د غه تعویذ ئی پرښ سوبیره داسی آیاتونه داوی. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ط فَاللّٰهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَّهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ ط اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ط وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ط رَبِّ إِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝

(۲) **د کوچنیانو حفاظت:** - د غه لاندی راتلونکی کلمی ولیکه او کوچنی

به د اکثره مریضیو څخه دکوچنیانو وساتل سی - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْطَانٍ وَّهَآمَّةٍ وَّعَيْنٍ لَآمَّةٍ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ○ اوکه چیری په خوب کښی بیریږی نو د غه کلیمی هم ورسره زیاتی کړه - اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ سُوْٓءِ الْاَحْلَامِ وَمِنْ اَنْ يَّتَلَاعَبَ بِيَ الشَّيْطَانُ فِي الْيَقْظَةِ وَالْمَنَامِ.

③ **بد نظر:** - که د نظر کید و احتمال وی نو د غه لاندی آیاتونه ولیکه او ورپه غاړه ئی کړه - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ○ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ○ داغه راڼګه د غه لاندی کلمی د بد نظر د اثر د لیرې کولو د پاره ګټوری دی که چیری پریو چا د بیره وی چه نظر سوی به وی نو د غه کلیمی ولیکه او ورپه غاړه ئی کړه.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْطَانٍ وَّهَآمَّةٍ وَّعَيْنٍ لَّآمَّةٍ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ○

④ **دهر قسم وبا او طاعون څخه د حفاظت د پاره:** - د دې مرضونو په وخت کښی چه یو شی خوری یا ئی چیښی نو د ۳ ځلی واړه د اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ سورت دوایه او پرچوړه ئی کړه ترد غه وروسته د غه شی وخورکه که د مریض د پاره پراو بو باندی د غه سورت د ری واړه وویل سی او بیا د غه اوبه په وچیښل سی نو ان شاء الله تعالیٰ مریض ته به الله پاک د د غه مرض څخه شفا ورکړی حکه چه د غسی خو وار پیښه سویده.

⑤ **دکوچنی د پیدا کید و په وخت کښی د رد و نه:** - د غه لاندی کلمی او ایتونه پرګوړه دم کړه ترد مولو ورو وسته ګوړه په وخورکه یا ئی ولیکه ترلیکلو ورو وسته ئی په سپین توکر کښی وپیچه او د حاملی په چپه ورانه پورې دی و تړل سی او د اولاد ترپیدا کید و ورو وسته دی فوراً خلاص سی انشاء الله د اولاد د پیدا کید و دیره اسانی او سهولت ورته حاصلیږی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۙ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۙ وَاِذَا

الْاَرْضُ مُدَّتْ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ اَهْيًا اِشْرَاهِيًا
اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْهَا الْوِلَادَةَ خَلْقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ط

(۶) **د سر درد** :- که نیم سیری وی یا د سر بل قسم درد وی د غه لاندی
ایتونه ولیکه د درد پر ځای ئې وتړه - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط
د - اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ سورت - او - لَا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ اَعُوْذُ
بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عَرَقٍ نَعَّارٍ وَّمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ

(۷) **آسیب او اثر** :- که پریو چاد آسیب او اثر شک وی نو د غه آیاتونه ولیکه
او د مریض ئې ور په غاړه کړه او د غه رنګه په دعوا یا توسړه او به دم کړه
او پر مریض ئې پنا کړه او که چیرې په کور کښې اثر وی نو د غه آیاتونه وو ایه
او به په دم کړه د کور په څلورو کونجیانو کښې ئې وپاشه هغه آیاتونه دا
دی. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ (۱) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ
صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝
(۲) الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ
بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝
(۳) وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ○
(۴) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَمَا فِي الْاَرْضِ ط مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا
خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝ لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ
مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى
لَا انْفِصَامَ لَهَا ط وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ط اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ
الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ط وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ
النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ط اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ○
(۵) لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ
اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ط فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

مُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ق لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ق وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ط لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ط لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ط رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ج رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ج وَاعْفُ عَنَّا ق وَاغْفِرْ لَنَا ق وَارْحَمْنَا ق اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ○

⑥ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ

⑦ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ق يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍ بِاَمْرِهٖ ۭ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ۭ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ط

⑧ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ۭ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۭ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ○

⑨ وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۙ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۙ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۭ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۭ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ۨ الْكَوَاكِبِ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۙ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ۙ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۙ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ○ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۭ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ

⑩ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ ج هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۭ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۭ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۭ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ○

⑪ وَاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ○

(۱۲) قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ○

(۱۳) قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ○

(۱۴) قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ مَلِكِ النَّاسِ اِلٰهِ النَّاسِ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ○

دغه رنګه دغه لاندی کلمی ولیکه و مریض ته ئی ورپه غاړه کړه (ددی عمل نوم حرز ابی دُجانه دی) دپیر مجرب دی - بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ مُّحَمَّدٍ رَّسُوْلِ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ اِلٰى مَنْ طَرَقَ الدَّارَ مِنَ الْعُمَّارِ وَالزُّوَّارِ وَالسَّآئِحِيْنَ اِلَّا طَارِقًا يَّطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمٰنُ اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْحَقِّ سَعَةً فَاِنْ تَكُ عَاشِقًا مُّوْلَعًا اَوْ فَاجِرًا مُّقْتَحِمًا وَّرَاعِيًا حَقًّا مُّبْطِلًا هٰذَا كِتَابُ اللّٰهِ يَنْطِقُ عَلَيْنَا وَعَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ - اُتْرُكُوْا صَاحِبَ كِتَابِيْ هٰذَا وَانْطَلِقُوْا اِلٰى عِبَادَةِ الْاَوْثَانِ وَالْاَصْنَامِ وَاِلٰى مَنْ يَّزْعَمُ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ تُغْلَبُوْنَ حٰمٓ لَا تُنْصَرُوْنَ حٰمٓعٓسٓقٓ تَفَرَّقَ اَعْدَاءُ اللّٰهِ وَبَلَغَتْ حُجَّةُ اللّٰهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

دغه رنګه که داسیب او پیری اثر په کور کښی معلومیږی دغه لاندی آیاتونه پر څلور میخونو پنځه ویشت واړه دوایه اوبیا دغه میخونه د کور په څلورو کونجیانو کښی تک وهه. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا وَّاَكِيْدُ كَيْدًا فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ۝

دغه رنګه دغه نقش واړه دلاندی عبارته درې تعویذونه ولیکه اوداسی فلیته حُنډی جوړه کړه. چه ددُو هندسه لاندی راسی اود اتو هندسه (عدد) مربیره راسی بیائی په پاکه پنبه کښی ونغاړه بیا په بنګی څراغ کښی ترخه تیل واچوه و مریض ته ئی نژدی دلور طرف یعنی داتو دهندسی (عدد) لاطرف څخه اوږد کړه اوله وړځ بیوه فلیته ودوه بیا یوه نه بله وړځ دغه فلیتی دودوه.

یعنی یو لانه بله وړځ دغه دری سره نلیکی و دود و د ۲۰ هغه نقش دادی.

۸	۱	۶
۳	۵	۷
۴	۹	۲

فرعون قارون هامان شداد نمرود ابلیس علیه اللعنة وابتدع ایشان اگر نه گریزند سوخته شوند

د سحر او جادو د دفعه کولو د پاره ۱۰

دغه لاندی ایاتونه ولیکه و مریض ته ئی و ر پغاره کړه او دغه لاندی ایاتونه پر اوبو وایه دغه دم سوی او به په مریض وچیبنه که چیری لمبیدل تاوان نه ورته کوی بیا دغه ایاتونه پر اوبو وایه اویه دغوا او بوسره مریض ولمبوه۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ فَلَمَّا اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ○ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۔ او۔ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۔ او۔ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ مَلِكِ النَّاسِ اِلٰهِ النَّاسِ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ○

د میرګی د دفعې د پاره ۱۰

لاندی ایاتونه ولیکه و مریض ته ئی و ر پغاره کړه۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔ رَبِّ اِنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ رَبِّ اِنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ۔ رَبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ ○

د زړه د درېدو د پاره ۱۰

لاندی ایاتونه ولیکه او دار نګه ئی پغاره کړه چه تعویذ پر زړه سره بیره راسی۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ

د ښځې او خاوند د محبت د پاره ۱۰

کله چیری خاوند د ښځې څخه نفرت کوی یا ښځه د خاوند څخه نفرت کوی د محبت او مینه ئی نه وی و ر سره نو دغه لاندی ایاتونه دی ولیکی او محب دی د ځانه سره کښیږدی او دغه ایاتونه دی پر مالګه یا خوا بزه شی و وایی بیادی دغه شی په محبوب و خوړی د فلانی پر ځای دی د محبوب نوم او د فلان پر ځای دی د محب نوم ولیکی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۚ وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ

إِذْ تَمْشِيٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَنْ يَكْفُلُهُ ط فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ
تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ط وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا
يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ يَا مُسَخِّرَ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَالْأَرَضِينَ السَّبْعِ قَلِّبْ لِفُلَانَةٍ
قَلْبَ فُلَانٍ بِالْخَيْرِ لِأَدَاءِ الْحُقُوقِ يَا وَدُودُ يَا وَدُودُ حَبِّبْ حَبِّبْ يَا وَدُودُ

د غائب چا د راتلو دپاره. دا که د چا زوی یا بل څوک غائب او نادرکه سوی
وی نو دد ه د بیرته راتلو دپاره د عغه لاندی آیاتونه ولیکه تر لیکلو وروسته
تعویذ څندی جوړ کړه او د عغه تعویذ ته توره یا شین پوښ ورکړه په کور
کښی چه کومه خونه زیاته تاریکه وی په هغی کښی ئی ددوو څیرو په مابین
کښی دا رنګه کښیږده چه د هیچا پښه پرکښیښول نه سی که چیری څه بری
نه وی نو د میچنی د دوو پلونو په مابین کی ئی کښیږده او د فلان پر
ځای د د عغه غائب او درک سوی چا نوم ولیکه. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهِ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ
بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ط إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا ط وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهُ نُورًا
فَمَا لَهُ مِنْ نُّورٍ ط إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ فَرَدَدْنَاهُ إِلَىٰ أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ
وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ط يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ
مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمٰوٰتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ
يَأْتِ بِهَا اللّٰهُ ط إِنَّ اللّٰهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ط حَتّٰى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ
وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوٓا أَنْ لَّا مَلْجَأَ مِنَ اللّٰهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ
عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا ط إِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ط اَللّٰهُمَّ يَا هَادِيَ الضَّالِّ
وَيَا رَادَّ الضَّالَّةِ أَرْدُدْ عَلَيَّ ضَالَّتِي فُلَانٍ.

دبولو بندیدو پاره مثانه کښی دډبرو د پیدا کیدو دپاره. دعغه
لاندی کلمی دی ولیکل سی اوبر نو (نامه) دی و تړل سی رَبُّنَا الَّذِي فِي السَّمَاءِ
تَقَدَّسَ اِسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي
الْأَرْضِ وَاغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِينَ فَأَنْزِلْ شِفَاءً مِّنْ شِفَائِكَ
وَرَحْمَةً مِّنْ رَّحْمَتِكَ عَلَىٰ هٰذَا الْوَجَعِ ط

د غنا دپاره. یَا وَهَّابُ وروسته دماخستن ترلمانځه دا رنګه باید وویل
سی چه په اول او اخر کښی ئی دوولس (۱۲) ځله

کښی خورلس سوه[۱۴۱۴] خورلس واړه د غه ذکر سوی نوم وویل سی او وروسته د غه دعا وویل سی - یَا وَهَّابُ هَبْ لِیْ مِنْ نِعْمَةِ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۔ ددی عمل نوم حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب رحمة الله علیه کیمیای درویشان ایښی دی.

د حاجت دپوړه کیدو د پاړه :- دتولو مشکلاتو د حل او پوړه کیدو د پاړه یَا لَطِیْفُ دماخستن نږدمانځه وروسته یوولس[۱۱] سوه[۱۱] یوولس واړه واوایه په اول او اخر کښی ئې یوولس یوولس واړه درود شریف واوایه نږد غه وروسته دعا کوه.

د هر قسم تبی د پاړه :- د تولو تبو د پاړه د غه نقش د مریض ته ئې د پغاړه کړه نقش دادی

بسم	الله	الرحمٰن	الرحیم
الله	الرحمٰن	الرحیم	بسم
الرحمٰن	الرحیم	بسم	الله
الرحیم	بسم	الله	الرحمٰن

د ماهواری یعنی د حیض د کموالی د دفعی د پاړه :- که په حیض کی کمی وی اود دی کمی په وجه تکلیف هم وی نو لاندی ایا تونه ولیکه - او د مریض ته ئې د ارنګه د ر په غاړه کړه چه تعویذ ئې پر رحم سر بیړه راسی بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۔ وَ جَعَلْنَا فِیْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِیْلٍ وَّ اَعْنَابٍ وَّ فَجَّرْنَا فِیْهَا مِنَ الْعُیُوْنِ لِیَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ وَمَا عَمِلَتْهُ اَیْدِیْهِمْ اَفَلَا یَشْكُرُوْنَ ۔ اَوَلَمْ یَرَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ اَفَلَا یُؤْمِنُوْنَ ۔

دویمی ماهواری د دفعه کیدو د پاړه :- که وچاته ماهواری او حیض ډیر وړځی او ځندی په تکلیف وی نو لاندی ایا تونه ولیکه د ارنګه ئې د ر په غاړه کړه چه تعویذ پر رحم باندی سر بیړه راسی بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۔ وَقِیْلَ یَا اَرْضُ ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَیَا سَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَغِیْضَ الْمَآءُ وَقُضِیَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَی الْجُوْدِیِّ وَقِیْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ۔

دتوری تعویذ :- طریقه ئې یوځه جنجالی ده هغه داده چه تعویذ دی پرخپل حال خلاص پریږدی یوشین توکر چه د وځند ه د تعویذ وی او د غه توکردی غبرګ کړی او په مابین کښی دی د غه تعویذ د غسی خلاص وړکښیږدی د ارنګه چه د تعویذ هغه طرف چه په هغه کښی د بِسْمِ اللّٰهِ

عدد ۷۸۶ - دی د پتوکر و بند طرف ته راسی بیادی یو ورځ د سهار ترلمانځه
دروسته مریض په نهار کې ستوني ستغ پریبامی دا رنګه چه لاسونه د بغلو سره
وغزوی پرچپه ورغوی دی د غه تعویذ سره د خپل پتوکر ه وسکښینوول سی ۔
داسی چه د تعویذ بند طرف کوم چه د بسم الله عدد دی د ګوتو وطرف ته راسی
بیادی نو پرد غه تعویذ او پتوکر دواړو سره بیره په یو نوی کوچنی خاورین لوښی
کښی یو پیره کوچنی سکروټه کښیږدی چه د غه لوښی په ګرم نه سی بیادی
نود مریض وچپه اړخ ته یو هو بنیار او پوه سړی کښینی توری دی په ګوتو
سره کښیکاږی اود کښیکښلو په حال کښی دی توری د خپل اصلی ځای او مقرته و
رسوی یعنې د توری لویه سوی حصه دی د کښیکښلو په حال کښی ترهغه
ځای پورې ورسوی کوم چه توری د جوړوالی په حال کښی قرار پکښی نیولی
وو (جامع) د غه رنګه یا ر یا ر دی ترشلو د قیقو پورې وکړی بعضی وخت
په توری کښی سونږش اوسوی پیدا کیږی په دا سی حال کښی دی د سکرو لپ
لوښی لیږی کړی د سونږش ترا راميدو



ورسته دی بیرته پرکښیږدی بیا
دی ترشلو د قیقو ورسته د مریض
ته وویل سی چه ولاړ سه بولی وکړه
او د غه عمل دی یوه نه بله ورځ کوی تر
دریو (۳) ورځو پورې جاری وساتی نقش دادی.



د بنځې د شیدو د زیاتوالی د پاره ۱۔ که دیوی بنځې شیدی کمی وی نو د غه
لاندی آیاتونه دی پرمالګه باندی یو وار و وایی بیادی د غه مالګه د خوړک د
شی سره ګډه کړی ترګډیدو ورسته دی د غه ښځه وخوړی کوم چه شیدی
ئی کمی دی که د کور نور خلګ د غه د خوړک شی وخوړی کوم چه دم سوی
مالګه په ګډه سوی وه هم هیڅ پروا نه لری۔ هغه آیاتونه دادی بِسْمِ اللّٰهِ
الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞ وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ
اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ۞ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا
سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ۞ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۞ وَاِنَّ لَكُمْ
فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۞ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا

سَائِغًا لِّلشَّارِبِيْنَ ط

د حیوانانو د شیدو د زیاتولو د پاره :- که غوا، گامیښه یا داسی بل څه شیدی نه ورکوی نو د اوړو پدې پاڼو کاغذ لاندی ایاتونه و وایه په غوا یا گامیښه ئی دوکړه. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ط نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهٖ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِيْنَ ط وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ط وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ط اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ط سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ط

دِ ځ د خوښیدو د پاره :- بعضی وخت د بنځو ئی د شیدو د زیاتوالی په وجه یا د بلی وجهی څخه خوښیږی درد او تکلیف وی نو دا دعا پدې چول سوا یا وړو یا خاورو او وړه واړه دا رنګه و وایه چه دهر واړه سړه پرد غوا یا و یا خاورو نارې توکه بیا د غه دم سوی ایری یا خاوری په او بو سړه نری کړه ترنږیکید و ورو سته د درد ځای په ککړ کړه او که چیری زخمونه او دانی په ککړ سی نو هم نا یده ورته سوی. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا ط

اوس یو خونور تعویذ ونه او د مونه موږ را نقل کو و چه د نور و حضراتو څخه و موږ ته راسید لی دی

د آسیب زده کا د پاره :- یعنی چه اثر پر بنکاره سوی وی (از قطب عالم مولانا گنګوهی رحمة الله علیه) ته د اصحاب کهف نومونه په لاندی عبارت سړه پر کاغذ و لیکه په کوم کور او خونه کښی چه مریض یا مریضه وی نو د ده پرشا او خوا پرد یوالو نو باندی ځای پر ځای د غه نومونه ورته و مبلوه او د بلست (۲۰) د غه لاندی نقش پر کاغذ و لیکه و مریض ته ئی ورښکاره کړه مریض چه د غه نقش ته وګوری خندی بیږی نو نه ورته ګوری مګر مریض مجبور سړه کړه زور پرو ونګوه چه ورته وګوری تر د غه ورو سته د د غه نقس څخه تعویذ جوړ کړه او په زور او جبر سړه ئی ورپه غاړه کړه. د اصحاب کهف نومونه دادی. اِلٰهِيْ بِحُرْمَةِ يَمْلِيْخَا - مَكْسَلِمِيْنَا - كَشْفُوْطَط - طَبْيُوْنُس -

۸	۶	۴	۲
۲	۴	۶	۸
۶	۸	۲	۴
۴	۲	۸	۶

کَشَانَطِیُوْنُسْ - اَذَا فَطِیُوْنُسْ - یَوَانِسْ بُوْسْ - کَمْبُهُمْ قِطْمِیْرْ - وَعَلَی اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِیْلِ وَمِنْهَا جَابِرٌ وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاکُمْ اَجْمَعِیْنَ وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَبَارِکْ وَسَلِّمْ - دغه د بشت نقش دی.

دمسان دپاره تعویذ (ام الصبیان) ۱- داد کوچنیانو یو قسم مریضی دی چه دمور په رحم کښی د مور څخه وکوچنی ته پیدا کیږی. (از حضرت مولانا خلیل احمد صاحب نور الله مرقده) دشنه تار یو څلویښت تارونه د بښتی دقد سره چه برابر اوږد وی راواخله - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره د بِسْمِ اللّٰهِ یو څلویښت واره پرو وایه دهر وار په ویلو سره پرد غو تارونو دم کوه او یوه غوټه ورکوه د حمل په زمانه کښی د غه غوټه کړه سوی تار د حاملی پرښ وټړه او د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته د غه تار د کوچنی په غاړه کړه او که چیری د حمل په زمانه کښی د حاملی پرښ ونه ټرل سی نو د کوچنی د ور په غاړه کولو څخه هم د غه فایده انشاء الله تعالی حاصلیږی.

داسیب زده دپاره تعویذ ۱- یو ولس شنه یا توره تارونه راواخله چه د کچه پنبی وی (یعنی چه د پنبی کچه تارونه وی) اویونیم گز اوږد وی یو څلویښت واره د غه لاندی آیات ونه پرو وایه اودهر وار د ویلو سره غوټه ورکوه چوه پرکوه ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط اِنَّهُمْ یَکِیْدُوْنَ کَیْدًا وَّاَکِیْدُ کَیْدًا ط فَمَهِّلِ الْکٰفِرِیْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَیْدًا ط

د غابنو د اسانی دپاره ۱- دوولس گړی اوږده اومه اوکچه تارونه چه شنه یا توره وی راواخله اوسورت دِاِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَالَهَا یَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا بِاَنَّ رَبَّکَ اَوْحٰی لَهَا یَوْمَئِذٍ یَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا لِّیُرَوْا اَعْمَالَهُمْ فَمَنْ یَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَیْرًا یَّرَهٗ وَمَنْ یَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا یَّرَهٗ ط اُووه واره پرو وایه دهر وار په ویلو سره یوه یوه غوټه ورکوه اودم پرکوه یعنی پر چوکوه بیا چه کومه اخیری غوټه دی ورکړی د ده د غی غوټی څخه شروع

وکړه - اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ وَ اَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ وَ اَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَ تَخَلَّتْ یو یو وار پرهه غوټه وایه او پرچوکه. بیا نو یو یو وار دد غه طرف څخه کوم چه اوس پر دریدلی پی پرهه غوټه قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَ لَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ پر وایه او هر وار تر قُلْ هُوَ اللّٰهُ ویلو ورو سته پرهه غوټه چوکه.

د حمل د ساتنی د پارې ۱:- یوولس شنه یا توره تاره نه چه یو نیم ګز اوږده وی راواخله د سورت یٰسٓ ټول سورت پر وایه او پرهر مبین یوه غوټه ورکوه پرچوکوه یه ټولی اوو(۷) غوټې کیږی بیائی نو د حاملی پرنس وړ وتړه انشاء الله تعالیٰ د حمل د نقصانید و څخه به محفوظه سی.

د کوچنیانو د پښتیو د مریضی د پارې ۱:- د دی مریضی د پیژنو مونه دی پرپاکه مځکه په چاقو سره اوو(۷) لیکی دار ډنګه ////// وکاږه د کوچنی خیټه خپل طرف ته کړه قمیص او کالی څنډی پورته کړه په راسته لاس کښی چاقو ونیسه د کوچنی د خیټې وطرف ته اشاره کوه پرد غو لیکو باندی چاقو راوله او اوو(۷) واړه د دغه ایت شریف وایه اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ما د کوچنی پرنس او سینه ئی د موه او کله کله په چاقو سره هغه پښتې چه د دغه مریضی پکښی وی سره د خیټې کړاړ کړاړ وسره مسحه کوه تر دا سی حده چه چاقو تر مځکی پورې وسره سینږی او اوو(۷) واړه د دعا وایه یا په یوه لیکه سره د دغه اوو(۷) لیکی پری کړه بیا د غه رنګه اوو واړه دعا وایه په بله لیکه سره د دغه اوو(۷) لیکی بیا پری کړه په دغسی طریقه سره تر هرا وو(۷) واړه ویلو ورو سته په یوه لیکه سره د دغه اوو(۷) لیکی پریکوه چه شکل ئی دا دی.



چه څه وخت اوو(۷) لیکی پوره سی نو پرکوچنی دم وکړه تر دم کولو ورو سته دد غه ځای څخه پورته کړه د بو لو د پاره ورته ووایه چه وړی بولی کړی سهار او ماښام تر دریو(۳) ورځو پورې د غه عمل جاری وساته د خدای ک په اراده سره به د غه مرض د نغه سی.

دام الصبیان د دوړی د پارې د دم ۱:- هر وخت چه پرکوچنی دام الصبیان ډوړه راځی نو اوو(۷) واړه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ تر اخره پورې اوو(۷) واړه - اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ

تر اخره پوری او اووه واړه د لمانځه درود شریف تر اخره پوری پرکوچنی ووایه د ویلو په وخت کښی دراسته لاس د شهادت گوته پر سینه اوښ وړ گرزوه.

د خونی بواسیرو (مواسیرو) دپاره ۱۔ د تاړونو یوه سوړ رنگه دسته چه یو نیم گز اوږده وی او یو ویشت تاره وی راواخله د تَبَّتْ یَدَآ اَبِیْ لَهَبٍ سورت تر اخره پوری یو ویشت واړه پر ووایه هر واړ پرچوکه او غوټه وړکوه بیا د چپی خواخخه پرهره غوټه یو واړ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۞ رَبِّ اِنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ووایه او پرچوه ئی کړه۔ بیا دراسته طرف څخه یُوْ یُوْ واړ پرهره غوټه۔ وَقِیْلَ یٰٓاَرْضُ ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَیٰسَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَغِیْضَ الْمَآءُ وَقُضِیَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَی الْجُوْدِیِّ وَقِیْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ۔ ووایه اوپر چوئی کړه او بیا دی دغه تاړونه مواسیری سړی ترملاکړی د خدای پاک په اذن سره به ډیر ژر ښه سی.

د مارلرم او نورو ضرری شیانو څخه د حفاظت دپاره ۱۔ سَلٰمٌ عَلٰی نُوْحٍ فِی الْعٰلَمِیْنَ ۞ یُوْ یُوْ لس واړه سهار او ماښام دارنگه وایه چه په سر او پای کښی ئی یو ولس یو ولس واړه درود شریف وی لیکن داشرط لری چه پوره یقین او اعتقاد به پرلری. دغه رنگه ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۔ چه دری واړه سهار او ماښام وویل سی هم د غوڅاړی شیانو څخه د حفاظت دپاره کافی دی.

دوچی بنځی دپاره ۱۔ (منقول از قول الجمیل) دهومی تر پوست لاندی چه د دی دنس په حدود کښی چه کومه باریکه پرده ده پر دغه باریکه پرده باندی په زعفران او گلاب سره دغه آیت ولیکه ۔ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُیِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰی بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِیْعًا ۔ تعویذ څندی جوړ کړه او بیائی دوچی بنځی وړ په غاړه کړه. دغه رنگه ۔ په څلویښتو لونگو اووه اووه واړه دغه آیت شریف ووایه ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۞ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِیْ بَحْرٍ لُّجِّیٍّ یَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ

مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ط اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰاهَا وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ط اويوه دانه لونگ دی هره شپه خوری چه د حيض څخه پاکه سی غسل وکړی نو دی بيا د غو لونگو خورک يوه يوه دانه شروع کړی او په دغه وار څوکښی دی خاوند مسلسل نژديکت او جماع وار سره کوی او شرط دادی چه لونگ دی د شپی خوری تر خوړلو وروسته دی او به نه پرچښی.

د خنازيرو د پاره ا- د چاپه غاړه کښی چه خنازير او مرغۍ وی نو د پسه يا بزی د کولمی د پوستوکی تسمه دوندی قدر پيدا کړه چه د مريض د قد سره برابره وی او يو څلويښت غوټی ورکړه پرهره غوټه داد عا وايه او پرچوکه يې. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ اَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّٰهِ وَقُدْرَةِ اللّٰهِ وَقُوَّةِ اللّٰهِ وَعِظَمَةِ اللّٰهِ وَبُرْهَانِ اللّٰهِ وَسُلْطَانِ اللّٰهِ وَكَنَفِ اللّٰهِ وَجَوَارِ اللّٰهِ وَاَمَانِ اللّٰهِ وَحِرْزِ اللّٰهِ وَصُنْعِ اللّٰهِ وَكِبْرِيَاءِ اللّٰهِ وَنَظَرِ اللّٰهِ وَبَهَاءِ اللّٰهِ وَجَلَالِ اللّٰهِ وَكَمَالِ اللّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ مِنْ شَرِّ هٰٓؤُلَآءِ اَجِدُ او بيائ د مريض ته ورپغاړه کړه.

نوی اضافه (اوله ضميمه)

پای تر ورسيده

د طبی جوهر د مضامینو فهرست

نمبر	مضمون	مخ
۱	اطلاع	۱۶۸
۲	دیباچه او وجه د تسمیی	۱۶۹
۳	فائده جلیله په علاج کښی ازادی	۱۷۰
۴	د مریض خدمتګارانو ته نصیحت	۱۷۱
۵	په علاج کښی څلور شیان په کار راځی	۱۷۲
۶	داستعمال خارجی او داخلی تعریف او حکم	۱۷۲
۷	داستعمال د ممانعت سببونه څلور دی.	۱۷۴
۸	د جماد انو بیان	۱۷۴
۹	د سړو او سپینو زړو داستعمال د ممانعت وجه	۱۷۴
۱۰	داهاکو خوړلو، سنکهیا خوړلو، مستی یعنی رنګ لګولو او د دغه رنګ لګولو په وجه چه غابنونه سړی او پیتی و نیسی د دغو ټولو حکم.	〃
۱۱	بعضی اندامونه تر بعضو اشرف دی	۱۷۵
۱۲	د خاړو او داسی نورو زهرناکه شیانو د وایانو حکم د سوځلی پورې د وریښمو، سړو زړو او سپینو زړو مسئلی	۱۷۶
۳	هغه معجون چه د سړو زړو او د سپینو زړو وراتی ورسره ګډ وی سوی وی.	۱۷۷
		۱۲۰

نمبر	مضمون	مخ
۱۴	د مسکراتو بیان	۱۷۸
۱۵	د تاړیاکو، فلک سیر او داسی نورو شیانو حکم	۱۷۹
۱۶	د اسپرټ حکم	۱۸۰
۱۷	شراب امیزه انګریزی دوایانی	۱۸۰
۱۸	د ډاکټری کتاب څخه د شرابو تحقیق	۱۸۲
۱۹	اود هومیو پتیک د وا حکم	
۱۹	کلورا نام بډیول	۱۸۲
۲۰	د نباتاتو بیان	۱۸۳
۲۱	د حیوان بیان۔	۱۸۳
۲۲	ژوندی حیوان سوځل	۱۸۳
۲۳	مړ انسان سوځل	۱۸۳
۲۴	مړ انسان خرڅول	۱۸۳
۲۵	مړی په مطب کی ایښودل.	۱۸۳
۲۶	د نس څخه کوچنی را ایستل	۱۸۳
۲۷	د بښځی شیدی را ایستل	۱۸۳
۲۸	د موم څخه جوړ سوی تصویرونه په مطب کښی ایښودل.	۱۸۳
۲۹	په برقی ماشین سره د جسم د ننه حالات معلومول.	۱۸۳
۳۰	ژوندی حیوان د دی د پاره سوځل چه تیل څندی و باسی.	۱۸۳
۳۱	مَا قُطِعَ مِنَ الْحَیِّ فَهُوَ مَیِّتٌ	۱۸۴
۳۲	د مار غابنونه په رنځو کښی میدول.	۱۸۴
۳۳	د ژوندی حیوان خرڅول او را نیول.	۸۴

نمبر	مضمون	صفحہ
۳۴	داوبو دحیوانا تو حکم لکہ چنگوښہ چنگابی ناکا یعنی مگر لچھ اوداسی نور۔	۱۸۵
۳۵	دکافرد لاس ماهی حلال دی۔	۱۸۶
۳۶	دجند بید ستر حکم	۱۸۵
۳۷	دحشراتو بیان	۱۸۶
۳۸	پہ کوی اوشری کی مریض تہ مچان ورکول	۱۸۶
۳۹	پہ یرکو چنی ماهی سرہ دمافی البطن خوړل	۱۸۶
۴۰	دربنبم شکر تیخال اوداسی نور	۱۸۶
۴۱	دگولر میوہ سرہ دخپلو چینجانو خوړل	۱۸۶
۴۲	دمړی اومرداری حکم	۱۸۷
۴۳	پہ ذبحہ سرہ هرحیوان پاکیږی سرہ د تولو	۱۸۷
۴۴	اجزاؤ دمیتی اومړی بعضی اجزا پاک دی مثلاً وریښتان وغیرہ	
۴۴	دپیل د غابنو استعمال	۱۸۸
۴۵	دحیوانا تو دشید واستعمال اوحکم ددی	
	عبارت معنیٰ لَبَنُ الْمَيْتَةِ طَاهِرٌ	۱۸۸
۴۶	دهگی بیان د فضلات حیوانیہ بیان	۱۸۹
۴۷	دکوتری وینی پرپروال لگول	۱۹۰
۴۸	پہ سپی سرہ زخم خټل	۱۹۰
۴۹	کوی وینی چہ ژوړی زیښلی وی۔	۱۹۰
۵۰	دحلالو مرغانو فضلہ جات دکحل مرارات حکم۔	۱۹۰/۱۹۱
۵۱	دپسا وبزی تریخی دگوتی پردانی تړل۔	۱۹۱
۵۲	دحیوانا تو دغټو بولو حکم اودشیان حکم۔	۱۹۱
۵۳	دچوپک بولی عفوہ دی دمرګ دبولو حکم	۱۹۲
۵۴	دمورک پیچی (پوچی)	۱۹۳
۵۵	دانسان د فضلہ جاتو حکم	۱۹۳
۵۶	متفرقات۔ مرکب دجماد اوحیوان څخہ	۱۹۴
۵۷	چہ مړ پہ کهو کښی ولویږی۔ دماهیت بدلیدو بیان	۱۹۵

نمبر	مضمون	صفحہ
۵۸	خرابہ سوی هگی ناپاکہ دہ اوچیچی ئی پاک دی	۱۹۵
۵۹	دحشرات الارض تیل۔ د دد پاک دی اوپہ مردار شی تو بنی مرداری دی۔	۱۹۶
۶۰	پہ ماء اللحم کی وینہ لویدل۔ نزیان الافاعی	۱۹۶
۶۱	۔دسوی پوچی پہ چلم کی څکول۔	۱۹۷
۶۲	نوشادر دخرہ دبولو سرہ گډول اودگل حکمت طریقہ ودسرہ کول۔ دهرښی ابری پاکی دی۔	۱۹۷
۶۳	هغہ تیل چہ شحمانی یا حشرات الارض پکښی وسوړای	۱۹۷
۶۴	دناپاکہ اوبو ماهی۔ چرگی تہ مردارشی ورکول اوبیا دغہ چرگہ حلالول ترحلالولو وروستہ دغہ چرگہ خوړل۔	۱۹۸
۶۵	دشرابو څخہ سرکہ جوړول۔ دوا دآس پہ خرشینوکی پټول۔ هغہ هډوکی چہ د لیوہ د غټو بولو سرہ ولویږی	۱۹۹
۶۶	پنیر مایہ (نفحہ) شتراعربی اوداسی نور	۲۰۰
۶۷	دمسلمان طبیب دپارہ داسی کول چہ نجسہ دوا مریض تہ ورکړی۔	۲۰۰
۶۸	دفاسفورس حکم	۲۰۱
۶۹	خاتمہ	۲۰۱
۷۰	دبعضو ممنوعہ افعالو بیان	۲۰۱
۷۱	دعورت دپټید و پہ بارہ کی بی احتیاطی	۲۰۱
۷۲	دختنی (سنت کید و پہ بارہ کښی بی احتیاطی۔	۲۰۲
۷۳	دکوچنی دنږیږید و پہ وخت کښی نارینہ ډاکټر اوستل د ولادت واقعہ پہ حلول	۲۰۲
۷۴	دشرعی محرم بیان اوحکم	۲۰۳
۷۵	باړی بی باکہ بنځی د واخانی تہ راتلل ددی د سالی د مؤلف (جوړونکی) عرض	۲۰۴

اطلاع

ددی رسالی چه کومی مسئلی د قیقی او غور طلبه وی احقر دغه په حضور کښی د قدوة المحققین زبدة المدققین حضرت مولانا شاه اشرف علی صاحب رحمة الله علیه پیش کړلی نو اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه دا احقر و رسره شریک کړی و روسته تر پوره غور او طلب ئی دغه مسئلی د نور وکتابو دکتلو په ذریعه حل کړلی.

ددوی د جملی څخه بعضی سوالات په وجه د نه موجودیت دکتابو قابل شرح صدر حل نه سوه د دی سببه ئی دد غو حواله اوسپارنه وحضرت علامه مولانا خلیل احمد صاحب انبیټهوی صدر مدرس مدرسه مظاهر العلوم سهارنپور ته وکړه - چنانچه احقر څلیر ویشت سوالونه دمولانا ممدوح په خدمت کی نوشته کړه او ورروئی لیږله - مولانا صاحب په پیر لمحققانه جواب سره د حوالو وکتابونه یکلی او د مظاهر العلوم د مدرسی د موجودو علماؤ مهرونه ئی پرو لگول

ترد غه ورو سته ئی راو لیږل دغه سوال

او جواب بجنسه په کتاب

اصلاح الطب کښی نقل

سویدی

هغه اکثره

ددغو حضراتو افادات دی

مگر عبارت او ترتیب د احقر دی هر څوک چه ددی

څخه متنفع سی نو دغه حضرات او تر دوی پولو و روسته دی

احقر په دعا کښی نه هیروی اوکه یو غلطی پکښی کی وی نو د احقر

طرف ته دی ئی منسوبه کړی اوکه ممکنه وی اطلاع دی راکړی.

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا وَتَقَبَّلْ

مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ط او په آخر ددی

الحجی ۱۳۳۳ سنه ه مقام میرټهه تاریخ طبع اول او

اخر شوال ۱۳۳۳ سنه ه.

بسم الله الرحمن الرحیم

د اصلی بهشتی زیور د نهمی حصی دوهمه ضمیمه طبی جوهر

سوی دین بهر طبیبان رهبر است ۔۔۔ بهر مرضی بصتر از سیم و زر است
زیور طب است و نادر گوهر است ۔۔۔ با مسمی اسم طبی جوهر است

حامداً و مصلیاً **مقدمه** ۔ وروسته تر حمد او صلوة ناخیزه بنده احقر د مخلوقاتو لخند مصطفیٰ بجنوری مقیم میرټهه محله کرم علی عرض کونکی دی چه خاکسار د حضرت مولانا مولوی محمد اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په اشاره سره کتاب اصلاح الطب لیکلی وو چه په دغه کتاب کښی د طبی مسائلو بحث په تفصیل سره سوی وو د اسی طبی مسائل چه د طبیب او مریض سره تعلق لری برابره خبره ده که ئی تعلق د مریض او طبیب سره د عباداتو په اعتبار وی یاد عاداتو او اخلاقو په اعتبار وی یا ئی د معالجاتو سره تعلق وی د حلال والی او حرامو الی په اعتبار د تفصیل خولا پریښوده بلکه هره دوا په دی کتاب کښی د تهجی د حروفو په شکل سره لیکل سویده او د دغی دواشرعی حکم هم ورسره لیکل سویدی او د ناجائزو دوایانو په بدله کښی نوری پیری گټوری خبری هم ورسره لیکل سوی وی چونکه دغه اصلاح الطب کتاب یو اندازه دراز او غټ سو نو د دی وجهی د حضرت تهانوی رحمة الله علیه د اخوښه سوه . چه د دی کتاب څخه د معالجاتو بحث په اختصار سره منتخب کړل سی او جلاء ساله ځندی جوړه سی ځکه چه د طب د مسائلو هغه حصه کوم چه د طبیب او مریض دواړو سره شریکه ده او د عامو مسلمانانو د پاره ئی پابندی ضروری ده هغه د غه د معالجاتو بحث او حصه ده نو د ارشاد د تعمیل په وجه د غه یوځه ورق منتخبی سوی چه د ناظرینو او کتونکو د پاره په طور د تحفی وړاندی کیږی. او حضرت تهانوی رحمة الله علیه د اهم خوښه کړه چه د غه رساله دی د بهشتی زیور ضمیمه وگرځول سی ځکه چه په بهشتی زیور کښی یو طبی جز د پخوا څخه هم موجود دی . او چونکه په دی رساله کښی یو څه مضامین د اسی هم ستره چه عام طور مستورات (بنځی) نه په پوهیږی (یعنی دلائل او داسی

نور هم یکښی سته چه په عربی ژبه لیکل سویدی لکه چه (ابه سی) نو دی سبب ددی رسالی الحاق د بهشتی زیور د اخیری حصی یعنی د بهشتی گوهر سره چه دنارینو و احکام یکښی درج دی مناسب معلوم سو.

بهرحال په لحاظ د مضامینو د بهشتی زیور سره هم ددی رسالی الحاق کیدای سی اود بهشتی گوهر یعنی یو ولسمی حصی سره ئی هم الحاق کیدای سی. دا رساله د بنځی او نر د واړو د پاره ضروری او په کار راتلونکی ده بنځی دی هم ددی مطالعه وکړی او په دی وجه چه دا رساله دیولوی کتاب (اصلاح الطب) خلاصه ده او و خلاصی ته لُبُّ الُبَاب یا جوهر وایی.

د زیور او گوهر د واړو پرون ددی نوم طبّی جوهر کښیښودل سو. و ددی رسالی ته مستقل کتاب هم ویل کیدای سی د زیور او گوهر تتیمه او ضمیمه هم ورته ویل کیدای سی د عامو او خاصو د پټو د مراعت د پاره ددی رسالی طرز دارنگه مقرر سو چه نفسی مسئلی یه ډیر آسانه عبارت سره و لیکل سوی او کوم مضامین چه د قیق وه یعنی دلائل او غیره وه هغه د حاشیو په طور په عربی ژبه و لیکل سوه. ددی د پاره چه عوام خلگ د دقیقو مضامینو د جنجال څخه خلاص سی او خاص خلگ د دلائلو په ذریعه سره اطمینان هم حاصل کړی. لیکن د اختصار د مراعتولو په وجه په مسائلو او دلائلو د واړو کښی پر قدرِ ضروری اکتفار سوی ده د تفصیل او تکمیل د پاره واصل کتاب اصلاح الطب ته حواله ورکړه سویده.

اَقُوْلُ وَبِاللّٰهِ التَّوْفِیْقُ

فائده جلیله: - د بعضو خلگو داخیال دی چه د علاج او معالجی د پاره د جائز او ناجائز د معلومولو ضرورت نسته. لکه مریض چه مرفوع القلم وی او د مریض د مطابعت وطبیب ته هم زړه غوښتو نکی آزادی حاصله وی داخیال غلط دی دعه خلگ باید هان پوهه کړی چه مریض د خدای پاک د حکومت څخه خارج نه دی خدای تعالیٰ لره پر جان (روح) مال او پټو شیانو باندی مالکانه حق حاصل دی او په دی معنیٰ کښی ئی فرمایلی دی. وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ - ترجمه: - که موږ پر خلگو فرض کړی وای چه خودکشی یعنی هانونه خپله مره کړی یا جلاوطنه سی نو ما سوی د شا څو نا د

څخه به نور د زمانه حکم تعمیل نه وای کړی که چیری د وی کړی وای هغه
ئی چه نصیحت کیږی د وی نه په هغه سړه نو به وای خیر د وی لره. معلومه
سوه چه خدای تعالی ته دا اقتدار هم حاصل دی چه قصداً د جان اوروح - د
تلفولو حکم وکړی لیکن داد حق تعالی کرم دی چه سړه د داسی اقتدار نه او قدرته
ئی په داسی تکلیفو نو مکلف کړی نه یو لیکن مختار مطلق ئی هم نه یو پری اینبی
بلکه د علاج او معالجی د پاره ئی هم یو څه قاعدی مقرره کړی دی او د غه
قاعدی داسی دی که په نظر د غور او انصاف سړه وکتل سی نو په د غو قاعدو
کښی خاطرخواه وسعت او گنجایش سته په د غو قواعدو کښی د وندی تنگی
هم نسته لکه د یو معمولی حاکم په احکامو کښی چه سته (لکه چه د دی
رسالی د مطالعی څخه به معلومه سی) د دی کرم او احسان قدر دادی چه
انسان د گناه څخه د ساتلو د پاره په زړه او روح سړه اماده وی او سی او د علاج
په داسی طریقه سړه اخته نه سی چه هغه د شرعی خلاف وی د مرض په
حال کښی د علماؤ د فتوی څخه خارج نه سی بلکه د مریض د پاره د د غه
ضرورت نسبت و روغ ته د دی سببه زیات دی. چه جور خو دیو څه
مهلت امید هم لری او مرض مقدمه د مرگ د نظر وظاهری اسبابو ته
هم د خاتمی وخت نژدی دی نو داکومه عقلمندی او هوښیاری ده
چه په گناه سړه بار مرسی.

بعضو د خدای بندگانو د مرگ په وخت کښی سړه د تکلیفه بعضی مستحبات هم
نه دی پری اینبی او د وی ته خپلو دوستانو او اشنایانو ویلی دی چه په
د غه حال کښی د تکلیف په وجه استحباب ساقط دی نو د وی جواب ورکړیدی
چه تکلیف خو لږ ساعت نور سته څه ضرور دی چه د مرگ په وخت کښی د
یوه مستحب ثواب ضائع سی. مریض د مرض په سختیو کښی مبتلا وی. د نور و په
قبضه کښی وی نو د دی سببه تیمارداران و (د مریض خدمتگارانو) لره په کار ده
چه د ده د لمانځه او تولو دینی ضرورياتو خیال وساتی - که چیری مریض یو
هیله او بهانه کوی نو تیمارداران دی همت کوی مریض د ی د گناه څخه وساتی
که د مریض خدمت کونکی متشرع وی نو بیاد خاتمی په وخت کښی د مریض
دایمان د سلامتیا په امید سته او که داسی نه وی نو فقط مریض گنهگاره نه دی

د مریض ټول خدمتګاران په دې ګناه کښې شریکان دی.

بلکه زیاته حصه دوبال د مریض پرخدمتګارانو باندې راځي. ځکه چه مریض د دوی په اختیار کښې دی. مریض او خدمتګارانو ټولو لره په کار ده لکه څرنګه چه نورې مسئلې د لمانځه، روژې وغیره د اپوښتنې باره کښې د علماؤ څخه فتوې طلب کړي.

د حضرت مولانا تهانوي رحمة الله علیه یو مضمون په عنوان د اصلاح معامله بالموتی رساله القاسم چه د جمادی الثانی په میاشت کښې په ۱۳۳۱ سنه کښې چاپ سویدی دغه په غوږ سره مطالعه کړي. نوټ:- دا مضمون په دې رساله کښې شامل سویدی - پرصـ ۲۰۱ ـه د دې حصې.

اوس داخبره زده کړه چه کوم شیان په علاج کښې په کار راځي څلور قسمه دی (۱) جمادات (۲) نباتات (۳) حیوانات (۴) دوی څخه مرکب شیان.

او دغه رنګه داخبره زده کړه چه د دغو شیانو استعمال دوی طریقې دی د دوارو حکم شرعی یو دبل د حکم څخه جلا دی - یو استعمال داخلی او بل استعمال خارجی دی - استعمال داخلی صرف ستونی اونس ته دیوشی رسیدونه والی یعنی استعمال داخلی د خولې او چنلو نوم دی د دی څخه ماسیوای چه هرڅوندی د استعمال طریقې دی

د استعمال داخلی او خارجی په منظور د اصطلاح فرق سره چه تفصیل دی ۱۲ فقهی د اصطلاح فرق سره چه تفصیل دی ۱۲ ... والاکتحال والقطور فی الاذن والانف والفرج والدبر والشیاف والتحمیل ... والاکتحال والقطور فی الاذن والانف والجروح والقروح والتضمید ... فی الاذن والجروح والقروح والتضمید ... بیان کښې نه دی راغلی ... ۲ دغه رنګه ... ۳ دغه رنګه ... ۴ دغه رنګه ... ۵ دغه رنګه ... ۶ دغه رنګه ... ۷ دغه رنګه ... ۸ دغه رنګه ... ۹ دغه رنګه ... ۱۰ دغه رنګه ... ۱۱ دغه رنګه ...

حتی چه استنشاق یعنی لوند شی په پزه سو ښول - سعوط یعنی لنده دوا په پزه کښی څڅول - نفوخ یعنی وچه میده سوی دوا په پزه سو ښول - سنون یعنی وچه میده سوی دوا په غاښو پوری مښوول - شموم یعنی وچه یا لنده دوا بویول. عطوس - یعنی هغه دوا په پزه سو ښول چه ترچل او نزله راولی - مقطع یعنی څڅول او مضمضه یعنی په خوله لنده دوا گرځول - د غه ټول داستعمال خارجی د جملی څخه دی په شرط ددی چه دوا و حلق ته نه ورسیږی.

لیکن د شموم څخه ماسیوای په ټولو کښی خطره ده چه دوا حلق ته ورسیږی بلکه اغلبه داده چه ورسیږی نو ددی سببه داټول هم داستعمال داخلی په حکم کښی دی او احتیاط ضروری دی چه د هرشی استعمال داخلی روانه وی هغه دی په د غو ذکرشوو طریقو سره هم نه استعمالیږی او که لږ څه وحلق ته ورسیږی نو د حرام شی د خوړلو گناه پرلازمیږی لکه مردار شی چه وخوړی او کښوک احتیاط کولای سی نو په فتوی کښی وسعت (پراخی) ستە.

د داخلی او خارجی استعمال حکم :-

دادی چه کوم شی نجس العین وی یعنی خپله ناپاکه وی لکه غښتی بولی، وږی بولی، شراب، مړسوی شی، د خنزیر غوښه او داسی نور د د غو شیانو استعمال نه خارجگاروادی نه داخلاً روادی. او کوم شی چه د بل شی د گډولی په وجه نجس سوی وی د د غه شی استعمال داخلاً درست اوروانه دی او خارجگاروادی لکه ناپاکه اوبه یا کُحل مراراًت یعنی هغه رانجه چه د تریخی اوبه ورسره گډی سوی وی په د غو اوبو کی جوړ سوی وی په شرط ددی چه د تریخی اوبه تر دوا زیاتی نه وی (د کُحل مراراًت بیان په تفصیل سره راروان دی) یا لکه هغه دوایانی چه شراب په گډوی په شرط ددی چه شراب لږ اود واړه وی لیکن د لمانځه په وخت کښی د د غو شیانو پریمنځل او باقاعده پاکول ضروری دی او که د د غسی ناپاکه شیانو څخه په خارجی استعمال کښی هم پرهیز وسی نو اولی او بهتره ده - حکه چه بعضی وختونه د مرض د سختی د وجهی د انسان خیال نه وی وکالوته هم مرداری ورسیږی یا لاس بیله پریمنځلو په یولوښی کښی اچوی د غه اوبه اولوښی مرداریږی د ټول کورته د غه مرداری اوبجاست سرایت

کوی او د ډیرو لمنځونه خرابیږی.

دبل شی دګډ ید د په وجه د یوشی د مرداړ ید و معنی دا ده چه د غه بل شی پرد غه پاک شی ډیر نه وی ورنه اکثر لره حکم د کل دی بیا نو هغه شی معتبر یږی چه اکثر او غالب دی مثلاً د یوی بدنی بولو سره یوه لپه او به ګډ ی سی نو دا نه سی ویل کیدای چه دا او به دی او د بولو دګډ ید و په وجه مرداړ ی سو یدی بلکه د دوی حکم د بولو غوندی دی او په عکس کښی ئ هم حکم برعکس ګرزی او دا خبره زده کول په کار ده چه په شریعت مطهره کښی د استعمال د منعوالی څو ورڅ وجهی دی (۱) مرداړ والی لکه وړی او غټی بولی او د اسی نور (۲) ضرر والی لکه زهر (۳) استخباث یعنی چه سلیم طبیعت کرکه او نفرت ځندی کوی لکه چنجیان، خزندګان او د اسی نور (۴) نشه راوستل.

د جماداتو بیان

۱- د جماداتو څخه مراد هغه شیان دی چه د نباتاتو، حیواناتو د حیواناتو د فضله جاتو، او د حیواناتو د اجزاؤ څخه ما سیوی دی لکه خاورې، سره زر، سپین زر، زرنیخ، ژر، زهر مهره (د ایو قسم ډبره ده چه زهرجز بوی) سنګ یشب (د ایو قسم قیمتی ډبره ده چه رنګ ئ وشینګښتی ته مایل دی) او د اسی نور- جمادات ټول پاک او حلال دی مګر هغه چه مضر وی یا نشه لرونکی وی روا نه دی. استخباث په جماداتو کښی مطلقا نسته که د مضر شی نقصان په یو طریقه سره ختم سی یا د نشه لرونکی شی نشه په یو طریقه سره ختمه سی نو بیائ استعمال هم روا دی ممانعت ئ ختمیږی د خاورې د خوړلو حکم د غه رنګه په پان کښی د اهاکو د خوړلو حکم د غه رنګه د ګل ارمنی (د ایو قسم سره خاورې ده چه تور والی ته مایله ده) ګیرو (د ایو قسم سره خاورې ده) ملتانی (د ایو قسم غوړ میچنه خاورې ده) سنګ یشب او د اسی نور و حکم هم

معلوم سو - نوکه چیری د د غو شیانو خوړل ناوان کوی روانه دی که چیری
تاوان نه کوی بیا روادی مثلاً په پان کښی زیات اهاک خوړل چه غابنو نه خراب
کړی یا یو بل تاوان پیښ کړی روانه دی او په قدر د ضرورت او نفعی روادی
په زیاتو اهاکو خوړلو کښی د اتاوان هم دی چه غابنو نه د اسی ساری او پیروی
څندی پیدا کوی چه په غسل کښی و غابنو او اوریو ته د د غو سره او پیتو په
وجه او به نه رسیږی او غسل نه صحیح کیږی - او د د ی څخه د کشر بچو
او زهر یا تو حکم هم معلوم سو چه د حاذق او معتمد علیه طبیب بی مشوری او صلاح
ئی استعمال روانه دی او که ئی چیری حاذق او معتمد علیه طبیب وړو څنه بی
یا ئی خوړل روادی خکه چه د غه طبیب ئی د یو نفعی د پاره او وسړی نه زهر مانی

تنبیه :- اعلم ان الاستعمال الخارجی وان جاز علی سائر الاعضاء سوی
لحلق والمعدة لکن بین الاعضاء فرقاً فی المرتبة فبعضها اشرف من بعض فالاشرف
حری بان لا یقربها نجس ولا شئ مستقذر ما امکن وتلک الاعضاء هی ما
وق الرقبه خصوصاً داخل الفم فلا یمضمض ما امکن بشئ ذی نتن ولا یستنشق
بغاً اللهم الا ان تلجأ للضرورة وشرف تلک الاعضاء لما ورد فی الحدیث ان
ملئکة تصور الجنین کله سوی الرأس فیخلقه الله تبارک و تعالی بیده ولما

نهی فی الحدیث عن اللطم علی الوجه و لقوله صلی الله علیه واله وسلم نظفوا افواهکم فانها طرق القرآن.

مشهوره ده چه خاوری خوړل حرامی دی مگر په دی کښی دا تفصیل دی چه کوم وخت خاوره تاوان کوی نو خوړک ئی روانه دی او کوم وخت چه تاوان نه رسوی بیا روا ده لکه په حال کښی د حمل لږ څه خاوره خوړل چه بنځه طبعًا وړته مجبوره ده لیکن د وند ی دی نه خوری چه یو فوړ څنډی پیښ سی یا په دوډی پوری مبتلی ایره خوړل یا سوی دوډی خوړل (یعنی دغه هم روادی) بعضی خلګ په دی کښی ډیر وهم کوی سوځلی ځایونه د دوډی لیږی کوی ـ نوره پاته دوډی د خوری د دی ضرورت نسته قدر قلیل یعنی لږ څه هیڅ تاوان نه کوی بلکه کومه توته د دوډی چه بالکل سوځل سوی او سکاره نه وی او صرف لږ څه توره سوی وی غوړ زول ئی روانه دی ځکه چه داد وډی د سکاره نه دی نوټ ۱۲ د مسئله نمبر (۱) څخه تر لفظ او د نټی د شیانو مخ ۱۷۸ پوری په نظر ثانی کښی اضافه سو ۱۲

(۱) مسئله ۱۲ سره او سپین زر هم په جاداتو کښی دی لیکن دوی پر نورو جاداتو نه قیاسیږی نور جمادات اکثره فقط د دواکار څنډی اخیستل کیږی او دغه سره او سپین زر د زینت او د اسی نورو کارونو د پاره هم استعمالیږی. شریعت دغه دواره یعنی سره او سپین زر د زیورانو په طریقه سره روا کړی دی او غوستو د پاره ئی نه دی روا کړی مثلًا چه دکالو په شان واغوستل سی او دکالو کار ورکړی. او ښکاره خبره ده چه زیور خو د ښځو د پاره دی د دی سبب ئی د ښځو د پاره په طور د زیور استعمالول روادی او د دغی طریقی څخه ماسیوی ئی په بله طریقه سره استعمال روانه دی.

بیان د دی دادی چه د سره او سپینو زرو سلائی یا سرمه دانی استعمالول یا د دوی په لوښی کښی دواخیستل یا اینبول یا او به پکښی چیښل یا معجون یا یو اړ شی د دوی په لوښی کښی اینبول روانه دی نه د ښځی د پاره نه د نر د پاره. دغه رنګه د اسی عینکی لګول چه پریم یا پښی ئی د سره او یا سپینو زرو وی یا اینبول سوی وی د دغو توله استعمال روانه دی.

ددی سبب آرسی منعه کړل سوید ه ورنه آرسی چه په طور د زیور استعمال سی هیڅ پروا نه لری لیکن په دی کښی په شان دا بنداری مخ کتل منعه دی

(۲) مسئله:- د سرو او سپینو زرو ورق خوړل یا په رنجو کښی اچول یا د سپینو زرو توته په دوا کښی ویلی کول (داد زهره د طاقت د پاره کیږی) یا د سپینو زرو او به اچول په دوا کښی روادی غاښونه د سرو او سپینو زرو په تار سره ټړل د حرج د دفعه کیدو د پاره روادی حکه چه په بله او سپینه سره دا کار نه سی کیدای چه د تار په لګولو سره ئ اوری شو پرېږی د دی سبب د سرو زرو پڑه لګول یا په بدن کښی ویو ځای ته د سرو زرو رګ، کولمه یا هډ ور اچول روادی حکه چه ماسیوی د سرو زرو څخه بله هیڅ او سپینه دغه کار نه سی ورکولای. دوریښمو حکم د سرو زرو غوندی دی لیکن د بنځو د پاره د وریښمو استعمال په هره طریقه سره روادی او د خنګو د پاره په طریقه سره دا غوستلو نارواد ی ماسیوای دا غوستو څخه په بله هره طریقه سره ئ د د وی د پاره استعمال روادی.

(۳) مسئله:- د نارینوو د پاره ترخلورو ګوتو پورې د وریښمو حاشیه او خامک لګول هم روادی مثلاً پرپته او غیره ئ جوړ کړی.

(۴) مسئله:- چه بدن سپږی کړی وی نو د علاج پرطریقه وریښمین کالی اغوستل هم روادی د تکلیف د دفعه کیدو د پاره په جنګ کښی هم وریښمینه جامه اغوستل روا ده حکه چه توره ئ نه خوری (نه ئ پری کوی)

سوال ۱- په کوم معجون یا خمیره یا مرکبه دوا کښی چه د سرو یا سپینو زرو ورق وی د دغه رانیول، خرڅول او قرض روادی او که نه دی؟ د دغه رنګه په کومه نسخه کښی چه ورق مذکور وی د دغه د عطار څخه په پور سره اخستل روا ده که نه ده؟ د دغه رنګه په کومو رنجو کښی چه ورق د اسی حل سوی وی چه مطلقاً نه معلومیږی نو د دی خرڅول رانیول په پور سره روادی که نه دی؟ او که چیری دارزانه وی نو د ده او د ملمع شده زیور څه فرق دی نکه د ملمع شده زیور څخه چه د سرو او سپینو زرو جلاکول ډیر مشکل دی - د دغه رنګه بلکه ترد غه زیات د رنجو یا مرکبی د وا څخه د ورقو جلاکول مشکل دی - د دغه رنګه پر نتایانو اوغوښو چه متایانی جوړونکی اوڼ صابن

د سپینو زرو ورقی (پرمتایانو او غوښو) لګوی په دی کښی پوره وادی که نه
دی؟ په دغسی معجونو او رنجو کښی د زرو ورقی وی زکوٰة واجبیږی او
که نه؟

جواب:- که د سرو یا سپینو زرو ورقی په معجونو کښی دا رنګه حل کړل
سی چه د ټولو دوایانو سره حل سی یو ذات وګرځی نو په دغه صورت کی
دغه ورقی د سرو یا سپینو زرو په شان د ملمع مستهلکی او قابلی د اعتبار
نه دی او که په پوره طریقه سره حل سوی نه وی نو په مثل د علم الذهب
علی الثوب محض تابع دی حکه چه د دی ته د سرو او سپینو زرو معجون
هیڅوک نه وائی بلکه د غالب جز په نامه سره ئی بولی. لیکن که په یو معجون
کښی ډیره او غالبه حصه د زرو ورقی وی لکه په خالصو شهدو (عسلو) کښی چه
ورقی حل کړل سی نو دی ته معجون ذهب او معجون فضه یعنی د سرو او سپینو زرو
معجون وائی او دی حکم به دګوټه[1] لچکه او داسی نور وی او په دی کښی به
د بیع صرف احکام هم دی او د زکوٰة وجوب به هم کی وی او په اولود[2] و صوره ټولو
کښی نه د بیع صرف احکام سته او نه زکوٰة یکښی واجب دی.

پرغوښو او متایانو چه کومی ورقی د زرو لګوی د دوی حکم د علم الذهب علی
الثوب د حکم په شان دی لیکن دوندی فرق سره لری چه په دی ځای کښی ضروری
نه دی چه دغه د زرو ورقی به ځلورګوتی یا تر ځلورګوتو کمی وی حکه چه
د ځلورګوتو د پراخوالی قید صرف د لباس یعنی د اغوستو په شی پوری خاص
دی.- (شامی ص۳۶۸ و ص۳۶۹ و ص۳۷۲ ځلرم ټوک

او د نشی[3] د شیانو حکم دادی چه کوم شیان د چ وی هغه ټول پاک دی او په
وخت کی د سخت ضرورت مثلاً د یو چاد علاج د پاره د طبیب په رایه سره دوندی
مقدار خوړل چه نشه نه ځندی پیدا کیږی روادی او د دوندی مقدار او
اندازی استعمال ئی هیڅکله روا نه دی چه نشه ځندی پیدا کیږی. لیکن حتی
الامکان د دوی څخه ځان ساتل او پرهیز کول اولی او انسب دی حکه چه اکثره
وخت ئی د لږ خورک او استعمال څخه د ډیر خورک او استعمال ته ئی قصه اونوښت ضرور ډیږی

د ضرورت او نه ضرورت خیال بیانه یاته کیږی لکه په شامی ص۲۵۳ پخم جلد کښی چه
راغلی دی - وَاَمَّا الْقَلِیْلُ فَاِنْ کَانَ لِلَّهْوِ فَهُوَ حَرَامٌ . ترجمه :- د دغو خشکو (وچو)
منشیانو کم مقدار (یعنی د نشی تر قدر کم) که چیری په قصد د لهو او لعب (یعنی
بیله یو معتد به غرضه) وی نو حرام دی.

مفرد او مرکب په دی کښی راغلل لکه افیون (تاریاک) بنگ، گانجه، چرس،
معجون فلک سیر او داسی نور چه په وخت کښی د حاجت د دوی د وندی قدر
استعمال چه نشه نه ځندی پیدا کیږی روا دی. او بیله ضرورته صرف د لهو او
لعب د پاره ئی خوړل روا نه دی که څه هم لږ وی.

په تاریاکو سره د بدن یو حصه کګړول یا په بنگ سره مریض ته نو بن
او خوله ورکول یا ئی یو توپه په یو ځای د بدن ترل چه غه یوں روا دی تاریاک
د نزلی او ریزش د دفعه کولو د پاره د وندی قدر خوړل چه نشه نه ځندی
پیدا کیږی یا فلک سیر په غرض د حلال امساک د وندی قدر خوړل چه نشه
نه ځندی پیدا کیږی روا دی او د نشی دغه شیان چه بهید ونکی دی یعنی
نرم او لاندې دی چه د دوی نه شراب وایی - د دوی یو اجمالی حکم خو هر
مسلمان ته معلوم دی - چه شراب سرکوږی، مردار، او سود او داسی نور
شیان دی چه د دوی سره د اسلام بالکل خلاف او ضد والی دی او دغه شیان
شریعت مال هم نه دی بللی. که دیو مسلمان سره دغه شیان وی او یو بل څوک
دغه شیان برباد کړی نو هیڅ تاوان نه سی ځندی اخستلای او عقدئ هم
صحیح نه دی او د پوره او تفصیلی حکم د لیکلو ئ د اځای نه دی ځکه
چه کتاب لویږی او د غه رنګه د مغلقاتو څخه هم خالی نه دی نو د دی
سببه پرضرورې قدر اکتفا کیږی.

پوره سه چه څلور قسمه شرابونه داسی دی چه په اتفاق د ټولو
علماؤ ناپاک او حرام دی هغه څلور دادی - (۱) د انګور او مه شراب، (۲) د انګور او
پاخه شراب، (۳) د منقی شراب او (۴) د خورما شراب - د دوی یو څاڅکی چنبل یا په
کور کی اینبول یا یو بل کار ځندی اخستل یا د دوی را نیول او خرڅول یو شی
هم روا نه دی. او د دغو څلورو څخه ما سیوی د نورو شرابونو په بیان کښی
ډیر طول دی چه دا ئی د بیانولو ځای نه دی (هدایة کتاب الاشربة) په دی

ځای کښی موږ صرف دهغو شرابو حکم لیکو چه د هغو څخه نن سبا ځان سائل مشکل سویدی چه هغه شراب - اسپرټ - دی چه تقریباً د انګریزی په پټولو ګډ دی او د دوایانو څخه ما سیوی په پټولو استعمالی شیانو هم ګډ دی. پنسل، رنګ، سیاهی، فرش، چوکی، تلنګ، نالی او دهرشی په رنګ او ر یا نفس ماهیت کښی د دی لره څه ناڅه د خل او حصه ضرور سته نکه چ خبره بنکاره ده د دی حکم دادی. چه دیوه روایت په روسره داهم ح نجس دی او په بل روایت سره پاک دی. او د واءً د غه سپرټ دوندی قد نشه نه ځندی پیدا کیږی داخلاً هم استعمالیدای سی که څه هم دسلیم ا مسلمان طبیعت داسی شی چه د ده په پاکی او مرداری کښی اختلاف وی نه قبلولای.

گویا داداسی دی نکه په پټولو بنی کښی چه او به وی یوسړی و وای دا او به دی او بل سړی داو وایی چه دابولی دی نو د نفیس الطبع انسان طبع ضرور د د غه څخه نفرت کوی.

لیکن عموم بلوی داسی شی دی چه د دی په وجه په فتوی کښی پر داسی موقع وسعت او پراخی راځی لهذا په دی کښی رعایت تشدد او سخ کول په کار نه ده. او څوک چه کولای سی بیادی احتیاط او پرهیز څند وکړی ځکه چه احتیاط او پرهیز څندی کول ډیره بهتره او ښه خبره ده. (ک قَالَ الْعَلَّامَةُ النَّهَانَوِیُ رحمة الله تعالیٰ علیه).

د دی بیان څخه د انګریزی د وایانو حکم خصوصاً د ټنکچر و حکم معلوم س داکثره د وایانو د جوهر په حاصلولو کښی اسپرټ لره ضرور د خل سته - او ټنکچر و حقیقت دادی چه د وا په اسپرټو کښی خیشتوی او صافوی لی په د سره په د وایی کښی د څرنګ نفوذ پیدا کیدل په رعایته درجه سره حاصلیږ د حضرت علامه تهانوی رحمة الله علیه په ملفوظاتو کښی راغلی دی چ په سره پوهی سره اَللّٰهُ یا مُحَمَّدٌ صلی الله علیه وآله وسلم لیکل رسما پ نزد ناپسند یده او ناخوښه دی ځکه چه په پوهی کښی د اسپرټو شب سته که څه هم بعضی اسپرټ د شیخینو په نزد طاهر او پاک دی. لیکر د امام محمد صاحب په نزد مطلقاً طاهر او پاک نه دی او د اختلافی مسئلو

څخه تر څو چه کیدای سی ځان ساتل په کار او بهتر دی خصوصًا چه د اکثرو علماؤ فتوی هم د امام محمد رحمة الله علیه پر قول ده۔

دغه رنګه په بل ځای کښی حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایی۔ چه هر اسپرټ د شراب په اربعه څخه نه دی۔ پس نو د شیخینو په نزد د دغسی اسپرټ استعمال روا دی لیکن فتوی د امام محمد صاحب پر قول ده چه د عامو خلګو جرأت او دلاوری زیاته نه سی۔ نو چونکه دا فتوی د فتنی د بند ولو د پاره ده د دی سبب نه د مبتلی د پاره د استعمال وسعت سته مګر د اهل تقوی د پاره په کار ده چه د هغه څخه پرهیز وکړی۔ او کوم عوام چه په کښی مبتلا وی پر هغو دی سختی نه کوی البته که په اسپرټو کښی سړکه واچول سی نو د دی تر انقلاب ورسته د سرکی په حکم کښی دی۔ او په هر شی کښی چه ګډ سوی وی نو تر انقلاب ورسته د هغه شی استعمال روا کیږی۔ اِنْتَهٰی قَوْلُ التَّهَانَوِیْ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ۔ دا غه رنګه په امداد الفتاوی کښی یو سوال او جواب دادی۔

سوال:۔ انګریزی دوا چه د چښلو د پاره وی په دی کی اکثره اسپرټ ګډ وی اسپرټ د شرابو د اعلی درجی یو قسم دی یعنی د شرابو جوهر دی نو هر وخت چه دا خبره یقینی سوه او پته لومنلی ده بیا نو د انګریزی هسپتال (شفاخانی) یا روغتون دوا چښل روا ده او که نه ده؟



الجواب ۱- اسپرټ که د عنب (انګور و) زبیب (منقی) رطب (لنده خورما) تمر (یعنی د وچی خورما) څخه حاصل سوی نه وی نو په دی کښی وُسعَتْ سته بنا پر اختلاف او که چیری د دغو شیانو څخه حاصل سوی وی نو بیا د جواز هیڅ امکان پکښی نسته بالاتفاق۔ (۱۲۳۴ھ ۲۱ محرم (نقل از رساله الامداد تهانه بهون هوشیارپور ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ هجری)

د دې اکثری د کتاب د مطالعه کولو څخه معلومه سوه چه اسپرټ دیوتیز قسم شراب دی چه د شرابو د مقطر کولو څخه تیاریږی او لیکلی یه دی چه په هندوستان کښی بیکاره قسم شرابونه جوړیږی مثلاً د پتاټو، بیری، اوربشو، غنمو او داسی نورو څخه جوړیږی او په یورپ یعنی اروپا کښی اعلی قسم شرابونه جوړیږی مثلاً د انګورو، سیبو، انارو، منقی او داسی نورو څخه جوړیږی۔

او د اسپرټو دری (۳) قسمه دی۔ بیدهولیټد اسپرټ، پروف (۲) اسپرټ او ریکټی فاید (۱) چه د دوایانو کارځندی اخستل کیږی هغه اعلی قسم اسپرټ دی دکوم بیوه نوم چه ریکټی فاید اسپرټ دی دا په قیمت (بیه) کښی هم تر نورو قسمونو ډیر زیات دی که چیری د ولایت یعنی د خارجی ملکونو څخه راغلی وی نو چونکه په ولایت کښی اکثره بنه شرابونه جوړیږی۔ نو د دی سببه دا احتمال دقوت په درجه کښی دی چه د دغه اسپرټ به هم د انګورو یا منقی یا خورما د شرابو مقطر وی که داسی وی نو حرام او نجس دی او په هره د واچه ګډه سی هغه د واهم حرامه او نجسه ګرځی که څه هم د دی احتمال په وجه بر هره د وا فتوی د نه جواز ورکړه کیدای نه سی لیکن د اضرورت ویل کیدای سی چه اولی او بهتره داده چه بیله کوم ضرورته د اسی د وایانی باید استعمال نه سی د دی بیان څخه۔ د هومیو پیتهک د د وایانو حکم هم معلوم سو چه بهتره داده چه د وی د دی بیله ضرورته نه استعمالیږی حکه چه د د وی اصلی او مرکزی جز اسپرټ دی او د نورو د وایانو جز برای نام پکښی وی۔

مسئله ۱- کلورافام بویول چه د اپریشن د پاره مریض په بی هوښه کړی روادی۔ (شامی ص ۴۵۷ پنځم توک)

دنباتاتو بیان:- نباتات ټول پاک او حلال دی مګر هغه حلال نه دی چه مضر یا مسکر وی د مسکر بیان مخکی تیر سو او په مضر کښی ممانعت د ضرر په وجه دی هر وخت چه ضرر نه سی پکښی یا ټ بیانو دهغه استعمال هیڅ پروانه لری لکه جمال کوټه، کچله او داسی نور چه د طبیب په مشوره او رای د دوی استعمال بی تکلفه جائز دی.

دحیوان بیان:- حیوان، انسان، اجزاء د حیوان، د حیوان فضله جات او نور متعلقات د حیوان ټول په دی باب کښی بیانیږی - انسان سره د ټولو اجزاؤ محترم دی برابره خبره ده که مسلمان وی که کافر وی ژوندی یا مړ انسان سوځل یا مړی خړځول یا راښول او مړی په غرض د تشریح په مطب کی ایښو ول کوچنی ترځو پوری چه مړنه وی د نس څخه ئی پریکول او را ایستل، د بنځی شیدی ماسیوای د کوچنی څخه د رضاع په ورځو کښی چنبل یا خارجًا استعمالول مثلاً په ستر گه یا غوږ کښی اچول ټول ناجائز دی.

د مومیا د بړ تصویرونه د تشریح د مشق او تمرین په غرض سره ایښو ول روادی په شرط د دی چه هر هر اندام ئی جلاوی د دی د پاره چه د تصویر په حکم کښی رانه سی په برقی الاتو سره د انسان د جسم د نننه حالات کتل او معلومول روادی په هغه وخت کښی چه انسان ژوندی وی.

① **مسئله:-** ژوندی روح لرونکی شی سوځل یا ترضرورت زیات تکلیف ورکول لکه ژوندی شی په تیلو کښی سوځل یا سیبنه د چیچیانو څکول او تر دغه ورسته ئی په گرم دال او ورجو یا گرمو او بو کښی ایښو ول او تیل ځندی جوړول جائز نه دی تر وژلو ورسته باید په تیلو کښی واچول سی په داسی کولو سره ئی چندانی په اثر کښی فرق نه راځی سره چینجان په سیبنه کښی بند وی تر یو څو ورځو پوری

لره ... پاکی دی ... بنځی شیدی ... نه دی ... طریقه سره ... دی ... مګر صرف په ... دوی استعمال روا ... طریقه ... دوی ... اسلام رضی الله عنه ... وقال علیه السلام ... الاسلام ... وقال علیه ... الاسلام ... الاسلام ... الاسلام

د غسی پریږدی د دی د پاره چه مړه سی داهم بی رحمی اوظلم دی. که ئی یو بله طریقه د نوګ او څرلو وی نو په هغه طریقه سره دی مړه کړی مثلاً په تیلو کښی دی واچوی چه نوګ مړه سی اوکه نه وی نو بیا د مجبور تیا په وجه جائز دی لکه فقهاؤ چه تشمیس د د د القز جائز بللی دی یعنی د وریښمو چینجان ئی په لمر سره وچ ول روا بللی دی حکه چه د دی د وچلو بله هیڅ طریقه نسته - چینجان د ماهیانو د سکار د پاره په چنګانو ځوند پیل هم عذاب او بالاتر ضرورت دی اول ئی باید مړه کړی او بیا ئی په چنګانو باید وپیی.

(۲) مسئله:- د څوندی شی یو جز چه په دغه جز کښی حس وی پریکول او کار ځندی اخستل جائز نه دی لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَا اُبِيْنَ مِنَ الْحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ یعنی عضو او اندام چه د څوندی شی پری کړل سی هغه د میتی او مړی په حکم کښی دی مثلاً د څوندی پسه بزی غوښه پریکول یا د څوندی آس - پر - پریکول او یو کار ځندی اخستل (پر - یو سخته چیز ته وایی چه د آس د ځنګو په حصه کښی واقع دی) او داسی جز پریکول او کار ځندی اخستل چه حس او ځوند پکښی نه وی لکه د څوندی پیل غاښونه کښل یا د بز او پسو وهی سکولول (بریکول) دا پاک دی نو که چیرته د حلال حیوان جز وی بیا یه نو خوړل هم روا دی او که د غیر ماکول حیوان جز وی یعنی چه غوښه ئی نه خوړل کیږی بیا ئی صرف خارجی استعمال روا دی

(۳) مسئله:- ماسیوی د خنزیر څخه د نورو پتولو څرندو حیواناتو بیعه دیو فایدی د پاره روا ده شامی ص۱۷۲ څلرم پتوک والدر المختار ص۱۷۲) برابره خبره ده که د غه حیوانات د وچی وی که د دریاب او اوبو وی کوچنی وی که لوی وی تر داسی حده چه د سپی، پرانګ، مار او داسی نورو حیواناتو بیعه هم روا ده اود هغو مړو حیواناتو بیعه هم روا ده چه پاک وی لکه د دریابی حیوانات یا هغه حشرات چه په دوی کښی بهید ونکی وینه نه وی یا وینه لرونکی حیوانات وروسته تر ذبحه کولو - حکه چه په ذبحه سره هر حیوان پاکیږی ماسیوی د خنزیر څخه

نو د خارجی استعمال د پاره ددوی د غوښو او د اسی نورو شیانو خرڅول او را نیول کیدای سی نکه چه ذ اخبره مخکی را روانه ده .

(۴) مسئله :- د دریابی حیواناتو پتول پاک دی که کوچنی وی که غټ وی که حلال سوی وی که نه وی حلال سوی لیکن دیوه شی خوړل ئی هم ماسیوی د مالکی مذهب د امام صاحب رحمة الله علیه پر مذهب روا نه دی او د خارجی استعمال د پاره پتول د دریابی حیواناتو او د دوی پتول اجزاء روا دی مگر د چونگو بنی وښل د مکروه والی څخه خالی نه دی . لِوُرُوْدِ النَّصِّ فِيْهِ - لیکن که مړه پیدا سی نو په خارجی استعمال کښی ئی هیڅ حرج او باک (پروا) نسته .

د احکم د دریابی چونگو بنی دی او د وچی چنگو بنه په دی وجه چه را وینه لری . مردار ده کا نو د دی سبب که د وچی چنگو بنه مړه پیدا سی د مرداری په حکم کښی ده لیکن که چیری ذ بحه کړل سی بیا پاکه ده یا د یره کوچنی وی چه تر اوسه پورې لا وینه پکښی نه وی . د اویو او د دریابی چونگو بنی د پښو د گوتو په مابین کښی پردی وی لکه د بطی .

د امام شافعی صاحب رحمة الله علیه پر مذهب ماسیوی د صَدَف (سیپ) چنگا بن، چونگو بنی، نا کی (د اد مگر مچه د قسم څخه یو دریابی حیوان دی) مار او کچهوی (سنگ پشت - کِشَپ) څخه نور پتول دریابی حیوانات حلال دی .

او د امام مالک صاحب رحمة الله علیه پر مذهب پتول دریابی حیوانات حلال دی د چنگا بن اثر په سوځلو سره هم نه ختمیږی نو د طبیبانو د پاره په کار ده چه سرطان محرّق (سوځلی چنگا بن) استعمال کړی چه د ناجائز کار څخه خلاص سی .

د جندبیدستر - استعمال د اخلاد هیڅ په نزد صحیح نه دی (جندبیدستر دیو دریابی حیوان د خایو بطوبت دی چه منجمد او وچ سوید ی په طور د دوا استعمالیږی) د احناف و په نزد دوو (۲) وجهو څخه صحیح نه دی یو د اچه جزد دریابی حیوان دی . ل د اچه خصیه یعنی خایی دی چه ممانعت ئی په حدیث شریف کښی منصوص دی او د نورو امامانو په نزد صرف د اخیری وجهی په سبب ئی د اخلاً استعمال روا نه دی او د پاکوالی په وجهه د جندبیدستر استعمال خارجاً درست او صحیح دی .

په عطرو کښی ئی اچول روا دی.

(۵) مسئله:- چونکه د ماهی د حلالو لوځو رت نسته نو دی سبب د کافرد لاس نیول سوی ماهی بیله کوم شک او شبهی حلال دی. علی هذا القیاس مالخ هم دئ

(۶) مسئله:- چینجان او خصمانان او د وحشی ټول حیوانات چه په دوی کښی بهید ونکی وینه نه وی پاک دی لکه اکثره حشرات الارض - مثلاً لیم مچهچی کوچنی کربوړی چه بهید ونکی وینه پکښی نه وی او هم کوچنی مار چه په دوه کښی بهید ونکی وینه نه وی خارجاً د دوی ټولو هر قسم استعمال روا دی او داخلاً د دوی ټولو هر قسم استعمال حرام دی. ماسیوی د ملخ څخه د دی سبب د کوئ مریض ته مچان ورکول یا د مردانه طاقت د پاره یو چاته د خورک د پاره خراطین ورکول روا نه دی (خراطین یو قسم اوږد کاسره چینجان دی چه په نوَنَهُ محکه کښی پیدا کیږی او په فارسی کښی کِرمِ گِلْ خور ورته وایی)

د خراطین او د اسی نور د اثرا و تاثیرد حاصلولو طریقه دا ده چه د غه شیان د چرگو په چیچانو وخوړه بیا نو چیچان خپله وخوړه لکه چه بیان به ئی مخکی راسی - کوچنی کربوئ او کوچنی مار هغه دی چه تر یوه لویشت کم وی کما فی قاضی خان - د یر کوچنی ماهی سره د کو لمو او د اسی نور د خوړل روا دی په اتفاق سره ماسیوی د شوافعو څخه شافی ص۳۰ پنځم ټوک

(۷) مسئله:- د چینجانو د لعاب (نارو) څخه بعضی پیدا سوی شیان چه د چا کرکه نه کُنده کیږی یعنی خوائی نه کُنده گرزی حلال دی لکه وریښم، شکر تغال او د اسی نور - للنص علی حلة العسل -

(۸) مسئله:- گولر (داد اینځرود میوی په شان یو ه میوه د ه یعنی په رنگ او مقدار کښی ورسره مشابه د ه) سره د خپلو چینجانو خوړل روا نه د ه د غه رنگه سرکه سره د چینجانو خوړل یا معجون یا بل شی چه چینجان ئی کړی وی. سره د چینجانو خوړل یا میتائی سره د میږ یانو خوړل د غه ټول ناروا او حرام دی. اوکه چینجان یا میږیان کُنده لیری کړل سی بیا ئی خورک روا دی کذا فی الشامی ص۲۹۹ ج۵

ماله خالف فی البقیه
ی د اکثر قیل د
ی دیا ر کا سره د
الارض بهید ونکی
ینه هم لری کله
مذبوح او داسی
نور ۱۲ منه حلال
هالک فانه قال
حشرات
الارض د و نا
الاصل فی الاشیاء
فی حیوة الحیوان با
الاباحة
والکراهة فی
الادویة

اوکه د شهدو (شانو - عسلو) د نښتیحلو په وخت کښی هغه واړه چینجان چه نر او سه پوری ئی ژوند نه وی کړی په شانو کښی حل کړل سی نو د دغو عسلو خوړل روا دی هیڅ پروا نه لری حکه چه دغه نه مردار دی او نه د حیوان په حکم کښی داخل دی - همه غسی حکم دی د هغو اوړو یا دواچه په دوی کښی د جالی په شان د چینجانو مادګه پیدا سی او نر او سه پوری لا چینجانو ژوند نه وی کړی نو دغه اوړه یا دواسړه د دغی جالی خوړل روا دی.

په سرکه کښی نر چونګلو ورسته دا وهم او وسواس نه دی پکار چه بوڅه چینجان به پکښی ریزمریزه (شوربدلی) وی او چونګل به فایده ورنه وی نه کړی (احیاء العلوم)

(۹) مسئله :- د میتی یعنی مړی خرڅول را نیول پټول باطل دی او میته مردار هم ده داخلاً او خارجاً ئی هیڅ قسم استعمال روا نه دی. ژوره، خراطین (کرم گل خور) او پټول حشرات الارض چه وینه نه لری څونکه نر مرګ وروسته هم مردار نه دی د دی سببه د دوی خرڅول او را نیول که وچ سوی وی او که وچ سوی نه وی لاندې وی روا دی او خارجاً استعمال ئی هم روا دی.

(۱۰) مسئله :- د خنزیر څخه ماسیوی پټول هغه حیوانات چه بهیدونکی وینه لری برابره خبره ده که ئی غوښی خوړل حلال وی یا حرام وی - په باقاعده حلالو لوسړه پټول پاکیزی یعنی د دوی پټول اجزاء غوښی، چربی، کولهی، لری، جوجوړی، نریخی او اعصاب (پلی) پټول پاکیزی ماسیوی د مسفوحه وینو څخه - نتیجه ئی داده چه خارجی استعمال د دوی هر قسم روا کیږی - مثلاً پرسر نړل او داسی نور لیکن خوړل ئی روا نه دی ماسیوی د حلالو او پاکو حیواناتو څخه - د دی مسئلی څخه طبیبان پیرکار اختلای سی - کولهی

له لفظ دباقاعده انتخابی / اوفضلاری ذبحی لرونکی / مسلمان اوکتابی ذبحی لرونکی / دی د دی تفصیل دفقهی پرکتابونو / اغنی د څخه دفدیه اصلاح القلب کی / خنزیر څخه / خنزیر څخه د دی / نر او سه پوری / اوداسی نور / د دغه کولو سره / پاکیزی ماسیوی / د مسفوحه وینو / ده چه اول ئی / حرام وی / حرام وی / حرام و

لری، جوجوری او تریخی پوټل د نجاست ظاهری او بنکاره څخه پریمنځل ضروری

(۱۱) مسئله:- میته یعنی مړه سوی مردار ره او نجسه ده ماسیوئ د دغو لاندی ذکر سوو اجزاؤ څخه وریښتان، هډوکی په شرط ددی چه پرد وی غوښه او غورځنګ نه وی. او پوست په شرط ددی چه رنګ سی او د پوست په حکم کښی هغه اعضاء دی چه جلدی اعضاء ورته ویل کیږی لکه مثانه، لری، تریخی، پوست، کولمی جوجوری او د بدن پردی د غه پټول شیان هم د پوست او څرمنی په شان په رنګیدو سره پاکیږی او اعصاب په شرط ددی چه رنګ سی - او نوکان بنونګری، بنکر، او زړه میتی او مړی د دغو اجزاؤ نه چه پاک ویل سویدی

د دی مطلب دا دی چه د غه شیان د سړی په جیب یا بل ځای کښی وی لمونځ ورسره صحیح دی خرڅول او را نیول ئی روا دی او که په یوطریقه سره - خارجًا استعمال کړل سی هم روا دی مګر میتی او مرداری (مړې) د هیڅ جزخوړل روا نه دی. برابره خبره ده که د غه مړ سوی شی ماکول اللحم وی یا غیر ماکول اللحم وی لیکن د خنزیر پټول اجزاء مردار دی که د غه لوړ ذکر سوی اجزاء دی که د دی څخه ماسیوی نور اجزاء وی. او بعضو فقهاؤ چه د خنزیر په وریښتانو سره د ګنډلو اجازت ورکړی دی هغه د هغی زمانی دپاره وخت ضرورت محمول دی اوس ئی هیڅ اجازت نسته کما فی الشامی. د پوست، څرمنی، اعصابو او داسی نورو شیانو د رنګیدو معنی دا ده چه د خرابیدو څخه ئی وساتی.

(۱۲) مسئله:- عاج یعنی د پیل غاښونه پاک دی برابره خبره ده که د مړه پیل وی یا څرونده پیل وی لیکن داخلًا استعمال ئی روا نه دی او خارجًا هر قسم استعمال روا دی (د داخلی او خارجی استعمال تعریف د رسالی په شروع کښی تیر سویدی)

(۱۳) مسئله:- د کومو حیواناتو غوښه خوړل چه حرامه ده د دی سیدی هم حرامی او نجسی دی د حلالو حیواناتو شیدی حلالی او پاکی دی که حلال حیوان مړ سوی نه وی ده د غوڅلانغی او تیو څخه را وتلی شیدی هم حلالی او حلالی دی - د تمامۍ د دی قول لَبَنُ الْمَيْتَةِ طَاهِرٌ مطلب هغه دی چه ذکر سو.

دخری شیدی په سِلُ او دِقُ کښی چښل تداوی (د واکول) بالحرام دَه داسې شیدی حلالی او پاکی دی حُکه چه جنس آس حلال دی لیکن مصلحةً منعه سویدی

دهګی بیان:- دهر حیوان هګی د دغه حیوان د غوښی حکم لری مګر په دی خبره کښی فرق سړه لری چه حلال او پاک حیوان که چیری مردار سی او په نس کښی هګی وی هغه را وایستل سی نو دغه هګی پاکه او حلاله ده لکه د شیدو مسئله چه ذکر سوه او پر دغه هګی چه سر بیره کوم رطوبت وی هغه دی پریښتی

(۱۴) **مسئله:-** غیر ماکول یعنی حرام حیوان چه غوښه ئی نه خوړل کیږی او بهیدونکی وینه لری که چیری ذبحه سی سړه دی چه غوښه پوست او داسی نورئی پاکیږی مګر هګی ئی په ذبحه کولو سړه نه پاکیږی - (وتمامه فی اصلاح الطب) لان البیض لایؤثر فیه الحیوٰة ولاالموت فلایؤثر فیه التزکیة فیبقی علی حالة الاصلیة

(۱۵) **مسئله:-** حرابه هګی د حلال حیوان چه هر وخت په وینه بدله سی نو حرامه او مردار ګرځی او هر وخت چه د وینی څخه چیچی جوړ سی نو بیا حلاله او پاکه ده (په وجه د تبدیلی د ماهیت) او که چیچی څندی جوړ سوی وُ لیکن تر اوسه پورې لا ساه نه وه کړی را غلی بیا هم پاکه ده او د دغی هګی خوړل هم روا دی حُکه چه غوښی دی. او د حرام حیوان هګی په اول او دریم صورت کښی حرامه او نجسه ده او په دوهم صورت کښی هر هغه وخت چه چیچی ژوندۍ کړی وی پاکه ده مګر سړه د پاکوالی حرامه هم ده.

د حیوان د فضله جاتو بیان:- دم مسفوح ناپاکی دی مسفوح هغه وینی دی چه د بهیدو قابلی وی د غه وینی یاد دوی یوځه حصه پټولی مردارۍ دی د دوی داخلګا یا خارجګا هیڅ قسم استعمال روا نه دی - د ذبحه سوی حیوان پرغاړه

---

۴ او دغه چیچی میتی نه ده سړه کیږی

حیوان نه دی بلکه د دوی څندی دی

۱۱ سړه په هر وخت چه بدله وینه

حرامه والی او هر وخت

سوه په وینه بدله سوه نه

نو وی کیږی او نجسه

دی حرامه

چمشاد خوا یو څه وینه د حلالید و یه وخت کښی د منلی هغه بهید ونکی وینه ده بیله پریمنځلو او وینی ایری کولو دغه ځای نه پاکیږی. لیکن کومه وینه چه په رګو نو یا پوست وغیره کښی د ننه پاتیږی هغه نه بهید ونکی وینه ده او دنفا للحرج پاکه ده خو هاله ئی هم روادی او د دغی[1] وینی څخه ماسیوی نوره وینه چه بهید ونکی وی پاکه ضرور ده. مګر داخلاګ ئی استعمال روا نه دی مثلاً څوک د غواړی چه د کتمل وینه و خوړی د کوتری وینه پر پروان (داد ستر ګو او باندو ګانو یو مریضی ده) ټګول روا نه ده حکه چه بهید ونکی وینه ده او د کتمل وینه پر ټګول روا ده حکه چه نه بهید ونکی وینه ده حشرات الارض (د محکی خزنده ګان) غیږ ذی دم مسفوح منل سویدی دغه رنګه ټول د رپاتی حیوانات برابره خبره ده که غټ وی که واړه وی ټول غیږ ذی دم منل سویدی کر بوټی او مار چه تر یوه پوره لویشت کم وی کوچنی دی دوی هم غیږ ذی دم مسفوح منل سویدی (کذا فی قاضی خان)

نوونه، زړی او ټوله هغه رطوبتونه چه د زخمو څخه راوزی هر کله چه او دس په ماتیږی د وینو په حکم کښی دی هیڅ قسم ئی استعمال روا نه دی تر دامی حده چه پر زخم مستی واچوی او په سپی ئی څټی دا په دوو وجهو جائز نه دی یو دا چه د سپی ناپاکی نجسی او مردارۍ دی او د نجس العین استعمال خارجګا هم نا روادی. دوهم وینی او زړی نجس دی په حیوان سره ئی هم څټل جوا ز نه لری.

(۱۶) مسئله:- کومه وینه چه ژوره د زبلینی دغه وینه مسفوحه یعنی بهید ونکی وینه ده او ناپاکه ده البته که د ژورۍ د بدن جز وګر زی نو د ماهیت د تبدیلی په وجه پاکه ده علامه ئی دا ده چه د دی په نښتیځلو سره وینه نه څندی و وزی. د حلالو مرغانو ټول فضله جات ماسیوی د وینی پاک دی مګر داخلاګ ئی په وجه د استخبات[2] هیڅ قسم استعمال هم نه دی روا - د حلالو مرغانو جوجوری هم حلال دی مګر خورک ئی هغه وخت روادی چه پاک پریمنځل سی ګندګی څندی پاک کړل سی - د چرګ، بطی او مرغابی ګندګی هم مردار دی.

[1] یعنی ماسیوی د هغی وینی چه په رګو کښی یا په پوست کی پاته سی ۱۲

[2] ۱۲۳۰

(۱۷) مسئله:- کحل مراارات یعنی هغه رانجه چه د تریخی او به پهگډی سوی وی - نو د غه رانجه به خالی نه وی یا به د حلالو پرندهگانو یعنی مرغانو د تریخی او به پهگډی سوی وی بیا د غورانجو استعمال بیله تکلفه روا دی او رانجه پاک دی. لیکن که د چرگ، چرگی، مرغابی یا بطی د تریخی او به پهگډی سوی وی بیا د غورانجو استعمال روا نه دی د غه رانجه نجس دی حکه چه د د غو مرغانو د تریخی حکم د د وی د گندگیو په شان دی. او یا به د حرامو مرغانو د تریخی او به یا ماسیوی د پرندگانو څخه د یو بل ذی دم حیوان د تریخی او به پهگډی سوی وی نو بیا ناپاکه دی او هغه وخت روا دی چه نسبت د تریخی او بو ته نورې د وایانی زیاتی وی لیکن د لمانځه په وخت کی به ستر گی مینځی دا به هغه وخت مینځی چه او به سر بیره پرستر گو بهیدلی وی او که چیری نورې د وایانی زیاتی نه وی بلکه د تریخی او به زیاتی وی نو بیا روا نه دی حکه چه نجس العین دی بلکه بولی - (شامی صفحه ۳۶۱ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- د بزی تریخی سره د اوبو د گوتی د سر پرد انه لگول او استعمالول د امام محمد صاحب پر قول روا دی حکه چه د د ه به نیز د د مأکول اللحم حیواناتو بولی پاکی دی.

(۱۹) مسئله:- د ټولو حیواناتو گندگی ماسیوی د حلالو مرغانو څخه ناپاک دی لیکن د کومو څخه چه ځان ساتل گران وی لکه د مچ گندگی یا د وریښمو د چینجو فضله چه تر د یرکو ښښن و روسته هم څه ناڅه په وریښمو کښی پاتیږی

لانه اذا استثنی ... وفی بین الطیب ... فعلی ... للضرورة ... حال کونی ... نجسة ... دخلق ... بخلاف ... الاوز ... والبط ... الاول ... الاول ... الاول

د عمومی بلوی د وجهی نی د چوپړک (شب پرک - شکلی) گندگی هم پاک بللی دی یعنی عفوه دی تر دې حده چه بعضو فقهاؤ د پښی بولی پر جامه هم پاکی بللی دی. یعنی عفوه دی او په اوبوکی نی مردارې بللی دی. (لان المدار علی البلوی)

نو بنا پردغه به د مارا او څړوړی گندگی هم نجس وی (لعدم البلوی فیها) او دغه رنگه به شیان مگسی (دا په ستړگو کښی د استعمالولو د پاره یوډاډه چه دمچ گندگی هم په گډیږی) هم نجس وی حکه چه د ستړگو په پاره کښی بلوی نسته مگر په ستړگو کښی اچول به نی روا وی حکه چه غلبه نه ورډاډه نجس العینه نه دی لیکن د لمانځه په وخت کښی نی پری مینځل ضروری دی په شرط دی چه تر ستړگو د باندی هم بهیدلی وی.

(۲۰) مسئله :- د حرامو مرغانو گندگی هم مردارې دی لیکن نجاست خفیفه دی لیکن دخانه په پاره کښی عفوه بلل سویدی لعموم البلوی د نجاست د خفیف والی اثر پر حرمت د استعمال هیڅ اثر نه کوی غلیظه او خفیفه د واړه پوشان دی صرف د لمانځه په پاره کښی فرق سره لری. چه د غلیظه مقدار قدر دیوه درهم دی او د خفیفه مقدار څلرمه حصه د جاڼی دی کومی اوبه چه په نجاست خفیفه سره مردارې سوی وی هغه اوبه هم نجاست خفیفه دی او چه په نجاست غلیظه سره مردارې سوی وی بیا نجاست غلیظه دی.

(۲۱) مسئله :- د چوپړک (شب پرک) بولی بعضو فقهاؤ د عموم بلوی په وجه پاکی بللی دی (یعنی عفوه نی بللی دی) او بعضو د دی وجهی څخه پاکی بللی دی چه خپله چوپړک هم پاک او حلال دی. (شامی ص۱۳۵ اول پتوک)

(۲۲) مسئله :- د مرغانو څخه ماسیوی د حلالو حیواناتو ناپاکی، عرق یعنی خوله او څپړه بټول پاک دی او د حلالو حیواناتو بولی نجاست خفیفه دی. نور پاته فضله جات د دوی لکه هغه شی چه په معده (لړي) او کولمو کښی وی د هغه رنگه غټی بولی: منی او داسی نور شیان د دوی نجاست غلیظه دی.

(۲۳) مسئله :- د مرغانو څخه علاوه د حرامو حیواناتو بټول فضله جات، ناپاکی مذی بطن (هغه شیان چه په لس کښی نی وی)، غټی بولی، وړی بولی، منی، خوله وخړه بټول مردارې او نجس دی په نجاست غلیظه سره نو بنا پردغه دپیل د

نه لیکن دا نجاسات په وجه نی خو هیڅ روا نه دی ۱۲ منظر ثالث ص۱۳۰ دی صورت کښی وړی تر پاکی نه وایو بلکه معفو عنه

ص ۱۳۰ ثالث وایو ۱۲

غوښ خیره هم نجسه ده که دبل شی سره د غه خیره ګډه سی نو بیائ خارجًا استعمال - روادی په شرط دی چه خیره پر د غه بل شی غالبه نه وی . اوکه چیری بیوازی خیره وی یا پرد غه بل شی باندی خیره غالبه وی نو بیائ استعمال روانه دی . د خره او غانړی عرق یعنی خوله خلاف القیاس پاکه ده نو د د وی خیره هم پاکه ده خارجًا ئ استعمال روادی

(۲۴) مسئله :- د موږک بولی نجسی دی مګر د فعًا للحرج عفوه بلل سوی دی د غه رنګه د ده د پچود عفوی حکم د حرج نر موا قعو پوری محدود دی مثلًا پچی ئ په دوا یا عرق کښی ولویدی په شرط د دی چه مائع او خلطی کی نه سی یا په مقدار کی زیاتی نه وی او قصدًا به ئ استعمال روانه وی لکه په ښ پوری ټرل لښ په ککړول یا ئ په هغه چا خوړل چه سپی دا پرلی وی مګر هغه وخت به ئ استعمال روادی چه بله هیڅ دوانه وی حکه چه د غه د پیری مجرب دی

(۲۵) مسئله :- د انسان خوله ، خیره ، اوښکی ، ګرنګ او ناپری ټول پاک دی ناپری ئ په مرسپو می پوری لګول یا ئ په ستړګو پوری لګول او د غوښ د خیره ئ

خارجګا استعمالول ټول جائز او روادی داخلاً د غه شیان استعمالول په وجه د استنجاء روا نه دی. د دغو څخه ماسیوی ټول انسانی فضله جات نجس دی نه داخلاً جواز لری نه خارجګا جواز لری او نږدی چه ماتو نکی داود اسه نه وی د دم غیر مسفوح یعنی نه بهیدونکی وینی په حکم کښی دی یعنی ناپاکه نه دی مګر مستحبث دی داخلاً یُ استعمال روا نه دی.

متفرقات ۱۰ په دی باب کښی د هغو شیانو بیان دی چه د جماد، نباتاتو حیوان څخه مرکب وی او د غه رنګه په دی باب کښی د متفرقو مسئلو بیادی محکمی بیان سوی. چه په شریعت اسلامی کښی د شی د حرمت علتونه څلور شیان دی. نجاست یا مضرت یا استخباث یعنی دیوشی خواګرزنوالی چه د طبیعت خواهنده ګرزی نفرت هنده ګوی لکه د چینجا تو خوړل - یا نشه.

هر وخت چه شی د نجس و غیر نجس څخه مرکب سی نو حکم یُ د نجس دی لیکن دوندی تفصیل پکښی سته که نجاست پر بل شی غالب او چیره دی نو بیا یُ د نجس العین حکم دی یعنی استعمال یُ داخلاً جائز دی او نه خارجګا جائز دی مثلاً یو خوک په یوه بدنی بولو کښی یوه لمبه اوبه واچوی او بیا ورغواړی چه خارجګا یُ استعمال کړی نو دا جائز نه دی. او که چیری بل شی پر نجاست غالب وی نو ناپاکه خو دی مګر خارجی استعمال یُ روا دی لیکن د لمانځه په وخت کښی یُ پریمنځل ضروری دی او احتیاط اولی او بهتر دی. که د مرداړ او پاک شی تر ګډ ولو او ګډ بیدلو وروسته یو مُطَهِّر یعنی یو پاکونکی موجود سی یعنی اپه یو معتبره شرعی طریقه سره پاک کړل سی نو د طهارت او پاکی حکم بیرته راګرزی او که چیری یو مطهر موجود نه سی نو بیا د غه مرکب د مردار او حلال څخه پرځپله مرداړی قائم او ثابت پاته کیږی. تبدیل د ماهیت هم مُطَهِّر یعنی پاکونکی دی. هر وخت چه مضر او غیر مضر شیان سره ګډ سی که چیری یُ د ګډ بیدو په سبب نقصان او ضرر ختم سی نو ممانعت یُ هم ختمیږی. لکه د سنکهیا یعنی سم الفار سره چه یو داسی شی ګډ سی چه زهر یُ ورختم کړی یا زهر ناګه شیان مدبر او اصلاح کړل سی او ترمُدَبَّر کیدو وروسته د دغه

قدر وخوړل سی چه ضرر نه رسوی او هر وخت چه خبیث یعنی خو اگر زن او غیر خواگر زن شی سره گډ سی که چیری دد وی ترگ پیدا وروسته استنجاء یعنی خواگر زی لاوکړکه پاته وی نو د حرمت حکم هم پاته دی اوکه چیری د وی ترگ پیدا وروسته استنجاء پاته نه وی نو د حرمت حکم هم نه پاتیږی.

مثلاً په کټوکښی یو مچ ولوږی نوکه چیری مچ په بنور واکی حل نسی نو بیا د دغه مچ خوړل روا نه دی اوکه چیری په کښی حل او ورک سی نو په ټوله کټوکښی یو مچ گډ بدل اوحلیدل هرنا مستخبث یعنی کرغیړن او خواگرزن نه بلل کیږی. لهذا دغه بنور واحلاله دی حالانکه اجزا د دغه مچ په دغه بنور واکښی یقیناً موجود دی (کذا وجدنا فی احیاء العلوم) منه

دماهیت دبدلید و بیان

د ماهیت په بدلید سره هم احکام بدلیږی مثلاً د انګور د او به پاکی دی لیکن هر وخت چه بل شی یعنی شراب وگرزی نو بیا مردار یږی او هر وخت چه شراب بیا بدل سی یعنی سرکه وگرزی نو بیا پاک او حلال گرزی. د ماهیت د بدلید و د امعنی دی چه د یو شی څخه بل د اسی شی جوړ سی چه د دغه د وهم شی حکم د اول شی د حکم څخه بالکل خلاف وی مثلاً د مردار شی څخه یو د اسی شی جوړ سی چه د دغه شی پاک وی نو د دغه مردار شی پاکیږی لکه انبار چه ناپاکه دی مگر هر وخت چه خاوری وگرزی نو بیا پاک دی حکه چه خاوری پاکی دی. یا مثلاً هګۍ پاکه دی مگر هر وخت چه وینه وگرزی نو هګۍ ناپاکه گرزی حکه چه وینه ناپاکه دی او هر وخت چه بیا دغه وینه د غوښی توټه وگرزی بیا نو پاکه دی حکه چه غوښه پاک شی دی. اوکه انقلاب د دواسی شی و طرف ته راغلی چه حکم ئی هم هغه وی د کوم چه تر انقلاب مخکی وو نو بس د غه مخکی حکم ثابته پاته کیږی یعنی که مخکنی حکم د پاکی وو نو تر انقلاب وروسته هم حکم د پاکی دی. اوکه مخکنی حکم د نجاست او مرداری وو نو تر انقلاب وروسته حکم هم د نجاست او مرداری دی.

مثلاً پاک هډوکی وسوځل سوه ایری وگرزیدل نو انقلاب خو راغلی مگر هغه مخکنی حکم ئی پاته دی حکه چه ایری هم پاکی دی اوکه نطفه یعنی منی وینه وگرزی نو انقلاب خو راغلی لیکن د ناپاک شی انقلاب د ناپاک شی و طرف

ته راغلی پرهذا حکم ئی برقرار ه پاته دی. لیکن هر وخت چه دغه وینه مضغه (د غوښی ټوټه) وګرزی نو بیا پاکه ګرزی حُکه چه مضغه ګوشت پاکه ده او که انقلاب پوره راته غلی یعنی دوهم شی حُنډی جوړ سو لیکن ماهیت ئی بدل نسو صرف یو قسم تبدیلی پکښی راغله نو بیا احکام نه بدلیږی لکه د ناپاکو غنمو څخه چه پوډی پخه سی نو پرځای د غنمو خو ئی شکل دپوډی وګرزیدی.

لیکن داد وهم شی جوړیدل نه بللکیږی.

(۱) مسئله:- که ئی د حشرات الارض یعنی د مځکی د خزندګانو څخه سیبنه چه کړه او بیا ئی تر سیبنه لاندی اوربل کړی تیل ئی حُنډی وایستل نو د دغو تیلو خوړل روا نه دی دامعرف یو داسی استحاله سوه لکه د ناپاکو غنمو شیره چه څوک وباسی یا د ناپاکه اوبو څخه چه عرق وباسی

(۲) مسئله:- دود دهرشی پاک دی حُکه چه دود دهغو سو حُل سوواجزاؤ نوم دی چه د پرکو چنیوالی اوسپکوالی په وجه د حرارت په اثر سره الوزی یا دسکرو وپړی وپړی زړی دی او بخار ه خبره ده چه سکار ه تر سو حُلو وروسته جوړیږی او سو حُل کیدل د ماهیت تبدیلیدل دی او بخار یعنی توښ دمردار شی مردار نه دی. حُکه چه په توښ کښی احتراق یعنی سو حُیدل نسته بلکه هغه اوبه دی د حرارت په وجه پورته کیږی. لکه یو څوک چه اوبه پاشی اوکه توښ اود ودیو ځای سره پورته کیږی یعنی توښ او دود سره ګډ سی نو بیا نجس دی حُکه چه نجس او غیر نجس سره ګډ سوه د توښ او دود دګډ ید و علامه داده چه په یو ځای پوړی و مینلی نو بیا څاڅی او دلاندنه شی څخی که توړ رنګه توښ پورته سی نو د غه هم دود او توښ سره ګډ سوید ی

(۳) مسئله:- که ئی ماء اللحم جوړ کړی او دینه یا بل ناپاک شی پکښی ولویدی نو عرق نجس او حرام ګرزی او که په ماء اللحم کښی خراطین (کرم ګل خور) یا داسی نور غیر ماکول پاک شیان واچول سوه نو بیا ئی چیښل حرام دی (که څه هم ناپاک نه دی) حُکه چه په دواړو صورتونو کښی ماهیت بدل سوی نه دی.

(۴) مسئله:- که ئ د سوی د وچو پچو څخه چیلم ډک کړی او د باد و د پاره ئ وخکاوی نو دا روا دی حکه چه د ود پاک دی که څه هم په او بوکښی راغلی دی حکه چه په او بوکښی د را تلو څخه مخکی پاک وو او که چیری د لندو پچو څخه چیلم ډک کړی یا و چی پچی د شیری سره گډی سوی وی چیلم په ډک سوی وی نو د د وی د ود د تو بن سره گډ سو په دی وجه د چیلم دغه د ود نجس دی نو سر خانه، چیلم او خوله ټوله نجسیږی او څکول ئ حرام دی.

(۵) مسئله:- نجس او مردار شی په او بوکښی ایشول تو بن حُندی اخیستل یعنی تو بن ته ئ بدن یا کالی نیول داسی حکم لری لکه په ناپاکه شی سره چه یو شی ککړ سی یعنی فی نفسه جائز دی مگر بدن یا کالی په مردار یږی په شرط دا دی چه د وند ی تو بن پرکالو او غیره ولویږی چه یو څاڅکی حُندی وځیږی او صرف د گرمید و په وجه سره د نجاست حکم نه پرکیږی.

(۶) مسئله:- نوشادر چه د خره په بولو یا بل شی گډ کړی ترگډ ولو ورو سته ئ په یو لوبنی کی کښیږ دی او پر دغه لوبنی سر بیره یو بل لوبنی کښیږ دی په خپو سره ئ ککړ کړی او عرق حُندی و باسی نو څوند ی عرق (جوهر) چه په سر بیره لوبنی کښی قرار و نیسی هغه پاک نه دی. حُکه د غه عرق یعنی جوهر د د غو نجس شده نوشادر و بخارات دی او په بخارا تو کښی تبدیل د ماهیت نه راځی.

(۷) مسئله:- ایری د هر شی پاکی دی حُکه چه ماهیت بدلیږی بنا پر د غه دانسان د هر و کو ایری او د خنزیر د هر و کو ایری هم پاکی او حلالی دی هم داخلاً هم خارجاً لیکن دانسان هر و کی د مسلمان د پاره سو حُل روا نه دی او که چیری ضرورت وی نو بیا دی د هند و سوز څخه ایره سرا واخلی.

(۸) مسئله:- که په تیلو کښی حشرات الارض یعنی خزندگان او خمامان وایشول سی تر داسی حده چه و سو حُل سی سکاره سی نو د د غو تیلو خوړل او لگول او د غه سو حُل سوی سکاره خوړل او لگول ټول روا دی. حُکه چه په وجه د تبدیلی د ماهیت ئ استخباث ختم سو او که چیری شخاي یا بل ناپاک شی په تیلو کی وایشول

سی وسو حُل سی نو دغه شخاي او ناپاکه شی د ماهیت د بدلیدو په وجه پاک اوحلال
گرزی او دغه شی دی د تیلو څخه بنه صفا او پاک کړی او کارد ی حُندی واخلی
او تیل مردارد ی حُکه چه هر وخت نجس شی په دوی کښی واچول سو نو ناپاکه سوه
او نرد غه د رد سته ئ په هیڅ طریقه سره طهارت او پاکی نه سوه ۱۲ حاصله - خارجًا
ئ استعمال روادی لیکن د لمانځه په وخت کښی ئ پریمنځل او پاکول ضروری دی او
داخلًا ئ استعمال روانه دی.

(۹) مسئله :- د ناپاکه اوبو ماهی پاک اوحلال دی حُکه چه کوی او به ده چینلی
دی هغه د ده د بدن جز گرزیدلی دی چه اوبه د بدن جز وگرزی نو داهم
د ماهیت تبدیلی ده لیکن هغه اوبه چه پر ماهی سر بیره دی ماهی په ککړ دی
نو ماهی دی پری مینځی او د دغو اوبو څخه دی پاک کړی لیکن که په د غه ماهی کښی
د دغو اوبو بد بوئي موجوده وی بیا فقهاؤ مکروه بللی دی نو دی نرد سره وړحُو
پوری په پاکو اوبو کښی ایله کړی او بیادی وخوړی مگر د ده کراهت د گندگی
خوړونکی غوا نرکراهت کم دی حُکه چه گندگی خوړونکی غوا عین نجاست خوري
او دغه ماهی هغه اوبه چیښی چه په بل شی سره نجسی سوی وی.

(۱۰) مسئله :- په چرگه ئ د سمساری غوښه وخوړه یا ئ خراطین (کرم
گل خور) یا ئ یو بل مردار شی وخواړی بل مردار شی لکه د نرمری وا زرگه او بنه ئ
تیاره کړه نو د دغی چرگی خوړل روادی لیکن که د چرگی د غوښو د مردار شی بوی
ټلی نو بیا مناسبه ده چه نرد سره وړحُو پوری ئ وتړی پاک شیان په وخوړی
او بیا چرگه حلاله کړی وئ خوړی و د غسی حیوان ته جلاله وایی جلاله
ئ په فقه کښی مکروه تحریمی بللی ده مگر مراد هغه ده چه صرف مرداری
خوړی نرد اسی حده چه د دی په غوښو کښی د مرد اری بوی راغلی وی
او که صرف مرداری نه خوړی نو بیا مکروه تحریمی نه ده لیکن بنه او
غوره داده چه وړی ته هم نرد سره وړحُو پوری پاکه غذا ورکړه سی.
(شامی ص۲۳۳ پنځم توک شامی کتاب الذبائح ص۲۹۹ پنځم توک و مختصر المحیط)
وحیوان ته د مردار شی د ورکولو طریقه داده چه یوځای دی مردار شی

واچوی او دغه حیوان دی ورته را وبولی نو دغه حیوان ئې خپله خوړی او په خپل لاس سره دی مردار شی د حیوان ومخ ته نه اچوی۔

د غه رنګه چه د شرابو څخه سرکه جوړوی نو سرکه دی ور واخلی او په شرابو کښی دی ور واچوی دامی نه چه شراب ئې په لاس کښی ور اخیستی دی او په سرکه کښی واچوی (کذا فی الشامی ص۴۴۴ پنځم پوک) قال بعض المشائخ لو قاد الدابة الی الخمر لا باس به ولو نقل الی دابة تکره وکذا قالوا فیمن اراد تخلیل الخمر ینبغی ان ان یحمل الخل الی الخمر ولو عکس یکره۔

(۱۱) مسئله:- که دناپاکه اوبو توښ بدن ته ورکړه سی نو بدن ناپاکه هغه وخت بولو چه یو څاڅکی د اوبو د بدن څخه و نخښیږی ورنه فقط د توښ د حرارت په لګیدو سره د نجاست فتوی نه لګول کیږی لکه د نجاست بدبوي چه دماغ ته ورسیږی هیڅ حکم نه لګول کیږی نو بنا پر دغه کسبدن یا کالو ته د نجاست د و د یا توښ بدبوي ورسیږی نو د نجاست فتوی نه لګول کیږی۔

(۱۲) مسئله:- که یو منګی دیوشی څخه ډک کړل سی او بیا دغه منګی د آس په خرشینو یا بل مردار شی کښی پټ کړل سی او مثلاً د وی میاشتی ور وسته راوکښل سی نو که د نجاست اثر د منګی و د ننه ته رسید لی و و او په دغه شی کی یا په منګی کښی د ننه د نجاست بدبوي محسوسیده نو دغه شی کوم چه په منګی کښی ئې ایښی دی مردار او نجس دی۔ او که چیرې بدبوي نه محسوسیده نو بیا نجس او ناپاکه نه دی۔ مناسب دادی چه پرمنګی سر بیره د کولتا یا رال یا بل شی روغن دار رنګه وښل سی چه د دغو روغنو په وجه منګی نجاست د ننه جذب نه کړی څکه چه په خرشینو کی د پټولو څخه دا مقصد نه دی چه د نجاست اجزاء د منګی و د ننه ته شمول وکړی بلکه مقصد صرف دهغه حرارت و د ننه منګی ته رسول دی کوم چه په خرشینو پورې خاص دی۔ که دا وسپنی لوښی را واخلی په خټو سره ئې کک کړی بیا هم د حرارت اثر کما هو المقصود حاصلیدای سی۔

(۱۳) مسئله:- دلیوه د غټو بولو سره چه کوم هډوکی و و نړی د غه هډوکی فی نفسه پاک دی یعنی په خپل ذات کښی پاک دی د سر بیره مردار ی څخه دی د ړی وارې پرې مینځلو او تر هر وار پرې مینځلو ورو سته دی د وندی و خت پریږ دی چه او به څخیدل بند سی مګر اکلاً جائز نه دی څکه چه معلوم نه دی چه د حلالو چیو لانو

بدوکی دی که د حرامو حیواناتو څخه وکی دی.

(۱۱) مسئله:- پنیر مایه یعنی نفخه پاکه او حلاله ده برابره خبره ده که د ستراعرابی وی یا دیوبل داسی حیوان وی چه غوښی ئی خوړل کیږی د پنیر مایه حقیقت او ماهیت دادی چه د حلال چارپایه حیوان د بچی ته ترڅیښ ورکړی او هغه ئی ذبحه کوی مثلاً وری، سخوندر، جونګړه، سیرلی (مرغومی) چه پیدا سی نو سمدستی شیدی ورکوی او ترشیدو ورکولو وروسته ئی دستی ذبحه کوی تر ذبحه کیدو وروسته د غه شیدی سره د هغه دلری او معدی راکاږی او وچوی ئی تر وچیدو وروسته دا تاثیر پکښی پیدا کیږی چه سیال شی منجمد گرځوی او منجمد شی سیال گرځوی یعنی لیلی شی خثه کوی او خثه شی لیلی کوی او نور نور تاثیرات هم پکښی پیدا کیږی او د د غه پنیر مایه یعنی نفخه څخه جبن یعنی پنیر جوړیږی او د د غه پنیر مایه حلت خلاف القیاس دی ځکه چه د مافی المعده حکم د شحیو او غرشیمو دی لیکن د جبن حلت او طهارت ثابت بالنص دی او متفق علیه دی (په شمار ه حدیثو سره ثابت دی) د دی سببه د غه هم حلال او پاک سویدی او شخوند پرد غه نه سی قیاسیدای یعنی شخوند مردار دی (و تفصیله فی اصلاح الطب)

(۱۲) سوال:- مسلمان طبیب و غیرمسلم یعنی کافر ته نجسه دوا ورکولاسی یا ئی نه سی ورکولای شه ئی چیری ورکولای سی نو ایا میته او شراب هم پکښی داخل دی او که داخل نه دی؟

جواب:- داسی کول روادی په شرط د دی چه د غه غیرمسلم د خپل مذهب په رنګه څخه د غه دوا نجسه اوناجائزه نه بولی او وروسته تر اطلاع ئی د غه تعریض په خپل اختیار استعمال کړی نو برابره خبره ده که د غه دوا نجسه یا غیر نجسه مطلب هر رنګه چه ئی بولی هر قسم استعمال ئی روادی او شراب هم په دی حکم کښی داخل دی په شرط د دی چه د غه طبیب ئی صرف زبانی وروښیی یا لیکلی نسخه ورکړی چه ورسره بل څای ئی واخله او که طبیب دوا د خپله څانه څخه ورکوی نو د غسی دوا که نجس العینه وی لکه شراب بوڼی او داسی نور نو بیا ناجائزه ده. ځکه چه د مسلمان د پاره د نجس شی قیمت اخیستل په هیڅ طریقه روا نه

دی د شرابو څخه مراد هغه څلور شرابونه دی چه د دوی حرمت منصوص دی لکه چه د رسالی (طبی جوهر) په شروع کښی تیر سوه.

(۱۶) سوال:- فاسفورس څوپل روا دی که نه دی؟

جواب:- روا دی حکه چه فاسفورس دهډوکو دایروڅخه جوړیږی او دهرهډوکی ایری پاکی دی په وجه د تبدیلی د ماهیت - (نظر ثالث)

خاتمه:- د دی څخه مخکی چه هرڅه بیان سوه د هغوی تعلق د هغوشیانو سره وو چه په علاج او معالجه کښی استعمالیږی چه د دوی احاد جمادات، نباتات او حیوانات وه او د دغه تیرسوی بیان سره د هغو افعالو ذکر هم کړو چه د علاج کولو په وخت کښی رواج دی او شرعًا ممنوع دی مناسبه ده چه د دغو افعالو د جملی څخه هغه افعال بیان سی چه ډیر پیښیږی او واقع کیږی د نو هغه د مریض د ستر او عورت د پټیدو په باره کښی بی احتیاطی ده د خوشقسمتی څخه دا مضمون د حضرت مولانا په قلم لیکل سوی وو او په پرچه القاسم کښی س۱۳۳۱نه هـ د څلرمی خور په میاشت کی زما تر نظر وتلی وو نو اوس دغه مضمون بعینه په هغه عبارت سره د لته را نقلوم د تبرک او تیمن د حاصلیدو د پاره.

مولانا صاحب فرمایلی دی یوه بی احتیاطی داده چه د مریض د ستر او عورت د پټولو اهتمام او غم خوړل نه کیږی که ئ څنګون بنکاره سی پرهیځ ئ نه بولی او که ئ وړون بنکاره سی هم ئ پرهیځ نه بولی نه ئ کوم خیال سائی. که په سبب د د واډیو حای د بنکاره کیدو او وړته کتو ضرورت پیښ سی نو په قاعده د اَلضَّرُوْرِیُ یُتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الضَّرُوْرَةِ احتیاط نه پکښی کیږی یعنی داسی احتیاط نه پکښی کیږی چه د وندی قدر بدن لخ کړی کوم چه د لخیدو ضرورت ئ وی او د هغو انسانانو په مخ کښی لخ سی چه د دوی د دغی دوا سره تعلق او کار وی بلکه د هغه انسان چه د دغی دوا سره ئ تعلق او کار وی هم وړته گوری او نور حاضرین او عیادت کونکی هم بیله کوم تکلیفه وړته گوری او دغه وړته کتل بعینه همدردی بولی. غرض نه د نور و د پاره وړته کتل روا دی او نه تر قدر د ضرورت بالا او نور بدن ته کتل روا دی تر دا سی حده که د بښځی د لنګیدو په وخت کښی کافره دایی وړسی نو د نږدیږی او وځای

ته کتل که چیری ضرورت وی روادی لیکن په دی وجه چه کافره بنځه داجنبی او نامحرم سړی په حکم کښی ده نو ددی په مخکی د دغی مسلمانی بنځی د پاره سر لخوا حرام دی ځکه چه د سر لخوا بیله ضرورته دی.

دغه رنګه که یو بنځی ته رګ خلاصونکی رګ ورخلاصوی یا ستنی او خالونه ورو هی نو د رګ خلاصونکی یا ستنی وهونکی د پاره کا صرف د رګ خلاصولو اوستنی وهلو ځای ته کتل روادی مګر د نورو حاضرینو د پاره د دغه ځای څخه لیری کیدل یا سترګی پټول یا مخ ګرزول واجب دی د نورو د پاره کا دا روا نه ده.

چه د دی دلاس دغه لځه سوی حصه وګوری دغه رنګه که د سنت کید و په وخت کښی هلک هوښیار وی که څه هم بالغ نه وی نو د ده ولځ سوی بدن ته کتل روا نه دی دختان یعنی سنت کونکی د پاره په قدر د ضرورت و رته کتل روادی د نورو د پاره روا نه دی. (ځکه چه کوم حکم په وجه د ضرورت وی هغه د ضرورت تر حده پوری محدود وی) دغه رنګه که پریوپټ اندام دانه یا بل شی وی او د پټې کولو اوخیرلو ضرورت ئی وی نو د ډاکټر څخه ما سیوای یا د دغسی چا څخه ماسیوی چه د ده په کتلو کی د علاج د پاره ښه مصلحت وی نو د نورو د پاره ود غه ځای ته د کتلو اجازه نشته. د حضرت مولانا اشرف علی تهانوی عبارت پای ته ورسیدی.

په دی سره د یونوی رواج په طریق اولی سره تردید هم کیږی چه نن سبا په تعلیم یافته خلګو کښی شروع سویدی چه پرځای د دا یا نو د اولاد د پیدا کیدو په وخت کښی خپلو بنځو ته نارینه ډاکټران راولی د ولادت قصه د نرو ډاکټرانو په ذریعه سره حلوی حالانکه دهم جنس د پاره د خپل هم جنس د عورت ته هم بیله ضرورته کتل روا نه دی نو د غیر همجنس د عورت ته کتل به څرنګه روا او جائز سی او په غیر همجنس کی چه څوندی لیری والی راځی په دغه اندازه سره په نهی، حرمت او ممانعت کی سختوالی راځی د مسلمانی بنځی د پاره هم جنسه او قریبه مسلمانه بنځه ده اول دی په وخت کی د ضرورت د دی څخه کار واخیستل سی تر دغی مسلمانی بنځی ور وسته کافره بنځه ده چه د اجنبی سړی په حکم کښی ده تر دغه ور وسته مسلمان سړی دی یعنی که چیری د ډاکټر ضرورت نه سی نو دی د مسلمان ډاکټر څخه کار واخیستل سی او تر دغه ور وسته کافر

ډاکټر دی - داسی نه چه په اول قدم کی وکافر ډاکټر ته رجوع وکړی. ځکه چه داسخته بی حیایی او گناه ده که او نه د وندی ضرورت سته چه وکافر ډاکټر ته رجوع وکړل سی کوم وخت چه د غه رواج شروع سوی نه وو بیا هم متواتر او همیشه د غه کوچنیان زیږیدل لکه اوس چه زیږی. او اوس هم چه په کومو کورنیو کښی حمیت او غیرت سته په هغو کښی هم د غسی کوچنیان زیږی لکه په نورو کورونو کی اولادانی په بنه پرده سره ټول کار ترسره کوی او په د غسی رواج سره ډیر مشکلات مخ ته راځی چه څه پلیټ سوی نه وی بس ډاکټر دی وگوری دیورپ یعنی اروپا خلگ هیڅکله دیسی یعنی کورنی علاج نه کوی.

حالانکه دا خبره منل سویده که او بنکاره خبره ده که چه د بعضو مریضو په باره کښی ډاکټری علاج او دوا ډیره ناکامه ثابته سوی ده که او دیسی او کورنی علاج ډیر کامیابه ثابت سوی دی لیکن دوی د بعضو دنیاوی مصلحتونو په وجه څانونه د دیسی علاج نه عادی کوی نو کوم کار دی دوی بند سوی دی؟ د غه رنگه که د شرعی مصلحتونو په وجه موږ د کوچنی د پیدا کیدو او زیږیدو د پاره ډاکټر غوره نه کړو د کوچنی د زیږیدو په وخت کښی ډاکټر رانه ولو نو زموږ به هم په فضل او مهربانی د خدای جل جلاله هیڅ کار بند نه سی.

د حضرت تهانوی رحمة الله علیه په تحریر کښی د نامحرم لفظ راغلی دی په د غه هم څان پوه کول پکار دی ځکه چه بنه پوه او خواند که خلگ ئی په مطلب نه پوهیږی.

محرم شرعی هغه دی چه د د ده سره په تمام عمر کی یو وخت د نکاح د صحیح کیدو او روا والی امکان نه وی - مثلاً پلار، زوی، حقیقی ورور، د پلار د خوا ورور، د مور د خوا ورور یا د د غو ورونو اولاد یا د د غسی د (۳) قسمه خوندو اولاد یا د د غو ذکر سو و قریبانو په شان نور څوک چه د د وی سره همیشه تر همیشه نکاح حرامه او ناروا وی.

او د کوم چا سره چه په ټول عمر کښی یو وخت د نکاح د صحیح کیدو امکان وی هغه شرعاً محرم نه دی بلکه نامحرم دی او لوم حکم چه په شریعت کښی د خالص

اجنبی او بیگانه سړی دی . هغه حکم ددی دی که څه هم یو قسم رشته او قرابت لری - لکه دا کا، عمّه ، ماما یا خاله ، زوی یا د خور خاوند (میړه - اخښی) دا ټول خاوند او داسی نور نو دا ټول نامحرم یعنی اجنبی او پرَدی خلګ دی د دوی څخه هغه ښځه ستر کول په کار دی لکه د نورو عاموا اجنبی او پردیو خلګو څخه چه په کار دی بلکه په داسی حالیو کښی د فتنی پیښیدل اسانه دی نو د دی سبب د دغسی نامحرم خلګو څخه چه خپلوان هم وی زیات ستر او احتیاط کول په کار دی. (د دی تفصیل په (فایده) ملحقهٔ اخر اصلاح الرسوم کښی وګورئ اشارهٔ دغه قدر په دی ځای کښی ځُندی را نقل سوه)

(۱۷) مسئله : د محرم شرعی د پاره هم د بښځی نس یا شاته کتل یا مسحه کول حرام دی دغه رنګه د نو (نامه) څخه بیا تر څنګلو پورې یعنی د څنګلو تر پایه پورې د دغی حصی تعدی د بدن کتل یا مسحه کول حرام دی . باقی سر ، مخ لاسونه ـ بازوګان او پنډی بنکاره کول د ضرورت په وخت کښی ګناه نه لری او بیله ضرورته پنډی بنکاره کول او بازوګان لټول او بنکار کول هم مناسب نه دی د نامحرم (هغه قریبان چه د پردی او بیګانه په حکم کښی دی لکه اوس چه بیان سوه) او بالکل د اجنبی او پردی د پاره دا روا نه ده چه د بښځی د بدن یو ه حصه د وینی ورته وګوری مګر د ډیر سخت ضرورت په وخت کښی لاسونه تر بند و پورې او پښی تر ټخلکو پورې لیدلای سی .

دا مضمون په دی وجه و لیکل سو چه طبیبان د بښځو په علاج کښی ډیره بی احتیاطی کوی دنس او داسی نور و اندامو په کتلو او لیدلو کښی د بیله ضرورته جرأت کوی یا د بازاریو بښځو رفت او آمد و خپلی دواخانی ته د رونق او کامیابی سبب بولی.

د بهشتی زیور نهمه
حصه په خیر سره
پای ته ورسیده

د اصلی بهشتی زیور د لسمی حصی د مضامینو فهرست

شمیره	مضمون	مخ
۱	بعضی د آرام او هنر خبری	۳
۲	بعضی د عیب او تکلیف خبری چه په سنځو کښی پیدا کیږی.	۱۰
۳	یو څو د انتظام او تجربی خبری.	۱۸
۴	د کوچنیانو سره د احتیاط کولو بیان	۲۸
۵	بعضی د نیکی او نصیحت خبری.	۳۱
۶	د خپل لاس د هنر او کسب لرځه بیان	۳۸
۷	د بعضو پیغمبرانو او بزرګانو د کسب بیان	۳۹
۸	بعضی اسانه طریقی د ګذاری او شروند کولو	۴۱
۹	د صابون د جوړولو طریقه.	۴۳
۱۰	د هغو لوښو نومونه چه د صابون د جوړیدو په طریقه کښی ورته ضرورت وی.	۴۶
۱۱	د صابون د جوړولو د پاره دوهم ترکیب او طریقه.	۴۶
۱۲	د کپړی او پوکړانو د چاپولو طریقه	۴۹
۱۳	د هغه توږ رنګ د جوړولو طریقه چه د خط نوشته کولو د پاره استعمالیږی	۵۰
۱۴	د انګریزی سرخ رنګ د جوړولو ترکیب او طریقه.	۵۰
۱۵	د لرګو د سرو رنګولو ترکیب او طریقه.	۵۱
۱۶	د لوښو د قلعی کولو ترکیب او طریقه	۵۱
۱۷	چه لوښی مات یا سوری وی د هغه د محکمه جوړولو طریقه.	۵۱
۱۸	د څکولو د تمبکو د جوړولو طریقه	۵۲
۱۹	د څکولو د پاره د خوشبویه تمبکو د جوړولو طریقه.	۵۳
۲۰	د نان پاؤ (د بل روټۍ) بسکوټ او د امی نورو شیانو د جوړولو طریقه.	۵۳
۲۱	د نان پاؤ (د بل روټۍ) د جوړولو طریقه.	۵۳
۲۲	د نان پاؤ یعنی د بل روټۍ د پخولو طریقه.	۵۵
۲۳	د نان خطائی د جوړولو طریقه	۵۷
۲۴	د نمکین بسکوټ د جوړولو ترکیب او طریقه	۵۸
۲۵	د آم د اچار د جوړولو ترکیب او طریقه.	۵۸
۲۶	د خوابه بسکوټ د جوړولو طریقه	۵۹
۲۷	د چاشنی د پاره د ترو د خوابه اچار د جوړولو طریقه.	۵۹
۲۸	د نمک پانی د اچار د جوړولو طریقه	۵۹
۲۹	د شلغم اچار چه ډیر ورځی وساتی دوام او ثابت پاته کیږی	۶۰
۳۰	د نورو تن چتنی د جوړولو ترکیب او طریقه.	۱۰

نمبر	مضمون	صفحہ
۳۱	د مربا د جوړولو ترکیب او طریقه	۶۰
۳۲	د نمک (مالګی) اوبو او آموګه د لو طریقه.	۶۱
۳۳	د لیمو یعنی لیمبو د اچار د جوړولو طریقه	۶۱
۳۴	د پوکرانو او کالود رنګولو طریقی.	۶۲
۳۵	د خط د لیکلو او ویلو طریقه او قاعده.	۶۷
۳۶	د کتاب خاتمه چه په دی کښی د ری مضمونونه راغلی دی	۷۲
۳۷	اول مضمون	۷۲
۳۸	بعضی کتابونه چه د دوی د کتلو څخه نفعه حاصلیږی	۷۵
۳۹	بعضی کتابونه چه د دوی د کتلو څخه تاوان پیدا کیږی یا داسی وی چه کتل ئی د وخت ضائع کول دی.	۷۶
۴۰	دوهم مضمون	۷۷
۴۱	دریم مضمون	۷۹
۴۲	د اصلی انسانی ګیڼی نظم.	۷۹
۴۲	د اصلی بهشتی زیور ضمیمه چه په دغه کښی بعضی خبری د مسئلو دی چه ور وسته په یاد راغلی	۸۱
۴۳	اضافه د طرف څخه د جناب مولوی محمد رشید صاحب.	۹۲

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

د بهشتی زیور لسمه حصه

په دی حصه کښی داسی خبری ډیری دی چه د ددی په وجه سړه په دنیا کښی خپله هم په ارام او استراحت سړه او سیږی او نورو ته ئی هم تکلیف نه رسیږی او داغه خبری په ظاهره سړه کار دنیا کار دنه او خبری دی لیکن پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه کامل او پوره مسلمان هغه دی چه د ده د لاس او ژبی څخه وبل چاته تکلیف ونه رسیږی او دائی هم فرمایلی دی. چه د مسلمان د پاره مناسب نه ده چه په یو سخت تکلیف کښی ځان واچوی خپل ځان ذلیل او خوار کړی (تقویم از کنز العمال)

داهم په حدیث شریف کښی راغلی دی چه پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په وعظ او نصیحت کښی د دی خیال ساتی چه اوریدونکی خوا پوهه او ستړی نه سی او دائی هم فرمایلی دی چه میلمه دی د دندی ډیر وخت نه پاته کیږی چه کور والا څندی تنګ سی د دی څخه معلومه سوه چه بیله ضرورته پرځان تکلیف تیرول یا یو چاته تکلیف ورکول یا داسی حرکت کول چه بل سړی څندی ستړی یا تنګ سی. داهم د دین خلاف دی د دی سببه د دین د خبرو سړه سړه داسی خبری هم په دی کتاب کښی لیکل سوی دی چه د دغو خبرو او شیانو په سبب انسان خپل ځان په ارام او استراحت کړی او نورو ته هم آرام او استراحت ورپه برخه کړی.

بعضی د آرام اوهنر خبری

(۱) هروخت چه د شپی د خوبی دروازه بندوی نو تر بندولو مخکی په کور او خونه کښی بنه وګوره چه سپی یا پشی خو دننه نه دی پاته سوی څکه کله وانسان ته یا نورو شیانو اوسامان ته ضرر رسوی.

(۲) خپل کالی او کتابونه کله کله د باندی راباسه و لمرته ئی ایږده.

(۳) کور صاف ساته هرشی پرخپل ځای باندی ایږده.

۴ که تندرستی او جوړوالی غواړی نو خپل ځان ډیر استراحت طلبه مه جوړوه یو
څه تکلیفی کار به خپل لاس سره کوه تر هغو لوبنه شی د بنځی د پاره میچن چلول یا په
بغرۍ ډ ی په کاڼي سره شالی او غله کوټل یا څرخی وریشل دی چه په دی سره د بدن
صحت برقرار ساته کیږی.

۵ که یو چاته د ملاقات د پاره ورسی نو هلته دوندی مه کښینه یا د دکاندار
د دوندی د پاره پوښتی خبری مه کوه چه هغه تنګ سی یا استاد ملاقات
د مجلس په وجه د هغه په کار کښی خلل واقع سی.

۶ د ټول کور او سیدونکی دی د دی خبری پابند اوسی چه د هر شی د پاره دی
د خاص ځای مقرر کړی هر وخت چه د د غه خاص ځای څخه شی پورته کړی
استعمالولو وروسته دی د غه شی بیرته پر خپل ځای کښیږدی د پاره د دی چه
د انسان ته د ضرورت په وخت کښی د د غه شی د پوښتنی او تلاش کولو حاجت
پیښ نه سی او د ځای د بدلولو په سبب یو وخت د غه شی هیڅوک پیدا کولای
نه سی او د ځای د بدلولو په وخت کښی ټول د تکلیف سره مخامخ کیږی او کوم شی
چه فقط ته استعمالوی د د ه د پاره هم ځای معین او معلوم کړه د پاره د دی
چه د ضرورت په وخت کښی ئې سمدستی پیدا کړی.

۷ په لاره کښی چارپایي، لرګی یا بل لوبنی یا خښته یا ډبره یا شاړه یا بل دغسی
شی مه ایږده ځکه چه اکثره وخت داسی پیښیږی چه یو څوک په تاریکه
کی راشی او ورځی د خپل عادت موافق بیله کومه فکره روان وی نا ببره ئې پښه
په دغو شیانو کښی بنده سی او غوڼار سی د بدن یو ځای ئې زخمی سی.

۸ هر وخت چه یو څوک د یو کار د رسته ووایی نو خبره ئې واوره تر اوریدو
وروسته هغوی ته ضرور په ژبه سره ورته ووایه چه د د ه داخیال
دی چه تا خبره واوریده او حال دا چه تا خبره نه وی اوریدلی یاد هغه دا
خیال سی چه ته د غه کار کوی لیکن ته د غه کار نه کوی ځکه په دی
سره خوبل څوک ناحقه په امید کښی اچول کیږی.

۹ مالګه د خوړک په شی کښی یو اندازه کمه اچوه ځکه چه د کمی علاج کیدای سی
خو چیری مالګه زیاته سی بیا ئې علاج کیدای نه سی.
په دل یا نورو تر کار کښی مرچ مه ریږه کوه بلکه مرچ بنه هیدا کړه بیا ئې

ور واچوه حکه چه د ریزه کولو په صورت کښی د دغو مرچو (مرچکو) تخم د دوی په ریزو او توکرو کښی پاته کیږی نوکه د دغو مرچکو یو توپه په خوله کښی راسی بیا نو د دغه تخم په وجه سره ټوله خوله داور په شان سوزش کوی.

(۱۱) که چیری په شپه کښی داوبو د چښلو ضرورت پیښ سی که چیری رونا وی نو اوبه بنی وگوره ترکتلو وروسته ئی وچیښه اوکه چیری رڼا نه وی بیا د لوښی پرخوله یا چوبنکی باندی ټوکر کښیږده وروسته اوبه وچیښه د پاره د دی چه داوبو د چښلو په وخت کښی دی په خوله کی یوشی ونه لویږی.

(۱۲) کوچنیان د خندا په وخت کښی پورته پورته مه کوه ترکړکی یا داسی بل شی ئی مه حرکوه خدای دی وساتی داسی نه وی چه یو وخت دی د لاسه څخه ایله سی د خندا او مسخرو پرځای غم د رپیښ سی. د غه رنگه چه د وی خاندی په دوی پسی مه رغله شاید چه غوږ راسی د غوږ راږدیدو په نتیجه کښی زخم و تپ وخوری.

(۱۳) هروخت چه یو لوښی خالی سی نو همیشه ئی تر پریوللو وروسته پرچیه خوا اړه وه اوبیا چه ئی هروخت استعمالوی نو تر استعمالولو مخکی ئی مینځه.

(۱۴) چه لوښی پر مځکه کښیږدی او بیا یو کتغ او خورک کی واچوی نو بیا لوښی د غسی پر پتنوس یا سترخوان مه ایږده تر اینبولو مخکی د لوښی بیخ د خاور و څخه صفا کړه بیائ په پتنوس یا سترخوان کی کښیږده.

(۱۵) که دیو چا پر کور میلمه سی نو د د ه ته د یو شی د پخولو فرمایش مه ورکوه چه ما ته فلانی شی راپوخ کړه حکه چه کله کله داسی پیښیږی چه د غه شی پیر ارزانه او بی قیمته وی مگر د وخت خبره د ه کور والا د غه شی پوره کولای نه سی نو ناحقه کور والا شرمنده کیږی.

(۱۶) چه په خلگو کښی ناست ئی نو په د غه وخت کښی د خلگو په مغز کښی ناری مه توکه او مه پزه سوڼ کوه که چیری ضرورت وی بیا نود مجلس څخه ولاړ سه خان فارغ کړه تر فراغت وروسته مجلس ته راسه.

(۱۷) د د وډی خورلو په وخت کښی د داسی شیانو نومونه مه اخله چه اوریدونکی نفرت حُندی وکړی د د وډی څخه ئی خوا وگرزی بعضی نازک مزاجه خلگو ته د د غسی نومونو په یاد ولو سره ډیر تکلیف رسیږی.

(۱۸) د مریض په مخکی یاد دہ دکورد انسانانو په مخکی داسی خبری مه کوه چه د ژوند ناامیدی حُندی معلومیږی اوناحقه دوی مایوسه کیږی زړونه یی ماتیږی بلکه د تسلی اوجوان مردی خبری ورته کوه دارنگه ورته وایه چه ټول مرض به دی انشاء الله تعالی خدای پاک ختم کړی.

(۱۹) که د چا یو پوشیده او پټه خبره کوی او هغه هم په دغه ځای کښی موجود وی نو په ستړگو یا لاس سره اشاره مه ورته کوه حُکه چه ناحقه و ده ته شک پیښیږی اود اهغه وخت چه د دغی خبری کول د شریعت د نگاه څخه صحیح هم وی اوکه چیری صحیح نه وی نو د غسی خبره کول د سره څخه گناه دہ.

(۲۰) د خبرو کولو په وخت کښی لاسونه په پیر په پیر مه غورځوه.

(۲۱) په لمن، لستوني، د پټی په څاک یا د پوړو نی په څاک سره پزه مه پاکوه.

(۲۲) د غټو بولو په ځای کښی اودس مه تازه کوه داودس کولود پاره یو ځای جلا پریږده.

(۲۳) څپلی همیشه تکوهه او تر تکوهلو وروسته نی په پښو کوه حُکه چه کیدای سی چه یو ضرر ناکه خمان (خزند کی) په ننوتلی وی د غه رنگه کالی او بستره هم بنه تکوهه.

(۲۴) د چا چه د پردی پر ځای زخم اودانه وی نو دده څخه پوښتنه مه کوه چه پر کوم ځای دہ حُکه چه په دی کښی ناحقه د ده شرمندگی راځی.

(۲۵) د خلگود تیریدو اوراتیریدو په ځای اولار کښی مه کښینه حُکه چه ته هم په تکلیف کښی اوخلگ هم په تکلیف کښی.

(۲۶) په بدن اوکالو کښی بدبوئي مه پیدا کوه که چیری صاف اوپریمنځلی کالی نه وی نو بیا د بدن اغوستی کالی پریوله او ولمبیږه.

(۲۷) چه انسانان ناست وی ځای مه جارو کوه حُکه چه پردی دوړی ورځی.

(۲۸) چه یوشی خورې نو پخپل اودانی نی پرچامه ورغورزوه.

(۲۹) په چاتو غچی، ستن یا بل د غصی شی سره بازی مه کوه ځکه کیدای سی چه د غفلت په وجه ځان په زخمی کړی.

(۳۰) هروخت چه یو میلمه درته راسی نو ترټولو مخکی بیت الخلاء یعنی د حاجت ځای ورو بنسیه او په چیرته چې نکتیا سره دده د سپرتیا د شی د درید و د شی انتظام وکړه اوکه چیری دده د سپرتیا شی غوښې، آس یا بل داسی شی وی بیا نو د دغه حیوان د وښو او شپیشتو انتظام وکړه د میلمه د خوړک په شی کښی دوندی تکلیف مه کوه چه دده ته پرخپل وخت چوچی ورنه کړل سی چوچی او کتغ پرخپل وخت ورته پاخه کړه که څه هم ساده او مختصر وی هروخت چه میلمه د تلو اراده وکړی نود دختی او چیرتر چوچی ورکولو بند وبست ورته وکړه غرض داچه د میلمه په آرام او مصلحت کښی باید خلل او نقصان واقع نه سی.

(۳۱) د غسل خانی یا بیت الخلا څخه په داسی حال کښی مه راوزه چه ته پرتوګابن نړی بلکه د ننه پرتوګابن بنه وتړه بیا راووزه.

(۳۲) هروخت چه ستا څخه یو څوک د خبری پوښتنه وکړی نو اول د خبری جواب ورکړه بیا خپل کار شروع کړه.

(۳۳) هرهغه خبره چه کوی یا ډیو خبری جواب ورکوی نو په بنه لوړ او صاف آواز سره ئې ورکړه د پاره ددی چه بل څوک بنه او پوره په وپوهیږی.

(۳۴) که چاته یوشی په لاس کښی ورکوی نود لیری څخه ئې مه ورته راغورځوه ځکه کیدای سی چه ددغه لاس ته رانه سی او دغه شی ولویږی ترلوید و وروسته تاوانی سی باید نژدی ورسی شی په لاس کښی ورکړی.

(۳۵) که چیری دوه انسانان تعلیم او تعلم سره کوی

یا خبری سره کوی نو دوی و منځ ته راتلل شور او ناری وهل یاد بل چاسره خبری کول په کار نه دی،

(۳۶) که چیری څوک په یو کار یا خبره اخته وی نو ته د خپل ورتګ سره سم خپله خبره مه شروع کوه بلکه د موقع انتظار وکړه هروخت چه هغه ستا و طرف ته متوجه سی نو بیا خبری ورسره وکړه.

(۳۷) هر وخت چه د چا په لاس کښی یوشی وی نو ترڅو پوری چه هغه د غه شی په خپل لاس کښی بنه نه وی نیولی ته د غه شی د خپله لاسه مه ایله کوه بعضی وار ونه په د غه ما بین کښی یوشی لویږی تر لوبید و ورو سته تاوانی کیږی.

(۳۸) که یو چاته پیک وهی نو بنه خیال سا ته چه د د ه پر سر یا بدن یا کالو ونه لگیږی او په داسی زور سره پیک مه وهه چه بل څوک پریشان او تنگ سی

(۳۹) د خورک او ډوډی خوړلو په وخت کښی هډوکی یو ځای جمعه کوه د غه رنگه دیوشی خوروکی او پوستونه هر ځای مه غورځوه هر وخت چه ټول سره جمعه کړی نو بیا ټول یو طرف ته پر خپل ځای وغورځوه.

(۴۰) رفتار په داسی حال کښی مه کوه چه سړی په هوا نیولی وی (یعنی وځکه ټه نه گوری) یا ډیره په تیزی سره څغلی څکه کیدای سی چه غوڅ ځای سی.

(۴۱) کتاب ډیر په احتیاط سره بندوه او بنه لږ سا ته اکثره وخت د کتاب اولی او اخیری ورقی سره وپیچل سی او کتاب خراب سی.

(۴۲) د خپل میږه په مخ کی د بل بیگانه سړی تعریف کول په کار نه دی څکه چه د غه تعریف کول د بعضو خاوندانو پر طبیعت بنه نه لگیږی.

(۴۳) د غه رنگه د بیگانه بنځو صفت او تعریف د خپل میږه په مخکی هم مه کوه کیدای سی چه د د ه زړه پرهغی بنځی و لگیږی او پرتا ئی باور نه کښینی.

(۴۴) د چا سره چه دی آزادی نه وی د هغه سره د ملاقات په وخت کښی د هغه د کور د حال پوښتنه مه کوه د غه رنگه د د ه د مال او د دولت، یوسر او پوښاک د حال پوښتنه کول مناسب نه د ه.

(۴۵) په میاشت کښی دری یا څلور ورځی خاص د د غه کار د پاره مقرری کړه چه د کور صفایی په بنه طریقه سره وکړی جالی را کښته کوه - فرش صفا کوه هرشی په ترتیب او طریقه سره کار د ه.

(۴۶) د چا و مخ ته چه لیکل سوی کاغذ یا کتاب پرت وی نو د د غه کتاب یا کاغذ را پورته کول او بیا کتل او ویل ئی په کار نه دی که چیری د غه کاغذ قلمی وی نو کیدای سی چه پوشیده راوپته. خبره پکښی لیکل سوی وی او که د غه کاغذ چاپی وی نو کیدا سی چه په د غه کتاب کښی بیا یو د غسی لیکل سوی کاغذ وی.

(۴۷) پر زینو په ډیر احتیاط سره خیژه او راکښته کیږه بلکه بنه دا دی چه پرکومه زینه دی پښه کښیښوه ده غه بله پښه هم پرده غه زینه کښیږده بیا ئی مخکنی زینه هم ده غه رنګه کښیږدی او داچه پریوه زینه یو پښه او پر بله زینه بله پښه کښیږدی دا نجینوا و بنځود پاره خو بالکل مناسب نه دی او په کوچنیوالی کښی هلکوان هم دده غه څخه منعه کوه.

(۴۸) کوم ځای چه یو څوک ناست وی هلته کالی، کتاب یا بل شی دا رنګه تکو هل مناسب نه دی چه پرهغه چاګرځ او غبار پریوزی ده غه رنګه ئی په خوله هم مه پوه کوه او مه ئی په تکو کړسره تکو هه بلکه ده غه ځای څخه ئی لیری یوسه تر وروسته ئی صفا کړه.

(۴۹) دیو چا د غم او پریشانی، یا درد او مریضی چه کوم خبر واوری تر څو پوری چه ئی بنه تحقیق او معلومات په یقینی طریقه سره سوی نه وی و بل چا ته ئی مه کوه او خصوصًا د ده غه چا و عزیزانو ته خو بالکل ذکر مه کوه ځکه چه کله چیری د ده غه خبره غلطه ثابته سوه نو خامخا بل څوک پریشانه کیږی او بیا هغه خلګ وتاته هم په بد او بیکاره سره وایی چه ولی ئی داسی بد فالی راوړه.

(۵۰) د ده غه رنګه دلږ او معمولی مریضی او تکلیف خبر د خط په ذریعه سره مه ورکوه او لږ و قریبانو ته مه ورکوه.

(۵۱) پر دیوال مه تو کوه او مه پان (او نسوار) پر تو کوه د ده غه رنګه غوړ لاس پر دیوال یا درواز مه مه ښه بلکه پری ئی وله لیکن سو څل سو و تیلو ته ناپاک مه وایه لکه چه بعضی جاهلانی ښځی ورته وایی.

(۵۲) که د نورکتاب ضرورت وی نو د خوراک کونکو د مخ څخه لوښی مه پورته کوه بلکه په بل لوښی کښی کتاب راوړه.

(۵۳) که یو څوک پر تخت یا چارپایي ناست یا پروت وی نو مه ئی بنورو ه که د ده سره نژدی تیریږی نو دا رنګه ورسره تیرسه چه ورسره ونه ښلی او که پر تخت یو شی ایږدی یا یو شی د کتاب څخه اخلی نو قرار ئی کښیږده او قرار ئی واخله

(۵۴) د خوږلو او چښلو شی لخ او بنکاره مه پریږده تر داسی حده که یو شی پر سترخان کښیښوول سی لیکن د ده غه شی لږ ګړی وروسته یا په اخیر کښی خوړل کیږی نو د ده غه شی هم پټ کړه.

(۵۵) میلمه ته په کار دی چه کله موږ سی بیانو لږ څه کتغ او ډوډۍ پریږدی چه د کور خلګو داشک نه سی چه میلمه نه دی موږ سوی چه په دی سره د کور خلګ شرمنده کیږی.

(۵۶) کوم لوښی چه بالکل خالی وی په الماری که یا تاخچه کښی ئې بزدی نو چپه ئې نسکور کښیږده.

(۵۷) په رفتار کښی قدم پوره پورته کوه مخکی ئې بزده پښی پرمحکه مه کشوه حکه چه په داسی رفتار سره څپلی هم ژر څیریږی او انسان هم بد معلومیږی.

(۵۸) چه روان یې نو دخپلی پټی یا پورونی خیال ساته چه څاکونه ئې پرمحکه باندی نه کشیږی.

(۵۹) که څوک مالګه یا یو بل د خوړلو یا چښلو شی درځخه وغواړی نو په لوښی کښی ئې ورته راوړه دامی مه کوه چه په لاس کی دی را اخستی وی ورته رائې وړی.

(۶۰) دانجینو په مخکی د بی شرمی هیڅ خبره مه کوه که ئې چیری کوی د دوی شرم او حیا ختمیږی.

بعضی د عیب او تکلیف خبری چه په بنځو کښی پیدا کیږی

(۱) یو عیب په بنځو کښی دادی چه د خبری معقول او صحیح جواب نه ورکوی چه سوال کونکی ته تسلی او اطمنان حاصل سی پرې فضول او بی فایده خبری دیوی او بلی خواځخه سره راجمعه کوی او حقیقت خبره بیاهم نه معلومیږی همیشه دا خبره یاد وساته چه هرڅوک پوښتنه درځخه وکړی. نو اول ئې د پوښتنی په مطلب سره بنه حان پوه کړه بیا د پوښتنی جواب د ضرورت موافق ورکړه.

(۲) یو عیب د بنځو دادی چه د دوی نه د یو کار د ویل سی نو د دوی خبره واوری بیا پته خوله سی نو کار د یونکی ته داشک پیښیږی چه خدای خبر دی چه د دوی خبره اوریدلی ده که ئې نه ده اوریدلی بعضی وختونه په غلطیا سره د ده دا خیال سوی وی چه د دوی خبره اوریدلی ده او په واقع کښی دوی اوریدلی نه وی بیا نو دا اوریدلو په اومید سره هغه کار سرته نه

رسیږی هغه وخت چه یو بستنه خندی وسی چه هغه کار دی وکړی ـ ددی جواب داوی چه موږ ستا خبره نه ده اوریدلی غرض چه د غه کار یا ته سی. او بعضی وخت د غلطی په وجه سړه ددی داخیال سی چه دی خبره نده اوریدلی ددی سببه دوهم وار بیا ورته وایی چه وادی وریده وادی وریده نو بیله وجلی خفګان خندی جوړ سی که دی صرف په اول وار کښی دوندی قدر ویلی وای چه بنه نو به بلم په خبر سوی وای روغه جوړه خبره به وای.

(۳) یو عیب په بنځو کښی دادی چه د خپلی نوکری او مزدوری ته دیو کار وایی یا په کور کښی دیوبل چا ته یو خبره کوی نو د لیږی څخه چیغی وهی په دی کښی د وی خرابیانی دی یو خو بی حیائی او بی پردګی ده چه دباندی د روازی او څړک ته ئی آواز رسیږی. دوهمه خرابی داده چه د لیږی څخه یو څه خبره هغه مزدوره واوری یو څه نه واوری نو څوندره چه نه واوری هغوندی کار پاته سی اوس نو بی خفه سی چه دغه کار دی ولی نه دی کړی لکه څرنګه چه مادرته ویلی وه ـ مزدوره جواب ورکوی چه ماخو اوریدلی نه وه. غرض ته نه زړه نازړه سړه شروع کیږی او کار خرابیږی ـ دغه رنګه نوکرانی او مزدورانی دی چه دکوی خبری جواب د دباندی څخه راوړی نو د روازی ته په چغو او نارو سړه را ننوزی نو په دغو کی هم په یو څه خبرو به ئی پوه سی په یو څه به ئی پوه نه سی ـ د تمیزاو پوهنی خبره داده چه دکوم چا سړه خبره کول غواړی نو د هغه ته نژدی ورسه یا ئی نژدی راوبوله په ډیره آرامی سړه ئی په بنه طریقه سړه پوه کړه بیا دا هم ورته ووایه چه پوه سوی او هغه در ته ووایی چه پوه سوم دا احتیاط ددی دپاره کیږی چه بیا په کار کی یو نقصان او تاوان پیښ نه سی.

(۴) یو عیب په بنځو کښی دادی چه که ئی یو شی ته ضرورت وی او که نه وی لیکن چه خوښ ئی سی بیا ئی په اخیستو کښی صبر نه کوی که په قرض او پور سړه وی هم خیر دی چه هسی دغه شی تر لاسه کړی که دغه شی په

پورا نه خالی په خپلو پیسو ئ واخلی نو بیا هم خپلی پیسی برباد ول او ضائع کول کومه
د عقل خبره ده فضول خرچی او اسراف گناه هم ده د خرچ کولو د پاره اول خای
کتل په کار دی چه په دی خای کښی په خرچ کولو سره د دینی یا دنیوی ضرورت
سته او که نسته که ئ چیری ضرورت او فایده معلومه وی نو بیا خرچ او
مصرف کوه او که معلوم نه وی نو بیا هسی پیسی مه ضائع کوه ترڅو پورې
چه کیدای سی قرض هیڅکله مه کوه که څه هم یو اندازه په تکلیف ئ
لیکن د قرض او پور څخه خان ساته.

(۵) یو عیب په بنځو کښی دا دی چه هر وخت یو خای ته ځی برابره خبره ده
که بنار ته ځی یا بل خای ته ځی نو په یوه یوه شی پسی گرزی د پیری څنډ پیری
تر دا سی حده چه وخت د پیر تنگ سی او خپل منزل ته کوم چه اراده ئ ورته
کړیده لا پیره ناوخته رسیږی که چیری په لاره کی پرشیه سی نو د خان او مال
بیره ده که چیری دگرنی ورځ وی نو په لاره کښی دگرنی څخه خیله هم تیریږی
کو چنیان ئ هم په تکلیف کښی که چیری د باران موسم وی اول خو د باران د
اوریدو بیره ده د دوهم په خپو کښی د گاډی او بگی تلل هم مشکل دی یوه
ناوختیا اوله چه دی د کور د شیانو په تلاش او طلب پسی څنډ وکړی بله
ناوختیا اسوه چه باران او خپو ورپیښه کړه نو دا ناوختیا پر ناوختیا سوه
او که پر وخت د کور څخه ووزی بیا نو د هرشی امکان سته او که چیری
دا یو کلی ته ځی نو کوم څوک چه ئ د دی د پاره راغو بنتی دی چه دا دیو
سپرتیا په شی کښی ورسوی هغه د دی پردی وازه ولاړ وی انتظار کوی چه
کله به بی بی راووزی او دغه موټر وان پریشانه کیږی په دی چه انتظار کوی. نو
هر وخت چه دغه بنځی د پیری ناوخته سپری او روانی سی بیا نو بیرته وخپل کور

ته ناوخته را رسیږی په خپلو کارو نوکښی تکلیف ورته پیښیږی د خورک
په برابرولو کښی حُنډ راځی بیا نو داد خورک په برابرولو کښی د پرتلوار
کوی چه د تلوار په نتیجه کښی د خورک شی او پوخت حُنډی خراب سی
یوی خواته میړه سم پوخت او کښ حُنډی غواړی او بلی خواته ئی کوچنیان
ژاړی که چیری دوی پرخپل وخت سمی روانی سوی وای نو دغه تکلیفونه
به ولی پیښیدای.

(۶) یو عیب په بنځوکښی دادی چه د سفر په وخت کښی بیله کوم ضرورته
د پرسامان او اسباب ورسره وړی چه په دی سره د سپرتیا وحیوان ته
هم تکلیف رسیږی او حُای هم په تنګیږی او ترټولو زیات تکلیف د هغو
خلګو ته پیښیږی کوم چه دد غو بنځوسره ورسره دی حُکه چه دوی به د
دغو سامانو حفاظت کوی یو حُای حُای چه لاړ خراب به وی د غه سامان به
پراوبرو هم وړی د مزدوری اوکرایی پیسی به هم دوی ورکوی غرض چه
تمام غم اوجم ئی پرد غو بیچاره ګانو دی دوی په تانګه کښی بښی کراړی ناستی
وی نو سامان همیشه په سفر کښی لږ د سره وړه حُکه چه هر قسم استراحت
به دی په برخه سی د غه رنګه د ریل یعنی توړی ګاډی او موټر په سفر کښی
خیال ساته بلکه په توره ګاډی اوموټر کښی د پرسامان په وړلو سره نور
زیات تکلیف پیښیږی.

(۷) یو عیب په بنځوکښی دادی چه د موټر یا بل شی د سپرید و په وخت کښی
خلګو ته ویل سی چه مخونه پټ کړی او یا یو طرف ته سی او چه کوم وخت
بنځی سپړی سی نو هغو خلګو ته د وهم وار خبر نه ورکول کیږی چه اوس
نو مخ لخ کړی په دی کښی د ډوی خرابیانی دی اول خو هغه بیچاره ګان مخ پوټی ناست
وی چه خامخا تکلیف دی اوګاهی داسی وی چه هغوی په اټکل سره داخیال
وکړی چه د دوی پرده کړی ده نو داګمان وکړی او خپل مخان لخ کړی او یا
مخامخ راځی بی ستړی پیښه سی دا ټولی خرابیانی د د وهم وار نه خبر ولو څخه دی
نو ټولو ته دی معلومه وی چه د و باره ویل دی هم خامخا عادت وګرځوی
بس ټول خلګ دی منتظر وی او بیله خبره دی مخامخ نه راځی.

(۸) یوه خرابی په بنځوکښی داده چه په سړک او لاړکښی بی د سپرتیا شی

درولی وی او دا به وایی چه بس نړه دی غلم لیکن دا به لاپه کور کښی اخته وی او نیم ساعت مخکی به نور خلګ په قید او بستر ناست وی یوی خواته به نه ګوری حکه چه نظر یُ پر بنځه و نه لګیږی نو دا بیله کومه دلیله او سبب د خدای و مخلوق ته تکلیف ورکوی په داسی حال کښی چه دالاتراوسه په کور کښی کړه ناسته وی.

۹ یو عیب په بنځو کښی دادی چه کوم کور ته ورځی یاد تانګی یا موټر څخه کښته کیږی په تلوار او پټه خوله سړه په کور ننوزی اکثره وخت داسی پیښیږی چه دکور یو نارینه د ننه وی دهغه سړه مخامخ کیږی ستاد پاره په کار دی چه ژر د موټر او تانګی څخه مه کښته کیږه یاکه موټر او تانګه نه وی د غسی په پښو ور روانه یُ. ژوندی په کور مه ور ننوزه بلکه اول یو څوک وکور ته ورواسته کا چه هغه وګوری چه نارینه خو په کور کښی نسته او خبر ورکړی چه دغه فلانۍ بنځه در روانه ده کله چیری په کور کښی یو نارینه وی هغه به لیری سی هر وخت چه ته بنه د اخبره واوری چه اوس په کور کښی نرا د داسی نور څوک نسته نو بیا د ننه وکور ته ولاړه سه.

۱۰ یو عیب په بنځو کښی دادی چه هر وخت د(۲) وی بنځی په خپل منځ کی خبری سړه کوی. اکثره وخت دا پیښیږی چه دیوی خبره لاختم سوی نه وی بله بیا شروع سی بلکه بعضی وخت داسی پیښیږی چه دواړی په یوه وار خبری سړه کوی یوه خپله سور نا بړغوی بله خپله سُور نا بړغوی نه دادهغی بلی خبره اوری نه هغه بله د دی خبره اوری نو د غسی خبر وکولو څه فایده حاصلیږی همیشه د اخبره یاد وساته چه هر وخت دیوی بنځی خبره ختمه سی نو بیا ته خپله خبره شروع کړه.

۱۱ یو عیب په بنځو کښی دادی چه زیورات (ګینهې) او کلهرو پی او پیسی هم په بی احتیاطی سړه بعضی وار و نه تر بالښت لاندی ایږدی او بعضی وختونه نُ په تاخچه کښی بنکاړه او خلاص ایږدی د قلف او کیلی سړه سړه د دستی د سبب د غه شیان په صندوق کښی پټ نه ایږدی بیا نو چه یوشی ورک سی دکور ټول او سیدونکی بدنامه کړی چه زما شی فلانۍ بنځی غلا کړیدی

یا هغی بلی فلانی ښځی غلا کړیدی.

(۱۲) یو عیب په ښځو کښی دادی چه داد یوه کار د پاره واستول سی لیکن دا په بل کار سره مشغوله سی هر وخت چه دواړه کارونه وکړی نو بیا ځان حاضروی په دغسی کار کولو سره استوونکی ته ډیر سخت تکلیف او خفګان پیښیږی حکه چه دا د یوه کار حساب او اندازه نګولی ده چه دغه کار د دوندې وخت هر وخت چه دغه وخت تیرسی نو ده ته پریشانی وخیالات ورولویږی دی هر وخت چه دغه وخت تیرسی نو ده ته پریشانی وخیالات ورولویږی او دغه عقلمنده ښځه وایي چه اوس خو عجبه راغلی یم راسه دغه بل کار هم ورسره وکړه داسی مه کوه اول هغه لومړی کار وکړه داستوونکی فرمایش پوره کړه او بیا هغه خپل دوهم کار د اول کار تر کولو او خبرورکولو وروسته په ښه بیغمی سره وکړه.

(۱۳) په ښځو کښی یو عیب دسستی دی چه دیوه وخت کار وبل وخت ته ځندی پاته کیږی چه د دی څخه اکثره وخت تکلیف او نقصان پیښیږی.

(۱۴) یو عیب په ښځو کښی دادی چه د دوی په طبیعت کښی اختصار نسته وموقع او وخت ته نه ګوری چه داد تلواری وخت دی په مختصره طریقه سره د دغه کار څخه ځان فارغول په کار دی بس داهر وخت چه ښه اطمنان او بیغمی سره د هر کار د پاره فکر کوی په دغسی کولو سره اصل کار ځندی پاته اوخراب سی او موقع ئی دلاسه وورځی.

(۱۵) په ښځو کښی یو عیب دادی چه یوشی ورک سی نو بی تحقیقه پریو چاباندی تهمت لګوی یعنی هرچاچه یو وخت یوشی غلا کړی وی نو داد زړه بی درې به وایي چه بس صاحبه د دغه سړی کار دی حالانکه دادکومی خواضروری دی چه پټول عیبونه به یواړی په یوه انسان کښی موجود وی دغه رنګه په نورو کارونو او خبرو کښی په لږ څه شک او شبهه سره تهینګ یقین کوی چه دغه کار خاص دغه چا کړیدی.

(۱۶) د ښځو یو عیب دادی چه د پان او تمبکو خرڅ او مصرف ئی دوندی قدر زیات کړیدی چه د غریب سړی خو تر طاقت او توان وتلی دی امیران او مالدار خلګ چه کومی پیسی د دوی پر پان او تمبکو مصرفوی یواړی په د غو پیسو سره څلور پنځه مسکینان چلول کیږی د دی عادت کمول او پریښودل په کار دی.

یه دی کښی حرابی او تاوان دادی چه بیله کومه ضرورته یان او تباکهو شروع کوی بیا نو دغو شیانو عملی سی.

(۱۸) یه بنځو کښی یو عیب دادی چه هروخت د دوی یه مخ کښی دوه (۲) انسانان دیو معاملی او کار یه باره کښی خبری کوی اود دغو بنځو څخه هیڅ یو بنځ دگرد یږ نه هم نه وی کړی لیکن بیا هم خامخا حصه پکښی اخلی صلاح او مشوره ورکوی چه داسی وکړی هروخت چه یو څوک ستا څخه صلاح او مشوره طلب نه کړی نو ته بالکل گونگه او کنه کښینه.

(۱۹) یه بنځو کښی یو عیب دا هم دی چه د محفل او مجلس څخه راسی - د بڼو بنځو صورت، شکل، د دوی د زیور او پوښاک ذکر وخپل میړه ته کوی نو که د دغه ذکر یه وجه د خاوند زړه پریو بنځه عاشق سو او د هغی په فکر او خیال کښی مشغول سو نو وتاته به څوندی لوی تاوان ورسیږی.

(۱۹) یه بنځو کښی یو عیب دادی چه هروخت ویو چاته خبره کوی نو هغه بل که هرڅوندی یه یو کار کښی مشغول او اخته وی یعنی دیو چا سره خبره کوی بس دوی هیڅکله انتظار نه کوی چه د هغه کار یا خبره ختم سی بیا دوی خپله خبره وکړی بلکه د دره د کار او خبری په منځ کښی ورد غورزی. دا رنگه د بنځو د پاره ډیر بد اوناوړه کار دی لږ څه صبر کول په کار دی او هروخت چه هغه ستا وطرف ته متوجه سی بیا نو خبری ورسره وکړه.

(۲۰) یه بنځو کښی یو عیب دادی چه خبره همیشه نیمگړی او نامکمله کوی او پیغام هم نیمگړی رسوی چه یه اصل مطلب نی څوک نه پوهیږی غلطه معنی څنډی را باسی نو بعضی وار و نه یه دی سره کار خرابیږی او بعضی وختونه د دغی غلطی معنی د را ایستلو یه سبب د دو (۲) انسانانو په مابین کی خفگان پیدا کیږی.

(۲۱) یه بنځو کښی یو عیب دادی چه خبره ورته کوی پوره غوږ نه ورته

نسی کله په یوه کار خان اخته کړی کله دیو چاسره په دغه وخت کښی خبری شروع کړی نو د خبری کوونکی زړه هم خفه سی او پرده ئی پوره یقین هم نه وی چه زما دغه فرمایلی کار به وکړی خکه چه دی هر وخت پوره خبره نه وی اوریدلی نو به د دغه کار څرنگه وکړی.

(۲۲) په بنځو کښی یو عیب دادی چه خپله خطا یا غلطی هم نه منی تر څو چه کیدای سی د خانه خبری جوړوی که ئی خبری سره لګیږی اوکه نه سره لګیږی خو دا به ئی خامخا سره جوړوی.

(۲۳) په بنځو کښی یو عیب دادی که دیو خای څخه لږ شی ورته راسی یا هغه شی لږ څه بیکاره وی نو به دی پزه تړوه نیولی وی او دغه شی به ګندی ګندی وهی چه کوردی خراب سی چه داشی ئی رالیږلی دی د دی شی په رالیږلو سره شرمیدی هم نه نو بنځی باید فکر وکړی داډیره بده خبره ده خکه چه دهغه رالیږونکی به دغه وس او قدرت ؤ او ستا خونه کوم پورپر باندی اونه ئی و تانه کوم تاوان رسولی و و فقط یو احسان ئی د سره وکړی او دمیړه سره هم د دی دغه معامله ده چه په خوشحالی سره شی نه خندی اخلی په شی کښی شل عیبونه پیدا کوی بیرته ئی ورغوړ حوی نه ئی کوی تر دغو جنجالو ورسته شی قبلوی.

(۲۴) یو عیب په بنځو کښی دادی چه د دی ته دیو کار وویل سی نو په کار کښی ئی نی او خان کنجول کوی تر دغه ورسته بیا کار کوی نو چه اخیر دغه کار کوی نو بیا د دغسی چټی خبرو څخه فایده ده ناحقه دبل چا طبیعت خرابوی او خپل طبیعت هم خرابوی.

(۲۵) یو عیب په بنځو کښی دادی چه اغوستی کالی ګندی نو د دی سبب بعضی وختونه ستن په جګیږی نو بیله کوم ضرورته دغه تکلیف کول په کار نه دی.

(۲۶) یو عیب په بنځو کښی دا هم دی چه د راتلو په وخت کښی یا د رخصتید و په وخت ټولی په ګډه سره خامخا ژاړی برابره خبره ده که ژړا ورځی اوکه نه ورځی مګر د دی بیری څخه ژاړی چه د اسی څوک ونه وایی چه په دی کښی وصیله او محبت نسته.

(۲۷) یو عیب په بنځو کښی دا هم دی چه اکثره وخت په بالښت کی یا د غسی بل شی کښی ستن

پریږدی دا یو خواته ولاړه سی او یو څوک په ناخبر تیاسی ګړه په دغه ستنې کښې کښینی او ستنې په جګه سی.

(۲۴) یو عیب په ښځو کښې دا دی چه کوچنیان دګرځی او یخ څخه نه ساتی نو په دی وجه اکثره کوچنیان مریضان کیږی بیا نو یوی خوا او بلی خواته یې تعویذ نو پسی منډی وهی دوا او علاج نه په کوی او آینده هم دکوچنیانو سره احتیاط نه کوی.

(۲۵) یو عیب په ښځو کښې دا دی چه کوچنیان ټوږی نه وی مګر دوی په زور شی په خوری یا ومیلمه ته ډیره ټینګیږی ډوډۍ په زور په خوری او چه وکوچنیانو ته بې لوږی شی ورکوی د دغه زور هم بیرته تر دوی خیژی ځکه چه کوچنیان ناجوړه کیږی بیرته ټې د دوی سره اړوی.

یو څو انتظام او تجربې خبرې

(۱) ترخو پورې چه کیدای سی د خپلو دوٗ(۲) زامنو یا دوٗ(۲) لونو وده نه پریږه ځای مه کوه ځکه چه په مرندو او داغه رنګه په زومانو کښې ضرور فرق وی په خپله دانجینو او هلکوانو په صورت، شکل، کالو، رنګ، رواج، نوُر، صبر حیا او شرم کې خامخا فرق وی او دغه رنګه ټې په نورو ډیرو شیانو کې هم فرق وی نو چه په یوه پلا دوٗ(۲) ناوې راوادره سی یا دوٗ(۲) زومان په یوه وار و محفل او مجلس ته حاضر سی نو خلګ او ښځې خامخا وایي چه یوه ناوی ښایسته ده او دغه بله دکار نه ده او دغه یو زوم ښه ځوان دی او دغه بل بیکاره او بدشکله دی نو په دی وینا سره ناحقه دیوه زوم یا ناوی زړه ماتیږی نا امیدی ورته درځیږی.

(۲) پرهر چا باندی باور او یقین مه کوه د چا په امید سره کور خوشی مه پریږده غرض ترخو پورې چه دی یو څوک په هره معنی سره ښه او پوره ازمیلی نه وی پرده اعتبار او باور مه کوی خصوصًا په اکثره ښارو کښې ډیرو ښځو خپل ځانونه دمکې متولیان جوړ کړی وی د دین ټیکه ټې کوی څوک ټې فالونه ګوری او بعضی د دوی څخه خپلې تماشې او چکرونه

وهی نو د غسی بنځی بالکل وکوړته مه پریږده د دروازی څخه ئی پسی اخله
دوندی ئی مه پریږده چه ستا و دروازه ته ودریږی ـ د غسی بنځو ته پیر
کوړونه لوټ کړی دی.

(۳) صندوقچه یا پان دانه چه په هغه کښی ته روپه پایسی او زیورات
ایږدی هغه قلفوه دا غسی خلاص ئی مه پریږده چه ته خندی ولاړه
سی یا چه هر څای ته څی هلته ئی درسره وړه.

(۴) ترڅو پوری چه کیدای سی سودا په قرض (پور) مه اخله او که چیری
وقرض کولو ته ډیره مجبوری وی یوشی په پور سره اخلی بیانو دشی
د قیمت پوښتنه وکړه د دغه شی قیمت (بیه) او تاریخ (نیټه) دواړه درسره
نوشته کړه هر وخت چه دی پیسی ولاس ته راسی نو سمدستی خپل پور
او قرض ادا کړه.

(۵) هغه بنځه چه کالی په پریمنځی هغه بنځه چه غله اوغنم په میدوی. د
دوی ټولو مزدوری حساب لیکه خپل کالی اوغله چه دی دوی ته په مزدوری
ورکړی وی د دغو خپلو کالو او غلو حساب هم لیکه د خولی اوژبې پر یاد باورمه
کوه.

(۶) خوندی چه کیدای سی دکور خرڅ په کفایت او انتظام سره کوه بلکه هر
خوندی پیسه چه په لاس درځی په هغه کښی یو څه د ځانه سره بچته وه اوساته.

(۷) کومی بنځی چه د بل کور اوځای څخه ستا وکور ته راځی د دوی په مخکی
داسی خبری مه کوه چه د دغو خبرو ویل په بل ځای کښی ستا خوښ نه وی
څکه چه داسی بنځی دیوه کور خبره په لسو کورونو کښی کوی.

(۸) اوړه او ورجی په اټکل او تخمین سره مه پخوه د خپل خرڅ او مصرف
اندازه معلومه د دواړو د ختو نوشیان په پیمانه او تول سره مصرفوه
که پرد غسی کولو باندی څوک طعنه اوپیغور درکړی پروائی مه کوه او خپل
کار کوه.

(۹) کومی نجونی چه د باندی ورځی هغوی ته زیورات او گیني مه ورپه غاړ
کوه په دی کښی د دوی د ځان او مال د دواړو خطره ده.

(۱۰) که یو سړی ستا و دروازی ته راسی او ستاد پلار یا میړه یا ورور سر

د ملاقات یاد وستی او محبت یاد څه قسم دوستی د تعلق اظهار وکړی هیڅکله ئی کور ته مه راوله یعنی چه ته پرده او ستر حُنډی کوی هم ئی مه را بوله او مه یو قیمتی شی ورکوه د بیګانه سړی په شان ودانه ته چوچی او غیره ور ولیږه د پیر محبت او اخلاص مه ور سره کوه تر څو پورې چه ستاد کور سړی دغه څوک ونه پیژنی دغه رنګه د دغسی سړی را لیږل سوی شی هیڅکله مه استعمالوه که ئی څه هم دغه سړی بده وبولی لیکن هیڅ پروائی مه لره.

(۱۱) دغه رنګه که یو نابلده بنځه در پسی راسی چه فلانی کور ته ئی غوښتی یی زما سره ولاړه سه نو هیڅکله د دغی نابلدی بنځی په ویناسره د کور کاله ورنه - غرض د نابلده بنځو او خلګو په خبره هیڅ باور مه کوه مه د دوی په خبره سره هیڅ کار کوه او مه د خپل کور څخه یو شی ور کوه که بنځه وی که نر وی که شی پرخپل نامه غواړی یا ئی د بل پر نامه غواړی

(۱۲) په کور کښی داسی درخته هیڅکله مه لګوه چه د دی د میوی به را ایله کیدو سره د انسان د زخمی کیدو بیره وی لکه د کینو درخته.

(۱۳) دیخ په موسم کښی کالی یو څه پیرا غونده اکثره بنځی د پرلږ کالی اغوندی بیا نو کله ز کام ور پیښیږی کله تبه ور پیښیږی.

(۱۴) وکو چنیانو ته د هور او پلار نوم بلکه ځنیکه نوم هم ورزده کوه او یو وخت وخت د دغو نومونو پوښتنه هم حُنډی کوه چه هیر ئی نه سی چد دغه نومونه ئی یاد وی په دی کښی دا فایده ده که چیری خدای غواسته کوچنی ورک سی او یو څوک د دغه څخه پوښتنه وکړی چه ته د پلار ځوی ئی ستا مور او پلار څوک دی نو که چیری د کوچنی نوم یاد وی نو بیا خامخا دغه نوم یاد وی او یو څوک خامخا دغه کوچنی وتاته راوښی که چیری د کوچنی نوم یاد نه وی، نو د پوښتنی په وخت کښی فقط دوندی وایی چه زه د اد پی زوی یم زه د باب زوی یم دا نه معلومیږی چه اد پی څوک د زه بابا څوک دی.

(۱۵) یو خای یو بنځی خپل کوچنی پریښوی په یو کار پسی ولاړه تر دی وروسته پښی راغله دغه کوچنی ئی د وندی قدر منګواچی کړی چه کوچنی مړ سو د دی څخه دوی خبری معلومی سوی یو د اچه کوچنی هیڅکله یوازی پری نه بښول سی بل د اچه په پښی، سپی او بل حیوان هیڅ باور نسته بعضی بنځی بیعقلی

کوی چه پشانی ورسره بیده وی نو په پشی څه اعتبار سته که چیری د شپی په دهوکه او خطا سره منگو اچی یا خوله په ولگوی یا ئی نرغاړه ونیسی بیا نو څه کوی.

(۱۶) دوایی اول ډاکټر او طبیب ته ورښکاره کوه نرښکاره کولو وروسته ئی استعمال کړه بعضی وخت ناپوهه پنسارران او دوکانداران دیوی دوا پرځای بله دوا ورکوی او کله زړه دوا ورکوی چه اثر ئی ختم سوی وی او کومه دوا چه په بوتل یا ډبی او ډبلی یا پوړی کښی نرخوړلو وروسته پاته سی او داستعمال ضرورت ئی فی الحاله نه وی یا کومه دوا چه په خپل بوتل او ډبلی کښی نه وی بلکه په پردی بوتل او ډبلی کښی وی نو پردغه سره بیره یو کاغذ ومنلوه او دوانوم پرولیکه څکه چه ډیر وار ونه دامی پیښیږی چه هیڅوک دغه دوانه پیژنی ددی سببه که هرڅوندی قیمتی دوا وی غورځوی یی. او بعضی وار ونه ئی دغه دوا غلطه کړی وی او بیا ئی په بله جلا مریضی کښی په غلطی سره استعمالوی او ډیر تاوان ځندی پیښیږی.

(۱۷) د لحاظ د ځای څخه هیڅکله قرض مه کوه و بل چاته زیات قرض مه ور کوه دوندی قرض ورکوه که چیری وصول نه سی ستا گذاره کیږی او فرق نه درکوی.

(۱۸) چه یولوی یا نوی کار کوی نو اول دیو پوه او دیندار ه او خیرخواه انسان سره صلاح او مشوره کوه.

(۱۹) خپلی روپی پیسی او مال پټ ساته وهرچاته دامه وایه چه زه دوندی روپی او پیسی لرم.

(۲۰) چه چا ته خط لیکی نو خپله پته صافه او واضح لیکه او هروخت چه ودغه ځای ته دوباره خط لیکی نو داسی مه وایه چه په اول خط کښی می پته لیکلی ده او س ئی ضرورت نشته څکه چه اول خط خدای خبر دی دهغه سره موجود وی که نه وی که چیری ورسره موجود نه وی نو څوندی به پریشانه سی څکه کیدای سی چه پته او ادرس به ددغه زبانی هم یاد نه وی یاد نه خط او نه تعلیم په وجه سره به وهغه چاته چه دی خط په لیکی پته ورښوولای نه سی.

(۲۱) که چیری په توره گاډی یا بس کښی د سفر کولو ضرورت پیښ سی نو خپل

ټکټ (ټکس) په ډیر حفاظت سره وساته یا ټکټ د خپلو سره د اوخلګو ته ورکړه په ګاډی کښی غفلت مه کوه ډیره مه بیدیره او مه د خپل راز خبری و بلی مسافری سنځی ته کوه او مه د خپل سامان کالو او زیورلتو حال ورته بیانوه اوکه یو څوک یوشی درکړی مثلاً پان، نسوار، خوږی او داسی نور نو مه ئی خوره په ګاډی یا بل شی کښی چه ځی نو زیورات او ګینهی مه اغوندئ بلکه په صندوقچه یا بل شی کښی ئی د ځانه سره وساته هر وخت چه منزل او کورته ورسیدی بیا نو هر وخت چه زیورات په غاړه کوی پروا نه لری.

(۲۳) په سفر کښی د ځانه سره یو څه خرڅ ضرور وړه.

(۲۴) په لیونی کار مه لره مه د د سره خبری کوی حکه چه هر وخت د د ه فکر او حواس پر ځای نه وی نو خدای خبر چه تا ته به څه ووایی یا به څه وکړی نو ناحقه به شرمنده او غمجن سی.

(۲۵) په تاریکه کښی د لاس ورځ چوه د هغه ځای ته څراغ اول واچوه چه رونا سی بیا و د غه شی ته لاس ورووړه.

(۲۶) خپل راز هر کس او ناکس ته مه وایه بعضی خلګ خپل راز بل ته ووایی او بیا تاکید او ټینګښت پرکوی چه زما راز دی ستا سره امانت وی چا ته ئی مه وایه او په دی خبره هغه چیری منعه کیږی بلکه خامخا د غه راز وایی

(۲۷) ضروری د وایانی همیشه په خپل کور کښی ساته.

(۲۸) هر کار چه کوی اول او اخیر کار ته فکر کوه بیا د غه کار کوه.

(۲۹) چینی او د سیښو لوښی د غه رنګه نور سامان بیله ضرورته ډیر مه رانیسه چه په دی کښی ډیری روپی برباد یږی.

(۳۰) که سنځی په تور ه ګاډی کښی سفر کوی او کوم خلګ چه د د وی سره او رسره دی هغه بل ځای ناست وی نو پرکوم استیشن چه کښته کیږی نو چه هر وخت ګاډی ودغه استیشن ته ورسیږی او د غه سنځی دیوچا د خولی څخه د د غه استیشن نوم واوری یا پر یو تخته لیکلی وی د وی د غه نوم پخپله د وینی نو بیا دی هم د وی پرخپل سر باندی نه کښته کیږی. ځکه چه په بعضو ځایونو کښی د وه (۲) استیشنان وی کیدای سی کوم خلګ چه د د وی سره

درسره وی هغه پرهغه بل استیشن کښته سی نو نزاد بنځی دواړه به پریشانه سی یاسړی بیدره سوی وی هغه دلته کښته نه سی او بنځه دلی کښته سی. نو بیادواړه پریشانه کیږی او غم جوړیږی. دغه رنګه که بل سړی یا بنځه درته ووایی چه راته سه سړی دی کښته سو بیادی هم نه راکښته کیږی مطلب په سفرکښی چه خپل درسره سړی ورته ویلی نه وی دګاډی څخه دراشوره کیدو یاختو یادیو بل کار تر هغو پورې دی دهیڅ خبره نه منی اونه دی په قول کوی.

(۳۰) په سفرکښی دی تعلیم یافته بنځی دغه شیان هم دځانه سره وساتی یو دمسئلو کتاب، پنسل، کاغذ، یولږ څه کار پټونه اود اوداسه لوښی.

(۳۱) چه څوک په سفر روانیږی نو تر څو چه کیدای سی دشیانو فرمایشونه مه ورکوه چه د فلانی ځای څخه ماته فلانی شی راوړه. زما فلانی شی په فلانی ځای کښی پروت دی چه راځی هغه شی درسره راوړه یادغه سامان درسره یوسه و فلانی ته ئی ورکړه یادغه خط فلانی ته ورکړه. ددغو فرمایشونو په وجه اکثره وخت انسان تنګ او په تکلیف کیږی اوکه دغه سفرکونکی بی فکره وی نو ته به ددې په طمعه ئی لیکن ده به هیڅ کار نه وی کړی نو تا ته به تاوان ورسیږی اوخط خو هرڅای چه ستا زړه غواړی دډاګ په ذریعه په یوه یاد وی روپی سره استولای سی او نور سامان په نورو ګاډی یابس کښی راغونبستلای سی اوهم ئی پکښی استولای سی.

دغه رنګه هغه شی چه ته ئی د مسافر څخه راغواړی که چیری دلی پیدا کیدای سی نو دلی ئی رانیسه که څه هم یو څه ګران وی د خپلی لږ ګټی د پاره نور خلګ په تکلیف کښی اچول ښه کار نه دی بعضی کارونه معمولی او واړه وی مګر په کولو ئی ډیر تکلیفونه پیښیږی اوکه چیری ډیره ناچاری وی اوته سخت مجبور یې چه د مسافر څخه شی راوغواړی نو تر راغونبستو مخکی د شی قیمت ورکړه او دغه رنګه د دغه شی کرایه هم ورکړه ځکه که نه قیمت ورکړی نه کرایه ورکړی نو ده ته دوه تکلیفه ورکوی چه د خپله جیبه به د شی قیمت هم ورکوې دا یو تکلیف سو اوکرایه به ئی هم ورکوی دابل تکلیف سو او دراوړلو تکلیف ئی لاجلا دی.

(۳۲) په تورہ ګاډی یا بل د غسی شی کښی د نابلده سړی دلاس شی هیڅکله مه خورہ بعضی شریر او غاړه خلګ په دغه شی کښی زهر یا د نشی شی ګډوی بیا ئ په خلګو خوړی هر وخت چه خلګ نشه یا مړه سی نو ټول سامان او پیسی ځندی اخلی او تښتی .

(۳۳) چه د تورې ګاډی په خټ کښی ستا تلوار وی چه ګاډی راځخه ولاړه نه سی نو په دغه وخت کښی خیال ساته چه د هری درجی ټکټ ستا سره وی په هغه درجه کښی کښینه د دغه څخه دلوړی کرایی په درجه کښی مه کښینه .

(۳۴) د ګنډلو په وخت کښی که په ټوکر کښی ستا ښځه بنده سی نو د غه ستا په غاښو سره مه راکشوه بعضی وخت نه ستا ماته سی یا غاښونه پروښوهیږی او په تالو ښوزی .

(۳۵) ناخونګیر د نوکانو د پاره ضرور د سړی کار ساته چه هر وخت دی نوکان لوی سی په پریکوه ئ .

(۳۶) د بل د لاس جوړه سوی د واهیڅکله مه استعمالوه ترڅو پوری چه د دغې دوا پوره نسخه دی یوه تجربه کار او پوه طبیب ته وړ ښکاره کړی نه وی او اجازت دی ځندی اخستی نه وی خصوصًا په ستړګو کی د غه رنګه دوا هیڅکله مه اچوه .

(۳۷) د کوم کار په کولو کښی چه ستا پوره یقین نه وی نو بل سړی مه په طمعه کوه ورنه بیا به تکلیف او زحمت درته پیښ سی .

(۳۸) د چا په مصلحت کښی خپل مداخلت او اصلاح مه کوه لیکن که د غه څوک ستا په اختیار کښی وی یا پوښتنه درڅخه وکړی بیا هیڅ پروا نه لری .

(۳۹) چاته د پیر مه تینګیږه چه پاته سه زما سره میلمه سه او مه د شی په خورلو کښی تینګار پرکوه بعضی وار و نه په د غسی تینګار کښی و د غه چاته د پیر تکلیف رسیږی د داسی محبت څه فایده ده چه اخیر کار نفرت او الزام وګرځی .

(۴۰) د وندې د روند شی مه پورته کوه چه په پیر مشکل سره ئ پورته کوی موږ د پیر انسانان لیدلی دی چه په کوچنیوالی ئ د روند شی پورته کړی وی او دک ئ ځندی اخیستی وی بیا نو ټول عمر په تکلیف وی خصوصًا انجون

اوښتی باید چې احتیاط وکړی حکه چه د دوی د بدن بند وی نه، رڼوونه. پلی د سړه څخه هم کمزوری او نازکی وی.

(۴۱) ستن یا بل د غسی تیږه شی نه خایه مه پریږده د سی نه چه څوک راسی اوپرکښینی په د غه ستن یا بل شی سړه خوږ سی باید ستن او د اسی بل تیږه شی پرځپل ځای کښیښوول سی.

(۴۲) که چیری ستا او د بل چا په مابین کښی یو څوک ناست وی نو دد ه پرسر سړیږه وهغه بل چا ته درومند یا خطرناکه شی یاد خوږلو یا چښلو شی مه ورکوه حکه کیدای سی چه د غه شی د دلاس څخه ولویږی او ناست سړی پرسر باندی ایله سی.

(۴۳) کوچنی یا شاګرد ته چه سزا ورکوی نو په غټ لرګی، لغتو یا سوک سړه نۍ مه وهه خدای دی نه کوی که چیری یو نازک ځای لرګی یا د غه نور شیان ولګیږی نو تر فایده به نۍ تاوان یو په سله زیات سی پرمخ او سر نۍ هم مه وهه.

(۴۴) هر هغه ځای چه میلمنه سی او پوډی دی مخکی خوږلی وی نو درسیدو سړه سم د د غه کور خلګ خبر کړه چه ما پوډی خوږلی د ه حکه چه هغه د پیر لحاظ د سبب ستا څخه پوښتنه نه سی کولای او پټ پټ ستاد پاره د پوډی بند وبست کوی که وخت وی که نه وی نو دوی پرځان تکلیف ګیر کړی پوډی تیاره کړی او ستا مخ ته نۍ کښیږدی لیکن ته ورته ووایی چه ماخو پوډی خوږلی د ه نو په دی سړه به دوی څوندی خفه سی - او څوندی افسوس به کوی چه اول دی ولی نه ویل.

د غه رنګه که یو بل څوک (د د غه کورنۍ څخه ماسیوی) ستاد پاره میلمستیا وکړی او درته تینګ سی چه زما سړه پوډی وخوړه نو د هغه کور څخه (چه ته ورته راغلی نۍ) اجازت واخله - او که ستا پخپله د د غه کورنۍ سړه (چه ته د دوی د پاره نه یې راغلی) خو ښه سوه چه د الته پوډی وخوړی نو هغه کورنۍ چه ته د دوی د پاره راغلی یې په دی خبره کړه چه زه نن د فلانی میلمه یم د دی د پاره چه هغه ستاد پاره د پوډی بند وبست او خرڅ ونه کړی.

(۴۵) کوم خای چه د لحاظ او تکلف وی په هغه خای کښی د خرڅولو اوږانیولو معاملې کول مناسب نه دی ځکه چه په دغسی خای کښی نه صافه خبره کیدای سی اونه خواهش پوره کیدای سی یو په زړه کښی یو قسم فکر کوی بل په زړه کښی بل شان فکر کوی اود دغی سودا اخیر کار او انجام ښه نه وی.

(۴۶) په چاتو او داسی بل شی سره غاښونه مه گروه.

(۴۷) کوم کوچنیان چه سبق وایی هغوی ته همیشه د دماغ د طاقت غذا او خوراک ورکوه

(۴۸) ترڅو چه کیدای سی د شپی په یواځی خونه او خای کښی مه بیدیږه څه معلومه ده چه څه پیښیږی اوکه ناچاری وی بیا خو بله خبره ده د ډیر خلگ دغه شان مړه دی او ډیری ورځی پس بیا خلگ په خبر سویدی.

(۴۹) واړه کوچنیان د خاه پرغاړه مه پریږده بلکه که په کور کښی خاه وی نو بیا یو تخته اود ورازه پرکښیږده او هر وخت ئی قلف وساته وکوچنیانو ته بدنی یاد او بو بل لوبنی داو بوراوړلو د پاره مه ورکوه او بوته ئی د راوړلو د پاره مه لیږه ځکه کیدای سی چه دوی خپله د خاه څخه او به راکښل شروع کړی او په نتیجه کښی په خاه کښی ایله سی.

(۵۰) د بره، شازه، او خښته چه تر پیره وخته پوری پریږه خای پراته وی اکثره وخت تردوی لاندی لړمان او داسی نور شیان پیدا کیږی نو دغه ډبره وغیره د دغسی مه پورته کوه اول ښه وگوره بیا ئی په ښه احتیاط سره راپورته کړه

(۵۱) هر وخت چه پرفرش باندی بیدیږی یا پریږی بستره باندی بیدیږی نو دا په یو توکر سره بیرته ښه صفا کړه شاید چه یو خصمان به ورغلی وی.

(۵۲) د ورینمیو او وړینو کالو او جامو په کتو او کوتانو (گونجو) کښی د نیم د درختی پانې او کاغذونو ایږده چه په دی سره کالی بیا چینجان او وینه نه کوی بلکه دغسی ثابته به وی او نه به خرابیږی.

(۵۳) که په کور کښی روپی او پیسی په یو خای کښی پټی ایږدی نو د کور یو انسان یاد وه انسانان چه ستا پر اعتبار وی دوی ته هم دغه د پیسو خای ورښیه - یو خای یو بنځی د خپل خاوند گټلی روپی چه پنځه سوه وی پټی اینبی وی چه بل څوک ئی نه وو په خبر کړی نو دا مړه سوه او د پیسو

خای وهیچا ته سم ورمعلوم نه وو نو پتول کور وکینل سو لیکن هیخ خای روپی پیدا نه سوی . د بنځی میړه غریب سړی دو فکرا وخیال وکړه چه څوندی غم اوتکلیف به ور پلیس سوی وی .

(۵۴) بعضی څوک قلف وصندوقچی یا بکس ته ورواچوی لیکن بیاهم پرشا اوخوا وصندوقچی وغیره کیلی پریږدی داخوندو غلطه خبره ده .

(۵۵) دخاودو تیل (تیل خاک ـ گاسلیټ) لگول په نقصان کوی دغه مه لگوه دخراغ دپاره بتی او فلیته په خپل لاس جوړه کړه وروایۍ چوه چه نه په پیره پنډه وی اونه په پیره باریکه وی بعضی بیعقلانی مزدورانی وخراغ ته پیری پنډی پلیتی ورا چوی ناحقه دوه چنده درې چنده تیل برباد یږی په خراغ کښی د پلیسی اچولو یا راکښلو یا صافولو دپاره یولرگی یا د اوسپنی یا پیتل تارضرور کښیږده ورنه بیانو مجبورو لۍ چه گوتی به په خرابوی خراغ په لاس سره مه وژنه بلکه د خراغ د وژلو دپاره پیک یا پتو کرمناسب دی اود مجبوری په وخت کښی خراغ په پوه کلوسره وژنه

(۵۶) د شپی په وخت کښی چه روپی یا بل شی حسابی نو کرارکرار اوآهسته لۍ شمیره چه آواز دی څوک وانه وری د دی پلسو په زړو خلگ دښمنان دی .

(۵۷) بل اوگیدلی خراغ په یوازی خونه کښی مه پریږده په داسی حال کښی چه ته څندی ولاړه سی د غه رنگه داور لگیت لگیدلی دانه یا بل د غسی دو دیدونکی شی هسی بل مه غوړ څوه د غه یا مړکړه بیائ وغوړ څوه یائ وغوړ څوه بیائ تر څپلیو لاندی کړه چه مړسی . بالکل چه اور اوشغلی پکښی پاته نه سی .

(۵۸) کوچنیان هیڅکله مه پریږده چه دماچس (اور لگیت) په بله (لگیدلی) دانه سره بازی وکړی یا په اور یا د آتش بازی په شیانو سره بازی وکړی ځکه چه زموږ دکور وځنگ ته په یوکور کښی یوکوچنی داور لگیت په دانه چه لگیدلی وه بازی کولی چه په نتیجه کښی لۍ قمیص اور واخستی تولـه سینه لۍ وسوځل سوه اوبل خای بیا د آتشبازی څخه دیوهلک لاس وسوځل سو .

(۵۹) بیت الخلا او د حاجت خای ته چه بل (لگیدلی) خراغ یوسي نو خیال کوه په پیر احتیاط کوه چه کالی دی په ونه سوځل سی دا رنگه په پیر خلگ سوځل سوی دی

خصوصاً د خاورو تیل خو نور هم غضب دی.

دکوچنیانو سره د احتیاط کولو بیان

(۱) هره ورځ د کوچنی لاسونه، مخ، غاړه، غوږونه، څټ او داسی نور په لاندنه بټوکر سره ښه صفا کوه که چیری پر دغو ځایونو یا د بدن پر نورو ځایونو خیره جمعه سی نو بیا په دغو ځایونو او بدن کښی زخمونه پیدا کیږی ځکه چه خیره ډیره تیزه ده.

(۲) هر وخت چه کوچنی وړی یا غټ بولی وکړی نو دستی ئی په او بو سره صفا کوه داسی مه کوه چه په خالی بټوکر سره ئی وچ کړی ځکه چه د خالی بټوکر په وچولو سره د کوچنی په بدن کښی خارش او سوزش پیدا کیږی که چیری د یخ موسم دی بیائی په نیمگړو اوبو سره صفا کوه.

(۳) کوچنی همیشه جلا بیده وه د خانه سره ئی مه بیده وه د حفاظت د پاره د ده د کټ د دواړو خواوو سره د دی چارپایانی نوری وښلوه یا د ده د دواړو اړخونو سره د وه بالښتان کښیږده د د پاره د دی چه د کټ څنډه راونه لویږی چه یو ځای ئی د خانه سره بیدوی په دی کښی دا ډیره ده چه د خوب په وخت کښی به ئی ترځان لاندی کړی او ته به په خبره هم نه ئی او د کوچنی لاسونه او پښی خو نازک دی نو دا هیڅ د تعجب خبره نه ده چه وده ته یو تاوان ورسیږی یو ځای د غسی د شپی یو کوچنی د ښځی تر اړخ لاندی سوی او سهار چه دا راکښینسته هغه مړ وو.

(۴) کوچنی د خانگو ډیر مه عادتی کوه ځکه چه خانگو هر ځای نه پیدا کیږی او د غه رنگه ئی په غیږ کښی ډیر مه اخله په دی سره کوچنی کمزوری کیږی.

(۵) کوچنی په دی عادتی کړه چه د کور د هر انسان سره مینه او علاقه ولری د کور هر انسان ته ورځی که چیری کوچنی په کور کښی د یوه چا سره علاقه ولری یوازی هغه ته ورځی نو که د غه څوک مړ سی یا یو بلی خوا ته ولاړ سی نو بیا کوچنی ډیر غمجن کیږی ځکه چه د کور د بل انسان سره خو دده علاقه نه ښته بس په هغه چا پسی ژاړی چه ورک دی یا مړ دی.

(۶) که چیری کوچنی ته دډایي شیدی اوتی ورکول غواړی نو داسی دایي تلاش (پیدا) کړه چه ښی شیدی ئې وی خوانه وی اوددی شیدی تازه وی یعنی ددی دلنگوالی اوکوچنی دپیدا کیدو به ترشیر میاشتی زیاتی نه کیږی ددی خویونه به ښه وی، دیندار ه به وی، بی عقله، بی شرمه، بدکاره، بخیله اوطامع به نه وی.

(۷) هر وخت چه کوچنی دخورک قابل سی نو ددایي اوخدمتګاری پرلاس ددی خورک مه پریږده بلکه په خپل لاس سره یادبو اعتمادی او پوه سړی په لاس سره خورک ورکوه ددی دپاره چه بی انډاری خورک ونه کړی. چه مریض سی اوچه مریض سی دواهم په خپل لاس سره ددی دپاره جوړه کړه اوکه دی دواد بازارڅخه راوغوښته نو بیا ئې په خپل لاس سره په ډوډۍ خوړه یا چه دایي اوخدمتګار ه دواورکوی ته ورنه ګوره.

(۸) هروخت چه کوچنی یوڅه پوه سی نو بیادی امروخته کړه چه په خپل لاس سره پخپله ډوډۍ اوداسی نور وخوری تر ډوډۍ خوړلو مخکی لاس ورمینځه په راسته لاس ډوډۍ ورزده کړه دی په لږ خورک کولو عادت کړه ددی دپاره چه مریض اوحرص کونکی نه سی.

(۹) مور او پلار دی هم خپله فکر کوی دغه رنګه کوم سړی یا ښځه چه دکوچنی دخدمت دپاره مقرره سوی وی هغه دی هم فکر اوخیال ساتی چه کوچنی هر وخت صاف اوستره وی هروخت چه ئې لاسونه اوپښی خیرن سی ورپرې ولی دی.

(۱۰) که کیدای سی نو هروخت خپل کوچنی دیوکوچنی سره کښینوه چه ساعت ئې ورسره تیرسی دبازی اولوبو کولو په وخت کښی فکر پرکوه چه ډیری خفاستی اوټوپونه ونه وهی پرلوړځای ئې ولوبوا وسات تیرولو ته مه پریږده ځکه چه راایله به سی دښواوشریفو خلګو درامنو سره ئې پریږده. چه ددوی سره لوبی اوبازی وکړی دکم ذاته اوبی دینه خلګو درامنو سره ئې وسات تیرولو ته مه پریږده دغه رنګه دوی مه پریږده چه په ډیرو کوچنیانو کښی بازی وکړی. اودغه رنګه دوی مه پریږده چه په سړکانو اوکوڅوکښی سات اوبازی وکړی په بازار اودغسی نورو ځایوکښی ئې په غیږ کښی مه ګرزوه هری خبری اوځای ته ګوره دموقع سره مناسب آداب اوقاعدی

ورزده کوه او د بی حایه خبرو څخه ئی منعه کوه .

(۱۱) د کوچنی پرخدمتګاری پښیمانه کوه چه په بل حای کښی د خورک د پاره شی ورنه کړی که یو څوک و د غی خدمتګاری یاد کوچنی ایمنو نکی ته د کوچنی د پاره د خوړلو یا چښلو یو شی ورکړی نو د غه شی دی راوړی د هورا و پلار په مخ کی دی کښیږدی پرخپل سر دی نه ورکوی .

(۱۲) کوچنی دا رنګه امو خته کړه چه د خپلو مشرانو څخه علاوه د بل چا څخه هیڅ شی و نه غواړی او نه بیله اجازی د چا شی واخلی .

(۱۳) د کوچنی سره په پیره ژباته مینه او محبت مه کوه ورنه خرابیږی .

(۱۴) و کوچنی ته په پیری تنګی جا نی مه ورا غونده او مه په پیری ګلدار ه او خلکو جا نی ورا غونده مګر په کوچنی او لوی اختر کښی پروا نه لری .

(۱۵) کوچنی په دی سره عادت کړه چه د غا شود صفا کولو د پاره منجن او مسواک استعمالول شروع کړی .

(۱۶) د دی کتاب په اوومه (۷) حصه کښی چه کوم آدبونه او قاعدی د خوړلو، چښلو ، د خبرو اترو او د ناستی او ولاړی لیکل سوی دی کوچنی د دغو ټولو عادتی کړه دا مه وایه چه لوی سی پخپله به ئی زده کړی یا چه لوی سی بیا به ئی ورو بښیم دا خبره یاد وساته چه د ځانه څوک شی نه سی زده کولای او د غه رنګه په صرف ویلو سره خو شی زده کولای سی لیکن عملی کولای ئی نه سی ورسره عادت کیدای نه سی او تر څو پوری چه د بنو خبرو او کارو ئی عادتی نه کړی که هر څوندی شیان ورزده کړی بیا هم همیشه د دغه څخه بی عقلی ، نالایقی او زړه درد ونکی خبری کیږی - په پنځمه حصه او د نهمی حصی و اخیر ته نژدی د کوچنیانو د ادب او صحت او احتیاط په باره کښی هم یو څه خبری لیکل سویدی په دغو حصو کښی وګورئ نو کوم چه په دوی کښی د کوچنیانو په باره کښی خبری دی هغه هم په کار واچوه .

(۱۷) په سبق کښی پر کوچنی پیر زور مه کوه په شروع کښی د سبق یو ساعت دو یلو د پاره ورلره ورکړه بیا دوه ساعته بیا دری ساعته او د غه رنګه د د ه د طاقت او برداشت سره برابر کار څندی و اخله د اسی مه کوه چه ټوله

درځ دی پر سبق کښینولی وی حکه چه یو خوبه د ستړیا په وجه دکوچنی زړه د سبق څخه مات سی اوبل دا چه د پیرمحنت کولو په سبب به دکوچنی دماغ اوحافظه خرابه سی اوزړه به ئی خراب سی بیابه نو دمریضانو په شان سست او بیکاره پاته سی اوپر سبق او تعلیم به ئی زړه نه کښینی.

(۱۸) درواجی رخصتیو څخه ماسیوی بیله سخته ضرورته څخه بار بار مه کوچنیانو ته رخصت اوچتهه ورکوه اومه ئی ته کوه حکه چه د دی څخه د سبق شوق کمیږی اوطبیعت هم پرځای نه پاته کیږی.

(۱۹) چه کوچنی ته کوم فن اوعلم ورزده کوی نو ترڅو پورې چه کیدای سی داسی استاذ ورته مقرر کړه چه په دغه فن کښی پوره ماهر اوخبردار ه وی بعضی خلګ ارزانه استاذ دکوچنیانو د سبق او تعلیم د پاره مقرروی اوپه دغه استاذ سره سبق ورته وایی لیکن داپیر تاوان کوی حکه چه دکوچنی ابتداء خرابیږی او بیاپه پیره مشکله سره سمیږی.

(۲۰) اسانه سبق همیشه دعزی څخه وروسته ورته وایه او مشکل سبق همیشه سهار وخت ورته وایه حکه چه په اخیر وخت کښی طبیعت اودماغ ستړی سوی وی وګران سبق ته ئی وار خطا کیږی.

(۲۱) کوچنیانو ته خصوصًا انجینو ته پخول اوګنډل ضرور ورزده کړه

(۲۲) دواده په وخت کښی دناوی اوزوم په عمر کښی زیات فرق د پیر وخرابیو سبب جوړیږی.

(۲۳) اوپه پیره کم عمری کښی (چیلوکښی انو ته) واده مه کوی (که هلک وی که انجیلی وی) په دغسی وخت کښی واده کول هم تاوان لری.

(۲۴) هلکوانو ته تعلیم ورکوه چه د ټولو په مخکی خصوصًا د بنځو اوانجینو په مخکی اودس وچ نه کړی.

بعضی د نیکی اونصیحت خبری

(۱) وچاته د تیری سوی اوزړی خبری طعنه اوپیغور ورکول پیره بده خبره ده اودغه بیکاره عادت په بنځو کښی پیردی چه د رنځ او غم خبره به زړه سوی وی قصه به ئی خلاصه سوی وی لیکن چه د دی یو دعوه درسره شروع سی هغه

زړه خبره به بیا رابورته کړی د پیغور به ئې کړی نو د اسی عمل کول ګناه هم د
اود دی په وجه بیرته په زړه ونه کښی خبره او غبار هم ډیریږی.

(۲) د پلار په کور کښی د خپلې خسرګنۍ شکایت هیڅکله مه کوه او بعض
شکایتونه ګناه هم لری او بې صبری هم د ه اکثر ه وخت د د غه شکایت څخه
د د واړو طرفونو په منځ کښی خفګان او دښمنی پیدا کیږی او زیاتیږی د غه
رنګه چه بیرته د خسرګنۍ کور ته راسی نو د پلار ګنۍ تعریف یا د دوی
لوبوالی مه بیانوه په دی کښی هم بعضی وختونه د فخر او تکبر ګناه راځی
او خسرګنۍ د اخیال کوی چه هیڅ وړ موږ بې قدره بولی نو په دی وج
د وی هم د هیڅ وړ بې قدری کوی.

(۳) ډیری مسخری بیهوده خبری د ځان عادت مه جوړوه په ډیرو خبرو
کښی اکثره وخت نامناسبه خبری د خولی څخه وزی چه د د وی ثمره په دنیا
کښی غم او رنځ او په آخرت کښی ګناه راوزی.

(۴) ترڅو پورې چه کیدای سی خپل کار په بل مه کوه خپل کار په خپل لاس
کوه بلکه د نورو ډیره هم کومک کوه چه خدای به ثواب هم درکړی او بل به
د خلګو مینه او محبت د سره پیدا سی.

(۵) د د اسی ښځو سره مه مخامخ کیږه او مه د د وی خبری اوره چه چغلخوړی
وی دیوی او بلی خواخبری څغلوی را څغلوی د د غسی خبرو په اوریدو
سره انسان ګناهګار ه کیږی هم او کله کله فساد او جنګونه هم څندی پیدا کیږی.

(۶) که د خپلې خوابنۍ، اندړو، یورا و د اسی نورو لیږی او نژدی قریبانو
یو شکایت ترغوږه پورې درورسیږی نو په زړه کښی ئې مه ساته - بښه
د ادی چه د ، واغ ئې و بولی د زړه څخه ئې و باسی او که د وندی همت
او غیرت نه لرئ نو د هرچا څخه چه د ی شکایت اوریدلی د ی هغه د خپلې
خوابنۍ یا بل قریب سره مخامخ کړه چه خبره صافه سی او په د غسی کولو
سره هم د فساد د روازه بند یږی.

(۷) پرخپلو مزدورانو باندی هروخت تنګی او سختی مه کوه پرخپلو کوچنیانو
فکر کوه چه نوکران او غریبان یا د د وی کوچنیان ز هیر او ازار نه کړی
ځکه چه د غه خلګ د لحاظ د وجهلی په ژبه هیڅ نه وایی لیکن په زړه کښی

ضرور بنسرا وی کوی اوکه بنسرا وی هم ونه کړی بیا هم د ظلم وبال او گناه څنو ضرور پرته ساراځی.

(۸) خپل وخت په عبث خبرو کښی مه تیروه او بنه پرې وخت د دی دپاره هم مقرر وه چه په دغه وخت کښی وانجینو ته قرآن ووایی که پرې وخت نه ورته مقرر وه وی نو د قران شریف ترختمیدو وروسته وانجینو ته دغه بهشتی زیور دسره څخه بیاتر پایه پورې خامخا وایه انجونی که خپلی وی که پردی وی د دوی تولو دپاره دا خیال هم وساته چه د دوی یو ضروری هنر او کسب هم زده سی لیکن د قران شریف ترختمیدو پورې په دوی بل کار مه کوه هر وخت چه دوی قران شریف ختم کړی صاف او تیز ئ ویلای سی بیانود سهار په وخت کښی سبق ورته وایه او د عزی تر چوړی خوړلو وروسته خط په لیکه بیانو پاته وړځ دیوخت کتخ، چوړی پخولو او جاموگندلو کار په زده کوه.

(۹) کومی انجونی چه تاته د سبق ویلو دپاره راځی په دوی سره د خپل کور کار مه کوه اومه خپل کوچنیان په ایمنه وه بلکه دوی هم د خپل اولاد په شان بولـه.

(۱۰) د نامه دپاره هیڅکله یو نکر او یوبار پرځان مه اچوه څکه چه هسی بی فایدی به په تکلیف سی او گنهگار به هم سی.

(۱۱) یو ځای ته د تلو را تلو په وخت کښی دا پابندی مه کوه چه خامخا جوړه او کالی بدل کړی او زیورات هم پټول واغوندی څکه چه په دغه کښی دا نیت کیږی چه کتونکی مایوغټه او معتبره بڼځه وبولی پس نو داسی نیت خپله گناه ده او د دغو شیانو دا غوستلو په سبب په تلوکښی هم څنډ پیښیږی چه د څنډ د وجهی څخه قسم قسم تکلیفونه مخ ته راځی په خپل ځان کښی عاجزی او سادگی پیدا کړه. کله کله چه یو خواته څ نوکومه جوړه چه دی اغوستی وی په هغه کښی څه اوکه دی چیری کالی ډیرخیرن وی یا داسی کومه موقع وی نو په مختصره طریقه سره کوم کالی چه ژر او په اسانی سره اغوستل کیږی هغه کالی واغوندی بس ځان فارغه کړه د ډیر تکلیف مه کوه.

(۱۲) د چاخخه د غچ اخستو په وخت کښې د ده د خاندان یاد مړ وعیبونه مه وړپیغورۀ وه په داسې کولو کښې ګناه هم ده او خامخا ونوړ ته تکلیف هم ورکول کیږي.

(۱۳) د بل چاشي چه استعمال کړي یا هر هغه وخت چه لوښې خالي سي نو سمدستي ئې ورواستوه که په دغه وخت کښې اتفاقاً یو څوک پیدا نه سي چه په لاس ئې ورکړي نو بیا دغه شي په خپلو استعمالي شیانو کښې مه اېږده بلکه بالکل ئې جلا کښېږده چه ضایع او ورک نه سي د غسې هم د چاشي بې اجازې استعمالول ګناه ده.

(۱۴) د بنه خوراک او چښاک ځان مه عادتي کوه همیشه خویو قسم حال نه وي چه انسان به دنیا لري بلکه مسکیني هم راځي نو بیا چه هر وخت مسکیني درته راسي بیا به دې ژوند ډیر سخت او خراب وي حکه چه تا خو پر بنه خوراک او چښاک عادت نیولی وي.

(۱۵) که یو چا ډیر لږ احسان درسره کړي وي بیا هم دغه لږ احسان هیڅکله مه هیروه او خپله پر هیچا احسان مه اچوه که دې څه هم ډیر څه احسان کړي وي

(۱۶) هر وخت چه هیڅ کار نه وي بیکاره ئې نو تر تپو لو بنه شغل کتاب کتل دي د دې کتاب یعنې د لسمې حصې په خاتمه کښې د بعضې کتابونو نومونه لیکلي دي چه کتنه ئې ډیره فایده لري د غه کتابونه ګورۀ او د کومو کتابو کتنه چه بد اثر کوي هغه هیڅکله مه ګورۀ.

(۱۷) خبرې دارنګه هیڅکله مه کوه چه نورې نارې او چور هلړ دي وي حکه چه د باندې آواز وزي او داځوندي د شرم خبره ده.

(۱۸) که د شپې راپورته سي او نور د کور انسانان ویده وي نو کرپي او کښهار مه کوه او په زور زور سره مه حرکه ته خو دیو فاروړت دپاره راپورته سوي ئې نو نور خلګ ولې راویښوي کوم کار چه کوي کرار ئې کوه د سر وانړه کرار ه خلاصوه او به کرار سره اخله کرار نارې تو که کرار ې رفتار کوه او کرار د منګي خوله پټوه

(۱۹) د مشرانو سره خندا مه کوه حکه چه دا بې ادبي ده د کم ذاته او کم حوصلې انسانانو سره هم بې تکلفي مه کوه بلکه په قید ورسره ګرځه ورنه ساسته

سره بی ادبی کوی یاد عنه خلگ بل خای ستاسره سپین سترگی کوی چه نه شرمندگی سی

(۲۰) د خپل کور د انسانانو یاد خپل اولاد تعریف د هیچا په مخ کښی مه کوی.

(۲۱) که په مجلس کښی بل انسانان ودریږی نو ته هم ناسته مه اوسه خکه چه په دی کښی کبر او لوبی راځی.

(۲۲) که د دوی(۲) و انسانانو په مابین کښی خفگان وی نو نه د دوی(۲) دوی په مابین کښی یو داسی خبره مه کوه چه که چیری دوی سره خوشحاله سی نه شرمنده سی

(۲۳) ترڅو پوری چه په دوی او پیسو یا په نرخی سره کار کیږی نو په خطر او تکلیف کښی ځان مه اچوه.

(۲۴) د میلمه په مخ کښی د هیچا نه قهر مه کوه چه په دی سره د میلمه زړه د هغی خوشحاله نه پاته کیږی کوم چه مخکی وو.

(۲۵) د دښمن سره هم په بنه اخلاق سره مخامخ کیږه چه په دی سره د دښمنی نه ژغاتیږی.

(۲۶) د ډوډی اتاموونه چه پر مخکه لویدلی وی د هغی ټ مه پریږده راټول ټ کړه او هر ځای چه اتام وو یني راپورته ټ کړه او صاف ټ کړه او ترصافو لو وروسته ټ د خوړه که ټ خوړلای نه سی نو بیا ټ یو حیوان ته ورکړه هغه ستا خوان چه په ده کښی د ډوډی اتاموونه وی داسی ځای ټ مه ټکوهه چه د انسانانو تر پښو لاندی سی.

(۲۷) هر وخت چه ډوډی وخوری نو داسی مه کوه چه سترخوان ایله پریږدی او ته ځندی ولاړه سی خکه چه دا بی ادبی ده بلکه اول لوښی او سترخوان ټول کړه او بیا ته ولاړه سه.

(۲۸) پرانجینو باندی ټینګار کوه چه د هلکوانو سره لوبی و نه کړی خکه چه په دی کښی د د وار و عادت خرابیږی او چه پر دی هلکوان کورته راسی که څه هم کوچنی وی نو په دغه وخت کښی انجونی باید د د غه ځای څخه ولاړه سی.

(۲۹) د چا سره د لاسو او پښو بازی او مسخری هیڅکله مه کوه خکه چه اکثره وخت خفگان ځندی پیدا کیږی او کله کله انسان هم پکښی زخمی کیږی او زبانی مسخری هم ډیری مه کوه چه د د غو مسخرو په سبب بل د ریاندی زړور

سی د بد به دی خمه سی د د غو مسخرو په وجهه بل د رباندی خاندی
د د غو مسخرو څخه خوشکه هم پیدا کیږی حضوصًا د میلمه سړه مسخری کول
دیر بی فایده کار دی لکه چه د بعضو وړا باندو سړه خلګ مسخری کوی.

(۳۰) د خپلو مشرانو د سړ خواته مه کښینه د د وی د پښو و خواته کښینستل ښه
کار دی لیکن که د د وی حکم وکړی چه پرد غه ځای کښینه نو بیاادب دادی چه
د د وی خبره ومنه.

(۳۱) که د چا څخه یو شی خواست کړی نو ښه په احتیاط ئی و سانه هروخت
چه د غه شی ستا څخه خلاص سی نو څرتر څره ئی وړ و رسوه د انتظار مدکوه
چه هغه به ئی خپله د ر څخه وغواړی اول دی څه خبر دی چه د غه شی ستا
څخه خلاص سویدی کیدای سی چه د لحاظ او خاطر په وجهه ئی د ر څخه غوښتلای
نه سی اود ر یم دا چه کیدای سی چه د هغه هیر وی نو هروخت چه د غه
شی د هغه په کار سی خوندی به پریشانه سی د غه رنګه که دیو خاص
یا قرض وی د یر خیال ئی ساته دا رنګه چه د و ر کولو ئی لږ څه امکان وی
ا ید خپل قرض و ر کړی یا هر څونه چه دی طاقت وی هغوندی و ر کړی.

(۳۲) که کله دیو مجبوری په وجهه د شپی یو ځای ته ځی نو کړې، پای زیونه
د اسی نو ر شیان د پښو څخه وکاږه په لاس کښی ئی د ر سړه واخله په لاړ
کښی دا ر نګه مه ځه چه زیورات دی شرنګی کوی.

(۳۳) که یو څوک بالکل په یوازی خونه یا بل شی کښی وی د ر وازه اوداسی
و ر بند وی نو یکدم مه و ر ننوزه ځکه کیدای سی چه هغه لغړوی یا
بده وی ناحقه پریشانه سی بلکه کړاړ کړاړ اول و ر ناری کړه اود ننه
ر تلو اجازه ځندی واخله که هغه اجازه د ر کړه بیاد ننه و ر سه اوکه
ئ اجازه د ر نه کړه نو بیا مه و ر ننوزه بیا یو بل وخت و ر سه لیکن که یو
یر ضروری کار وی نو بنوغ پر وکړه راوښی ئی کړه تر څو پوری چه د ه خبره نه وی
پی تر هغو پوری بیا هم د ننه مه و ر ځه.

(۳۴) کوم څوک چه نه پیژنی د د ه په مخکی دیو بنار یا دیو قوم بد مه وایه کیدای
ی چه د غه څوک د د ی بنار یا د د ی قوم وی چه په نتیجه کښی به ئی د پیری
ر هندګی سړه مخامخ سی.

(۳۵) د غه رنگه دیو کار کونکی چه وتاته معلوم نه وی نو دا می مه وایه چه د کار کوم بیعقل کړیدی یا د غسی یو بله خبره مه کوه کیدای سی چه داسی چا به دا کار کړی وی چه ته د دغه لحاظ سا تی ورو سته تر معلومید و نه شرمنده کا سی .

(۳۶) که ستا کو چنی ویو چاته تاوان ورسوی نو ته هیڅکله د خپل کو چنی طرفداری مه کوه خصوصًا که د کو چنی په مخکښی داسی کوی نو دده عادت خرابیږی .

(۳۷) د لونړو په ورکولو کښی د دی خبری پیر خیال ساته چه زوم د خدای ج څخه بیریږی په طبیعت کښی د خدای بیره او خوف وی او دیندار ه وی د غه سړی خپله کور والا همیشه په بنه ارامه سره سا تی بنه گذاره ورسره کوی که مال او دنیا هر څه ورسره وی لیکن د دین کوم فکر ورسره نه وی نو د غسی سړی د خپلی بښځی حق بالکل نه پیژنی د دی سره و فاداری او رحم دلی نه کوی بلکه روپی او پیسی هم نه ورکوی او که چیری روپی هم ورکوی نو هغه تر پوست ور څخوی .

(۳۸) د بعضو بښځو دا عادت دی چه خپل د بدی وستړ حای ته یو څوک راغواړی نو د د غه پردی د حای څخه لونې ورغوړ حوی چه هغه خبرسی ورته راسی بعضی وار ونه د غه لونې پریږدی چامبلی د غسی کار کول په کار نه دی چه په هغه کښی و بل چاته تکلیف ورورسیږی یا د تکلیف د رسید و بیره وی بلکه د غه بښځه دی پر خپل حای کښینی خښته یا بل شی دی د تکوی چه هغه خبرسی ورته راسی .

(۳۹) پر خپلو جامو په ستن او تار سره علامه او نخښه کوه یا گل او بل شی پر جوړه وه چه د د و بی یعنی د کالو پریمنځو نکی په کورکښی بدلی نه سی که داسی نه کوی نو په غلطی سره ته د بل یوه او هغه ستا کالی استعمالوی چه داگناه هم لری او د دنیا تاوان هم دی .

(۴۰) په عربو کښی رواج دی چه څوک دیو بزرگ څخه یو شی د برکت د پاره اخلی نو دی د غه شی د خپله کور ه څخه راوړی و بزرگ ته ئی ورکوی ـ او ورته وایی چه ای بزرگه ته زما د غه شی دوی دړی ورځ استعمال کړه او تر

استعمالیدو ورو سته ئې بیرته ماته راکړه نو په دغسی کولو کښی و د غه
بزرګ ته هیڅ تکلیف نه پیښیږی ور نه که چیری شل کسان د یو بزرګ څخه
یو بټوکر و غواړی نو دد ه په ګودړی کښی به یو ه ربنکی هم پاته نه سی زمونږ
په ملک کښی ئې بیله کوم خونه حنډی غواړی خپل شی بزرګ ته نه وروړی
چه ددوی (۱) درو ورځو نه استعمال ورو سته ئې بیرته حنډی یو سی نو بعضی
وار و نه د غه بزرګ ډیر تنګیږی که چیری زمونږ په ملک کښی هم د غه د
غربو طریقه رواج سی نو ډیره به مناسبه وی.

(۴۱) که یو څوک د خپله طرفه څخه یو خبره وکړی نو که ته د ده د خبری
خلاف یو مناسب جواب ورکول غواړی نو د خپله طرفه څخه جواب ورکړه
د بل چا نوم مه اخله چه ته داسی وایی او فلانی څوک داسی نه وایی د دی
خلاف وایی ځکه چه که د غه بل چا نه د ه یو څه وویل او هغه واورېدلی
نو خفه او خوابدی به سی.

(۴۲) په خالص اټکل او ګمان سره چه تحقیق دی نه وی کړی پر هیڅا الزام
او تهمت مه لګوه چه په دی سره ډیر زړه ته زخمی کیږی.

د خپل لاس دهنر او کسب لږ څه بیان

بعضی لاوارثه او غریبانی بښځی چه د د وی د خوږکی او کالو د پیدا کید و هیڅ
ذریعه نه وی په داسی پریشانی او غم کښی اخته وی چه پرور دګار عالم دی
په خپل کرم سره موږ د د وی د حاله و سائی او خدای جل جلاله دی د د وی
هم چاره وکړی نو د غه بښځی که چیری د دی پریشانی او غم څخه خپل ځانونه
خلاصوی نو د د غو د (۲) ورځو کار و څخه د ی یو (۱) کار وکړی یو داچه یا دی نکاح
وکړی بل داچه یا دی د خپل لاس په کسب سره د ځان چاره وکړی مګر زمونږ
د ملک عام انسانان نکاح کول او د خپل لاس کسب د واړه عیب بولی په شرمیږی.
او په هیڅا کښی د اهمیت نسته چه د د غسی غریبانو د حاله ځان خبر کړی نو
د بل چاسره خو هیڅ زور نه کیږی مګر خپل زړه، لاسونه او پښی خو ستاسی
په اختیار کښی دی خدای تعالیٰ قدرت پرد ر کړی دی خپل زړه و نه اصلاح او

یوه کړی دچا وخبرونه مه ګورې که بنه وائي که بد نو که په تا سې کښې دیو چا عمر قابل د نکاح وو یعنی سپین سری نه وه خوانه وه نو دی نکاح وکړی او که ئې عمر قابل د نکاح نه وو سپین سری وه یا داچه سپین سری نه وه بلکه خوانه وه نکاح ئې عیب او پیغور نه بلله مګر دغسی ئې نکاح زړه نه غوښته یا د نکاح کولو په صورت کښې د جګړو څخه بیریده نو په دغسی صورت کښې دی خپله ګذاره دیو پاک کسب په ذریعه سره وکړی - که ئې یو څوک حقیره اوخوار ګڼلی او پرخاندی چه وګوره مزدوری کوی نو په دغو خبرو دی هیڅ پروانه کوی خپل کار دی کوی - د دوهمې نکاح بیان په شپږمه حصه کښې راغلی دی. دهنر اوکسب بیان اوس کیږی.

بی بی ګانو که هنر اوکسب د بی عزتی کار وای نو به پیغمبرانو علی نبینا وعلیهم الصلوة والسلام ولی کولای حالانکه پیغمبران تر هرچا عزتمند دی.

په حدیث شریف کښې راغلی دی چه زمونږ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم پسونه پوولی دی. او دائې هم فرمایلی دی چه هیڅ پیغمبر (ص) داسی نه دی تیر سوی چه هغه شپنی نه وی کړی - او دائې هم فرمایلی دی تر څو لوښه روزی د خپل لاس ګټلی دی.

حضرت داؤد علیه السلام په خپل کسب اوهنر سره ګذاره کوله د خپل لاس ګټلی ئې خوړله - دغه ټولی خبری زمونږ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی. د پیغمبرانو د بعضی دغسی کار وبیان په قرآن شریف کښې راغلی دی. او بعضی کسبونه د پیغمبرانو په داسی کتابو کښې لیکل سویدی چه په هغوی کښې د پیغمبرانو حال او قصی بیان سویدی د دغو ټولو د جملی څخه دیو څو پیغمبرانو (ص) نومونه لیکو.

د بعضی پیغمبرانو اوښ ساتلو کسب اوهنر بیان

○ حضرت آدم علیه السلام زمینداری کړیده او سره ئې کړیدی او پوډی ئې پخه کړیده.

○ حضرت ادریس علیه السلام د لیکلو (کتابت) اوخیاطی کار کړیدی.

○ حضرت نوح علیه السلام لرګی تراشلی دی کښتی ئې جوړه کړیده. چه د غه د

نجارانو کسب او کار دی.

◯ حضرت هود علیه السلام تجارت کاوی.

◯ حضرت صالح علیه السلام هم تجارت کاوی.

◯ حضرت ذوالقرنین چه لوی بادشاه وو او بعضو دی پیغمبر هم بللی دی زنبیلو نه جوړول لکه دلته چه کیږی او ټوکری جوړ یږی.

◯ حضرت ابراهیم علیه السلام زمینداری کړیده او د تعمیر کار ئی کړیدی، خانه کعبه (بیت الله) ئی جوړه کړیده.

◯ حضرت لوط علیه السلام زمینداری کوله.

◯ حضرت اسماعیل علیه السلام غشی جوړول نښان ئی ویشتی.

◯ حضرت اسحاق علیه السلام او حضرت یعقوب علیه السلام اودد وی ټولو اولاد و پسونه پوول اودد وی وریان او سیر لیان ئی خرڅول او دغه رنګه ئی د دغو پسو وړی او اوشغونی خرڅولی.

◯ حضرت یوسف علیه السلام د غلی تجارت کړیدی هرهغه وخت چه کاختی سوه.

◯ حضرت ایوب علیه السلام جونګیان، وریان، او سیر لیان ساتل او زمینداری کار ئی کاوی.

◯ حضرت شعیب علیه السلام د پسنو د پوولو کار کړیدی.

◯ حضرت موسی علیه السلام ډیر کلونه پسونه پوولی دی د دده علیه السلام د نکاح مهر او ولور دغه پسونه پوول وه.

◯ حضرت هارون علیه السلام تجارت کړیدی.

◯ حضرت الیسع علیه السلام زمینداری کوله.

◯ حضرت داؤد علیه السلام زغری جوړولی چه د اهنګرانو کار دی.

◯ حضرت لقمان علیه السلام ډیر غټ حکیم او عالم وو بعضو وده ته په پیغمبر هم ویلی دی ده علیه السلام پسونه پوولی دی.

◯ حضرت زکریا علیه السلام د نجاری کار کاوی.

○ حضرت سلیمان علیه السلام ذ نبیلو نه جوړول .
○ حضرت عیسی علیه السلام دیو د کاندړ سړه کالی (بټوکران) رنګول .
○ زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم پسونه پوول بلکه دټولو پیغمبرانو دا کار چه دوی پسونه پوول هم بیان سوه که څه هم دد غو پیغمبرانو ګنډړه په دی کسبو سړه نه وه مګر کسبونه ئې کړیدی او هیڅکله نه په شرمیده .
غټ غټ ولیان اولوی لوی عالمان چه د دوی دکتابو هره هره مسئله سند ده په دوی کښی بعضو کالی اودلی دی بعضو د پوستو او څرمنو کار کړیدی - او بعضو د څپلیو د ګنډلو کار کړیدی بعضو متایانی او خوښی جوړې کړیدی نو دا به څوک وی چه تر دوی ټولو زیات عزتمند وی او په د غو کسبونو شرمیږی نو توبه توبه .

بعضی اسانه طریقی دګذاری اوژوند کولو

صابون جوړول ، ګلابټون اولیس اوچربی جوړول ، پرکالو باندی خامکدوزی کول ، جالیانی جوړول ، کمربندونه جوړول ، د ټوکرانو څخه بټان (صدفان) جوړول یعنی د صدف او بټن پرځای د ټوکرانو څخه صدفان او بټان جوړول ، د پنبه یا وړن څخه جرابی او موزی جوړول ، مفلرونه جوړول ، خولی یا صدری یا قمیصان یا کوټونه یا کورتی جوړول او ترجوړولو وروسته خرڅول ، رنګ جوړول ، د رنګریز کار کول ، یعنی کالی او کپړی رنګول ، لرګیان رنګول ، دستنی کار کول پر خولیانو (رخچینو) باندی یعنی پر رخچینو باندی د ګلابټونو کار کول - که چیری دکالو جوړولو او خامکدوزی ماشین راښول سی نو بیا کار پیرزړ کیدای سی او پیره ګټه هم کوی ، د چرګوهګی او چیچان خرڅول ، رحل (یعنی هغه شی چه قرآن شریف پکښی اینږدی) چوکی صندوقان او داسی نور شیان رنګول ، وانجینو ته په مزدوری سبقان ویل ، د ماشین په ذریعه پنبه او پوندانکی سړه جلا کول او بیا هریو جلا جلا خرڅول ، د ماشین او څرخ په ذریعه د پنبه وړ څخه کالی او تارونه جوړول او بیا خرڅول ، شالونه راښول تر دغه وروسته کوتل او ورجی ځندی را ایستل د رجو تر راایستلو وروسته ورجی خرڅول ، دکتابو جلدونه یعنی وقایی جوړول دکتابوته وقایی

ورکول، چپنی او اچار جوړول، چارپائی اودل او په چارپائي کښی نقشونه اوګلان کول، ړسیبانی اودل، د چارپائي پاڼی اودل د سفوف او داسی نور وشیانو څخه ګولی جوړول یا نمک سلیمانی جوړول او ترجوړیدو وروسته بیا دوی خرڅول د خورما د پوستکو څخه بوریاوی او پیکونه جوړول او بیائ خرڅول، شربت انار، شربت عناب، سرکه او داسی نور جوړول او بیا دوی خرڅول۔ دلیس چرمو او ګلابتو نو تجارت کول، لوښی سپینول او جوړول، کالی او کپړی چاپول لکه لنګوټه، مصلا (جای نماز) دسمال، پټه او داسی نور یعنی چه دلرګی سانچه جوړه کړی بیائ په رنګ رنګوی تر رنګولو وروسته سانچه پر د غوشیانو باندی وهی چه کپړی او کالی ګلدار او نقشدار کاسی۔

د فصل اوړسد پرموسم د سرشف تخم او داسی نور شیان راښول او زخیره کول د فصل اوړسد وروسته چه ګران سی بیائ خرڅول۔ رانجه بنه میدول او بیائ خرڅول یا د رانجو سره یو ګټور کاره د واګړول تر ګډولو وروسته پوړی څندی جوړول او بیائ خرڅول د څکولو د پاره تمباکو جوړول او بیائ خرڅول بسکوټ، نان پاو، پاپړ، بند، ډبل روټ او د غسی نور شیان جوړول او بیائ خرڅول، د پنبه څخه اینځی اوړسیانی جوړول تر جوړیدو وروسته ئ خرڅول او نور د غسی د قلعی، مرجان او داسی نور وشیانو کشتی جوړول او بیائ خرڅول او نور داسی سپک اوهر وخت چلیدونکی کارونه پیدی نو هر وخت چه د غسی کارونو موقع راسی ګټه پکښی وی نو باید وئ کړی بعضی داسی کارونه دی چه بیله لیدلو او زده کولو د انسان فکر نه په رسیږی نو د غسی کارونه بیا د یوچا څخه زده کړه او بعضی داسی کارونه دی چه پوه انسان ئ د کتاب د ویلو څخه زده کولای سی او بیائ کولای سی نو په دی کتاب کښی د داسی کارونو ترکیب او طریقه لیکل کیږی کوم چه د کتاب په ویلو سره ئ انسان کولای نسی او په د غو کارونو کښی پیر کارونه داسی دی چه رونړانه کوم ضرورت

هم ورته لری د کتاب په نهمه حصه کښی د چورن یعنی سفوف، نمک سلیمانی، د قلعی او مونگی (مرجان) د کشتو ترکیب او طریقی لیکل سوی دی.

د صابون د جوړولو طریقه

سجی یو پاکستانی من (دغه رنگه هر څای چه من ذکر سی مراد څندی پاکستانی من دی) یو من اهاک نه سیره دا رنډی یا گلو تیل او چربی او یا سیره اول سجی پریو پاک څای باندی کښیږدی مثلاً یو پخه تنگا چه وی یا یو پخه محکه وی د دی د پاره چه په دغه سجی خاوری گډی نه سی او په سجی کښی چه کوم خرتیان وی هغه په ډبره یا بل شی سره میده کړه د سجی د خرتیانو میدیدو وروسته اهاک پرواچوه که چیری په اهاکو کښی خرتیان وی نو لږ څه او به پرو پاشه چه ټول میده سی او د گډیدو قابل سی او د واړه سنه سره گډ کړه په داسی شان سره چه اهاک او سجی سنه سره گډ سی بیا یو پوخ حوض دار نگه تیار کړه په داسی طریقه سره په دی کښی د ننه څلور خښتی د دی په څلورو کنجیانو کښی کښیږدی او پردغو خښتو د اوسپنی یو جالی چه په شان د غلبیل وی کښیږدی مگر سوراخان یی د غلبیل نه سوراخان نو غټ وی بیا پر جالی سره بیره تاټ وغوړوه او د اتاټ په دومره غټ وی چه د دغه حوض پر دیوالونو سره بیره هم لږ لږ څه را څرګیږی د دی تاټ او جالی څخه عرض دادی چه هر وخت پردوی سره بیره هغه سره گډ سوی اهاک او سجی واچول سی نو د تاټ او جالی د سوراخانو څخه به عرق لاندی څڅیږی او خښتی بیا دی د پاره کښیښول سوی چه جالی لوړه سی او که چیری جالی نه پیدا کیږی نو بیا بانسونه د جالی په شکل



سره د وتړه یا نور لرگی سره د وتړه په حوض کی ئی کښیږدی بیا سر بیره تاپ پر وغورو
چه عرق تر وخثیږی او د دغه نل تر خوله لاندی یو منگی کښیږدی او د دغه حوض
تر سره پوری داو بو چک کړه او او به مه سره بنورده تر د غه ور وسته د د غه
حوض عرق په خاخکو خاخکو سره د نل د لاری څخه په د غه منگی کی لویږی
هر وخت چه منگی چک سی نو بیائی لیږی کړه بل منگی ئی پرځای کښیږده. او
هر څوند ی چه او به کمیږی نور ی او به د حوض ته ور اچوه لیکن هر وخت
چه داو بو د خمید و وخت راسی یعنی وخمید و ته نژدی سی بیا نو او به
په یو لوبنی سره د بنورده او اولی او به جلا کښیږده د د غو اولو علامه دا ده
چه تر څو پوری د حوض څخه سور رنگه او به راځی نو اولی او به دی او چه د
حوض څخه داسی او به په څخید و شروع وکړی چه تر اولو او بو ئی سور والی
کم وی نو داد د وهمی درجی او به دی او هر وخت چه سور رنگ ډیر لږ پر
معلوم وی یعنی چه د حوض څخه داسی او به په څخید و شروع وکړی
چه د سپین والی ته ډیری مائیلی او نژدی وی نو داد دریمی درجی او به
دی د غه رنگه د دری سره د رجو او به جلا جلا کښیږده لیکن د دی چندانی
ضرورت هم نسته که چیری جلا جلا نه کښیښول سی هم هیڅ پرواه نلری صرف
یو کوچنی منگی داخیرو او بو یعنی د د ریمی درجی د او بو جلا کول کافی دی او
که لږ صابون جوړول غواړی نو بیا د حوض ضرورت نسته بلکه لکه څرنگه چه
بنځی په چارپائی یا بل د غسی شی پوری پټوکر غوټه کوی بیا کسم پکښی اچوی
او د کسم رنگ او عرق تر څخوی نو په دی څای کښی دی د صابون د جوړید و د
پاره د د غو شیانو عرق هم په د غسی طریقه سره وخثوی هر وخت چه د
سبجی اداها کو عرق پټول وایستل سی نو بیا اول په کرائی کی یوه بدنی ساده استعمالی
او به واچوه تر د غه ور وسته چربی او تیل ور واچوه هر وخت چه پرجوش راځی
نو هغه اخیری عرق چه په یو کوچنی منگی کښی دی جلا ایښی و و راو اخله او د د غه
منگی د عرق څخه وکړای ته لږ لږ ور واچوه یعنی د منگی څخه لږ څه او به یو
دار ور واچوه بیا چه د کړای شیان و سختید و او څټکید و ته ور سیږی بیا
لږ څه او به ور اچوه او پخوه ئی په د غه طریقه سره چه هر وخت د منگی
پاتی او به ختمی سی نو بیا د نور د منگیانو او به کوم چه جلا جلا دی ایښی دی

لږ لږ ورځې او ځوړه ئې دلږ و او بو مطلب دادی چې یوه بدنۍ او به به وی په
دغسی طریقه سره ټولی او به ورځې وچوه تر دغه ورځې وسته ئې بنی ښخی کړه
هر وخت چې وقوام ته ورسیږی یعنی بنی سختی او خټه سی نو بیا لږ څه
په کفګیر یعنی کوکر سره دکړایي څخه راوا خله ترڅو اخیستو ورځې وسته ئې سړی
اویخی کړه دلاس په ذریعه سره ګولی ځندی جوړی کړه او وئې ګورئ چې په لاس
پورې خونه مښلی که چیرې په لاس پورې مښلی نو بیرته جوش ورکړه او تر
جوش ورځې وسته ئې بیا وګورئ چې په لاس پورې خونه مښلی هر وخت چې وداسی
درجې ته ورسیږی چې په لاس پورې نه مښلی یعنی دګولی د جوړیدو سره
د ستی او نورا سختوالی پیدا کړی نکه چې دصابون د تیاریدو طریقه ده - نو
بس ددغه قوام د تیاریدو ورځې وسته داورځې تاو ورکم کړه بلکه داورځې لرګی
دکړایي څخه لیږی کړه او تر یولږ څه وخت ورځې وسته دغه قوام په یوبل
حوض کښی کلک او سخت کړه. دحوض د جوړیدو طریقه داده چې یا د خښتو
دچار دیواړی په شان حوض جوړ کړه یا د لرګیو څلورتختی د ارنګه سره ودرول
چې د حوض په شکل سی وتختو ته ددباندی د خواڅخه وڅلورو سره طرفونو
ته خښتی یا بل شی کښیږده دپاره ددی چې تختی ونه لویږی اود حوض په
په لس کښی یوپند ټوکر چې زورا و بیکاره وی وغوړوه
لیکن په دغه ټوکرکی به سوریان نه وی یا یوګودری
یا بل دغسی شی که چیرې وی وغوړوه تر داسی حده
چې پرڅلورو طرفونو کوم چې د تختی دیوالونه دی
هم پروغوړیږی تردی ورځې وسته ددغه کړایي څخه
لږ څه قوام په کفګیر یا بل لوښی په ذریعه سره راواخله
په دغه حوض کښی ئې واچوه او په کفګیر ئې سره لړه چې شړ وچ سی نو بیا د قوام





څخه نور راواخله اوسر بیره ئې پر واچوه او بیا ئې سره
لړه هر وخت چې دغه هم وچ سی نو بیا نور قوام پر
واچوه غرض چې ټول قوام دکړایي څخه را و باسه
په حوض کښی په دغسی طریقه سره سخت اوکلک کړه
د قوام ترسره ږیدو او یخیدو ورځې وسته تختی ځندی جلا کړه او صابون په احتیاط

سره کښیږده بیا نو ستا خوښه ده که د تار په ذریعه سره صابون پری کوی او
وړی وړی چکۍ ځنډی جوړوی یا ئې په بله طریقه سره پری کوی او پر کوم نغری
چه کړای ایښول کیږی دهغه نقشه په پنځه څلویښتم مخکی جوړه سوی ده
یعنی گردی نغری چه د کړای سره برابر دی پرده نغری کړای دا رنګه ایښول
کیږی چه اوږدوالی یې د کړای برابر وی سیږی.

دهغه لوښو نومونه چه د صابون د جوړیدو په طریقه کښی ورته ضرورت وی

(۱) یو داوسپنی یا لرګی کفګیر چه اوږد لاستی ئې وی لکه د پلاو اووړجو د
پخیدو د پاره چه استعمالیږی په دغه سره لړل کیږی.
(۲) یو لوښی په شان د تانبلوټ لوښی باید جوړ سی چه لاستی لرونکی وی او په
ده کښی درې سیره اوبه ځاییدای سی دغه د تانبلوټ لوښی په مسجدانو کی
داوبو د راکښلو د پاره استعمالیږی د غه لوښی چه په شان د تانبلوټ جوړ
سی د دی څخه دا کار اخستل کیږی چه د ده په واسته د منګیانو څخه
عرق یعنی هغه اوبه راکښل کیږی او په کړای کښی اچول کیږی.
(۳) یو لوښی چه د کړای څخه د ده په واسطه صابون را وایستل سی او په
حوض کښی واچول سی د غه لوښی به په شان د هغه لوښی وی کوم چه
د دیګ څخه د پوخت د راکښلو د پاره استعمالیږی.

د صابون د جوړولو د پاره د دوهم ترکیب او طریقه

داوس څخه لږ زمانه مخکی په هندوستان کښی په عامه طریقه سره
د سُجّی، اهاکو او تیلو څخه صابون جوړیدی چه وطنی صابون ورته ویل
کیږی لیکن د دی طریقه ګرانه او سخته وه او د صابون د جوړیدو د پاره ښه
مواد هم نه پیدا کیده په دی زمانه کښی چه هر ځای په هر قسم هنرونو
کی ترقی راغلی ده د صابون په صفت او جوړیدو کښی هم دیره ترقی راغلی ده په
دی زمانه کښی د صابون د جوړیدو طریقی دیری آسانی او کامیابی پیدا سویدی
چه د دوی څخه د هغه صابون د جوړیدو طریقه لیکل کیږی چه هغه د کالو
د پریښځلو د پاره استعمالیږی او هر کوم ضرورت ورته لری او که یو څوک د بل

قسم صابون دجوړید شوق لری نو هغه ئی د نیازمند څخه په ذریعه د خط او کتابت زده کولای سی۔ انگریزی صابون په دوی طریقی سره جوړیږی یوه ته اوم (کولډ پراسس) اوبل ته پوخ (هاټ پراسس) ویل کیږی پوخ صابون جوړول که څه هم یو اندازه مشکل دی لیکن د اومه صابون په مقابل کښی کم قیمته په کالو پوری ډیر لږ تلونکی اوښه صفا او پاکونکی د کالو دی د اکیدای سی چه پوخ صابون جوړوی نو په اوله زده کړه کښی د ډی څلور واړه د څخه حراب سی سم جوړ نه سی لیکن چه جوړید ل دی زده سی نو بیا ډیر گټور کار دی د دی صابون لوی اجزاء فقط دوه شیان دی یو کاسټک اوبل تیل یا چربی ۔ کاسټک دیو قسم تیزاب نوم دی چه په ښارونو کښی په پراخه پیمانه سره پیدا کیږی او دغه کاسټک دوه قسمه دی یو باریک او میده چه په شان د شکر سړخ دی مگر رنگ د ده بالکل په شان د اهاکو سپین دی چه په انگریزی کښی پوډر رته وایی او د ده نوم ۹۸ × ۹۹ ۔ کاسټک دی چه په پاو بالایو کلدار ه یا لږ څه کم یا زیات ئی یو شیر دی.

دوهم قسم کاسټک د غټو غټو توکړو په شکل کښی راځی چه د ده رنگ هم ډیر سپین دی او نوم ئی ۷۰ × ۷۲ یا ۶۰ × ۶۲ کاسټک دی چه په پنځلس انی یا لږ څه کم او بالائی یو شیر دی.

د صابون دجوړید و مخکی اول په کاسټک کی اوبه اچول کیږی. د دی د پاره چه ویلی سی نو هر وخت چه کاسټک په اوبو کښی ویلی او حل سی نو د دغه ـ محلول ته لائی وایی په ۹۸ × ۹۹ یو ه سیر کاسټک کښی که دوه نیم سیره اوبه واچول سی اوپه اویا (۷۰ × ۷۲) کاسټک کښی که دوه سیره واچول سی نو د ۳۵ ـ ډگری یعنی د رجولائی تیاریږی لیکن د کاسټک د بنه والی او خرابوالی د وجهی څخه بعضی وختونه په ډگری کښی فرق راځی یعنی یو وخت پرځای د ۳۵ ـ ډگری د ۳۴ ـ یا ۳۳ ـ ډگری لایې تیاریږی او یو وخت د ۳۶ ـ یا ۳۷ ـ ډگری لایې تیاریږی چه په پاخه صابون کښی چندانی مضرنه دی مگر په اومه صابون کښی یو څه تاوان پیدا کوی د صابون په کارخانو کښی د لائی د ډگری د معلومید و د پاره یو ه آله

سره چه نوم ئی هیڅ رومیتردی او قیمت ئی تخمیناً درۍ خلور[۴] کالدارۍ[۱] دی
په دی اله سره په صحیح طریقه سره پوهیدای سی

دصابون نمبر ۱ نسخه:- چربی[۲] پنځه سیره، دکاستک[۳] لاڼی پنځه دیرش درګر
دوه نیم سیره. سوډا آیش[۵] دوه نیم سیره، اوبه دوه نیم سیره.

دصابون نمبر ۲ نسخه:- چربی پنځه سیره، بهروزه[۵] دوه نیم سیره
دکاسټک لاڼی پنځه دیرش ډګری دری نیم سیره، سوډا آیش دری نیم سیره او
څلور سیره

دصابون د پخلو ترکیب اوطریقه:- اول چربی ویلی کړه تر ویلیدو ورسو
ئی وچوپه اوکه بهروزه هم ورسره چوی نو بهروزه هم دچربی سره ویلی کړه
او ئی چوپه بیا اوبه په کړاڼی کښی واچوه داوبو ترا چولو ورسته سوډا
آیش ورواچوه هروخت چه په اوبو کښی بنه جوش وخوړی اوسوډا آیش
حل سی بیا نو هغه چونل سوی چربی او دکاسټک لاڼی ورواچوه او اوربسو
بل کړه او کله کله ئی په یو کاچوغه او کفګیر سره یا په یو بل شی سره لړه اوبنه
ئی پاخه کړه پرزم اورئ پخیدل په بنه طریقه سره کیږی نو که دغه د
پخیدلو په وخت کښی په شان دکانړه یالوشیدو ډګرۍ چه علامه ئی
داده چه دجوش په وخت کښی دلاندی څخه اوبه را پورته کیږی یعنی
صابون جلاسی اواوبه جلاسی نو و پخیدو ته ئی دوام ورکړه اوکه په مثل
دحلواخته سی ددی علامه داده چه دلاندی دخواڅخه دودا پورته
کوی اوپرسر ئی کوبی پیدا کیږی ددی معنی داده چه صابون تراوسه پورې
اوم دی اوسوځی په داسی حال کی دکاسټک لږ څه لاڼی تخمیناً نیم پاو نوره ور
واچوه اودایشیدو په وخت کښی که دکانړه یالوشیدو په شان سی یعنی اوبه
اوصابون سره جلاسی نو بس صحیح دی و پخلو ته ئی دوام ورکړه اوکه داسی

---

۱ کالدارۍ ئی دیوه ټوکر نامه ده ۲ چربی ئی دحیوانانو غوړی دی ۳ دکاسټک لاڼی ئی دیوه کیمیاوی مرکب نامه ده ۴ څلور کالدارۍ ئی دیوه روپی سره برابرې دی ۵ بهروزه ئی دسوډا یوه ډوله ده

نه وی نو لږ څه کاسټک نور ورواچوه څکه چه کوم صابون دا رنګه پوخ سی چه
د پخید و په وخت کښی ئی او به او صابون سره جلا وی بیا نو پخیدل په ښه
طریقه سره کیږی ـ دغه رنګه پرسیک اور چه صابون دوه درې ساعته پوخ
سی نو بیا یا پخپله سره ګډیږی یعنی صابون او او به خپله سره ګډیږی په شان
د مسلو یو اندازه خټه ګرزی که چیری خپله سره ګډ نه سی نو بیا تقریبًا
یو پاؤ چربی نور ورواچوه لس پنځلس دقیقی نور جوش ورکړه غرض
چه صابون او او به سره ګډ سی او خټه سی نو بس صابون تیار دی ـ تر
دغه ورځ وروسته په یولوښی او ټوکری کښی نیولو ټوکر هوارکړه وروسته
صابون پرواچوه چه صابون کلک سی د صابون ترکلکید و وروسته بالکل
صابون تیار دی خپل کار ځندی واخله

(از میر معصوم علی صاحب محله خیرنګر میرټهه)

د کیږی او ټوکرائی چاپولو طریقه

ژړ رنګ :- په یوه سیر او بوکښی د خورک ناګوری ګونډ په قدر د یوه پاو سره
خیشت کړه هر وخت چه ئی لعاب یعنی سریښناکه او به تیاری سی نو بیا شپږ ماشی
دغنمو اوړه او شپږ ماشی غوړی په خپل منځ کښی ښه سره ګډ کړه بیا په
دوی یو پاو کسیس او درې ماشی ګولی سرخ ټول ، ښه ګډ کړه او دغه (ګولی سرخ
ټول) په بازار کښی خرڅیږی تر دغه وروسته دغه شیان په لعاب کښی
ښه حل کړه تر حلید و وروسته ئی تر یو ټوکر و چونه باید دغه رنګ ښه
خټه وی بیا نو په دغه رنګ سره کالو او ټوکرانو ته چاپ ورکړه دغه
رنګ چه پرهر قسم کالو نګوی هغه کالی دځان سره کښیږدی او سانچه پدغه
رنګ کړه وه بیائی پرکالو نګوه په دغسی طریقه سره کالی په چاپ کړه ـ او
داسی سانچه چه په دی کښی د ګلابو او بو ټو نقشو نه سوی وی په بازار
کی خرڅیږی یا ئی په یو نجار جوړه کړه

ټور رنګ :- یو چټانګ ولایتی رنګ چه ودانه ټه پیړی والی په بازار کښی
خرڅیږی او یو پاو ناګوری ګونډ په یوه سیر او بوکښی واچوه او لعاب یعنی
سریښناکه او به څندی تیاری کړه بیا یو چټانګ پټاس شپږ ماشی نیل نوتیا

شیر ماشی د غنمو اوړه او شیر ماشی غوړی په دغه لعاب او سر یښنا که او بو کښی ښه حل کړه چه سرنگ ښه خټه سی او بیا کالی او پټو کړان په چاپ کړه .

دهغه نور رنگ دجوړولو طریقه چه دخط نوشته کولو دپاره استعمالیږی

د ببول یعنی ام غیلان د درختی کنډوری یوسیر ، کاجل یو باو ، پټهکری یعنی خوری شیر ماشی ، کنډ یعنی هغه رنگ چه پان په رنگیږی شیر ماشی د ببول یعنی ام غیلان د درختی پوست یو چټانگ ، د آم پوست یو چټانگ او د نکرحو لوګی یو چټانگ او نیل تو تیا یو چټانگ اول په یو نیم سیر او بو کښی کونډوری خیشته کړه هروخت چه ښه خیشته سی نو بیا کاجل یعنی کجل د سر کړه گډ کړه او تریوی ورځی پوری ئی ښه سر کړه حل کړه سر کړه وئی لرگی او پوستونه جلا په یوه سیر او بو کښی دوندی وایشوه چه او به دسیر څخه پر پاو و درږیږی او دا او به په دغو حل سوو کونډوړو او کاجلو گډی کړه - پټهکری "خوری" نیل تو تیا ، او کنډ (هغه رنگ چه پان په رنگیږی) دغه درې سر کړه په یوه چټانگ او بو کښی جلا ښه حل کړه بیائی په دغه کاجل او کونډو ړو گډ کړه بیائی تریوی ورځی پوری داوسپنی په کړاڼی کښی ښه سر کړه ولړه وروسته ئی په پتنوس یا مجمع کښی ښه سر کړه وچ کړه نو بس په دغه طریقه سر کړه رنگ تیارږیږی تر تولو ښه دادی چه دغه رنگ په غلبیل کښی نری نری هوار کړی او وچ ئی کړی نو بس په دغه طریقه سر کړه رنگ تیارږیږی د ببول یعنی دام غیلان د درختی کونډوری که په بازار کښی گران وی نو کوم کسان چه په هنگلو نو کښی اوسیږی دوی ته دوی د درې روپی وړکړه د دغو درختو څخه ډیر کونډوری درته راوړی .

دانگریزی رنگ دجوړولو ترکیب اوطریقه

د اولی درجی اسمانی رنگ یوه تولـه ، بانجنی رنگ یوه تولـه او سوه اتلس ماشی اول سوه پـه لسو تولو او بو گډ کړه ترگډیدو وروسته او به گرمی کړه

اوبیا په دغو اوبو دغه دواړه رنګونه ګډ کړه او دا رنګه ئې سره ګډ کړه چه ټول شیان سره ګډ سی بس نو رنګ تیار یږی.

دلرګو د رنګولو ترکیب او طریقه

په کوم رنګ سره چه لرګی رنګوی دهغه رنګ پوړی په بازار کښی راځیسه دتار پین دتیلو سره ئې په دامی اندازه کښی ګډ ی کړه چه تیل خټه سی بیا نو دګلهرو یه لکی یا برش (ګلهری د مبرک په شان یو حیوان دی چه پرده یا ندی نو ری لیکی دی او په درخت کښی ګرزی) یا دیو پرنده پر یا پر یو سرګی ټوکر و پیچه دوی په ذریعه سره لرګیانو ته رنګ ورکړه هر قسم چه ستا زړه غواړی هغسی نقشونه پروکړه ګلان پروکړه یا بالکل ساده رنګ ورکړه ترڅو چیدی وروسته دوارنش تیل پوړی ومینه او بیا ئې وچ کړه نو بیا دغه رنګ هم ښه پخیږی اوهم ښه ځلیږی.

دلوښود قلعی کولو یعنی سپینولو ترکیب او طریقه

یو پاونوشادر میده کړه بیا ئې په درې چټانګه اوبو کښی واچوه تر دغه وروسته ئې په دیګ یا کټو کښی دوندی قدر جوش کړه چه اوبه وسوځل سی وچی سی هر وخت چه نوشادر سخت سی بیا یه نور اکښته کړه او میده ئې کړه بیا نو کوم لوښی چه قلعی کول غواړی اول ئې ښه په یو صافه پاک کړه په اور ئې ښه ګرم او سور کړه دلوښی ترګرمید و او سور کید و وروسته د پنبه په یو زړه ټوپه سره پر ټول لوښی نوشادر ومینه بیا تر دغه وروسته یو لږ څه قلعی دلوښی پر یوځای باندی وڅګوه او پنبه پر ټول لوښی باندی دا رنګه وګرزوه چه دغه قلعی دلوښی وټولو برخوته ورسیږی پر ټول لوښی باندی وغوړیږی نو بس په دغه طریقه سره قلعی یعنی دلوښی سپینول کیږی د قلعی کولو په حال کښی لوښی په یو امبر یا بل دغسی شی سره ونیسه.

چه لوښی مات یا سوری وی د هغه د محکم جوړولو طریقه

کانسی وکوټه ریزه ریزه ئې کړه او دده په قدر سهاګه (تنکار) ورسره ګډ کړه

کړه او دواړه بنه باریک میده کړه او کوم لوښی ته چه پخه ټانکه وړ لګوی یعنی
د لوښی یو ځای جوړوی نو که چیړی تر دغه مخکی و دغه لوښی ته یو ځای ټانکه
لګید لی وی لکه د بدنی د چوښکی په بیخ کی چه د جوړیدو په وخت کښی ټانکه
لګید لی وی نو پر دغه ټانکه خاورې واچوه چه په خاورو کښی پټه سی ددی
د پاره چه دغه ټانکه داورد وجلی څخه وِیلی او جلانه سی بیا نو چه پر
هر ځای ټانکه لګوی د دغې ټانکی د دننه د طرف څخه پر دغه ځای دغه سهاګه
او کانسی کښیږده بیا لوښی واورته ونیسه دارنګه چه په پوښی سره دی
نیولی وی اود اورِ څخه لږ څه لوړ وی چه هر وخت بنه ګرم سی نو بیا ئی
د اورِ څخه را لیږی کړه نو د اورِ د تاو په واسطه دغه سهاګه (تنکار)
او کانسی ویلیږی دغه مات او سورې ځای په بندیږی او ټانکه لګیږی او
کچه او کمزورې ټانکه د قلعی دارنګه لګیږی چه قلعی ویلی کړه د دغه
ځای د د باندی پرځوا لئ واچوه پرولئ غوړوه چه د لوښی د باندی خوا
کیږی هر وخت چه دغه قلعی ساړه سی نو بس ټانکه و لګید ه او کار ئی
خلاص دی د لوښی پرکوم ځای چه ټانکه لګول غواړی هغه ځای که چیړی
لوړ او کښته وی نو اول دغه ځای په سوهان یا بل د غسی شی سره برابر
او هموار کړه

د څکولوٴ د تمبکو د جوړولو طریقه

هر قسم تمباکو چه دی پر طبیعت برابر وی هغه را نیسه او بنه ئی وکوټه بیا
په دغو تمبکو شیره یا ویلی بهید ونکی ګوړ ه ګډ ه کړه د ګرمی په موسم کښی د
تمبکو تر مقدار یو څه زیاته وړ سره ګډ ه کړه د باران په ورځو کښی تر
تمبکو یو څه لږ وړ سره ګډ ه کړه او د یخ په موسم کښی د تمبکو په قدر سره
وړ سره ګډ ه کړه د شیړی یا ګوړی تر ګډ ه ید و وروسته تمباکو بیا وکوټه
لیکن تمباکو کوتل د پاره زور غواړی نو د دی سبب بنه داد ه چه دیو دینداړ
معتبر د وکاندار
د غه تمباکو په وکوټې په جوړ ئی کړی. یا ویو مزدور نه مزدوری ورکړی چه

له د چیلم د څکولو هم هغه حکم دی کوم حکم چه د نسوارو دی ۱۲ محشی

څکولو دپاره د خوشبویه تمبکو دجوړولو طریقه

په یوه سیر ساده تمبکو کښی نیم چټانګ دغه لاندی ذکر سوی خوشبویانی گډی کړه په داسی طریقه سره چه دد غو خوشبیانو مقدار په خپل منځ کی سره برابر وی هغه خوشبویانی دادی - لونګ، بالچړ (سنبل طیب) د صندل براده، غټ الائچی (هیل) سګند بالا، تج، او باؤ بیر اود دوی (۲) دری ماشی د نکرځو عطر د تمبکو سره ګډ کړه

دنان پاؤ (ډبل روټی) بسکوټ اوداسی نور وشیانو دجوړولو طریقه

په سوجی یا میده کښی خمیر ګډ کړه د خمیر ترګډولو وروسته ئی بنه سره واخښه تر اخښلو وروسته ئی پریو تخته وکوټه بیا چه دد وی کوم قالبان د دی په هغه کښی واچوه اوتنور بنه ګرم کړه تر ګرمید و وروسته د تنور څخه ټول اور اوایری راوکاږه بیا د غه قالبان په تناره کښی کښیږده اود تناره خوله پسی بنده کړه هر وخت چه پاخه سی بیا ئی راوکاږه اوس ئی مخ ته په پوره بیان ځان پوه کړه.

دنان پاؤ (ډبل روټی) دجوړولو طریقه

لونګ، الائچی خورد یعنی کوچنی هیل، جائفل، جاوتری (بسباسه) اندرجو



(السان العصفور) سمندر پهین (زبد البحر) سمندر سوکه، تال مکهانه، پهول مکه
کنول گټه، د مونګو (مرجان) بیخ، کنګهی، وړی مائین (عذبه) غټی مائین (شراط
کو چنی او غټ گولهرو، چوب چینی او کبابه چینی (کبابه سینی) پټول شیاد
دری دری ماشی او زعفران شپږ ماشی دغه پټول وکوټه
او
چوپه تر چوپلو ورډسته ئې په یو داسی سیمنه کښی واچوه چه سر پوښ
ئې ډیر مضبوط وی بیا نو سیمنه په احتیاط سره کښیږده تر یوه نیمی ماشو
پوری لاهم دهری هری دوا وزن کیدای سی تر دغه چه کم وی بیا مصالی
(مساله) نه سمیږی اونه برابریږی هر وخت چه دی ضرورت ورته پیدا
کړی نو د سیمنی څخه یوه نیمه ماشه سفوف را واخله په پاو بالا یوه
توله مستو ئې گډ کړه بیا ئې تر یوی دقیقی پورې په دوو (۲) گوتو سره وهنه تر
دغه ورډسته د غنمو میده په داسی اندازه ددی سره گډه کړه چه
ډیر سخت نه سی دغوښ د نرمی په اندازه نرم وی دغه ئې علامه ده بیا دلاس
د ور غوړ په ذریعه یو گردی شی څندی جوړ کړه په یو پټو کرکښی ئې ډیله اوسنت
غوټه کړه بیا ئې په یو میخ را واخړوه دغه رنګه ئې تر دروو ورځو پورې
څړپیدلی پریږده څلورمه ورځ دغه غوټه راکښته کړه او وئې گورئ چه په
دی کښی به خمیر ښه پرسیدلی وی اوپرد غه خمیر سر بیره چه کوم وچوالی - او
خشکی پیدا سوی وی دغه سر بیره وچ شیان څندی لیری کړه بیا د غه
ډډی شی د غه سر پښناکه خمیره را و باسه بیا په یوه چټانګ مستوکی میده
گډه کړه دارنګه چه د مخکنی گډون سره برابر سی یعنی د غوښ د نرمی په
شان نرمی پکښی موجوده وی او صفه خمیر کوم چه د گولی یعنی گردی شی څخه
دی را ایستلی وو په هغه ئې گډ کړه دلاس په ذریعه سره ئې دارنګه سره
گډ کړه لکه خلګ چه د څکولو تمباکو سره گډ وی بیا د غه څخه هم گوله
یعنی گردی شی جوړ کړه او په دغه پټو کرکښی واچوه او وئې تړه تر شپږ ساعته
پوری را وخړوه. ورډسته تر شپږ ساعته چه کوم وچوالی پرې پیدا سوی وی
هغه څندی لیری کړه او خمیر څندی را و باسه بیا د غه رنګه د نیم پاو مستو
سره میده گډه کړه چه نرمی ئې د غوښ د نرمی په شان وی او د غه خمیر ورسره
سره کړه په پټو کرکښی ئې غوټه کړه را وئې خړوه تر شپږ ساعته پورې د غسی

خُرید لی پریږده او تر شپیږ ساعته وروسته ئی راکښته کړه او په دغه ذکر سوی طریقه سره خمیر حُندی راوباسه بیا ئی دنیم پاؤ مستو سره په دغه ذکر سوی طریقه سره میده په گډه کړه په ټوکر کښی راوخُړوه تر شپیږ ساعته وروسته ئی بیا راکښته کړه په ذکر سوی طریقه سره خمیر حُندی راوباسه داخلرم وار دی داوار چه پرد غه گوله یعنی گردی شی کومه خشکی ده که چیری دغه خشکی حُندی لیږی نه سی نو هیڅ پروا نه لری بیا دنیم پاؤ مستو سره په دغه طریقه سره میده گډه کړه او دغه خمیر هم ور سره گډ کړه ترگډیدو وروسته ئی په لاس بنه سره وښنه چه بنه سره گډ سی او هر وخت چه بنه سره گډ سی نو بیا ئی په احتیاط سره په سَوَدَهٔ یا بل دغسی شی کی کښیږده. تر څلورو ساعته وروسته ئی د سَوَدِ ئی څخه راوباسه که چیری غواړی چه خمیر دآینده د پاره د سره موجود وی نو دد غه د دنه څخه نیم چټانگ خمیر علیحده راوکاږه او په ذکر سوی طریقه سره په نیم چټانگ مستو کښی میده واچوه او بیا دغه نیم چټانگ خمیر ور سره گډ کړه په ټوکر کښی غوټه کړه راوئی خُړوه او تر شپیږ ساعته وروسته خمیر حُندی راوباسه د ذکر سوی طریقی سره برابر نور ه میده وسره گډ کړه په د غه طریقه سره د وام ورکړه جاری ئی وساته نو د غه خمیر همدغسی مسلسل پریږی د غه نیم چټانگ خمیر چه حُندی راوباسی کوم خمیر چه پاته سی د هغه څخه دبل روټی یعنی نان پاو پخه کړه بیا چه بله ورځ هر وخت د خمیر ضرورت پیښ سی نو د غه خمیر کوم چه راخُړیږی نیم چټانگ خمیر حُندی جلا کړه او د نور پاته خمیر څخه نان پاؤ پخه کړه (یعنی دبل روټی پخه کړه) او خمیر په د غه طریقه سره نهایتوه

د نان پاو یعنی دبل روټی د پخلو طریقه

دکوم خمیر طریقه چه د دوډی د پخلو د پاره اوس ولیکل سوه د غه د نیم سیر میده سره په اوبو کی واخښه تر اخښلو وروسته ئی پټ کړه او تر دوه ساعته پورې دی دغسی پټ وی که د څلورو یا پنځه سیره نان پاو (دبل روټی) پخوی نو په دغومره اندازه میده په د غه خمیر گډ کړه او سره وائی خښه که لږ څه نمک او شکر سفید هم ور سره گډ کړی نو بیا دپرښه دی تر یو نیم یا دوو

ساعتو پورې بیا کښیږده د غه خمیر چه اوس اخښل سویدی دا به د
دا وړو په شان نازک وی لیکن د زده کړی په شروع کښی د پیرو نازکوا
په پخولو کښی یو څه تکلیف ستنه ددی سبب ئی لږ څه کلک واخښه بیاچ
هر وخت زده سی نو ئی د پیرو نازک اخښه بیا نو د غه اخښل سوی خ
او میده تر دوه ساعته وروسته په لاس سره لږ لږ را اخله پرد غه
ئی په پیړو ور سره وهه او په ور غوو ئی ښه سره مښه او بیا ئی را
کوه او تر را پورته کولو وروسته ئی پرو وهه هر وخت چه ښه واخښل
ښه غاړو کړی بیا ئی نو پرمیز یا تخته یا بل د غسی شی کښیږده تر ش
د قیقو وروسته چه هر څوند ی غټه د وړی پخول غواړی په د غو
اندازه سره غټی غټی پیړی تول کړه وروسته تر د غه په لاسو پو
یو څه وچه میده یا تیل و مښه او بیا د غه پیړی جوړی کړه - تیل یا
میده د دی د پاره استعمالیږی چه پیړی په لاسو پورې و نه مښ
بیا نو ستا خو ښه ده که د غه پیړی په قالب کښی اینږدی یا ئی د تیم او
پرمربع یا مستطیل اینږدی هر وخت چه پیړه نیمه و پرسیږی نو په د ع
وخت کښی تنور ولګوه د تنور به د ارنګه وی چه د سو په خوا یا وخ
ته به موری لری هر وخت چه پیړه پوره و پرسیږی نو په د غه وخ
کښی د تنور څخه ټول اور راوکاږه که په او بو یو څه مالګه اومستی گ
کړی په تنور کښی ئی پنا کړی نو ښه دی بیا نو اول یوه پیړه په تنور ک
کښیږده د تنو خوله پسی بنده کړه د دوی (۲) د ړی (۳) د قیقی صبر ورته و
او بیا ئی وګوره که چیری رنګ پر اغلی او رنګدار ه سوی وه نو نور ی
پاته پیړی هم پکښی کښیږده که چیری په دری د قیقی کښی د غه مخ
پیړه وسو ځل سی بیا پنځلس د قیقی صبر وکړه د دی د پاره چه د تنو
ګرمایی د پیړی سره موافقه او برابره سی تر پنځلس د قیقو وروسته بیا
پیړه پکښی کښیږده او وګوره که تاوپر کم سوی وی نو ټولی د نان پا
خوله یوځه اور کښیږده تر د غه وروسته د تنور خوله په یوسره پوښ سه
بنده کړه چه توښ ئی و نه وزی تر هر د ړ (۳) و یا څلور و د قیقو وروسته

پیوست او مسلسل ورته گوره هر وخت چه ئې رنګ وسوړ والی ته مائل سی یعنی رنګ ئې بادامی سی نو فوړا د تنور څخه سړ پوښ لیږی کړه پټولی چه وچه سی خندی راوباسه تنور چه اوس په کومه اندازه باندی گرموالی لری په دغسی اندازه گرموالی کښی نان خطائې اوخوابزه بسکوټ هم پخیږی (نان خطائې یو قسم خوږ شی دی چه د غوړو میدی او داسی نورو څخه تیاریږی چه اوس ئې ترکیب اوطریقه راروانه ده) که چیری نان خطایی اوخوابزه بسکوټ کچه او اومه تیار درسره موجود وی نو د بل روټی ترڅ ایستلو وروسته ئې فوړا په تنارۍ کښی کښیږده خوله پسی بنده کړه لږ لږ گړی وروسته ورته گوره هر وخت چه پاخه سی بیائې راوکاږه او که نان خطایی یا خوابزه بسکوټ تیار درسره موجود نه وی نو د تنور پر خوله لږ څه اوږ کښیږده ترڅ غه وروسته د تنور خوله بنده کړه د دی د پاره چه تنور ګرم پاته سی د غه ګرمایی ترشلود تیقو پورې پاته کیدای سی ترشلود تیقو وروسته بیرته په تنور کښی داوږد بلیدو ضرورت دی که دی نوی تنور جوړ کړی وی نو په تنور کښی دری ورځې اوربل کړه د دی د پاره چه تنور برابر سی ترڅ غه وروسته بیا د غه شیان یکښی پاخه کړه.

د نان خطایی دجوړولو طریقه

غوړی یو پاؤ، شکره یو پاؤ، دانه الائچی خورد یعنی د کوچنی هیل دانی یوه ماشه، سمندر پهین (زبد البحر) دری ماشی او د غنمو میده یو پنځه چټانګه اول غوړی، شکره او د کوچنی هیل دانی سره ګډ کړه ترشلود تیقو پورې په یولګن کښی په لاس سره ووهه او حل ئې کړه لکه د ګلګلې اوړه چه سره حلیږی (ګلګلې یو قسم خوږ ډکوسره ده) ترشلود تیقو وروسته چه بنه ګرم سی نو بیا سمندر پهین (زبد البحر) میده کړه ترمیدیدو وروسته ئې ورسره ګډ کړه او په لاس ئې بنه پکښی حل کړه اول واړه پورې یو پاو میده ورواچوه تراچولو وروسته که چیری د غه شیان لاندې اونری وی نو هغه یوچټانګ پاته سوی او باقی میده هم ورواچوه د دی نرموالی به هم د غوړو د نرمی په شان وی بیا نو نان خطایی جوړه کړه او په تنور کی کښیږده هر

وخت چه بسکوټ پاخه سی بیا ئی د تنور څخه راوباسه.

د نمکین بسکوټ د جوړولو ترکیب او طریقه

غوړی یو پاؤ شکره یو چټانگ، نمک پاو څ[۸] بالا اته ماشی او د غنمو میده یو سیر اول غوړی، شکره، او نمک میده کړه په یو لگن کښی تر پنځو دقیقو پورې ښه حل کړه بیا نو میده هم ورسره گډه کړه تر گډیدو ورسته ئی ښه سره تنکی کړه لکه د غنمو اوړه چه تنکی کیږی او سره حلیږی بیا نو هر څوندی غټ بسکوټ چه جوړول غواړی په هغوندی اندازه بیلن ئی سره هوارکړه د غه رنگه ئی د ټیمکی پریوټه کښیږدی تر د غه ورسته ئی په تنور کی کښیږدی. هر وخت چه پوخ سی نو د تنار څخه ئی راوباسه لیکن د غه نمکین بسکوټ د نان پاو تر پخیدو مخکښ باید پوخ سی حکه چه د د ی د پاره د پیر تاو په اوحرارت داور په کار دی.

د آم داچار د جوړولو ترکیب او طریقه

اومه تازه آم چه ټپن نه وی د وندی قدر سپین کړه چه شینوالی ئی ختم سی او د وی په مابین کښی دار نگه وتراشه چه تر تراشلو ورسته ئی د واړی خواوی سره جلا نه سی بیا مند که څندی لیږی کړه تر د غه ورسته دلهسن یعنی اوږی سپینی سوی دانی سره مرچ، سونف (خوابره ولنی) پودینه (نانا) ادرک (خام شونډ) کلونجی (دانه سیاه) او نمک په مناسب اندازه سره گډ کړه بیا ئی په د غو د و خواو و د آمو کښی واچوه او د آمو خوله پسی بنده کړه سر بیره یوانځی یار سنگی پرو پیچه ټنه[۹] لسۍ[۱۰] ورځی ئی د لمر وتاو ته کښیږدی د بیا ئی په عرق نعناع (نانا) یا سرکه کښی واچوه تر د غه ورسته یوه هفته د لمر تادو ر کړه د لمر تر تاؤ ورکولو ورسته اچار تیار دی خپل کار څندی واخله که چیری آم په تیلو کښی اچوی بیا نو د آم د سپینید و ضرورت نسته په د وی خواوی سوی آم کښی نمک او مصالحه (مساله واچوه بیا ئی د سرشف په تیلو کښی واچوه

د خوابزه بسکوټ د جوړولو طریقه

غوړی یو نیم پاو، شکره نیم سیر، سمندر پهین (زبدالبحر) شپږ ماشی شیدی یو پاو اود غنمو میده یه نیم پاؤ کم یو سیر اول غوړی او شکره دنان خطایی په شان بنه سره حل کړه او لږ لږ شیدی ور اچوه هر وخت چه ټولی شیدی ور سره ګډی سی نو نیم پاو او به په یوه وار ور واچوه په دوی کښی سمندر پهین (زبدالبحر) هم میده کړه ور وانړ چوه او سر بیره میده پر واچوه که چیری پیر نرم سی نو نور میده پر واچوه هر وخت چه برابرسی نو بیائ د ډوډی په شان په بیلن سره هوار کړه (بیلن یو لرګی دی چه د ډوډی پیړی په هوار یږی) هر څوندی غټ بسکوټ چه جوړوی په هغه اندازه غټ غالب (قالب) ور جوړ کړه بیا دغه بسکوټ په دغه قالب کښی برابر کړه او تر برابره وورسته ټ د چادر یا تیم پر ټکره کښیږ ده بیا نو چادر یا تیم په تنور کښی کښیږ ده هر وخت چه بسکوټ پاخه سی بیائ د تنور څخه راوباسه.

د چاشنی دار یعنی تروه خوابزه اچار د جوړولو طریقه

نیم سیر کشمش، نیم سیر وچی خورما وی، یو پاؤ امچور، نیم پاؤ ادرک (خام شونډ) او نیم پاو لهسن (اوږه) دغه ټوله مصالحه جات په درې سیره عرق نعناع (نانا) کښی واچوه او یو نیم سیر شکره ور واچوه تر پنځلس ورځو پورې ولمرته کښیږ ده بس اچار تیار دی خپل کار ځندی واخله.

د نمک پانی د اچار د جوړولو طریقه

مولی، زردکی، شلغم او داسی نور را واخله پوست ځندی لیری کړه او د پوست تر لیری کولو ور وسته ټ ټوټ ټوټ کړه په اوبو کښی جوش ور کړه تر جوش ور کولو ور وسته اوبه ځندی لیری کړه وهوا او بادته ټ وچ کړه د سرشف تیل، وچه میده سوی هلدی (کورکومن) سره مرچ، کلونجی (دانه سیاه) خردل (دا یو قسم سری او توری دانی دی چه د سپلنی تر دانو وړی دی په اردو ژبه کښی رائی ورته وائی سپلنی نه دی حکه چه هغه ته حرمل

وائی) نمک په اندازه د ضرورت او او به وړ سره ګډې کړه ترڅو ورځې هفتې پورې و لمرته کښیږده تر دغه وروسته ئې استعمال کړه.

د شلغم اچارچه ډیرې ورځې دوام کوی

د شلغم پنځه سیره پوټه پوټه په اوبو کښې سپک جوش ورکړه ترجوش وړ کولو وروسته ئې وچ کړه او بیا دغه شیان وړ سره ګډ کړه نیم پاو نمک یو چټانګ سره مرچ، نیم پاؤ رائی (خردل) چه سری دانی ئې وی د غه ټول میده کړه بیا نیم پاؤ لهسن (اوښه) او یو پاو ادرک (خام شونډ) باریک باریک وتراشه د دغو شیانو ګډ ولو وروسته چه هروخت د شلغم په پوټو کښې ترشی اونیږی پیدا سی نو دګوړی یا شکر سفید څخه قوام جوړ کړه پردغو پوټو ئې واچوه هروخت چه شیره کمه سی نو بیا نوره جوړه کړه پروائی چوله دغه اچار ترډیره وخته دوام کوی.

د نورتن چټنی دجوړولو ترکیب اوطریقه

د آم مغز یو سیر، سرکه یا عرق نعناع (نانا) پاو بالاسیر، لهسن (اوښه) او سره مرچ نیم نیم چټانګ، کلونجی (دانه سیاه) سونف (خوانښه ولنی) او پودینه خشک (وچه نانا) دوی دوی د ډوی تولی، لونګ او جائفل څلور څلور ماشی، ادرک (خام شونډ) او نمک یو یو چټانګ، شکر یا ګوړ یو پاؤ اول د آم مغز په سرکه کښی میده کړه بیا پوټه مصالحه (مساله) په سرکه کښی میده کړه او د آم د مغز سره ئې مخلوط کړه او هرڅوندی سرکه چه باقی پاته سوی وی د دی سره ګوړ مصالحه (مساله) او د آم مغز ګډ کړه او جوش ورکړه هروخت چه محلول تیار سی نو بیا خپل کار ځندی واخله او که ئې خوشرنګه جوړه ی نو د وی تولی هلدی (کورکومن) چه په تود و ایرو کښی سره سوی وی میده کړه ترمید ولو وروسته ئې وړ سره ګډ کړه.

د مربا دجوړولو ترکیب اوطریقه

د آم څخه پوست لیری کړه تر داسی حده چه د شین والی هیڅ علامه

پریاته نه سی بیامندکه خندی راوباسه په بیو تیره شی یاستن دغه آم وو هه چه داغونه پکښی پیدا سی بیائ د اهاکو او پهتکړی (خوری) په صافو اوبوکښی واچوه (صافی اوبه ئ هغه دی چه اهاک اوخوړی د اوبو پای ته ولاړسی اوسیږه چه کوئی اوبه پر ولاړی وی هغه صافی دی) بیائ دوه دری ساعته وروسته په ساده او خالص اوبوکښی واچوه بیائ پری مینځه اوپه خالص اوبوکښی جوش ورکړه هروخت چه نیم پخته سی نو راوئ باسه رهوانه ئ وچ کړه بیائ د شکر یا قند په قوام کښی واچوه چه دغه قوام به دکچه آمود وچنده وی هروخت چه قوام ښه خپه سی او تار وکړی نو بیا دغه مربا استعمال کړه او که ئ پیړه خوندوره جوړه وی نو د ریمه خلرمه وړځ قوام ور بدل کړه یعنی بل دوهم قوام ورکړه چه خوند ئ خوږ سی د ټولو مربا وُ دغه طریقه ده لکه دکهو، سیب، آمله اوداسی نورو

د نمک (مالگی) اوبو او آمو گډولو طریقه

پاخه او تازه آم چه سخت وی ټپن نه وی په اوبوکښی ښه پریمنځه بیائ د خاورو په یو لوښی کښی واچوه وروسته دوندی اوبه ور واچوه چه آم پکښی پټ سی دری ورځی وروسته ئ بیا پریمنځه هغه مخکی اوبه خندی وغورزوه نوری تازه اوبه ور واچوه ثابته اوروغ مرچ اونمک په دوی کښی په داسی اندازه واچوه چه پرسلو آمو باندی یو پاو مالگه اونیم پاو اوږه وی نو بیا ئ پنځلس ورځی وروسته وخوړه اوبه باید تر آمو لوړی وی آم پکښی پټ وی بعضی خلگ داسی کوی چه دوهمی اوبه ور بدلوی د دریم وار په اوبو کښی میتی (ملخوړی ته جوش ورکړی هروخت چه دغه اوبه سړی سی نو بیا د آمو پرخوله باندی لږ لږ تیل مبنی د تیلو تر مبنلو وروسته آم په دغو اوبوکښی اچوی د میهتی (ملخوړی) دوه اچولو په سبب دغه اوبه نه خرابیږی نو ددی وجهی څخه دغه آم یو څه پیر دوام کوی.

د لیمو یعنی لیمبو اچار وجوړولو طریقه

پنځه سیره کاغذی لیمو یوه پوره وړځ په اوبوکښی واچوه اودوهمه وړځ

ئی داو بوخښه راوباسه او خلور څلورډری ئی کړه او بیا ئی دگرئی مسالی او سینداانمک یعنی ملح هندی ډکی کړه د پنځو سیر و لیمو د پاره نیم سیر گرمه مصالحه اودری پاوه نمک کافی دی د نمک او مسالی تر څو کولو وروسته ئی په یولوښی کښی واچوه سر بیره د دغه لیمو څخه ماسیوی د نورو لیمو عرق پرونښتیځه بعضی خلگ دری واړه او به ورسره لوی په یوه چتانگ بالا یو سیر مصالحه (مساله) وراچوی اوپردوی سر بیره د تروو آمو عرق لنبتیځی هرخونډی چه زیات عرق پرو لستیځل سی په هغه اندازه سره تر څیرووړ څو پوری دوام کوی او بعضی خلگ پوره یو سیر نمک وراچوی او دغه شیان دمم وراچوی سونهړ (څونډ) شیر ماشی، پیپل شیر ماشی، سمندر جهاگ شیر ماشی، او سپینه زیره شیر ماشی د غه ټول شیان دگرئی مصالحی (مسالی) سره یو ځای کوټل کیږی.

د توکرانو او کالو د رنگولو طریقی

تور رنگ:- د دیرو اهاک نیم سیر، خالص تیل یو سیر او دگوړی شیره نیم سیر ټول بنه سره گډ کړه په یو لوښی کښی ئی واچوه سهار ماښام او خرمه ئی په یو لرگی سره لړه چه خمیر ئی راپورته سی که چیری دیخ موسم وی نو بیا دلوښی وخلور و طرفونو ته او ربلوه څه داور دگرئی څخه خمیر راپورته سی او تر دغه وروسته توکران او کالی پکښی ورنگوه تر رنگیدو وروسته چه هروخت کالی وچ سی بیانو دغه کالی دغوا په تازه شیدو کښی ډوب او غوټه کړه یادنکر څو وپاڼوته په او بو کښی جوش ورکړه تر جوش وروسته په دغوا او بو کښی د غه کالی خیشته کړه چه په داسی کولو سره رنگ بنه پخیږی.

ژړ رنگ:- اول هلدی (کور کومن) بنه باریک میده کړه تر میده لو وروسته ئی داو بو سره گډ کړه او بیا کالی په ورنگوه تر رنگیدو وروسته کالی ونښتیځه او وچ ئی کړه بیا دوی تولی پهټکری سفید (سپینه خوری) میده کړه او تر میدیدو وروسته ئی وچ کړه بیا نیم سیر د آم پوست را واخله نهه (۹) ساعته په او بو کښی جوش ورکړه تر جوش وروسته ئی وچوپه او تر چوپلو وروسته کالی

او توکران یا کیږی پکښی خیشته کړه او بیائی وچ کړه.

سنهری انبوه رنګ (طلایی رنګ):- د نیمی پیسی هلدی (کورکومن) راپیس
بیا توکران او کالی پکښی ورنګوه (د اد هغه وخت خبره ده کوم چه کتاب جوړ یدی
اوس خو نه نیمه پاکستانی پیسه سته او نه شی په کیږی نو د ضرورت په وخت
کښی د هلدی (کورکومن) د مقدار پوښتنه د رنګریز څخه وکړه) بیا یو پاو
ناسپال (د انار پوستوکی) ته په او بو کښی جوش ورکړه بیا او به وچوپه او بیا
کالی او توکران ورواچوه پکښی ولی رنګوه او د ناسپال (د انار پوستوکی) او به در
سره وساته بیا د نیمی پیسی گیرو (طین احمر) په او بو کښی واچوه (نن سبا
د نیمی پیسی گیرو (طین احمر) نه کیږی د رنګریز څخه پوښتنه وکړه) او وکالو
او جامو ته رنګ پکښی ورکړه) بیا نو هغه د ناسپال (د انار پوستکی) او به چه
تاد رسره ساتلی وی په د غو او بو کښی کالی غوټه او ډوب کړه بیا د دو پیسو -
پټکری (خوری) راواخله (د لته هم د رنګریز څخه د پوښتنی ضرورت دی) جلا
په او بو گډه کړه ترګډ ید و ورو سته کالی پکښی غوټه کړه بیا د غه پټکری
یعنی خوری په او بو کښی لږ څه سر ینښناکه او پخی سوی او به د ورجو یا اوړو
واچوه چه ورجی یا اوړه پکښی پاخه سوی وی تر د غه ورو سته ئی په لاس
سره ولړه او بیا یو څو واړه کالی پکښی غوټه کړه تر د غه ورو سته کالی خندی
راوباسه.

د سنهری انبوه رنګ دوهمه طریقه:- ناسپال د انار پوستکی او
بجیټه د واړه راواخله چه د وزن ئی سره برابر وی او نیم کوفته ئی کړه یعنی ریزه
ئی کړه بالکل ئی مه میده وه تر ریزه کولو ورو سته ئی د شپی په او بو کښی خیشتا
کړه او سهار جوش ورکړه تر جوش ورکولو ورو سته ئی وچو په اول پټکری.
خوری) بنه باریکه میده کړه په او بو کښی ئی واچوه بیا په د غو او بو کښی کالی
واچوه چه لاندی سی تر لندید و ورو سته ئی وچ کړه بیا نو د غه وچ سوی کالی
د د غه ناسپال (د انار د پوستکی) او بجیټه په او بو کښی غوټه کړه

زمردی رنګ:- په لوړ او ذکر سوی ترکیب سره اول کالی د پټکری (خوری
په او بو کښی واچوه بیا ئی وچ کړه تر د غه ورو سته ئی د نیل په او بو کښی غوټه کړه
وبیا ئی د د غه ناسپال یعنی د انار د پوستکی او بجیټه په او بو کښی غوټه کړه.

د زمردی رنګ دوهمه طریقه: د آم نار کو پانړوته چه نیم پاؤ وی
نیم سیر اوبو کښی جوش ورکړه بیا دغه اوبه وچوپه د سرې وړی ساته بیا
نور اوبو کښی جوش ورکړه او دغه دد دهم وار اوبه جلا د سرې وساته
د دغو پانړوته دریم وار په نور اوبو کښی جوش ورکړه او دغه اوبه
جلا د سرې وساته تر دغه ورو سته کالی اول وار په اولو اوبو کښی رنګ
تر رنګید و ورو سته ئی وچ کړه بیا ئی دد دهم وار په اوبو کښی رنګ کړه وچ
کړه بیا د دریم وار د اوبو سره ټنه (۱۹) ماشی پټکری (خوړی) ګډه کړه بیا نو
دغو اوبو کښی کالی بنه ومښه بنه ئی پکښی پری مینځه اوبیا ئی وچ کړه.

بانجنی رنګ: د ببول یعنی کیکر پوست یو پاو او کائنفل (عود البرق) څ
تولی سره نیم کوفته کړه او د شپی ئی په اوبو کښی خیشته کړه او سهار جو
ورکړه اول د وی تولی پټکری (خوړی) جلا په اوبو کښی واچوه کا
او جانی پکښی غوټه کړه او تر دغه ورو سته په دغه تیار سوی رنګ کښ
کالوته غوټه ورکړه بیا په دغه رنګ یوه توله کسیس (دا یو قسم خوړی
ګډه کړه د کسیس تر ګډ ولو ورو سته بیا کالی پکښی غوټه کړه مګر دغه ب
رنګید و کسیس وی هیر اکسیس به نه وی

یوخ سرخی ته مائل خوشنما طوسی (بانجنی رنګ): اول نیم پا
مجیټه او نیم پاؤ د نکرځو پانی میده کړه د شپی ئی په شیږ سیره اوبو کښی
خیشته کړه سهار د خاورو په کټو کښی ډیر جوشونه ورکړه تر جوش
ورو سته ئی وچوپه او د سرې وړی ساته بیا نوشډه هریړه یعنی لویه اوغټه
هریړه او هلدی (کورکومن باریک میده کړه په ډیرو اوبو کښی ئی واچوه
الی دا رنګه په ورنګوه چه داغونه او لیکی پر پیدا نه سی یعنی ټول کالی
وشان په ورنګوه تر رنګید و ورو سته ئی و نښتیځه په سایه کښی ئی وچ
کړه د دغه رنګ پر پریږده بیا نیم پاؤ ګوړه او نیم پاو وچه آنوله (آمله)
او سپنی په کرایی کښی په لږ قدری اوبو کښی واچوه و لمرته ئی کښیږده
دوخت چه پرجوش راسی رنګ ئی تور سی نو بیا ئی د دغه مجیټه او نکرځو
په رنګ ګډ کړه تر دغه
ورو سته کالی په ورنګوه

فاختی یعنی خاکی رنګ :- دوی دانی غټ مازو نیم کوفته کړه بیا ئی په اوبو کښی تر دری ساعته پوری خیشته کړه تر دغه ورڅه وروسته ئی میده کړه په پیرو اوبو کښی ئی واچوه او بیا کالوته رنګ ورکړه تر رنګ ورکولو وروسته کالی وچ کړه بیا دغه اوبه وغورځوه په لوښی کښی نوی اوبه واچوه ودغو اوبو ته څلرمه حصه د آبخورې کاټ (د آبخورې کاټ دجوړولو طریقه اوس بیانیږی) ورواچوه بیا تر دغه وروسته کالوته رنګ په ورکړه.

د آبخورې کاټ دجوړولو طریقه :- په پنځلس سیره اوبو کښی دوه سیره لوها (اوسپنه لږ آنوله (آمله) اوغټه هریړه واچوه تر یوی هفتی پوری ئی پریږده بعضی خلګ ماچی پخوی د دغو ماچو اوبه هم ورسره ګډوی که چیری درنګریز سره آبخورې کاټ موجودوی نو بیا ئی دجوړولو ضرورت نشته.

شین رنګ چه تیزنوی پیکه وی مائل و تورو الی ته وی :- اول هلدی (کورکومن) باریک میده کړه بیا دسجی اوبه ورسره ګډی کړه (سجی دیو قسم سوډا نوم دی او بل لفظ سجی په واو سره هم راغلی دی د دغه څخه کوم چه واو ورسره دی مراد دا ورسوجی ده) بیا تر یولږ وخته پوری کالی په دغو اوبو کښی خیشته کړه تر دغه وروسته کالی د صابون په اوبو سره پری مینځه بیا په تروو شلمبو کښی خوړی میده کړه او دوی دواړه ښه سره حل کړه بیا نو کالی پکښی ورنګوه.

بادامی رنګ :- اول وار وکپړو (پوکرانو) او کالوته په ګیرو (طین احمر) کی سپک رنګ ورکړه تر دغه وروسته پوکران او کالی وچ کړه تن په آونګ کښی وکوټه اودده تخم را واخله په اوبو کښی دوه دری جوشه ورکړه په یو لوښی کښی اول لږ څه اوبه را واخله اودغه رنګ نیمی ورسره ګډ کړه بیا کالی پکښی غوټه کړه که چیری پرکالو رنګ ښه تیز معلوم نه سی نو هغه نور پاته نیمه حصه رنګ چه تادرسره ساتلی دی هغه هم ورواچوه.

تور رنګ چه سور والی په ګډوی :- پتنګ شیرین اولږ څه اهاک په اوبو کښی وایشوه تر جوش وروسته ئی صفا کړه بیا خوړی ورواچوه بیا نو په دغه اوبو کښی کالی غوټه کړه بعضی خلګ لویه هریړه اولږ څه کسیس (دایو قسم خوړی ده) هم میدوی ترمیدیدو وروسته ئی ورسره ګډوی.

پوخ سور رنګ:- دری چتانګه پتنګ شیرین وکوټه او ریزه ریزه ئی کړه پ
یوه سیر اوبوکښی سپک غوندی جوش ورکړه ترجوش وروسته توله شپه پ
اوبوکښی خیشت ورکړه اوسهار بیا جوش ورکړه هروخت چه نیمی اوبه پات
سی نو ئی صافی کړه درسره ولی ساته بیا د غوندی قدر اوبه ورواچوه بیرته
جوش ورکړه هروخت چه نیمی اوبه پاته سی نو صافی کړه جلا ئی کښیږده.
بیا یوه توله غټه هریړه میده کړه د اوبوسره ئی ګډه کړه بیا کالوته په دغه
کښی غوټه ورکړه ترغوټه کیدو وروسته کالی و نښتیځه او وچ ئی کړه بیا یوه
توله سپینه خوری میده کړه ددی په اوبوکښی کالوته غوټه ورکړه بیا ئی
و نښتیځه وچ ئی کړه بیا نو د پتنګ د دوهم وار په جوش سوو اوبوکښی کالی
ورنګوه ترڅنګیدو وروسته ئی وچ کړه بیا د پتنګ د اول وار په جوش سوو
اوبوکښی یوه توله سپینه خوری میده کړه د خوری ترمیدیدو وروسته
ئی دوند ه سره ولړه چه ځک پکښی راپورته سی او تردری ساعته پوری
کالی کی خیشته کړه تردغه وروسته بیا کالی و نښتیځه او وچ ئی کړه بیا یوه
توله غټه هریړه میده کړه د اوبوسره ئی ګډه کړه او کالی پکښی غوټه کړه
و یوخه وخت ئی پریږده بیا ئی نو و نښتیځه تر نښتیځلو وروسته ئی وچ کړه.

ستئ رنګ (چه د پستی په شان وشینوالی ته مائل وی):- اول کالوته دهلدی
ورکومن رنګ ورکړه بیا ئی د صابون په اوبوکښی خیشته کړه تردغه وروسته
کاغذی لیمو (لیمبو) عرق په اوبوکښی و نښتیځه د عرق تر نښتیځلو وروسته
کالوته په دغو اوبوکښی غوټه ورکړه بیا ئی و نښتیځه وچ ئی کړه.

بستئ رنګ دوهم ترکیب او طریقه:- اول څلور ماشی نیل په اوبو
ی میده کړه او کالی پکښی ورنګوه بیا خوری میده کړه او د دی په اوبوکښی
ته غوټه ورکړه او بیا ئی وچ کړه بیا شپږ توله هلدی (کورکومن د اوبوسره
کړه په دغو اوبوکښی کالی پریمنځه تر پریمنځلو وروسته ئی وچ کړه بیا
توله ناسپال یعنی دانار پوستو کوته په اوبوکښی جوش ورکړه او بیا
دغو اوبوکښی کالی پریمنځه او وروسته ئی وچ کړه.

یروژئ رنګ:- اول دوبرو په اهاکو کی کالوته سپک غوندی
ه بیا نیل توتیا میده کړه د اوبوسره ئی ګډه ک

بیاد دغه رنگ څخه لږ څه را واخله او کالی په رنگوه تر هر وار رنگولو وروسته کالی وچوه هر وخت چه ستاد خواهش سره برابر کالی و رنگیږی نو بیاد خوری په اوبو کښی کالو نه غوټه ورکړه او بیائ وچ کړه.

د خط د لیکلو اوویلو طریقه او قاعده

دا خبره خو د دی کتاب په اوله حصه کښی تاته معلومه سویده - چه مشرانو ته به څرنگه خط لیکی او کشرانو ته به څرنگه خط لیکی او د لغاتو د لیکلو څرنگه طریقه ده اوس په دی ځای کښی یو څو ضروری او د کار خبری درته بیانیږی.

(۱) قلم جوړول زده کړه.

(۲) هر وخت چه خط زده کول شروع کړی نو په پینه قلم سره پر تخته خط لیکه هر وخت چه دی پر خط لاس واوړی عادت پرو نیسی نو بیا د استاذ تر اجازت وروسته په یو لږ څه باریک او نری قلم سره پر پینه کاغذ خط لیکه هر وخت چه ستا خط سنبه پوخ سی بیا نو په باریک قلم سره پر باریک کاغذ خط لیکه.

(۳) خط ژر ژر مه لیکه بلکه په سنه احتیاط سره خط لیکه حرفونه سنه صحیح او برابر لیکه وکوم کتاب ته چه گوری او خط ځندی لیکی یا استاذ حرفونه در لیکلی وی نو ترڅو پوری چه کیدای سی پرد غسی صورت حرف ولیکه هر وخت چه ستا خط پوخ سی نو بیا ژر ژر خط لیکل هیڅ پروا نلری

(۴) په پټول ژوند کښی داسی خط مه لیکه چه په دغه خط کښی د قلم بی فائدی کړښی وی یا دغه خط سره پری سوی وی او په حقیقت کښی پیوستون او مښلول غواړی مثلاً د خط لفظ دا رنگه (خط) ولیکه یعنی که ط نه سره ومښلوی یا و حرف و نه ټکی او نقطی ورنکړی په هغه ځای نو کښی چه حرفونه ټکی لرونکی وی ټکی غواړی ځکه چه دا پټول د خط د چټلتیا او خرابوالی سبب گرځی.

(۵) که یو عبارت غلط لیکل سوی وی یا یو خبره چه د دی لیکل نه غواړی

اودالیکل سوی دی نو دغه په ناړو یا اوبوسره مه خرابوه د خط لیکونکو په نزد داعیب بلل کیږی بلکه پردغه قدر عبارت خط کش کړه په داسی شان سره - اوزما د پاره یو ستر نبی د سره راوړه - اوکه د دغه مضمون بالکل پټول غواړی نو بیا ئ بنسه خراب کړه چه د ویلو امکان ئ د سره نه وی یا دغه کاغذ پریږده کاغذ خط ولیکه.

(۶) حروف د پیر واړه واړه اوکښته پورته مه لیکه.

(۷) قسم قسم اورنگ رنگ خطونه وایه چه په د غسی کولو سره بیا خط ویلای اولوستلای سی.

(۸) دکوم سړی سره چه دی داول څخه پرده اوستروی ودده ته بیله سختی او مجبوری هیڅکله خط مه لیکه.

(۹) په خط کښی وچاته دبی شرمی یا خندا خبره مه لیکه.

(۱۰) چه یو خط یو خای ته استوی نو تر لیکلو وروسته ئ وخپل خاوند ته ورښکاره کړه اود کوی بنځی چه خاوند نه وی هغه دی د خپل کور رویو سړی ته خط ضرور ورښکاره کړی مثلاً پلار ته یا ورور ته په دی کښی یوه فایده داده چه ونزانوته خدای تعالی زیات عقل ورکړیدی شاید په دی خط کښی یو بی مناسبه خبره لیکل سوی وی اوته به نه ئ په یوه سوی او فکر به دی نه وی په رسیدلی نوچه ته خط ونارینه ته ورښکاره کړی هغه به یاد غه خبره د خط څخه وغورزوی یا به ئ اصلاح کړی.

دوهمه فایده په دی کښی داده چه دکور د خلگو ته به هیڅ قسم شک نه ورپیښیږی - داخبره یاد وساته چه پریو بنځی باندی شک راتلل د بنځی د پاره د مرگ خبره ده نو داسی کار ولی وکړی چه پرتا باندی دیو چاشک اوشبهه راسی اودغه رنگه کوم خط چه وتاته راسی هغه هم خپلو نارینوو ته ورښکاره کوه لیکن که چیری خپل خاوند ته خط لیږی یا ستاد خاوند خط درته راسی که دغه خط چیری بنکاره نه کړی نو هیڅ پروانه لری مگر دراغلی خط لفافه او پاکټ اود ورلیږونکی خط لفافه وپاکټ به بیاهم ورښکاره کوی.

(۱۱) تر څو چه کیدای سی لفافه د خپلو خلگو په لاس لیکه بعضی واړه نه یو داسی خبره پیښیږی چه وکچاری او محکمی ته دیو خبری د پوښتلو په

باره کښی ضرورت پيښيږی چه ضرورت وکړی نو ته دوه تنګ پيښ سی نو به هغه څوک ورسئ چه خط ئی ليکلی وی چه بنځی ليکلی وی نو به بنځه ورسئ اوبنځی ورتنګ وکړی ته څوندی دبی شرمی خبره ده نو بايد د نارينه په لاس سره خط وليکل سی.

(۱۲) کاږه يا دوو پيسو لفافه که چيری د پتی او آدرس دخوا څخه څه خرابه سی نو هشکله ئی مه پريښه څکه چه بعضی وختونه د تکټ څای ورسره خيرنيږی نو د پاک خلګو ته يو څه په ښه کښی ورګرزی چه تکټ يا د تکټ څای ولی خيرن يا خراب سويدی پس نو يو وخت وخت دد غسی کار څخه يو مقدمه او قصه پيښيږی يوه دغسی قصه پيښه سوی وه نو چه سرکاری خلګو د بنځی څخه تفتيش شروع کړی نو د غی بنځی ته د بيدی په وجه عملونه ورولويده بيا په پيړ مشکل سره د غه قصه رفعه دفعه سوه او د غه رنګه خيرن تکټ هم پر لفافه مه لګوه.

(۱۳) کوم کاغذ چه په سرکاری دسر باره کښی پيشيږی نو پر د غه کاغذ بيله کومی مجبوری هيڅکله خپل دستخط مه کوه

(۱۴) په شوق شوق سره د ثواب حاصلولو په نيت د ټولی دنيا خطونه اورقعی مه ليکه ليکن که يو ناچاری او مجبوری وی بيا خير دی مثلاً ديو غريب يوضروری کار بند وی او يو ليکونکی څوک نه پيدا کيږی نو بيا د مجبوری خبره ده اوکه چيری د غسی مجبوری نه وی نو بيا ورته ووايه چه ورور زه خوکوم منشی او مرزا نه يم زما خط که د بيګانه خلګو ترنظر ټيرسی د بی شرمی خبره ده د خپل ضرورت د پاره د دری څلورليکی اوکرښی کشوم وخپل قريب ته ئی ورليږم دنور خط زه نه يم ولاړ سه په بل چا ئی وليکه نو د خط په نه ليکلو کښی وجه داده چه بعضی څايونه د د غسی خبرواوخطونو څخه د بيکاره خلګو نيټه نه خراب سويدی خدای پاک دی موږ او تاسی د بد ساعت څخه وساتی.

(۱۵) هروخت چه خط درته راغلی ودی لوستی او ترلوستلو وروسته دی د د غه خط جواب وليکی نو بيا د غه خط په نغری کښی وسوځه په دی کښی يو دکاغذ بی ادبی نه کيږی ځکه بيا ئی باد نه وړی چه طاق دطاقه کيږی او دوهم

په خط کښې زړ خبرې لیکل کیږي خدای خبر دی چه څوندی خلګ به دغه خط
وایي د خپل کور خبره و بل ځای ته رسیدل څه ضرور ده او څه مجبوریت ور
ته لري لیکن که دیو خاص وجهې څخه دیو خط اینبول دیو څو ورځو د پاره ضروري
وی نو بیا جلا خبره ده لیکن که خط د سره ساتې د دغسې مجبورۍ په وجه نو
بیائې په ښه حفاظت سره په صندوقچه یا بل دغسې شی کښې کښیږده چه
طاق د طاقه اوسر ګردانه نه سي.

(۱۶) که چیرې یو پته خبره لیکل غواړې نو پوسټ کارډ یعنې د پاګ خط مه
لیکه.

(۱۷) په خط کښې تاریخ، میاشت او سنه ضرور ولیکه په کوم مه میاشت کښې
چه خط لیکې د دغې میاشتې چه څو مه ورځ وی د دغه ته تاریخ وایي
مثلاً اوس د جمادی الاخرۍ (څلرمې خور) میاشت ده او نن د دی اتلسمه ورځ ده
نو اتلسم[۱۸] تاریخ سو د دی د لیکلو طریقه داده چه هر څوند ه تاریخ وی هغه عدد
ولیکه تر دغه وروسته د میاشتې نوم ولیکه مثلاً د جمادی الاخرۍ (څلرمې خور)
پر اتلسم تاریخ باندې به ته داسې لیکې - ۱۸ جمادی الاخرۍ او سنه وایي
وکال ته او په هوښ مسلمانانو کښې چه هر وخت پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم
د مکې څخه د مدینې طرف ته هجرت فرمایلی دی د هغه وخت څخه د کلونو
شمار او حساب معتبر وو نو اوس د یارلس سوه[۱۳۷۴] څلور اویا کلونه تیر سویدی
بس د غه سنه سوه و دغې سنې ته هجرۍ سنه وایي ځکه چه د هجرت
د حساب څخه ده او د یارلس سوه څلور اویا دا رنګه لیکو چه اول لفظ د
سنې لږ څه اوږد لیکو او تر دغه وروسته دوه سترګې هم لیکو دا رنګه
۱۳۷۴ سنه هم او دا سنه د محرم (حسن حسین) د میاشتې څخه بدلیږي مثلاً تر
دی وروسته چه محرم یعنې د حسن وحسین میاشت راسي د دی په راتلو
سره د یارلس[۱۳۷۵] سوه پنځه اویا سنه (کال) شروع کیږي نو د یارلس هندسه پر
هغه خپل حال پریږدو د څلور اویا پرځای د پنځه اویا هندسه (عدد) دا رنګه لیکو
۱۳۷۵ سنه هم د غه رنګه د هر محرم (حسن حسین) په راتلو سره د غه هندسه
(عدد) بدلوو چه د دوهمې محرمې (حسن حسین) څخه د څلور اویا پرځای پنځه
اویا عدد لیکو او د یارلس هندسه (عدد) پرخپل حال پریږدو - او د دریمې محرمې

(۷۵) (۷۶)
(حسن حسین) څخه د پنځه اویا پر ځای شپږ اویا لیکو اود دیارلس هندسه پرځیل ځای لیکلی پاته کیږی هر وخت چه پنځه ویشت کاله تیر سی او پدیره څورلس سوه کاله سی بیا نو د دغه دیارلس هندسه (عدد) بدلیږی په هغه زمانه کښی چه کوم انسانان وی هغه بیا په خپلو منځو کښی د لیکلو طریقه سره پوښتی په تاریخ او سنه کښی ډیری فایدی دی یو خو دا معلومیږی چه د دی خط د رالیږلو څو ورځی سوی دی ځکه چه په دی خط کښی به یو خبره لیکل سوی وی او اوس به ئی موقع نه وی پاته سوی چه د وکه په وخت سی او بل داچه که په یو خط کښی یو ه خبره لیکل سوی وی او په بل کښی د دی خط خلاف خبره لیکل سوی وی نو که چیری تاریخ او سنه نه وی نو ویونکی نه دا نه معلومیږی چه په دی خطونو کښی کوم خط مخکی دی او کوم خط وروسته دی او ځکه کومه خبره پر ځای کړم او کومه پر ځای نه کړم که چیری تاریخ او سنه وی نو بیا د تاریخ او سنی څخه معلومیږی چه فلانی خط وروسته دی د دی سره برابر عمل کول په کار دی د غه رنګه نورې هم قسم قسم فایدی لری.

(۱۸) پته او آدرس چیر صاف لیکه خپله پته او ادرس هم صاف لیکه او کوم چم خط ورلیږی د هغه ځای پته او آدرس هم صاف لیکه حروف پوره پوره لیکه د حرو فو ټکی او د غه رنګه د هر حرف اول او آخر پوره لیکه کچیری داسی نه وی نو بعضی وخت و نه ډیر تکلیف پیښیږی. کله خط نه رسیږی یا چه خط ورسیږی نو چه هغه وتاته د خط جواب درلیږی نو کومه پته او ادرس چه تالیکلی وی هغه نه ویل کیږی چه په نتیجه کښی د د غه خط جواب وتاته نه درسیږی په هر خط کښی خپله پته او ادرس سم لیکه ځکه کوم څوک چه ته خط ورلیږی کیدای سی چه پته ئی دیاده وتلی وی او مخکښ خط چه تاورلیږلی وی هغه به هم ورسره نه وی یا به ځندی ورک وی یا به ئی څیرلی وی.

(۱۹) پر داسی کاغذ یا په داسی رنګ سره خط هیڅکله مه لیکه چه نشر وکړی حروف سره وغورځیږی یا حروف د کاغذ پربل مخ معلوم سی دا رنګه چه په ویلو کښی تکلیف ځندی پلیښ سی او مه ئی پر دیر پتلا کاغذ لیکه چه بی فایدی

ئی د وزن د زیاتید وخته محصول ډیرسی.

(۲۰) خط راسته اوچپه مه لیکه چه ویونکی په دی پسی گرزی چه تر د ځ
توری ورو سته کوم توری او عبارت دی دیوی خواخته خط سیده اوسا
شروع کړه اوپه ترتیب سره ئی پسی لیکه د دی د پاره چه لوستونکی ئی په اسا
او ساده طریقه سره ووایی.

(۲۱) هر وخت چه یوه صفحه (مخ) ولیکی نو بیا د غه خط په خاوړو یا جاذ
کاغذ سره بنه وچ کړه تر د غه ورو سته پرایښده صفحه لیکل شروع کړه اوک
چیری دا رنګه ونه سی نو بیا حروف خرابیږی نه ویل کیږی.

(۲۲) د بعضو خلګو عادت دی چه قلم ته رنګ ډیرو راچوی او یا قلم په ډیر پکښی
غوټه کوی بیا نو قلم پر دیوال یا چټایی (بوریا) یا فرش باندی څنډی دا ډیر
د بی عقلی خبره ده د شروع څخه په رنګ کښی قلم باید په اندازه سره
ولګوی اوکه چیری قلم په رنګ سره زیات کاږه سی نو بیا ئی په مشوالی کښی
وخښه.

دکتاب خاتمه چه په دی کښی دری مضمونونه راغلی دی

اول مضمون

له دا کار مستحب هم دی په حدیث شریف کی راغلی دی (از اکتب احد کم کتابا غلیظا به فانه انجح للحاجة ه (ترمذی)

په دی کښی زیات د علم حاصلولو طریقه او د یو څه کتابونو نومونه دی
مونږ په دی کتاب کښی د الله تعالیٰ په فضل اوکرم سره بنه غور او فکر وکړی
د دین او د نیا د اسی ضروری خبری مو ولیکلی چه د د غو خبرو نه هر وخت
ضرورت پیښیږی او د د ئ خبرو په ذریعه سره ډیر کار ونه حاصلیږی اوکه
چیری نور د غه زیات معلومات غواړی کوم چه په دی کتاب کښی لیکل سوی
دی نو د زیات معلومات د حاصلولو د پاره د دی طریقی دی یو د اچه د
نارینه خلګو په شان یو څه فارسی ووایه بیا عربی پسی شروع کړه په
عربی کښی ډیری لوی لوی او بنی بنی د علم خبری دی او ر شتیا داده چه
د دین علم او پوره پوره خبر بیله عربی نه حاصلیږی که دی د دی همت دی

دا کتاب څوخښید و نه راغلی نو ته د خدای نوم واخله بسم الله ووایه یو کتاب چه تیسیر المبتدی ئ نوم دی زما یو دوست مولوی صاحب لیکلی دی او ما په ډیر شوق سره د غه کتاب و لیکلو ته و رکړی او چاپ ئ کړی او زما ډیر خوښ سو او کوم کو چنیان چه د سبق ور ته وی لو سلسله ئ په غاړه لرم و هغوی ته ئ د غه کتاب و ر شروع کړی دی او د د غه کتاب (تیسیر المبتدی) په ویلو سره د د وی علمی قوه ډیره زیاتیږی نو ته د غه کتاب را وغواړه په ښه غور سره ئ زده کړه او ویل شروع کړه د د غه کتاب (تیسیر المبتدی) نړ ختمید و و روسته چه نور کتابونه ویل کیږی د د غو کتابونو د ویلو ترتیب او طریقه د د ی کتاب (تیسیر المبتدی) په اوله ورقه کښی لیکل سوی دی د د غه ترتیب او طریقی سره ئ برابر وایه که د خدای پاک رضا وه په لږو ورځو کښی به د عربی د ویلو توان او قدرت پیدا کړی موږ د عربی ویلو د پاره هم یو مختصره اوښ ر حاصلونکی طریقه او ترکیب را ایستلی دی یعنی د عربی د زده کړی د پاره مو یو طریقه او قانون جوړ کړی دی د د غه ترکیب او طریقی د پیدا کیدو پته هم د د غه کتاب (تیسیر المبتدی) په اوله ورقه کښی لیکل سوی ده نو د د غې طریقی سره موافق او برابره عربی و وایه انشاء الله تعالی په ډ(۳)ری کاله د نه کښی به ته مولوی سی یعنی د عربی عالمه به سی د عالمانو چه کومه د رجه د ه هغه به پروردګار عالم د ډیره برخه کړی او د عالمانو په شان به د قرآن او حدیث نصیحت کوی د عالمانو په شان به فتوی ورکوی او د عالمانو په شان به نجونو ته عربی والی۔ بیانونو ستاد نصیحت، فتواؤ، د سبق ورته ویلو او کتابونو څخه چه و هر څوندی انسانانو ته هدایت کیږی او بیا د د وی څخه چه و هر څوندی انسانانو ته هدایت کیږی او بیا د د وی څخه و مخکی انسانانو ته چه څوندی هدایت کیږی تر قیامته پورې د ټولو ثواب ستاپه اعمال نامه کښی هم لیکل کیږی.

وګورې ته په لږ محنت کښی څومره غټ دولت مفت پیدا کیږی تر ټولو زیاته طریقه د علم دین د حاصلولو دا خو داغه ده۔ دوهمه طریقه دا ده که چیرې ستاپه کور کښی یو عالم وی نو پخپله همیشه د دین هر قسم خبرې څندی زده کوه او پوښتنې څندی کوه۔ او که چیرې ستاپه کور کښی عالم نه وی په بنار

ایو باچه آبادی او کلی کښی وی نو د خپل کور د خلکو یاد هو بنیاړانو هلکو انو په ذریو
ر قسم د دین خبری خندی یو بسته مگر د پوره دیندار عالم څخه مسئله پوښته
ه پوره عالم نه وی هسی په نامه ملا وی یا د دنیا په حب او محبت کښی د
لال او حرام فرق نه کوی حلال او حرام گډ وډ کړه خوری نو د غسی عالم
بره د دی لایقه نه د ه چه ته یقین پر وکړی.

د ریمه طریقه دا د ه چه په پښتو کښی کوم دینی کتابونه د ی هغه گورې
ه بنه غور او فکر سره څان په پوه کړه چه په یو څای کښی د ی شک وی
خپله عقله معنیٰ مه څندی راباسه بلکه د یو عالم څخه ئې زده کړه څان
ه ئې تحقیق حاصل کړه او که چیری فرصت او وخت لری نو بنه خو دا د ی چه
غه د پښتو دینی کتابونه هم د یو داسی چا څخه چه په سبقانو ووایه چه
هغه زده وی هغه ته معلومات وی.

اوس په د ی څان پوه کړه چه د دین پر نامه په د ی زمانه کښی ډیر
تابونه راوتلی د ی مگر بعضی کتابونه په د وی کښی صحیح نه د ی او په
عضو کتابونو کښی یو څه غلطی خبری سته بی سنده خبری په گډې
ویدی او د بعضو کتابو څخه په زړه کښی بنه اثر نه پیدا کیږی. او
م کتابونه چه بالکل د دین نه د ی نو د د وی په کتلو سره انسان ته هر
سم تاوانونه رسیږی.

لیکن انجونی او بنځی و د غی خبری ته بالکل نه گوری هر کتاب ته چه ئې زړه
غواړی رانیسی ئې او بیائی گوری مطالعه ئې کوی نو بیا د د غو کتابو په کتلو
ره پر څای د نفعی تاوان رسیږی د کتونکو عادتونه خرابیږی خیالات ئې
ډ ری بی تمیزی، بی شرمی او شیطانی قصی څندی پیدا کیږی. او ناحقه علم
د نامه کوی چه صاحبه د بخود پاره لیکل او لوستل بنه نه د ی په اصل
نی خبره دا د ه چه د دین علم د هره بابته څخه پوښتنه شی د ی. مگر چه
سره د دین علم نه وی یا د دین علم وی خو پخپله طریقه سره حاصل نه
ی یا په دینی علم سره عمل نه وی بیا نو پر دینی علم څه الزام را تلای
ی په دینی علم کښی ولی تاوان د ی.

د د ی بی احتیاطی څخه د څان سا تلو طریقه دا د ه چه کوم کتاب رانیسی یا

ئ گوری نو اول ئ ویو عالم[۱] ته ور ښکاره کړه که ئ عالم فایده مند و بولی نو بیا
د غه کتاب وگوره او که ئ تاوانی او ضرری و بولی بیا د غه کتاب مه گوره .
بلکه د غسی کتاب په کور کښی مه ایږده که ئ د خپل کوچنی سره و وینی چه
هغه ئ پټ پټ گوری نو نوره ئ ځندی واخله غرض ترڅو پوری چه کتاب دی
وعالمانو ته ور ښکاره کړی نه وی اودد وی څخه دی دکتاب په باره کی
پوښتنه کړی نه وی هیڅ کتاب مه گوره او هیڅ داسی کار مه کوه بلکه
که عالمه هم سی چه تر تازیات بل عالم وی د هغه څخه د همیشه د پاره
پوښتنه کوه په خپل علم سره مه مغروره کیږه .
اوس مناسبه معلومیږی چه په دی زمانه کی چه دکومو کتابونو پیر رواج دی د هغو کتابونو مونږ
د نمونی په طریقه سره وښیو چه کوم کوم کتابونه نفعمند او گټور دی اوکوم
کوم کتابونه تاوانی دی د د غه دوه قسمه کتابو څخه ماسیوی چه نور
کتابونه دی د د وی مضمون که د نفعی کتابو ته ور ته وی نو د وی هم نفعه
رسونکی وبوله او که د د وی مضمون د نفعی کتابو ته ور ته نه وی نو بیا ئ
تاوان رسونکی وبوله او اسانه خبره داده چه کتاب ویو عالم نه ور ښکاره
کوه د د ه په اجازه سره ئ گوره .

بعضی کتابونه چه د د وی د کتلو څخه نفع حاصلیږی

محترمو لوستونکو څرنگه بهشتی زیور په اردو ژبه وو نو مولانا صاحب
دلته هغه کتابونه ذکر کړی وه چه هغه په اردو ژبه لیکل سوی وه او اوس
چه د لوی خدای په توفیق سره موږ د پښتو خوندو (ښکو او انجونو) د
پاره دا کتاب په پښتو ژبه ترجمه کړی اوس ستاسی د پاره د
بعضو کتابونو نومونه یاد وو چه په پښتو ژبه وی لکه تفسیر معارف
القرآن ، تفسیر کابلی پښتو ، هدایه ، مشکوة شریف ، سیرة النبیؐ ، قصص الانبیاء

[۱] او ضعف عالم

مسلمانی بیبیانی معلم الدین او داسی نور کتابونه چه د کور د خلګو په واسطه سره ئی لاس ته راوړلای سی.

په اوسنی زمانه کښی په نریات شمیر سره ښه ښه کتابونه د نورو ژبو څخه پښتو ژبه ترجمه سوی دی او نور نریات شمیر دینی کتابونه په پښتو ژبه سره تصنیف سوی او لیکل سوی دی خو داخبره یاد ساته چه دیو کتاب په باره کښی څه تعریف ستاتر غوږ و ور سیږی یا دی یوکتاب خوښ سی نو ضرور او خامخا د هغه کتاب د اعتماد او ښه والی معلومات دیو پوره او دیندار عالم څخه تر لاسه کړه. داسی نه وی چه ته خطا وتلی یی.

بعضی کتابونه چه د دوی د کتلو څخه تاوان پیدا کیږی

دیوان او د غزلو کتابونه، لکه د ملا محمد عیسی د غزلو کتاب د سید عبد الخالق د غزلو کتابونه، د بهائ جان کتابونه، د بدر منیر قصه د شاه یمن قصه، د امیر همزه داستان، الف لیله، نقش سلیمانی، فالنامه، قصه ماه رمضان معجزه ال نبی، چهل رساله، ملی هنداره، پښتو نکلونه او داسی نور چه په دی کښی بعضی کتابونه خالص د رواغ دی. وفات نامه چه په دی کښی بعضی روایتونه بالکل بی سنده دی.

آرایش محفل، جنګنامه حضرت علی، جنګ نامه محمد حنیف، تفسیر سورهٔ یوسف په دی کښی خو یو بعضی روایتونه کمزوری دی او بل د عاشق او معشوق خبری د بسځو د پاره او د سیدل او ویل پیره د تاوان خبره ده.

هزار مسئله، حیرت الفقه، گلدستهٔ معراج، نعت هی نعت (خالص نعت) دیوان لطف، د غه د ری کتابونه یا چه د دوی په شان وی په نامه سره خو د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم تعریف دی مگر پیر مضمونونه په دوی کښی د شرعی خلاف ورزی غلی دی.

د عا گنج العرش، عهد نامه د غه دواړه کتابونه او نور پیر د غسی کتابونه دارنګه دی چه په دوی کښی کوئی د عا گانی دی هغه خو ښی د عا گانی دی مگر په دوی کښی چه کوم سند ونه لیکل سویدی او په دوی کښی چه د نبی علیه السلام پر نامه پیر ثوابونه لیکل سویدی چه حضرت رسول الله

صلی الله علیه وآله وسلم داسی فرمایلی دی چه دغه دعاګانی ډیرا وږدې اودراز ثوابونه لری نو دغه ټولی خرافاتی دی دځانه جوړی کړی خبری دی نه دغه دعاګانی کوم سند لری او نه نبی علیه الصلوٰة والسلام د دغو دعاګانو په باره کښی دارنګه ثوابونه ذکر کړی دی.

مرآة العروس، بنات النعش، محصنات، ایامی، دغه څلور کتابونه داسی دی چه په دوی کښی بعضی ځایونه دعقل او برابری لاری دی او بعضی ځایونه داسی خبری دی چه دین په کمزوری کیږی.

د عشق او افسانو هر رنګه کتابونه په شان د زهر وبد تاثیر کوی بلکه ترزهر ولا هم بد تر تاثیر کوی. دبناړ اخبارونه په دوی کښی هم پیر وخت بی فایدی خرابیږی او بعضی تاوانی مضمونونه هم پکښی وی.

دوهم مضمون

په دی مضمون کښی د ټولو حصو د ویلو او وبل ته د ویلو طریقه او د کومو کومو خبرو چه په دوی کښی خیال ساتل په کار دی د دغو ټولو بیان راغلی دی که ویونکی سړی وی یاښځه دد ه حال ته اول ګورلا بیا د ده د حال سره برابر سبق ورته وایه او د ده د حال سره برابر ه ګنډاره ورسره کوه چه په داسی کولو سره ویونکو اوږده کونکو ته ډیره فایده رسیږی.

(۱) په اوله حصه کښی الف - بی - تی - وکو چنیانو ته بنه ورو پیژنه او دوی باید دارنګه عادت کړی چه حرفونه یو د بله سره جنګوی او ترجنګولو - وروسته ئی وایی تر پیژندنی او بسوونی وروسته ئی باید بیا په دوی ووایی.

(۲) دکتاب د شروع کید و سره سم وکوچنی ته ووایه چه خپل ورځنی سبق پر تخته باندی لیکه دغه رنګه دکتاب ترختمید و پورې دغه ټول کتاب ولیکه چه په دغه رنګه کولو سره بنه خط زده کیږی.

(۳) په اوله حصه کښی چه کوم حساب لیکل سویدی د دغه صورت او شکل ئی باید داسی یاد وی چه بیله لید و ئی هم لیکلای سی.

(۴) عقیدی او مسئلی بنی په غور سره په زده کړه ترزده کولو وروسته ئی په دوی تیرو ولا چه دا معلومه سی چه آیا د دوی زده سویدی او که نه

نه دی زده سوی.

۵ کوی کوی دعا گانی چه په کتاب کښی راغلی دی ټولی په یاد ځندی اوړه.

۶ هر وخت چه په کوچنی لمونځ ودیل سی پر لمانځه ودروسی نو وده ته وایه چه تر یو څو ورځو پوری ټول سورتونه او دعاوی په زوړ سره وایه او ته خپله ورته کښینه دغه سورتونه او دعاوی ځندی اوړه. هر وخت چه ئی لمونځ بنه زده سی بیا دی د قاعدی سره برابر خپل لمونځ کوی.

۷ که استاذ نه وینه وی یا یو مسئله دکوچنی تر فکر لوړه وی نو بیا دی دغسی مسئله د فی الحاله د پاره پریږدی په رنګ یا پنسل سره دی دغه مسئله نښانی کړی هر وخت چه ئی موقع او ځای راسی دغسی مسئلی دی بیا ور وښیی او هغه نا رینه استاذ دی دخپلی بښتی په ذریعه د شرم خبری او مسئلی ونورد بنځونه ور وښیی.

۸ په څلرمه او پنځمه حصه کښی لږ څه گرانی خبری دی که چیری زده کوونکی یعنی کوچنیان نه په پوهیږی نو شپږمه یا اوومه یا اتمه یا لسمه حصه اول ورته ووایه په دغو حصو کښی چه هره حصه مناسبه بولی هغه اول ورته ووایه.

۹ پر شاگردانو او ویونکو بنه تینګار کوه چه د سبقه پخپله هم بنه مطالعه کوی بنه ئی گوری او د خپل فکر په زوړ سره معنی ځندی را باسی په هر څوندی اندازه سره چه د سبق په مطلب او معنی ځان پوه کولای سی په هغه اندازه دی کوشش وکړی د سبق تر ویلو ورو سته پیر وارو نه سبق تکرار کړی او د خپل زړه او فکر څخه ئی معنی هم بیان کړی په دی سره په پوهنه کښی پیر زیادت راځی په انسان کښی د پوهنی زیادت پیدا کیږی او مخکښی ویل سوی سبقان هم د یو ځای ځای څخه په تیروه د پاره د دی چه هیر ئی نه سی یادئی وی. پر شاگردانو او ویونکو تینګار کوه چه د پرون ویل سوی سبق بنه پوخ کړی چه ښ نور سبق ورته وایی د دغه څخه مخکښی د پرون ورځی سبق درته ټاید کړی که دوی دری انجونی په سبق سره شریکانی وی نو د دوی ته ووایه چه په خپل مابین کښی سبق سره تیر وی یو د بله ئی سره پوښتی.

۱۰ گوم نصیحتونه او خبری چه په کتاب کښی د دوی ته د ویل سی نو هر وخت چه

دوی ددغو مسئلو اوخبرو خلاف وکړی نو فوراً ئې تونګروه زجر او تهدید ورکوه دغه رنګه چه یوبل څوک یو مخالفه کار وکړی اوتاوان ځنډی پیدا سی نو و شاګردانو ته دا ښوول په کار دی چه تاسی وګورئ فلانی دکتاب څخه خلاف کار وکړی څرنګه تاوان ځنډی پیښ سو۔ په دغسی طریقه سره دښو خبرو ښه والی اودبدو خبرو بد والی ددوی په زړه کښی ښه کښینی۔

دریم مضمون

په دی دریم مضمون کښی دنیکیو د زیور په تعریف اوصفت کښی هغه شعرونه دی کوم چه ددی کتاب په دیباچه (سریزه) کښی لیکل سوی وه دغه نیکیانی دجنت زیورات دی نود غه شعرونه ددی کتاب دنامه او مضمون سره هم سمون خوری اوددی شعرونو په ذریعه سره په زړه کښی دنیکیو محبت نور هم زیاتیږی۔ اوددغه درواغجن زیور یعنی دصورت دزیور حرص او محبت کمیږی ددغه درواغجن زیور حرص دی چه حق زیور ئې دانسانانو څخه هیرکړیدی که چادکتاب په سرکښی دغه شعرونه نه وی ویلی نو هغه به ئې دلته ووایی اوکه ئې اول ویلی وی نو چه اوس ئې بیا تکرار کړی ښه به ئې په ذهن کښینی۔ اوکوم چه ئې مخکی عمل په کړی وو تر هغه به زیات عمل په وکړی دعمل کولو فکر به ور سره پیدا سی۔ ددی سببه په دی ځای کښی دوهم وار لیکل سوه اوکتاب پرده وی ختم دی پروردګار عالم دی زمونږ اوستاسی پرنیکه لار مخ کړی اوالله جل جلاله دی موږ ټوله پرنیکه ثابت ولری پروردګار عالم دی زمونږ اوستاسی د ټولو خاتمه پرایمان کړی پروردګار عالم دی زمونږ اوستاسی مور او پلار ته بخښنه وکړی آمین یارب العالمین۔ هغه شعرونه دادی۔

داصلی انسانی ګینې نظم

یوی نجیلی پوښتنه وکړه زما ګرانی مور کی
دزیور تعریف زه غواړم مهربانی مور کی

کوم زیورات بنه دی وما نته ئې بیان کړه
کوم چه بې خونده بدنما دی ته ئې عیان کړه
چه د بنو بدو په منځ کښې جلا والی راسی
ستا په برکت سره پرما ئې بنه خلاصوالی راسی
مور ئې په جار او په قربان سره شروع کړی بیان
د زړه په غوږ سره ئې واورله اوس بې کړمه عیان
خلګ دسره زر واو سپینو زیورات خو بنوی
تاته زه وایم پرما ګرانی سره او سپین دواړه فانی
سره او سپین دواړه په ظاهر ګه پیر بنه ځلیږی
یوځو ورځ سپوږ نی بیا تور ه شپه جوړیږی
پر تالازم ګنهم چه خو بنه کړی ته د غه ګیښه
چه په د نیا کښې خوشحالی د آخرت ده لتو بنه
ته پر سر باندی ګیښه د عقل کښیږده لوړکه
چه پرداغه دی دارمدار د آخرت د نیا ګه
ته په غوږ وکړه غوږ والی د پوره عقل کامل
پرځای د غوږ والیو په لکو نو نصیحت واوره تل
غوږ والی ستا به اوریدل د نصیحت وی
د نصیحت والی عمل ستاد خیر او عافیت وی
د غوږ والیو پاتې ورکوی ستاد غوږ د ته عذاب
تاته په کار دی غوږ نیول پر نصیحت د کتاب
او که ستاد غاړی څوندی زیورات په کار سی
نو نیکی وکړه زما لورکه چه ستاد غاړی هار سی
که نیت د نیکوارادو دی با هوګان سی
بې به کامیابه بټول جهان به ګلستان سی
کوم زیورات چه د باز و دی پټوله بیکاره بنکاری
غیرت همت بنه سنګار ستاد پاره بنکاری
دلاس ترګیښو ستاد پاره د لاس کار بهتر دی

زمالور که دلاس کار بنه خوښ دهر چا هنر دی
څه کوی زمالور که د غه پایزیب وخلخال
نه دی په کار نو رستاد پاره دا پایزیب اوجنجال
د پښو د پاره بنه زیور دستر گو توری دادی
چه پښی دی تینگی لگوه د حق پر لوری دادی
چه د چاد پښو زیور دسپینو سرو دی
لیری نه ده چه دا پښی پر بنو یید و دی

داصلي بهشتی زیور لسمه حصه ختم سوه

داصلی بهشتی زیور ضمیمه چه په دغه کښی بعضی خبری د مسئلو دی چه وروسته په یاد را غلی

(۱) مسئله:- هر هغه څای چه حرام شی زیات وی بی پوښتنی هلته خورک کول روانه دی البته که په پوښتنه سره معلومه سوه چه دا خاص شی حلال دی نو که حال ویونکی نیک او دیندار ه وی نو بیائی خورل روا دی او که هغه سړی نیک نه وی او یائی حال معلوم نه وی چه بنه دی که بد دی نو حکم ئی دادی که زړه د غه شاهدی ورکړی چه دا سړی دشتیا گویه دی نو عمل په کول صحیح دی او که ئی زړه شاهدی ورنه کړی نو عمل په کول صحیح نه دی لکه د-آم-دراوتو او پیدا کید و څخه مخکی چا فصل خرڅ کړی نو دا خو تاویلی دی چه د غه آم حرام دی نو په کوم کلی کښی چه د د غه شی زیات رواج وی چه درختی لامیوه نه وی نیولی بلکه درختی گل وی یا د غسی پانی وی د میوی درک نه وی هلته د غه مسئله چلیږی کومه چه موږ بیان کړه نو د کوم آم چه درک معلوم سی چه دا هغه وخت خرڅ سویدی چه درختی میوه نیولی

وه بیاد غه ړوادی اوبی پوښتنی ئی خوښ روانه دی.

۲ مسئله:- مریضی ته بد ویل منعه دی.

۳ مسئله:- که یوکافر بنځه په خوشحالی سره تاله د مسلمانید ودپاره د اسی اوددی په مسلمانید وکښی د څه جګړی او فساد بیره نه وی نو مسلمانه ئی کړه اود مسلمانولو طریقه ئی داده چه په دی سره د غه شیان وواید لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ - (ترجمه) د عبادت لایق بل څوک نسته مګر یو الله پاک دی او محمد صلی الله علیه وسلم صادق او ړشتونی رسول د خدای پاک دی او ټول پیغمبران صادقان او ړشتونی منم د خدای پاک ټول کتابونه، ملکی، تقدیر د خیر و شر او قیامت منم ما پریښو وی خیل اول دین او قبول کړی ما د مسلمانانو دین او زه په پنځه وخته لمونځ کوم او د ړوژی د میاشتی ړوژی به نیسم که مال او دولت وی نو زکوٰة به ورکوم که پیر خرڅ را سره وی نو حج به کوم د الله پاک او رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول حکمونه به پرځای کوم او د هر څوندی منیانو څخه چه الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم منعه کړی یم د هغو ټولو څخه به ځان ساتم یا الله ما پر دین او ایمان ثابته ولری او د دین په کار ونو کښی زما امداد وکړی بیانو چه هر څوندی خلګ موجود وی ټول دی د الله پاک څخه دعا وغواړی چه ای الله د دی اسلام قبول کړه او موږ هم پر اسلام ثابته ولری او خاتمه مو پر ایمان کړی.

۴ مسئله:- چغلی، غیبت او تهمت مه کوه.

۵ مسئله:- هسی اوریدلی خبری ته اعتبار مه ورکوه.

۶ مسئله:- بعضی بنځی یقین کوی چه ناپاکه کالی پریمنځی تر څو چه وچ نه سی نه پاکیږی او په دوی کښی لمونځ نه صحیح کیږی دا بالکل غلطه خبره ده بعضی بنځی د ناخبرتیا په سبب د دی مسئلی لمنځونه قضا کوی چه وخت تیرسی بیا ئی چیری کوی داسی فکر او خیال مه کوه په لند وکالو کښی بی تکلیفه لمونځ کول صحیح دی.

۷ مسئله:- د بعضو بنځو دا عقیده ده چه د کومی بنځی چه اتم کوچنی پیدا سی دا به یو څرنګ په خیرات کښی ورکوی ورنه پرکوچنی خطره ده دا غلطه عقیده ده باید توبه وکاږی.

(۸) مسئله:- بعضی ښځې کوې، شړی د پیرۍ یو اثر بولی نو دد غه سبب په دغه کور کښی د پیر تکلیفات او جنجالونه کوی دا ټول خرافات او غلط خیالات دی د دا اسی عقیدی څخه توبه کول په کار دی.

(۹) مسئله:- په هغه کالو کښی چه څینګلی لیچونه یا د سر وریښتان یا غاړه معلومیږی لمونځ نه صحیح کیږی.

(۱۰) مسئله:- هر هغه فقیر چه محنت او مزدوری کولای سی بیا هم سوال کول اختیار کړی نو دی ته سوال ورکول صحیح نه دی.

(۱۱) مسئله:- د نوری ګاډی په سفر کښی که او به پیدا نه سی نو تیمم روا دی چه لمونځ په وکړی لمونځ مه قضا کوه.

(۱۲) مسئله:- بعضی ښځې د مسکینانو مزدورانو څخه ستر او پرده نه کوی دا ډیره لویه ګناه ده.

(۱۳) مسئله:- پردی شی که هر څوندی دلږ او سپک قیمت وی مګر بیله اجازی د مالک نه مه استعمالوه او چه استعمال نی کړی بیا نی پرده غه ځای مه پریږده چه ته نو څندی ولاړه سی بلکه وخیل مالک ته نی ورسپارهٔ چه ګوره خوری ستاستن یا غچی فی در لره ساتلی ده او س دی نو خپله ستن یا غچی واخله.

(۱۴) مسئله:- د ریل یعنی توری ګاډی په سپر تیا کښی د کرایې او محصول او اسباب ورلو قاعده د ګاډی والا د طرف څخه مقرره ده د دغه خلاف کول یا دوکه ورکول یا اصلی خبره پټول روا نه ده مثلاً هلته دا قاعده ده چه کوم مسافر تر پټلو په ارزانه درجه کښی سفر کوی چه د ریمه درجه ورته وایی ده ته د ناشتی او ناری چوچی پرځای دا چولوشی او ترځان لاندی د غوړ ولو (هوار ولو) شی او د دغو شیانو څخه علاوه د پنځه ویشت پاکستانی سیر و د سامان ورلو اجازت دی پرد غه محصول نه راځی فقط خپله کرایه به ورکوی او که لږ غوندی تر د غه زیات سی نو د غه مال د ګاډی والا تلی هر څوندی محصول چه هلته قانون وی باید ورکړه سی او د غه پنځه ویشت سیره په هغه سیر دی چه دا تیا (۸۰) تولی سره برابر دی نو اوس که یو څوک شپږ ویشت سیره یا اوه ویشت سیره بی ټللو اسباب ورسره

یوسی گاډی والاودلته هم څه نه ووایي مګر دخدای په نزد ګنهګار ګڼي او بعضی داسی کوی چه اسباب و تلی دیرش سیره سی بابو وایي چه زه به ئی شل سیره و لیکم لیکن دوندی پیسی په رشوت کښی راکړه په دغه کښی دوی (۲) ګناوی کیږی یو خو پیر اسباب وړل محصول کمول دوهم رشوت ورکول.

دغه رنګه هلته دغه قاعده ده چه هرکوچنی تر دری (۳) کلونو کم وی د هغه کرایه معاف ده او هرکوچنی چه د پوره دری کلونو وی د هغه نیمه کرایه ده بیا تر دوولس کلونو پوری چه پوره د دوولس کلونو سی بیا نو پوره کرایه ده نوکه د چا سره د درې کلونو کوچنی وی او دی ئی د ځان سره بوزی او کرایه ئی ورنه کړی یا ورته ووایي چه تر دری (۳) کلونو کم دی د غه هلک او حال دا چه هغه کوچنی د درې (۳) و یا تر دری (۳) کلونو زیات وی نو ګنهګار ګڼیږی د غه رنګه که د دوولس کلن کوچنی عمر کم ورو بسیی او په نیمه کرایه ئی بوزی نو هم ګنهګار ګڼی او په د غه ټولو صورتونو کښی د قیامت په ورځ به په پرځای د درد پیو او پیسو نیکیانی ورکوی یا به د دغه ګاډی والا او ګناوی د ده پر سر لویږی.

(۱۵) مسئله:- ډیر سبا چه کوم خلګ انګریزی پوهیږی او ووایي او بعضی داسی خبری ئی پکښی لیکلی وی چه هغه د دین او ایمان بالکل خلاف وی او د دین د علم معلومات د غه ویونکو ته بالکل نه وی د د غه سبب دا دی چه داسی کیږی چه د دوی د زړه څخه ایمان وزی او په ژبه سره هم داسی خبری کوی چه په هغوی سره ایمان دما بینه ځی که د د غسی هلکانو سره یو مسلمانه انجیلی واده سی نو په شرعه کښی بالکل نکاح نه صحیح کیږی او هر وخت چه نکاح نه کیږی نو ټول عمر زنا کاری کیږی.

نو د د غه وبال او ګناه پر هوسا او پلار په دنیا کښی هم لویږی او په آخرت کښی هم د عذاب بیړه پیړه ده. د د غه سبب ضروری اولازمه ده بلکه د خپلی لور د نکاح کولو، کورد ی کولو په وخت کښی چه په هره طریقه سره د زوم د حسب او نسب د کار و بار تحقیق او تفتیش کوی د غه رنګه بلکه تر د غه زیات دی د زوم معلومات وکړی چه عقیده ئی د مسلمان ده که نه ده، دیندار دی که نه دی که ئی دینداری او پرهیزګاری معلومه نه سوه

نو هیڅکله دی انجیلی نه ورکوی،
غریب او دیندار که سړی زر درجی بهتر او غوره دی تر بی دینه مالدار که او داخبره هم معلومه سوی ده چه کوم سړی دیندار نه وی هغه د ښځی حق هم نه پیژنی مینه او محبت هم نه ور سره کوی بلکه یوه روپی لاهم نه ورکوی پیره ئی تنګوی یوه روپه غریبه نه لری نو چه آرام ژوند پکښی نصیب نه وی او صرف دانوم وی چه دمالدار سړی ته ناسته ده نو دانوم داوخوری وائی غوندی وئ څنګه څه پیه وکړی.

(۱۶) مسئله:- دا چه مشهوره ده چه د قطب وستوری ته دی پښی نه کوی بالکل غلطه خبره ده د دغه ستوری په شریعت کښی هیڅ ادب نسته.

(۱۷) مسئله:- د غه رنګه چه دا مشهوره خبره ده چه د شپی درختی بیدیږی بالکل غلطه خبره ده.

(۱۸) مسئله:- د غه رنګه چه د غه مشهوره ده چه څوک پر چارپائی کت لمونځ کوی هغه بیزوګانی دا بالکل خرا پاتی، چتیات او غلطی خبری دی که چارپائی بالکل بنه تیته وی لمونځ پرې وادی او که چارپائی مرداره وی نو یو پاک شی دی پرهوار کړی لمونځ دی پرې وکړی لیکن بی ضرورته دی لمونځ نه پرکوی ځکه چه خامخا څه شور او دزړه اضطراب پکښی وی.

(۱۹) مسئله:- د غه رنګه چه مشهوره ده چه د پخوانیو امتونو یو څه خلګ بیزوګانی سویدی دغه اوس موجوده بیزوګانی د هغو نسل او اولاد دی ټول هم بالکل غلطه خبره ده په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هغه بیزوګانی ټولی مړی سوی د هغو نسل نه دی پاته سوی او دغه اوس موجوده بیزوګانی ترهغو مخکی هم وی داسی نه ده چه دغه بیزوګانی د هغو بیزوګانو څخه شروع سویدی.

(۲۰) مسئله:- په قرآن شریف کښی چه یو ځای غلط لیکل سوی وی نو هغه توګل صحیح ولیکه کوئ خپله نه سی لیکلای بیائی دبل چاپه ذریعه صحیح کړه کړی صحیح نه کړی بیادی هیریږی نو همیشه به ئی غلط وائی چه په ګناه کښی ښکته ئی (او د تصحیح د ثواب څخه به بی برخی پاته سی)

(۲۱) مسئله:- دا رواج دی که قران شریف د چادلاسه ولویږی نو دده د ویښ

سړه برابر غله ټول کوی خیراتوی ئې داد شریعت حکم نه دی مخکینیو بزرګانو شاید د تنبیه او خبرداری د پاره دغه قاعده مقرره کړی وی چه په آینده کښی په رخیال او فکر وکړی داپه واقع کښی په ره بنه خبره ده لیکن قرآن مجید بیله ضرورته د تازه پیله کښی اینبو ول هم داد ب خلاف کار دی که چیری غله ور کوی نو د غسی هر څوند ی همت چه ئې وی یو څه غله دی خیرات کړی قرآن شریف دی نه ټلی .

(۲۲) مسئله :- بعضی بنځی داسی کوی چه په ډولۍ کښی د ناستی په وخت کښی خپل ځانونه داسی بنکاره کوی چه په حولۍ کښی یوه بنځه ناسته ده او کښینی دوی د وی داد وکه او حرام دی البته که هغه وړونکوته د حولی او ډولی (کجاوی) والي هغه ئې په خوشحالی سره یوسی هیڅ پروانه لری او که نه وی نو د دوی سره هیڅ زور او دوکه نسی کولای .

(۲۳) مسئله :- اکثره بنځې یو صندوق پرسر ګرزوی په دغه صندوق کښی قسم قسم نقشی او تصویرونه وی او په دغه صندق کښی ئې هنداری او شیشی لګولی وی د دی د پاره چه وخلګوته ئې ور بنکاره کړی نو روپی یا دوی روپی ځندی اخلی د غسی په کوڅو کښی ګرځې راګرځې دغه شیان وخلګوته ور بنکاره کوی نو په کوم صندوق کښی چه د روح لرونکی شی تصویر ، عکس ، او بت وی لیدل او سیل کول ئې منعه دی دغه رنګه بعضی کوچنیان عکسدار نقشی اخلی د شپی ئې وخراغ ته ایږ دی سیل ئې کوی نو روته ئې هم ور بنکاره کوی دغه هم منعه دی .

دغه رنګه بعضی خلګ کور ته هغه رکاپونه ، پیتی ، تیپونه راوړی چه په هغه کښی د هرشی آواز تیپیږی او بند یږی او ټول ئې اوریږی نو بنه ئې یاد وساته چه د هرشی آواز د غسی اوریدل منعه وی نو په دغو شیانو کښی ئې اوریدل هم منعه دی لکه غزلی ، سندری ویل او بعضی خلګ قران شریف ویل پکښی تیپوی قران اوریدل خو په ره بنه خبره ده مګر په دغو شیانو کښی د تیپولو مقصد فقط تماشه او سات یروول وی نو د دغه سببه د قرآن تیپول هم منعه دی . دانجونو د پاره او دغه رنګه د بنځو د پاره د داسی شیانو حرص او خواهش کول په کار نه دی .

(۲۴) مسئله:- بعضی خلگ داسی کوی کو نه روپی چه نه چلیږی په دوکه سره وچاته ورکوی یائ په توره تیاره اوشپه کښی چلوی دالویه گناه ده هر چاچه دغه روپی درکړی دی وهغه ته ئ ورکړه برابره خبره ده که هغه ته وایی ورکوی یئ یائ په بله طریقه سره ورکوی پتول روادی مگر داهغه وخت روادی چه بنه معلومه سی چه فلانی راکړی دی اوکه لږ غوندی شک وی نو روا نه دی اوکه یو چاته وویل سی اوهغه ئ په خوشحالی سره واخلی چه دغه کو نه راکړه نو بیا پرواته لری.

(۲۵) مسئله:- مسئله چه بنه درمعلومه نه وی دځانه فتواوی اومسئلی مه کوه.

(۲۶) مسئله:- بعضی وخت یو څوک پروت وی هسی ئ ستړگی پټی کړی وی خو بیده نه وی اونور دوه کسان هغه بیده وبولی نو پټی خبری شروع کړی دامسی پټی خبری شروع کړی چه که دوی ته معلومه سی چه دی وینږ دی زموږ خبری اوری نو بیا هیڅکله داخبری نه کوی په داسی وخت کښی پردغه پراته سړی واجب دی چه خبری وکړی اودهغوی خبری په چم اودوکه سره وانه وری حکه چه داډیره گناه لری.

(۲۷) مسئله:- دبعضو سپین سرو بنځو بلکه دبعضی ځوانانو بنځو هم دغه عادت دی چه نذر منی چه که زما فلانی مراد حاصل سی اوپوره سی نو په مسجد کښی سلام کوم یادمسجد تاخچه دخورک په شیانو ډکوم بیا نو مسجد ته ئ خپل نذر پوره کوی نو خبردار اوسه دبنځو تگ ومسجد ته بنه نه دی نه دسپین سری دپاره نه دځوانی دپاره څه ناڅه بې پردگی خامخا راځی دالله پاک سلام دادی چه یو څه نغلونه دی وکړی په زړه اوشه به سره دی شکر ادا کړی نو داخو په کور کښی هم کیدای سی. اودمسجد تاخچه ډکول دادی چه هرڅه دی په طاقت وی هغه ومسکینانو اوفقیرانو ته ورکړه نو داخو په کور کښی هم کیدای.

(۲۸) مسئله:- نوټ په کم یا زیات سره بدلول روا نه دی مثلاً دپنځو روپیو نوټ دی نو په پاو کم پنځه یا پاو باندی پنځه په بدله کښی ئ خرڅول روا نه دی اوخیر په کمی کښی خوڅه مجبوری هم وی که څه هم گنهگار دی مگر په زیات

خرڅولو کښی هیڅ مجبوری هم نشته یا چه په کم شی سره ئی رانیسی، نو نور ته پریږه زیاته گناه ده.

(۲۹) مسئله:- د چا خط ویل بیله د ده اجازی روا نه دی.

(۳۰) مسئله:- په زمونږ کولو کښی چه کوم ورینښتانو خیژی دوی د غسی مه غوږ ځوه مه ئی په دیوالـه کی ږده چه نامحرمه خلگ ئی وویني د دغو ورینښتانو هم پرده او ستر سته بلکه په لرگی یا بل شی یو څه مخکه وکینه او ورینښتان پکښی پټ کړه.

(۳۱) مسئله:- هغه خبره چه په ژبه بیانول ئی گناه ده په خط کښی ئی لیکل هم گناه ده مثلاً دیوچا غیبت، شکایت، خپله لوبی زغول او داسی نور.

(۳۲) مسئله:- د تار په خبروکښی قسم قسم شکونه دی د دغه سببه د میاشتی او داسی نور د شیانو په خبر وکښی د تار هیڅ اعتبار نشته۔

(۳۳) مسئله:- د طاعون مرض څخه چه و بل ښار ته ځی او کوم ځای چه طاعون پکښی لگیدلی وی هغه پریږدی په دی خیال سره چه د طاعون د مرض څخه خلاص سم دا منعه دی او هر څوک چه پرده غه ځای په صبر سره قائم وی ده ته د شهادت درجه ورسیږی.

(۳۴) مسئله:- د بعضو عادت دی چه یو هلک یا خپلی خادمی ته وایی چه ورسه د مسجد په بدنی کښی او به واچوه په هټو لمونږ کوونکو ئی دم کړه بیا ئی راوړه فلانی مریض ته دغه او به ورکوم یا د قرآن شریف د ختمید و په وخت کښی او به په خلگو دم کړه د برکت د پاره ئی راوړه نو دا خبره یاد وساته چه د مسجد بدنه په خپل استعمال کښی راوستل منعه ده د خپله کور څخه یو لوبنی باید ورکړی.

(۳۵) مسئله:- په جاهلانو کښی مشهور ده چه په یوه لاس کښی او به او په بل لاس کښی اور وړل منحوس (ناسی) گڼی یا داچه ښځه او خاوند دی په یوه لوبنی کښی شیدی نه خوری بیا خور او ورکیږی یا د یوه پیړدی نه مریدان کیږی بیا خور او ورکیږی یا داچه د خپلی مریدی سره پیر نکاح کوی صحیح نه ده یا داچه تشه غنچی د شی د غنچی کولو په رقم مه سره وهه بیابی اتفاقی راځی جنگ څنډی جوړیږی یا چه او ږد سر سره وی ددد (۲۱)

کسانو په منځ کښی مه تیږه ځکه چه دد وی په مابین کښی جنګ جوړیږی یا په کور کښی ګهونګچیان (چه یو قسم وړی دانی دی) مه ږدۀ ، یادوۀ کسان دی یوه بزمونځ نه استعمالوی چه بیابی اتفاقه کیږی جنګ سړه کوی یا دورځی قصی مه کوۀ بیا د مسافر وخته لاړورکیږی دا ټولی خبری پیتاوی یعنی دځانه جوړی سوی دی په شریعت کښی هیڅ دلیل نه لری او داسی عقیدۀ ساتل لویه ګناه دۀ.

(۳۶) مسئله:- چاته په حرامزادۀ یاد سپی په زوی یاد سړکوزی په زوی ویل یا بله دغسی خبره وړته کول ډیره بده خبره دۀ چه په دغه خبره کښی ئی هور او پلار ته بنکنځل وړدسیږی (یعنی دهور او پلار بنکنځل وی) هور او پلار بی چاره ګانو ئی په ناځه کړیدی او خپله دهغه قصور والا یعنی ملامت ته هم ددۀ نږملامتیا زیات مه وایه.

(۳۷) مسئله:- نسوار کول یا چیلم څکول بیله ضرورته مکروه دی اوکه یو مجبوری وی بیا پروا نه لری مګر د لمانځه په وخت کښی دی خوله بنه صافه کړی که په مسواک سړه وی یا ګشنیز وڅروي هرقسم چه صفا کیدل د خولی ممکن وی هغسی دی وکړی که په لمانځه کښی خوله بدبویه وی نو فرشتی (ملکی) په تکلیفیږی د دغه سببه منعه دی دغه نسوار او داسی نور.

(۳۸) مسئله:- تریاق (تاریاک) که د دواد پاره په یو دوایی دوندی اندازه ګډ کړی او وئ خوری چه نشه بالکل نه څندی پیدا کیږی نور وادی مګر لکه بعضی بنځی چه ئ وکوچنیانو ته ورکوی چه په نشه او غفلت کښی پردت وی نه ژاړی دا رواته دی.

(۳۹) مسئله:- اکثره بنځی چه د قرآن شریف په ویلو کښی ئ د خاوند نوم راسی نود قرآن شریف نور تلاوت کوی او د خاوند نوم پریږدی یا ئ کرار وایی دا ټولی چټی خبری دی د قرآن مجید په ویلو کښی څه شرم دی.

(۴۰) مسئله:- هوښیار او انجونو ته دی په څوان سړی سړه سبق نه وایی که قرآن شریف وی یا بل کتاب وی د هوښیار او انجونو څخه هغه انجونی مراد دی چه بالغانی نه وی لیکن په هره خبره پوهیږی.

(۴۱) مسئله:- د لیکل سوی کاغذ آدب کول ضروری دی دغسی باید و نه غورځول

سی هرخط چه دکاره وزی بیکاره سی یاد طبیب د دوکان څخه دوا په لیکل سوی کاغذ کښی درته راوړل سی اود غه کاغذ د دوا څخه خالی سی نو دغسی کاغذات یا په یوځای کښی په حفاظت سره کښیږدی یا ئی په اور کښی وسوځه دغه رنگه چه یو لیکل سوی کاغذ په لار کښی پیدا کړی اود کار نه وی نو هم ئی یوځای کښیږدی یا ئی وسوځه.

(۴۲) مسئله:- په سترخوان کښی چه کوئی دډوډی ریزی اواتا مونه پاته کیږی هغه هسی یوځای ته مه وږ جارو کوه بلکه یو جلا ځای ته ئی ورجارو کړه چه په هغه ځای کښی ترپښو لاندی نه سی.

(۴۳) مسئله:- که د چا بدن په لاندی نیمه حصه کښی زخم یا دانی وی او د اوبو په رسید و سره تاوان ورته رسیږی او غسل ته ئی ضرورت وی چه غسل کوی د غه ځایونه د اوبو څخه نه سی ساتلای نو تیمم کول ورته روادی.

(۴۴) مسئله:- په جاهلانو کښی مشهور ده چه پردی طرف د تسبیح (تسپو) اړول صحیح دی پردی طرف ئی اړول صحیح نه دی چپه دی د اړول خرافات دی اصل مطلب د شمیر اوحساب سره دی هرطرف ته چه ئی اړوی والی پروا.

(۴۵) مسئله:- چه یو څوک خط لیکی د هغه د څنگه سره کښینستل او د هغه خط ویل منعه دی.

(۴۶) مسئله:- درود شریف بی اود سه ویل صحیح دی په جنابت، حیض او نفاس کښی هم ویل روادی.

(۴۷) مسئله:- د هلک غوږ یا پزه سوری کول منعه دی.

(۴۸) مسئله:- بیکاره بدنوم ایښوول منعه دی که غواړی چه سنه نوم پر کښیږدی یاد نبیانو نوم پرکښیږدی یا د خدای پاک د نومونو څخه یونوم پر کښیږدی او لفظ د عبد ئی په اول کښی ورزیات کړی لکه عبد الله، عبد الرحمٰن عبد الباری، عبد القدوس، عبد الجبار، عبد الفتاح یا یوبل نوم په یو عالم باندی پرکښیږدی.

(۴۹) مسئله:- په جاهلانو بنځوکښی دا مشهور ده خبره ده چه لمونځ وکړی نو جای نماز چیه واړوه بیا شیطان لمونځ پرکوی دا خالص دروغ دی.

(۵۰) مسئله:- د جاهلانو دا عقیده ده چه بنځه که پر عیال یا تر عیال پیدا کیږي وروسته مړه سی نو بلا کیږي دا بالکل غلطه عقیده ده بلکه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه داسی بنځه شهیده ده.

(۵۱) مسئله:- د جاهلانو خلګو دا عقیده ده که بنځه مړه سی نو دی خاوند دی د جنازی پښه هم نه نیسی دا بالکل غلطه خبره ده بلکه که ئی ومخ ته وګوری هم هیڅ پروا نه لری.

(۵۲) مسئله:- که بنځه مړه سی او په نس کښی ئی کوچنی ژوندی معلومیږی (یعنی په نس کښی حرکت کوی مثلاً) نو دی نس دی ورځیری کړی او کوچنی دی وځندی راوباسی یو ځای خلګو داسی بیعقلی وکړه چه په دغسی بنځه کښی د غسل ورکولو په وخت کښی دکوچنی د پیدا کیدو علامی موجودی سوی نو بنځو وویل چه ژر ژر کوی معلومه نه ده چه څه پیښیږي غرض چه د دی غسل او کفن ئی ژر ژر وکړی د پټولو د پاره ئی یو وړه چه په قبر کښی ئی کښیښوده نو په کفن کښی دکوچنی دلویدو حرکت معلوم سو. افسوس چه یو چا ئی کفن هم ورخلاص نه کړی چه ورته وګوری. ژر ژر ئی پر قبر تختی او خښتی کښیښوولی خاوری ئی پر واچولی.

افسوس دی چه په بنځو کښی هم په نزانو کښی هم څرنګه جهالت راغلی دی دا ټولی خبری د دین څخه دنا خبرتیا په وجه دی.

(۵۳) مسئله:- دا په جاهلانو کښی مشهوره ده که خاوند نامرد یعنی د مړونی قابل نه وی نو د ده سره بالکل نکاح د شروع څخه صحیح نه ده نو بنځه دی ستر خندی کوی دا بالکل غلطه خبره ده.

(۵۴) مسئله:- فال کتل، نوم را ایستل برابره خبره ده په هرشی چه وی په هغه شی سره چه خلګ خپل فال معلومولی ډیره سخته ګناه لری.

(۵۵) مسئله:- په بنځو کښی د سلام اچولو او روغبر یعنی لاس په لاس کښی ورکولو رواج نسته دا د واړی خبری د ثواب دی باید دا رواج کړل سی.

(۵۶) مسئله:- هرځای چه میلمه ئی هلته هیڅ فقیر او مسکین او داسی نور وتد نو دی ټوکره یعنی ګوله مه ورکوه.

(۵۷) مسئله:- د بعضو جاهلانو دا رواج دی چه په کومه ورځ غله- تخم

دکرلو د پاره دکور څخه وزی په دغه وخ دوی غله دانی نه نینی کوی او داسی اعتقاد بالکل گناه ده پریښوول ئی په کار دی.

د اصلی بهشتی زیور د لسمی حصی ضمیمه ختم سوه

اضافه د طرف څخه د جناب مولوی محمد رشید صاحب مدرس د جامع العلوم د مدرسی چه په کانپور کښی ده

(۱) مسئله:- د هر حیوان تر یخی داسی مردار دی لکه بولی چه ئی مرداری دی. او په شخوند کښی چه د معدی څخه خورک راوباسی هغه ئی د غټو بولو سره په نجاست او مرداری کښی برابر دی یعنی لکه غټی بولی چه ئی ناپاکه دی د غه د معدی شخوند ئی هم داعنی ناپاکه دی.

(۲) مسئله:- قرآن مجید او سیپاری چه داسی زړی سی چه په دوی کښی ویل مشکل سی یا په داسی اندازه سره غلط لیکل سوی وی چه د دوی صحیح کول مشکل وی نو د وی دی په یو پاکه جامه کښی د پیچی داسی ځای دی پټ کړی چه تر پښو لاندی نه سی او دا رنگه دی پټ کړی چه پردوی سر بیره خاوری و نه لویږی یعنی یا دی لحد (دوری) قسمه مځکه وکینی او په د غه دوری کښی دی پټ کړی یا دی د غسی غار وکینی د وی دی پکښی کښیږدی پرسر دی تختی ورکښیږدی بیا دی خاوری پر واچوی.

لسمه حصه سره د ضمیمی او اضافی ختم سوه

نوټ:- محترمو لوستونکو په بهشتی زیور کښی تر اضافی ورو سته یو څومخه د گلدوزی یا گلکاری نقشونه هم راغلی دی لیکن مور هغه پریښوول د دی د پاره چه په اوسنی زمانه کښی ډیر بنه بنه چاپونه او تاپیانی مثلاً د غار و رغولو او بالښتانو کور پچو، رخچیتو او داسی نور د پاره په اسانی سره پیدا کیږی نو زمونږ په فکر اوس د بهشتی زیور د نقشونو ضرورت نه معلومیږی.

د بهشتی زیور دیوولسمی حصی (بهشتی گوهر) مضامینو فهرست

نمبر	مضمون	مخ
۱	فهرست	۱
۲	ضروری اصطلاحات	۴
۳	پخوانی (قدیمه) سریزه	۶
۴	داولی حصی تتمه	۸
۵	داوبو داستعمال حکمونه	۸
۶	دپاکی اوناپاکی بعضی مسئلی	۱۰
۷	دوړداوغټو بولو په وخت کښی چه دکوموشیانو څخه ځان ساتل په کار دی هغه دادی.	۱۶
۸	هغه شیان چه استنجا وهل په روا نه دی	۱۷
۹	هغه شیان چه استنجا بیله مکروهه والی په روادی	۱۷
۱۰	داوداسه بیان	۱۸
۱۱	پرموز و دمسحی کولو بیان	۱۹
۱۲	د حدث اصغر یعنی دوړی (کوچنی) بی اودسی په وخت کښی حکمونه	۲۰
۱۳	د غسل بیان	۲۲
۱۴	د هغو صورتونو بیان چه غسل نه پکښی واجبیږی	۲۵
۱۵	هغه صورتونه چه غسل پکښی واجب دی.	۲۶
۱۶	هغه صورتونه چه غسل پکښی سنت دی	۲۷
۱۷	هغه صورتونه چه غسل پکښی	۲۷

نمبر	مضمون	مخ
	مستحب اوښه کار دی	
۱۸	دلوی بی اودسی حکمونه یعنی چه څوک بی غسله وی د هغه حکمونه	۲۸
۱۹	د تیمم بیان	۳۰
۲۰	د بهشتی زیور د دوهمی حصی تتمه	۳۲
۲۱	دلمانځه دوختونو بیان	۳۲
۲۲	د اذان بیان	۳۴
۲۳	د اذان او اقامت حکمونه	۳۶
۲۴	د اذان او اقامت سنتونه او مستحبات	۳۸
۲۵	متفرق (جلاجلا) مسئلی	۴۱
۲۶	دلمانځه د شرطونو بیان	۴۲
۲۷	د قبلې مسئلې	۴۵
۲۸	د نیت مسئلې	۴۵
۲۹	د تکبیر تحریمه یعنی اول الله اکبر بیان	۴۶
۳۰	د فرض لمانځه بعضی مسئلې	۴۷
۳۱	تحیة المسجد	۵۰
۳۲	د سفر نفلونه	۵۲
۳۳	د قتل یعنی وژنی (خون) لمونځ	۵۲
۳۴	د تراویح (تراوو) بیان	۵۳
۳۵	د کسوف او خسوف لمونځ	۵۵
۳۶	د استسقاء یعنی د باران غوښتلو د لمانځه بیان	۵۷
۳۷	د لمانځه د فرضو او واجباتو په باره کښی بعضی مسئلې	۵۷
۳۸	د لمانځه بعضی سنتونه	۵۹

نمبر	مضمون	صفحہ
۳۹	د جماعت د لمانځه بیان	۶۱
۴۰	د جماعت د لمانځه فضیلت او تاکید	۶۱
۴۱	د جماعت د لمانځه حکمتونه او فایدې	۷۱
۴۲	د جماعت د لمانځه د واجبید و شرطونه	۷۳
۴۳	د جماعت د لمانځه د صحیحوالی شرطونه	۷۵
۴۴	د جماعت د لمانځه حکمونه	۸۵
۴۵	د مقتدی او امام په بارکښې مسئلې	۸۷
۴۶	د جماعت په لمانځه کښې د شاملید او نه شاملید و مسئلې.	۹۷
۴۷	د هغوشیانو بیان چه لمونځ په فاسدیږی	۱۰۰
۴۸	د هغوشیانو بیان چه کول یې په لمانځه کښې مکروه دی.	۱۰۴
۴۹	په لمانځه کښې د بې اودسه کیدو بیان.	۱۰۶
۵۰	د سهوې بعضې مسئلې.	۱۱۰
۵۱	د لمانځه د قضا کیدو مسئلې.	۱۱۱
۵۲	د مریض بعضې مسئلې.	۱۱۱
۵۳	د مسافر د لمانځه بیان	۱۱۲
۵۴	د خوف (بیرې) لمونځ	۱۱۴
۵۵	د جمعې د لمانځه بیان	۱۱۷
۵۶	د جمعې د ورځې فضائل او خوبیانې	۱۱۸
۵۷	د جمعې ادبونه	۱۲۲
۵۸	د جمعې د لمانځه فضیلت او تاکید	۱۲۵
۵۹	د جمعې د لمانځه د ادا کولو طریقه	۱۲۸
۶۰	د جمعې د لمانځه د واجبید و شرطونه	۱۲۹
۶۱	د جمعې د لمانځه د صحیحوالی شرطونه	۱۳۰

نمبر	مضمون	صفحہ
۶۲	د جمعې د خطبې مسئلې.	۱۳۱
۶۳	د نبی (ص) د جمعې د ورځې خطبه	۱۳۳
۶۴	د لمانځه مسئلې	۱۳۶
۶۵	د اختر د لمانځه بیان	۱۳۷
۶۶	په کعبه شریفه کښې د نفل لمانځه کولو بیان	۱۴۲
۶۷	د تلاوت د سجدې بیان.	۱۴۵
۶۸	د مړې د غسل مسئلې.	۱۴۶
۶۹	د مړې د کفن بعضې مسئلې.	۱۴۸
۷۰	د جنازې د لمانځه مسئلې.	۱۴۹
۷۱	د دفن یعنې د مړې د پټولو مسئلې	۱۵۷
۷۲	د شهید احکام	۱۶۲
۷۳	د جنازې متفرق (جلاجلا) مسئلې.	۱۶۵
۷۴	د مسجد حکمونه	۱۶۸
۷۵	د بهشتي زیور د دریمې حصې تتمه	۱۷۱
〃	د روژې بیان	۱۷۱
۷۶	د اعتکاف مسئلې	۱۷۶
۷۷	د زکوٰة بیان	۱۸۱
۷۸	د سائمه حیواناتو د زکوٰة بیان	۱۸۲
۷۹	د اوښانو نصاب	۱۸۳
۸۰	د غویو او گامیښو نصاب	۱۸۴
۸۱	د بزو او میږو نصاب	۱۸۵
۸۲	د زکوٰة متفرق (جلاجلا) مسئلې	۱۸۶
۸۳	د بهشتي زیور د پنځمې حصې تتمه	۱۸۸
〃	د وریښتانو په بارکښې حکمونه	۱۸۸
۸۴	د شفعې بیان	۱۹۱

نمبر	مضمون	صفحہ
۸۵	د هزار رعت (کرل سوو غله جانو) او مساقات (میوه جاتو) د تقسیم بیان	۱۹۲
۸۶	د نشه لرونکو شیانو بیان	۱۹۵
۸۷	د شراکت بیان	۱۹۶
۸۸	د بهشتی زیوړ د نهمی حصی تتمه.	۱۹۹
۸۹	تنبیه	۱۹۹
۹۰	د نرانو خلگو مرضونه	۱۹۹
۹۱	جریان	۱۹۹
۹۲	د قوت مردانه د کمزوری او د سرعت انزال بیان	۲۰۴
۹۳	د مردانه کمزوری د پاره د یو خود وایانو او هغه اوبیان	۲۰۶
۹۴	حلواچه مردانه طاقت قوی کوی نطفه او منی سختوی سرعت انزال د فعه کوی زړه، دماغ اوپښتورگو ته قوت (طاقت) ورکوی.	۲۰۶
۹۵	حلواچه مقوی د طاقت مردانه او معدی ده اواشتها خلاصوی اوپورته کونکی د خفگان ده دماغ ته قوت ورکوی اوښه خوشرنگه کوی.	۲۰۷
۹۶	د مردانه کمزوری د دوهم صورت بیان	۲۱۴
۹۷	دریم قسم د مردانه کمزوری دادی	۲۱۷
۹۸	یوځو مهمی خبری	۲۱۷
۹۹	د خواهش نفسانی د کثرت اوپروالی بیان	۲۱۸
۱۰۰	کثرت احتلام (پیر معذور ه کیدل)	۲۱۸
۱۰۱	یوځو جلا جلا نسخی	۲۲۰
۱۰۲	آتشک	۲۲۱
۱۰۳	د سوزاک بیان	۲۲۳
۱۰۴	د خایولوړی خوانه پورته کیدل	۲۲۵
۱۰۵	کولمی راکښته کیدل اود خایو غټیدل	۲۲۵
۱۰۶	دوهم قسم په قیله ریحی	۲۲۷
۱۰۷	دریم قسم په خایوکښی د اوبو د راتلو بیان	۲۲۸
۱۰۸	په خایوکښی یاد خایو پرشاوخوا د خارش پیدا کیدل	۲۲۹
۱۰۹	د مؤلف التماس	۲۳۰
۱۱۰	بهشی جوهر د بهشی گوهر ضمیمه	۲۳۱
۱۱۱	مرگ اود ده متعلقات اود قبرونو د زیارت کولو بیان	۲۳۱
۱۱۲	د حکیم الامت څخه مسئلی.	۲۴۱
۱۱۳	د بهشی گوهر دوهمه ضمیمه چه په تعدیل حقوق الوالدین سره نامداره ده.	۲۴۶

ضروری اصطلاحات

باید انسان خان په دی پوه کړی چه کوم احکام الٰهی چه د بنده گانو تر فعلونو او عملونو پوری تعلق لری هغه اته قسمه دی۔ (۱) فرض (۲) واجب (۳) سنت (۴) مستحب (۵) حرام (۶) مکروه تحریمی (۷) مکروه تنزیهی (۸) مباح

۱ فرض هغه دی چه په دلیل قطعی سره ثابت وی او بیله عذره ئی پریښوونکی فاسق اود عذاب لایق گرزی او منکر ئی کافر دی (رد المحتار ص۹۲ اول ټوک) بیا فرض پرده قسمه دی۔ فرض عین[1] او فرض کفایی[2]۔ فرض عین هغه دی چه کول ئی د هر یوه د پاره ضروری او لازم دی او بیله عذره ئی پریښوونکی مستحق د عذاب او فاسق دی لکه پنځه وخته لمونځ د جمعی لمونځ اوداسی نور۔ او فرض کفایی هغه دی چه کول ئی پر هر یوه ضروری نه وی بلکه د بعضو خلگو په ادا کولو سره د نورو خلگو د زمی څخه ساقط ږی او که ئی هیڅوک ادا نه کړی نو ټول گنهگار ګرځی لکه د جنازی لمونځ اوداسی نور۔ (رد المحتار ص۹۰۶ وص۹۰۷ اول ټوک)

(۲) واجب هغه دی چه په دلیل ظنی سره ثابت وی (دلیل ظنی هغه دی چه په ده کښی بل احتمال ضعیف هم وی او تر دلیل قطعی په درجه کښی ورسته وی) او بیله عذره پریښوونکی ئی فاسق اود عذاب مستحق دی په شرط د دی چه بیله کوم تاویل او شبهی ئی پریږدی او منکر ئی هم فاسق دی او کافر نه دی۔ (رد المحتار ص۹۸ اول ټوک)

(۳) سنت هغه فعل دی چه نبی صلی الله علیه وسلم یا اصحابو رضی الله عنهم کړی وی او سنت دوه قسمه دی، سنت[1] مؤکده سنت غیر[2] مؤکده۔ سنت مؤکده هغه فعل دی چه نبی صلی الله علیه وآله وسلم یا اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم همیشه کړی وی او بیله عذره ئی هیڅکله پری ایښی نه وی لیکن د تارک یعنی پریښوونکی د پاره ئی هیڅ قسم تر تهنه او تنبیه نه وی کړی د دغه سنت موکد حکم هم د عمل په اعتبار سره د واجب دی یعنی بیله عذره پری بښوونکی اوعادت کونکی ئی فاسق او گنهگار ګرځی اود نبی صلی الله علیه وآله وسلم د شفاعت څخه

بی برخی پاته کیږی. لیکن که یو وخت پاته سی پروا نه لری مگر د واجب په پریښو ولو کښی نسبت د ده د پریښو ولو ته ډیره گناه ده۔

سنت غیر مؤکده هغه فعل دی چه نبی صلی الله علیه وآله وسلم یا اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم کړی وی او بیله عذره ئی یو وخت هم پری ایښی وی کونکی ئی د ثواب مستحق دی او پری ښو ونکی ئی د عذاب مستحق نه دی او د دغه نه سنت زائده او سنت عادیه هم وایی۔ (ردالمحتار ص ۱۰۶ ج ۱ و ص ۳۳ ج ۵)

(۴) مستحب هغه فعل دی چه نبی صلی الله علیه وآله وسلم یا اصحابو رضی الله تعالیٰ عنهم کړی وی لیکن همیشه او اکثره ئی نه وی کړی. بلکه یو وخت وخت ئی کړی وی کوونکی ئی د ثواب حقداره دی او پرنه کونکی ئی هیڅ گناه نلری او د دغه ته د فقهاؤ یعنی د فقهی د علماؤ په نزد او اصطلاح نفل، مندوب او تطوع هم وایی (ردالمحتار ص ۱۰۶ ج ۱ و ص ۳۳ ج ۵)

(۵) حرام هغه دی چه په دلیل قطعی او یقینی سره ثابت وی او منکرئی کافر دی او بی عذره کونکی ئی فاسق او د عذاب مستحق دی (ردالمحتار ص ۹۷ ج ۱)

(۶) مکروه تحریمی هغه دی چه په دلیل ظنی سره ثابت وی او منکرئی فاسق دی لکه د واجبو منکر چه فاسق دی او بی عذره کونکی ئی گنهگاره او د عذاب حقداره دی۔ (شرح التنویر و ردالمحتار ص ۳۳ پنځم پتوک)

(۷) مکروه تنزیهی هغه فعل دی چه په نه کولو کښی ثواب دی او په کولو کښی ئی عذاب نلری۔ (ردالمحتار ص ۳۲۹ پنځم پتوک)

(۸) مباح هغه فعل دی چه په کولو کښی ئی ثواب نه وی او په نه کولو کښی ئی عذاب نه وی۔ (ردالمحتار ص ۳۲۹ پنځم پتوک)

د بهشتي زيور يوولسمه حصه

چه نامدار ده

په بهشتی گوهر سره

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

وروسته ترحمد او صلوٰة دغه د بهشتی گوهر رساله چه د بهشتی زیور تتمه (پوره کوونکی) ده - هغه بهشتی زیور چه په خپلو لسو[10] حصو کښی شائع او چاپ سویدی چه د ده د اخیری حصی پرختمید و باندی د دغی تتمی خبر اوضرورت ظاهر سویدی لیکن دکم فرصتی او نه وخت په وجه د دغی تتمی (یوولسمی[11] حصی) د پټو مسئلو د راتقل کیدو نوبت اوو ار رانه غلی چه د فقهی د اصل مشهور وکتابو څخه راتقل سی بلکه رساله د علم الفقهی چه د لکنؤ د بنار څخه شائع سوی ده چه په دی کښی اکثره څایونه واصل کتاب ته حواله هم ورکړه سویده نو دا می په یو طالب علمانه نظر سره مطالعه کړه د دی څخه می د دغی تتمی سره مناسب یعنی ضروری مسئلی چه په نارینه خلگو پوری خاص دی قصداً اودیو عارضی مصلحت په وجه می شریکی مسئلی طبعاً راانتخاب اوددوی یو څای کیدل می کافی و بلل لیکن د ضرورت په څایو اوموا قعو کښی می واصل کتابونه هم رجوع کړیده. د پاره د دی چه اطمنان اوباور راته حاصل سی او په کومو څایونو کښی چه د مضمونو نو یا د کتابونو د حوالو غلطیانی وی د هغو پټو لو می اصلاح اوبرابری کړیده چه په دی سره نو د غه مجموعه دیو وجهی څخه مستقله اودبلی وجهی څخه غیر مستقله سوه - او بعضی ضروری مسئلی می هم راخیستی دی - هیڅ لیری خبره نه ده چه بیا به

هم بعضی مهمی مسئلی په دغه کتبی راځنه پاتې سوی وی نو د دی سبب د عامو ناظرینو او کتونکو څخه درخواست دی چه د دغسی ضروری مسئلو څخه په عنوان د سوال خبر تیار کړی چه په راتلونکی چاپ کښی اضافه سی او خاص د اهل علم او علماؤ څخه امید دی چه د دغسی ضروریاتو د خپلو ځانه څخه د دغه په اخیر کښی لکه اضافه د دلسمی حصی د اصل کتاب په طریقه د ضمیمی پوری ومنلوی

چونکه په دغې مجموعې اوتنې (یوولسمی حصی) کښی د مختلفو بابونو مسئلی دی د دغه سبب د بهشتی زیور دکومو حصو چه په دغه یوولسمه حصه کښی تتمی دی چه په هغو کښی زیاتی مقدار د د زیمی حصی د تتمی دی. د د غو حصو سره مناسب د دغې تتمی (یوولسمی حصی) تجزیه او تحلیل وسی د هر جزا او مضمون پرځتمید و باندی په پنډا او غټ خط سره ولیکل سی چه د فلانی حصی تتمه ختمه سوه او مخکی د فلانی حصی تتمه شروع کیږی.

پس نو مناسبه، فائدا منه او گټوره طریقه به هم دغه وی حُکه چه هر وخت یو سړی یا هلک په مطالعه یا درس کښی یو حصه د بهشتی زیور ختم کړی نو مخکی تر دی چه د جنتی زیور آیندره او مخکنی حصه شروع کړی د دغې ختم سوی حصی تتمه به چه په یوولسمه حصه کښی ده ورسره ووایی بیا به د اصل کتاب ایندره او راتلونکی حصه ووایی. د دغې تتمی ختمیدل به هم په دغسی طریقه سره وکړی لکه د مخکنیو لسو حصو ختمیدل چه کوی. وعلی هذا القیاس. واللہ الکافی لکل خیر وهو الوافی من کل ضیر

کتبہ:- اشرف علی عفی عنہ اخر ربیع الاول
سنہ ۱۳۲۴ھ

د اولی حصی تتمه

کتاب الطهارة

د اوبو د استعمال حکمونه

(۱) د دغسی ناپاکو اوبو استعمال چه د (۲) سړی سره صفتونه یعنی خوند، رنګ او بوی ئی د مردارو نجاست دوجهی څخه بدل سوی وی هیڅ قسم روانه دی نه د حیواناتو اوبول په روادی نه خټی او داسی نورشی کول په روادی که ئی د (۳) سړی سره صفتونه نه وی بدل سوی نو بیا حیوانات په اوبول، خټی په کول پرکور او مکان ئی پاشل روادی مګر په دغسی خټو دی د مسجد کګړول او سپینول نه کوی۔ (عالمګیری ص۱۶۲ اول پوک)

(۲) مسئله:- دریاب، رود، هغه حوض- ناور- تالاب چه د هیڅوا په محکه کښی نه وی او هغه ځاه چه چوړونکی وقف کړی وی د دغو ټولو شیانو د اوبو څخه ټول خلګ فایده اخستلای سی د هیڅوا د پاره داحق نسته چه یو څوک د دغو اوبو د استعمال څخه منعه کړی یا د دوی په استعمال کښی یو داسی طریقه استعمال کړی چه د عامو خلګو ته تاوان ځنډ ی ورسیږی مثلاً یو څوک د دریاب یا حوض څخه والړ را کاږی چه دغه دریاب یا حوض په وچیږی یا د یو کلی یا محکی د غرقید و بیره وی نو دغه طریقه د استعمال د اوبو روانه دی او هر چا ته اختیار سته چه د دغه نارواطریقی د استعمال څخه ئی منعه کړی۔ (ردالمحتار فی فصل الشرب ص۴۳۳ پنځم پوک)

(۳) مسئله:- د یوچا پخپله محکه کښی ځاه، چینه، حوض یا والړ وی نو دغه سړی نور خلګ د اوبو څښلو حیواناتو او به ولو، او دس او غسل کولو څخه اود اوبو ورلو څخه د پاره د کالو او لوښو پریولو یا د خپل کور د درختی یا جوړی د اوبولو د پاره د منګی د ډکولو څخه منعه کولای نه سی په دغه کښی د ټولو حق دی مګر که د حیواناتو د ډیروالی د وجهی څخه د اوبو د ختم کیدو یا د ولی یا بل شی د خرابیدو بیره وی نو بیا د منعه کیدو اختیار لری او که ئی په خپله محکه کښی د تګ او راتګ څخه منعه کول غواړی نو بیا کتل کیږی چه د اوبو ورونکی

دبله خایه څخه اوبه په اسانی سره وړای سی (مثلاً یو بل چاه یا بل شی تر یوه میل شرعی نژدی دی اودغه دهیچا په ملکی محکمه کښی هم نه دی) یا دده کار بندیزی او په تکلیفیږی نوکه دده کار دبله خایه څخه کیږی خو خیردی اوکه نه کیږی نو دده څاه ومالک ته به ویل کیږی چه ته ودغه سړی ته راتلو اجازه وکړه چه ددغه څاه یا ولی څخه داوبو ضرورت پوره کړی په شرط ددی چه والله یا بل شی به نه مانوی اوکه اجازه نه ورکوی نو بیا به ورته ویل کیږی چه ددغه سړی دهرڅوندی اوبو ضرورت وی نو نه ئی پخپله ورته راوکاږه یا ئی په مزدور ورته راوکاږه ددغه سړی ته ئی ورکړه مگر خپل فصل یا باغ اوبول بیله اجازی دمالک دنور وخلگو دپاره روانه دی ددغه څخه ئی منعه کولای سی دغه حکم دی د هغو وښو اوشبگنیا چه پخپله شنه کیږی اوهرڅوندی نباتات چه بی تنی وی پوتل دوښو په حکم کښی دی مگر تنه داره درخته دمحکی دخاوند ملک ده۔ (در مختار ص۳۲۳ ج۵)

(۴) مسئله:۔ که یوسړی دبل چا دخایا ولی څخه خپل فصل اوکښت اوباوی اوهغه خایا ولی والا دده څخه داوبو قیمت واخلی نودغه روادی یا نارواوی په دی کښی اختلاف دی د بلخ مشائخو اوعلماؤ درواوالی فتوی ورکړی ده۔ (ردالمحتار ص۴۴۲ پنځم پوک درمختار ص۲۵۸ دوهم پوک فصل الشرب)

(۵) مسئله:۔ ددریاب حوض، څاه اوداسی نورو څخه چه هرڅوک یو لوښی لکه منگی، مشک، ژی (گوډی) یا داسی بل شی داوبو څخه پک کړی نودغه څوک ددغو اوبو مالک گرځی نو ددغو اوبو څخه ددده بیله اجازی استعمالول منعه دی مگر که دتندی څخه بی قراره او ناآرامه سی نو بیا ئی په زور هم څندی اخستل روادی چه داوبو د مالک سره تر خپل سخت حاجت بالا اوبه موجودی وی لیکن ددغو اخیستل سوو اوبو به بدله او قیمت ورکوی. (در المختار وردالمحتار ص۴۴۳ پنځم پوک)

(۶) مسئله:۔ د خلگو د چینلو دپاره چه هرهغه اوبه اینبول سوی وی لکه په گړی کښی چه په منگیانو یا بل شی کښی اوبه په لاره کښی اینبول کیږی په دغو اویو سره غسل او اودس روانه دی لیکن که چیری وی بیا پروا نه لری اوهر هغه اوبه چه داوداسه دپاره اینبول سوی وی نود هغو

او بوخنه چیبنل هم روادی. در مختار ص۲۶۰ اول ټوک باب التیمم)

(۷) مسئله:- که په خانه کښی یوه یاد وی پچی ولویږی او بیرته ثابتی خندی راوخیژی نو خانه مردار یږی که خانه په څنګل او صحرا کښی وی یا په کلی کښی وی یا چار دیواری او د اسی نور پرې راګرزیدلی وی یا نه وی. (رد المحتار ص۲۲۷ اول ټوک)

دپاکی اوناپاکی بعضی مسئلی

(۱) مسئله:- د غوبل اوخرخوګی په وخت کښی چه غوایی پر غله باندی بولی وکړی نو د ضرورت د سبنه څخه معاف دی یعنی غله په دغه سره نه مردار یږی که د دغه وخت څخه ماسیوی په بل وخت کښی بولی پروکړی بیا ناپاکه کیږی حکه چه دغه وخت ضرورت نسته. (شرح التنویر ص۳۳۸ اول ټوک و فتاوی هندیه ص۲۸ اول ټوک)

(۲) مسئله:- کافر چه د خورک دپاره چوچی یا بل شی تیارکړی وی هغه ناپاکه اوخراب نه دی او دغه رنګه لوبنی، کالی او د اسی نور وشیانوته د دوی ناپاک اوخراب نه وایو تر څو چه د دوی ناپاکوالی په یو دلیل یا قرینه (نخبنه) معلوم سوی نه وی (عالمګیری ص۲۳۱ شپږم ټوک)

(۳) مسئله:- بعضی خلګ چه د زمری یا د عنسی بل شی وازګی او چربی استعمالوی او پاک ئی بولی د غه روا نه دی لیکن که د پوه او دیندار طبیب او ډاکټر دا مشوره وی چه د دغه مرض دوا ماسیوی د دغو وازګو او چربی څخه بل هیڅ شی نسته نو په دغسی حال کښی د بعضو علماؤ په نزد روادی لیکن د لمانځه په وخت کښی پاکول ضروری دی. (شرح التنویر ص۲۱۶ اول ټوک)

(۴) مسئله:- دلار وختی اوناپاکه اوبه معاف دی په شرط د دی چه پر جامه یا بدن د نجاست او مردار ی اثر معلوم نه وی فتوی پر دغه باندی ده او احتیاط دادی چه د هرچا چه د بازار سره پیرکار او تګ راتګ نه وی چه د بازار په لار کښی ځی راځی نو د عنسی څوک دی د دغسی اوبو او خټو څخه چه د ده پر جامه یا بدن ولګیږی ځان او جامه پاک کړی که څه هم د ناپاکه اثر نه معلومیږی. (رد المحتار ص۳۳۴ اول ټوک)

۱۳۴۶ سنه د لکهی په علومو کی بولی د تقسیم او جنسی (دایک) قید ملګری سویدی غالباً د امام احمد رح د مذهب سره برابره بیله څه قیده لیکل سویده ګله

(۵) مسئله:- نجاست او مردارې چه وسوځل سې نو دود ئې پاک دی که چیرې دغه دود سره یو ځای کړل سې یوشی خُندی جوړ سی دغه شی پاک دی لکه چه ویل کیږی نشادر دمردارشی دود څخه جوړیږی. (ردالمحتار ص۳۳۵ ج۱)

(۶) مسئله:- پرنجاست او مردارې چه گرځ او غبار وی دغه گرځ او غبار پاک دی په شرط دی چه دمردارې لندوالی نه وی ورسیدلی چه گرځ او غبار ئې لوند کړی وی. (ردالمحتار ص۳۳۴ اول پوک)

(۷) مسئله:- د نجاستو نواو مردارو څخه چه کوم بخارات پورته کیږی هغه پاک دی دمیوو او داسې نورو شیانو چنجیان پاک دی لیکن خوراک ئې روا نه دی که چیرې په دوی کښې روح او ساه راغلی وه او دگوډ میوی او داسې نورو پټولو میوو د چنجیانو دغه حکم دی. (درو ردالمحتار ص۳۳۳ اول پوک و ص۳۶ اول پوک ص۲۹۹ پنځم پوک)

(۸) مسئله:- د خوراک شیان که وراسته او خراب سې او بوی وکړی نو ناپاکه نه دی لکه غوښې، حلوا او داسې نور مگر د تاوان د سببه د دوی خوراک صحیح نه دی. (ردالمحتار ص۳۶ اول پوک)

(۹) مسئله:- مشک او د مشکو ناف[۴۲] د واړه پاک دی او دغه رنگه عنبر او داسې نور هم پاک دی. (درمختار ص۲۳ اول پوک)

(۱۰) مسئله:- دخوب په وخت کښی چه دانسان دخولی څخه او به وزی دغه پاکی دی۔ (عالمگیری ص۲۸ اول پتوک)

(۱۱) مسئله:- دمارغه پوست چه په بدن او غوښو پوری مښتی نه وی بلکه په شان د قمیص وی دغه پوست ئی پاک دی۔ (عالمگیری ص۲۸ اول پتوک)

(۱۲) مسئله:- خرابه سوی هګی چه د حلال حیوان وی پاکه ده په شرط دی چه مانه سوی نه وی (یعنی که د چا په جیب کښی دغسی هګی وه لمونځ ئی ور سره وکړی صحیح دی) بحرالرائق ص۸۹ اول پتوک و هدایة)

(۱۳) مسئله:- په هر غه او بو چه مردار شی پریوول سی نو د غه او به هم مردار ی دی برابره خبره ده که دغه او به د اول وار وی یا د دوهم یا درېیم وار او به وی لیکن په د غو او بو کښی د وندی (دومره) فرق سته که غه او به چه اول وار مردار شی په پریوول سوی دی پریو کالو ولګیږی نو د غه کالی په درو وارو پریوللو سره پاکیږی او که غه او به چه د وهم وار شی په پریوول سوی دی پرکالی ولګیږی نو صرف په دوه واره پریوللو سره پاکیږی او که د درېیم وار او به پرو ولګیږی نو په یو وار پریوللو سره پاکیږی۔ فتاوی عالمگیری ص۲۶ اول پتوک)

(۱۴) مسئله:- په هر غه او بو چه مړی و لمبول سی غه او به مردار ی او نجسی دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۴ اول پتوک رد المحتار ص۲۱۷ ۔ ص۸۹۳ اول پتوک)

(۱۵) مسئله:- دمارغه پوست چه په غوښه پوری مښتی دی مردار دی، لیکن غه بل قمیص شان ته پوست ئی حلال دی لکه چه اوس بیان سو (فتاوی

هندیه ص۳۸ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- د مړه انسان د خولی ناړی مردار دی.(فتاوی هندیه ص۲۰ ج۱)

(۱۷) مسئله:- په یو اسټرۍ کالی او جامه کښی که په یو طرف کی د معافی تر اندازی او مقدار کمه مردار وی لیکن د غه بل مخ ته ئی سرایت او تیری وکړی او هر طرف تر مقدار کم وی لیکن د واړه چه یو ځای سی نزد غه مقدار د معافی پریږی نو کم بلل کیږی او معاف دی لیکن که کالی د وه اسټره وی یا یو کالی پر بل سر پیره وی او تر د غه مقدار د معافی د واړه طرفه زیات سی نو بیا پریږی بلل کیږی معاف نه دی.(رد المحتار ص۳۲۷ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- د شید و لوشلو په وخت کښی که چیری یوه یا دوی پچی په شید و کښی و لویږی یا لږ څه شخاي دیوی یا دوو پچو په اندازه و لویږی نو معاف دی په شرط د دی چه فوراً د لوید و سره خندی راوخیژی (او که د شید و د لوشلو څخه علاوه که په بل وخت کښی پکښی و لویږی. نو بیا مردار یږی) شرح التنویر ص۲۲۷ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- د څلور و یا پنځو کلو د اسی هلک چه په اوداسه نه پوهیږی که چیری اودس وکړی یا لیونی اودس وکړی نو د غه اوبه نه مستعملیږی (فتاوی هندیه ص۱۵ اول ټوک بحر الرائق ص۹۱ اول ټوک)

(۲۰) مسئله:- پاک کالی، لوښی او د غه رنګه نور پاک شیان چه په کومو اوبو پریوللو سی په د غو اوبو سره اودس او غسل کول روادی په شرط د دی چه اوبه خپله اوسختی نه سی او د څلګو په محاوره اوخبر وکښی و د وی ته ماء مطلق یعنی خالص اوبه ویل کیږی او که لوښی اوبل شی د خوړک یا چښلو په شی سره ککړ وی د غه اوبه چه د غه لوښی او نور شیان په پریوللو سوی دی هلته اودس او غسل په روادی چه د د غو اوبو د (۳/۱) وصفتونو څخه دوه صفته پاته وی او یو صفت ئی بدل سوی وی او که ئی دوه صفتونه بدل سی بیا غسل او اودس په روانه دی.(شرح التنویر و رد المحتار ص۲۰۵ اول ټوک و ص۱۸۷ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- د استعمال سوو اوبو چښلو او د خوړک په شی کښی استعمالول مکروه دی اودس و غسل په روانه دی لیکن په د غسی اوبو سره مردار ی پری منځل روادی (شرح

التنویر صـ۲۰۷ بحرالرائق صـ۹۲ اول توک)

۲۲ مسئله:- د زم زم په اوبو سره بی اودسه باید اودس ونه کړی اود غه رنگه هغه څوک چه د غسل کولو ضرورت د پلیښی سوی وی د زم زم په اوبو سره دی غسل نه کوی د ناپاکو شیانو پریول او استنجا په کول مکروه دی لیکن که مجبوری وی او به تر بوه میل نژدی نه پیدا کیږی او ضروری طهارت او پاکی بل قسم هم نه حاصلیږی بیا د اودس، غسل د ناپاکو شیانو پریولل او استنجا په کول د غه ټول د زم زم په اوبو سره روا دی. (طحطاوی صـ۱۳ منیه صـ۱۴)

۲۳ مسئله:- چه د بنځی د اودس یا غسل څخه او به پاته سوی وی په دغو اوبو سره باید سړی غسل او اودس ونه کړی که څه هم زمونږ پر مذهب په دغو اوبو سره اودس او نور څه روا دی مګر د امام احمدؒ په نزد روا نه دی او د اختلاف څخه ځان ساتل ښه کار دی. (شرح التنویر صـ۱۳۸ اول توک)

(۲۴) مسئله:- پر هر هغه ځایونو چه د خدای تعالی عذاب پریوقوم راغلی وی لکه د ثمود او عاد قومونه د دغسی ځایونو په اوبو غسل او اودس کول په کار نه دی په مثال د پورتنی مسئلی په دی مسئله کښی هم اختلاف دی مګر دلته هم د اختلاف څخه ځان ساتل غوره دی او د مجبوری په وخت کښی د دغو اوبو هم هغه حکم دی کوم چه د زم زم د اوبو دی. (رد المحتار صـ۱۳۸ اول توک)

(۲۵) مسئله:- تنور که ناپاکه سی نو چه اور پکښی بل سی پاکیږی په شرط د دی چه ورو سته تر ګرمید و د مرداری څخه هیڅ اثر پاته نه سی. (رد المحتار صـ۳۲۵ اول توک)

(۲۶) مسئله:- پر ناپاکه مځکه که خاوری یا بل شی واچول سی چه مرداری پټه کړل سی دا رنګه چه د مرداری بدبوئی نه راوزی نو د خاورو لوړه حصه پاکه ده. (مراقی الفلاح)

(۲۷) مسئله:- که د ناپاکو تیلو یا غوړو څخه صابن جوړ کړل سی پاکیږی (رد المحتار صـ۳۲۵ اول توک)

(۲۸) مسئله:- د رګ وهلو او وینی کښلو ځای یا بو بل اندام چه د وینی یا نورو

په وتلو سره خراب سوی وی او پریبول ئې تاوان کوی نو صرف په لاندې توکر سره د دغه ځای صفا کول وچوول کافی دی او وروسته ترښه کید و هم د دغه ځای پریبول ضروری نه دی - (فتاوی هندیه ص۲۷ اول توک)

(۲۹) مسئله:- که بدن یا جامه یا وریښتان په ناپاکه رنګ سره ورنګیږی نو فقط دومره قدر پریبول چه اوبه ئې صافی سی کافی دی که څه هم رنګ لیږی سوی نه وی - (شرح المنیر ص۳۳۹ اول توک)

(۳۰) مسئله:- که مات غابن چه پری سوی او جلا سوی وی بیرته پرځپل ځای کښیښوول سی په یوشی سره ومښلول سی برابره خبره ده که په پاک شی سره ومښلول سی یا په ناپاک شی سره دغه رنګه که یو هډ مات سی پر ځای ئې یو مردار هډ کښیښوول سی یا یو زخم په یو ناپاکه شی ډک سی او دغه ځایونه بنه سی نو د دغو شیانو راکښل نه دی په کار بلکه دغه شیان خپله پاکیږی - (ردالمحتار ص۳۴۱ اول توک و ص۲۱۳ اول توک)

(۳۱) مسئله:- داسی ناپاک شی چه غوړ والی ولری لکه تیل، غوړی، د مردار شی غوړ څکی او چربی که یوشی په ککړ سی او دوندی قدر پریبول سی چه اوبه ئې صافی سی نو پاکیږی که څه هم د دغه ناپاکه شی غوړ والی پاته وی (شرح المنیر ص۳۳۹ اول توک)

(۳۲) مسئله:- ناپاکه شی په اوبو کښی ولویدی چه په لویدو سره ئې پر یوشی باندی څاڅکی وروغوړ څیدل نو دغه څاڅکی پاک دی په شرط دی چه په دغو څاڅکو کښی د نجاست هیڅ اثر نه وی - غنیه ص۱۸۷ ردالمحتار ص۳۵۸ ج۱

(۳۳) مسئله:- غبرګه جامه او توکر یا د پنبه جامه که چیری ئې یو مخ مردار سی او بل جانب او مخ ئې پاک وی نو توله مردار سره او ناپاکه بلل کیږی - لمونځ کول پرې روا نه دی په شرط دی چه د ناپاک جانب او مخ ناپاکه حصه د لمونځ کونکی د ستر یا سجدی کولو ځای وی او دغه غبرګه جامه یو د بله سره ګنډلی وی او که ګنډلی نه وی نو بیا دیوی ناپاکی څخه دغه بله نه ناپاکه کیږی بلکه پر دغه بله لمونځ روا دی په شرط دی چه دغه لوړه جامه دوندې پنډه وی چه تر دغه لوړی جامی به دلاندی جامی او توکر د مردار ی بوی او رنګ نه

(۱) غبرګه جامه او توکر یا د پنبه جامه که چیری ئې یو مخ مردار سی او بل جانب او مخ ئې پاک وی نو توله مردار سره او ناپاکه بلل کیږی - لمونځ کول پرې روا نه دی په شرط دی چه د ناپاک جانب او مخ ناپاکه حصه د لمونځ کونکی د ستر یا سجدی کولو ځای وی او دغه غبرګه جامه یو د بله سره ګنډلی وی او که ګنډلی نه وی نو بیا دیوی ناپاکی څخه دغه بله نه ناپاکه کیږی بلکه پر دغه بله لمونځ روا دی په شرط دی چه دغه لوړه جامه دوندې پنډه وی چه تر دغه لوړی جامی به دلاندی

معلومیږی. (منیه ص۷۵)

(۳۴) مسئله:- چرگی یا بل مرغه او پرنده ته چه مخکی ترتس خیرلو او کولمو او داسی نورو شیانو ژرا ایستلو څخه په ایشید لو او بو کښی جوش ورکړه سی لکه نن سبا چه د انگریزانو او د انگریز پوله مسلمانانو طریقه ده نو د غه چرگ یا بل مرغه په دغسی طریقه سره مردار یږی په هیڅ طریقه سره حلال نه پاکیږی. (رد المحتار ص۳۴۵ اول ټوک)

(۳۵) مسئله:- د سپوږمۍ یا لمر وخواته دوړو یا غټو بولو په وخت کښی مخ یا شاګر زول مکروه دی - د ولې، حوض یا د غسی بل شی پر غاړه د وړې یا غټې بولی کول مکروه دی که څه هم مردار ی نه پکښی لویږی د غه رنګه نږدی د رختی لاندی چه خلګ ئی ترسایه لاندی کښینی بولی کول مکروه دی یا نږدی میوه دار ی د رختی لاندی حاجت کول یا په پیتاوی او لمر څریکی کښی حاجت کول چه دیخ په موسم کښی خلګ ورته کښینی د غه رنګه - د حیوانانو په ماښین کښی او مسجد او عید ګاه ته د وندی نږدی حاجت کول چه د بدبوئي څخه ئی لمونځ کوونکو ته تکلیف رسیږی. په قبرستان او هدیره کښی یا په داسی ځای کښی چه هلته خلګ اودس یا غسل کوی په لار کښی او بادته مخامخ بولی او حاجت کول، په غار کښی بولی کول و لار یا قافلی یا مجلس ته نږدی بولی کول حاجت کول مکروه تحریمی دی.

حاصل د خبری دا دی چه داسی ځای چه هلته د خلګو ناسته او و لاړه وی و د وی ته تکلیف ځندی پیښیږی او داسی ځای چه هلته نجاست او مردار ی د د ه وخواته بیرته. (بهیږی حاجت کول مکروه دی - (رد المحتار ص۳۵۳ و ص۳۵۴ لومړی ټوک)

دوړو او غټو بولو په وخت کښی چه د کومو شیانو څخه ځان ساتل په کار دی هغه دادی

خبری کول بیله ضرورته نوخ و هل، د یو آیت یا حدیث یا یو بل برکتناکه شی ویل - داسی شی چه پر هغه د خدای جل شانه، یا نبی صلی الله علیه وآله وسلم

ملائکی (فرشتی) یا دیو بزرګ نوم لیکلی وی یا یوایت، حدیث یا دعا باندی لیکلی وی د خپله ځانه سره ایښوول مګر که د غسی شی په جیب کښی وی یا تعویذ په توکر یا بل شی کښی ګنډلی یا پیچلی وی بیا مکروه نه دی بیله ضرورته په پروته یا ولاړه سره وړی یا غټی بولی کول یا ټول کالی کښل په لغړتیا سره وړی بولی کول یا غټی بولی کول په راسته لاس سره استنجا وهل - د دغو ټولو شیانو څخه ځان ساتل په کار دی. (شرح التنویر ص۲۵۵ ج۱ غنیه ص۵۸)

هغه شیان چه استنجا وهل په روانه دی

هډوکی، د خوړک شیان، شخاپی او هرنا پاکه شی، هغه لوښه یا ډبره چه یو وار استنجا په سوی وی، پخه خښته، کودرکی، سیمنه، سکاره کوله، اهاک، سپین زر، سره زر او داسی نور - (ق) په داسی شیانو استنجا کول چه مرداری پاکولای نه سی لکه سرکه او داسی نور هغه شیان چه حیوانات او داسی نور شیان ئی خوری لکه پروپه واښه او داسی نور - او داسی نور شیان چه قیمت لرونکی وی که د لږ قیمت وی که د ډیر قیمت وی - لکه ټوکر، عرق او داسی نور د انسان اجزاء، او شیان لکه ورینبتان هډوکی، غوښی او داسی نور - د مسجد انو بوریا، بهان، جارو او داسی نور - د درختو پانې، کاغذ که خط پرلیکلی وی یا نه وی - د زم زم اوبه د بل دمال څخه بیله د ده د اجازت او خوښی برابره خبره ده که هغه اوبه وی یا ټوکر وی یا بوبل شی وی - پنبه او ټول د غسی شیان چه انسان یا د انسانانو حیوانات فایده ځندی اخلی په دغو ټولو شیانو سره استنجا کول مکروه ده - (رد المحتار - شرح التنویر ص۲۱۵ لومړی ټوک

هغه شیان چه استنجا بیله مکروه والی په روا ده

اوبه، لوښه، ډبره، خاورې، بې قیمته ټوکر او ټول هغه شیان چه پاک وی - او مرداری لیږی کولای سی په شرط د دی چه مال او عزتمند شیان نه وی (شرح التنویر ص۲۴۸ اول ټوک)

(۱) مسئله:- بزیره دی خلال کړی لیکن تر دری واړه مخ پریمینځلو وروسته دی خلال کړی او تر دریمی واړه زیات دی بزیره نه خلالوی - (شرح التنویر صـ۱۲۱ اول پټوک)

(۲) مسئله:- هرهغه ځای چه د بارخوا وغوږ په مابین کښی دی پریوللو ځُ فرض دی که پرهغه ځای بزیره وی اوکه نه وی - (شرح التنویر صـ۱۰۰ ج ۱)

(۳) مسئله:- د زنی پریوللو فرض دی په شرط د دی چه وریښتان باندی نه وی یا وریښتان باندی وی لیکن دوندی لږ وی چه د زنی پوست څندی معلومیږی - (شرح التنویر صـ۱۰۴ اول پټوک) در مختار صـ۱۰۱ اول پټوک)

(۴) مسئله:- تر شونډانو بندید و دروسته چه کومی حصی د شونډانو بنکاره کیږی د دغو حصو پریوللو فرض دی - (شرح التنویر صـ۱۰۴ ج ۱ در مختار صـ۱۰۱ ج ۱)

(۵) مسئله:- بزیره، بریت یا ورځُ که دوندی گنډی وی چه لاندی پوست ځُ نه معلومیږی نو د دغه پوست پریوللو چه په دوی سره پټ دی فرض نه دی بلکه د دغه وریښتان د پوست پرځای د ریږی پرد غو وریښتانو باندی او به بهول کافی دی - (شرح التنویر صـ۱۰۴ اول پټوک در مختار صـ۱۰۱ اول پټوک)

(۶) مسئله:- ورځُ، بزیره یا بریتونه که دوندی گنډ وی چه تر دوی لاندی پوست په پټ وی نه معلومیږی نو په دغسی صورت کی د دوندو وریښتانو پریوللو واجب دی چه د مخ په حد کښی د ننه او داخل دی - او نور هغه وریښتان چه د مخ تر حد باندی وتلی وی د هغو پریوللو واجب نه دی - (شرح التنویر صـ۱۰۴ اول پټوک در مختار صـ۱۰۱ اول پټوک)

(۷) مسئله:- که د چا غټو بولو د ځای یو حصه او جز د باندی راووزی نو اودس ځُ ماتیږی برابره خبره ده که دغه جزا وحصه خپله د ننه ولاړه وی یا دیو پټوکر، لرگی، لاس یا بل شی په واسطه د ننه کړل سی - (ردالمحتار صـ۱۵۵ لومړی پټوک)

(۸) مسئله:- منی که بیله خوند او شهوت څخه راووتل نو اودس په ماتیږی مثلاً یو چا در وند شی پورته کړی یا تریو لوپ ځای را ایله سو او د دغه تکلیف په وجه منی ووتل چه شهوت ورسره نه وو - (فتاوی هندیه صـ۶ اول پټوک)

(۹) مسئله:- که د چا وحواسو او عقل نه تاوان ورسیږی لیکن لیونتوب او بیهوښی ځندی پیدا نه سی نو اودس نه په ماتیږی - (طحطاوی ص۵۰)

(۱۰) مسئله:- که یو څوک په لمانځه کښی بیده سی او په بیدو اوخوب کښی په زوره سره وخاندی نو اودس ئی نه ماتیږی - (فتاوی هندیه ص۸ لومړی پتوک)

(۱۱) مسئله:- د جنازی په لمانځه او سجدهٔ تلاوت کښی که څوک قهقهه یعنی په زوره سره وخاندی نو اودس ئی نه ماتیږی برابره خبره ده که بالغ وی که بالغ نه وی. (فتاوی هندیه ص۸ او ردالمحتار ص۱۵۶ اول پتوک)

پرموزو د مسحی کولو بیان

(۱) مسئله:- پربوټو مسحه روا ده په شرط د دی چه پوره پښی، سره د بجلکو پټی کړی او د بوټو چاکونه په تسمو او تنیو دا رنګه بند وی چه پښه دوندی قدر نه معلومیږی چه مسحه په منعه کیږی - (شرح التنویر ص۲۶۹ لومړی پتوک)

(۲) مسئله:- که یو چا د تیمم په حالت کښی موزی په پښو کړی وی نو هر وخت چه اودس کوی نو پردغو موزو مسحه نه سی کولای د دی سببه چه تیمم طهارت کامله یعنی پوره پاکی نه ده برابره ده که د غه تیمم فقط د غسل د پاره وی یا د اودا سه او غسل دواړو د پاره وی یا فقط د اودا سه د پاره وی - فتاوی هندیه ص۸ ردالمحتار ص۱۵۶ اول پتوک)

(۳) مسئله:- د غسل کونکی د پاره مسحه کول روا نه ده برابره خبره ده که غسل فرض وی یا سنت وی مثلاً غسل په دا سی طریقه سره وکړی چه پښی پرلوړ ځای کښیږدی خپله کښینی د پښو څخه ماسیوی نو ر پتول بدن پریولی تر د غه وروسته پر پښو مسحه وکړی نو د غه مسحه کول روا نه ده - (طحطاوی ص۶۹ ردالمحتار ص۲۷۴ اول پتوک)

(۴) مسئله:- د معذور اودس لکه چه د لمانځه د وخت په تیریدو سره ماتیږی - د غه رنګه د د غه معذور مسحه هم د وخت په تیریدو سره باطلیږی - د ده د پاره د موزو کښل او د پښو پریولل واجب دی لیکن که د ده مرض دا اودس کولو او موزو په پښو کولو په وخت کی نه

وی نو دی هم په شان د رد و غوخلگو بلل کیږی۔ (شرح التنویر ص۲۷ اول پوک)

(۵) مسئله:۔ که د پښی اکثره حصه په یو طریقه سره لنده سوه په دغه صورت کښی د موزو کښل د پښو پریولل واجب دی۔ (رد المحتار ص۲۸۵ لومړی پوک۔ طحطاوی ص۷۲)

د حدث اصغر یعنی د وړی بی اودسی په وخت کښی حکمونه

(۱) د قرآن مجید او سیپاره پتول کاغذ مسحه کول مکروه تحریمی دی که هغه ځای مسحه کړی چه آیت پرلیکل سوی وی نو هم مکروه تحریمی دی اوکه هغه ځای مسحه کړی چه آیت پرلیکل سوی نه وی هم مکروه تحریمی دی اوکه چیری پوره قرآن شریف نه وی بلکه پریوکاغذ، پتوکر، پوست (څرمن) او داسی بل شی باندی د قرآن شریف یو پوره آیت لیکل سوی وی او نوره پاته برخه د دغه کاغذ، پتوکر، څرمنی یا بل شی خالی پاته وی شی پرلیکلی نه وی. نو د دغه خالی ځای مسحه کول روا دی په دی شرط چه پرآیت ئی لاس نه ولګیږی۔ (بحر الرائق ص۲۰۱ لومړی پوک)

(۲) مسئله:۔ د قرآن شریف لیکل مکروه نه دی په شرط د دی چه د لیکل سوی قرآن سره ئی لاس ونه مښلی که څه هم د خالی ځای سره ئی لاس مښلی مګر د

امام محمد رح په نزد د خالی خای مسحه کیدل هم روانه ده او دغه پیره د احتیاط خبره ده اول قول د امام ابی یوسف رح دی او دغه اختلاف په مخکی مسئله کښی هم دی او دغه حکم هغه وخت دی چه د قرآن شریف او سپیارو څخه ماسیوای پرکاغذ، پتوکر یا بل شی باندی یو آیت لیکل سوی وی او د دغه کاغذ یا بل شی یو څه حصه خالی هم وی۔ (عنیه ص۵۶)

(۳) مسئله:۔ تر یوه آیت کم لیکل مکروه نه دی په دی شرط چه په کتاب یا بل شی کښی لیکی او په قرآن شریف کښی تر یوه آیت کم لیکل هم روا نه دی (فتاوی هندیه ص۶۴ اول پتوک ردالمحتار ص۲۷۹ اول پتوک)

(۴) مسئله:۔ نابالغه کوچنیانو ته د بی اودسی په وخت کښی قرآن شریف ورکول او مسحه کول هم مکروه نه دی۔ (فتاوی هندیه ص۲۴ اول پتوک)

(۵) مسئله:۔ د قرآن شریف څخه ماسیوای نور اسمانی کتابونه لکه توریت، انجیل، زبور او داسی نور د بی اودسی په وخت کښی صرف هغه خایونه مسحه کول مکروه دی (د غه حکم د هغه اصلی کتابودی چه اوس ئی په دنیا کښی وجود نشته او اوس چه د چا سره سته د هغوی ترجمی ئی ورغلطی کړی دی نو د دغو موجوده کتابو مسحه کول بیله اوداسه روا دی) چه پرهغو خایونو لیکل سوی وی د خالی خای مسحه کول ئی مکروه نه دی او دغه حکم د قرآن شریف د منسوخ التلاوت آیتونو دی (یعنی هغه ایاتونه چه قرأت او ویل ئی اوس نه کیږی) ردالمحتار ص۲۷۹ لومړی پتوک۔

(۶) مسئله:۔ تر اودس کولو وروسته که دیوانداد په بارکښی د نه پریږلو شک وی لیکن هغه اندام معلوم نه وی نو په د غسی صورت کښی د شک لیږی کولو دپاره دی چپه پښه پریږلی د غه رنګه که داوداسه په مابین کی دیوانداد په بارکی شک وی چه پریږلی به می نه وی نو په د غسی حال کښی د اخیری اندام پریږلی مثلاً ترخینګلو پورې د لاس پریږلو وروسته د غه شک ورپیښ سو نو دی مخ پریږلی او که د پښو پریږلو په وخت کښی د غه شک ورپیښ سو نو ترخینګلی پورې دی لاس پریږلی د غه حکم هغه وخت دی چه یو وخت وخت شک ورپیښیږی او که یو چاته اکثره وخت د غه شک ورپیښیږی د د ه دپاره په کار ده چه د غه شک نه اعتبار

ورنه کړی اوخپل اودس پوره وبولی۔(رد المحتار ص۱۵۵ لومړی ټوک)

(۱) مسئله:۔د مسجد پر فرش اودس کول صحیح نه دی لیکن که دا رنګه اودس وکړی چه داوداسه اوبه په مسجد کښی ونه لویږی بیا روادی په دغه کښی اکثره ځایونه بی احتیاطی کیږی چه اودس پر د غسی ځای کیږی چه داوداسه اوبه د مسجد پر فرش هم لویږی۔(شرح التنویر ورد المحتار ص۶۹۱ ج۱)

د غسل بیان

(۱) مسئله:۔داوی بی اودسی څخه د پاکیدو د پاره غسل فرض دی اود لوی بی اودسی د پیداکیدو څلور سببونه دی اول سبب وتل د منی دی۔ یعنی د منیو د خپل ځای څخه په شهوت اوخوند سره جلا کیدل د بدن څخه د باندی راوتل برابره خبره ده که په خوب کښی وی یا په ویښه کښی وی یا په وخت د بی هوښی کښی وی یا په وخت د هوښ کښی وی که په وخت د نزدیکت کښی وی یا بیله نزدیکته وی مثلاً دیو خیال او فکر د وجهی وی یا وخپل خاص اندام ته د حرکت ورکولو په وجه سره وی یا په یو بله طریقه سره وی۔(فتاوی هندیه ص۹ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:۔که منی د خپله ځایه څخه په شهوت اوخوند سره جلا سوه مګر د خاص اندام څخه د وتلو په وخت کښی خوند نه وو بیا هم غسل کول فرض کیږی مثلاً منی د خپله ځایه څخه په شهوت سره جلا سوه مګر د خاص اندام سوری ئی په لاس سره بند کړی یا ئی پنبه یا بل شی پکښی کښیښوو ی لږ ګړی وروسته چه شهوت ختم سو نو د ه د خاص حصی د سوری څخه لاس یا پنبه لیری کړه او منی بیله شهوته راووتل بیا هم غسل پر فرض کیږی۔(فتاوی هندیه ص۹ ج۱)

(۳) مسئله:۔که د چا د خاص اندام څخه یوځه منی ووتل او ده غسل وکړی تر غسل کولو وروسته بیا یوځه منی بی شهوته ووتل نو په دغه صورت کښی اول غسل باطلیږی دوهم واړه بیر ته غسل کول فرض دی په شرط د دی چه دغه پاته منی تر بیدید و یا بولو کولو یاد څلویښتو قدمو یا تر څلویښت زیاتو قدمو اخستلو مخکی ووزی مګر که ئی د دغو پاتو منیو د راوتلو څخه مخکی لمونځ کړی وو نو دغه لمونځ ئی صحیح دی راګرزول ئی لازم نه دی۔

(فتاوی هندیه ص۹ لومړی ټوک ردالمحتار، ص۱۶۶ لومړی ټوک)

(۴) مسئله:- که دچا د خاص اندام څخه ورو سته تر بولو منی و وزی نو نو پرده باندی هم غسل کول فرض دی په شرط دی چه په خوند او شهوت سره وی۔ (فتاوی هندیه ص۹ لومړی ټوک)

(۵) مسئله:- که یو سړی یا ښځی پر خپل بدن یا جامه تر بید بد و ورو سته لند والی ولیدی نو په دغه کښی د پیر صورتونه دی چه دد وی د جملی څخه په اته صورتو نو کښی غسل فرض دی (۱) یقین یا گمان ئی غالبه سی چه دا منی دی او احتلام یعنی شیطان خطا! یستال ئی په یاد وی (۲) یقین ئی سی چه دا منی دی او احتلام ئی په یاد نه وی (۳) یقین ئی سی چه دغه مذی دی او احتلام ئی یاد وی (۴) شک ئی وی چه دغه مذی دی اوکه منی دی او احتلام ئی یاد وی (۵) شک ئی سی چه دغه منی دی اوکه ودی دی او احتلام ئی یاد وی (۶) شک ئی وی چه دغه مذی دی اوکه ودی دی او احتلام ئی یاد وی (۷) شک ئی وی چه دغه منی دی یا مذی دی یا ودی دی او احتلام ئی یاد وی (۸) شک ئی وی چه دغه منی دی یا مذی دی۔ او احتلام ئی یاد نه وی۔ (ردالمحتار ص۱۶۸ لومړی ټوک غنیه ص۴۱)

(۶) مسئله:- که یو څوک سنت سوی نه وی او د ده منی د خاص اندام د سوری څخه د باندی راووزی لیکن په هغه پوست کښی د ننه پاته سی چه د سنت کید و په وخت کښی پری کیږی نو پرده غسل واجبیږی که څه هم دغه منی د دغه پوست څخه د باندی ونه وزی۔ (بحرالرائق ص۵۸ ج۱)

دوهم سبب:- ایلاج دی یعنی دیو شهوت دار ه سړی د خاص اندام سړ د یو څرونډی ښځی په خاص اندام کښی یا دیو څرونډی انسان د شا په خوا کښی۔ داخیلیدل برابره خبره ده که دغه انسان نر وی یا ښځه وی یا نر ښځی وی او که انزال سی یا نه سی نو په دغه صورت کښی که په دواړو کښی د غسل د صحیح کید و شرطونه موجود وی یعنی دواړه بالغان وی نو پر دواړو غسل واجبیږی اوکه دواړه بالغان نه وی نو هر یو چه په دو ی کښی بالغ وی پر هغه غسل واجبیږی۔ (شرح التنویر ص۱۶۷ اول ټوک)

(۷) مسئله:- که انجیلی کوچنی وی مگر دوندی کوچنی نه وی چه د دی

---

۵۸ شامی پرده ای کی پر عدم وجوب د غسل اتفاق نقل کړیدی لیکن په کبیری کی پر وجوب د غسل اجماع لیکی سویده نو د دی وجه ده چه مونږ احتیاط د کبیری قول را نقل کړیدی ۱۲۵۹ ه ش

سره د نزدیکت په وجه د دی د دوو (۲) ولارو د گډ ید و بیره وی نو د دی په خاص اندام کښی د سړی د خاص اندام د سر د داخلید و په سبب پر سړی غسل واجبیږی که چیری د غه سړی بالغ وی۔ (شرح التنویر ص۱۶۷ اول ټوک)

(۸) مسئله:۔ د هغه چا چه خایی پری سوی وی د ده د خاص اندام سر کچیری دیوچا د شا په خوا یا دیو بنځی د مخ په خوا کښی داخل سی نو پر دواړو باندی غسل فرض کیږی که چیری دواړه بالغان وی که دواړه بالغان نه وی پر هغه فرض کیږی چه بالغ وی۔ (فتاوی قاضی خان ص۵۳ اول جلد)

(۹) مسئله:۔ که د سړی د خاص اندام سر پری سوی وی نو د ده د باقی اوپاته اندام څخه د غه مقدار معتبر یږی یعنی که د پاته اندام څخه په قدر د سر د ذکر داخل سو نو غسل واجبیږی او که په قدر د سر د ذکر نه وو داخل یا غسل نه واجبیږی۔ (قاضی خان ص۵۳ اول ټوک۔

(۱۰) مسئله:۔ که د یو سړی خپل خاص اندام په یو ټوکر یا بل شی کښی و پیچی او داخل ئی کړی د بل انسان د شا یا د مخ په خوا کښی او ده ته دا محسوسه سوه چه زما ذکر ته د د غه بل انسان گرمایی راورسیږی نو غسل پر فرض کیږی۔ مگر احتیاط دادی که د د غه بل انسان د صورت گرمایی وړ معلومیږی او که نه وړ معلومیږی پر ده غسل کول فرض دی۔ (بحرالرائق ص۶۰ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ که یو بنځه د شهوت د غلبی په وجه په خپل خاص اندام کښی د بی شهوته انسان یا د یو حیوان خاص اندام یا یو لرگی یا خپله گوته یا بل شی داخل کړی بیا هم پر دی غسل واجبیږی که انزال سی که نه سی مگر دا رایه د شارح د منیه ده او په اصل مذهب کښی بیله انزاله غسل نه واجبیږی (در مختار و رد المحتار ص۱۷۱ اول ټوک)

دریم سبب دادی چه بنځه د حیض څخه پاکه سی۔ (شرح التنویر ص۱۷۰ ج۱)

څلورم سبب د غسل د فرض کید و دادی چه بنځه د نفاس څخه پاکه سی۔ (شرح التنویر ص۱۷۰ لومړی ټوک)

د حیض او نفاس مسئلی په اصلی بهشتی زیور کښی
بیان سوی دی باید دا اصلی بهشتی زیور
دوهمه حصه وکتل سی۔

دهغو صورتونو بیان چه غسل نه پکښی فرض کیږی

(۱) مسئله:- منی که د خپل ځای څخه په شهوت او خوند سره جلا نه سی نو که څه هم د خاص ځای څخه د باندی راووزی بیا هم غسل نه فرض کیږی مثلاً یو چا یو د رونده شی پورته کړی یا د یولوړ ځای څخه را ایله سو یا یو چا دی وواهی نو د غه تکلیف د وجهی څخه ئ منی بیله شهوته را وو تل نو غسل نه فرض کیږی - (رد المحتار ص۶۵ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:- که یو سړی د یو کوچنی انجیلی سره جماع او نزدیکت وکړی نو غسل نه پر فرض کیږی په دی شرط چه انزال نه سی او د غه انجیلی د ونده کوچنۍ وی چه د جماع او نزدیکت په صورت کښی ئ د مخ او د شادلاری دگه ښه وبیره وی - (شرح التنویر ص۱۷۱ اول ټوک)

(۳) مسئله:- که یو سړی پر خپل ذکر ټوکر وپیچی جماع او نزدیکت ئ وکړی نو غسل نه پر فرض کیږی په شرط د دی چه ټوکر د وندی پنډ وی چه د بدن حرارت او گرمایش او د نزدیکت خوند د د غه ټوکر په وجه نه محسوس اونه معلومیږی مگر احتیاط په دی کښی دا دی چه د ذکر سر پټ سی غسل واجیږی (شرح التنویر ص۱۷۰ اول ټوک)

(۴) مسئله:- که یو سړی د خپل خاص اندام د وندی قدر حصه داخله کړه چه د ذکر تر سره کمه وی بیا هم غسل نه پر فرض کیږی - (شرح التنویر ص۱۷۰)

(۵) مسئله:- د مذی او ودی په وتلو سره غسل نه فرض کیږی - (شرح البدایة ص۳۸ لومړی ټوک)

(۶) مسئله:- چه حیض نه وی بلکه مرض وی په د غه ډینه سره د مرض غسل نه واجیږی - (فتاوی هندیه ص۲۴ لومړی ټوک)

(۷) مسئله:- که څوک د جریان مرض لری نو په جریان سره پرده غسل نه واجیږی - (رد المحتار ص۶۵ لومړی ټوک)

(۸) مسئله:- د خوب څخه تر را پورته کیدو د ر وسته که ئ پرکالو لند والی ولیدی نو په د غو څو صورتونو کښی غسل نه فرض کیږی (۱) یقین ئ سی چه د غه مذی دی او احتلام یعنی شیطان خطا ایستل ئ یاد نه وی (۲) شک

ئ وی چه دغه منی دی که ودی دی او احتلام ئ یاد نه وی (۳) شک ئ
وی چه دغه مذی دی یا ودی دی او احتلام ئ یاد نه وی (۴) او (۵) یقین
ئ وی چه دا ودی دی او احتلام ئ یاد وی یا نه وی (۶) شک ئ وی چه دغه
منی دی یا مذی دی یا ودی دی او احتلام ئ یاد نه وی. لیکن په اول،
دوهم او شپږم صورت کښی احتیاطًا غسل کول واجب دی که غسل نه کوی
نو لمونځ ئ نه صحیح کیږی او سخته گناه لری حکه چه په دغه کښی د
امام ابو یوسف او طرفینو یعنی امام ابی حنیفه او امام محمد اختلاف دی امام
ابی یوسف رح غسل واجب نه دی بللی او طرفینو واجب بللی دی او فتوی د
طرفینو پر قول را غلی ده - (رد المحتار ص۱۶۸ لومړی پټوک)

(۹) مسئله:- په اښاله کولو سره چه د شا په خوا کښی داخلیږی غسل نه
فرض کیږی. (مراقی الفلاح ص۵۵)

(۱۰) مسئله:- که یو سړی خپل خاص اندام د یو سنځی یا نر د نامه په غوټی کښی
داخل کړی او منی ونه وزی نو پرده غسل نه فرض کیږی - (در مختار ص۳۱ ج۱
فتاوی هندیه مصری ص۱۵ لومړی پټوک)

(۱۱) مسئله:- که یو څوک په خوب کښی داسی وینی چه انزال سوم او دانزالیدو
خوند ئ هم په یاد وی مگر پرکالو ئ لند والی یا یو بله علامه او اثر نه معلومیږی
نو غسل نه پر فرض کیږی - (فتاوی هندیه ص۹ اول پټوک وشرح التنویر
ص۱۷۰ لومړی پټوک)

هغه صورتونه چه غسل پکښی واجب دی

(۱) مسئله:- که یو کافر اسلام راوړی او په حال د کفر کښی وده نه لویه
ئ او دسی وړ پیښه سوی وی او دی لمبیدلی نه وی یا لمبیدلی وی مگر
شرعًا دغه غسل صحیح سوی نه وی نو پرده وروسته تر اسلام راوړلو
غسل واجب دی - (شرح التنویر ص۱۷۳ اول پټوک)

(۲) که یو څوک تر پنځلسو کلو مخکی بالغ سی او دده اول احتلام وی نو پر
ده احتیاطاً غسل واجب دی او تر دغه وروسته چه کوم احتلام وی - یا د
پنځلسو کلو تر عمر وروسته احتلام وړ پیښ سی نو پرده غسل فرض دی -

غنیه ص۴۴۴ و شرح التنویر ص۱۷۳ لومړی ټوک)

(۲) مسلمان مړی لمبول پر مسلمانانو فرض کفایي دی (فرض کفایي دا مطلب دی چه یو څوک دغه کار وکړی د نورو پاته مسلمانانو غاړې په خلاصیږی. (در مختار ص۶۳ لومړی ټوک)

هغه صورتونه چه غسل پکښی سنت دی

(۱) د جمعې په ورځ د سهار تر لمانځه وروسته د جمعې تر لمانځه پورې په دغه مابین کښی د هغو خلګو د پاره غسل کول سنت دی چه پر هغوی باندی د جمعې لمونځ واجب دی. (رد المحتار ص۱۷۳ اول ټوک و بحرالرائق ص۶۳ ج ۱)

(۲) د اختر و په ورځ وروسته تر سهار د هغو خلګو د پاره غسل کول سنت دی چه پرده وی د اختر و لمونځ واجب دی. (پورتنی حواله)

(۳) د حج یا عمرې د احرام د پاره غسل کول سنت دی. (رد المحتار ص۱۷۴ اول ټوک و بحرالرائق ص۶۳ اول ټوک)

(۴) د حج کونکی د پاره د عرفات په ورځ تر زوال وروسته غسل کول سنت دی. (رد المحتار ص۱۷۴ اول ټوک و بحرالرائق ص۶۳ اول ټوک)

هغه صورتونه چه غسل پکښی مستحب او ښه کار دی

(۱) د اسلام راوړلو د پاره غسل کول مستحب او ښه کار دی که چیرې د لوی (غټې) بې ادبۍ څخه پاک وی. (فتاوی هندیه ص۱ اول ټوک)

(۲) نر یا ښځه چه هر وخت د پنځلسو کلو عمر ته ورسیږی او تر دغه وخته پورې هیڅ علامه د حوانۍ په دوی کښی نه وی نو د دوی د پاره غسل کول مستحب او ښه کار دی. (شرح التنویر ص۱۷۴ لومړی ټوک)

(۳) تر وینو کښلو ستنو وهلو وروسته او تر لیونتوب، مستۍ او بیهوښی لیرې کیدو وروسته غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ اول ټوک)

(۴) مړی ته تر غسل ورکولو وروسته د هغو کسانو د پاره غسل کول مستحب دی چه دوی د مړی ته غسل ورکړی وی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ اول ټوک)

(۵) د شب برات یعنی د پنځلسی په شپه (د برات د میاشتی د پنځلسم په شپه

غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ ص۱۷۶ اول پتوک)

(۶) د شب قدر په شپو کښی د هغه چا د پاره غسل کول مستحب دی چه هغه شب قدر لیدلی وی. (رد المحتار ص۱۷۵ ص۱۷۶ اول پتوک)

(۷) د مدینی منورې ته د داخلیدو د پاره غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۸) په مزدلفه کی د درید و د پاره دلوی اختر د میاشتی پر لسم تاریخ ترسپیدو را ختلو وروسته غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ ص۱۷۶ اول پتوک)

(۹) د طواف زیارت د پاره غسل مستحب دی (رد المحتار ص۱۷۵ ص۱۷۶ اول پتوک)

(۱۰) د شیطانانو د ویشتلو د پاره غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۱) د کسوف یعنی لمر تورید و او خسوف یعنی سپوږمی تورید و او استسقاء یعنی د باران غوښتلو د لمنځونو د پاره غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۲) د خوف او مصیبت د لمانځه د پاره غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۳) د یو ګناه څخه د توبی کولو د پاره غسل کول ښه او مستحب کار دی (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۴) د سفر څخه وکور ته د راتلونکی د پاره غسل مستحب دی هر وخت چه وخپل وطن ته راورسیږی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۵) د عام مجلس ته د تللو د پاره او د نو د کالو د اغوستلو د پاره غسل کول مستحب دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ لومړی پتوک)

(۱۶) هر څوک چه قتل کیږی د هغه د پاره غسل کول مستحب او ښه کار دی. (رد المحتار ص۱۷۵ و ص۱۷۶ اول پتوک

دلوی بی اودسی حکمونه یعنی چه څوک بی غسله وی د هغه حکمونه

(۱) مسئله:- هر وخت چه پریو چا غسل فرض وی د دې د پاره مسجد ته ورتلل

حرام دی مګر که یو سخت ضرورت وی بیا روادی مثلاً دیوچا د کور دروازه پر مسجد ورخلاصه وی او بله هیڅ لاره نه وی د تلو د پاره نه وی بیا هم دغسی لاری او دروازی چه پر مسجد ورخلاصه وی او نه د دغه ځای څخه بغیر بل ځای او سیدای سی نو د دغه د پاره تر تیمم کولو وروسته په مسجد کښی تیریدل روادی یا په یو مسجد کښی د اوبو یو چینه یا څاه یا حوض وو او د دغو اوبو څخه ماسیوای بل هیڅ ځای اوبه نه وی نو تر تیمم کولو وروسته ئی مسجد ته تلل روادی۔ (رد المحتار ص۱۷۰ اول پتوک)

(۲) مسئله:۔ پر هر هغه چا چه غسل فرض وی د هغه د پاره عیدګاه مدرسی، خانقاه او د اسی نورو ځایونو ته ورننوتل روادی۔ (رد المحتار ص۱۷۰ لومړی پتوک)

(۳) مسئله:۔ د حیض او نفاس په حال کښی د بنځی د نامه او ځنګنو په مابین کښی چه بدن دی د دغه ته کتل یا د دغی حصی سره خپل بدن مښلول چه کالی په مابین کښی نه وی او جماع او نزدیکت ورسره کول دغه ټول حرام دی۔ (شرح التنویر ورد المحتار ص۳۰۱ لومړی پتوک و فتاوی هندیه ص۲۳ ج۱)

(۴) مسئله:۔ د حیض او نفاس په حال کښی د بنځی څخه مچه اخستل او د دی څخه پاته سوی اوبه یا بل شی چښل د دی سره چسپیده اومښتی (یعنی غیږ په غیږ) بیدیدل او د دی د نامه د سر بیره بدن سره او تر ځنګنو د لاندی بدن سره او خاص د ځنګنو سره خپل بدن مښلول که څه هم یو توکر او جامه په مابین کښی نه وی او د ځنګنو او نامه په مابین کښی د یو توکر او کالی سره خپل بدن ورسره مښلول دا ټول روادی بلکه د حیض د وجهی څخه د بنځی څخه جلا بیدیدل یا د دی د اختلاط څخه ځان ساتل مکروه دی۔ (رد المحتار ص۳۰۱ اول پتوک فتاوی هندیه ص۲۴ لومړی پتوک)

(۵) مسئله:- که یو څوک د خوب څخه ورو سته پرخپل ذکر باندی لوند والی وویني او مخکی تر بیدیه وو د ده ذکر منتشر او ولاړ وی نو پردې غسل فرض نه دی او دغه لوند والی مذی بلل کیږی په شرط دی چه احتلام یعنی شیطان خطا ایستل ئې یاد نه وی او پردغه لوند والی ئې غالبه گمان نه وی چه دا به منی وی اوکه پرورانه یا بل څای یا کالو باندی هم لوند والی وی نو غسل په هرحال کښی واجب دی.(غنیه ص۴۱)

(۶) مسئله:- که چیری د وه نارینه یا دویښځې یا یو سړی او یوه ښځه پریوه بستره بیده وی او تر راپورته کید و ورو سته پردغه بستره د منیو داغ ونشان موجود وی او په هیڅ طریقه سره نه معلومیږی چه دا د چا منی دی اونه پردغه بستره د دوی څخه مخکی یو بل څوک بیده سوی وی نو په دغه صورت کښی پردواړو غسل فرض دی اوکه د دوی څخه مخکی یو بل څوک پر دغه بستره بیده سوی وی اومنی وچ سوی وی نو په دغود واړو صورتو کښی پریوه هم غسل فرض نه دی.(شرح التنویر و رد المحتار ص۱۷۰ لومړی ټوک)

(۷) مسئله:- که پریو چا غسل فرض سوی وی لیکن پټ اود پردی څای نه وی نو په دی کښی دا بیان دی چه د سړی د پاره د خلګو په مخ کښی لغړ لمبیدل واجب دی اود ښځې د پاره د ښځو په مخ کښی لغړ لمبیدل واجب دی اود ښځو د پاره د خلګو په مخکی اود سړی د پاره د ښځو په مخکی لمبیدل حرام دی بلکه تیمم دی وکړی.(رد المحتار ص۱۶۰ اول ټوک)

د تیمم بیان

(۱) مسئله:- د څاه څخه د اوبو راکښلو د پاره یو شی نه وو اونه یو جامه او ټوکر وو چه په څاه کښی ئې ور وځړوی هغه لوند سی بیا ئې ونښتیځې او بیا اودس په وکړی یا اوبه په خُم یا بل شی کښی وی او هیڅ شی نه وی چه اوبه د خم څخه راوا خلی او خُم هم نه سی کښ ولای چه اوبه پرلاس څُندی را توی کړی حکه چه هغه ډیر غټ وی او لاس ئې مردار وی او بل داسی څوک هم نه وی چه اوبه ورته راوکاږی یا د ده لاس ورپریولی. په دغسی حال کښی تیمم روا دی.(مراقی ص۶۳ ج۱ رد المحتار ص۲۴۳ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که دهغه عذر چه د هغه په سبب تیمم سویدی د انسانانو د طرف څخه وی نو هر وخت چه هغه عذر ختم سی چه هر څوندی لمنځونه ئی په دغه تیمم سره کړی وی بټول باید دوهم واړه بیرته راوګرځوی. مثلاً یو څوک په بند یخانه کښی وی او هر هغه څوک چه پر بند یخانه ولاړدی هغه او به ورنه کړی یا یو څوک ودې ته وایی که چیری تا اودس وکړی زه دی وژنم نو په دغه تیمم سره چه ئی هر څوندی لمنځونه کړی وی بیرته به ئی راګرځوی. (فتاوی هندیه ص۱۸ اول ټوک. شرح التنویر ص۳۶ لومړی ټوک)

(۳) مسئله:- دیوه ځای څخه یادیوی لوټی څخه که چیرکسان پر له پسی تیمم وکړی روادی. (شرح التنویر ص۲۶ لومړی ټوک. فتاوی هندیه ص۱۹ لومړی ټوک)

(۴) مسئله:- هر څوک چه د اوبو او خاورو دواړو په استعمال قادرنه وی که د اوبو او خاورو دنه موجودوالی د سببه وی یا د مریضی د سببه وی نو دده د پاره په کار دده چه بیله پاکی څخه لمونځ وکړی بیا دی د پاکی په وخت کښی بیرته راوګرځوی. مثلاً یو څوک په ریل یعنی توره ګاډی کښی سپور وی او اتفاقاً د لمانځه وخت راسی او به او هغه شی چه پرهغه شی تیمم کول روادی لکه خاوری د خاورو لوښی یا ګرځ او غبار نه وی او د لمانځه وخت تیریږی نو په داسی حال کښی دی بیله پاکی څخه لمونځ وکړی.

د غه رنګه په بند یخانه کښی چه هر څوک وی او دی پر پاکو اوبو او خاورو قادرنه وی نو بی اودسه او تیمم دی لمونځ وکړی او په دواړو صورتونو کښی به لمونځ بیرته راګرځوی. (درمختار ص۲۵۹ ج۱)

(۵) مسئله:- د هرچا چه دایقین او غالب ګمان وی چه د لمانځه تراخیر وخت پوری او به پیدا کیږی د دده د پاره د لمانځه تراخیر مستحب وخت پوری انتظار کول مستحب دی. مثلاً د څا څخه داوبو راکښلو هیڅ شی نه وی او د ایقین ئی وی یا ئی غالبه ګمان وی چه تراخیر مستحب وخت پوری سولاغه اورسی پیدا کیږی یا یو څوک په ریل یعنی توره ګاډی

کښی سپورې وی - نو یقینی یا گمانی وی که نه معلومه وی چه تر اخیری وخته پورې دغه ګاډی وی دا سی اسټیشن ته رسیږی چه هلته اوبه موجودی دی نو تر اخیر مستحب وخت پورې انتظار کول مستحب دی۔ (شرح التنویر ص۲۵۶ ج۱)

(۶) مسئله:- که یو څوک په ریل یعنی توره ګاډی کښی سپور وی اوده د اوبو نه موجود والی په سبب تیمم کړی وی او په روانه ګاډی کی په لار کښی د اوبو چینی یا حوض یا بل شی وویني نو دده تیمم نه ماتیږی ددی سببه چه په دغه صورت کښی دی د اوبو پر استعمال قادر نه دی ګاډی نه سی درېدای او د روانی ګاډی څخه کښته کیدای نه سی.

تتمه یعنی پوره کونکی د بهشتی زیور د اولی حصی تمامه سوه

د بهشتی زیور دوهمی حصی تتمه

د لمانځه د وختونو بیان

مدرک:- هغه څوک دی چه د لمانځه د شروع څخه بیا تر اخیره پورې په یو چاپسی په جمعه (جماعت) سره لمونځ وکړی او ده ته مقتدی او موتم هم وایی.

مسبوق:- هغه څوک دی چه یو یا تر یو ره بالا رکعتونه د جمعی (جماعت) د لمانځه ځنډی تیر سوی وی بیا دی ورسره شریک سی.

لاحق:- هغه څوک دی چه د یو امام یا ملا سره په لمانځه کښی شریک سوی وی اقتداء ئی پسی کړی وی او تر شریکوالی وروسته د ده څخه ټول رکعتونه یا بعضی رکعتونه پاته سی برابره خبره ده د دی وجهی څخه ځنډی پاته سی چه بیده سی یا بی اوده سه سی یا جنوب سی.

طحطاوی ص۱۶۹ اول ټوک وردالمحتار ص۶۲۱ لومړی جلد (ټوک)

(۱) مسئله:- د خلګو د پاره بنه کار دی چه د سهار لمونځ د اسی وخت شروع کړی چه روښنایی بنه وغوړیږی اودومره قدر وخت پاته وی چه که چیری لمونځ وسی او په ده کښی څلویښت یا پنځوس آیتونه په بنه طریقه سره ووایل سی او وروسته تر لمانځه که چیری د لمانځه بیرته

اگر زول وغواړی دیو وجهی څخه نو بیا په دغسی طریقه سره خلویښت یا پنځوس آیتونه کی ویلای سی او دبنځو د پاره همیشه اود خلګو د پاره د حج په وخت کښی په مزدلفه کښی د سهار لمونځ چه تاریکه کښی کول بنه اومستحب دی. (شرح التنویر ص۳۷۹ اول پتوک)

(۲) مسئله:- د جُمعی د لمانځه وخت هم هغه دی کوم چه د ماپښین د لمانځه وخت دی صرف دو ندی قدر فرق لری چه په گرمیو کښی د ماپښین په لمانځه کښی څه ځنډ کول بنه او مستحب دی برابره خبره ده که دگرمی تیزی وی یا نه وی اود یخ په زمانه کښی لږ ژر کول مستحب دی اود جُمعی لمونځ همیشه په اول وخت کښی کول سنت دی د جمهورو اولویو علماؤ د غه حکم دی. (شرح التنویر ص۳۷۹ اول پتوک)

(۳) مسئله:- داختر د لمنځونو وخت هغه وخت شروع کیږی چه لمر بنه راپورته سی او تر زوال مخکی لږ وخت ختمیږی د لمر د بنه راختلو څخه مطلب دادی چه د لمر شرړوالی ختم سی اورڼایی داسی تیز نه سی چه ستړگی پرې برېښی او څوک نه سی وړته کتلای د د غه د تعین اومعلوالی د پاره علماؤ لیکلی دی چه په قدر دیوی نیزی رالوړ سی. داختر و لمنځونه ژر او وختی کول مستحب دی. لیکن د کوچنی اختر لمونځ تر اول وخت لږ څه وروسته کول مستحب دی (مراقی الفلاح ص۲۹۰ لومړی پتوک ردالمحتار ص۵۷ اول پتوک)

(۴) مسئله:- هر وخت چه امام د خطبی د پاره پورته سی او خطبه د اختر وی یا د جُمعی وی یا د حج وی نو په دغو وختو کښی لمونځ کول مکروه دی په خطبه کی د نکاح اود قرآن مجید په ختم کی د خطبی تر شروع کیدو د سنه لمونځ کول مکروه دی. (درمختار ص۳۹۰ اول پتوک فتاوی هندیه ص۳۳ اول پتوک)

(۵) مسئله:- هر وخت چه د فرض لمانځه د پاره اقامت کیږی په د غه وخت کښی هم لمونځ کول مکروه دی مگر که لږ د سهار سنت نه وی کړی او په یو طریقه سره لږ د یقین یا گمان غالب سی چه یو رکعت په جمعه کولای سم یا په قول د

بعضو علماؤ



چه التحيات وړسره نيولای سم نو د سهار د سنتو کول مکروه نه دی ياچه ئې سنت مؤکده شروع کړی وی هغه دی پوره کړی. (فتاوی هنديه ص۳۳ اول ټوک شرح التنوير ص۷۴۹ اول ټوک)

(۶) مسئله:- داختر و تر لمنځنو مخکی که په کور کښی وی که په عيدگاه کښی وی نفل لمونځ کول مکروه دی او داختر و تر لمانځه وروسته فقط په عيدگاه کښی مکروه دی (شرح التنوير ص۶۶۹ لومړی ټوک)

د اذان بيان

(۱) مسئله:- که دادابی او وختی لمانځه د پاره اذان وسی نو د دغه اذان د پاره د دغه لمانځه د وخت داخليدل ضروری دی که د وخت تر داخليد مخکی اذان وسی نو نه صحيح کيږی چه وخت داخل سی بيرته به آذان راګرزوی برابره خبره ده که دغه اذان د سهار وی يا د بل وخت وی. (فتاوی هنديه ص۳۳ لومړی ټوک رد المحتار ص۴۰۰ اول ټوک)

(۲) مسئله:- د اذان واقامت په عربی ژبه سره ويل د دوی په خپلو خاصو الفاظو کښی ضروری دی هغه خاص الفاظ چه د نبی صلی الله عليه وسلم څخه رانقل سوی دی که ئې په بله ژبه يا په عربی ژبه کښی په نورو الفاظو سره اذان وکړی نو نه صحيح کيږی که څه هم خلګ ئې واوری اذان ئې و بولی او د اذان مقصد په ده سره حاصل هم سی. (شرح التنوير و رد المحتار ص۳۹۷ لومړی ټوک)

(۳) مسئله:- اذان کونکی به خامخا نارينه وی د بنځې اذان کول صحيح نه دی که يو بنځه اذان وکړی نو راګرزول ئې په کار دی که ئې بيله راګرزولو لمونځ وکړی نو لمونځ ئې داسی دی لکه بيله اذانه چه لمونځ وکړی. (بحر الرائق ص۲۶۳ و ص۲۶۴ لومړی ټوک حاشيه د بحر الرائق ص۲۶۴ ج۱)

(۴) مسئله:- دا هم ضروری ده چه اذان کونکی به خامخا د عقل وی که يوناپوه کوچنی يا ليونی يا مست اذان وکړی نو د غه اذان معتبر نه دی. (فتاوی هنديه ص۳۳ لومړی ټوک رد المحتار ص۴۰۷ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د اذان سنت طريقه دا ده چه اذان کونکی د دواړو بی اودسيو

څخه پاک وی پریږدلو پرځای د مسجد څخه جلا مخ پر قبله ودریږی او د خپلو
دواړو غوږونو په سوړیانو کښی هغه ګوتی ونیسی چه د بښتی او مابین د ګوتو
په منځ کښی دی او د خپل قدرت او طاقت سره برابر دی په لوړ آواز سره اذان
وکړی نه په دوندی لوړه آواز سره چه دی په تکلیف سی او په اذان کی دی
دغه کلمی وایی - اَللّٰهُ اَکْبَرُ څلور واړه بیا اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دوه
واړه - بیا اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ دوه واړه بیا حَیَّ عَلَی الصَّلٰوةِ دوه
واړه - بیا حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ دوه واړه - بیا اَللّٰهُ اَکْبَرُ دوه واړه - بیا لَآ اِلٰهَ
اِلَّا اللّٰهُ یو واړه -

او حَیَّ عَلَی الصَّلٰوةِ د ویلو په وخت کښی دی مخ وراسته طرف ته
اړوی دا رنګه چه سینه او قدمونه د قبلی څخه ونه ګرځی - او د
حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ د ویلو په وخت کښی دی مخ وچپه طرف ته اړوی - دا
رنګه چه سینه او قدمونه ئی د قبلی څخه ونه ګرځی او سهار په
اذان کښی وروسته تر حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ دی اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ هم
دوه واړه دوایی نو د اذان ټول الفاظ پنځلس(۱۵) سوه او د سهار په
اذان کښی اوولس(۱۷) سوه. اذان دی د غزلو پرطریقه نه کوی او نه دی
اذان داسی کوی چه یو څه کلمی د اذان په زوره او لوړ آواز سره وایی
او یوځه په کښته آواز سره وایی او دوه واړه چه اللّٰه اکبر دوایی بیا دی
دوندی قدر پټه خوله اوسی چه اوریدونکی ئی جواب ورکولای سی او د
اللّٰه اکبر څخه ماسیوای په نورو کلمو کښی دی هم تر هری کلمی وروسته
دوندی قدر پټه خوله اوسی چه اوریدونکی ئی جواب ورکولای سی
بیا دی بله کلمه شروع کړی - (فتاوی هندیه ص۳۴ مراقی الفلاح ص۱۰۶
اول ټوک ردالمحتار ص۴۰۱ ص۴۰۲ لومړی ټوک)

⑨ مسئله:- د اقامت طریقه هم دغه ده - صرف دوندی قدر فرق لری
چه اذان د مسجد څخه د باندی کیږی یعنی دا بهتر دی او اقامت په مسجد
کښی دننه کیږی اذان په لوړ آواز سره کیږی او اقامت په کښته آواز سره
کیږی په اقامت کښی اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ نسته بلکه د دغه پرځای
په یځه وخته کښی قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ دوه واړه ویل کیږی د اقامت کولو

په وخت کې په غوږ وکښې ګوتې هم نه ایښوول کیږي ځکه چه د آواز لوړولو د پاره ګوتې په غوږ وکښې ایښوول کیږي آواز لوړول دلته مقصد نه دی په اقامت کښې د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة او حَيَّ عَلَى الْفَلَاح د ویلو په وخت کښې راسته اوچپه طرف ته مخ اړول هم نسته یعنی ضروري نه دی وړنه بعضو فقهاؤ او علماء لیکلی دی. (شرح التنویر صـ۴۰۱ وصـ۴۰۲ اول ټوک)

د اذان او اقامت حکمونه

(۱) مسئله:- د ټولو فرض عین لمنځونو د پاره یوواړه اذان کول پرځلګو باندې سنت مؤکده دی که مسافر وی یا مقیم وی که په جماعت سره لمونځ کول دی یا یوازې وی که د خپل وخت ادایي لمونځ وی یا قضایي لمونځ وی او د جمعې د لمانځه د پاره دوه واړه اذان کول سنت دی. (شرح التنویر - صـ۳۹۸ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:- که لمونځ دیو داسې شی په وجه قضا سوی وی چه عام ځلګ په اخته وی نو د دغه قضایي لمانځه اذان دی په لوړ آواز سره وسی او که دیو خاص شی په وجه قضا سوی وی چه ټول ځلګ په اخته نه وی نو اذان دی په یو پټه طریقه سره کړاړ وسی د پاره ددی چه ځلګ د اذان په اوریدو سره د لمانځه په قضا کیدو سره خبر نه سی. ددی سببه چه د لمانځه قضا کیدل پرسستی او غفلت دلالت کوی او د دین په کار وکښې غفلت او سستی ګناه ده او د ګناه بنکاره کول بنه کار نه دی او که د یو لمونځونه قضا سوی وی او ټول پریوه وخت راګرزوی نو صرف د اول لمانځه د پاره اذان کول سنت دی او د نورو لمونځونو د پاره یوازې اقامت سنت دی لیکن دا مستحب دی چه د هر لمانځه د پاره اذان هم علیحده وسی. (شرح التنویر صـ۴۰۴ اول ټوک)

(۳) مسئله:- د مسافر د پاره که دده ټول ملګری موجود وی. اذان مستحب دی سنت مؤکده نه دی. (شرح التنویر صـ۴۰۹ اول ټوک.

(۴) مسئله:- هرڅوک چه په خپل کور کښې لمونځ کوی یوازې یا په جمعه سره نو دده د پاره اذان او اقامت دواړه مستحب دی په شرط ددی

چه د محلی یادکلی په مسجد کښی اذان او اقامت سوی وی حُکه چه د محلی اذان او اقامت دټولی محلی دپاره کافی دی۔ (فتاوی هندیه ص۳۳ اول ټول۔ بحرالرائق ص۲۶۵ لومړی ټوک)

(۵) مسئله:۔ په هغه مسجد کښی چه په اذان او اقامت سره لمونځ سوی وی په دغه مسجد کښی چه بیا لمونځ کیږی نو بیا اذان او اقامت پکښی کول مکروه دی لیکن که په دغه مسجد کښی یو اذان کونکی او امام مقرر نه وی نو مکروه نه دی بلکه غوره اوښه دی۔ (فتاوی هندیه ص۳۳ و ص۳۴ لومړی ټوک وردالمحتار ص۴۱۰)

(۶) مسئله:۔ که یو څوک پرداسی ځای چه هلته د جُمعی د لمانځه شرطونه موجود وی او د جمعی لمونځ کیږی نو دی د ماپښین لمونځ کوی نو اذان او اقامت کول مکروه دی برابره خبره ده که دی د ماپښین لمونځ دیو عذر د وجهی څخه کوی یا ئې بیله عذره کوی یا ئې مخکی ترختمید و د جمعی د لمانځه څخه کوی یا ئې وروسته ترختمید و د جمعی د لمانځه کوی۔ (شرح التنویر وردالمحتار ص۴۰۶ اول ټوک)

(۷) مسئله:۔ د بنځو دپاره اذان او اقامت کول مکروه دی برابره خبره ده که دوی په جمعه سره لمونځ کوی یا ئې یوازی کوی۔ (شرح التنویر و ردالمحتار ص۴۰۵ لومړی ټوک)

(۸) مسئله:۔ د فرض عین لمونځونو څخه ماسیوای دبل هیڅ لمانځه د پاره اذان مسنون نه دی برابره خبره ده که فرض کفایی لمونځ وی۔ لکه د جنازی لمونځ یا واجب لمونځ وی لکه وتر او د اختر و لمونځ یا نفلی لمونځ وی لکه نور لمونځونه۔ (فتاوی هندیه ص۳۳ اول ټوک ردالمحتار ص۳۹۹ ج۱)

(۹) مسئله:۔ هرڅوک چه اذان واوری که نر وی که بنځه که پاک وی که جنوب وی د دغه دپاره د اذان جواب ورکول مستحب دی او بعضو واجب هم بللی دی مگر معتمد او منکاره مذهب داستحباب دی یعنی هر لفظ چه د اذان کونکی د خولی څخه واوری هغه دی وایی مگر د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ او حَیَّ عَلَی الْفَلَاح په جواب کښی دی لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہِ هم وایی او اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْم په جواب کښی دی صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وایی۔ او تر اذان وروسته دی

د غه دعا وايي.
اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ سَيِّدَنَا مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۔ (طحطاوی علی المراقی ص۱۰۹ شرح التنویر ص۴۱۳ اول ټوک مراقی الفلاح ص۱۱۰)

(۱۰) مسئله:- د جمعې اول اذان چه وخت ئې واوړي نو ټول کارونه دې پرېږدي او د جمعې د لمانځه د پاره جامع مسجد ته تلل واجب دي خرڅول راښېل یا په بل کار مشغولیدل حرام دي. (شرح التنویر و رد المحتار ص۸۹ لومړۍ ټوک)

(۱۱) مسئله:- د اقامت جواب ورکول هم مستحب دي واجب نه دي اود قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ په جواب کښې دي اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا وايي. (شرح التنویر ص۴۱۵ لومړۍ ټوک)

(۱۲) مسئله:- په اتو صورتو کښې د اذان جواب ورکول نه دي په کار.
(۱) د لمانځه په حال کښې (۲) د خطبې د اوريدلو په حال کښې برابره خبره ده که د غه خطبه د جمعې وي یا د بل شي وي (۳) (۴) د حیض او نفاس په حال کښې یعنې ضروري نه دي (۵) د دیني علم د ویلو یا بل ته د ویلو په حال کښې (۶) د جماع او نزدیکت په حال کښې یعنې ضروري نه دي لیکن د غو شیانو څخه تر فارغوالي وروسته که اذان سوي وي پرېږدي نه وي تیر سوي نو جواب ورکول په کار دي او که پرېږدي تیر سوي وي بیا دي د اذان جواب نه ورکوي. (بحرالرائق ص۲۶۶ اول ټوک)

د اذان او اقامت سنتونه او مستحبات

د اذان او اقامت سنتونه پرېږدو ته قسمه دي بعضې تر اذان کونکي پورې تعلق لري او بعضې تر اذان او اقامت پورې تعلق لري د دي سببه موږ اول تر پنځم نمبر پورې د اذان کونکي د سنتو بیان کوو تر د غه وروسته د اذان د سنتو بیان کوو.

(۱) اذان کوونکی به نروی د بنځی اذان او اقامت مکروه تحریمی دی که بنځه اذان وکړی نو راګرزول ئې په کار دی د اقامت راګرزول نسته ځکه چې د اقامت تکرار نه دی مشروع سوی او د اذان تکرار مشروع دی۔ شرح التنویر ص۴۰۷ اول پوک)

(۲) اذان کونکی به د عقل خاوند وی لیونی مست او ناپوه کوچنی اذان او اقامت مکروه دی د دوی د اذانو راګرزول په کار دی نه د اقامت (شرح التنویر ص۴۰۷ لومړی پوک)

(۳) اذان کونکی به په ضروری مسئلو او د لمانځه په وختو خبر وی۔ که یو جاهل او ناپوه سړی اذان وکړی نو ده ته د نورو اذان کونکو په شان ثواب نه ورکول کیږی۔ (بحرالرائق ص۲۵۴ لومړی پوک)

(۴) اذان کونکی به پرهیزګاره او دیندار وی او د خلګو د حاله څخه به خبر وی اوهغه کسان چې د جماعت د لمانځه نه نه راځی هغوته به تنبیه اوخبر ورکوی چې لمانځه ته راځه یا لمانځه ته ولی نه راځی یعنی که دا بیره نه وی چې په دغه خبره سره دی مایو څوک ژغیروی۔ (فتاوی هندیه ص۳۳ ج۱)

(۵) د اذان کونکی به لوړ آواز وی۔ (مشکوة ص۳۹)

(۶) پریولوړ ځای د مسجد څخه جلا د اذان کول او اقامت په مسجد کښی د نه کول مګر اذان په مسجد کښی د نه کول مکروه تنزیهی دی د جمعی د وهم اذان د منبر په مخ کښی کول مکروه نه دی بلکه په ټولو اسلامی بنارونو کښی رواج دی (فتاوی هندیه ص۳۴ اول پوک مراقی الفلاح ص۱۲۸)

(۷) په ولاړه سره اذان کول که یو څوک په ناستی سره اذان وکړی نو مکروه دی او راګرزول ئې په کار دی لیکن که مسافر پریوشی سپور وی یا کورنی سړی اذان فقط د خپل لمانځه د پاره په ناستی وکړی نو بیا ئې د راګرزولو ضرورت نسته۔ (بحرالرائق ص۲۵۴ اول پوک)

(۸) اذان په لوړ آواز سره کول لیکن که ئې صرف د خپل لمانځه د پاره کوی نو اختیار لری مګر بیا هم د ډیر ثواب په لوړ آواز کولو کښی دی۔ (شامی ص۴۰۵ اول پوک

(۹) د اذان کولو په وخت کښی په غوږو کښی گوتی نیول مستحب دی۔ (فتاوی هندیه ص۳۵ لومړی ټوک)

(۱۰) د اذان کلمی په وقفه وقفه سره ادا کول او د اقامت کلمی څرڅرویل سنت دی یعنی د اذان په الله اکبر و تکبیر وکښی دهرڅو وقفه دی دومره دی قدر پټه خوله اوسی چه اوریدونکی د دغو تکبیرو جواب ورکولای سی او د تکبیر څخه ماسیوای په نورو الفاظو کښی دی دهر یوه لفظ وروسته دومره دی قدر پټه خوله اوسی چه اوریدونکی ئی جواب ورکولای سی او بیا دی اذان کونکی بل لفظ ووایی اوکه د یو سبب څخه بیله دومره دی قدر وقفی او د اوریدو څخه اذان وکړی نو راګرځول ئی مستحب دی (فتاوی هندیه ص۳۵ لومړی ټوک) اوکه ئی د اقامت الفاظ څرڅرنه وویل بلکه په وقفه وقفه ئی وویل نو راګرځول ئی مستحب نه دی۔
(شرح التنویر ص۴۰۳ لومړی ټوک)

(۱۱) په اذان کښی د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ د ویلو په وخت کښی د ښی طرف ته مخ ګرځول او د حَیَّ عَلَی الْفَلَاح د ویلو په وخت کښی د چپ طرف ته مخ ګرځول سنت دی برابره خبره ده که دغه اذان د لمانځه د پاره وی یا د یوبل شی د پاره وی مګر سینه او قدمونه به د قبلی څخه نه اړوی
(شرح التنویر و رد المحتار ص۴۰۱ لومړی ټوک)

(۱۲) د اذان او د اقامت په وخت کښی مخ د قبلی ته د اوبدل په شرط د دی چه پریوشی سپورنه وی بیله قبلی مخ کولو اذان او اقامت کول مکروه تنزیهی دی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۴۰۳ لومړی ټوک)

(۱۳) د اذان ویلو په وخت کښی د لوی بی اوسی څخه پاکوالی ضروری دی او د واړهو بی اوسیو څخه پاکوالی مستحب دی او د اقامت ویلو په وخت کښی د واړهو بی اوسیو څخه پاکوالی ضروری دی که د لوی بی اوسی په وخت کښی یوځوک اذان وکړی نو مکروه تحریمی دی مګر راګرځول ئی مستحب دی دغه رنګه که یوځوک د لوی بی اوسی یا کوچنی بی اوسي په وخت کښی اقامت وکړی نو مکروه تحریمی دی مګر راګرځول ئی مستحب نه دی۔ (شرح التنویر ص۴۱۵ او د لومړی ټوک رد المحتار ص۴۰۷ لومړی ټوک)

(۱۴) د اذان او اقامت د کلمو او الفاظو ویل په ترتیب سره سنت دی که یو څوک ورو ورو ستنی لفظ اول وواېي مثلاً تر اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰه مخکی اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه وواېي یا تر حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة د مخه حَیَّ عَلَی الْفَلَاح وواېي نو په دغه صورت کښی لفظ دهغه ورو ورو ستنه لفظ راګرزول ضروری دی چه ده مخکی ویلی دی په اول صورت کښی دی تر اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ ورو ورو ستنه اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه بیا وواېي او په دوهم صورت کښی دی تر حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة ورو ورو ستنه حَیَّ عَلَی الْفَلَاح بیرته وواېي دنورو اذان راګرزول ضروری نه دی۔ (درمختار وشامی ص۴۰۳ اول توک)

(۱۵) د اذان او اقامت په حال کښی بله هیڅ خبره نه کول که څه هم سلام یا د سلام جواب وی که څوک په اذان یا اقامت کښی خبری وکړی نو که ئې پیری خبری کړی وی نو اذان دی راوګرزوی اقامت دی نه راګرزوی۔ (شرح التنویر وشامی ص۴۰۳ لومړی توک)

متفرقی (جلاجلا) مسئلی

(۱) مسئله که دیو چا اذان جواب ورکول هیرسی یا اذان جواب قصداً ورنه کړی نو تر اذان ختمیدو ورو ورو ستنه ئې فکر سی په هغه صورت کښی چه د اذان جواب ئې هیر سوی وی یا د جواب ورکولو قصد وکړی په هغه صورت کښی چه د اذان جواب ئې قصداً پرې اېښی وی نو که چیرې پیروخت نه وو تیر سوی نو دی د اذان جواب ورکړی او که پیروخت تیر سوی وو بیا دی جواب نه ورکوی۔ (شامی ص۴۱۱ لومړی توک)

(۲) مسئله:۔ تر اقامت ویلو ورو ورو ستنه که پیروخت تیر سی او جماعت لاتر اوسه درسیدلی نه وی نو د اقامت راګرزول په کار دی لیکن که لږ وخت تیر سی بیا ئې د راګرزولو هیڅ ضرورت نشته او که اقامت وسی لیکن امام

دسهار سنت نه وی کړی او د سنتو په اداکولو اخته سی نو دغه وخت د پیرنه بلل کیږی اقامت نه را اګرزول کیږی او که تر اقامت و روسته بل کار شروع کړی چه د لمانځه د قسمه څخه نه وی لکه خوړک، چیښل او داسی نور نو په دغه صورت کښی د اقامت را اګرزول په کار دی۔ (شرح التنویر صـ۴۱۵ ج ۱)

(۳) مسئله:۔ که مؤذن د اذان کولو په وخت کښی مړسی یا بیهوښه سی یا ئی آواز بند سی یا ئی اذان هیر سی او یو اذان بنو ونکی هم نه وی یا بی اودسه سی نو دی د بی اودسی لیږی کولو د پاره ولاړسی نو د دغه اذان د سر ته څخه را اګرزول سنت مؤکد دی۔ (شرح التنویر و شامی صـ۴۰۷ اول ټوک)

(۴) مسئله:۔ که چا ته د اذان یا اقامت ویلو په وخت کښی کوچنی بی اودسی پیښه سی نو بنه داده چه اذان یا اقامت پوره کړی و روسته د بی اودسی لیږی کولو د پاره ولاړسی۔ (شامی صـ۴۰۷ لومړی ټوک)

(۵) مسئله:۔ دیوه موذن د پاره په دوو (۲) مسجدونو کی اذان کول مکروه دی په هر مسجد کښی چه فرض کوی هلته دی اذان وکړی (شرح التنویر صـ۴۱۵ ج ۱)

(۶) مسئله:۔ هر څوک چه اذان کوی اقامت هم دهغه حق دی لیکن که مؤذن اذان وکړی بیا یو څای ولاړسی یا بل چا ته اجازه ورکړی نو بیا بل یو هم اقامت کولای سی۔ (فتاوی هندیه صـ۳۳ لومړی ټوک شامی صـ۴۰۷ اول ټوک)

(۷) مسئله:۔ د پیرو اذان کونکو په یوه وار سره اذان کول روا دی (شامی صـ۴۰۵ لومړی ټوک)

(۸) مسئله:۔ د موذن د پاره په کار ده چه اقامت ئی هر څای شروع کړی وی هلته دی ختم کړی۔ (رد المحتار صـ۴۱۱ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ د اذان او اقامت د پاره نیت شرط نه دی لیکن بیله نیته ثواب نه لری او نیت ئی داده چه په زړه کښی دا اراده وکړی چه زه اذان خالص د خدای تعالی د رضا او ثواب حاصلولو د پاره کوم نور هیڅ مقصد نه لرم۔ (رد المحتار صـ۴۰۲ لومړی ټوک)

د لمانځه د شرطونو بیان

د پاکئ مسئلی:۔ (۱) مسئله:۔ که یو بهرونی یا پته دوندی غټه

وی چه د د ه مرداړه حصه د لمونځ کونکی په پوړته کید و اوکښته کیدو
سره حرکت نه کوی یعنی نه سره ښوړی نو بیا هیڅ پروا نه لری اود غه رنګه
هغه شی به هم پاک وی چه لمونځ کونکی په لمانځه کښی پوړته کړی وی
په شرط د دی چه د غه شی په خپل طاقت سره په لمونځ کونکی پوری تکیه
اومښتی نه وی مثلاً یو لمونځ کونکی یوکوچنی اخستی وی اود غه کوچنی
په خپل طاقت سره تکیه نه وی نو په دی صورت کښی د د غه کوچنی
پاکوالی د لمانځه د صحت د پاره شرط دی. او هر وخت چه د د غه کوچنی
بدن یا کالی د وند ی قدر مردار وی چه منعه کونکی د لمانځه وی نو په
د غه صورت کښی د د غه چا لمونځ نه صحیح کیږی.

اوکه د غه کوچنی د لمونځ کونکی پراوږه یا بل ځای په خپل طاقت
سره ناست وی ځان ئ تکیه کړی وی نو بیا هیڅ پروا نه لری د دی سببه
چه دی په خپل طاقت او توان سره ناست دی اود د غه نجاست اومرداری
نسبت وکوچنی ته کیږی د لمونځ کونکی و طرف ته ئ هیڅ نسبت نه کیږی
د غه رنګه که د لمونځ کونکی پر بدن یو داسی مردار شی وی چه په
خپل ځای د پیدایښت کښی وی اوپه خارج کښی د د ه هیڅ اثر او علامه موجوده
نه وی نو هم هیڅ پروا نه لری مثلاً د لمونځ کونکی پر بدن یو سپی کښینی
اود خولی څخه ئ ناړی ښهیږی نو هیڅ پروا نه لری د دی سببه چه د
د ه ناړی د د ه په بدن کښی د ننه دی او د غه د ننه بدن د ناړو د
پیدا کید و ځای دی پس نو په مثال د هغه نجاست اومرداری دی چه
د انسان په نس کښی پرته د ه چه د د ننه نس د مرداری څخه پاکی شرط
نه د ه.

د غه رنګه که یو داسی هګۍ چه ژړئ په وینه بدل سوی وی د لمونځ
کونکی سره وی نو هم پروا نه لری د دی سببه چه وینه ئ په هغه ځای
کښی د ه چه په هغه ځای کښی پیدا سوی وه په خارج اود باندی کښی
هیڅ اثر نشته لیکن که ئ سیښنه د بولو څخه ډکه کړی وی اود لمونځ
کونکی سره وی بیا لمونځ نه صحیح کیږی که څه هم د سیښنی خوله بنده
وی د دی سببه چه د غه بولی په هغه ځای کښی نه دی په کوم ځای کی

چه پیدا سوی دی یعنی په متانه کښی نه دی بلکه په سینبه کښی دی (شرح التنویر و رد المحتار ص۴۱۷ ص۴۱۸ لومړی پتوک)

(۲) مسئله:- هغه ځای چه لمونځ پرکیږی هغه به د نجاست حقیقی څخه پاک وی لیکن که دوندی مرداری وی چه هغه په شریعت کښی معاف دی نو بیا هیڅ پروانه لری د لمونځ کولو د ځای څخه هغه ځای مراد دی چه لمونځ کونکی قدمونه پر ایښی وی او د سجدی کولو په حال کښی څنګونه، لاسونه، تندی او پزه پر ایښی وی۔ (طحطاوی ص۱۳۱)

(۳) مسئله:- اوکه صرف دیوی پښتی ځای پاک وی او د وهمه پښه ئی د محکی څخه پوره ټکړی وی هم کفایت کوی لمونځ صحیح کیږی۔ (عالمګیری ص۳۸ اول پتوک) در مختار ص۵۱۸ اول پتوک)

(۴) مسئله:- که ئی پریوکالی اوکپړه لمونځ کاوی نو د څه کالی اوکپړی هم د غوندی قدر پاکوالی ضروری دی د ټوله کالی پاکوالی ضروری نه دی برابره خبره ده که کالی کوچنی وی که لوی وی۔ طحطاوی ص۱۳۰

(۵) مسئله:- که پریو مرداره ځای کالی د غوړو ول سی لمونځ پرسی نو په دی کښی دا هم شرط دی چه د څه کالی دوندی نرم اونری نه وی چه تر ده لاندی محکه اوشیان صاف صاف معلومیږی۔ (طحطاوی علی المراقی ص۱۳۰)

(۶) مسئله:- که د لمونځ کولو په حال کښی د لمونځ کونکی کالی دیو وچ مردار ځای سره مښلی نو هیڅ پروانه لری۔ (شامی ص۴۱۸ اول پتوک)

(۱) مسئله:- که د کالو پر اغوستلو د انسانانو په سبب قادر نه وی بلکه د اغوستلو څخه معذور وی نو هر څه چه ئی د څه معذوری څخه سی نو لمونځ به بیرته راګرزوی مثلاً یو څوک په بند یخانه کښی وی د بندیخانی خلګو د ده څخه کالی کښلی وی یا یو دښمن د ده څخه کالی کښلی وی یا یو دښمن د ده ته وایی که ته کالی اغوندی نو زه دی وژنم اوکه د کالو نه اغوستل د انسانانو

دطرف څخه نه وی نو بیاد لمانځه راګرزدلو ضرورت نسته مثلاً یوڅوک دسره کالی نه لری۔ (بحرالرائق ص۲۷۵ لومړی توک)

(۸) مسئله:۔ که دیوچا سره یو کالی وو چه یوازی ځان په پټولای سوای یا ئی یوازی لمونځ پرکولای سوای نو دده دپاره په کار ده چه خپل ځان په پټ کړی او لمونځ پرده غه مردار ځای باندی وکړی که چیری پاک ځای نه وو (ق) شرح التنویر ص۶۶ اول توک مجتبائی)

دقبلی مسئلی

(۱) مسئله:۔ که دقبلی دنه معلومولو لپاره صورت کښی په جماعت سره لمونځ کیږی نو د امام او مقتدی دواړو دپاره پرخپل غالبه ګمان عمل کول په کار دی لیکن که دیومقتدی غالبه ګمان دخپل امام خلاف وی نو دده لمونځ د دغه امام په ورسته پسی نه کیږی د دی سببه چه دغه امام دده په نزد پرغلطی دی او یوڅوک پرغلطی بلل بیا اقتدا پسی کول روا نه[له] ده۔ (شرح التنویر ص۴۵۳)

دنیت مسئلی

(۱) مسئله:۔ د مقتدی دپاره دخپل امام داقتداء نیت کول هم شرط دی۔ (مراقی الفلاح ص۶۲ لومړی توک)

(۲) مسئله:۔ د امام دپاره فقط دخپل لمانځه نیت شرط دی دا نیت د ده دپاره شرط نه دی چه نوره خلګو ته امامت او لمونځ ورکوم لیکن که یو بنځه په ده پسی لمونځ کوی او د خلګو سره برابره ولاړه وی او د جنازی، جمعی او اختر و لمونځ نه وی نو دی د اقتداد صحیح والی دپاره د ده دامامت نیت کول شرط دی او که د خلګو سره برابره نه وه ولاړه یا لمونځ د جنازی یا جمعی یا اختر و وی نو بیا دامامت نیت شرط نه دی۔ (شرح التنویر ص۴۳۰ اول توک درمختار ص۴۰۴ لومړی توک)

(۳) مسئله:- د مقتدی د پاره د امام معلومیدل شرط نه دی چه امام زید دی که عمر دی بلکه صرف دومره قدر نیت کافی دی چه زه په دغه امام پسی لمونځ کوم لیکن که ئی د امام نوم واخستی معلوم ئی کړی بیا د دغه خلاف ثابت سو نو د مقتدی لمونځ نه صحیح کیږی مثلاً یو چا دا نیت وکړی چه زه په زید پسی لمونځ کوم لیکن چه دی لمونځ پسی کوی هغه خالد دی نو د دغه مقتدی لمونځ نه کیږی۔ (در مختار ص۴۳۱ اول ټوک عالمگیری ص۴۱ لومړی ټوک)

(۴) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی دا نیت کول په کار دی چه زه دغه لمونځ د خدای تعالیٰ د رضا او د دغه مړی د دعا د پاره کوم او که مقتدی ته دا معلومه نه وی چه د دغه مړی نوم څه دی که څنګه نو د ده د پاره دا نیت کول کافی دی چه زما امام وهر چا ته لمونځ وکړی زه هم وهغه چا ته لمونځ وکړم

د بعضو علماؤ په نزد صحیح دا ده چه د فرض او واجب لمځونو څخه ماسیوی په نورو لمځونو کښی صرف د لمانځه نیت کول کافی دی۔ د دی تخصیص هیڅ ضرورت نشته چه د دغه لمونځ سنت دی یا مستحب او سنت د سهار د وخت دی یا د ماپښین د وخت دی یا د اسنت د تهجد دی یا تراویح یا کسوف یا خسوف دی مګر راجح او قوی دا ده چه د تخصیصه سره ئی نیت وکړی چه دا یا سنت دی یا مستحب دی د غسی تر پایه پوری۔ (رد المحتار ص۴۳۹ لومړی در مختار ص۴۳۴ اول ټوک)

د تکبیر تحریمه یعنی اول الله اکبر بیان

(۱) مسئله:- بعضی ناخبره خلګ د مسجد ته راځی په داسی حال کښی چه ملا په رکوع کښی وی نو دوی د دغه رکعت د نیولو د پاره ژر رکوع ته ولاړ سی ونه دریږی او په دغه حال کښی تکبیر تحریمه یعنی اول الله اکبر وایی لیکن د دوی لمونځ نه صحیح کیږی حکه چه تکبیر تحریمه د لمانځه د صحیح والی

شرط دی لمونځ بیله دې نه صحیح کیږی او دد غه تکبیر تحریمه د پاڑه ولاړه شرط دې او دې چه ولاړه نه وکړه نو تکبیر ئې صحیح نه سو او چه تکبیر ئې صحیح نه سو نو لمونځ ئې څرنګه صحیح کیدای سی - (ردالمحتار صلا۴۷ ج ۱)

د فرض لمانځه بعضی مسئلی

(۱) مسئله:- د آمین د لفظ الف به کشوی او وایي به ئې او تر دغه وروسته دی یو سورت د قرآن شریف ووایي - (ردالمحتار صلا۵۱۳ اول پوک مراقی الفلاح صلا۸

(۲) مسئله:- که په سفر کښی وی یا یوبل ضرورت وی نو بیا لمونځ کونکی اختیار لری چه تر الحمد لله وروسته هر سورة دده زړه غواړی هغه دی ووایي که د سفر او ضرورت حال نه وی نو د سهار او ماپښین په لمانځه کښی دی سورة حجرات او سورة بروج او دد وی دوه وړه په ماښین کښی چه کوم سورتونه دی هر سورة چه ئې په دغو سورتو کښی زړه غواړی ودی وایي د سهار په اول رکعت کښی نسبت د وهم رکعت ته دی لوی سورة ووایي - په نورو وختو نوکښی د دواړو رکعتو تو سورتونه باید سره برابر وی د دیګه یا دوه ایتو کمی یا زیادت معتبر نه دی دمازیګر او ماخستن په لمنځو نوکښی دی وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ سورة یا لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ سورة ووایي یا چه د دوی دوه په ماښین کښی سورتونه دی د هغو څخه دی (په رکعت کښی) یو یو ووایي د ماښام په لمانځه کښی دی د اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ څخه بیا تر اخره پورې چه د قرآن شریف هر سورة وایي هغه سورة دی ووایي - (عالمګیری صلا۴۵ لومړی پوک)

(۳) مسئله:- هر وخت چه تر رکوع وروسته سیده او برابر ودریږی نو امام دی صرف سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ - مقتدی دی صرف رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ او یوازی څوک دی چه په امام پسی نه وی ولاړ دواړه ووایي بیا دی په داسی حال کښی چه الله اکبر ویونکی وی او هم ئې دواړه لاسونه پر څنګونو ایښی وی سجدی ته ولاړ سی دا رنګه چه د الله اکبر به پای وی او سجدی به شروع وی یعنی سجدی ته په رسیدلو سره به الله اکبر ختم یږی - (عالمګیری صلا۴۶ اول پوک)

④ مسئله:- په سجده کښی اول څنګونې[۱] پرمځکه باید کښیښوول سی بیا د واړه لاسونه بیا پزه او بیا ټندی باید ولګول سی مخ باید د دواړه لاسو په مابین کښی وی او د لاسو ګوتی به سره مښتی وی په داسی حال کښی چه مخ پر قبله به غږولی سوی وی او پښی به دا رنګه ولاړی وی چه پر ګوتو به ئی زور وی او د ګوتو سره نه به مخ پر قبله وی نس به د ورنو څخه جلا وی بازوګان به د بغلو څخه جلا وی او نس به د مځکی څخه د وندی قدر لوړ وی چه د بزی ډیر کوچنی سیرلی تروتلای سی. (عالمګیری ص۴۶ اول پټوک)

⑤ مسئله:- د سهار مابنام، ماخستن په وخت کښی په اولو دوو[۲] رکعتو کښی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، سوره، سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او ټول تکبیرونه دی امام په لوړ آواز سره وایی او د منفرد (یعنی هغه څوک چه په جمعه لمونځ نه کوی) د پاره اختیار دی په قراءت کښی مګر سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او تکبیرونه دی کرار وایی او د مابښین او ماښګر په وخت کښی دی امام صرف سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او ټول تکبیرونه په لوړ آواز سره وایی او منفرد دی کرار وایی او مقتدی دی هر وخت تکبیرونه او داسی نور کرار وایی - (در مختار ص۵۵۶ اول پټوک ص۴۹۵ اول پټوک)

⑥ مسئله:- هر وخت چه د لمانځه څخه فارغ سی نو دی د دواړه لاسونه د دعا د پاره د سینی پر برابر وغوړوی او د خدای تعالی څخه دی د خپل ځان د پاره دعا وغواړی او که امام وی نو د ټولو مقتدیانو د پاره دی هم دعا وغواړی او تر دعا کولو ورو سته دی د دواړه لاسونه پر مخ تیر کړی برابره خبره ده که مقتدیان هریو د خپل ځان د پاره دعا کوی یا د امام د دعا ته غوږ نیسی او امین امین پر وایی دغه د واړه روا دی. (مراقی ص۱۷۳)

⑦ مسئله:- تر کومو لمنځونو ورو سته چه سنت دی لکه ماښین ماښام او ماخستن نو تر دی ورو سته دی نفل پره پوری دعا نه کوی بلکه لنډه دعا دی وکړی او د دغو سنتو په ادا کولو دی مشغوله سی او تر کومو لمنځونو ورو سته چه سنت نه سته لکه سهار ماښګر تر دغو ټولو

[۱] او د سجدی څخه د پورته کیدو په وخت کی اول ټندی سا[illegible]

لمنځونو ورسته دی هرځوندی ډیره دعا چه کوی ودی کړی اوکه امام وی نو د مقتدیانو وطرف ته دی راښته یا چپه طرف نه مخ وګرزوی. کښینی دی دعادی وکړی مخ دی په هغه صورت کی د مقتدیانو وخوانه راګرځوی چه د دعا په مخامخ کښی یو مسبوق لمونځ نه کوی. (عالمګیری ص۴۸ لومړی ټوک)

(۸) مسئله:- ورسته تر فرضی لمنځو په شرط دی چه تر دوی ورسته سنت نه وی اوکه چیری سنت وی نو تر سنتو ورسته مستحب دی چه اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ دریځی واړه آیة الکرسی قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس یویو واړه وایی درود یرش واړه سبحان الله، درود یرش واړه اَلْحَمْدُ لِلّٰه او څلورم یرش واړه الله اکبر وایی. (مراقی الفلاح ص۲۰۲ لومړی ټوک)

(۹) مسئله:- بنځی دی هم دغه رنګه لمونځ کوی صرف په یو څو ځایه کښی به د خلګو د لمانځه څخه خلاف کار کوی چه بیان ئی په لاندی ډول سره دی. (طحطاوی ص۱۵۰ درمختار ورد المحتار ص۵۰۷ لومړی ټوک)

(۱) د تکبیر تحریمه یعنی اول الله اکبر په وخت کښی د نرانو د پاره په کار دی چه لاسونه د پټو اوداسی بل شی څخه د باندی را وباسی او ترغوږونو پورې ئی پورته کړی که چیری یوضرورت د لاسونه را ایستلو نه وو نکه یخ یا بل شی اود بنځو د پاره په هرحال کښی بیله لاسو را ایستلو اوتر اوږو پورې لاسونه پورته کول په کار دی. (طحطاوی ص۱۵۰)

(۲) ورسته تر اول الله اکبر نران باید لاسونه تر نامه لاندی کښیږدی او بنځی باید لاسونه پر سینه باندی کښیږدی. (طحطاوی ص۱۵۰)

(۳) خنګ به په خچپه او بټه ګوته سره په داسی حال کښی چه حلقه (کړه) ئی ځندی جوړه کړی وی د چپه لاس بند نیسی اود راسته لاس هغه پاته درې ګوتی به د چپه لاس پر بازو غوړوی او بنځی به د راسته لاس ورغوی د چپه لاس د ورغوی پر شا باندی اینږدی حلقه جوړول اود چپه لاس بند په خچپه او بټه ګوته سره نیول په کار نه دی. (طحطاوی ص۱۵۰ درد المحتار ص۵۰۷ اول ټوک)

(۴) خلګ به په رکوع کښی ښه کښته کیږی چه سر، کونټی او شا ئی سره برابر سی او ښځی به دوند ه نه کښته کیږی بلکه فقط دوندی قدر به کښته کیږی چه لاسونه ئی ځنګنو ته ورسیږی۔ (در مختار ورد المحتار ص ۵۱۸ ج ۱)

(۵) خلګ به په رکوع کښی پر ځنګنو ګوټی پراخی او خلاصی ایږدی او ښځی به په رکوع کښی ګوټی خلاصی نه ایږدی بلکه چسپیده اومښلولی به ئی ئی ایږدی۔ (در مختار ورد المحتار ص ۵۱۵ اول ټوک)

(۶) خلګ به در کوع په حال کښی څینګلی د بغلو څخه لیری نیسی او ښځی به څینګلی د بغلو سره مښلوی۔ (مراقی ص ۱۴۶)

(۷) خلګ به په سجده کښی لس او ورنونه سره لیری کوی د غه رنګه ښځی باندوګان به د بغلو څخه لیری کوی لیکن ښځی به لس او ورنونه او ښځی د بغلو سره مښلوی۔ (مراقی ص ۱۴۶ اول ټوک)

(۸) خلګ به په سجده کښی څینګلی د ځمکی څخه پورته کوی او ښځی به څینګلی پر ځمکه غوړوی۔ (مراقی ص ۱۴۶ اول ټوک)

(۹) خلګ به په سجده کښی د واړی پښی جګی درومی دا رنګه چه ګوټی به ئی پر ځمکه باندی وی او ښځی به داسی نه کوی۔ (رد المحتار ص ۵۲۷ ج ۱)

(۱۰) خلګ به د ناستی په حال کښی پرچپه پښه کښینی او راسته پښه به جګه درومی او ښځه به پرچپه کونټی کښینی او د واړی پښی به وراسته طرف ته باسی دا رنګه چه راسته ورون پرچپه ورانه راهی او راسته پنډی پرچپه پنډی راسی۔ (مراقی ص ۱۴۶ اول ټوک)

(۱۱) د ښځو د پاره هیڅ وخت په لوړ آواز سره د قرأت ویلو اختیار نشته بلکه د دوی د پاره هر وخت کرار قرأت ویل په کار دی۔ (شامی ص ۵۲۷ ج ۱)

تحیة المسجد

یعنی هغه دوه رکعته لمونځ چه په طور د تحفی په وخت کی د داخلیدو د مسجد کیږی

(۱) مسئله:- د غه لمونځ د هغه چا د پاره سنت دی چه د مسجد ته ورداخل سی۔ (رد المحتار ص ۷۰۹ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:- ددی لمانځه څخه مقصد د مسجد تعظیم او عزت دی چه په حقیقت کښی د خدای جل جلاله تعظیم او عزت دی حکه چه مسجد د خدای کور دی او دکور عزت دکور د خاوند د وجهی کیږی نو ما سیوای د خدای د عزت څخه دبل هیڅ شی عزت ددی لمانځه څخه غرض او مقصد نه دی او مسجد ته ننداخلید و وروسته تر ناسته مخکی باید دوه رکعاته لمونځ وکړل سی په شرط دی چه یو مکروه وخت نه وی۔
(ردالمحتار ص۷۰۹ لومړی ټوک)

(۳) مسئله:- اوکه چیری مکروه وخت وی نو فقط څلور واره دی دغه کلمی ووایی۔ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اوتر دغو کلمو وروسته دی یو درود شریف ووایی اودغه لمانځه نیت دادی۔ نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ رَكْعَتَيْ تَحِيَّةَ الْمَسْجِدِ یادی په ژبنتو دغه نیت وکی دارنګه چه ما نیت کړی دی ددی چه زه وکړم دوه رکعته تحیه اوتحفه د مسجد برابره خبره ده که دغه نیت په خوله سره ووایی یا ئی په زړه کښی وکړی۔ (ردالمحتار ص۷۰۹ لومړی ټوک)

(۴) مسئله:- ددوو رکعتو هیڅ تخصیص نشته که څلور رکعته وسی بیاهم هیڅ پروا نه لری اوکه مسجد ته ددا خلید و سره سم یو فرض لمونځ یا سنت لمونځ اداکړل سی نو دغه فرض یا سنت د تحیة المسجد پرځای باندی درپیږی یعنی ددوی په کولو کښی د تحیة المسجد ثواب هم ستر که څه هم په دوی کښی د تحیة المسجد نیت نه دی سوی۔ (درمختار ص۷۰۹ ج۱)

(۵) مسئله:- که څوک په مسجد کښی ترکښینستو وروسته تحیة المسجد وکړی هم پروا نه لری مګر سنه داده چه ترکښینستو مخکی وکړی۔
(درمختار ص۷۱۰ لومړی ټوک)

حدیث نبی صلی الله علیه والـه وسلم فرمایلی دی چه هر وخت ستاسی څخه یو څوک مسجد ته راسی نو څوچه دوه رکعته لمونځ ئی نه وی کړی نه دی کښینی۔ (مشکوة شریف ص۵۳)

(۶) مسئله:- که مسجد ته ډیر وار و نه ور داخل سی نو صرف یو وار تحیة المسجد کول کافی دی که ئی په اول وار کښی کوی که ئی په اخیر وار کښی

ګوی۔ (رد المحتار ص۷۱۰ اول ټوک)

د سفر نفلونه

(۱) مسئله:۔ هر وخت چه یو څوک د خپل وطن څخه سفر کوی نو دده دپاره مستحب دی چه دوه رکعته لمونځ په کور کښی وکړی بیا سفر وکړی او هر وخت چه د سفر څخه بیرته راسی نو دده دپاره مستحب دی چه اول مسجد ته ولاړ سی دوه رکعته لمونځ وکړی بیا کور ته راسی (رد المحتار ص۷۱۵ اول ټوک)

(۲) **حدیث** نبی صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه هیڅوک تردغو دوو رکعتونو بنه شی نه پریږدی چه د سفر کولو په وخت کښی کیږی (رد المحتار ص۷۱۵ اول ټوک

حدیث رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه به هر وخت د سفر څخه تشریف راوړی نو اول به د مسجد ته تلی دوه رکعته لمونځ به ئی کاوی۔ (رد المحتار ص۷۱۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:۔ د مسافر دپاره هم دا مستحب دی چه د سفر په مابین کښی یو ځای ته ورسیږی او هلته ئی د قیام او اوسیدو اراده وی نو مخکی تر ناستی دوه رکعته لمونځ وکړی۔ (غنیة الناسک ص۱۸)

د قتل یعنی وژنی لمونځ

(۱) مسئله:۔ هر وخت چه یو مسلمان وژل کیږی نو دده دپاره مستحب دی چه دوه رکعته لمونځ وکړی د خپلو ګناوو بخښنه د خدای تعالی څخه وغواړی دپاره ددی چه دغه لمونځ او دعاد بخښنی په دنیا کښی د اخیرو کارو څخه دده وبلل سی۔ طحطاوی ص۲۱۹)

حدیث:۔ یو وار نبی صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو رضی الله تعالی عنهم څخه یو څو قاریان د قرآن شریف د تعلیم او سنو ولی دپاره ماسیوی د حضرت خبیب رضی الله تعالی عنه څخه نو رئی ټول په هغه

خای کښی شهیدان کړل حضرت خبیب رضی الله تعالی عنه ئی ومکی ته راوړی په ډیر اهتمام او اعلان سره ئی شهید کړی نو هر وخت چه ئی په شهادت رساوی نو ده د دغو کفارو څخه اجازت وغوښتی دوه رکعاته لمونځ ئی وکړی د دغه وخت څخه د دغه لمونځ مستحب سو۔ (فتح الباری پر بخاری ص ۲۹۴ ج ۷)

د تراویح (تراوو) بیان

(۱) مسئله:۔ تر تراوو وروسته وتر کول بنه کار دی او که وتر اول وکړی بیا تراویح (تراوی) وکړی هم صحیح دی۔ (مراقی ص ۲۲۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:۔ د تراویح (تراوو) په لمانځه کښی تر څلور رکعتو وروسته دوندی وخت کښینستل لکه څلور رکعته تراویح (تراوی) چه یکښی سوی دی مستحب دی لیکن که په دغو ندی قدر ناسته سره خلګو ته تکلیف پیښیدی او د جماعت د کمید و خطره او بیره وه نو بیا دی تر دغه ناسته لږ کښینی په دغه ناسته کښی اختیار دی که نفلو نه کوی یا تسبیحات یا نور شیان وایی یا پټه خوله کښینی۔ (شرح التنویر ص ۷۳۸ اول ټوک سراجیه ص ۲۰)

(۳) مسئله:۔ که یو چاد ماخستن تر لمانځه وروسته تراویح (تراوی) کړی وی او ترکولو وروسته وړته معلومه سوه چه د ماخستن په لمانځه کښی یو د اسی کار پیښ سوی وی چه په هغه سره د ماخستن لمونځ فاسد سوی وی نو د ده د پاره د ماخستن د لمانځه تر اګر نفلو وروسته د تراویح (تراوو) اګر نفل هم په کار دی (مراقی ص ۲۲۵ اول ټوک عالمګیری ص ۷۳ اول ټوک)

(۴) مسئله:۔ که د ماخستن لمونځ په جماعت نه وی سوی نو تراویح (تراوی) دی هم په جماعت سره نه کیږی ځکه چه تراویح د ماخستن د لمانځه تابع دی لیکن هغه څوک چه د ماخستن لمونځ په جماعت سره وکړی بیا تراویح (تراوی) په جماعت سره کوی او بل چاد ماخستن لمونځ په جماعت سره نه وی کړی صرف په تراویح (تراوو) کښی د دوی سره چه په جماعت سره کیږی شریک سی نو د دغه سړی د پاره هم تراویح (تراوی) په جماعت سره کول روا او صحیح دی ځکه چه دی د دغو خلګو تابع بلل کیږی چه د ماخستن لمونځ ئی په جماعت سره کړیدی او د تراویح (تراوو)

په جماعت سره کول ئې صحیح دی۔ (در مختار و رد المحتار ص۴۷۱ اول پتوک)

(۵) مسئله:۔ که یو څوک مسجد ته داسی وخت راورسیږی چه دماخستن سونځ سوی وی نو دده د پاره په کار ده چه اول دماخستن لمونځ وکړی او بیا په تراویح (تراوو) کی شریک سی اوکه په دغه حال کښی (تراویح) یو څه رکعتونه څنډی تیرسی نو دغه دی بیا تر وتر و وروسته وکړی او دغه سړی دی وتر په جماعت سره وکړی۔ (در مختار ص۷۳۷ اول پتوک)

(۶) مسئله:۔ در وتړی په میاشت کښی یو وار په تراویح (تراوو) کی په ترتیب سره د قرآن شریف ختم کول سنت مؤکد دی د خلګو د کهالی او سستی په وجه باید پرې نه ښوول سی لیکن که دا بیره وه چه که پوره قران شریف په تراویح (تراوو) کښی ویل کیږی نو خلګ و لمانځه ته نه راځی او جماعت پاتیږی یا پردوی سخت تکلیف وی ډیرئ ناخوښه وی بیا نوښه داده چه هر څوندی قرآن شریف پر خلګو تکلیف نه وی په هغه اندازه قران شریف دی پکښی وایی

د اَلَمْ تَرَ کَیْفَ څخه دی تر آخره پورې د عَمَّ یَتَسَآءَلُوْنَ(۱۰) سورتونه پکښی وایی په هر رکعت کښی دی یو یو سورة وایی بیا چه عَمَّ یَتَسَآءَلُوْنَ(۱۰) رکعته پورې سی نو دغه سورتونه دی په نورو لسو رکعتو کښی بیا وایی یا نور سورتونه چه دده زړه غواړی هغه دی وایی۔ (در مختار رد المحتار ص۷۳۹ اول پتوک بحر الرائق ص۶۸ دوهم پتوک)

(۷) مسئله:۔ تر یوه قران شریف دی زیات نه پکښی وایی تر څو چه د خلګو شوق نه وی معلوم سوی۔ (در مختار رد المحتار ص۷۳۹ اول پتوک بحر الرائق ص۶۸ دوهم پتوک)

(۸) مسئله:۔ په یوه شپه کښی دتول قران شریف ویل روا دی په شرط د دی چه خلګ ئې ډیر شوقیان وی او پردوی تکلیف نه وی که دوی ته تکلیف وی او ناخوښه ئې وی بیا په یوه شپه کښی ویل مکروه دی۔ (مراقی ص۲۲۶)

(۹) مسئله:۔ په تراویح (تراوو) کښی دیو سورة په شروع کښی یو وار په لوړ آواز سره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ باید وویل سی حکه چه بسم الله هم

د قرآن شریف یو آیت دی که څه هم د هیڅ سورۃ جزء نه دی نو که بسم الله بالکل ونه ویل سی نو د قرآن شریف په ختمید و کښی یو آیت کمی راځی یعنی قرآن شریف پوره نه ختمیږی په یوه آیت کم ختمیږی او که په کراړ آواز سره و ویل سی نو د مقتدیانو قرآن شریف نه پوره کیږی حُکه چه د وی بسم الله نه ده اوریدلی (احکام القنطره ص۲۷۳ احکام القرآن ص۲۲)

(۱۰) مسئله:- دروڼی په ټوله میاشت کښی تراویح (تراوی) کول سنت دی که څه هم تر میاشت پوره کید و مخکی قرآن شریف ختم سی مثلاً په پنځلس ورځی کښی ټوله قران شریف ختم سی نو په دغه نوره زمانه کښی هم د تراویح (تراوی) کول سنت مؤکده دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۱ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- صحیح داده چه قل هوالله احد په تراویح (تراوی) کی درې واړه ویل لکه نن سبا چه رواج دی مکروه ده۔ (فتاوی هندیه ص۳۵/۵ اول ټوک)

دکسوف او خسوف لمونځ

(۱) مسئله:- کسوف یعنی د لمر د نتدرې په وخت کښی دوه رکعته لمونځ سنت دی۔ (مراقی الفلاح ص۲۹۷)

(۲) مسئله:- لمونځ دکسوف دی په جماعت سره ادا سی په شرط دی چه د جامع مسجد امام یا د وخت حاکم یا ئی نائب امامت وکړی او په یوه روایت کښی راغلی دی چه هر امام په خپل مسجد کښی د کسوف لمونځ ورکولای سی۔ (در مختار و رد المحتار ص۸۸ اول ټوک)

(۳) مسئله:- دکسوف د لمانځه د پاره اذان یا اقامت نسته بلکه کدئ د خلګو جمعه کول مقصد وی نو اَلصَّلٰوۃُ جَامِعَۃٌ نارې دی وکړی (مراقی الفلاح ص۲۹۸)

(۴) مسئله:- دکسوف په لمانځه کښی لوی لوی سورتونه په مثل د سورۃ بقره

له وجه ... خطبه ... جواب ... اضافه ... مسئله ... فتاوی ... مکروه ... خپل خان ... رواج ... تصحیح ... اغلاط

او داسی نور رکوع او سجده او بل دول سنت دی او قراءت دی کرار وایی
طحطاوی ص۲۹۸ کبیری ص۴۰۴)

(۵) مسئله:- د لمانځه ورسته د امام د پاره بنایی چه په دعا مشغوله
سی. او نول مقتدیان آمین آمین وایی تر هغه وخته پوری چه لمر د تندری
څخه خلاصیږی مگر په داسی حال کښی چه لمر ولویږی یا دیولمانځه وخت
راسی نو بیا دی دعا پریږدی په لمانځه دی مشغوله سی. (مراقی الفلاح
وطحطاوی ص۲۹۸)

(۶) مسئله:- خسوف یعنی د سپوږمی د تندری په وخت کښی هم دوه (۲)
رکعته لمونځ کول سنت دی مگر په دغه کښی په جماعت سره لمونځ کول
مسنون نه دی ټول خلگ دی په خپلو کورونو کښی جلا جلا لمونځ ونه کړی
مسجد ته تلل هم مسنون نه دی. (مجمع الانهر ص۱۳۹ ج۱ عالمگیری ص۲۹۸)

(۷) مسئله:- د دغه رنگه چه یو بیره یا غم راسی نو لمونځ کول مسنون
او سنت دی مثلاً سخت باد وی یا زلزله راسی یا تنا ولویږی یا چیرستوری
راولویږی یعنی شغلی وغورځوی یا چیره واوره واوریږی یا چیر باران
واوریږی یا یو عام مرض لکه وبا او داسی نور وغوڅیږی یا دیو دښمن یا
بل شی بیره وی مگر په دغو وختو کښی چه کوم لمونځونه کیږی بیله
جماعته دی وسی هرڅوک دی په خپل کور کښی جلا جلا لمونځ وکړی پر
نبی صلی الله علیه وسلم چه به یو مصیبت راغلی نو به په لمانځه سره
مشغوله کیدی. (مراقی الفلاح ص۱۶۹ فتاوی هندیه ص۹۸)

(۸) مسئله:- هرڅوندی لمونځونه چه د لته بیان سوه د دوی څخه
ماسیوئ چه هرڅوندی چیر نفل وسی سبب د ثواب او د ترقی د درجاتو
گرځی. خصوصاً په هغو وختو کښی چه د هغو فضیلت په حدیثونو کښی راغلی
دی او په هغو وختو کښی د عبادت کولو ترغیب نبی علیه السلام فرمایلی دی لکه د
روڼی د میاشتی په اخیر و لسو (۱۰) شپو کښی او د برات د میاشتی په پنځلسم تاریخ
کښی د دغو وختو پر فضیلتونه او په دوی کښی د عبادت کولو پر ثواب
راغلی دی. موږ د اختصار او لنډوالی د سببه د دوی بیان ونه کړی.
(مراقی الفلاح ص۱۲۰)

داستسقا یعنی دباران غوښتلو دلمانځه بیان

هر وخت چه دباران ضرورت وی او باران نه اوریږی نو په دغه وخت کښی دخدای تعالی څخه دباران داوریدو دعا مسنون او سنت ده داستسقاء د پاره دعا کول په دغسی طریقه سره مستحب ده چه ټول مسلمانان سره د خپلو کوچنیانو، سپین ږیرو او حیواناتو پیاده په خشوع او عاجزی سره په یو معمولی جامه کښی وصحرا اودښت ته ووزی او وخدای تعالی نوی توبه وکاږی او دخاوندانو دحقوقو حقونه اداکړی او دخپله خانه سره به هیڅ کافر نه بیایی بیادی دوه رکعته لمونځ بیله اذانه او اقامته په جماعت سره وکړی او امام دی پزوره قرائت وایی بیادی دوی خطبی وایی لکه داختر په وخ چه ویل کیږی. بیادی امام مخ پر قبله ودریږی دواړه لاسونه دی پورته کړی د خدای تعالی څخه دی دباران داوریدلو دعا وغواړی او ټول حاضرین دی هم دعا وکړی دری وخی پرله پسی دی دغسی وکړی تردرو وروځو وروسته دی نه کوی څکه چه تردرو وروځو زیاته استسقا نه ده ثابته سوی اوکه تر وتو مخکی یا ئی یوه وخ لمونځ وکړی باران وسو نو بیادی هم دری وخی لمونځ وکړی او په دری سره وروځو کښی دی روژه هم ونیسی څکه چه دا مستحب دی او تر وتو مخکی خیرات کول هم مستحب دی۔ (درمختار ص۸۸۳ اول ټوک)

دلمانځه دفرضو او واجباتو په باره کښی بعضی مسئلی

(۱) مسئله:۔ پرمدرک قرائت نسته دامام قرائت دټولو مقتدیانو د طرفه څخه کفایت کوی او داحنافو په نزد دمقتدی دپاره چه په امام پسی ولاړ وی قرائت ویل مکروه دی (شرح البدایه ص۱۰۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:۔ دمسبوق دپاره په خپلو تیروسو وررکعتونو کښی په یوه رکعت یا دوو رکعتو کښی قرائت ویل فرض دی. (فتاوی هندیه ص۵۵ ج۱)

(۳) مسئله:۔ حاصل دادی چه دامام په موجودګی کښی دمقتدی دپاره قرائت په



کار نه دی لیکن د سبق د پاره چونکه دده په تیرو سوو رکعتونو کښی امام نه وی قرائت په کار دی۔ (فتاوی هندیه ص۵۵ اول ټوک)

(۴) مسئله:- د سجدی ځای د پښو د ځای څخه تر نیم گز زیات باید لوړ نه وی که تر نیم گز نه پرلوړ ځای باندی سجده وکړی نو روا نه ده مگر که یو داسی ضرورت پیښ سی بیا روا ده مثلاً د جماعت د لمانځه خلگ ډیر وی او خلگ دوندی گڼ سره ولاړ وی چه پر محکه باندی د سجدی کولو امکان نه وی نو د لمونځ کونکو پرشا باندی سجده کول روا ده په شرط ددی چه د هرچا پرشا سجده کیږی هغه به هم دغه لمونځ کوی چه سجده کونکی ئی کوی۔ (مراقی الفلاح

(۵) مسئله:- د اختر و په لمانځو نوکښی ماسیوی دهغو تکبیرونو څخه چه په پنځه وخته لمانځو کښی ویل کیږی شپږ نور تکبیرونه واجب دی۔ (طحطاوی مراقی الفلاح ص۱۴۶

(۶) مسئله:- د امام د پاره د سهار په دواړو رکعتونو کښی د ماښام او د ماخستن په اولو دوو رکعتو کښی که قضائی وی یا وختی وی او د جمعی اختر و، تراویح و په لمانځه کښی او د روژی د میاشتی په وتر و کښی په لوړ آواز سره قرائت ویل واجب دی۔ (در مختار ص۴۵۵ اول ټوک مراقی الفلاح ص۷۳

(۷) مسئله:- منفرد یعنی چه په ملا پسی نه وی ولاړ۔ د سهار په دوو رکعتو کښی د ماښام او ماخستن په اولو دوو رکعتو کښی اختیار لری که په لوړ آواز سره قرائت وایی یا کار قرائت وایی۔ علماؤ د لوړ آواز دا تعریف لیکلی دی چه یو بل سړی ئی اوریدای سی او د کار آواز ئی دا تعریف لیکلی دی چه پخپله ئی اوریدای سی او بل څوک ئی نه سی اوریدای۔ (مجمع الانهر ص۱۰۳ اول ټوک)

(۸) مسئله:- د امام او منفرد یعنی یوازی سړی د پاره د ماپښین او مازیگر په اولو رکعتونو او د ماښام او ماخستن په آخری رکعتونو کښی کار قرائت ویل واجب دی۔ (مراقی الفلاح ص۷۱)

(۹) مسئله:- هر هغه نفلونه چه د ورځی کیږی په هغوکی کار قرائت ویل په کار دی او چه په شپه کښی کیږی په هغو کښی اختیار دی که په زوره سره قرائت

۱۳۵۳

۴ نه سی اوریدای ۱۲

کښی وایی که ئی کړار پکښی وایی ۔ (مراقی الفلاح ص۱۳۸)

(۱۰) مسئله:۔ منفرد یعنی چه په ملا پسی ولاړ نه وی که چیری د سهار
مانبام او ماخستن د لمنځونو قضایی په وړځ کښی راګرزوی نو هم په دغو
لمنځونو کښی کړار قرآئت ویل واجب دی او که د دغو لمنځونو په شپه کښی
قضایی راوړی نو بیا دده اختیار دی که ئی کړار وایی که ئی په لوړ آواز
وایی ۔ (درمختار وردالمحتار ص۵۵۶ اول پتوک)

(۱۱) مسئله:۔ که دیوچا څخه د مانبام یا ماخستن په اول و دو هم رکعت کښی
د الحمد لله ورسته د سورة ویل هیرسی نو دده د پاره په دریم و څلرم
رکعت کښی تر الحمد لله ورسته سورة ویل په کار دی او په دغو رکعتو
کښی هم په زړه کرار قرائت ویل واجب دی او په اخیره کښی سجده سهوه
ول هم واجب ده ۔ (سکب الانهر ص۱۰۴)

دلمانځه بعضی سنتونه

(۱) مسئله:۔ تر تکبیر تحریمه (اول الله اکبر) مخکی د دواړو لاسو پورته کول
غوږو پورې د نرانود پاره اوتر اوږو پورې د ښځو د پاره سنت دی
عذر په حال کښی د نرانو د پاره تر اوږو پورې لاسونه پورته کول هم
سیخ پروا نه لری ۔ (شرح البدایه ص۹۴ طحطاوی ص۱۴۹)

(۱) مسئله:۔ تر تکبیر تحریمه ورسته سمدستی لاسونه تر نامه
اندی ایښوول د نرانو د پاره او پر سینه ایښوول د ښځو د پاره سنت
دی ۔ (درمختار ص۵۷۷ لومړی پتوک)

(۱) مسئله:۔ د خلګو د پاره د درنګه تر نامه لاندی لاس ایښوول چه
راسته لاس ور غوی د چپه لاس دورغوی پر شا کښیږدی او د راسته
لاس بټه او خچنه ګوته د چپه لاس پر بند راوګرزوی او هغه نوری
انته دری ګوتی د چپه لاس پر لیچ باندی غوړیدلی کښیږدی سنت دی
درمختار ص۵۷۷ اول پتوک)

(۲) مسئله:۔ د امام او منفرد یعنی پوازی چا د پاره د الحمد لله تر ختمیدو
روسته کرار امین ویل سنت دی او که قرائت په زړه کا ویل کیدی نو بیا

دې تولو مقتدیانو د پاڑه هم امین کړاړ ویل سنت دی. (در مختار ص۵۱۴ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د خلګو د پاڑه د رکوع په حال کښې بنه ټیټیدل چه شا، سر، اوکنا تې ئې ټول سره برابر وی سنت دی. (مراقی ص۷۶)

(۶) مسئله:- په رکوع کښې د خلګو د پاڑه د واړه لاسونه د بغلو څخه لیری کول سنت دی په قومه کښې (هغه ولاړه چه تر رکوع ورو ورو ستګیږی) د امام د پاڑه صرف سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اود مقتدی د پاڑه رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ویل اود منفرد (یوازې چا) د پاڑه د واړه ویل سنت دی. (مراقی ص۲۴۵ ورد المحتار ص۵۱۵ وشرح البدایه ص۹۸ اول ټوک)

(۷) مسئله:- د سجدې په حال کښې د خلګو د پاڑه خپل لس د ورنو څخه او څینګلی د بغلو څخه لیری کول او بازوګان د ځمکې څخه لیری کول سنت دی. (مراقی الفلاح ص۱۴۶ اول ټوک)

(۸) مسئله:- په اوله اواخره ناسته کښې د خلګو د پاڑه د اړنګه کښینستل چه راسته پښه ئې جګه درولی وی اود ښی پښې ګوتې ئې د قبلې وخواته ګرزولی وی چپه پښه ئې ښوروولی وی پرناست وی اود واړه لاسونه ئې پر ورنوا ینښی وی د ګوتو سره نه ئې د ځنګنو وخواته وی سنت دی.
(در مختار ص۵۳۰ اول ټوک)

(۹) مسئله:- د امام د پاڑه سلام په لوړ آواز سره ویل سنت دی. (درمختار ص۵۴۹ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- د امام د پاڑه په خپل سلام کښې د خپلو ټولو مقتدیانو نیت کول که نا ړینه وی که ښکاره وی که هلکان وی او د ډډه سره د اوسیدونکو فرشتو (ملکو) نیت کول اود مقتدیانو د پاڑه د خپل لمانځه د ملګرو نیت کول او د دوی سره چه کرامی اوسیدونکی ملکی (فرشتې دی د هغوی نیت کول که امام د راسته طرف ته وی نو د راسته خوا په سلام کښې اوکه چپه خواته وی د چپه طرف په سلام کښې اوکه محاذی اوبرابر وی نو په دواړو سلامو کښې د امام نیت کول هم سنت دی. (در مختار ص۵۴۹)

(۱۱) مسئله:- د تکبیر تحریمه یعنی اول اللّٰه اکبر د ویلو په وخت کښې د خلګو د پاڑه خپل لاسونه د لستو پو څخه د باندې را ایستل سنت دی

په شرط دی چه یخ یا بل عذر نه وی. (مراقی الفلاح ص۱۵۲)

د جماعت د لمانځه بیان

څرنګه چه په جماعت سره لمونځ کول واجب دی یا سنت مؤکده دی نو د دی سببه دده ذکر هم د لمانځه تر واجبا تو او سنتو وروسته او تر مکروهاتو او داسی نورو مخکی مناسب وبلل سو او هر وخت چه د جمعې (جماعت) مسئلې پیری او قابل د اهتمام او توجه وی نو د دی سببه دده د پاره علیحده او جلا عنوان مقرر کړل سو چه هر وخت لږ تر لږه دوه انسانان په یوه لمانځه کښی سره شریک سی نو ددغه ته د جماعت لمونځ وایي. دا رنګه چه یو انسان په دوی کښی تابع وی او بل متبوع وی متبوع ته امام او تابع ته مقتدی وایي.

(۱) مسئله:- د امام څخه ماسیوی که یو بل څوک د امام سره په لمانځه کښی شریک سی نو د جماعت لمونځ کیږی برابره خبره ده که دغه انسان لوی سړی وی یا ښځه وی یا مرئي وی یا ازاد وی یا یو هوښیار نابالغه کوچنی وی لیکن د جمعې او اختر په لمانځو کښی به لږ تر لږه د امام څخه ماسیوی درې کسان نور وی او که تر درو کسانو کم وی نو بیا جماعت نه صحیح کیږی. (در مختار ص۸۵ اول ټوک باب الجمعة)

(۲) مسئله:- د جماعت د لمانځه د پاره د اهم ضرورته دی چه فرض لمونځ به وی بلکه که نفل لمونځ د دوه کسان دا رنګه وکړی چه یو امام جوړ سی بل مقتدی نو هم جماعت کیدای سی برابره خبره ده که امام او مقتدی د واړه نفل لمونځ کوی یا صرف مقتدی نفل لمونځ کوی مګر نفلی لمونځ همیشه په جماعت کول چه عادت ئی وګرځی یا په نفلی لمانځه کښی تر درو مقتدیانو بالا اوړی یا تیدل مکروه دی. (در مختار ص۷۳۹ لومړی ټوک)

د جماعت د لمانځه فضیلت او تاکید

د جماعت د لمانځه په فضیلت او تاکید کښی صحیح حدیثونه په دوندی کثرت

اوږدوالی سره له اغلی دی که چیری ټول په یوه ځای کښی جمعه کړل سی نو یوه پیره غټه او پنډه رساله ځنډی جوړیدای سی د دغو حدیثونو د کتلو څخه دا نتیجه یقیناً راوزی چه په جماعت سره لمونځ کول د لمانځه په تکمیلولو کښی د یوه لوړی درجی شرط دی نبی صلی الله علیه وآله وسلم هیڅکله د جماعت لمونځ نه دی پری ایښی تر داسی حده چه د مریضی په حال کښی دی مبارک او مسجد ته پخپله تلای نه سو نو دد و خلګو په منځ کښی په داسی شان سره چه یولاس مبارک ئی پر یوه سړی او بل لاس مبارک ئی پر بل سړی ایښی وو - و مسجد ته ئی تشریف راوړی او په جماعت سره ئی لمونځ وکړی چا چه به په جماعت سره لمونځ نه کاوی پر هغه باندی به ډیر په قهر کیدی او زړه به ئی داغوښته چه د جماعت پری بنوونکی نه ډیره سخته سزا ورکړی.

بیشکه په شریعت محمدیه کښی د جماعت د لمانځه ډیر اهتمام او غم خوړل سوی دی او په کار هم دغسی دی. د لمانځه غوندی عبادت شان و حال هم داغوښته چه په هرهغه شی سره چه لمونځ تکمیل او پوره کیږی هغه دی هم تاکید ولوړی درجی ته ورسیږی موږ په دی ځای کښی اول هغه ایت لیکو چه په هغه سره بعضو مفسرینو او د فقهی علماؤ د جماعت لمونځ ثابت کړیدی او یو څو حدیثونه بیانوو.

هغه آیت دا قول د خدای تعالی جل جلاله دی وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ط لمونځ وکړی د لمونځ کونکو سره یو ځای یعنی په جماعت سره لمونځ وکړی. (مدارک التنزیل صـ۳۶ اول ټوک)

په دی آیت شریف کښی صریح او بنکاره حکم دادی چه په جماعت سره لمونځ وکړل سی لیکن څرنګه چه د رکوع معنی بعضو مفسرینو خضوع هم لیکلی ده نو دد ی سبب د جماعت د لمانځه فرضوالی نه ثابتیږی.

(۱) حدیث د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم څخه ابن عمر رضی الله عنه داسی روایت کوی چه په جماعت سره لمونځ کول تر یوازی لمانځه اووه ویشت درجی

زیات ثواب لری۔ (مشکوٰۃ شریف ص۹۵ اول ټوک)

(۲) حدیث:۔ نبی کریم صلی اللہ علیه و اله وسلم فرمایلی دی چه تر یوازی لمانځه کولو دیوه بل چاسره لمونځ په جماعت سره کول ۲۵ برښه دی اود دوو خلګو سره په جماعت لمونځ خو بیا بیخی ۲۵ برښه دی او جماعت چه هرڅومره لوی او زیات وی نو په هغه اندازه سره والله تعالیٰ ته محبوب او خوښ دی. (مشکوٰۃ شریف ص۹۶)

(۳) حدیث:۔ انس بن مالک رضی اللہ تعالیٰ عنه روایت کوی چه د بنی سلمه د قبیلی خلګو اراده وکړه چه د خپلو پخوا اینو او مخکینو ځایونو څخه (چه هغه د مسجد نبوی څخه لیرې وه) یا نژدې سی د نبی صلی اللہ علیه واله وسلم سره نژدې قیام او اوسیدل وکړی نو نبی کریم صلی اللہ علیه واله وسلم وفرمایل ایا تاسی د خپلو قدمو په ایښو ولو کښی چه پر مځکه لګیږی د ثواب خیال نه کوی ثواب ئی نه بولی (مشکوٰۃ شریف ص۶۸)

فایده:۔ د دغه حدیث څخه معلومه سوه چه هرڅوک چه د هرڅوندی لیرې ځای څخه مسجد ته راځی په هغوندی اندازه سره زیات ثواب ورکول کیږی.

(۴) حدیث:۔ نبی صلی اللہ علیه واله وسلم فرمایلی دی چه هرڅوندی وخت د لمانځه په انتظار کښی تیریږی هغه ټول په لمانځه کښی حساب کیږی.

(۵) حدیث:۔ رسول اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم یو وار د ماخستن د لمانځه په وخت کښی و هغو اصحابو مبارکینو ته چه په جماعت کښی شریک وه وفرمایل چه خلګو لمونځونه وکړه بیده سوه اوستاسی هغه وخت چه د لمانځه په انتظار کښی تیر سو ټول په لمانځه کښی حساب سو.

(۶) حدیث:۔ د نبی کریم صلی اللہ علیه واله وسلم څخه بریده اسلمی رضی اللہ تعالیٰ عنه روایت کوی چه د مبارک وفرمایل چه مزیږی ورکړه هغو خلګو ته چه په تاریکو شیوکښی د جماعت د پاره و مسجد ته ځی د دی خبری

۳ المساجد ص۹۰ اول ټوک ۱۲ محشی۔

ژبړی ورکړه چه په قیامت کښی به د دوی د پاره یوه روښنائی وی.

(۷) حدیث :- حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه روایت کوی چه نبی کریم ص
الله علیه واله وسلم و فرمایل چه هرڅوک د ماخستن لمونځ په جماع
سره وکړی هغه ته د نیمی شپی د عبادت ثواب ورکول کیږی او هرڅوک چ
د سهار او ماخستن لمونځ په جماعت سره کوی و ده ته د پوره شپی د عباد
ثواب ورکول کیږی.

(۸) حدیث :- حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه د نبی کریم صلی الله علیه
وسلم څخه روایت کوی چه بیشکه زما په زړه کښی دا اراده راغله چه یو
ته حکم وکړم چه لرګیان سره راټول کړی او بیا د اذان حکم وکړم او یو چا ته وا
چه لمونځ ورکړی او زه د هغو خلګو وکور دنو نه ولاړ سم چه د مسجد ت
د جماعت د لمانځه د پاره نه راځی او د دوی کور دنه وسوځم.

(۹) حدیث :- په یوه روایت کښی راغلی دی چه که چیری زما سره د دوه ر
کوچنیانو او ښځو فکر نه وای نو زه د ماخستن په لمانځه کښی مشغولیدم
او خادمانو ته ی حکم ورکاوی چه د دوی د کور دنو مال او اسباب سره
د دوی وسوځی (مسلم)

د ماخستن د لمانځه تخصیص په دی حدیث شریف کښی په دی سبب
سویدی چه دغه د خوب وخت دی او غالباً ټول خلګ په دغه وخت کښی په
کور دنو کښی وی (امام ترمذی رحمة الله علیه د غه حدیث لیکلی دی او فرمایلی
دی چه دغه مضمون د ابن مسعود، ابو داؤد، ابن عباس او د جابر رضی الله
تعالیٰ عنهم څخه هم روایت سویدی او د غه ټول د نبی کریم صلی الله علیه
واله وسلم د قدر منو اصحابانو څخه دی.

(۱۰) حدیث :- ابو درداء رضی الله تعالی عنه فرمایی چه نبی کریم صلی الله
علیه واله وسلم وفرمایل چه په بیابادی یا صحراء کښی چه د ری مسلمانان
وی او په جماعت سره لمونځ ونه کړی نو بی شکه پر دوی شیطان غالبه کیږی
پس نو ای ابو درداء د جماعت لمونځ پر ځان لازم و بولـه وګوری لیږه
یعنی شیطان هغه پسه یعنی انسان خوری یعنی ګمراه کوی ئی چه د څلی
ډلی یعنی د جماعت د لمانځه څخه جلا سوی وی.

(۱۱) حدیث:- ابن عباس رضی الله تعالی عنه د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم څخه روایت کوی چه هرڅوک اذان واوری د جمعی و لمانځه نه حاضر نه سی او د کره هیڅ عذر هم نه وی وړ پدین سوی نو د ده هغه لمونځ چه یوازی ئی کړی دی نه قبلیږی د اصحابو رضی الله عنهم پو ښتنه څند ی وکړه. چه هغه عذر څه شی دی نو نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل چه بیره یا مرض دی په دغه حدیث کښی د بیری او مرض تفصیل نه دی سوی لیکن په بعضو حدیثونو کښی یو څه تفصیل هم سویدی.

(۱۲) حدیث:- حضرت محجن رضی الله تعالی عنه فرمایی چه یو واړه د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم سره وم چه اذان وسو او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په لمانځه مشغول سو او زه ولاړم پرخپل ځای کښینستم نبی علیه الصلوٰة والسلام د لمانځه څخه فارغه سو او وئی فرمایل ای محجن (رض) تاولی په جماعت سره لمونځ ونه کړی ایا ته مسلمان نه ئی. ما وړته وویل چه یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) زه مسلمان یم لیکن ما خو په کور کښی لمونځ کړی وو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل په هر وخت مسجد ته راسی او وویني چه لمونځ په جماعت سره کیږی نو دخلګو سره په جماعت لمونځ کوه که څه هم تا لمونځ کړی وی

لږ څه په غور سره وګوری چه نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم خپل برګزیده او غوره صحابی حضرت محجن رضی الله تعالی عنه ته د جماعت لمانځه پرنه کولو څومره سخته اودسرزنش څخه چه خبره وکړه چه ایا ته مسلمان نه ئی دغه یو څو حدیثونه د نمونی په توګه باندی ذکر سوه

اوس د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم د برگزیده او غوره اصحابو رضی الله تعالی عنهم اقوال او خبری واوری چه د دوی سره د جماعت د لمانځه څوندی قدر، عزم او فکر وو او د جماعت د لمانځه پریښودل دوی څرنګه بالی د نبی صلی الله علیه وسلم د اطاعت او راضی کیدو به تردوی زیات د بل چا سره فکر وی.

(۱) اثر:- اسود وایي چه یوه ورځ زه د حضرت ام المؤمنین عائشی رضی الله تعالیٰ عنها په خدمت کښی حاضر وم چه د لمانځه د فضیلت او تاکید ذکر او بیان وسو نو په دغه باره کښی حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها تائیداً د نبی صلی الله علیه وآله وسلم د هغه مرض قصه چه دی مبارک کی وفات سوی وو بیان کړه چه یوه ورځ د لمانځه وخت سو او اذان وسو نو مبارک صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چه وابوبکر رضی الله تعالی عنه ته ووایه چه لمونځ ورکړی نو نبی علیه الصلوٰة والسلام ته عرض وسو چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ډیر بی انتها نرم دل سړی دی هر وخت چه ستا پرځای ودریږی نو بی تابه کیږی او لمونځ نه سی ورکولای نو مبارک صلی الله علیه وآله وسلم بیا دغه خبره وفرمایل بیا هغه جواب ورکړه سو بیا نوره مبارک وفرمایل چه تاسی داسی خبری کوی لکه حضرت یوسف علیه السلام ته چه د مصر بنځو کولی.

اوونا بعضو وقول
د نورو صحابی کرامو رضی الله تعالی عنهم د تشبیه ورکولو سره سره د
حضرت زلیخا مجازی عشق او د هغه ناپوهه سوه د
هروخت د حضرت یوسف علیه السلام د دی چه په دغه وخت کښی
عشق ق مشهور وو سو چه د دی د ایجاد هیڅ
حضرت یوسف علیه السلام دی
دوی مراد د یوسف علیه السلام د بنځو
د دغه نبی حضرت یوسف علیه السلام
او د هغه د ورځو د بیدیا د
د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها
د دغه نبی حضرت یوسف علیه السلام
د دغه نبی حضرت یوسف علیه السلام
د دغه نبی حضرت یوسف علیه السلام

وابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) ته ووایه چه لمونځ ورکړی خیر حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د لمانځه ورکولو د پاره وونې په دغه حال کښی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته په مرض کښی یو څه سپکوالی معلوم سو نو دی مبارک د دوو خلګو په مابین کښی وو چه لاسونه مبارک ئې پرد وی ټکیه کړی وه دکوره راوونې زما په ستر ګو کښی نر اوسه هغه حال موجود دی چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم قدمونه (پښی مبارکی) پر محکه ځکیدل او تلئ یعنی دوندی طاقت ئې هم نه وو چه د محکی څخه خپلی پښی مبارکی پورته کړی او هلته حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه لمونځ شروع کړی وو - دئ غوښتل چه وشاته سی مګر نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم منعه و فرمایل او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ئې وشاته درا تلو څخه منعه کړی او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ئې په د غه لمانځه کښی د قوم امام جوړ کړی.

(۲) اثر :- یوه ورځ حضرت امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د سهار په لمانځه کښی سلیمان بن ابی حثمه نه ولیدی نو ددې وکوره ته ورغلی او ددې دمور څخه ئې پوښتنه وکړه چه ما نن سلیمان د سهار په لمانځه کښی نه ولیدی نو مور ئې ووویل چه هغه ټوله شپه لمونځ کاوی دد غه سبب د سهار په وخت کښی خوب ورغلی وو. بیا حضرت عمر رضی تعالی عنه و فرمایل چه زما د سهار لمونځ په جماعت سره کول ډیر خوښ دی تر دی چه ټوله شپه عبادت وکړم (موطا امام مالک)

شیخ عبدالحق محدث دهلوی لیکلی دی چه د دی حدیث څخه صاف اوښکاره معلومیږی چه د سهار په لمانځه کښی چه په جماعت سره وسی د تهجد تر لمانځه لږ ډیر ثواب دی د دی وجهی څخه علماؤ لیکلی دی چه که د شپی بیداری د سهار د لمانځه د پاره تاوان رسونکی وی نو د شپی رونول پریښول ښه کار دی (اشعة اللمعات)

(۳) اثر :- حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی چه بیشکه ما خپل ځان امتحان او تجربه کړی او اصحاب رضی الله تعالی عنهم چه د جماعت د لمانځه پریښول نه کوی مګر هغه منافق ئې کوی چه د دې منافقت ښکاره سوی

وی یا مریض وی مگر مریض به هم ددؤ خلکو په کومک د مسجد ته حاضریدی
د پاره ددی چه په جماعت سره لمونځ وکړی بیشکه نبی کریم صلی الله علیه وآله
وسلم موږ ته د هدایت لاری راښوولی دی اود هغوی د جملی څخه لمونځ دی
په هغو مسجد ونوکښی چه هلته اذان او اقامت کیږی یعنی په جماعت سره لمونځ
کیږی په بل هدایت کښی دی چه فرمایلی دی چه د هر چا خواهش وی چه
سبا یعنی د قیامت په ورځ د الله جل جلاله د حضور ته مسلمان ورسی نو
ده د پاره په کار ده چه په پنځه وخته لمانځه کښی پابندی وکړی
په هغو ځایونو کښی چه هلته اذان کیږی (یعنی لمونځ په جماعت سره
کیږی) بیشکه الله تعالی ستاسی د نبی د پاره د هدایت طریقی اولاری پیدا
کړی دی او د غه لمونځ هم د دغو طریقو اولارو څخه دی که چیری
تاسی په خپلو کورونو کښی لمونځ کوی لکه چه منافقین ئ کوی نو بیشکه
پاته کیږی ستاسی څخه د نبی (صلی الله علیه وآله وسلم سنت. اوکه
تاسی پریږدی د خپل پیغمبر سنت نو بیا بیشکه گمراه کیږی او یوځوک چه
په بنه طریقه سره اودس وکړی د مسجد ته د لمانځه د پاره نه ځی مگر
خو بیا په دا سی حال کښی ځی چه د ده په هر قدم باندی ثواب درکول کیږی
د غه رنگه په هر قدم یوه مرتبه درکول کیږی او یوه گناه ئ معافیږی او
موږ ولیدل چه د جماعت لمونځ نه پریږدی مگر منافق ئ پریږدی ځموږ
خود غه حال وو چه د ناجوړی په حال کښی به ددؤ خلکو په مابین کښی چه
یولاس به مو په یوه سړی او بل لاس به مو په بل سړی وو د جماعت د لمانځه
ته راوستل کیدو او د لمانځه په صف کښی دروول کیدو.

(۴) اشراب یو واړه یو سړی د مسجد څخه تر اذان وروسته بیله دی چه
لمونځ وکړی ولاړ نو حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه وفرمایل چه
د غه سړی د ابوالقاسم صلی الله علیه وآله وسلم نافرمانی وکړه او د ده
مبارک مقدس حکم ئ نه ومانی. (مسلم شریف)

وگوری حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه د جماعت و پریښوونکی ته څه

وویل ایایو مسلمان اوس هم بیله کوم عذره د جماعت د پریښو ولو جرائت اودلاوری کولای سی ایایو ایمانداره سړی د حضرت ابوالقاسم صلی الله علیه واله وسلم نافرمانی خوښولای سی.

(۵) اثر:- حضرت ام درداء رضی الله تعالیٰ عنها فرمایی چه یووار حضرت ابو درداء رضی الله تعالیٰ عنه وماته په داسی حال کښی راغلی چه ډیر غضبناک وو ماپوښتنه وکړه چه ته په دغه وخت کښی ولی په غضب اوقهر یی. ده وویل په خدای دی زما قسم دی چه زه د محمد صلی الله علیه واله وسلم په امت کښی اوس هیڅ کار نه وینم مګر داچه په جماعت سره لمونځ کوی یعنی اوس ئی دغه هم پری ایښی دی.

(۶) اثر:- د نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم د ډیرو اصحابانو څخه روایت سوید ی چه فرمایلی ئی دی چه هرڅوک اذان واوری او د جماعت ولمانځه ته ولاړ نه سی د ده لمونځ نه کیږی. د دغه ترلیکلو وروسته امام ترمذی رحمة الله علیه لیکلی دی چه بعضو علماؤ ویلی دی چه دغه حکم تاکیدی اونهجری دی مقصد ئی دادی چه بیله عذره د جماعت لمونځ پری نسوول روانه دی

(۷) اثر:- مجاهد د حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه پوښتنه وکړه چه هرهفته سړی چه تمامه ورځ روژی نیسی اوټوله ورځ لمونځونه کوی مګر د جمعی او جماعت په لمانځه کښی شراکت نه کوی د دغسی سړی په باره کښی ته څه وایی ده وفرمایل چه دغسی سړی به دوزخ ته ځی (ترمذی) امام ترمذی د دی حدیث شریف مطلب دا رنګه بیانوی چه د جمعی او د جماعت د لمانځه مرتبه کمه وبولی پری ئی نه دی نو بیا دغه حکم د ده د پاره دی لیکن که د دوزخ د ورتلو څخه د لږ وورځو د پاره ورتلل واختیار سی نو د دغه تاویل هیڅ ضرورت نسته.

(۸) اثر:- د سلف صالحینو یعنی د مخکینیو نیکانو څخه گو د ادستور او قانون

وو چه د هر چا څخه به د جماعت لمونځ پاته سو تراوو ورځو پورې به هغه ملامتم او غم پرسی کیدلا (احیاء العلوم)

د اصحابو رضوان الله علیهم اجمعین قولونه هم لږ غوندی بیان سو چه په حقیقت کښی د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم قولونه دی اوس لږ څه د امت د علماؤ او د مجتهدینو د ملت وحال ته وګورې چه د دوی د جماعت په باره کښی څه خیال دی او دوی د دغو حدیثونو مطلب څرنګ بیان کړی دی.

(۱) د ظاهریه اود امام احمد رحمة الله علیه د بعضو مطابعت کوونکو مذهب دی چه جماعت د لمانځه د صحیح کیدو شرط دی بیله جماعته لمونځ نه صحیح کیږی.

(۲) د امام احمد صاحب صحیح مذهب دا دی چه د جماعت لمونځ فرض عین دی که څه هم د لمانځه د صحیح والی شرط نه دی د امام شافعی صاحب د بعضو متابعت کونکو هم د دغه مذهب دی.

(۳) د امام شافعی صاحب د بعضو متابعت کونکو دا مذهب دی چه په جماعت سره لمونځ کول فرض کفایی دی. امام طحاوی چه د امام صاحب په مذهبباندې کښی دیولوی درجی د فقهی او احادیثو عالم دی د هغه مذهب هم دغه دی.

(۴) د امام صاحب د اکثرو محققینو عالمانو په نزد د جماعت لمونځ واجب دی محقق ابن حمام، حلبی، صاحب د بحرالرائق او د اسی نورو هم پرد غه طرف دی.

(۵) د جماعت د لمانځه پرې ښوونکی ضرور ګنهګار ګڼی او د ده شاهدی د نه قبلوی په شرط د دی چه ده بی عذره صرف د سستی په وجه د جماعت لمونځ پرې ایښی وی.

(۶) زمونږ علماء لیکی که په یو بنار کښی خلګ د جماعت لمونځ پریږدی او خبره د جماعت د لمانځه هم ونه منی نو د دوی سره جنګ کول روا دی.

(۷) په تنبیه او د اسی نورو کتابو کښی راغلی دی چه بیله عذره د جماعت د لمانځه پرې ښوونکی ته سزا ورکول پر امام د وخت واجبه ده. او که د ده همسایه ودغه پرې ښوونکی ته د جماعت د لمانځه چه ډیر بد کار دی هیڅ ونه وایی

نو گنهگاره کیږی.

(۸) که مسجد ته هغه وخت ورځی چه اقامت واوری یعنی تر څو چه ئی اقامت نه وی اوریدلی مسجد ته نه ورځی نو گنهگاره کیږی حکه چه اقامت واوری بیا ورځی نو د یوه دوو رکعتو یا د پوره لمانځه د تیریدو ویره ده. د امام محمد رحمة الله علیه څخه نقل سوید ی چه د جمعی او د جماعت د لمانځه د پاره تیز قدمونه اخستل روا دی په شرط د دی چه د غه تلونکی ډیر په تکلیف نه سی.

(۹) د بعضو حنفیه علماؤ په نزد د جماعت لمونځ سنت مؤکد دی مگر د واجب په حکم کښی دی او په حقیقت کښی د امام صاحب د مذهب یا نو د دغو دوو قولونو په مابین کښی هیڅ مخالفت نسته.

(۱۰) که یو څوک د دینی مسئلو په زده کولو یا وبل ته په ورزده کولو کښی شپه او ورځ اخته وی او د جماعت و لمانځه ته نه راحاضریږی نو معذور نه بلل کیږی او د ده شاهدی نه قبلیږی. (بحرالرائق وغیره)

د جماعت د لمانځه حکمتونه او فایدی

په دی باره کښی علماء کرامو ډیر څه بیان کړی دی مگر تر هغه ځایه یوه

چه زما کوتا فکر په سر سیزی ترشاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه بنه جامع او لطیف او خوند ور تقریر هیڅانه دی کړی په دی باره کښی که څه هم زیات لطف او خوند دا وو چه دده عبارت بعینه را نقل سی اود ده دغه پاکیزه عبارت څخه دغه مضمون نه معلوم سی مګر د اختصار د پاره زه د مولانا شاه ولی الله صاحب د خبرو خلاصه دلته بیانوم۔ شاه ولی الله صاحب فرمایی۔

(۱) هیڅ شی تر دغه زیات ګټور او فائده مند نه دی چه یو عبادت عام رواج کړل سی تر دا سی حده پوری چه د غه عبادت یو ضروری عبادت سی چه پریښوول ئی د ترک عادت یعنی د پریښوولو د عادت په رقم ناممکن سی او هیڅ عبادت تر لمانځه زیات شان او قدر والا نسته چه دده دغسی خاص غم خوړدنی وسی۔

(۲) په مذهب کښی هر قسم خلګ وی ناپوهان هم وی عالمان هم وی نود دی سبب داد پیرلوی مصلحت خبره ده چه ټول خلګ جمعه سی یو دبل په مخکی دغه عبادت ادا کړی که دیو چا څخه څه غلطی وسی نو هغه بل دی ور بښی نو ګویا د خدای تعالیٰ عبادت یو زیور سو او ټول عوړ کونکی ور ته ګوری چه هره خرابی په دغه عبادت کښی موجود نه وی هغه ورښول کیږی او چه هره عمده ګی او بنه والی یکښی کیږی هغه خو بنوی پس نو د غه یو عمده او بنه ذریعه د لمانځه د تکمیلید و او پوره والی ګرځی۔

(۳) کوم خلګ چه بی لمانځه وی د د وی حال هم د جماعت د لمانځه په سبب معلومیږی او د وی ته د نصیحت کولو موقع پیدا کیږی۔

(۴) دیو څو مسلمانانو یو ځای کیدل د خدای تعالیٰ عبادت کول او د خدای تعالیٰ څخه دعا غوښتل د نازلید و د رحمت او قبلید و د پاره یو عجیبه خاصیت لری۔

(۵) د د ی امت څخه د الله تعالیٰ مقصد دا دی چه د د ه کلمه بلنده او لوړه وی او د کفر کلمه پست او کښته او ذلیله وی او پر مخکه باندی هیڅ مذهب تر اسلام غالب او قوی نه وی او د غه کار هغه وخت کیدای سی چه دا طریقه مقرره سی چه ټول عام مسلمانان او خاص مسلمانان مسافر او کور والا

مسلمانان واړه او لویان مسلمانان په یو خپل لوی او مشهور عبادت کښی سره جمعه کیږی شان اود به به د اسلام بنکاره کړی دد غو ټولو مصلحتونو د پاره د شریعت پوره توجه د جماعت د لمانځه وخواته را وګرزیده او د جماعت د لمانځه دعوت او ترغیب وخلګوته ورکړه سوا د پری نښو و لو څخه ئ سخته منعه وسوه.

(۶) د جماعت په لمانځه کښی دا فایده هم ده چه ټول مسلمانان یو د بل په حال سره خبریږی او یو د بل په درد او غم کښی سره شریکیږی سی چه په دغه سره د دینی ورورولی او ایمانی مینی پوره اظهار او محکم والی کیږی چه د دی موجوګه شریعت یوغټ مقصد دی چه تاکید او فضیلت د دینی ورورولی او ایمانی مینی په قران عظیم او په حدیثو کښی د نبی کریم علیه الصلوة والسلام ځای پرځای فرمایل سویدی. افسوس دی زمونږ په زمانه کښی پری نښو ول د جماعت د لمانځه یو عام عادت ګرزیدلی دی جاهلان او ناپوهان خو پریږده هوښ بعضی عالمان او تعلیم یافته خلګ په دغه بلا کښی مبتلا او اخته وینو.

افسوس د دغه خلګ حدیث وایي په معنی ئ ښه پوهیږی مګر د جماعت د لمانځه سخت تاکید او تینګښت د دوی پرزړونو چه تر څه بر و سخت دی هیڅ اثر نه کوی د قیامت په ورځ چه هر هغه وخت د رونږ جزا د قاضی په محکمه تر ټولو اول د لمانځه مقدمی پیش سی او د لمانځه د نه کونکو څخه یا په لمانځه کښی د کمی کونکو څخه سوال شروع سی نو د غه خلګ به څه جواب ورکوی

د جماعت د لمانځه د واجبیدو شرطونه

(۱) نارینه به وی پر بنځو باندی د جماعت لمونځ واجب نه دی.

(۲) بالغ والی پر نابالغه کوچنیانو باندی د جماعت لمونځ واجب نه دی.

(۳) آزاد والی پر غلام (مریی) باندی د جماعت لمونځ واجب نه دی.

(۴) عاقل والی پر مست، بی هوښه او لیونی باندی د جماعت لمونځ واجب نه دی (درمختار ص ۵۷۶ اول ټوک ردالمحتار ص ۵۷۹ اول ټوک)

(۵) د ټولو عذرونو څخه به خلاص وی د دغو عذرونو په حال کښی د جماعت لمونځ واجب نه دی لیکن که ئ وکړی ښه کار دی د نه کولو په صورت کښی د جماعت د ثواب څخه بی برخی پاته کیږی (ردالمحتار ص ۵۷۹ ج ۱)

د جماعت د پریښودلو عذرونه څورلس دی.

(۱) نه پیدا کیدل د جاني په قدر د پټید و د عورت - (عالمګیري ص۳۶ ج۱)

(۲) چه د مسجد په لار کښې سختي خټي وي چه تلل سخت مشکل وي امام ابو یوسف رحمة الله علیه د امام اعظم رحمة الله علیه څخه پوښتنه وکړه چه د خټو او داسې نورو شیانو په حال کښې د جماعت د لمانځه د پاره ته څه حکم ورکوی نو امام صاحب وفرمایل چه د جماعت لمونځ پریښودل زما خوښ نه دی. (ردالمحتار ص۵۸۰ لومړی ټوک)

(۳) چه باران ډیر په زور سره اوري په داسې حال کښې امام محمد رحمة الله علیه په موطأ کتاب کښې لیکلی دی چه که څه هم نه تلل د جماعت و لمانځه ته روا دی مګر بنه خبره داده چه مسجد ته ولاړ سی په جماعت سره لمونځ وکړی.

(۴) سخت یخ چه د کور څخه په وتلو کښې یا د مسجد ته په تللو کښې د مریضي پیدا کیدو یا پریدو بیره وی.

(۵) د مسجد ته د تللو په وخت کښې د مال او اسباب د غلا کیدو بیره وی.

(۶) د مسجد ته د تللو په حال کښې د دښمن سره د مخامخ کیدو بیره وی.

(۷) د مسجد ته په تللو کښې د یو قرض خواه او پور غوښتونکي سره د مخامخ کیدو بیره وی دا رنګه چه د هغه څخه د تاوان درسیدو بیره وی په شرط د دی چه د ده د قرض پرادا کولو قادر نه وی او که چیرې قادر وی نو دی ظالم بلل کیږی او د ده د پاره د جماعت د لمانځه د پرې ښودلو اجازه نه کیږی.

(۸) تاریکه شپه وی چه لار نه معلومیږی لیکن که خدای پاک د رڼا ئی د پاره یوشی ورکړی وی لکه څراغ او داسې بل شی نو بیا د جماعت د لمانځه پریښودل په کار نه دی.

(۹) د شپې وخت وی او ډیر سخت باد (هوا) چلیږی.

(۱۰) یا د یو مریض تیمارداری او خدمت کوی دا رنګه که چیرې دی د جماعت و لمانځه ته ولاړ سی نو د مریض د تکلیف یا وحشت یا بیرې خطره وی.

(۱۱) دوډی تیاره وی یا وتیارید و ته نږدې وی او داسې وبږی وی چه د دی بیره وی چه لمونځ به په بنه توجه سره و نه کړم.

(۱۲) چه اودس ئی درونده وی برابره خبره ده که د وړو بولو په وجه سره

درونډی یا دغټو بولو په وجه درونډی - درمختار صـ۵۵ اول پټوک)

(۱۳) د سفر ارادہ ئی وی او بیړیږی که چیری په جماعت سره لمونځ وکړم نو ناوخته کیږی او قافله راځنه ځی د ډیل یعنی توری ګاډی مسئله هم پرده غه مسئلی د سفر باندی قیاس ده مګر د وندی قدر فرق لری چه هلته تړیوی قافلی ورو سته بله قافله تړپرو ورځو ورو سته پیدا کیږی او دلته ریل یعنی توره ګاډی په یوه ورځ کښی پرواز نه تیریږی که دیوه وخت توره ګاډی تیره سی نو دبل وخت دانه څندی تیریږی دبل وخت په توره ګاډی کښی تلای سی لیکن که یو سخت تکلیف ورته پیښیدی چه دبل وخت په توره ګاډی کښی ولاړ سی او هغه اوله ګاډی پریږدی نو په دغه صورت کښی بیا دبلی ګاډی انتظار نه کول هیڅ پروا نه لری ځکه چه زموږ په دین کښی تکلیف نسته. (ردالمحتار صـ۵۸۱ لومړی پټوک)

(۱۴) یو د اسی مریضی وی چه تلای نه سی یا رونډوی په ستړګو نه وینی یا ئی پولاس پری سوی وی یا ئی یو پښه پری سوی وی لیکن کوم نابینا او رونډ چه تر مسجد پورې بی تکلیفه رسیدای سی نو باید د جماعت لمونځ پری نه ښدی

د جماعت د لمانځه د صحیحوالی شرطونه

(۱) شرط اسلام دی د کافر د جماعت لمونځ صحیح نه دی.

(۲) شرط عاقل والی دی دمست، بی هوښه اولیونی د جماعت لمونځ صحیح نه دی

(۳) شرط د مقتدی دپاره د لمانځه د نیت سره د امام د اقتداء هم نیت کول یعنی دا ارادہ په زړه کښی کول چه زه په دغه امام پسی فلانی لمونځ کوم. د نیت بیان مخکی په ښه تفصیل سره بیان سوی دی. (شامی از نور الایضاح)

(۴) شرط د امام او مقتدی د دواړو د ځای یو والی برابره خبره ده که حقیقتاً یو وی لکه د واړه چه په یوه مسجد یا یوه کوټه کښی ولاړ وی یا حکماً یو ځای وی یعنی په حکم کښی دیوه ځای دی لکه دیو دریاب یا رود پر پله چه په جماعت سره لمونځ وسی او امام د پله پرهغه بله غاړه وی مګر په مابین کښی برابر صفونه

ولاړ وی په دغه صورت کښی که څه هم د ملا اودهغو مقتدیانو په مابین کښی چه د پله پرهغه بله غاړه باندی دی رود حائل او مانع دی اود دغی وجهی څخه د دواړو خای حقیقتًا یونه دی مگر څرنگه چه د غه امام د پله پر یوه غاړه دی اود دغه مقتدیانو چه د پله پر بله غاړه باندی ولاړ دی. د دوی د واړو په مابین کښی برابر اوپرله پسی صفونه ولاړ دی د دغه سبب د دوی د واړو خای په حکم کښی دیوه خای بلل کیږی او اقتداء ئی صحیح کیږی

(۱) مسئله:- که مقتدی د مسجد پر بام ولاړ وی او ملا په مسجد کښی دننه ولاړ وی نو روا دی ځکه چه د مسجد بام د مسجد په حکم کښی دی او دغه د واړه خایونه په حکم کښی دیوه خای بلل کیږی. د غه رنگه که دیو چا بام د مسجد سره متصل او مبنتی وی او په مابین کښی حائل او مانع نه وی نو د غه بام هم حکمًا د مسجد سره یو بلل کیږی او پرد غه بام درید ل په دغه امام پسی لمونځ کول چه په مسجد کښی لمونځ کوی روا دی. (در مختار ص۶۱۱ اول ټوک رد المحتار ص۶۱۲ اول ټوک فتاوی هندیه ص۵۵ اول ټوک

(۲) مسئله:- که مسجد پرغټ وی او د غه رنگه که یو کور پرغټ وی یا ځنگل وی د امام او مقتدی په مابین کښی د وندی غټ خالی میدان وی چه دوه صفونه پکښی خاییږی نو د غه د واړه خایونه یعنی هغه خای چه امام ولاړ دی او هغه خای چه مقتدی ولاړ دی جلا جلا بلل کیږی او د مقتدی اقتداء په امام پسی روانه ده. (در مختار بحر الرائق وغیره)

(۳) مسئله:- د غه رنگه که د امام او مقتدی په مابین کښی یو واله وی چه په د غه واله کښی کښتی اوداسی بل شی چلیدای سی یا یو د وندی غټ حوض وی چه د پاکوالی حکم ئی شریعت کړی وی یا یو عامه لاره وی چه د غو یو اوبل شی گاډی پرتیریدای سی او په مابین کښی صفونه نه وی نو د غه د واړه خایونه یو شی اومتحد نه بلل کیږی او اقتداء روانه ده لیکن که یو پیر کوچنی گردی خای حائل وی چه د ښځگی لاری سره برابر نه وی نو بیا د غه کوچنی گردی خای د اقتداء مانع نه گرځی. (در مختار ص۶۱۳ اول ټوک)

④ مسئله:- دغه رنگه که د دوو صفونو په مابین کښی د غسی والا یا د غسی لار واقع سی نو د دغه صف اقتداء نه صحیح کیږی کوم چه د دغی ولی یا لاری پرهغه بله غاړه دی۔ (درمختار ص۶۱۳ اول ټوک)

⑤ مسئله:- د سپاره اقتداء په سپاره پسی یا پیاده اقتداء په پیاده پسی صحیح نه ده حکه چه د دواړو حالتونه یو نه دی۔ لیکن که د واړه پریوه شی سپاره وی بیا صحیح ده ص۶۰۸)

⑤ شرط:- د مقتدی او د امام د واړو لمنځونه به سره مغایر او جلا نه وی که د مقتدی لمونځ د امام د لمانځه څخه غیر او جلا وو نو اقتداء روا نه ده مثلاً امام د ماپښین لمونځ کوی او مقتدی د مازیګر د لمانځه نیت وکړی یا امام د تیری ورځی د ماپښین د لمانځه قضاء اوړی او مقتدی د نن ورځی د ماپښین د لمانځه نیت وکړی لیکن که د واړه د پرون ورځی د ماپښین د لمانځه قضاء راوړی یا د واړه د نن ورځی د ماپښین د لمانځه قضاء راوړی بیا روا دی۔
مګر که د امام او مقتدی لمونځ دا رنګه سره غیر او جلا وو چه مقتدی په امام پسی نفل کول او امام فرض لمونځ کاوی نو اقتدا صحیح ده حکه چه د امام لمونځ قوی دی۔ (درمختار وردالمحتار ص۶۰۶ اول ټوک)

⑥ مسئله:- مقتدی که تراویح کوی او امام نفل لمونځ کوی بیا هم اقتداء نه صحیح کیږی حکه چه د امام لمونځ ضعیف دی۔ (ردالمحتار ص۶۱۷ ج۱)

⑥ شرط:- د امام لمونځ به صحیح وی که د امام لمونځ فاسد سو نو د ټولو مقتدیانو لمونځ هم فاسدیږی برابره خبره ده که دغه فساد د لمانځه ترختمید و مخکی معلوم سی یا د لمانځه ترختمید و وروسته معلوم سی مثال ئی دادی چه د امام پرکالو نجاست غلیظه (سخته مردارۍ) تریوه درهم زیاته وه او تر لمانځه وروسته یا د لمانځه په مابین کښی معلومه سوه یا د امام اودس نه وو او وروسته تر لمانځه یا په مابین کښی د لمانځه ورپیاد سوه چه زما اودس نسته۔ (ردالمحتار ص۵۷۵ اول ټوک)

⑦ د امام لمونځ که دیو سبب څخه فاسد سو او مقتدیانو ته معلوم نه وو نو د امام دپاره لازمه ده چه مقتدیانو ته ترڅوچه امکان ئی وی د دغی خرابی اود لمانځه خبر ورکړی د دی دپاره چه دغه خلګ خپل لمونځ نه بیرته

را وگرزوی - برابره خبره ده که امام ودوی نه دیوچا په واسطه خبر ورکوی یادخط په واسطه خبر ورکوی. (مراقی الفلاح ص۱۶۱ وردالمحتار ص۶۱۸ اول توک

(۷) شرط :- مقتدی به دامام څخه مخکی نه درپیږی برابره خبره ده که مقتدی دامام سره برابر درپیږی یا ترامام ورودسته درپیږی که مقتدی ترامام مخکی ولاړ وی نو اقتداء ئی نه صحیح کیږی د مقتدی درپیدل ترامام مخکی دارنګه وی چه مروخت دمقتدی پوندی دامام دپوندو څخه مخکی سی که پوندی مخکی نه وی او د مقتدی گوتی دامام دگوتو څخه مخکی سوی برابره خبره ده که دپښودلوی والی دسببه وی یادگوتو د اوږدوالی دسببه وی نود غه ته مخکی درپیدل نه وایی او اقتداء روا ده.

(ردالمحتار ص۵۷۵ لومړی توک)

(۸) شرط :- مقتدی به دامام په نقلید وسره خبروی مثلاً دولاړی څخه رکوع ته نقل کیدل درکوع څخه وقومی ته (یعنی تررکوع ورودسته ولاړی ته نقل کیدل بیا سجده واوناستو ته نقلیدل برابره خبره ده که امام ته گورې یا دیو مکبر یعنی الله اکبر ویونکی والا آواز اوری یا یو مقتدی ته گورې که یو مقتدی ته دخپل امام د انتقالاتو او نقلید و علم اوخبر نه وی برابره خبره ده که دیوشی دحائل والی اومانعوالی دسببه وی یادیو بلی وجهی څخه وی نو اقتداء نه صحیح کیږی اوکه حائل په مثل دپردی یادیوال یابل شی وی مګرد امام انتقالات اونقلیدل معلومیږی نو اقتداء روا ده. (ردالمحتار ص۵۷۵)

(۸) مسئله :- که د امام مقیم والی یامسافر والی نه معلومیږی لیکن دقرائتو اوعلامو څخه د ده د مقیموالی خیالی مقتدی وکړی په شرط دی چه د غه امام په یو بنار یا کلی کښی وی او لمونځ ورکړی په شان د مسافر یعنی په څلورو رکعتیز لمانځه کښی پردوو رکعتو سلام وګرزوی او مقتدی ته دی سلام څخه د امام په باره کښی د سهوی اوخطا شک وی نو د غه مقتدی دیا ره دخپلو څلورو رکعتو د پوره کولو ورودسته دامام د حال معلومول واجب دی چه امام سهو یا خطا سو یا که امام مسافر ووکه د تحقیق او معلومو والی په وجه د ده مسافر والی معلوم سو نو لمونځ ئی صحیح کیږی اوکه د تحقیق کولو ورودسته دا معلومه سوه چه امام سهوه اوخطا سوی وو - نو

لمونځ دی راوګرزوی اوکه ئې تحقیق هیڅ هم ونه کړی بلکه مقتدی د دغې شبهې اوشک په حال کښې لمونځ وکړی نو په دغه صورت کښې هم پرده د لمانځه راګرزول واجب دی۔ (بحرالرائق ص۳۵ دوهم ټوک)

⑨ مسئله:۔ که ئې د امام په باره کښې د مقیم والی خیال وی مګر امام د دغه لمونځ په بنار یا کلی کښې نه وړکوی بلکه د بنار یا کلی څخه ئې پربیبان اودباندی وړکوی او دا د خلور رکعتیز لمونځ د مسافر د لمانځه په شان وړکړی اومقتدی ته د امام د خطا کیدو شک وړپیدا سو په دغه صورت کښې دی هم مقتدی خپل خلور رکعته پوره کړی اوکه ئې وروسته تر لمانځه د امام حال معلوم کړی نوښه دی اوکه ئې معلوم نه کړی نو د دا د لمونځ نه فاسدیږی ځکه چه دکلی یا بنار څخه د باندی د امام مسافر والی ښکاره او غالب دی او د دا د په باره کښې د مقتدی د اخیال چه کیدای سی چه دی به سهوه او خطا سوی وی د ظاهر خلاف دی د دی سببه په دغه صورت کښې د حال معلومولو تحقیق ضروری نه دی دغه رنګه که خلور رکعتیز لمونځ په بنار یا کلی کښې وړکړی یا په صحرا یا بل ځای کښې او یو مقتدی ته د دا د په باره کښې د مسافر والی شبهه اوشک وی لیکن امام پوره خلور رکعته وړکړه بیا هم د مقتدی د پاره د لمانځه وروسته د امام د حال معلومول واجب نه دی او د سهار او ماښام په لمانځه کښې هیڅ وخت هم د امام د مقیم والی یا مسافر والی حال معلومول ضروری نه دی ځکه چه په دغو لمنځونو کښې مقیم او مسافر د واړه برابر دی خلاصه ئې داده چه د دغه تحقیق او حال معلومول صرف په یوه صورت کښې دی چه هر وخت امام په بنار یا کلی کښې یا یو بل ځای خلور رکعتیز لمونځ دوه رکعاته مقتدیانو ته وړکړی اومقتدی ته پرامام باندی د سهوی اوخطا شک وی۔ (بحرالرائق ص۳۵ دوهم ټوک

⑩ شرط:۔ د مقتدی د پاره په ټولو رکنونو یعنی فرضونو کښې د قرائت څخه ماسیوی د امام سره شریکیدل ضروری دی برابره خبره ده که د امام سره یو ځای رکوع او سجده وکړی یا ئې تر ده وروسته وکړی یا ئې تر ده د مخه وکړی په دی شرط چه د دغه رکن تر پایه پوری په یو حصه کی امام د ده سره شریک سی د اول صورت مثال دادی چه د امام سره یو ځای رکوع او سجده او یا نور ارکان وکړی د دوهم صورت مثال دادی چه امام رکوع وکړی او دیږی تر دغه وروسته مقتدی رکوع وکړی د دریم صورت مثال دادی چه امام څه مخکی رکوع وکړی مګر په رکوع کښې تر دوندی

وخته وی چه امام هم رکوع ته ولاړ سی او دغه مقتدی لا رکوع کوی. (رد المحتار ص۵۷۵ اول پتوک)

(۱۰) مسئله:- که په یو رکن کښی مقتدی د امام سره شریک نه سی مثلاً امام رکوع وکړی او مقتدی رکوع ونه کړی یا امام دوی سجدی وکړی. او مقتدی مخکی یوه سجده وکړی یا د یو رکن شروع او ابتداء د امام څخه مخکی وسی او تر پایه پوری امام په دغه رکن کښی ورسره شریک نه سی مثلاً د امام څخه مخکی مقتدی رکوع ته ولاړ سی او مخکی ترڅو چه امام رکوع وکړی مقتدی د رکوع څخه را پورته سی ودریږی نو په دغو دواړو صورتونو کښی اقتداء صحیح نه ده. (مراقی الفلاح ص۹۷)

(۱۰) شرط:- د مقتدی حال به د امام څخه کم یا برابر وی. (در مختار ص۵۷۵ لومړی پتوک)

(۱) اول مثال د ولاړ اقتداء په ناست پسی چه د ولاړی څخه عاجز وی روا ده په شریعت کښی د ولاړی څخه د عاجز او معذور ناسته په مثل سره د ولاړی ده. (رد المحتار ص۶۱۵ لومړی پتوک)

(۲) دوهم مثال:- په تیمم والا پسی که تیمم د اوداسه د پاره وی یا د غسل د پاره وی د اودس کونکی او غسل کونکی اقتداء صحیح ده ځکه چه د تیمم اوداسه او غسل حکم په باب کښی د پاکی یو رنګه دی یو د بل څخه کم یا زیات نه دی. (رد المحتار ص۶۱۵ اول پتوک)

(۳) دریم مثال:- په مسحه کونکی پسی برابره خبره ده که پرموزو مسحه کوی یا پر پټۍ او سکنده مسحه کوی د پرې منځونکی اقتداء روا ده ځکه چه مسحه کول او پریمنځل دواړه دیوی درجې طهارت او پاکی ده یوه پاکی پر هغه بله پاکی او طهارت بالا نه ده. (رد المحتار ص۶۱۵ اول پتوک)

(۴) څلرم مثال:- دیوه معذور اقتداء په بل معذور پسی روا ده په شرط د دی چه دواړه په یوه عذر کښی مبتلا وی مثلاً د دواړو د سلسل البول یعنی د بولو د جاری والی مریضی وی یا د دواړو د خروج الریح یعنی د هوا د خارجیدو مریضی وی. (شامی ص۶۰۴ اول پتوک)

(۵) پنځم مثال:- دامی اقتدا په امی پسی روا ده په شرط د دی چه په

مقتدی یا نوکښی هیڅوک قاری نه وی. (شامی ص۶۰۵ اول ټوک)

◉ شپږم :- د ښځې یا نابالغ اقتداء په بالغ سړي پسی روا ده. (عالمګیری ص۵۳ اول ټوک شامی ص۶۰۳ اول ټوک)

◉ اوم :- مثال :- د ښځې اقتداء په ښځه پسی روا ده. (شامی ص۶۰۳ اول ټوک)

◉ اتم مثال :- د نابالغې ښځې یا د نابالغه هلک اقتداء په نابالغه هلک پسی روا ده. (شامی ص۶۰۳ اول ټوک)

◉ نهم مثال :- د نفل کونکی اقتداء په فرض کونکی پسی روا ده. مثلاً یو چا د ماپښین فرض لمونځ کړی وی او بیا په بیوا سی چا پسی د لمانځه اقتدا وکړی چه هغه د ماپښین فرض لمونځ کوی او د نفل کونکی اقتداء په واجب کونکی پسی هم روا ده. مثلاً یو چا د اختر لمونځ کړی وی او بیرته د اختر په لمانځه کښی شریک سی نفل پسی وکړی. (شامی ص۶۱۷ اول ټوک)

◉ لسم مثال :- د قسم د لمانځه کونکی اقتداء په نفل کونکی پسی روا ده حکه چه د قسم لمونځ کول هم پخپله نفل دی یعنی یوه سړی قسم وکړی چه زه دوه رکعاته لمونځ کوم او بیائ په یو نفل کونکی پسی دوه رکعاته لمونځ وکړی نو دده لمونځ صحیح کیږی او قسم ئ پوره کیږی. (شامی ص۶۰۷ لومړی ټوک)

◉ یوولسم مثال :- د نفل لمونځ کونکی اقتداء په نفل کونکی پسی روا ده. (در مختار ص۶۱۷ اول ټوک)

◉ دوولسم مثال :- د نذر د لمونځ کونکی اقتداء په بل چا پسی چه نذر لمونځ کوی روا ده په شرط دی چه د دواړو نذر یو وی مثلاً دیوه سړی ترنذر وروسته بل سړی دوائي چه ما هم د هغه شی نذر منلی دی کوم چه هغه فلانی سړی نذر کړی دی او منلی ئ دی او که دا صورت نه وی بلکه یوه د دوو رکعتو جلا نذر کړی وی مثلاً او بل یوه جلا نذر کړی او منلی وی نو په دی دواړو کښی دیوه اقتداء په بل پسی روا نه ده. (در مختار ورد المحتار ص۶۰۶ اول ټوک)

حاصل دا دی چه هر وخت مقتدی د امام څخه کم یا ورسره برابر وی.

۱۴۱۷

نو اقتداء رواکیږی۔ اوس موږ هغه صورتونه لیکو چه په هغوکښی مقتدی تر امام زیات وی برابر که خبره ده که یقینی زیات وی یا احتمالی زیات وی او اقتداء روانه وی۔

(۱) د بالغ اقتداء که نر وی یا ښځه وی په نابالغه پسی روانه ده۔ (ردالمحتار ص۶۰۳ لومړی ټوک)

(۲) د نر اقتداء که بالغ وی که نابالغه وی په ښځه پسی روانه ده۔ (ردالمحتار ص۶۰۳ لومړی ټوک)

(۳) د خنثیٰ (یعنی نر ښځی) لمونځ په خنثیٰ یعنی نر ښځی پسی روانه دی خنثیٰ وهغه ته والي چه په ده کښی د نر توب او ښځی توب علامی دا سی متعارضی او متقابلی وی چه نه د ده نر والی معلوم وی او نه ئی ښځی والی معلوم وی او دا نه معلومیږی چه دا نر دی او که ښځه ده د دغسی مخلوق شاذ او نادر پیدا کیږی۔ (شامی ص۶۰۳ لومړی ټوک)

(۴) کوئی ښځی ته چه د خپل حیض زمانه یاده نه وی د دی اقتدا په دغسی قسم ښځه پسی روانه ده۔ په دغو دواړو صورتونو کښی دا احتمال سته چه مقتدی دی تر امام زیات وی د دی سببه اقتداء روانه ده که څکه چه په اول صورت کښی چه خنثیٰ امام دی کیدای سی چه ښځه وی۔ او چه خنثیٰ مقتدی دی کیدای سی چه نر وی د غه رنګه په دوهم صورت کښی چه ښځه امامه ده کیدای سی چه د غه زمانه د دی د حیض وی او چه مقتدی ښځه ده کیدای سی چه د هغی زمانه د پاکی وی۔ (در مختار و رد المحتار ص۶۰۵ اول ټوک)

(۵) د خنثیٰ یعنی نر ښځی اقتداء په ښځه پسی روانه ده د دی وجهی خو چه کیدای سی چه د غه خنثیٰ یعنی نر ښځی نه وی۔ (شامی ص۶۰۳ لومړی ټوک)

(۶) د فکر او حواس والا اقتداء په لیونی، مست، بی هوښه، او بی عقل پسی روانه ده۔ (عالمګیری ص۵۳ لومړی ټوک)

۴ وو هیڅ می ۱۲ حبیب احمد

(۷) د طاهر یعنی پاک شخص اقتداء په معذور پسی روانه ده مثلاً دیو چا بولی جاری وی په ده پسی دهغه چا اقتدا روانه ده چه دهغه بولی جاری نه وی۔ (عالمگیری ص۵۳ اول ټوک)

(۸) چه یو څوک یو عذر لری دهغه اقتدا په هغه چا پسی روانه ده چه هغه دوه عذرونه لری مثلاً یو چاته مرض د خروج الریح یعنی د باد د وتو د مریضی شکایت وی او دی په داسی چا پسی اقتدا وکړی چه د هغه باد ونه او بولی دواړه جاری وی نو دغه اقتدا ئی نه صحیح کیږی۔ (عالمگیری ص۵۳ اول ټوک)

(۹) دیوه قسم عذر والا اقتداء په بل قسم عذر والا پسی روانه ده۔ مثلاً هغه څوک چه د سلسل البول یعنی د بولو د وتو اوخښید و مریضی لری په داسی چا پسی اقتداء وکړی چه هغه د پزی څخه د وینو د بهید و مریضی لری۔ (عالمگیری ص۵۳ اول ټوک)

(۱۰) د قاری اقتداء په امی پسی روانه ده قاری وهغه ته وایی چه د دده دوندې قدر قرآن شریف صحیح یاد وی چه لمونځ په صحیح کیږی او امی هغه دی چه د هغه دغوندی قدر قرآن شریف هم یاد نه وی۔ (در مختار ص۶۰۵ ج ۱)

(۱۱) د امی اقتداء په امی پسی هغه وخت چه په مقتدیانو کښی یو قاری موجود وی صحیح نه ده ځکه چه په دغه صورت کښی د دغه امی امام لمونځ فاسدیږی ځکه چه کیدای سوه چه مقتدیانو دغه قاری مخکی کړی وای او د دغه امام قرائت د ټولو مقتدیانو د پاره کافی کیږی او هر وخت چه د امام لمونځ فاسد سو نو د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږی چه په دوی کښی دغه امی مقتدی هم دی۔ (در مختار ص۶۱۹ اول ټوک)

(۱۲) د امی اقتداء په ګونګی پسی روانه ده ځکه چه امی که څه هم بالفعل او فی الحاله قرائت ویلای نه سی مګر قادر خو دی چه قرائت زده کړی په ګونګی کښی خو دغه استعداد او قدرت هم نسته چه قرائت زده کړی (شرح التنویر ص۶۰۵ لومړی ټوک)

(۱۳) د هر چا چه دوندی قدر بدن پټ وی کوم چه پتیدل ئی فرض دی نو د دغه چا اقتداء په لغړ چا پسی روانه ده۔ (شرح التنویر ص۶۰۵ اول ټوک)

(۱۴) د رکوع او سجدی کونکی اقتداء په هغه چا پسی نه صحیح کیږی چه هغه د رکوع او سجدی د واړو څخه عاجز وی او که یو څوک صرف د سجدی څخه عاجز وی په دې پسی هم اقتدا روانه ده - (شرح التنویر صـ۶۰۶ اول پتوک)

(۱۵) د فرض کونکی اقتدا په نفل کونکی پسی روانه ده. (شرح التنویر صـ۶۰۶ ج۱)

(۱۶) د نذری لمونځ کونکی اقتدا په نفل کونکی پسی روانه ده حکه چه نذری لمونځ واجب دی.

(۱۷) د نذری لمونځ کونکی اقتداء د قسم د لمانځه په کونکی پسی روانه ده مثلاً یو چا قسم وکړی چه زه ښ وړځ څلور رکعاته لمونځ کوم او بیا چا بیا څلور رکعاته لمونځ نذر کړی وو نو دغه نذر کونکی که په دغه قسم کونکی پسی چه د قسم د پوره کولو د پاره لمونځ کوی - لمونځ وکړی نو نه صحیح کیږی حکه چه د نذر لمونځ واجب دی او د قسم لمونځ نفل دی حکه چه د قسم پوره کول نه واجبیږی بلکه د اهم کیدلی سی چه کفاره ورکړی او دغه د قسم لمونځ ونه کړی.

(۱۸) هر څوک چه صاف حروف نه سی ادا کولای مثلاً س په ت یا ر په غ وایي یا ئ په یو بل حرف کښی دغسی تغیر او تبدیل وی - نو په دې پسی د هغه چا لمونځ نه روا کیږی چه صاف او صحیح حروف وایي مګر که په ټول قرائت کښی یو او نیم حرف دغسی ووایي بیا اقتداء پسی روا ده - (شامی صـ۶۰۸ و صـ۶۰۹ لومړی پتوک)

(۱۱) شرط د امام به واجب الانفراد نه وی یعنی دا رنګه به نه وی چه پر ده به یوازی او تنها لمونځ کول واجب وی که دا رنګه وی بیا په دې پسی لمونځ کول روانه دی لکه مسبوق چه د دې د پاره د امام د لمانځه تر ختمیدو وروسته خپل تیر سوی رکعتونه یوازی کول ضروری دی نو که یو

۱۴۲۰ ۴ قسم واخستی نو دغه نفلی لمونځ نه واجبیږی ۱۲ الکذا فی رد المحتار صـ۵۴۳ ج۱) محمد شفیع دیوبندی

څوک په مسبوق پسی اقتداء وکړی نو اقتداء ئی نه صحیح کیږی۔(در مختار ص۶۰۷ لومړی ټوک)

(۱۴) شرط ۱۰ امام به دهیڅ مقتدی نه وی یعنی داسی څوک به دځان د پاره امام نه گرزوی چه پخپله دیو چا مقتدی وی که حقیقتاً وی لکه مدرک یا حکماً وی لکه لاحق لاحق په هغو رکعتونو کښی چه د امام سره ئی نه دی کړی د مقتدی حکم لری ددی سببه که څوک په یو مدرک یا لاحق پسی اقتداء وکړی نو نه روا کیږی دغه رنگه که مسبوق په لاحق پسی یا لاحق په مسبوق پسی اقتداء وکړی هم نه روا کیږی۔(در مختار ص۶۰۷ اول ټوک)

دغه دوولس(۱۲) شرطونه چه موږ د جماعت دلمانځه د صحیح والی په بارہ کښی بیان کړه په دغو کښی که یو شرط په یو مقتدی کښی موجود نه سی نو د ده اقتداء نه صحیح کیږی او هر وخت چه دیو مقتدی اقتداء نه صحیح کیږی نو د ده هغه لمونځ هم نه صحیح کیږی چه ده په حال کښی د اقتداء ادا کړیدی۔(در مختار ص۶۰۹ وص۶۱۰ لومړی ټوک)

د جماعت دلمانځه حکمونه

(۱) مسئله ۱۰ جماعت کول د جمعی او اختر و په لمنځونو کښی شرط دی یعنی دغه لمنځونه یواځی نه صحیح کیږی۔(در مختار ص۵۸۰ ص۸۶۵ اول ټوک)

په پنځه وخته فرضی لمنځونو کښی په جماعت سره لمونځ کول واجب دی په شرط د دی چه یو عذر نه وی او په تراویح (تراوو) کښی په جماعت سره لمونځ کول سنت مؤکد دی که څه هم یو قرآن شریف په تراویح کښی په جماعت سره ختم سوی وی بیا به هم پاته تراویح په جماعت سره کوی او دغه رنگه د کسوف دلمانځه د پاره سنت دی۔(بحرالرائق ص۳۴۵ اول ټوک) او د روژی وتر په جماعت سره کول مستحب دی۔(بحرالرائق ص۳۴۵ اول ټوک) او د روژی څخه ماسیوی دنورو وختونو وتر په جماعت سره کول مکروه تنزیهی دی یعنی هر وخت چه همیشه تړوب پروسی او که همیشه تړوب نه پروسی بلکه یو وخت وخت ئی دوه درې خلګ په جماعت سره وکړی نو مکروه نه دی۔(شامی ص۷۴۱ لومړی ټوک)

او د خسوف یعنی د سپوږمۍ د تندرۍ په لمانځه کښې او په پټولو نفلو نوکښې هروخت چه نفلونه په داسی اهتمام او غم خوړلی سړه اداسی لکه فرضی لمنځونه چه په دغسی اهتمام او غم خوړلی سړه په جماعت سره کیږی یعنی نفلی لمنځونه په اذان او اقامت سره په جماعت اداسی یا په یو بله دغسی طریقه خلګ راجمعه کوی بیا نو په دغسی صورت کښی د خسوف او نفلی لمنځونو په جماعت سره کول مکروه تحریمی دی.

لیکن که بیله اذان او اقامت کولو خلګ سره را ټول سی یو نفلی لمونځ په جماعت سره وکړی نو بیا پروا نه لری او بیا دی هم همیشتوب نه پرکوی. (بحرالرائق ص۳۴۵ لومړی ټوک)

او دغه رنګه دوهم وار د جماعت لمونځ کول په مسجد کښی په دغو څلورو شرطونو سره مکروه تحریمی دی.

(۱) مسجد به دیوه کلی او محلی وی پر عامه لار به نه وی او د محلی د مسجد دا تعریف سویدی چه د دغه مسجد به امام او لمونځ کونکی معلوم او معین وی.

(۲) اول د جماعت لمونځ به په په زوره اذان او اقامت سره سوی وی.

(۳) اول د جماعت لمونځ به هغو خلګو کړی وی چه په دغه کلی او محله کښی اوسیږی او چه دوی ته د دغه مسجد د چلولو او انتظام اتو اختیار حاصل وی.

(۴) چه د دوهم جماعت په داسی هیئت او اهتمام سره اداسی چه په دغسی هیئت او اهتمام سره اول جماعت ادا سوی وی او د دغه څلرم شرط صرف د امام ابو یوسف په نزد دی او د امام اعظم صاحب په نزد د هیئت او صورت د بدلیدو سره سره مکروه والی سته نو که د دوهم جماعت په مسجد کښی ادا نه سی بلکه په کور کښی ادا کړل سی نو بیا مکروه نه دی. دغه رنګه که د دغو څلورو شرطونو څخه یو شرط موجود نه سی مثلاً مسجد پر عامه لار وی د کلی او محلی مسجد نه وی چه د محلی او کلی د مسجد تعریف موږ بیان کړی چه د غسی مسجد ته د محلی مسجد وایي نو په دغه مسجد کی د دوهم بلکه د درېیم او څلرم جماعت هم مکروه نه دی یا اول وار چه جماعت

سوی وو د هغه جماعت د پاره په نورو اذان او اقامت نه ووسوی نو د دوهم جماعت مکروه نه دی یا اول جماعت هغو خلکو کړی وی چه د دغه کلی او محلی اوسیدونکی نه وی او نه د وی ته د مسجد انتظام د چلولو اختیارات حاصل وی - یا په قول د امام ابی یوسف صاحب د دوهم جماعت په داسی شکل او هیئت سره ادا نشی چه په هغه هیئت او شکل سره اول جماعت ادا سویدی پر کوم ځای چه د اول جماعت امام ولاړ وو او لمونځ ئی ورکړی وو د دوهم جماعت امام هغه ځای پری نښووی پر بل ځای و دریدی لمونځ ئی ورکړی نو هیئت او شکل بدلیږی اود امام ابو یوسف صاحب په نزد د جماعت لمونځ د دوهم وار نه مکروه کیږی.

تنبیه: هرڅوندی چه د بعضو خلکو عمل د امام ابو یوسف پر قول دی لیکن د امام صاحب مذهب د دلیل په اعتبار هم قوی دی اوس چه په دینی امورو کښی خصوصًا د جماعت د لمانځه په شان کښی کوم تهاون او سستی او لتپی کیږی - د دغه مقتضی او تقاضا هم داده چه سره د بدلید و د هیئت او صورت د جماعت باید پر مکروه والی د دوهم جماعت فتوی ورکړه سی که داسی و نه سی نو خلګ قصدًا اول جماعت پریږدی چه موب خپله بل جماعت کوو.

د مقتدی او امام په باره کښی مسئلی

(۱) مسئله:- د مقتدی یا نود پاره په کار ده چه په ټولو حاضرینو کښی د امامت لایق چه په هغه کښی ښه صفتونه زیږوی امام او مخکی کړی او که د یرکسان داسی وی چه د امامت په لیاقت کښی برابر وی نو د رایی او فکر پرغلبه دی عمل وکړی یعنی چه د هرچا وخوانه د د یرو خلګو رایه وی هغه دی مخکی کړی چه لمونځ ورکړی که د د غسی سړی په موجودګی کښی چه د امامت د یر لایق وی د لمانځه د پاره یو داسی څوک مخکی کړی چه نرد هغه سړی کم لیاقت ولری نو د سنت د پریښو ولو په ګناه مبتلا کیږی.

(در مختار و شامی ص۵۸۳ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:- د ټولو زیات استحقاق او حقدار ی د امامت د هغه چا د پاره د ه چه د لمانځه مسئلی ئی ښی زده او یادی وی په شرط د دی چه ظاهرًا

په ده کښی د یو فسق یا بل څی یو کار نه وی او هر څوند ی قرائت چه مسنون دی هغه ئی یاد وی او قرآن شریف صحیح وایئ بیا نو هغه سړی چه قرآن شریف ښه وایئ یعنی د قرائت د قاعدو سره ئی موافق او برابر وایی د امامت حقدار ده دی او بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه تر ټولو زیات پرهیزګار ده وی او بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه تر ټولو مشروی بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه په ټولو کښی زیات ښه اخلاقه وی. بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه په ټولو کښی زیات ښایسته وی. بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه په ټولو کښی زیات شریف وی. بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه دی په ټولو کښی خوش آواز ده وی. بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه عمده او ښه کالی ئی اغوستی وی. بیا هغه سړی د امامت حقدار ده دی چه د ده سر تر ټولو غټ وی مګر په مناسبه طریقه سره بیا هغه سړی چه مقیم وی نسبت د مسافر ښوته بیا هغه سړی چه اصلی آزاد وی بیا هغه سړی چه د ده د کوچنی بی اودسی د پاره تیمم کړی وی نسبت د هغه سړی ته چه د ده د لوی بی اودسی د پاره تیمم کړی وی او د بعضو خلګو په نزد د لوی بی اودسی څخه تیمم کونکی مخکی دی (در مختار ص ۵۸۱ و ص ۵۸۳ لومړی ټوک) او چه په یو ه سړی کښی دوه (۲) صفتونه موجود وی هغه زیات حقدار ده دی نسبت د هغه سړی ته چه په هغه کښی یو صفت موجود وی مثلاً هغه سړی چه د لمانځه مسئلی ئی هم زده وی او قرآن مجید هم ښه وایی د هغه حقدار ده دی نسبت د هغه سړی ته چه صرف د لمانځه مسئلی ئی زده وی او قرآن مجید ښه نه وایئ - در مختار ص ۵۸۳ اول ټوک د شامی ص ۳۷۵ اول ټوک)

(۳) مسئله: که دیو چا په کور کښی د جماعت لمونځ کیږی نو د کور خاوند د جماعت ور کولو د پاره د هغه حقدار ده دی نزده ور وسته هغه څوک د جماعت د پاره حقدار ده دی چه هغه د کور خاوند مخکی کړی لیکن که د کور خاوند بالکل جاهل وی او نور خلګ د لمانځه په مسئلو خبر وی نو بیا د کور خاوند د جماعت ور کولو حق نه لری بلکه د غه نور خلګ د جماعت ور کولو حق لری - (در مختار و شامی ص ۵۸۳ اول ټوک)

۱۴۲۴

(۴) مسئله:- په هرهغه مسجد کښی چه یوامام مقرر وی په دغه مسجد کښی د ده په موجودگی (حضور) کښی د بل چا د پاره د امامت حق نسته لیکن که دغه امام د مسجد بل څوک امام جوړ کړی مخکی ئی کړی بیا هیڅ پروا نه لری۔ (در مختار ص۵۸۳ لومړی پتوک)

(۵) مسئله:- د قاضی یعنی حاکم د شریعت یا د بادشاه د اسلام په موجودگی (حضور) کښی بل څوک د امامت یعنی د لمانځه ورکولو حق نه لری.
(رد المحتار ص۳۸۴ اول پتوک)

(۶) مسئله:- بیله رضامندی او خوښی د قوم او کلی امامت کول مکروه تحریمی دی لیکن که دغه امام تر پوهولو زیات د امامت استحقاق او حق لری یعنی د امامت صفتونه د ده په مثل په بل چا کښی موجود نه وی نو بیا د دغه امام د پاره هیڅ مکروه والی نسته بلکه هر هغه څوک چه د ده په امامت سره ناراضه او ناخوښه وی هغه پرغلطی دی.
(در مختار ص۵۸۳ اول پتوک)

(۷) مسئله:- د فاسق (یعنی چه بډیره خرابی) او بدعتی (یعنی هغه څوک چه په دین کښی ئی د اسی نوی کار ونه او خبرې راپیدا کړی وی چه اصل نه لری) د قوم د پاره د دغو دواړو امام کول او مخکی کول مکروه تحریمی دی مګر خدای پاک دی نه کوی که د دغسی خلګو څخه ماسیوئی په دغه ځای کښی بل څوک نه وی نو بیا مکروه نه دی دغه رنګه که بدعتی او فاسق زوړ وی چه د د وی د لیری کولو قدرت نه وی یا یوغټه فتنه ځندی پیدا کیږی نو بیا د مقتدیانو د پاره مکروه والی هم نسته۔ (در مختار ص۵۸۳ اول پتوک شامی ص۵۸۵ اول پتوک)

(۸) مسئله:- غلام (مریی) یعنی چه د فقهی په قاعده سره مریی وی او هغه مراد نه دی چه په سبب د لوبنی وکاختی را نیول سی امام کول او مخکی کول که څه هم د ی آزاد سوی وی او صحرائی یعنی د کلی او سیدونکی او نابینا (پوهند) چه د پاکی او ناپاکی خیال او فکر نه کوی احتیاط ورسره نه وی یا د اسی څوک چه د شپی ئی د ستر ګو دید کمزوری وی او ولدالزنا یعنی حرمونی د دغو پوهولو کسانو مخکی کول مکروه تنزیهی دی

مگر که دغه کسان خاوندان د علم وی او خلګو ته د دوی لمونځ ورکول ناخوښ نه وی نو بیا مکروه نه دی۔ دغه رنګه داسی ښایسته حوان امام چوړول چه د دده ښیره نه وی راغلی او بیعقل سړی امام چوړول مکروه تنزیهی دی (در مختار و شامی ص۵۸۴ اول ټوک در مختار ص۵۸۷ اول ټوک)

(۹) مسئله:- د لمانځه په فرضو او واجباتو کښی د ټولو مقتدیانو د پاره د امام سره موافقت کول واجب دی لیکن په سنتو او داسی نورو کښی موافقت کول واجب نه دی پس که امام د امام شافعی صاحب په مذهب وی و رکوع ته د تللو پاره وخت کښی او د رکوع څخه د راپورته کیدو په وخت کښی لاسونه پورته نه کړی نو د امام صاحب د مذهب پیروی د پاره چه دوی د ټولو مقتدیان د امام شافعی مذهب امام دی دلاسو پورته کول ضروری[له] نه دی حکه چه دلاسو پورته کول د دوی په نزد هم سنت دی د دغه رنګه چه د سهار په لمانځه کښی د امام شافعی د مذهب امام دعاء قنوت وایی نو د امام صاحب د مذهبیانو د پاره د دعاء قنوت ویل ضروری نه دی مګر په وتر و کښی د دعاء قنوت ویل واجب دی د دی سببه که امام شافعی مذهبه ملا د خپل مذهب موافق د دوسته تر رکوع د دعاء قنوت وایی نو د حنفی مذهبه مقتدیانو د پاره تر رکوع کولو وروسته د دعاء قنوت ویل په کار دی۔ (شامی ص۴۹۰ ج ۱)

(۱۰) مسئله:- د امام د پاره په لمانځه کښی ډیر اوږده اوږده سورتونه ویل چه تر سنت مقدار هم زیات وی یا په رکوع، سجده او داسی نورو کښی ډیر وخت تیرول مکروه تحریمی دی بلکه د امام د پاره په کار دی چه د خپلو مقتدیانو د حاجت، ضرورت، ضعف او داسی نورو شیانو خیال و ساتی چه په ټولو کښی ډیر صاحب ضرورت وی د هغه مراعت وکړی قرائت او داسی نور دده په مراعت وایی بلکه د ډیر ضرورت په وخت کښی تر مسنون او سنت مقدار هم کم قرائت ویل ښه دی چه پرخلکو تکلیف نه وی چه د جماعت د لږوالی او کموالی سبب وګرځی۔

(در مختار ص۵۸۳ اول ټوک شامی ص۴۹۷ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- که چیری یو مقتدی یوازی او دغه یو مقتدی لوی سړی وی

[له] او ښه هم نه دی بلکه مکروه دی ۱۲ محشی

یا نابالغه هلک وی نو دده د پاره د امام سره برابر پر راسته طرف یا یو لږ څه پرشا د ریدل په کار دی که د امام پر چپه طرف تر امام ور وسته ولاړ وی بیا مکروه دی - (در مختار ص۸۳ اول پټوک فتاوی هندیه ص۸۷ اول پټوک)

(۱۲) مسئله :- اوکه تر یو ه زیات مقتدیان وی نو دوی به تر امام ور وسته یعنی د امام تر شا صف جوړ وی او د ریږی به که د امام راسته یا چپه طرف ته ودریږی او د غه مقتدیان فقط دوه وی نو مکروه تنزیهی دی اوکه تر دوه زیات وی نو بیا مکروه تحریمی دی حکه چه هر وخت تردد و زیات مقتدیان وی نو د امام د پاره مخکی د ریدل واجب دی - (در مختار ص۸۳ لومړی پټوک فتاوی هندیه ص۸۸ اول پټوک)

(۱۳) مسئله :- که د لمانځه د شروع کیدو په وخت کښی صرف یو سړی مقتدی وی او هم د امام و راسته طرف ته ولاړ وی نو د غه ور وسته نور مقتدیان را غلل نو د اول مقتدی د پاره په کار ده چه را پر شا سی د امام تر شا و د ریږی د پاره د دی چه پټول مقتدیان یو ځای په گډه سره د امام تر شا و د ریږی اوکه د غه مقتدی را پر شا نه سی نو د د غو نورو مقتدیانو د پاره په کار ده چه دی د شا و خوا نه راکش کړی اوکه د نا پوهی په وجه د غه مقتدیان د غه مقتدی د شا و خوا نه راکش نه کړی او دوی هم د امام راسته یا چپه طرف ته د د غه اول مقتدی په شان و د ریږی نو د امام د پاره په کار ده چه دی خپله د مخ و خوا نه ولاړ سی د پاره د دی چه پټول مقتدیان په گډه سره تر امام ور وسته و د ریږی د غه رنگه که چیری د مقتدیانو د پاره د شا و خوا نه ځای نه وی چه هغه مخکنی مقتدی راکش کړی او دوی هم یو ځای په گډه سره د امام تر شا و د ریږی نو هم د امام د پاره په کار ده چه د مخ و خوا نه سی لیکن که مقتدی په مسئلو ناخبره وی لکه چه زموږ په زمانه کښی غالبه ده نو بیا دی مقتدی نه راکشوی حکه چه پوه اسی حرکت و نه کړی چه لمونځ ئی فاسد سی - (رد المحتار ص۳۸۲ ج ۱)

(۱۴) مسئله :- که مقتدی ښځه وی یا نابالغه انجیلۍ وی نو د دی د پاره په کار ده چه تر امام ور وسته و د ریږی برابر ه خبره ده که یو ه وی یا ډیری وی - (شامی ص۳۸۴ اول پټوک)

(۱۵) مسئله:- که مقتدیان قسم قسم وی یو څه لویان خلگ وی یو څه بنځی وی یو څه نابالغه هلکان او انجونی وی نو د امام د پاره په کار ده چه په داسی ترتیب سره ددوی صفونه ودروی اول د لویانو خلگو صفونه بیا د نابالغه هلکانو صفونه بیا د بالغه بنځو او بیا د نابالغه انجونو صفونه ودروی. (در مختار بحر الرائق ص۲۵۳ لومړی ټوک)

(۱۶) مسئله:- د امام د پاره په کار ده چه صفونه سیده او برابر کړی یعنی په صف کښی مقتدیان د شا او مخ کی کیدو څخه منعه کړی اوله ته داووایی چه برابر ودریږی صفونه برابر کړی صفونه کابره نه سی او بیا مقتدیان باید نژدی سره ودریږی په مابین کښی خالی ځای پرې نه ږدی. (در مختار ص۸۳ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- یوازی او تنها تر صف وروسته دریدل مکروه دی بلکه په داسی حال کښی د دغه یوازی سړی د پاره په کار ده چه د مخکنی صف څخه یو څوک راکش کړی د خپله ځانه سره ئی ودروی لیکن که په راکشولو کښی دا احتمال وو چه هغه به خپل لمونځ خراب کړی په دی سبب چه هغه په مسئله خبر نه دی یا ئی بد ه بولی د اخبره چه ما ولی راکشوی نو بیا دی پرېږدی. (در مختار ص۵۹۲ ج۱ ص۱۷۹ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- چه په اول صف کښی ځای وی په دوهم او وروسته صف کی دریدل مکروه دی لیکن که اول او مخکنی صف پوره سی بیا نو په وروسته صف کښی دریدل په کار دی. (در مختار ص۸۴ اول ټوک رد المحتار ص۳۸۳ ج۱)

(۱۹) مسئله:- د سړی د پاره صرف و بنځو ته لمونځ په داسی ځای کښی او سر کول مکروه تحریمی دی چه په دغه ځای کښی نه بل سړی موجود وی او نه یو محرمه بنځه موجوده وی لکه دده بنځه، خور، مور او داسی نور مگر که یو سړی یا محرمه بنځه موجوده وی نو بیا مکروه نه دی. (در مختار ص۸۳ اول ټوک رد المحتار ص۳۸۱ اول ټوک)

(۲۰) مسئله:- که یو څوک یوازی د سهار یا ماښام یا ماخستن فرض لمونځ

په آهسته اوکړاړ آواز سره کوی او په دغه حال کښی یو څوک په ده پسی اقتداء وکړی نو په دی کښی دوه صورتونه دی یو صورت دادی چه د دغه سړی په زړه کښی قصد وکړی چه زه امام جوړیږم د پاره ددی چه لمونځ په جماعت سره وشی. دوهم صورت دادی چه دامامت قصد او ارادې ونه کړی بلکه خپل ځان داسی وبولی چه دغه ترشا سړی هسی زما ترشا ولاړ دی زه ددې د پاره امام نه یم بلکه لکه مخکی چه وم په هغه شان یوازی لمونځ کوم - پس نو په اول صورت کښی پدې باندی دهغه ځایه څخه یوزوره قرائت ویل واجب دی کوم چه دی دهغه ځای څخه امام جوړسوی دی. نو که ئ الحمد لله یا یو اندازه بل سوره هم کړاړ ویلی وی بیا هم ددې د پاره په کار دی چه د دغه ځایه څخه پاته الحمد لله یا پاته سوره په لوړ آواز سره ووایی ځکه چه د ملا او امام د پاره د سهار، ماښام او ماخستن په وخت کښی په زوره قرائت ویل واجب دی او په دوهم صورت کښی په زوره قرائت ویل واجب نه دی او د دغه مقتدی لمونځ کول هم صحیح دی په ده پسی ځکه چه د مقتدی د لمانځه د صحیح والی د پاره دامام دامامت نیت کول ضروری نه دی.

(در مختار و رد المحتار ص۵۵۵ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- دامام او دغه رنګه منفرد (یوازی لمونځ کونکی) د پاره چه هر وخت په کور یا میدان کښی لمونځ کوی مستحب او ښه کار دی چه د خپلی ورځی پر برابر کښه راسته طرف ته وی یا چپه طرف ته یو داسی شی ودروی چه یو لاس یا تر لاس اوږد وی او دیوی ګوتی په اندازه پنډ وی مګر که په مسجد کښی لمونځ کوی یا یو داسی ځای لمونځ کوی چه هلته د خلګو تیریدل نه وی د لمونځ کونکو په مخ کښی نو بیا شی در ولو ضرورت نشته اود امام ستره (هغه شی چه په مخکی در ول کیږی) د ټولو مقتدیانو د پاره کفایت کوی د ستری تر قائمولو او در ولو روسته که څوک د ستری ترمخ تیرسی یعنی د لمونځ کونکی او ستری ترمابین تیر نه سی د دواړو ترمخ تیرسی نو هیڅ ګناه

نه لری لیکن که د لمونځ کونکی اوستری ترمابین تیرسی نو بیا گنهګار ره کیږی .
(هدایه صـ۱۱۵ لومړی ټوک مراقی الفلاح علی الطحطاوی صـ۲۱۴ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- لاحق هغه مقتدی دی چه د دره یو چه رکعتونه یا ټول رکعتونه په جماعت کښی تر شریکید و وروسته پاته سی برابره خبره ده که په عذر سره وی مثلاً په لمانځه کښی بیده کا سی او په دغه وخت کښی یو رکعت یا بل شی ځنډی تیرسی یا د خلګو د پیروالی په سبب رکوع سجده یا بل شی نه وکړی ځنډی تیرسی یا ئی اودس مات سی د اوداسه کولو د پاره ولاړ سی او په دغه مابین کښی رکعتونه ځنډی تیرسی په صلوة الخوف (د بیری په لمانځه) کښی اوله ټولی لاحقین دی دغه رنګه هر مقیم (کورنی) چه په مسافر پسی اقتداء وکړی او مسافر قصر (څلور رکعاته دوه) وکړی نو دغه مقیم (کورنی) سړی د امام د لمانځه تر ختمیدو وروسته لاحق دی او یا د جماعت د لمانځه رکعتونه یا ټول لمونځ بی عذره ځنډی پاته سی مثلاً د امام مخکی دیو رکعت رکوع یا سجده[1] وکړی او د دغه سببه د دره رکعت کا لعدم (لکه نور رکعت) بلل کیږی نو د دغه رکعت په اعتبار دی لاحق بلل کیږی نو د لاحق د پاره واجب دی چه اول خپل هغه رکعاتونه ادا کړی چه د دره څخه تیرسوی دی وروسته تراد اکیدو د دغو تیرو سوو رکعتونو که د جماعت لمونځ تیرسوی نه وو یو څه پاته وو نو دی وړسره شریک سی او که تیرسوی د و نو دی پاته لمونځ هم وکړی . (در مختار صـ۶۲۳ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- د لاحق څخه چه کوم رکعتونه تیرسوی دی په دغو تیرو سوو رکعتونو کښی هم د مقتدی په شان بلل کیږی یعنی لکه څرنګه چه مقتدی قرائت نه وایی دغه رنګه دی لاحق هم قرائت نه وایی بلکه پته خوله بیله قرائته دی و دریږی او څرنګه چه مقتدی سهوه او خطا سی د دره د پاره سجده سهوه نسته دغه رنګه د لاحق د پاره د سجده سهو ضرورت نسته . (در مختار صـ۶۲۳ اول ټوک)

[1] یعنی تر امام مخکی رکوع یا سجدی نه ولاړ سی او امام چه په رکوع یا سجده شروع نه وی کړی دی بیا راپورته سی ۱۲ محشی

(۲۴) مسئله:- مسبوق یعنی هغه څوک چه په اول د لمانځه کښی شریک سوی نه وی مثلاً یو یا دوه رکعاته څنډی تیر سوی وی نو دده د پاره په کار ده چه اول د امام سره شریک سی هرڅومره ی لمونځ چه پاته وی هغه د امام سره و کړی په جماعت سره او هغه وخت چه امام لمونځ ختم کړی نو دی دی ولاړ سی او د خپل لمانځه تیر سوی رکعتونه دی راوګرزوی. (درمختار صـ۸۶ اول پتوک)

(۲۵) مسئله:- مسبوق به خپل تیر سوی رکعتونه د منفرد (یوازی چا) په شان په قرائت سره کوی اوکه په دغو رکعتونو کښی یو سهوه او خطا څنډی وسی نو دده د پاره سجده سهو کول هم ضروری ده. (درمختار صـ۸۶ ج ۱)

(۲۶) مسئله:- مسبوق خپل تیر سوی رکعتونه باید په داسی ترتیب سره ادا کړی چه اول قرائت والا رکعتونه اوبیا بی قرائته رکعتونه ادا کړی او کوم رکعتونه چه ئی د امام سره په جماعت سره کړی وی د دغو رکعتونو په حساب سره دی قعده (ناسته) وکړی یعنی دهغو رکعتونو د حساب څخه چه دوهم رکعت وی په هغه کښی دی اوله قعده (ناسته) وکړی اوچه دریم رکعت وی او لمونځ دری رکعتیزوی نو دی آخیره قعده وکړی وعلی هذا القیاس مثال دمابنین په لمانځه کښی تر دریو رکعتو کید و وروسته یو څوک د جماعت په لمانځه کښی شریک سو د دده د پاره په کار ده چه وروسته د امام د سلام ترګرزیدو ولاړ سی او دری تیر سوی رکعتونه په داسی ترتیب سره ادا کړی چه په اول رکعت کښی د سورة الفاتحه (الحمد لله) سره یو سورة ملګری کړی رکوع او سجده وکړی او اوله قعده (ناسته) وکړی څکه چه دغه رکعت د هغه رکعت په حساب چه په جماعت ئی کړی دی دوهم دی بیا دی په دوهم رکعت کښی هم د سورة فاتحه (الحمد لله) سره سورت ملګری کړی او تر دغه رکعت وروسته دی قعده (ناسته نه کوی څکه چه دغه رکعت د هغه رکعت په حساب چه په جماعت سره ئی کړیدی دریم رکعت دی بیا دی په دریم رکعت کښی د الحمد لله سره یو بل سورة نه ملګری کوی څکه چه دغه رکعت د قرائت نه وو او په دغه رکعت کښی دی ناسته وکړی چه دغه ناسته اخیره ناسته ده. (درمختار صـ۸۶ لومړی پتوک)

(۲۷) مسئله:- که یو څوک لاحق هم وی مسبوق هم وی مثلاً د جماعت د

لمانځه دیو څو رکعتونو ترتیږد و ورروسته شریک سوی وی او ترشریکیږو
وروسته بیایو څه رکعتونه د جماعت د لمانځه ځنډی تیرسی. نو دده
د پارې په کارده چه اول خپل هغه رکعتونه اداکړی چه وروسته تر
شریکیږد ځنډی تیرسوی دی چه په هغوکښی دی لاحق دی لیکن د
دوی په اداکیدو کښی دی خپل ځان داسی وښولی لکه دی چه په امام
پسی ولاړ وی لمونځ کوی یعنی قرائت دی نه پکښی وایی او د امام د ترتیب
لحاظ دی وساتی تردغه وروسته که د جماعت لمونځ پاته وو نو دی د
جماعت په لمانځه کښی شریک سی او که جماعت سوی وو نو دی پاته لمونځ
هم وکړی تردغه وروسته دی خپل هغه رکعتونه اداکړی چه په
هغوی کښی دی مسبوق دی مثال د مازیګر په لمانځه کښی تریوه رکعت
تیرید و وروسته د جماعت په لمانځه کښی شریک سو او ترشریکید و
وروسته ئی فوراً اودس مات سو او د اوداسه کولو د پارې ولاړی. په
دغه مابین کښی لمونځ ختم سو نو دده د پارې په کارده چه اول هغه
درې رکعاته وکړی چه وروسته ترشریکوالی ځنډی تللی دی بیادی
هغه رکعت وکړی چه ترشریکوالی مخکی دده څخه تیرسویدی. او هغه درې
رکعاته دی د مقتدی په رقم سره اداکړی یعنی قرائت دی نه پکښی وایی
او د دغو دریو رکعتونو په اول رکعت کښی دی قعده (ناسته) وکړی
ځکه چه دغه د امام د دهم رکعت دی او امام په دغه کښی قعده
ناسته کړی وه بیادی په دوهم رکعت کښی نه کښینی ځکه چه دغه
د امام دریم رکعت دی بیادی په دریم رکعت کښی کښینی ځکه چه دغه
د امام څلرم رکعت دی او په دغه رکعت کښی امام کښینستلی وو بیادی
هغه رکعت اداکړی چه دده د شراکت او اقتداء څخه مخکی سوی وو. او
په دغه کښی دی هم کښینی ځکه چه دغه دده څلرم رکعت دی او په دغه
رکعت کښی به دی قرائت هم وایی ځکه چه په دغه رکعت کښی دی
مسبوق دی او مسبوق په خپلو تیرو سورکعتونو کښی چه اداکوی ئی
د منفرد یعنی یوازی چا حکم لری. (ردالمحتار صفحه ۴ اول پتوک)

(۲۸) مسئله: د مقتدی یا نود پارې د لمانځه د رکن د خپل امام سره پیله کوم

حُنډه ادا کول سنت دی تحریمه یعنی اول الله اکبر دی هم د امام د تحریمی (اول الله اکبر) سره ادا کړی او رکوع دی هم د امام سره یوځای ادا کړی تومه یعنی تر رکوع وروسته ولاړه دی هم د امام د قومی سره پیوست او یوځای ادا کړی او سجده دی هم د امام د سجدی سره پیوست او یوځای ادا کړی غرض دا دی چه د مقتدی هر فعل د امام د هر فعل سره پیوست او یوځای ادا سی لیکن که په اوله قعده (ناسته) کښی امام د مقتدیانو د التحیات د ویلو څخه مخکی ولاړ سی نو د مقتدیانو د پاره په کار ده چه التحیات پوره ووایی بیا ولاړ سی.

د غه رنګه په آخره ناسته کښی که امام مخکی تر دی چه مقتدی التحیات پوره کړی سلام وګرځوی نو د مقتدی د پاره په کار ده چه التحیات پوره کړی بیا سلام وګرځوی لیکن که په رکوع سجده او داسی نورو کښی که مقتدیانو تسبیحات نه وی ویلی نو بیا د امام سره د ریدل په کار دی او تسبیحات دی پریږدی. (رد المحتار ص ۳۱۶ اول ټوک)

د جماعت په لمانځه کښی د شاملیدو او نه شاملیدو مسئلے

(۱) مسئله ۱ـ که یو څوک د خپلی محلی یا کور سره نژدی مسجد ته په داسی حال کښی ورسیدی چه د جماعت لمونځ سوی وو نو دده د پاره مستحب او بنه کار دی چه د جماعت د لمانځه د تلاشولو د پاره د بل مسجد ته ولاړ سی او د دی اختیار هم لری

ډاکټر عبدالحی عابد مرحوم و مغفور
خپلواک کمپیوټر کمپوزر پښتو اکیډمی پشاور یونیورسټی
۱۴۳۳

چه وخيل کورته بيرته راسي دکورانسانان سره را ټول کړي اود جماعت لمونځ وکړي ـ (بحرالرائق ص۳۴۶ اول ټوک)

(۲) مسئله :- که يو چا په خپل کور کښي يوازي لمونځ کړي دي بيا ورسته دګوري چه دغه فرض په جماعت سره کيږي نو دده د پاره په کار ده چه د جماعت په لمانځه کښي شريک سي په شرط دي چه دمابنين اوماخستن لمونځ وي ـ دسهار، مازيګر اومابنام په وخت کښي دي د جماعت په لمانځه کښي نه شريک کيږي ځکه چه دسهار اومازيګر تر لمانځه ورسته نفل کول مکروه دي. اود مابنام د لمانځه په جماعت کښي دي بيا دي سببه نه شريکيږي چه دغه د جماعت لمونځ چه د وهم لمونځ دي نفلي ګرځي او په نفلو کښي دري رکعاته نه دي را نقل سوي. (در مختار ص۷۴۷ اول ټوک)

(۳) مسئله :- که يو چا فرض لمونځ شروع کړي دي او په دغه حال کښي فرض لمونځ د جماعت شروع سي نو که دغه فرض لمونځ دوه رکعاته وي لکه د سهار لمونځ نو حکم ئې دادي که ئې چيرې د اول رکعت سجده نه وي کړي نو دي دغه لمونځ پريږدي او د جماعت په لمانځه کښي دي شريک سي او که ئې د اول رکعت د پاره سجده کړي وي اود دوهم رکعت سجده ئې نه وي کړي نو هم دي خپل لمونځ پريږدي د جماعت په لمانځه کښي دي شريک سي او که ئې د دوهم رکعت د پاره سجده کړي وي نو د واړه رکعاته دي پوره کړي اوکه دغه فرض دري رکعاته وه لکه د مابنام لمونځ نو حکم ئې دا دي که ئې د دوهم رکعت سجده نه وي کړي نو دي لمونځ پريږدغه ځاى پريږدي اوکه ئې د دوهم رکعت سجده کړي وي نو خپل لمونځ دي پوره کړي او ورسته دي د جماعت په لمانځه کښي شراکت نه کوي ځکه چه دري رکعاته نفل روانه دي اوکه دغه فرض څلور رکعاته وي لکه مابنين مازيګر اوماخستن نو که ئې د اول رکعت د پاره سجده نه وي کړي بيا دي لمونځ پريږدي د جماعت په لمانځه کښي دي شريک سي اوکه ئې د اول رکعت د پاره سجده کړي وي نو دي پرده وهم رکعت التحيات اود اسي نور وايي او سلام دي وګرځي اود جماعت په لمانځه کښي دي شريک سي اوکه ئې د دريم رکعت شروع کړي دي ليکن د دريم رکعت د پاره ئې سجده نه وي کړي نو دي لمونځ پرده غه ځاى

پریږدی او د جماعت په لمانځه کښی دی شریک سی او که ئی درییم رکعت شروع کړی وی او د درییم رکعت دپاره ئی سجده هم کړی وی نو دی لمونځ پوره کړی او په کومو صورتونو کښی چه لمونځ پوره کړل سی نو په دغو صورتونو کښی دی دسهار، مازیګر او ماښام په لمنځو نو کښی بیرته د جماعت په لمانځه کښی نه شریکیږی د ماپښین او ماخستن د جماعت په لمانځه کښی دی شریک سی او په کومو صورتونو کښی چه لمونځ قطعه کوی او پریږدی نو په ولاړی سره دی یو سلام وګرځوی. (شامی ص۷۴۵ ج۱)

(۴) مسئله:- که یو چا نفل لمونځ شروع کړی وی او د فرض لمانځه جماعت د درییدی نو نفلی لمونځ دی نه پریږدی بلکه د دوه دپاره په کار ده چه دوه رکعاته پوره کړی بیا سلام په وګرځوی که څه هم د څلورو رکعتو نیت ئی کړی وی. (درمختار - ردالمحتار ص۷۴۶ اول پتوک)

(۵) مسئله:- د ماپښین او د جُمعې سنت مؤکده ئی شروع کړی وه او د فرض لمانځه جماعت د درییدی نو ظاهر او بنکاره مذهب دادی چه پرده (۲) رکعاته سلام وګرځوی او د جماعت په لمانځه کښی شریک سی او د فقهی دډیرو علماؤ په نزد راجح (قوی) مذهب دادی چه څلور رکعاته پوره کړی او که درییم رکعت شروع کړی نو بیا د څلورو رکعاتو پوره کول ضروری دی. (درمختار ردالمحتار ص۷۴۶ ج۱)

(۶) مسئله:- که فرض لمونځ په جماعت سره شروع وو- سنت او دامی نور لمونځ دی نه شروع کوی په شرط دی چه دیو رکعت د تیریدو بیره وی لیکن که ئی تعین یا غالبه ګمان وی چه هیڅ د رکعت نه راځخه تیریږی بیا دی وکړی مثلاً د ماپښین په وخت کښی چه هر وخت فرض لمونځ په جماعت سره شروع سی او د دی بیره وی چه د سنتو په کولو سره یو رکعت د فرضو راځخه تیریږی نو بیا دی سنت مؤکد چه د فرضو مخکی کیږی پری دی نه دی بیا نو په ماپښین او جمعه کښی تر فرضو وروسته بنه دادی چه هغه وروسته سنت مؤکد اول وکړی او بیا دی پاته سوی سنت وکړی مګر د سهار په سنتو کښی چه په ډیر مؤکد او ټینګ دی د دی سببه په دوی کښی داحکم دی چه که فرض لمونځ په جماعت سره شروع سوی وی بیا دی هم سنت

وکړی په شرط دد ی چه دا امید لری وی چه یو رکعت د لمانځه به په جماعت سره ادا کړم او که لږ دیو رکعت د نیولو هم امید نه وی نو بیا د ی سنت نه کوی او بیا که غواړی نو ترلمر خټو ورسته د ی سنت وکړی ۰

(۷) مسئله:- که دا بیره وی چه که د سهار سنت په داسی طریقه سره ادا کوم چه د لمانځه کوم سنت، مستحبات او داسی نور آداب د ی د غه ټول د د غه سهار په سنتو کښی په پابند ی سره مراعت کوم نو د جماعت لمونځ راځخه تیریږ ی نو په داسی حال کښی په کار د ه چه په د غه سنتو کی کوم فرض او واجبات د ی هغه ادا کړی او چه په د غو سنتو کښی کوم سنت د ی او مستحب او داسی نور د ی هغه پریږ د ی ۰ (در مختار رد المحتار ص۷۴۹ ج۱)

(۸) مسئله:- چه فرض لمونځ په جماعت سره کیږ ی په د غه حال کښی چه کوم سنتونه کیږ ی برابره خبره د ه که د سهار وی یا د یو بل وخت وی نو په داسی ځای کښی د ی اداسی چه د مسجد څخه جلا او علیحده وی ځکه چه هر هغه ځای چه فرض لمونځ په جماعت سره کیږ ی هلته یو بل لمونځ کول مکروه تحریمی د ی او که یو د غسی ځای نه وی نو د صف څخه جلا د مسجد په یو ګونبه او کنج کښی د ی وکړ ی ۰ (در مختار و رد المحتار ص۷۴۹ لومړی ټوک)

(۹) مسئله:- که د جماعت د لمانځه ناسته ور سره و نیسی او هغه رکعاتونه ځنډ ی تیر سی بیا هم د جماعت د لمانځه ثواب ور کول کیږ ی ۰ (شامی ص۷۴۹ ج۱)

(۱۰) مسئله:- د هر هغه رکعت رکوع چه د امام سره و نیول سی نو د غه رکعت د امام سره په جماعت و نیول سو لیکن که رکوع ځنډ ی تیره سوه نو د غه رکعت د جماعت په لمانځه کښی نه حسابیږ ی ۰ (طحطاوی ص۲۹۳)

دهغو شیانو بیان چه لمونځ په فاسدیږ ی

(۱) مسئله:- د لمانځه په حال کښی د خپل امام څخه ماسیوا و بل چا ته

فتح ورکول یعنی د قرآن مجید پر غلطه وینا خبر ورکول او اګاه کول د لمانځه فاسدونکی دی.

تنبیه څرنګه چه دفتحی ورکولو مسئله د فقهی علماؤ په منځ کښی اختلافی ده بعضو علماؤ په دغه مسئله کښی مستقلی (علیحده) رسالی جوړی کړی دی ددی سبب موږ د فتح د مسئلی یوځو جزئیاتو په دی ځای کښی ذکر کوو - (در مختار ص۸۹ اول ټوک و بحر الرائق ص۸۱)

(۲) مسئله:- صحیح داده که مقتدی خپل امام ته فتحه ورکړی - نو لمونځ نه فاسدیږی برابره خبره ده که امام په قدر د ضرورت قرائت ویلی وی یا ئی نه وی ویلی د قدر ضرورت څخه هغه مقدار د قرائت مقصود دی چه مسنون دی لیکن په دغسی صورت کښی د امام د پاره بنه خبره داده چه رکوع وکړی لکه چه نزدغی مسئلی ورو سته په دغه اینده مسئلی کښی راځی - (بحر الرائق ص۶ دوهم ټوک در مختار ص۹۰ ج۱)

(۳) مسئله:- امام که په قدر د ضرورت قرائت ویلی وی نو دده د پاره په کار ده چه رکوع وکړی او مقتدیان پر فتحه ورکولو مجبور نه کړی (دغسی مجبور کول مکروه دی) او د مقتدیانو د پاره په کار ده چه تر څو پوری سخت ضرورت پیښ سوی نه وی وامام ته فتحه ورنه کړی (دا هم مکروه ده) د سخت ضرورت څخه مراد دادی چه مثلاً امام قرآن شریف غلط وایی مخکی تللی ئی زړه غواړی یا رکوع نه کوی یا پته خوله ودریږی او که ئی ښیله سخت ضرورته هم فتحه ورکړه بیا هم لمونځ نه فاسدیږی لکه چه د دغی مسئلی څخه مخکی په دوهمه مسئله کښی داخبره تیره سوه - (رد المحتار ص۴۱۵ اول ټوک بحر الرائق ص۶ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- که یو څوک ویولمونځ کونکی ته فتحه (فتح) ورکړی او دغه فتح ورکونکی د هغه مقتدی نه وی برابره خبره ده که فتح ورکونکی هم په لمانځه کښی وی یا په لمانځه کښی نه وی نو که ئی چیږی واخلی (یعنی عمل پرې وکړی بیا د دغه فتحی اخیستونکی لمونځ فاسدیږی لیکن که دده پخپله یادسی برابره خبره ده که ئی د فتحی ورکولو په وخت کښی پخپله په یادسی یا ئی مخکی یا ورو سته تر فتحی په یادسی اودده په یاد یدوکی د فتح ورکولو والا

هیڅ دخل نه وی اوپر خپل یاد اعتماد اوباور وکړی وئ وایي نو بیا دده لمونځ نه فاسدیږی که څه هم ردده ته فتحه (فتح) ورکول سوی دده حکمه چه دده عمل نه دی په کړی. (در مختار - رد المحتار صفحه ۶۵ اول ټوک)

(۵) مسئله:- که یو لمونځ کونکی ویو داسی چا ته فتح ورکړی چه ددده امام نه وی برابره خبره ده که هغه هم په لمانځه کښی وی که نه وی په هرحال کښی ددغه فتح ورکونکی لمونځ فاسدیږی - (در مختار رد المحتار صفحه ۵۶ ج ۱)

(۶) مسئله:- مقتدی که دیوبل چا قران شریف واوری یا وقران شریف تلاوت وکړی وامام ته فتح ورکړی نوددده لمونځ فاسدیږی اوکه ئ امام فتح قبوله کړه نو دامام لمونځ هم فاسدیږی اوکه مقتدی وقران شریف ته وکتل یا ئ دبل چاڅخه قران شریف واوریدی اوپخپله ئ هم په یاد سو اوبیا ئ دخپل یاد په سبب فتح ورکړه نولمونځ نه فاسدیږی. (در مختار صفحه ۹۰ اول ټوک وبحر الرائق.

(۷) مسئله:- دغه رنګه که دلمانځه په حال کښی وقران شریف ته وګوری یوآیت خندی ووایي نو ئ هم لمونځ فاسدیږی اوکه هغه ایت چه دده وړ ته کتلی دی اوویلی ئ دی ددده ترکتنی مخکی یاد وو نولمونځ ئ نه فاسدیږی یا ئ مخکی ترکتنی یاد نه وو مګر تریوه ایت ئ کم دقران شریف څخه ووایي نولمونځ ئ نه فاسدیږی. (در مختار صفحه ۹۰ بحر الرائق)

(۸) مسئله:- بنځه دسړی سره دارنګه دریدل چه دیوه یو اندام دبل یوه داندام سره مقابل (برابر) سی نو په دغو شرطونو سره لمونځ فاسدوی تردا سی حده که وسجدی ته دتللو په وخت کښی که دبنځی سر دسړی دپښو سره محاذی (برابر) سی بیا هم لمونځ فاسدیږی.

(۱) بنځه به بالغه وی برابره خبره ده که ځوانه وی یا سپین سری وی یا نابالغه وی مګر قابله دجماع (نزدیکت) وی نوکه یوکم سینه نابالغه انجلۍ په لمانځه کښی محاذی (برابره) سی نولمونځ نه فاسدیږی.

(۲) دواړه به په لمانځه کښی وی کچیری یو په لمانځه کښی وی اوبل په لمانځه کښی نه وی نو په دغه محاذات (برابری) سره لمونځ نه فاسدیږی.

(۳) هیڅ حائل او مانع به د دی د واړو په مابین کښی نه وی نوکه چیری یو پرده په مابین کښی وی یا یوستره حائله (مانع) وی یا په مابین کښی دوندی خای خالی وی چه بیله تکلیفه یو سړی پکښی درید ای سی نو هم لمونځ نه فاسدیږی - (درمختار شامی ص۳۵۴ لومړی ټوک)

(۴) په بنځه کښی به دلمانځه د صحیح والی شرطونه موجود وی نوکه بنځه لیونی وی یا د حیض یا نفاس په حال کښی وی نو په دغه محاذات (برابری) سره لمونځ نه فاسدیږی ځکه چه په دغو صورتونو کښی د اپخپله په لمانځه کښی نه بلل کیږی.

(۵) د جنازی لمونځ به نه وی نو د جنازی په لمانځه کښی محاذات (برابری) فاسدونکی د لمانځه نه دی.

(۶) محاذات (برابری) به په قدر د یوه رکن[له] دوام کوی که د محاذات دوام تر یوه رکن کم اولږ وی نو لمونځ نه فاسدوی مثلاً د وندی وخت محاذات (برابری) د اسی چه رکوع او بل ځای نه پکښی ځایږی بس د غوندی لږ وخت د روسته دستی ختم سی نو په دغه لږ محاذات سره لمونځ نه فاسدیږی.

(۷) تحریمه (اول الله اکبر) به د د واړو یو وی یعنی د غه بنځه به د د غه امام مقتدی وی یا به د واړه دیو درییم سړی مقتدیان وی.

(۸) امام په د د غی بنځی د امامت نیت کړی وی د لمانځه د شروع کولو په وخت کښی یا په ثمابین کی هر هغه وخت چه د اړاغلی وی او په لمانځه کښی شریکه سوی وی که امام د د ی د امامت نیت نه وی کړی نو بیا په د غه محاذات (برابری) سره لمونځ نه فاسدیږی بلکه د د غی بنځی لمونځ نه صحیح کیږی. (عالمګیری ص۸۸ اول ټوک)

(۹) مسئله:- که امام د روسته تر بی اوسی بی خلیفه د ر ولود مسجد څخه د وتی نو د مقتدیانو لمونځ فاسدیږی - (درمختار شامی ص۶۲۷ لومړی ټوک)

۱۴۳۹ ۳ والبحر من الجامع ۱۲ ف

(۱۰) مسئله:- که امام یو داسی څوک پرځیل ځای خلیفه کړی چه په هغه کی د امامت صلاحیت نه وو مثلاً یو لیونی یا نابالغه کوچنی خلیفه کړی یا یو بنځه پرځیل ځای خلیفه کړی نو دهغو لمونځ فاسد دی۔ (رد المحتار ص۴۰۳ اول ټوک بحر الرائق ص۳۹۶ اول ټوک فتاوی هندیه ص۹۴ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- که سړی په لمانځه کښی وی او بنځه د ده څخه په دغه حال کښی مخه واخلی نو د ده لمونځ نه فاسدیږی لیکن که د دی د مخی اخستلو په وخت کښی سړی ته شهوت راسی نو بیا د دغه سړی لمونځ فاسدیږی اوکه بنځه په لمانځه کښی وی او یو سړی د دی څخه مخه واخلی نو د بنځی لمونځ فاسدیږی که سړی په شهوت سره مخه څندی اخیستی وی یا بی شهوته ئی مخه څندی اخیستی وی او بنځی ته په دغه مخه سره شهوت حاصل سی یا حاصل نه سی۔ (رد المحتار ص۶۵۷ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- که یو څوک د لمونځ کونکی په مخکی تیریږی نو د لمانځه په حال کښی دغه تیرید ونکی سړی منعه کول په اشاره یا تسبیح یا بل شی سره د باره د دی چه د ده په مخکی تیر نه سی روا دی په شرط د دی چه په دغه منعه کولو کښی عمل کثیر نه وی اوکه عمل کثیر پکښی موجود سی نو لمونځ فاسدیږی۔ (رد المحتار ص۴۲۹ اول ټوک)

دهغو شیانو بیان چه کول ئی په لمانځه کښی مکروه دی

(۱) مسئله:- د لمانځه په حالت کښی کالی په دغسی طریقه سره اغوستل چه هغه د عادت خلاف وی یعنی کومه طریقه چه د کالو د اغوستلو وی او په کومه طریقه سره چه ئی اهل تهذیب اغوندی د دغه څخه خلاف دکالو اغوستل مکروه تحریمی دی۔ (در مختار شامی ص۶۶۸ اول ټوک) مثال یو چا پته پرځان اچولی وه لیکن څاک ئی پراوږو نه وو اچولی یا ئی قمیص اغوستی وی لیکن په لستو نو ئی لاسونه نه وی کښی ایستلی نو په دغه اغوستو

سره لمونځ مکروه کیږی.

(۲) مسئله:- په لغړا ولغ سره سره لمونځ کول مکروه دی لیکن که د خاکساری او عاجزی د وجهی څخه په سر تور سره لمونځ وکړی بیا پروا نه لری.
(در مختار ص۹۱ اول ټوک)

(۳) مسئله:- که د چا خولی یا لنگوټه د سر څخه ولویږی د لمانځه په وخت کښی نو بنه داده چه د لمانځه په حال کښی ئی پورته کړی پرسرئی کړی لیکن که په دغه پرسر کولو کښی د عمل کثیر ضرورت وی بیا دی نه پرسر کوی -
(در مختار ص۹۱ اول ټوک)

(۴) مسئله:- د نرانو د پاره د ډډ واړه ولاسو د باړو گانو او څینگلو غوړول پر مځکه باندی د سجدی په حال کښی مکروه تحریمی دی.(شامی ص۴۳۲ اول ټوک هدایه ص۱۲۰ اول ټوک)

(۵) مسئله:- چه امام په محراب کښی ولاړ وی دا مکروه تنزیهی دی لیکن که امام د محراب څخه د باندی ولاړ وی لیکن سجده په محراب کښی کوی نو بیا مکروه نه دی.(در مختار شامی ص۶۷۴)

(۶) مسئله:- صرف د امام د ریدل پریولو ړ ځای بیله کوم ضرورته چه د دغه ځای لوړوالی یو لاس یا تر یوه لاس زیات وی مکروه تنزیهی دی که د امام سره یو څو مقتدیان هم وی بیا مکروه نه دی لیکن که د امام سره یو مقتدی وی بیا مکروه دی او بعضو ویلی دی که تر یوه لاس کم وی او په سر سری نظر سره د دغه ځای لوړوالی بنه معلومیږی بیا هم مکروه دی.(در مختار ص۹۴ اول ټوک هدایه ص۱۲۰ اول ټوک)

(۷) مسئله:- چه ټول مقتدیان بیله کوم ضرورته پریولو ړ ځای ولاړ وی او یوازی امام پرکښته ځای ولاړ وی نو دغه مکروه تنزیهی دی لیکن که یو ضرورت وی مثلاً د جماعت خلگ ډیر وی او ځای کم وی بیا مکروه نه دی یا بعضی مقتدیان د امام سره پر هغه کښته ځای ولاړ وی او بعضی مقتدیان پر لوړ ځای ولاړ وی بیا هم روا دی.(در مختار ص۹۴ اول ټوک هدایه ص۱۲۰ اول ټوک)

(۸) مسئله:- د مقتدی د پاره د خپل امام څخه مخکی د لمانځه یو فعل او کار شروع کول مکروه تحریمی دی.(عالمگیری ص۱۰۶ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د مقتدی دپاره هر هغه وخت چه امام په ولاړه کښی قرائت وایي یوه دعا یا د قران شریف ویل برابره خبره ده که سوره فاتحه (الحمد لله) وی یا یو بل سوره وی مکروه تحریمی دی. (در مختار ص۵۶۵ اول ټوک)

په لمانځه کی د بی اودسه کیدو بیان

په لمانځه کښی که بی اودسی پیښه سی نو که چیری لویه بی اودسی وی یعنی د غسل کولو ضرورت وی نو لمونځ فاسدیږی او که کوچنی[1] بی اودسی وی نو دوو حالو څخه به خالی نه وی یا به اختیاری وی یا به غیر اختیاری وی یعنی د دی په موجودیدو کښی به یاد دی په سبب کښی به د بندګانو اختیار ته دخل او حصه وی یا به نه وی که اختیاری وی نو لمونځ فاسدیږی مثلاً یو څوک په لمانځه کښی په قهقهه یعنی پوره غږ خندا سره وخاندی یا یو ځای د بدن وګروي وینه راوباسی یا په قصداً سره هوا وباسی یا یو څوک پر یو بام یا بل شی باندی وخیژی او پرې روان سی او دده د روانید و د سببه څخه ډبره یا بل شی را ولویږی د لمونځ کونکی پر سر را ایله سی او د سر څخه ټوینه و بهیږی په دی ټولو صورتونو کښی لمونځ فاسدیږی ځکه چه د اهتول کار و نه د بندګانو په اختیار سره پیدا کیږی او که غیر اختیاری وی نو په دغه کښی دوه صورتونه دی - یا به نادر الوقوع (کم پیښیدونکی) وی لکه لیونتوب بی هوښی، د امام مرګ - او د اسی نور - یا کثیر الوقوع (ډیر پیښیدونکی) به وی لکه د باد و هوا وتل وهی بولی وتل، غښی بولی وتل، مذی وتل او د اسی نور - نو که چیری نادر الوقوع (کم پیښیدونکی) وی نو لمونځ فاسدیږی او که نادر الوقوع کم پیښیدونکی) نه وی نو لمونځ نه فاسدیږی بلکه د دغه انسان ته شرعاً اختیار او اجازت دی چه د دغی بی اودسی ترلیږی کولو وروسته پاته لمونځ پوره کړی د دغه ته بنا وایي لیکن که د لمانځه اعاده وکړی یعنی بیرته د سره څخه لمونځ را وګرزوی نو بنه کار دی او د دغی بنا کولو په صورت کښی د لمانځه دنه فاسدیدو یو څو شرطونه دی.

[1] یعنی هغه بی اودسی وی چه اودس کولو ته ضرورت وی ۱۲ محشی

(۱) هیڅ یو رکن دی دبی اودسی په حال کښی نه ادا کوی.
(۲) هیڅ یو رکن دی د تللو په حال کښی نه ادا کوی مثلاً چه داود اسه د پاره روان وی یا اودس وکړی بیرته راروان وی نو د قران شریف تلاوت او ویل دی نه کوی ځکه چه د قران شریف ویل د لمانځه رکن دی.
(۳) یو داسی کار دی نه کوی چه د لمانځه سره ضد وی نه دی یو داسی کار کوی چه پرهیزځنډ ی کید ای سی.
(۴) د دسته تر بی اودسی دی بیله کومه هذره په قدر د یو رکن دادا کولو ځنډ نه کوی بلکه فوراً دی داودس کولو د پاره ولاړ مې لیکن که دیو هذر په سبب ځنډ وکړی پروا نه لری مثلاً صفونه نه پریږدی او پخپله په اول صف کښی دی او په صفونو کښی لاړ پید اکول او صفونو پریکول گران کار دی.
(درمختار ص۸۷ اول ټوک عالمیگری ص۹۳ اول ټوک)

(۱) مسئله:- منفرد یعنی هغه څوک چه یوازی لمونځ کوی که بی اودسه ی نو د دده د پاره جائز اوروا ده چه دستی اودس وکړی او هر څوندی چه ترر کیدای سی داود اسه څخه دی ځان فارغ کړی مگر اودس سره د ټولو سنتو او مستحباتو کول په کار دی او په دغه مابین کښی دی هیڅ یو خبره یا بل دغسی شی نه کوی او به که چیری نژدی پید اکیدی نو لیری دی نه ځی حاصل دادی چه هر څوندی حرکت سخت ضروری وی نر هغه دی نر یات حرکت نه کوی تر اوداسه وروسته د دده د پاره په کار ده چه داوداسه پرځای خپل پاته لمونځ پوره کړی او دغه افضل (ښه) دی- او دا رنګه هم د دده د پاره اختیار دی چه مخکی نی کوم ځای لمونځ کا دی هغه ځای نه ولاړ سی لمونځ وکړی لیکن بهتره او غوره خبره دا ده چه قصداً په اول لمانځه کښی سلام وګرزوی او دغه اول لمونځ پرد غه ځای ختم کړی تر اوداسه وروسته د سره څخه لمونځ وکړی. (درمختار ص۸۷ اول ټوک شامی بتقدیم وتاخیر ص۳۰۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که امام بی اودسه سی که څه هم په اخیره ناسته کښی وی نو دده د پاره په کار ده چه سمدستی داو داسه کولو پاره ولاړ سی او بنه داده چه پخپلو مقتدیانو کښی چه هرڅوک د لمانځه دوړ کولو لایق بولی هغه پرخپل ځای ودروی - مدرک (هغه څوک چه هیڅ رکعت نه وی ځنډی تیر سوی) خلیفه کول بهتر او غوره دی که چیری مسبوق (هغه څوک چه یو یا تر یوه زیات رکعتونه ځنډی تیر سوی وی) خلیفه کړی بیا هم روا دی امام دی ودغه مسبوق ته په اشاره سره ورښیی چه پرما دومره رکعتونه او داسی نور پاته دی د رکعتو نو د پاره دی په گوتو سره اشاره وکړی مثلاً یو رکعت پاته وی نو یوه گوته دی پورته کړی که دوه رکعاته پاته وی نو دوی گوتی دی پورته کړی که رکوع پاته وی نو پرځنگو دی لاس کښیږدی که سجده پاته وی نو پرښتندی دی لاس کښیږدی که قرائت پاته وی نو پرخوله دی لاس کښیږدی که سجده د تلاوت پاته وی نو پرښتندی اوژبه باندی دی لاس کښیږدی اوکه سجده سهو پاته وی نو پرسینه دی لاس کښیږدی. داهر هغه وخت چه دی هم په پوهیږی اوکه نه په پوهیږی نو دی نه خلیفه کوی بیا چه ئې هر وخت اودس وکړی نوکه چیری د جماعت لمونځ لاپای ته نه وی رسیدلی یو څه پاته وی نو د جماعت په لمانځه کښی دی ورسره شریک سی د خپل خلیفه مقتدی دی سی اوکه ئې اودس وکړی داودا د ځای سره پاامام پسی ودریدی نوکه په مابین کښی یو داسی شی یاد وندی فاصله حائله اومانع وه چه اقتداء ئې نه صحیح کیده نو لمونځ ئې نه دی صحیح اوکه دغسی شی یا فاصله نه وه نو بیا صحیح دی. اوکه چیری د جماعت لمونځ ځنډی تیر سوی وو نو خپل پاته لمونځ دی پوره کړی برابره خبره ده که ئې داو داسه پرځای پوره کوی یا ئې د لمانځه پرځای پوره کوی (درمختار شامی ص ۶۲۷ اول ټوک)

(۳) مسئله:- که اوبه په مسجد کښی د نه وی نو بیا خلیفه درول - ضروری نه دی که خلیفه درسره وی که ئې نه درسره وی بلکه هر وخت چه ئې اودس وکړی پخپله دی راسی امامت دی ورکړی او مقتدیان

دی دده انتظار وکړی تر هغه وخته پورې چه دی اودس وکړی او بیرته راسی۔ (شامی ص۴۰۳ لومړی ټوک

(۴) مسئله:۔ امام تر خلیفه درولو وروسته امام نه پاته کیږی بلکه دخپل خلیفه د پاره مقتدی جوړیږی دده غه سببه که چیری جماعت خندی تیر سوی وو نو امام به خپل پاته لمونځ دلاحق په شان کوی او که امام خلیفه نه ودروی بلکه مقتدیان پخپله یو څوک دخپلو ملګرو څخه خلیفه کړی یا خپله یو مقتدی مخکی سی د امامت نیت وکړی دامام پر ځای ودریږی بیا هم صحیح دی په شرط ددی چه امام تر دغه وخته پورې د مسجد څخه دباندی نه وی وتلی او که لمونځ په مسجد کښی نه کیدی بیا نو تر هغه وخته پورې صحیح دی چه امام د صفونو او سترې څخه دباندی نه وی وتلی او که تر دغو حدودو (څایونو) دباندی وتلی وی بیا لمونځ فاسدیږی او دده پر ځای بل څوک امامت نه سی ورکولای (شامی درمختار

(۵) مسئله:۔ که مقتدی بی اودسه سی دده د پاره هم سمدستی اودس کول په کار دی وروسته تر اودس کولو که چیری د جماعت لمونځ لا ختم سوی نه وی نو د جماعت په لمانځه کښی دی شریک سی او که د جماعت لمونځ ختم سوی وو بیا دی خپل لمونځ پوره کړی۔ د مقتدی د پاره په کار ده چه بیرته د خپل لمانځه ځای ته ولاړ سی لمونځ پوره کړی که چیری د جماعت لمونځ لا نه وو ختم سوی لیکن که د امام د ځای او د ده د اوداسه کولو د ځای ترمابین یو شی د اقتدا مانع نه وو نو د اوداسه په ځای کښی درپیدا هم روادی او که د جماعت لمونځ ختم سوی وو نو د مقتدی د پاره اختیار دی که د اقتداء وځای ته ځی لمونځ پوره کوی یا ئی د اوداسه په ځای کښی پوره کوی لیکن بهتر او غوره دادی چه د اوداسه په ځای کښی خپل لمونځ پوره کړی۔ (هدایه ص۱۰۸ اول ټوک فتاوی هندیه ص۹۴ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ که امام مسبوق پر خپل ځای باندی ودروی نو د ده د پاره په کار دی چه هرځونده ی رکعتونه اوداسی نور چه د امام پر ذمه باندی وه هغه ادا



کړی بیا نو یو مدرک پر خپل ځای باندی مقرر کړی دی دی د پاره چه د غه مدرک په لمانځه سلام وګرزوی او مسبوق بیرته په خپلو تیرو سوو رکعتونو مشغوله سی۔ (هدایه ص۱۱۲ اول پتوک در مختار ص۸۶ لومړی پتوک فتاوی هندیه ص۹۶ اول پتوک)

(۷) مسئله:۔ که یو څوک په اخیره ناسته کښی ورو سته تر دی چه په قدر د التحیاتو کښینستلی وی لیونی سی یا لویه بی اودسی ورته پیښه سی یا بیله قصده وړه بی اودسی ورته پیښه سی یا بی هوښه سی نو لمونځ یې فاسد ښی او د د غه لمانځه را ګرزول ضروری دی۔ (در مختار ص۸۶ ج۱)

(۸) مسئله:۔ څرنګه چه د غه د بنا مسئلی باریکی او ګرانی دی او ښ سبا په علم کښی کمی ده ضرور د غلطی احتمال سته نو د دی سبب ښه خبره داده چه بنانه وکړی بلکه لمونځ په سلام ګرزول سره ختم کړی او تر اوداسه کولو ورو سته د سره لمونځ وکړی۔ (در مختار و رد المحتار ص۶۳ ج۱)

د سهوی بعضی مسئلی

(۱) مسئله:۔ په هغه لمانځه کښی چه په ده کښی قرائت کرار ویل کیږی که چیری یو څوک که امام وی یا منفرد (هغه څوک چه یوازی لمونځ کوی) وی په زوره سره قرائت وایي یا په هغه لمانځه کښی چه په ده کښی په لوړ اواز سره قرائت ویل کیږی امام پرې[1] کرار آواز سره قرائت وایي نو د دی د پاره سجده سهوه کول په کار ده لیکن په هغه لمانځه کښی چه په ده کښی په کرار ه سره قرائت ویل کیږی د پر لږ قرائت په زوره سره ویل سی چه د لمانځه د صحیح والی د پاره کافی نه وی مثلاً د وه د ری لفظه ئی په په زوره قرائت سره ترخوله وورځی یا په جهری لمانځه (هغه لمونځ چه په زوره سره قرائت پکښی ویل کیږی) امام د غوندی قدر قرائت۔ کرار وایي نو سجده سهو نه لازمیږی د غه اصح (ښه صحیح) دی در مختار و شامی ص۴۹۸ لومړی پتوک)

[1] په د غه صورت کښی پر منفرد باندی سجده سهوه نسته ۱۲ محشی

دلمانځه د قضا کیدو مسئلی

(۱) مسئله:- که دیوڅوک سانو لمونځ یو وخت قضا سی نو د دی د پاره په کار ده چه دغه لمونځ بیا په جماعت سره وکړی که د په زوره آواز لمونځ قضا سوی دی نو په زوره (په لوړ آواز سره) دی قرائت پکښی وویل سی او که د کرار آواز لمونځ قضا سوی وی نو کرار قرائت دی پکښی وویل سی۔ (فتاوی هندیه ص۱۲۰ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که یو نابالغه هلک د ماخستن لمونځ وکړی بیده سو۔ او د سپید و تر راختلو او بنکاره کیدلو ورسته د خوبه راویښ ده سو د منی اثرئ ولیدی چه داځنډی معلومیده چه دی شیطان خطا ایستلی دی نو پر راجح (قوی) قول باندی دده د پاره په کار ده چه د ماخستن د لمانځه قضا راوړی او که د سپید و تر راختلو مخکی د خوب څخه بیدار ده سو د منی اثرئ ولیدی نو په اتفاق سره به د ماخستن لمونځ بیرته راګرزوی۔ (شامی ص۴۹۴ اول ټوک

د مریض بعضی مسئلی

(۱) مسئله:- که یو معذور (مریض) رکوع او سجده په اشاره سره ادا کړی وی تر دغه ورو سته په دغه لمانځه کښی د ننه پر رکوع او سجده قدرت پیدا کړی نو دغه لمونځ دده فاسد ینږی بیرته د سره څخه پرده لمونځ کول واجب دی او که ئی تر اوسه پورې رکوع او سجده په اشاره سره نه وی کړی چه جوړ سو نو اول لمونځ صحیح دی او بنا پر روا ده۔ (در مختار ص۱۰۵ لومړی ټوک)

(۲) مسئله:- که یوڅوک د قرائت د اوږدوالی د سببه په ډیره ولاړه سره ستړی او په تکلیف سو نو د ده د پاره پر یو دیوال، درخته، لرګی یا داسی بل شی تکیه کول مکروه نه ده د تراویح (تراوو) په لمانځه کښی ضعیفه او سپین ږیره خلګو ته اکثره وخت د تکیی ضرورت پیښیږی۔

در مختار ص۱۰۳ اول ټوک

شامی ص۵۰۸ لومړی ټوک

د مسافر د لمانځه بیان

(۱) مسئله:- یو چا د پنځلس ورځو د اقامت نیت وکړی مګر په دوو ځایونو کښی ئی وکړی او د دغو دوو ځایونو په منځ کښی د وندی قدر فاصله وه چه دیوه ځای د اذان غږ او آواز د دغه بل ځای ته نه رسیدی مثلاً لس (۱۰) ورځی په مکه شریفه کښی د اقامت نیت وکړی او پنځه ورځی په منی کښی د اقامت او اوسیدو نیت وکړی د مکی شریفی څخه منی دری میله لیری ده نو په دغه صورت کښی دغه څوک مسافر بلل کیږی۔ (در مختار ص ۱۰۷ ج ۱)

(۲) مسئله:- اوکه په ذکر سوی مسئله کښی د شپی د خوا څخه په یوه ځای کښی د اوسیدو نیت وکړی نو په هر ځای کښی چه ئی د شپی د اوسیدو نیت کړی دی دغه ځای د ده د پاره د اقامت وطن بلل کیږی او په دغه ځای کښی ده ته د قصر (سفریانه لمونځ) اجازت نسته اوس نو هغه بل ځای چه د ورځی پکښی اوسیږی که د هغه بل ځای څخه چه شپه پکښی تیروی په قدر د مسافی د سفر لیری وو نو د غه د ورځی ځای ته چه راځی بیا مسافر بلل کیږی اوکه په قدر د مسافی د سفر لیری نه وو بیا په دغه ځای کښی چه د ورځی اوسیږی مسافر نه بلل کیږی بلکه مقیم بلل کیږی (در مختار شامی ص ۵۲۹ اول ټوک)

(۳) مسئله:- اوکه په ذکر سوی مسئله کښی یو ځای وبل ځای ته دوندی نژدی وی چه دیوه ځای د اذان آواز وبل ځای ته رسیږی نو دواړه ځایونه یو ځای بلل کیږی او په دغو دواړو ځایونو کښی د پنځلسو ورځو د اوسیدو په نیت سره مقیم کیږی۔ (در مختار ص ۱۰۷ شامی ص ۵۲۹ اول ټوک)

(۴) مسئله:- د مقیم اقتداء په مسافر پسی په هر حال کښی روا ده برابره خبره ده که ادا ئی لمونځ وی یا قضا ئی لمونځ وی مسافر امام چه هر وخت دوه رکعاته وکړی سلام وګرځوی نو د مقیم مقتدی د پاره په کار ده چه ولاړ سی خپل لمونځ پوره کړی په دغه پاته لمانځه کښی دی قرائت نه وائی ځکه چه دی لاحق دی او قعده اولی (اوله ناسته) پرد غه مقیم هم په وجه د متابعت د امام فرض ده د مسافر امام د پاره مستحب دی چه د خپلو مقتدیانو نه ورو سته تر دوو سلامو ګرځولو خبر تیا د خپل مسافر والی

ورکړی لیکن په دې سره کار دادی چه مخکی د لمانځه د شروع کیدو څخه هم د خپلو مقتدیانو ته د خپل مسافر والی خبر تیا ورکړی۔ (در مختار ص۱۰۸ ج ۱ بحر الرائق ص۱۳۵ اول پتوک)

(۵) مسئله:۔ مسافر هم په مقیم پسی اقتدا کولای سی مګر په وخت کښی د دغه اوکه وخت تیر سو نو په سهار او ماښام کښی اقتدا پسی کولای سی په ماښین، مازیګر او ماخستن کښی اقتدا پسی کولای نه سی ځکه چه مسافر هر وخت په مقیم پسی اقتدا کوی نو په متابعت د امام به دی هم پوره څلور رکعاته کوی او د امام اوله ناسته فرض نه ده او دده اوله ناسته فرض ده نو د فرض کونکی اقتدا، په نه فرض کونکی پسی وسوه اودا روانه ده (در مختار ص۱۰۱ اول پتوک شامی ص۵۳۱ اول پتوک)

(۶) مسئله:۔ که یو مسافر د لمانځه په حال کښی د اقامت نیت وکړی برابره خبره ده اکه په اول کښی د لمانځه وی یا په ماښین کښی د لمانځه وی یا په اخیر کښی د لمانځه وی مګر ترسجده سهوی یا سلام مخکی دغه نیت وکړی نو دی به دغه لمونځ پوره کوی په لمانځه کښی قصر روانه دی اوکه ئی ترسجده سهوی یا سلام وروسته دغه نیت کړی وی نو دغه لمونځ فقط قصری (سفریانه) ادا کیږی لیکن که د لمانځه د وخت د تیریدو وروسته یاد لاحق والی په وخت کښی د اقامت نیت وکړی نو دده د نیت تاثیر په دغه لمانځه کښی نه بنکاره کیږی بلکه سفریانه به ئی کوی نو که د دغه لمونځ څلور رکعتیز وی نو دده د پاره په دغه لمانځه کښی قصر کول واجب دی یعنی د څلورو رکعتو پرځای به دوه رکعاته کوی۔ (در مختار شامی ص۸۲۲ اول پتوک)

(۱) مثال:۔ یو مسافر د ماښین لمونځ شروع کړی تریوه رکعت کولو وروسته وخت تیر سو د وخت تر تیریدو وروسته ده د اقامت نیت وکړی نو دغه نیت په دغه لمانځه کښی تاثیر نه کوی او دغه لمونځ به دئ قصری (سفریانه)

کوی۔ (۲) مثال:- یو مسافر دبل مسافر مقتدی وو اولاحق سو خپل تیر سو رکعتونه ئې کول نو دغه لاحق نیت د اقامت وکړی نو دغه د اقامت نیت په لمانځه کښې هیڅ تاثیر نه سی کولای نو که دغه لمونځ څلور رکعتیز وی قصر به کوی یعنی سفر یا نه به ئې کوی۔

دخوف (بیری) لمونځ

هروخت چه دیو دښمن سره مخامخ کیدل وی برابره خبره ده که دغه دښمن انسان وی یا یو خیرونکی حیوان وی یا یو غټ مار وی یا یو بل دغسې څه وی او په دغسې حال کښې پټول مسلمانان یا بعضې خلګ هم یو ځای په جماعت سره لمونځ نه سی کولای اود سپر تیاد شیانو څخه هم دکښته کیدلو مهلت نه وی نو د پټولو خلګو د پاره په کار دی چه پر آسانو اوداسې نورو شیانو سپاره وی په ناسته سره هر یو خپل لمونځ په اشاره سره وکړی که دی چه په دغه حال کښې جماعت وکړی و قبلې ته مخامخ کیدل هم دغه حال کښې شرط نه دی۔ مګر که دوه انسانان پریو ه اس یا بل شی سپاره دی نو دوی دواړه دی جماعت وکړی او که ئې د سپر تیا په حال کښې یا تنها (یوازی یوازی) هم لمونځ نه سو کولای نو بیا معذوره دی لمونځ ی نه کوی هروخت چه نارغه سی بیا دی د لمانځه قضا اوړی اوکه دا مکنه وی چه یو څه خلګ په جماعت سره لمونځ کولای سی که څه هم پټول خلګ ه جماعت سره لمونځ نه سی کولای نو په داسې حال کښې دد وی دپاره د اعت لمونځ پریښوول نه دی په کار په داسې طریقه سره دی لمونځ کړی یعنی پټول مسلمانان دی دوی حصې کړل سی یو ه حصه دی دد بښمن مخ ته ددریږی اوبله حصه دی د امام سره لمونځ شروع کړی که دری (۳) رکعتیز یا څلور رکعتیز لمونځ وی لکه د ماپښین، ماښیګر، ماښام اوماخستن روخت چه دغه خلګ مسافر نه وی او قصر (سفر یانه) لمونځ نه کوی هروخت چه امام دوه رکعاته لمونځ وکړی ددریم رکعت د پاره ولاړ ی نودی دغه حصه خلګ ولاړسی د دښمن مخ ته دی ددریږی اوکه وی قصری (سفر یانه) لمونځ کوی یا دوه رکعتیز لمونځ وی لکه د سهار

د جمعی ، د اختر د لمونځ یا د مسافر نه د ما پښین ، ما زیګر او ما خستن لمونځ نو ترڅو ورکعت ورسته دی دغه حصه خلګ ولاړ سی او هغه بله حصه خلګ دی د هغه ځای ځځه ځای د امام سره دی پاته لمونځ وکړی د امام د پاره دد غو خلګو د راتګ انتظار کول په کار دی او هر وخت چه پاته لمونځ امام پوره کړی نو سلام دی وګرځوی او دغه خلګ دی بیا له سلام ګرځولو د بنمن ومخ ته ولاړ سی او هغه اوله حصه خلګ دی بیرته د لمانځه وځای ته راسی خپل پاته لمونځ دی بیا له قرائته پوره کړی او سلام دی وګرځوی - ځکه چه دغه خلګ لاحقین دی بیا دی دغه خلګ د د بنمن ومخ ته ولاړ سی هغه بله حصه خلګ دی د لته د لمانځه وځای ته راسی خپل لمنځونه دی په قرائت سره پوره کړی او سلام دی وګرځوی ځکه چه دغه خلګ — مسبوقین دی - (در مختار ص۱۱۹ اول ټوک هدایه ص۱۵۷ اول ټوک)

(۱) مسئله :- د لمانځه په وخت کښی د د بنمن ومخ ته د تللو په حال کښی یا د هغه ځای ځځه د لمانځه کولو د پاره د راتګ په وخت کښی سړ پښو تلل په کار دی که چیری سړ یږی او ځی نو لمونځ یی ناسد یږی ځکه چه د اعمل کثیر (پر کار) دی - (رد المحتار ص۵۶۹ اول ټوک)

(۲) مسئله :- د د وهمی حصی د امام سره پاته لمونځ کول او د د بنمن و مخ ته تلل او د اولی حصی بیرته د لته راتلل خپل لمونځ پوره کول تر دغه ورسته د د وهمی حصی بیرته د لته راتلل لمونځ پوره کول مستحب او افضل دی که دا رنګه نه وکړی نو دا سی هم روا دی چه اوله حصه لمونځ وکړی ولاړه سی او د د وهمه حصه د امام سره پاته لمونځ وکړی او خپل لمونځ پر دغه ځای پوره کړی بیا د بنمن ومخ ته ولاړ سی هر وخت چه د غه خلګ هغه ځای ته چه د د بنمن مخ دی ورسیږی نو اوله حصه خپل لمنځونه هلته چه د د بنمن مخ دی وکړی او د لته راشی . (رد المحتار ص۵۶۹ لومړی ټوک)

(۳) مسئله :- دغه طریقه د لمونځ کولو د هغه وخت د پاره ده چه ټول خلګ په یوه امام پسی لمونځ کول غواړی مثلاً یو بزرګ سړی وی ټول غواړی چه په ده پسی لمونځ وکړی لیکن که دا سی نه غواړی نو بنه دا ده چه یوه

حصه خنګ په یوه امام پسی لمونځ وکړی او بیا د دښمن د مخ ته ولاړ سی بیا هغه بله حصه چه راسی هغه بل څوک امام کړی خپل پاتې لمونځ پسی وکړی (شرح التنویر ص۱۱۹ لومړی پاتوک رد المحتار ص۵۶۹ اول پاتوک۔ بحرالرائق ص۱۶۹ ج۱)

(۴) مسئله:- که دا بیره وی چه د دښمن د پیر نژدی دی او څرد لته را رسیږی نو د دی فکر په وجه سره د هغو خلګو په د غه اوله او ذکر سوی قاعده سره لمونځ وکړی ورډسته تر د غه دا فکر د د وی غلط و ختی نو د امام لمونځ خو صحیح سو مګر د مقتدیانو د پاره د د غه لمانځه راګرزول په کار دی ځکه چه د غه لمونځ د پیر سخت ضرورت د پاره خلاف القیاس (د عقل څخه مخالف) سره د عمل کثیر (پیر کار) روا سویدی بیله سخته او پیره ضرورته د وندی عمل کثیر (دیر کار) فاسدونکی دی لمانځه لره۔ (رد المحتار ص۵۶۸ اول پاتوک بحرالرائق ص۱۷۰ د وهم پاتوک)

(۵) مسئله:- که یو ناجائزه او ناروا جنګ وی نو په د غسی وخت کښی په د غسی طریقه سره د لمانځه کولو اجازه نسته مثلاً باغیان خلګ د بادشاه سره جنګیږی چه بادشاه هم د اسلام وی یا د یو د دښمنانو وی ناروا غرض په سبب یو څوک د یو چا سره جنګیږی نو د د غسی خلګو د پاره د وندی عمل کثیر (پیر کار) نه معافیږی۔ (در مختار ص۱۱۹ اول پاتوک)

(۶) مسئله:- لمونځ ئی د قبلی د طرف څخه ماسیوی وبل طرف ته شروع کړی وګوره په د غه وخت کښی د دښمن تیښته وکړه نو د د وی د پاره په کار د ه چه سمدستی د قبلی د طرف ته راګرزی که نه راګرزیده نو لمونځ ئی فاسدیږی (عالمګیری ص۱۵۳ اول پاتوک)

(۷) مسئله:- که په امامه سره د قبلی د طرف ته لمونځ کوی او په د غه حال کښی د دښمن راسی نو دستی د د وی د پاره د قبلی د طرف څخه د د دښمن د طرف ته ګرزیدل روا دی او په د غه وخت کښی د قبلی ته مخامخ کیدل شرط نه دی (در مختار شامی ص۸۸۷ اول پاتوک)

(۸) مسئله:- که یو څوک په دریاب کښی آب بازی (اوبازی) کوی او د لمانځه وخت پرتیږی د سی نو د د ه د پاره په کار د ه که چیری ممکنه وی چه تر یولږ وخته پورې خپلو لاسو او پښو ته حرکت ورنه کړی او په اشاره

ه لمونځ وکړی۔ (در مختار ص۱۱۹ اول ټوک عالمګیری ص۱۵۲ اول ټوک)
تردی څایه پوری د پنځه وخته د لمنځونو اود هغو شیانو چه د دوی
ی تعلق در لودی ذکر اوبیان وو څرنګه چه د جمعې لمونځ هم د غټو شعائرو
امو) څخه د اسلام دی ددی سببه د اختر و تر لمنځونو مخکې کړل سو.

د جمعې د لمانځه بیان

الله رب العزت ته تر لمانځه هیڅ شی زیات خوښ نه دی د دغه سببه
هیڅ عبادت دومره ډیر سخت تاکید او فضیلت په دین محمدی (ص)
ی نه دی راغلی اود دی وجهې څخه پروردګار عالم د دغه عبادت
پلو بې پایه اوبې حسابه نعمتو د شکر د اداکید و د پاره په هره ورځ
ی پنځه وخته مقرر کړیدی او هم د هغو بې پایه او بې حسابه نعمتو
کرد اداکید و د پاره ئې مقرر فرمایلی دی چه د دوی سلسله د ابتداء
نه د پیدایښت تر اخیره وخته پورې بلکه تر مرګ وروسته او د
ایښت مخکې هم نه قطعه کیږی او څرنګه چه د جمعې په ورځ
ی تر ټولو زیات نعمتو نه نازل سویدی.
تر دا سی حده چه حضرت آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام۔
د انسانی نسل د پاره اصل اول دی په دغه ورځ پیدا سویدی۔ نو د
سببه په دغه ورځ دیو خاص لمانځه حکم سویدی او هوښ تر دغه
کی د جماعت د لمانځه حکمونه او فایدی هم بیان کړی دی او د اخیره هم
لاره سویده چه هرڅوندی جماعت زیات اوغټ وی په دغه اندازه
ه د دغو فاید و زیات ظهور او بنکاره والی کیږی او د اهغه وخت ممکن
چه هر وخت د مختلفو محلو او کلو خلګ او د دغه ځای اکثره اوسیدونکی
یوه ځای کښی سره راټول سی او لمونځ وکړی او هره ورځ په پنځه وختیز
نځه کښی د اکار د سخت تکلیف سبب ګرزی په سبب د دی ټولو وجوهاتو
یت په هفته کښی یوه ورځ د اسی مقرره کړه چه په دی کښی د مختلفو محلو
لو مسلمانان په خپل مابین کښی سره راټولیږی او دغه عبادت (د جمعې
رکی لمونځ) اداکوی.

څرنګه چه د جمعې ورځ په ټولو ورځو کښې افضله او مشرفه وه د
سببه دغه تخصیص د دغې ورځې د پاره وکړل سود مخکښو امتونو د پا
هم خدای تعالیٰ د دغه عبادت حکم فرمایلی وو مګر دوی د خپلې بد نصیب
په وجه اختلاف پکښې وکړی اود دغې سرکښۍ نتیجه دا راوو تله چه د
وی نیکبختی څخه بې برخې او محروم پاته سوه اود دغه فضیلت هم د
مت محمدی (ص) په برخه سو۔

یهود و د شنبې ورځ مقرره کړه په دې خیال سره چه په دغه ور
الله تعالیٰ د ټول مخلوق د پیدا کیدو څخه فارغه سویدی ۔ نصارا وو په
عیسایانو د یکشنبې ورځ مقرره کړه په دې خیال سره چه دغه ورځ
مخلوقاتو د پیدایښت د ابتداء او شروع ورځ ده لکه چه تراوسه پورې د
د دغې فریقې په دغو دواړو ورځو کښې د پیر اهتمام او هم خو ردنی کوی
د دنیا ټول کار و نه پریږدی په عبادت کښې مشغول اوسی په نصرا
عیسایانو) د دلتو نو کښې د یکشنبې په ورځ د دغه سببه څخه په ټو
د فتر و نو کښې رخصتی وی.

د جمعې د ورځې فضائل او خوبیانې

(۱) نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه په ټولو ورځو کښې ب
او ښه د جمعې ورځ ده په دغه ورځ آدم علیه السلام پیدا سویدی او په دغ
ورځ د جنت ته داخل سویدی او په دغه ورځ د جنت څخه د باندې راایس
سویدی (چه په دې دنیا کښې د انسان د وجود او پیدایښت سبب سو چ
د پیرلوی نعمت دی) او قیامت به هم په دغه ورځ وی (صحیح مسلم شریف)

(۲) د امام احمد رحمة الله علیه څخه را نقل سویدی چه ده فرمایلی دی چ
د جمعې د شپې هر مرتبه د لیلة القدر هم زیاته ده په بعضو وجوهاتو سر
حکه چه په دغه شپه سردار عالم صلی الله علیه وآله وسلم د خپلې مو
په نس مبارک کښې جلوه افروز سویدی او د حضرت صلی الله علیه و
وسلم تشریف راوړل د دنیا او آخرت د ډډ ډندې قدر خیر او برکت سب
ګڼه ډیدلی دی چه شمار او حساب ئې نه سی کولای (اشعة اللمعات

فارسی شرح مشکوٰة شریف.

(۳) نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه په جُمعه کښی یو ساعت دا رنګه دی که یو مسلمان په دغه وخت کښی د خدای جل جلاله څخه یو دعا غواړی نو ضرور قبلیږی (صحیحین شریفین)

علماء په دی کښی مختلف دی چه دغه ساعت چه ذکر ئی په حدیث شریف کښی بیان سوید ی کوم وخت دی. شیخ عبدالحق محدث دهلوی په شرح سفر السعادت کښی څلویښت قولونه رانقل کړید ی مګر په دغو ټولو کښی ئی دوه قولونو ته ترجیح اوغلبه ورکړی ده. یو دا چه دغه ساعت د خطبی د ویلو د وخته څخه بیا د لمانځه تر ختمید و پورې دی بل قول دا چه دغه ساعت په اخیر کښی د ورځ ئی دی او دغه دوهم قول یو لوی ډله اوجماعت اختیار کړی دی او په صحیح حدیثونه ئی هم تائید کوی شیخ دهلوی رحمة علیه فرمایی چه دا روایت صحیح دی چه حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها د جمعی په ورځ ویوخادی (خدمتګاری) ته حکم ورکاوی دا رنګه چه هر وخت د جمعی ورځ پر ختمید و سی نو ما خبر وکه چه په دغه وخت کښی په ذکر او دعا سره مشغوله سم (اشعة اللمعات)

(۴) نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه ستاسی په ټولو ورځو کښی د جمعی ورځ افضله او ښه ده په دغه ورځ د صور (شپیلی) پوکل کیږی په دغه ورځ پر ما درود شریف په کثرت سره وایاست چه دغه درود په دغه ورځ پر ما پیښیږی. اصحابو مبارکانو عرض وکړی چه یا رسول الله پر تا څرنګه پیښیږی حال دا چه تر وفات وروسته ستا هډو نه ډم نه وی. حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چه الله پاک د همیشه د پاره په محکه باندی د پیغمبرانو علیهم السلام بدن حرام کړی دی. (ابوداؤد شریف)

(۵) نبی صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د شاهد د لفظ څخه مراد د جمعی ورځ ده هیڅ ورځ د جمعی څخه ډیاته بزرګه نه ده

یه دی کښی یو ساعت دا رنګه دی چه هیڅ مسلمان به په دغه ساعت کښی د
نه کړی مګر دا چه الله تعالیٰ قبلوی او دهیڅ شی څخه به پناه نه وغواړ
ګر دا چه خدای تعالیٰ و ده ته پناه ورکوی (ترمذی شریف)

د شاهد لفظ په سورة البروج کښی راغلی دی خدای تعالیٰ په دغه و
ره قسم اخیستی دی. وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ وَشَاهِدٍ وَّ
شْهُوْدٍ. قسم دی په اسمان سره چه د برجونو والا دی - قسم دی په هغه ور
ره چه ددی وعده سویده یعنی د قیامت ورځ قسم دی په شاهد سر
ښی په جُمعه سره او قسم دی په مشهود یعنی په عرفی سره.

(۶) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د جمعی ورځ دهغو
رځو سردار ده او دالله پاک په نزد تر ټولو ورځو بزرګه ده د عید الفطر (د کوچ
ختر ورځ) او عید الاضحیٰ (لوی اختر ورځ) هم ددی عظمت او لوړی په
زد د خدای زیاته ده (ابن ماجه)

(۷) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه هر مسلمان د جمعی
ه ورځ یا شپه مړ سی خدای تعالیٰ دی د قبر د عذاب څخه ساتی.
ترمذی شریف)

(۸) حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما یو وارد - اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ
ایت تلاوت کاوی او دده سره یو یهودی ناست وو د غه یهودی وویل کچیری
موږ د غسی ایت نازل سوی وای نو موږ به په دغه ورځ اختر کولای ابن
باس رضی الله تعالیٰ عنهما وفرمایل چه دغه ایت دوه اختر ونو په ورځ
ازل سویدی چه هم د جمعی ورځ هم د عرفات ورځ وه یعنی موږ ته د
ختر جوړ ولو څه ضرورت دی د غه ورځ د نازلیدو دد غه ایت خپله د
ره دوه اختر و ورځ وه.

(۹) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایل چه د جمعی شپه روښانه
شپه ده او د جمعی ورځ روښانه ورځ ده (مشکوة شریف)

(۱۰) د قیامت څخه ورسته چه خدای تعالیٰ د جنت مستحقین جنت ته استوی
د مستحقین دوزخ دوزخ ته استوی هم به ورځ د جمعی وی که څه هم

له یعنی دلوی لوی ستورو والا اسمان دی ۲

هلته درځ اوشپه نسته مگر خدای تعالی ودوی ته د درځی اوشپی د مقدار او د ساعتو نود شمار تعلیم اوښودنه ورکوی نو هر وخت چه د جمعی درځ راسی او هغه وخت سی چه په هغه وخت کښی مسلمانان په دنیا کښی د جمعی د لمانځه د پاره راحاضریدل نو یو آواز کونکی آواز کوی چه ای جنتیانو دمزید وخت دی او صحراته ولاړسی دا به داسی څنګل وی چه اوږد والی او پراخوالی به ئی د خدای تعالی څخه ماسیوا بل هیچا ته معلوم نه وی او دالته به د مشکو ذخیری وی چه لوړوالی به ئی د آسمانه سره برابر وی او انبیاء علیهم السلام دنور پر ممبرانو کښینول کیږی او مومنان دنیا قوتو پرچوکیانو کښینول کیږی بیانو هر وخت چه ټول خلګ پرخپلو خپلو ځایونو کښینی نو خدای تعالی یو هوا راالوزوی چه په دغه هوا سره هغه مشک چه ذخیره دی الوزول کیږی د غه هوا دغه مشک د دغو جنتیانو په مخ او دیږه ورښتی اوپر کالیو ورږګوی. اوهغه هواد مشکو لګولو په طریقه ترهغه بنځه هم سنه پوهیږی چه دی ته د ټولی دنیا خوشبویانی ورکړل سی.

بیا حق تعالی حاملانو (پورته کونکو) ته دعرش حکم ورکوی چه عرش د دغو جنتیانو په مابین کی کښیږدی بیا نو خدای تعالی د دغو جنتیانو ته خطاب کوی او فرمائی چه ای زما بندګانو چه تاسو پر غیب ایمان راوړی دی حالانکه زه تاسونه وم لیدلی او زما د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تصدیق تاسو کړیدی او زما د حکم اطاعت تاسو کړیدی اوس زما څخه یوځه وغواړی داورځ د مزید یعنی د پیر انعام کولو ده ټول خلګ به په یوه شړبه سره ووایی چه ای پروردګاره موږ ستا څخه خوشحاله یو ته هم زموږ څخه خوشحاله اوراضی سی حق تعالی فرمائی چه ای جنتیانو که زه ستاسی څخه راضی نه وای نو تاسی څه پیخپل جنت کښی نه داخلولاست اویوځه وغواړی د غه درځ د مزید (د زیاتید و د نعمتو ده نو به بیا ټول خلګ متفق اللسان (په یوه شړبه) سی عرض به وکړی چه ای پروردګاره د ټول جهان موږ ته خپل جمال رابنکاره کړه چه موږ ستا مقدس (پاک) ذات په خپلو سترګو سره وویني - نو بیا حق سبحانه وتعالی پرده پورته کوی او پرد غو خلګو به ظاهر سی او درب العزت خپل جمال چه جهان بنایسته کونکی دی پرده وی به راچاپیر

سی ـ که د جنتیانو د پاره د احکم نه وای سوی چه د وی به هیڅکله سنه سوځل کیږی نو بیشکه د وی به د دغه نور تاب او طاقت نه وای را وړی او سوځل سوی به وای بیا نو پروردګار عالم د د وی ته فرمایی چه اوس بیرته خپلو خپلو ځایونو ته ولاړسی او د د وی حسن او جمال به د دغه جمال حقیقی د اثره څخه د وچند ه سوی وی. او د وی به د خپلو بنځو ته راسی نه به بنځی د وی لیدلای سی او نه به د وی بنځی لیدلای سی یو لږ ګړی ورډسته هغه نور چه د وی ټ پټ کړی دی پورته کیږی بیا نو د وی په خپلو مابینو کښی یو د بله سره وینی.

د د وی بی بی ګانی به وایی چه د تللو په وخت کښی چه ستا کوم صورت او شکل وو هغه اوس نسته یعنی هزار ها درجی ترهغه اوس ښه دی. نو د وی جواب ورکوی چه هو! دا د دی سبب څخه چه حق تعالی خپل پاک ذات وموبنته را بنکاره کړی او موبد دغه جمال په خپلو سترګو ولیدی (شرح سفر السعادت) وګورې د جمعې په ورځ څوند ی لوی نعمت په برخه سویدی ـ

(۱۱) هره ورځ د وبرخ د غرمې په وخت کښی تازه کیږی او تیزیږی مګر د جمعې په ورځ د جمعې په برکت نه تازه کیږی ـ (احیاء العلوم)

(۱۲) نبی کریم صلی الله علیه وسلم په یو جمعه ارشاد او نصیحت وفرمایه چه ای مسلمانانو په دغه ورځ خدای تعالی اختر مقرر کړی دی نو په دغه ورځ غسل وکړی او د هرچا سره چه خوشبویی وی هغه د ی خوشبویی ولګوی او مسواک په دغه ورځ لازم وبولی. (ابن ماجه)

د جمعې ادبونه

(۱) د هر مسلمان د پاره په کار د ه چه د جمعې اهتمام او غم خوړنی د پنج شنبی د ورځی څخه شروع کړی د پنج شنبی په ورځ ورډسته تر مازیګر استغفار او د اسی نور عبادات شروع کړی او خپل داغوستو کالی صاف وساتی ـ او که عطر او خوشبویی په کور کښی نه وی نو د ی په دغه ورځ د پنجشنبی را وړی که ټ چیری د را وړ لو امکان وی د دی د پاره چه بیا د جمعې په ورځ په دغو کارونو اخته نه سی.

پخوانیو بزرگانو فرمایلی دی چه تر پتولو زیاته فایده د جمعی ورځی چاته رسیږی چه د جمعی منتظروی او د جمعی تیاری د پنجشنبی څخه شروع کوی او تر پتولو زیات بد نصیبه هغه سړی دی چه ده ته د اهم نه وی معلومه چه جمعه کله ده حتی سهار د خلګو څخه پوسته کوی چه نن کومه ورځ ده او بعضی بزرګان به د جمعی د شپی د پاره اهتمام او غم خوړلی د وجهی څخه د جامع مسجد ته تلل شپه د جمعی به ئی په کښی تیروله ۔ (احیاء العلوم ص۱۶۱ لومړی پتوک)

(۲) بیا دی د جمعی په ورځ غسل وکړی د سر او ږیښتان او بدن دی ښه صفا کړی او مسواک دهل دهم په دغه ورځ د پاره فضیلت او ثواب لری ۔
(احیاء العلوم ص۱۶۱ لومړی پتوک)

(۳) د جمعی په ورځ تر غسل وروسته دی هغه جامی واغوندی چه تر هغوی ښی د ده سره موجودی نه وی او که ممکنه وی خوشبویی دی ولګوی نوکان او داسی نور دی هم پری کړی (احیاء العلوم ص۱۶۱ اول پتوک)

(۴) جامع مسجد ته دی د پاره وختی ولاړ سی هر څوک چه څوندی وختی ئی په دغوندی اندازه سره ودده ته ثواب ورکول کیږی نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د جمعی په ورځ فرشتی (ملایکی) د مسجد پر دروازه چه هلته د جمعی لمونځ کیږی دریږی او هر څوک چه تر پتولو لمخی د مسجد ته راځی د ده بیا تر ده وروسته چه هر هغه څوک مسجد ته راځی د هغه او د هغه رنګه درجه پر درجه د پتولو نومونه لیکی او د پتولو تر هغه چه هر څوک راغلی وی هغه ته داسی ثواب ورکول کیږی لکه د خدای تعالیٰ په لار کښی چه اوښ خیراتونکی ته ورکول کیږی او چه تر اول وروسته راغلی وی هغه ته داسی ثواب ورکول کیږی لکه د خدای تعالیٰ په لار کښی چه د غوایی خیراتونکی ته ورکول کیږی او چه تر دغه وروسته راسی هغه ته په مثل د چرګ خیراتونکی ثواب ورکول کیږی او چه تر دغه وروسته څوک راسی هغه ته په مثل د هګی د خیراتونکی ثواب ورکول کیږی بیا چه هر وخت خطبه شروع کیږی نو فرشتی (ملایکی د غه دفترونه ـ بند وی او د خطبی په اوریدلو سره اخته کیږی (صحیح مسلم شریف او بخاری شریف

په پخوا زمانه کښی د سهار په وخت کښی او ورسته تر سهار مربه لاسری
وکوځی د خلګو ډکی وی ټول خلګ به د وندی وختی و هغه مسجد ته تلل
چه په هغه کښی به د جمعی لمونځ کیدی وروسته له دحام او ګنهګونه به جوړیدل
لکه د اختر په ورځ کښی بیا چه هر وخت د اطریقه ختم سوه نو خلګو ویل
چه دا اول بدعت دی چه په اسلام کښی پیدا سو۔

امام غزالی رح دا لیکی او فرمایی چه ولی مسلمانان د یهود و او نصارا ډځنه
نه شرمیږی حکه چه د وی د خپل عبادت په ورځ کښی یعنی یهودیان
د شنبی په ورځ او نصارا د یکشنبی په ورځ وخپلو عبادت خانو اوکلیساؤ
ته څرنګه وختی ځی او د دنیا طالبان او کاروباریان څوندی وختی د خپل کار
اوکسب د پاره بازار ونو ته ځی نو د دین محمدی (ص) طالبان ولی پیش قدمی او
مخکی والی نه کوی۔ (احیاء العلوم)

په حقیقت کښی مسلمانانو په ټن وخت کښی د دی مبارکی ورځی قدر بالکل
ترشا غورځولی دی دوی ته دا هم معلومه نه وی چه ټن کومه ورځ ده
او د دی ورځی څه مرتبه ده۔ افسوس هغه ورځ چه په یو زمانه کښی
د مسلمانانو په نزد تر اختر هم زیاته وه او چه په دغی ورځی باندی نبی علیه
السلام فخر کاوی او د پخوانیو امتونو نصیب سوی نه وه ټن د دغی ورځی مسلمانانو
په لاس سره داسی ذلت او بی قدری کیږی د خدای تعالی د ورکړه سوی نعمت دا
رنګه ضائع کول سخته ګناه ده او سخته ناشکری ده چه وبال ټی موږ په خپلو
سترګو وینو۔ اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ۝

(۵) د جمعی و لمانځه ته په پښو تللو کښی پر هر قدم دیوه کال د روژه د
نیولو ثواب بنده ته ورکول کیږی۔ (ترمذی شریف)

(۶) نبی صلی الله علیه وآله وسلم د جمعی په ورځ د سهار په لمانځه کښی
د الٓمٓ السجده سوره اود هل اتی علی الانسان سوره وایی د دی سببه
دغه سوره تو نه د جمعی په ورځ د سهار په لمانځه کښی مستحب بلل اوکله
کله ټی ویل په کار دی او یو وخت وخت ټی پریښوول هم په کار دی۔ د دی

د پاره چه د خلکو دا خیال نه سی چه د غه سورتونه واجب دی د جمعی د ورځی د سهار په لمانځه کښی .

(۷) د جمعی په لمانځه کښی نبی صلی الله علیه واله وسلم سورة الجمعه او سورة المنافقون یا سبح اسم ربك الاعلی او هل اتاك حدیث الغاشیه ویلی

(۸) د جمعی په ورځ که د لمانځه مخکی وی که ورسته وی د سورة کهف په ویلو کښی ډیر ثواب دی نبی صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه د جمعی په ورځ هرڅوک سورة کهف ووایی د ده د پاره د عرش د لاندی څخه د اسمانه سره برابر بلند او لوړ یو نور بنکاره کیږی چه د قیامت په تاریکه کښی د ده په کار راځی د د غی جمعی او تیری سوی جمعی په مابین کښی چه هرڅوندی گناوی د ده څخه سوی وی هغه ټولی معافیږی (شرح سفر السعادت)

علماؤ لیکلی دی چه په د غه حدیث شریف کښی صغیره (وړی) گناوی مراد دی ځکه چه گناه کبیره (لوی گناوی) بیله توبی نه معافیږی - وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَهُوَ اَرْحَمُ الرَّاحِمِیْنَ .

(۹) د جمعی په ورځ په درود شریف ویلو کښی هم ترنورو ورځو زیات ثواب دی د دی سببه په حدیثو کښی راغلی دی چه د جمعی په ورځ په کثرت سره درود شریف وایاست .

د جمعی د لمانځه فضیلت او تاکید

د جمعی لمونځ فرض عین دی په قرآن شریف، متواتر و حدیثونو او په اجماع د امت سره ثابت سویدی او د غټو شعائرو (علامو) څخه د اسلام دی منکر ئی کافر او بی عذره پریښو ونکی ئی فاسق دی .

(۱) د الله جل جلاله قول دی یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ط ترجمه:- یعنی ای د ایمان خاوندانو هر وخت چه د جمعی د لمانځه د پاره اذان وسی نو تاسی د خدای تعالیٰ د ذکر و خوا ته په چټکتیا سره ولاړ سی خرید او فروخت پریږدی د غه ستاسی د پاره خیر دی

له یعنی یو وخت به ئی اول د وه سورتونه او یو وخت به د غه اخیری د واړه سورتونه ویلی ۱۲ محشی

که چیری تاسی پوهیږی.

د ذکر څخه مراد په دی آیت شریف کښی د جمعی ملونځ او خطبه ده د حُفاستی اوچتکتیا څخه مقصد په دیره غم خوردنی سره تلل دی.

(۲) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه هرسړی د جمعی په ورځ غسل اوپاکی په قدر د امکان وکړی او تر دغه ورځ پورې ستړه خپل وریښتان په تیلو عطر کړی او عطر او خوشبوي استعمال کړی او تر دغه ورځ پورې دلمانځه د پاره روان سی او هر څنګ چه د مسجد ته ورسیږی او هیڅوک د خپله ځایه څخه ولاړ نه کړی چه خپله پرهغه ځای کښینی او بیا هرڅوندی نفلونه چه دده په قسمت کښی وی هغه وکړی او بیا چه هر څنګ ملا په خطبه شروع وکړی نو دی پټه خوله سی. نو د تیری سوی جمعی څخه بیا تر دغی جمعی پورې د دغه سړی ګناوی معافیږی (صحیح البخاری شریف)

(۳) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه هر هغه څوک د جمعی په ورځ بنه غسل وکړی او وختی مسجد ته په پښو ولاړ سی پرآس سپور اوبل شی (هوټر، ټانګه) کښی ولاړ نسی بیا خطبه واوری او په دغه مابین کښی یولغوه اوعبث کار نه وکړی نو د هر قدم په عوض دیوه کال د عبادت ثواب درکول کیږی یعنی دیوه کال د لمانځونو اودیوه کال روژو (روایت کړیدی ترمذی شریف)

(۴) ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه او ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه فرمایی چه موږ د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم څخه اوریدلی دی چه خلګ دی د جمعی د لمانځه د پریښولو څخه منعه سی که چیری نه منعه کیږی. نو خدای تعالیٰ دده وی په زړونو باندی مهر لګوی نو د وی بیا په سخت تکلیف اخته کیږی. (صحیح مسلم شریف)

(۵) نبی صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه هرسړی درې جمعی د

سستی د سببه یعنی بی عذره د جمعی لمونځ پریږدی نو دده پر ذمه خدایتعالی مهربانوی (ترمذی شریف) او په یوه روایت کښی راغلی دی چه خداوندی عالم دده څخه بیزاره کیږی.

(۶) طارق بن شهاب رضی الله تعالیٰ عنه فرمایی چه نبی صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه د جمعی لمونځ پرهر مسلمان باندی په جماعت سره حق واجب دی مگر پرځلور قسمه خلگو باندی واجب نه دی - پرمریض باندی واجب نه دی یعنی چه د شریعت په قانون سره غلام او مملوک وی، پرښځه اونابالغ هلک واجب نه دی، او پرمریض واجب نه دی - (ابوداؤد روایت کړیدی)

(۷) ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د جمعی د لمانځه دپری ښوونکی په حق کښی وفرمایل چه زما تر ډینګه وپخه اراده سوه چه یو څوک پرخپل ځای امام کړم او پخپله د هغو خلگو کورونه وسوځم چه د جمعی د لمانځه ته نه راحاضریږی (صحیح مسلم شریف)

د دغسی مضمون حدیث د جمعی د لمانځه دپریښولو په باره کښی هم راغلی دی چه هغه هوښ مخکی لیکلی دی.

(۸) ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایی چه نبی صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل چه هرڅوک بیله ضرورته د جمعی لمونځ پریږدی هغه منافق لیکل کیږی په داسی کتاب کښی چه د تغیر او تبدیل څخه بالکل ساتل سویدی - (مشکوٰة شریف) یعنی د دده د منافق والی حکم همیشه پاته کیږی مگر که توبه وکړی یا ارحم الراحمین خدای ئی په خپله خاصه مهربانی سره معاف او وبخښی نو دا بله خبره ده.

(۹) حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه د نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم څخه روایت کوی چه ده مبارک وفرمایل چه هرڅوک چه پرخدای تعالیٰ او د قیامت پر ورځ ایمان لری د ده د پاره د جمعی په ورځ د جمعی لمونځ کول ضروری دی - مگر د مریض، مسافر، ښځی، نابالغه هلک او مریی د پاره

ضروری نه دی نو که یو څوک په یو عبث کار مشغول سی نو خدای پاک هم د
دې څخه اعراض (مخ اړونه) کوی او الله پاک بې پروا او محمود ذات دی. مشکوة
شریف) الله پاک بې پروا ذات په دی معنی دی چه د هیڅ د عبادت پروا د ده
سره نسته او نه د ده فایده پکښی سته او الله پاک لحمود ذات دی په دی
معنی چه د ده ذات په ټولو صفتونو سره موصوف دی که یو څوک د ده
صفت وکړی که ئی نه وکړی حمد او ثنائ وکړی که ئی نه وکړی.

(۱۰) د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه رانقل سوی دی چه ده وفرمایل
چه هر چاچه پرلپسی پنځه جمعی پرې سنوولی د جمعی منځونه ئی نه وکړل نو ده
اسلام ترشا وغورزاوی. (اشعة اللمعات)

(۱۱) د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه یو چا پوښتنه وکړه چه یو سړی
هرسو اودی د جمعی او جماعت په لمانځه کښی نه شریکیدی نو ته د ده په
شان کښی څه فرمایی ده مبارک جواب ورکړی چه دی په دوزخ کښی دی
بیا دغه سړی تر یوی میاشتی پورې پرلپسی د ده څخه دغه سوال کاوی او
ده دغه جواب ورکاوی. (احیاء العلوم)

پردغو حدیثونو باندی د سرسری نظر کولو او روسته هم دا نتیجه په
خوبی سره راوتلای سی چه د جمعی د لمانځه سخت تاکید (ټینګښت په شریعت
کښی راغلی دی او د پرې سنوونکو ته ئی د سخنو عذابونو وعیدونه ورکړه
سویدی ایا اوس هم یو سړی د اسلام تر دعوی وروسته د دغه فرض پریښودلو
جرأت او دلاوری کولای سی.

د جمعی د لمانځه د ادا کولو طریقه

د جمعی د اول اذان څخه وروسته د خطبی د اذان کولو څخه مخکی دی څلور



رکعاته سنت وکړی دغه سنت مؤکد دی بیادی تر خطبی و روسته د وه رکعاته فرض د امام سره په جمعه (جماعت) وکړی د پاره د جمعی - بیادی څلور رکعاته سنت وکړی داهم سنت مؤکد دی بیادی د وه رکعاته سنت وکړی - داد وه رکعاته سنت هم د بعضو حضراتو په نزد سنت مؤکد دی.

د جمعی د لمانځه د واجبید و شرطونه

(۱) مقیم والی پر مسافر باندی د جمعی لمونځ واجب نه دی.

(۲) جوړ والی:- پر مریض د جمعی لمونځ واجب نه دی کوم مرض چه دهغه په وجه د جمعی د لمانځه و مسجد ته ورتلای نه سی نو دغه مرض معتبر دی د سپین ږیرتوب په وجه که یو څوک کمزوری سوی وی یا تر مسجد نه سی ورتلای یا ړوند وی د غه ډول خلګ مریضان بلل کیږی او د جمعی لمونځ پرد وی نه واجبیږی.

(۳) ازاد والی:- پر غلام (مرلي) باندی د جمعی لمونځ واجب نه دی.

(۴) نارینه والی:- پر ښځه باندی د جمعی لمونځ واجب نه دی. (طحطاوی ص۲۹۲ در مختار شامی ص۸۵۳ لومړی ټوک) (د جماعت د لمانځه د پریښودلو د پاره چه کوم عذرونه مخکی بیان سوید ی د هغو ټولو عذرونو څخه خالی والی - که د هغو عذرونو څخه یو عذر موجود وی نو د جمعی لمونځ نه واجبیږی - (در مختار شامی ص۸۵۳ لومړی ټوک)

(۱) مثال:- چه باران په پرله پسی سره اوریږی.

(۲) مثال:- چه د یو مریض نګهبانی او خدمت کوی (۳) مثال:- د مسجد ته په تلو کی د ډیر زښن بیره وی.

(۴) مثال:- دنورو لمونځونو د واجبوالی چه موب مخکی کوم شرطونه ذکر کړ پیدی هغه شرطونه د جمعی په لمانځه کښی هم معتبر دی یعنی عاقل والی، بالغوالی مسلمان والی د غه شرطونه چه بیان سوه د جمعی د لمانځه د واجبید و دی. که یو څوک سره د نه موجودیدو د د غو شرطونو د جمعی لمونځ وکړی نو د د ه لمونځ کیږی یعنی د ما پښین لمونځ د د ه د ذمی څخه ساقطیږی مثلاً یو مسافر یا یو ښځه د جمعی لمونځ وکړی.

عه که څه هم ښځه باید د جماعت په لمانځه کښی شرکت و نه کړی ۱۲ محشی

د جمعې د لمانځه د صحیحوالی شرطونه

(۱) مصر یعنی لوی یا کوچنی بنار پس په کلی یا څنګل او صحرا کښی د جمعې لمونځ صحیح نه دی مګر دهغه کلی ابادی چه د قصبی (کوچنی بنار) سره برابره وی. مثلاً دری څلور زره انسانان وی هلته د جمعې لمونځ کول روادی صحیح کیږی.

(۲) دماپښین وخت پس نو دماپښین دوخت څخه مخکی او دماپښین د وخت څخه ورسته د جمعې لمونځ نه صحیح کیږی تر دا سی حده که د جمعې دلمانځه دکولو په وخت کښی د ماپښین وخت ختم سی نو لمونځ فاسدیږی که څه هم اخیره ناسته په قدر د تشهد یعنی التحیاتی سوی وی او د دعا وجهی څخه قضا د جمعې دلمانځه نه راوړل کیږی.

(۳) خطبه یعنی د خلګو په مخکی د خدای تعالیٰ ذکر کول برابره خبره ده که صرف سبحان الله یا الحمد لله وویل سی که څه هم فقط پرد غه قدر بس والی کول په وجه د مخالفت د سنت طریقی مکروه دی.

(۴) د خطبی مخکی کول دلمانځه څخه که تر لمانځه ورسته خطبه وویل سی نو لمونځ نه صحیح کیږی.

(۵) د خطبی ویلو وخت به د ماپښین په وخت کښی د ننه د ننه وی که تر وخت مخکی خطبه وویل سی نو لمونځ نه صحیح کیږی.

(۶) جمعه به وی یعنی د امام څخه ماسیوای لږ تر لږه د درو انسانانو موجودیدل د شروع د خطبی څخه بیا د اول رکعت تر سجدی پورې که څه هم هغه درې خلګ چه د خطبی په وخت کښی وه نور وی او د لمانځه په وخت کښی وه نور وی مګر شرط دادی چه دغه درې انسانان به داسی وی چه امامت[۵۲] کولای سی.

(۷) که د سجدی کولو څخه مخکی خلګ ولاړ سی تر درو خلګو کم پاته سی یا هیڅوک پاته نه سی نو لمونځ فاسدیږی لیکن که تر سجدی کولو ورسته ولاړ سی نو بیا هیڅ پروا نه لری.

(۸) په عامه اجازه او شهرت سره به د جمعې لمونځ کوی نو که په یو خاص

ځای کښی په پټه سره د جمعې لمونځ کوی بیا نه صحیح کیږی که په یو داسی ځای کښی د جمعې لمونځ وسی چه هلته عام موخلګو ته د راتلو اجازه نه وی یا په جُمعه کښی د مسجد دروازی بندی سی نو لمونځ نه کیږی دغه شرطونه چه د جمعې د لمانځه د صحیحوالی بیان سوه نو که یوځوک سره د نه موجودیدو د دغو شرطونو د جمعې لمونځ کوی د ده لمونځ نه صحیح کیږی بیرته به د مابښین لمونځ کوی اوخرنګه چه دغه لمونځ نفل گرځی او نفل په داسی اهتمام او عدم حضور د نی سره کول مکروه دی نو د دی سببه د دغو شرطونو نه موجودیت په حال کښی د جمعې لمونځ کول مکروه تحریمی دی - (در مختار ص ۱۱۱-۱۱۳ اول ټوک شامی ص ۱۴۶ لومړی ټوک)

د جمعې د خطبې مسئلې

(۱) مسئله:- هر وخت چه ټول خلګ د جمعې د لمانځه ته راسی نو امام د پاره په کار ده چه پر ممبر کښینی او مؤذن (اذان کونکی) د ده په حضور کښی د درېږی اذان وکړی او د وسته تر اذان د ستی امام د درېږی او خطبه شروع کړی - (در مختار ص ۱۱۳-۱۱۴ بحر الرائق ص ۱۵۷ د وهم ټوک)

(۲) مسئله:- په خطبه کښی دولس شیان سنت دی (۱) د خطبی ویلو په حال کښی به خطبه ویونکی ولاړ وی (۲) دوی خطبی به وایی (۳) د دوو خطبو په مابین کښی به دومره قدر کښینی چه د ری واره سبحان الله ویلای سی (۴) د دواړو بی اودسیو څخه به پاک وی (۵) د خطبی ویلو په حال کښی به ټ مخ د خلګو د خواته وی (۶) د خطبی شروع کولو مخکی به اول په خپل زړه کښی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وایی (۷) خطبه به په داسی آواز سره وایی چه خلګ ټ واوری (۸) په خطبه کښی به دغه اته قسمه مضامین وی د خدای تعالیٰ شکر اوده تعریف اوصفت د خدای پاک وحدت او د نبی صلی الله علیه وسلم د رسالت شهادت اوپر نبی صلی الله علیه واله وسلم باندی درود شریف ویل وعظ او نصیحت، د قرآن مجید دایاتونو یاد یو بل سوره ویل، په دوهمه خطبه کښی بیا د دغو شیانو راګرزول، په دوهمه خطبه کښی پر ځای د وعظ او نصیحت د مسلمانانو د پاره دعا کول دا اتو قسمونو د مضامینو فهرست وو۔

مخکی راتلونکی دهغه شیانو پاته حصه دی چه د خطبی په حال کښی سنت دی
(۹) خطبی ته پیر اوبرد والی نه وی کول بلکه تر لمانځه ئی کمول په کار دی (۱۰)
خطبه به پر منبر وایی که چیری ممبر نه وی نو پر لکړه یا بل شی به تکیه
کوی دریږی به - د ممبر په موجودګی کښی پر لکړه یا بل شی لاس ایښوول بیا
درید ل او لاس پر لاس ایښوول لکه د بعضو خلګو چه زموږ په زمانه کښی
عادت دی رانقل شوی نه دی (۱۱) د واړی خطبی به په عربی ژبه سره وایی
په بله ژبه خطبه ویل یا د عربی سره د یو بلی ژبی شعرونه او داسی نور ګډول
لکه زموږ په زمانه کښی چه د بعضو خلګو رواج دی او د سنت مؤکد خلاف
کار دی او مکروه تحریمی (۱۲) او د خطبی اوریدونکی به مخ پر قبله ناست
وی په دوهمه خطبه کښی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اصحابو، بی بی ګانو
او خصوصاً د خلفای راشدینو، حضرت حمزه (رض) او حضرت عباس (رض) د
پاره د دعا کول مستحب او بنه کار دی د اسلام د بادشاه د پاره هم په خطبه
کښی د دعا کول روا دی مګر د دی داسی تعریف کول چه غلط وی مکروه تحریمی
دی - (بحرالرائق ص۱۴۷ دوهم ټوک فتاوی هندیه ص۱۴۴ اول ټوک شامی
ص۱۱۱ اول ټوک عالمګیری ص۱۴۵ اول ټوک)
(۳) مسئله:- هر هغه وخت چه امام د خطبی د پاره ودریږی په دغه
وخت کښی یو لمونځ کول یا په خپل مابین کښی خبری کول مکروه تحریمی دی.
لیکن د قضا بی لمانځه راګرزول د صاحب ترتیب د پاره د دغه وخت هم روا دی
بلکه واجب دی بیا نو ترڅو پوری چه امام خطبه ختمه کړی نه وی د دغه ټول
شیان منعه دی - (در مختار ص۱۱۳ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۵۵ دوهم ټوک)
(۴) مسئله:- هر وخت چه خطبه شروع سی نو د ټولو حاضرینو د پاره ګډ
واجب دی که وامام ته نژدی ناست وی یا لیرې ناست وی او یو داسی کار کول
چه د خطبی د اوریدلو ته تاوان رسوی مکروه تحریمی دی - خوړل، چیبل

خبری کول، تلل گرزیدل، سلام یاد سلام جواب ورکول، یا تسبیح ویل، یا یوچاته شرعی مسئله بیانول نکه چه د لماخځه په حال کښی منعه دی د غه رنگه په وخت کښی د خطبی ویلو هم منعه دی لیکن د خطیب د پاره روا ده چه د خطبی ویلو په حال کښی یو چاته شرعی مسئله بیان کړی۔ (در مختار شامی ص۱۱۱ اول پوک بحر الرائق ص۱۵۵ دوهم پوک)

(۵) مسئله:۔ که د سنتو او نفلو کولو په حال کښی خطبه شروع سی نو قوی داده چه سنت موکد خودی پوره کړی او په نفلو کښی دی پرده ورکعتونو سلام وګرزوی۔ (در مختار ص۱۱۳ اول پوک بحر الرائق ص۱۵۵ دوهم پوک)

(۶) مسئله:۔ د د واړه خطبو په مابین کښی د ناستی په حال کی د امام یا مقتدیانو د پاره لاس پورته کول او دعا غوښتل مکروه تحریمی ده لیکن بی لاس پورته کولو که چیری په زړه کښی دعا وغوښتل سی نو روا دی په شرط د دی چه په ژبه سره هیڅ نه ووایی نه کرار نه په زوره۔ لیکن د نبی صلی الله علیه وآله وسلم او د ده د اصحابو رضی الله تعالی عنهم څخه را نقل سوی نه ده۔ (رد المحتار ص۵۵۳ اول پوک)

د روژی د میاشتی د آخیری جمعی په خطبه کښی د وداع (رخصتیدو) او فراق (جلاوالی) مضمونونه ویل۔ په دی وجهه چه د نبی صلی الله تعالی علیه وآله وسلم او د ده مبارک د اصحابو رضی الله تعالی عنهم څخه را نقل سوی نه دی نه د فقهی په کتابو کښی یو ځای د دوی معلومات سته او پرد غو د هیشتو ب کولو څخه عوامو ته د د غو مضمونونو د ضروری والی عقیده پیښیږی نو د دی سبب بدعت دی۔

تنبیه (خبرتیا):۔ زمونږ په زمانه کښی پرد غی خطبی باندی د امی التزام او تینګوالی کیږی چه که ئی چیری څوک نه ووایی نو طعنی (تانی) ورکول کیږی او د د غی خطبی په اوریدلو کښی اهتمام او غم خوردنی هم پیښه کیږی (روع اللاخوان)

(۷) مسئله:۔ یو کتاب یا بل شی ته کتل او خطبه ویل روا ده یعنی چه مخ ته ئی کتاب یا بل شی نیولی وی او خطبه څندی وایی دا روا دی۔

(۸) مسئله:۔ د نبی صلی الله علیه وآله وسلم نوم مبارک که په خطبه کښی راسی نو د مقتدیانو د پاره په خپل زړه کښی درود شریف ویل روا دی۔ (بحر الرائق

مخ ۱۵۶ دوهم ټوک د ردمختار مخ ۱۱۳ لومړی ټوک

د نبی صلی الله علیه وآله وسلم د جمعې د ورځ خطبه

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د خطبې د انقلو لوڅخه دا غرض نه دی چه خلګ به دغه خطبه لازمه بولی بلکه یو وخت وخت دی دغه خطبه په غرض د برکت او متابعت هم وایي - د نبی صلی الله علیه وآله وسلم عادت شریف داوو چه هر وخت به ټول سره جمعه سوه نو به ده تشریف راوړی حاضرینو ته به ئې سلام کاوی او حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه به اذان کاوی هر وخت چه به اذان ختم سو - دی مبارک دریدی دستی به ئې خطبه شروع کوله ترهغو پورې چه ممبر نه وو جوړ سوی یو لکړه یا کمان یعنی قوس (لینده) به ئې په لاس کښی نیوی او تکیه به ئې پرکوله او یو وخت وخت به ئې وهغه لرګی اوستنی ته چه د محراب سره ولاړه وه کوم چه ده مبارک هلته خطبه ویله تکیه کوله د ممبر ترجوړید و وروسته ئې بیا پریو لکړه یا بل شی تکیه کول رانقل شوی نه ده (زاد المعاد مخ ۲۰ لومړی ټوک) د دی خطبې به ئې ویلی او دد واړه خطبو په مابین کښی به لږ ګړی کښینستی او په دغه وخت کښی ئې هیڅ خبری نه کولی نه ئې دعا غوښتل هر وخت چه به دی مبارک دد وهمی خطبی څخه فارغه سو حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه به اقامت کاوی او ده مبارک به لمونځ شروع

کاوی د خطبی ویلو په وخت کښی د حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم آواز مبارک بلندیدی او سترګی مبارکی ئی سری کیدلی په مسلم شریف کښی راغلی دی چه د خطبی ویلو په وخت کښی پرحضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم داسی حال راتلی لکه یوځوک چه د دښمن د لښکر چه نژدی راتلونکی وی خیلو ملګرو ته خبرورکوی - اکثره وخت به ئی په خطبه کښی فرمایل چه بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ کَهَاتَیْنِ - ژباړه[1] او قیامت دراښکه یوځای راستول سوی یو لکه دغه دوی ګوتی - د مابین او شهادت ګوتی به ئی یوځای کولی. او تردغه وروسته به ئی وفرمایل اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ خَیْرَ الْحَدِیْثِ کِتَابُ اللّٰهِ وَخَیْرُ الْهَدْیِ هَدْیُ مُحَمَّدٍ وَشَرُّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَکُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ اَنَا اَوْلٰی بِکُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهٖ مَنْ تَرَکَ مَالًا فَلِاَهْلِهٖ وَمَنْ تَرَکَ دَیْنًا اَوْ ضَیَاعًا فَعَلَیَّ - یو وخت به ئی داخطبه ویله. یَا اَیُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْا قَبْلَ اَنْ تَمُوْتُوْا وَبَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَةِ وَصِلُوا الَّذِیْ بَیْنَکُمْ وَبَیْنَ رَبِّکُمْ بِکَثْرَةِ ذِکْرِکُمْ لَهٗ وَکَثْرَةِ الصَّدَقَةِ بِالسِّرِّ وَالْعَلَانِیَةِ تُؤْجَرُوْا وَتُحْمَدُوْا وَتُرْزَقُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَیْکُمُ الْجُمُعَةَ مَکْتُوْبَةً فِیْ مَقَامِیْ هٰذَا فِیْ شَهْرِیْ هٰذَا فِیْ عَامِیْ هٰذَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ مَنْ وَجَدَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا فَمَنْ تَرَکَهَا فِیْ حَیٰوتِیْ اَوْ بَعْدِیْ جُحُوْدًا بِهَا وَاسْتِخْفَافًا بِهَا وَلَهٗ اِمَامٌ جَائِرٌ اَوْ عَادِلٌ فَلَا جَمَعَ اللّٰهُ شَمْلَهٗ وَلَا بَارَکَ لَهٗ فِیْ اَمْرِهٖ اَلَا وَلَا صَلٰوةَ لَهٗ اَلَا وَلَا صَوْمَ لَهٗ اَلَا وَلَا زَکٰوةَ لَهٗ اَلَا وَلَا حَجَّ لَهٗ اِلَّا وَلَا بِرَّ لَهٗ حَتّٰی یَتُوْبَ فَاِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ اَلَا وَلَا تَؤُمَّنَّ اِمْرَاَةٌ رَجُلًا اَلَا وَلَا یَؤُمَّنَّ اَعْرَابِیٌّ مُهَاجِرًا اَلَا وَلَا یَؤُمَّنَّ فَاجِرٌ مُؤْمِنًا اِلَّا اَنْ یَقْهَرَهٗ سُلْطَانٌ یَخَافُ سَیْفَهٗ وَسَوْطَهٗ (ابن ماجه)

اویو وخت وخت به ئی ترحمد او صلوٰة وروسته داخطبه ویله.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ یُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَرْسَلَهٗ بِالْحَقِّ بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا بَیْنَ یَدَیِ السَّاعَةِ مَنْ یُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ وَاهْتَدٰی وَمَنْ یَّعْصِیْهِمَا فَاِنَّهٗ لَا یَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهٗ وَلَا یَضُرُّ اللّٰهَ شَیْئًا. (ابوداؤد)

[1] او مطلب د دې مبارک دا دو چه قیامت د پیر نژدی دی زما او روسته ژر راځی ۱۲ محشی

یو صحابی فرمایی چه نبی علیه السلام سورة (قٓ) اکثره وخت په خطبه کښی وایی تر دامی حده چه ما سورة (قٓ) د نبی علیه السلام څخه اوریدلی اویاد ی کړی هر هفته وخت چه دا مبارک دغه سورة پر ممبر وایی اویووه وخت به ئی سورة والعصر اویو وخت وخت به ئی لَا یَسْتَوِیْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ط اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ - او کله کله به ئی وَنَادَوْا یٰمٰلِکُ لِیَقْضِ عَلَیْنَا رَبُّکَ قَالَ اِنَّکُمْ مّٰکِثُوْنَ وایه - (بحر الرائق)

دلمانځه مسئلی

(۱) مسئله :- ښه دادی چه هرځوک خطبه ووایی هغه دٔ لمونځ هم ورکړی اوکه یو بل څوک لمونځ ورکړی هم روادی - (در مختار رد المحتار ص ۱۱۳ ج ۱)

(۲) مسئله :- د خطبی تر ختمیدو وروسته دستی اقامت کول لمونځ شروع کول سنت دی د خطبی او لمانځه په مابین کښی د دنیا کار کول مکروه تحریمی دی اوکه د دوی په مابین کښی چیرو وخت تیرسی نو بیرته د خطبی د اګرزولو ضرورت دی مګر که یو دینی کار وی مثلاً یو چاته شرعی مسئله ورو بنیی یا ئی اودس نه وی داو داسه کولو د پاره ولاړسی یا تر خطبی وروسته معلومه سی چه د لاته د غسل ضرورت وو او د غسل کولو د پاره ولاړسی نو هیڅ مکروه والی نه لری او نه د خطبی د اګرزولو ضرورت ده - (در مختار شامی ص ۵۵۴ لومړی ټوک)

(۳) مسئله :- د جمعی د لمانځه نیت دی دا رنګه وکړی - نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ رَکْعَتَیِ الْفَرْضِ صَلٰوةَ الْجُمُعَةِ - یعنی ما دا نیت کړیدی چه د جمعی دوه رکعاته فرض لمونځ وکړم.

(۴) مسئله :- ښه دا ده چه د جمعی لمونځ په یوه ځای کښی صرف په یوه مسجد کښی ادا سی دا رنګه چه د دغه ځای ټول خلګ په یوه مسجد کښی راجمعه سی که څه هم دیوه ځای په چیرو مسجدانو کښی هم د جمعی لمونځ روادی - (در مختار ص ۱۲۰ اول ټوک بحر الرائق ص ۱۴۲ دوهم ټوک کبیری ص ۵۱۲ رد المحتار ص ۵۴۱ اول ټوک)

(۵) مسئله :- که یو مسبوق په اخیره ناسته کښی د التحیاتو ویلو په وخت

کښی یا د سجدې سهوی د کولو څخه وروسته راسی د جُمعې په لمانځه کښی شریک سی نو دد ته شرکت صحیح کیږی اودده د پاره په کار ده چه د جمعې لمونځ پوره کړی د ماپښین د لمانځه د کولو ضرورت نشته - (هدایه ص۱۵۰ اول ټوک در مختار ص۱۱۳ اول ټوک رد المحتار ص۵۵ لومړی ټوک)

(۶) مسئله :- بعضی خلګ د جمعې تر لمانځه وروسته احتیاطاً د ماپښین لمونځ کوی چُونکه د هوامو خلګو اعتقاد په دی سره دی چه دیر خراب سوی دی نو د دغه لمانځه مطلقاً منعه کول په کار دی لیکن که یو پوه او د علم خاوند ئی د شک او شبهې په ځای کښی بیرته کول غواړی نو څوک دی په ځان نه خبروی چه زه د ماپښین لمونځ کوم بلکه دا رنګه دی وکړی چه څوک خبر نه سی - (بحر الرائق ص۱۴۳ دوهم ټوک رد المحتار ص۵۴۲ اول ټوک)

د اختر ونو د لمانځه بیان

(۱) مسئله :- د کوچنی اختر د میاشتی اول تاریخ ته عید الفطر (کوچنی اختر) وایی او د لوی اختر د میاشتی لسم تاریخ ته عید الاضحیٰ (لوی اختر) وایی دغه د واړی ورځی په اسلام کښی د اختر او خوشحالی ورځی دی په دغو دواړو ورځو کښی دوه دوه رکعاته لمونځ کول په طور د شکریې واجب دئ د جمعې د لمانځه د واجبوالی او صحت د پاره چه کوم شرطونه مخکی ذکر سوه هغه ټول د اختر ونو په لمنځو کښی هم دی ماسیوا د خطبی څخه چه د جمعې په لمانځه کښی خطبه فرض او شرط ده او د لمانځه څخه مخکی ویل کیږی او د اختر ونو په لمانځه کښی شرط یعنی فرض نه ده بلکه سنت ده او د اختر تر لمانځه وروسته ویل کیږی - مګر د اختر د خطبی اوریدل هم په مثل د جمعې د خطبی واجب دی یعنی په دغه وخت کښی خبری کول لمونځ کول ټول حرام دی - (در مختار ص۱۱۴ اول ټوک هدایه ص۱۵۱ اول ټوک بحر الرائق ص۱۵۷ دوهم ټوک در مختار ص۱۱۳ اول ټوک)

● د کوچنی اختر په ورځ د یارلس شیان سنت دی (۱) د شرعی سره برابر خپل ارایش او بنایست کول (۲) غسل کول (۳) مسواک وهل (۴) هغه بنی بنی جامې اغوستل چه د ده سره موجودی وی (۵) خوشبویي لګول (۶) سهار په

وختی پورته کیدل (۷) عیدگاه ته ډیر وختی تلل (۸) د عیدگاه د تللو څخه مخکی یو خوښ ځای خوړل لکه خورما او داسی نور (۹) د عیدگاه د تللو څخه مخکی سرسایه اداکول (۱۰) د اختر لمونځ په عیدگاه کښی کول یعنی د بنار په مسجد کښی بیله عذره نه کول (۱۱) د دی خواچه پرهره لار ولاړ سی د هغی خوا څخه پر بله لار راتلل (۱۲) په ښنو د عیدگاه ته تلل (۱۳) په لار کښی (اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ) کرار کرار ویل او تلل - (نور الایضاح ص۱۰۳ بحر ص۱۵۹ د وهم ټوک در مختار ص۱۱۲)

(۲) مسئله:- د کوچنی اختر د لمانځه کولو طریقه داده چه دا رنګه نیت وکړی نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ رَکْعَتَیِ الْوَاجِبِ صَلٰوةِ عِیْدِ الْفِطْرِ مَعَ سِتِّ تَکْبِیْرَاتٍ وَاجِبَةٍ یعنی ما دا نیت وکړی چه دوه رکعاته واجب لمونځ د کوچنی اختر په شپږ تکبیره وکړم د غه نیت دی وکړی او لاسونه دی ترنامه لاندی کښیږدی - او سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ دی تر اخیره پورې وایي بیا دی دری واره اَللّٰهُ اَکْبَرُ وایي او هر واړه دی په مثل د تکبیر تحریمه یعنی اول الله اکبر لاسونه تر د واړو غوږو پورې پورته کوی او وروسته تر الله اکبر ویلو دی لاسونه ایله کړی او تر هر الله اکبر ویلو وروسته دی دوندی قدر څنډه کوی چه دری واره سبحان الله ویل کیدای سی - تر دریم الله اکبر ویلو وروسته دی لاسونه نه ایله کوی بلکه لاسونه دی ترنامه لاندی کښیږدی - اعوذ بالله، بسم الله الحمد لله او یوبل سورة دی هم وایي او بیا دی رکوع او سجده په هغه طریقه سره اداکړی لکه په نورو لمنځونو کښی چه اداکیږی بیا دی و دریږی او په دوهم رکعت کښی دی اول الحمد لله او سورة وایي او تر د غه وروسته دی دری واره الله اکبر په داسی طریقه سره وایي لکه په اول رکعت کښی چه ویل کیږی لیکن دلته تر دریم الله اکبر ویلو وروسته لاسونه ترنامه لاندی نه ایښودل کیږی بلکه د غسی ایله پرې ښودل کیږی او بیا دی الله اکبر وایي رکوع ته دی ولاړ سی - (په حواله د طحطاوی ص۳۰۹ در مختار ص۱۱۶)

(۳) مسئله:- تر لمانځه اداکولو وروسته دی پر ممبر و دریږی او دوی خطبی دی

وایی او د دواړو خطبو په مابین کی دی دومره قدر کښینی لکه د جمعې د دوو خطبو په مابین کی چه کښینستی.

(۴) مسئله:- د اختر و تر لمنځونو وروسته یا تر خطبی وروسته دعا کول که څه هم د نبی صلی الله علیه وآله وسلم څخه ذده مبارک د اصحابو (رض) تابعینو او تبع تابعینو رضی الله تعالیٰ عنهم څخه منقوله نه ده لیکن څرنګه چه تر هر لمانځه وروسته دعا کول سنت ده نو د دی سببه به وروسته د اختر تر لمانځه هم دعا کول سنت وی۔ (ق)

(۵) د اختر دنو په خطبه کښی دی اول د تکبیر (الله اکبر څخه شروع کوی په اوله خطبه کښی دی نهه (۹) واړه الله اکبر وایي په دوهمه خطبه کی دی اوه واړه الله اکبر وایي۔ (شرح التنویر ص۱۱۶ ج۱ بحر الرائق ص۱۶۲ ج ۲)

(۶) مسئله:- د لوی اختر د لمانځه هم دغه طریقه ده او په لوی اختر کښی هم هغه پتول شیان سنت دی کوم چه په کوچنی اختر کښی سنت دی فقط دومره قدر فرق سره لری چه د لوی اختر په نیت کښی دی پرځای د عید الفطر (کوچنی اختر) د عید الاضحیٰ (د لوی اختر) لفظ داخل کړی۔ په کوچنی اختر کښی وعید گاه ته د تللو څخه مخکی یو شی خوړل سنت دی او په لوی اختر کښی سنت نه دی په کوچنی اختر کښی چه د عید گاه وخوا ته د اختر د لمانځه د پاره روان وی تکبیر (الله اکبر) کړار ویل سنت دی او په لوی اختر کښی په زوره ویل سنت دی. (بحر الرائق ص۱۶۳ دوهم پتوک درمختار ص۱۱۶ لومړی پتوک) د کوچنی اختر لمونځ ناوخته کول سنت دی د لوی اختر لمونځ وختی کول سنت دی په لوی اختر کښی سر سایه نسته بلکه تر لمانځه وروسته اختری کول دی پرهغه چا چه اختری پرواجبیږی خاوند دنیا (نصاب) وی۔ (بحر الرائق ص۱۶۰ دوهم پتوک۔ رد المحتار ص۵۵۹ اول پتوک اذان او اقامت نه په لوی اختر کښی سته نه په کوچنی اختر کښی سته درمختار شامی ص۳۹۹ اول پتوک)

(۷) مسئله:- هر هغه څای چه د اختر لمونځ اداسی هلته بیا بل لمونځ[۱] کول مکروه دی په دغه وخ کښی د لمانځه څخه مخکی هم وروسته هم۔ لیکن

[۱] په دی مسئله کښی د لمانځه څخه مراد نفل لمونځ دی ۱۲ محشی

وروسته تر لمانځه چه کوږته راسی لمونځ کول مکروه نه دی او تر لمانځه مخکی په کوږ کښی هم لمونځ کول مکروه دی. (در مختار رد المحتار ص۵۵۷ اول پتوک بحر الرائق ص۱۶۰ دوهم پتوک)

(۸) مسئله:- بښځی او هغه څوک چه دیوسببه داختر لمونځ نه وکړی د دوی دپاره داختر تر لمانځه مخکی نفل کول مکروه دی. (در مختار رد المحتار ص۵۵۷ اول پتوک بحر الرائق ص۱۶۰ دوهم پتوک)

(۹) مسئله:- دکوچنی اختر په خطبه کښی د سړسایی حکمونه او دلوی اختر په خطبه کښی د اختری د مسئلو او د تشریق د تکبیرونو حکمونه بیانول په کار دی د تشریق تکبیرونه ویل تر هر فرض لمانځه وروسته یو وار "اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ" ویل واجب دی په شرط د دی چه د غه فرض په جمعه (جماعت) سوی وی او د غه ځای بنار وی. د غه تکبیرونه پر بښځو او مسافر واجب نه دی که د غه کسان دیو داسی چا مقتدیان سی چه پر هغه تکبیرونه واجب وی نو پردوی هم واجبیږی لیکن که ئی منفرد (یوازی لمونځ کونکی) بښځه او مسافر هم وواړی نو بښه دی ځکه چه دصاحبینو (امام محمد او امام ابو یوسف رحمهما الله په نزد پردغو پتولو واجب دی. (در مختار ص۱۱۶-۱۱۷ اول پتوک و بحر الرائق ص۱۶۳ دوهم پتوک)

(۱۰) مسئله:- د غه تکبیرونه دی د عرفات د ورځی یعنی د نهم (۹) تاریخ څخه د سهار تر لمانځه وروسته شروع کړی د دیارلسم (۱۳) تاریخ د مازیګر د لمانځه د وروسته دی لاوواړی نور دی ختم کړی پتول د رویشت لمنځونه سوه چه تر دوی وروسته تکبیرونه ویل واجب دی. (در مختار ص۱۱۷ بحر الرائق ص۱۶۵ ج۲)

(۱۱) مسئله:- د غه تکبیرونه په لوړ آواز سره ویل واجب دی لیکن که ئی چیری بښځی واړی نوکرار دی وواړی. (در مختار ص۱۲۷ اول پتوک بحر الرائق ص۱۶۶ دوهم پتوک

(۱۲) مسئله:- ترلمانځه ورسته دسنتی تکبیر ونه ویل په کار دی.(درمختار ص۱۲۷ لومړی پټوک بحرالرائق ص۱۶۶ دوهم پټوک)

(۱۳) مسئله:- که دامام تکبیر ونه ویل هیر سی نو مقتدی یا نو دپاره په کار ده چه دسنتی تکبیر ونه ووایي دا انتظار دی نه کوی چه هروخت چه ئ امام ووایي بیا ئ موږ ووایو.(درمختار ص۱۱۷ اول پټوک بحرالرائق ص۱۶۷ دوهم پټوک)

(۱۴) مسئله:- دلوی اختر ترلمانځه ورسته هم تکبیر ونه ویل دبعضو په نزد واجب دی.(درمختار ص۱۱۷ اول پټوک.بحرالرائق ص۱۶۷ دوهم پټوک)

(۱۵) مسئله:- داختر لمونځ په اتفاق سره په پیرځایو نه روا دی.(درمختار ص۱۱۶ لومړی پټوک)

(۱۶) مسئله:- که دیو چا څخه داختر لمونځ سوی دی او پټو لو خلګو کړی وی نو دغه سړی یوازی داختر لمونځ نه سی کولای ځکه چه داختر په لمانځه کښی داشرط دی چه په جماعت سره به وی دغه رنګه که یو څوک داختر په لمانځه کښی شریک سوی وی او دیو وجهی څخه دده لمونځ فاسد سوی وی نو دی هم ددغه لمانځه قضا نه سی راوړلای او نه ئ پرده قضا راوړل واجب ده لیکن که یو څو خلګ نور دده سره شریک سی نو بیا ئ کول واجب دی.(درمختار ص۱۱۶ اول پټوک بحرالرائق ص۱۶۲ دوهم پټوک)

(۱۷) مسئله:- که دیو عذر په سبب په اوله ورځ لمونځ نه وسو نو دکوچنی اختر لمونځ دوهمه ورځ هم کولای سی اودلوی اختر لمونځ تردریمی ورځی پوری لاهم کولای سی.(درمختار ص۱۱۶ اول پټوک هدایة ص۱۵۴ اول پټوک)

(۱۸) مسئله:- دلوی اختر لمونځ تردریمی ورځی پوری ځنډول بیله کومه عذره هم روا دی او لمونځ ئ صحیح کیږی مګر مکروه دی او په کوچنی اختر کښی بیله عذره ځنډول روا نه دی چه په دوهمه ورځ دکوچنی اختر لمونځ بیله عذره وکړی نو دغه لمونځ نه صحیح کیږی.(درمختار ص۱۱۶ اول پټوک هدایه ص۱۵۴ اول پټوک)

دعذر مثال (۱) دیو وجهی څخه امام دلمانځه ورکولو دپاره نه وی راغلی

(۲) باران اوری (۳) دمیاشتی تاریخ محقق او یقینی نه وی او ورسته تر
زوال چه وخت تیر سی بیا تاریخ محقق او یقینی سی (۴) د اوریځی په وخ
لمونځ سوی وی بیا د اوریځی تر تللو ورسته معلومه سی چه بی وخته
لمونځ سوی دی - (درمختار شامی ص۲۶۵ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- که یو څوک د اختر په لمانځه کښی د اسی وخت شریک سی چه
امام تکبیرونه ویلی وی نو که په ولاړه کښی ورسره شریک سوی وی نو
دستی دی ترنیت تړلو ورسته تکبیرونه وواېي که څه هم امام قرائت
شروع کړی وی او که په رکوع کښی ورسره شریک سوی وی نو که ټ غالب
ګمان وی چه د تکبیرو تر ویلو ورسته د امام سره رکوع ښول کیږی نو نیت
دی وتړی تکبیرونه دی وواېي ورسته دی بیا رکوع وکړی او که د امام
سره د رکوع دنه ښیولو ښیره وه چه رکوع را څخه تیریږی نو په رکوع کی
دی ورسره شریک سی او په رکوع کښی دی د تسبیحاتو پر ځای تکبیرونه
وواېي مګر په رکوع کښی دی د تکبیرونو د ویلو په حال کښی لاسونه نه پورته
کوی او که ټ چیری تکبیرونه پوره نه وه ویلی چه امام د رکوع څخه
سر راپورته کړی نو دی دی هم ورسره د رکوع ته ورځی او هر څومره ی تکبیرونه
چه ځندی پاته سوی دی هغه ورته معاف دی - (درمختار و ردالمحتار ص۵۶۰ ج۱)

(۲۰) مسئله:- که د چا څخه د اختر د لمانځه یو رکعت تیر سی نو هر وخت
چه ټ کوی نو اول دی قرائت وواېي بیا دی تکبیرونه وواېي که څه هم د قاعدی
سره برابر اول خو تکبیرونه ویل په کار وه لیکن څرنګه چه په دغسی طریقه
سره په دوارو رکعتو کښی تکبیرونه پی در پیه کیږی او داد هیڅ صحابی
مذهب نه دی د دی سببه د قاعدی خلاف حکم وسو - (درمختار شامی
ص۱۱۶ اول ټوک) که د امام تکبیرونه ویل هیر سی او په رکوع کښی ورپیاسی
نو د دی په کار دی چه د رکوع په حال کښی تکبیرونه وواېي
بیرته د ولاړی وخوا ته راونه ګرځی او که راوګرځی بیا هم روا دی.
یعنی لمونځ ټ نه فاسدیږی لیکن په هر حال کښی دی په وجه د
ازدحام او پیروالی د خلګو سجده سهوه نه کوی.
درمختار ص۱۱۶ ج۱ شامی ص۵۶۱ ج۱ نورالایضاح ص۵۱

په کعبه شریفه کښی دننه دلمانځه کولو بیان

(۱) مسئله:- لکه چه دکعبی شریفی څخه دباندی وکعبی شریفی ته لمونځ روادی - دغه رنګه په کعبه شریفه کښی دننه لمونځ کول هم روادی استقبال قبله (مخامخ قبلی ته درېدل) حاصلیږی چه هری خوانه ودریږی. او هردیوال ته ئی لمونځ وکړی حکم چه دننه خلور طرفه قبله ده هری خوانه چه مخ کړی همغی خوانه بس کعبه ده او لکه څرنګه چه دننه په کعبه کښی نفل لمونځ روادی دغه رنګه فرض لمونځ هم روادی. (درمختار ص۱۲۰ بحرالرائق ص۲۰۰ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:- دکعبی شریفی پربام باندی که چیری لمونځ وسی نو هم صحیح دی حکم چه پرهرهغه ځای چه کعبه شریفه ده دغه حکم او ددی محاذی اوبرابر تراسمانه پوری چه کومه هوا ده دغه ټوله قبله ده قبله په دیوالو کښی منحصره او بنده نه ده ددی سببه که څوک پر یو غټ اوجګ غر ه لمونځ وکړی چه کعبه بالکل لاندی وی نو دده لمونځ په اتفاق سره روادی لیکن څرنګه چه په دی کښی دکعبی شریفی بی عزتی ده او دکعبی شریفی پربام دلمونځ کولو څخه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هم منعه کړیده نو ددی وجهی څخه مکروه تحریمی دی (بحرالرائق ص۲۰۰ دوهم پتوک درمختار ص۱۲۹ اول پتوک)

(۳) مسئله:- په کعبه شریفه کښی دننه یوازی لمونځ کول هم روادی او په جماعت سره هم روادی او په کعبه شریفه کښی دننه دا هم شرط نه دی چه دامام او مقتدیانو مخ به یوه طرف ته وی حکم چه په کعبه شریفه کښی دننه هر طرف ته قبله ده لیکن داشرط ضروری دی چه مقتدی به ترامام مخکی نه وی یعنی مقتدی به ترامام دیوال ته ورنژدی نه وی که چیری د مقتدی مخ دامام او مخ ته مخامخ وی بیا هم روادی که څه هم مقتدی دکعبی شریفی دیوال ته ترامام ورنژدی وی حکم چه په دغسی صورت کښی مقتدی د امام څخه مخکی نه بلل کیږی مخکی هغه وخت بلل کیدی چه د دواړو مخ یوه طرف ته وای او مقتدی ترامام مخکی سوی وای لیکن په دغه صورت کښی

لمونځ مکروه کیږی ځکه چه دیوچاد مخ ته مخ کول اولمونځ کول مکروه دی لیکن که یوشی په مابین کښی حائل اوماتع کړل سی نو بیا دغه مکروه والی نه پاته کیږی - در مختار ص۱۲۵ اول ټوک بحر الرائق ص۲۰۰ دوهم ټوک)

④ مسئله:- که امام په کعبه شریفه کښی دننه ولاړ وی او مقتدیان د کعبی شریفی څخه دباندی ولاړ وی پرکعبه شریفه شاوخوا اگر زیادی وی بیاهم لمونځ صحیح کیږی لیکن که صرف یوازی امام په کعبه شریفه کښی دننه ولاړ وی اوهیڅ مقتدی دده سره دننه ولاړ نه وی نو لمونځ مکروه کیږی ځکه چه دکعبی دننه محکه لوړه اودباندی محکه کښته ده نو په دغه صورت کښی دامام ځای دیوه قد په اندازه د مقتدیانو د ځای څخه لوړیږی - (رد المحتار ص۱۲۵ اول ټوک)

⑤ مسئله:- که مقتدیان دننه (په کعبه شریفه کښی) ولاړ وی او امام دباندی ولاړ وی بیاهم لمونځ صحیح کیږی په شرط ددی چه مقتدی ترامام مخکی نه وی - (رد المحتار ص۶۱۳ اول ټوک)

⑥ مسئله:- اوکه ټوله دباندی وی ویوه طرف ته امام وی اوځلور و طرفونه مقتدیان وی پرکعبه شاوخوا اگر زیادی وی لکه چه عام عادت هلته دلمونځ کولو دغه رنګه دی نو هم روادی لیکن په شرط ددی چه هرطرف ته امام ولاړ دی ودغه طرف ته به هیڅ مقتدی نسبت وامام ته دکعبی شریفی ته ورنژدی نه وی یعنی چه مقتدی دکعبی شریفی ته ترامام ورنژدی وی ځکه چه په دغه صورت کښی مقتدی ترامام مخکی بلل کیږی چه داقتدا مانع دی لیکن که دبل طرف مقتدی دکعبی شریفی ته ترامام ورنژدی وی نوهیڅ تاوان نه لری اودغه ئی صورت دی.



ا - ب - ج - ء کعبه ده - ه - امام دی. چه دکعبی څخه دوه ګزه لیری ولاړ دی. وَ - او - زَ - مقتدیان دی چه د کعبی شریفی څخه یوګز لیری ولاړ دی مګر وَ خو د - ه - وطرف ته ولاړ دی او زَ - بل طرف ته ولاړ دی د - وَ - لمونځ نه صحیح کیږی د - زَ - لمونځ صحیح کیږی

د تلاوت د سجدی بیان

(۱) مسئله :- که یوڅوک د امام څخه د سجدی آیت واوری تر اوریدلو وروسته په امام پسی اقتداء وکړی نو دد ه د پاره د امام سره سجده کول په کار ده اوکه امام سجده کړی وی نو په دی کښی دوه صورتونه دی اول دا چه په کوم رکعت کښی امام د سجدی ایت ویلی وی که چیری (اوریدونکی) هغه رکعت وروسته د نیسی نو دد ه د پاره د سجدی کولو ضرورت نشته ځکه چه د دغه رکعت په نیولو سره داسی بلل کیږی چه د تلاوت سجده ئی هم ورسره ونیوله - د وهم داچه هغه رکعت څنډی تیرسی نو پردے باندی ترڅو نه پوره کولو وروسته خارج د لمانځه څخه سجده کول واجب ده - (هدایة ص۱۴۴ اول جلد بحرالرائق ص۱۲۲ د وهم ټوک رد المحتار ص۵۱۸ اول ټوک)

(۲) مسئله :- که د مقتدی څخه د سجدی ایت واوریدل سی نو سجده نه واجبیږی نه پر مقتدی نه دد ه پر امام نه پرهغو خلګو چه په د غه لمانځه کښی شریک دی لیکن کوم خلګ چه په د غه لمانځه کښی شریک نه وی برابره خبره ده که د غه خلګ د سره لمونځ نه کوی یالمونځ کوی مګر بل لمونځ کوی نو پر دوی باندی سجده واجبیږی - (در مختار ص۵۱۴ اول ټوک رد المحتار ص۵۱۹ اول ټوک)

(۳) مسئله :- په سجدی د تلاوت کښی په خندا قهقهه یعنی په یزوره خندا سره اودس نه ماتیږی لیکن سجده په فاسدیږی - (در مختار ص۹۵ اول ټوک)

(۴) مسئله :- د شئی سره محاذات (برابروالی) فاسدونکی د سجدی د تلاوت نه دی - (رد المحتار ص۲۸۶ اول ټوک هدایة ص۱۰۳ اول ټوک)

(۵) مسئله :- د تلاوت سجده کله په لمانځه کښی واجبه سوی وی نو اداکول ئی دستی واجب دی څنډول ئی روانه دی - (رد المحتار ص۵۱۷ اول ټوک)

(۶) مسئله :- د لمانځه څخه د باندی سجده په لمانځه کښی اود لمانځه سجده د لمانځه څخه د باندی کول روانه ده - بلکه دیوه لمانځه سجده په بل لمانځه کښی نه سی کیدای نوکه یوڅوک په لمانځه کښی د سجدی ایت وواږی اوسجده نه وکړی نو غاړی ئی په بندی دی او بیله توبی بله هیڅ لار نه لری باید توبه وکړی کیدای سی چه خدای پاک ئی توبه قبوله کړی - (رد المحتار

ص۵۰۵ اول پتوک در مختار ص۱۰۵ اول پتوک بحرالرائق ص۱۲۲ دوهم پتوک)

(۷) مسئله:- که دوه خلگ جلاجلا پراسانو سپاره وی روان وی اولمونځ کوی دواړه یو خاص ایت د سجدی وایي او هر یو د هغه بل د سجدی ایت واوری د لمانځه په حال کښی نو یر هر یوه فقط یوه یوه سجده د تلاوت واجبیږی چه په لمانځه کښی ئی ادا کول واجب دی اوکه ئی یوایت په لمانځه کښی ووایي چه د لمانځه څخه فارغه سو بیائی دغه ایت واوریدی نو دوی سجدی پر واجبیږی یوه د خپل تلاوت په وجه بله د اوریدو په وجه مګر د تلاوت په سبب چه کومه سجده ده هغه د لمانځه بلل کیږی او په لمانځه کښی به ادا کیږی اوکومه سجده چه د اوریدو په سبب ده هغه به د لمانځه څخه د باندی ادا کیږی - (رد المحتار ص۵۲۲ اول پتوک)

(۸) مسئله:- که د سجدی آیت په لمانځه کښی وویل سی او فوراً رکوع وکړل سی یا تر دوو (۲) در (۳) وایاتو وروسته رکوع وکړل سی او دغی رکوع نه د تیښتیدو په وخت کښی د تلاوت د سجدی نیت وهم وسی نو سجده ادا کیږی اوکه دستی د سجدی د آیت تر ویلو وروسته د لمانځه سجده ادا کړل سی یعنی تر رکوع او قومی وروسته نو بیا هم د غه سجده ادا کیږی او په دی کښی د نیت هم ضرورت نسته - (در مختار ص۸۰۸ اول پتوک)

(۹) مسئله:- د جمعی، اختر ونو په لمنځونو کښی اوکه غه رنګه په هغو لمنځونو کښی چه قراءت کرار پکښی ویل کیږی امام ته په کار نه ده کنه چه آیت د سجدی پکښی ووایي ځکه چه په سجده کولو کښی د مقتدیانو د اشتباه بیره ده - (بحرالرائق ص۱۲۰ دوهم پتوک)

د مړی د غسل مسئلی

(۱) مسئله:- که یو څوک په اوبو کښی ډوب سو او مړ سو نو هر وخت چه د اوبو څخه راوکښل سی وده ته غسل ورکول فرض دی په اوبو کښی ډوبیدل د غسل د پاره کفایت نه کوی ځکه چه د مړی ته غسل ورکول پر څوندو باندی فرض دی د ډوبیدو په صورت کښی که څه هم مړی خپله پاک سوی دی لیکن څوندو څو غسل نه دی ورکړی مګر د اوبو څخه د راکښلو په وخت

کښی د غسل په نیت سره په اوبو کښی حرکت ورکړه سی نو بیا ئی غسل صحیح کیږی د غه رنګه که پرمړی باران وسی یا په یو بله طریقه سره اوبه ور ورسیږی پاک سی بیا هم ودریته غسل ورکول فرض دی ۔ درمختار ص۱۲۰ ج۱ بحرالرائق ص۱۷۴ دوهم ټوک ۔

(۲) مسئله :۔ که یو مړی یو ځای پیدا سی په یو خښته او علامه سره نه معلومیږی چه دا کافر و او که مسلمان نو که په دارالاسلام کښی دا واقعه پیښه سوی وی نو د ه ته غسل ورکول کیږی او لمونځ هم ورکول کیږی ۔ (درمختار ص۱۲۰ اول ټوک بحرالرائق ص۱۷۴ دوهم ټوک فتاوی هندیه ص۱۵۶ اول ټوک)

(۳) مسئله :۔ که چیری د انسان سر یو ځای پیدا کړل سی نو ور بدن ئی نه وی نو غسل نه ورکول کیږی بلکه د غسی دفن کیږی او که دیو انسان بدن تر نږدی زیات یو ځای پیدا کړل سی نو بیا غسل ورکول ضروری دی برابره خبره د ه که د غه بدن سره د سره وی یا بیله سره وی او که تر نیمی زیات نه وو بلکه نیمی وو نو که سر ور سره وو غسل ورکول کیږی که نه وو ور سره بیا غسل نه ورکول کیږی او که تر نیمی کم وو نو بیا غسل نه ورکول کیږی برابره خبره د ه که سر ور سره وی که نه وی ۔ (درمختار و رد المحتار ص۵۷۶ اول ټوک بحرالرائق ص۱۷۴ دوهم ټوک)

(۴) مسئله :۔ که د مسلمانانو مړی د کافرانو مړو سره گډ سی او هیڅ فرق ئی نه سره کیږی نو د ټولو ته غسل ورکول کیږی او که ئی فرق سره کیدی نو مسلمانان مړی دی جلا کړل سی او فقط و دوی ته دی غسل ورکړه سی و کافرانو مړو نه دی غسل نه ورکول کیږی ۔ (درمختار ص۱۲۰ ج۱ بحرالرائق ص۱۷۴ دوهم ټوک ۔ رد المحتار ص۵۷۷ اول ټوک فتاوی هندیه ص۱۵۶ لومړی ټوک

(۵) مسئله :۔ که دیو مسلمان یو قریب کافر وی او مړ سی نو دی دی وخپلو هم مذهبو ته په لاس ورکړل سی که د ه هیڅ هم مذهبه نه وی یا ئی هغه اخیستل نه قبلوی نو د مجبور تیا په وجه دی د غه مسلمان و د غه کافر قریب ته غسل ورکړی مګر د سنت طریقی سره برابر دی غسل نه ورکوی یعنی اودس دی نه ورکوی سر دی نه ورصافوی کافور او داسی نور شیان دی د ه په بدن

له دارالاسلام څخه مراد هغه ځای دی چه هلته مسلمانان زیات اوسیږی ۱۲ محشی

ړی نه ورمنبول کیږی بلکه دا رنګه دی پریولی لکه یو مردار شی چه
یولی او کافر په پریولو سره نه پاکیږی تر دا سی حده که یو څوک دغه
ز چه غسل ورکول سویدی په شا داخلی اولمونځ کوی نو دده لمونځ
صحیح کیږی - (در مختار ص۱۲۳ اول پتوک بحر الرائق ص۱۹۱ دوهم پتوک هدایة
۱۶۱ لومړی پتوک)

مسئله:- باغیان یا پاڅاکوګان خلګ که مړه کړل سی نو ورته وی نه غسل نه
کول کیږی په شرط دی چه دعین جنګ په وخت کښی وو ژل سی (در مختار
۱۲۱ اول پتوک فتاوی هندیه ص۱۵۶ اول پتوک)

مسئله:- مرتد یعنی چه تر اسلام راوړلو ورسته کافر سوی وی
چیری مړ سی نو ده نه ته دی هم غسل نه ورکول کیږی اوکه د دغه
ته هم مذهبه یعنی مرتدین دد غه مرتد عوښتنه وکړی نو دوی ته
هم نه ورکول کیږی - (بحر الرائق ص۱۳۱ دوهم پتوک - رد المحتار
۵۹ لومړی پتوک)

مسئله:- که دا وبو دنه موجود یدو په سبب یو مړی ته تیمم ورکړه
ی وی او بیا اوبه موجودی سی نو ده نه ته غسل ورکول په کار دی.
مختار ص۱۲۱ لومړی)

دمړی دکفن بعضی مسئلی

مسئله:- که دانسان یو انډام یا نیم بدن بیله سره پیدا او موجود سی
مسی په یو ټکر کښی دی وپیچی بس دغه کفایت کوی لیکن که دنیم بدن نه
کا سر هم وی یا تر نیم بدن زیات وی که څه هم سر ورسره نه وی نو
په سنت طریقه سره کفن ورکول په کار دی - (رد المحتار ص۵۸ ج۱)

مسئله:- که دیو انسان قبر لخ سی یا دیو بلی وجهی څخه دغه مړی
بر څخه راوایستل سی او کفن ئی نه وی نو ده نه ته هم په سنت طریقه
ره کفن ورکول په کار دی په شرط دی چه دغه مړی شو پیدلی نه
ن اوکه شو پیدلی وی نو په یو ټوکر کښی دی وپیچی دغه کافی دی دمسنون
ن ضرورت نسته - (در مختار ص۱۲۱ اول پتوک)

دجنازی دلمانځه مسئلی

دجنازی لمونځ په حقیقت کښی دد غه مړی دپاره دعا ده دارحم الراحمین خدای څخه - (رد المحتار ص۱۸۳ لومړی ټوک)

(۱) مسئله:- دجنازی دلمانځه د وجوب دپاره ټول هغه شرطونه دی کوم چه دنورو لمنځونو دپاره موجود مخکی لیکلی دی لیکن دجنازی په لمانځه کښی یو شرط بل زیات دی هغه دا چه دد غه سړی د مرګ علم به وی پس هر هغه چا ته چه د مړی د مرګ خبر نه وی هغه معذوری دی پر ده دجنازی لمونځ واجب نه دی - (رد المحتار ص۵۸۱ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۷۹ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:- دجنازی دلمانځه د صحت دپاره دوه قسمه شرطونه دی یو قسم هغه شرطونه دی چه دلمونځ کونکو سره ئې تعلق دی هغه هغه شرطونه دی چه دنورو لمنځونو دپاره مخکی بیان سوی دی یعنی طهارت (پاکوالی) پنټیدل دعورت، مخامخ کیدل وقبلی ته اونیت - لیکن دجنازی دلمانځه دپاره وخت شرط نه دی اود وی دپاره دلمانځه دتیریدو دبیری په وجهه تیمم روا دی مثلاً دجنازی لمونځ کیږی او دده داخیال وی کچیری اودس کوم لمونځ راځنه تیریږی نو دی تیمم وکړی او په نورو لمنځونو کښی که دوخت دتیریدو بیره وی نو تیمم روا نه دی - (رد المحتار ص۲۴۹ ص۵۸۲ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۷۹ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- ټن سبا بعضی خلګ په داسی حال کښی چه څپلی ئې په پښو کړی وی دجنازی لمونځ کوی دد وی دپاره دا امر ضروری دی چه هغه ځای چه دی پرولاړ وی هغه به پاک وی او څپلی به ئې پاکی وی اوکه څپلی د پښو څخه وکاږی سر بیره پرودریږی نو فقط د څپلیو پاکوالی ضروری دی اکثره خلګ ددغه خیال نه کوی اوددوی لمونځ نه صحیح کیږی - (بحرالرائق ص۱۷۹ دوهم ټوک) دوهم قسم هغه شرطونه دی.

چه دمړی سره ئی تعلق دی هغه شپږ دی. اول شرط :- مړی به مسلمان وی
د کافر او مرتد د جنازی لمونځ نه صحیح کیږی مسلمان که څه هم فاسق
او بدعتی وی د ده د جنازی لمونځ صحیح دی ماسیوای د هغو خلګو چه
د بادشاه برحق څخه بغاوت وکړی یا داکه زنی کوی په شرط د دی چه
د څه خلګ د وخت د بادشاه سره د جنګ په حال کښی مړه سوی وی
که ورو سته تر جنګ یا په خپل مرګ سره مړه سی نو بیا د وی ته لمونځ
ورکول کیږی - د څه رنګه هر هغه چا چه خپل پلار یا مور وژلی وی په
د څه سزا کښی دی قتل کړل سی نو د ده ته هم لمونځ نه ورکول کیږی او د غو
خلګو ته زجرًا نه ورکول کیږی او چا چه خپل ځان خپله وژلی وی صحیح دا
د ده چه د ده ته لمونځ ورکول روا دی - (در مختار ص۱۲۱ ص۱۲۲ اول پتوک)

(۴) مسئله :- د کوم نابالغه کوچنی چه پلار یا مور مسلمانه وی - د څه
کوچنی مسلمان بلل کیږی او لمونځ ورکول کیږی - (شامی ص۹۲۸ اول پتوک)

(۵) مسئله :- د مړی څخه مراد هغه څوک دی چه ژوندی پیدا سوی
وی بیا مړه سی که مړ کوچنی پیدا سی د ده ته لمونځ ورکول صحیح نه دی.
(رد المحتار ص۵۸۲ اول پتوک بحر الرائق ص۱۸۸ دوهم پتوک)

دوهم شرط :- د مړی بدن او کفن به د نجاست حقیقی او حکمی څخه پاک
وی لیکن که نجاست حقیقی د ده د بدن څخه ورو سته تر غسل راوتلی وی او
د دی سببه د ده بدن بالکل نجس او خراب سوی وی نو هیڅ پروا نه لری او
لمونځ ورکول روا دی - (رد المحتار ص۵۸۲ اول پتوک)

(۶) مسئله :- که یو مړی د نجاست حکمیه څخه پاک نوی یعنی د وده ته غسل
نه وی ورکول سوی یا تیمم نه وی ورکړه سوی په هغه صورت کښی چه
غسل ناممکن وی نو د ده ته لمونځ ورکول روا نه دی مګر که د ده پاکوالی
ممکن نه وی مثلاً بی غسله یا تیممه پټ کړل سوی وی او پر قبر ئی خاوری
هم اچول سوی وی نو بیا د ده ته لمونځ ورکول د د ده پر قبر باندی په د څه
حال کښی روا دی که پر یو مړی باندی بیله غسله او تیممه لمونځ سوی وی او
بیا د څه مړی دفن سوی وی او ورو سته تر دفن معلومه سی چه د ده ته
غسل نه دو ورکړه سوی نو د ده پر قبر دی دوهم وار لمونځ وسی ځکه چه

اول وار لمونځ نه دی صحیح سوی مګر اوس چونکه غسل ممکن نه دی نو دی سبب لمونځ صحیح کیږی ۔ (بحر الرائق ص۱۷۹ دوهم ټوک رد المحتار ص۵۸۲-۵۹۲)

(۷) مسئله :- که یو مسلمان بیله لمانځه پټ کړل سوی وی نو دده پر قبر دی لمونځ وسی ترهغه وخته چه دده د شوړیدو بیره نه وی هر وخت چه داخیال سی چه اوس به مړی شوړیدلی وی نو بیادی پر قبر نه کوی ۔ د مړی د شوړیدو مدة دهر ځای په اعتبار سره جلا دة تعین ئ نه سی کیدای او دغه قول بنه صحیح دی او بعضو دری ورځی بعضو یوه میاشت مودة بیان کړیدة ۔ (در مختار (ص۱۲۳ اول ټوک بحر الرائق ص۱۸۲ دوهم ټوک رد المحتار ص۵۹۳ اول ټوک)

(۸) مسئله :- پرکوم ځای چه مړی پروت وی د هغه ځای پاکوالی شرط نه دی په شرط دی چه پرپاک پلنګ یا تخت باندی پروت وی او که پلنګ یا تخت هم ناپاکه وی یا مړی بیله پلنګه او تخت څخه پر ناپاکه ځمکه کښینبول سی نو په دغه صورت کښی اختلاف دی د بعضو په نزد د مړی د ځای پاکی شرط دة نو دی سبب لمونځ نه صحیح کیږی او د بعضو په نزد شرط نه دة نو دی سبب لمونځ صحیح کیږی ۔ (رد المحتار ص۵۸۴ اول ټوک بحر الرائق ص۱۷۹ دوهم ټوک)

درییم شرط :- د مړی د بدن هغه حصه به پټه وی چه پټول ئ واجب او ضروری دی که مړی بالکل لغړ وی نو لمونځ ورکول روانه دی ۔ در مختار ص۱۲۱ اول ټوک رد المحتار ص۵۸۲ اول ټوک)

څلرم شرط :- مړی به د لمونځ کونکی و مخ ته وی که مړی د لمونځ کونکی وشاته وی نو لمونځ نه صحیح کیږی ۔ (در مختار ص۱۲۱ لومړی ټوک رد المحتار ص۵۸۲ اول ټوک)

پنځم شرط :- مړی به پر ځمکه پروت او اینبول سوی وی یا هغه شی چه مړی پر پروت وی هغه به پر ځمکه اینبول سوی وی که مړی خلګو پر لاسونو پورته کړی وی یا په یوګاډی کښی وی یا پر یو حیوان باندی وی او په دغه حال کښی د جنازی لمونځ ورکړه سی ۔ نو نه صحیح کیږی ۔ در مختار ص۱۲۱ اول ټوک رد المحتار ص۵۸۲ لومړی ټوک)

شپږم شرط :- مړی به د لمونځ کولو په وخت کښی په دغه ځای کښی

موجود وی که چیری موجود نه وی نو لمونځ نه صحیح کیږی۔(در مختار ص۱۲۱ اول ټوک رد المحتار ص۵۸۲ اول ټوک)

(۹) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی دوه شیان فرض دی (۱) څلور واړه الله اکبر ویل هر تکبیر د جنازی په لمانځه کښی پر ځای دیوه رکعت بلل کیږی (۲) قیامه ده یعنی په ولاړه سره لمونځ کول د جنازی دی که څرنګه چه په فرض او واجب لمنځونو کښی ولاړه فرض ده او بی عذره ئی پری ښوول روا نه دی د عذر بیان د لمانځه په بیان کښی مخکی تیر سوی دی۔(در مختار ص۱۲۱ اول ټوک بحر الرائق ص۱۸۰ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله:- رکوع، سجده، ناسته او داسی نور د جنازی په لمانځه کښی نسته۔(در مختار ص۹۸ شامی ص۳۸۶ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی درې شیان سنت دی (۱) د خدای تعالیٰ حمد کول (۲) پر نبی صلی الله علیه وآله وسلم باندی درود شریف ویل (۳) د مړی د پاره دعا کول جماعت د جنازی په لمانځه کښی شرط نه دی نو که څوک د جنازی لمونځ یوازی وکړی نو فرض ادا کیږی برابره خبره ده که دغه لمونځ کونکی بنځه وی یا بالغ وی یا نابالغه وی۔(رد المحتار ص۵۸۲ اول ټوک و بحر الرائق ص۱۷۹ ص۱۸۰ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- مګر د جنازی په لمانځه کښی د جماعت کولو ضرورت زیات دی حکه چه دا د مړی د پاره دعا ده او یوځو مسلمانان د الله تعالیٰ په دربار کښی جمعه کیدل او دیوشی د پاره دعا کول یو عجیبه خاصیت لری د پاره د نازلیدو د رحمت او قبول د دعا.

(۱۳) مسئله:- د جنازی د لمانځه سنت او مستحب طریقه دا ده چه مړی مخ ته کښیږدی امام د مړی د سینی پر مقابل ودریږی او ټول خلک د نیت وکړی۔ نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ صَلٰوةَ الْجَنَازَةِ لِلّٰهِ تَعَالٰی وَ دُعَاءً لِلْمَیِّتِ) یعنی ما دا اراده کړیده چه د جنازی لمونځ وکړم چه د خدای لمونځ دی او د مړی د پاره دعا وکړم) د نیت دی وکړی او د واړه لاسونه دی پورته

د لمانځه په شان دی د واړه لاسونه

ترنامه لاندی ونیسی بیادی سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ تراخیره پوری وایي تر دغه
ورسته دی یو وار اَللّٰهُ اَکْبَرُ ووایي اوداوار دی لاسونه نه پورته کوی
تر دغه ورسته دی درود شریف ووایي بنه دا ده چه هغه درود شریف
ووایي چه په لمانځه کښی ئی وایي بیادی یووار اللّٰه اکبر ووایي اوداوار دی
هم لاسونه نه پورته کوی تر دغه تکبیر ورسته دی دمړی دپاره دعا
وکړی که چیری مړی بالغ وی برابره خبره ده که نر وی که ښځه وی.
نو دغه دعا دی ووایي. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا
وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ
وَمَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ ـ اوپه بعضو حدیثونو کښی دا دعا
هم راغلی ده اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَکْرِمْ
نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِالْمَآءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَایَا
کَمَا یُنَقَّی الثَّوْبُ الْاَبْیَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَیْرًا مِّنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا
خَیْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَیْرًا مِّنْ زَوْجِهٖ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ
الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ او کوم دغه دواړه دعاوی ووایي بیاهم ښه دی
بلکه علامه شامی رحمة الله علیه په رد المحتار کښی دد واړو دعاو وځنه
یوه دعا جوړه کړیده او لیکلی ده - د د غو دوو[۲] دعاو وځنه ماسیوی نوری
دعاوی هم په حدیثو کښی راغلی دی او هغه زموږ د فقهی علماؤ و هم
رانقل کړی دی هره دعا چه زړه ئی غواړی هغه دی ووایي او که مړی نابالغه
هلک وی نو دغه دعا دی ووایي. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا
اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا او که نابالغه انجیلی وی هم
دغه دعا ویل کیږی صرف دوندی فرق لری چه د دُرّ[۳] وسره واجْعَلْهُ پر
ځای اِجْعَلْهَا او د شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا پر ځای شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً ووایي هر
وخت چه ئی دغه دعا وویله نو بیادی یو وار اللّٰه اَکْبَرُ ووایي اوداوار دی
هم لاسونه نه پورته کوی تر دغه تکبیر ویلو ورسته دی سلام
وګرځوی لکه په لمانځه کښی چه سلام ګرځوی او د جنازی په لمانځه
کښی التحیات اود قرآن شریف قرائت اوداسی نور نسته. (در مختار ص۱۲۲
اول ټوک ص۵۸۵ عالمګیری ص۱۶۱ اول ټوک بحر الرائق ص۱۸۳ د وهم ټوک)

(۱۴) مسئله:- د جنازی لمونځ د امام او مقتدی دواړو په شان کښی یو شی دی فقط دومره فرق سړه لری چه امام تکبیر وینه او سلام په لوړ آواز سړه وایی او مقتدی ئی کرار وایی نور ټول شیان یعنی سبحانه، درود شریف او دعا مقتدی هم په کرار سړه وایی او امام ئی هم په کرار سړه وایی۔ (فتاوی هندیه ص۱۶۲ اون ټوک)

(۱۵) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی مستحب دی چه لمونځ کونکی درې صفونه جوړ سی تر دا سی حده که فقط اوه کسان وی یو دی امام سی بیا دی په اول صف کښی درې کسان و دریږی په دوهم کښی دی دوه (۲) کسان و دریږی او په دریم صف کښی دی یو (۱) و دریږی۔ فتاوی هندیه ص۱۶۱ لومړی ټوک)

(۱۶) مسئله:- د جنازی لمونځ هم په هغو شیانو سړه فاسدیږی چه په هغو سړه نور لمونځونه فاسدیږی فقط دومره فرق لری چه د جنازی په لمانځه کښی په قهقهه یعنی پوره خندا سړه اودس نه ماتیږی او د سجدې په محاذات (برابر والی) سړه هم د جنازی لمونځ نه فاسدیږی۔ (فتاوی هندیه ص۱۱-۱۶۱ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- د جنازی لمونځ په هغه مسجد کښی کول مکروه تحریمی دی چه د پنځه وخته لمونځونو یا د جمعې یا اختر د لمونځونو د پاره جوړ سوی وی برابره خبره ده که جنازه په مسجد کښی د ننه وی یا د مسجد څخه دباندی وی او لمونځ کونکی د ننه وی لیکن کوم مسجد چه خاص د جنازی د لمانځه د پاره جوړ سوی وی په هغه کښی مکروه نه دی۔ (درمختار- ص۱۶۳ اول ټوک بحرالرائق ص۱۸۷ اول ټوک عالمگیری ص۱۶۲ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- د مړی په لمانځه کښی په دی عزم چه پیر څنګه کول چه خلګ د پرسی جماعت زیات سی مکروه دی۔ (رد المحتار ص۶۰۲ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- د جنازی لمونځ د ناستی یا سپور تیا په حال کښی روا نه دی په شرط د دی چه یو عذر نه وی۔ (درمختار ص۱۲۳ اول ټوک)

(۲۰) مسئله:- که په یوه وخت کښی څیری جنازی جمعه سی نو بنه دا دی چه د هری جنازی لمونځ جلا جلا وسی اوکه د ټولو جنازو د پاره فقط یو لمونځ وسی بیاهم روادی او په دغه وخت کښی په کار ده چه د ټولو جنازو صف قائم سی چه بنه صورت ئی دادی چه د یوی جنازی مخ ته بله جنازه کښیښول سی چه د ټولو پښی یوه طرف ته وی او د ټولو سرونه بیوه طرف ته وی او دا صورت د ځی سببه څخه بهتر او بنه دی چه په دی صورت کښی د ټولو سینی د امام و مقابل ته کیږی د امام و مقابل ته د مړی سینه کیدل سنت ده - (در مختار ص۱۲۲ اول ټوک فتاوی هندیه ص۱۶۲ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- که جنازی مختلف قسمونه وی نو په داسی ترتیب سره دی د دوی صف قائم سی چه د امام ته نژدی دی د لویو خلګو جنازی وی تر دغه وروسته د هلکانو جنازی وی تر دغه وروسته د لویو ښځو جنازی وی او تر دوی وروسته دی د نابالغه انجونو جنازی وی (در مختار ص۱۲۲ اول ټوک فتاوی هندیه ص۱۶۲ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- که یو څوک د جنازی په لمانځه کښی داسی وخت شریک سی چه یو څه تکبیرونه د ده د سړی تلو څخه مخکی تیر سوی وی نو هر څوندی تکبیرونه چه د ده د څخه تیر سوی وی د دغو تکبیرونو په اعتبار سره مسبوق بلل کیږی د ده د پاره په کار ده چه د سړی تلو سره سم دستی په مثل د نورو لمنځونو تکبیر تحریمه (اول الله اکبر) ونه وایی چه وروسته شریک سی بلکه د امام د تکبیر انتظار دی وکړی هر وخت چه امام تکبیر ووایی نو د امام سره دی هم تکبیر ووایی او دا تکبیر د ده په حق کښی تکبیر تحریمه بلل کیږی بیا چه هر وخت امام سلام وګرځوی نو دغه سړی دی خپل تکبیرونه ادا کړی کوم چه د ده څخه تیر سوی دی او په دغو تکبیرونو کښی د شی د ویلو ضرورت نشته که یو څوک داسی وخت د جنازی لمانځه ته راورسیږی چه امام څلورم تکبیر هم ویلی وی نو دغه څوک د دغه تکبیر په حق کښی مسبوق نه بلل کیږی - د ده د پاره په کار ده چه فوراً تکبیر ووایی د امام د سلام ګرځولو څخه مخکی د وروسته شریک سی د لمانځه ترخمید و وروسته خپل تیر سوی تکبیرونه ادا ګرځوی. (در مختار ص۱۲۲ اول ټوک بحر الرائق ص۱۸۵ اول ټوک

(۲۳) مسئله:- که یو څوک د تکبیر تحریمه یعنی اول تکبیر یاد یو بل تکبیر په وخت کښی موجود وو او په لمانځه کښی د شرکت د پاره مستعد او تیار وو مګر د سستی یا بلی وجهی څخه شریک نه سو نو دده د پاره د ستی تکبیر ویل او په لمانځه کښی شریکیدل په کار دی د امام د بل تکبیر انتظار به نه کوی اود هر تکبیر په وخت کښی چه حاضر وی د دغه تکبیر اعاده (را اګرزول) د ده پر ذمه نسته په دی شرط چه امام بل تکبیر لا نه وی ویلی نو دئ به دغه تکبیر ادا کوی که څه هم د امام معیت نه وی - فتاوی هندیه ص۱۶۳ اول پتوک رد المحتار ص۵۸۵ اول پتوک)

(۲۴) مسئله:- د جنازی د لمانځه مسبوق چه هر وخت خپل تیر سوی تکبیرونه ادا کوی او بیره وی که چیری دئ دعا کوی چه ناوخته به سی او جنازه د ده د مخه څخه پورته کیږی نو دی دعا نه کوی - (در مختار ص۱۲۲ اول پتوک بحر الرائق ص۱۷۵ دوهم پتوک)

(۲۵) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی که یو څوک لاحق سی نو حکم ئی په شان د لاحق د لمنځونو دی یعنی کوم حکم چه د هغه نور د لمنځونو د لاحق وو هغه حکم د جنازی د لمانځه د لاحق هم دی - (بحر الرائق ص۱۸۶ دوهم پتوک)

(۲۶) مسئله:- د جنازی په لمانځه کښی د امامت استحقاق او حق تر ټولو زیات د بادشاه د وخت دی که څه هم په تقوی او پرهیزګاری کښی تر ده بهتر او غوره خلګ هم موجود وی. که چیری د وخت بادشاه په دغه ځای کښی موجود نه وی نو بیا د بادشاه نائب دی یعنی هر هغه څوک چه د ده د طرف څخه حاکم د دغه بنار د پاره مقرر سوی وی هغه د امامت حقدار ده دی که څه هم په دغه ځای کښی تر ده بنه او پرهیزګار خلګ موجود وی او که نائب هم موجود نه وی نو بیا د دغه بنار قاضی بیا نائب د ده د امامت حقدار ده دی - د دغو خلګو په موجودګی کښی بل څوک امام کول د دوی بیله اجازی روا نه دی بلکه د دوی مخکی کول واجب دی. او که د دغو خلګو څخه هیڅوک په دغه وخت کښی موجود نه وی نو د دغی محلی د مسجد امام د امامت حقدار ده دی. په شرط د دی چه دمړی په قریبانو کښی هیڅوک تر ده افضل او بنه نه وی. او که چیری تر ده افضل او بنه وی نو بیا د مړی هغه قریبان چه د وی ته د

ولایت حق حاصل دی د امامت حقدارہ دی یا هغه څوک د امامت حقدارہ دی چه د مړی ولی وهغه ته اجازه ورکړی

اوکه بیله اجازی د مړی د ولی یو داسی چا لمونځ ورکړی چه ده د امامت حقداری نه درلوده نو د مړی قریب لره اختیار دی چه بیرته وهم وار لمونځ ورکړی نو داسی حده که مړی پټ سوی وو نو پر قبر ئی لمونځ کولای سی نو څوچه د مړی د شوړیدو خیال نه وی - (در مختار ص۱۲۲-۱۲۳ اول پتوک فتای هندیه ص۱۶۰ اول پتوک بحرالرائق ص۱۷۸-۱۸۰ دوهم پتوک)

(۲۷) مسئله ۱- که بیله اجازی د مړی د ولی یو داسی چا لمونځ ورکړی وو چه هغه ته د امامت استحقاق او حق ثابت وو نو بیا د مړی ولی (قریب) لمونځ نه سی راګرزولای د غه رنګه که د مړی قریب په حال د نه موجود والی د وخت د بادشاه او د اسی نور وکښی لمونځ د جنازی ورکړی وو نو د وخت بادشاه او د اسی نور د لمانځه د راګرزولو اختیار نه لری - بلکه صحیح داده که د مړی قریب د وخت د بادشاه او د اسی نور د موجود والی په حال کښی د جنازی لمونځ ورکړی وی بیا هم د وخت بادشاه او د اسی نور د لمانځه د راګرزولو اختیار نه لری که څه هم د مړی قریبان (په دی کار سره) ګنهګار ه دی په دی سره چه د وی د وخت بادشاه امام نه کړی او امامول د دې واجب وه نو دوی ترک اوپری بنوول د واجب وکړه .

حاصل دا دی چه دیوی جنازی لمونځ د پروار و نه کول روا نه دی مګر د مړی قریب ته د وهم وار د جنازی لمونځ روا دی په شرط د دی چه د ده بیله اجازی یو داسی چا لمونځ ورکړی وی چه هغه مستحق او حقدار ه د امامت نه وی - (در مختار ص۱۲۳ اول پتوک شامی ص۵۹۲ اول پتوک)

د دفن یعنی د مړی د پټولو مسئلی

(۱) مسئله ۱- د مړی د دفن (پټول) فرض کفایی دی لکه چه د ده ته غسل ورکول او لمونځ ورکول فرض کفایی دی - (عالمګیری ص۱۶۳ اول پتوک)

(۲) مسئله ۱- هر وخت چه د مړی د لمانځه څخه فارغه سی نو هرځای چه ئی د ده قبر کینلی وی هلته دی دستی د دفن کولو د پاره یوسی - (مراقی الفلاح ص۳۳۲)

(۴) مسئله:- که مړی شیرخواره (شیدی روډونکی) کوچنی وی یا لږ څه غټ وی نو د خلکو د پاره یې په کار دی چه لاس پرلاس ئې یوسی یعنی یو وارد ی یوسړی پر دواړو لاسونو واخلی بیا دی دده څخه دوهم سړی واخلی دغسی دی سره بدلوی تر څپل قبره پورې دی یوسی او که مړی یو لوی انسان وی نو بیا دی پرچارپایې یا بل دغسی څه کښینږدی یودی سی او د چارپائی هره پښه دی جلا جلا یو یوسړی پورته کړی دمړی چارپایی دی په لاسونو سره پورته کړی پراوږو دی کښینږدی په مثل دمال او اسباب ئې بارول پراوږو مکروه دی دغه رنګه بیله عذر نه ئې پریږدی حیوان یا ګاډی کښی وړل هم مکروه دی اوکه عذر وی نو بیله مکروه والی روادی.

مثلاً ادیره ډیره لیرې وی۔ (بحرالرائق ص۱۹۱ دوهم توک عالمګیری ص۱۵۹ ج۱ مراقی الفلاح ص۲۷۲)

دمړی د پورته کولو او وړلو مستحب طریقه دا ده چه اول ئې مخکنی راسته پایه (پښه) پرخپله راسته اوږه کښینږدی لږ تر لږه لس قدمونه ولاړ سی بیا ئې دشادخوا راسته پایه (پښه) پرخپله راسته اوږه کښینږدی لږ تر لږه لس قدمونه ولاړ سی تر دغه وروسته ئې بیا مخکنی چپه پایه (پښه) پرخپله چپه اوږه کښینږدی لږ تر لږه لس قدمونه ولاړ سی بیا ئې وردستنی چپه پایه پرخپله چپه اوږه کښینږدی لږ تر لږه لس قدمونه ولاړ سی. د پاره ددی چه د څلورو پایو د وړلو څخه څلویښت[1] قدمونه جوړ سی.

(مراقی الفلاح ص۱۲۳ ص۱۲۴ نور مړی توک عالمګیری ص۱۵۹ اول توک)

(۵) مسئله:- د جنازی ژړا، وړل سنت دی نه دوندی چه د پیرژړا وړلو په سبب مړی پرچارپایې سره بسوری حرکت کوی یعنی څغلی دی هم نه۔ (درمختار ردالمحتار ص۵۹۷ اول توک بحرالرائق ص۱۹۱ دوهم توک)

(۶) مسئله:- کوم خلګ چه د جنازی سره یوځای ئې د هغود پاره د جنازی تر اینبوولو مخکی ناسته مکروه دی لیکن که د مخکی کښینستلو ضرورت پیښ سی نو هیڅ پروا نه لری۔ (درمختار ص۱۲۴ اول توک بحرالرائق ص۱۹۱ دوهم توک)

(۷) مسئله:- کوم خلګ چه د جنازی سره نه وی بلکه یوځای ناست وی نو هر وخت چه پردوی جنازه راسی دده وی د پاره د ریدل په کار نه دی۔ مراقی الفلاح ص۳۵۴)

[1] یعنی چه دهر څلورو څلورو کسانو د وړلو څخه څلویښت څلویښت قدمونه جوړ سی ۱۲ محشی

(۸) مسئله:- کوم خلگ چه د جنازی سره وی د دوی د پاره یه کار دی چه د جنازی ترشا روان وی که څه هم د جنازی څخه مخکی تلل هم روا دی لیکن که ټوله خلگ د جنازی څخه مخکی سی بیا مکروه دی دغه رنگه د جنازی مخکی پریوآس یا بل شی تلل هم مکروه دی (در مختار ص۱۲۴ اول ټوک بحرالرائق ص۱۹۲ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- د جنازی سره یه پښو تلل مستحب دی او که چیری پریوشی سپور وی نو د جنازی ترشا دی ځی۔ (شامی ص۵۹۵ اول ټوک بحرالرائق ص۱۹۲ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله:- کوم خلگ چه د جنازی سره ملگری وی د دوی د پاره یو دعا یا ذکر کول یه لوړ آواز سره مکروه دی د مړی قبر باید لږ تر لږه دوندی قد ژور وی چه د ده د نیم قد سره برابر وی او تر قد زیات باید نه وی او د وند باید اوږد وی چه د ده د قد سره برابر وی او پورې (لحد) نسبت وصندوق قبر ته ښه دی لیکن که مځکه ډیره نرمه، پسته او نرانده وه چه د پورې (لحد) په جوړولو کښی د قبر د کښینستو ډیره وی نو بیا دی پورې (لحد) نه جوړوی (صندوق قبر دی ورجوړ کړی) بحرالرائق ص۱۹۲ دوهم ټوک در مختار ص۱۲۴ اول ټوک در مختار شامی ص۵۹۵ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۹۳ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- دا هم روا دی که چیری بغلی قبر، پورې (لحد) کیندل کیدلی نه سی چه مړی په یو صندوق (تابوت) کښی کښیږدی او دفن (ښخ) ئی کړی برابره خبره ده که صندوق د لرگی وی یا د پبری وی یا د اوسپنی وی مگر ښه دا دی چه په صندوق کښی خاورې هوارې سی۔ بحرالرائق ص۱۹۳ دوهم ټوک در مختار ص۱۲۴ ج ۱)

(۱۲) مسئله:- هر وخت چه قبر تیار سی نو مړی دی د قبلی د طرف څخه د قبر ته ورکښته کړی د دی صورت دا دی چه جنازه د قبر د قبلی طرف ته کښیښوول سی او هغه څوک چه مړی په قبر کښی ایږدی مخ پر قبله ودریږی او مړی را واخلی په قبر کښی ئی کښیږدی۔ (بحرالرائق ص۱۹۳ دوهم ټوک۔ در مختار ص۱۲۴ لومړی ټوک)

(۱۳) مسئله:- دا ضروری نه ده چه مړی کښته کونکی به جفت (جوت) یا طاق وی یعنی سنت نه ده د نبی صلی الله علیه واله وسلم جسد مبارک څلورو کسانو د قبر ته ورکښته کړیدی۔ (بحرالرائق ص۱۹۳ شامی ص۶۰۰ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- په قبرکښی د اینبو ولو په وخت کښی بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ
اللّٰهِ ویل مستحب دی - (در مختار ص۱۲۵ اول پتوک)
(۱۵) مسئله:- مړی په قبرکښی پر راسته اړخ مخ پر قبله اینبو ول سنت دی
عالمګیری ص۱۶۳ اول پتوک بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم پتوک در مختار ص۱۲۵ اول پتوک)
(۱۶) مسئله:- په قبرکښی د مړی تر اینبو ولو ورږسته دی د کفن هغه غوټه
خلاصه کړل سی چه د کفن د خلاصیدو د بیری څخه ورکړه سوی وی - عالمګیری
ص۱۶۳ اول پتوک بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم پتوک در مختار ص۱۲۵ اول پتوک)
(۱۷) مسئله:- د مړی تر اینبو ولو ورږسته دی لحد په اومو خښتو یا نلانو سره
د کړی په یو خو خښتو یا تختو سره ئی بند ول مکروه دی مګر په هر هغه ځای
دی چه محکه ډیره نرمه اوپسته وی چه د قبر د نړیدو د بیری وی نو یو څو خښتی
د لرګی تختی ورته اینبو ول یا مړی په صندوق یا تابوت کښی اینبو ول هم روا
دی - (بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم پتوک شامی ص۶۰۰ اول پتوک در مختار ص۱۲۵ اول پتوک)
(۱۸) مسئله:- د بنځی د پاره په قبرکښی د اینبو ولو په وخت کښی اول پرده
ول بیا دا اینبو ول مستحب دی اوکه د مړی د بدن د بنکاره کیدو د بیری نو
یا پرده کول واجب دی - (شامی ص۹۳۶ اول پتوک)
(۱۹) مسئله:- د نارینو خلګو د پټولو په وخت کښی پر قبر پرده کول نه دی په کار
مګر که یو عذر وو مثلاً باران یا واوره او سپیدکا یا سخته ګرمی وی نو بیا پرده کول روا
دی - (بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم پتوک در مختار ص۱۲۵ اول پتوک)
(۲۰) مسئله:- هر وخت چه مړی په قبر کی کښیښو ول سی نو هر څوندی خاوری
په دده د قبر څخه را ایستل سوی وی هغه ټولی خاوری دی پرواچوی تر
هغه زیاته خاوره پراچول مکروه کار دی هر وخت چه خاوره ډیره زیاته وی
په قبر تر یوه لویشت ډیر زیات لوړ سی اوکه لږ غوندی وی نو بیا مکروه نه ده
مراقی الفلاح ص۳۵۶ لومړی پتوک)
(۲۱) مسئله:- په قبرکښی د خاورو اچولو په وخت کښی مستحب دی چه د
سر طرف څخه شروع کړل سی اوهر سړی دی خپله غږګه د خاورو څخه پرکه
ړی او قبر ته دی ور واچوی او اول وار دی وَاٰيِ مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ او دوهم
وار دی وواٰيِ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ - او دریم وار دی وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى

وایی - (در مختار شامی ص۶۰۱ اول ټوک عالمگیری ص۱۶۳ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- تر دفن کیدو وروسته لږ ګړی پر قبر دریدل او دمړی د پاره د مغفرت دعا کول یا قران مجید ویل ثواب لرې دمړی ته ورښخیدل مستحب کار دی - (در مختار شامی ص۶۰۱ اول ټوک عالمگیری ص۱۶۳ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- د خلورو تراچولو وروسته پر قبر اوبه پاشل مستحب دی. (در مختار شامی ص۶۰۱ اول ټوک عالمگیری ص۱۶۳ لومړی ټوک)

(۲۴) مسئله:- مړی په یو مکان او خونه کښې باید پټ نه کړل سی برابره خبره ده که دغه مړی لوی وی که کوچنی وی ځکه چه دا رنګه ښخیدل په انبیاء علیهم السلام پورې خاص دی - (در مختار ص۶۲۴ اول ټوک بحرالرائق ص۱۹۳ دوهم ټوک)

(۲۵) مسئله:- قبر مربع (څلور کونجه) جوړول مکروه دی بلکه مستحب دادی چه قبر دامی راپورته سوی وی نکه داوښ ټوک لوړوالی لرې یوه لویشت یا تر یوه لویشت یوڅه زیات وی - (در مختار شامی ص۶۰۱ اول ټوک - عالمګیری ص۱۶۳ اول ټوک بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم ټوک)

(۲۶) مسئله:- قبر تر یوه لویشت ډیر زیات لوړول مکروه تحریمی دی قبر په ګچو یا خښتو سره جوړول مکروه دی - (در مختار شامی ص۶۰۱ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۹۳ دوهم ټوک)

(۲۷) مسئله:- د مړی تر پټولو وروسته پر قبر یو عمارت د ګنبد ی یا قبی یا بل شی په مثل جوړول د بنایست په غرض حرام دی او مضبوطی په نیت سره مکروه دی د مړی پر قبر یوشی په طور د یاداشت لیکل[1] روا دی په شرط دی چه یو ضرورت وی. او که ضرورت نه وی بیا روا نه دی لیکن په اوس زمانه کښې چونکه عام وخلګو خپلی عقیدی او عملونه ډیر خراب کړی دی. نو د دغسی مفاسد و او خرابیو په وجه روا شیان هم ناروا کیږی. نو د دی سبب د دغه لیکل بالکل ناروا کیږی او کوم کوم ضرورتونه چه د دغه خلګ بیانوی ټول د نفس پاڼی دی چه د وی پخپله هم په زړه کښې په پوهیږی.

در مختار شامی ص۶۰۱ اول ټوک بحرالرائق ص۱۹۴ دوهم ټوک

[1] په صحیح حدیث کښې پر قبر د یوشی د لیکلو څخه منعه راغلی ده ۱۲ محشی

د شهید احکام

که څه هم شهید هم په ظاهره مړی دی مګر د عامو خلګو پرتول حکمونه په ده کښی نه سی جاری کیدلای فضایل هم د شهید په پرده دی د دی سببه دده احکام جلا بیانول مناسب ولیدله معلوم سوه په حدیثو کښی د شهید په پرتِه قسمونه راغلی دی بعضو علماؤ دد غو اقسامو د جمعه کولو د پاره مستقلی اوعلیحده رسالی هم جوړی کړی دی مګر زموږ چه د شهید کوم حکمونه دلته بیانول مقصد دی هغه په هغه شهید پوری خاص دی چه په ده کښی د غه څو شرطونه موجود وی.

(۱) شرط:- مسلمان والی - اوچه مسلمان نه وی د هغه د پاره هیڅ قسم شهادت ثابتیدای نه سی.

(۲) شرط:- مکلف والی - یعنی عاقل او بالغ به وی پس نو هر څوک چه د لیونتوب یا بل شی په حال کښی مړ کړل سی یا د نه بلوغ یعنی کوچنی والی په حال کښی مړ کړل سی نو دده د پاره د شهادت هغه حکمونه چه موږ ئی اوس ذکر کوو نه ثابتیږی.

(۳) شرط:- د لوی بی اودسی څخه پاکوالی که یو سړی د جنابت په حال کښی یا یو ښځه د حیض یا نفاس په حال کښی په شهادت ورسیږی نو دده وی د پاره هم د شهید د غه احکام چه موږ ئی څه مخته بیانوو نه ثابتیږی.

(۴) شرط:- بی ګناه قتل کیدل نو که یو څوک بی ګناه قتل نه سو بلکه د یو شرعی جرم په سزا کښی قتل کړل سو یا د سړه قتل سوی نه وی بلکه د فسی په خدایی مرګ مړ سوی وو نو نو دده وی د پاره د غه راتلونکی احکام د شهید نه ثابتیږی

(۵) شرط:- که د یو مسلمان یا ذمی په لاس سړه قتل سوی وی نو د اهم شرط دی چه په آله جارحه یعنی په قتل کونکی سامان سړه به وژل سوی وی که چیری د یو مسلمان یا ذمی په لاس سړه په آله غیر جارحه سړه وژل سوی وی چه هغه قتل کونکی نه وی یعنی عادتًا څوک نه په مړی مثلًا په یوه ډبره یا بل شی ئی وژلی وی نو پرده هغه د شهید احکام نه جاری کیږی چه اوس ئی بیان راروان دی لیکن او سپنه مطلقًا د وژونکی سامان په حکم کښی ده که څه هم په دی کښی حدت (تیزی) نه وی که یو څوک د حربی کافر انو یا باغیانو یا

د اکه ژنانو په لاس سره وژل سوی وی یا د دوی د جنګ په ځای کښی مړ پیدا سی نو د دغه د پاره په وژونکی سامان سره قتل کیدل شرط نه دی تر دا سی حده که ئ چیری د غه خلګ په ډبره یا بل د غسی شی سره دوهی او مړ ئ کړی نو د غه ډا تلونکی احکام د شهید پرده جاری کیږی بلکه دا هم شرط نه دی چه د غه خلګ به یخپله مرتکب د قتل کیږی یعنی یخپله به ئ وژنی بلکه که د غه خلګ د قتل او وژنی سبب سی یعنی د دوی څخه دا سی شیان پیښ سی چه چه باعث د قتل سی نو هم پرده د غه ډا تلونکی احکام د شهید جاری کیږی (اول مثال) یو حربی یا بل د غسی چا ترخپل مرکب یا موټر یو مسلمان لاندی کړی وی. د غه حربی پرد غه مرکب یا بل شی سپور هم وی او مسلمان په د غه سره مړ سی۔ (دوهم مثال) یو مسلمان پر یو حیوان سپور وی او بو حربی یا بل د غسی څوک د غه حیوان وتړی وی او ئ ځغلوی چه په نتیجه کښی ئ مسلمان د د غه حیوان څخه را ایله سی او مړ سی (دریم مثال) یو حربی یا بل د غسی څوک د مسلمان کور، موټر یا اوګوټ ته اور ور واچوی او په نتیجه کښی ئ یو مسلمان وسوځل سی او مړ سی.

⑥ شرط ۱۔ د د غه قتل په سزا کښی ابتداءً (واړه دواړه) د شریعت د طرف څخه یو مالی عوض نه وی مقرر سوی بلکه قصاص واجب سوی وی نو که د شریعت د خواځخه په ابتداء کښی یو مالی عوض مقرر سوی وی نو بیا هم پرد غه وژل سوی چا د غه ډا تلونکی احکام د شهید نه جاری کیږی که څه هم په ظلم سره قتل سی اول مثال یو مسلمان بل مسلمان په غیر اله جارحه (نه وژونکی سامان) سره قتل کړی دوهم مثال:۔ یو مسلمان بل مسلمان په اله جارحه (وژونکی سامان) سره قتل کړی مګر په خطا سره مثلاً پر یو حیوان یا نښانه باندی حمله کوی ولی ئ هغه پر یو انسان ولګیږی. دریم مثال:۔ یو څوک د جنګ د ځای څخه ماسیوی بل ځای مړ پیدا سی او هیڅ قاتل ئ معلوم نه وی په دی پټلو صورتونو کښی چونکه د د غه قتل په عوض کښی مال واجبیږی قصاص نه واجبیږی د دی سببه د لته د شهید احکام نه جاری کیږی د مالی عوض په مقرر والی کښی د ابتداء قید د د ی سببه څخه ولګول سو که چیری ابتداءً قصاص مقرر سوی وی مګر د یو مانع د سببه قصاص معاف سوی

وی او په بدله کی مال واجب سوی وی نو هلته بیا د شهید احکام جاری کیږی
د مثال :- یو سړی په اله جارحه سړه قصداً ظلماً وژل سوی وی لیکن د قاتل
د مقتول د وارثانو په منځ کښی د مال په عوض سړه صلحه سوی وی نو په
دی صورت کښی څرنګه چه ابتداء قصاص واجب سوی وو مال ابتداءً نه وو
واجب سوی بلکه د صلحی په سبب واجب سوی وو د دی سببه دلته د شهید
احکام جاری کیږی - دوهم مثال :- پلار خپل زوی په اله جارحه سړه
مړ کړی نو په دغه صورت کښی په ابتداء کښی قصاص واجب سوی وو مال
په ابتداء کښی نه وو واجب سوی لیکن د پلار د احترام او عظمت د وجهی
څخه قصاص معاف سو ید دی په بدله کښی مال واجب سوی دی د دی
سببه دلته هم د شهید احکام جاری کیږی.

(۷) شرط :- ورو سته تر زخمی کیدو بیا یو کار د راحت او د فایدی د ژوند
په مثل د خوړلو، چښلو، بیدیدلو، د واکولو، د خړ څولو را نیولو او داسی
نورو نه کړی او نه دیوه لمانځه د وخت په اندازه د دې د ژندګی (ژوند) په هوښ
و حواس او پرسدتیا کښی تیره سی او نه ئې د پرسدتیا په حال کښی د دی د جنګ
د ځای څخه راوړی وی لیکن که ئې د حیوانا تو او داسی نورو شیانو د پامالیدو په وجه راپوته کړی وی او د جنګ د میدان څخه ئې را ایستلی وی.
بیا هیڅ پروا نه لری احکام د شهید پر جاری کیږی نو هر څوک که تر زخمی کیدو
ورو سته د پری خبری وړی نو دی هم د شهید په احکامو کښی نه داخلیږی
ځکه چه زیاتی خبری کول د ژوند د شانه څخه دی د غه رنګه که یو څوک
وصیت وکړی نو د غه وصیت که په یو دنیاوی معامله کښی وی نو بیا د شهید د احکامو څخه
وړی او که ئې وصیت په دینی معامله کښی وی نو بیا د شهید د احکامو څخه نه وړی که
یو څوک د جنګ په ځای کښی شهید سو او د غه خبری وکړی نو د شهید د احکامو څخه
وړی او که ئې نه وکړی نه وړی لیکن که د غه سړی په جنګ کښی وژل سوی وای تر
اوسه لا محاربه ختم سوی نه وه نو چه د هغه تیرو ذکر سوو راحتونو او فایدو
سره نفعه حاصله او بیا د جنګ تر خپدو او ورو سته د هیڅ فایدې او گټه حاصله نه کړه.
مړ سو نو شهید دی سړه د دغو ذکر سوو فایدو چه د هغه حاصلی کړی دی. (در مختار شامی
صفحه ۶۱۱ اول ټوک بحر الرائق صفحه ۱۹۶ دوهم ټوک عالمګیری صفحه ۱۶۵ اول ټوک)

(۱) مسئله:- په هر هغه شهید کښی چه د هغه پتول شرطونه موجود وی نو یو حکم ئی دادی چه غسل به نه ورکول کیږی او د بدن څخه به ئی وینی نه صفا کیږی د غسی بی غسله سره د خپلو وینو دی وخاورو ته وسپارل سی دوهم حکم ئی دادی چه کوفی جامی ئی اغوستی وی هغه جامی (کالی) به نه څنډی کاږی لیکن که د ده جامی تر هغه عدد کمی وی کوم چه سنت دی نو د سنت عدد پوره کولو د پاره دی نورې جامی ورزیاتی کړل سی د غه رنګه که د ده جامی تر سنت کفن زیاتی وی نو دی زیاتی جامی څنډی وایستل سی او که د ده پر بدن داسی جامی وی چه په دوی کښی د کفن والی صلاحیت نه وی لکه پوستین او داسی نور نو د د غسی جامو کښل هم په کار دی لیکن که د د غسی جامو ماسیوای د ده پر بدن هیڅ بله جامه نه وی نو بیا د پوستین او د غسی بل شی څنډی کښل نه دی په کار - خولی، څپلی، اسلحه او داسی نور په هر حال کښی څنډی کښل کیږی او پاته نور پتول احکام چه د نورو مړو د پاره دی لکه ملونځ او داسی نور هغه پتول د د غه شهید په حق کښی هم جاری دی که په یو شهید کښی د د غو شرطونو څخه یو شرط موجود نه وی نو ده ته غسل هم ورکول کیږی او په مثل د نورو مړو نوی کفن هم ورکول کیږی - (در مختار شامی ص۶۲۵ اول پتوک بحر الرائق ص۱۹۷ دوهم پتوک عالمګیری ص۱۶۵ اول پتوک)

د جنازی متفرق (جلا جلا) مسئلی

(۱) مسئله:- که ئی د مړی مخ په قبر کښی د قبلی ته ګرزول هیر سی او تر پتولو او خاورو اچولو ورو سته ئی یاد سی نو بیا د پاره د مخ ګرزول د مخ د ده د قبلی ته د قبر بیرته لټول روانه دی لیکن که ئی تختی ورته ایښی وی او - خاوری ئی نه وی پراچولی نو بیا د تختی لیرې کړی او مړی د مخ پر قبله سم کړی. (عالمګیری ص۱۶۴ اول پتوک بحر الرائق ص۵۹۸ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:- د بنځو د پاره د جنازی سره تلل مکروه تحریمی دی - در مختار شامی ص۵۱۸ اول پتوک بحر الرائق ص۱۹۲ دوهم پتوک)

(۳) مسئله:- د ژړا کونکو بنځو یا بیان کونکو بنځو تلل د جنازی سره منع دی (بیان کونکی هغه بنځی دی چه د مړی صفتونه بیا نوی او ژاړی بلکه نور

ځنګ یا هم ګرځوی چه فلانی خو داسی زمری وراوداسی وو) درمختار شامی
ص۵۵۸ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۹۲ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- دمړی په قبر کښی دایښو ولو په وخت کښی اذان کول بدعت
دی - (شامی صنت لومړی ټوک)

(۵) مسئله:- که امام د جنازی په لمانځه کښی نرخلور تکبیره زیات ووایی نو
حنفی مقتدیانو له په کار ده چه په دغو زیاتو تکبیرونو کښی دامام اتباع وته
ړی بلکه بی ویلو پته خوله ودریږی هروخت چه امام سلام وګرځوی نو دوی
ی هم سلام وګرځوی لیکن که دغه زیات تکبیرونه دامام څخه نه واورېدل
ی بلکه د مکبر (هغه الله ویونکی څخه چه دامام تکبیرونه په لوړ آواز سره
اپی) څخه واورېدل سی نو د مقتدیانو د پاره په کار ده چه متابعت ئی
کړی او هر تکبیر دی تکبیر تحریمه وبولی داسی خیال دی وکړی چه کیدای
ی چه د دغه څخه مخکی کوم څلور تکبیرونه چه مکبر (الله اکبر ویونکی)
نقل کړی دی هغه غلط وی او امام به اوس تکبیر تحریمه ویلی وی.
درمختار ص۱۳۲ اول ټوک بحرالرائق ص۱۸۴ دوهم ټوک عالمګیری ص۱۶۲ ج۱)

(۶) مسئله:- که یوڅوک په کښتی یا بل د غسی شی کښی مړ سی او محکه
د دغه ځای څخه دوندی قدر لیری وی چه د مړی د خرابیدو بیره
وی نو په دغه وخت کښی په کار ده چه غسل کفن او لمونځ د مړی او و
ریاب ته ئی وغواړی که د دریاب کنار ه دوندی لیری نه وی ودغی کناری
ته د ژر رسیدلو امید وی نو دغه مړی دی په کښتی کښی پریږدی هر وخت
چه کنارې ته ورسیږی بیادی په محکه کښی پټ کړی - (طحطاوی ص۳۵۸ ج۱)

(۷) مسئله:- که دیوچا د جنازی د لمانځه هغه دعا چه منقوله ده یاد نه
وی نو دده د پاره فقط اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ویل کافی دی که
دغه هم یاد نه وی او فقط پرځلور تکبیرونو اکتفار وکړی بیا هم لمونځ صحیح
کیږی محکه چه دعا فرض نه ده بلکه سنت ده او دغه رنګه درود شریف
هم فرض نه دی - (بحرالرائق ص۱۸۳ دوهم ټوک عالمګیری ص۱۶۱ اول ټوک)

(۸) مسئله:- هروخت چه پر قبر باندی خاوری واچول سی نو بیا د قبر څخه
مړی را ایستل روا نه دی مګر که دیوچا حق تلفی کیږی نو بیا ئی را ایستل

روادی۔ اول مثال:۔ په کومه محکمه کښی چه مړی پټ کړل سوی وی هغه محکمه دیو بل چا ملک وی او هغه د دغه مړی په پټولو سره په دغه خپله محکمه کښی راضی نه وی۔ دروهم مثال:۔ دیو چا مال په قبرکښی پاته سوی وی۔ (در مختار شامی ص۶۰۳ لومړی ټوک بحرالرائق ص۱۶۵ دوهم ټوک۔ عالمگیری ص۱۶۴ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ که یو سنحه مړه سی او د دی په نس کښی ژوندی کوچنی وی نو دی نس د خیری کړل سی او کوچنی دی خندی را وایستل سی دغه رنګه که یو څوک دیو چا مال تیرکړی او مړ سی او مال والا خپل مال وغواړی نو د دغه نس دی خیری کړل سی او مال دی خندی را وایستل سی لیکن که د مړی دنیا او مال پاته سوی وی نو د دغه د ترکې (پاته سوی مال) څخه دی دغه مال ادا کړل سی او نس دی نه د خیرل کیږی۔ (در مختار ص۱۲۶ ج۱)

(۱۰) مسئله:۔ مخکی تر پټولو مړی دیوه ځایه څخه د بل ځای ته د پټولو دپاره د وړل خلاف اولی (بنه کار نه) دی په شرط دی چه هغه بل ځای دیوه او دوه میلو څخه لیری نه وی او که تر دغه زیات لیری وو نو بیا روانه دی او د مړی تر پټید و د روسته بیرته مړی را کښل د بل ځای ته وړل په هیڅ حال کښی روانه نه دی۔ (در مختار شامی ص۶۰۳ اول ټوک عالمگیری ص۱۶۵ ج۱)

(۱۱) مسئله:۔ د مړی تعریف کول برابره خبره ده که په شعر سره وی یا په دغسی خبرو سره وی د واړه روادی په شرط دی چه په تعریف کښی هیڅ قسم مبالغه نه وی هغه تعریفونه دی نه بیانیږی چه په دې کښی نه وی۔ (در مختار شامی ص۶۰۳ لومړی ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ د مړی قریبانو ته تسکین او تسلی ورکول د صبر فضائل او ثواب د دوی ته بیانول د دوی ته په صبر ترغیب ورکول او د دغه رنګه د مړی دپاره دعا کول روادی د دغه ته تعزیت (فاتحه) وایی تردرې(۳) و درځو و روسته تعزیت (فاتحه) ورکول یا اخیستل مکروه تنزیهی ده لیکن که فاتحه ورکونکی یا د مړی قریبان په سفر کښی وی تردرې(۳) و درځو و روسته راسی نو په دغه صورت کښی تردرې(۳) و درځو و روسته هم تعزیت (فاتحه) ورکول مکروه نه ده هرچا چه یوواړ تعزیت (فاتحه) ورکړی وی د ده دپاره د دوهم واړ تعزیت

(ذاتحه) وړکول مکروه دی۔ (درمختار شامی ص۶۰۴ اول پتوک عالمگیری ص۱۶۴ ج
(۱۳) مسئله:۔ د خپل خان د پاره کفن تیارایښول مکروه نه دی اود خپ
خان د پاره تر مرګ مخکې قبر تیارول مکروه دی۔ (درمختار ص۱۲۶ اول پتوک)
(۱۴) مسئله:۔ د مړی پر کفن بیله رنګه د خسی دګوتو په حرکت سره یو دې
په مثل د عهد نامې (اقرار نامې) او د اسې بل شی لیکل یا د د مړ پر سینه باندې
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او پرتندې باندې کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ
رَّسُوْلُ اللّٰهِ (صلی الله علیه وآله وسلم) لیکل روا دی مګر په یو صحیح حدیث
کښې د دغه ثبوت نشته د دې سببه پرد غو لیکلو باندې د سنت والی یا
مستحب والی خیال کول په کار نه دی۔ (درمختار ص۱۲۶ اول پتوک شامی ص۶۰۷ ج۱)
(۱۵) مسئله:۔ پر قبر باندې یوشین بناخ (شنخته) لګول مستحب دی اوکه
د قبر ته نژدې یو درخته یا بل شی راشین سی نو پریکول یې مکروه دی۔
بحرالرائق ص۱۹۴-۱۹۶ د وهم پتوک شامی ص۶۰۶ اول پتوک)
(۱۶) مسئله:۔ په یوه قبرکښې تر یوه مړی زیات پټول په کار نه دی مګر
د سخت ضرورت په وخت کښې روا دی نوکه پټول مړی خالص نران وی نو
هر یوچه په دوی پټولوکښې افضل او بهتر وی هغه دی مخ ته کښیږ دی نور
پټول دی تر دې وروسته درجه پر درجه کښیږ دی۔ اوکه یو څه خلګ وی
یو څه ښځې وی نو دی نارینه مخته کښیږ ی او تر دوی وروسته دی ښځې کښیږ دی
(عالمګیری ص۱۶۴ اول پتوک بحرالرائق ص۱۹۴ د وهم پتوک)
(۱۷) مسئله:۔ د قبرونو زیارت کول مستحب دی یعنی د قبر و ته تلل او قبرونه
لیدل د نرانو خلګو د پاره مستحب دی بهتر او ښه دادی چه لږ تر لږه یو وار په
هره هفته کښې د قبرونو زیارت وکړی او ښه دادی چه د دغه زیارت ئې په
روح کښې د جمعې وی د بزرګانو د قبرونو زیارت د پاره سفر کول هم روادی
په شرط د دی چه یو عقیده او عمل د شریعت خلاف نه وی لکه د ننګ سبا په
عُرس ونو کښې چه فسادات کیږ ی۔ (شامی ص۶۰۴ اول پتوک۔ بحرالرائق ص۱۹۵
د وهم پتوک احیاء العلوم ص۲۱۹ اول پتوک)

د مسجد حکمونه

د دغه زمونږ د مسجد هغه احکام بیانول مقصد نه دی چه د وقف سره تعلق لری

څلمه چه د هغوی ذکر د وقف په بیان کښی مناسب معلومیږی موږ د لته هغه احکام بیانوو چه د لمانځه یا د مسجد د ذات سره تعلق لری.

(۱) مسئله:- د مسجد دروازه بند ول مکروه تحریمی ده لیکن که د لمانځه وخت نه وی د مال د ساتنی په غرض دروازه بنده کړل سی بیا روا کاردی (در مختار ص۹۳ اول پتوک هدایه ص۱۱۳ اول پتوک بحرالرائق ص۳۳ دوهم پتوک عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک)

(۲) مسئله:- د مسجد پر بام وړی او غټی بولی کول یا د بنځی سره نزدیکت کول داسی دی لکه په مسجد کښی د ننه. (در مختار ص۹۳ اول پتوک بحرالرائق ص۳۴ دوهم پتوک عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک)

(۳) مسئله:- په کوم کور او خونه کښی چه مسجدوی نو د دی پتول کور او خونی د مسجد حکم نه دی د غه رنګه هغه ځای هم د مسجد حکم نه لری چه د اختو یا جنازی د لمانځه د پاره مقرر سوی وی. (عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک بحرالرائق ص۳۶ دوهم پتوک در مختار ص۹۳ اول پتوک)

(۴) مسئله:- د مسجد دروازه او د یوال نقش کول، رنګول که چیری په خپل خاص مال سره وی نو پروا نه لری مګر د محراب او د محراب د طرف د دیوال نقش او نګار کول مکروه دی د مسجد دروازه او د یوال نقشول که چیری د مسجد په آمدنی سره وی بیا روا نه دی. (در مختار ص۹۳ اول پتوک بحرالرائق ص۳۷ دوهم پتوک عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک)

(۵) مسئله:- د مسجد پر دیوال د قرآن مجید د آیتونو یا سورتونو لیکل سنه نه دی. (عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک بحرالرائق ص۳۷ دوهم پتوک)

(۶) مسئله:- په مسجد کښی د ننه یا د مسجد پر دیوالونو توکل یا پزه سوڼ کول دیر بد کار دی او که چیری د پرسخت ضرورت پیښ سی نو په خپلو کالیو یا د سمال کښی دی توکی. (عالمگیری ص۱۰۸ اول پتوک بحرالرائق ص۳۷ دوهم پتوک)

(۷) مسئله:- په مسجد کښی د ننه اودس کول یا خوله او د اسی نورصفا کول مکروه تحریمی - (عالمگیری ص۱۰۵ اول ټوک بحرالرائق ص۳۷ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:- د جنب، او حائضی بنځی دپاره د مسجد ته ورننوتل گناه ده (عالمگیری ص۳۶ اول ټوک هدایه ص۴۸ اول ټوک درمختار ص۵۱ اول ټوک)

(۹) مسئله:- په مسجد کښی د ننه د شی راښیول او خرڅول مکروه تحریمی دی لیکن د اعتکاف په حال کښی په قدر د ضرورت راښیول او خرڅول روا دی په مسجد کښی د ننه او تر ضرورت بالاخریده او د وخت کول په وخت کښی د اعتکاف هم روا نه دی د اعتکاف په وخت کښی د ضرورت په اندازه راښیول او خرڅول روا دی خو دا هغه وخت چه د هغه د خرڅولو او راښیولو شئ[1] په مسجد کښی د ننه نه وی - (درمختار شامی ص۴۴۵ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- که دیوچا پښی په خټو یا بل شی ککړی وی نو د مسجد په دیوال یا ستنی سره ئی وچول او صفا کول مکروه دی (عالمگیری ص۱۰۹

(۱۱) مسئله:- په مسجد کښی د ننه درختی نگول مکروه دی ځکه چه داهل کتابه خلگو رواج دی لیکن که د درختو په نگولو کښی د مسجد یو فایده وی بیا روا دی مثلاً د مسجد په ځمکه کښی نو اولنده والی ډیروی چه د دیوالو د نړیدو بیره وی نو په داسی حال کښی که درخته ولگول سی نو د هغه لنده والی جذب کوی - (عالمگیری ص۱۰۹ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- په مسجد کښی لاړجوړول روا نه دی لیکن که یو سخت ضرورت پیښ سی نو یو وخت وخت په داسی حال کښی په مسجد کښی تیریدل او وتل روا او جائز دی.

(۱۳) مسئله:- په مسجد کښی دیوکسب کار د پاره کسب کول روا نه دی ځکه چه مسجد د دین د کار واو خصوصاً د لمانځه د پاره جوړ یږی نو په مسجد کښی د دنیا کار کول مناسب نه دی تر داسی حده که یو څوک پر قران شریف یا بل شی تنخواه اخلی او ورزده کوی ئی نو دی هم په کسب او پیشه والا کښی داخل دی د ده د پاره د مسجد څخه علیحده کښینستل او د قران شریف

[1] یعنی هر هغه شی چه خرڅوی ئی مسجد ته دی نه راوړل کیږی او که صرف د قیمت روپی مسجد ته راوړل سی نو بیا به روا نه لری ۱۲ محشی.

تعلیم او ویل په کار دی لیکن که یو څوک د مسجد د ساتنی د پاره په مسجد کښی کښینی او ضمناً خپل کار هم د سره کوی بیا پروا نه لری مثلاً یو کاتب یا خیاط په مسجد کښی د نه په غرض د ساتنی د مسجد کښینی او ضمناً خپل کتابت او خیاطی هم د سره کوی نو روا دی۔ (عالمگیری ص۱۰۹ اول ټوک)

د اصلی بهشتی زیور د دوهمی حصی تتمه خلاصه سوه اوس مختته د دریمی حصی تتمه شروع کیږی

د بهشتی زیور د دریمی حصی تتمه

دروژی بیان

(۱) مسئله:۔ دیوه بنار د خلګو میاشت لیدل د بل بنار پر خلګو هم حجت اودلیل دی (یعنی دیوه بنار او سیدونکی چه میاشت وویني د بل بنار او سیدونکی به هم روژه په نیسی) د دغو دواړو بنارو په مابین کښی که هرڅوندی د پیره فاصله وی تر داسی حده که په ابتدا کښی د مغرب میاشت ولیدل سی او خبر ئی په معتبره طریقه سره هغه اخیرو او سیدونکوته د مشرق د سیږی. نو پر دی د دغی ورځی روژه ضروری اولازمه ده۔ (در مختار ص۱۴۹ لومړی ټوک بحرالرائق ص۲۷۰ دوهم ټوک فتاوی هندیه ص۱۹۷ اول ټوک)

(۲) مسئله:۔ که د دوو ثقه او معتبرو خلګو په شهادت سره رؤیة الهلال (یعنی د میاشتی لیدل) ثابت سی او دغه حساب څخه خلګ روژه و نیسی د دیرشو روژو تر پوره کیدو وروسته د کوچنی اختر میاشت و نه لیدل سی برابره خبره ده که مطلع (د میاشتی د راختو ځای) صاف وی یا نه وی۔ نو یو دیرشمه ورځ دی روژه نه نیسی او دغه ورځ دی د کوچنی اختر د میاشتی اول تاریخ و بلل سی۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۶ اول ټوک در مختار ص۱۴۹ اول ټوک بحرالرائق ص۲۶۷ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:۔ که د میاشتی پر دیرشم تاریخ (نیټه) د ورځی میاشت ولیدل

سی نو دغه میاشت دړا تلونکی شپی بلل کیږی او دغه ورځ دړا تلونکی میاشت
تاریخ نه بلل کیږی برابره خبره ده که دغه لیدل د میاشتی د زوال څخه
مخکی وی یا وروسته وی - (در مختار رد المحتار ص۹۵ دوهم ټوک)

④ مسئله:- هر څوک چه د روژی یا اختر میاشت وینی او دیو سبب څخه
دده شهادت شرعًا قابل د اعتبار نه وبلل سی پرده باندی د دغود واړو ورځ
روژه نیول واجب ده - (در مختار ص۱۳۵ اول ټوک بحر الرائق ص۲۶۵ دوهم ټوک

⑤ مسئله:- که یو چا د هیری په سبب سره په روژه کښی خوړل، چیښل
یا جماع (نژدیکت) وکړی او بیائی داسی فکر وکړی چه زما روژه ماته سوه
په دغه فکر سره ئی قصدًا خوړل او چیښل وکړه نو د ده روژه په دغه صورت
کښی فاسدیږی او کفاره نه لازمیږی فقط قضا واجبیږی او که په مسئله
خبر وی او بیائی روژه هیره وی خوړل، چیښل او داسی نور وکړی نو د غسی
کولو ورسته قصدًا روژه ماته کړی نو د جماع په صورت کښی کفاره هم
لازمیږی او د خوراک په صورت کښی په دغه دخت کښی هم صرف قضا
لازمیږی - (در مختار ص۱۶۳ اول ټوک)

⑥ مسئله:- یو چا بی اختیاره قی وواهی یا بی اختیاره انزال سو یا صرف د
سپڅی یا بل شی دکتلو څخه انزال سو د مسئلی دیته معلومولو په سبب ده
دا فکر وکړی چه زما روژه ماته سوه او قصدًا ده خوړل او چیښل وکړه
نو روژه ئی فاسده او فقط قضا لازمیږی کفاره نه لازمیږی او که چیرته
مسئله ورته معلومه وی چه په دغه سره روژه نه ماتیږی او بیائی قصدًا
روژه د خوړلو نو کفاره هم لازمیږی - (در مختار ص۱۵ اول ټوک)

⑦ مسئله:- که چیرته یو سړی د خپل ذکر په سوری کښی یو شی واچوی
نو دغه شی چونکه ونښته نه رسیږی نو د دی سبب ئی روژه نه ماتیږی
(شرح البدایه ص۲۰۰ اول ټوک در مختار ص۱۵ اول ټوک)

⑧ مسئله:- یو چا دیو مړی سپڅی سره یا د یو داسی کمسینی نابالغی انجیلی
سره چه د دی سره د جماع کولو او نژدیکت کولو رغبت او مینه نه وی یا ئی
د حیوان سره نژدیکت او جماع وکړه یا ئی یو څوک په غیږ کښی ونیوی - یا ئی
مچه خندی واخسته یا ئی مشت زنی (مټ وهل) وکړه او یه د غو ټولو صورتونو

کښی انزال سو نو روژه ئی فاسدیږی او کفاره نه واجبیږی۔ (در مختار ص۱۵۰ اول پتوک هدایه ص۱۹۹ اول پتوک)

(۹) مسئله:- دیو روژاتی بښځی سره ئی په زور یا د خوب یا لیونتوب په حال کښی نژدیکت وکړی نو د بښځی روژه فاسدیږی پر بښځه باندی فقط قضا لازمیږی او که سړی هم روژاتی وی نو پرده باندی قضا او کفاره دواړه لازمیږی۔ (در مختار رد المحتار ص۱۰۴ دوهم پتوک)

(۱۰) مسئله:- هغه څوک چه په ده کښی د روژی پتول شرطونه موجود وی د روژی د میاشتی په دغه اداي روژه کښی چه د دی نیت د صبح صادق څخه مخکی سوی وی قصداً د خولی دلاری څخه ولس نه یو داسی شی ور داخل کړی چه د انسان په دوا یا غذا کښی استعمالیږی یعنی د ده د استعمال څخه یو قسم بدنی نفعه یا خوند ولذت متصور کیږی او د دغه شی د استعمال څخه سلیم الطبع (برابر طبیعته) انسان نفرت نه کوی که څه هم دغه شی چیرلږ وی نو داسی حده که د یوی کنجتی په قدر وی یا نژدیکت وکړی یعنی جماع وکړی لواطت هم په دغه حکم کښی دی۔ په جماع (نژدیکت) کښی د ذکر د سړی داخلیدل کافی دی انزالیدل هم شرط نه دی په دغو پولو صورتونو کښی قضا او کفاره دواړه واجبیږی۔ مګر داخبره شرط ده چه جماع (نژدیکت) د داسی بښځی سره وی چه د نژدیکت او جماع قابله وی پیره کمسینه انجیلی نه وی چه دا بالکل د نژدیکت قابله نه وی۔ (شرح التنویر ص۱۵۱ اول پتوک هدایه ص۱۹۹)

(۱۱) مسئله:- که یو څوک په تیلو سره سر غوړ کړی یا ستړگی توری کړی یا یو څوک په خپله (دُبَرَه) کښی وچ شی داخل کړی او د دغه شی سر باندی وی یا یو لوند شی داخل کړی او د دغه د حقنی (امالی) ترځایه نه ورسیږی نو چونکه د دغه شیان ترنسه پوری نه رسیږی د دی سببه روژه نه فاسدیږی او نه کفاره واجبیږی او نه قضا واجبیږی او که وچ شی مثلاً پنبه، پتوکر، او داسی بل شی یو څوک په خپله دُبَرَه کښی داخل کړی او د دغه ئی پتول د ننه او پټ کړی یا ئی لوند شی داخل کړی او د حقنی یعنی د امالی ترځایه پوری ورسیدی نو روژه فاسدیږی او فقط قضا واجبیږی

(در مختار رد المحتار ص۹۹ دوهم ټوک عالمگیری ص۲۰۲ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- کوم څوک چه د چیلم څکولو عملیان وی یا دیو نفعی په غرض سره چیلم وڅکوی د روژی په حال کښی نو پردی باندی هم قضا او کفاره دواړه واجب دی۔ (در مختار رد المحتار ص۹۹ دوهم ټوک)

(۱۳) مسئله:- که یو بښځی د روژی په حال کښی پرخپل ځان باندی یولیونی یا کوچنی نابالغه هلک نه قدرت ورکړی یعنی د دوی څخه ئی د جماع او د نژدیکت کار واخیستی بیا هم پردی باندی قضا او کفاره دواړه واجبیږی (فتاوی هندیه ص۲۰۳ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- په جماع (نژدیکت) کښی د بښځی او نر دواړه عاقل والی شرط نه دی تر دا سی حده که یو لیونی وی او بل عاقل وی نو پر عاقل باندی کفاره لازمیږی۔ (رد المحتار ص۱۰۴ دوهم ټوک)

(۱۵) مسئله:- که چیری سړی د خپل ذکر په سوری کښی یوشی لکه تیل یا اوبه واچوی برابره خبره ده که ئی د پیچکاری په ذریعه ور واچوی یا ئی د غسی ور واچوی یا سلائی یا بل شی ور داخل کړی که څه هم د غه شیان ترمثانی پورې ورسیږی روژه نه فاسدیږی۔ (در مختار ص۱۵ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- د خوب په حال کښی دانزالیدو څخه چه و د غه ته احتلام وائی که څه هم بیله غسل کولو روژه ونیسی روژه نه فاسدیږی د غه رنګه که دیو بښځی په لیدلو سره یا د د ی د فرج په لیدلو سره یا په زړه کښی د یو شهوانی نکر په کولو سره انزالیدل موجود سی نو بیا هم روژه نه فاسدیږی (شرح البدایه ص۱۹۷ اول ټوک در مختار ص۱۴۹ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- یو چا په دی سبب سره چه د ده روژه هیره وه یا تر اوسه یوڅه شپه پاته وه د دی سبب نه ئی جماع او نژدیکت شروع کړی یا ئی چښل او خوړل شروع کړه او تر دغه ور وسته چه څرنګه ئی روژه یاد سوه یا چه څرنګه سپیدی را وچولی نو ګړی علیحده سو نژدیکت ئی پریښوو ی یا ئی ګوله د خولی څخه وغورځوله که څه هم تر علیحده کیدو ور وسته منی هم را وزی بیا هم روژه نه فاسدیږی او دا انزال د احتلام (د شیطان خطا ایستو) په حکم کښی دی۔ (شرح التنویر ص۱۴۹ ص۱۵۰ بحر الرائق ص۲۰۲ دوهم ټوک)

(۱۸) مسئله:- په مسواک وهلو سره که څه هم تر زوال وروسته وی. که تازه لرگی وی یا وچ وی وروڅی ته هیڅ تاوان نه رسیږی. (شرح البدایه ص۲۰۱ اول پتوک فتاوی هندیه ص۱۹۷ اول پتوک درمختار ص۱۵۲ اول پتوک)

(۱۹) مسئله:- د بنځی څخه مچه اخیستل او ددی سره بغل گیره کیدل مکروه دی په شرط ددی چه د انزال بیره وی یاد خپل نفس د بې اختیاره کیدو بیره وی او په دغه حال کښی د جماع کولو بیره وی اوکه دغه بیره او اندیښنه نه وی نو بیا مکروه نه دی. (شرح البدایه ص۱۹۷ اول پتوک بحرالرائق ص۲۷۲ دوهم پتوک عالمگیری ص۱۹۸ اول پتوک)

(۲۰) مسئله:- د بنځی یا بل چاشونډان په خوله کښی نیول او مباشرت فاحشه یعنی خاص بدن او اندام لغړ ورسره مښلول بیله داخلیدو په هر حال کښی مکروه دی برابره خبره ده که د انزال یا جماع (نژدیکت) بیره وی یا نه وی. (فتاوی هندیه ص۱۹۸ اول پتوک بحرالرائق ص۲۷۲ دوهم پتوک هدایه ص۱۹۷ اول پتوک ردالمحتار ص۱۱۲ دوهم پتوک)

(۲۱) مسئله:- د جماع (نژدیکت) څخه ماسیوای د بل هر سبب څخه که کفاره واجب سوی وی او یوه کفاره ئې لا ادا کړې نه وی چه دوهمه واجب سی

بهشتی گوهر یوولسمه حصه ۱۷۵ بهشتی گوهر یوولسمه حصه

نو د خو د وار د یارہ فقط یوہ کفارہ کافی دہ کہ څه هم یوہ کفارہ د روژ
دیوی میاشتی وی اوبله کفارہ د روژی دبلی میاشتی وی۔ لیکن د جماع نژیکت
په سبب چه هرځوندی روژی فاسدی سوی وی نو که چیری دغه روژ
دیوی میاشتی د روژی وی نو فقط یوہ کفارہ کافی دہ اوکه د دوو (۲) میاشت
د روژو وی نو دهری میاشتی د روژو کفارہ به جلا جلا اداکوی که څ
هم اوله کفارہ ئی نه وی اداکړی۔ (در مختار صـ۱۱ دوهم پتوک بحر الرائق
صـ۲۱۷ دوهم پتوک)

(۲۲) مسئله:۔ که یو مقیم د روژی تر نیت کولو وروسته مسافر سی او بیر
څه لیری ولاړ سی دیو هیر سوی شی د راخیستلو د پاره بیرته خپل کور ت
راسی او چه کورته راورسیږی روژه فاسده کړی نو پرده کفارہ واجبیږ
حکه چه پرده باندی په دغه وخت کښی چه کورته راغلی د مسافر اطلاق
نه کیدی که څه هم کورته داوسیدو په نیت نه دی راغلی اونه کور
بیادی اوسیدلی دی حکه چه دهیر سوی شی د راخیستو وروسته دکور
دستی وتلی دی۔ (فتاوی هندیه صـ۲۰۵ اول پتوک)

د اعتکاف مسئلی

(۱) مسئله:۔ د اعتکاف د پاره د ډیرې شیان ضروری دی (۱) په هغه مسجد کی
اعتکاف کول دی چه په هغه کښی لمونځ په جماعت سره کیږی (۲) د اعتکاف په
نیت کښینستل دی پس نو بیله قصده او ارادی وکښینستلو ته اعتکاف نه ویل
کیږی څرنګه چه د نیت د صحیح والی د پاره د نیت کونکی مسلمان والی او عاقلوالی
شرط دی نو دی سببه څخه د عقل او اسلام شرط والی هم د نیت په ضمن کښی راغلی
(۳) د حیض، نفاس او جنابت څخه پاکوالی او صفا والی۔ (فتاوی هندیه صـ۲۰۹
اول پتوک و در مختار صـ۱۵۵ اول پتوک و بحر الرائق صـ۲۹۹ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:۔ تر ټولو افضل او غوره هغه اعتکاف دی چه په مسجد الحرام یعنی
په کعبه مکرمه کښی وی تر دغه اعتکاف وروسته د مسجد نبوی اعتکاف دی
تر دغه وروسته د بیت المقدس اعتکاف دی تر دغه وروسته د جامع مسجد
اعتکاف دی چه په دې کښی د جماعت دلمانځه انتظام وی که په جامع مسجد کی

د جماعت د لمانځه انتظام نه وی نو بیاد محلی مسجد دی تر دغه وروسته هغه مسجد دی چه په هغه کښی غټه جمعه (جماعت) کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۲۰۹ اول پتوک رد المحتار ص۱۲۹ دوهم پتوک)

(۳) مسئله:۔ د اعتکاف نذر (۳) قسمونه دی واجب (۱)، سنت مؤکد (۲) او مستحب (۳)۔ واجب هغه دی چه د هغه نذر وکړل سی نذر برابره خبره ده که غیر معلق وی لکه یو څوک چه بیله کومه شرطه د اعتکاف نذر وکړی یا معلق وی لکه یو څوک چه د اشرط کړی که چیری زما فلانی کار وسو نو زه اعتکاف کوم۔ سنت مؤکد اعتکاف هغه دی چه د روژی د میاشتی په اخیری لسو (۱۰) شپو کښی اعتکاف کول د نبی صلی الله علیه وآله وسلم څخه بالالتزام په صحیح حدیثو نوکښی رانقل سوید ی مگر د بعضو په کولوسره د پتولو د ذمی څخه ساقط یږی۔ مستحب اعتکاف هغه دی چه د روژی د آخری عشری (اخیرو لسو (۱۰) ورځو) څخه ما سیوی په یوبل وخت کښی اعتکاف وسی برابره خبره ده که د روژی په اولو لسو (۱۰) و ورځو کښی وی یا د ما بین په لسو (۱۰) ورځو کښی وی یا په یوبله میاشت کښی وی (در مختار ص۱۵۵ و ص۱۵۶ اول پتوک وعالمگیری ص۲۰۹ اول پتوک وبحر ص۲۹۹ دوهم پتوک)

(۴) مسئله:۔ د واجب اعتکاف د پاره روژه شرط ده هر وخت چه څوک اعتکاف کوی نو دده د پاره روژه نیول هم ضروری ده بلکه که دا نیت هم وکړی چه زه روژه نه نیسم بیا هم دده د پاره روژه نیول لازمه ده د دغی وجهی څخه که یو څوک د شپی د اعتکاف نیت وکړی نو د غه نیت لغوه او بیکاره بلل کیږی حکه چه د روژی وخت شپه نه ده لیکن که د شپی او د رڼی د واړو نیت وکړی یا فقط د یو څو ورځو نیت وکړی نو بیا شپه ضمناً داخلیږی او د شپی هم اعتکاف کول ضروری کیږی او که ئی خاص یوازی د یوی ورځی د اعتکاف نذر وکړی نو بیا شپه ضمناً نه داخلیږی خاص د اعتکاف د پاره د روژی نیول ضروری نه دی که د هر غرض د پاره روژه و نیول سی د اعتکاف د پاره کافی ده مثلاً یو څوک د روژی په میاشت کښی اعتکاف نذر کړی نو د روژی د میاشتی روژه د دغه اعتکاف د پاره کافی ده۔ مگر د دغی روژی د واجب والی ضروری دی نفل روژه د ده د پاره کافی نه دی مثلاً یو څوک نفل روژه و نیسی او د روسته تر دغه د دغی ورځی اعتکاف نذر کړی نو نه صحیح کیږی

که یو څوک د پټو لې میاشتې د روژې د اعتکاف نذر وکړي او د روژې په میاشت کښې اتفاقاً اعتکاف څنډې پاته سې نو په بله میاشت کښې اعتکاف کول د دغه پاته سوی اعتکاف په بدله کښې صحیح کیږي او د دې نذر پوره کیږي مګر پیوسته روژې نیول او په دوی کښې اعتکاف کول ضروري دي۔ (در مختار ص۱۵۶ اول پټوک و بحر ص۳۰۰ دوهم پټوک و عالمګیري ص۲۰۹ اول پټوک)

(۵) مسئله:- په سنت اعتکاف کښې د روژې څخه خامخا یعنې عاداً وي ددې سبب د دغه سنت اعتکاف د پاره د روژې د شرط لوضروري نه دي۔ (رد المحتار ص۱۳ دوهم پټوک)

(۶) مسئله:- په مستحب اعتکاف کښې هم احتیاط دادي چه روژه شرط دي که او معتمد قول دادي چه شرط نه دي۔ (در مختار شامي ص۲۰۹ دوهم پټوک)

(۷) مسئله:- واجب اعتکاف لږ تر لږه یوه ورځ کیدای سي او زیات هر څوندي چه ئې نیت وکړي کیدای سي او اعتکاف مسنون (سنت اعتکاف) یوه عشره (لسیزه) دي ځکه چه مسنون اعتکاف د روژې په اخیر کې لسیزه کښې کیږي او مستحب اعتکاف د پاره هیڅ مقدار مقرر نه دي یوه دقیقه بلکه تر دغه کم هم کیدای سي۔ (مجمع الانهر ص۲۵۵ اول پټوک)

(۸) مسئله:- د اعتکاف په حال کښې دوه قسمه افعال حرام دي یعنې د دوی په کولو سره اعتکاف ناسیږي که چیرې واجب یا سنت اعتکاف وي نو به ئې قضا راوړې او که چیرې مستحب اعتکاف وي بیا په دغسې افعالو سره ختمیږي ځکه چه د مستحب اعتکاف د پاره هیڅ موده مقرره نه ده نو قضا راوړل ئې هم نسته۔ (در مختار ص۱۵۷ اول پټوک بحر الرائق ص۳۰۱ دوهم پټوک)

اول قسم حرام افعال:- د اعتکاف د ځای څخه بیله ضرورته د باندې وتل

ضرورت عام دی برابره خبره ده که طبعی وی یا شرعی وی طبعی لکه وړی بولی، غټې بولی د جنابت د پاره غسل او وړی خوړل هم په ضرورت طبعی کښی داخل دی په شرط د دی چه یو څوک نه وی چه معتکف ته ډوډی ورو وړی او شرعی ضرورت لکه د جمعی لمونځ - (در مختار ص۱۵۷ اول ټوک بحرالرائق ص۳۰۳ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- دکوم ضرورت د پاره چه د خپل اعتکاف د مسجد څخه د باندی ولاړ سی ترضرورت پوره کولو وروسته دی هلته څنډه نه کوی او هر څوندی چه کیدای سی په داسی ځای کښی دی خپل ضرورت رفعه کړی چه و د غه مسجد ته ډیر نژدی وی مثلاً که د بولو د پاره ولاړ سی او د ده کور لیری وی او د یو دوست یا بل چا کور ئې نژدی وی نو د دوست کور ته دی ورسی لیکن که د ده طبیعت د خپل کور سره الفت او عادت نیولی وی وبل ځای نه د تللو څخه د ده ضرورت نه رفعه کیږی نو بیا وخپل کور ته تلل روا دی. او که د جمعی د لمانځه د پاره یو مسجد ته ولاړ سی هلته پسی کښینی او هلته خپل اعتکاف پوره کړی بیا هم روا دی مګر مکروه دی - (شامی ص۱۸۰ ډوهم ټوک در مختار رد المحتار ص۱۳۲ ص۱۳۳ دوهم ټوک بحرالرائق ص۳۰۳ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله:- په هیره سره هم د خپل اعتکاف د مسجد څخه دیوی دقیقی د پاره وتل یا کم ترډوی دقیقی روانه دی اعتکاف په فاسدیږی - (شرح التنویر ص۱۵۵ اول ټوک بحرالرائق ص۳۰۲ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- کوم عذر چه ډیر نه پیښیږی د هغه د پاره د خپل اعتکاف ځای پریښوول د اعتکاف سره ضد دی مثلاً دیو مریض د پوښتنی د پاره یا په اډبو کښی دیو غرق سوی د خلاصولو د پاره یا د اور د وژلو د پاره او یا د مسجد د نړیدو د ډیری څخه د باندی ووزی که څه هم په دی صورتونو کښی د مسجد څخه د باندی وتل ګناه نه ده بلکه د ځان خلاصولو د پاره وتل ضروری دی مګر اعتکاف ئې نه پاته کیږی څنګه یزی که دیو طبعی یا شرعی عذر د پاره ووزی او په دغه مابین کښی برابره خبره ده که ترضرورت پوره کولو مخکی یا وروسته دیو مریض پوښتنی ته ولاړ سی یا د جنازی په لمانځه کښی شریک سی نو پروا نه لری. (در مختار رد المحتار ص۱۳۲-۱۳۳ دوهم ټوک بحرالرائق ص۳۰۲ دوهم ټوک عالمګیری ص۲۱۱ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- د جمعې د لمانځه د پاره د ډاسی وخت ولاړ سی چه تحیة المسجد ودجمعې سنت هلته کولای سی او د جمعې نه لمانځه وروسته هم د سنتو د پاره پاته کیدل روا دی د دغو شیانو د کولو د وخت مقدار د اعتکاف کونکی وړاندې غلطه سی یعنی یوڅه ته ورسیږی کنه چیرې دده رایه او اندازه غلطه سی یعنی یوڅه مخکې ودسیږی نو هیڅ پروا نه لری - (بحرالرائق ص۳۲۲ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- که یو څوک په زور سره د اعتکاف ځخه وایستل سی بیا هم دده اعتکاف فاسدیږی مثلاً د یو جرم په سبب د حاکم وخت د طرف ځخه په ده پسی مکتوب او وارنټ راغلی وی او سپاهیان دی ګرفتار کړی اوروان ئی کړی یا دیوچا قرض او پور ځندی اخلی د باندی د مسجد ځخه ئی راوباسی (رد المحتار ص۱۳۳ دوهم ټوک عالمګیری ص۲۱۱ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- دغه رنګه که د یو شرعی یا طبعی ضرورت په وجه وونږی او په لاړکښی قرض غوښتونکی ټینګ کړی یا مریض سی بیاد اعتکاف ترځایه پورې رسیدو کښی ځنډ راسی بیا هم اعتکاف فاسدیږی - درمختار ص۱۳۳ دوهم ټوک عالمګیری ص۲۱۱ اول ټوک)

دوهم قسم حرام افعال:- یعنی دوهم قسم هغه افعال او کارونه دی چه په اعتکاف کښی ناروا او حرام دی - جماع او داسی بل شی کول برابره خبره ده که په قصد سره وی یا سهواً وسی د اعتکاف د هیریدو په سبب که جماع (نژدیکت) په مسجد کښی وسی یا د مسجد ځخه د باندی وسی په دغو ټولو صورتونو کښی اعتکاف فاسدیږی کوم افعال چه طلب کونکی د نژدیکت وی لکه مچه اخستل، غاړه په غاړه کیدل دغه هم د اعتکاف په حال کښی ناروا او حرام دی مګر په دوی سره اعتکاف نه فاسدیږی تر څو چه انزالیدل نه وی سوی لیکن که دد غو افعالو په وجه څوک انزال سی نو بیا اعتکاف فاسدیږی مګر که صرف د فکر او خیال په وجه سره انزال سی نو اعتکاف نه فاسدیږی (فتاوی هندیه ص۲۱۱ اول ټوک درمختار ص۱۵۸ اول ټوک بحرالرائق ص۳۰۴ دوهم ټوک)

(۱۵) مسئله:- د اعتکاف په حال کښی بیله ضرورته په بودنیو کارونو سره مشغولیدل مکروه تحریمی دی مثلاً بی ضرورته خرید او فروخت یا د تجارت یو کار کول مګر که یو کار د ډیر ضروری وی مثلاً په کور کښی د خورک شی نه وی

او دده څخه ماسیوی یو بل څوک چه قابل د باور وی د شی د رانیولو د پاره نه وی په داسی وخت کښی خرید او فروخت کول روا دی مگر د مسجد نه د مبیعی (هغه شی چه خرڅیږی) راوړل په هیڅ حال کښی روا نه دی په شرط دی چه د مسجد نه د راوړلو په صورت کښی د مسجد د خرابیدو یا د ځای نیولو بیره وی لیکن که د مسجد د خرابیدو یا د ځای د نیولو بیره نه وی نو بیا ئی د بعضو په نزد راوړل روا دی ۔(رد المحتار ص۱۳۴ دوهم ټوک بحر الرائق ص۳۰۳ دوهم ټوک)

(۱۶) مسئله :۔ د اعتکاف په حال کښی بالکل خاموشه او پټه خوله کښینستل هم مکروه تحریمی دی او بدی خبری دی هم نه کوی او نه دی دروغ نه دی غیبت کوی بلکه د قرآن شریف وظیفه دی کوی یا دی د دینی علم په زده کولو و بل نه ورښولو او عبادت کولو کښی خپل وخت نه صرف کړی ۔ خلاصه ئی داده چه پټه خوله کښینستل هیڅ عبادت نه دی ۔(در مختار و بحر الرائق ص۳۰۳ دوهم ټوک عالمگیری ص۲۱۱ اول ټوک)

د زکوٰة بیان

(۱) مسئله :۔ کال تیریدل په پټولو کښی شرط دی ۔(شرح البدایه ص۱۶۵ ص۱۶۸ اول ټوک عالمگیری ص۱۷۲ اول ټوک)

(۲) مسئله :۔ یو قسم د حیوانانو چه په دوی کښی زکوٰة فرض دی سائمه دی ۔ او سائمه هغه حیوانات دی چه په دوی کښی دغه شیان موجود وی (۱) د کال اکثره حصه به په پوولو سره گذاره کوی چه پرکور به درول سوی نه وی چه پرځای وابنه ورکوی که نیم کال په پوولو سره گذاره کوی او نیم کال پرکور ولاړ وی وابنه ورا چول کیږی نو بیا سائمه نه دی. دغه رنگه که وابنه د دوی د پاره وکورنه را غوښتل کیږی که په قیمت سره وی یا بی قیمته نو بیا سائمه نه دی. (۲) د شیدو په غرض یا د نسل د زیاتوالی د پاره یا د تیارو والی د پاره به ئی درولی وی که د شیدو او نسل او تیارو والی په غرض ئی نه وی درولی او ساتلی بلکه د غوښو د خوړلو یا د سپور تیا د پاره ئی درولی وی نو بیا سائمه نه ورته ویل کیږی ۔

(در مختار رد المحتار ص۱۵ دوهم ټوک عالمګیری ص۱۷۴ اول ټوک بحر الرائق ص۲۱۲ دوهم ټوک)

دسائمه حیوانا تو د زکوٰة بیان

(۱) مسئله:- د سائمه حیوانا تو په زکوٰة کښی دا شرط دی چه هغه اوښ، اوښه، غوا، غویی، ګامیښه، سانډه، سیرلی بزه، پسه یا میږ وی په څنګلی او وحشی حیوانا تو کښی نکه هوسی او دا سی نور وکښی زکوٰة نه فرض کیږی لیکن که د تجارت په نیت را نیول سی و سائل سی نو په دوی کښی د تجارت زکوٰة فرض دی که یو حیوان دکورنی حیوان او یا غی او وحشی حیوان د واړو څخه پیدا سوی وی نو که چیری د دغه حیوان هور کورنی او رعیته وی نو دغه حیوان هم رعیت او کورنی بلل کیږی او که ئی هور یا غی او وحشی وی نو دغه حیوان هم یا غی او وحشی بلل کیږی۔ (رد المحتار ص۱۵ دوهم ټوک)

مثال:- د بزی او نر هوسی څخه که یو حیوان پیدا سوی وی نو دغه د بزی په حکم کښی دی او د وحشی غوایی او کورنی غوا څخه که یو حیوان پیدا سوی وی نو هغه د غوا په حکم کښی دی.

(۲) مسئله:- هر حیوان چه سائمه وی او د کال په مابین کښی د تجارت په نیت سره خرڅ کړل سی نو د دغه حیوان د دغه کال زکوٰة ئی پر مالک نسته او د کوم وخت څخه چه دا د تجارت نیت کړیدی د دغه وخت څخه د دی حیوان تجارتی کال شروع کیږی۔ (در مختار ص۱۳۱ اول ټوک)

(۳) مسئله:- د حیوانا تو په بچیانو کښی لکه وریان، سیرلیان او دا سی نور که چیری یوازی وی زکوٰة نه فرض کیږی لیکن که د دوی سره غټ حیوانان هم وی که څه هم غټ حیوان په دوی کښی فقط یوه دانه وی نو بیا په دوی کښی هم زکوٰة فرض کیږی او په زکوٰة کښی هغه غټ حیوان ورکول کیږی او د کال تر پوره کیدو

ورو سته که هغه عنت حیوانات یا هغه یو حیوان مړ سی نو زکوٰة ساقطیږی.
(در مختار ص۱۳۳ اول پټوک بحرالرائق ص۲۱۷ دوهم پټوک عالمګیری ص۱۷۵ ج۱)

④ مسئله:- د وقف پر حیوانا نو زکوٰة فرض نه دی. (در مختار ص۱۳۱ ج۱)

⑤ مسئله:- پر آسانو هغه وخت چه دوی سائمه وی نر او ښځی سره ګډ وی زکوٰة واجب او فرض دی یا دی دیوه آس په مقابل کښی یو دینار یعنی پاؤکم درې تولی سپین زر ورکړی یا دی د پټولو اسانو قیمت اندازه کړی او د دغه قیمت څلویښتمه حصه دی ورکړی. (شرح البدایة ص۱۷۱ اول پټوک)

⑥ مسئله:- په حزو او غاټرو کښی هر وخت چه د تجارت د پاره نه وی زکوٰة فرض نه دی اوکه د تجارت د پاره وه بیا په دوی کښی زکوٰة فرض دی. (در مختار ص۱۳۳ اول پټوک)

داوښانونصاب

دا خبره په یاد کښی ولری چه په پنځو اوښانو کښی زکوٰة فرض دی. تر پنځو په کمو کښی زکوٰة نسته په پنځو اوښانو کښی یو پسه او په لسو[۱۰] کښی دوه[۲] پسونه دی په پنځلسو[۱۵] کښی درې[۳] او په شلو[۲۰] کښی څلور[۴] پسونه ورکول فرض دی برابره خبره ده که نران وی که ښځی وی مګر تر یوه کال به کم نه وی او په مابین کښی بیا هیڅ نسته بیا په پنځویشتو[۲۵] اوښانو کښی یوه داسی اوښه ده چه دری کاله شروع وی دشپږ[۲۶] ویشت څخه تر پنځه[۳۵] دیرش پوری هیڅ شی نسته بیا په شپږ[۳۶] دیرش اوښانو کښی یو داسی اوښه ده چه دری کاله شروع سوی وی او ده[۳۷] دیرش څخه تر پنځه[۴۵] څلویښت پوری هیڅ شی نسته بیا په شپږ[۴۶] څلویښت اوښانو کښی یو داسی اوښه ده چه دری کاله شروع سوی وی او ده[۴۷] څلویښت څخه تر شپیته[۶۰] پوری هیڅ شی نسته بیا په یو شپیته[۶۱] اوښانو کښی یوه داسی اوښه ده چه پنځم کال ئی شروع سوی وی. اودو شپیته[۶۲] څخه تر پنځه اویا[۷۵] پوری هیڅ شی نسته بیا په شپږ اویا[۷۶] اوښانو کښی دوی داسی اوښی دی چه دری کاله شروع سوی وی اودا وو ه اویا[۷۷] څخه تر نوی[۹۰] پوری هیڅ شی نسته بیا په یو نوی[۹۱] اوښانو کښی دوی داسی اوښی دی چه څلرم کال ئی شروع سوی وی اودو نیوی[۹۲] څخه تر یو سل[۱۲۰] وشلو پوری هیڅ شی نسته بیا چه تر یو سل وشلو

زیات سی نو بیانوی حساب کیږی یعنی که څلور زیات وی هیڅ شی نسته هر وخت چه زیادت تر پنځو (۵) پوری وسیږی یعنی یو (۱) سل (۱۰۰) او پنځویشت سی نو بیا پسه او دوی هغه او بنی دی چه دد وی څلرم کال شروع سوی وی دغه رنګه په هر و پنځو کښی یو (۱) پسه زیاتیږی تر یو سل (۱۰۰) او څلور څلویښتو (۴۰) پوری او چه یو سل او پنځه څلویښت (۱۴۵) سی نو بیا دد و هم کال او بنه او دوی دری (۳) کالو اوښی دی بیا تر یو سل نه څلویښتو (۱۴۰) پوری او هر وخت چه یو سل پنځوس (۱۵۰) سی نو دری (۳) څلور کلنی اوښان واجبیږی.

هر وخت چه تر دغه هم زیات سی بیا د نوی سره څخه حساب شروع کیږی یعنی په پنځو اوښانو کښی تر څلیر (۲۴) و شپږو پوری پوری په مقابل کښی دهر و پنځو اوښانو یو پسه سره د دری (۳) و څلور کلنیو اوښانو واجبیږی. او په پنځویشتو (۲۵) سی یو سره د دد و هم کال او بنه دکا او په شپږ (۳۶) دیرش کښی یو سره د دد و یم کال (دری کلنی) اوښه د یا چه یو سل (۱۰۰) او شپږ نیوی سی نو څلور دری (۳) کلنی اوښان واجبیږی تر دو و سو (۲۰۰) پوری یا چه هر وخت د دغه څخه هم زیات سی نو هم بښه دغه رنګه حساب چلیږی لکه چه تر یو نیم سل ورو سته چلیدی. (شرح الوقایه ص ۱۲۵-۱۲۶ اول ټوک)

(۱) مسئله:- د اوښانو په زکوٰة کښی که د اوښانو د جنسه څخه زکوٰة ورکول غواړی نو باید ښځه اوښه ورکړی مګر که نر اوښ د اوښی سره په بیه کښی برابر وو نو بیا نر اوښ ورکول هم روا دی. (در مختار ص ۱۳۲ اول ټوک)

د غویو او ګامیښو نصاب

غوایی، غواوی او ګامیښی د واړه یو قسم دی د د واړو نصاب هم یو دی که د د واړو د یوځای کولو څخه نصاب پوره کیدی نو د واړه سره یوځای کوو. مثلاً مثل غواوی وی او لس ګامیښی نو د واړه یوځای کوو د دیرشو نصاب پوره کوو مګر په زکوٰة کښی هغه حیوان ورکول کیږی چه د هغه شمیر په نصاب کښی زیات وی یعنی که غواوی زیاتی وی نو په زکوٰة کښی د غوا جنس ورکول کیږی او که ګامیښی زیاتی وی نو د ګامیښی جنس ورکول کیږی او که د واړه برابر وی نو په اعلی قسم کښی چه کوم حیوان د کم قیمت وی یا په ادنیٰ

سم کښی چه کوم حیوان د زیات قیمت وی د رکول کیږی پس نو په دیرشو(۳۰) غواوو او
میښو کښی د غوا یا گامیښی یو بچی دی چه پوره د یوه کال وی که نر وی که
څه وی تر دیرشو(۳۰) په کم کښی هیڅ شی نسته او تر دیرشو(۳۰) روسته بیا تر
ه دیرشو(۳۹) پورې هم هیڅ شی نسته په څلویښتو(۴۰) غواوو او گامیښو کښی پوره
د دوو کلو بچی دی که نر وی که ښځه وی دیو څلویښت(۴۱) څخه بیا تر نه پنځوس(۵۹)
وړی شی نسته هر هغه وخت چه شپیته(۶۰) ته ورسیږی نو دیوه یوه کال دوه
چیان په زکوٰة کښی د رکول کیږی. بیا چه تر شپیته(۶۰) زیات سی نو په هر
یرشو کښی دیوه کال بچی او په هر څلویښتو کښی د دوو(۲) کالو بچی په زکوٰة کښی
د رکول کیږی.

مثلاً چه اویا(۷۰) غوایې سی نو یو دیوه کال او بل د دوو(۲) کالو بچی په زکوٰة کښی
د رکول کیږی ځکه چه په اویا(۷۰) کښی یو د دیرشو(۳۰) نصاب دی او بل د څلویښتو(۴۰)
نصاب دی او هر وخت چه اتیا(۸۰) سی نو دوه(۲) د دوو کالو بچیان په زکوٰة کښی
د رکول کیږی ځکه چه په اتیا(۸۰) کښی د څلویښتو(۴۰) دوه نصابه دی او په نوی(۹۰)
ښی دری دیوه یوه کال بچیان په زکوٰة کښی د رکول کیږی ځکه چه په نوی(۹۰)
ښی د دیرشو(۳۰) دری نصابه دی او په سلو(۱۰۰) کښی دوه بچیان دیوه یوه کال او یو
چی د دوو کالو دی ځکه چه په سلو(۱۰۰) کښی دوه نصابه د دیرشو(۳۰) دی او یو نصاب
څلویښتو(۴۰) دی. لیکن یوځای چه د دوارو نصابونو حساب مختلفه نتیجه پیدا
وی نو هلته اختیار دی د هر نصاب چه اعتبار کوی مثلاً په یو سل او شلو(۱۲۰)
ښی څلور نصابه خو د دیرشو(۳۰) شوی او دری نصابه د څلویښتو دی او س تو اختیار
ی که د دیرشو(۳۰) نصاب اعتبار کوی دیوه یوه کال څلور بچیان ورکوی او که
څلویښتو(۴۰) نصاب اعتبار کوی نو د دوو دوو کلو دری بچیان دی ورکوی.

(در مختار رد المحتار ص۱۸ دوهم ټوک هدایة ص۱۶۹-۱۷۰ اول ټوک)

د بزو او میږو نصاب

د زکوٰة په بارہ کښی بزه او پسه (میږ - مږ) ټول یوشی دی برابره خبره
ده که پسه (مړیی) لمدارہ وی چه لمتروی - تنوالی - یا بلی لمه وی - که د
دوارو نصاب جلا جلا پوره وی نو د دوارو (یعنی بزو او پسو)

زکوٰة يوځای درکول کيږی او مجموعه (پتول) يو نصاب دی که دهريوه نصاب جلا جلا پوره نه وو ليکن ددواړو يوځای کولو او گډولو په وجه نصاب پوره کيدی بيا هم دواړه سره يوځای کوو او هريوچه زيات وی دهغه څخه زکوٰة درکول کيږی که دواړه برابروی بيا (خاوند دنصاب لره) اختيار دی دهريوه څخه چه زکوٰة درکوی

ترځلوينتو بزو يا پسو څخه په کم کښی هيڅ شی نسته په ځلوينتو بزو يا پسو کښی يوه بزه يا يو پسه په زکوٰة کښی درکول کيږی د ځلوينتو څخه وروسته بيلتر يوسل اوشلو پورې په زيادکښی هيڅ شی نسته. بيا په يوسل اويشتو کښی دوه پسونه يادوی بزی زکوٰة دی. اودې يوسل اودوه ويشت څخه بيا تردريو سوه پورې په زيادکښی هيڅ شی نسته بيا په دوه سوه اويوه کښی درې پسونه يا بزی دی. بيا تردريو سوه اوڼيزوپورې په زيادکښی هيڅ شی نسته بيا په څلور سوه کښی څلور پسونه يا بزی دی بيا ترځلور سوه چه زيات سی په هر سلو کښی يو پسه دی د سلو څخه چه کم دی نوزکوٰة نسته. (درمختار ص۱۳۳ اول پتوک ردالمحتار ص۱۹ دوهم پتوک هدايه ص۱۷۰ لومړی پتوک)

(۱) مسئله:- دبزواوپسو په زکوٰة کښی ذکر يا مينځی شرط نسته ليکن نر يوه کال کم وری يا هرعمری به په زکوٰة کښی نه درکوی. (درمختار ص۱۳۳ اول پتوک ردالمحتار ص۱۹ دوهم پتوک هدايه ص۱۷۰ اول پتوک)

د زکوٰة متفرق اجلاجلا مسئلی

(۱) مسئله:- که يوشوک حرام مال دحلال مال سره گډ کړی نو دپتولو زکوٰة به ورکوی. (درمختار شامی ص۲۵ څلورم پتوک بحرالرائق ص۲۰۵ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:- که یو څوک د زکوٰة تر واجبید و روسته مړ سی نو دده د مال څخه دی زکوٰة نه اخستل کیږی لیکن که ده وصیت کړی وی نو دده د مال د دریمی حصی څخه دی زکوٰة واخستل سی که څه هم د غه دریمه حصه د یوره زکوٰة کفایت نه وکړی او که د ده وارثان د ده د مال د دریمی حصی څخه پر زیادت ورکولو راضی وی نو هر څوند ی چه د غه وارثان پخپله خوښه سره ورکوی هغوند ی په زکوٰة کښی ورکول کیږی - (در مختار ص۱۳۴ ج۱)

(۳) مسئله:- تر یوه کال ورسته قرض غوښتونکی خپل قرض و پور وړی ته ورو بخښی نو قرض غوښتونکی به د د غه یوه کال زکوٰة نه ورکوی لیکن که هغه پور وړی دنیادار ه وی نو د ده ته ورو بخښل د مال هلاکت بلل کیږی او پور غوښتونکی به زکوٰة ورکوی ځکه چه د زکاتی مال په هلاکولو سره زکوٰة نه ساقطیږی - (در مختار ص۱۳۶ اول ټوک بحرالرائق ص۲۰۹ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- د فرض او واجب صدقاتو څخه علاوه صدقه ورکول په هغه وخت کښی مستحب دی چه مال د خپلو ضروریاتو نو او د خپل اهل و عیال د ضروریاتو څخه زائد او بالاوی که نه وی مکروه د ده د غه رنګه د خپل ټول مال خیراتول هم مکروه دی لیکن که ده ته پخپل ځان کښی توکل او صبر ور معلومیږی اهل و عیال ته ئی هم د تکلیف رسید و احتمال نه وی نو بیا مکروه نه دی بلکه بنه دی - (رد المحتار ص۸۱ اول ټوک)

(۵) مسئله:- که دیو نابالغی انجیلی نکاح و ترل سی او د ا د خپل میړه کور ته ور واده سی نو که د غه انجیلی دنیادار ه وی نو بیا د د ی د مال څخه سر سایه ورکول واجب د ه او که دنیادار ه نه وی نو باید وکتل سی که چیری د خپل میړه د خدمت کولو قابله وی یا د خپل میړه مړه د موانست قابله وی نو د د ی سر سایه نه پر پلار واجب د ه نه پر میړه واجب د ه نه پخپله پردی واجب د ه او که چیری د ا د خدمت قابله او د موانست قابله نه وی نو د د ی سر سایه د د ی د پلار پر ذمه واجبیږی او که د میړه وکور ته ور واده سوی نه وی که څه هم قابله د خدمت او موانست وی په هر حال کښی د د ی سر سایه د د ی پر پلار واجبیږی (در مختار و رد المحتار ص۷۴ دریم ټوک) بحرالرائق ص۲۵۳ دوهم ټوک)

تتمه نسته را تلونکی تتمه د پنځمی حصی شروع کیږی.

د بهشتی زیور د پنځمی حصی تتمه

دوریښتانو په بارهٔ کښی حکمونه

(۱) مسئله:- پرپتول سر د ویښتان پریښوول د غوږ د وتر نرمیو پورې یا یو څه تر دغه کښته سنت دی اوکه سر خریل نو پتول سر خریل سنت دی او سر کوچنی کول هم روا دی مگر د پتول سر د ویښتان کوچنی کول او د مخ د طرف ته د نورو سر تر د ویښتانو یو څه غټ پریښوول چه د ننه سبا پیشین دی روانه دی. د دغه رنگه د یو څه سر خریل او نور پرې نه شوول روانه دی یعنی پیکی روانه دی د دغه څخه به معلومه سوی وی چه د ننه سبا د مخ پیکی پریښوول یا کلکی خریل او د شا د خوا پیکی پرې نه شوول یا د مخ د خوا د ویښتانو اوږدول او د نور سر د ویښتان د هغو اوکوچنی کول روانه دی. (رد المحتار ص۴۰۲ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۲۳۸ څلرم ټوک)

(۲) مسئله:- که د ویښتان د پرغټ کړی نو د بنځو په شان پښتی اوکوځی پریښوول روانه دی. (در مختار ص۱۰۵ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۳۰۸ څلرم ټوک)

(۳) مسئله:- د بنځی د پاره د سر خریل یا وهل حرام دی په حدیث شریف کښی پرد غسی بنځه لعنت راغلی دی. (در مختار ص۱۰۵ فتاوی هندیه ص۳۰۸ څلرم ټوک)

(۴) مسئله:- د بریتو وهل چه د بالا شونډی سره برابرسی سنت دی او په خریلو کښی اختلاف راغلی دی بعضی بدعت وښته وایی بعضی اجازه ورکوی نو د دی سببه په نه خریلو کښی احتیاط دی. (رد المحتار ص۴۰۱ پنځم ټوک)

(۵) مسئله:- بریتو نه د وار وطرفونه اوږده پریښوول روا دی په شرط د دی چه پرشونډانو را ایله نه وی. (رد المحتار ص۴۰۲ پنځم ټوک. فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک)

(۶) مسئله :- د زیره خریل یا وهل حرامه ده لیکن که تر یوه قبضه بالا وی، بیا چه تر قبضه کومه بالا اوزیاته د زیره ده د هغی وهل روا دی د غه رنگه د خلورو طرفو څخه لږ لږ اخیستل چه سمه او برابره سی روا دی - (رد المحتار ص۳۰۱ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک)

(۷) مسئله :- د زیری څخه علاوه د بارخو ګانو وخواته چه کوم وریښتان شنه سوی وی د د غو خریل او برابرول روا دی د غه رنګه که د د واړو وړو وریښتان یو اندازه واخیستل سی او برابر کړل سی داهم روا دی. (رد المحتار ص۳۰۲ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک)

(۸) مسئله :- د حلق وریښتان باید و نه خریل مګر د امام ابی یوسف رحمة الله علیه څخه را نقل سوید ی چه خریل ئی هم هیڅ پروا نه لری - فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک)

(۹) مسئله :- د زیری د بزګر د د واړو او ږ خونو وریښتان خریل د فقهی علماؤ بدعت بللی دی نو د د غه سبب ئی خریل په کار نه دی او د غه رنګه د څټ او مغری وریښتان برابرول او جوړول د فقهی علماؤ مکروه بللی دی.

(۱۰) مسئله :- د بنایست په غرض د سینو وریښتانو کښل منعه دی مګر د غازی او مجاهد ته د پاره د دی چه د دښمن څنډی د بیریزی د د غو وریښتانو لیری کول بهتر او ښه دی. (عالمګیری ص۲۴ څلرم ټوک)

(۱۱) مسئله :- د پزی وریښتان باید و نه کاږی بلکه په قیچی یا بل شی ئی وهل په کار دی. (رد المحتار ص۳۰۱ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک

(۱۲) مسئله :- د سینی او شا وریښتان خریل روا دی مګر د ادب خلاف او غیر اولی کار دی رد المحتار ص۳۰۱ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم ټوک)

(۱۳) مسئله :- تر نامه لاندی وریښتان د نارینه ؤ د پاره په چاره سره لیری کول بهتر او ښه دی د خریلو په وخت کښی دی شروع د هغه ځایه څخه وکړی کوم چه تر نامه لاندی دی که په یود واړه د غه وریښتان لیری کړی هم روا دی

او د بنځې د پارې د سنت سره موافق او برابره طریقه داد ده چه په ګوتو یا نوسی یا بل د غسی شی سره ئې لیری کړی په چاره سره ئې ونه خړپي.

(۱۴) مسئله:- د بغل په وریښتانو کښی بنه دادی چه په نوسی یا ګوتو یا داسی بل شی سره وکښل سی او په چاره ئې خریل هم روادی (در مختار ص۴۰۱ پنځم پتوک)

(۱۵) مسئله:- د د غږ ګرسوو وریښتانو څخه ماسیوی د نور پتول بدن د وریښتانو خریل او پریښوول د واړه روادی - (ق)

(۱۶) مسئله:- د پښو د نوکانو پریکول هم سنت دی مګر د مجاهد او غازی د پاره په دار الحرب (د کفارو په ملک) کښی نوکان او بریتونه پریښوول مستحب دی.

(در مختار ص۳۹۹ ص۴۰۰ پنځم پتوک)

(۱۷) مسئله:- دلاسو د نوکانو پریکول په داسی ترتیب سره بنه دی چه د راسته لاس د شهادت د ګوتی څخه ئې شروع کړی او تر خچې ګوتی پوری چه په ترتیب سره پری کړی بیا ئې د چپه لاس د خچې ګوتی څخه شروع کړی او په ترتیب سره ئې د راسته لاس پر بټه ګوته ختم کړی او د پښو په ګوتو کښی د راسته پښی د خچې ګوتی څخه شروع کړی په ترتیب سره ئې د چپه پښی پر خچه ګوته ختم کړی د غه ترتیب بهتر او اولی دی د د ی خلاف هم روادی - در مختار ص۴۰۰-۴۰۱ ج۵)

(۱۸) مسئله:- د پری سوو نوکانو او وریښتانو پتول او د فن کول په کار دی نو که ئې د فن نه کړی بیا دی یو محفوظ او خوندی ځای واچوی د اهم روادی مګر یو نجس او خراب ځای دی نه اچوی ځکه چه د مریض یو د پیدا کید و سبب ګرځی (در مختار ص۳۹۹ پنځم پتوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم پتوک)

(۱۹) مسئله:- په غابنو سره نوکان پریکول مکروه دی او د پیس مریضی خندی پیدا کیږی. (در مختار ص۳۹۹ پنځم پتوک فتاوی هندیه ص۲۳۹ څلرم پتوک)

(۲۰) مسئله:- د جنابت په حال کښی وریښتان برابر ول سره او د ل نوکان پریکول تر نامه لاندی وریښتان او داسی نور لیری کول مکروه دی - (فتاوی هندیه ص۲۳۹ ج۴)

(۲۱) مسئله:- په هره هفته کښی دی یو وار تر نامه لاندی وریښتان، د بغل وریښتان، د بریتو وریښتان نوکان او داسی نور لیری او صفا کړی و دی لپیږی

خان دصاف او ستړه کړی چه د غه ټول شیان په هره هفته کښی یو وارکول افضل
او بنه دی او تر ټولو بنه د جمعی ورځ ده چه د جمعی تر لمانځه محکی خان
خندی فارغ کړی او بیا د جمعی لمانځه ته ولاړ سی که هره هفته نه وی نو بیا
خو دی په پنځلسو ورځو کښی وکړی انتهائی درجه ئی خلویښتمه ورځ ده
تر د غه وروسته رخصت لسته که خلویښت ورځی تیری سوی اود د غو
شیانو څخه ئی صفایی حاصله نه کړه نو ګنهګار ه کیږی۔ (فتاوی هندیه
ص۲۳۸ اول ټوک ردالمحتار ص۲۱ پنځم ټوک)

دشفعی بیان

① مسئله:۔ هر وخت چه شفیع ته د بیعی خبر ورسیږی که چیری فوراً
او سمدستی په خوله دا نه ووایی چه زه شفعه اخلم نو د شفعی حق ئی
باطلیږی نو بیا د د غه چاد پاره د عوه کول روا نه ده تر دا سی حده که چه شفیع
ته خط راغلی اود خط په شروع کښی دا خبره لیکل سوی وی چه فلانی سرای
خرڅ سو په د غه وخت کښی ده په خوله سره نه ووایل چه زه شفعه اخلم
تر دا سی حده چه ټول خط وویل سو او بیا ئی وویل چه زه شفعه اخلم نو
دده شفعه باطلیږی۔ (ردالمحتار ص۲۱۹-۲۲۰ پنځم ټوک فتاوی هندیه ص۱۷ څلرم ټوک)

② مسئله:۔ که شفیع وویل چه ماته دوندی قدر پیسی راکړه نو بیا تر
حق د شفعی تیریږم نو په د غه صورت کښی چونکه د خپل حق پرساقطولو باندی
رضا سو خو د دی سبب شفعه ساقطه سوه لیکن څرنګه چه دا رشوت دی نو
د دی سبب د غه پیسی اخیستل او ورکول حرامی دی۔ (فتاوی هندیه
ص۲۳۳ څلرم ټوک هدایه ص۴۰۴ څلرم ټوک)

③ مسئله:۔ که تر اوسه پورې حاکم او قاضی شفعه وشفیع ته نه وی ورکړی چه شفیع هر سو د د ه وار ثانو ته شفعه نه رسیږی او که خریدار
هر سو شفعه باقی او پاته ده۔ (در مختار ص۲۱۵ دوهم ټوک هدایه ص۴۰۴ ج۴)

④ مسئله:۔ شفیع ته خبر ورسیدی چه په دوندی پیسو سره سرای خرڅ سوی
دی نو دی د شفعی تر حق تیر سو چه زه سرای نه رانیسم بیا ورمعلومه سوه چه
په لږ قیمت او پیسو سره خرڅ سویدی نو بیا هم په د غه وخت کښی شفعه اخستلای

سی دغه رنگه که ئ اول اوریدلی وه چه فلانی سړی خریدار دی بیائ واوریدله چه نه بلکه بل سړی خریدار دی یائ اول اوریدلی وه چه نیم خرخ سویدی بیا ورته معلومه سوه چه پوره خرخ سویدی نو یه دغو صورتونو کښی په اول وار پریښودلو سره شفعه نه باطلیږی. (هدایة ص۴۰۵ څلرم ټوک)

دمزارعت (کرل سوو غله جاتو) او مساقات (میوه جاتو) دتقسیم بیان

① مسئله:- یوه سړی خالی محکه وبل چاته ورکړه او ورته وئ ویل چه ته دغه محکه وکره هرخوندی پیداوار چه وکړی هغه په فلانی نسبت سره تقسیم وو دغه مزارعت دی اوروادی. (هدایه ص۴۰۵ څلرم ټوک درمختار ص۲۲۳ دوهم ټوک فتاوی هندیه ص۹۶ څلرم ټوک)

② مسئله:- یوه سړی باغ کښینوی او وبل چاته ئ وویل چه ته دغه باغ وپاله خدمت ئ وکړه نو هرخوندی میوه چه وکړی برابر به خبره دا که ترڅو کاله اودوو کالو پوری یا تر لسو (۱۰) دولسو کالو پوری سم په نیمی یا په دریمه تقسیمیږی دغه مساقات دی اوروادی. (هدایة ص۴۲۹ ج۴ درمختار ص۲۲۵ ج۲)

③ مسئله:- دمزارعت دصحت دپاره دغه لاندی شرطونه دی ① محکه به قابله دزراعت (کښت) وی ② دمحکی مالک او بزګردواړه به عاقلان اوبالغان وی ③ دزراعت (کښت) مدته به سره معلوموی ④ تخم به سره بیانوی چه دمحکی خاوند به وی که به دبزګر وی ⑤ جنس او قسم دکښت به سره بیانوی چه دغنمو به وی که داور بشو مثلاً ⑥ دبزګر حصی ذکر به کوی چه په ټولو پیداوار وکښی به دده خوندی حصه وی ⑦ دمحکی خاوند به محکه خالی کوی تر خالی کیدو وروسته به ئ دبزګر په حواله ورکوی ⑧ دمحکی په پیداوار کښی به دمحکی خاوند او بزګردواړه سره شریکان وی ⑨ محکه اوتخم به دواړه دیوه سړی وی، غوایی خدمت اوداسی نور به دبل سړی وی یا به دیوه فقط محکه وی اونور پاته شیان به ټول دهغه بل یوه وی. (درمختار ص۲۲۳ دوهم ټوک)

④ مسئله:- که چیری د دغو شرطونو څخه یو شرط مفقود (نیستی) وی نو مزارعت فاسدیږی. (در مختار ص۲۲۳ دوهم ټوک)

⑤ مسئله:- په فاسد مزارعت کښی ټول پیداوار د تخم د خاوند کیږی اوهغه بل سړی که چیری د محکی خاوند وی نو د محکی کرایه د رواج سره موافق ورکول کیږی او که چیری هغه بل سړی د محکی خاوند نه وی بلکه بزگر او کښت کرونکی وی نو د رواج سره برابره مزدوری ورکول کیږی لیکن د غه کرایه او مزدوری تر هغه اندازی زیاته نه ورکول کیږی چه د دی دواړو په مابین کښی سره مقرره سویده یعنی که نیمه حصه مقرره سوی وه نو د ټولو پیداوار د نیمی څخه زیات نه ورکول کیږی. (در مختار ص۲۲۴ دوهم ټوک هدایه ص۴۲۶ څلرم ټوک)

⑥ مسئله:- د مزارعت تر معاملی وروسته که د دی دواړو څخه یو دیو شرط د وجهی څخه د کار کولو څخه انکار وکړی نو د د څخه په زور کار اخیستل کیږی لیکن که د تخم خاوند انکار وکړی نو پرده باندی زور نه کیږی. (در مختار ص۲۲۴ دوهم ټوک) هدایه ص۲۶ څلرم ټوک)

⑦ مسئله:- که د د غو دواړو عقد کونکو (معامله کونکو) څخه یو مړ سی نو بیا مزارعت باطلیږی. (هدایه ص۲۶ څلرم ټوک)

⑧ مسئله:- که هغه معلومه موده د مزارعت تیره سی او کښت پوخ سوی نه وی نو بزگر به د محکی اجرت د دغو زیانو ورځو په عوض کښی د د غه ځای د رواج سره موافق ورکوی. (در مختار ص۲۲۴ پنځم ټوک هدایة ص۲۶ څلرم ټوک)

⑨ مسئله:- بعضی ځایونه رواج دی چه د مزارعت په محکه کښی کومه غله پیدا کیږی هغه د څپل قرار داد سره برابره او موافق په خپل منځ کښی تقسیموی او کوم اجناس لکه جواری، باجری او داسی نور چه پیدا کیږی هغه نه سره تقسیموی بلکه د محکی خاوند د کښت کرونکی څخه د دغو شیانو په عوض کښی د جریب په حساب سره یو څه پیسی اخلی نو ظاهراً په دی وجه د دی چه د اشرط د مزارعت خلاف دی ناجائزه معلومیږی مگر په دی تاویل سره چه د غسی قسم اجناس په ابتداء او شروع کښی د مزارعت څخه خارج و بلل سی او په اعتبار د عرف په سابقه (پخوانی) معامله کښی داسی تفصیل

وسی چه دد وار و مراد داوو چه په فلانیو اجناسو کښی عقد مزارعت کوو او په فلانیو شیانو کښی محکه په طور د اجاری ورکول کیږی بیا نو په دغسے طریقه سره جائز کیدای سی مگر په دی کښی دد وار و طرفو رضا شرط دی۔ هکذا یستنبط من الدر والشامی ص۱۹۷ پنځم پتوک)

(۱۰) مسئله:- د بعضو زمینداړانو عادت دی چه د خپلی حصی د مزارعت څخه علاوه د بزګر او کښتګر په حصه کښی یو څه نور حقوق د ملاړ مانو (نوکرانو) او کمینانو د پاره هم مقرروی نو که ئ په یقینی او قطعی طریقه سره مقرر کړی وو چه مورږ دوه منه یا څلور منه دد غه حقوقو اخلو۔ نو دا نارواوی او که ئ داسی مقرر کړی وی چه په یوه من کښی یو سیر مثلاً د رڅخه اخلو نو دا روا وی۔ (په عالمګیری کښی ئ تفصیل راغلی دی)

(۱۱) مسئله:- بعضی خلګ دد ی تعیین او معلومولی نه کوی چه کوم شی به کرل کیږی بیا نو دعوی او پیشروونه سره کوی دا روا نه دی یا دی د دغه تخم چه کری ئ سنکاړه نوم واخلی یا دی عامه اجاړه ورکړی چه هر شی ستاړه غواړی هغه په وکړه۔ (فتاوی هندیه ص۱۵۸ شپږم پتوک)

(۱۲) مسئله:- بعضی ځایونه رواج دی چه کښت کرونکی (بزګر) په محکه کښی تخم و پاشی بیائ ونړوو خلګو ته ورو سپاری او دا شرط مقرر کیږی چه ته په دغه کښی محنت او خدمت وکړه د محکی چه هرڅه حاصل او پیداوار موجود سوه په دغه پیداوار کښی مثلاً د یمه حصه ستاده۔ نو دا هم مزارعت دی په هر هغه ځای کښی چه اصلی زمینداړ د غه معامله نه منعه کوی هلته روا دی او که ئ منعه کوی هلته ناروا دی۔ عالمګیری ص۱۶۸ شپږم پتوک)

(۱۳) مسئله:- په د غه لوړ صورت کښی هم په مثل د صورت سابقه عرفاً تفصیل دی بعضی اجناس د دغو عاملانو ته ورتقسیموی او په بعضو اجناسو کښی د جریب وغیره په حساب سره څه نقدی روپی ورکوی پس نو په دغه کښی هم ظاهراً هغه شبه د عدم جواز او هغه تاویل د جواز جاری دی۔ (ق)

(۱۴) مسئله:- په اجاره یا مزارعت کښی چه د وولسو (۱۲) کاله یا کم و زیات د محکی څخه فایده واخلی او بیا د هغه ثبت دعوه وکړی نو که نن سبا چه رواج دی خالص

باطل، حرام، ظلم او غصب دی بیله رضا او خوښی د زړه د محکی د خاوند هیڅ وخت د دی څخه نفعه حاصلول روا نه ده نو که ئې چیرې د غسی وکړه نو د دغې محکی حاصلات هم خبیث دی او خوړل د دغو حاصلاتو هم حرام دی (رد المحتار ص ځلورم پتوک)

(۱۵) مسئله:- د مساقات (یعنی د میوو د تقسیمولو) حال په پټولو خبرو کښې د مزارعت په مثل دی - (در مختار ص ۲۲۵ دوهم پتوک)

(۱۶) مسئله:- که د میوه لرونکو د رخټو پرورش او پالنه وکړی او میوه داسې وی چه په اوبولو او خوارۍ کښلو سره غټیږی نو مساقات روا دی او که د هغې غټوالی پورته سوی وو نو مساقات روا نه دی لکه مزارعت چه د کښت تر تیارید و وروسته صحیح نه دی - (در مختار ص ۲۲۶ دوهم پتوک هدایه ص ۴۳ ځلورم پتوک

(۱۷) مسئله:- هر وخت چه عقد مساقات فاسد سی نو میوه پټوله د رخټو او د باغ د خاوند کیږی او کارکونکی ته د رواج سره برابره مزدوری ورکول کیږی لکه په مزارعت کښې چه بیان سوه - (در مختار ص ۲۲۶ دوهم پتوک هدایه ص ۴۳ ځلورم پتوک)

د نشه لرونکو شیانو بیان

(۱) مسئله:- هر نرم بهیدونکی شی چه نشه لری برابره خبره ده که شراب وی یا تاړی وی یا بل شی وی او د دغو څخه څښلو څخه نشه پیدا کیږی نو د دغه شی استعمالول دیوه څاڅکی په اندازه هم حرام دی که څه هم د دغه یوه څاڅکی څخه نشه نه پیدا کیږی د دغه رنګه ئې په دوا کښې استعمالول برابره خبره ده که د څښلو په صورت کښې وی یا په بدن پورې د مښلو او لګولو په صورت کښې وی هم منعه دی برابره خبره ده که د دغه نشه لرونکی شی پرځپل اصلی صورت او شکل پاته وی یا د یو تصرف په وجه په بل شکل سره سوی وی په هرحال کښې منعه دی د دی ځای څخه د انګریزی دوا یانو حال معلوم سو چه په دوی کښې اکثره وخت د غسې قسم شیان ګډیږی. (مجمع الانهر ص ۵۷۱ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:- هر شی چه نشه لرونکی وی مګر نرم نه وی بلکه داصل

څخه منجمد وی لکه تنباکو، چائفل، تاریاک، او داسی نور دد وی حکم دادی چه کوم مقدار ئی فی الحاله او دستی نشه پیدا کوی یا سخت تاوان وضرر رسوی هغه حرام دی او کوم مقدار چه ئی نشه نه پیدا کوی او نه ضرر او تاوان لری هغه روا دی او که چیری کک ړوالی یا مالش په وړکړه سی یعنی پر سر بیره بدن استعمال سی نو هیڅ پروا هم نه لری. (در مختار ص۴۵۳ پنځم ټوک)

دشراکت بیان

شراکت پر دوه قسمه دی یوه ته شراکت املاک وایی مثلاً یو څوک مړسو او دد ه په ترکه (پاته سوی مال) کښی یو څو وارثان شریکان دی یا دوو (۲) خلګو روپی سره ګډی کړی یو شی ئی په ګډه سوه رانیوی یا یوه سړی و دوو (۲) کسانو ته یو شی ورو بخښی نو دد غه شرکت املاک حکم دادی چه د یوه د پاره هیڅ تصرف بیله اجازی د هغه بل شریک روا نه دی. او بل شرکت عقود دی یعنی دوو کسانو معاهده او قرارداد سره وکړی چه زه او ته به په ګډه سره تجارت کوو دد غه شراکت اقسام او احکام دادی. (عالمګیری ص۹۱۶ دوهم ټوک)

(۱) مسئله:- یو قسم د شرکت عقود شرکت عنان دی یعنی دوو (۲) کسانو لږ لږ پیسی سره ګډی کړی او اتفاق ئی سره وکړی چه په د غو روپو تجارت یا غله یا بل شی را نیسو تجارت کوو په دی کښی داشرط دی چه د د وارو سرأس المال به نقده وی برابره خبره ده که روپی وی که اشرفۍ وی که پیسی وی پس نو دواړه کسان که څه اسباب غیر نقدی (چه نقد نه وی) سره ګډ کړی - او تجارت کول وغواړی په ګډه سره یا دیوه رأس المال نقدی پیسی وی او د د هغه بل دا نقدی نه وی بلکه اسباب او سامان وی نو د غه شراکت نه صحیح کیږی. (مجمع الانهر ص۷۲۶ اول ټوک عالمګیری ص۹۲۰ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:- په شرکت عنان کښی روا ده چه د یوه مال زیات وی د بل مال کم وی او د ګټی شرکت ئی یو د بل په رضا سره وی یعنی که ئی داشرط مقرر کړی چه مال خو کم او زیات دی مګر ګټه به برابره تقسیمیږی یا مال برابر دی لیکن ګټه یوه ته دوی حصی او بل ته یوه حصه ورکول کیږی نو هم روادی.

(مجمع الانهر ص۷۲۹ اول ټوک عالمګیری ص۹۲۰ دوهم ټوک)

(۳) مسئله :- په دغه شرکت عنان کښی دهر شریک د پاره د شراکت په مال کښی هر قسم تصرف د تجارت په پاره کښی روادی په شرط دی چه د معاهدی او قرارداد خلاف نه وی لیکن د یوه شریک قرض د بل شریک څخه نه غوښتل کیږی. (مجمع الانهر ص۷۲۹ اول ټوک عالمګیری ص۹۲۰ دوهم ټوک)

(۴) مسئله :- که د دغه شراکت نړ مقرره کیدو وروسته هیڅ شی رانه نیول سو او ټول د شراکت مال یا دیوه سړی مال تلف او ضائع سو نو شراکت باطلیږی او که یوه سړی یو شی رانیولی وی او بیا دهغه بل شریک مال هلاک سو نو شراکت نه باطلیږی د دغه رانیول سوی مال دد واړو سره شریک دی او په هره اندازه چه په رأس المال کښی د دغه شریک حصه ده د دغی حصی سره برابر به قیمت د دغه بل شریک څخه اخستل کیږی مثلاً دیوه سړی لس(۱۰) روپی وی لاد بل سړی پنځه(۵) روپی وی. د لسو(۱۰) روپو خاوند مال رانیولی وو او د پنځو روپو د خاوند روپی ضائع سوی نو د پنځو روپو خاوند په دغه مال کښی په دریمه حصه شریک دی یعنی دریمه حصه د ده کیږی او د لسو(۱۰) روپو خاوند به د ده څخه د لسو(۱۰) روپو دریمه نقدی پیسی اخلی یعنی درې روپی یو پاؤ او د پاؤ دریمه او په اینده کښی به دغه مال په شراکت سره خرڅیږی. (هدایه ص۶۱۰ دوهم ټوک در مختار ص۳۲۲ اول ټوک)

(۵) مسئله :- په دغه شراکت کښی د دواړو شریکانو د پاره مال سره ګډول ضروری نه دی بلکه په زبانی ایجاب او قبول سره د دغه شرکت منعقد یعنی ټړل کیږی. (هدایه ص۶۱۱ دوهم ټوک)

(۶) مسئله :- د نفعی اوګټی معلومولو لپاره په نسبت سره وی یعنی ګټه به یا سم پر نیمایی یا په دریمه سره تقسیمیږی مثلاً (مطلب ئی دا دی چه داسی به سره وایی چه ګټه به موسره نیمی وی یا به دوی حصی ګټه زما وی یوه حصه ګټه به ستاوی) او که ئی دا سی سره وویل چه یوه ته سل روپی وړکول کیږی نوری ټولی دهغه بل دی دا روا نه دی. (هدایه ص۶۱۲ دوهم ټوک در مختار ص۳۲۲ لومړی ټوک)

(۷) مسئله :- یو قسم د شراکت عقود شرکت صنائع دی او د دغه ته شرکت

تقبل هم وایي نکه دوه خیاطان یادوه رنگریزان چه په خپل مابین کښی سره ووایي چه کوم کار دهریوه ته راغلی هغه دی اخلی او هرخوندی چه ئ مزدوری سوی هغه به په خپل مابین کښی سره تقسیموو یادیوه دری حصی دی دبل یوه حصه دوه یادیوه دری حصی دی دبل یوه حصه دوه یادیوه دری حصی دی دبل یوه حصه دوه یادا سی نورد اروادی. (هدایه ص۶۱۲ دوهم پتوک در مختار ص۲۷۳ اول پتوک)

(۸) مسئله:- کوم کار چه یو واخلی هغه کار پرد واړه ولاړ میږی مثلاً یوه شریک یوه جوړه کالی دیو چاځخه واخسته چه درجوړئ کړی نو دغه خاوند دی جوړی کالو لکه څرنگه چه وده ته ویلای سی چه زما کالی راجوړ کړه دغه رنگه ئ په هغه بل شریک هم جوړ ولای سی دغه رنگه لکه چه دغه کالی جوړونکی مزدوری غوښتلای سی هغه بل شریک هم مزدوری څندی غوښتلای سی او لکه څرنگه چه واصل ته په مزدوری ورکولو سره دکالو خاوند خلاصیږی دغه رنگه کله ئ ودغه بل شریک ته درکړی نو هم خلاصیږی - (در مختار ص۲۷۳ اول پتوک - هدایه ص۶۱۳ دوهم پتوک)

(۹) مسئله:- یو قسم د شراکت شرکت وجوه دی یعنی نه ددوی سره مال سته نه یو هنراو پیشه سنه فقط دا خبره او قول ئ په خپل مابین کښی سره و کړی چه د د وکاندارانو څخه به په پور مال اخلو او خرڅوو به ئ په دغه شرکت وجوه کښی هم هر شریک دبل شریک وکیل دی او په دغه شرکت کښی چه چه کوم نسبت سره شرکت وی په دغه نسبت سره د نفعی استحقاق وی یعنی که ئ را نیول سوی شیان په نیمی سره شریک بللی وه نوگټه ئ هم سم په نیمی سره تقسیږی او که ئ مال د دوی (۲) حصی دیوه - یوه حصه دبل شریک بللی وو نوگټه ئ هم یوه حصه دیوه او د دوی (۲) حصی دهغه بل شریک دی - (در مختار ص۷۳۵ لومړی پتوک)

دبهشتی زیور دپنځمی حصی تتمه خلاصه سوه - دشپږمی، اوومی، اتمی او نهمی حصی تتمه نسته نوځکه په مخکی دنهمی حصی تتمه شروع کیږی

لسمی حصی تتمه رساله رفیق سفراو اداب المعاشرت باید وبلل سی چه جلا شائع سویدی ۱۲ ق

د بهشتی زیور نهمی حصی تتمه

تمهید

څرنګه چه په بهشتی زیور کښی د اسی مسئلی نسته چه هغه د نرانو (نارینه ؤ) سره تخصیص لری د غه رنګه د بهشتی زیور په نهمه حصه کښی هغه مرضونه نه دی لیکل سوی چه هغه په نرانو خلګو پوری خاص وی او د دوی د تتمیم او تکمیل د پاره بهشتی ګوهر چه عبارت او مقصد د یوولسمی حصی څخه دی لیکل سوی دی د سبب د د غی یوولسمی حصی د مسئلو تر څتمید و وروسته مناسبه معلومه سوه چه هغه معالجات او علاجونه چه په نرانو پوری خاص دی هم په د غه یوولسمه حصه کښی داخل او شامل کړل سی د د غی تتمی یعنی د نهمی حصی د تتمی لیکونکی هم حکیم مولوی محمد مصطفیٰ صاحب دی لکه د نهمی حصی لیکونکی چ. هم دی په خپله دی.

کتبه اشرف علی رحمة الله تعالی علیه وعفی عنه

د نرانو خلګو مرضونه

جریان: د جریان د دی ته وایی چه د وړو بولو څخه مخکی یا وروسته یو څو څاڅکی توی سی چه د د غو څاڅکو رنګ سپین او د شید و په شان وی په دی سره کمزوری ورځ په ورځ زیږی ی که هر رنګه توی او بنه غذا (خوړک) وخوړل سی مګر پر بدن نه لګیږی سړی همیشه ډنګر او کمزوری وی او هر وخت چه جریان زیات سی نو معده هم ورسره خرابیږی اشتها او لوږه ختمیږی هر څه چه وخوړل سی نه هضمیږی د عملونو او قبض سلسله شروع کیږی د جریان د مریض چه هر وخت قبض زیات سی نو علاج ئی هم مشکل کیږی ځکه چه د جریان اکثره دوایانی قابضی دی د د دوی په خوړلو سره قبض نور زیاتیږی او د قبض څخه جریان زیاتیږی نو د دی سبب د جریان په علاج کښی غفلت او سستی کول مناسب

نه ده د جریان د شروع سره سم په ډیر هوډ او فکر سره علاج شروع کړه د جریان
ډیر قسمونه دی یو داډی چه په مزاج کښی گرمی زیاته سی په وینه او نطفه
کښی حدت او گرموالی راسی د دغسی جریان علامه داده چه هغه خاتګی
کوم چه د بولو څخه مخکی یا ورسته راځی بالکل سپین نه وی بلکه یو
اندازه وژړ والی ته مائل وی او د سوزشه سره وزی بلکه په بولو کښی
هم سوزش او سوی پیدا کیږی د وینی دگرمی علامی هم موجودی وی لکه د
گرمی په موسم کښی د جریان ډیروالی دیخ په موسم کښی د جریان کموالی
یا دیخوا وبو په لمبیدلو سره ارام پیدا کیدل.

علاج: د غنه سفوف دی وخوری۔ د ببول (اماغیلان) کوند وری، کتیرا (صمغ الفتاد) چینی گوند، طباشیر (بنسلوچن) کشته قلعی، ست بهروزه یعنی د قند - جوهر، د کوچنی هیل دانی، پهلی ببول، ستاور، تال مکهانه موصلی سیاه، موصلی سفید، موچرس، گوند نیم او اندرجو شیرین (لسان العصافیر شیرین) د غنه پتول درې (۳) درې ماشی وکوټه ترکو تلو وروسته ئی وچوپه کچه اوام کهانډ پاؤ کمی څلور توکی وړ سره گډ کړه او بیا د دغی دواخځه په قدر واندازه د نونو (۹) ماشو پوډی جوړی کړه او هره ورځ یوه پوډی د غوا دیوه پاؤ تازه شلمبو سره کیږه کوه که د غوا شلمبی نه وی نو د گامیښی شلمبی هم صحیح دی او که دگامیښی شلمبی هم نه پیدا کیږی نو بیا د غنه پوډی د مصریو د شربتو سره کفه کوه د غنه سفوف د سوزک د پاره هم مفید او گټور دی.

پرهیز: د غوا او غوایی د غوښو څخه او د پتلو گرمو شیانو څخه دی. لکه میتهی یعنی ملخوزه، بانجن، مولی، گوهر، تیل او داسی نورو۔ د جریان په د غنه قسم کښی د تروشکی کم اولږ استعمال دوندی تاوان نه کوی په شرط دی چه د جریان ډیر وخت سوی وی.

دوهم قسم سفوف: ډیر قوی دی د بوبو د سوزش او هغه جریان د پاره فایده لری چه دگرمی څخه پیدا سوی وی۔ چهوټی مائیں (عذبه) طباشیر (بنسلوچن) زهر مهره خطائی (حجرالسم) تال مکهانه - بیج بند، سرخ گلاب زیره، گشنیز، پوست بیدون پسته، د کوچنی هیل دانی او د چهالیه (سپاری)

گل - ټول شپږ شپږ ماشی، اوداملی (تمرهندی) د مغز دوی ټولی ټول سره وکوټه اوترکو ټلو وروسته ئې وچوټه ترچو ټلو وروسته ئې د برگد (ذات الذوانب) په شید وکښی خیشته کړه اوبیائې په سایه کښی وچ کړه بیا - موصلی سفید، موصلی سیاه، شقاقل مصری او ثعلب مصری (خصیة الثعلب) ټول څلور څلور ماشی وکوټه اوترکو ټلو وروسته ئې وچوټه - او څلور ټولی مصری میده کړه ورسره ګډې ئې کړه بیا دغه ټول د هغه مخکی دوایانو سره ګډ کړه تر دغه وروسته پورې څندی جوړې کړه چه هره پورې د شپږ وماشو په اندازه وی اویوه پورې هره وړځ د شید ود شلمبو سره کیږه کوه - **دریم قسم سفوف** دګرم جریان د پاره دی اشتها اولوږه زیاتوی اوښمک هم دی - ثعلب مصری (خصیة الثعلب) تخم خرفه، کشته قلعی، بن سلوچن (طباشیر) کهربای شمعی، ګلنار، مغزکدوی شیرین او بهمن سرخ ټول شپږ شپږ ماشی، مصطګی رومی (کندر رومی) د وی ماشی، مازو (عفص) او تخم ریحان، د ری د ری ماشی وکوټه ترکو ټلو وروسته ئې وچوټه او څلور ټولی او اینځه ماشی مصری میده کړه او د دغو شیانو سره ئې ګډ کړه او بیاد د ړو د ړو ماشو پورې څندی جوړې کړه بیانو یوه پورې سهاراویوه پورې ماښام د میږو د شر بتو سره کیږه کوه.

د جریان بل قسم هغه دی چه په مزاج او طبیعت کښی خنکی اورطوبت ډیر سی اعصاب کمزوری سی نو بیا دغه جریان پیدا سی علامه ئې دا ده چه مادې دمنی او نطفې ډیره زیاته نرمه وی که چیری احتلام سی نو په خپل احتلام هم نه خبریږی اومنی په لږ څه خیال اوارادی دشهوت خارجیږی یا بالکل بیله کومی ارادی خارجیږی.

علاج د دغه دوا دی وخوری اندرجو شیرین (لسان العصافیرشیرین) سمندر پهل، تخم کونچ، تخم پیاز، تخم اتنگن (بزر القریض) عاقرقرحا - او ریوند چینی ټول لس لس نیمی نیمی ماشی وکوټه ترکو ټلو وروسته ئې وچوټه بیا شل پورې څندی جوړې کړه بیا یوه هګی راواخله سپین ئې څندی لیږی کړه او شړۍ پکښی پریږده بیا یوه پورې د دغې ذکرسوی دوا څخه راواخله په دغه هګی کښی ئې واچوه بیاد هګی سوری په اوږه سره

بند کړه تر دغه ورډسته بیا دغه هګۍ په نیم ګرمو اوبو کښی نیم خامه پخه کړه او بیائی وخوړه دغه رنګه ئی تر شلو ورځو پوری وخوړه .

سفوف مغلظ منی و ممسک :- یعنی همغه سفوف چه د منیو د پاره سخت ونکی او ممسک وی (یعنی نطفه - منی) سختوی - سنګهاړه خشک اودبهولو (ام غیلان) کونډوری شپږ شپږ ماشی - مازو (عفص) او مصطګی رومی (کندور رومی) درې درې ماشی ، نشاسته (آبکون) تال مکهانه او ثعلب مصری (خصیة الثعلب) څلور څلور ماشی وکوټه تر کوټلو وروسته یوتول وچونه بیا دوه نیمی تولی مصری ورسره ګډ کړه او سفوف ځندی جوړ کړه د پنځو ماشو څخه تر اووو (۷) ماشو پوری ئی خورک دی په داسی طریقه سره چه د تازه اوبو سره ئی کپه کوه او په دغه قسم جریان کښی یوه توله جوارش کمونی هره ورځ خوړه ډیره فائده لری .

یوقسم دجریان همغه دی :- چه پښتورګی ډیر کمزوری سی د دوی چربی (وازګه) ویلی سی د نطفی او منی په شکل او صورت کښی راوزی دا په حقیقت کی جریان نه دی په سبب د دی چه دغه د جریان سره مشابه دی نو ده ته جریان وائی د دغه علامه داده چه د بولو مخکی یا وروسته یوسپین شی بیله ارادی او قصده راوزی او مقدار ئی ډیر زیات وی د ده په وتلو سره ضعف ډیر محسوسیږی دغه رنګه د پښتورګو مرضونه مخکی تر دغه موجود وی لکه د پښتورګی درد ، ډبره ، ریګ او داسی نور .

علاج :- معجون لبوب کبیر ډیره فایده ورته کوی د پښتورګو ته طاقت ورکوی د زړه کمزوری او په بولو کښی چربی راوتل دغه د واړه لیری کوی د تول بدن ته طاقت ورکوی - نسخه داده - مغز پسته ، مغز فندق ، مغز بادام شیرین ، حبة الخضراء ، د جوز مغز ، د جلغوزی مغز ، مغز حب الزلم ، مغز روبیان ، خولنجان ، شقاقل مصری ، بهمن سرخ ، بهمن سفید ، تودری سرخ ، تودری زرد ، شونډ ، سپینی سوی کونجتی ، او دارچینی قلمی یوتول پاو کم نه نه ماشی باقی هر سنبل الطیب) ناګرمونډ (مشک زیر زمین) لونګ ، کبابه ، حب القلقل ، تخم ګاجر تخم شلغم ، تخم ترب ، تخم پیاز ، تخم اسپست (د شپیشتو تخم) تخم هلیون اصیل اندرجو شیرین (لسان العصافیر شیرین) د رونج عقربی او نرګچور - یوتوله پاؤ بالا پنځه

پنځه ماشی - جوړ بواړ (جایفل ، جوتری ، چهریله (اشنه) او پیپل دری (۳) نیمی دری (۳) نیمی ماشی ، ثعلب مصری (خصیة الثعلب) مغز نارجیل (کوکنری مغز) د چرون مغز او تخم خاشخاش سفید اووه لس (۱۰) نیمی اوولس نیمی ماشی ، سورنجان شیرین ، پودینه خشک یعنی وچه نانا ، بوړیدان بتول اوه اوه ماشی ، عود غرقی ، (عود هندی) خلور نیمی ماشی زعفران ، مصطگی رومی (کندور رومی) اونۍ دری سفید اوه (۷) اوه (۷) اوه ماشی مایه شترامرابی پاوکم اووه ماشی بتولی اووه خلوینت دوایانی دی دغه بتولی وکوته ترکوتهلو وروسته ئی وچوپه بیابوسل او پنځه (۱۰۵) تولی خالص شهد قوام کړه ترقوام وروسته ئی په دغو دوایانوګډ کړه تر دغه وروسته عنبر خلور نیمی ماشی او اصلی مشک پاوبانده دوی ماشی میده کړه ترمید ولو وروسته ئی د ذکر سوو دوایانو سره ګډ کړه بیا ورق نقره یعنی د سپینو زرو ورقی پنځه ویشت دانی - او ورق ملا پنځلس دانی په لږ څه شا تو کښی حل کړه تر دغه وروسته ئی د ذکر سوو دوایانو سره ښه ګډ کړه بیا نو هره وړځ شپږ ماشی خوړه دغه معجون پر قوی دی قوت مردانه زیاتوی مګر یواندنۍ ګرم دی د هر چا په طبیعت کی چه ګرمی پیړه وی هغه دی د غه بل معجون وخوری چه نوم ئی معجون لبوب بارد دی .

معجون لبوب بارد : مغز بادام شیرین ، تخم خاشخاش سفید ، مغز تخم خیارین یعنی د چمبر خیال او بادرنګ سپین سوی زونې یوه یوه توله ، مغز تخم کدوی شیرین ، شونډ ، خولنجان او شقاقل مصری لس لس ماشی مغز تخم خربوزه یعنی د خټکی سپین سوی زونې تخم خرفه شپږ شپږ ماشی ، کتیرا ، (صمغ الفتاد) خلور ماشی اود جلغوزی مغز ، تودری سرخ ، تودری زرد ، تخم گندر (تخم زردک) او تخم هلیون اصیل دوی دوی ماشی د غه بتول سره وکوټه ترکوتهلو وروسته ئی وچوپه اوبیاد وه ویشت تولی تر نجبین خراسانی راواخله قوام حنده ی جوړ کړه بیا د غه قوام په د غو ذکر سوو دوایانو ګډ کړه خورک ئی اووه ماشی دی د معجون لبوب یوه بله نسخه هم سته چه نوم ئی معجون لبوب صغیر دی په قیمت کښی کم دی په نفعه کښی د معجون لبوب کبیر نه ور نږدی دی . دماغ ، پښتورګو او مثانی ته طاقت ورکوی حافظه (یاد) زیاتوی هیره لیری کوی انسان خوشرنګه کوی او انسان په وجود کښی منی پیدا کوی

مغز بادام شیرین مغز اخروټ یعنی دجوز مغز، مغز پسته، مغز حبه الخضراء مغز چلغوزه، حب الزلم، مغز فندق، مغز نارجیل (مغز کوپره) مغز حب القلقل، تخم خشخاش سفید، تودری سرخ، تودری سفید کنجتی چه پریول سوی وی، تخم جرجیر (تخم ترنبزک) تخم شلغم، تخم اسپست اصیل (دشپیشټو تخم) بهمن سرخ، شونډ، پیپل، کبابه، خرفه، دارچینی قلمی خولنجان، شقاقل مصری، بهمن سفید، تخم هلیون اصیل او تخم پیاز پټول یوه یوه توله دغه پټولی اووه ویشت دوایانی سوی پټولی بنی سره وکوټه او وئ چوپه ترچوپلو وروسته ئ په یوانیا تولو شاتو گډی کړه خورک ئ د اوو ماشو څخه تر یوی تولی پوری دی.

د قوت مردانه د کمزوری او سرعت انزال بیان

د قوت مردانه د کمزوری دوه صورتونه دی یو داچه خواهش نفسانی کم سی دوهم داچه خواهش نفسانی پرخپل حال پاته وی مگر په عضو مخصوص کښی یو فطور او نقصان پیښ سی چه د دغه نقصان په وجه پر مجامعت او نزدیکت پوره قدرت نه وی و بعضو خلگو ته د دغو دوو صورتونو څخه یو صورت ورپیښیږی او و بعضو خلگو ته دغه دواړه صورتونه ورپیښیږی هرچا ته چه فقط اول صورت ورپیښ سی دهغه د پاره د خورلو د دوا ضرورت دی و هرچا ته چه فقط دوهم صورت ورپیښ سی هغه دلگولو او مښولو د دوا ته ضرورت لری او په هرچا کښی چه دواړه صورتونه موجود وی هغه د دوه قسمه دوا ته ضرورت لری یو د خورلو دوا ته ضرورت لری او بل د مالش کولو او لگولو دوا ته ضرورت لری د مردانه طاقت د کمزوری علاج په صحیح اوپوره طریقه سره صرف طبیب کولای سی. هغه هم په شرط د دی چه طبیب بنه غور او تحقیق یکښی وکړی د دی سببه اقسام او اسباب د مردانه طاقت د کمزوری پریږد و او یوازی کثیرالوقوع قسمونه او اسانه اسانه علاجونه لیکو.

د قوت مردانه د کمزوری اول صورت:- یعنی چه خواهش نفسانی کم سی د دی دیر سببونه دی یو داچه وانسان ته خاطرخواه او مناسبه غذا نه رسیږی

یا تر ډیره وخته پورې مریض سی یا د یو صدمې او غم په وجه ډنګر او کمزورې سی نو هر وخت چه پتول بدن کمزورې سی بیا نو قوة مردانه خامخا کمزورې کیږی.

علاج ئې دادی: چه ښه غذا دی خوری هر رنګه چه کیدای سی د زړه څخه دی غم او رنځ لیرې کوی خوب دی ډیر کوی تر څو پورې چه د ده قوت مردانه بیرته پر خپل حال درید لی نه وی تر هغه وخته پورې دی د ښځې سره یو ځای نه بیدیږی معجون لبوب کبیر، معجون لبوب صغیر - او معجون لبوب بارد دده د پاره ډیر ښایات مفید دی د غه دری سره نسخې د جریان په بیان کښې تیری سویدی.

یو سبب د خواهش نفسانی د کمو والی دادی چه زړه کمزورې سی - د زړه د کمزورې علامه داده چه د لږ غوندی خوف او صدمې څخه په بدن کښې لرزه او ږیږ د غوندی محسوس سی او په طبیعت کښې شرم او حیا تر اندازه زیاته او ډیره وی.

علاج ئې دادی: چه د واء المسک او مفرح د وایانی یعنی خوشحالی او فراحت راوستونکی د وایانی دی وخوری ښایات شرم دی په خپل کوشش او تکلف سره کم کړی د د واء المسک نسخه د بهشتی زیور په نهمه حصه کښې تیره سویده او مفرحې نسخې تر دی وروسته انشاء الله تعالی راتلونکی دی

یو سبب د خواهش نفسانی د کمو والی دادی چه دماغ ډیر کمزورې سی علامه ئې داده چه د مجامعت او نزدیکت څخه درد سر یا ثقل سماعت یعنی د غوږ د روند والی یا د حواسو پریشانی پیدا کیږی.

علاج: د د ماغ د طاقت د پاره دی حریره وچینی یا دی میوه خوری د حریرې نسخه چه دماغ ته طاقت ورکوی مینځ او نطفه سختوی - او قوت مردانه قوی کوی مغز تخم کدوی شیرین، مغز تخم هندوانه، مغز تخم پیښتها (مغز تخم کدوی روغی) مغز بادام شیرین، پتول شپږ شپږ ماشی په اوبو کښې میده کړه بیا د سنګهاړې اوړه، ثعلب مصری - (خصیه الثعلب) چه میده سوی وی شپږ شپږ ماشی د سره ګډ کړه او بیا د غه پتول په خلور تولی غوړ و کښې جوش کړه او په مصرو سره ئې خوږ ه

کړه تړ دغه وړوسته ئې چینبه د میوی ترکیب اوطریقه دا ده چه ناریل یعنی کوپړه، وچه خورما، مغز بادام شیرین، کشش او مغز چلغوزه یو یو پاؤ اوپسته نیم پاؤ وړ سره ګډه کړه تر ګډه ولو وړوسته ئې در سره وساته اوهره وړځ درې (۳) یا څلور تولی خوړه اوکه دی خوښه وی نو نینی سوی غنم ورسره ګډ کړه اوخوړه ئې چه ډیر نهایت مجرب دی اویو څو نسخی چه مقوی د دماغ دی تر دی وړوسته زار والی دی چه د غه نسخی د حلوا اوداسی نورو شیانو دی.

یوسبب د خواهش نفسانی د کموالی دا دی چه په پښتورګو کښی ضعف او کمزوری وی د غه قسم وهغو څخه ګوته وړ پیښیږی چه د دوی سره د پښتورګو یو مریضی ود سره وی لکه ډبره ریګ اوداسی نور.

علاج: که ډبری یا ریګ مریضی وی نو د غه علاج باقاعده د طبیب څخه وکړه اوکه ډبری یا ریګ شکایت نه وی نو د پښتورګو د طاقت د پاره معجون لبوب کبیر یا معجون لبوب صغیر یا معجون لبوب بارد وخوړه (په حواله د طب اکبر)

د غه دری سره نسخی د جریان په بیان کښی تیری سویدی. یو وخت د خواهش نفسانی د کموالی سبب دا وی چه معده یا اینه کښی یو مریضی وی د دی علامه دا ده چه اشتهانه وی او ډوډی نه هضمیږی د دی علاج هم باقاعده د طبیب څخه وکړه او د غو مریضیو څخه چه صحت پیدا کړی نو بیا معجون زرعونی وخوړه چه نسخه ئې راروانه ده.

د مردانه کمزوری د پاره دیو څو دوا یا نو او غذاؤ بیان

حلوا چه مردانه طاقت قوی کوی نطفه اومنی سختوی سرعت انزال دفعه کوی نړه دماغ او پښتورګو ته قوت (طاقت) ورکوی

ثعلب مصری (خصیة الثعلب) د وی تولی، چهوارې یعنی وچه خورما نیم پاؤ موصلی سفید، موصلی سیاه، شقاقل مصری، بهمن سفید او بهمن سرخ یو یو

تولـه وکوټـه تر کوتلو ورسـته ئې وچوینه او ولایتی سیب چـه پـه عمده (ښه) کـد وکش سره ریزه سوی وی یونیم سیر دغه ټول دغوا پـه پنځـه سیره شیلو کښی پاخه کړه تر دې اندازه چه کوټه (ماوا) غوندی سی بیا ئې پـه نیم سیر غوړو کی سره کړه چه او به بالکل پکښی پاته نه سی او رنګ ئې سور سی بیا د شلو اګیو وژړه وته جلا سپک غوندی جوش ورکړه او بیا ئې د مخکنی دواسره ښه ګډه کړه چه یوشی او یوډات ځندی جوړ سی بیا کچه کړئ

یونیم سیر ورواچوه یو جوش ورکړه چه حلوا ځندی جوړه سی بیا ناریل (کوپره) پسته او د بهدانه مغز (حب السفرجل) څلور څلور تولی، مغز بادام شیرین پنځـه تولی، مغز فندق دوی تولی ښه وکوټه او ورسره ګډ ئې کړه جوز بوا (جائفل) جونزی شپږ ماشی، زعفران دوی ماشی خالص مشک یوه نیمه ماشه پـه څلور تولی عرق کیوړه (عرق کدر) کښی ښه کرل کړه او ترکرلو ورسته ئې پـه ذکر سوو دوایانو ګډ کړه خورک ئې د دوو تولو څخه بیا تر شپږو تولو پورې دی پرهر چاچه هګۍ ښه نه لګیږي نو هګۍ دی نه ورسره ګډوی.

حلوا چه مقوی د طاقت مردانه او معدی ده او اشتها خلاصونکی ده پورته کونکی د خفګان ده د دماغ ته قوت ورکوی او مخ خوشرنګه کوی

یو پاو سوجی پـه نیم سیر غوړو کښی سره کړه بیا نیم سیر مصری ورسره ګډ کړه حلوا ځندی جوړه کړه بیا بنسلوچن (طباشیر) دانه الایچی خورد یعنی د کوچنی هیل دانی شپږ شپږ ماشی او دارچینی قلمی شپږ ماشی، ګاوزبان او ګل ګاوزبان یوه یوه تولـه او ثعلب مصری (خصیة الثعلب) څلور تولی وکوټه او بیا ئې وچوینه او ورسره ګډ ئې کړه ـ د بادام شیرین مغز (یعنی د خوابه بادام زونې) دری تولی، مغز نارجیل (د کوپرې مغز) او د کدوی شیرین مغز، څلور څلور تولی ښه وکوټه او پـه ګډ ئې کړه مشک یوه نیمه ماشه، زعفران یوه ماشه پـه څلور تولی عرق کیوړه کښی ئې هیده کړه او بیا ئې ورسره ګډ کړه او د سپینو زرو ورقی (۲) دری ماشی پـه لږ څه شا تو کښی حل کړه بیا ئې پـه ټولـه حلوا ښه ګډ کړه او د دغی

حلوا خورک د دوو تولو څخه بیا تر څلورو تولو پورې دی که ئې قیمت او مصرف کمول غواړی مشک مه ورځوه دغه حلوا د لنگو ښځو د پاره هم ډیره ښه ده داحلوا د مردانه طاقت وهغه قسم کمزورې نه هم فایده کوی چه د زړه د کمزورۍ او ضعف څخه پیدا سوی وی

د زردکی حلوا:- مردانه کمزورۍ نه طاقت ورکوی نطفه او منی سختوی زړه او د ماغ نه طاقت ورکوی انسان تیارۍ دافع د سرعت انزال ده او پښتورګو نه طاقت ورکوی دیسی زرد که چه سور رنګ ئې وی سپینه کړه د دی سیره او هډوکی څندی لیرې کړه په کد وکش سره ئې ریزه کړه - د نارجیل مغز یعنی دکوپرې مغز او چهوهارا یعنی وچه خورما یو یو پاو دغه دواړه هم په کدوکش سره ریزه کړه بیا ثعلب مصری (خصیة الثعلب) شقاقل مصری، بهمن سرخ، بهمن سفید، موصلی سفید او موصلی سیاه ټول دوی دوی تولی وتله تر تللو وروسته ئې وکوټه او بیا ئې وچونه او تر چونلو وروسته دغه ټول دغواړه څلور سیره شید وکښی پاخه کړه تر دا سی حده چه کهویه (ماوا) غوندی سی بیا ئې په یوه سیر غوړو کښی سره کړه تر دغه وروسته شکر سفید دوه سیره ورواچوه او حلوا څندی جوړه کړه بیا گوند ناگوری څلور تولی کشته قلعی، جوز بوا (جائفل)، جوتری شیږ شیږ ماشی، اندرجو شیرین (لسان العصافیر) ستاور دوی دوی تولی او الائچی خورد یعنی د واړه هیل دانی شیږ ماشی وکوټه او ئې وچونه تر چونلو وروسته ئې ورسره گډ کړه مغز بادام شیرین، مغز پسته او مغز تخم کدوی شیرین پنځه پنځه تولی وکوټه او ورڅخه ئې چوه، زعفران درې ماشی او خالص مشک یوه نیمه ماشه په عرق کیوړه (عرق کدو) کښی حل کړه وروسته ئې د نورو دوایانو سره ښه گډ کړه خورک ئې د دوو تولو څخه تر پنځو تولو پورې دی که ئې قیمت کمول غواړی نو مشک مه ورڅوه دا حلوا هم د مردانه طاقت وهغه قسم کمزورۍ ته فایده کوی چه د زړه د ضعف څخه پیدا سوی وی.

د گهیکوار حلوا:- قوت مردانه قوی کوی او د منی او نطفې سختونکی ده. د ملا د درد او بادی درد د پاره فایده لری. د سنگهاړی اوړه او د گهیکوار مغز نیم نیم سیر په نیم سیر غوړو کښی سره کړه بیا نیم سیر شکر سفید ورسره

گډ کړه او حلوا خندی جوړه کړه اوهره ورځ څلور څلور تولی تر څلویښتو ورځو پورې خوړه دا حلوا د هغو خلګو د پاره ده چه د دوی په مزاج کښی د پیرې سردی او یخوالی وی یا ئې په بند وکښی د پیرد رد وی یا د ابلیج او لقوی یعنی د خولی د کږ والی مریضی یو وخت ور پیښه سوی وی د سړی د مزاجه بنځو د پاره هم بې حده فایده لری و بعضو خلګو ته د ژر انزالید و شکایت د پیرو پیښیږی په دی کښی علاوه د نور د خرابیو څخه یو نقصان دا هم دی چه اولاد ئې نه کیږی نو د غسی خلګ دی دغه ګولی استعمال کړی. طباشیر (بنسلوچن) مصطګی رومی (کندر رومی) جدوار (زرښک) جوتری، دارچینی قلمی، ثعلب مصری (خصیة الثعلب) شقاقل مصری، بهمن سرخ، بهمن سفید د رنج عقربی، پوست بیدون پسته، نشاسته (آبکون) کچله مدبر، کشته فولاد، مغز چلغوزه، شونډ او بزر البنج سفید، ټول څلور څلور رتی، ماهی رو بیان د سړی ماشی مغز بادام شیرین یوه یوه دانه او زعفران دوی رتی ښه باریک میده کړه بیا خالص تاریاک چه وزن ئې څلور نیمی ماشی وی په اوبو کښی ډیلی کړه او دغه دوایانی ور سره ګډ ی کړه بیا خالص مشک دوی رتی، خالص عنبر دوی دوی رتی، ورق نقره یعنی د سپینو زرو ورقی اووه (۷) دانی اوورق طلا د سړی نیمی دانی، کرل کړه ترکرلو ورسته ئې په ښه طریقه سره ور سره ګډ کړه ترګډ ولو وروسته د تورو مرچو په اندازه ګولی خندی جوړی کړه بیا یوه ګولی مخکی تر مجامعت او نژدیکت خوړه او دغه ګولی به تر مجامعت هم د سړی ساعته مخکی وی که شیدی بنی د ربانده ی لګیږی نو د شیدو سره ئې خوړه او که بنی نه د ربانده ی لګیږی نو د یوه غوړپ او بو سره ئې تیروه وهرچاته چه نزله او زکام د پیرو ر پیښیږی هغه دی د زکام څخه تر اړه والی ورسته تر یو څو ورځو پورې هره ورځ یوه یوه ګولی د سهار په وخت کښی خوری نو آینده بیا زکام نه ور پیښیږی که تاریاکی تاریاک پریږدی نو یو څو ورځې دی دغه ګولی وخوری انشاءالله د تاریاکو عمل به خندی ولاړ سی بیا دی په تدریج او کرار کرار سره دغه ګولی هم پریږدی.

۱۵۴۵

دوهم قسم کم قیمته گولی چه مانع د سرعت انزال دی:- عاقر قرحا اوماؤ

سبز (عنص) شیر شیر ماشی، دانه الائچی کلان یعنی دلوی هیل دانی دوی تولی تخم ریحان دُرّی تولی، او مصطگی رومی (کندر رومی) یوه توله وکوټه او وئ چوې ترچوهلو وردسته ئ په اوبو کښی واخښه بیا د دُوٗ (۲) و دوٗ (۲) و ماشو په اندازه گولی خُندی جوړی کړه بیا د سری گولی د مجامعت څخه دوه درې ساعته مخکی د غواړ شید و سره تیری کړه.

غذا چه مردانه طاقت زیاتوی او منی سختوی:- یو پوره پاؤ د ماشو

دال را واخله د پیاز د عرق ور واچوه چه د غه دال بنه لوند سی بیا وه شیه ئ پریږده چه خیشت وخوری بیا ئ په سایه کښی وچ کړه د غه رنگه ئ دُرّی (۳) وار ه لوند او وچ کړه بیا پوستونه خُندی لیری کړه او درسره وئ ساته بیا هره درځ پاؤ کمی دوی تولی را واخله او میده ئ کړه او کچه او خام کهانړ پاؤ کم دوی تولی، غوړی هم پاؤ کم دوی تولی ورسره گډه د ترگډ ولو وردسته ئ بیله پخیده (۱) و خوړه د خورک سلسله ئ ترڅلو یښتو ورجوړی جاری وساته د بنځی څخه جلا بیدیږه بیا ئ نو د تاثیر ته وگوره د جریان دپاره هم مفید دی. (قانون جلد دوهم)

غذا چه مردانه طاقت، پښتورگی او د اسی نور قوی کوی او پیدا کونکی د نطفی او منی ده او د ملاد رد دفعه کوي

د غوا غوړی او د غواشیدی او د پستی تیل یو یو پاؤ را واخله او سره گډ ئ کړه ترگډ ولو وردسته ئ پاخه کړه تر دا سی حده چه یو پاؤ پاته سی بیا ئ په یو صفا لوښی کښی کښیږده او هره درځ د سهار په وخت کښی ئ د دُوٗ (۲) و تولو څخه ترڅلور د تولو پوری خوړه

غذا چه مقوی د طاقت مردانه او پښتورگو ده پیدا کونکی د نطفی او منی ده قریب و اعتدال ته ده.

بنه نخود چه غټی غټی دانی ئ وی را واخله د پیاز د په او بو کښی ئ خیشته

---

(۱) که چیری د غه دال پوخ کړی هم پروا نلری نور بنه خوند ور کیږی (۲) محشی

کړه او بیائی په سایه کښی وچ کړه دغه رنګه اووه (۷) واړه اولنۍ ټرلۍ (۳) دری واړه لاندې او وچ کړه تر دغه وروسته ئی میده کړه همونږ مصری یعنی د نخود دوسره برابر مصری وړسره ګډ کړه بیا یوه توله سهار او شپږ ماشی دبیدبدو پروخت دشیدو سره خوړه.

غذا چه طاقت مردانه زیاتوی او سړی او خنک مزاج خلګو پاره ده

دپیازو څخه ښه تخم سوی او به یو پاو او خالص شات سم یو پاؤ سره ګډ کړه تر ګډولو وروسته ئی پاخه کړه تر اسی حده چه یو پاؤ پاته سی بیائی دیوه نیمی تولی څخه تر ډوډو تولو پوری دګرمو اوبو یا چایو سره دبیدبدو په وخت کښی خوړه.

غذا چه طاقت مردانه او تول بدن قوی کوی، منی پیدا کونکی او د تول بدن تیارونکی ده.

مغز حب القلقل، مغز بادام شیرین، مغز فندق او د جوز (۵) مغز پنځه پنځه تولی مغز نارجیل یعنی دکوپری مغز او د چلغوزی مغز اووه (۷) اووه (۷) تولی پتول جلا جلا وکوټه بیا اته شپیته (۶۸) تولی قند سفید قوام کړه هم داسی قوام چه خټه وی یوه ماشه خالص مشک او دری ماشی زعفران په عرق کیوړه (عرق کدر) کښی حل کړه تر حلولو وروسته ئی په دغه قوام ګډ کړه او دغه ذکر سوی مغزیات ښه وړسره ګډ کړه یوه نیمه توله هره وړځ خوړه که ئی چیری قیمت کمول غواړی بیا مشک مه وراچوه.

حلوا چه مقوی د طاقت مردانه او معدی دپاره ده

یو پاؤ ښه نخود دپیازو په اوبو کښی یا په خالص اوبو کښی ښه خیشته کړه هروخت چه وپرسیږی بیائی دغوایا بل شی په غوړو کښی لږ څه سره کړه بیا دوی په قدر چلغوزه وړسره ګډ کړه بیا ئی سره وکوټه تر کوتلو وروسته

---

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ ۱۷ ۱۸ ۱۹ ۲۰ ۲۱ ۲۲ ۲۳ ۲۴ ۲۵ ۲۶ ۲۷ ۲۸ ۲۹ ۳۰ ۳۱ ۳۲ ۳۳ ۳۴ ۳۵ ۳۶ ۳۷ ۳۸ ۳۹ ۴۰ ۴۱ ۴۲ ۴۳ ۴۴ ۴۵ ۴۶ ۴۷ ۴۸ ۴۹ ۵۰ ۵۱ ۵۲ ۵۳ ۵۴ ۵۵ ۵۶ ۵۷ ۵۸ ۵۹ ۶۰ ۶۱ ۶۲ ۶۳ ۶۴ ۶۵ ۶۶ ۶۷ ۶۸ ۶۹ ۷۰ ۷۱ ۷۲ ۷۳ ۷۴ ۷۵ ۷۶ ۷۷ ۷۸ ۷۹ ۸۰ ۸۱ ۸۲ ۸۳ ۸۴ ۸۵ ۸۶ ۸۷ ۸۸ ۸۹ ۹۰ ۹۱ ۹۲ ۹۳ ۹۴ ۹۵ ۹۶ ۹۷ ۹۸ ۹۹ ۱۰۰ ۱۰۱ ۱۰۲ ۱۰۳ ۱۰۴ ۱۰۵ ۱۰۶ ۱۰۷ ۱۰۸ ۱۰۹ ۱۱۰ ۱۱۱ ۱۱۲ ۱۱۳ ۱۱۴ ۱۱۵ ۱۱۶ ۱۱۷ ۱۱۸ ۱۱۹ ۱۲۰ ۱۲۱ ۱۲۲ ۱۲۳ ۱۲۴ ۱۲۵ ۱۲۶ ۱۲۷ ۱۲۸ ۱۲۹ ۱۳۰ ۱۳۱ ۱۳۲ ۱۳۳ ۱۳۴ ۱۳۵ ۱۳۶ ۱۳۷ ۱۳۸ ۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۱ ۱۴۲ ۱۴۳ ۱۴۴ ۱۴۵ ۱۴۶ ۱۴۷ ۱۴۸ ۱۴۹ ۱۵۰ ۱۵۱ ۱۵۲ ۱۵۳ ۱۵۴ ۱۵۵ ۱۵۶ ۱۵۷ ۱۵۸ ۱۵۹ ۱۶۰ ۱۶۱ ۱۶۲ ۱۶۳ ۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ ۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۱۷۰ ۱۷۱ ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۷۴ ۱۷۵ ۱۷۶ ۱۷۷ ۱۷۸ ۱۷۹ ۱۸۰ ۱۸۱ ۱۸۲ ۱۸۳ ۱۸۴ ۱۸۵ ۱۸۶ ۱۸۷ ۱۸۸ ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱ ۱۹۲ ۱۹۳ ۱۹۴ ۱۹۵ ۱۹۶ ۱۹۷ ۱۹۸ ۱۹۹ ۲۰۰ ۲۰۱ ۲۰۲ ۲۰۳ ۲۰۴ ۲۰۵ ۲۰۶ ۲۰۷ ۲۰۸ ۲۰۹ ۲۱۰ ۲۱۱ ۲۱۲ ۲۱۳ ۲۱۴ ۲۱۵ ۲۱۶ ۲۱۷ ۲۱۸ ۲۱۹ ۲۲۰ ۲۲۱ ۲۲۲ ۲۲۳ ۲۲۴ ۲۲۵ ۲۲۶ ۲۲۷ ۲۲۸ ۲۲۹ ۲۳۰ ۲۳۱ ۲۳۲ ۲۳۳ ۲۳۴ ۲۳۵ ۲۳۶ ۲۳۷ ۲۳۸ ۲۳۹ ۲۴۰ ۲۴۱ ۲۴۲ ۲۴۳ ۲۴۴ ۲۴۵ ۲۴۶ ۲۴۷ ۲۴۸ ۲۴۹ ۲۵۰ ۲۵۱ ۲۵۲ ۲۵۳ ۲۵۴ ۲۵۵ ۲۵۶ ۲۵۷ ۲۵۸ ۲۵۹ ۲۶۰ ۲۶۱ ۲۶۲ ۲۶۳ ۲۶۴ ۲۶۵ ۲۶۶ ۲۶۷ ۲۶۸ ۲۶۹ ۲۷۰ ۲۷۱ ۲۷۲ ۲۷۳ ۲۷۴ ۲۷۵ ۲۷۶ ۲۷۷ ۲۷۸ ۲۷۹ ۲۸۰ ۲۸۱ ۲۸۲ ۲۸۳ ۲۸۴ ۲۸۵ ۲۸۶ ۲۸۷ ۲۸۸ ۲۸۹ ۲۹۰ ۲۹۱ ۲۹۲ ۲۹۳ ۲۹۴ ۲۹۵ ۲۹۶ ۲۹۷ ۲۹۸ ۲۹۹ ۳۰۰ ۳۰۱ ۳۰۲ ۳۰۳ ۳۰۴ ۳۰۵ ۳۰۶ ۳۰۷ ۳۰۸ ۳۰۹ ۳۱۰ ۳۱۱ ۳۱۲ ۳۱۳ ۳۱۴ ۳۱۵ ۳۱۶ ۳۱۷ ۳۱۸ ۳۱۹ ۳۲۰ ۳۲۱ ۳۲۲ ۳۲۳ ۳۲۴ ۳۲۵ ۳۲۶ ۳۲۷ ۳۲۸ ۳۲۹ ۳۳۰ ۳۳۱ ۳۳۲ ۳۳۳ ۳۳۴ ۳۳۵ ۳۳۶ ۳۳۷ ۳۳۸ ۳۳۹ ۳۴۰ ۳۴۱ ۳۴۲ ۳۴۳ ۳۴۴ ۳۴۵ ۳۴۶ ۳۴۷ ۳۴۸ ۳۴۹ ۳۵۰ ۳۵۱ ۳۵۲ ۳۵۳ ۳۵۴ ۳۵۵ ۳۵۶ ۳۵۷ ۳۵۸ ۳۵۹ ۳۶۰ ۳۶۱ ۳۶۲ ۳۶۳ ۳۶۴ ۳۶۵ ۳۶۶ ۳۶۷ ۳۶۸ ۳۶۹ ۳۷۰ ۳۷۱ ۳۷۲ ۳۷۳ ۳۷۴ ۳۷۵ ۳۷۶ ۳۷۷ ۳۷۸ ۳۷۹ ۳۸۰ ۳۸۱ ۳۸۲ ۳۸۳ ۳۸۴ ۳۸۵ ۳۸۶ ۳۸۷ ۳۸۸ ۳۸۹ ۳۹۰ ۳۹۱ ۳۹۲ ۳۹۳ ۳۹۴ ۳۹۵ ۳۹۶ ۳۹۷ ۳۹۸ ۳۹۹ ۴۰۰ ۴۰۱ ۴۰۲ ۴۰۳ ۴۰۴ ۴۰۵ ۴۰۶ ۴۰۷ ۴۰۸ ۴۰۹ ۴۱۰ ۴۱۱ ۴۱۲ ۴۱۳ ۴۱۴ ۴۱۵ ۴۱۶ ۴۱۷ ۴۱۸ ۴۱۹ ۴۲۰ ۴۲۱ ۴۲۲ ۴۲۳ ۴۲۴ ۴۲۵ ۴۲۶ ۴۲۷ ۴۲۸ ۴۲۹ ۴۳۰ ۴۳۱ ۴۳۲ ۴۳۳ ۴۳۴ ۴۳۵ ۴۳۶ ۴۳۷ ۴۳۸ ۴۳۹ ۴۴۰ ۴۴۱ ۴۴۲ ۴۴۳ ۴۴۴ ۴۴۵ ۴۴۶ ۴۴۷ ۴۴۸ ۴۴۹ ۴۵۰ ۴۵۱ ۴۵۲ ۴۵۳ ۴۵۴ ۴۵۵ ۴۵۶ ۴۵۷ ۴۵۸ ۴۵۹ ۴۶۰ ۴۶۱ ۴۶۲ ۴۶۳ ۴۶۴ ۴۶۵ ۴۶۶ ۴۶۷ ۴۶۸ ۴۶۹ ۴۷۰ ۴۷۱ ۴۷۲ ۴۷۳ ۴۷۴ ۴۷۵ ۴۷۶ ۴۷۷ ۴۷۸ ۴۷۹ ۴۸۰ ۴۸۱ ۴۸۲ ۴۸۳ ۴۸۴ ۴۸۵ ۴۸۶ ۴۸۷ ۴۸۸ ۴۸۹ ۴۹۰ ۴۹۱ ۴۹۲ ۴۹۳ ۴۹۴ ۴۹۵ ۴۹۶ ۴۹۷ ۴۹۸ ۴۹۹ ۵۰۰ ۵۰۱ ۵۰۲ ۵۰۳ ۵۰۴ ۵۰۵ ۵۰۶ ۵۰۷ ۵۰۸ ۵۰۹ ۵۱۰ ۵۱۱ ۵۱۲ ۵۱۳ ۵۱۴ ۵۱۵ ۵۱۶ ۵۱۷ ۵۱۸ ۵۱۹ ۵۲۰ ۵۲۱ ۵۲۲ ۵۲۳ ۵۲۴ ۵۲۵ ۵۲۶ ۵۲۷ ۵۲۸ ۵۲۹ ۵۳۰ ۵۳۱ ۵۳۲ ۵۳۳ ۵۳۴ ۵۳۵ ۵۳۶ ۵۳۷ ۵۳۸ ۵۳۹ ۵۴۰ ۵۴۱ ۵۴۲ ۵۴۳ ۵۴۴ ۵۴۵ ۵۴۶ ۵۴۷ ۵۴۸ ۵۴۹ ۵۵۰ ۵۵۱ ۵۵۲ ۵۵۳ ۵۵۴ ۵۵۵ ۵۵۶ ۵۵۷ ۵۵۸ ۵۵۹ ۵۶۰ ۵۶۱ ۵۶۲ ۵۶۳ ۵۶۴ ۵۶۵ ۵۶۶ ۵۶۷ ۵۶۸ ۵۶۹ ۵۷۰ ۵۷۱ ۵۷۲ ۵۷۳ ۵۷۴ ۵۷۵ ۵۷۶ ۵۷۷ ۵۷۸ ۵۷۹ ۵۸۰ ۵۸۱ ۵۸۲ ۵۸۳ ۵۸۴ ۵۸۵ ۵۸۶ ۵۸۷ ۵۸۸ ۵۸۹ ۵۹۰ ۵۹۱ ۵۹۲ ۵۹۳ ۵۹۴ ۵۹۵ ۵۹۶ ۵۹۷ ۵۹۸ ۵۹۹ ۶۰۰ ۶۰۱ ۶۰۲ ۶۰۳ ۶۰۴ ۶۰۵ ۶۰۶ ۶۰۷ ۶۰۸ ۶۰۹ ۶۱۰ ۶۱۱ ۶۱۲ ۶۱۳ ۶۱۴ ۶۱۵ ۶۱۶ ۶۱۷ ۶۱۸ ۶۱۹ ۶۲۰ ۶۲۱ ۶۲۲ ۶۲۳ ۶۲۴ ۶۲۵ ۶۲۶ ۶۲۷ ۶۲۸ ۶۲۹ ۶۳۰ ۶۳۱ ۶۳۲ ۶۳۳ ۶۳۴ ۶۳۵ ۶۳۶ ۶۳۷ ۶۳۸ ۶۳۹ ۶۴۰ ۶۴۱ ۶۴۲ ۶۴۳ ۶۴۴ ۶۴۵ ۶۴۶ ۶۴۷ ۶۴۸ ۶۴۹ ۶۵۰ ۶۵۱ ۶۵۲ ۶۵۳ ۶۵۴ ۶۵۵ ۶۵۶ ۶۵۷ ۶۵۸ ۶۵۹ ۶۶۰ ۶۶۱ ۶۶۲ ۶۶۳ ۶۶۴ ۶۶۵ ۶۶۶ ۶۶۷ ۶۶۸ ۶۶۹ ۶۷۰ ۶۷۱ ۶۷۲ ۶۷۳ ۶۷۴ ۶۷۵ ۶۷۶ ۶۷۷ ۶۷۸ ۶۷۹ ۶۸۰ ۶۸۱ ۶۸۲ ۶۸۳ ۶۸۴ ۶۸۵ ۶۸۶ ۶۸۷ ۶۸۸ ۶۸۹ ۶۹۰ ۶۹۱ ۶۹۲ ۶۹۳ ۶۹۴ ۶۹۵ ۶۹۶ ۶۹۷ ۶۹۸ ۶۹۹ ۷۰۰ ۷۰۱ ۷۰۲ ۷۰۳ ۷۰۴ ۷۰۵ ۷۰۶ ۷۰۷ ۷۰۸ ۷۰۹ ۷۱۰ ۷۱۱ ۷۱۲ ۷۱۳ ۷۱۴ ۷۱۵ ۷۱۶ ۷۱۷ ۷۱۸ ۷۱۹ ۷۲۰ ۷۲۱ ۷۲۲ ۷۲۳ ۷۲۴ ۷۲۵ ۷۲۶ ۷۲۷ ۷۲۸ ۷۲۹ ۷۳۰ ۷۳۱ ۷۳۲ ۷۳۳ ۷۳۴ ۷۳۵ ۷۳۶ ۷۳۷ ۷۳۸ ۷۳۹ ۷۴۰ ۷۴۱ ۷۴۲ ۷۴۳ ۷۴۴ ۷۴۵ ۷۴۶ ۷۴۷ ۷۴۸ ۷۴۹ ۷۵۰ ۷۵۱ ۷۵۲ ۷۵۳ ۷۵۴ ۷۵۵ ۷۵۶ ۷۵۷ ۷۵۸ ۷۵۹ ۷۶۰ ۷۶۱ ۷۶۲ ۷۶۳ ۷۶۴ ۷۶۵ ۷۶۶ ۷۶۷ ۷۶۸ ۷۶۹ ۷۷۰ ۷۷۱ ۷۷۲ ۷۷۳ ۷۷۴ ۷۷۵ ۷۷۶ ۷۷۷ ۷۷۸ ۷۷۹ ۷۸۰ ۷۸۱ ۷۸۲ ۷۸۳ ۷۸۴ ۷۸۵ ۷۸۶ ۷۸۷ ۷۸۸ ۷۸۹ ۷۹۰ ۷۹۱ ۷۹۲ ۷۹۳ ۷۹۴ ۷۹۵ ۷۹۶ ۷۹۷ ۷۹۸ ۷۹۹ ۸۰۰ ۸۰۱ ۸۰۲ ۸۰۳ ۸۰۴ ۸۰۵ ۸۰۶ ۸۰۷ ۸۰۸ ۸۰۹ ۸۱۰ ۸۱۱ ۸۱۲ ۸۱۳ ۸۱۴ ۸۱۵ ۸۱۶ ۸۱۷ ۸۱۸ ۸۱۹ ۸۲۰ ۸۲۱ ۸۲۲ ۸۲۳ ۸۲۴ ۸۲۵ ۸۲۶ ۸۲۷ ۸۲۸ ۸۲۹ ۸۳۰ ۸۳۱ ۸۳۲ ۸۳۳ ۸۳۴ ۸۳۵ ۸۳۶ ۸۳۷ ۸۳۸ ۸۳۹ ۸۴۰ ۸۴۱ ۸۴۲ ۸۴۳ ۸۴۴ ۸۴۵ ۸۴۶ ۸۴۷ ۸۴۸ ۸۴۹ ۸۵۰ ۸۵۱ ۸۵۲ ۸۵۳ ۸۵۴ ۸۵۵ ۸۵۶ ۸۵۷ ۸۵۸ ۸۵۹ ۸۶۰ ۸۶۱ ۸۶۲ ۸۶۳ ۸۶۴ ۸۶۵ ۸۶۶ ۸۶۷ ۸۶۸ ۸۶۹ ۸۷۰ ۸۷۱ ۸۷۲ ۸۷۳ ۸۷۴ ۸۷۵ ۸۷۶ ۸۷۷ ۸۷۸ ۸۷۹ ۸۸۰ ۸۸۱ ۸۸۲ ۸۸۳ ۸۸۴ ۸۸۵ ۸۸۶ ۸۸۷ ۸۸۸ ۸۸۹ ۸۹۰ ۸۹۱ ۸۹۲ ۸۹۳ ۸۹۴ ۸۹۵ ۸۹۶ ۸۹۷ ۸۹۸ ۸۹۹ ۹۰۰ ۹۰۱ ۹۰۲ ۹۰۳ ۹۰۴ ۹۰۵ ۹۰۶ ۹۰۷ ۹۰۸ ۹۰۹ ۹۱۰ ۹۱۱ ۹۱۲ ۹۱۳ ۹۱۴ ۹۱۵ ۹۱۶ ۹۱۷ ۹۱۸ ۹۱۹ ۹۲۰ ۹۲۱ ۹۲۲ ۹۲۳ ۹۲۴ ۹۲۵ ۹۲۶ ۹۲۷ ۹۲۸ ۹۲۹ ۹۳۰ ۹۳۱ ۹۳۲ ۹۳۳ ۹۳۴ ۹۳۵ ۹۳۶ ۹۳۷ ۹۳۸ ۹۳۹ ۹۴۰ ۹۴۱ ۹۴۲ ۹۴۳ ۹۴۴ ۹۴۵ ۹۴۶ ۹۴۷ ۹۴۸ ۹۴۹ ۹۵۰ ۹۵۱ ۹۵۲ ۹۵۳ ۹۵۴ ۹۵۵ ۹۵۶ ۹۵۷ ۹۵۸ ۹۵۹ ۹۶۰ ۹۶۱ ۹۶۲ ۹۶۳ ۹۶۴ ۹۶۵ ۹۶۶ ۹۶۷ ۹۶۸ ۹۶۹ ۹۷۰ ۹۷۱ ۹۷۲ ۹۷۳ ۹۷۴ ۹۷۵ ۹۷۶ ۹۷۷ ۹۷۸ ۹۷۹ ۹۸۰ ۹۸۱ ۹۸۲ ۹۸۳ ۹۸۴ ۹۸۵ ۹۸۶ ۹۸۷ ۹۸۸ ۹۸۹ ۹۹۰ ۹۹۱ ۹۹۲ ۹۹۳ ۹۹۴ ۹۹۵ ۹۹۶ ۹۹۷ ۹۹۸ ۹۹۹ ۱۰۰۰

ئی په دوند ی شاتو گډ کړه چه پکښی واخښل سی - بیا مصطگی رومی (کندر رومی) او دارچینی قلمی یوه یوه توله باریک میده کړه ترمیدو لو وروسته ئی ورسره گډ کړه او بیا ئی په مجمع یاپتنوس یا بل دغسی شی کښی واچوه چه کلک او سخت سی ترسختوالی وروسته ئی توپی توپی کړه درسره وئی ساته ددوو (۲) تولو څخه بیا تر پنځو تولو پورې ئی خورک دی.

دواچه مردانه طاقت زیاتوی اوکم مصرفه هم دی

بنه ۱۰ غټ نخود په نخود وکښی راټول کړه دوی (۲) تولی دشپی په اوبوکښی خیشته کړه سهار نخود داوبو څخه راوکاږه او په یوه یوه ئی وخوړه وروسته بیا دغه د نخودو او به په شاتوگډی کړه وئی چیښه بعضو خلگو ته ددی څخه بی حده فایده رسیدلی ده

په طور داختصار دیوځو قوی غذاؤ ذکر چه قوت مردانه زیاتوی

د چرگانو غوښی د نر تیار پسه غوښه، د مرغانو غوښی، نیم خامه هګی خصوصًا د دارچینی تور د مرچو، او خولنجان سره یا د نمک سلیمانی سره د ماهی هګی اود چوغکو او کوترو سره رونه، غوړی او شیدی، شیدی او درجی (شیر برنج) او خاګینه (مقوی او عمده خوراکونه دی)

د معجون زعفرانی نسخه: تور مرچ، پیپل، شونډ، خرفه، دارچینی قلمی، اولونګ یوه یوه ماشه، تودری سرخ، تودری سفید، بهمن سفید، بهمن سرخ، بونږد ان، اندرجو شیرین لسان العصافیر) قسط شیرین، ناګرموتا (مشک زیرزمین) او بالچهړ (سنبل طیب) دری دری ماشی وکوټه او وئی چوپه په دوولس نیمو تولو خالص شاتو ئی گډ کړه درسره وئی ساته او یوه یوه توله هره ورځ خوره. (طب اکبر ۱۲ مخه)

دا معجون په طبیعت کښی جوش پیدا کوی او دهر چاته چه بولی ډیری ورځی دهغه د پاره بی اندازی فایده لری.

---

۱ مګر دا معجون زعفرانی گرم دی خنګ مزاجه خلګ دی وخوری (نظر ثالث) ۱۲ محشی

معجون چه طاقت مردانه، اعصاب او دماغ ته طاقت ور کوی او د نطفې تولید کوی

مغز پسته، مغز چلغوزه، مغز بادام شیرین، مغز جوز، مغز فندق، اینځر مغز نارجیل یعنی دکوپری مغز - حب السمنه او تخم خشخاش سفید یوه یوه توله کشمش پنځه تولی، خوبانی (زردالو) شپږ ماشی پتول بنه وکوټه د مرهمو په شان ټی کړه بیا بهدانه (حب السفرجل) دوی پتولی حب القرطم درې (۳) ی تولی او بنوله درې تولی د غه درې سره ریزه کړه په نیم سیر اوبو کښې ټی پاخه کړه چه بنه جوش وکړی بیا ټی وښنه او وټی چوپنه او بیا څلیر ویشت تولی شات (شطه) او اته څلویښت تولی قند سفید او د غه میده سوی میوی پتول سره ګډ کړه او تر شربتو خټه قوام څنډی جوړ کړه بیا شقاقل مصری، خونجان، ستاور او تیج قلمی یوه یوه توله، بسباسه (جاوتری) لونګ، جائفل، عاقرقرحا او مالکنګنی شپږ شپږ ماشی وکوټه وټی چوپنه او تر چوپلو وروسته ټی د قوام سره ګډ کړه بیاد سپینو زرو ورقی یوه نیمه ماشه د سروزرو ورقی شپږ رتی یا په حساب سره شل دانی په لږ څه شاتو کښې حل کړه بیا ټی تر حلولو وروسته د قوام سره ګډ کړه خوراک ټی یوه توله د شیدو سره یا بیله شیدو هره ورځ دی.

د غه معجون نژدی واعتدال او معتدلوالی ته دی پرهر مزاج بنه لګیږی که د د غه معجون سره یوه ماشه کشته فولاد او یوه ماشه کچله مدبر هم ګډ کړی یوه توله هره ورځ دیوی دانی آملی سره چه مربا سوی وی خوری - او سر بیره څلور تولی عرق کیوړه (عرق کدر) پرچینبی غذا دسهار دخوا خاګینه او ما بنام پیرینی چه په د غه کښې چهواری (وچی خورماوی) هم اچول سوی وی خوړی او په د غه طریقه سره یوه څلویښتی پوره کړی او د بنځې څخه جلا بیدیږی نو تر اندازه زیاته نفعه به ټی وویني - دا معجون وزړه نه هم دیر طاقت ورکوی نو د دی سبب د هغه مردانه کمزوری ته هم ډیره فایده کوی چه دزړه د ضعف څخه پیدا سوی وی.

معجون چه طاقت مردانه قوی کوی منی تولیدوی او کم قیمته دی.

د نیمو سوو او سپینو سو و خودو او ره او پنځه دهګی زړ په او بو کښې پاخه کړه

هر وخت چه حلوا غونډی سی د غوا غوړی یا بل هر قسم غوړی چه وی پنځه تولی او خالص شهد پنځه تولی ورسره ګډ کړه اود معجون غونډی قوام ځنډی جوړ کړه بیا هره ورځ څلور تولی خوړه مجرب معجون دی.

د مردانه کمزورۍ د دوهم صورت بیان

هغه دادی چه خواهش نفسانی پرځپل حال وی مګر په مخصوص اندام کښی یو نقصان پیدا سی د دی سبب په نژدیکت قدرت نه لری د دی د پیر صورتونه دی یو صورت ئی دادی چه په مخصوص اندام کښی صرف ضعف او سستوالی وی علاج ئی دادی چه د غه طلا جوړه کړه او کوم ترکیب چه ئی درج سوی دی د هغه سره ئی موافق ولګوه.

هر تال طبقی، سنکهیا سفید (سم الفار سفید) مینځها تیلیه او نوشادر، څلور سره د وایانی د وی د وی تولی راواخله او ښه به ئی باریکی میده کړی او یو پاؤ د غوا صاف او خالص غوړی ورسره ګډ کړه بیا د وی تولی پاره په د وی کښی ښه حل کړه تر د غه وروسته ئی د اوسپنی په هر کار ه کښی واچوه پرسپک اور ئی پاخه کړه. نزد اسی حده چه د وایانی د سوځل سی سکاره سی بیا د هغه لوړو لوړو غوړو څخه څکه غوړ حوه او بیا ئی وچونه تر چونلو وروسته ئی په او سیښه کښی واچوه بیا نو د شپی په وخت کښی پښه په د غو غوړو ککړوه وکړار کړار ئی پر مخصوص اندام لګوه په داسی طریقه سره چه حشفه یعنی د ذکر سر او لاندنی طرف یعنی خالي دککړولو او ګولو څخه پاته سی او سر بیره بیا بنګله پان که چیزی دانه وی دیسی او وطنی پان پرو پیچه په داسی حال کښی چه د غه پان یو څه ګرم سوی وی سهار ئی بیا ځنډی خلاص کړه - او وه ورځی یا څوراس ورځی یا یو یشت ورځی د غسی عمل وکړه د استعمال په وخت کښی

د یخو اوبو او جماع ونژدیکت څخه پرهیز کوه کـه د دغی طلا د استعمال په زمانه کښی د وډی او پنیدو څان د پاره غذا وګرځوی نو په زیاته فایده لری د دی طلا څخه تکلیف د پیرکم پیښیږی پر عضو مخصوص دانی راختل او بل دامی هیڅ شی نه پیښیږی و بعضو خلګو ته بالکل تکلیف نه ورپیښیږی کـه وچا ته اتفاقاً یو تکلیف ورپیښ سی بیادی یوه ورځ یا دوی ورځی (طلا لګول) ناغه کړی یادی کا فور د غوا ـ کو چوسره ګډ کړی ورډسته دی په عضو مخصوص پورې ولګوی او یو صورت دادی چه په عضو مخصوص کښی کږوالی موجود سی د دی علاج دادی چه اول د ګرډ او کاږه ځای د نرمولو علاج اود را وکړی بیا د تو د را وکړی

د نرمولو داداده :- بیخ سوسن شیږ ماشی په نیم پاؤ اوبو کښی پوخ کړه چه هر وخت ښه جوش وخوړی بیائی سره د مښه ترمښو ولو ورډسته ئی وچوپه بیا روغن بابونه د دوی (۲) توکی ورسره ګډ کړه دوهم وار بیا جوش ورکړه تر دا سی حده چه اوبه وسوځل سی تیل پاته سی بیا د چرګی چربی، د بطی چربی، د غوا دهډو ماغزه او موم زرد - د دوی (۲) د دوی توکی ورسره ګډ کړه پراورئی کښیږده بوذات اویو شی څنډی جوړ کړه او په سینه کښی ئی وساته بیائی نو د سهار په وخت کښی ګرم کړه په عضو مخصوص پورې ئی و مښه په لاس سره ئی سیده او برابر کړه تر نیم ساعت ورډسته ګل بابونه ، اکلیل الملک، او بنفشه شیږ شیږ ماشی په نیم سیر اوبو کښی پاخه کړه تر پخولو ورډسته ئی وچوپه بیا د غه چوپړ سوی او به پرتوی کړه د سری څلور ورځی یا یوه هفته غرض هر وخت چه کـه بی اوکږوالی لیری سی تر هغه وخته ئی استعمال کړه بیا نو د قوت د پاره هغه طلا چه په اول قسم کښی تیره سوی ده په ترکیب مذکور سره ئی ولګوه نهایت مجرب ده .

د غه طلا هم مفید ده مغز تخم کرنجوه ، جائفل ، لونګ ، اوعاقرقرحا دوی دوی ماشی باریک میده کړه ترمید ولو ورډسته ئی د سینه (زقوم) په شید وکښی واخښه تر اخښلو ورډسته ګولی څنډی جوړی کړه بیا د ضرورت په وخت کښی لږ عوښدی ګولی د چنبیلی د تیلو په د سری څلور څاڅکی کښی و مښته حل ئی کړه یعنی وِیلي ئی کړه تر د غه ورډسته ئی پرخاص اندام

ونگوه سر بیره بیا بهنگله پان گرم کړه پر عضو مخصوص ئې وتړه یوه هفته یا څورلس ورځې دغسې وکړه

او یوصورت دادی:- چه د عضو مخصوص بیخ نرۍ سی او د مغ خوا ئې پنډه سی دا مرض اکثره د مشت زنی (مټ وهلو) او لواطت څخه پیدا کیږی.

علاج:- د چنگو بنې[۱] چربي پاو بالا یوه توله، عاقرقرحا لس نیمی ماشی، د غوا غوړی د رنیمی تولی، اول غوړی گرم کړه بیا د چونگو بنی چربي ورواچوه یولږ گړی ئې پراو رکښیږده بیا ئې راکښته کړه نرۍ راکښته کولو وروسته عاقرقرحا باریکه میده کړه ورسره گډ ئې کړه تر یوه ساعته پورې ئې بنه سره حل کړه چه هر هم غوندی سی بیا په داسی حال کښی چه دغه دوا نیمگړمه وی عضو مخصوص په ککړ کړه تر کلړ ولو وروسته پان پرکښیږده بیا تر دغه دروسته عضو مخصوص په یو اومه سپینسی اوربنگی کښی د پیچه دشپی ئې په دغو شیانو بنی د پیچه سهار ئې خلاصوه تر یوی هفتی پورې دغسې وکړه

تنبیه:- دریابی اود او بو چنگو بنه باید استعمال سی ځکه چه دوچی د چنگو بنی چربي ناپاکه ده استعمال ئې روانه دی.

د او بو او دریابی چنگو بنی علامه داده چه د دی دگو تو په منځ کښی پرده وی لکه د بطی دگو تو په منځ کښی چه سته که د او بو چونگو بنه نه پیدا کیږی نه د دی د چربي، او غوړ ځکی پرځای روغن بلسان یا د غوا چربي یا د چرگی چربي یا د بطی چربي ورواچوه.

د دی مرض د پاره د تاکور دوا او نسخه:- د پیل د غابنو برادره دوی[۲] تولی، مالکنگنی او توری کنجتی نه نه ماشی، آنبه هلدی یوه توله، میده کړی (مغاس) مصطگی رومی (کندر رومی) دارچینی قلمی او عاقرقرحا دری دری[۳] ماشی، لونگ دوی ماشی او تج پنځه ماشی وکوټه ولی چونه او تر

---

۱ کښی بیا ورته ځیږی او ښه ښکلی ښکاری

۲ مسنه استعمال روزنه دی او ښه ښکلی ښکاری

۳ ئې استعمال ورځ یوه ورځ پرېږده دوه ورځې بیا استعمال کړه

(نظر ثالث)

چونه ور وسته ئی په یوکخوړه کښی وتړه او دکنجتو په تیلو کښی ئی خیشته کړه بیا وعضو مخصوص ته گرم گرم تاکور په ورکړه یوه هفته یا لږ ترلږه دری ورځی تاکور ورکړه یوه د تاکور کخوړه تر دوو ورځو پورې کار ورکولای سی بله تدبیر اوطریقه داده چه اول یوه هفته هغه دکړولو او نگولو ذوا استعمال کړی چه په هغی کښی د چونگو بنو چربی ده تر دغه وروسته یوه هفته یادری ورځی دغه تاکور وکړی که یوځه کسر او نقصان پاته وی نو بیا یوه هفته او یا څورلس ورځی هغه طلا ونگوله کوم چه په اول قسم کښی تیره سوېده چه په هغی کښی نوشادر اوپاره هم سته.

دریم قسم د مردانه کمزورۍ دادی:- چه خواهش نفسانی هم کم وی او په عضو مخصوص کښی هم فرق وی د دی دپاره د خوړلو دوایانی هم په کار دی او د نگولو او د مالش د دوایانو هم ضرورت دی د خوړلو دوایانی په اول قسم کښی او د نگولو دوایانی په دوهم قسم کښی بیان سوی. فکر او غور پکښی وکړه د دغو د دوایانو څخه ئی راوباسه.

یوځومهمی خبری

د مردانه کمزورۍ دوایانی ډیر وختونه داسی هم وی چه په دوی کښی کچله یا یوبله زهرناکه دوا وی نو د دی سببه ځځه احتیاط په کار دی چه تر معلوم مقدار زیاته ونه خوړل سی او داسی ځای ئی مه اینږدی چه د کوچنیانو لاس ورورسیږی مبادا (داسی نه وی) چه یوځوک ئی وخوری خصوصًا په طلا او داسی نورو شیانو کښی چه د خارجی استعمال دپاره وی ضرور د احتیاط څخه کار واخلی ځکه چه طلا وی ډیری لږ د زهرو څخه خالی وی. د طلا پرسیښه د طلا نوم بلکه د (زهر) لفظ ضرور ولیکئ.

که یوځوک په غلطی سره د خوړلو زهرناکه دوا یا طلا وخوری نو تر ټولو بنه طریقه داده چه د هرچا څخه ئی د غه دوا یا طلا رانیولی وی د هغه څخه پوښتنه وکړی چه په دغه دوا یا طلا کښی کوم قسم زهرونه بیانو د طبیب یا ډاکټر څخه علاج وکړی.

د خواهش نفسانی د کثرت او پیروالی بیان

بعضی وختونه د دغه خواهش د کموالی ضرورت پیښیږی د دی سبب دا علاج هم لیکل کیږی که د خواهش نفسانی پیروالی د خوانی د جوش او مجرد والی په سبب سړه وی نو تر هغو لوښه علاج وادیه کول دی که چیری د وادیه قدرت نه لری نو بیادی دغه د واوخوړی تخم کاهو او تخم خرفه پنځه دیرش ماشی، دهنیه یعنی گشنیز لس نیمی ماشی، گلنار، گل نیلوفر او گل سرخ اووه اووه ماشی او کافور یوه ماشه وکوټه ترکو تلو وروسته ئی وچوپه او نرچونلو وروسته اسپغول مسلم لس نیمی ماشی وړسره گډ کړه او سفوف خندی جوړ کړه بیانه[۹] ماشی هره وړځ خوړه او د سړو فو یوه پتوکره پرملا باندی۔ د پښتورگی پر برابری واړه تروه شیان پریخوړه او په یخو اوبو لمبیږه وبعضو خلگو ته دا مرض ورپیښیږی چه که چیری نژدیکت او جماع وکړی نو بی اندازی کمزوری کیږی یا ئی شیطان پیر پیر خطا باسی یا سپکه هوندی تبه ورپیښیږی او دماغ ئی پریشانه کیږی د دی علاج دادی چه اول د تولید منی دکمولو کوشش وکړی وروسته تر دغه د قوت او د نطفی د غلظت او سختوالی کوشش وکړی په داسی طریقه سړه چه اول دی هغه سفوف وخوړی چه دگرم جریان په علاج کښی بیان سوه چه په دوی کښی اوله دوا د ببول (ام غیلان) کوندړی دی او د غواد شلمبو سړه خوړل کیږی۔

د دغه سفوف سړه تخم خرفه، تخم کاهو، گل نیلوفر او تخم خیارین یعنی د چمبر خیال او باد رنگ تخم دری دری ماشی نورزیات کړی او لږ تر لږه دی تریوی میاشتی پوری د جماع او نژدیکت څخه بالکل پرهیز وکړی که څه هم په دغه مابین کښی د جریان یا کثرت احتلام شکایت پیدا وی وروسته تر یوی میاشتی دی د قوت او غلظت د پاره معجون لبوب بارد یا د زردگی مقوی حلوا وخوړی د دوی نسخی د مردانه کمزوری په بیان کښی تیری سویدی۔

کثرت احتلام یعنی د پیر معذوره کیدل

دا یو وخت دگرمی څخه پیښیږی یو وخت د یخ او سړی څخه پیښیږی۔ د دی

علاج هغه دی چه د جریان علاج وو د جریان په باب کښی غور او فکر وکړه د کثرت احتلام د پاره د دوایانی خندی راوباسه د بیدیدو په وخت کښی د سړو یوتوتم پر مخلاد پښتو رگو په برابر تړل مجرب دی.

فایدہ ۱:- جماع او نژدیکت یو طبعی فعل او کار دی د نسل د بقاد پاره ضروری دی مگر د پیری په پیری جماع کول د غه پټول مرضونه پیدا کوی - ضعف بصر، د غوږو د رونده والی، د سړ چکر، رعشه یعنی ریږد، د مخلاد رد، د پښتو رگو کمزوری، د بولو د پیر والی، د معدی ضعف او د زړه ضعف خصوصًا د هغه چا د پاره چه د سترگو ضعف یا د معدی ضعف یا د سینی یو مریضی لری جماع او نژدیکت د پیر سخت مضر دی د دې د پاره خو د لو څخه لږ تر لږه د دری ساعته وروسته د جماع او نژدیکت عمده او ښه وخت دی په پیرډک نس سړه یا بالکل په خالی نس سړه یا په ستړیا کښی جماع او نژدیکت ضرری او تاوانی دی تر جماع او نژدیکت وروسته متصل او دستی او به چیښل د پیر سخت تاوان کوی خصوصًا چه یعنی او به[1] وی.

فایدہ ۲:- هر چا ته چه د کثرت جماع او نژدیکت څخه نقصان رسیدلی وی هغه دی دیغ او گرمی د وا د ر وخښه خان ساتی د پیر دی بیدیږی د وینی د پیرولو او خشکی لیری کولو تدبیر دی وکړی مثلاً شیدی دی چیښی یا دی د زردکی حلوا خوړی یا دی نیم پخته هګۍ خوړی یا دی د غوښو یخنی استعمالوی که ئ پر لاسو پښو رعشه او ریږد محسوسیږی نو دی پر دماغ، مخ بلکه پر ټول بدن دی د چنبیلی یا بابونه تیل مښی د رعشې او ریږد د پاره دا دوا فایده لری د رې د سپینو زړو وراتی دی په دوه (۲) توکی شاتو کښی حل کړی تر حلولو وروسته دی وخښی هر چا ته چه د جماع په سبب د دید کمزوری ورسیدلی وی هغه دی پر دماغ په کثرت سره روغن بادام یا روغن بنفشه یا روغن چمبیلی لګوی پر سترګو دی بالائی او پیروی تری او ګلاب دی پکښی څاڅکی کوی که همیشه تر جماع وروسته یو توی شی لکه شیدی، یا زردکی حلوا یا هګۍ خوړی یا ماء اللحم چیښی او دد غو تدبیرو نو پابند سی کوم چه اوس ذکر سوه نو انشاء الله تعالی ضعف هم نه وړ پیښیږی رعشه

[1] وکل ذالک من الطب الاکبر والقانون ۱۲ منه

او دامی بل مرض هم نه ور پیښیږی په دی باره کښی تر ټولو ښه شی شیدی دی چه په دوی کښی یوځه قدر شونډه اوخورما دی جوش سوی وی.

فایده:- دا مساک یعنی تر ډیره پوری دنه انزالیدو هوس په آخیر کښی نقصان کوی خصوصاً که کچله یا دهتورا یا داسی نورې زهرناکه دوایانی وخوړل سی. دا مساک د پاره هغه ګولی کانی وبوله چه د سرعت انزال په بیان کښی ذکر سوی دی چه په هغو کښی دسرد زرد وریځی هم دی.

یوځو جلاجلا نسخې

طلاچه اعصابو ته طاقت ورکوی اوعضو مخصوص اوبندوی اوپنډوی

غټ غټ میږیان اوده دانی دادیری څخه راوړه او په یوه بوه ټی مړه کړه فورا ټی په دوی تولی خالص روغن چنبیلی کښی واچوه تردغه ودوسته ټی په سیبنه کښی واچوه کاګ یعنی هغه لرګی ډبوتل دخولی بند ولو د پاره دی ښه مضبوط او تینګ ورډله یوه ورځ او شپه ټی د برزو په پیچو کښی پټ کړه تردغه ودوسته سیبنه راوکاږه او بیا دوا ښه سره ولړه چه میږیان په دوا کښی حل سی.

دوسته نو بیا دوا په دامی حال کښی چه نیمګړمه وی په عضو مخصوص پورې ومښه. د مښو ولو او لګولو ترکیب ټی دادی چه اول عضو مخصوص په یو پنډ پتوکر سره ښه ومښه هرو خت چه د مښو ولو په وخت دغه خاص اندام سوړ سی بیا نو فورا دغه تیل پرد لګوه ښه ټی پرو مښه تر مښو ولو وروسته ټی پریږده پنځلس شل ورځی د غسی وکړه.

دواچه وچونکی د رطوبت او مضیقه (تنګونکی) دی:- مازو دوی ماشی اوشګوفه اذخر یوه ماشه سره وکوټه ترکوټلو ورسته ټی وچوپه یو پتوکر په ګلابو کښی خیشت کړه بیا ټی په دغه دوا آلوده اوکلکړه اوبیا ټی استعمال کړه.

لږوچه طاقت مردانه قوی کوی:- یو یو پاو وچه خورما اوسره سوی نخود سره وکوټه ترکوټلو ورسته ټی وچوپه بیا ټی د پیازو په اوبو کی واخښه تراخښلو ورسته دجوز په اندازه لږوګان خندی جوړ کړه یولږ وسهار اویولږ وماښام خوړه چلواری یعنی وچه خورما سره د مندکو وکوټه یا مندکی خندی جلاکړه داوړو په شان ټی میده کړه بیا ټی ورسره ګډی کړه.

معجون چه قوت مردانه ته ډیر زیات طاقت ورکوی ۱- پنځه دیرش

تولی شهد قوام کړه بیا شل دانی د چرګی هګی وایشوه ترایشولو ورو وسته ژر ځندی
راوباسه او سپین ئی وغورځوه بیا نو ژر په د غو شاتو (عسلو) ګډ کړه او بنه
ئی پکښی حل کړه چه معجون غوندی سی بیا عاقرقرحا، لونګ او شونډ هریو
پاؤ کم څلور دیرش ماشی وکوټه او ولئ چونه او نرچو نلو ورو وسته ئی ورسره
ګډ کړه او بیوه تولې هره درځ خوړه

آتشک

داډیر خبیث او بد مرض دی په دی مرض کښی د بولو پر ځای او پرشاوخوا
د بولو د ځای دانی یا زخمونه پیدا کیږی ډیر سوزش او سوی کوی د دی مرض
دانی پلنوالی ډیر لری لیکن جګوالی ئی کم اولږ دی او د زخمونو پرشاوخواشین
والی یا زرغون والی وی اکثره وخت اول د غه زخمونه د بولو د ځای څخه
شروع کیږی او بیا په تمام بدن کښی غوړیږی د دوی سره د بند و درد هم
پیدا کیږی دا مرض په میراث پاتې کیږی تر ډیر پشتو پورې ځی د دی مرض
د پاره تریوی هفتی پورې د غه دواوچیښه - افتیمون چه په ټوکرا وکوټه
کښی ټرل سوی وی، وچی نکرځی، منډی براده، چوب چینی، عشبه، برمدندی
او هون کهړی ټول پنځه پنځه ماشی، برګ شاهتره، بیخ حنظل، بسفائج
(اخراص الکلب) او نسنتی شپږ شپږ ماشی، پوست هلیله زرد یعنی د ژهړی هریړی
پوست او پوست هلیله کابلی یعنی د کابلی هریړی پوست نه (۹) نه ماشی د غه ټول په
یونیم پاؤ اوبو کښی پاخه کړه هر وخت چه اوبه نیمی پاته سی بیا ئی وچونه تر
چونلو ورو وسته دوی تولی شربت عناب ورسره ګډ کړه او بیا ئی وچیښه او که
د بند و درد و نه هم وی نو بیا په د غه دوا دری ماشی سورنجان شیرین
هم ګډ کړه که چیری د د غه څخه عملونه د شروع سی نو بیا کهچری (یعنی
چه ورځی اوډال ګډ سره پاخه سی) خوړه که د غه نه وی بیا نورا و سپتې
سره خوړه ورو وسته تر اوو (۷) ورځو بیا د غه ګولی خوړه د جالکوټ مغز چه په
شید وکښی پوخ سوی وی او د ما بین پرده څندی لیری سوی وی، زړه ناریل
یعنی زړه کوپره، زړه وچه خورما ټول یوه یوه ماشه او زړه ګوړه بیوه نیمه

ماشه بنه باریک میده کړه هر وخت چه مرهم غوندی جوړ سی بیا نو د
نخود په اندازه ګولی ځندی جوړی کړه او دوه ګولی د ورځی دسهار په وخت
کښی د تازه او بو سره تیرو ه د دغو ګولیو څخه عملونه کیږی تر هر عمل وروسته
تازه او به چیښه دغه دوه ګولی چه وخوری بیا نو په دغه وروسی
دوهمه ورځ دغه ګولی مه خوړه بلکه دا دوا وچیښه د ریشهٔ خطمی لعاب
(سریښناکه او به) پنځه ماشی راو باسه او شربت عناب دوه توله ورسره
ګډ کړه وئ چیښه بیا د ریمه ورځ ګولی د ذکر سوی طریقی سره موافق
وخوړه بیا څلرمه ورځ دغه ذکر سوی دوا وخوړه او بیا پنځمه ورځ دغه
ګولی وخوړه او شپږمه ورځ دغه ذکر سوی دوا وخوړه او احتیاطاً مناسب
دی چه اووه او اته ورځ هم دغه ذکر سوی دوا وخوړی غذا (خوراک)
په دغو اتو ورځو کښی د کهچړی (یعنی چه ورجی او دال ګډ سره پاخه سی)
او ساګودانه (سابه دانه) څخه ماسیوای بل هیڅ شی مه خوړه تر دغه
دروسته میاشت یا شل ورځی دغه عرق وچیښه چوب چینی چه برابره سوی
دی او عشبه پنځه پنځه توله، برګ شاهتره، چرائته (قصب الزریره) سرپهوکه
دانه الایچی خورد یعنی کوچنی هیل، د ژهی هریړی پوست د کابلی هریړی پوست
نیل کنټهی، برمهندی او براده صندل سفید وسرخ دری دری توله، ستامکی دری
توله د شپی په پنځه سیره او بو کښی خیشته کړه سهار د وه سیره د غواشیدی
ورواچوه تر دغه وروسته پنځنیم سیره عرق ځندی راو باسه تر دروورځو
اینبو ولو وروسته هره ورځ شپږ توله چه دوی توله شربت عناب ورسره ګډ
کړی چیښه د دغو تر بیرونو په کولو سره د آتشک زخمونه هم بیله خارجی
استعماله څه جوړیږی که چیری د خارجی د اضرورت وی نو بیا دغه مرهم
ولګوه - چهالیه (سپاری) کچله پاو کم څلور څلور توله، کتها پاپړیا اتنیمی ماشی
دانه الایچی کلان یعنی دلوی هیل دانی پاو باندی یوه توله، مردار سنګ
سنګ جراحت او تورمرچ پاو باندی څلور څلور ماشی، نیل توتیا اتنیمی
رتۍ دکباب چوبنکی او کرایی والا دد وکان جمعه سوی دوه دود - دری ماشی
توله د وایانی دارنګه سری کړه چه ونه سوځل سی بیائی باریکی میده کړه.
او د غوا په یو ویشتو تولو خوړو ونی ګډی کړه کافور پاو باندی څلور ماشی میده کړه تر

میدولو وروسته ئی درسره گډ کړه بیا نو دغه مرهم پرزخمو و نگوه دامرهم هفید اوگهټوردی.

فائده:- د آتشک د مریض د پاره د پیرو گرمو شیانو څخه لکه دغوا غو بنی، تیل، بانجن، میتهی (ملخوړه) او د اسی نورو څخه د همیشه د پاره پرهیز کول په کار دی او د پیرو خونکو شیانو څخه هم د د ه د پاره پرهیز په کار دی نکه هندوانه، چمبر خیال او د اسی نور یعنی خونک شیان دی کم خوری او د آتشک د مریض د پاره د غنمو د خورک پیره فایده لری.

دسوزاک بیان

د بولو په ځای کښی چه دننه زخمونه پیدا سی و دی ته سوزاک ویل کیږی علاج ئی په شروع کښی په اسانی سره کیدای سی لیکن هر وخت چه زور سی پیر وخت پر تیر سی بیا ئی علاج پیر مشکل او سخت دی.

علاج:- اول د زخم د صفا کید و تدبیر وکړه تر دغه ورو سته ئی د جوړید و تدبیر وکړه دا رنګه چه د آرنډی تیل څلور تولی په شیدو گډ کړه او په بوره ئی خوا ړه کړه بیا ئی و چیښه او نر هر واړی دست و عمل ورو سته گرمی او به چیښه هزمه سابه دانه (ساگودانه) چه په شیدو کښی پوخ سوی وی او مابنام د شیدو ورجی خوړه د د واخوړلو څخه ورد سته آیند ه ورځ دغه خونکه دوا و چیښه - ریشه خطمی پنځه ماشی او تخم خرفه پنځه ماشی راواخله خیشته ئی کړه تر خیشتید و ورو سته او به څنډی را و باسه او شربت بنفشه دوی تولی پکښی حل کړه او بیا ئی و چیښه او که د بهرونی (قنه) تیل پیدا سی نر دوی هم د د و څاڅکو په اندازه په پتاسه کښی و خوړه د ریمه ورځ بیاد ارنډی تیل په ذکر سوی طریقه سره و چیښه او څلرمه ورځ بیاد غه ذکر سوی خونکه دوا و چیښه او غذا به پیوسته ساگودانه (سابه دانه) او شیدی اورجی خوری تر دری سره عمل کونکو ورو سته دغه سفون وخوړه - شوړه قلمی دری تولی - سنګ جراحت (حجرالاعرابی) مغز تخم خیارین یعنی د چمبر خیال او بادرنګ سپین سوی زونې، تخم خرفه، تخم کاسنی، خارخسک او نشاسته

(آبکون) نه (۹) نه ماشی، گل ارمنی (طین ارمنی) صمغ عربی، ریوند چینی، حب کاکنج
ست بهروزه یعنی دقنه جوهر - مغز تخم تربوز یعنی دهندوانی سپین سوی
زوتی دم الاخوین شپږ شپږ ماشی وکوټه ترکوټلو وروسته ئی وچوپه بیا نو
کچه او خام کهانه یو ولس تولی ورسره گډ کړه د نو (۹) نو ماشو په قدر پوډی
خندی جوړی کړه بیا نو یوه پوډی وخوره پر پوډی سربیره د چمبرخیال او
بادرنگ تخم پنځه پنځه ماشی په اوبو کښی میده کړه او بیا ئی وچوپه
ترچوټلو وروسته شربت بزوری بارد دوی (۲) تولی ورسره گډ کړه بیا ئی وچینه
پنځلس ورځی یالږ تر لږه یوه هفته دغه سفوف وخوره - غذا شیدی
ورجی یاخونکی ترکاریانی اوغوښی خوره وروسته تردی دغه سفوف وخوره
که چیری یوخه ضرورت لاورته پاته وی - طباشیر (بنسلوچن) اوگندک
زرد اووه (۷) اووه (۷) ماشی او مغز تخم خیارین یعنی د چمبرخیال او بادرنگ دزوتی
مغزخورلس ماشی، مغز تخم حرفه، کتیرا (صمغ الفتاد) او هلدی (کورکومن)
څلور څلور رتی، مرمکی دوی رتی، گلنار شپږ رتی، زرشک، افیون خالص،
او زراوند مدحرج یوه یوه ماشه، پریول سوی کنجتی دیارلس نیمی ماشی
ټول وکوټه اووئی چوپه ترچوټلو وروسته کچه او خام کهانه برابر ورسره
گډ کړه او بیا د نو (۹) نو ماشو په اندازه پوډی خندی جوړی کړه یوه پوډی
هره ورځ دتازه اوبو سره کیه کوه اوکه چیری ددوی په خوړلو سره
قبض درپیښ سی نو دوی (۲) تولی منقی (اوجوشی) دشپی دبیدیدو په وخت کی
خوره لږ تر لږه پنځلس ورځی دغه سفوف وخوره وروسته تر صحت او
جوړوالی میاشت یاشل ورځی هفه عرق مصفی وچینه کوم چه د آتشک په
بیان کښی تیر سوید ی. چه په هفه کښی اول جز چوب چینی دی دسو نرک
دمریض دپاره مرچ کم خوړل په کار دی - دکچنال غوټی ډیره فایده ورته
کوی اوکوم پرهیز چه د آتشک په بیان کښی تیر سوید ی هغه پرهیز دلته هم
دی. **پیچکاری چه دسوزک دپاره فایده لری:** توتیا (نیل توتیا) چه
سره او بریان سوی وی درې ماشی میده سوی رانجه، دم الاخوین، سپینه
خوړی بریان شده او سنگ جراحت (حجر الاعرابی) شپږ شپږ ماشی سپنه باریک
میده کړه یو یو چټانگ دانگورو دپاڼو اوبه او د نکړهو د پاڼو اوبه او نیم پاؤ د

بزی شیدی ورسره کړه او تر غبرګ پورې کړئ وچوپه ترچوپلو وروسته دغه دوا د سینې د پیچکارۍ په ذریعه سره کړه سهار وماښام د ډکر په سر کښې لګوه دا بوه نسخه د څلور و ورځو د پاره کافي ده.

د توتیا سره کیدل دا رنګه کیږي چه دا امیده کړه په پولو ښې کښې ئې پرسپک او رکښیږ ده او لږه ئې هر دخت چه ئې رنګ پیکه سی نو بیا کار ځندی واخله.

فائده:- کله کله په سونرک کښې د بولو ځای بندیږي په دغه صورت کښې ګرمی او به پرتوی کړه یا بابونه په او بو کښې پخه کړه بیا دغه او به پرتوی کړه او که چیرې په هیڅ طریقه سره نه خلاصیدی نو بیا پاکټ ته رجوع وکړه چه پاکټ دغه د بولو ځای په ذریعه د سلائی (سټنی) او پیپ سره خلاص کړی

د خایولورې خواته پورته کیدل

په دې مرض کښې سونرک او سوی هم پیښیږي او په بولو کښې تکلیف وی.

علاج:- ګل بابونه، اکلیل الملک، تخم کتان او سبوس ګندم په دوه سیره او بو کښې پاخه کړه او بیا ئې پرتوی کړه - هینګ یعنی هینجه، مرز نجوش، فرفیون اکلیل الملک او ګل بابونه درې درې ماشی وکوټه او بیا ئې وچوپلو ترچوپلو وروسته ئې په شا تو ګډ کړه په داسی حال کښې چه دغه دوا نیمګړمه وی دغه ځای په ککړ کړه معجون کمونی یا جوارش زرعونی وخوړه چه نسخه ئې د مردانه کمزورۍ په بیان کښې تیره سوې ده او غذا هم قوی خوړه - (طب اکبر)

کولمی راکښته کیدل او د خایو غټیدل

په نس کښې پرکولمو د څلورو طرفو څخه د یرې جهلیانی یعنی پردې پرې راګرځیدلی دی د دی څخه د مابین په یوه جهلی (پرده) کښې د خایو ته نژدی دوه سوري دی د دغو سوریانو د غټیدو یا څیریدو پریکیدو د وجهلی څخه د دنته جهلی (پرده) سره د کولمو یا بیله کولمو یا دنته جهلی (پرده هم څیری سی کولمی په خایو کښې کښته راځړیږي و دی ته کولمی رالویدل یعنی چورې کیدل

وایي په عربي کښې ددې نوم قیل وقتق دی اوکله په خایو کښې او به راځي ودی ته په عربي کښې اُدُره وایي اوکله صرف بادونه راځي ودی ته قیله ربیحي وایي دا بحث په دُرّې قسمه کښې بیانیږي.

اول قسم دکولمو درالویدلو په بیان کښې دی دلمرض دډیر درانه شی د پورته کولو یاد غورځیدو او پورته کښته کیدو یا په ډیرډک لس سره دجماع اونژدیکت اوداسې نورو شیانو څخه پیدا کیږي.

علاج:- د شاپر تخته پریږدي سره کرار کرار کښیکاږي سره دلوړې خوا ته ئې وخیژوي که په کښیکښلو سره دغه کولمې پورته نه سي نوګرمي اوبه پرتوي کړه - او روغن بابونه ګرم کړه پورې وئې مښه بیاخطمي په اوبو کښې پوخ کړه پروئ تړه هروخت چه نرمي سي نو بیائ ولوړې خواته وکښیکاږه چه پورته سي اوهروخت چه پورته سي بیانو خپلې خایي په دغه دواسره ککړې کړه دپاره ددی. چه آینده راکښته نه سي - ګلنار اقاقیه (دام غیلان کونډوري) شین مازو (عفص) ایلوا (صبر) کندر، جوز السرو (میوه درخت سرو) رال (راتینج) ګوګل اوابهل (حب العرعر) ټول شیږ شیږ ماشي وکوټه او وئ چونه بیاد شنه مکو سرښې په اوبو کښې پاخه کړه اووړسره ګډې وئ کړه وروسته بیادغه دواپریږي ټوکر وبګوه دد واترلګولو وروسته دغه ټوکر پرخایو ومښلوه سربیره پټۍ پروښلوه بیا نو تردوروځوپورې دشاپر تخته پریږدي ره دغه دواد لګولو دفتق ټولوقسمونو ته فائده کوي برابره خبره ده که کولمې راشوه سوي وي یاریاح وبادونه وي یا اوبه وي اوغذا مارف بنورواورکوه اوددوهم وار دپاره بیادغه دواپر خایو په داسې طریقه سره وبګوه کوم چه اوس ئې بیان وسو - لنګوټ (دانیکر غوندې شی دی) سربیره پروتړه اویوبل تدبیر چه نهایت مفید دی - هغه دادی چه په کمربند پورې روپۍ وګنډه یا یوبله اوسپینه پورې وګنډه چه وزن ئې دروپۍ سره برابر وي تردغه وروسته خپل بدن په کمربند سره داسې وتړه چه دغه روپي یابله اوسپینه پرهغه ځای راسي کوم چه دکولمو دراشوه کیدو په وخت کښې پردغه ځای پارسوب معلومیدی ددې دپاره چه په دې روپۍ سره دغه ځای هروخت کښیکښل سوي پاته سي په دې طریقه سره په یوځوورځوکښې هغه سوري بندیږي کوم چه کولمې څنډې راوزې

هر رخت چه سوری بندسی بیانو دکولمو دراشوو ه کید و خطره بالکل ختمیږی
و دی طریقی ته د طبیبانو په اصطلاح کښی قلف قلفول وایی او دغه کمر بندونه
ن سبا په بازار کښی جوړ سوی هم پیدا کیږی.

دکولمو دراشوو ه کید و دپاره د چیښلو دوا:- معجون فلاسفه او وه ماشی
یا معجون کمونی یوه توله وخوره او پرده وی سړ بیره سونف (خوابره ولنی) پنځه ماشی
په اوبو کښی میده کړه دوی تولی گلقند آفتابی و رسره گډ کړه او وڼی چیښه او
معجون فلاسفه یو خو ورځی پرلپسی خوړل د نتق د ټولو اقسامو دپاره فایده
لری او د بادی شیانو څخه پرهیز کوه.

دوهم قسم په قیله ریحی یعنی په خایو کښی د ریاح او بادونو د راټولو په
بیان کښی دی:- باجره، نمک او بهوسی (سبوس گندم) دوی دوی تولی راواخله
بیا دوی کڅوړی او غوټی څنده ی جوړی کړه په گلابو کښی واچوه او بیا تاکور
په وکړه - دارچینی قلمی باریک میده کړه دبابونه د تیلو سره ځی گډ کړه تر
گډ ولو ورسته اکثره وخت وخایو ته مالش په ورکوه او دغه گولی خوره
تخم کرفس، انیسون رومی، اسپند مصطگی اوز عفران ټول اووه (۷) اووه (۷) اووه ماشی
دکابلی هریړی پوست، پوست بلیله، پوست آمله لس نیمی لس نیمی ماشی
سکنبیج او گوگل دری دری نیمی ماشی، پودینه خشک یعنی وچه نانا، او
قسط شیرین، نرکچور، درونج عقربی او اسارون پاڼ کمی دوی ماشی، سکنبیج
او گوگل په اوبو کښی ولړه او نوری باقی دوا یانی وکوټه او بیائی وچو نه بیا ځی
ورسره گډ کړه د خود په اندازه گولی څنده ی جوړی کړه ترجوړونو ورسته
څلور نیمی ماشی هره ورځ څنده ی کفه کوه. معجون فلاسفه او معجون کمونی هم
کفایت کوی یو خو ورځی ځی پیوست او پرلپسی وخوره په غذا کښی بنټهو او مولی
ډیری مفیده ی دی او د بادی شیانو څخه پرهیز ضروری دی.

له بازار کښی — د معجون فلاسفه — څخه ځینی — مشوره سره ځی — وکړی — او نور مرچ — کړه بیانو — اندازه گولی — اوبو سره — خوره د — پاره د — کوی (۱۲ انظر ثالث)

دریم **قسم** په خایو کښې داوبو د راتلو په بیان کښې دی :- او به لږ چینه هغه د واخورې چه د قیله ریبی په بیان کښې تیره سوه او په دغه د واسره ئې لکه ره وه . عاقر قرحا[1] دوی تولی توره زیره یوه تولې باریک میده کړه موبز منقی شیږ تولی ورسره ګډ کړه دوندی ئې وکوټه چه یو ذات سی په شان د مرهو سی بیا دغه مرهم ګرمو سره سهارا و ماښام خایی په کښې ره وه - هر وخت چه او به زیاتی سی نو بنه علاج ئې دادی چه د دغه او به د خایو څخه د ډاکټر په ذریعه و باسی[2]

فائده :- څرنګه چه د دغو درې قسمونو په علاج کښې زیات فرق نسته نو د هر قسم علاجی مو په تفصیل سره بیان نه کړی مختصر غوندی فرق ئې دادی که چیرې اول قسم وی برابره خبره ده که یوازې جهلی (پرده) راځړیږی یا سره د کولمو راشوه سوی وی نو په مشکله سره لوړیږی او که او به وی نو په هیڅ طریقه سره نه لوړیږی او که ریاح او باد وی نو په لږ څه کښیکښلو سره لوړیږی او داوبو په صورت کښې خایی بریښناکه او رونې معلومیږی او ژر ژر غټیږی - لنګوټ (دانیکر غوندی شی دی) همیشه تړل په دغو ټولو قسمونو کښې بنه او فائده مند دی . د زور ور حرکت ، د روند شی پورته کول د ډیر تګ راتګ کولو او د بادی شیانو څخه پرهیز کول لازم دی .

دفتق نورهم یوځو قسمونه سته :- چه د هغو علاج د طبیب بې مشورې کیدای نه سی د کولمو راشوه کیدو په علاج کښې کله کله د عملی شی ضرورت پیدا کیږی او د عملی شی په استعمالولو کښې د طبیب مشوره اخستل ضروری ده **فایده** :- یو وخت خایی غټیږی بیله دی چه کولمی ورته راشوه سی یا ریاح ، باد وهوا ورته راسی یا او به پکښې کې وی د دی علامه داده چه هیڅ تکلیف نه وی او نه د خایو پوست پریښودو کې اورونې وی او نه په کښیکښلو سره سخت معلومیږی .

علاج :- معجون فلاسفه تر یوه څه وخته پورې وخوره

او سپینه خوری په تیلو کښی وښنه د خورځه تر مښو ولو وروسته د غه تیل پرخایو ولګوه دا رنګه چه خایی ښی په ککړی سی.

بله د واچه په خایو پوری وښوول سی او خایی په ککړی سی :- پندول (سپینه خاورې) شل ماشی، او شوکران (چه دیو بوټی نوم دی) دوی (۲) ماشی په سرکه کښی ښنه میده کړه تر میدو لو وروسته خایی په ککړی کړه که شوکران پیدا نه سی نو اجوائن خراسانی یعنی خراسانی سپیرکی ور واچوه - دا مرض په بعضو خایو کښی ډیر پیښیږی او بیا په ډیر مشکل سره ختمیږی د دی سببه مناسب دی چه د شروع سره سم ئی علاج وسی په علاج کښی ئی ځنډ را نه سی.

د خایو یا عضو مخصوص درد :- یو وخت وخت په د غو اعضاؤ کښی درد پیدا کیږی بیله دی چه پارسوب وی یا کولمی ورته راشوه سوی وی.

علاج :- دا رنډی تیل پوری ښنه چه په اکثره قسمونو کښی مفید دی که په دی سره درد ختم نه سی نو بیا د طبیب څخه پوښتنه وکړه.

په خایو کښی یا د خایو پرشا او خوا د خارش پیدا کیدل

دا اکثره د خولی د تیزابیت څخه پیښیږی د دی سببه دګرمی په موسم کښی زیاتیږی **علاج** :- په ګرمو اوبو اوصابن سره د غه خایونه مینځه د پاره دی چه خیره نه ونیسی او سفیده کاشغری (اسفیداج در وغن ګل سره ګډ کړه پرد غو خایونو ئی ولګوه او که چیری خارش زیات سوی وی زخمونه پیدا سوی وی نو بیا د غه مرهم ولګوه - کندر، دم الاخوین او مرمکی نه (۹) نه (۹) ماشی، ایلوا (صبر) مردار سنګ او انزروت او (۷) او (۷) ماشی باریک میده کړه تر میدو لو وروسته ئی په او (۷) تولی روغن ګل ګډ کړه او ښنه تر پیرئی سره ولړه چه مرهم سی اوذهر چاچه خایی او د خایو شاوخوا پیره خوله کوی نو د نوکر څخه او به یا د شنی دهنی یعنی د شنو ګشنیز و او به په د غو خایو پوری ښنه یا سرکه په اوبو کښی واچوه بیا د غه سرکه پرد غو خایو ولګوه.

د عضو مخصوص پارسوب :- که د پارسوب سره سوزش یا تکلیف زیات وی نو سرکه اوروغن ګل سره ګډ کړه بیائی پوری وښنه او که چیری زیات سوزش نه وی نو د چهوهاری یعنی وچی خورما مندکی او خطمی په سرکه کښی وښنه تر

د غه ورو سته ئې پر عضو مخصو ولګو ۀ ۔ (طب اکبر ۱۲ منه)

تد وقع الفراغ عنه للخامس عشر من ذیقعدة سنه ۱۳۲۴ ھ فی میرتھ فالحمد للّٰه الذی بعزته وجلاله تتم الصّٰلحٰت و صلی اللّٰه تعالیٰ علی خیر خلقه سیدنا محمد والٰه واصحابه بعدد الکائنات و وقع الفراغ عن النظر الثالث للسابع والعشرین من الربیع الثانی سنه ۱۳۴۴ ھ فی میرتھ ایضًا امتثالًا لامر اخی فی اللّٰه ومحبی المولوی شبیر علی التھانوی مالک اشرف اشر المطابع ومدیر رسالة النور

د مؤلف التماس

احقر (مولوی محمد مصطفیٰ بجنوری) د حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمة اللّٰه تعالیٰ علیه د هدایت سره برابر په سنه ۱۳۲۴ ھ کښی د مردانه مرضونو علاج په دغو یو خو ورقو کښی لیکلی وو ۔ او د غه رساله د بهشتی زیور په آخیر کښی د سره ملحقه (یو څای) سوه او تر الحاق ورو سته چاپ سوه تر د غه چاپیدو ورو سته بیا په ډیرو مطبو عاتو کښی چاپ سوه او د اشاعت سلسله ئې جاری پاته سوه.

لیکن زما په خیال کښی داسی راځی چه ما یو وار نظر ثانی هم پرکړی وو بیانو په ربیع الثانی سنه ۱۳۴۴ ھ کښی یو وار بیا په اشرف المطابع تھانه بھون کښی چاپ سوه تر د غه وار چاپید و ورو سته یو وار بیا ما په غوږ سره د غه رساله مطالعه کړه چه په نتیجه کښی می بعضی ځایونه یو نوی نسخه په رساله کی یا په طریقه د حاشیی و رسره زیاته کړه او د د غو زیاتو سوو ځایونو سره می لفظ د (نظر ثالث) لیکلی دی د دی د پاره چه د هر چا سره اوله چاپ سوی رساله وی هغه څوک دی د غه زیات سوی ځایونه و د غی رسالی ته رانقل کړی. فقط

محمد مصطفیٰ بجنوری

بهشتی جوهر د بهشتی گوهر ضمیمه!

بسم الله الرحمن الرحیم

وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَجْمَعِیْنَ ۰

مرگ او د ده متعلقات او د قبر ونو د زیارت کولو بیان

① جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه په کثرت سره (یعنی په ډیر والی سره) مرگ یاد وی ځکه چه هغه یعنی مرگ یاد ول گناهونو ره لیری کونکی دی د مذموم "بیکاری" غیر مطلوبی او فضول (عبث) دنیا څخه بیزاره کونکی دی یعنی هروخت چه انسان په کثرت او ډیر والی سره مرگ یاد وی نو په دنیا کښی زړه نه لگیږی طبیعت ئی د دنیا د سامان څخه نفرت کوی او زاهد کیږی د آخرت طلب د هغه ځای د نعمتونو خواهش او د هغه ځای د دردناکه عذاب خوف او بیره ورسره پیدا کیږی نو بیا ضروری او بنکاره خبره ده چه په نیکو اعمالو کښی ترقی کوی د گناهونو څخه ځان ساتی او د ټولو نیکیو بیخ زهد دی یعنی د دنیا څخه بیزاره کیدل ترڅو چه د دنیا څخه او د دی د زینت څخه علاقه ونه شکیږی پوره توجه د پروردگار عالم وطرف ته نه سی کیدای او ډیر ډیر وار ونه د اعراض سویدی چه هغه ضروری امور د دنیا چه پردوی عبادت موقوف دی هغه مطلوب دی. او په دین کښی داخل دی د دی سببه د دغه مذمت (بدوالی) څخه دوی خارج او وتلی دی بلکه د کومی دنیا چه مذمت کیږی د هغی څخه هغه نسیان مراد دی چه د خدای تعالیٰ څخه انسان غافل کړی که څه هم په هره درجه کښی غفلت وی او په هره درجه کښی چه غفلت وی په هغه درجه واندازه کښی مذمت دی.

نو پس معلومه سوه چه مرگ یاد ول د مرگ خیال د ځانه سره ساتل د دغه نازک او باریک او عظیم الشان سفر د پاره توښه او خرڅه تیارول پر هر عاقل باندی لازم دی.

(۲) په بل حدیث شریف کښی را غلی دی چه هر څوک د مرګ څخه شل واړه مرګ یاد وی نو د شهادت درجه پیدا کوی پس نو که تاسی مرګ یاد وی د غنا او تونګری په حال کښی نو د غه (یاد ول) د غه غنا او تونګری ختمه وی یعنی هر وخت چه د غنی او مالدار ه انسان سره د مرګ خیال او فکر وی نو د د غنا او موډ تیا قدر او عزت د د ه سره نه پاتیږی چه سبب د غفلت د ه ـ ځکه چه داسی فکر کوی چه د غه مال زما څخه څرنګ څرنګ ه جلا کیدونکی دی او علاقه و سره پیدا کول هیڅ نا یده نه لری بلکه تاوان کوی ځکه چه د محبوب فراق د اذیت او تکلیف سبب جوړیږی. مګر هغه کار و نه دی وکړو چه په آخرت کښی په کار راځی او داسی آخرت چه په هغه کښی د همیشه د پاره او سیدل دی.

پس نو د داسی خیالا نو په وجه سره مال و دنیا هیڅ بد تاثیر نه کوی او که تاسی د غه مرګ د فقر او تنګی په حال کښی یاد وی نو د غه (یاد ول) تاسی راضی کوی ـ ستاسی په بسر او قات سره یعنی کوم چه ستاسی لږ غوندی معاش اوګذاره د ه په د غه راضی کیږی چه د دنیا څو و رځی ژوند دی بیا نو و لی غم وکړو ـ د د غه په عوض کښی خدای تعالیٰ ژر تر ژره ډیر عمده او بی پایه رحمت راکوی ـ (رواه ابن ابی الدنیا عن انس مرفوعاً ـ کذا فی کنز العمال ص ۷۵ ج ۲ تتمه تړوک)

(۳) حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه بیشکه څکه هره روح اویا (۷۰) واړه آوازکوی چه ای بنی آدمه (انسانه) وخوره هر هغه شی چه ستا زړه غواړی او چه زړه دی غواړی د هغه شی سره مینه اورغبت وکړه بیا دی زما په خدای قسم وی چه خامخا زه ضرور ستا غوښی او ستا پوست خورم ـ (رواه الحکیم والترمذی عن ثوبان مرفوعاً کذا فی کنز العمال ص ۷۵ ج ۲ تتمه تړوک ۸ منه)

که شبهه او شک لری چه موږ خو د څکی آواز نه اورو نو موږ ته د د غه آواز څه فایده رسوی. جواب ئی دادی چه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د عالی ارشاد او تو څخه چه هر وخت د امعلومه سوه چه څکه دا رنګه وایی نو لکه د څکی د آواز څخه چه د دنیا څخه زړه ه ما تیږی ـ د غه

رنگه اوس هم باید د نبی علیه السلام په مبارک قول سره د دنیا څخه زړه مات سی دیو شی د علم د پاره داځه ضروری دی چه خاص به د د ه په آوازسره علم حاصلیږی - غرض خو خبر بیدل او علم حاصلول دی که په هره طریقه سره وی مثلاً یو څوک چه د د بنمن لښکر وینی چه راروان دی نو دی بیریږی اود بنمن د د فاع او مخ نیولو سامان برابروی.

دغه رنگه دیو معتبر سړی په خبر او اطلاع ورکولو سره چه د بنمن را روان دی هم بیریږی اود بنمن د مخنیوی کوشش کوی خکه چه په دواړو صورتونوکښی د ه ته د د بنمن درانګ معلومات وسو چه د بیږی اود د بنمن د لښکر د مخنیوی د پاره د یو پروګرام د فکرکولو سبب دی او هیڅ خبرورکونکی تر نبی علیه الصلوٰة والسلام بالاونسته بلکه د د ه مبارک په مثل هم نه سی کیدای. بس نو چه د نورو خلګو خبره او وینا معتبریږی نو په کار ده چه د ده مبارک فرموده او وینا په طریق اولی سره معتبره سی خکه چه دی مبارک پیرزیات رشتیا ګویه دی په حدیث شریف کښی راغلی دی کَفٰی بِالْمَوْتِ وَاعِظًا وَّ بِالْیَقِیْنِ غِنًی ترجمه ئی داده کافی دی مرګ په اعتبار د واعظ والی یعنی د مرګ وعظ و نصیحت کافی دی. دارنګه چه څوک مرګ په یاد لری نو ده ته د د نیا څخه د بی رغبته کولو د پاره د بل هیڅ شی حاجت نسته) اوکافی دی یقین د رزق رسیدو په اعتبار د غنا) یعنی چه هر وخت د انسان د خدای تعالیٰ پر وعده یقین وی چه هر خاوند د څوند ته په هغه اندازه سره چه د د ه په حق کښی بهتر او خیر دی رزق ضرور ورکول کیږی نو د غه کافی او پوره غنا ده د غسی څوک پریشانه کیدای نسی بلکه د مال څخه چه کومه غنا حاصلیږی تر هغه د غه اعلی او غوره ده خکه چه د غه غنا فنا کیږی نه او مال فنا ه کیږی ولی چه څه معلومه ده چه کوم مال و د نیا اوس موجوده ده د غه به سبا وی که به نه وی او د خدای تعالیٰ وعدی لره بقا سته د هر څوند رزق چه وعده سوی ده هغه ضرور رسیږی بنه خان په پوه کړه. (رواه الطبرانی عن عمار مرفوعًا کذا فی کنز العمال ص۷۶ اتم ټوک ۱۲ مؤلف)

(۴) په حدیث شریف کښی راغلی[1] دی چه هر څوک د خدای تعالیٰ وصال خوښ بولی

[1] رواه احمد وغیره کذا فی کنز العمال ۱۲ منه

د خدای تعالیٰ وصال ئې زړه غواړی نو خدای پاک هم دده سره وصال غواړی
اوهر څوک چه د الله تعالیٰ پاک وصال او نزدیکت نه خوښوی د دنیا د مال، جاه
او سازوسامان څخه جدایی نه غواړی نو خدای تعالیٰ هم دده ملاقات
وصال او نزدیکت نه خوښوی او بنکاره خبره ده چه بیله مرګه د خدای تعالیٰ
سره ملاقات کول هیڅ امکان نه لری نو څرنګه چه مرګ ذریعه د ملاقات او
دیدار ده د محبوب حقیقی سره نو دی سببه مرګ هم باید د مومن د پاره
محبوب وی او د څان سره د اسی سامان پیدا کړی چه د دغه سامان په
سبب ئې مرګ ناخوښه نه وی. یعنی نیک اعمال دی وکړی چه د جنت په
خوشحالی کښی مرګ محبوب او خوښ ورته بنکاره سی او د ګناو و څخه دی
پرهیز وکړی د یاره د دی چه مرګ مبغوض او تریخ ورته بنکاره نه سی.
ځکه چه د ګناهګار ه په سبب د بیری د سخت عذاب څخه د مرګ څخه نفرت
کیږی په سبب د دی چه تر مرګ ورسته سخت عذاب وی او د نیکبخته
سره که څه هم د عذاب بیره وی او د جنت امید هم ورسره وی مګر تجربه
ده چه نیک بخت څوک سره د دغه بیری د مرګ څخه نفرت نه کوی
پریشانی نه کوی او آثار د امید ئې په مقابله کښی ذبیری غالب او پرې وی
او د غه رنګه د اهم تجربه ده چه پرکافر او فاسق باندی اثر د امید نه
غالب کیږی د دی سببه دی د مرګ څخه ډیر سخت بیریږی.

(۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی. هر هغه څوک چه مړی ته غسل ورکړی
بیائې پټ کړی (یعنی یو بده خبره مثلاً د مړی شکل خراب د ل یا بل د غسی شی
د مړی څخه بنکاره سی د غه غسل ورکونکی د غه عیبونه پټ کړی) او د مړی
د غسل اونور و ټولو شیانو په باره کښی مکمل او پوره احکام د بهشتی زیور
په دوهمه حصه کښی تیر سوی دی هلته ضرور کتل په کار دی) نو پټتوی
خدای تعالیٰ د ده ګناوی یعنی په آخرت کښی د ګناوُ په وجه دی نه رسوا
کیږی) او هر څوک چه کفن ورکړی مړی ته نو خدای تعالیٰ و د ته د سندس
جامه په آخرت کښی وراغوندی (سندس یو نرمه وریښمینه جامه ده)
یعنی جاهلان خلګ د مړی د کار څخه بیریږی او ناسی ئې بولی د اسخته
بی هوده خبره ده آیا دوی نه مړه کیږی چه په بنه طریقه سره د مړی خدمت

دپای ته ورسوی او خوندورته ثواب حاصل کړی او خپل مرګ ورپیاد کړی چه کله زمونږ ترمرګ وروسته زمونږ څخه خلګ داسی ځان خلاصوی لکه مونږ چه ددغو مړو څخه ځان خلاصوو - نو زمونږ دجنازی به څه حال اوکیفیت وی - او عجبه نه ده چه خدای تعالیٰ د بدلی اخستلو دپاره دغسی څوک ددغسی خلګو په حواله کړی.

حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی هرهغه څوک چه غسل ورکړی مړی ته اوکفن ورکړی او حنوط (خوشبوئي) پرونګوی) حنوط یو قسم مرکبی خوشبو بانی دی ددی پرځای کافور هم کافی دی) او پورته کړی (جنازه) ددغه او پرده ولاړ نخ وکړی او بنکاره نه کړی ددغه هغه (بدۍ) خبره چه دی ئی وویني ددغه مړی څخه - نو لیږی کیږی دخپلو ګناوو وڅخه دارنګه لکه په هغه ورځ چه دمور څخه پیدا سوی وئ اود (ګناوو) څخه لیږی ؤ یعنی ددغه کوچنی ګناوی معافیږی علی ما قالوا (رواه الطبرانی عن ابی امامة مرفوعاً کذا فی کنز العمال ص۸ ج۱۰ تړوک)

(۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی هرهغه څوک چه مړی ته غسل ورکړی دروسته پټ کړی ددغه (عیب) نو ددغه څخه ویښت ګناوی (یعنی وړی اوکوچنی ګناوی) معافیږی اوهر څوک چه ومړی ته کفن ورکړی خدای تعالیٰ ودغه ته دجنت سندس[1] او استبرق جامی ورااغوندی او هر څوک چه دمړی دپاره قبر وکینی او بیائی په دغه قبرکښی پټ کړی نو الله پاک ودغه ته یعنی ودغه قبر جوړونکی اودمړی بنخونکی ته دومره قدر ثواب ورکوی لکه دغه چه ودغه مړی ته تر قیامته پورې داوسیدو ځای ورتیار کړی.

بنکاره اوس وښانه دی وی داخبره چه څومره قدر فضیلت اوثواب دمړی دخدمت تردی وخته بیان سو نو ټول په هغه صورت کښی دی چه خاص دخدای تعالیٰ دپاره ئی خدمت وسی (ریاء، مزدوری او داسی بل شی ئی مقصد نه وی اوکه چیری مزدوری واخلی نو بیا ثواب نسته که څه هم مزدوری اخیستل روا ده ګناه نه ده مګر جواز دمزدوری یوشی دی او ثواب بل شی دی اوتمام دینی کارونه چه په مزدوری سره کیږی - بعضی داسی

[1] سندس او استبرق ورښینی جامی دی ۱۲

دی چه مزدوری پراخیستل حرامه دی او په دغه کار وکښی ثواب هم نه وی
او بعضی داسی دی چه مزدوری پراخیستل روا دی او هغه مال حلال دی مگر
ثواب پکښی نه وی د دغه ښه تحقیق کول او عمل په کول په کار دی داځای
د تفصیل او بیان نه دی مگر د دغو امورو په باره کښی یو فائده مند ده او
ضروری خبره هرصوم د پاره د دی چه خاوند نو لره د بصیرت او پوهنی
تنبیه وسی - هغه دا ده چه پرکومو دینی اعمالو باندی مزدوری اخیستل
روا ده د دوی په کولو کښی بالکل ثواب نسته مگر په خو شرطونو سره ثواب
هم پکښی سته په ښه غور سره ئی واورئ یو غریب انسان چه د دی دگذاری
او واجبو نفقو د ده د پاره ما سیوای د دغی مزدوری څخه بله هیڅ ذریعه
نه وی په اندازه د ضروری حاجت دی په دینی کار وکښی مزدوری واخلی
او دا فکر او نیت دی د زړه د اخلاصه وکړی چه که چیری یو بله ذریعه
د معاش وای نو ما هیڅکله مزدوری نه اخستله او صرف د خدای د رضا د
پاره می دغه دینی کار کاوی یا که خدای تعالی تر دی وروسته د معاش یو
ذریعه را پیدا کړی نو زه به (پر دغه دینی کار) مزدوری اخستل پریږدم
او هغت (بی مزدوری به دغه دینی) کار کوم نو د غسی چاد پاره د دینی کار د کولو
ثواب سته ځکه چه د ده نیت د دین د اشاعت دی مگر د ژوند ضروریاتو مجبور
کړیدی او څرنگه چه د ژوند ضروریاتو طلب هم ضروری دی او حاصلول ئی
هم د حکم الٰهی ادا کول دی د دی سببه د دغه نیت یعنی د حاصلولو د ضروریاتو
د ژوند هم ثواب ورکول کیږی او د صحیح نیت په وجه د دغه د واړه ثوابونه
خدای پاک ورکوی. مگر پر دغو قیودو ژور نظر کول په کار دی خامخا چې
خرڅ او مصرف ئی یاتول او غیر ضروری مصرفونه ضروری بلل او بیا د دوی د
پاره بهانی لټول د عالم الغیب خدای په درباره کښی نه چلیږی ځکه چه الله
پاک د زړه په اراده او نیت پوهیږی نه خبردی د دغه تدقیق سره د نهایت تحقیقه
قلم بند ده سو او دا بیان د شافی او نور وکتابو څخه را اخیستل سویدی - او
بنکاره خبره ده چه په هر هفته چا کښی چه د توکل شرطونه جمعه وی او بیا
دی پرنیک کار مزدوری واخلی نو که دی د غه نیتونه جمع کړی چه د دوی
د جمعه کیدو په وجه ثواب لیکل سویدی بیا هم د ده ته ثواب رسیږی مگر

د توکل فضیلت فوتیږی تامل فانه دقیق.

د مسلمانانو د پاره خصوصًا د اهل علمه خلګو د پاره په دغه خبره کښی د خامی توجه و احتیاط ضرورت دی چه د خالق اکبر د دین خدمت وکړی اودده رضا نه حاصلول او بیله یو سختی مجبوری پریږدی منفعت قلیله عاجله نظر سا تل آیاد خدای تعالیٰ سره د یو درجی بیغیرتی او بی همتی نه ده زموږ کار ترغیب اودفعه د مغالطی ده او په مباح امور وکښی د تضیق حق موږ نه حاصل نه دی مګر وندی ضرور وایو چه زموږ د ټولو د پاره د ثواب سخت حاجت سته.

فمن شاء فلیقل ومن شاء فلیکفر والله تعالیٰ اعلم ما فی قلب عبده وکفیٰ به خبیرًا بصیرًا.

(۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هیڅ مسلمان دا سی نسته چه دی مړ سی اودده پر "جنازه" په درې صفه سره مسلمانان لمونځ وکړی مګر خو ده واجب کړی جنت یعنی د ده بخښش کیږی. (رواه احمد وابوداؤد کذا فی کنز العمال)

(۸) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه اوله تحفه د مؤمن داده چه ګناه بخښل کیږی د هغه چا چه د مړی د (جناری) لمونځ کوی یعنی صغیره (وړی) ګناوی عَلٰی مَا قَالُوْا. (رواه الحکیم عن انس مرفوعًا کذا فی کنز العمال ص۸۳ اتم بتوک ۱۲ مؤلف)

(۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی نسته یو دا سی مسلمان چه هغه مړ سی پس نو د درې یعنی لمونځ کونکی د ده پر (جنازه) څلویښت خلګ دا رنګه چه شرک نه کوی کړی په خدای تعالیٰ سره. مګر خبره دا ده چه د دغو لمونځ کوونکو شفاعت قبلیږی د دغه مړی په باب کښی یعنی د جنازی لمونځ چه په حقیقت کښی دعا ده د مړی د پاره قبوله کړل کیږی اود دغه مړی بخښنه کیږی. (رواه احمد وابوداؤد ۱۲ منه)

(۱۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هیڅ مسلمان دا سی نسته چه د ده پر "جنازه" یو جماعت لمونځ وکړی مګر دا خبره ده چه د دغو (خلګو) شفاعت قبلیږی د دغه "مړی" په باره کښی. (رواه احمد وغیره ۱۲ منه)

(۱۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه نسته یو مړی چه پرده باندی یو وکړه د مسلمانانو لمونځ وکړی چه په (عدد کښی) (۱۰۰) سل وی بیا نو شفاعت وکړی د دغه

(لمونځ کونکی یعنی دعا وکړی) دده دپاره مګر داخبره ده چه دغه شفاعت قبلیږی دده په باره کښی یعنی دده وی دعا قبلیږی او دغه مړی ته مغفرت کیږی ۔(رواه مسلم وغیره ۱۲ منه)

۱۲ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرهغه څوک چه د مړه ته کړی څلور مره طرفونه د چارپایي (جنازی) نو دده څلویښت کبیره (لوی) ګناوی بخښل کیږی ۔(رواه ابن عساکر وغیره ۱۲)

۱۳ په حدیث شریف کښی راغلی دی عوره داهل جنازی (یعنی کوم څوک چه د جنازی سره یوځای ځی په دوی کښی هغه دی چه په دوی کښی ډیر ذکر (د خدای تعالی) کوی دده ځنی جنازی سره او څوک چه نه کښینی تر هغه وخته پوری چه جنازه پر مځکه کښیښوول سی او ډیر پوره کونکی د پیمانی د (ثواب) هغه څوک دی چه دری واره پر مړی باندی په یوک مټ سره خاوری واچوی (یعنی د غسی سړی ته ښه ثواب ورکول کیږی ۔(رواه ابن النجار ۱۲)

۱۴ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه خپل مړی د نیک قوم په مابین کښی دفن کوی دده دی سبب چه بیشکه مړی ته تکلیف رسیږی په وجه د بدو او بیکاره همسایه ګانو یعنی د کافرانو او فاسقانو د قبرونو په مابین کښی دوی ته تکلیف رسیږی او صورت د اذیت او تکلیف ځی دادی چه پر فاسقانو او کافرانو چه کوم عذاب وی نو دوی ددغه عذاب د وجهی څخه چغی اوناری وهی او د دغو چغو او نارو د سبب د نورو ته تکلیف رسیږی لکه چه تکلیف او ضرر رسیږی ژوندی ته د بد همسایه ۔(رواه فی الحلیة ۱۲)

(۱۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د جنازی سره همراه اوملګری یی نو په کثرت سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وایه ۔(رواه الدیلمی مرفوعًا ۱۲)

د جنازی سره یوځای که څوک ذکر کوی نو کرار ذکر دی کوی ځکه چه په زور ذکر کول د جنازی سره مکروه دی او د امسئله شافعی لیکلی ده چه دا رنګه ذکر کول مکروه دی.

(۱۶) په صحیح حدیث شریف کښی راغلی دی چه حاکم ځی روایت کړیدی چه حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه ما تاسی

منعه کړی واست د قبرونو زیارت څخه دیو خاص وجهی څخه چه اوس هغه خاص وجهه پاته نه ده خبر اوسی اوس نو زیارت کوی دد وی.
(یعنی د قبرونو) ځکه چه زیارت د قبرونو زړه نرموی او د زړه د نرۍ د وجهی څخه نیکیانی په عمل کښی راځی او څړوی هره ستړګه او نسان ته په یاد ورولی آخرت او پر قبر باندی یو غیر مشروع او ناروا خبره مه کوی.

(۱۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی ما تاسی منعه کړی واست د قبرونو د زیارت څخه پس نو (تردی وروسته) اوس دد وی زیارت کوی ځکه چه دد وی زیارت کول انسان د دنیا څخه بی رغبته کوی او په یاد ورولی آخرت - (روایت کړیدی ابن ماجه)

د قبرونو زیارت کول سنت دی او خصوصًا د جمعی په ورځ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرڅوک د هری جمعی په ورځ د هور او پلار یا د پلار یا مور د قبر زیارت کوی نو دی بخښل کیږی او د غه سړی خدمت گذاره د هور او پلار لیکل کیږی (په عمل نامه کښی) - رواه البیهقی مرسلًا مگر پر قبر طواف کول (شاوخوا گرزیدل) قبر مچول منعه دی برابره خبره ده که د یو نبی قبر وی یا د یو ولی یا بل چا قبر وی او قبرونو ته چه ولاړ سی نو دا رنگه سلام ورواچوه. اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ وَاَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ لکه چه په ترمذی او طبرانی کښی چه د غه الفاظ د هرود سلام د پاره راغلی دی او د هری وخواته دی مخ کړی د قبلی وخواته دی شاکړی هرڅوندی اقرآن شریف چه ویلای سی هغوندی قرآن شریف دی ووایی.

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر څوک پر قبرونو ورسی. سورت اخلاص (قل هو الله) یو ولس واړه ووایی ثواب ئی د مړو ته ورو بخښی نو برابر د هوا فق د شمار سره د مړو د ده ته هم ثواب ورکول کیږی.

د غه رنگه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه څوک د هدیری ته ور داخل سی بیاد الحمد لله سورت د قل هو الله سورت او د تکاثر سوره ووایی او ثواب ئی د اهل قبرستان ته ورو بخښی نو د غه د ادیری (هدیری) مړی دده شفاعت

کوی او دغه رنګه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر څوک سورة یٰس
په هدیره کښی ووایی نو مړو په عذاب کښی خدای تعالیٰ سپکوالی راولی او و
ویونکی ته په شمار دد مړو ثواب ورکول کیږی دغه د[۲]ی سره حدیثونه
سره د سند ه موبر لاندی په عربی کښی لیکلی دی .

⑱ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه نسته یو سړی چه تیرسی د یو
داسی چا پر قبر چه هغه د ه په دنیا کښی پیژندی او بیا پرد ه سلام وکړی
مګر دا خبره ده چه د غه مړی دی پیژنی او د ه ته د سلام جواب ورکوی که
څه هم دغه سلام اچوونکی د غه جواب نه اوری ۔ (رواه تمام وغیره مرفوعًا
بسندٍ جیدٍ کذا فی کنز العمال ۲ منه)

① اخرج ابو محمد السمرقندی فی فضائل قل هو الله احد عن علی مرفوعًا من
مر علی المقابر و قرء قل هو الله احدٌ اَحَدَ عشر مرةً ثم وهب اجره للاموات
اعطی من الاجر بعدد الاموات ط

ترجمه :- د قل هو الله شریفی په فضائلو کښی ابو محمد سمرقندی - د
حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه څخه مرفوعًا روایت کوی هر څوک چه پر
هدیره ورسی او دی یو وار[۱۱] واره د غه سورت شریف ووایی اهل ادیری ته د ی
ثواب ورکړو بخښی نو ویونکی ته دوندی ثواب ورکول کیږی لکه څوندی
مقدر چه مړی په دغه ادیره کښی شخ اوپت دی .

② اخرج ابو القاسم سعد بن علی الزنجانی فی فوائده عن ابی هریرة مرفوعًا
من دخل المقابر ثم قرء فاتحة الکتاب و قل هو الله احد و الهٰکم التکاثر
ثم قال اللّٰهم انی جعلت ثواب ما قرأت من کلامک لاهل المقابر من المؤمنین
والمؤمنات کانوا شفعاءً له الی الله تعالیٰ .

ترجمه :- ابو القاسم سعد بن علی زنجانی د حضرت ابو هریرة رضی الله
تعالیٰ عنه څخه مرفوعًا روایت کوی چه کوم څوک ادیری ته ولاړ سی سورة
الحمد لله ، د قل هو الله احد ، او د الهٰکم التکاثر سورة ووایی او بیا و وایی چه
خدایه ما د دغه قرائت ثواب د دغی ادیری مسلمانانو خلګو او بښځو نه ور
بخښلی دی نو دغه ټول مړی د قیامت په ورځ د د ته شفاعت کوی .

③ اخرج عبد العزیز صاحب الخلال بسنده عن انس رضی الله تعالیٰ عنه ان

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم قال من دخل المقابر فقرء سورة یٰسٓ خفف الله عنهم وکان له بعدد من فیها حسنات ط

هٰذه الاحادیث اوردها الامام السیوطی فی شرح الصدور بشرح احوال الموتی والقبور ص۱۲۳ مطبوعه مصر ـ قال المعلق علی رسالة بهشتی گوهر الحدیث الاول والثالث یدلان ظاهرًا علی ان الثواب الحاصل من الاحیاء للاموات یصل الیهم علی السواء ولا یتجزی تامل .

ترجمه :- عبدالعزیز صاحب خلال د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چه هر څوک ادیری ته راسی بیا سورة یٰسٓ دوایی د دغی هدیری پر کومو مړو چه عذاب وی خدای تعالیٰ په هغه کښی سپکوالی راولی او د ویونکی ته دوندی ثواب ورکوی لکه څوندی قدر چه په دغه هدیره کښی مړی دی .

د دغه حدیثونه امام سیوطی رحمة الله تعالیٰ علیه په کتاب شرح الصدور فی احوال الموتیٰ والقبور ص۱۲۳ په طبعه مصری کښی بیان کړی دی د بهشتی گوهر محشی وایی چه اول او دریم حدیث په ظاهره پردی دلالت کوی چه ثواب د څوندو د طرف څخه د مړو ته بیله تقسیمه برابر ورسیږی . احقر د دغه په توضیح کښی وایی چه د دغی هدیری د مړو ته د برابر ثواب رسیدلو څخه مقصد دادی چه ثواب بخښونکی یوه نیکی کړیده د دغه په عوض کښی د دغی ادیری د ټولو دفن سوو مړو د تعداد د شمیر سره برابری نیکیانی ورکول کیږی . ځکه چه الله تعالیٰ هر وخت په خپل رحمت سره د دفن سوو مړو ته ثواب بیله تقسیمه پوره ورکوی نو د ویونکی د پاره هم جزا او بدله د دغه رنګه ورکول کیږی گویاده د هر مړی د پاره علیحده علیحده وویل او ثواب ئی ورو بخښی .

مسئلی[1]

(۱) سوال (پوښتنه) :- د جمعی په ماښځه کښی د قرأت شروع کولو وروسته یوځوک شریک سو نو دده د پاره ثناء یعنی سبحانک اللهم ویل په کار ده که نه ده

[1] په دغه ضمیمه کښی د دغه اوو (۷) مسئلی حضرت تهانوی رح اضافه کړی دی ۱۲ شبیر علی

که ئې چیری ویل په کار دی نو نیت ترلو ورسته ئې دستی ویل په کار دی یا ئې یو بل کوم وخت ویل په کار دی.

جواب:- ویل ئې نه دی په کار. (شامی ص۵۰۹ اول پتوک)

(۲) سوال (پوښتنه):- یو څوک په رکوع کښې د امام سره شریک سو نو رکعت خو ده ورسره دنیوی مګر ثنا (سبحانک اللهم) څنډی پاته سوه نو اوس د دې دیارلسه په دوهم رکعت کښې سبحانک اللهم ویل په کار دی یا که په یو بل رکعت کښې ئې ویل په کار دی یا که بالکل د دې د ذکی څخه ساقطه سوه.

جواب:- هیڅ ځای دی نه وایي. (شامی ص۵۱۱ لومړی پتوک)

(۳) سوال (پوښتنه):- د رکوع تسبیح ئې په خطا او هیره سره په سجد کښې ویل یعنی د سبحان ربی الاعلی پر ځای ئې سبحان ربی العظیم ویله یا ئې د دغه برعکس ویل یعنی د سجدې تسبیح ئې په خطا سره په رکوع کښې ویله نو آیا په دغو صورتونو کښې سجد سهوه لازمیږی یا که په لمانځه کښې یو بله خرابی راځی.

جواب:- په دغه سره ترک د سنت راځی سجده سهوه نه په لازمیږی (شامی ص۵۱۶ لومړی پتوک)

(۴) سوال (پوښتنه) د رکوع تسبیح ئې په سجده سهوه کښې ویلی او بیا یې ته په دغه سجده سهوه کښې ورپیاد سوه چه دا خو د رکوع تسبیح دی نو اوس چه د سجدې تسبیح ورپیاد سوی ایا ویل ئې په کار دی یا هغه د رکوع تسبیح کافی دی.

جواب:- که امام یا منفرد (هغه څوک چه یوازی لمونځ کوی) نو د سجدې تسبیح دی ووایی او که مقتدی وی نو دی د امام سره ولاړ سی. (شامی ص۵۱۷ ص۵۱۷ لومړی پتوک)

(۵) سوال (پوښتنه) په لمانځه کښې چه اربګی نه ګرزی تر طاقت وونږی نو پرخوله لاس اینبول په کار دی یا نه دی.

جواب:- چه د غسی اربګی نه منعه کیږی نو بیا دی په لاس سره منعه

۱۵۲۸ ۳ ده فقط والله اعلم ۱۲ عبد الستار عفی الله عنه

کړی او دا ړوادی - شامی ص۶۷۴ لومړی پټوک)

(۶) سوال (پوښتنه) خولی که د سجدی په وخت کښی ولویږی نو بیائی په لاس سره راپورته کول او پرسر اینبوول په کار دی یا که د غسی لغړ لمونځ وکړی.

جواب :- پرسرئ اینبوول بنه کار دی که چیری د عمل کثیر ضرورت نه پیښیږی - (شامی ص۶۷۰ اول پټوک مکروهات الصلوٰة)

(۷) سوال (پوښتنه) تر الحمد لله ورسته چه کوم وخت یوسورة شروع کوی نو آیا د بسم الله تر ویلو ورسته ئی شروع کړی او که چیری دامی سورت شروع کړی چه هغه د دوی رکوع وی نو د سورة په شروع کښی خو بسم الله وایی او په دوهم رکعت کښی چه هر وخت د دغه سورة دوهمه رکوع شروع کړی آیا بسم الله به وایی که به ئی نه وایی.

جواب :- د سورة په شروع کښی د بسم الله ویل مستحب دی او د رکوع په شروع کښی مستحب نه دی - (شرح مراقی الفلاح ص۱۵۱ والله اعلم

کتبه اشرف علی تهانوی رح

(۱) مسئله :- د امام د پاره بیله کومه ضرورته د محراب څخه ماسیوا په مسجد کښی یو بل ځای د ریدل مکروه دی مگر په محراب کښی د ریدو په وخت کښی پښی باید د باندی وی. (شامی ص۶۷۵ اول پټوک)

(۲) مسئله :- کومه میلمستیا چه د ناموری او نامه د پاره وسی نو نه قبلول ئی بهتر او غوره دی. صفائی معاملات

(۳) مسئله :- پر گواهی او شاهدی اُجرت اخیستل حرام دی لیکن د گواه او شاهد د پاره په قدر د خپل ضرورت او د خپل اهل وعیال د مصرف د پاره اخیستل روا دی په قدر د هغه وخت چه صرف سوید ی په شرط د دی چه د د لاسره هیڅ ذریعه د معاش نه وی - (عالمگیری ص۲۳۴ ص۲۵۲ څلرم پټوک)

(۴) مسئله :- که د د عوت او میلمستیا په مجلس کښی یو کار مخالف د شریعت وی پس نو که د ور تلو څخه مخکی ور معلوم سی نو بیا دی میلمستیا نه قبلوی مگر که ئی قوی امید وی چه زما د ور تلو څخه په وجه زما څخه د شرم او لحاظ د غه کار پاته کیږی نو بیا تلل بهتر او غوره دی او که د ور تلو څخه مخکی ور معلوم نه وو

او دی هلته وی غلی چه هغه د شریعت خلاف کار ئ ولیدی پس نوکه د غه سړی مقتدا او امام د دین وی نو بیرته دی را وګرزی او که مقتدا نه وی د عامو خلګو څخه وی پس نوکه ځین د خورک پر موقع د غه کار موجود وی نو بیا دی هم نه کښینی او که د خورک په وخت کښی نه وی په بل وخت کښی وی نو خیر دی د مجبور تیا په وجهه دی کښینی او ښه دا دی چه د کور خاوند پیره کړی که ئ د وند ی همت نه وی نو دی صبر وکړی په زړه کښی دی بد بولی او که یو څوک مقتدا او امام د دین نه وی لیکن خاوند د اثر او مرتبی وی چه خلګ د ده د کار و اتباع کوی نو دی هم په د غه مسئله کښی د امام او مقتدا د دین حکم لری.

⑤ مسئله:- په بینګ کښی روپۍ جمعه کول، او بیا ئ سود اخیستل قطعی حرام دی بعضی خلګ په بینګ کښی خپلی روپۍ صرف د حفاظت په خیال سره ایږدی سود نه اخلی مګر د انکار ه خبره ده چه په بینګ کښی د غه روپۍ محفوظی نه پاته کیږی بلکه د سود په کار او بار کښی لګول کیږی نو په دی کښی هم یو قسم پر ګناه کومک و رکول موجودیږی چه د احتیاط خلاف دی لیکن د روپیو د حفاظت د پاره صاف او بی غباره صورت دا دی چه د بینګ د تجری یوه یا دوی خانی هر څوندی چه ضرورت دی په کرایه سره واخستل سی او په د غو خانو کښی روپۍ کښیښوول سی او که چیری زیاتی روپۍ وی نو بیا دی پوره تجری په کرایه سره واخستل سی نو چه هر وخت د روپیو د ایښودلو ضرورت وی په د غه تجری کښی کښیښوول سی او هر وخت چه ئ د ایستلو ضرورت وی ځنډی وایستل سی په د غسی طریقه سره روپۍ هم محفوظی پاته کیږی او د سود او د اسی نور ګناوو څخه هم حفاظت را ئ او پوره تجری یا د دی دیو خانی کرایه کولو ته د بینګ په اصطلاح کښی (لاکر) ایښودل وایی لیکن په د غسی طریقه اختیار ولو کښی دا یو تکلیف ضرور سته چه د روپیو ایښودنکی به پرځای

دگټې اخستلو د ځانه څخه کرایه ورکوی مګر دی تکلیف سره سره وده ته رسیږی چه د یوی لوی ګناه څخه به خلاص سی او مال او دنیا به ئې د سود ځوندی مردار شی دګډ والی څخه پاکه سی چه د مسلمان دپاره دیو مقصد عظیم درجه لری چه دغه لږ ځوندی خرڅ (کرایه) دده غسی مقصد عظیم په مقابل کښی هیڅ شی هم نه ده.

(۶) مسئله:- کوم څوک چه غټې یا وړې بولی کوی وده ته (په دغه حال کښی) سلام اچول حرام دی او دده دپاره جواب ورکول هم روا نه دی.

(۷) مسئله:- که یو څوک په پیر و خلګو کښی دیو چا نوم واخلی سلام ورواچوی مثلاً داسی ووایی السلام علیک ای زیده چه هر چا نه ده سلام ورا چولی دی د دغه څخه ما سیوای که یو بل څوک جواب ورکړی نو دغه جواب نه بلل کیږی هر چا نه چه ئې سلام ورا چولی دی دهغه پر ذمه فرض جواب پاته کیږی نو که چیری دی جواب ورنه کړی ګنهګار ګرځیږی مګر دارنګه سلام اچول خلاف د سنت دی سنت طریقه دا ده چه په خلګو کښی یو څوک خاص نه کړی او السلام علیکم و وایی (مؤلف) او که چیری فقط یوه سړی ته سلام ورا چوی بیا دی هم دغه لفظ السلام علیکم استعمال کړی او دغه رنګه دی په جواب کښی هم برابره خبره ده که یو سړی وی یا پیرو وی و علیکم السلام ورته ووایی عالمګیری ص۲۱۸ شپږم ټوک)

(۸) مسئله:- سپور باید د پیاده ته سلام ورواچوی ولاړ دی ناست ته سلام ورواچوی لږ خلګ دی د پیرو خلګو ته سلام ورا چوی او کوچنی دی ولوی ته سلام ورا چوی او په دغو ټولو صورتونو کښی که چیری بالعکس (سړچپه) وکړی مثلاً پیر خلګ لږ و ته یا لوی وکوچنی ته سلام ورواچوی نو داهم روا دی مګر بهتر دهغه دی کوم چه اول بیان سو (ق) عالمګیری ص۲۱۷ ج۶)

(۹) مسئله:- د پردی سړی دپاره یو ځوانی یا د میانه عمر ښځی ته سلام ورا چول منعه دی دغه رنګه په خطو نو کښی سلام لیکل او ورلیږل یا په یو بله ذریعه د سلام پیغام ورلیږل منعه دی او دغه رنګه د پردیو او بیګانه ښځو دپاره و خلګو ته سلام کول هم منعه دی ځکه چه په دغو ټولو صورتونو کښی د سختی فتنی پیره ده او د فتنی سبب هم فتنه ګرځی لیکن که یو سپین سړی

سنځ ته یا بیو سپین ږیری سړی ته سلام ور واچول سی نو هیڅ پروا نه لری مګر د اجنبی او بیګانه سړه د اسی تعلقات ساتل په دا سی حال کښی هم ښه نه دی مګر هر هغه ځای چه یو خصوصیت ئ غوښتنه کوی او احتمال د فتنی نه وی نو دا بیا بله خبره ده۔ (عالمګیری ص۲۱۰ شپږم ټوک)

۱۰ مسئله:۔ ترڅو پورې چه یو خاص ضرورت نه وی کافر ته نو ته دی سلام نه ور اچوی او دغه رنګه دی فاسق ته هم سلام نه ور اچوی. او هر وخت چه یو ضروری حاجت وی نو بیا سلام ور اچول پروا نه لری. (شامی ص۶۴۳ اول ټوک) او که د ده په سلام اچولو او خبرو کولو سړه د د وی د هدایت امید وی نو دی هم سلام ور واچوی. (عالمګیری ص۲۱۷ ص۲۱۸ شپږم ټوک)

۱۱ مسئله:۔ کوم خلګ چه علمی بیان و خبری کوی یعنی د مسئلو ګفتګو کوی په طریقه د تعلیم او تعلم یا په دوی کښی یو علمی ګفتګو کوی او نور ئ اوری نو ود غسی خلګو ته دی سلام نه ور اچوی او که چیری سلام ور اچوی ګنهګار ه کیږی او دغه رنګه د اقامت او اذان په وخت کښی و اذان کونکی نه یا هغه چا نه چه اذان نه کوی سلام کول مکروه دی او صحیح داده چه په دغو دری صورتو کښی جواب ور نه کړی.

د بهشتی ګوهر د همه ضمیمه

چه په تعدیل حقوق الوالدین سړه نامداره ده

د بهشتی ګوهر د محشی د طرف څخه التماس او خواهش دی چه د غه مضمون کوم چه په عنوان د دوهمی ضمیمی درج کیږی د حضرت مولانا اشرف علی صاحب فرمایلی تحریر دی چه په د غه کښی د هور او پلار د حقوقو تحقیق او تفصیل سوی دی هر څوند ی چه د بهشتی زیور په پنځمه حصه کښی د حقوقو په ضمن کښی د هور او پلار د حقوقو هم اجمالی بیان راغلی دی لیکن هغه تعلق زیاتره د نرانو سړه دی د دی سببه د بهشتی ګوهر سړه د ده ملحق کول مناسب معلوم سو بس نو د غه مضمون د بهشتی زیور د پنځمی حصی تتمه

باید وگنهل سی اودذکرسوی مضمون دادی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمَانَاتِ اِلٰى اَهْلِهَا وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ الاية - ترجمه:- خدای تعالی تاسی امرکوی چه تاسی د سپاری امانتونه واهل د امانتونو ته اوهرڅت چه تاسی د خلگو په مابین کښی حکم (فیصله) کوی نو په انصاف سره حکم (فیصله) وکړی ۱۲ ی

د دی آیت د عموم څخه دوه حکمونه معلوم سوه یو داچه خاوند نو د حقوقو لره د دی واجب حقونه اداکول واجب دی بل داچه دیو چا د حق د پاره د بل چا حق ضائع کول ناجائز اونارواد ی . د دغو دواړو د کلی حکمونو د متعلقاتو څخه هغه خاص دوه جزئی مواقع هم دی چه د دی په باره کښی د اوخت د تحقیق کولو قصد دی

یو په دوی کښی د مور او پلار د حقوقو واجبه اوغیر واجبه تعیین دی او دوهم د مور او پلار د حقوقو او د خپلی بنځی یا اولاد په حقوقو کښی د تعارض او تزاحم په وخت کښی د دغو حقوقو تعدیل دی او د دی تحقیق ضروریت په دی وجه پیښ سو چه د بی شماره واقعاتو څخه معلومه سوه لکه څرنگه چه بعضی بی قیده او بی باکه خلگ د مور او پلار په حقوقو کښی تفریط او کوتاهی کوی او د دوی د اطاعت د واجب والی نصوص (د قرآن او حدیث دلائل) نظرانداز ه کوی او د دوی د حقوقو وبال پرخپل سر اخلی .

د غه رنگه بعضی دینداران د مور او پلار په حقوقو کښی افراط او زیادت کوی چه په دی سره د بل صاحب حق حقوق تلفیږی او د بینه څی . مثلاً د خپلی بنځی یا د اولاد حقوق تلفیږی او د بنځی او اولاد د رعایت او لحاظ کولو د واجبوالی نصوص نظرانداز ه کوی او د دوی د حقوقو د تلفید و وبال پرخپل سر اخلی . بعضی بیا د خاوند د حق حق خونه ضائع کوی لیکن غیر واجب حقوق واجب بولی د دوی د اداکید و قصد کوی .

څرنگه چه بعضی وختونه د دوی تحمل او برداشت نه کیږی د دی سبب څخه دوی تنگیږی او وسوسه ورلویږی چه په بعضو شرعی احکامو

کښی ناقابل برداشت سختی او تنګی دی نو په دغسی طریقه سړی دی دغو بیچاره
ګانو ودین ته ضرر رسیږی او په دغه حیثیت سړی دی دغه هم د صاحب حق
د واجب حقوقو په ضائع کولو کښی داخلولای سی او دغه صاحب حق دی دغه
سړی خپل ځان ونفس دی چه د نفس هم بعضی واجب حقوق سته - کما قال
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم - إِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا ط
ترجمه :- ستا د نفس د پاره هم تا حق سته .

او په دغو واجبه حقوقو کښی تر ټولو زیات حفاظت او ساتنه د خپل
دین دی - پس نو چه د هغو او پلار غیر واجب حق واجب بلل دی دغه ذکر سوی
معصیت واخوانه منفی سو دی سبب د واجب او غیر واجب حقوقو امتیاز او جلا والی
واجب سو - تر دغه امتیاز ورسته بیا که چیری عملاً دی دغو حقوقو التزام
وکړی مګر اعتقاداً ئی واجب نه بولی نو هغه معذور خو نه لاز میږی کوم
چه په صورت د بی علمی کښی لازم سوی وو . دغه تنګی د خپلو لاسونو راښول
سوی تنګی بولی او تر څو پورې چه زغم او برداشت ئی کوی د دی عالی همتی دی او په
دغه تصور او فکر کښی هم یو قسم برخه او نصیب دی چه زه سړی دی چه زما
ذمه نه ده لیکن بیا ئی هم برداشت او زغم کوم او هر څه چه د دغو
غیر واجب حقوقو ادا پرې د دی پریښو ولای ئی سی .

غرض په علم د احکامو الالهی کښی هر قسم مصلحتونه مصلحتونه دی او
په جهل کښی هر قسم ضرر و نه ضررونه دی پس نو د دغه تمیز په غرض دغه
بحثونو لیکی لیکم اوس تر دغه تمهید ورسته اول د دغه تمیز په باره کښی
ضروری روایات د حدیثو او فقهی جمعه کوم بیا چه د دی څخه کوم احکام
ایستلی کیږی د هغوی تقریر او بیان کوم او که دغه ضمیمه په لقب د
تعدیل حقوق والدین سړی نامدار ه سی نو بده او بی خونده به نه وی .
والله المستعان وعلیه التکلان ط

فی المشکوٰة عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ
عنه قال کانت تحتی امرأة احبها وکان
عمر رضی الله تعالیٰ عنه یکرهها فقال
لی طلقها فابیت فاتی عمر رضی الله عنه

عبد الله ابن عمر رضی الله تعالیٰ
عنه فرمایی چه زما په نکاح کښی
یو ښځه وه زه د دی څخه خوشحاله
وم او د دی سړی می محبت کاوی مګر

رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فذكر ذالك له فقال لى رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم طلقها - رواه الترمذى فى المرقات - طلقها امر ندب او وجوب ان كان هناك باعث آخر وقال امام الغزالى فى الاحياء صـ٢٦ جلد الثانى كشورى فى هذا الحديث فهذا يدل على ان حق الوالد مقدم ولكن والد يكرهها لا لغرض فاسد مثل عمر رضى الله تعالى عنه فى المشكوة عن معاذ رضى الله تعالى عنه قال اوصانى رسول الله صلى الله عليه وسلم وساق الحديث و فيه لا تعصين والديك وان امراك ان تخرج من اهلك و مالك الحديث فى المرقات شرط للمبالغة باعتبار الاكمل ايضًا - اما باعتبار اصل الجواز فلا يلزمه طلاق زوجةٍ امراه بفراقها وان تاذيا ببقائها ايذاء شديدًا لانه قد يحصل له ضرر بها فلا يكلف لاجلهما اذ من شان شفقتهما انهما لو تحققا ذالك لم يأمراه به فالزامهما له به مع ذالك حمق منهما ولا يلتفت اليه وكذالك اخراج ماله انتهى مختصرًا والقرينة على كونه للمبالغة اقترانه بقوله عليه السلام فى ذالك الحديث

حضرت عمر (رض) (زما پلار) دى څخه خوشحاله نه وو - نو ده (زما پلار) و ماته و فرمايل چه و دغى ښځى نه طلاق ورکړه ما انکار وکړى نو ده غه ورو سته حضرت عمر رضى الله تعالى عنه د رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم په خدمت كښى حاضر سو او دغه قصه ئى ورته بيان كړه نو و ماته رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ارشاد و فرمايه چه و دغى ښځى نه طلاق ورکړه .

په مرقات كښى راغلى دى چه د دغه طلاق امر پر طريقه د استحباب وُو اوكه چيرى يو بل سبب هم ورسره موجود سوى وو نو بيا دد غه طلاق امر پر طريقه د وجوب سو بيدى . امام غزالى رحمة الله عليه په احياء كښى فرمايى چه د احديث پردى خبره دلالت كوى چه د پلار حق مقدم دى ليكن د اخبره ضرور ده چه پلار به ديو فاسد غرض د سببه څخه دغه ښځه بده او ناخوښه نه بولى لكه حضرت عمر رض چه ديو فاسد غرض د وجهى څخه دغه ښځه بده نه بلله .

د حضرت معاذ رضى الله تعالى عنه په يو حديث شريف كښى راغلى دى . چه رسول الله صلى الله عليه وسلم

لا تشرك بالله وان قتلت او حرقت
فحذار كل المبالغة قطعًا والا فنفس الجواز
بتلفظ كلمة الكفر وان يفعل ما يقتضي
الكفر ثابت بقوله تعالى من كفر بالله
من بعد ايمانه الا من اكره الاية
فافهم - في المشكوة عن ابن عباس قال
قال رسول الله صلى الله عليه واله و
سلم من اصبح مطيعًا لله في والديه
الحديث وفيه قال رجل وان ظلماه
قال وان ظلماه وان ظلماه وان ظلماه
رواه البيهقي في شعب الايمان في المرقات
في والديه اي في حق هما وفيه ان
طاعة الوالدين لم تكن مستقلة بل
هي طاعة الله التي بلغت توصيتها
من الله تعالى بحسب طاعتهما لطاعته
لي ان قال ويؤيده انه ورد لا طاعة
مخلوق في معصية الخالق وفيها وان
ظلماه قال الطيبي يراد بالظلم ما يتعلق
الامور الدنيوية لا الاخروية قلت
قوله صلى الله عليه واله وسلم
هذا وان ظلماه كقوله عليه السلام
ارضاء المصدق ارضوا مصدقكم و
ان ظلمتو رواه ابوداؤد - ولقوله
عليه السلام فيهم وان ظلموا فعليهم
حديث رواه ابوداؤد ومعناه على
ما في اللمعات قوله وان ظلموا اي بحسب
حكمهم او على الفرض والتقدير

ارشاد فرمايي چه د مور او پلار
نافرمانی هيڅكله مه كوه كه څه هم دوی
وتاته د احكم وكړی چه د اهل، عيال
او مال څخه جلا سه.

په مرقات كښی راغلی دی چه را
د مبالغی او كمال اطاعت بيان دی او كه
نه نو د اصل حكم په لحاظ د خاوند د
پاره د مور او پلار د حكم په وجه
خپلی بنځی ته طلاق وركول ضروری
نه دی كه څه هم مور او پلار ته
د بنځی د طلاق نه وركولو په سبب
سخت تكليف رسيږی خكه چه د طلاق
په وجه سړه كله كله خاوند (ميړه)
د سخت تكليف سره مخامخ كيږی
او د مور او پلار د شفقت څخه دا
ليری ده په دا سی حال كښی چه
د خپل زوی پر تكليف باندی علم لری
ليكن بيا هم د احكم وركړی چه دی بنځه
يا مال د ځانه څخه جلا كړی پس نو
په دا سی صورت كښی د دوی (مور
او پلار) دينا منل ضروری نه ده - او
دليل پر مبالغه والی د دغه امر دادی
چه رسول الله صلی الله تعالی عليه و
اله وسلم د دغه امر سره داهم فرمايلی
دی چه په خدای سره شريک مه
نيسه كه څه هم قتل كړل سی او يا
دسوځل سی او دا يقينًا مبالغه ده.

مبالغة و لو کانوا ظلمین حقیقة کیف یأمرهم بارضائهم.

فی المشکوة عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه عن النبی صلی الله علیه واله وسلم فی قصة ثلثة نفر یتماشون واخذهم المطر فمالوا الی غارٍ فی الجبل فانحطت علی فم غارهم صخرة فاطبقت علیهم فذکر احدهم من امره فقمت عند رؤسهما (ای الوالدین الذین کانا شیخین کبیرین کما فی هٰذا الحدیث) اکره ان اوقظهما واکره ان ابدأ بالصبیة قبلهما و الصبیة یتضاغون عند قدمی الحدیث متفق علیه - فی المرقات تقدیمًا لاحسان الوالدین علی المولدین لتعارض صغرهم بکبرهما فان الرجل الکبیر یبقی کالطفل الصغیر قلت و هٰذا التضاغی کما فی قصة اضیاف ابی طلحة قال فعلیهم بشیٔ و نومیهم فی جواب قول امرأته لما سئلها هل عندک شیٔ قالت لا الا قوة صبیانی ومعناه کما فی اللمعات قالوا و هٰذا محمول علی ان الصبیان لم یکونوا محتاجین الی الطعام و انما کان طلبهم علی عادة الصبیان من غیر جوع والا وجب تقدیمهم وکیف یترکان واجبًا و قد اثنی الله علیهما - آه.

وینه دکفر کلمه د دا ستی مجبوری په حال کښی ویل د الله تعالیٰ د قول (مَنْ کَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ اِیْمَانِهٖ اِلَّا مَنْ اُکْرِهَ) څخه ثابته ده.

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم و فرمایل چه هرڅوک په خپل مور او پلار کښی د الله تعالیٰ فرمان برداره وی نوکه چیری د واړه وی نو دوٰی د دواړو د جنت وارثه خلاصیږی اوکه د دوی دوٰو (۲) څخه یووی نو یوه د دواړه د جنت وارثه خلاصیږی. اوکه چیری نافرمانی کوی نوکه د دواړو نافرمانی کوی پس د دواړه د پاره د دوی د دواړو د دوزخ خلاصیږی اوکه د یوه نافرمانی کوی بیا د دواړه د پاره یوه د دواړه د دوزخ خلاصیږی

په دغه حدیث شریف کښی راغلی دی چه یوه سړی عرض وکړی چه که څه هم مور او پلار پرده ظلم کوی نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د ده واړه و فرمایل چه که څه هم دوی د واړه ظلم کوی.

په مرقات کښی راغلی دی چه په مور او پلار کښی د الله تعالیٰ د فرمان برداری مطلب دا دی چه د دوی په

قلت ایضًا ومما یؤید وجوب الاضطراری
الی هذا التاویل تقدیم حق الولد الصغیر
علی حق الوالد فی نفسه کما فی الدر المختار
باب النفقة ولو له اب وطفل فالطفل
احق به وقیل (بصیغة التمریض)
یقسمها فیهما فی کتاب الاثار للامام محمدؒ
ص۱۵۴ عن عائشة قالت افضل ما اکلتم
کسبکم وان اولادکم من کسبکم قال
محمد رح لاباس به اذا کان محتاجًا ان
یأکل من مال ابنه بالمعروف فان کان
غنیا فاخذ منه شیئًا فهو دین علیه
وهو قول ابی حنیفة قال محمد اخبرنا
ابو حنیفه عن حماد عن ابراهیم قال لیس
للاب من مال ابنه شئ الا ان یحتاج الیه
من طعام او شراب او کسوة قال محمد وبه
ناخذ وهو قول ابی حنیفة فی کنز العمال
ص۲۸۳ ج۱۶ عن الحاکم وغیره ان
اولادکم هبة الله تعالی لکم یهب لمن
یشآء اناثًا ویهب لمن یشآء الذکور
فهم واموالهم لکم اذا احتجتم الیها
آه سنده صحیح ۱۲ محشی

قلت دل قوله علیه السلام فی الحدیث
اذا احتجتم علی تقیید الامام محمد
قول عائشة ان اولادکم من کسبکم
بما اذا کان محتاجًا ویلزم التقیید کونه
دینًا علیه اذا اخذ من غیر حاجة کما هو
ظاهر قلت وایضًا فسر ابو بکرة الصدیق

حقو قو کښی د الله تعالیٰ فرمان برداری
کوی او د دوی حقوق ادا کوی او په مرقات
کښی دا هم لیکل سوی دی چه د مور
او پلار فرمان برداری بالاستقلال
د دوی فرمان برداری نه ده بلکه دا
د الله ج فرمان برداری ده چه د دغی
فرمان برداری دپاره الله تعالی په
خاص طریقه سره وصیت فرمایلی
دی نو د دی سببه د دوی اطاعت د
الله تعالی اطاعت بلل او بیا دغه د
دوی اطاعت کول په کار دی - یعنی
کومه خبره چه دوی د الله تعالیٰ د
حکم سره برابره وکړی هغه خبره منل
په کار ده او کومه خبره چه د ده د
حکم خلاف وکړی د هغی خبری نه منل
په کار دی. حُکه چه په حدیث کښی
راغلی دی چه د پروردگار عالم په
نافرمانی کښی د مخلوق فرمان برداری
نسته - او په مرقات کښی راغلی دی
چه د مور او پلار د ظلم څخه کوم
چه په حدیث شریف کښی ذکر سوی
دی مراد دنیوی ظلم دی اخروی ظلم
نه دی یعنی په دنیوی امور وکښی
که څه هم د دوی زیادتی (ظلم) وکړی
بیا هم د دوی فرمانبرداری لازمه
ده او که دوی د دین خلاف یو خبره
وکړی نو په دغه خبره کښی د دوی

هذا قول علیه السلام انت و مالك لابیك
ال ابو بکر انما یعنی بذالك النفقة
واه البیهقی کذا فی تاریخ الخلفاء ص۵ و
الدر المختار لا یفرض (القتال) علی
بی و بالغ له ابوان او احدهما لان
احتهما فرض عین الی ان قال لا یحل سفر
یه خطر الا باذنهما و مالا خطر فیه یحل
لا اذن و منه السفر فی طلب العلم
فی رد المحتار انهما فی سعة من منعه
اذا کان بد خلها من ذالك مشقة شدیدة
شمل الکافرین ایضًا او احدهما اذا اکره
حدهما خر وجه مخافة و مشقة و الا
الکراهة قتال اهل دینه فلا یطیعه
لم یخف علیه الضیعة اذ لو کان
سرًا محتاجًا الی خدمته فرضت
یه و لو کافرا و لیس من الصواب ترك
رض عین لتو صل الی فرض کفایة قوله
ه خطر کالجهاد و سفر البحر - قوله
الا خطر کالسفر للتجارة والحج و
عمرة یحل بلا اذن الا ان خیف علیها
ضیعة - (سرخسی)
قوله و منه السفر فی طلب العلم
نه اولی من التجارة اذا کان الطریق
نا و لم یخف علیهما الضیعة (سرخسی)
- قلت و مثله فی البحر الرائق و
نا وی الهندیة و فیهما فی مسئلة
بد من الاستیذان فیه اذا کان له

حکم منل په کار نه دی.
زه وایم = چه په حدیث شریف کښی
د حضور صلی الله علیه وسلم د غه
فرمان چه که څه هم دوی د وارثانو ظلم
کوی د اسی دی لکه د ه مبارك صلی
الله علیه وسلم چه د زکوة اخیستونکو
په باره کښی فرمایلی دی چه د خپل
زکوة وصولونکی راضی کړی که څه هم
پر تاسی ظلم وسی. په لمعات کښی راغلی
دی چه د دی څخه مقصد مبالغه ده
یعنی ستاسو په خیال کښی یا بالفرض
که دوی ظلم وکړی بیا هم تاسو دوی
راضی کړی حکه چه کیږی دوی
واقعی ظلم کا وی نو بیا ده مبارك (ص)
څرنګه دوی (زکوة ورکونکی) امرکول - د
دوی (زکوة وصولونکو) په راضی کیدو
سره - په مشکوة شریف کښی ابن عمر (رض)
د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
څخه (د هغو د ر و خلګو په قصه کښی)
روایت کوی چه یو خواته روان وه او
باران پر ما غلی نو دوی دیو غره و یو
غار ته پناه ور وړه ترد غه ورو ستله
د غار پر خوله یو غټه ډبره راوښو یده
د غار خوله ئې بنده کړه پس دوی په
خپل منځ کښی سره وویل چه هر یو
په خپلو نیکو عملونو کښی وګورئ
چه هر عمل خالص د الله تعالی دپاره

منه بد ت ۲۴۲ جلد السادس فی الدر المختار
باب النفقه وکذا تجب لها السکنی فی بیت
خال عن اهله وعن اهلها الخ

وفی رد المحتار بعد ما نقل الاقوال
المختلفة مانصه ففی الشریفة ذات
الیسار لابد من افرادها فی دار ومتوسطة
الحال یکفیها بیت واحد من دار واطال
الی ان قال واهل بلادنا الشامیة - لا
یسکنون فی بیت من دار مشتملة علی
اجانب وهذا فی اوساطهم فضلا عن
اشرافهم الا ان تکون دار امور وشة
بین اخوة مثلاً فیسکن کل منهم فی جهة
منها مع الاشتراک فی مرافقها ثم قال
لاشک ان العرف یختلف باختلاف الزمان
والمکان فعلی المفتی ان ینظر الی حال
اهل زمانه وبلده اذ بدون ذالک
لاتحصل المعاشرة بالمعروف - آه.

سوی وی هغه د خدای پاک ته شفیع
کړی او دعا ځندی وغواړی چه الله
تعالی د غار خوله خلاصه کړی. ددوی
څخه یوه وویل چه یا الله زما مور
او پلار چیر ضعیفه اوزاړه وه اووارۀ
واړه کوچنیان می هم وه ما پسونه پوول
او ما بنام چه به هر وخت کور ته
راغلم پسونه به می لوشل او شیدی
به می خیل مور او پلار ته ترخیلو
کوچنیانو مخکی ورکولی یوه ورځ زه
ډیر لیری تللی وم او هر وخت چه ما بنام
راغلم نو زما مور او پلار بیده سوی
وه ما د خیل عادت سره موافق شیدی
ولوشلی د شید ولو بنی می راواخستی
ددوی وسر ته ودریدم او ددوی
راویښول می هم مناسب نه وبلل او
دا می هم بده وبلله چه تر دوی مخکی
وکوچنیانو ته شیدی ورکړم او حال دا چه زما کوچنیان زما په پښو کی
په حال د ژړا او چغو کښی ورغړیدل تر دامی حده چه سهار سو.

زه وایم چه دا د کوچنیانو ژړل او چیغی وهل دا سی وی لکه د ابو طلحة (رض)
د میلمنو په قصه کښی چه راغلی دی چه هر وخت د ه مبارک (ابو طلحة رض) د
خپلی بنځی څخه پوښتنه وکړه چه ایا ستاسره یوڅه د خوراک شی ستە؟
بنځی ورته وویل یانسته فقط د کوچنیانو د خوړک د پاره یوڅه شی ستە
نو ابو طلحة (رض) ورته وویل کوچنیان په یوشی خوشحاله کړه او بیده ئی
کړه. په لمعات کښی راغلی دی چه علماؤ د غه پردی حمل کړیدی چه د ه
کوچنیان وږی نه وه بلکه بیله لوږی ئی شی غوښتی لکه چه د کوچنیانو عادت
دی. د ر نه که چیری دوی وږی وای نو د دوی ته خوړک اوچوچی ورکول

واجب وه او واجب هغه (ابو طلحة) څرنګه پریښوای سوه حالانکه الله تعم د ابو طلحة (رض) اوددې د ښځې تعریف کړیدی.

زه وایم چه ددی تاویل ضرورت ددی څخه هم ثابتیږی چه د وړو اولاد دنوحق پرپلار مخکی دی لکه چه په دې مختار کښې راغلی دی چه که د چاپلار اوزوی دواړه موجود وی نو د خرڅ او مصرف ورکولو په اعتبار سره زوی ترپلار زیات حقدار ه دی او بعضو ویلی دی چه پرد واړو دی تقسیم کړی - د امام محمد رح په کتاب الاثار کښې راغلی دی چه حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها فرمایلی دی چه تر پتولو بښه روزی خپل کسب او آمدنی ده اوستاسی اولاد هم ستاسی په کسب او آمدنی کښې داخل دی.

امام محمد رح فرمایي چه هر وخت پلار محتاج وی نو د زوی د مال څخه د ده د پاره خورک کول هیڅ پروا نه لری لیکن د ضرورت مطابق خرڅ او مصرف به کوی فضول خرڅی به نه کوی او که چیری پلار مالدار وی اوبیا هم د زوی مال اخلی نو د ده پر ذمه قرض پاته کیږی او دغه قول د امام ابو حنیفه رح هم دی او پر دغه قول فتوی هم سویده.

امام محمد رح د امام ابوحنیفه رح څخه روایت کوی ابو حنیفه رح د حماد څخه حماد د ابراهیم څخه روایت کوی چه د پلار د پاره د زوی په مال کښې هیڅ حق نسته مګر دوندی حق نو پکښې سته چه د زوی د مال څخه د خورلو او چښلو او اغوستلو شی په قدر د احتیاج او ضرورت استعمال کړی امام محمد رح فرمایلی دی چه پر دغه مروج عمل کوو او دغه د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه قول دی.

په کنز العمال کښې د حاکم او د اسی نورو څخه را نقل سوی دی چه ستاسی اولاد د الله تعالی عطیه ده هر چا ته چه وغواړی لونې ورکوی او هر چا ته چه وغواړی زامن ورکوی پس د دغه اولاد او د دوی مال ستاسو د پاره دی هر وخت چه ستاسی ضرورت ورته پیښ سی.

زه وایم = چه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دا قول چه (هر وخت ستاسو ضرورت ورته پیښ سی) پر دغه مسئله دلالت کوی کومه چه اوس امام محمد رح د حضرت عائشې (رض) د قول څخه اخذ کړی وه.

دغه رنګه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه درسول الله صلی الله علیه
واله وسلم دد غه قول چه (ته او ستامال د خپل پلار دپاره دی) دغه تفسیر
کړیدی چه د دی څخه مراد نفقه اوډوډی ده. په در مختار کښی راغلی
دی چه پرداسی نابالغ اوځوان هلک جهاد نه فرض کیږی چه د ده مور او
پلار دواړه یا یو موجود وی ځکه چه د دوی اطاعت فرض عین دی او هیڅ
داسی سفر کول روانه دی چه په هغه کښی خطره وی مګر خو بیا د دوی په
اجازه سره روادی. او په کوم سفر کښی چه خطره نه وی هغه سفر د دوی
بی اجازی روادی او د دغه د جملی څخه د علم د حاصلولو دپاره سفر هم
دی. په رد المحتار کښی راغلی دی چه مور او پلار د دغه سفر څخه دی
(زوی) منعه کولای سی په شرط د دی چه د دغه سفر په وجه دوی د
سخت مشقت (تکلیف) سره مخامخ کیږی او چه مور او پلار کافران وی د
دوی هم دغه حکم دی کوم چه د مسلمان مور او پلار دی او که دوی
کافران مور او پلار د خپل اهل دین د قتال (جنګ) څخه خپل زوی منعه
کوی نو بیا دی د دوی اطاعت نه کوی ترڅو چه د دوی د هلاکت بیره نه
وی ځکه چه که چیری دوی تنګدست شته وی او د ده (زوی) د خدمت
محتاجه وی نو پرده باندی ئی خدمت فرض دی که څه هم دوی کافران
وی او فرض عین د فرض کفایی په خاطر پریښوول په کار نه دی.

هغه سفر چه په ده کښی خطره وی هغه سفر د جهاد یا د دریاب
سفر دی او هغه سفر چه په ده کښی خطره نه وی لکه د تجارت، حج او
عمری دپاره سفر کول نو د غه (بی خطره سفر) بیله اجازی هم روادی مګر
که د دوی (مور او پلار) د هلاکت بیره وی بیا روانه دی او د علم سفر هم
په دغه سفر کښی داخل دی کوم چه بی اجازی روادی په شرط د دی چه لار
بی خطره وی او د مور او پلار د هلاکت بیره هم نه وی. په بحرالرائق او په فتاوی
هندیه کښی هم د غسی راغلی دی او په فتاوی هندیه کښی ئی د یوی مسئلی
په ذیل کښی داسی لیکلی دی چه د مور او پلار څخه اجازه اخستل ضروری
ده نو هر هغه څه چه ضروری کار نه وی.

په در مختار باب النفقة کښی راغلی دی چه و بنځی ته داسی خونه ورکول

چه په هغی کښی د بنځی یا خاوند قریبان نه او سیږی واجب دی. په درلودلو کښی ئی د مختلفو قولونو تر نقل کولو وروسته لیکلی دی چه د شریفی مالداری بنځی د پاره د میانه درجی کور او سرای ورکول ضروری دی.

تر دغه وروسته ئی لیکلی دی چه زمونږ د شام په ښارونو کښی د میانه درجی خلګ هم په دغسی کورونو کښی نه او سیږی چه په دوی کښی اجنبی څوک او سیږی خه معنی چه امیر او شریف څوک پکښی او سیږی. مګر دا سی وی نو په دغسی صورت کښی هر یو په خپله حصه کښی او سیږی د کور حقوق او ضروریات ئی مشترک وی تر دغه وروسته ئی ویلی دی چه عرف (اصطلاح) د زمانی او مکان د اختلاف په وجه بدلیږی. د مفتی د پاره بالمعروف حاصلیدای نه سی. (ترجمه پای ته ورسیده)

د دی روایاتو څخه یو څو مسئلی معلومی سوی اول کوم امر او کار چه شرعًا واجب وی او مور او پلار اولاد څنګه منعه کوی په دغه کښی د دوی اطاعت او فرمان برداری روانه ده خه معنی چه په دغه کښی د دوی حکم منل واجب سی. په دی قاعده کښی دا فروعات هم راغله مثلًا دیو سړی سره مالی قدرت د وندی قدرکم دی چه که چیری د مور او پلار خدمت وکړی نو بنځی او اولاد ته ئی تکلیف رسیږی نو د دغه سړی د پاره روانه دی چه بنځی او اولاد ته تکلیف ورکړی او پر مور او پر پلار باندی مال او پیسی خرڅی کړی او مثلًا بنځه حق لری چه د ادمیره څخه داغونښتنه وکړی چه زه ستا د مور او پلار څخه جلا اوسیږم نو هر وخت چه د د جلا اوسیدو خواهش وکړی او مور و پلار د میره د غه بنځه د ځانه سره یو ځای کوی نو د میره د پاره روانه ده چه خپله بنځه په دغسی حال کښی د دوی سره په یوه خونه کښی و اوسوی بلکه واجب دی چه و دی ته جلا خونه ورکړی یا مثلًا د دی د حج او عمرې یاد علم د طلب د پاره اجازه نه ورکوی هم هغه علم چه د هغه قدر علم حاصلول فرض وی نو په دی ځای کښی د مور او پلار اطاعت کول روانه دی.

دوهم کوم امر چه شرعًا نارواوی لیکن مور او پلار حکم وکړی د دغه کار
د کولو نو په دغسی کار کښی هم د دوی امر منل روانه دی مثلاً یو ناجائزه
نوکری او د ښځینه وی مور او پلار او اولاد ته د دغی ناجائزی نوکری د
نوکری او د ښځینه وی مور او پلار او اولاد ته د دغی ناجائزی نوکری د
کولو حکم وکړی یا ئې د جهالت در واجرو نو په کولو سره امر کړی یا نور دغسی
حکمونه د کړی چه هغه نارواوی نو باید اولاد د مور او پلار د غسی
حکمونه ونه منی.

کوم کار او امر چه شرعًا نه واجب وی او نه ممنوع وی بلکه مباح (روا)
وی او یا مستحب وی او مور و پلار ئې د کولو یا نه کولو حکم وکړی نو په دی
کښی تفصیل او بیان دی باید وکتل سی چه د دغه کار ته د دغه سړی
داسی ضرورت سته چه که دغه کار ونه کړی نو د ده ته تکلیف رسیږی
مثلاً غریب سړی دی پیسه ورسره نسته په کلی او شا و خوا کښی هیڅ مزدوری
او شی نسته چه د ی پیسی پیدا کړی لیکن مور او پلار اجازه نه ورکوی
چه دی بل ځای ته د پیسو د پیدا کیدو د پاره ولاړ سی یا داخبره دی چه
د دغه کار ته د دغه سړی د غسی ضرورت نه وی کوم چه بیان سو.
اوس نو په اول صورت کښی د مور او پلار حکم منل ضروری نه دی ځکه
چه ضرور که د مور او پلار حکم و منی بیا په تکلیف کښی او په دوهم
صورت کښی کوم چه د دغسی درجی ضرورت نسته بیا باید وکتل سی
چه د دغه کار په کولو کښی یو خطره او د مرګ ویره یا د مرض ویره سته
او که نسته او د اهم باید و سنجول سی چه د غه سړی په کار پسی ولاړ
سی او په خپل کار اخته سی نو په وجه د نیستی د خادم او د سامان په
خپله مور او پلار ته د تکلیف د رسیدو قوی احتمال او امکان سته که
نسته - پس نو که په د غه کار کښی یو خطره وی یا د ده د تلو او غایبیدو
څخه د دوی ته په سبب د د سر بدری او بی سر و سامانی تکلیف رسیږی.
نو بیا د دوی د امر څخه مخالفت کول روانه دی مثلاً و غیر واجب جنګ ته
ځی یا د دریاب سفر کوی یا د ده د تلو د روسته د اسی څوک نه وی چه
د دوی پرځای پوښتنه وکړی او د ده سره د وندی مال نه وی چه د دوی
د پاره د نفقی او خدمتګار کار په وکړی بیا ولاړ سی او د دغه کار او سفر هم

ضروری نه وی نو په دغسی حال کښی د دی امر او حکم منل واجب دی.
اوکه د دواړو خبرو څخه یوه خبره نه وه یعنی نه په دغه کار او سفر کی
د ده د پاره یو خطره وه او نه وه دوی ته دیو بنکاره مشقت او تکلیف د
رسیدو احتمال وُو - نو بیله ضرورته دغه کار یا سفر سره د دی چه دوی
ئی منعه کوی هم روا دی که څه هم مستحب او ښه دا دی چه په دغه
وخت کښی هم د دوی اطاعت وکړی. خبره ئی ومنی ولاړ نه سی.
او د دی څخه د دغو فروعاتو حکم هم معلوم سو چه مثلاً د دی یعنی
مور او پلار دوایی چه خپلی ښځی ته بیله کوم سببه معتد به طلاق ور
کړه نو د دی اطاعت او خبره منل واجب نه دی.
وحدیث عمر رضی الله تعالی عنه یحمل علی الاستحباب او علی ان امر عمر کان
عن سبب صحیح (حدیث د ابن عمر (رض) حمل کیږی پر استحباب یا دا چه امر د عمر
د صحیح سبب څخه وو)
یا د دی دوایی چه ټوله خپله دنیا وموښ ته راکړه نو په دی صورت کښی هم
د دوی اطاعت واجب نه دی اوکه چیری دوی جبر او زور کوی په زور ئی
د څخه اخلی بیا گنهگار نه دی.
و حدیث انت و مالك لابیك محمول علی الاحتیاج کیف و قد قال النبی
صلی الله علیه وآله وسلم لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه.
د احدیث شریف چه ته او ستا مال د واړه د خپل پلار یا ست محمول
دی پر احتیاج څرنگه به محمول نه سی په تحقیق سره ویلی دی نبی صلی
الله علیه وآله وسلم روا او حلال نه دی د مال د چا مگر خو بیا روا او حلال
دی چه خپل د زړه په خوښه سره ئی درکړی اوکه دوی یعنی مور او پلار
ترحاجت ضروری بالا بیله اجازی اخلی
نو د دوی پر ذمه پور پاته کیږی چه په دی دنیا هم کلب څنډی
کیدای سی که ئی په دی دنیا نه ؛ رکوی نو په آخرت کښی به ئی خامخا
درکوی.
د فقهاؤ تصریح د دغه دپاره کافی ده او د دی د حدیثو په معنی ښه
پوهیږی. خصوصاً هغه وخت چه د حاتم په حدیث کښی هم د اِذَا اِسْتَجْتُمُ

قید مصرح دی - والله اعلم

کتبه اشرف علی ۲۷ جمادی الاخری سنه ۱۳۳۲
مقام تهانه بهون

دنعمت شکر او دعا

دالله تبارک و تعالی شکر او احسان دی چه په خپله مهربانی او فضل سره ئی ددی کتاب ترجمه و پای ته ورسوله او الله تبارک و تعالی دی ددغه کتاب ترجمه په خپل رحمت اود نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم په وسیله سره قبوله کړی او موږ مسلمانانو ته دی دهغو شیانو چه دوی په راضی کیږی. دتلو توفیق راکړی.

کتاب ستاسی په مخ کښی دی کوم څوک چه ددی کتاب څخه فائده احلی دهغوی څخه هیله ده چه د مصنف (اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه) مترجم (مولوی عبد الرحمن صاحب پوپلزائی ارغستانی) تصحیح کونکی مولوی عبد المالک صاحب برادرزاده بلوخ مولوی صاحب (رح) کاتب (عنایت الله طالب) د ترجمی باعث اوچاپونکی (الحاج سیف الله) ته دخیر دعا وکړی.

اوکه چیری دکتاب په ترجمه کښی سهو یا لغزش شوی وی هغه دی الله تبارک وتعالی رامعاف کړی اوزما لپاره دی ددغه کتاب ترجمه د خلاصون سبب اوذریعه وګرځوی. امین

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

ستاسی خدمت کونکی :- الحاج سیف الله